بِسم الله الرّحمن الرّحيم

(د الشّرح الثُمَيري خصوصيات)

(۱) هره مسئله يې جلا جلا ليکلېده او پر هغه باندې نمبر لګولئ دئ چې په پُوهَنَه او را ايستلوکې آساني وي .
(۲) د هري مسئلې بامحاوره ترجمه سوې ده .
(۳) د هري مسئلې وجه يعني دليل عقلي او دليل نقلي يې پيش کړئ دئ .
(۴) د هري مسئلې تحت يې د حديثو ذخيره پيش کړې ده .
(۵) کوم مسئله پر کوم اصول باندې فِټ ده هغه اصول يې بيان شوئ دئ .
(۶) د لغت تحت يې دمُشکل الفاظو تحقيق پيش کړئ دئ .
(۷) دفائدې تحت يې د امامانو اختلاف په مختصر انداز کې پيش کړئ دئ .
(۸) د تشريح تحت يې مُشکله مسئله په آسان انداز سره پيش کړې ده .
(۹) دليل ته ډېر طوالت نه دئ ورکړئ چې طلبآء زيات تنګ نه شي .
(۱۰) ژَبَه عام او آسان فهم استعمال شوې ده .
(۱۱) دليل او اصول يې د هدايې او صَحاحِ سته رنګه مهمّو کتابو څخه اخستل شوئ دئ .
(۱۲) د وراثت مسئله يې دکلکيولېټر په مرسته په نوي انداز سره پيش کړې ده چې د مُناسَخې ټول بحث په دوه منټ کې حل کيږي .

شارح : حضرت مولاناثميرالدين قاسمي صاحب دامت برکاتهم
(سابق استاذ حديث،جامعه اسلاميه،مانچسټر)
چرمين مُون ريسرچ سينټر،يوکې

﴿ ... فهرستِ مضامين الشرح الثميري ... ﴾

نمبرشمار صفحه نمبر	عنوانات
۱ ..... ۱	تقريظ (از مولانا نصير احمد صاحب دامت برکاتهم)
۲	تقريظ (از مفتي ظفيرالدين صاحب دامت برکاتهم)..

۳	ـــــــ	حالات شارح حضرت مولانا ثمیرالدین قاسمي صاحب صاحب ..
۴	ـــــــ	په نقل حديث کي د ترتيب رعايت.....
۵	ـــــــ	خامانِ حديث نَبَوِي(۹) مشهور شوې محدثين عظامُ ته يوه کتنه
۶	ـــــــ	د صاحب مختصرالقدروري حالات
۷	ـــــــ	علمِ فقه.....
۸	ـــــــ	حنفيّت د درو امامانو د مجموعې نوم دئ ۱۳۹
۹	ـــــــ	اِمَامَانُو ته يوه کتنه ۲۲۲
۱۰	ـــــــ	خُطبَةُ الکتاب ۲۸۱
۱۱	ـــــــ	کتابُ الطهارة ۳۰۰
۱۲	ـــــــ	د اَودَس د سُنّتو بيان ۳۲۳
۱۳	ـــــــ	د اَودَس د مُستحبّاتو بيان ۳۳۵
۱۴	ـــــــ	د اَودَس د نَوَاقِضُو بيان ۳۴۴
۱۵	ـــــــ	د غُسل د فرائضو بيان ۳۷۶
۱۶	ـــــــ	د غُسل د سُنّتو بيان ۳۹۶
۱۷	ـــــــ	د غُسل د واجبِدو اسباب ۴۵۰
۱۸	ـــــــ	د سُنّت غُسلو بيان ۴۸۱
۱۹	ـــــــ	د اُوبُو احکام ۴۹۹
۲۰	ـــــــ	د چمړې احکام ۵۰۹
۲۱	ـــــــ	د څاه مسئلې ۵۱۰
۲۲	ـــــــ	د پَسخُوردې استعمال ۵۱۰
۲۳	ـــــــ	بَابُ التّيَمّمُ ۵۱۱
۲۴	ـــــــ	د نواقض تيمّم بيان ۵۱۱
۲۵	ـــــــ	بَابُ المَسحِ علْي الخُفّين ۵۱۲
۲۶	ـــــــ	بَابُ الحيض ۵۱۲
۲۷	ـــــــ	د نفاس بيان ۵۱۲
۲۸	ـــــــ	بَابُ الانجاس ۵۱۳
۲۹	ـــــــ	د نجاست د پاکولو طريقه ۵۱۳
۳۰	ـــــــ	د استنجآء بيان ۵۱۸
۳۱	ـــــــ	کتاب الصّلوة ۵۳۴
۳۲	ـــــــ	بَابُ الاَذَانِ ۵۴۸
۳۳	ـــــــ	بَاب شُروطِ الصّلوة التي تتقدمها ۵۵۸
۳۴	ـــــــ	باب صفة الصّلوة ۵۹۸

٣٥	ـــــــ د وتر بيان	٦٦٣
٣٦	ـــــــ قراءة خلف الامام	٦٩٣
٣٧	ـــــــ د جماعت بيان	٧٠١
٣٨	ـــــــ د مكروهاتو بيان	٧١٠
٣٩	ـــــــ بَابُ قضآء الفوائت	٧١٢
٤٠	ـــــــ بَابُ اوقاتِ الّتي تكره فيها الصلوة	٧٢٤
٤١	ـــــــ بَابُ النّوافِل	٧٢٥
٤٢	ـــــــ فَصلٌ فِي القرآءة	٧٢٤
٤٣	ـــــــ باب سجودالسهو	٧٢٨
٤٤	ـــــــ بَابُ صلوةِ المريض	٧٣١
٤٥	ـــــــ باب سجودالتلاوةِ	٧٤٣
٤٦	ـــــــ باب صلوة المسافر	٧٥٤
٤٧	ـــــــ د فرسخ،ميل اوكېلو ميټر حساب	٧٥٥
٤٨	ـــــــ باب صلوة الجمعة	٧٥٥
٤٩	ـــــــ باب صلوة العيدين	٧٦٢
٥٠	ـــــــ باب صلوة الكسوف	٧٧٤
٥١	ـــــــ باب صلوة الاستسقآء	٧٩٥
٥٢	ـــــــ باب قيام شهررمضان	٧٣١
٥٣	ـــــــ باب صلوة الخوف	٧٤٣
٥٤	ـــــــ باب الجنائز	٧٥٤
٥٥	ـــــــ د كفن بيان	٧٥٥
٥٦	ـــــــ د جنازې د لمونځ بيان	٧٥٥
٥٧	ـــــــ باب الشهيد	٧٦٢
٥٨	ـــــــ باب الصّلوة في الكعبة وحولها	٧٧٤
٥٩	ـــــــ كتاب الزكوة	٧٩٥
٦٠	ـــــــ باب زكوة الابل	٧٣١
٦١	ـــــــ باب صدقة الفطر	٧٤٣
٦٢	ـــــــ باب صدقة الغنم	٧٥٤
٦٣	ـــــــ باب زكوة الخيل	٧٥٥
٦٤	ـــــــ باب زكوة الفضة	٧٥٥
٦٥	ـــــــ باب زكوة الذّهب	٧٦٢
٦٦	ـــــــ باب زكوة العروض	٧٧٤
٦٧	ـــــــ باب زكوة الزّروعِ والثِّمَار	٧٩٥

٦٨	ـــــــ باب من يجوز دفع الصدقة اليه ومن لايجوز	٧٣١
٦٩	ـــــــ باب صدقة الفطر	٧٤٣
٧٠	ـــــــ كتاب الصّوم	٧٥٤
٧١	ـــــــ د رؤيتِ هلال مسئله	٧٥٥
٧٢	ـــــــ د كومو شيانو څخه چي روژه نه ماتيږي د هغو بيان	٧٥٥
٧٣	ـــــــ باب الاعتكاف	٧٦٢
٧٤	ـــــــ كتاب الحج	٧٧٤
٧٥	ـــــــ بَابُ القِرَان	٧٩٥
٧٦	ـــــــ باب التمتع	٧٩٥
٧٧	ـــــــ باب الجنايات	٧٣١
٧٨	ـــــــ د بنكار بيان	٧٤٣
٧٩	ـــــــ باب الاحصار	٧٥٤
٨٠	ـــــــ باب الفوات	٧٥٥
٨١	ـــــــ باب الهَدي	٧٥٥



تقريظ

د دارالعلوم ديوبند دشيخ الحديث حضرت مولانا نصير احمد
صاحب دامت بركاتهم مباركه وينا

بِسمِهِ تَعَالٰي

ما د خپل عزيز شاګرد مولانا ثميرالدين قاسمي ،الشرح الثميري علي المختصر للقدوري، مُسوّده د بېلا بيلو ځايو څخه وکتله، ده هره مسئله جلا جلا کړي ده او د هغه تحت د هري مسئلې لپاره باحواله د آيت راوړلو کوشش کړئ دئ، که هغه نه سي ملاؤ نو د صحاحِ سِتّه څخه د پوره حوالې سره د حديث راوړلو کوشش کړئ

دئ، كه هغه نه سي پيدا نو دمصنف ابن ابـي شـيبة او مصـنف عبـدالرزاق څخـه قـولِ صحابي يا قولِ تابعي راوړئ دئ، او ددې خبري التزا م يې کړئ دئ چـي يـوه مسـئله هم بغير د حديث يا بغير د قولِ صحابي څخه پاته نه شي، چي هره هـره مسـئله مُسـتند شي، د کمال خبره خو داده چي د حضرت امام شافعي مسلك ئې هم بيـان کـړئ دئ او د هغه لپاره هم د صحاحِ ستّه څخه د حديث راوړلو سعي کړي دي،
دارنګه کار مخکې ډېر کم شوئ دئ، اميد دئ چي و طلبآء او عُلمآء تـه بـه ددې څخـه ډېر فائده ورسيږي، او خلګ به اُو س مسئلې د احاديثو څخه ثابتوي او دا به ورمعلـوم شي چي کومه مسئله په آيت سره ثابت د ه او کومه مسئله په اَحـا ديثـو سـره ثابـت د ه او کومه مسئله په قولِ صحابي سره ثابت د ه، او ددې درجه او مقام څـه دئ، دا ډېـره غټه خبره ده .
الله تعالىٰ دي داکتاب ته قبوليّت ورکړي . اٰمين .

نصير احمدعفاالله عنه
(شيخ الحديث دارالعلوم ديوبند)
صدرالمدرسين دارالعلوم : ١٠ مارچ ٢٠٠٣ء ، ٦ مُحرم الحرام ١٤٢٤هجري

تقريظ

د دارالعلوم ديوبند مفتئ اعظم (مُرَتِّب فتاوي دارالعلوم،ديوبند)
حضرت مولانا ظفيرالدين صاحب دامت برکاتهم مبارکه وينا
بسم الله الرحمٰن الرحيم
الحمد لله رَبِّ العالمين والصلوة والسلام علي سيّدالمرسلين وعلي اٰله وصحبه اجمعين

اما بعد ! فقه حنفي د کتاب الله، احاديث نبوي او اقوالِ صحابه څخه مُستنبط ده، يـوه بنيـادي مسئله هم دارنګه نشته چي د هغه ثبوت په کتاب سُنّت او اقـوالِ صـحابه کـي نـه وي، لـېکن هغه خلګ چي د تقليد مُخالف دي يا د چاچي مُطالعـه محـدود ه، دهغـواعتراض دئ چـي د فقهِ حنفي تر شا کتاب الله او سُنّتِ رسـول څخه دلائل نشته، حالانکه د فقهِ حنفي ډېر کتابونـه د کتاب او سُنّت په حوالو سره شائع شوي دي .
خو بيا هم ددې ضرورت پاته وُ چي د فقهِ حنفي هغه کتابونه چي پـه درسِ نظـامي او نصـا ب کي شامل دي او د دلائلو څخه خالي دي د هغو شروحا ت په دا رنګه وليکل شـي چـي د هري مسئلي سره د کتاب او سنّت دلائل هم نقل وي .
ددې په کتنه ډېر خوشحا ل سوم چي مولانا ثميرالدين دارنګه شرح ليکي چي پـه هغـه کـي ده موصوف هره بنيادي مسئله د کتاب او سنّت په دلائلو مُزَيّن ګرزولې ده، که د کتاب الله د اٰيتو حواله وي يا د حديث نبوي يا د اقوا لِ صحابه حواله وي، مولانا موصوف زېد مجده ددې شرح په ليکلو کي ډېر محنت کړئ دئ او مسـائل د کتـا ب الله او احـاديثو د حوالـو پـه درجولو کي سعي بليغ کړي دي، زه په دا اُمَيد يم چي د مولانا و دې محنت ته به ا هلِ علـم

په ښَه نظر وګوري، او عوا م او خواص به ددې شرح څخه مُستفيد شي او و مولانا ته به دُعاګا ن کوي،
د الله تعالي څخه دعاء ده چې دا شرح دده لپاره د آخرت ذخيره جوړه کي او علماء او طلباء دا تر خپله مُطالعه لاندي راوُلي .

طا لب دعاء : محمّد ظَفِيرُالدّين غفرله
مفتي دارالعلوم : ١٠ مارچ ٢٠٠٣ء

بِسمِ اللهِ الرّحمٰنِ الرّحِيمِ

(حالاتِ شارح)

حضرت مولانا ثميرالدين قاسمي صاحب دامت بركاتهم

از : (حضرت مولانا)عبدالعزيزقاسمي(صاحب)
مهتمم جامعه روضة العلوم،نيانګر،ضلع ګډا،جهارکهنډ،انډيا

نحمده ونصلي علي رسوله الكريم

(د پيدائش سنه)

حضرت مولانا ثميرالدين صاحب ۶ نومبر١٩٥٠عيسوي، ٢٥محرم الحرام ١٣٧٠هجري کي پيدا شوئ دئ، دا تاريخ تحقيقي نه دئ ځکه چې کُورته د تاريخ ليکلو رواج نه و، البته قريب قريب دغه تاريخ دئ، دغه يې په سرټيفيکيټ او پاسپورټ کي درج کړئ .

(مَقامِ پيدائش)

حضرت په مقام ګهټي،تهانه مهګاوان،ضلع ګډا،صوبه جهارکهنډ کي پيدا شو، دا صوبه مخکي د بِهَار حصّه وه، اُوس يې جلا کړه جهارکهنډ يې ځُني جوړ کړئ، دا کلئ د بهاګلپور او ګډا بنار څخه ليري په صحرآء کي دئ، چې هلته په دې وخت کي هم بِجلِي،اُوبَه د څړك رنګه د ژوند آسانتياوي نشته .

(شجرۀ نسب)

نوم ثميرالدين،د پلار نوم جمال الدين،د نيکه نوم محمدبخش عُرف لَدنِي،د وَرنِيکَه نوم چُولهَائي،قوم شيخ صِدّقِي، ډير وروسته دده نسب د حضرت ابوبکر صديق رضي الله تعالىٰ عنه سره ملاؤيږي، نو ځکه ودې خاندان ته شيخ صِدّقِي وائي، باضابطه يوه خاص شجره يې نشته خو دده په خاندان کي دغه مشهور دئ .

(تعليم)

ابتدائي تعليم يې د ګهټي کلي په مَکتَب کي پر مولوي عبدالرؤف عُرف ګوني،مقام مرغياچك،ضلع بهاګلپور کې حاصل کړئ، په دغه مکتب کې اردو،هندي،حساب او فارسي تعليم حاصل کړئ .

د دولس(۱۲)کالو په عُمر ۱۹۶۲عیسوي کي مدرسه امدادالعلوم،اټکي رانچي ته د تعلیم د حاصلول لپاره ولاړئ، په ۱۹۶۴عیسوي مدرسه اعزازیه،پهتنه بهاګلپور کې داخله واخسته، په ۱۹۶۶عیسوي کې دارالعلوم چهاپي ګُجرات له ولاړئ، او په ۱۹۶۸عیسوي کي مرکزِ علم وعرفان دارالعلوم دیوبند کي د اعليٰ تعلیم لپاره داخله واخستله، په شعبان ۱۳۱۹هجري مطابق اکتوبر ۱۹۷۰عیسوي کې د دورۀ حدیث څخه فراغت حاصل کړئ، حضرت بخاري شریف د حضرت علامه فخرالدین صاحب رحمة الله علیه څخه ویلې ده، ترمذي شریف یې د حضرت مولانا فخرالحسن صاحب ګنګوهي،ابوداؤدشریف یې د حضرت مولانا عبدالاحد صاحب، مُسلم شریف د حضرت مولانا شریف صاحب او طحاوي شریف یې د حضرت مولانا حسین احمد بهاري څخه ویلي دي، دغه حضرات د هغه زماني جِبَالُ العِلم و کوم چې حضرت د تَلَمُذ ځنګنونه ورته مات کړي و، په ۱۹۷۱عیسوي کې په تکمیل عربي ادب کي داخله واخسته او په عربي کې مهارت حاصل کئ،په ۱۹۷۲عیسوي کې په فنون کي داخله واخسته او په فلکیاتو کې مهارت حاصل کړئ، د دارالعلوم دیوبند پنځه کلن ژوند د مولانا لپاره ډېر د اهمیّت وړدئ، په دې دوران کي همیشه په تَنهَا ناست کي به په علم او مُطالعه کي مشغول و، ما یو وخت د دارالعلوم دیوبند استاد مولانا عبدالخالق مَدرَاسِي صاحب په مخکي د مولانا ثمیرالدین تذکره وکړه نو ده وفرمائل، هغه مولانا ثمیرالدین چې په فارغ وختو کي به په قبرستان کي ناست و مُطالعه به کوله، ما ورته وویل هو ! هغه ، بیا مولانا عبدالخالق صاحب د مولانا د محنتو څو واقعي بیان کړي چې د هغه څخه ماته دا اندازه وسوه چې مولانا موصوف د ابتدآء څخه د کتاب په پُوهَنَه کي څومره محنت کاوئ، دهغه ثَمَرَه ده چې ،اَلشّرحُ الثُمیري،رنګه عظیم کتاب ستاسو په لاسو کي دئ .

(تدریسي خدمتونه)

د جنوري ۱۹۷۳عیسوي مطابق شوال ۱۳۹۳هجري څخه مولانا د تدریس ابتدآء وکړه، او په دې دوران کې په مدرسه کَنز مَرغُوب،پټن،ګُجرات، مدرسه تعلیم الاسلام،آنند،ګُجرات، جامعه رحماني خانقاه،مونګیر،بهار کي د دورۀ حدیث اهم کتابونه ابوداؤدشریف،ترمذي شریف درس ول، او تقریبًا دېرش کال تدریسي خدمتونه وکړه او په دې دوران کي تفسیر،حدیث،فقه،منطق،او د فلسفې اهم کتابونه لس لس دولس دولس واره درس کړه، کتابونه دومره درس کړه چې د اکثرو کتابو خاکه یې زباني یادسوه .

(تدریسي انداز)

د حضرت مولانا د درس انداز بیخي جلا دئ، چې څومره سبق وائي نو اول د هغه ټوله خاکه بیان وي، څو واره طلبآء زباني پوه کوي، چې پوره سبق و طالبانو ته یاد شي بلکه یو وار یې په طالبانو هم وائي چې و مولانا ته اطمینان شي چې و طالبانو ته ټوله

سبق یاد شو بیا یې ترجمه کوي، په دې طرزِ تدریس باندي طالبان دومره خوشحال کیږي چې د یوه وار وینا وروسته بیا ګر سره نه هېریږي، او همیشه خپل کتاب پر حضرت باندي ویل غُواړي .

زه په هداية النحو کي د مَااُضمِرَ عَامِلُهُ عَلي شَرِيطَةِ التَّفسِيرِ، په مطلب نه پوهیدم، پر ډوډئ سره ناست و چې د حضرت څخه مو ددې مطلب وپوښتئ، حضرت پر هغه ځائ پر لُوښُو باندي لاس کښېښوئ یوه تَالَئ یې عَامِل او بله تَالَئ یې ضمیر او دریمي تَالَئ یې په هغه کي پټ مفعول جوړ کئ او په ټوله بحث یې زباني پوه کړم، ماته ددې څخه اندازه وسوه چې و حضرت ته کتاب څومره یاد دئ او د پوه کولو انداز یې څومره آسان او په زَړَه پوري دئ .

په مارچ ۲۰۰۴ عیسوي کي د حضرت سره یو ځائ د بِهَار علمي مرکز،اَمَارَتِ شَرعِیّه،پهلواري شریف،او پټنه ته حاضر سوم، او د هغه ځائ مُنتَهِي طالبانو ته د حضرت د تدریس د انداز څخه د مُستَفِید کېدو شوق پیدا سو، هغو هدایه اَخِیرَین راوړه او د یو مُشکل ځائ څخه عبارت ووایئ او حضرت بغیر د مُطالعې ټوله سبق ورته ووایئ، چې طالبان په پوه سو نو بیایې ترجمه ورته وکړه، طالبانو چې دا دلنشین انداز ولیدئ نو حیران شو، زوما په خیال د څو څو ځله د سبق خاکه زباني بیانولو په وجه اکثره کتابونه د حضرت په ذِهن کي مُستَحضَر سوئ دي .

(تصنیفي خدمتونه)

حضرت مولانا د هندوستان،پاکستان او برطانیې د ډیرو مُهِمّو رسائلو مضمون نګاره دئ، چې په هغو کي اهم مضامین وقتًا فوقتًا شائع کیږي، حضرت د ،جامعه اسلامیه،مانچستر څخه راوتونکي جریدې ،اَلجَامِعَه،مُدیر پاته سوئ دئ، ددې څخه علاوه تر اُوس محال پوري تقریبًا اَتَلَس(۱۸)کتابونه دده د قلم تر نوك وتلي دي د هغو فهرست دادئ .

(۱) انوارفارسي
(۲) خلاصة التعليل
(۳) صدائ دردمند
(۴) په علاقه کي د کمپټئ ضرورت
(۵) تفریق و طلاق
(۶) طلاقِ مُغلظه پر اَتَمَه مرحله باندي
(۷) عیسائیت څه شیئ دئ ؟
(۸) لائف آف عیسٰي ﷺ (انګریزي)
(۱۰) حاشیه سفینة البلغآء(عربي)
(۱۱) تحفة الطلبآء شرح سفینة البلغآء
(۱۲) تاریخ علاقه ګډا وبهاګلپور
(۱۳) یادِ وطن
(۱۴) سائنس او قرآن
(۱۵) فلکیاتِ جدیده
(۱۶) اسلامي کلېنډر
(۱۷) رُؤیتِ هلال د علم فلکیات په رونا کي

(٩) اصلاح معاشره (١٨) الشرح الثميري
علي المختصر للقدوري

(ښې کارنامې)

حضرت په فلکیاتو او اسلامي کلېنډر په سلسله کې ډېر د سَتَاپِنِي وړ کار کړئ دئ، دعربو ډېرو ملکو د یوه نیم ورځي پر پېښګي وخت باندي خپل خپل کلېنډران جوړ کړئ و، او ددې څخه هم مخکي اعلان کاوئ چې ددې په وجه د صحیح وخت څخه به دوې نیم ورځي مخته کېدل او په یورپي ملکوکي به ډېر انتشار راتلئ،حضرت مولانا ددې لپاره فلکیات جدیده،رُؤیَتِ هلال د علم فلکیات په رونا، او اسلامي کلېنډر رنګه ښَه کتابونه تصنیف کړل، د عربو ملکو یې څو ځله سفرون وکړه او د هغه ځائ اهل علم یې ودې ته متوجه کړه، وهغو ته د خپلي غلطي احساس ورکئ چې د هغه په وجه هغوئي خپل خپل کلېنډران تبدیل کړل، هغه کلېنډر اوس هم د رُؤیتِ بَصَرِي څخه یوه ورځ مخکي دئ، بیا هم دا څه کم محنت نه دئ چې پر سَر یې کفن وتاړئ او هلته ولاړئ او اَتَه کال یې د خط وکتابت د لاري دوئي پوه کوله، نِن په یورپ کي اکثر وبېشتر په یوه ورځ اختر جوړیږي دا کارِ خیر د حضرت د محنتو ته ثَمَرَه ده، که نه نو مخکي خو به درې درې ورځي اختر شروع و .

(الشرح الثميري یوه عظیم کارنامه)

د حضرت دا شرح اوس په یوه نوي انداز کي ده، تر اُوس چې څومره شروحاتي د ناچیز تر نظر لاندي راغلي دي په هره یوه کي پر ترجمه او مختصر تشریح باندې اکتفآء کړې ده، لېکن بالالتزام هره مسئله جلا کول،پر هغه باندي نمبر لګول او د هري مسئلې دارنګه تشریح کول چې تر غَېِي لا هم غَېِي طالبعلم په پوه سي په یوه کتاب کي مي نه ده لیدلې، بیا یې د هري مسئلې لپاره بالالتزام سره د حوالې حدیث راوړئ دئ چې هره مسئله په مُدلل سي په یوه شرح کي مي نه ده لیدلې، دا بس ددې شرحِ کمال دئ چې د اصلي کتابو څخه پلټلئ دئ او حدیث یې لیکلئ دئ،او د باب سره د حدیث صفحه او نمبر لا هم درج کړئ دئ، ددې شرح په مرسته د حدیث پلټنه آسان سوه، او هر طالبعلم ته حدیث مُستَحضَر سو، د مسئلې سره د حدیث په وینا کي و زړه ته سکون حاصلیږي، او یقین سي چې دا مسئله د کوم حدیث څخه ثابت ده او د کومي درجې مسئله ده،

د حدیث د استخراج لپاره تقریبًا دېرش(٣٠)کتابونه کتلي دي، دومره محنت،تَتَبُع او تلاش ډېر کم شارحان کوي، لېکن حضرت دورځي او دشپې څلور کال په دې محنت کي مشغول و، او یو ګوهرِ نایاب یې د اُمّت په مخکي د پېشولو قابل شو،

د کوم مسئلو لاندي چې حدیث یا قولِ صحابي یا قولِ تابعي نه دئ لیکلئ ددې مطلب دادئ چې په دې دېرش(٣٠)کتابو کې د ډېر تلاش وروسته حدیث یا قولِ صحابي یا قولِ تابعي پیدا

نه کړئ، چې د هغه په وجه حضرت یو حواله ور نه کړه، که په دې کتابو کې حواله پیدا سوې وائ نو حضرت به ضرور هغه حواله نقل کړې وائ، خو بیا هم که یو صاحب حواله پیدا کې نو ضرور دې اطلاع ورکې چې مسئله تَشنَه نه شې پاته،
په دې شرح کې دا کمال هم دئ چې د حضرت امام شافعي او امام مالك مسلك یې هم بیان کړئ دئ او د صحاحِ سِتّه څخه د هغه مضبوط دلائل هم بیان کړي دي، چې که یو صاحب بروقت د دُوئي د دلائلو څخه واقفیّت حاصلول وغواړي نو فورًا یې وکې، یا د حنفیه او شوافعو په دلائلو کې مُوازنَه کول وغواړي نو ددې ګنجائش هم سته، د حضرت دا د دریاب په شان زړه هم د تعریف قابل دئ،
د برطانیې په رنګه یورپي مُلك چې دِینِي ماحول ډېر کم پکښې وي او د لوستلو او لیکلو سهولت(آسانتیا وي)ډېري کم یاب وي، په هغه ځائ کې دارنګه نَایَاب شرح لیکل د محنت او جفاکشئ کار دئ، چې حضرت په ډېره ښَه توګه انجام ته ورساوئ، د الله تعالیٰ څخه دُعآء ده چې دا عظیم خدمت قبول کړي او د نجات ذریعه یې وګرزوي،آمین یَارَبّ العلمین ! این دُعاء ازمن و از جمله جهان آمین باد .

ناچیز : عبدالعزیز غفرله .
خادم جامعه روضة العلوم،نیانګر
ضلع ګډا،جهارکنډ ۲۱ اپریل ۲۰۰۴ء

بسم الله الرّحمٰن الرّحیم

﴿... د حدیثو په نقل کولوکې د ترتیب رعایت ... ﴾

--- نحمده ونصلي علي رسوله الکریم ---

د قُدُورِي د تدریس په زمانه کې ذهین طالبانو کله نا کله اشکال کاوئ چې د هري مسئلې د ثبوت لپاره دلیل بیان که، صرف په دلیلِ عقلي سره خلګ نه مُطمئن کیږي هغه وائي چې زمور په مسجدو کې شافعي،حنبلي،او مالکي خلګ دي، د هغو په مخکې مسئله بیان وَم نو دُوئي یې نه مني، هغه وائي چې مسئله د آیتِ قُرآني څخه جوړیږي یا د حدیث څخه، چې ډېر زیات سي نو به قولِ صحابه او چې تر دې لا هم لاندي راشې نو قولِ تابعي یا فتویٰ تابعي هم پیشولائي شې، نو ځکه د هري مسئلې لپاره آیتِ قُرآني یا احادیث پیشوه !
د طالبانو پریشاني پر خپل ځائ صحیح وه، واقعي شافعي،حنبلي او مالکي حضرات د مسئلې لپاره احادیث غُوَارِي، او هغه هم د صحاحِ سِتّه څخه، هغه په دلیل عقلي سره نه مُطمئن کیږي، نو زه ببچاره هم پریشان وَم او په زړه کې به مي هر وخت دا سوچ واهئ چې مُوقَع پیداسي نو د قُدُورِي د هري مسئلې سره سره باب،صفحه او دحدیث دنمبرو سره سره پوره حدیث پکې نقل سي چې و طالبانو ته آساني وي او د نورو مسلکو خلګ مُطمن کړي، که یو څوك د اصل کتاب کتنه وغواړي نو هغه هلته

رجوع وکي، حديث،باب او د احاديثو د نمبرو د ليکلو څخه به وطالبانو تـه هم معلـوم سي چې دا مسئله د کومي درجې مسئله ده، که په آيت سره ثابت ده خـو مظبـوط ده، د صـحاحِ سِـتّه پـه احـاديثو ثابـت ده نـو بيـا دهغـه څخـه د کښـته درجـې ده، او کـه پـه دارقُطنې،سنن بيهقي کي هغه حديث دئ نو بيا ددې څخه هم د کښته درجـې مسـئله ده، او د مصنف ابن ابي شيبة او مصنف عبدالرزاق په قولِ صـحابي يـا قـولِ تـابعي سـره ثابت ده نو دا مسئله دهغې لـورې څخـه لا هـم د کښـته مرتبـې مسـئله ده، نـو ځکـه پـه دارنګه مسئلو کي دي د نورو مسلکو د خلګو سره ډېر بحثونـه نـه کـوي چـي د اتحـاد فِضآء برقراره پاته وي، په برطانيه کي يوه پريشاني دا هم ده چـي پـه يـوه مسـجد کـي شافعي،حنبلي،مالکي او حنفي ټول موجـود وي، او د هـر مسـلك خلـګ د خپـل مسـلك مطابق لمونځ ادآء کوي نو ځکه چې د مسئلې حيثيّـت نـه وي معلـوم نـو دلتـه پريشـانئ ډېريږي، نو ځکه د ناچيز په ذهن کي په څو څو ځله دا تقاضآء پيدا کېده، حُسـنِ اتفـاق دئ چې د څو کلو څخه فرصت پيدا شـوئ دئ چـي د هغـه پـه وجـه ددې تَمَنّـا د پـوره کېدو موقع لاسته راغله، نو د طالبانو د خواهش مُطابق هره مسئله مي جلا جـلا کـړې ده او نَمبَر مِي پر لګولئ دئ، او پوره کوشـش مـي کـړئ دئ چـي ددې د ثبـوت لپـاره اوّل

شمېره تفصيل مُصنّف	ترتيب مُصنّف	ټول ايات يا ټول احاديث	سن ولادت	مقام ولادت	سن وفات مُصنّف
(۱) ...	آيـــت راشـــي که هغه نه وي نو ...		۶۲۳۶		...
(۲) ۲۵۶هجري	دبخـاري حـديث که هغه نه وي نو	۷۵۶۳	۱۹۴هجـري	بُخـارا	
(۳) ۲۶۱هجري	دمُسـلم حـديث که هغه نه وي نو	۳۰۳۳	۲۰۴هجـري	نيشـاپور	

شمېره تفصيل مُصنّف	ترتيب مصنف	ټول احاديث مُصنف	سن ولادت	مقام ولادت	سن وفات
۴ هجري	د ابوداؤدحديث که هغه نه وي نو	۵۲۷۴	۲۰۲هجري	سجستان	۲۷۵

۵ ۲۷۹هجري	د ترمذي حديث که هغه نه وي نو	۳۹۵۶	۲۲۰هجري		تِرمذ
۶ ۳۰۳ هجري	د نسائي حديث که هغه نه وي نو	۵۷۶۱	۲۱۵ هجري	نَسآء	
۷ هجري	دابن ماجه حديث که هغه نه وي نو	۴۳۴۱	۲۰۹ هجري	قَزوِين	۲۷۳

حاشيه : بخارا او نيشاپور دا دواړه خايونه په دې وخت کې په روس کې و تاجکستان ته نژدې واقع دي .

دغه لوړ شپږ کتابونه صحاح سِتّه دي، که په دې کتابو کې حديث نه شي پيدا نو بيا

شمېره تفصيل	ترتيب	ټول احاديث	سن ولادت يا قول صحابي	مقام ولادت	سن وفات مُصنف
۸ ۳۸۵ هجري	مُصنف د ارقُطنِي که هغه نه وي نو		۴۷۹۰	۳۰۶هجري	بغداد
۹ ۴۵۸هجري	سنن بيهقي که هغه نه وي نو	۲	۲۱۸۱	۳۸۴هجري	بَيهَق
۱۰ هجري	مصنّف عبدالرّزاق که هغه نه وي نو	۲۱۰۳۳	۱۲۶ هجري	صنعان	۲۱۱
۱۱ هجري	مصنّف ابن ابي شيبة که هغه نه وي نو	۳۷۹۳۰	۱۵۹ هجري	کوفه	۲۳۵

که آثار هم نه شي پيدا نو .....

(۱۲) بيا مې اُصول پيش کړي دي، او د اُصول لپاره مې حديث راوړئ دئ او پر هغه باندې مې مسئلې مُتفرّع کړي دي .

دارنګه مې نه دي کړي چې د حديث د پلټنې بغيره مې قَولِ صحابي راوړئ وي، نو په کومه مسئله کې چې صرف قَولِ تابعي ذکر سوئ وي او د حديث حواله نه وي نو ددې مطلب دادئ چې ما هر مُمکن د حديث تلاش کړئ دئ لېکن چې نه سوم بريالئ نو بيا مې قولَ تابعي ذکر کړئ دئ،يا د يو مسئلې د ثبوت لپاره قَولِ تابعي هم نه وي ذکر شوئ نو ددې معنيٰ داده چې د ډېر تلاش وروسته د قَولِ تابعي په موندلو کې هم نه يم بريالئ شوئ نو مجبورًا مې بَيَاض(خالي ځائ)پرېښوئ، او د اهلِ علم څخه درخواست کوم چې که دُوئي دهغه په لړ کې حديث يا قَولِ صحابي يا قَولِ تابعي وموندي نو ضرور دې اطلاع راکې .

کوشش مي دا کړئ دئ چي دحضرت امام شافعي او امام مالك او امام احمد مسلك هم ذکر شي،اودهغودليل هم په هغه ترتيب سره،چي اول آيت يادصِحَاحِ سِتّه

حاشيه : تِرمِذ،نَسَاء،او بَيهَق د غه دره سره ځايونه په دې وخت کي په روس کي دي، سجستان او قَزوين په ايران کي دي،کُوفَه او بَغدَاد په عراق کي دي .

د کتابو څخه حديث راوړل شي او که هلته نه شي پيدا نو قَولِ صحابي يا قَولِ تابعي ذکر کړل شي، چي طالبان د دوئي د مسلك د مُستدلاّتُ څخه واقف شي، هغه هم زمورِ اِمَامَان دي، بلکه د سَر تاجونه دي، صاحب د هدايه هر ځائ د دوئي نومونه په ډېر احترام سره اخستي دي او د دوئي دلائل يې په ډېر فراخ دِلِي سره وړاندي (پيش)کړي دي، دې عاجز هم د ده اتباع کړې ده، او هر ځائ مي د دوئي دلائل په ډېر تفصيل سره بيان کړي دي، د تحقيق کولو په دوران کي ددې اندازه وسوه چي د حضرت امام ابوحنيفه امام اعظم رحمة الله عليه په مسلك کي د ډېر احتياط څخه کار اخستل شوئ دئ، او ددې مسلك نګاه اوّل د قُرآن پر آيت لويږي .

﴿ ... خصوصيات الشرح الثميري ... ﴾

(١) د طالبانو دذهن مطابق هري مسئلې بامحاوره او آسان ترجمه پيش شوې ده .
(٢) د مسائلو تشريح په آسان او عام فهم پينتو سره شوې ده .
(٣) د. وجه . تحت د هري مسئلې دليلِ نقلي د قرآن او حديث څخه په حواله وړاندي کړئ دئ .
(٤) د موقع مطابق دليلِ عقلي هم ذکر شوئ دئ .
(٥) د فائدې تحت د نورو امامانو مسلك او د دوئي مُستدلات ذکر سوي دي .
(٦) کومه مسئله پر کوم اُصُول فِتِيږي هغه اُصُول هم بيان شوئ دئ .
(٧) د لُغت تحت د مُشکل الفاظو تحقيق ذکر شوئ دئ .
(٨) د لفظي بحثو او اعتراضاتو او جواباتُو څخه مي په قصدًا ځان ژغُوَرَلئ دئ چي دطالبانو ذهن پريشان نه شي .
(٩) چي حديث دئ د هغه لپاره مي د ،حديث، او چي قَولِ صحابي يا قَولِ تَابِعِي دئ دهغه لپاره مي د ،اَثَر، لفظ ليکلئ دئ چي معلوم شي چي کوم حديث او کوم قَولِ صحابي يا قَولِ تَابِعِي دئ .
(١٠) د حديث د حوالې لپاره مي پوره باب ليکلئ دئ، بيا د پاکستانئ کُتُب خانو شائع شوي کتابو صفحه نمبر مي ليکلئ دئ او د بېروت څخه شائع شوي کتابو مي حديث نمبر ليکلئ دئ چي د حديث په رايستلو کي آساني وي .
(١١) د وِرَاثَت مسئله مي د کَلکيولېټر په مرسته په نوي انداز سره دحساب طريقه ليکلې ده چي د هغه په مرسته په دوه منټه کي ټوله مُناسخه حل کيږي .

﴿ ... هيله يا گزارش ... ﴾

د مسائلو تحقيق او د هغو دلائل يو بې پَايَه سمندر دئ ددې و پائ ته رسېدل آسان کـار نه دئ، نو ځکه د اَهلِ علم په خدمت کي مُؤدّبانه او عاجزانه ګزارش دئ چـي د کومـو مسئلو دلائل پاته شوي دي که و هغو ته ددې دلائل مـلاؤ شـي نـو ضـرور دي اطـلاع راکړي چي په راتلونکي طباعت او چَاپ کي هغه ورسره ګډ(شـامل)کړم، دغـه رنګـه په کوم ځائ کي چي غلطي او سهو ورته بښکاره سي هغه دي هم راتـه پـه ګوتـه کـي، دهغې به هم اصلاح کوم او د زړه په کومي به شکر ګزار يم .

﴿ ... شکريه او مَنَنَه ... ﴾

زه د هغو ټولو مُحسنانو د زړه په کُومِي سره شکر ګزار يم چي په هره ډول آسانتياؤ سره ماته فراغت راکړئ او د کتاب د خپرولو لپاره هروخت تمنا او دُعاګان کولې، خداوندکريم دي ودوئي ته په دواړو جهانو کي بښَه بدله ورکړي او په جنّتُ الفردوس سره د دوئي مېلمستيا وکي، دغه رنګه دي الله تعالي زوما و ملګري او دوست جناب نادر لاجپوري صاحب ته هم جزائ خير ورکړي چي کمپوټنګ يې وکئ او کتاب يې د اشاعت قابل وګرزاوئ، اودمولانا عبدالعزيزصاحب،مهتمم جامعه روضة العلوم،نيانګر هم شکرګزاريم چي هغو يې د اشاعت بار(بُوج)پر خپله جامعه باندي واخستئ، چي د هغه په وجه په اشاعت کي و ما حقير ته آسانتيا پيدا شوه، دغه رنګه حضرت مولانا مُسلِم قاسمي صاحب سينپوري سلمه د کتاب د چاپېدو نګراني وکړه زه د هغه هم شُکريه ادآء کوم، خداوندقُدّوس دي و دې حضراتو ته پوره پوره بدله ورکړي او په جنّتُ الفردوس سره دي د دُوئي مېلمستيا وکي .

ددې کتاب په اشاعت کي د باټلي وسېدونکي يو صاحب سخاوت شامل دئ، چي د هغه په وجه د کتاب په اشاعت کي ډېره لويه آسانتيا راغلې ده، هغو د خپل پلار مرحوم د روح د ثواب لپاره رقم(پيسې)راکړي دي، الله تعالي دي وده ته ددې تعاون په دواړو جهانو کي بښَه بدله ورکړي او مرحوم ته دې په اَعليٰ عِلّيّين کي ځائ ورکړي، آمين !

الله تعالٰي دي ودې کتاب ته قبوليّت ورکړي او د آخرت ذريعه د ې جوړه کړي، ددې په طُفيل دي وما حقير ته جنّتُ الفردوس راکړي او کمبوت،کوتاهي دي را معاف کړي، آمين يارب العلمين .

احقر ثميرالدين قاسمي
maulana samiruddin qasmi
سابق استادحديث،جامعه اسلاميه مانجستر
وچرمين مون ريسرچ سينټر،يوکې
يکـــــــــــــــم مئ،ســـــــــــــــنه ۲۰۰۴عيســـــــــــــــوي
70 stamford street
old trafford
manchester
England m16 9ll

Til : (0161) 2279577

﴿ پر کُوم مقام باندي د حديث کُوم امامانِ پيدا شوي دي د هغه لپاره دا نقشه وګورئ ﴾

بسم الله الرّحمٰن الرّحيم

(د صاحب المُختصَر للقُدوري حالات)

نوم او نسب

نوم يې احمد دئ، ابوالحسن يې کُنيت دئ،قُدُوري، دکلي وطرف ته يا دده وپېښې ته نسبت دئ، د پلار نوم يې مُحمد دئ، شجرۀ نسب يې داده، ابوالحسن احمد بن ابي بکر محمدبن احمدبن جعفربن حمدان البغدادي القدروي .

سن پيدائش او ځائ د پيدائش

دئ محترم په سنه ۳۶۲هجري کي پيدا شو او مقامِ پيدائش يې بغداد دئ .

د کُنيَت تحقيق

د المختصر للقدوري په اکثره نسخو کي دده کُنيَت ابوالحسن ليکلي دئ، لېکن صحيح دادئ چې دده کُنيَت ابوالحسين دئ، په تاريخ ابن خلکان،مدينة العلوم،او اَنسَابِ سَمعَاني کي دغه ذکر دئ .

د قُدُورِي د نسبت تحقيق

مؤرخ ابن خلکان په خپل تاريخ وَفَيَاتُ الاَعيَان کي ليکلي دي د ،ق، او ،د، په پېښ(ضَمّه)سره او د ،و،په سکون سره د قِدر جمع ده، چې معنْي يې د ،دېګ، ده، لېکن د قُدوري و طرف ته د نسبت سبب او وجه نه ده معلوم .

صاحب د مدينة العلوم فرمائي چې د قُدوري مطلب دئ ،دېګ سازي، نو اُوس صاحب د قدوري و دې خوا ته منسوب دئ چې دده د خاندان خلګو دېګونه جوړول يا يې ددې خَرِيد او فِرُوخت کاوئ، نو ځکه دئ يې هم و دې ته منسوب کړئ او قُدُورِي يې ورته ويل، يا دئ د هغه کلي وُسِېدونکئ و چې د هغه کلي نوم قِدر و، و هغه کلي ته منسوب کړئ او قُدُورِي يې ورته ويل .

(تحصيل د علم)

امامِ قُدُورِي علمِ فقه او علمِ حديث د رُکُن الاسلام ابوعبدالله محمدبن يحيٰ بن مهدي جُرجانِي مُتوفيٰ ۳۹۸هجري څخه حاصل کړئ دئ، چې د امام ابوبکر احمد جصّاص شاګرد دئ، او حضرت ابوبکرجصاص د ابوالحسن عبيدالله کرخي شاګرد دئ، او امام کرخي د ابوسعيد بُردَعِي څخه تحصيل کړئ دئ، او ابوسعيد بُردَعِي د علاّمه موسيْ رازي فيض يافته دئ، او موسيٰ رازي د امام محمد شيباني حنفي مايۀ

ناز فرزند او عِلم پَروَردَه دئ، ګواکه امامِ قُدُورِي په پنځه واسطو سره د حضرت امامِ محمد رحمة الله علیه څخه علمِ فقه حاصل کړئ دئ .
علمِ حدیث یې د مُحمدبن علي بن سوید او د عبیدالله بن مُحمدجوشني څخه روایت کاوئ، وده ته د ابوبکراحمدبن علي بن ثابت خطیب بغدادي دتاریخ بغدادمصنف اودقَاضِيُ الْقُضَاة ابوعبدالله محمد بن علي بن محمددَامغَانِي اودقاضي مُفَضّل بن مسعودبن یحيۍ بن ابي الفرج التنوخي مُتوفيۍ ۴۴۲ هجري څخه شَرَفِ تلمُذ حاصل دئ، حضرت ددې جِبَالُ العِلم رنګه خلګو څخه علمِ حدیث حاصل کړئ دئ .

دامامِ قُدُورِي توثیق

خطیب بغدادي فرمائي چي ما دده څخه حدیث لیکلي دي، دئ صَدُوق و او د حدیث روایت یې کم کاوئ، امامِ سمعاني دده په شان کي دا رنګه فرمائي ، **کَانَ فَقِیهًا صَدُوقًا،اِنتَهَت اِلَیهِ رِیَاسَةُ اَصحَابِ اَبِي حَنِیفَةَ بِالعِرَاقِ ،وَعَزَّ عِندَهُم قَدرُهُ وَ اِرتَفَعَ جَاهُهُ ،وَکَانَ حُسنُ العِبَارَةِ فِي النَّظَرِ ،مُدِیمًا لِتِلاَوَةِ القُرآنِ .**

ترجمه : دئ فقیه او صدوق و، دده په وجه په عرق کي د حنفي مذهب ریاست و کمال ته ورسېدئ، او دده ډېر لوئ قدر او منزلت پیدا شو، دده تقریر او تحریر ډېر په زړه پوري و، ده به همېشه تلاوت قرآن کاوئ .
قاضي ابومحمد په طَبَقَاتُ الفَقَهَآء کي دده په تذکره کي په ډېرو زُورَوَرُو لفظو سره تعریف کړئ دئ .

فقهي مقام

ابن کمال پاشا دئ او صاحب د هدایه په طبقهٔ خامسه یعني اصحابِ ترجیح کي شمار کړئ دئ، لېکن اکثرو علمآء پر دې باندي اعتراض کړئ دئ چي حضرت امامِ قُدُورِي د حضرت قاضي خان او دده په شان نورو خلګو څخه د غټي درجي مالك دئ، او که بالفرض زیات نه وي نو برابر خو ضرور دئ، او دئ دفقهآء په دریمه درجه کي شماري، نو ځکه امامِ قُدُورِي به هم په دریمه درجه کي شمارل کیږي، نو ځکه غالب داده چي امامِ قُدُورِي هم د دریمي درجې د فقهآء څخه دئ .
ما چي د قُدُورِي د هري مسئلي تحقیق وکئ نو دا معلوم سو چي د دوئي اکثره مسئلي د آیت،حدیث،قولِ صحابي یا فتويۍ تابعي څخه مُستَنبَط دي، چي ددې څخه د دوئي عِلمي بلندي او تَفَقُّه معلومیږي .

رحلت او وفات

امامِ قُدوري ۵،رجب ۴۲۸هجري کي د بغداد په ښار کي د شپږشپیتو(۶۶)کالو په عُمر کي وفات شو، او په دغه ورځ په بغداد کي په مقام دَربِ اَبِي خَلَف کي

دَفَن(پټ)سو، ددې وروسته دئ د شارع منصور پر لوري منتقل کړئ، په دې وخت کي دئ د ابوبکرخُوَارزَمِي په څنګ کي آرام کوي، د وفات د تاريخ ماده يې ، **لاَمَعَ النُّورُ**، ده **رَحمَةُ اللهِ عَلَيهِ رَحمَةً وَّاسِعَةً** .

(تصنيفات)

ده ډېر کتابونه په خپل يادګار کي پرې ايښي دي د هغو څخه څه کتابونه دادي .

(۱) تجريد ... دا په اُوَه جلد کي دئ، په دي کې د اصحابِ حنفيه او شافعيه پر اختلافي مسئلو باندي محققانه بحث کړئ دئ، ددې املاء ده په ۴۰۵هجري کي شروع کړې وه .

(۲) مسائل الخلاف ... د امام صاحب او دده د اصحابو په منځ کي چې کوم فروعي اختلافات دي د هغو ذکر پکښې دئ، خو په دي کي د دوئي دلائل نه دي ذکر شوي

(۳) تقريب ... په دي کي د دلائلو سره مسائل ذکر کړي دي .

(۴) شرح مختصرالکرخي .

(۵) شرح ادب القاضي .

(۶) المختصر للقدوري ... د صاحب قدوري دا کتاب ډېر زيات مشهور سو او د احنافو تقريبًا په ټولو مدارسو کي درس کيږي، دا کتاب دومره اهميت پيدا کئ چې تقريبًا دېرش(۳۰)شروحات په عربي او اردو کي ددې وليکل شوې، خاص خبره داده چې صاحب د هدايه هم د شرح لپاره ددې کتاب متن منتخب کړئ، او دغه يې بنياد جوړ کئ د ټوله کتاب يې يوه عظيم الشان شرح وليکل چې په ټوله نړئ کي مقبوليّت ورته حاصل دئ، چې هسې وګورې نو د قدوري څخه ونيسي تر هدايه پوري طالب علم دغه د قُدُورِي متن پر له اَرَوِي رَا اَرَوِي، دا د قُدُورِي مقبوليت او د قدوري کمال دئ، دومره جامع او آسان کتاب ډېر کم په نظر ښکاره کيږي .

ددې يو خاص خصوصيّت دادئ چې ددې اکثره مسئلې د آيت،حديث،قَولِ صحابي يا د فتويٰ تابعي څخه مُستَنبط دي، ډېري لږ مسئلې ده قياس کړي بيا يې ليکلي دي، او هغه هم د اُصُولُ تحت مُستخرج دي .

الله تعالىٰ دي د حضرت وکتاب ته قبوليّتِ عامَه ورلره ورکړي او د اُمّت لخوا دي وده ته پوره پوره جزائ دخير ورکړي، آمين يارب العلمين !

العبد : ثميرالدين قاسمي
يکم مئ ۲۰۰۴عيسوي

بسم الله الرّحمٰن الرّحيم

علم فقه

(د فقه لغوي معنْي)

د فقه لغوي معنيٰ يو شيئ خلاصول او واضح کول، فَقِيه و هغه عالم ته وائي چې احکامِ شرعيّه واضح کړي او د هغو حقيقتونه ځان ته معلوم کړي او د مُشکِل او ګرانو مسئلو وضاحت وکي .

(اصطلاحي معنْي)

د اهلِ شرع په اصطلاح کي د فقه مشهور تعريف دادئ ،**هُوَ العِلمُ بِالاَحکَامِ الشَّرعِيَّةِ الفَرعِيَّةِ مِن اَدِلَّتِهَا التَّفصِيلِيَّةِ،**

ترجمه : فقه د احکامِ شرعيّه فرعيّه و هغه علم ته ويل کيږي چې د احکامو د تفصيلي دلائلو څخه حاصل وي .

(د هر جُزء تشريح)

اَلاَحکَامُ الشَّرعِيَّةُ الفَرعِيَّةُ : احکام پر ده قسم وي، يو اصلي او يو فرعي .

اَحکامِ اصليه : و اعتقادي احکامو ته اصلي احکام ويل کيږي، لکه د خداوندقُدُوس وحدانيّت،رسالت،د رسول راتلل،د آخرت عِلم،دا ټول احکامِ اعتقاديه دي او دې ته اصلي احکام ويل کيږي، علمِ فقه ددې احکاماتو څخه تعرض نه کوي ځکه چې هغه فرعي احکام بيان وي .

اَحکامِ فرعيه : هغه احکام چې د عمل سره تعلق لري لکه لمونځ،روژه،حج اوخرڅول رانيول او دغه رنګه نور احکامات، په علمِ فقه کي دغه احکامات بيان کيږي .

اَدِلَّتُهَا التَّفصِيلِيَّةُ : ددي عبارت مطلب دادي چې د احکاماتو تفصيلي دلائل هم معلوم شي، مثلاً وويل سي چې حج فرض دئ نو آيت هم ورمعلوم شو چې ددې دليل **وَاَتِمُّوا الحَجَّ وَالعُمرَةَ لِلّهِ** (آيت ۱۹۶سورة البقرة۲)موجود دئ، يا مسئله بيان کي چې لمونځ او زکوٰة فرض دئ نو دا دليل هم ورمعلوم وي چې آيت **اَقِيمُوا الصَّلوةَ وَ آتُوا الزَّکوةَ وَارکَعُوا مَعَ الرَّاکِعِينَ** (آيت ۴۳ سورة البقرة۲)ددې دليل موجود دئ، خلاصه دا چې د انسانانو د اعمالو پر هره هره جُزئيه باندي د حِلّت،حُرمَت،کَرَاهَت، او د وجوب يا دا رنګه بل حُکم لګول او د هغو څخه د هر يوه لپاره دليل بيان کولو ته عِلمِ فقه ويل کيږي .

(د علمِ فقه موضوع)

د مُکلف سړي فعل او عمل چې د هغه څخه دا بحث کيږي چې دا (۱) فرض دئ (۲) يا واجب دئ (۳) يا سُنّتِ مُؤکده دئ (۴) يا سُنّتِ غير مُؤکده دئ (۵) يا نفل دئ (۶) يا

مُستحب دئ (۷) يا حرام دئ (۸) يا مکروهِ تحريمي دئ (۹) يا مکروهِ تنزيهي دئ (۱۰) يا مُباح دئ .
د مُکلّف سړي د اعمالو په باب دغه لوړ بحثونه کول او حکم لګول د عِلمِ فقه موضوع ده .
د مُکلف قيد يې ځکه ولګاوئ چي د نابالغ کِشنِي او لېوني پر اعمالو باندي نه شريعت حُکم لګوي او د هغو څخه بحث کوي، صرف د مُکلف د اعمالو څخه بحث کوي .

(غرض وغايت)

د دواړو جهانو سعادت او کاميابي موندل دئ چي فقيه په دنيا کي د خدائ ومخلوق ته فائده ور ورسوي لويه مرتبه حاصل کړي او په آخرت کي چي د کوم چا شفاعت و غواړي دهغه شفاعت به او
د خپل پروردګار په دِيدَار به مُشرّف سي .
يا چي علمِ فقه ازده کړي د احکامِ شرعيّه موافق عمل کولو قُوّت او مَلَکَه پيدا کول ددې غرض دئ .

(د علمِ فقه عظمت)

ددې څخه زيات عظمت به نو څه وي چي حضورِپاك صلي الله عليه وسلم په دِې لوړولفظو سره د فقيه تعريف کړئ دئ، **عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن يُّرِدِاللهُ بِهِ خَيرًا يُّفَقِّهُ فِي الدِّينِ** (ترمذي شريف،باب اذا اراد اللهُ بعبدٍ خيرًا فَقَّهَهُ في الدين ص۶۰۱نمبر۲۶۴۵\مُسندِاحمد،مُسندِابي هريرة ج۲ص۴۶۵ نمبر۷۱۵۳) ددې حديث څخه معلوم شو چي خُدَاوَندِقُدُوس د کوم بنده په باب د خير فيصله وکړي وهغه ته د فِقه فِي الدين علم ورکوي .
په يو بل حديث کي دئ **عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقِيهٌ اَشَدُّ عَلَيٰ الشَّيطانِ مِن اَلفِ عَابِدٍ** (ترمذي شريف،باب ماجآءفي فضل الفقه علي العبادة ص۶۰۸نمبر۲۶۸۱)ددې حديث څخه معلوم سو چي فقيه پر زَر عابدانو باندي دروند دئ .
نو ځکه فقه ازده کول او پر هغه باندي عمل کول دِېر د فضيلت شيئ دئ .

YO
M>

بسم الله الرّحمٰن الرّحيم

(حنفيّت د درو امامانو د مجموعې نوم دئ)

زوما استاذِمُحترم به ويل چې حنفيّت صرف د امام ابوحنيفه د مسلك نوم نه دئ بلكه د امام ابوحنيفه امام ابويوسف او امام مُحمد رحمهم الله تعالىٰ د مسلكو د مجموعې نوم حنفيت دئ، كه ددې څخه هسې پر يوه باندې عمل وكې نو هغه پر مسلكِ حنفيّت باندې عمل ګڼل كيږي، او كه امامِ مُحمد يا امام ابويوسف پر مسلك باندې فتويٰ وركړه نو هغه د مسلكِ حنفيّت څخه خارج نه ګڼل كيږي، دغه وجه ده چې قُدُوري او هدايه رنګه د احنافو اهم كتابو كې ددې دواړو امامانو مسلك درج دئ، او د ضرورت په وخت كې ددې مطابق هم فتويٰ وركول كيږي .

(دحضرت امام ابوحنيفه مسلك پر احتياط بنآء دئ)

حضرت امام ابوحنيفه ډېر مُتّقي او پر هېز ګار سړئ و، نو ځكه ده همېشه پر احتياط باندې فتوْي وركړې ده او هغه لاره مُختَاره كړې ده، دومه خبره داده چې تر هغه وخت پورې د فقه تَدوِين نه و شوئ، حضرت امام ابوحنيفه لومړنَئ امام دئ چې فقه او اُصُولِ فقه يې مُدَوّن كړي دي، نو ځكه كه د احتياط څخه علاوه بَل اړخ اختيار كړئ واى نو هر سړي به ګُوَت خَنډَنَه كولائي، نو ځكه حضرت احتياطي مسلك اختيار كئ، كه څه هم د هغه لپاره فتويٰ تابعي وي، لېكن دده ظَفَرموندونكي شاګردانو امام ابويوسف او امام محمد په بعضو ځايو كې د حديث په رونا كې بَل مسلك اختيار كړئ دئ، او په خلاص زړه سره مسلك د دلائلو سر ه درج كړئ دئ، نو اُوس و ناظرينو ته اختيار دئ چې دامام اعظم مسلك اختيار وي يا دده د ظَفَرمُوندُونكِي شاګرد مسلك اختيار وي، په دواړو صورتو كې فضيلت دده ګڼل كيږي .

په آخري صدئ كې د امام اعظم د مسلك د ځلېدو څراغ د ديوبندي فكر د عُلمآء پر سرو پروته دئ، دوئي هم د احتياط اړخ مختار كړئ دئ او په عام توګه د امام اعظم

په شان پر احتياط باندي فتويٰ ورکړي ده، نو ځکه بعض ناظرين ته دا اشکال پيښ سو او وويل چې د حنفيانو مسلك د احاديثو څخه مُختلف دئ، لېکن شايد غور يې نه دئ کړئ چې په کومو مسئلو کې و دوئي ته احاديث نه سي پيدا هلته د حنفيانو د دو مهمو امامانو مسلك د امام اعظم څخه مُختلف دئ، او د دوئي اختيار کړي مسلك لپاره سَل په سَل کي صحيح احاديث موجود دي، دا بِيلَه خبره ده چې په دارنګه ځايوکي د صاحبينو مسلك د امام شافعي او امام مالك سره موافق سي .

په دې کتاب , الشرح الثميري ، کي به ځائ پر ځائ وويئ چې په کومو کومو ځايو کي صاحبينو د امام صاحب څخه اختلاف کړئ دئ هلته د امامِ اعظم سره قولِ صحابي يا فتوْي تابعي موجود ده او د صاحبينو سره احاديث دي، لېکن د امام اعظم مسلك پر احتياط باندي بنآء دئ .

(۱) زوما ناقص خيال دادئ چې اشکال کونکو صرف د امام اعظم پر مسلك باندي غور کړئ دئ او په بعضو ځايو کي د حديث د نه موندلو په وجه پر ټوله حنفيّت باندې اشکال مظبوط کړئ، هغو دده ظَفَرمُوندُونکِي شاګردانو امام ابويوسف او امام مُحمد اختلاف او د دوئي و مظبوط احاديثو ته نه دي کتلي، او ددې خيال يې نه دئ کړئ چې دا دوه خو هم د حَنَفِيّت دوه مظبوط بُرُجَان(ستون) دي، او د ټولو مسائلو اشاعت د دوئي د قلم د نوك په احسان سره شوې دئ .

(۲) د دئي ددې خيال هم نه دئ کړئ چې د امامِ اعظم مسلك پر احتياط باندي مبني دئ، او دئ خو د فقه اوّل مُدَوِن دئ چې دهغه په وجه د احتياطي اړخ خپل کړئ دئ .

(۳) دا ګُمان صحيح نه دئ چې د حنفيانو مسلك بنياد پر دليلِ عقلي دئ، دا خو وروسته عُلمآء د حکمت د بيانولو لپاره دليلِ عقلي پيش کړئ دئ، که نه خو ټوله قُدُورِي ما وکتله هره هره مسئله يا د آيت يا حديث يا د قولِ صحابي يا قولِ تابعي څخه مُستنبط ده، يا ددې څلورو کې د يوه څخه اُصُول مُتعيّن کړئ دئ او د اُصُول څخه د مسئلې استخراج کړئ دئ، صرف پر دليلِ عقلي د مسئلې مدار نه دئ، او چيري چيري چې صرف دليلِ عقلي بيان سوئ دئ هلته ما اُصُول ليکلئ دئ، او اُصُول د احاديثو څخه مُستنبط دي نو ګواکه هغه مسئلې هم د احاديثو څخه مُستنبط شُوې .

صرف په کِتَابُ الإيمَان او کِتَابُ القَضَآء کي د څو مسئلو دارو مدار ددې وخت پر مُحاوراتُ باندي دئ، نو ځکه هلته د مُحاوراتو تحت مي مسئله ليکلې ده، په دې مسئلو کي حديث او قرآن نسته، نو ښکاره خبره ده چې ددې مسئلو مدار ګرسره پر مُحاوراتُ باندي دئ، نو ځکه ددې مسئلو لپاره به حديث يا د قُرآن آيت د کوم ځائ څخه پيدا کيږي ؟

د حنفيانو بلكه دټولو امامانوعظامو مسلكونه د (۱) قُرآن (۲) حديث (۳) قَولِ صحابِي (۴) فتويٰ تابعي (۵) اجماع (۶) او قياس څخه مُستنبط دي، نو ځكه و امامانو ته كُوَت څنډنَه كول بنَه كار نه دئ .

احقرالعباد : ثميرالدين قاسمي

امامانِ عظام ته يوه كتنه

شاګردان	تاليفات	نوموني خدمتونه	د وِلاَدَت مقام	د وَفَات سَنَه	د وَفَات مقام	شيوخ سَنَه
ـــــ حمادبن سليمان ابن مُبارك	امام ابوحنيفه نعمان بن تدوين فقه امام محمد تدوين اصول فقه	كوفه	۸۰ هجري	بغداد ۱۵۰هجري	ابراهيم نخعي ثابت بن	امام ابويوسف
مؤطاامام مالك قَطّان	امام مالك باني مذهب مالكي امام مالك	حُميري	۹۵ هجري مدينه	۱۷۹هجري مدينه	نافع	ابن مُبارك سوه شيوخ
موسوعة محمد سُفيان بن عُيينه	امام شافعي باني مذهب شافعي محمد بن ادريس شافعي علي بن مديني اسحاق بن راهويه	غزة كلئ عسقلان كتاب الأُمّ	۱۵۰هجري مصر	۲۰۴هجري امام مالك		احمدبن حنبل امام شافعي

امام احمد مروزي ١٦٤هجري بغداد ٢٤١هجري امام ابويوسف بخاري مُسلم مُسنداحمد
ردّخلق قُرآن
احمدبن محمد بغداد امام شافعي
ابوداؤد ٢٧١٠٠ باني مذهب
بن حنبل
يحيىٰ بن قطّان عبدالله بن احمدحديثونه حنبلي
امام ابويوسف كوفه ١١٣ هجري بغداد ١٨٢هجري امام ابوحنيفه احمدبن حنبل كتاب
فقه ئې
يعقوب بن
امام محمد الخراج مرتب کړه
ابراهيم
يحيىٰ بن معينكتاب الآثار

امام محمد الشّيبان ١٣٢هجري رَئ ١٨٩هجري امام ابوحنيفه امام شافعي
موطا داحنافو
مُحمدبن كوفه امام
ابويوسف ابوحفص جامع صغير اكثره كتابونه
حسن
سُفيان ثوري يحيىٰ بن معين جامع كبير ده ليكلئ دئ

γγγ

بِسمِ اللهِ الرّحمٰنِ الرّحِيمِ

شروع كوم د الله په نوم سره چي ډېر مهربان او زيات رحم كونكئ دئ
د بِسمِ اللهِ الرّحمٰنِ الرّحِيم تر ټولو مخكي ليكلو وجه داده (١) حضور ته چي اوّلي وحي راغلي نو په هغه كي د الله په نوم سره د ويلو حكم سوئ ؤ اِقرَا بِاسم ربك الذي خلق (آيت١سورة العلق٩٦) (٢) حضرت سليمان و بلقيس ته خط وليكئ نو د بِسمِ اللهِ الرّحمٰنِ الرّحِيم څخه شروع کړئ ، اِنّهُ مِن سُلَيمَانَ وَاِنّهُ بِسمِ اللهِ الرّحمٰنِ الرّحِيم (آيت ٣٠سورة النمل ٢٧) (٣) قرآنِ كريم د بِسمِ الله څخه شروع دئ (۴) دحضور ټول خطونه او خُطبات د بِسمِ الله څخه شروع دي، نو ځكه مصنف خپل كتاب د بسم الله څخه شروع كئ (٥) په حديث كي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كُلّ كَلاَمٍ لاَيَبدَأُ فِيهِ بِحَمدِ اللهِ فَهُوَ اَجذَمُ (ابوداؤدشريف،باب الهدي في الكلام ج٢ص٣١٧نمبر۴٨۴٠\ابن ماجه شريف،باب خطبة النكاح ص٢٧٢نمبر١٨٩۴)هر هغه كلام چي د حمد څخه نه شي شروع هغه ناقص وي، او بِسمِ الله هم د حمدبرخه ده نو ځكه د بِسمِ الله ثبوت وشو .
پام لرنه : د يو كار څخه مخكي بايد ذكر سي، لېكن ضروري نه ده چي د بِسمِ الله په ذريعه وي، د تسبيح او تقديس په ذريعه هم ذكر كېدائي سي، لېكن بهتره طريقه داده

چې د بِسمِ الله په ذريعه وي، ځکه چې په قُرآنِ مجيد کې د بِسمِ الله په ذريعه د قُرآنِ پاک ابتدآء سوې ده . په
بِسمِ الله : کې حرف ،ب، جَر دئ ددې ډيرې معنيٰ ګڼل ديو دلته ددې معنيٰ د اِلصَاق لپاره ده، يعني د يو فعل سره مُوښلول، ددې معنيٰ د استقامت لپاره ده يعني د الله د نوم په مرسته سره شروع کوم، ،ب، حرفِ جَر ده ددې د مُتعلق لپاره به يو فعل محذوف منل ضروري وي، چې حَرفِ جر ددې مُتعلق سې، ښَه داده چې اَبتَدِاُ محذوف ومنل سې چې معنيٰ ئې داسې چې زه دالله په نوم سره شروع کوم، ،ب، خو د متعلق سره سوه او لفظِ،اسم،خو دلفظ الله تابع دئ نو ګواکه لفظ الله تر ټولو مخکې شو، چې اصل مقصود هم دغه و .

[١] اَلحَمدُ لِلّهِ رَبِّ العْلَمِينَ .

اَلله : د الله نه نيوي(٩٩)صفاتي نومونه دي، او دا ئې ذاتي نوم دئ، اَلله د اَلإِلْهُ څخه مُشتق دئ، د اِلْهٌ معنيٰ ده معبود او د الف لام د لګولو وروسته په معنيٰ سې خاص معبود يعني الله، نور معبودان خو سته هم نه، لېکن مشرکانو په خپل اعتقاد کې جوړ کړي دي ددې څخه جلا کړئ دخاص معبود نوم الله سو .
اَلرّحمْنُ : د فَعلاَنٌ پر وزن دئ، د رحمت څخه مُشتق دئ او د رحمت معنيٰ ده رِقَتِ قلب(دزړه نرم والئ)، په الله کې د زړه نرم والي محال دئ، ځکه چې هغه ذات خو د زړه او قلب څخه پاک دئ، نو ځکه چې و الله ته د رحمت نسبت شي د هغه معنيٰ وي فضل او کرم کول، احسان کول، رحمْنٌ د مُبالغې صيغه ده، معنيٰ ئې ده هغه ذات چې د هغه رحمت د هر شي احاطه کړې وي، انتهائي مهربان .
رَحِيمٌ : د فَعِيل پر وزن باندې، دا لفظ هم د رحمت څخه مُشتق دئ او د مُبالغې صيغه ده، خو د رَحمْنٌ په تناسُب په دي کې مُبالغه لږ ده،ځکه چې په رَحمْنٌ کې حروف زيات دي،په دي کې پنځه حروف دي او په رَحِيمٌ کې څلور حروف دي،نوځکه په رَحمْنٌ کې مبالغه زيات سوه،د حضور په دعآء کې راغلي دي **يَارَحمنَ الدّنيَا وَرَحِيمَ الآخِرَةِ**، ددې څخه دا معلوميږي چې پر دُنيا والو باندې د خدائ رحمت زيات دئ نسبت تر عُقبيٰ والو، ځکه چې په دُنيا کې پر مُؤمن او کافر دواړو باندې مهرباني شروع ده، او په آخرت کې به صرف پر مُؤمنانو باندې مهربان وي .
نکته : د رَحمْن د مخکې کولو حکمت شايد دا وي چې ددې تعلق د دُنياوالو سره دئ او دُنيا مُقدم ده،نو په دغه وجه په بِسمِ الرّحمْن الرّحِيم کې رَحمْن مُقدم کړئ .
[١] ټول تعريفونه د الله لپاره دي چې د ټول جهان پالونکئ دئ،
د اَلحَمدُلِلّه د مخکې کولو وجه : په قُرآن کريم کې اَلحَمدُ بالکل په شروع کې ده، په حديث کې دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ كُلُّ اَمرٍ ذِي بَالٍ لاَيُبدَ اُ فِيهِ بِالحَمدِ

اَقطَعُ (ابن ماجه شريف،باب خطبة النكاح ص۲۷۲نمبر۱۸۹۴) ترجمه : کوم اهم کار چې د اَلحَمدُ په ذریعه نه سي شروع هغه ناقص وي، ددې حدیث څخه معلوم سو چې کتاب باید په اَلحَمدُ لِلّه سره شروع شي .

اَلحَمدُ : د ممدوح اختیاري خوبیانِ په ژبه سره بیان کولو ته حَمد وائي، که د نعمت په مُقابله کي وي که نه وي،د الله لخوا هر وخت د نعمتونه بارانونه کیږي نو ځکه مورِ چې هر وخت حَمد ووایو هغه به د نعمت په مُقابله کي وي په اَلحمدُ کي ،اَل،یعني الف لام د استغراق لپاره دئ، استغراق مطلب دئ چې په دُنیا کي هر څومره تعریفونه کېدلائي سي هغه ټول د الله لپاره دي، د جمهورو دغه رایه ده،الف لام کله د جنس لپاره وي دهغه معنيٰ د حَمد ماهیت او حقیقت د الله سره خاص دئ، کله الف لام د عهد او معلوم شي ته د اشاره کولو لپاره وي یعني مُتعین تعریفونه چې په قُرآن او حدیث کي ذکر شوي دي هغه د الله لپاره دي .

رَبِّ العْلَمِینَ : د رَبٌّ معنيٰ په سوکه سوکه سره د یو شي پَالَنَه کول، الله و ټول جهان ته تدریجًا غذآء ورکوي او دهغه پالنه کوي نو ځکه و هغه ته رَب وائي، لفظِ رَب چې تنها ذکر سي نو صرف د الله لپاره استعمالیږي، او چې د اضافت سره ذکر سي نو د نورو لپاره هم استعمالېدلائي سي، لکه څه رنګه چې د قُرآنِ کریم په آیت کي دئ اُذکُرنِي عِندَرَبِّكَ فَاَنسَاهُ الشَّیطَانُ ذِکرَ رَبِّهِ (آیت ۴۲سورة یوسف۱۲)دلته رَبٌّ لفظ د اضافت سره استعمال سوئ دئ او د قیدیان(اسیرانو)باچا ځني مُرادئ .

اَلعْلَمِینَ : عَالَمِینَ د جمع صیغه ده، واحدئي عَالَمٌ دئ، دا د علامت څخه مُشتق دئ، د دُنیا ټول شیان خو پر جوړونکي باندي علامت دي نو ځکه و دې دُنیا ته عَالَم وائي،دا د اسمِ فاعل پر وَزَن باندي د اِسمِ آله صیغه ده، لکه خَاتَم او طَابع، د مُهر لګولو آله .

[۲] وَالعَاقِبَةُ لِلمُتَقِینَ [۳] وَالصّلوةُ وَالسّلامُ عَلیٰ رَسُولِهِ مُحَمّدٍ وَآلِهِ وَاَصحَابِهِ اَجمَعِینَ .

[۲] وَالعَاقِبَةُ لِلمُتَّقِینَ:ترجمه:دتقويٰ اختیارکونکولپاره ښَه انجام دئ،اَلتّقوٰي : د وِقَایَةٌ څخه مُشتق دئ، خپل ځان ساتل،پرګُناه اصرار ونه کي،پرعبادت غرور ونه کي دې ته تقويٰ وائي،بعض فرمائي دحضور او اصحابانو د پوره پوره اتباع کولونوم تقويٰ ده،ددغه تقويٰ اسم فاعل مُتّقِيٌ دئ، او ددغه جمع مُتّقِین راځي،دعبارت مطلب دادئ چې کوم مُتَّقِیَان خلګ دي آخرکاربه هغه په دُنیااوآخرت کي کامیاب وي .

[۳] وَالصّلوةُ وَالسّلامُ الخ درود او سلام دي وي د الله پر رسول محمد باندي او دده پر آل باندي او دده پر ټولو اصحابانو باندي .
تشريح : اَلصّلوةُ : د صَلْوةٌ معنيٰ ده دُعآء، لېكن چې ددې نسبت د الله ته وي نو ددې معنيٰ ده رحمت كول، او د فرشتو و طرف ته وي نو د صَلْوةٌ معنيٰ ده استغفار كول، او چې د انسان و طرف ته نسبت وي نو ددې معنيٰ ده دُعآء كول .
سلامٌ : هر قسم سلامتي، د صلوة او سلام ثبوت په دې آيت كي دئ اِنّ اللهَ وَمَلاَئِكَتَهُ يُصَلّونَ عَلَيٰ النّبِيّ يَاايّهَا الّذِينَ آمَنُوا صَلّوا عَلَيهِ وَسَلّمُوا تَسلِيمًا (آيت۵۶سورةالاحزاب۳۳)
ترجمه : الله او فرشتې پر حضور باندي درود استوي نو ځكه مُؤمنانو تاسو هم پر ده باندي درود او سلام واستوئ، په آيت كي د صلوة او سلام دواړو حكم سوئ دئ، بلكه د فضيلت خبره خو داده چې الله تعالٰي په خپله هم دا كار كوي، بياخو ددې په فضيلت كي څه شك ؟ علمآء فرمائي چې وحضرت آدم ته په فرشتو باندي سجده وكړه ددې څخه زيات فضيلت په درود وسلام كي دئ، ځكه چې درود وسلام خو په خپله الله تعالٰي هم پر نبي باندي استوي، ع
بعد ازخدا بزرگ توئي قصّه مُختصر . په حديث كي دئ اَخبَرَنِي اَبُوحَمِيد السّاعِدِيّ

[۴] قَالَ الشّيخُ الاِمَامُ الاَجَلّ الزّاهِدُ اَبُوالحَسَنِ اَحمَدُ بِنِ مُحَمّدُ بِنِ جَعفَرُ البَغدَادِيّ اَلمَعرُوفُ بِالقُدُورِيّ رَحمَةُ اللهِ عَلَيهِ .

اَنّهُم قَالُوا يَارَسُولَ ! كَيفَ نُصَلّي عَلَيكَ ؟ قَالَ قُولُوا اَللّهُمّ صَلّ عَلٰي مُحَمّدٍ وَعَلٰي اَزوَاجِهِ وَذُرّ يّاتِهِ الخ (مُسلم شريف،باب الصلوة علي النبي ص۱۷۵نمبر۱۴۰۷ابوداؤدشريف،باب الصلوة علي النبي ص۱۴۷نمبر۹۷۹)
رَسُولِهِ : پر كوم نبي چې نوئ شريعت راغلئ وي،كتاب راغلئ وي وهغه ته رسول وائي، او نبي وهغه ته وائي چې نوئ شريعت نه وي پر راغلئ، نو ځكه رسول تر نبي افضل وي، ځكه مصنف عليه الرحمة د رَسُولُهُ جمله استعمال كړه چې ادب او احترام زيات وي .
مُحَمّدٍ: دحَمدڅخه جوړدئ،تعريف كړل شوئ،يعني چې فضائلِ مَحمُودَه پكي جمع وي،**اَلّذِي جُمِعَت فِيهِ الخِصَالُ المَحمُودَةِ** د حضورصفاتي نومونه هم ډيردي، لېكن محمداواحمدئې ترټولوزيات مشهوردي، دا نوم دحضور نِيكَه پرايښئ وُ په حضوركي ټول بنَه عادتونه جمع دي نوځكه حضور اِسم با مُسَمّٰي دئ .
آلِهِ : دا د اهل څخه مُشتق دئ، ددې مصداق څوك څوك دي ؟ په دي كي اختلاف دئ، يوه معنْي دده اهل وعيال او اولاد،دومه معنْي دده په خاندان كي پر كومو خلګو چې صدقه(زكوٰة)حرام و هغه خلګ دده په آل كي داخل دي،لكه آلِ علي آلِ جعفر او دغه رنګه نور .

اَصحَاب : د صَاحِبٌ جمع ده،دده ملګري،کومو خلګو چي د ايمان په حالت کي دئ وليدئ او پر ايمان باندي د دوئي خاتمه وسوه هغه ټول دده اصحابان دي، پر دغو ټولو دي درود وسلام وي .
[۴] د وخت شيخ، دقوم پيشوا،جليل القدر نيك شعار ابوالحسن بن احمدبن محمد بن جعفر بغدادي چي په قُدُوري سره مشهور دئ هغه فرمائي .
تشريح : اَلشّيخُ : سپين ږيرئ،دتعظيم وړ سړئ،د پنځوس کال څخه د زيات عُمرسړي ته شيخ وائي، او کله نا کله د علم په لحاظ د تعظيم وړ سړي ته هم شيخ وائي،چي شيخين وويل سي نو د اهلِ سيرت په نېز حضرت ابوبکر او عمر ځني مُراد وي،د مُحدثينو په نېز امام بخاري او امام مُسلم ځني مُراد وي،او د احنافو فقهآء په نېز امام ابوحنيفه او امام ابويوسف ځني مُراد وي .
اَلإِمَامُ : د کوم چاچي اقتدآء وسي و هغه ته امام وائي، اَمّ يَؤُمّ اِمَامَةً د باب نَصَرَ څخه امام جوړېدل،د لفظِ هِجَانٌ په ركم په امام لفظ کي هم مذکر مؤنث مفرد او جمع سره برابر دي .
اَلاَجَلُّ : جليل القدر،بزرګ، اَلزّاهِدُ :نيك،پرهېزګاره .
پام لرنه : د قَالَ الشّيخُ څخه تر اخير پوري عبارت دده د يو شاګرد دئ،که نه نو مصنف به د تواضع په وجه صرف خپل نوم ليکلئ وائي .
اَلقُدُورِيُ : د قِدرٌ معنْي دېګ،صاحب د قدوري يا خوددېګوکاروبار کاوئ يا دده د کلي نوم دئ چي د هغه وطرف ته مُصنِّف منسوب کړئ دئ .
پام لرنه : تفصيل ئې د مُصنِّف په حالاتو کي وګورئ .

K

﴿... كِتَابُ الطّهَارَةِ ...﴾

﴿... كِتَابُ الطّهَارَةِ ...﴾

ضروري پام لرنه : **كِتَابُ الطَّهَارَة** مُركبِ اضافي ناقص دئ، نو ځكه ددې څخه مخكي به مُبتدآء يا به ددې په آخر كي خبر محذوف منل كيږي، مثلاً **هٰذَاكِتَابُ الطَّهَارَةِ** يا **كِتَابُ الطَّهَارَةِ هٰذَا**، يا **كِتَابُ الطَّهَارَة** د لفظِ اِقرَأ مفعول وګرزوې او عبارت دا رنګه سي **اِقرَأ كِتَابَ الطَّهَارَةِ**،

د طهارت ثبوت : په آيت كي د طهارت ثبوت سته يَا اَيُهَا الّذِينَ آمَنُوا اِذَا قُمتُم اِلَي الصَّلوةِ فَاغسِلُوا وُجُوهَكُم وَ اَيدِيَكُم اِلَي المَرَافِقِ وَامسَحُوا بِرُءُوسِكُم وَ اَرجُلَكُم اِلَي الكَعبَينِ وَاِن كُنتُم جُنُبًا فَاطّهّرُوا (آيت١٠٦ سورة المآئدة٥) په حديث كي دئ اَلطّهُورُ شَطرُ الإيمَانِ، دا حديث هم دئ مِفتَاحُ الصَّلوةِ اَلطّهُورُ (ترمذي شريف،باب ماجآء مفتاح الصلوة الطُّهُورص٦نمبر٣)

د طهارت د مُقَدّم كولو

وجه : (١) په عباداتو كي تر ټولو مُهِم لمونځ دئ، د ايمان وروسته تر ټولو زيات اهميّت ئې ولمانځه ته وركړئ دئ، د الله ارشاد دئ اَلّذِينَ يُؤمِنُونَ بِالغَيبِ وَيُقِيمُونَ الصّلْوةَ (آيت ٣سورة البقرة٢) په حديث كي دئ اَلصّلوةُ عِمَادُ الدّينِ مَن اَقَامَهَا فَقَد اَقَامَ الدّينَ . په دغه وجه ټولو مُصنّفينو د لمانځه اَبوَاب مخكي كړي دي، او د لمانځه شرط طهارت دئ، د طهارت بغيره لمونځ نه ادآء كيږي نو ځكه كِتَابُ الطَّهَارَة ئې مخكي كئ (٢) حج په ټول عُمر كي يو وار فرض دئ، زكْوة په كال كي يو وار فرض دئ، روژه په كال كي يوه مياشته فرض ده، ليكن لمونځ په ورځ كي پنځه وار فرض دئ، نو ځكه ددې ضرورت په ډېرښت سره پيښيږي، او د لمانځه لپاره د طهارت ضرورت سته نو ګواكه د طهارت ضرورت هم په يوه ورځ كي پنځه واره پيښيږي، نو ځكه د ضرورت د ډېرښت لكبله هم طهارت مخكي ذكر كړئ .

لغوي تحقيق : كِتَابُ د فِعَال پر وزن باندي د مفعول په معنْي دئ، لكه لِبَاس چي د مَلبُوس په معنْي وي، دغه رنګه كِتَاب هم د مَكتُوبٌ په معنْي كي استعمال شوئ دئ، ددې معنيٰ ده جمع كړل سوئ، د كَتَبَ معنيٰ ده جمع كول، په كِتَاب كي ډيري مسائلي جمع شوي وي نو ځكه ودې ته كِتَاب وائي .

پام لرنه : د فقه په كتابو كي درې لفظونه ذكر كيږي (١) كتاب (٢) باب (٣) فصل ،په كتاب كي د مختلفو انواعو او اقسامو مسائل ذكر كيږي، او بعض وختو كي په دي كي ډېر بابونه شامل وي، ګوا كه دا يو عام لفظ دئ، په باب كي يو رنګه(قسم) مسائل ذكر كيږي،په فصل كي يو نوع مسائل ذكر كيږي .

طَهارَةٌ : د طُهر مصدر دئ ددې معنْي ده طهارت او پاكي، ددې اُلتا(برعكس) دَنَسٌ دئ، په شريعت كي د مخصوص اندامو ومينځلوته طَهَارَة وائي، ددې اُلتا(عكس) حَدَثٌ دئ، بعض عُلمآء فرمائي چي د رَفعِ حَدَث يا يا د اِزَالَهٔ نَجِس نوم طَهَارَة دئ .

پام لرنه : پاك كولو ته طَهَارَة بفتحِ ,,طَ,, دپاك كولو وروسته چي كومي اُوبَه پاته سي و هغه ته طُهَارَة د ,,طُ,, په ضَمّه سره، او د پاك كولو چي كومه آله لكه بَدنَئ،كُوزَه ده وهغه ته طِهَارَة د ,,طِ,, په زېر سره ويل كيږي، چي پاكِ اُوبَه نه وي نو خاؤري د څه شرطو سره د اُوبُو قائم مقام كېدلائي سي .

پام لرنه : د طهارة اقسام : (١) د عقائدو طهارة، لكه دالله يا رسول يا دقيامت په اړه هغه عقيده ساتل چي د قرآن او حديث سره سمون خوري (٢) د مال طهارت لكه د مال زكوٰة وركول (٣) د بدن طهارت لكه اَودَس كول،غُسل كول (۴) د كپړو(جامو)طهارت لكه كپړې پاكِ ساتل .

[١] قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰي يَا اَيُهَا الّذِينَ آمَنُوا اِذَا قُمتُم اِليٰ الصّلوٰةِ فَاغسِلُوا وُجُوهَكُم وَ اَيدِيَكُم اِلَي المَرَافِقِ وَ اَمسَحُوا بِرُءُوسِكُم وَ اَرجُلَكُم اِلَي الكَعبَينِ .

[١] د الله تعالٰي ارشاد دئ، ائ مُؤمنانو چي تاسو د لمانځه لپاره وَلاړسئ نو خپل مخان مينځئ او لاسونه د ږيريو سره او پر خپل سَر مسح وكئ، او خپلي پښې د بِجلَكُو سره مينځئ .

وجه : په اوّل كي د آيت د ليكلو وجه (١) د بركت لپاره (٢) په اَودَس كي څومره اندامونه پرې مينځل كيږي د هغو تذكره ده، نو گواكه آيت د اَودَس د اندامو د مينځلو دليل شو، په آيت كي د درو اندامو د مينځلو او د يوه اندام د مسح كولو تذكره ده (١) مَخ به مينځي (٢) دواړه لاسونه به د ږيريو سره مينځي (٣) پښې به د بِجلَكُو سره مينځي (۴) او پر سَر به مسح كوي، د هر اندام مقدار او د هغه دلائل مخته راروان دي .

لغت : اِذَا قُمتُم اِلِيٰ الصّلوٰةِ چي تاسودلمانځه لپاره وَلاړشئ نو اندامونه پري مينځئ، ولمانځه ته د ولاړېدو پرمَحَال اَودَس نه كوي بلكه د هغه څخه لږځه وخت مخكي اَودَس كوي،نو ځكه د آيت څخه مخكي به يو قَيد زياتول ضروري وي يعني اِذَا اَرَتّمُ القِيَامَ اِلِيٰ الصَّلوٰةِ چي تاسو و لمانځه ته د ولاړېدو اراده وكئ نو اَودَس وكئ، دومه خبره داده چي كه د لمونځ كولو څخه مخكي اَودَس وجود ولري نو هم د اَودَس كولو ضرورت نسته، نو ځكه يو قيد به بل هم زياتيږي اِذَا قُمتُم اِلِيٰ الصَّلوٰةِ وَاَنتُم مُحدِثُونَ يعني تاسو و لمانځه ته ولاړ شئ په داسي حال كي چي تئ مُحدِث ياست نو اَودَس وكئ، او

چې مُحدِث نه یاست نو د اَودَس کولو ضرورت نشته، خو بیا هم د طهارت باوجود اَودَس کول مُستَحَب دئ .
فَاغسِلُوا : غَسل د ,,غَ,, د فتحې سره پر یوشي باندي اُوبَه تویول.خِیرِي لیري کول، او یو شیئ مینځل، او غُسل د ,,غُ,, په ضمه(پېښ)سره معنْي غُسل کول، پوره بدن مینځل .
وُجُوهٌ : د وَجهٌ جمع ده،مَخ، دسَر د بېښتانو د شین کېدو د ځائ څخه ونیسي د زَنِ تر لاندي حِصې پوري او په وُرِدوَل کي د غُوَږُو تر دواړو نُرمَئ پوري ته مَخ ویل کیږي، وَجهٌ : د مُوَاجَهَة څخه مُشتق دئ، او یو سړئ چې د یو چا مخته راشي نو د دده د مخ دومره حصه د سړي و سترګو ته مخامخ کیږي نو ځکه و دې حصې ته وَجهٌ وائي .
مَرَافِقٌ : د مِرفَقَةٌ جمع ده،ږیرئ،
اِمسَحُوا : د مَسحٌ څخه مُشتق دئ مُوښَل، نود(نُنَد)لاس پر یو اندام باندي مُوښَل، وَاَرجُلِکُم : د رِجلٌ څخه مُشتق دئ پښَه، اَرجُلَکُم باندي که فتحه(زبر)وي نو دا پر وُجُوهَکُم باندي عطف دئ،او مطلب به داوي چې مخ پري مینځئ او پښې هم پري مینځئ، حضرت نافع،ابن عامر،کسائي،یعقوب او د امام حفص قرائت دغه دئ، او د قُرآنِ کریم په عامو نسخو کي د لام د فتحې(زبر)قرائت دئ،دجمهور مسلك هم دغه دئ چې پښې د بِجلَکُو سره پرې مینځل ضروري دي که نه نو اَودَس نه صحیح کیږي،ددوئي دلائل دا دي (١) قُرآن وَاَرجُلَکُم اِلَي الکَعبَینِ ویلي دي که مسح کول فرض وائ نو د اِلَي الکَعبَین ویلو ضرورت نه و چې تر بِجلَکُو پورې پرې مینځئ، بلکه د رُءُوسَکُم په رکم به مُطلق ذکر کړئ وائ،د کَعبَین قید لګول ودې ته اشاره ده چې تر بِجلَکُو پوري مینځل ضروري دئ (٢) د حضرت ابي وقاص څخه روایت دئ چې اِنّي سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ صَلَي اللهُ عَلَیهِ وَسَلَمَ اِنّهُ یَقُولُ وَیلٌ لِلاَعقَابِ مِنَ النّارِ (الف) (مُسلم شریف،باب وجوب غسل الرجلین بکمالهماص١٢٤نمبر١٢٤٠\بخاري شریف، باب غسل الاعقاب ص٢٨نمبر١٦٥) چې پُوندَه په اُوبُو نَودَه نه سي نو هغه به وُور مَسح کوي، نو که چیري پر پښو مَسح وکړي نو بیا خو به پر پُوندَه باندي اُوبَه نه مُوښَلِي

حاشیه : (الف) حضور (ﷺ) به فرمائل د پُوندِي لپاره په وُور سره هلاکت دئ .

[٢] فَفَرضُ الطّهَارَةِ غَسلُ الاَعضَآءِ الثّلْثَةِ وَمَسحُ الرّأسِ .

چې د هغه لکبله به دا د دوږخ د وُور قابل او مُستحق سي، نو ځکه پر پښو باندي مسح کول کفایت نه کوي (٣) په خپله د حضرت علي څخه روایت دئ چې ده اَودَس وکئ او پښې ئې پري مینځلې قَالَ اَتَانَا عَلِيّ وَقَد صَلّي ثُمّ غَسَلَ رِجلَهُ اليُمنْي ثَلاَ ثًا وَرِجلَهُ اليُسرْي ثَلاَ ثًا (الف) (ابوداؤدشریف،باب صفة وضوء النبي (ﷺ) ص١٥ نمبر١١١\١١٤) د

اَرجُلِكُم : دُوَم قرائت د لام په کسره(زېر)سره هم راغلئ دئ، دا قرائت عام او مشهور نه دئ، په دې صورت کي به د اَرجُلِكُم عطف پر بِرُءُوسِكُم باندي وي، او مطلب به داوي چې پرپښو هم د سَر په رکم مسح کوئ، امام شافعي فرمائي چې د اَرجُلِكُم عطف پر بِرُءُوسِكُم باندي وکې او مطلب ئې دا واخلې چې پر پښو باندي هم مسح کوئ نو دا به هغه وخت وي چې مُوزې ئې په پښو وي نو پر پښو دي مسح وکي، او ددې قرائت څخه به پر مُوزو باندي د مسح کولو ثبوت پيدا شي، يا خو بيا دا کسره(زېر)صرف د جِوَار او نزدېکت په وجه راغلې ده، د حُکم په لحاظ مينځل ضروري دي .

د روافضو مذهب دادئ چې دُوئي پر پښو باندي صرف مسح کول کافي ګڼي او ماليدلي دي چې دُوئي پر دې باندي په ډېر شِدّت سره عمل کوي چې د اَودَس څخه مخکي پښې مينځي او د اَودَس کولو په دوران کي صرف مسح کوي، د دوئي استدلال دغه دئ چې اَرجُلِكُم په کسره(زېر)سره پر بِرُءُوسِكُم باندي عطف دئ، او د سَر د مسح په شان پر پښو باندي هم مسح کفايت کوي .

كَعبَينِ : د كَعبٌ تثنيه ده، راغُورزېدلئ اَدُوكئ يعني بِجلَكَه، په پښه کي دوه ځائ جَګ او بُك راغُوَرزېدلئ اَدُوكئ سته، يو پر پَښَه باندي لوړ هغه صرف يو اَدُوكئ دئ، او بل بيا د پښې د بَند سره دئ هغه بيا په هره پښه کي دُوَه دُوَه دي، دلته دغه ځني مُراد دئ، ځکه چې كَعبَين ئې د تثنيې صيغه استعمال کړې ده چې دهغه مطلب دادئ چې په هره پښه کي به دوه دوه بُك بُك هَدُوكِي وي .

[۲] بس د اَودَس د طهارت فرض د درو اندامو مينځل دي او د سَر مسح کول ده .

حاشيه : (الف) ښئ پښَه ئې دري واره پري مينځل او کښئ پښۀ ئې دري واره پري مينځل .

[۳] وَالمِرفَقَانِ وَالكَعبَانِ تَدخُلاَنِ فِي فَرضِ الغَسلِ عِندَ عُلَمَآئِنَا الثَّلْثَةِ خِلاَفًا لِزُفَرَ .

وجه : په آيت کي تيرشوچي د دريِ اندامونه مينځل دي او پرسَرمسح کول ده،اوپه ډيرو احاديثوهم ثابت دي چې دا دريِ اندامونه مينځل او دسَرمسح کول فرض ده .

[۳] دواړي ږيرئ او دواړي بِجلَكِي مينځل په فرضو کي شامل دي زمونږ د درو علمآء په نيز بر خلاف د امام زفر(دده په نيز ږيرئ اوبِجلَكِي په مينځلوکي نه دي داخل) .

وجه : د درو امامانو امام ابوحنيفه امام ابويوسف او امام مُحمّد دلائل دادي (۱) عَن نُعَيمِ بنِ عَبدِاللهِ المُجمِرِ قَالَ رَاَيتُ اَبَاهُرَيرَةَ يَتَوَضّأ فَغَسَلَ وَجهَهُ فَاَسبَغَ الوُضُوءَ ثُمّ غَسَلَ يَدَهُ اليُمنٰي حَتّٰي اَشرَعَ فِي العَضُدِ ثُمّ يَدَهُ اليُسرٰي حَتّٰي اَشرَعَ فِي العَضُدِ ثُمّ مَسَحَ بِرَاسِهِ ثُمّ غَسَلَ رِجلَهُ اليُمنٰي حَتّٰي اَشرَعَ فِي السّاقِ ثُمّ غَسَلَ رِجلَهُ اليُسرٰي حَتّٰي اشرَعَ فِي السّاقِ ثُمّ قَالَ هٰكَذَا رَاَيتُ رَسُولَ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ يَتَوَضّأ وَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَنتُمُ الغُرّ المُحَجّلُونَ يَومَ القِيَامَةِ مِن اِسبَاغِ الوُضُوءِ مِمّن اِستَطَاعَ مِنكُم فَلْيُطِل غُرّتَهُ وَتَحجِيلَهُ (الف) (مُسلم شريف باب استحباب اطالة الغرة والتحجيل في الوضوء ص۱۲۶نمبر۲۴۶) په دې حديث کي حضرت ابوهريرة بازوګان او پُنډئ په اَودَس کي

مينځلي دي چي ددې څخه دا اندازه کيږي چي په آيت کي مِرفَق او کَعبَين په مينځلو کي داخل دي،دا حديث د آيت تفسيردئ (۲) عَن جَابِرٍ عَبدِاللهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِذَا تَوَضّأ اَدَارَ المَآ ءَ

حاشيه : (الف) مَاحضرت ابوهريره وليدئ چي اَودَس ئې کاوئ،نو خپل مخ ئې پرې مينځئ نو پوره اَودَس ئې وکړئ، بيا ئې ښَئ لاس پرې مينځئ تر دې چي د بَازُو مينځل ئې شروع کړل، بيا ئې کِن لاس پرې مينځئ تر دې چي د بَازُو مينځل ئې شروع کړئ، بيا ئې پر سَر مسح وکړه،بيا ئې ښَئ پښَه پرې مينځل تر دې چي پُنډَئ پرې مينځل ئې شروع کړل بيا ئې کِنَئ پښَه پرې مينځل تر دې چي پَنډَئ پرې مينځل ئې شروع کړل، بيا ئې وويل ما دغه حضور ليدلئ دئ چي اَودَس ئې کاوئ، حضور وفرمائل تاسو به د قيامت په ورځ د ځلانده مخانو او لاسو خاوندان ياست د اَودَس د مُکمل کولو په وجه، نو د تاسو څخه چي څوك وغواړي هغه دي د خپل مخ روښنائي او د پښو روښنايي زيات کړي .

[۴] وَالمَفرُوضُ فِي مَسحِ الرّاسِ مِقدَارُ النّاصِيةِ وَهُوَرُبعُ الرّاسِ لِمَا

عَلْي مِرفَقَيهِ (دارقُطني،باب وضوء رسول الله ج۱ص۸۶نمبر۲۶۸سنن للبيهقي،باب ادخال المرفقين في الوضوء ج۱ص۹۳نمبر۲۵۶) ددې حديث څخه معلوم سو چي ږيرئ په مينځلو کي داخل دي (۳) د ګوتي څخه ونيسي تر وَرِې پوري ودې ته لاس ويل کيږي نو ځکه که د ږيرَيُو قيد نه وائ لګولئ نو تر وَرِې پوري به مينځل فرض وائ نو ځکه تر ږيرَيُو پوري ئې د مينځلو حکم وکئ نو د ږيرَيُو څخه مخکي حصه ساقط سوه، او قاعده داده چي کوم اَندَام د راروان حصې د ساقط کولو لپاره راسي هغه حصه نو په خپله په داغه حُکم کي داخله وي، نو لِهٰذَا ږيرَئ به په مينځلو کي داخل وي، دغه رنګه رِجلٌ(پښَه)تر وَرَانَه پورې ددې اِطلاَق کيږي، تر بِجلَکُو پوري قيد يې ولګاوئ نو د بِجلَکُو څخه مخکي حصه ئې ساقط کړه، لېکن په خپله بِجلَکَه د مينځلو په حُکم کي داخل ده .

اصول : چي جنس يو وي نو غايت په مُغَيّا کي داخل وي .

فائده : امام زفر فرمائي چي ږيرئ او بجلکي په مينځلو کي نه دي داخلي،يعني که تر ږيرئ او بجلکو پوري پرې مينځلې او په خپله ږيرئ او بجلکي نه پرې مينځلي نو اَودَس ئې صحيح دئ، دده دليل دادئ چي په اَتِمّ الصِّيَامَ اِلَي اللّيلِ آيت کي شپه په روژه کي نه ده داخله، نو لکه څه رنګه چي د اِلَي وروسته شپه ده او هغه په روژه کي نه ده داخله دغه رنګه په اِلَي المَرافِقِ او اِلَيٰ الکَعبَينِ کي د اِلَي وروسته مَرَافِق او کَعبَين به هم په مينځلو کي نه وي داخل، زمور جواب دادئ چي دلته خو لَيلٌ د ورځي د جنس څخه نه ده، ورځ جلا جنس ده او شپه جلاجنس ده، نوځکه شپه چي د اِلَي وروسته ذکر ده هغه به په ورځ کي نه وي داخله، ځکه چي قاعده ده چي کله جنس يو نه وي نو غايت په مُغيّا کي نه وي داخل .

[۴] او فرض د سَر په مسح کي د تَندِي په اندازه دئ او هغه څلورمه د سَر ده،ځکه چي د مُغيره بن شعبه څخه روايت دئ چي نبي کريم صَلي الله عليه وسلم د قوم و اَمبَار ته تشريف راوړئ او بَولِي ئې وکړې او اَودَس ئې وکړئ او پر تَندِي ئې مسح وکړه او پر دواړو مُوزو ئې مسح وکړه .

رَوَيْ المُغِيرَةُ بِنِ شُعبَةَ اَنّ النّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَتْي سُبَاطَةَ قَومٍ فَبَالَ وَتَوَضّأ وَمَسَحَ عَلْي النّاصِيَةِ وَخُفّيهِ .

وجه : (۱) د مُغيره بن شُعبه دا حديث په مُسلم شريف باب المسح علي الخُفّين کي ذکر سوئ دئ (ص۱۳۴نمبر۲۷۴) په دغه صفحه کي بل حديث دئ اَنّ النّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ مَسَحَ عَلْي الخُفّينِ وَمُقَدّمَ رَأسِهِ وَعَلْي عَمَامَتِهِ (مُسلم شريف،باب المسح علي الناصية والعمامة ص۱۳۴نمبر۲۷۴ابوداؤدشريف،باب المسح علي الخفين ص۲۲ نمبر ۱۵۰) چي دسَرصرف دمخکنئ حصّې مسح وکړه نومعلوم شو چي د ټول سَر مسح نه ده فرض بلکه مُستحب ده،ځکه چي که د ټوله سَر مسح فرض وائ نو به صرف د تَندِي په اندازه يا د مَخکَنئ حصّې مسح کول کافي نه وائ، نو ځکه د احنافو په نيز دسَر پر څلورمه يا د تَندِي په اندازه باندي مسح کول فرض ده، او پر ټول سَر باندي مسح کول سُنّت ده (۲) په آيت کي دئ چي د سَر مسح فرض ده لېکن په څومره اندازه باندي فرض ده د آيت څخه دا نه معلوميږي، آيت په دې باب کي مُجمل دئ، نو اُوس حديث ددې تفسير کړئ دئ چي لږ تر لږ مقدار د تندي برابر دئ، ددې څخه لږ مقدار د يوه حديث څخه هم نه معلوميږي،نو ځکه هغه لږ تر لږ مقدار به فرض سي (۳) سَترِ عورت،چي څلورمه حِصّه خلاص(بنکاره)سي لمونځ ختم کيږي، د حج پر موقع د احرام په حالت کي چي د سَر څلورمه حصّه وَخَرَوِي نو دَم لازميږي، لکه څه رنګه چي د ټوله سَر په خَرَوَلُو سره دَم لازميږي، نو په دغه ځايو کي څلورمه د کُل(ټوله)قائم مقام ده لِهٰذَا دسَرپه مسح کي به هم څلورمه دټوله سَرقائم مقام وي (۴) قاعده داده چي کله،ب،حرفِ جَرپر آله باندي داخل سي نودهغې بعض مُرادوي اودمَحَل ټول مُراد وي،اوچي کله،ب،حرفِ جَر پرمحل داخل سي نو د مَحَل بعض ځني مُراد وي، دلته ،ب، پر سَر يعني محل باندي داخل ده نو ځکه دسَر بعض حصّه به مُراد وي چي د سَر بعض حصّه به کافي شي .

[۵] وَسُنَنُ الطّهَارَةِ [۶] غَسلُ اليَدَينِ ثَلاَثًا قَبلَ اِدخَالِهِمَا اَلاِنَآ ءَ اِذَا

فائده : د امام شافعي ؒ په نيز د سَر د څو بيښتانو د مسح کولو څخه به فرضيّت ادآء شي، دئ فرمائي چي مسح کول مُطلق ذکر شوئ دئ او په مُطلق کي د دو درو بيښتانو مسح کول هم کفايت کوي، امام مالك فرمائي چي د ټول سَر مسح فرض ده، دئ د هغو احاديثو څخه استدلال کوي چي په هغو کي د ټول سَر مسح کول ثابت ده، دغه احاديث په (بخاري شريف،باب مسح الرّاس کُلّه ص۳۳نمبر۱۸۵) اودغه رنګه په (باب مسح الرّاس مَرَّةً ص۳۴نمبر۱۹۴) باندي ذکرشوي دي عَن عَبدِاللهِ بنِ يَزِيدٍ ... ثُمّ مَسَحَ رَاسَهُ بِيَدَيهِ فَاَقبَلَ بِهِمَا وَ اَدبَرَ بَدَأ بِمَقدَمِ رَاسِهِ حَتّيٰ ذَهَبَ بِهِمَااِلْي قَفَاهُ ثُمّ رَدّهُمَا اِلْي المَكَانِ الّذِي بَدَأ مِنهُ ، مورِ ددې جواب دا ورکو چي

دا حديثونه پر سُنتّيت باندي محمول دي،اومُورِ هم يو وار پر ټول سَر باندي مسح کول سُنّت کښو .
لغت : اَلنّاصِيَةُ : تَندَئ دلته د تَندِي په اندازه ځائ مُراد دئ ځکه چي صرف پر تَندِي باندي د مسح کولو څخه دهيڅ چا په نبز مسح نه ادآء کيږي، ځکه چي په آيت کي د سَر د مسح کولو حُکم شوئ دئ، مُغيره بن شُعبه مشهور صحابي دئ د غَزوَۀ خندق په کال ئې اسلام راوړئ دئ اوپه سنه پنځوس يا يوپنځوس کي وفات شوئ دئ،دده څخه ۱۳۶ حديثونه روايت شوي دي، سُبَاطَةَ : کچره، د امبار غورزولوځائ، بَالَ : بَولي وکړي .

﴿...د اَودس د سُنّتو بيان... ﴾

[۵] سُنَنُ الطّهَارَةِ : د طهارت سنتونه، طريقه يا لاره ته سُنت وائ، په شريعت کي پر کوم کار چي د عبادت په توګه حضور همېشه توب کړئ وي او کله نا کله ئې پرې ايښئ وي هغه ته سُنت وائي، که د عبادت په توګه سره نه بلکه د عادت په توګه سره پر يو کار باندي حضور همېشه توب کړئ وي نو هغه کار به مُستحب کار وي، لکه د بني جانب لخوا يو بنَه کار شروع کول مُستحب کار دئ .
[۶] د اَودَس سُنتونه : دواړه لاسونه درې واره مينځل دغه دواړه په لوښي کي د داخلولو څخه مخکي کله چي اَودَس کونکئ د خوب څخه رَاوِښ شي .

اِستَيقَظَ المُتَوَضِّي مِن نَومِهِ [۷] وَتَسمِيَةُ اللهِ تَعَالٰي فِي اِبتِدَآءِ الوُضُوءِ .

تشريح : يو سړئ دخوب څخه رَاوِښ سو او اَودَس يا غُسل کول غُواړي نوداُوبُو په لوښي کي د لاس اچولو څخه مخکي درې واره بايد لاس پري مينځي، دا سُنت دئ، ځکه چي کېدلائي سي چي د خوپ په حالت کي دده لاس د نجاست ځائ ته تللئ وي او پر لاس باندي نجاست موجودوي او اَودَس کونکي نه وي ليدلي،اُوس که دا لاس په اُوبُو کي واچوي نو اُوبَه به ناپاك سي، نو ځکه په لوښي کي د لاس اچولو څخه مخکي بايد لاس درې واره پري مينځي، که پر لاس باندي د ناپاکئ د موجودګئ غالب ګمان وي نو بيا لاس مينځل ضروري دئ، او که صرف شك وي نو مينځل مُستحب دئ .
وجه : ددې دسُنتيّت دليل دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ اَنّ النّبِيّ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ قَالَ اِذَا اِستَيقَظَ اَحَدُكُم مِن نَومِهِ فَلاَ تَغمِسُ يَدَهُ فِي الاِنَآءِ حَتّٰي يَغسِلَهَا ثَلاثًا فَاِنّهُ لاَيَدرِي اَينَ بَاتَت يَدُهُ (الف) (مُسلم شريف،باب كراهية غمس المتوضي وغيره يده المشكوك فِي نجاستها فِي الانآء قبل غسلها ثلاثًا ص۱۳۶نمبر۲۷۸ترمذي شريف،باب ماجآء اذا استيقظ احدكم من منامه فلاتغمس يده فِي الانآء حتي تغسلها ثلاثا ص۱۳نمبر۲۴) مُصَنّف د خوب څخه د بيدارېدو وروسته لاس مينځل سُنت ليکلي دي، علمآء ليکلي دي چي که د خوب څخه نه وي بيدار شوئ نو هم د اَودَس کونکي لپاره لاس مينځل سُنت دئ .
لغت : اَلاِنَآ ءُ : لوښئ، اِستَيقَظَ : رَاوِښ شو، نَومٌ : خوب .

[۷] (دُوَم سُنّت) د اَودَس په شروع کي **بِسمِ الله** ویل .

وجه : په حدیث کي دئ چي کُوم چا بِسمِ الله نه وویل دهغه اَودَس نه صحیح کیږي،

حاشیه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل چي د تاسو څخه یو د خوب څخه رَاوِښ شي نو خپل لاسونه دي په لوښي کي نه اچوي،تر هغو چي دري واره ئي نه پري مینځي،نَه معلوم چي دده لأس شُپَه چیري تیره کړي ده ؟

[۸] وَالسِّوَاكُ .

حدیث دادئ اَبِي سُفیَانَ بِنِ حُوَیطَبٍ عَن جَدّتِهِ عَن اَبِیهَا قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) یَقُولُ لاَوُضُوءَ لِمَن لَم یَذکُر اِسمَ اللهِ عَلَیهِ (الف) (ترمذي شریف،باب فِي التسمیة عندالوضوء ص۱۳نمبر۱۲۵\ابوداؤدشریف،باب فِي التسمیة علي الوضوء ص۱۵نمبر۱۰۱)په حدیث کي ددې ذکر دئ چي بغیره د بِسمِ الله اَودَس نه صحیح کیږي، لېکن دا نفي پر کمال باندي محمولِ دي او د حدیث مطلب دادئ چي بغیره د بِسمِ الله اَودَس کامل نه دئ، صاحب د هدایه فرمائي بِسمِ الله ویل مُستحب ده .

فائده : اسحاق بن راهویه فرمائي که په قصدسره بِسمِ الله پرېښول نواَودَس به راګرزوي اوکه په هېره سَرَه یا په حدیث کي تاویل کړئ او پرېښول نو اَودَس ئې صحیح دئ دده دلیل دغه لوړ حدیث دئ .

[۸] (دریم سُنّت)مِسواك کول دئ .

وجه : (۱) په حدیث کي دئ عَن اَبِي هُرَیرَةَ (ﷺ) عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ لَولاَ اَن اَشُقّ عَلْي المُؤمِنِینَ وَفِي حَدِیثِ زُهَیرٍ عَلْي اُمّتِي لاَمَرتَهُم بِالسِّوَاكِ عِندَ کُلِّ صَلوةٍ (ب) (مُسلم شریف،باب السواك ص۱۲۸نمبر۱۲۵۲\بخاري شریف،باب السواك ص۳۸نمبر۱۲۴۴\ترمذي شریف،باب ماجآء فِي السواك ص۱۲نمبر۲۲) ددې حدیث څخه که څَه هم دا ثابتیږي چي د لمانځه په وخت کي مِسواك سُنت دئ، لېکن دلته به یو عبارت محذوف وي عِندَ وُضُوءِ کُلِّ صَلوةٍ یعني د هر لمانځه د اَودَس کولو په وخت کي مِسواك سُنّت دئ (۲) عَن اَبِی هُرَیرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لَولاَ أن اَشُقّ عَلْي اُمّتِی لأمَرتُهُم بِالسّواکِ مَعَ کُلّ وُضُوءٍ (سنن للبیهقی. باب الدلیل علْي ان السواک سنة لیس بواجب ج ۱ ص ۵۷ حدیث ۱٤٦) ددې حدیث څخه معلوم شوچی مسواك د اودس کولوپه وخت کي سُنّت دئ . (۳) دمسواك کولوڅخه مقصد دخولي بدبوی لیری (صفا)کول دئ له دې وجهي مسواك داودس سره زیات مناسب دئ .

حاشیه : (الف) دهغه چا اَودَس کامل نه دئ چا چي بِسمِ الله نه وویل (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل زوما پر اُمت باندي که د تکلیف ښېره نه وائي نو د هر لمانځه په وخت کي به مو د مِسواك حُکم ورکړئ وائي .

[۹] وَالمَضمَضَةُ وَالإِستِنشَاقُ .

فائده : دامام شافعی() په نبز مسواك دلمانځه دسنتوڅخه دئ، دده دلیل دغه لوړ حدیث عِندَ کُلّ صَلْوةٍ دئ (موسوعة امام شافعي،باب السواك.ص۱۰۲ ج ۱)

[۹] (څلورم سُنّت) په خوله اوبه ګرزول دي.(پنځم سُنت)په پزه اوبه ګرزول دی .

وجه : (۱) په حدیث کی دئ رَأیتُ عُثمَانَ بِنِ عَفّانَ (ﷺ) سُئِلَ عَنِ الوُضُوءِ فَدَعَابِمَاءٍ فَأتِيَ بِمَيضَأةٍ فَاَصغَاهَا عَلْي يَدِهِ اليُمنْي ثُمّ اَدخَلَهَا فِی الَمَاءِ فَتَمَضمَضَ ثَلاَ ثًا وَ اِستَنثَرَثَلاَثًا (ابوداؤدشریف،باب صفة وضوء النبی (ﷺ) ص ١٦ حدیث نمبر١٠٨\١١٢.مسلم شریف باب آخرفی صفة الوضوء ص ١٢٣ حدیث٢٢٦) ددې باب دادریم حدیث دئ، په دې باب کي په جلاجلا اوبو باندی دړې واړه مضمضه (په خوله اوبه ګرزول)شوي دي، او دړې واړه جلا جلا په پزه(پوزه)اُوبَه ګرزول شوي دي (۲) عَن طَلحَةَ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ دَخَلتُ يَعنِی عَلْي النّبِيّ (ﷺ) وَهُوَيَتَوَضّأ وَالمَاءُ يَسِيلُ مِن وَجهِهِ وَلِحيَتِهِ وَعَلْي صَدرِهِ فَرَاَيتُهُ يَفصِلُ بَينَ المَضمَضَةِ وَالِاستِنشَاقِ (الف) (ابوداؤد.باب فی الفرق بین المضمضة والاستنشاق ص٢٠ نمبر١٣٩) امام ابوداؤد باقاعده یوباب قائم کړئ دئ چی حضور (ﷺ) په خوله اوپه پزه جلاجلا اوبه ګرزولي .

فائده : امام شافعي (ؒ) فرمائی چی یوه لپه اوبه دي واخلی نیمئ دي په خوله اونیمئ دي په پزه وګرزوی،بیادی دریم وار یوه لپه اوبه واخلی نیمئ دي په خوله نیمئ دي په پزه وګرزوی، دغه رنګه دي په دړې لپوباندي دواړه کارونه وکړی .

وجه : دده استدلال دهغه حدیثوڅخه دئ چه په هغه ذکردی. فَمَضمَضَ وَ اِستَنشَقَ مِن کَفٍّ وّاحِدٍ فَفَعَلَ ذَالِکَ ثَلاَثًا (مسلم شریف،باب آخرفی صفة الوضوء ص١٢٣نمبر٢٣٥ ترمذی شریف.باب المضمضة والاستنشاق من کف واحدصفحه١٤ حدیث ٢٨) په دې حدیث کی ددې ذکر دئ چی په یوه پلا اوبو باندې مضمضه اواستنشاق دواړه کړي دي .

حاشیه : (الف) زه پرحضور (ﷺ) باندی ورغلم ده اودس کاوئ او اُوبَه دحضور (ﷺ) پرمخ اوړیره اوسینه مبارکه باندی بهېدلي اوماولیدئ چې په مضمضه اواستنشاق کې فَصل(جلاجلاوالئ)کاوئ .

[۱۰] وَمَسحُ الأُذُنَينِ [۱۱] وَتَخلِيلُ اللِّحيَةِ .

زمور جواب دادئ چی حدیثونه خودالوړحدیثونه هم دي، اوچی جلاجلااوبه په خوله اوپزه وګرزئي په دي کي نَظَافَت زیات دی .

لغت : اَلمَضمَضَةُ : مضمضه کول.په خوله اوبه ګرزول. اَلِاستِنشَاقُ : دباب استفعال څخه مُشتَق دئ په پزه کی اُوبَه خیژول بل لفظ ددې لپاره راځي اِستَنثَرَ دیزي څخه اُوبَه څنډل .

فائده : د امام مالک (ؒ) په نیږ په اودس کي هم دغه دواړه فرض دي .

[۱۰] (شپږم سُنّت) ددواوړوغوږو مسح کول دي .

وجه : په حدیث کی دئ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) مَسَحَ بِرَاسِهِ وَ اُذُنَيهِ ظَاهِرَهُمَا وَبَاطِنَهُمَا (ترمذی شریف،باب مسح الاذنین ظاهرهماوباطنهما ص١٦نمبر٣٦/ابوداؤدباب صفةوضوء النبی (ﷺ) ص ١٦نمبر١٢١) اَنّهُ مَسَحَ بِرَسِهِ وَقَالَ اَلأُذُنَانِ مِنَ الرّأسِ (الف) (ترمذی.باب ماجآء انّ الاذنین من الرأس نمبر٣٧)

ددې حديث څخه دا ثابت شوچې دغورږو لوړه اوکښته حصّه د سر سره مسح کول سنت ده .
فائده : امامِ شافعي (ر) فرمائي چې دغورږ لپاره جلا اُوبَه اخستل اومسح کول سنت دئ، امامِ شعبي (ر) فرمائی چې مخکنئ حصّه دي د وَجهِ (مخ)سره او د شَا حصّه دي دسر سره پرې مينځي، د امامِ شافعي (ر) دليل دغه حديث دئ سَمِعَ عَبدُ اللهِ بِنِ زَيدِيَذكُرُ اَنّهُ رَاْي رَسُولَ اللهِ (ﷺ) يَتَوَضّاُ فَاَخَذَ لِاُذُنَيهِ مَاءً خِلاَفَ المَاءِ الّذِى اَخَذَ لِرَأسِه (سنن للبيهقي باب مسح الاذنين بماء جديد جلد اول ص١٠٧نمبر٣٠٨) په دې حديث کې دئ چې دغورږو دپاره جلاوبه واخستې.
[١١] (اُوَم سُنّت) درږيرې خِلاَل کول دئ .
وجه : په حديث کې دئ (١) عَن عُثمَانَ بِنِ عَفّانَ اَنّ النّبِيّ كَانَ يُخَلِّلُ لِحيَتَهُ (ترمذي شريف،باب تخليل اللحية ص١٤نمبر٣١) (٢) عَن اَنَسٍ بِنِ مَالِكٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ كَانَ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل دواړه غورږونه د سَر حصّه (برخه) ده ؟

[١٢] وَالاَصَابِعِ [١٣] وَتَكرَارُ الغَسلِ اِلْي الثّلْثِ .

اِذَاتَوَضّاَ اَخَذَ كَفّامِن مّآءٍ فَاَدخَلَهُ تَحتَ حَنَكِهِ خَلّلَ بِهِ لِحيَتَهُ وَقَالَ هٰكَذَا اَمَرَنِى رَبّي (الف) (ابوداؤد شريف باب تخليل اللحية ص٢١نمبر١٤٥)
پام لرنه : چې تار ونار ږيره وي نود زَنِي وخال ته اوبه وررسول ضروري دي،اوکه ګنه ږيره وي نو بيادې دلوړي لخواپرې مينځي. په دغه وخت کې دننه ږيره کي خلال کول سُنّت دئ .
[١٢] (اتم سُنّت) دګوتوخلال کول .
وجه : عَن اِبنِ عَبّاسٍ (ﷺ) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِذَا تَوَضّاَتَ فَخَلِّل اَصَابِعَ يَدَيكَ وَرِجلَيكَ (ب) (ترمذي شريف باب تخليل الاصابع ص١٦نمبر٣٩،نسائي شريف.باب الامر بتخليل الاصابع،ص١٦ نمبر١١٤) دګوتو په خلال کولوکي حکمت دادئ چې اُوبَه وهرځائ ته ورسيږي ځکه چې که د اَوږَس په اعضاؤ کي ديوه ښښته برابرځائ پاته شي نو اَوږَس نه صحيح کيږي .
[١٣] (نهم سُنّت) درې واره دمينځلوتکرارکول .
وجه : (١) يَويَو وار اندامونه مينځل فرض دي،اودرې واره مينځل سنت دي، ددرې واره مينځلو څخه به دايقين شي چې ديوه ښښته برابريوځائي وَچ نه دئ پاته (٢) په حديث کې دئ رَايْ عُثمَانَ بِنِ عَفّانَ (ﷺ) دَعَا بِاِنَاءٍ فَاَفرَغَ عَلْي كَفّيهِ ثَلْثَ مِرَارٍ فَغَسَلَهُمَا ثُمّ اَدخَلَ يَمِينَهُ فِى الاِنَاءِ فَمَضمَضَ وَاِستَنثَرَ ثُمّ غَسَلَ وَجهَهُ ثَلْثًا وَيَدَيهِ اِلْي المِرفَقَينِ ثَلْثَ مِرَارٍ ثُمّ مَسَحَ بِرَاسِهِ ثُمّ غَسَلَ رِجلَيهِ ثَلْثَ مِرَارٍ اِلْي الكَعبَينِ ثُمّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَن تَوَضّاَ نَحوَ وَضُوئِي هٰذَا ثُمّ صَلّي رَكعَتَينِ

حاشيه : (الف) حضو ر (ﷺ) چی کله اودس کاوی نو د اُوبُو لَپَه به واخسته اوو زَنَه ته به نزدي اچولي اوپه هغه به د ږيري خلال کاوئ او وفرمايل چی وماته زما رَب دغه رنګه حکم کړئ دئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل چه کله اودس کوي نود دواړولاسو او پښو د ګوتو خلال کوه .

[١٤] وَ يَستَحِبّ لِلمُتَوَضِّي اَن يّنوِيَ الطّهَارَةَ .

لاَيُحَدِّثُ فِيهِماَ نفسه غفر له ماتقدم من ذنبه (الف) (بخاري شريف.باب الوضوء ثلاثا ثلاثا ص ٢٧ حديث ١٥٩/ابوداؤد شريف.باب الوضوء ثلاثا ص٢٠ حديث١٣٥) په حديث کی دئ چي اعضاء ئې دري واره پرې مينځل ددې څخه دامعلوم شو چی دري دري واره مينځل سنت دي .

﴿...د اَودس مُستَحَبّات ... ﴾

ضروري پام لرنه : مُستَحَب هغه کار ته وائي چی په کولوکي ثواب وي اوپه نه کولوکي عقاب(ګناه) نه وي .مُصَنِّف نيت کول.دتول سرمسح کول.په ترتيب سره اودس کول.پَرلَپَسې اودس کول مستحب ليکلي دي. حالانکه په نورکتابوکې دې ته سُنّت ويلي دي (**كمافي الهداية**)

او د احاديثوڅخه هم دامعلوميږي چي دا څلورسره سُنّت دي.دمتقدمينوپه اصطلاح کي وسُنّت ته هم مُستَحَب ويل کيدل.په دې لحاظ مُصَنِّف ودې څلوروته مستحب وويل.خو د بنې جانب څخه شروع کول او د غاړي (څټه.بعض پښتانه وڅټه ته هم غاړه وائي.ابوالحسين قطب)مسح مستحب ده .

[١٤] اودس کونکي لره دا سُنّت دئ چي دپاکي(طهارت)نِيّت وکي .

وجه : د سُنّتِيّت وجه دغه حديث دئ عمر بن خطاب عَلَي المِنبَرِ يَقُولُ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ(ﷺ)يَقُولُ:اِنّمَا الاَعمَالُ بِالنّيّاتِ وَاِنّمَا لِكُلّ اِمرِءٍمَانَوْي (ب) (بخاري شريف،

حاشيه : (الف) عثمان بن عفان يې وليدئ چي لوښئ يې راطلب کړئ بيائي دري واره پرخپلو ورغووباندی اوبه واچولي اوهغه ئې پرې مينځل،بيائي بښئ لاس په لوښي کي واچاوئ اومضمضمه اواستنشاق يې وکړئ،بيابې دري واره خپل مخ پرې مينځئ اوداوړه لاسونه دري دري واره ،بيابې پرسرمسح وکړل،بيابې دواړي پښي دري واره تربجلکو پوري پرې مينځلې، بيابې وويل چی حضور وفرمايل چي څوک زماددي اودس په شان اودس وکړي بيادوه رکعت لمونځ وکړي اوپه زړه کي ديوي خُوَا او بَلِي خُوَاخيالونه (سوچونه)نه کي پيدا،نودده تيري شوي ټولي ګناه به معاف شي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل چي د اعمالو دارومدار پر نِيّت باندي دئ دهر سړي لپاره هغه شيئ دئ چي ده ېې نيت کړئ وي .

[١٥] وَيَستَوعِبَ رَأسَهُ بِالمَسحِ .

باب كيف كان بدء الوحى الى رسول الله ص٢ نمبر١) د اعمالو د ثواب دارومدار يا د اعمالو د صحيح کېدو دارومدار پر نِيّت باندي دئ .ببله نِيّت د اَودَس ثواب نشته ځکه په اَودَس کی د اَودَس کولو نِيتّ سُنّت دئ.په اَودَس کي نِيّت کول په دې وجه نه دئ فرض چي اُوبَه پخپله پاک کونکي دي که نِيّت وي که نه وي .

وجه : (١) آيت دئ اَنزَلنَامِنَ السّمَآءِ مَاءً طَهُورًا (آيت نمبر٤٨، سورة الفرقان٢٥) (٢) په حديث کی دئ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) هُوَالطّهُورُمَاءُهُ وَالحِلّ مَيتَتُهُ (الف) (ترمذي شريف باب

ماجآء في مآء البحر انه طهور.ص٢١ نمبر٦٩) چې هرکله اوبه بې له نيت خپله پاک کونکی دی نوبيادنيت کولوخوضرورت نه سوپاته .خوبياهم ددغه لوړ حديث په وجه به سُنّت ضرور وی .

(٣) حضرت عمر دقرآن مجيد د مَس کولو لپاره دکفر په حالت کی اودس وکړئ . اودکفر په حالت کی دنيّت کولوهيڅ اعتبارنشته.ځکه دده اودس بېله نِيّت کولو صحيح شو.نودامعلوم شو چې د اَودَس لپاره نِيّت شرط نه دئ .

پام لرنه : په لمانځه،روژه،زکوٰة،حج اودغه رنګه نورومقصودي عبادتوکي اصل مقصد ثواب وي . نوځکه بېله نيت دغه عبادتونه نشي اداء کېدلائي. هلته نِيّت کول فرض دئ .

فائده : د امامِ شافعي په نېز د اِنّمَا الأعمَالُ بِالنِّيّاتِ حديث په وجه په اَودَس کي هم نِيّت کول فرض دئ. (موسوعة امام شافعي جلداول باب النية فی الوضوء)

لغت : اَلنِّيّةُ : د زړه د ارادې نوم نِيّت دئ ،او چې په ژبه ووائي نودپر ښه دئ .

[١٥] دټول سر مسح کول .

وجه: (١) په حديث کی دئ عَن عَبدِاللهِ بِنِ زَيدٍعَن وُضُوءِالنّبِيّ(ﷺ)ثُمّ اَدخَلَ يَدَهُ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل دسمندر(درياب) اُوبَه پاکِ دي اودهغه مَرَئ(مَاهئ،مايئ)حلال دئ .

فِي الإنَاءِ فَمَسَحَ بِرَأسِهِ فَاَقبَلَ بِيَدَيهِ وَ اَدبَرَ بِهِمَا (الف) (بخاری شريف.باب مسح الرأس مرة ص ٣٢،١٩٢) (٢) ابوداؤد،باب صفة وضوء النّبيّ(ﷺ)ص١٦ نمبر١١٢ **فيه تصريح،فمسح برأسه مرة واحدة)** دحديث ځخه معلوم سو چې حضور (ﷺ) يو وار پرسرباندي مسح وکړه (٣) که چيرى په نوي نوي(جلاجلا)اوبوسره دري واره مسح وکړل شي نو دهغه ځخه به مينځل جوړ شي،بياخومسح نه شوه (اَعنِي كَثرَةُ المَسحِ يَصِيرُغَسلاً. قطب) دمينځلواندامونه که دري دري واره ومينځي نو څه د حرج خبره نه ده، لېکن که مسح دري دري واره په نو نو اُوبُو سره وکړي نو به بالکل موضوع بدله شي. لدې وجه فقط يو وار مسح کول سُنّت ده .

پام لرنه : په کوموحديثونوکی چې دري واره دمينځلو ذکردئ هغه په اصل کي په يو وار اُوبُو باندي دټول سر د احاطې کولولپاره دري واره کړې ده،داخومورهم وايوچې په يوه وار اُوبُوسره دي لاس دري واره پر سر تيرکړي.چې په ښه توګه سره دټول سر مسح وشي .

فائده : امام شافعي فرمائي چې دري واره دي مسح وکړي اودري سره وارنوي نوي اُوبَه اخستل سنت دئ،دده استدلال ددې حديث ځخه دئ وَمَسَحَ رَأسَهُ ثَلاَثًا (ابوداؤد باب صفة وضوء النبي ص ١٢نمبر١٠٧) فَمَسَحَ بِرَأسِهِ فَاَقبَلَ بِهِمَا وَ اَدبَرَ بَدَأ بِمَقدَمِ رَأسِهِ ثُمّ ذَهَبَ بِهِمَا اِلَي قَفَاهُ ثُمّ رَدّهُمَا حَتّي رَجَعَ اِلَي المَكَانِ الّذِي بَدَأ مِنهُ وَغَسَلَ رِجلَيهِ (ب) (مسلم شريف،باب اٰخر فی صفة الوضوء.ص ١٢٣نمبر٢٣٥) ددې حديث ځخه دا معلوم شو چې دري واره دي مسح

وکړي. زمونږ جواب دادئ چي په دې ټولوحديثوکي په يوه وار اُوبُوسره د استيعاب لپاره څوواره مسح شوې ده، اوددې قائل خومونږ هم يو .

حاشيه : (الف)حضور (ﷺ) په لُوښي کي لاس واچوئ اوپر سرئي دارنګه مسح کړئ چي خپل لاس يې دشا(دځنې لخوا)څخه مخ ته اودمخ لخواځخه وشاته يوړئ (ب) حضور (ﷺ) پرسرباندی مسح وکړه اولاس ئې دشالخواځخه دمخ خواته راوړی او د شا وخواته يې يووړئ .اودسر دمخکنی حصې(برخي)څخه شروع کړئ.بيائې دواړه لاسونه ترځټي پوري يووړل بيائې را واپس کړل آن تردې چی هغه ځائ ته واپس راوړل چی دکوم ځخه شروع کړې وه اوپښې ئې پرې مينځلې .

[۱۶] وَ يَتَرَتَّبُ الوُضُوءَ فَيَبتَدِأ بِمَا بَدَأ اللهُ تَعَالٰي بِذِكرِهِ .

لغت : يَستَوعِبُ : احاطه دې وکړي،راګيردې کړي .
پام لرنه : دمسح لپاره نوي (جديد) اُوبَه اخستل سُنّت دي .
وجه : وَمَسَحَ بِرَأسِهِ غَيرَ فَضلِ يَدِهِ (مسلم شريف،باب آخرفی صفة الوضوء ص۱۲۳ نمبر۲۳٦)
[۱۶] په ترتيب سره دي اودس وکړي نودهغه ځائ ځخه دي شروع وکړي کوم چی اللهΨ اول ذکر(بيان)کړئ دئ .
تشريح : خدائ Ψ په قرآن مجيد کی اوّل مَخ بيالاَسُونَه بيا د سرمسح کول بيائې دپښو وُلَل ذکرکړئ دئ .نو په دغه ترتيب سره اودس کول سُنّت دئ . دددې خلاف که وکړي نو اَودَس خو به صحيح شي لېکن سُنّت نه شو ادآء .
وجه : (۱) قرآن چي په کوم ترتيب سره د اودس اعضاء ذکرکړي دي په هغه کي به يونه يو حکمت ضرور وي له دې وجه په هغه ترتيب سره اودس کول سُنّت دئ (۲) تقريباپه ټولواحاديثوکی داعضاء مينځل په هغه ترتيب سره ذکرسوي دي په کوم ترتيب سره چی په قرآن کي ذکردي .نودحضورρ د مُوَاظَبَت (همیشه توب) لکبله ترتيب سنت دئ (۳) اِذَا قُمتُم اِلَي الصّلٰوةِ فَاغسِلُوا وُجُوهَكُم آيت کي د فَاغسِلُوا ,, ف,, دتعقيب لپاره ده ددې مطلب داسوچی کله تاسو دلمانځه لپاره ودريږئ نو اَوّل مخان پرې مينځئ. چی د درېدلواودمخ مينځلوترمينځ ترتيب پيداسو نو په نورو اعضاؤ کي هم ترتيب پکاردئ .په دې وجه په اودس کي ترتيب سُنّت دئ. لېکن دا ترتيب واجب نه دئ لکه څرنګه چی امام شافعي فرمائي.ځکه چي (۱) دغه لوړبيان سوي دلائل پرسُنّتِيّت باندي دلالت کوي پروجوب باندي نه (۲) حضرت علي (ﷺ) به فرمايله مَا اُبَالِي اِذَا اَتمَمتُ وُضُوئِي بِأيِّ اَعضَائِي بَدَأتُ (الف) (دارقطنی،باب ماروی فی جوازتقديم غسل يد اليسریٰ علٰي اليمنٰي ج ۱ ص۹۲ نمبر۲۸۹/سنن للبيهقی،باب الرخصة فی البدائة باليسارج۱ ص۱٤۰نمبر٤۰٦)

حاشيه : (الف) کُوم خاص حرج نشته چي زه خپل اَودَس پوره وکړم دکوم اندام ځخه چي شروع کړم .

[۱۷] وَالتّوَالِي [۱۸] وَبِالمَيَامِنِ .

فائده : امام شافعي د تيروسو دلائلو په وجه ترتيب واجب بولي،زمونږ لخوا جواب تيرسو (فَانظُرهُنَاکَ ... قُطب ...)

[۱۷] پرلپسې کول .

تشريح : يعني ديوه اندام ورسته دي فورًا دوهم اندام پري مينځي.داسي نه چي د دوهم اندام په مينځلو کي ډېرتأخير وکړي آن تردې چي اَوّل اندام وچ سي .

پام لرنه : د اَلتّوَالِی جمله دقدوري په بعضو نسخو کي نسته .

وجه : (۱) په ټولواحاديثو کي ذکر دئ چی حضور(ﷺ) اندامونه پرلپسې مينځلي دي .دارنګه نه دي سوي چي د يواندام مينځلو وروسته په بنه ډېر ځنډ سره دوهم اندام مينځلئ وي .نو له دې کبله پرلپسې مينځل هم مستحب دئ خوبياهم که چيري ديوعذر لکبله په مينځلو کي ځنډراسي نو بياهم دسنت په اداکولو کي څه فرق نه راځي (۲) په آثرکي راغلي دي اَنّ عَبدَاللهِ بِنِ عُمَرَ بَالَ بِالسّوقِ ثُمّ تَوَضّأَ وَغَسَلَ وَجهَهُ وَمَسَحَ بِرَأسِهِ ثُمّ دَعْي لِجَنَازَةٍ لِيُصَلّي عَلَيهَاحِينَ دَخَلَ المَسجِدَ فَمَسَحَ عَلْي خُفّيهِ ثُمّ صَلّي عَلَيهَا (مؤطاء امام مالک،باب ماجآء فی المسح علی الخفين ص ۲٤) په دې اثرکې مسح على الخفين ورسته کړې ده. چی په نتيجه کي دامعلومه سوه چی دټولواندامو پرلپسې مينځل ضوروری نه دئ .

[۱۸] مينځل دښئ خواځخه شروع کول (مستحب دئ) .

وجه : په حديث کي دئ عن عائشة (رضی الله عنها) كَانَ النّبِيّ(ﷺ)يُعجِبُهُ التّيَمّنَ فِي تَنَعّلِهِ وَتَرَجّلِهِ وَطُهُورِهِ فِي شَانِهِ كُلّهِ. وَقَالَ النّبِيّ (ﷺ) لأمّ عَطِيّةَ فِي غُسلِ اِبنَتِهِ اِبدَأنّ بِمَيَامِنِهَا وَمَوَاضِعَ الوُضُوءِ مِنهَا (الف) (بخاري شريف، باب التيمن فِي الوضوء،والغسل

حاشيه : (الف) حضور(ﷺ) د بنئ خواځخه شروع کول بنه ګانئ دچوتو په پښوکولوکي،د ږمنځي په استعمالولوکي او اودس کولوکي .اوپه هرشي کي.حضور(ﷺ)وأمّ عَطِيّة ته و فرمائل ددې دپچي دغسل په سلسله کي چي ودې ته دښئ خواځخه غسل ورشروع کئ اوددې داودس ځايونه هم دښئ خواځخه شروع کئ .

[۱۹] وَمَسحُ الرّقَبَةِ .

ص۲۹ نمبر۱٦۸/۱٦۷) ددې احاديثولکبله دښي جانب لخوا اَودَس کول مستحب دئ . او بعضو و دې ته سُنّت ويلي دي .

لغت : اَلتّيَمّنُ : دښي جانب لخوا شروع کول .

[۱۹] دغاړی (څتي) مسح کول مُستحب دئ .

وجه : (۱) عَن اِبنِ عُمَرَ τ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ مَن تَوَضّأَ وَمَسَحَ بِيَدَيهِ عَلْي عُنُقِهِ وُقِيَ الغَلّ يَومَ القِيَامَةِ (الف) (التلخيص الحبير باب سنن الوضوء ج اول صفحه ۳٤ شرح احياء العلوم للعلامة الزبيدي ج ۲ص ۳٦٥ باب كيفية الوضوء اعلاء السنن ج ۱) (۲) عَن لَيثٍ عَن طَلحَةَ بِنِ مُصرِفٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ اَنّهُ رَاْي رَسُولَ اللهِ (ﷺ) يَمسَحُ رَأسَهُ حَتّي بَلَغَ القَذَالَ. وَمَايَلِيهِ مِن مَقدَمِ

العُنُقِ (مسنداحمد باب حديث جد طلحة الايامى، ج رابع صفحه ٥٣١-حديث ١٥٥٢١) ددې حديثوڅخه معلوم سو چې دغاړې (څټې) مسح کول مُستحب دئ .
خلاصه : مُصَنِّف څورلس (١٤) سنتونه بيان کړي دي (١) دري واره ترمړوندو پورې لاسونه مينځل (٢) داودس په شروع کې بسمِ الله ويل (٣) مسواک کول (٤) په خوله اوبه ګرزول (٥) په پزه اوبه ګرزول (٦) ددواړوغوږومسح کول (٧) دژيرې خلال کول (٨) دګوتوخلال کول (٩) دري دري واره اندامونه مينځل (١٠) دپاکئ نِيّت کول (١١) دټول سر مسح کول (١٢) اودس په ترتيب سره کول (١٣) دښي جانب څخه شروع کول (١٤) پرلپسې کول اودغاړې مسح کول مستحب ده .
پام لرنه : سُنّتُونَه اومُستَحَبّات نور هم سته .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل چې څوک اودس وکړي اوپه دواړولاسوباندې پرخپله غاړه(څټه) باندې مسح وکړي نو دقيامت په ورځ به (د اُور) دطوق څخه محفوظ کړل شي .

[٢٠] وَالمَعَانِيُ النّاقِضَةُ لِلوُضُوءِ كُلّ مَاخَرَجَ مِنَ السّبِيلَينِ .

﴿... د نَوَاقِضُ بيان ...﴾

ضروري پام لرنه : **اَلمَعَانِي النّاقِضَةُ** : اَودَس ماتونکي شيان،دکومونجاستو د وتلو يا د داخلېدوڅخه چې اودس ماتيږي دهغو بيان دئ .
[٢٠] اودس ماتونکئ هر هغه شيئ دئ چې د مچاړو يا د ګندګئ دلاري څخه راووزي .
وجه : (١) په آيت کې دئ اَوجَآءَ اَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الغَائِطِ اَولٰمَستُمُ النِّسَآءَ فَلَم تَجِدُوا مَآءً فَتَيَمّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا (الف) (آيت ٦ سورة المائدة ٥) دګندګئ دکولوپه وجه د بَولُو اوګندګئ دلاري څخه بولي اوګندګي اونور هر څه شيئ چې راووزي دهغو څخه اودس ماتيږی،د آيت څخه دامعلوم شو (٢) په حديث کې دئ. عَن صَفوَانَ بِنِ عَسَالٍ قَالَ رَسُولُ الله (ﷺ) يَأمُرُنَا اِذَا كُنّا سَفرًا اَن لاَنَنزِعَ خِفَافَنَا ثَلاَثَةَ اَيّامٍ وَلَيَالِيهِنّ اِلاّ مِنَ جِنَابَةٍ وَلٰكِن مِن غَائِطٍ وَ بَولٍ وَ نَومٍ (ب) (ترمذي شريف،باب المسح علٰي الخفين للمسافر والمقيم ص٢٧ نمبر٩٦. نسائي شريف باب التوقيت في المسح على الخفين ص١٧ نمبر١٢٧) ګندګي، بولي، اوجنابت، دګندګئ اود بولو دلاري څخه راوزي.ځکه هرشيئ چې ددې دوو لارو څخه راوازي هغه ناقض وضوء دئ (٣) دغه دواړه ځايونه په خپله دنجاست ځايونه نه دي.نجاست خو د لوړه څخه راوښکيږی او دا قاعده ده چې نجاست دخپله ځائ څخه وښکيږي دجسم(بدن)ظاهري حصې ته راسي نو د هغه څخه اودس ماتيږي .
پام لرنه : دغه شيان د بَولُو د لاري څخه راوزي (١) بَولِي (٢) مَذِي (٣) وَدِي (٤) مَنِي

حاشيه : (الف) د تاسو څخه که څوک دګندګئ کولودځائ څخه راشي يا د ښځوسره نزدېکت وکړي او اُوبَه نه کړي پيدا نوپه پاکه خاوره دي تيمم وکړي (ب) حضور(ﷺ) مورِ ته حکم راکاوئ چي کله مورِ پر سفرباندي يو نوخپلي موزې دي تر درو ورځواودروشپو پوري نه کاړي .لېکن دجنابت په وجه به کښل ضروري وی . اودګندګئ،بولو،اوخوب څخه به مُوزې نه کښلې (خوبياهم اودس په ماتيږی) .

[٢١] وَ الدّمُ وَ القَيحُ وَ الصّدِيدُ اِذَا خَرَجَ مِنَ البَدَنِ فَتَجَاوَزَ اِلٰي مَوضِعٍ يَلحِقُهُ حُكمُ الطّهَارَةِ .

(٥) حيض (٦) نفاس (٧) استحاضه اودغه شيان دګندګئ(غُولُو) دلاري څخه راوزي (١) ګندګي (٢) هَوَا (٣) دګندګئ چنجي.ددې ټولوشيانود راوتلوڅخه اودس ماتيږي .

[٢١] وِينَه زَوِی اوزَوِي ګَډِي وَډِي چي کله دبدن څخه راووزي اودارنګه ځائ ته ورسيږي چي وهغه ته دپاکئ حکم لاحق وي (نواودس په ماتيږی)

تشريح : **مَوضِعٌ يَلحَقُهُ حُكمُ التَّطهِيرِ** دا د فقه يوه محاوره ده ددې مطلب دادئ چي وِينَه زَوِي اودغه رنګه نور شيان چي کله په بدن کي وي خواودس نه ماتوي .تر څو چي راوبهيږي اودبدن څخه دباندي نه راووزي اودارنګه ځائ ته رَا نَه شي چي هغه ځائ په آساني سره په لاس پرې مينځل کيدائي شي مثلا وِينَه په غورِ کي دننه نَرې شوې وي نو اودس نه ماتوي. لېکن دغورِ په سُوروِي(سُورَاخ)کي دباندي خواته زَوِي راوبهيږي چي په ګوته سره په آسانۍ باندي صفاکيدائي سي اوپرې مينځل کېدائي شي. نوبيا اودس په ماتيږی. په پَزَه خُولَه غُوَرِ شَرَمګاه کي دننه ناپاکي وي نو اَودَس نه ماتيږي، لېکن که ګندګي دباندي خوا ته رغله چي د هغه ځائ څخه په آساني سره صفاکېدلائي سي يا پرې مينځل کيدائي سي نو اُوس اَودَس په مات دئ. داځکه چي ناپاکي دارنګه ځائ ته راغلې ده چي دهغه مينځل په غُسل ياپه اَودَس کي فرض دئ. ودغه رنګه ځايوته **مَوضِعٌ يَلحَقُهُ حُكمُ التَّطهِيرِ** وائي.

اصول : که يوځائ زخمي شي اووِينَه صرف ښکاره سي دخپله ځائ څخه نه وښکېدل اونه وبيدل نو اَودَس نه په ماتيږي ځکه چي دوِينِي صرف ظُهُورشوئ دئ.وِينَه ترأُوس بيدلې نه ده بيدونکې وِينَه ناپاکه ده اواودس ماتوي.په قرآن مجيدکي دئ اَو دَمًا مّسفُوحًا اَو لَحمَ خِنزِيرٍ فَاِ نّهُ رِجسٌ (الف) (آيت ١٤٥سورة الانعام٦)

حاشيه : (الف) بيدونکي وينه اودخنزير غوښه خويقينا ناپاکه ده .

نوکه چيري پر زخم باندي وينه ښکاره سوې وي اودخپله ځائ څخه ښکېدلې نه وي نو اودس نه په ماتيږي لېکن که چيري وينه دومره بيدل چي دخپله ځائ څخه ښکېدل خودده دباربارصفاکولوپه وجه وينه نه وبيدل نو بياودس مات دئ. ځکه چي دغه وينه دبيدلواوښکېدلوقابل وينه وه .

پام لرنه : که چيري مسلسل وينه بيږي داودس کولواودلمونځ د ادآء کولو موقع نه ملاوږي يوه شپه اويوه ورځ په دغه رنګه تېره شي نو دا سړئ د معذور په حکم کي دئ. له دغه کبله دلمانځه په وخت کي د ويني دبيدلو څخه دده اودس نه ماتيږي ځکه چي دئ معذور شو ..... په وينه د اودس د ماتيدو

وجه : (۱) په حديث کي راغلي دي چي کله پزه ويني وکي نواودس وکئ اودلمانځه بناء وکئ عَن عَائِشَةَ (رضي الله عنها) قَالَت قَالَ رَسُولُ الله (ﷺ) مَن اَصَابَهُ قَيءٌ اَو رُعَافٌ اَو قَلسٌ اَو مَذِيٌ فَلْيَنصَرِف فَلْيَتَوَضّأ ثُمّ لِيَبنِي عَلٰي صَلٰوتِهِ وَهُوَ فِي ذَالِکَ لاَيَتَکَلّمُ (الف) (ابن ماجه شريف باب ماجاءفی البنآءعلی الصلوة ص۱۷۱حديث۱۲۲۱دارقطنی باب فی الوضوءمن الخارج من البدن ج اول ص۱٦۰حديث ٥٥٥) رُعَافٌ:- يعني ديزي رګ شلېدل او وِينَه بَيَدَل ددې څخه اودس ماتيږی ځکه دوباره دي اودس وکړي اودلمونځ بناء دي وکړي. خوپه داشرط چي په مينځ کې خبري نه وي کړي (۲) حديث کي دئ چي جَاءَت فَاطِمَةُ اِبنَةَ اَبِي حُبَيشٍ اِلٰي النّبِيّ (ﷺ) فَقَالَت يَا رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اِنّي اِمرَأ ةٌ اُستَحَاضُ فَلاَ اَطهَرُ اَفَأَدَعُ الصّلٰوةَ؟ فَقَالَ رَسُولُ الله(ﷺ) لاَ، اِنّمَا ذَالِکَ عَرَقٌ وَلَيسَ بِحَيضٍ فَاِذَا اَقبَلَت حَيضَتُکِ فَدَعِي الصّلٰوةَ وَ اِذَا اَدبَرَت فَاغسِلِي عَنکِ الدّمَ ثُمّ صَلّي وَقَالَ أبِي ثُمّ تَوَضّأي لِکُلّ صَلٰوةٍ (ب) (بخاری شريف،باب غسل الدم ص۳٦نمبر۲۲۸)

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل چی څوک قئ(باکی) ووهی يائي ديزی رګ وشليږی ياقئ ووهی يامذي راووزي هغه دي واپس ولاړشي اواودس دي وکړی بيادي پرخپل لمانځه بنآء وکړي.دا هغه وخت دئ چي په منځ کي خبره نه وي کړي(ب) فاطمة بنت جيش (رضي الله عنها) وحضور(ﷺ) ته وويل اې دخدای رسول (ﷺ) زه مستحاضه ښځه يم،اونه پاک کيږم نو آيا لمونځ پريږدم؟ حضور(ﷺ) ورته وفرمايل نه داصرف درګ وينه ده اوحيض نه دی.چی تالره حيض راسی نولمونځ پريږده چی کله حيض ختم سی نووينه پری مينځه اولمونځ وکه.زُومَا پلار وويل چی د هر لمانځه لپاره اَودَس کوه .

پام لرنه : د عَرق څخه مراد د رګ څخه راوتونکې وينه ده، دا د نورو وينو د حکم په شان حکم لری، دحيض د وِينِي حکم يې نه دئ .

(۳) قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَلوُضُوءُ مِن کُلّ دَمٍ سَائِلٍ (الف) (دارقطنی،باب فی الوضوءمن الخارج من البدن ص ۱٦۳نمبر ۵۷۱)

پام لرنه : زَوِي، او ويني زوي ګډي وډي، هم د ويني قسمونه دي اودويني څخه جوړيږي نوځکه دهغو د راوتلوڅخه هم اودس ماتيږي .

فائده : د امام شافعي او امام مالک په نېز وِينِي او زَوِي چي دبدن څخه راووزي نواودس نه په ماتيږی. دلائل (۱) په غزوۀ ذاتِ رُقَاع کې حضرت عبادة بن بشرτ په غشي ووشتئ هغه لمونځ کاوئ او وِينِي ځني بيدلې ددې څخه دامعلوم شو چي د وِينِي دبيدلوڅخه اودس نه ماتيږی .که نه نوبيابه هغه لمونځ مات کړئ (سلام په ګرزولئ يا پرې ايښئ) وائي په روايت کي دئ چي حَتّي رَمَاهُ بِثَلٰثَةِ اَسهُمٍ ثُمّ رَکَعَ وَسَجَدَ (ابوداؤد شريف باب الوضوء من الدم ص ۲۹نمبر۱۹۸) ددې جواب دادئ چي دا د صحابي خپل فعل دئ حضور(ﷺ) په دې نه وخبر (۲) دامامِ شافعي په مذهب کي وينه پربدن ولګيږي اودس په ماتيږي

نوچي کله وبيږي خوحتمًا به پربدن لګيږي چي دهغه لکبله دده (امام شافعي) په نبز هم ددې فعل څخه اودس ماتيږي، دده دوهم استدلال دادئ چي صحابه په جهاد کي زخمي کېدل اوهغو لمنځونه کول.ددې څخه دا معلوم شو چي وينه ناقض الوضوء نه ده. پوره تفصيل يې په (بخاري باب من لم يرالوضوء اِلأمن المخرجين من القبل والدبرص ٢٩ –١٧٦-١٨٠) کي وګورئ.مورِ دا جواب ورکوو چي ياخو دمُسَلسَل وينى بيدلو لکبله دا کسان د معذورين په حکم کي وه يا وِينَه صرف پر زخم باندي ښکاره کېدل بيدل نه. او د وينى په ښکاره کېدوباندي زمورِ په نبز هم اَودَس نه ماتيږي لکه څرنګه چي ذکر سو .

لغت : اَلقَيحُ : زَوِي ، اَلصّدِيدُ : ويني زوي ګډي وډي ، دارنګه زوي چي د وِينِي آميزش پکښي وي. تَجَاوَزَ : وبيږي،وښکيږي .

حاشيه : (الف) د هر بيدونکي وِينِي څخه اَودَس لازميږي .

[٢٢] وَالقَيئُ اِذَا كَانَ مِلأ الفَمِ .

[٢٢] او قئ (باکئ) چي کله خوله ډکه وي(نو اَودَس په ماتيږي)

وجه : (١) کُوم قئ چي په ډکه خوله سره وي هغه دنس دلاندي حصې(برخي)څخه راځي چي هلته د غِذَاء څخه نجاست جوړسوئ وي .او د نجاست راوتل ناقض وضوء دي په دغه وجه ددِکي خولې د قئ څخه اودس ماتيږي .اوکُوم قئ چي په ډکه خوله سره نه وي هغه دنس دلوړي حصې(برخي)څخه راوزي چي هلته لاتر اُوسَ غِذَاء نجاست نه وي جوړسوئ نو ځکه هغه (قئ)پاک دئ په دغه وجه چي قئ په ډکه خوله نه وي نواودس نه په ماتيږي (٢) په بعض حديثوکي دئ چي اودس ماتيږي اودبعض حديثوڅخه دامعلوميږي چي حضور(ﷺ) قئ وکړئ اوادس يې نه وکړئ . نو دا حديثونه به پردې حمل کو چي په کوم کې اودس وکړئ هلته قئ په ډکه خوله سره و.اوپه کوم کې چي اودس نه وکړئ هلته قئ په ډکه خوله نه و (٣) په حديث کي دئ عَن اَبِي دَردَاءَ (ﷺ) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَاءَ فَتَوَضّأ فَلَقِيتُ ثَوبَانَ فِي مَسجِدِ دَمِشقَ فَذَكَرتُ ذَالِكَ لَهُ فَقَالَ صَدَقَ أ نَاصَبَبتُ لَهُ وَضُونَهُ (الف) (ترمذي شريف،باب الوضوء من القئ والرعاف ص٢٥نمبر٨٧) (٤) په مسئله نمبر٢١ کي د ابن ماجه په حواله حديث تير سو چي په قئ (باکى)باندي اَودَس ماتيږي .ددې حديث څخه معلوم سو چي په قئ سره اودس ماتيږي .

فائده : امامِ شافعي او امامِ مالک فرمائي چي په قئ (باکى)باندي اودس نه ماتيږي ځکه چي حضور(ﷺ) قئ وکړئ او اودس يې ونه کړئ ددې دليل دغه اَثَر دئ عَنِ الحَسَنِ قَالَ لَيسَ فِي القَلسِ وُضُوءٌ (مصنف عبدالرزاق باب الوضوء من القئ والقلس ج اول ص ١٣٨نمبر٥٢٣) مورِ دا جواب ورکوچي دا امکان لري چي هغه قئ په ډکه خوله

حاشيه : (الف) حضور(ﷺ) قئ وکړئ بيايي اودس وکړئ .ما د ثوبان سره د دَمِشق په مسجد کی ملاقات وکړئ اود اودس تذکره مووکړه نوده راته وفرمايل دا رشتياخبره ده ما دحضور(ﷺ) د اَودَس اوبه بَيَوَلي وي (يعنی د اودس اوبه ماورتولي... قطب ...)

[۲۳] وَالنّومُ مُضطَجِعًا اَو مُتّكِأ اَو مُستَنِدًا اِلْي شَيئٍ لَو اُزِيلَ لَسَقَطَ عَنهُ وَ الغَلَبَةُ عَلْي العَقلِ بِالإِغمَآءِ وَ الجُنُونِ .

سره نه وي.ياپه ډکه خوله سره خووي لېکن سم دستي يې اودس نه وي کړئ وروسته بياکړئ وي .که څه هم اودس مات سوئ وي .

پام لرنه : که د بلغم(ګروړبی) يادغه رنګه بل شي قئ وي نو اَودَس نه په ماتيږي (۱) ځکه چي پرهربلغم باندي نجاست نه وي اوهغه خودنَس دلاندي حصي څخه راځي (۲) په حديث کي دئ عَن عَمّارَ بنِ يَاسِرَ (ﷺ) قَالَ يَاعَمّارُ! مَا نُخَامَتُکَ وَ دُمُوعِ عَينَيکَ وَالمَاءُ الّذِي فِي رَکوَتِکَ اِلاّ سَوَآ ءً (دارقطنی باب نجاسة البول والأمربالتنزه منه الخ ج اوّل،ص۱۳٤نمبر٤٥۲) په دې حديث کي دئ چي بلغم دمنګي د اُوبُو په شان پاک دي .

[۲۳] او بيدبدل پر اَرَخ باندي يادځنګ لګولوپه حال کي ياويوشي ته دتکيه کولو په صورت کي .که چيري هغه ليري کړل شي نوانسان رايله سي.اودعقل مغلوب کېدل دبې هوښۍ په وجه اودلېونتوب په وجه (ددې شيانوځخه اودس ماتيږي)

وجه : (۱) اصله خبره داده چی په ټينګ خوب(خواږه خوب)ياپاګل توب(لېونتوب) سره عقل زائليږي. بيادا نه معلوميږي چي په دې حال کي هوا ووتل او که نه، نو ځکه د عقل د زائلېدو سره سم دستي به د هوا وتلو او د اودس ماتېدلو حکم لګول کيږي.ودغه ته اِستِرخَآءِ مَفَاصِل ويل کيږي يعني ټول رګونه سُست سو،لېکن که چيري خوب ښه ټينګ نه وي.يوځه هوش وحواس باقي پاته وي لکه يوځوک چي دسجدې په حالت کي يادقيام (ولاړي) يا په ناسته ناسته بيده شي.نو اُوس ديوځه هوښ اوحواس باقی پاته کېدولکبله د اَودَس دماتېدو او د هَوَا وتلوحکم نه لګول کيږي پر اړخ بيدبدو ياتکيه کولو،ياځنګ لګولو په حالت کي دخوب څخه عقل زائليږي اوخوب ښه ټينګ (کلک اوخوږ)وي خوصرف لدې وجه نه يله کيږي چي

[۲۴] وَ القَهقَهَةُ فِي کُلّ صَلوةٍ ذَاتِ رُکُوعٍ وَ سُجُودٍ .

هغه تکيه اوځنګ ديله کېدوځخه راګرزولئ وي. نوځکه اودس په ماتيږي (۲) په حديث کي دواړه رنګه ثبوتونه شته عَن عَلِيّ بنِ اَبِي طَالِبَ (ﷺ) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) وِکَاءُ السّهِ اَلعَينَانِ فَمَن نَامَ فَلْيَتَوَضّأ (الف) (ابوداؤد باب في الوضوء من النوم ص۳۰ نمبر۲۰۳) (۳) قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَنّ الوُضُوءَ لاَيَجِبُ الاَعلْي مَن نَامَ مُضطَجِعًا فَاِنّهُ اِذَا اِضطَجَعَ اِستَرخَت مَفَاصِلُهُ (ب) (ترمذی شريف باب الوضوء من النوم ص ۲٤نمبر۷۷) ددې حديثونوځخه دا معلومه سوه چي په ښه ټينګ (کلک) خوب سره اَودَس ماتيږي که سپک (نرم)خوب وي نو اَودَس نه په ماتيږي ددې دليل دغه حديث دئ عَن اَنَسٍ(ﷺ)

قَالَ كَانَ اَصحَابُ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) يَنتَظِرُونَ العِشَاءَالآخِرَةَ حَتّٰي تَخَفّقَ رُ نُوسَهُم ثُمّ يُصَلّونَ وَلاَيَتَوَضّأونَ (ج) (ابوداؤد شريف باب فِي الوضوءمن النوم ص٣٠،نمبر٢٠٠/ترمذي شريف باب الوضوء من النوم نمبر٧٨) ددې څخه دامعلوم سوه چې په ناسته يا دركوع يا د سجدې په حالت کې که څوک بيده سي چې ښه کلک خوب نه وي نو اَودَس نه په ماتيږي .

پام لرنه : په بې هوښئ اوپاکل توب کې عقل زائل کيږي نولدې کبله اودس ماتيږي .

اصول : د عقل د زوال څخه اَودَس ماتيږي .

لغت : اِضطَجَعَ : پراړخ بيدبدل پر څنګ بيدبدل. اَلاِغمَاءُ: بې هوښي. اَلجُنُونُ : پاکل توب ؟

[٢٤] په زور سره خندل دركوع اوسجدې په لمانځه کې (ددې څخه اَودَس ماتيږي)

حاشيه : (الف) هوا منع کونکئ شيئ سترګې دي (يعني وښي اوبيداره سترګې) نوچې څوک بيده شي هغه ته پکاردئ چې اَودَس وکړي (ب) حضور(ﷺ) وفرمايل چې اَودَس نه دئ واجب لېکن پرهغه باندي چې پر اړخ بيده سي(يعني واجب دئ)ځکه چې کله پر اړخ بيده سي نو دده جوړونه سُستيږي (نو هَوَا وتل شروع سي) (ج) صحابۀ کرامو د ماخستن انتظار کاوئ آن تردې چې دخوب څخه به جټکي خوړلي .بيابه لمونځ کاوئ او اَودَس يې نه کاوئ .

تشريح : دركوع اوسجدې والا لمانځه قيديې ځکه ولګاوئ چې که چيرې د جنازې په لمانځه کې په زور سره وخندل نو اَودَس نه په ماتيږي صرف لمونځ ماتيږي(ختميږي) .

پام لرنه : په زور سره خندا باندي دبدن څخه يونجاست (ګندګي)نه را وزي . نوځکه دقياس (عقل) تقاضاء خوداده چې اودس نسي مَات.لدې کبله د اکثرو اِمَامَانُوپه نېز په قهقه سره اودس نه ماتيږي لېکن دضعيف حديث څخه داودس ماتېدل ثابت دي .نوځکه امام ابو حنيفه پرضعيف حديث باندي هم عمل وکړئ او د اودس دماتېدوقائل سو .

وجه : په حديث کې دئ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) كَانَ يُصَلّي بِالنّاسِ فَدَخَل اَعمْي فَتَرَدّٰي فِي بِئرٍ كَانَت فِي المَسجِدِ فَضَحِكَ طَوَائِفُ مَن كَانَ خَلفَ النّبِيّ (ﷺ) فِي صَلَوَاتِهِم فَلَمّا سَلّمَ النّبِيّ (ﷺ) أمَرَ مَن كَانَ ضَحِكَ اَن يُعِيدَ وُضُوئَهُ وَيُعِيدَ صَلَوَاتَهُ (الف) (سنن البيهقى،باب ترک الوضوء من القهقهة فى الصلوٰة ج اول ص٢٢٧،نمبر٦٨٠ /دارقطنى باب احاديث القهقة ص ١٧٥نمبر٦١٤) ددې حديث څخه دا ثابت شوچې په زور خندلوڅخه لمونځ خوماتيږي چې ماتيږي، لېکن اودس لاهم ماتيږي .

پام لرنه : په سوکه خنداسره صرف لمونځ ماتيږي (ختميږي) اوپه تَبَسُم سره هيڅ شئ نه ماتيږي .

فائده : په خندای قَهقَهه سره اودس ماتېدل خوخلافِ قياس دئ نولدې کبله دبعضونورو اِمَامَانُو په نېز ددې څخه اودس نه ماتيږي .

وجه : عَن جَابِرَ قَالَ يُعِيدُ الصّلْوةَ وَلاَيُعِيدُ الوُضُوءَ (سنن للبيهقي،باب ترک الوضوءمن القهقهة في الصلٰوةج اول،ص ٢٢٥،نمبر٢٧٤) په صحاحِ سته و کې دقهقهې حديث نسته .

حاشيه : (الف) حضور(ﷺ)وصحابه وته لمونځ وركاوئ يونَاپِيئَاومسجدته داخل سو چي دمسجد په څَاه کی يله سو.نودصحابه وځه کسانو وخندل چي دحضور(ﷺ)په اقتداءکي لمونځ کاوئ.چي کله حضورسَلاَم په وګرزاوئ نويي حکم وکړئ چي کوم چاخندلي دي هغه دي اَودَس راوګرزوي اولمونځ دي راوګرزوي .
پام لرنه:په قهقهه سره دلمونځ دماتېدوپه سلسله کياِمام ابوحنيفه قياس پرې ايښئ دئ پرضعيف حديث يې عمل کړئ دئ.اوپراحتياط يې عمل کړئ دئ.دحضرت دا کمال تِقوىٰ ده.خدا رحمت کند اين عاشقان پاک طينت را .

[٢٥] وَفَرضُ الغُسلِ اَلمَضمَضَةُ وَالاَستِنشَاقُ وَغَسلُ سَائِرِ البَدَنِ .

لغت: اَلقَهقَهةُ : دارنګه خنداچي پرځنګ ولاړ يا ناست سړئ يې واؤري. ضِحکٌ: دا رنګه خندا چي سړئ يي په خپله واوري، تَبَسّمٌ : دارنګه مَسبِدَل چي نه يي پرځنګ ځوک واؤري نه دهغه آواز دئ په خپله واؤري .
خلاصه : اَودَس ماتونکي شيان پرپنځه قسم دي (١) د سَبِيلَينُ ځخه ځه شيئ راووزي (٢) دبدن ديوې برخي ځخه نجاست راووزي (٣) دخولې ځخه باکئ راووزی (٤) عقل زائل شي (٥) په زوره قهقهه سره وخاندي .

﴿... د غُسل د فَرَائِضُ بيان ...﴾

[٢٥]دغسل فرض (١) په خوله اوبه ګرزول دي (٢) په پزه اوبه ګرزول دي (٣) ټول بدن پرې مينځل دئ .
وجه : (١) اصل خو وټول بدن ته اُوبَه رسول دي چي ديوه بېښته برابر ځائ وَچ نسي پاته اودخولې اوپزي داخلي حصې(برخي) هم دبدن ښکاره برخه شمارل کيږی،نوځکه په خوله اوپزه اوبه ګرزول اوهلته اوبه رسول ضروري دي (٢) په آيت کي ارشاددئ وَ اِن کُنتُم جُنُبًا فَاطّهّرُوا (آيت ٦سورة مائده٥) چي دجنابت په حال کي ښه پاکي حاصلوئ اودا هغه وخت وي چي په خوله اوپزه کي اُوبَه واچول سي اووهرځائ ته ورسيږي .نولدې کبله په خوله اوپه پزه کي اُوبَه اچول په غسل کي فرض دي (٣) په حديث کي دئ عَن عَلِيٍّ (ﷺ) قَالَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ مَن تَرَکَ مَوضِعَ شَعرِهِ مِن جَنَابَةٍ لَم يَغسِلهَا فُعِلَ بِهَا کَذَا کَذَا مِنَ النّارِ (الف) (ابوداؤد شريف،باب في الغسل من الجنابة ص٣٨،نمبر٢٤٩) ددې ځخه دامعلوم شو چی که ديوه بېښته برابر ځائ وَچ پاته سو نو غسل نسو صحيح .نوپه دغه وجه په خوله او پزه

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل ګوم چاچي ديوه بيښته برابرځائ دجنابت ځخه پربښوئ اونه پري مينځئ نودده سره به په اورباندي دارنګه کيږي .يعنی عذاب به ورکول کيږي .

[٢٦] وَ سُنّةُ الغُسلِ اَن يَبدَأَ المُغتَسِلُ فَيَغسِلُ يَدَيهِ وَفَرجَهُ وَيَزِيلُ النّجَاسَةَ اِن کَانَت عَلَي بَدَنِهِ ثُمّ يَتَوَضّأُ وُضُوئَهُ لِلصّلٰوةِ اِلاّ رِجلَيهِ ثُمّ يُفِيضُ المَآ ءَ عَلٰي رَأسِهِ وَعَلٰي سَائِرِ بَدَنِهِ ثَلاَ ثًا ثُمّ يَتَنَحّي عَن ذَالِكَ المَکَانِ فَيَغسِلُ رِجلَيهِ .

اُوبَه ګرزول ضروری دي (٤) عَن اَبِي هُرَيرَةَ (ﷺ) اَنّ النّبِيّ (ﷺ) جَعَلَ المَضمَضَةَ وَالإستِنشَاقَ لِلجُنُبِ ثَلاَثاً فَرِيضَةً (الف) (سنن دارقطني،باب ماروي في المضمضة والاستنشاق في غسل الجنابة ج اوّل ص١٢١نمبر٤٠٣)

فائده : د امام شافعي په نېز په خوله اوپزه اوبه ګرزول سنت دي .ځکه چې دحديثو څخه دا معلوميږي چې حضور (ﷺ) په غُسل کي اَودَس کاوئ. اوپه اَودَس کي مضمضه اواستنشاق سُنّت دئ نو ځکه په غسل کي به هم سُنّت وي. په دارقطني کي يوبل حديث دئ سَنّ رَسُولُ الله (ﷺ) اَلإستِنشَاقَ فِي الجَنَابَةِ ثَلاَثاً (ب) (ج اول ص١٢١،نمبر٤٠١) ددې څخه دئ سُنّتيّت ثابت وي.د امامِ مالک په نېز مضمضة او استنشاق په غسل کي هم فرض دي .

﴿... د غُسل د سُنّتُو بيان ...﴾

[٢٦] دغسل سنتونه دادي (١) غسل کونکئ دي اَوّل خپل دواړه لاسونه پرې مينځي (٢) اوخپله شرمګاه دي پرې مينځي (٣) که نجاست پربدن باندي وي هغه دي زائل کړي (٤) بيادي دلمانځه د اَودَس په شان اودس وکي لېکن پښې دي نه مينځي (٥) بيادي پرخپل سرباندي اوبه توئي کړي (٦) او پر ټول بدن دي دري واره اوبه توئي کړي (٧) بيادي دهغه ځائ څخه ليرې شي (٨) بيادي دواړي پښې پرې مينځي .

حاشيه : (الف) حضور(ﷺ) مضمضه اواستنشاق دجنب دپاره دري واره فرض کړل (ب) حضور(ﷺ) په جنابت کی دري واره استنشاق سنت ګرزول دئ .

[٢٧] وَلَيسَ عَلَي المَرَاَةِ اَن تَنقُضَ ضَفَائِرَهَافِي الغُسلِ اِذَا بَلَغَ المَآ ءُ اُصُولَ الشّعرِ .

وجه : دغه اته کارونه په دغه ترتيب سره سُنّت دي .اوّل دي پښې ځکه نه مينځي چې دغسل اُوبَه دپښوپه ځائ کي جمع وي اوپښې به ناپاکي کړي .نولدې وجي دې په آخر کي پريمينځي،که چيرې دپښوسره اُوبَه نه جمع کېدې نوبې مخ کي هم مينځلائي شي.په حديث کي په دغه ترتيب سره ددې سنتوذکرراغلئ دئ عَن عَائِشَةَرضی الله عنها قَالَت کَانَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِذَا اِغتَسَلَ مِنَ الجَنَابَةِ يَبدَأ فَيَغسِلُ يَدَيهِ ثُمّ يُفرِغُ بِيَمِينِهِ عَلْي شِمَالِهِ فَيَغسِلُ فَرجَهُ ثُمّ يَتَوَضّأ وُضُوئَهُ لِلصّلْوةِ ثُمّ يَأخُذُالمَآ ءَ فَيَدخُلَ اَصَابِعَهُ فِي اُصُولِ الشّعرِ حَتّي اِذَا رَأيْ اَن قَد اِستَبرَأ حَفَن عَلْي رَأسِهِ ثَلاَثَ حَفَنَاتٍ ثُمّ اَفَاضَ عَلْي سَائِرِ جَسَدِهِ ثُمّ غَسَلَ رِجلَيهِ (الف) (مسلم شريف باب صفة غسل الجنابة ص ١٤٧نمبر٣١٦ /بخاري شريف.باب الغسل مرة واحدة ص ٣٩،نمبر٢٥٧) په دې حديث باندی په ترتيب سره سُنّتُونَه ثابت شوي دي .

پام لرنه : نجاست دي اول په دې وجه زائل (ليري)کړي چې ځله خور نشي اوبدن نور ناپاک نه کړي لدې کبله دغسل په شروع کي نجاست صفاکول ضروري دئ که چيرې پر بدن باندي نجاست وي .

لغت : فَرجٌ : شرمګاه (عورت) يُفِيضُ : پربدن دي اوبه توئ کړي. يَتَنَحَّي: د نَحْي څخه مشتق دئ،پريوسائيډکېدل ، ليري کېدل .
[۲۷] پرښځه باندي لازم نَه دئ چي په غُسل کي خپل چُوټۍ (پښتئ) خلاصِ کړي که چيري اُوبَه دبېښتانو وبېخوته ورسيږي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) چې به دجنابت غسل کاوئ نواوّل به دواړه لاسُونَه مينځل .بيابه دښي لاس څخه پرکنِ لاس اُوبَه تويولي اوشرمګاه به يې مينځل بيابه دلمانځه په شان اودس کاوئ .بيابه اُوبَه اخستلي اودګتوپه ذريعه به دبېښتانووبېخوته داخلولي تردي چي معلوم به کړل چي اوس نو (بېښتان) ناؤده سو. نوبه دري لَړي اوبه پر سَر اچولي بيابه پرټول بدن اوبه اچولي، بيابه دواړي پښې مينځلي .
وجه : (۱) دقاعدې دلحاظ څخه دجنابت،حيض اونفاس په غسل کي د بېښتانُ وبېخوته اُوبَه رسول بايد ضروري سي .په دغه وجه که د نَر چوټۍ(پښتئ)وې نو هغه خلاصول اودبېښتانووبېخوته اُوبَه رسول ضروري دي لېکن وښځه ته دډېروار خلاصېدو.دپريشانئ لکبله خصوصي رعايت ورکړئ دئ که چيري د سَر د ټولو بېښتانووبېخوته اُوبَه ورسيږي نوچوټۍ(پښتئ) خلاصول ضروري نه دي (۲) په حديث کي دئ چي دښځو چوټۍ خلاصول ضروري نه دئ که چيري دبېښتانووبېخوته اُوبَه رسېدې. عَن اُمِّ سَلَمَةَ (رضی الله عنها) قَالَت قُلتُ يَارَسُولَ اللهِ (ﷺ) اِنِّي اِمرَأ ةٌ اَشُدّ ضَفرَ رَأسِي أ فَأنقُضُهُ لِغُسلِ الجَنَابَةِ؟ قَالَ لاَ.اِنّمَا يَکفِيکِ اَن تَحثِّي عَلَي رَأسِکِ ثَلاَثَ حَثَيَاتٍ ثُمّ تُفِيضِينِ عَلَيکِ المَآ ءَ فَتَطهُرِينِ (الف) (مسلم شريف باب حكم ضفائر المغتسلة ص۱٤۹،نمبر۳۳۰/ابوداؤد شريف،باب المرأة هل تنقض شعرها عند الغسل ص۲۵۲) ددې حديث څخه څلورحديث وروسته بيادحضرت عائشه (رضی الله عنها) حديث دئ. په هغه کي دا لفظ دئ ثُمّ تَصُبّ عَلَي رَأسِهَا فَتَدلُکِهِ دَلکًا شَدِيداً حَتّي تَبلُغَ شُؤُنَ رَأسِهَا (ب) (مسلم شريف باب استعمال المغتسلة من الحيض فرصة من مسک فِي موضع الدم ص ۱۵۰،نمبر۳۳۲) ددې حديث څخه ثابت سو چي اُوبَه د بېښتانو و بېخوته ورسول ضروري دئ هغه وخت بياغسل صحيح کيږي که چيري چوټۍ نه کړئ خلاص او اُوبَه يې وبېخوته نه ورسولې نودښځو غسل نسو صحيح .
فائده : دبعضو امامانوپه نېز دبېښتانو وبېخوته اُوبَه رسول ضروري نه دي، دهغو استدلال دحديث نمبر ۳۳۰ څخه دئ .
لغت : نَقَضَ : د نَقضٌ څخه جوړ دئ معني خلاصول . ضَفَائِرَ : د ضَفِيرَةٌ جمع ده . پښتئ(چوټۍ)

حاشيه : (الف) حضرت اُمّ سلمه (رضی الله عنها) فرمائي چي ماوويل ائ دخدائ رسول (ﷺ) زه ښځه يم پر سر باندي چوټۍ (بېښتان) و تړم آيادغه(چوټۍ) دجنابت دغسل دپاره خلاص کړم ؟ حضور(ﷺ) وفرمايل نه ، ستالپاره دا کفايت کوي چي پرخپل سرباندي دري لَړي (اُوبَه) واچوې بياپرخان باندي اُوبَه واچوه اوپاک سه (ب) بياپرخپل سرباندي اُوبَه واچوه اوښه يې ومُوړَه آن تردې چي د سر وچوټۍ ته ورسيږي .

[٢٨] وَالمَعَانِيُ المُوجِبَةِ لِلغُسلِ اِنزَالُ المَنِيِّ عَلْي وَجهِ الدّفَقِ وَالشّهوَةِ مِنَ الرّجُلِ وَالمَرأةِ .

﴿... هغه اَسبَاب چي غُسل واجبوي ...﴾

[٢٨] غُسل واجب كونكي شيان (١) د مَنِي راوتل په توپ سره اوپه شهوت سره د نَر او د ښځي څخه .

وجه : (١) مني كه په توپ اوشهوت سره راووزي نوغسل واجبوي .لېكن كه دشهوت بغيره راووزي لكه د جريان په ناجوړي كي چي راوزي نو بياغسل نه واجبيږي صرف اودس ماتوي (٢) په حديث كي ودې ته اشاره سوې ده عَن عَلِيٍّ قَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَ تَفعَل اِذَا رَأيتَ المَذِيّ فَاغسِل ذَكَرَكَ وَتَوَضّأ وَضُوئَكَ لِلصّلْوةِ فَاِذَا فَضَخَتِ المَآ ءُ فَاغسِل (الف) (ابوداؤد شريف باب في المذي ص٣١نمبر٢٠٦) په مسند احمد كي دارنګه عبارت دئ اِذَا حَذَفَت فَاغتَسِل مِنَ الجَنَابِةِ وَ اِذَا لَم تَكُن حَاذِفًا فَلاَ تَغتَسِل (ب) (مسند احمد علي بن ابي طالب ج اول ص ١٧٣نمبر٨٤٩) د حَذَفَت او فَضَحَت معنىٰ ده چي مِنِي په توپ سره راووزي نو غسل وكه .او دا توپ په هغه وخت كي وي چي په شهوت سره راووزي (٣) په مذي او وَدِي كي هم يو حصه د مِنِي موجودوي .لېكن خو په توپ سره نه راوزي نولدې كبله په دي كي غسل نه لازميږي،دغه رنګه كه مني دناجوړئ لكبله د اُوبُوپه شان نري سي اود راوتلو په وخت كي نه لَذّت (خوند) اونه توپ وهل وي نوښكاره خبره ده چي په دي كي بيا د منئ خاصيت نسو پاته نو بياپه دي كي هم غسل نه واجبيږي .

فائده : امام شافعي فرمائي چي كه مَنِي بغير د لَذّت (شهوت اوخوند) او بغير توپ وهلو راووزي نو هم غسل واجب دئ .

حاشيه : (الف) وحضرت علي (رضي الله عنه) ته حضور (ﷺ) وفرمايل دارنګه مه كوه،كه دي چيري مَذِي وليدل نو خپل مخصوص اندام پري مينځه .اودلمانځه د اَودَس په شان اَودَس وكه بياكه اُوبَه په توپ سره راووزي نو اَودَس وكړه (ب) كه اُوبَه په توپ سره راووزي نودجنابت غسل وكه،اوكه په توپ سره نه راووزي نوغُسل مه كوه .

[٢٩] وَ اِلتِقَآ ءُ الخَتَانَينِ مِن غَيرِ اِنزَالِ المَنِيِّ .

وجه : دئ فرمائي چي په عاموحديثوكي دتوپ وهلو او په شهوت سره راوتلو قيد نسته.لكه داحديث. اِنّمَا المَآ ءُ مِنَ المَآ ءِ (الف) (مسلم شريف باب بيان ان الجماع كان فى اول الاسلام يوجب الغسل ص١٥٥نمبر٣٤٣) نوځكه كه دشهوت بغيره مَنِي راووزي هم غُسل واجبوي .

پام لرنه : كه دښځي مَنِي راووزي نو پرهغه باندي هم غسل لازميږي. په حديث كي دئ.عَن اُمِّ سَلمَةَ (رضي الله عنها) ... فَهَل عَلْي المَرأةِ مِن غُسلٍ اِذَا اِحتَلَمَت؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ)

نَعَم اِذَا رَأتِ المَآ ءَ (يَعنِي اَلمَنِيّ) (ب) (مسلم شريف باب وجوب الغسل علْي المرأة بخروج المني منها ص ١٤٥نمبر٣١٣)
فائده : د امام ابوحنيفة او امام محمد په نبز مَنِي دخپل مقام څخه د جلا کېدو پر محال که شهوت نه و نوغسل نه واجبوي،او د امام ابويوسف په نبز که مَنِي دخپل ځائ څخه د جلا کېدو پر وخت او د راوتلو په وخت کي هم شهوت نه و نوغسل نه واجبوي .
[٢٩] د نراودښځي دشرمګاه دملاؤېدوڅخه دمنئ د انزال بغير .
تشريح : دښځي په داخل فرج کي يوه پَردَه وي عربوقومونو کي دهغه خَتنَه کېدله(پرې کوله)دغه دښځي دختنې ځائ دئ .ودغه ځائ ته دنردختنې ځائ يعنى حَشفَه داخله سي نو غسل واجبيږي .که دمنئ انزال نسي وه هم .
وجه : (١) ددغه ځائ دپټېدولکبله دا نه معلوميږي چي مني ووتل که نه .نوځکه سبب د انزال يې د انزال قائم مقام کړئ چي غسل واجب دئ (٢) په حديث کي دئ چي د اسلام په شروع زمانه کي داو چي ترڅومني نه راووزي نوغسل نه واجبېدئ .

حاشيه : (الف) که مَنِي راووزي نو غسل واجب دئ (ب) د اُمّ سلمة رضى الله عنها څخه روايت دئ چي د حضور (ﷺ) څخه پوښتنه وسوه چي آيا پرښځه باندي غسل لازم دئ چي کله احتلام سي؟ حضور (ﷺ) ورته وفرمايل هو ! چي کله مَنِي وويني .

[٣٠] وَالحِيضُ وَالنِّفَاسُ .

او دا حديث مشهورُ چي اَلمَاءُ مِنَ المَآءِ (مسلم شريف،باب بيان ان الجماع كان في اول الاسلام لايوجب الغسل الاان ينزل المنى وبيان نسخه وان الغسل يجب بالجماع ص١٥٥نمبر٣٤٣) لېکن وروسته بيا دا حکم منسوخ سو. او پر دې باندي اجماع وسوه چي صرف دجماع کولو څخه غسل واجبيږي که څه هم دمَنَئ خروج نه وي سوئ. په دغه لوړ باب کي داحديث هم سته. عَن عَائِشَةَ (رضی اللہ عنہا) قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِذَا جَلَسَ بَينَ شَعَبِهَا الاَربَعِ وَ مَسّ الخَتَانَ فَقَد وَجَبَ الغُسلُ (الف) (مسلم شريف،باب بيان ان الجماع الخ ص١٥٦،نمبر٣٤٩) ددې حديث څخه معلوم سوچي صرف حَشفَه پَټَه شي نوغسل واجب دئ که انزال نه وي شوئ هم .
[٣٠] دحيض اونفاس څخه غسل واجبيږي .
وجه : (١) په آيت کي دئ چې حائضه ښځه پاکه سي نوبياددې سره وطي وکړئ اوپه غسل سره ښَه پاکيږى. يَسئَلُونَکَ عَنِ المَحِيضِ قُل هُوَ اَذًي فَاعتَزِلُوا النِّسَآ ءَ فِي المَحِيضِ وَلاَتَقرَبُوهُنّ حَتّٰي يَطهُرنَ فَاِذَا تَطَهّرنَ فَاتُوهُنّ مِن حَيثُ اَمَرَکُمُ اللهُ (ب) (آيت ٢٢٢،سورةالبقره٢) په آيت کي ودې ته اشاره ده چي کله حائضه غُسل وکړي نوبياچِمَاع ورسره وکئ (٢) په يوه حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ (رضی اللہ عنہا) اَنّ اِمرَأ ةً سَأ لَتِ النّبِيّ (ﷺ) عَن غُسلِهَا مِنَ الحَيضِ؟ فَأمَرَهَا کَيفَ تَغتَسِلُ قَالَ خُذِى فُرصَةً مِن مِسکٍ فَتَطَهّرِي بِهَا الخ (ج) (بخاري شريف،باب دلک المرأة نفسهااذا تطهرت من الحيض

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل چي كله نردښځي پرځلوروشعبو(شرمګاه) باندي کښيني اوخَتنَه دښځي دفرجِ داخل سره ملاؤ شي نو غسل واجب دئ (ب) خلګ دتاځخه دحيض په اړه پوښتنه کوي ته ورته وفرمايه چي داګنده شيئ دئ(يادتکليف شيئ دئ)نودحيض په دوران کي دښځوځخه جلا اُوسيږئ او و دُوئي ته مَه ورنزدې کيږئ ترڅوچي دوئي پاکِ شوي نه وي نوبياچي کله ښي صفاسي بيا په هغه مقام(ځائ)کي جماع کوئ چيري چي الله Ψ حکم درکړئ دئ (ج) يوې ښځي د حضور (ﷺ) ځخه د حيض په لړ کي د غُسل په اړه سَوَال (پوښتنه) وکړه نووهغه ته حکم وکړئ چي دا غسل څرنګه وکړی؟ وفرمايل چي د مُشکو يوه توټه واخله او په هغه باندي پاکي حاصله کړه .

[٣١] وَسَنّ رَسُولُ اللهِ صَلّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلّمَ اَلغُسلَ لِلجُمعَةِ وَالعِيدَينِ وَالإِحرَامِ وَعَرَفَةَ .

ص ٤٥نمبر٣١٤/مسلم شريف،باب استحباب استعمال المغتسلة من الحيض فرصة من مسک،ص ٣٣٢) ددې حديث ځخه معلوم سوچي پرحائضه باندي غسل فرض دئ .

نِفَاس : هم دحيض په درجه کي دئ،نوځکه دحيض په ټولودلائلوسره به پـه نِفَـاس کـي هم غسل کول لازم شي (١) خو يوحديث مُستَدرَکِ حَاکِم ذکرکړئ دئ چي پـه کَنزُالعُمّـال کي دئ عَـن مَعَـاذٍ (ﷺ) عَـنِ النّبِـيّ (ﷺ) قَـالَ اِذَا مَضَـي لِلنّفَسَـآءِ سَـبعٌ ثُـمّ رَأتِ الطّهـرَ فَلتَغتَسِل وَلِتُصَلّ (الـف) (مُستدرك للحاكم،كتاب الطهارة ج اول،ص ٢٨٤/ سنن للبيهقي،باب النفاس،ص ٥٠٥،نمبر١٦١٧) ددې ځخه معلوم شوچي د نَافِسَه ښځه به هم د وِينې دختم کېدووروسته غسل کوي .

﴿... د سُنّت غُسلُونُو بيان ...﴾

[٣١] سُنّت کړئ دئ حضور (ﷺ) غُسل (١) دجمعې لپاره (٢) د اخترانولپاره (٣) د احرام لپاره (٤) دعرفه لپاره په دې ورځوکي غسل کول سُنّت دئ .

وجه : (١) په حديث کي دئ. عَن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِيّ (ﷺ) اَنّ رَسُولَ اللهِ قَا لَ غُسلُ يَومِ الجُمعَةِ واجِبٌ عَلْي کُلّ مُحتَلِمٍ (ب) (ابوداؤدشريف باب في الغسل يوم الجمعة ص ٥٥،نمبر٣٤١) (٢) عَن سَمُرَةَ (ﷺ) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَن تَوَضّأ فَبِهَا وَنَعِمَت وَمَن اِغتَسَلَ فَهُوَ اَفضَلُ (ج) (ابوداؤد شريف باب في الرخصة في ترک الغسل يوم الجمعة ص٥٧ نمبر٣٥٤ \ مسلم شريف كتاب الجمعة ص٢٧٩ نمبر٨٤٦\مسلم شريف باب فضل من استمع وانصت في الخطبة ص٢٨٣،نمبر٨٥٧) ددې دواړوقسموحديثونوځخه معلوم شو

حاشيه : (الف) د حضرت معاذ (ﷺ) ځخه مرفوع روايت دئ چي کله دښځي دنفاس اُوَه(٧) ورځي تيري سي بيادا ښځه پاکي وويني نوغُسل دي وکړي اولمونځ دي ادآء کړي (ب) حضور (ﷺ) وفرمايل دجمعې غُسل پر هر بالغ باندي واجب دئ (ج) حضور(ﷺ) وفرمايل کُوم چاچي اَودَس وکړئ دِيرښه کاريې وکړئ اوکُوم چاچي غسل وکړئ نو هغه زِيَات افضل دئ .

[٣٢] وَ لَيسَ فِي المَذِيّ وَ الوَدِيّ غُسلٌ وَ فِيهَا اَلوُضُوءُ .

چې دجمعې په ورځ په ابتداء اسلام کي غُسل واجب و.اُوس يې وجوب منسوخ سو سُنتَيّت يې پرځائ پاته سو .

فائده : دامام مالک په نېز داول حدیث په وجه دجمعې غسل واجب دئ .
د اخترانو د غُسل دسُنتِیّت لپاره حدیث دادئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ (رضي الله عنه) كَانَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَغتَسِلُ يَومَ الفِطرِ وَيَومَ الأَضحْي (الف) په بل حدیث کي وَيَومَ عَرَفَةَ لفظ راغلئ دئ (ابن ماجه باب ماجآء فى الاغتسال فى العيدين صفحه١٨٦نمبر ١٣١٥ نمبر ١٣١٦) .
پام لرنه : دابن ماجه شریف فهرست جوړونکوخلګوډپربابونه دلیکلوڅخه پر ې ایښي دي.نوپه داوجه دابن ماجه بابونه په احتیاط سره وپلټئ داحرام لپاره غسل کولوحدیث دادئ (١) عَن خَارِجَةَ بِنِ زَيدِ بِنِ ثَابِتٍ عَن اَبِيهِ اَنّهُ رَأي النّبِيّ (ﷺ) تَجَرّدَ لاَهلِهِ وَ اِغتَسَلَ (ب) (ترمذي شريف باب ماجآء في الاغتسال عندالاحرام ص ١٧١نمبر ٨٣٠مسلم شريف باب احرام النفسآء واستحباب اغتسالها للأحرام ص ٣٨٥نمبر١٢٠٩) په حدیث کي هم داحرام پرمحال دغسل کولوتذکره سته (٢) په غسل کي پاکي اوصفائي کیږي نولدې کبله دغه لوړذکرسوي ټولوځایوکي غُسل کول سُنّت دئ .
[٣٢] او د مَذَئ او وَدَئ په راوتلوباندي غسل نسته په دي کي اودس واجب دئ .
وجه : (١) مَذِی او وَدِی مَنِي نه دي .اونه هغه په ټوپ سره راوزي.ځکه ددې دواړو په راوتلو سره غسل نه واجبیږي صرف اودس واجبیږي (٢) په حدیث کي دئ عَن عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبَ (رضي الله عنه) اَرسَلنَاالمِقدَادَ بِنِ الاَسوَدِ اِلَي رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فَسَألَهُ عَنِ المَذِيّ يَخرُجُ مِنَ الإنسَانِ كَيفَ يُفعَلُ بِهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) تَوَضّأ وَ اِنضَح فَرجَکَ (ج)

حاشیه : (الف) حضور(ﷺ) دکچني اختر (كِشنِي اَختَر) اودلوئي اختر په ورځ غُسل کاوئ (ب) زید بن ثابت τ حضور (ﷺ) ولیدئ چې ده (حضورﷺ) د اِحرَام کپړي(جامې) وکښې او غُسل یې وکړئ (ج) د حضرت علی بن ابی طالبτ څخه روایت دئ چې ده مقدادبن اسود دحضور(ﷺ) په خدمت کي د مَذَئ په اړه د پوښتنې لپاره واستاوئ چې د انسان څخه راوزي چې ددې سره څه وکړي؟ نوحضور(ﷺ) وفرمایل چې اَودَس وکړه اوخپله شرمګاه پرې مینځه .

[٣٣] وَالطّهَارَةُ مِنَ الاَحدَاثِ جَائِزَةٌ بِمَآءِ السّمَآءِ وَالاَودِيَةِ وَالعُيُونِ وَالاٰبَارِ وَمَآ ءِالبِحَارِ .

(مسلم شريف،باب المذي ص١٤٣نمبر٣٠٣) (٣) سَألتُ النّبِيّ (ﷺ) عَنِ المَذِيّ؟ فَقَالَ مِنَ المَذِيّ الوُضُوءُ وَمِنَ المَنِيّ الغُسلُ (ترمذي شريف باب ماجآء في المنِيّ والمذيّ ص٣١ نمبر١١٤/ابوداؤدشريف باب في المذي ص٣١نمبر٢٠٧) ددې حدیث څخه معلوم سو چې مَذِي راووزي نو اَودَس واجب دئ . غسل نه دئ واجب .وَدِی : هم د مَذِي په شان اُوبَه دي. بلکه په مذي کي لږ څَه شهوت وي په وَدِي کي شهوت نه وي هغه د بولو وروسته راوزي نو ځکه په وَدِي کي صرف اَودَس واجب وي (٤) البته دعبدالله بن عباس (رضي الله عنه) قول په طحاوي شریف کي موجوددئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ (رضي الله عنه) قَالَ هُوَ المَنِيّ وَالمَذِيّ وَالوَدِيّ فَاَمّا المَذِيّ وَالوَدِيّ فَاِنّهُ يَغسِل ذَكَرَهُ وَيَتَوَضّأ وَ اَمّا المَنِيّ فَفِيهِ الغُسلُ (الف) (طحاوي شريف باب الرجل يخرج من ذكره المذي كيف يغسل ج اول ص٣٩سنن للبيهقي،باب المذي والودي لايوجبان الغسل ج اول،ص ٢٦٢،نمبر٨٠٠)

لغت : اَلمَذِيّ : د بنځي سره د بازئ پرمحال د لږ څه خوند سره دعضوِمخصوص څخه اُوبَه راوزي و هغه ته مَذِی وائي، اَلوَدِيّ : د بولو وروسته دجريان ناروغ سړي څخه.په رنګ سپيني.لږ څه خنډي اُوبَه راوزي و هغه ته وَدِي وائي .

﴿... د اُوبُو اَحکَامَات ...﴾

[۳۳] د بې اَودَسيَاو څخه پاکي حاصلول جائز ده (۱) د آسمان په اوبوسره (۲) د شَلُو په اوبوسره (۳) دچينوپه اوبوسره (٤) دځاهانوپه اوبوسره (٥) او د درياب په اوبوسره .

وجه : (۱) دا ټولي اُوبَه پاک دي نوځکه د لږ څه ناپاکئ د ايله کېدو په وجه نه ناپاک کيږي په دغه وجه په دې باندي اَودَس اوغُسل کول دواړه جائزدي (۲) آيت

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عباس (رض) وفرمايل چې راوتونکي شيان مَنِي مَذِي او وَدِي دي . بهرحال په مَذئ او وَدئ کي خوخپل ذکَر پرې مينځه او اَودَس وکړه بهرکيف مَنِي نو په هغه کي غُسل دئ .

[۳۴] وَلاَ تَجُوزُ الطَّهَارَةُ بِمَآءٍ أُعتُصِرَمِنَ الشَّجَرِ وَالثَّمَرِ .

دئ. وانزلنا من السمآء مآءطهوراً (الف) (آيت ٤٨ سورة الفرقان٢٥) (۳) د چينې د اُبُو په اړه آيت دئ. اَلَم تَرَ اَنَّ اللهَ اَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَاءً فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الاَرضِ (ب) (آيت ۲۱ سورة الزمر۳۹) (٤) د څاه په باب کي حديث راغلئ دئ. عَن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِيِّ (رض) قَالَ قِيلَ يَارَسُولَ اللهِ (ﷺ) أ نَتَوَضّأ مِن بِئرِ بُضَاعَةَ.....فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَلمَآ ءُ طَهُورٌ لاَيُنَجِّسُهُ شَيئٌ (ج) (ترمذي شريف،باب ماجآء ان المآء لاينجسه شيئ ص۲۱نمبر۲۲) ددرياب د اُوبُوپه باب کي حديث دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ(رض) يَقُولُ سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ الله (رض).....أ فَنَتَوَضّأ مِنَ البَحرِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (رض) وَ هُوَ الطَّهُورُ مَآ ءُهُ اَلحِلّ مَيتَتُهُ (د) (ترمذي شريف،باب ماجآء في مآء البحر انه طهورص۲۱ نمبر۶۹) چې په حقيقي نظر وکتل سي نو دغه ټولي اُوبَه د آسمان سره تعلق لري.او د آسمان د اُوبُو په باب الله تعالٰی فرمائي چې د اماپاك کونکي نازلي کړي دي نوځکه په دې اُوبُوباندي پاکي حاصلول جائزده .

لغت : اَودِيَةٌ : د وَادِيٌ جمع ده. اَلعُيُونُ : د عَينٌ جمع ده معنْي چينَه. اَلآ بَارُ : د بِئرٌ جمع ده معنْي څَاه. اَلبِحَارُ : د بَحرٌ جمع ده معنْي درياب .

[۳٤] پاکي حاصلول نه دئ جائز په دارنګه اُوبُوباندي چې د درختي څخه نښتېځل سوي وي يا د ميوې څخه نښتېځل سوي وي .

وجه : (۱) دا د ميوې او د درختي جُوس دئ اُوبَه نه دي.اوپه اُوبُوباندي پاکي حاصلول جائز ده لکه څرنګه چې په دلائلوسره مخ کي ثابت سوه نوځکه په جُوس باندي پاکي حاصلول جوازنه لري. هغه که دمېوې جُوس وي يا د درختي جُوس وي

حاشيه : (الف) مور د آسمان څخه پاک کونکي اُوبَه نازل کړي (ب) آيا تانه دئ ليدلي چې اللهΨ دآسمان څخه اُوبَه نازل کړي بيائې هغه دمځکي په چينُوکي وبيولې (ج) حضور (ﷺ) وفرمايل چې دځاه اُوبَه پاکِ دي يوشيئ هغه نه ناپاکَ وي (د) د درياپ اُوبَه پاکِ دي اودهغه مَاهِيَان(مَايَان) حلال دي .

[٣٥] وَلاَ بِمَآءٍ غَلَبَ عَلَيهِ غَيرُهُ فَاَخرَجَهُ عَن طَبعِ المَآءِ كَالاَشرِبَةِ وَالخَلِّ وَمَآءِ البَاقِلاّءِ وَالمِرَقِ وَمَآ ءُ الوَردِ وَمَآ ءُ الزّردَجِ.

(٢) دحديث څخه دانه معلوميږي چې په جُوس سره دې اَودَس کړئ وي. په دې وجه هم په جُوس سره اَودَس نه صحيح کيږي .

نُکته : صاحب دهدايه نُکته بيان کړې ده چې که يوجُوس د اُبُوپه شان نرئ وي اوپه هغه کې د اُبُو پوره طبيعت موجودوي،او رَس پخپله څخيدلئ وي.نبنټېځل سوئ نه وي.نواُوس خوپه هغه کې د اُوبُو پوره رِقَت،سَيلاَن اوطبيعت موجوددئ نوځکه په دارنګه رَس(جُوس)سره اَودَس کول جائزدئ .

لغت : اُعتُصِرَ : نبنټېځل سوئ وي د عَصَرَ څخه مشتق (جوړ)دئ .

[٣٥] او نه دئ جائز طهارت (پاکي) په دارنګه اُوبُوسره چې پرهغه باندي بل شيئ غالب سوئ وي اوهغه يې د اُوبُو د طبيعت څخه ايستلئ وي لکه (١) شربت (٢) سرکه (٣) د لوبياُوبَه (٤) بنُوروَا (٥) د ګُلاب اُوبَه (٦) د زَړدَکِي اُوبَه .

وجه : (١) دغه ټولي اُوس اُوبَه نه سوې پاته بلکه دهغو نُوم هم بدل سو. اوصاف يې هم بدل سو مثلاًپه شربت کي بل شئ دونه ډېرګډسوچي اُوس دهغه نوم شربت سو اُوس و هغه ته هيڅ څوک اُوبَه نه وائي د سِرکې(سُرکې)هم دغه حال دئ، لُوبِيَا چې پخه سي دپخلاؤ لکبله د اُوبُوحقيقت بدل سي نو هغه به د بنُوروا په رکم سي اوکه لوبياونبنټېځل سي نوهغه رَس دئ او په رَس باندي اَودَس نه صحيح کيږي. دګُلاب اُوبَه د زَړدکِي اُوبَه دا ټول رَس دئ په دې باندي اَودَس کول جوازنه لري (٢) په حديث کي ددې اشاره نسته عَن أبِي أمَامَةَ البَاهِلِيّ (ﷺ) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِنّ المَآءَ لاَيُنَجّسُهُ شَيئٌ اِلاّمَاغَلَبَ عَلْي رِيحِهِ وَطَعمِهِ وَلَونِهِ (الف) (ابن ماجه شريف باب الحياض ص٧٤نمبر٥٢١طحاوى شريف باب المآءتقع فيه النحاسة١٥) ددې حديث

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل يقيناً اُوبَه يوشيئ نه ناپاک کوي لېکن چې غالب سي دهغه پر بُوئي او خوند او رنګ باندي .

[٣٦] وَتَجُوزُ الطّهَارَةُ بِمَآءٍ خَالَطَهُ شَيئٌ طَاهِرٌ فَغَيّرَ اَحَدَ اَوصَافِهِ كَمَآءِ المُدِّ وَالمَآ ءُ الّذِي يَختَلِطُ بِهِ الأُشنَانُ وَالصّابُونُ وَالزّعفَرَانُ .

څخه علمآء استدلال کړئ دئ چې په اُوبُوکي دخاؤروڅخه علاوه بل پاک شيئ ګډ سي او بُوئي،خُوَنداورنګ يې وربدل کړي او د اُوبُوطبيعت بدل سي نوپه دې باندي اَودَس اوغسل کول جوازنه لري .

پام لرنه : که په اُوبُوکي پاک شيئ ګډسواوپرغالب نه وبلکه مغلوب و نو اَودَس په جائز دئ ددې حديث څخه دهغه استدلال دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ مَسعُودٍ (ﷺ) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ لَهُ لَيلَةَ الجِنّ عِندَکَ طُهُورٌ؟ قَالَ لاَ -اِلاَشَيئٌ مِن نّبِيذٍ فِي اِدَاوَةٍ قَالَ تَمرَةٌ طَيّبَةٌ وَمَاءٌ طَهُورٌ فَتَوَضّأ (الف) (ابن ماجه باب الوضوء بالنبيذصفحه۳۲ دارقطنی باب الوضوء بالنبيذج اول ص۷۸نمبر۲٤۱) په نبيذ کي خورماوي اچول کيزي، ددې څخه دا معلوم سوه چي يوپاک شئ په اُوبُوکي ګډسي اوطبيعت وربدل نه کړي نوپه هغه باندي اَودَس کول جائزدئ .

اصول : که د اُوبُوطبيعت نه وي بدل سوئ نو اَودَس په جائزدئ .

لغت : اَلخَلّ : سِرکَه، بَاقِلاّءُ : لوبيا(دا يوخاص رنګه سبزي ده)، اَلمِرَقُ : بنُوروَا، وَردٌ : ګُلاب، اَلزَ ردَجُ : ژِړدَګه.

پام لرنه : د اُوبُوطبيعت کله د اجزآء په اعتبار بدليږي کله د اَوصَافُ په اعتبار .

[۳٦] او اَودَس جائز دئ په داسي اُوبُوسره چي په هغه کي پاک شيئ ګډسوئ وي او د هغه د اَوصَافُ څخه يو وَصف بدل کړئ وي لکه د رود اُوبَه او هغه اُوبَه چي په هغه کي اُشنَان(زومئ)اوصابون اوزعفران ملاؤسوئ وي .

حاشيه : (ب) حضور (ﷺ) په لَيلَةُ الجِنّ کي دعبدالله څخه پوښتنه وکړه چي ستاسره يوپاک کونکئ شيئ سته؟ ده وفرمائل نسته، البته په لوښي کي يوڅه نبيذ(رَس) سته حضور (ﷺ) وفرمائل پاک مبوه ده او اُوبَه يې پاکِ دي. بياحضور (ﷺ) اَودَس په وکړئ .

وجه : (۱) په اُوبُوکي د خاؤرو د ګډېدو په وجه که چيري رِقّت (نرمي) او سَيلاَن (بيدل) پر ځائ پاته وي نوطهارت (پاکي) په جائز ده لکه څرنګه چي د رود په اُوبُوکي ډيري خاؤري ګډيږي بياهم خلګ وهغه ته اُوبَه وائي نولدې وجهي په هغه باندي اَودَس کول جائزدئ (۲) په دې اُوبُوباندي اَودَس کول يوه مجبوري هم ده که نه نو د صحرآء خلګ صفا اُوبَه دکومي خوا پيداکړي؟

دصابون او د اُشنَان وښو(زومئ) حکم : (۱) که په اُوبُوکي يو داسي شيئ ورګډ کړل سي چي په هغه سره د اُوبُو نورصفائي اوسُترَائي مقصود وي لکه دبيري د درختي پانې چي په اُوبُوکي اچوي او د اُوبُو نورصفاکول ځني مقصدوي.يا اُشنَان وابنه (زومئ) ياصابون يازعفران په اُوبُوکي اچوي اومقصد دصفائي اضافه کول وي. نوددې د اچولو وروسته که رِقّت اوسَيلاَن پرځائ پاته وي نو پاکي په کول صحيح ده ځکه چي د اُوبُو نوم او د اُوبُوطبيعت پرځائ پاته دئ (۲) په حديث کي دئ چي دبيري درختي پانې په اُوبُوکي واچوې اُوبُوته جوش ورکړئ او مَړي ته غُسل په ورکړئ که ددې شيانود اچولوپه صورت کي طهارت جَوَاز نه درلوداۀ نودبيري درختي دپانو د اچولو وروسته اوبيا وهغه ته دجوش ورکولو وروسته مړئ به څرنګه په دغه اُوبُولَمبَاوَئ اوطهارت به څرنګه حاصلبدائي؟ په حديث کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ (ﷺ) عَنِ النّبِيّ (ﷺ) خَرّ رَجُلٌ مِن بَعِيرِهِ فَوَقَصَ فَمَاتَ فَقَالَ اِغسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدرٍ وَکَفِّنُوهُ

فِی ثَوبَیهِ (الف) (مسلم شریف،باب مایفعل بالمحرم اذامات ص۳۸٤نمبر۱۲۰٦/ابن ماجه شریف،باب المحرم یموت ص٤٤۹نمبر۳۰۸٤)ددې حدیث څخه معلوم سو چې دبیري درختي پانې یایو بل شیئ د اُوبُودصفائي لپاره ورکډسي نوپه دې اُوبُو باندي پاکي حاصلول جائز ده په شرط ددې چې رِقَت اوسیَلانَ ئې نه وي ختم سوئ .

اصول : د اُوبُو د صفائي د زیاتوب لپاره که یوشیئ ورکډسي نوپه دې اُوبُو باندي طهارت جائز دئ .

حاشیه : (الف) یوسړئ دخپل وُښ څخه رایله سو اومړسو حضور (ﷺ) وفرمائل وده ته په اُوبُو او د بیرِي په پانو سره غُسل ورکئ او دده په دواړوکپړو(جامو)کي کفن ورکئ .

[۳۷] وَ کُلّ مَآءٍ دَائِمٍ اِذَا وَقَعَت فِیهِ النّجَاسَةُ لَم یَجزِ الوُضُوءُ بِهِ قَلِیلاً کَانَ اَو کَثِیرًا لاَنّ النّبِیّ صَلّي اللهُ عَلَیهِ وَسَلّمَ اَمَرَ بِحِفظِ المَآءِ مِنَ النّجَاسَةِ فَقَالَ عَلَیهِ السّلاَمُ لاَیَبُولَنّ اَحَدُکُم فِي المَآءِ الدّائِمِ وَلاَ یَغتَسِلَنّ فِیهِ مِنَ الجَنَابَةِ وَقَالَ عَلَیهِ السّلاَمُ اَذَا اِستَیقَظَ اَحَدُکُم مِن مَنَامِهِ فَلاَ یَغمِسَنّ یَدَهُ فِي الاِنَآءِ حَتّي یَغسِلَهَا ثَلاَثًا فَاِنّهُ لاَیَدرِي اَینَ بَاتَت یَدُهُ .

فائده : امامِ شافعي فرمائي چې دا خالص اُوبَه نه سوې پاته ځکه په دې باندي طهارت جواز نه لري (موسوعة امام شافعي ج اوّل ص۲٥)

لغت : اَلمُدّ : رود، اَلاُشنَانُ : یوخاص رنګه وابنه دئ چې په اُبوُکي دصفائي دزیاتوب لپاره ګډیږي (په پښتو کي زُمَئ ورته وائي)

---

[۳۷] هرهغه پرځائ ولاړي اُوبَه (چې دلوئ نَاوُرَه څخه کمي وي) که په هغه کي نجاست یله سي نو په هغه باندي اودس نه صحیح کیږي نجاست که کم وي که زیات ځکه چې حضور (ﷺ) اُوبَه دناپاکي څخه دمحفوظ کولوحکم کړئ دئ. لکه څرنګه چې حضور (ﷺ) وفرمائل په تاسوکي دي څوک پرځائ ولاړو اُوبُوکي بَولِي نه کوي اونه دي په هغه کي دجنابت غسل کوي اوحضور (ﷺ) وفرمائل چې هرکله دتاسوڅخه یو د خوبه څخه را وِښ سي نوخپل لاس دي په لوښي کي هیڅ کله نه اچوي آن تردې چې هغه درې واره پري مینځي ځکه چې ده ته نه دئ معلوم چې دده لاس شپه چیري تېره کړي ده ؟

تشریح : اُوبَه که دلوئ ناوُره څخه کمي(لږ) او وَلاړي وي په هغه کي که لږ څه نجاست یله سي نوهم اُوبَه ناپاک کیږي که هغه نجاست داُوبُو رنګ،بُوئي،اوخُوَند خوند وربدل کړي که نه، ددې وجه هغه ډېرحدیثونه دي چې دحدیثو په کتابوکي ذکرسوئ دي چې دهغوڅخه دوه حدیثونه مُصَنّف هم ذکرکړئ دي .د بولو نه کولو په اړه حدیثونه دادي. سُمِعَ اَبُوهُرَیرَةَ (ﷺ) اَنّهُ سَمَعَ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) یَقُولُ لاَیَبُولَنّ اَحَدُکُم فِي المَآءِ الدّائِمِ الّذِي لاَیَجرِي ثُمّ یَغتَسِلُ فِیهِ (الف) (بخاري شریف باب البول في المآء الدائم،ص۳۷،نمبر۲۳۹/مسلم شریف،باب النهي عن البول فی المآء الراکد، ص۱۳۸،نمبر۲۸۲) دغسل په اړه

داحديث دئ. قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَيَغتَسِلُ اَحَدُكُم فِي المَآءِ الدّائِمِ وَهُوَجُنُبٌ (ب) (مسلم شريف،باب النهي عن الاغتسال فِي المآء الراكد، ص ١٣٨نمبر٢٨٣) د خوب څخه د راوښيدو وروسته دري واره د لاس مينځلوحکم په دې حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ (رضي الله عنه) اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ اِذَا اِستَيقَظَ اَحَدُكُم مِن نَومِهِ فَلاَيَغمِسُ يَدَهُ فِي الإِنَاءِ حَتّي يَغسِلَهَا ثَلاَثًا فَاِنّهُ لاَيَدرِى اَينَ بَاتَت يَدُهُ (ج) (مسلم شريف،باب كراهية غمس المتوضى وغيره يده المشكوک في نجاستها في الأناء قبل غسلها ثلاثا،ص١٣٦نمبر٢٧٨/ترمذي شريف،باب ماجآء اذا استيقظ احدكم من منامه،ص١٣نمبر٢٤) دغه اودغه رنګه نور ډېر حديثونه سته چې په هغوکي په اُوبُوکي دنجاست کولو څخه منع راغلي ده.ددې څخه دامعلوميږي چې په لږو اُوبُوکي دنجاست په لوښدوسره هغه اُوبَه ناپاک کيږي .که نه نوبيامنع کول هيڅ معنْي نه لري .

فائده : امامِ مالک فرمائي چې په لږ اُوبُوکي نجاست يله سي.ترڅوچې رنګ ،بُوئي اوخوند څخه يو نوي بدل سوئ ترهغو پوري اُوبَه نه ناپاک کيږي دده دليل داحديث دئ عَن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِيّ (رضي الله عنه) قَالَ قِيلَ يَارَسُولَ اللهِ اَنَتَوَضّأ مِن بِئرِ بُضَاعَةَ وَهِيَ بِئرٌ يُلقٰي فِيهَا اَلحِيَضُ وَ لُحُومُ الكِلاَبِ وَالنّتَنِ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِنّ المآءَ طَهُورٌ لاَيُنَجّسُهُ شَيئٌ (د) (ترمذي شريف،باب ماجآء ان المآء لاينجسه شئ،

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل په تاسوکي دي يو هم په ولاړو اُوبُو کي چې جاري نه وي هيڅ کله بولي نه کوي اوچې بياپه هغه کي غسل وکړي (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل يو سړئ دي هم په ولاړو اُبُوکي غسل نه کوي په داسي حال کي چې دئ جُنُب وي (ج) حضور (ﷺ) وفرمائل چې په تاسوکي څوک دخوب څخه رَاوښ سي نو خپل لاسونه دي په لوښي کي نه اچوي تردې چې هغه دري واره پري مينځي ځکه چې وده ته نه دئ معلوم چې دده لاس چيرې شپه تېره کړې ده (د) دحضور (ﷺ) څخه پوښتنه وسوه چې آيا په بِئرِبُضَاعَة باندي اَودَس وکو ؟ حالانکه هغه دارنګه ځاه دئ چې په هغه کي دحيض کيږي، دسپيوغوښې، اوګندګي اچول کيږي. حضور (ﷺ) وفرمائل دا اُوبَه پاکِ دي دا يو شيئ نه ناپاک کوي .

[٣٨] وَ اَمّا اَلمَآ ءُ الجَارِيُ اِذَا وَقَعَت فِيهِ نِجَاسَةٌ جَازَ اَلوُضُوءُ مِنهُ اِذَا لَم يَرَ لَهَا اَثَرٌ لاَ نّهَا لاَ تَستَقِرّ مَعَ جِريَانِ المَآءِ .

ص٢١،نمبر٦٦) ددې حديث څخه معلوم سو چې د ناپاک شي په يله کېدو سره تر څو چې خوند،بوئي يا رنګ نسي بدل اُوبَه نه ناپاک کيږي. مورِ جواب ورکوچې په کوم څَاه کي چې حيض او د سُپي غوښي اوګندګي اچول کيږي اوبياهم رنګ يابوئي ياخوند نسي بدل دا امکان نه لري ... ددې څخه دا سي معلوميږي چې دغه څَاه دجاري اُوبُو په حکم کي ولو.او د مآء جاري په اړه مورِ هم دا وايو چې ترڅو د اوصافِ ثلاثه وڅخه يونسي بدل نه ناپاک کيږي د دوئي دليل داحديث هم دئ. قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِذَا كَانَ المَآءُ قُلّتَينِ لَم يَحمَلِ الخَبَثَ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء ان المآء لاينجسه شئ،ص٢١نمبر٦٧) مورِ دا وايو چې (١) په نوروحديثوکي دا قيد نسته (٢) حديث (دسندپه لحاظ)کمزورئ دئ .

لغت : مَآءٌ دَائِمٌ : پرځائ ولاړي اُوبَه (دلته لږ اُوبَه مراد دي. چي جاري نه وي او لوئي تالاؤ او نَاوَر نه وی) يَغمِسَنّ : اَچَوَل ، بَاتَت : شپه تېرول .
[۳۸] په روانو اُوبُو کې چې کله نجاست يله سي بياهم په هغه باندي اَودَس جائزدئ که چيري دنجاست يو اَثَر په هغه کي نسي ښکاره، ځکه چې د اُوبُو دجِرياَن په وجه ګندګي (نجاست) پر يوه ځائ نسي درېدائي .
تشريح : د نجاست اثرنه ښکاره کېدو مطلب دادئ چې دنجاست په وجه د اُوبُو رنګ يابوئي ياخوند څخه يوبدل سي نودجاري اُوبُو باوجود په هغه باندي اَودَس ياغُسل جوازنه لري لېکن که چيري ناپاکي په اُوبُوکي يله سوه خود اُوبُوخوند يارنګ دناپاکئ ديله کېدو په وجه نه سوبدل نو په دغه اُوبُو اَودَس ياغُسل کول جائز دئ. دا اُوبَه تر اُوسَ پاکِ دي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل چې کله اُوبَه دوه منګي وي نو نه ناپاک کيږي .

[۳۹] وَ الغَدِيرُ العَظِيمُ اَلّذِي لاَ يَتَحَرّكُ اَحَدُ طَرَفَيهِ بِتَحرِيكِ الطّرَفِ الآخَرِ اِذَا وَقَعَت فِي اَحَدِ جَانِبَيهِ نِجَاسَةٌ جَازَ الوُضُوءُ مِنَ الجَانِبِ الآخَرِ لاَنّ الظّاهِرَ اَنّ النّجَاسَةَ لاَ تَصِلُ اِلَيهِ .

وجه : (۱) ځکه چې ناپاکي څرنګه يله سوه نوجاري اُوبُوهغه وبيول بل ځائ ته وبوړل پرهغه خپل ځائ باندې نه پرېښول نوځکه دهغه ځائ اُوبَه پاکِ سوې (۲) په حديث کي دئ چې د مآءِ کثير چې ترځو رنګ،بوئي اوخوند نسي بدل هغه پاکِ دي عَن اَبِي أَمَامَةَ البَاهِلِيّ (ﷺ) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَنّ المَآ ءَ لاَيُنَجّسُهُ شَيئٌ اِلاّ مَا غَلَبَ عَلَي رِيحِهِ وَطَعمِهِ وَلَونِه (الف) (ابن ماجه شريف،باب الحياض،ص۷٤،نمبر۵۲۱/ طحاوي شريف،باب المآء تقع فيه النجاسة،ص۱۵) په مسئله نمبر۳۷ کي حديثِ قُلّتَين تېر سوئ دئ دهغه څخه هم معلوميږي چې په مآءِ کثير کي ناپاکي يله سي نو اُوبَه نه ناپاک کوي. ترځوچې د اوصافُ ثلاثه څخه يو وصف نسي بدل .
لغت : اَلمَآ ءُ الجَارِيُ : کومي اُوبَه چې خاشه وبيوي اويوئې سي .که يوه لپه اُوبَه راواخلې نوسم دستي پرهغه ځائ نوري اُوبَه راسي .ودې ته مآءِ جاري وائي .
[۳۹] دا رنګه غټ تالاؤ(نَاوَر) چې نه سره ښوري دهغه يوه کناره ودويمي (بلي) کناري ته دحرکت ورکولوځخه که دهغه په يوه کناره کي ناپاکي يله سي نوپرهغه بله (بالمقابل)خوا(جانب) باندې اَودَس کول جائز دئ. ځکه چې داخبره ښکاره ده چې ناپاکي ترهغه (بلي) خواپوري نه رسيږي .
وجه : دومره غټ تالاؤ(ناور) وي چې دهغه د اُوبُوويوه اړ خ ته حرکت ورکړې دهغه حرکت اثروبل اړخ ته نه ورسيږي نو چې هرکله دحرکت اثرنه رسيږي نو د

نجاست اثر به هغه بله خوا ته څرنګه رسيږي؟ سره ددې چې د حرکت اَثَر تيز وي او

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل چې اُوبَه يوشيئ نه ناپاک کوي. مګردا چې غالب سي ددې پر بُوئي باندي ددې پرخُوَند باندي. ددې پر رنګ باندي .

[۴۰] وَ مَوتُ مَا لَيسَ لَهُ نَفسٌ سَائِلَةٌ فِى الَمَآءِ لاَيُفسِدُ المَآ ءَ كَالبَقِّ وَالذّبَابِ وَالزّنَابِيرِ وَالعَقَارِبِ .

د نجاست اَثَر نرم (سوکه) وي. نوپه دغه وجه هغه بله خوا پاک ده. اوپه هغه بله خوا اَودَس او غُسل کول جائز دئ .
پام لرنه : امام ابوحنيفه فرمائي چې په غُسل کولو سره حرکت ورکول معتبر دئ. اوامام محمد فرمائي چې د اَودَس په حرکت باندي به وګورو چې هغه بل اړخ ته رسيږي که نه ؟
فائده : امامِ شافعي فرمائي چې دوه منګي اُوبَه وي نودا مآءِ کثير دي.په دې کي چې نجاست يله سي ترڅوچې رنګ ،بوئي ياخوند نسي بدل نو اُوبَه پاکِ دي. ددې دليل حديثِ قُلّتَين دئ.چې په مسئله نمبر۳۷ کي تيرسو .
پام لرنه : (۱) د امام ابوحنيفه مسلک پر احتياط مَبنِي دئ (۲) چې لَس (۱۰) ګزه وُږد او لَس ګزه پسرور حوض(نَاوَر)وي. او دومره جَوَروِي چې په لَپَه اُوبَه را اخستوسره مځکه نسي ښکاره نوودې ته هم د عام خلګو(انسانانو)د آسانتيالپاره غټ تالاؤ اومآءِ کثير ويل کيږي .
لغت : اَلغَدِيرُ : تالاؤ(ناور) .
[٤٠] په اُوبُو کي د دارنګه شي مرګ چې په هغه کي بيدونکې وينه نه وي اُوبَه نه ناپاک کوي لکه (۱) مچر (۲) مچ (۳) غالبوز (٤) لړم .
وجه : (۱) په اصل کي بيدونکې وينه ناپاک ده اوپه دغه حيوانانو(حشراتو)کي بيدونکي وينه نسته نوځکه ددې دمرګ څخه اُوبَه نه ناپاک کيږي (۲) په آيت کي دئ اِلاّ اَن يّکُونَ مَيتَةً اَو دَمًا مّسفُوحًا (آيت ٤٥ سورة الانعام٦) ددې آيت څخه معلوم سوچې بيدونکي وينه ناپاکه ده. نوچې په کوم شي کي بيدونکي وينه نه وي هغه اُوبَه نه ناپاک کوي (۳) دحديث څخه دا معلوميږي چه په ډوډئ (خُوَرَاکِي شيانو)کي مَچ يله سي نو هغه شيئ نه ناپاک کوي ځکه چې په هغه کي بيدونکي وينه نسته عَن اَبِي هُرَيرَةَ (ﷺ) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِذَا وَقَعَ الذّبَابُ فِي اِنَآءِ اَحَدِکُم فَليَغمِسهُ کُلّهُ ثُمّ لِيَطرَحهُ فَاِنّ فِي اِحدَىٰ جَنَاحَيهِ شِفَاءٌ وَفِي الآخَرِ دَوَ آ ءٌ (الف) (بخار شريف،کتاب الطب،باب اذاوقع الذباب في الانآء،ص۸٦۰،ج۲،نمبر۵۷۸۲) په حديث کي دئ چې ټول مچ په لوښي کي وَاچَوَئ.که په مچ باندي ډُوډَئ يا اُوبَه ناپاک کېدلائي نودټول مَچ د اچولوحکم به

څرنګه سوئ وائي؟ (٤) په دَارِقُطنِي کي دئ چي په کُوم حيوان کي بيدونکې وينه نه وي.هغه که په ډوډوئ (خوراکي شی) يا اُوبُوکي يله سي.نوهغه ډوډئ وخورئ او په هغه اُوبُو سره اَودَس وکئ. قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَاسَلمَانُ کُلّ طَعَامٍ وَشَرَابٍ وَقَعَت فِيهِ دَابّةٌ لَيسَ لَهَادَمٌ فَمَاتَت فِيهِ فَهُوَ حَلاَلٌ اَکلُهُ وَشُربُهُ وَ وُضُونُهُ (ب) (دارقطني،باب کل طعام وقعت فيه دابّة ليس لهادم، ج اَوّل،ص٣٣،نمبر٨١) د دَارِقُطنِی حديث که څه هم کمزوري دئ لېکن دبخاري دحديث څخه دهغه تائيدکيږي. نوځکه بياپه دې باندي استدلال کول جائز دئ .

فائده : د امامِ شافعي يو روايت زمونږ سره موافق دئ. او يو بل روايت ئې دادئ چي ددې حيوانانو د مړکېدو څخه اُوبَه ناپاک کيږي. ځکه چي دا حيوانان مَيتَه دي. او خوراک ئې حرام دئ اومَيتَه ناپاک وي نو ددې په مړکېدو سره اُوبَه ناپاک کيږي .

لغت : نَفسٌ سَائِلَةٌ: بيدونکې وينه، اَلبَقُّ : مچر، اَلذُّبَابُ : مَچ، اَلزّنَابِيرُ : غالبوزي. د زَنبُورٌ جمع ده،اَلعَقَارِبُ : لړم، د عَقرَبٌ جمع ده .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل که مَچ ستاسو ديوه په لوښي کی يله سي. نو ټول په کي ډوب کړئ. بياهغه راوباسئ او تَس ئې کړئ. ځکه چي دده په يوه وَزَرکي شِفَا او په بل کي ناجوړي (مرض) دئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل ،اې سلمان ! هرهغه خوراکي او چيښونکئ شيئ چي په هغه کي دارنګه حيوان يله سي چي وِينَه نه وي پکښي او په هغه کي مړسي نودهغه خوړل او دهغه چيښل او په هغه اَودَس کول حلال (جائز) دئ .

[٤١] وَمَوتُ مَايَعِيشُ فِي المَآءِ لاَ يُفسِدُ المَآ ءَ كَالسّمَکِ وَالضِّفدَعِ وَالسِّرطَانِ .

[٤١] مرګ د داسي شي چي په اُوبُو کي ژوندتېروي اُوبَه نه ناپاک کوی. لکه (١) ماهئ (٢) چونګوښه (٣) چونګوابښ .

وجه : (١) کوم حيوان چي په اُوبُوکي پيداکيږي اوپه هغه کي ژوندتېروي په هغه کي بيدونکې وينه نه وي ځکه که چيري بيدونګې وينه پکښي وي نوپه اُوبُوکي بيانه سي اوسېدائ.اوهغه لړځه وينه چي ښکاره کيږي هغه مکمل وينه نه ده، د وينې خاصيّت دادئ چي ولمرته کښيږدې نوتُورَيږي ه اود اُوبُو دحيوان وينه چي ولمرته کښيږ دې هغه سپينه اَوړي. نوځکه دامکمکل وينه نه ده، او په مسئله نمبر٤٠ کي په تفصيل سره تيرسوچي په کوم حيوان کي بيدونکې وينه نه وي دهغه په مړګ باندي اُوبَه نه ناپاک کيږي

(٢) عَن اَبِی هُرَيرَةَ (رضی الله عنه) قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) هُوَالطّهُورُ مَاءُهُ اَلحِلّ مَيتَتُهُ (الف) (ترمذي شريف،باب مآجآء فِي مآء البحر انه طهور،ص٢١نمبر٦٩)...دسمندرميته حلال ده...ددې څخه دا استدلال کېدائي سي چي خوړل ئې حلال نه دي. لېکن دسمندر په ميته کي وينه نه وي نوځکه په مرګ ئې اُوبَه نه ناپاک کيږي .

فائده : د امامِ شافعي يو روايت دئ چي دماهي بغير ه د نورو آبي حيوانانو په مرګ باندي لږ اُوبَه ناپاک کيږي. ځکه چي ماهئ خوحلال دئ لېکن نورحيوانان خوحلال نه دي .نوځکه د نوروحيوانانو په مرګ باندي لږ اُوبَه ناپاک کيږي .

لغت : اَلضِّفدَعُ : چُوَنګوښه : اَلسِّرطَانُ : چُنګُوَانښ .

پام لرنه : کوم حيوان چي په اُوبُوکي پيداکيږي او په اُوبُوکي ژوندتېروي هغه ته آبي (اُبَوِي) حيوان ويل کيږي. او کوم چي پر اُوبُو باندي لوړ پيداکيږي او په اُوبُو کي وسيږي هغه آبي (اُبَوِی) حيوان نه دئ لکه اِيلَی .

حاشيه : (الف) د درياب اُوبَه پاکِ دي او د هغه مَيتَه (ماهئ)حلال دئ .

[۴۲] وَ اَمّا المآ ءُ اَلمُستَعمَلُ لاَيَجُوزُ اِستِعمَالُهُ فِي طَهَارَةِ الاَحدَاثِ .

[٤٢] او مُستعملي اُوبَه. نه دئ جائز دهغه استعمال دبې اودسياپه پاک کولوکي (ليري کولوکي) .

تشريح : کُومي اُوبَه چي دغُسل يا د اَودَس د حَدَث د زائل کولولپاره استعمال سوي وي.يا د ثواب د حاصلولو لپاره استعمال سوي وي. دارنګه اُوبَه د حَدَثِ غُسل يا حَدَثِ اَودَس لپاره استعمالول جواز نه لري ځکه چي دا اُوبَه مستعملي سوي دي. او مَآءِ مُستَعمَلِي په خپله خوپاکِ دي. لېکن د حَدَث د پاک کولو صلاحيت نه لري .

وجه : (١) دپاکئ دليل ئې دادئ چي مَآءِمُستَعمَلِي د اَودَس او غُسل کولو بعد د اصحابانوپر کپړو (جامو) باندي لګېدلي لېکن ترنَن ورځي پوري يوه هم د مآءِمُستعملي په وجه کپړه نه ده پريمينځلي او دبل شي دپاک کولوصلاحيت نه لري.ددې دليل دادئ چي اهلِ عرب د اُبُو د سخت ضرورت باوجود يوه هم دا نه دي کړي چي په مآءِمُستعمل باندې دويم وار بيا اَودَس ياغُسل کړئ وي.اونه داسي کړي دي چي دغه اُوبَه دې په بل لوښي کي د اَودَس يا غُسل لپاره ايښي وي (٢) دپاکئ دليل ئې دحضور (ﷺ) هغه حديثونه دي چي هغه اُوبَه چي دحضور (ﷺ) د اَودَس لپاره استعمال سوي وي هغه يې و نَارُوغَانُو ته ورکړي. که چيري مآءِ مُستعملي پاکِ نه وائي نوحضور (ﷺ) په ناجوړانو باندي څرنګه څيښلې ؟په حديث کي دئ. عَن جَابِرَ (ﷺ) يَقُولُ جَآ ءَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَعُودُنِي وَ اَنَا مَرِيضٌ لاَ اَعقِلُ فَتَوَضّأَ وَ صَبّ عَلَيّ مِن وَضُوئِهِ فَعَقَلتُ (الف) (بخاري شريف،باب صب النبي (ﷺ) وضوئه علٰي المغمٰي عليه،ص٣٢نمبر١٩٤) (٣) سَمِعتُ السّائِبَ بِنِ يَزِيدٍ يَقُولُ ذَهَبَت بِي

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) زمادعيادت (د ناجوړئ د پوښتني) لپاره راغلئ. زه نارغه وم او په څه نه پوهيدم نوحضور (ﷺ) اَودَس وکړئ او د اَودَس اُوبَه ئې پر ما وبيولې نو زَه پوه سوم(صحيح شوم) .

خَالَتِي اِلَي النّبِيّ (ﷺ) فَقَالَت يَا رَسُولَ اللهِ اِنّ اِبنَ اُختِي وَقَعَ فَمَسَحَ رَأسِي وَ دَعَالِي بِالبَرکَةِ ثُمّ تَوَضّأَ فَشَرِبتُ مِن وَضُوئِهِ (الف) (بخاري شريف،باب استعمال فضل وضوء الناس،ص٣١،نمبر١٩٠)

ددې حديث څخه معلوم سو چې مآء مستعمل پاک دي ځکه خو په ده يې د اَودَس اُوبَه په وچينلې، اوپه السنن الكبرىٰ للبيهقى باب طهارة المآء المستعمل ج اول ص۳۵۹نمبر۱۱۱۷ کي ددې موضوع ډېر حديثونه ذکرسوي دي . او د مآء مستعملي دپاکئ نه راوستلو په لږ کي دهغه حديثونه څخه استدلال کيږي چې په هغه کي حضور (ﷺ) د هراندام لپاره نوي اُوبَه اخستي دي. که چيري مآء مستعمل طهور(پاکي کونکي) وائ نو به مآء مستعمل بيادوهم وار استعمال کړي وائ .په حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ (ؓ) أ تُحِبّونَ اَن أرِيَكُم كَيفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَتَوَضّأ فَدَعَابِاِنَآءٍ فِيهِ مَآ ءٌ فَاغتَرَفَ غُرفَةً بِيَدِهِ اليُمنٰي فَتَمَضمَضَ وَ اِستَنشَقَ ثُمّ اَخَذَ اُخرٰي فَجَمَعَ بِهَايَدَهُ ثُمّ غَسَلَ وَجهَهُ الخ (ب) (ابوداؤدشريف،باب في الوضوء مرتين،ص۲۰،نمبر۱۳۷) په دې حديث کي دهر عضو(اندام) لپاره جلاجلا اُوبَه اخستل سوي دي په يوبل حديث کي په لږ اُوبُوکي دغسل کولوڅخه منع راغلې ده که دده پربدن نجاست نه وي نوبيادمنع کولو دغه وجه کېدلائي سي چې اُوبَه د استعمالېدوروسته دبل چا پکار نسي ورتلائي ځکه په هغه کي ددننه داخلېدو او مستعمل کولوڅخه منع کړل. په حديث کي دئ. اَبُوهُرَيرَةَ (ؓ) يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَيَغتَسِلُ اَحَدُكُم فِي المَاءِ الدّائِمِ وَهُوَ جُنُبٌ (ج) (مسلم شريف،باب النهي، عن الاغتسال في المآء الراكد،ص۱۳۸،نمبر۲۸۳) ددې حديث څخه معلوم سوچې مآء مستعمل پاک خودي لېکن دپاک کولو صَلاَحِيّت نه لري .

حاشيه : (الف) حضرت سائب فرمائي چې زُمَاخاله زه حضور(ﷺ) لره بوتم او وويل ائ دخدائ رسول (ﷺ) ! زُمَا د خُور په زوئ کي د جُنُونِيّت (لېونتوب) اثر دئ .نوحضور (ﷺ) زُومَا پر سر لاس راتېرکړئ او زوما لپاره دبرکت دعآء وکړه .بيائي اَودَس وکړئ نوما دحضور (ﷺ) د اَودَس اُوبَه وچينلې (ب) حضرت ابن عباس τ فرمائي چې آيا تاسو دا خُوښَه ده چې حضور (ﷺ) څرنګه اَودَس کاوئ زه دروښايم؟ بيائي يو لوښئ راوغُوښتَئ چې په هغه کي اُوبَه وي . ددې څخه په ښي لاس يوه لَپَه واخسته نوئي مَضمَضَه او اِستِنشَاق په وکړئ. بيائي دوهمه لَپَه واخسته او دواړه لاسونه سره جمع کړل مخ ئې په پري مينځئ.....الخ (ج) حضور (ﷺ) وفرمائل په تاسوکي دي څوک په ولاړو اُوبُوکي غُسل نه کوي په داسي حال کي چې دئ جُنُب وي .

[۴۳] وَالمَآ ءُ المُستَعمَلُ كُلّ مَآءٍ اُزِيلَ بِهِ حَدَثٌ اَو اُستُعمِلَ فِي البَدَنِ عَلْي وَجهِ القُربَةِ .

فائده : صاحب د هدايه د مآء مستعمل دحکم په لږ کي څو قولونه ذکرکړي دي. لېکن د اکثرو اِمَامَانُو صحيح قول دادئ چې دا پاکِ دي لېکن دپاک کولو صلاحيت نه لري (كماقال موسوعة الامام الشافعي،باب حكم المآء المستعمل ج اول،ص۵۲) .

[۴۳] مآء مستعمل هر هغه اُوبَه دي چې (۱) په هغه باندې حَدَث ليري کړئ وي (۲) يايې د قُربَت په توګه پر بدن استعمال کړي وي .

تشريح : (۱) که عيني نجاست پر بدن يا پرکپړوباندي وي .هغه په اُوبُوسره ليري کړي نوهغه اُوبَه ناپاکِ دي. او که چيري نجاست عيني نه وي صرف حَدَثِ اَکبَر(جنابت) يا حَدَثِ اَصغَر (اَودَس) لپاره اُوبَه استعمال کړې نو دا مآء مستعمل دي (۲) يا د اَوّل څخه اَودَس موجود وي لېکن دقُربَت اِلٰهِي دحاصلولو لپاره دُوَهَم وار اَودَس وکړئ نو دا هم مآء مستعمل دي.چې حکم ئې لوړبيان سوئ دئ .

فائده : امام محمد فرمائي چي دقُربَت (ثواب) په نِيّت اَودَس وکړي نواُوبَه مستعملي ګرزي اوکه د قُربَت بغيره اُوبَه استعمال کړي نو مستعملي نه ګرزي .
پام لرنه : چي کله اُوبَه د عُضو(اندام) څخه جلاسي بيامستعملي ګرزي. ددې څخه مخ کي مستعمل ګرزولوکي مجبوري ده .
لغت : حَدَثٌ : حدث اصغر لکه اَودَس .حدث اکبر لکه جنابت،نجاست عيني ته نجاست وائي، وَجهُ القُربَةِ : دحدث دليري کولونيت ئې وي يا پريوه اَودَس باندي بل اَودَس کولونيت وي .

...اَللّٰهُم يااَللّٰهُ يَا رَحمٰنُ يَا رَحِيمُ...

[۴۴] وَکُلّ اِهَابٍ دُبِغَ فَقَد طَهُرَ جَازَتِ الصّلوةُ فِيهِ وَالوُضُوءُ مِنهُ [۴۵] اِلاّ جِلدَ الخِنزِيرِ وَ الآدَمِيّ .

﴿... د چمړې يعني څَرمَنِ احکام ...﴾
[٤٤] و اُومَه (کچه) څرمن ته چي دَبَاغَت ورکړي(پخه ئې کړي)نوهغه پاک کيږي. پرهغه لمونځ جائز دئ او دهغه په لوښي باندي اَودَس کول جائزدئ .
وجه : (١) د مُردار(سوي حيوان) وچمړه(څرمن)ته چي دباغت ورکول سي نو د هغې ناپاکه رُطُوبَت(نندوالئ)وزي، او بَيَدُونکي وينه يې وزي صرف چمړه پاته کيږي نو ځکه دا پا که ده. اوپردغه چمړه لمونځ کولائي سي.ددغه چمړې(څخه جوړسوي)لوښي کي اُوبَه وي نو اَودَس اوغُسل په کولائي سي. دعربوسره اکثر دغه رنګ لوښي و (٢) په حديث کي دئ. عَن اِبنِ عَبّاسٍ (رضی الله عنه) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَيّمَا اِهَابٍ دُبِغَ فَقَد طَهُرَ (الف) (نسائي شريف،باب جلودالميتة،ج دوهم، ص١٦٩،نمبر۴۲۴۶) په يوبل حديث کي دئ زَکٰوةُ المَيتَةِ دَبَاغُهَا (نسائي شريف،باب جلود الميتة،ص١٦٩،نمبر٤٢٥١/مسلم شريف،باب طهارة جلود الميتة بالدباغة،ص١٥٧،نمبر٣٦٦) ددې احاديثوڅخه معلوم سو چي د پَخَوَل (دباغت) وروسته دمردارسوي حيوان چمړه پاک کيږي .
پام لرنه : په کوم حديث کي چي منع راغلې ده هغه دګَچَه (ناپوخته) چمړې څخه منع راغلې ده چي دباغت نه وي ورکړل سوئ .
[٤٥] لېکن د خنزير (سُوَر) چمړه او د انسان چمړه نه پاک کيږي .
وجه : سُوَر(خنزير) نَجَسُ العَين دئ ځکه دهغه چمړه ددباغت ورکول بعد هم صفا کيږي. په آيت کي دئ اَولَحمَ الخِنزِيرِ فَاِنّهُ رِجسٌ (آيت ١٤٥،سورة الانعام٦) او د انسان چمړه دعزت اوشرافت په وجه ددباغت (پخول)بَعد هم قابل د استعمال نه ده .

حاشيه : (الف) و يوه كچه چمړه ته چي دباغت وركول سي نوهغه پاكيږي .

[۴۶] وَشَعرُ المَيتَةِ وَعَظمُهَا طَاهِرٌ .

[٤٦] د مُردَار سوي حيوان بېښتان اوهډوكي پاک دي .

وجه : (١) بېښتان،هډوكي،نوكان اوښكرانوكي بيدونكې وينه نه وي ،اونه ناپاک رُطُوبَت (نودوالئ) لري نوځكه د مُردَار سوي حيوان دغه شيان هم پاک وي (٢) په حديث كي دئ.قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَا ثَوبَانُ اِشتَرِ لِفَاطِمَةَ قلادةً مِن عَصَبٍ وَسُوَارَينِ مِن عَاجٍ (الف) (ابوداؤدشريف،باب في الانتفاع بالعاج،ج٢،ص٢٢٧،نمبر٤٢١٣) ددې حديث څخه معلوم سو چي د مُردَار سوي حيوان پلې (رګونَه) هم پاک دي. اود فِل(فيل) غاښونه هم پاک دي. كه نه نوحضور (ﷺ) د پُلُو(رګو)دغارګئ او د فِل(فِيل) غاښوڅخه جوړسوي بنګړيانو د اخستلوحكم څرنګه كاوئ ؟

فائده : امامِ شافعي دچمړې (پوست)بغيره ټول شيان ناپاک ګڼي.دده دليل دا حديث دئ. عَن عَبدِاللهِ بنِ عَكِيمٍ قَالَ كَتَبَ اِلَينَا رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَن لاَ تَستَمتِعُوا مِنَ المَيتَةِ بِإِهَابٍ وَلاَعَصَبٍ (ب) (نسائي شريف،باب مايدبغ به جلود الميتة، ج٢، ص١٧٠، نمبر٤٢٥٥/ابن ماجه شريف،باب من كان ينتفعوا من الميتة باهاب ولا عصب،ص٥٢٠، نمبر٣٦١٣/دارقطني،باب الدباغة،ج١،ص٤٢،نمبر١١٣) احناف د ابوداؤد حديث څخه استدلال كوي چي په هغه كي د پُلُو(رګو)او د فِل(فيل) دغاښوڅخه استفاده كولو اجازت معلومېږي سَمِعتُ اُمّ سَلَمَةَ تَقُولُ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) يَقُولُ لاَ بَأسَ بِمِسكٍ المَيتَةِ اِذَا دُبِغَ وَلاَ بَأسَ بِصُوفِهَاوَشَعرِهَا وَقُرُونِهَا اِذَاغُسِلَ بِالمَآءِ (ج) (دارقطني،باب الدباغة،نمبر١١٣) ددې حديث څخه معلوم سو چي هډوكي،بنكران، او بېښتان پاک دي .

حاشيه: (الف) حضور(ﷺ)وفرمائل ائ ثوبان دفاطمة لپاره دپُلُو(رَګُو)غارګئ اود فِل دغاښوذُوَه بنګړيان واخله (ب) عبدالله بن عكيم فرمائي چي ومو ر (جهينه) و خلګوته د حضور (ﷺ) خط راغلئ چي د مُردَار سوي حيوان پر چمړه باندي نفع مَه اخلئ او نه دهغه د پُلُو(رګو)څخه نفع اخلئ (ج) حضور (ﷺ) به فرمائل چي د مَرَه حيوان په پوست كي څه حرج نسته كه دباغت ورلره وركړي. او دهغه په وَړَئ او دهغه په بېښانو او دهغه د بنكرانو په استعمال كي هيڅ حرج نسته كه په اُوبُو پرې مينځل سي.

[۴۷] وَ اِذَا وَقَعَت فِي البِئرِ نِجَاسَةٌ نُزِحَت وَكَانَ نَزحُ مَا فِيهَا مِنَ المَآءِ طَهَارَةٌ لَهَا .

اُصُول : په كومو اَډوكو كي چي بَيَدُونكې وينه نه وي هغه پاك دي .

لغت : اِهَابٌ : كَچّه چمړه چي دباغت نه وي وركول سوئ دارنګه چمړه .

﴿... د څاه مسئلې ...﴾

[٤٧] كه په څاه كي ناپاكي يله سي نودهغه اُوبَه به را استل كيږي چي كومي اُوبَه په هغه كي دي بس دهغه را استل ددې څاه پاكي ده .

تشريح : مخ کي تير سوي دئ چي که د لُوئي تالاؤ په شان څاه وي نودلږ نجاست په يله کېږوباندي هغه نه ناپاک کيږي. لېکن که دڅاه اُوږدوَل او پُسُور کم وي نو ناپاکي ديوې کنارې څخه بلي کنارې ته ځي او ناپاکي به لاندي کيږي لاندي دجورتوب خوابه ونيسي چي په نتيجه کي به ټول څاه ناپاک سي. دټول څاه اُوبَه ګڼي ګڼي راکښل مشکل کاردئ نو په صحرآء اوځنګله کي چي کوم نجاست باربار په څاه کي يله کيږي .لکه خَرشَنَه(خوشايه)اوګوبر(څپاړي) اودغه رنګه نورشيان نوداشيان که په ډېراندازه باندي يله سي نوبياخوناپاک کيږي. اوکوم نجاست چي کله ناکله يله کيږي لکه ويني نودهغه يوڅاڅکئ چي يله سي نوهم نه ناپاک کيږي .دغه رنګه دناپاکو اُوبُوڅخه به دڅاه ډېوالونه هم ناپاک سي خود هغومينځل مشکل (ګران کار)دئ نوځکه دهغودمينځلوضرورت نسته صرف د اُوبُو په راکښلوبه څاه پاک سي.دغه رنګه دا پاته ګڅرَه اوباقي مانده اُوبَه را ايستلوهم ضرورت نسته هغه هم دااُوبُو په را ايستلو پاک کيږي.دا آسانتياشريعت دمجبورئ په وجه ورکړې ده ځکه قياس په دي کي دخل نه لري. دټول څاه دناپاکئ دليل دادئ. عَن عَطَآ ءَ أَنّ حَبَشِيًّا وَقَعَ فِي زَمزَمَ فَمَاتَ فَاَمَرَ اِبنَ الزّبَيرَ فَنَزَحَ مَائَهَا (الف)

حاشيه : (الف) حضرت عطآء فرمائي چي يو حبشي د زَمزَم په څاه کي يله سو او مَړ سو نوعبدالله بن زبيرτ حکم وکړئ چي ددي ټولي اُوبَه راوکاږئ .

[۴۸] فَاِن مَاتَت فِيهَا فَارَةٌ اَو عُصفُورٌ اَو صَعُوةٌ اَو سَودَانِيّةٌ اَو سَامُ اَبرَصٍ نُزِحَ مِنهَامَابَينَ عِشرِينَ دَلوًا اِلٰي ثَلٰثِينَ بِحَسبِ كِبرِالدّلوِ وَصِغرِهَا

(طحاوي شريف، باب المآء تقع فيه النجاسة،ص١٦/دارقطني،باب البئر اذا وقع فيها حيوان،ص٢٨، نمبر٦٢)
ددي حديث څخه معلوم سو چي دانسان په مرګ سره ټول څاه ناپاک ګرزي. دغه رنګه دناپاکئ (ګندګئ) په يله کېدوسره ټول څاه ناپاک ګرزي .
فائده : د امامِ شافعي مسلک تير سو چي دُوَه (٢) منګيان اُوبَه وي په څاه کي ترڅو چي د اوصافِ ثَلٰثه څخه يو وصف نَه وي بدل سوئ نو نه ناپاک کيږي، دليل يې حديث قُلّتَين دئ چي تير سو .
لغت : نَزحٌ : دڅاه څخه اُوبَه راکښل .
[٤٨] که په څاه کي مُوږَک يا مَرغَئ يا سُر رنګه مرغئ يا توره وُږدلکئ مرغئ يا ګربَک مړسي نو دشلو(٢٠) څخه تردېرشُ (٣٠) سَولَغُو پوري به راکاږي، د سَولَغي دغټ والي اوکشني والي په اعتبار .
تشريح : يعني که کشنئ سَولاَغَه وي نودېرش (٣٠) اوکه لُويَه سَولاَغَه وي نو شل (٢٠) سَولاَغي به راکاږي او يوقول دادئ چي شل (٢٠) واجب دي او دېرش سَولاَغي د استحباب په توګه دي دا ټول هغه وخت دي چي حيوان صرف په کي مړوي پرسېدلئ

او څيري سوئ (شوړېدلئ) نه وي که چيري پرسېدلئ يا شوړېدلئ و نوکه کشنئ حيوان وي بيابه هم د ټول څاه اُوبَه راکښل کيږي .
وجه : عَن عَلِيٍّ (ﷺ) قَالَ اِذَا سَقَطَتِ الفَارَةُ اَوِ الدّابّةُ فِي البِئرِ فَانزَحهَا حَتّٰي يَغلِبَکَ المَآءُ (الف) (طحاوي شريف،باب المآء تقع فيه النجاسة،ص١٦نمبر٢٧١/مصنف ابن اَبِي شيبة،١٩٨ فِي الفارة والدجاجة واشباههما تقع فِي البئر،ج اول،ص١٤٩،نمبر١٧١١) دا حديث پر

حاشيه : (الف) د حضرت علي τ څخه روايت دئ چي په څاه کي مُوړک يله سي نو دومره مقدار راوکاړئ چي اُوبَه پر تَا باندي غالب سي .

[٤٩] وَ اِن مَاتَت فِيهَا حَمَامَةٌ اَو دُجَاجَةٌ اَو سِنّورٌ نُزِحَ مِنهَا مَابَينَ اَربَعِينَ دَلواً اِلٰي خَمسِينَ [٥٠] وَ اِن مَاتَت فِيهَاکَلبٌ اَوشَاةٌ اَو آدَمِيّ نُزِحَ جَمِيعُ مَا فِيهَا مِنَ المَآءِ .

پرسېدو او پرځړېدو باندي محمول دئ. چي مُوړک وپرسيږي يا وشوړيږي نو دټول څاه اُوبَه به راکښل کيږي. که نه نوبياد شلو(٢٠) څخه تر دېرش (٣٠) پوري سَولَاغي دي .
پام لرنه : دشلوڅخه تردېرش سَولَاغُوپوري دليل ما نَه دئ پيداکړئ .
لغت : عُصفُورَةٌ : مَرغئ، صَعُوةٌ : سُر رنګه کشني مَرغَئ ده، سَودَانِيّةٌ : تور رنګه وږدې لکئ والامَرغَه دئ، سَامٌ اَبرَصٌ : کربُونئ .
[٤٩] اوکه په څاه کي کوتره ياچَرګَه ياپشي مړه سي نودڅاه څخه دچلوېښتو(٤٠) ترپنځوس(٥٠) پوري به سَولَاغي راکښل کيږي .
وجه : (١) عَنِ الشّعَبِيِّ فِي الطّيرِ وَالسِّنّورِ وَ نَحوِهِمَا يَقَعُ فِي البِئرِ قَالَ نُزِحَ مِنهَا اَربَعُونَ دَلواً (الف) (طحاوي شريف،باب الماء تقع فيه النجاسة ص١٦،مصنف عبدالرزاق ،باب البئر تقع فيه الدابة ج اول نمبر٢٧٢،مصنف ابن اَبِي شيبة نمبر١٧١٢)
[٥٠] اوکه په څاه کي سپئ يا وُزَه يا انسان مړسي نوټول اُوبَه به را استل کيږي .
وجه : (١) دا لوئ حيوانان دئ د دُوئي دمرګ سره سم دستي په ټول څاه کي نجاست ځله خوريږي نوځکه دټول څاه اُوبَه به راکاړي (٢) لورحديث تيرسو چي د زَمزَم په څاه کي حبشي يله سو نو د ټول څاه اُوبَه ئې راوکښي (٣) عَن عَطَآ ءَ قَالَ اِذَا سَقَطَ الکَلبُ فِي البِئرِ فَاُخرِجَ مِنهَا حِينَ سَقَطَ نُزِحَ مِنهَا عِشرُونَ دَلوًا فَاِن اُخرِجَ حِينَ مَاتَ نُزِحَ مِنهَا سِتّونَ دَلوًا اَو سَبعُونَ دَلوًا فَاِن تَفَسّخَ فِيهَا نُزِحَ مِنهَا مَآ ءُهَا فَاِن

حاشيه : (الف) دشعبي څخه منقول چي مرغه، پشي، او ددې په رنګه بل حيوان په څاه کي يله سي نو دڅاه څخه به چلوېښت (٤٠) سَولَاغي راخيږي ،يوقول دئ چي اَويَا(٧٠) سَولَاغي به راکښل کيږي .

[٥١] وَ اِن اَنتَفَخَ الحَيوَانُ فِيهَا اَو تَفَسّخَ نُزِحَ جَمِيعُ مَا فِيهَا صَغُرَ الحَيوَانُ اَو كَبُرَ [٥٢] وَعَدَدُ الدِّلآءِ يُعتَبَرُ بِالدّلوِ الوَسَطِ المُستَعمَلِ لِلآ بَارِ فِي البُلدَانِ .

لَم تَستَطِيعُوا نُزِحَ مِائَةَ دَلوٍ وَعِشرُونَ وَمِائَةً (مُصنّف عبدالرزاق،باب البئر تقع فيه الدابة،ج اول،ص٨٢،نمبر٢٧٤/مصنف بن اَبِي شيبة ١٩٨ فِي الفارة تقع في البئر،ص١٤٩،نمبر١٧١٤) .

[٥١] كه حيوان په څاه کي وپرسېدئ يا وشوړېدئ نوټولي اُوبَه به راکښل کيږي. حيوان کشنئ وي که غټ .

وجه : (١) دپرسېدو او شوړېدو تر وخت پوري نجاست په ټول څاه که ځله خورسي نوځکه که کشنئ حيوان وي که غټ دټول څاه اُوبَه به راکښل کيږي (٢) لوړ دحضرت عليτ قول تير سو چي مُوږَک يله سي او وپرسيږي وشوړيږي نودټول څاه اُوبَه به راخيږي .

لغت : اِنتَفَخَ : وپرسيږي : تَفَسّخَ : وشوړيږي .

[٥٢] د سَولاَغُو په تعداد کي درمياني سَولاَ غې معتبر دي کُوم چي په بناروکي دځاهانولپاره استعماليږي .

تشريح : کومه سَولاَغَه چي په عام توګه سره پرځاهانو باندي استعماليږي چي تقريبًاپه هغه کي درې نيم کېلو اُوبَه ځائيږي. دغه سَولاَغَه معتبره ده په دغه سَولاَغَه باندي د څلوېښتوڅخه تر پنځوس پوري سَولاَغي راوکاږي نوځاه پاک دئ .

لغت : دِلاَءٌ : د دَلوٌ جمع ده معنْي سَولاَغَه .

پام لرنه : په شريعت که همېشه اَوسَط شئ مُعتَبَردئ. په آيت کي ودې ته اشاره سوې ده.فَكَفّارَتُهُ اِطعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِن اَوسَطِ مَا تُطعِمُونَ اَهلِيكُم اَوكِسوَتُهُم (آيت ٨٩،سورةالمآئدة٥) په دې آيت کي د اَوسَط (درمياني) خوراک حکم سوئ دئ .

[٥٣] فَاِن نَزَحَ مِنهَا بِدَلوٍ عَظِيمٍ قُدِّرَ مَايَسَعُ مِنَ الدِّلآءِ الوَسَطِ اُحتُسِبَ بِهِ [٥٤] وَ اِن كَانَتِ البِئرُ مَعِينًا لاَ يُنزَحُ وَ وَجَبَ نَزحُ مَا فِيهَا اُخرِجُوا مِقدَارَ مَا فِيهَا مِنَ المَآءِ .

[٥٣] بياکه دځاه اُوبَه په لويه سَولاَغَه راوکښل سي په دونه اندازه چي په اَوسَط (درمياني) سَولاَغَه کي ځائيږي نوبه په دغه سره حساب کيږي .

تشريح : مثلاً دومره غټه سولاغه ئې استعمال کړه چي په هغه کي اَوسَط لس(١٠) سولاغې اُوبَه ځائيږي . نو په دوې (٢) سولاغې راکښلوباندي به شل (٢٠) سولاغې راوخيږي او دکوم څاه څخه چي شل سَولاَغې راکښل وې، هغه به شل سَولاَغې شمارل کيږي، ځکه چي مقصد حاصل سو .

لغت : اُحتُسِبَ بِهِ : حِسَابَل کیږی به، شمارل کیږی به .
[٥٤] که چیري څاه چَشمَه دار وي(دچینووالاوي)چي ټولي اُوبَه ئې نسي راکښل کېدائي . نوواجب دئ دومره راکښل څومره اندازه چي په دي کي اُوبَه وي .
تشریح : په څاه کي دننه چینه روان وي او دومره اُوبَه راوزي چي ټولي اُوبَه راکښل مُشکل وي. په داسي صورت کي به په دوو(٢) ماهرانو تجربه کارانو خلګو باندي اندازه لګول کیږي چي په څاه کي په دې وخت کي څومره اُوبَه سته ؟ چي هرڅومره سولاغې اُوبَه په دې وخت کي وي هغونه سَولاَغې چي راوکاږي نوڅاه به پاک سي.دچینو اُوبَه ددې وروسته چي هرڅونه راسي اوڅاه ډک کړي (هیڅ پرواه نه لري) د امام ابوحنیفه دغه قول دئ. یوبل صورت داهم دئ چي دهغه څاه په اندازه کېدئ وکاږي او اُوبَه را وکاږي دغه کېدئ په ډک کړي. نوبه داسي وګنو ګواکه دڅاه اُوبَه ټولي راوختلې. ددې څخه به څاه پاک سي.د زَمزَم په څاه کي چي حبشي یله سوئ و چې دهغه لکبله ټولي اُوبَه راکښلې، خو دچینو په وجه (چي په څاه کي رابیدلې) ټولي اُوبَه ئې نه راوکښې. لېکن چي څومره اُوبَه په څاه

[٥٥] وَعَن مُحَمّدِ بِنِ الحَسَنِ رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰي اَنّهُ قَالَ يُنزَحُ مِنهَا مِائَتَا دَلوٍ اِلٰي ثَلٰثِ مِائَةٍ [٥٦] وَ اِذَا وُجِدَ فِي البِئرِ فَارَةٌ اَو غَيرُهَا وَلاَ

کي وې حضرت عبدالله بن زبیرτ وفرمائل چي په دغه مقدارأُوبَه راکښل کفایت کوي.عبارت دادئ. فَنَظَرُوا فَاِذَا عَينٌ تَنبَعُ مِن قِبَلِ الحَجَرِالاَسوَدِ قَالَ فَقَالَ اِبنُ الزّبَيرِحَسبُكُم (مصنف ابن آبي شيبة ١٩٨-في الفارة والدجاجة واشباههما تقع فى البئر ج اول ص١٥٠نمبر ١٧٢١)
لغت : مَعِينًا : دچینوڅاه.د عَينٌ څخه مشتق دئ .
[٥٥] دامام محمدڅخه منقول دئ چي ددوسو(٢٠٠) سولاغوڅخه تردې (٣٠٠) سوپوري به راکاږي .
تشریح : (١) دا قول دسهولت(آسانتیا) لپاره دئ (٢) امام محمدچي په خپل ملک بغداد اوکوفه کي وکتل چي په عام توګه سره په څاهانوکي د دوسو(٢٠٠) څخه تردې(٣٠٠)سوه سولاغو پوري اُوبَه موجودي وي. نولدې کبله د واجب په توګه دوه سوه(٢٠٠)او د استحباب په توګه درې سوه(٣٠٠) سولاغې را وکاږي نوڅاه به پاک سي د ټول څاه د اُوبُو راکښلو دلیل دحبشي په څاه کي دیله کېدو حدیث دئ چي تیرسو. دغه رنګه پرځائ ولاږي اوبوکي دجنابت دغسل څخه دمنع کولو حدیث تیر سو.چي دائني معلومیږي چي ټول څاه ناپاک ګرزی .
پام لرنه : مُردَار سوئ حیوان دي اوّل راوکاږي دهغه بعد دي په سولاغه دغه مقدار اُوبَه راوکاږي نوبیاڅاه پاک کیږي .
اصول : اصل مقصد په څاه کي موجودي ټولي اُوبَه راکښل دي .

[۵۶] كه په څاه كي موږک يادغه رنګه بل شئ مَړ ومونډل سو، اودانه ومعلوم چي كله يله سوئ دئ. اولاتر اوسه نه پرسپدلئ وي نه شوړپدلئ وي. نوديوې ورځي او ديوې شپې لمونځونه به راګرزوي كله چي په دغه اُوبُو ئې اَودَس كړئ وي اوهغه توله شيان به دوباره مينځل كيږي چي وهغه ته دا اُوبَه وررسپدلې وې .

يَدرُونَ مَتْي وَقَعَت وَلَم تَنتَفِخ وَلَم تَنفَسِخ اَعَادُوا صَلوةَ يَومٍ وَلَيلَةٍ اِذَاكَانُواتَوَضّوُٓامِنهَاوَغَسَلُواكُلّ شَيئٍ اَصَابَهُ مَائُهَا [۵۷]وَاِن اِنتَفَخَت اَو تَفَسّخَت اَعَادُوا صَلوةَ ثَلْثَةَ اَيّامٍ وَ لَيَالِيهَا وَ هٰذَا قَولُ اَبِي حَنِيفَةَ [۵۸] وَ قَالاَ لَيسَ عَلَيهِم اِعَادَةُ شَيئٍ حَتّي يَتَحَقّقُوا مَتْي وَقَعَت .

وجه : چي يوحيوان په څاه كي مَړ ومونډل سي او يو علامت نه وي چي كله يله سوئ دئ او كله مَړ دئ نو يوه دوې ګنټي څه خاص معيار نه دئ نوځكه دابه فرض كوو چي يوه شپه يوه ورځ مخ كي مَړ دئ په دغه دوران كي چي كوم كوم چا په دې څاه باندي اَودَس كړئ وي هغه توله لمونځونه به دوئي راګرزوي ځكه چي په ناپاک اُوبُو خو نه اَودَس صحيح سو او نه لمونځ او په دې اُوبُو باندي چي كوم كوم چاپه يوه شپه يوه ورځ كي غسل كړئ وي.يائي كيږي (جامې) مينځلي وي هغه خلګ به هم غسل اولمونځ راګرزوي .ځكه چي په ناپاک اُوبُو سره ئې غسل وكړئ او كيږي ئې پري مينځلي .

اصول : پراحتياط باندي به عمل كول كيږي .

[۵۷] اوكه چيري حيوان پرسپدلئ يا شوړپدلئ وي. نو د درو ورځو درو شپو لمونځونه به راګرزوى. د امام ابوحنيفة په قول سره .

وجه : په عام توګه سره حيوان په درې ورځى درې شپې كي پرسيږي اوشوړيږي، او ددې برخلاف علامت نسته نو ځكه دغه به ويل كيږي چي حيوان درې ورځي مَخكِي يله سوئ دئ او مَړ دئ او اُوس په درې ورځي پرسپدلئ او شوړپدلئ دئ ځكه چي كوم چاپه دغه وخت كي په دې اُوبُوسره اَودَس ياغسل كړئ وي لمونځ ئې په كړئ وي هغه به راګرزوي. دحضرت قول پريقين او احتياط باندي مبني دئ .

[۵۸] او صاحبين فرمائي چي پر اَودَس كونكي باندي ديوه شي راګرزپدل نسته ترڅوچي تحقيق ونه سي چي كله يله سوئ دئ .

[۵۹] وَ سُورُ الاٰدَمِيّ وَمَايُوكَلُ لَحمُهُ طَاهِرٌ .

وجه : (۱) امام ابويوسف وليدئ چي يوه مرغه يوبل مَړحيوان په خوله كي راخستئ و په څاه كي واچاوئ نوده بيا رجوع وكړه او وفرمائل چي كپدلائي سي چي يو پرسپدلئ مُوږَك ئې په څاه كي اچولئ وي .نوځكه د درو ورځومَخكي حكم به نه

لګول کيږي (۲) دا خويقين دئ چي اُوبَه پاک دي او دا شک دئ چي دري ورځي مخ کي به حيوان يله سوئ وي نو پر يقين باندي به عمل کيږي او اُوبَه تر اُوس پوري پاک ګڼو. او دکوم وخت څخه چي مَړحيوان ئې په څاه کي ليدلئ دئ دهغه وخت څخه به څاه ناپاک ګڼل کيږي .

﴿... د پَسخُوردې استعمال ...﴾

[۵۹] د انسان اوکوم حيوان چي غوښې خوړل کيږي دهغه پس خورده پاک ده .

وجه : (۱) لاړي (نانې) د غوښې څخه پيداکيږي نو چي کوم حکم دغوښې دئ هغه حکم د لاړو (ناړو) هم دئ. او دکوموحيوانانو چي غوښې حلال دي دهغو لاړي به هم پاک وي. اوپس خورده به هم پاک وي (۲) عَن اِبنِ عَبّاسٍ (ؓ) قَالَ دَخَلتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) اَنَا وَخَالِدُبنِ وَلِيدَ عَلٰي مَيمُونَةَ فَجَاءَتنَا بِاِنَاءٍ مِن لَبَنٍ فَشَرِبَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) وَ اَنَا عَلٰي يَمِينِهِ وَخَالِدٌ عَلٰي شِمَالِهِ فَقَالَ لِي اَلشّربَةُ لَکَ فَاِن شِئتَ اَثَرتُ بِهَا خَالِدًا فَقُلتُ مَاکُنتُ لِاُوثِرَ عَلٰي سُورِکَ اَحَدًا (الف) (شمائل ترمذي باب ماجآء فی صفة شراب رسول اللهρ ص۱۳) ددې حديث څخه معلوم سو چي د انسان پس خورده پاک ده په دغه وجه خوحضور (ﷺ) خپله پس خورده دچيښلولپاره وبل ته ورکړه، دغه رنګه حديثونه ډيردي چي دحلال حيوان پس خورده پاک ده .

حاشيه : (الف) ابن عباس τ فرمائي چي دحضور (ﷺ) سره زَه او خالدبن وليدτ حضرت ميمونة(ؓ) لره راغلو. نودشيدو لوښئ راوړل سو حضور (ﷺ) نوش کړئ، او زه دحضور (ﷺ) پرښي اَړخ ناست وم او خالد پرکنِ اَړخ، نو وماته حضور (ﷺ) وفرمائل چي دچيښلوحق ستادئ،که ته وغواړي نو و خالد ته ورکړه، ماورته وويل ستا په پَس خُوردَه کي زه وهيڅ چاته ترجيح نه سم ورکولائي .

[۶۰] وَسُؤرُ الکَلبِ وَالخِنزِيرِ وَسِبَاعِ البَهَائِمِ نَجَسٌ .

وجه : (۱) پس خورده دغوښې څخه پيداکيږي او غوښه حلال ده او دخوراک قابل ده، نودهغه پس خورده به هم پاک وي (۲) دليل داحديث دئ عَنِ البَرَ آ ءَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مَا اُکِلَ لَحمُهُ فَلاَبَأسَ بِسُورِهِ (سنن للبيهقي،باب الخبرالذی ورد في سؤرمايوکل لحمه،ج اول،ص۳۸۱،نمبر۱۱۸۹) .

[٦۰] دسپي پس خورده او دخنزير او څيرونکي حيوانانو پس خورده ناپاک ده .

وجه : (۱) د سُپي خنزير اوځيرونکي حيوانانو غُوَښَه ناپاک ده او مخ کي دا تير سوچي لاړي(ناړي) دغوښوڅخه پيداکيږي او غُوَښَه حلال نه ده نولاړي او پس خورده به هم ناپاک وي (۲) د سُپي دپس خوردې دناپاکئ په لړکي داحديث دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ (ؓ) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِذَا شَرِبَ الکَلبُ فِي اِنَاءِ اَحَدِکُم فَلْيَغسِلهُ سَبعًا (الف) (بخاري شريف،باب اذا شرب الکلب في اناءاحدکم فليغسله سبعا،ص۲۹نمبر۱۷۲) ددغه رنګه حديثو په وجه امام شافعي او امام مالک فرمائي چي د سُپي د پس خوردې لوښئ چي اُوَه (۷) واره پري مينځي نوپاک کيږي (۳) زمونږ دليل دحضرت ابوهريرةτ قول دئ.عَن اَبِي

هُرَيرَةَ (ﷺ) قَالَ اِذَا وَلَغَ الكَلبُ فِي الإنَآءِ فَاهرِقهُ ثُمّ اَغسِلهُ ثَلاَثَ مَرّاتٍ (ب) (دارقطني،باب ولوغ الكلب في الانآء،ج اوّل،ص٦٦،نمبر١٩٣) ددې فتوْي څخه معلوم سو چې دسپي پس خورده چې دې (٣) واره پرې مينځل سي نو پاک کيږي (٤) اصل خبره داده چې ناپاکي زائل سي نو لوښئ پاک کيږي .او چې غليظ(سخت)ناپاکي لکه غُوَل او مِچَارِي چې دې واره پرې مينځي نو زائليږي او لوښئ پاک کيږي نو پس خورده خوپه طريقهٔ اولْي سره بايدپاک سي.او که بياچيري پر حديثِ صحيح باندي عمل وسي او اُوَه (٧) واره پرې مينځل سي نو

حاشيه : (الف) حضور(ﷺ) وفرمائل چې سپئ ستاسوڅخه ديوه په لوښي کي وچيني نوهغه اُوَه(٧) واره پرې مينځئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل چې سپئ په لوښي کي خُولَه واچوي نو اُوبَه توئي کړئ بياهغه دې واره پرې مينځئ .

[٦١] وَ سُؤرُالهِرّةِ وَ الدّجَاجَةِ المُخَلاّةِ وَسِبَاعِ الطّيُورِ وَ مَايَسكُنُ فِي البُيُوتِ مِثلُ الحَيّةِ وَالفَارَةِ مَكرُوهٌ .

ثواب به ملاؤسي، خنزير نَجَسُ العَينَ دئ ځکه دهغه پس خورده به ناپاک وي .
وجه : وَلحَمَ الخِنزِيرِ فَاِنّهُ رِجسٌ (آيت ١٤٥سورة الانعام٦) دځيرونکوحيوانانو غوښه ناپاک ده نودهغه پس خورده هم ناپاک ده. ځکه چې هغه سَبُع يعني درنده حيوان دئ. په حديث کي دئ عَن اَبِي ثَعلَبَةَ (ﷺ) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) نَهْي عَن اَكلِ كُلّ ذِى نَابٍ مِنَ السّبَاعِ (بخاري شريف،باب اكل كل ذي ناب من السباع،نمبر٥٥٣٠)
[٦١] (١) دپشي پس خورده (٢) دآزادګرزېدونکي چرګي پس خورده (٣) دځرونکو مرغانو(٤) اودهغه حيوانانو پس خورده چې په کُورکي ګرزي لکه مار او مُوږک مکروه ده .
وجه : (١) پشي ځيرونکئ حيوان دئ ځکه دهغه پس خورده بايد ناپاک سي لېکن دا په کورکي ګرزي او ددې څخه ځان ساتل مُشکِل کاردئ ځکه شريعت آسانی ورکړې ده او ددې پس خورده ئې مکروه کړې ده (٢) په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ (ﷺ) قَالَ يُغسَلُ الإنَآ ءُ اِذَا وَلَغَ فِيهِ الكَلبُ سَبعَ مَرّاتٍ أُولْي هُنّ وَ أُخرْي هُنّ بِالتّرَابِ وَ اِذَا وَلَغَت فِيهِ الهِرّةُ غُسِلَ مَرّةً (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في سئور الكلب، ص٢٧،نمبر٩١) عَن اَبِي هُرَيرَةَ (ﷺ) قَالَ النّبِيّ (ﷺ) اَلسّورُ سَبعٌ (سنن البيهقي،باب سؤرالهرة،ج اول،ص٢٤٩/دارقطني،باب سؤرالهرة،ج اول،نمبر٢٠٢) دپشي د پس خوردې په باب کي داحديث هم دئ. اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِنّهَا لَيسَت بِنَجَسٍ اِنّمَاهِيَ مِنَ الطّوّافِينَ عَلَيكُم وَالطّوّافَاتِ (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآ ء في سورالهرة،ص٢٧،نمبر٩٢/ ابوداؤدشريف،باب سؤر الهرة،ص١٢،نمبر٧٥) ددې حديث څخه معلوم سو چې د پُشِي

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل چي سپئ په لوښي کي خُولَه واچوي نو هغه اُوَه (۷) واره پري مينځئ او په اول او اٰخر کي په خاؤرو سره پري مينځئ او چي پشي خُولَه پکي واچوي نو يو وار به مينځل کيږي (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل پشي نه ده ناپاک، ځکه چي دا وتاسوته د باربار راتلونکوڅخه ده .

[۶۲] وَسُؤرُ الحِمَارِ وَالبَغلِ مَشكُوكٌ .

پَسخُوَردَه پاکه ده نوپه دغه وجه د دواړوحديثوپه رونړاکي دا وايو چي د پُشِي پس خورده مکروهِ تنزيهي ده دغه حال په کورکي وسپدونکو ټولو حيوانانو دئ .
آزاده وسپدونکې چَرگَه په نجاست کي خُولَه وهي ځکه ددې په خُولَه کي دنجاست دگمان په وجه پس خورده مکروه ده، که ددې مَښُوکَه بالکليه پاک وي نوددې پس خورده پاک ده ځکه چي ددې غُوَښَه خوړل کيږي .
لغت : اَلدّجَاجَةُ : چرگه. اَلمُخَلاّتُ : چي هرځائ آزادگرزي، سِبَاعُ الطّيُورِ : هغه مرغان چي ښکارکوي اوبيائي خوري. اَلحَيّةُ : مار. اَلفَارّةُ : مُورِ ک .
[٦٢] دخره پس خورده او د خَچَر پس خورده مشکوک ده .
وجه : د مشکوک کېدو وجه داده چي دخَرَه غوښي اوخُوَلُو په لړکي دواړه قسم دلائل سته حضور (ﷺ) د خَرَه دغوښودخوړلوڅخه منع کړې ده.اوچي کله غوښه نسي حلاله نودهغه څخه راوتلي لاړي هم ناپاکي دي،په دې لحاظ خو د خَرَه پس خورده بايد ناپاک وي.لېکن حضور (ﷺ) پر خَرَه باندي سپورسوئ دئ چي دهغه لکبله به دحضور (ﷺ) پر کپړوباندي د خَرَه خولې لګېدلي وې. او خولې د غوښو څخه راوزي او د خُوَلُو هم هغه حکم دئ کوم چي دپس خوردې دئ نوکه چيري دخولو دلګېدلوڅخه کپړه نه پري مينځل اوخولې پاک دي نو په دغه وجه خونولاړي هم بايد پاکي سي نوګواکي د خَرَه د لاړو په لړکي دواړه رنګه دلائل سته ځکه دخَرَه پس خورده مشکوکه ده. دناپاکئ دليل ئې دادئ. عَن جَابِرَ بنِ عَبدِاللهِ(رضی اللہ عنہ)قَالَ نَهٰي رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَومَ خَيبَرَعَن لُحُومِ الحُمُرِ وَ رَخّصَ فِي الخَيلِ (الف) (بخاري شريف،باب غزوة خيبر،ج۲،ص٦٠٦،نمبر٤٢١٩) چي غوښي نه دي حلالي نو لاړي هم نه دي پاکِ او د لاړو د پاکېدو دليل دادئ. عَن مَعَاذٍ (رضی اللہ عنہ) قَالَ كُنتُ رِدفَ النّبِيّ (ﷺ) عَلٰي حِمَارٍ يُقَالُ لَهُ عَفِيرٌ (ب) (بخاري شريف،

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د غزوۀ خيبر په ورځ د خَرَه د غُوَښو د خُوَړلوڅخه منع وکړه او د اس په غوښو کې اجازت وکړئ (ب) حضرت معاذ رضی اللہ عنہ فرمائي چي زه دحضور(ﷺ) وشاته پرخَرَه سپوروم چي نُوم ئې عَفِير وُ .

[۶۳] فَاِن لَم يَجِدِ الاِنسَانُ غَيرَ هُمَا تَوَضّأ بِهِمَا وَتَيَمّمَ وَبِاَيّهِمَا بَدَأ جَازَ .

باب اسم الفرس والحمار،ص٤٠٠،نمبر٢٨٥٦) حضور (ﷺ) پر خَرَه باندي سپورسوئ دئ نوپرکپړوباندي به خُوَلې هم لګېدلي وي او خُوَلې پاکي دي نو لاړي هم بايد پاک سي. ددغه دواړه رنګه دلائلولکبله د خَرَه پَسخُوَردَه مشکوک ده .

فائده : د امام شافعي په نبز د تير سو دلائلو په رونا کي دَخرَه پسخورده پاک ده.
اَلبَغلُ: خَچَر خو د خَرې څخه پيداکيږي نوځکه کُوم حکم چي دخرې دئ هغه حکم د خَچَر هم دئ يعني دهغه پَسخُوردَه مشکوکَ ده .
لغت : اَلبَغلُ : خَچَر .
[٦٣] که چيري يوه انسان د دواړو د پَسخُوردې څخه علاوه (نوري اُوبَه) نه کړې پيدا نوپه دواړوقسم اُوبُو دي اَودَس هم وکي او تيمم دي هم وکړي او چي کوم يو يې اوّل وکړئ جائز دئ .
وجه : چي د خَرَه او خَچَر پس خورده مشکوکه سوه نوهغه پاک هم ده اوناپاک هم ده که چيري نوري اُوبَه نه وي صرف دخَرَه يادخَچَر پس خورده اُوبَه وي نوداخواُوبَه دي .ځکه اَودَس کول پکاردئ.لېکن دا کېدائي سي چي دا اُوبَه ناپاکِ وي ځکه ده له پکاردئ چي تيمم وکړي که مخ کي اَودَس وکړي بياتيمم وکړي هم صحيح دئ او که مخ کي تيمم وکړي بيا اَودَس وکړي هم صحيح دئ .

Γ

﴿... بَابُ التّيَمّمِ ...﴾

[٦٤] (١) وَ مَن لَم يَجِدِ المَآ ءَ وَ هُوَ مُسَافِرٌ اَو خَارِجُ المِصرِ بَينَهُ وَ بَينَ المِصرِ نَحوَ المِيلِ اَو اَ كثَرَ .

﴿... بَابُ التّيَمّمِ ...﴾

ضروري پام لرنه : اَلتّيَمّمُ : د تيمم معنْي ده اراده کول او په شريعت کي د حَدَث څخه دپاک کولولپاره دخاؤرو اراده کولوته تيمم وائي ددې دليل دغه آيت دئ. فَلَم تَجِدُوا مآ ءً فَتَيَمّمُوا صَعِيدًا طَيّبًا فَامسَحُوا بِوُجُوهِكُم وَ اَيدِيكُم (الف) (آيت ٤٣سورة النسآء٤) پر اُوبُوباندي قُدرَت نه وي نو بيا تيمم جائز دئ .
[٦٤](١) چي څوک اُوبَه نه کړي پيدا په داسي حال کي چي دئ مُسافر وي يا د ښار څخه دباندي وي. او د داسړي او دښار په مابين کي يوميل يادې څخه زيات وي (نودئ به تيمم کوي) .

وجه : (۱) د اُوبُو د نیستئ په وخت کي دتیمم حکم په دغه آیت کي دئ. وَ اِن کُنتُم مَرضٰي اَو عَلٰي سَفَرٍ اَو جَآ ءَ اَحَدُکُم مِّنَ الغَائِطِ اَو لٰمَستُمُ النِّسَآ ءَ فَلَم تَجِدُوا مآ ءً فَتَیَمَّمُوا صَعِیدًا طَیِّبًا فَامسَحُوا بِوُجُوهِکُم وَ اَیدِیکُم مِّنهُ (الف) (آیت ٦سورة المآئدة، ٥) (۲) په حدیث کي دئ عَن اَبِي ذَرٍّ (ﷺ) ... قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَلصَّعِیدُ الطَّیِّبُ وُضُوءُ المُسلِمِ وَ لَو اِلٰي عَشرِ سِنِینَ (ابوداؤدشریف،باب الجنب یتیمم،ص٥٣،نمبر٣٣٢) په آیت کي دئ چي که اُوبَه نه کړي پیدا نو تیمم کولائي سي. اُوس د اُوبُو نه پیدا کېدو څلورصورتونه مصنف بیان کړي دي (۱) مسافروي دده سره اُوبَه نه وی(۲) یا د بنار څخه باهر(دباندي) وي او د اُوبُوڅخه یومیل لیري وي نو تیمّم کولائي

حاشیه : (الف) که مو اُوبَه نه کړي پیدانوپه پاکه خاؤره سره تیمم وکړئ دارنګه چي خپل مخ او خپل لاسونه مسح کړئ (ب) که تاسو ناجوړه یاست یاپرسفر یاست او ستاسو څخه یو د غُلُو څخه راسي یائي دخپلي بنځي سره جماع کړي وي اواُوبَه نه کړي پیدا نوتیمّم وکئ په پاکوخاؤروسره.دارنګه چي مخ او لاسونه مسح کړئ.

[٦٥](۲) اَوکَانَ یَجِدُ المَآ ءَ اِلاَّ اَنَّهُ مَرِیضٌ فَخَافَ اِنَ اِستَعمَلَ المَآ ءَ اِشتَدّ مَرَضُهُ اَوخَافَ الجُنُبُ اِنِ اِغتَسَلَ بِالمَآءِ یَقتُلُهُ البَرَدُ اَویَمرِضُهُ فَاِنَّهُ تَیَمَّمُ بِالصَّعِیدِ .

سي ځکه که چیري د یوه میل څخه کم فاصله وي نو ګواکه دئ د اُوبُوسره (نژدې)دئ. ځکه چي په پنځلس (۱٥) منټ کي اُوبَه راوړائي سي نوده ته هیڅ حرج نسته که چیري یومیل یادهغه څخه لاهم لیري وي نوهلته تلل او اُوبَه راوړلوکي حرج (تکلیف) دئ نوځکه اُوس تیمم کولائي سي (۳) دیوه میل لیري توب دلیل د ابن عمر (ﷺ) اَثَر دئ. عَن نَافِعٍ یَتَیَمَّمُ اِبنُ عُمَرَ عَلٰي رَأسِ مِیلٍ اَومِیلَینِ مِنَ المَدِینَةِ فَصَلّٰي العَصرَ فَقَدِمَ وَالشَّمسُ مُرتَفِعَةٌ (الف) (دارقطني،باب في بیان الموضوع الذي یجوز التیمم فیه وقد ره من البلد وطلب المآء،ج اول،ص٤٨،نمبر٣٣٧) او د مَربَد په اړه په دَارِقُطني کي راغلي دي چي هغه دمدینه منوره څخه پردي (۴) میل فاصله باندي و، اَنّ اِبنَ عُمَرَ (ﷺ) تَیَمَّمَ بِمَربَدِ الغَنَم وَصَلّٰي وَهُوَ عَلٰي ثَلٰثَةِ اَمیَالٍ مِنَ المَدِینَةِ (دارقطني،باب في بیان موضع الذی یجوز التیمم فیه،ج اول،ص١٩٥،نمبر٧٠٧) ددې آثاروڅخه معلوم سو چي د اُوبُوڅخه یومیل لیري وي بیا تیمّم کولائي سي. ددې څخه پرکم لیري توب باندي نه .

[٦٥](۲) او یا خو اُوبَه ومُومِي (پیداکي) لېکن چي دئ ناجوړه وي خو بیریري که اُوبَه استعمال کړي نوناجوړي به زیاته سي یا جُنُب ته داخطره وي چي کله غُسل وکړي نو یَخ به دئ مړکړي یا به دئ ناجوړکړي نودئ په پاکه خاؤره باندي تیمم کولائي سي .

وجه : (۱) شریعت نه غواړي چي انسان په سخت مشقت(تکلیف)کي مبتلاء سي.

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمرτ د مديني منورې څخه پر يو يا دوه ميله ليرې توب باندې تيمم وکړئ بيا يې دماځيګر لمونځ وکړئ بيا مديني منورې ته راغلئ او لمر لاښه لوړ ولاړو .

[۶۶](۳) وَالتَّيَمّمُ ضَربَتَانِ يَمسَحُ بِاَحدْيهُمَاوَجهَهُ وَ مَسَحَ بِالأُخرٰي يـَدَيهِ اِلْي اِلمرفَقَينِ .

نوځکه که دناجوړئ د زياتېدوخطره وه يا دناجوړکېدوغالب ګمان وي نوتيمم کولائي سي (۲) آيت دئ لاَيُكَلِّفُ اللهُ نَفسًا اِلاَّوُسعَهَا (الف) (آيت ۲۸٦،سورة البقرة۲) (۳) په حديث کې راغلي دي چې دناجوړکېدو غالب ګمان وي نوتيمم کولائي سي عَمرَو بِنِ العَاصِ يَذكُرُ اَنّ عَمرَو اِبنَ العَاصِ اَجنَبَ فِي لَيلَةٍ بَارِدَةٍ فَتَيَمّمَ وَتَلاَ وَلاَ تَقتُلُوا اَنفُسَكُم اِنّ اللهَ كَانَ بِكُم رَحِيمًا فَذَكَرَ ذَالِكَ لِلنّبِيّ (ﷺ) فَلَم يَعنِفَ (ب) (بخاري شريف،باب اذاخاف الجنب علٰي نفسه المرض اوالموت اوخاف العطش يتيمم،ج اول،ص٤٩، نمبر٣٤٥) معلوم سوچې ديَخ لکبله د ناجوړئ د زياتېدوخطره وي يا د ناجوړکېدو خطره وي نو تيمم کولائي سي .

فائده : امام شافعي فرمائي چې د مرګ خطره وي يا ديوه اندام د ضائع(وچېدو) کېدو خطره وې نوبيا خوتيمم کولائي سي ددې څخه مخ کي نه .

لغت : اَلصّعِيدُ : پاکَ خاؤره .

[٦٦](۳) دتيمم دوه ضرب دي. يو دي پرمخ وموړي،دوهم دي پرلاسو د ړيړئ سره .

تشريح : دتيمم دوه ضرب دي (پرمځکه لاس وهل) دي، يوه ضَربَه به مځکه وهي پرمخ به مُوړِي دوهمه به پرمځکه وهي پر دواړولاسو به مُوړِي د ړيړئ سره .

وجه : په حديث کې دئ عَن عَمّارَبنِ يَاسِرَ حِينَ تَيَمّمُوا مَعَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فَأَمَرَالمُسلِمِينَ فَضَرَبُوا بِأكُفِّهِم التّرَابَ وَلَم يَقبِضُوا مِنَ التّرَابِ شَيئًا فَمَسَحُوا بِوُجُوهِهِم مَسحَةً وَاحِدَةً ثُمّ عَادُوا فَضَرَ بُوا بِأ كُفِّهِم الصّعِيدَ مَرّةً اُخرٰي فَمَسَحُوا

حاشيه : (الف) اللهΨ يو نفس نه مکلف کوي لېکن دهغه د طاقت مطابق (ب) عمرو بن العاص د يَخ په شپه جُنُب سو نو دغه آيت ولاتقتلوا انفسكم الخ ئې تلاوت کړئ. ددې تذکره وحضور (ﷺ) ته وسوه نو حضور (ﷺ) (هيڅ رنګه) تنبيه نه وکړه .

[۶۷](۴) وَ التّيَمّمُ فِي الجِنَابَةِ وَ الحَدَثِ سَوَآ ءٌ .

بِاَيدِيَهُم (الف) (ابن ماجه شريف،باب فِي التيمم ضربتين،ص۸۱،نمبر۵۷۱/ابوداؤدشريف،باب التيم،ص۵۱،نمبر۳۱۸) يو بَل حديث دئ. عَن اِبنِ عُمَرَ (ا) عَنِ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ اَلتّيَمّمُ ضَربَتَانِ ضَربَةً لِلوَجهِ وَضَربَةً لِلَيَدَينِ اِلْي المِرفَقَينِ (ب) (دارقطني،ج اول،ص۱۸۸،نمبر٦٧٤) .

پام لرنه : تيمّم د اَودَس قائم مقام دئ نوځکه ټول مخ او ټول لاسونه د ړيړَيُو سره احاطه کول ضروري ده. لکه څرنګه چې د دارقطنی دحديث څخه معلوم سو .

فائده : د صحاح سته په کتابوکي دیوې ضربې ذکر راغلئ دئ. ځکه د امام احمد او د اسحاق رایه داده چي په یوه ضَربَه باندي مخ او لاسونه مُوښَل کفایت کوي. خو د جمهورو امامانومسلک دادئ چي دُوې ضربې ضروري دي د امام احمد دلیل دا حدیث دئ عَن عَمّارَ بِنِ یَاسِرَ (ﷺ) قَالَ سَئَلتُ النّبِيّ (ﷺ) عَنِ التّیَمّمِ فَاَمَرَنِي ضَرَبَةً وَاحِدَةً لِلوَجهِ وَالکَفّینِ (ابوداؤدشریف،باب التیمم،ص۵۲،نمبر۳۲۷/بخاري شریف،باب التیمم ضربة،نمبر۳۴۷) ددې حدیث څخه معلوم سو چي د مخ او لاسو لپاره یوه ضَربَه کفایت کوي .

[٦٧](۴) تیمم د جنابت او حدث لپاره برابر دئ .

وجه : تیمم به دجنابت او دحیض ونفاس دغُسل لپاره هم کیږي. او دحدثِ اصغر یعني اَودَس لپاره هم کیږي. او د تولولپاره دوې ضربې دي. یوه دمخ لپاره دوهمه دلاسولپاره د سر اوپښو څخه به تیمم ساقط سي. په حدیث کي دئ (۱) لوړ په مسئله نمبر۲ کي دعمرو بن العاص(ﷺ) حدیث تیرسو دهغه څخه معلوم سوچي

حاشیه : (الف) عمار بن یاسرؓ دحضور (ﷺ) سره تیمم وکړئ نو ومسلمانانو ته حکم وکړئ. نوهغو خپل وَرغوِي (لاسونه) پرخاوره ووهل، اودخاوروځخه هیڅ شیئ هم نه دئ اخستئ. بیائي یو وار پرخپل مخ وموړل، بیائي دوهم وار خپل وَرغَوِي(لاسونه) پرخاورو ووهل اوپر خپلو لاسوباندې وموړل (د) تیمم دُوَه ضرب دئ. یوه ضَربَه دمخ لپاره او یوه ضَربَه د لاسو لپاره د ږیرئ سره .

[٦٨](۵) وَ یَجُوزُ التّیَمّمُ عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ وَمُحَمّدٌ بِکُلّ مَاکَانَ مِن جِنسِ الاَرضِ کَالتّرَابِ وَالرّملِ وَالحَجَرِ وَالجَصّ وَالنّورَةِ وَالکُحلِ وَ الزّرنِیخِ وَ قَالَ اَبُویُوسُفَ لاَ یَجُوزُ اِلاّ بِالتّرَابِ وَ الرّملِ خَاصّةً .

سوچي تیمم دجُنُب لپاره هم جائزدئ (۲) په آیت کي دئ چي جُنُب هم تیمّم کولائي سي اَوجَآ ءَ اَحَدٌ مّنکُم مّنَ الغَائِطِ اَولاَمَستُمُ النّسَآ ءَ فَلَم تَجِدُوا مَآ ءً فَتَیَمّمُوا صَعِیدًا طَیّبًا (آیت ۴۳، سورة النسآء۴) (۳) عَن اَبِي هُرَیرَةَ (ﷺ) قَالَ جَآ ءَ اَعرَابِيّ اِلَي رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فَقَالَ اِنّا نَکُونُ فِي الرّملِ وَفِینَا الحَائِضُ وَالجُنُبُ وَالنّفَسَآ ءُ فَیَأتِي عَلَینَا اَربَعَةُ اَشهُرٍ لاَ نَجِدُ المآءَ قَالَ عَلَیکُم بِالتّرَابِ یَعنِي اَلتّیَمّمُ (الف) (سنن للبیهقی،باب ماروي فِي الحائض والنفسآء أیکفیهما التیمم عند انقطاع الدم اذا عدمتاالمآءج اول ص۳۳۳نمبر۱۰۳۸) ددې حدیث څخه معلوم سو چي دحیض اونفاس بنځه هم پر اُوبُوباندي دقدرت نه پیداکیدو په حالت کي دغسل لپاره تیمم کولائي سي. او دبخاري دحدیث څخه معلوم سو چي جُنُب سړئ به هم صرف پر مَخ او لاسوباندي تیمم کوي. پښې او سر ساقط دي .

دحدیث ټکړه(حصه)داده اَلَم تَسمَع قَولَ عمارٍ لِعُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) بَعَثَنِي اَنَا وَ اَنتَ فَاَجنَبتُ فَتَمَعّکتُ بِالصّعِیدِ فَأ تَینَا رَسُولَ اللهِ (ﷺ) فَاَخبَرنَاهُ فَقَالَ اِنّمَا کَانَ یَکفِیکَ هٰکَذَا وَمَسَحَ وَجهَهُ وَکَفّیهِ وَاحِدَةً (ب) (بخاري شریف،باب التیمم ضربة، ص۵۰نمبر۳۴)

[٦٨](٥) جائزدئ تيمم د امام ابوحنيفه او امام محمد په نېز پرهرهغه شي چې د مځکې دجنس څخه وي،لکه خاوري،ربړ،ډبرَه،ګچ،چُونَه،رَانجَه او هَر تَال،او امام ابويوسف فرمائي چې نه دئ جائزلېکن په خاوړو او ربړ سره په خاص توګه .

حاشيه : (الف) يو د صحرآء باشنده حضور (ﷺ) ته راغلئ او ورته وويل چې موږ په ربړ کې وسيږو او په موږ کې حائضه او جُنبِي او نُفَسَآء وي. او پر موږ باندي څلورڅلورمياشتي دغه رنګه تيريږي چې موږ اُوبَه نه سوپيدا کولائي حضور (ﷺ) وفرمائل چې ستاسولپاره خاوري دي يعني په خاوړوتيمم وکړئ (ب) حضرت عمارؓ فرمائي چې زه او تَه يعني حضرت عمرؓ حضور (ﷺ) (يوخواته) واستولو او زَه جُنُب سوم نو زَه په خاوړوکې وَرغَړِبدَم رَاوَرغَړِبدَم، بياحضور (ﷺ) لره راغلو او ورته ومو ويل،نوحضور (ﷺ) وفرمايل، چې ستاسولپاره صرف دومره کول کفايت کوي. بيائې پرخپل مخ او دواړو لاسو باندې يو وار لاسُونَه تېر کړل .

وجه : (١) عَن جَابِرَ بنِ عَبدِاللهِ اَنّ رَسُولَ الله (ﷺ) قَالَ جُعِلَت لِيَ الاَرضُ مَسجِداً وَ طُهُوراً (الف) (بخاري شريف،كتاب التيمم،ص ٤٨،نمبر٣٣٥) مطلب ئې دادئ چې تاسو پر مځکه تيمم کولائي سئ. نودمځکې دجنس څخه چې هرڅومره شيان دي په هغه ټولوسره تيمم کېدلائي سي. که څه هم په هغه کې د راشنه کولوصلاحيت وي يا نه وي، لکه ډبره او دغه رنګه شيان (٢) دتيم په آيت کئ دئ. فَتَيَمّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا او د صَعِيد معنْي ده دمځکې لوړه برخه (حصه) که په هغه کې د راشنه کولوصلاحيت وي اوکه نه وي، په دغه وجه په ربړ ،ډبره،ګچ،چُونَه،رانجه او هړتال باندي تيمم کولائي سي. په يوه اثر کې راغلي دي. عَن حَمّادٍ قَالَ تَيَمّمْ بِالصّعِيدِ وَالجَصِّ وَالجَبَلِ وَالرّملِ (مصنف ابن اَبِي شيبة،١٩٦مَايُجزِئُ الرَّجُلُ فِي تَيَمُّمِهِ،ج اوّل،ص١٤٨،نمبر١٧٠٤) ددې اثر څخه دامام ابوحنيفه تائيدمعلوميږي .

پام لرنه : هر هغه شيئ چې نه په اُورسوځي او نه وليږي هغه ټول شيان دمځکې دجنس څخه دي .

فائده : امام ابويوسف دحديث په روښاکي دا فرمائي چې صرف ربړ اوهغه خاوري چې په هغه کې د راشنه کولوصلاحيت وي پرهغه تيمم کولائي سي. په نوروشيانو تيمم نه سي کولائي. دده دليل دغه اثر دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ (ﷺ) قَا لَ اَطيَبُ الصّعِيدِ اَلحَرثُ وَالاَرضُ اَلحَرثُ (مصنف ابن اَبِي شيبة ١٩٦مايَجزي الرجل فِي تيممه،ص١٤٨نمبر١٧٠٢) .

لغت : اَلتّرَابُ : خاوري،ربړ، اَلجَصّ : ګچ، اَلنّورَةُ : چُونَه، اَلكُحلُ : رانجه، اَلزّرنِيخُ : هړتال(د وسپني په شان دمځکې دجنس څخه يو شيئ دئ) .

فائده : د امام شافعي په نېز صرف پرخاوړو تيمم جائزدئ دده دليل د امام ابويوسف دليل دئ .

حاشيه : (الف) و جابر بن عبدالله نه حضور (ﷺ) وفرمائل چې مځکه زموږ لپاره مسجد اوپاک کوونکئ شيئ جوړ کړل سوئ دئ .

[٦٩](٦) وَ النِّيّةُ فَرضٌ فِي التّيَمّمِ وَ مُستَحَبّةٌ فِي الوُضُوءِ [٧٠](٧) وَ يَنقُضُ التّيَمّمَ كُلّ شَيئٍ يَنقُضُ الوُضُو ءَ [٧١](٨) وَ يَنقُضُهُ اَيضًا رُؤيَةُ المَآءِ اِذَا قَدَرَ عَلْي اِستِعمَالِهِ .

[٦٩] (٦) په تيمم کي نيت فرض او په اَودَس کي مُستحَب دئ .
وجه : (١) دتيمم معنْي ده قصد او اراده کول،نو ځکه په تيمم کي به دتيمم کولو نِيّت او اراده وي نو بيا پاکي راوُلي، او بي له ارادې که پر مَخ او پر لاَسُوخاوُري تيري سي نوپاکي نه راوُلي (٢) اُوبَه په خپل ذات کي طاهر او طُهُوردي. ددې برخلاف په خاوُروخو مَخ نور خرابيږي ځکه په اَودَس کي دنيت کولو ضرورت شته(سته)،په دغه وجه هلته نيت کول مُستَحَب دئ، او خاوُري په خپل ذات کي مُطَهّر نه دي. په نيت کولو باندي مُطَهّر ګرزي نو په تيمم کي نيت کول په دغه وجه فرض دئ، په آيت کي دئ فَتَيَمّمُوا صَعِيدًا طَيّبًا (آيت ٤٣،سورة النسآء٤) ددې ترجمه ده دپاک خاوُرو اراده وکئ، بس ددغه څخه د ارادې او نِيّت ثبوت پيداسو .

﴿... د تيمّم د نَوَاقِضُ بيان ...﴾

[٧٠](٧) هغه ټول شيان تيمم ماتوي(ختموي)کوم چي اَودَس ماتوي .
وجه : تيمّم د اَودَس قائم مقام دئ .نوځکه کوم اَحدَاث چي اَودَس ماتوي هغه ټول تيمم هم ماتوي. دغه رنګه د غُسل تيمم د غُسل قائم مقام دئ نو جنابت حيض اونفاس لکه څرنګه چي غُسل ماتوي دغه رنګه هغه د غُسل قائم مقام تيمم هم ماتوي(ختموي) .
[٧١] (٨) دغه رنګه تيمم ماتوي د اُوبُو ليدنه په هغه وخت چي د اُوبُو پر استعمال باندي قدرت ولري .
وجه : تيمم خو پر اُوبُوباندي د قدرت نه درلولو په صورت کي جائزدئ نوځکه چي څرنګه پر اُوبُوباندي قدرت پيداکړي نو تيمم به ختم (مات)سي، په آيت کي دئ

[٧٢](٩) وَلاَيَجُوزُالتّيَمّمُ اِلاّبِصَعِيدٍطَاهِرٍ [٧٣](١٠) وَيَستَحِبّ لِمَن لَم يَجِدِ المَآ ءَ وَ هُوَ يَرجُوا اَن يّجِدَهُ فِي آخِرِالوَقتِ اَن يّؤَخّرَ الصّلْوةَ اِلْي آخِرِ الوَقتِ فَاِن وَجَدَ المَآ ءَ تَوَضّأ وَصَلّي وَ اِلاّ تَيَمّمَ .

فَلَم تَجِدُوا مَآءً فَتَيَمّمُوا صَعِيدًا طَيّباً او چي دي اُوبَه پيداکړي نوتيمم به ختم سي. د اَودَس دتيمم دختم کېدولپاره پردومره اُوبُوچي اَودَس په کيږي قدرت ضروري دي. او د غُسل دتيمم دختم کېدولپاره پر دومره اُوبُوقدرت ضروري دئ چي غُسل په کيږي .
[٧٢] (٩) او تيمم نه دئ جائز مګر په پاک خاوُره سره .
وجه : (١) په آيت کي دئ فَتَيَمّمُوا صَعِيدًا طَيّبًا (آيت ٦،سورة المآئده ٥) چي په پاک خاوُره تيمم وکړئ،نوځکه په ناپاکه خاوُره باندي تيمم نه صحيح کيږي (٢) په حديث کي دئ

چې په پاک خاؤره سره تيمم صحيح کيږي. فَقَالَ اَبُوذَرّ (ﷺ) ... فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَا اَبَا ذَرّ اِنّ الصّعِيدَ الطّيّبَ طُهُورٌ وَاِن لَم تَجِدِالمَآ ءَ اِلَّي عَشرِسِنِينَ فَاِذَا وَجَدتّ المَآ ءَ فَاَمسِه جِلدَکَ (ابوداؤدشريف،باب الجنب يتيمم،ص٥٣، نمبر٣٣٣) چې خاوري بل څوک پاک وي نوبايد خاؤري په خپله هم پاکه وي .

[٧٣] (١٠) دهغه سړي لپاره مستحب دئ چې اُوبَه نه کړي پيدا لېکن اُمَيدوي چې په آخري وخت کي به اُوبَه پيداکړي نولمونځ دي تر آخري وخته پوري مؤخر کړي(وځنډوي) نوبيا که اُوبَه پيداکړې نو اَودَس دي وکړي او لمونځ دي وکړي که نه نو تيمم دي وکړي .

وجه : (١) کوم څوک چې اُوس اُوبَه نه لري نو هغه اُوس هم چې تيمم وکړي لمونځ کولائي سي. ځکه چې په حقيقت کي مجبوري خو اُوس سته، خوصرف د اُوبُو د پيداکېدو اُمِيد دئ نو لدې کبله پر اصل باندي دعمل کولو لپاره مُستَحَب دادئ چې د اُوبُو تر پيداکېدو تر حالت پوري دي لمونځ وځنډوي نوکه اُوبَه پيداسوې

[٧٤](١١) وَ يُصَلِّي بِتَيَمّمِهِ مَاشَاءَ مِنَ الفَرَائِضِ وَالنّوَافِلِ .

خو اَودَس دي وکي، پر اصل دي خپل لمونځ وکي، که نه نودي تيمم وکي لمونځ دي ادآء کړي (٢) د حضرت علي (ﷺ) قول دئ. اِذَا اَجنَبَ الرّجُلُ فِي السّفَرِ تَلُومُ مَابَينَهُ وَ بَينَ آخِرِ الوَقتِ فَاِن لَم يَجِدِ المَآ ءَ تَيَمّمَ وَ صَلّي (الف) (دارقطني،باب في بيان الموضع الذي يجوز التيمم فيه،ج اوّل،ص ٧١٠،١٩٥/سنن للبيهقي،باب من تلوم مابينه وبين آخر الوقت رجآء وجود المآء،ج اوّل،ص١١٠١،٣٣٥) ددې حديث څخه معلوم سو چې د اُوبُو اميد لرونکو خلګولپاره لمونځ ځنډول مُستَحَب دئ .

پام لرنه : که په اول وخت کي لمونځ ادآء کړئ بيائي اُوبَه پيداکړې نو لمونځ به نه راګرزوي، د ابوداؤد دحديث څخه دا ثابته ده .

[٧٤](١١) په يوه تيمم چې څومره فرائض او نوافل وغواړي ادآء کولائي سي .

وجه : (١) تيمم د اَودَس مکمل قائم مقام دئ لکه څرنګه چې په يوه اَودَس د ډيرو وختونو فرض لمونځونه ادآءکولائي سي.دغه رنګه په يوه تيمم سره د ډيرووختونو فرض لمونځونه ادآءکولائي سي. دا رنګه نه ده چې څرنګه وخت ختم سي نوتيمم دي هم ختم سي (٢) په آيت کې د اَودَس،غُسل او تيمّم د تذکرې وروسته دا وفرمائل لِيَجعَلَ عَلَيكُم مِن حَرَجٍ وَلْكِن يّرِيدُ لِيُطَهّرَكُم (آيت٦سورة المآئدة٥) ددې مطلب دادئ چې (شريعت) د اَودَس غُسل اَوتيمم درې سره وُ باندي مکمله پاکي حاصلول غواړي نوځکه په تيمم باندي د اَودَس په شان ډېر(هرڅو) لمونځونه ادآء کولائي سي (٣) په حديث کي دئ. اِنّ الصّعِيدَ الطّيّبَ طُهُورٌ وَ اِن لَم تَجِدِالمَآ ءَ اِلّي عَشرِ سِنِينَ (ب) (ابوداؤدشريف،باب الجنب يتيمم،ص٥٣،نمبر٣٣٣) دطُهُورٌمطلب دادئ چې دتيمم حکم داَودَس په رکم دئ چې په يوه تيمم ډېرلمونځونه ادآءکولائي سي.

حاشيه : (الف) كه انسان په سفر كي جُنُب سي نو په دې مينځ كي دي تر آخري وخته پوري انتظاروكړي، كه اُوبَه نه كړي پيدا نوتيمم دي وكړي او لمونځ دي وكړي (ب) پاک خاؤره دمسلمان اَودَس دئ كه څه هم هغه تر لسو(١٠) كال پوري وي.

[٧٥](١٢) وَ يَجُوزُ التّيَمّمُ لِلصّحِيحِ المُقِيمِ اِذَا حَضَرَت جَنَازَةٌ وَالوَلِيّ غَيرُهُ فَخَافَ اِن اِشتَغَلَ بِالطّهَارَةِ اَن تَفُوتَهُ صَلْوةُ الجَنَازَةِ فَلَهُ اَن يّتَيَمّمَ وَ يُصَلّي .

فائده : د امام شافعي په نېز په يوه تيمم صرف يو فرض لمونځ ادآء كولائي سي. او چي ددې (فرض) تابع ئې كړي نونفل اوسُنّت په ادآء كولائي سي. لېكن چي كله دبل فرض وخت راسي نودهغه لپاره به بل تيمم كوي اول تيمم كفايت نه كوي .

وجه : (١) تيمم دده (امام شافعي) په نېز طهارت ضروري دئ يعني چي وخت راسي او اُوبَه نه سي پيدا نو اُوس په دې وخت كي تيمم كولائي سي، نوځكه دتيمم ابتدآء دفرض وخت په راتلوسره كيږي (٢) دحضرت عمرو ابن العاصτ، حضرت عليτ اوحضرت عبدالله بن عمرτ قول دئ. يَتَيَمّمُ لِكُلّ صَلْوةٍ (الف) (دارقطني، باب التيمم وانه يفعل لكل صلْوةٍ، ج اوّل،ص١٩٣،نمبر٦٩٨/ السنن للبيهقي،باب التيمم لكل فريضة،ج اوّل،ص٣٣٩،نمبر١٠٥٤) ځكه دئ (امام شافعي) دهر لمانځه د وخت لپاره جلاجلا تيمم واجب بُولي (موسوعة امام شافعي باب متى يتيمم للصلوٰة ج اول ص١٨٣) .

[٧٥](١٢) جائز دئ تيمم كول دجوړسړي لپاره چي مقيم وي.كله چي جنازه حاضره سي او وَلِي دده څخه علاوه وي. او دا ببړه وي چي كه په اَودَس كولو كي مشغول سي نودجنازې لمونځ به دده څخه فوت سي نودده لپاره جائزدئ چي تيمم وكړي او لمونځ وكړي .

وجه : (١) د احنافو مسلک دادئ چي كله وَلِي دجنازې لمونځ ادآء كړي نودوهم وار بيا د جنازې لمونځ نه سي ادآء كېدلائي. نولدې وجه چي كوم سړئ د مَړي وَلِي نه دئ كه لمونځ نه كړي ادآء نو ددغه جنازې لمونځ به دده څخه هميشه لپاره فوت سي. نو اُوس كه دئ جوړوي مُقِيم وي اُوبَه په يوه ميل كي دننه وي لېكن خو دا ببړه

حاشيه : (الف) د هر لمانځه لپاره دي تيمم وكړي .

[٧٦] (١٣) وَ كَذَالِکَ مَن حَضَرَ العِيدَ فَخَافَ اِن اِشتَغَلَ بِالطّهَارَةِ اَن يَفُوتَهُ العِيدُ .

وي كه د اَودَس كولو لپاره ولاړ سي نولمونځ به ځني فوت سي. ددې مجبورئ په وجه گواكه دئ پر اُوبُو باندي قدرت نه لري ځكه چي تيمم وكړي دجنازې لمونځ ادآء كولائي سي (٢) عَن اِبنِ عَبّاسٍ (ﷺ) قَالَ اِذَا خِفتَ اَن تَفُوتَکَ الجَنَازَةَ وَ اَنتَ عَلٰي غَيرِ

وُضُوءٍ فَتَيَمّم وَصَلّي (الف) (مصنف ابن ابی شیبة ۹۳،فِي الرجل ان یخاف ان تفوته الصلوٰة علی الجنازة وهو غیر متوضی،ج۲،ص۴۹۷،نمبر۱۱۴۹۷،کتاب الجنائز) ددې اثر څخه معلوم سو چې کله خوف (بېره) وي نودجنازې دلمانځه لپاره تیمم کولائي سي .

فائده : د امام شافعي په نېز دوهم وار دجنازې لمونځ ادآءکېدلائي سي نوځکه دتیمم کولو هیڅ مجبوري نسته (۱) نودجنازې دفوت کېدولپاره تیمم نه سي کولائي (۲) عَن اِبنِ عُمَرَ (ﷺ) اَنّهُ قَالَ لاَ يُصَلّي عَلْي الجَنَازَةِ اِلاّ وَهُوَ طَاهِرٌ (ب) (السنن للبیهقي،باب الصحیح المقیم یتوضأ المکتوبة والجنازة والعیدولایتیمم،ص۳۵۲،نمبر۱۰۹۳). امام شافعي د طهارت څخه صرف دآوَدَس طهارت مرادوي احناف فرمایي چې دمجبورئ په وخت کي تیمم هم طهارت دئ. نو د ابن عمرؓ قول د احنافو خلاف نَه سو .

پام لرنه : که په خپله د وَلِي دجنازې دلمانځه دفوت کېدوخطره وي نوتیمم نه سي کولائي ځکه چې دئ خو دوهم وار جنازه کولائي سي. نوددې په حق کي هیڅ مجبوري نسته .

[۷۶] (۱۳) دغه رنګه که څوک د اختر دلمانځه لپاره حاضر سو او دا ببره وي چې که دئ په اَوَدَس کولو مشغول سي نود اختر لمونځ به ځني فوت (تیر) سي(نوپه تیمم دي لمونځ ادآء کړي)

حاشیه : (الف) ابن عباسؓ فرمائي که چیري دجنازې دلمانځه دتېرېدوخطره (ببره) وي او ته په اَوَدَس سره نه وې نو تیمم وکړه او لمونځ ادآء کړه (ب) ابن عمرؓ فرمائي چې دجنازې لمونځ دي نه کوي مګر دطهارت په حالت کي.

[۷۷](۱۴) وَ اِن خَافَ مَن شَهِدَ الجُمعَةَ اِن اِشتَغَلَ بِالطّهَارَةِ اَن تَفُوتَهُ الجُمعَةَ تَوَضّأ فَاِن اَدرَکَ الجُمعَةَ صَلاّهَا وَ اِلاّ صَلّي الظّهرَ اَربَعًا .

وجه : (۱) داخترلمونځ هم که د امام سره فوت سي نودوهم وار ئې بیانه سي ادآء کولائي او که د اَوَدَس لپاره ولاړ سي نولمونځ به فوت سي. نوګواکه دئ پر اُوبُوباندي قدرت نه لري. نوځکه په تیمم باندي د اخترلمونځ کولائي سي. نور دلائل لورتېرسوي دي (۲) عَن اِبرَاهِیمَ قَالَ يَتَيَمّمُ لِلعِيدَينِ وَالجَنَازَةِ (مصنف ابن ابي شیبة۴۳۹ لرجل یحدث یوم العید مایصنع، ج۲،ص۹،نمبر۵۸۶۷) ددې اثر څخه معلوم سو چې که دجنازې او اختر دلمانځه دفوت کېدوخطره وي نو تیمم دي وکړي او لمونځ دي ادآء کړي .

[۷۷] (۱۴) که وهغه ته خوف و،کوم چې جمعې لره حاضر سوئ دئ که چیري په اَوَدَس کولو مشغول سي نو جمعه به ځني فوت (تېر)سي. بیادي هم اَوَدَس وکړي که چیري جمعه ومونډل نوهغه دي ادآء کي . که نه نو د ماپښین لمونځ دي چلور رکعت وکړي .

وجه : چې جمعه فوتَ سي نودهغه خلیفه د ماپښین لمونځ دئ، نو دجمعې فوت کېدل ګواکه مکمل فوت کېدل نه دي، نولدې وجه تیمم نه سي کولائي. بلکه اَوَدَس به کوي

نو كه جمعه ورته ورسېده نو هغه دي ادآء کي. که نه نودهغه خليفه دماپښين لمونځ دي ادآء کړي. استدلال ئې ددې اثر څخه دئ.سُئِلَ عَنِ الحَسَنِ عَن رَجُلٍ اَحدَثَ يَومَ الجُمعَةِ فَذَهَبَ لِيَتَوَضّأ فَجَآ ءَ وَ قَد صَلّي الإِمَامُ قَالَ يُصَلِّي اَربَعًا (الف) (مصنف ابن اَبِي شيبة ٤٠٨ لرجل يحدث يوم الجمعة،ج اوّل،ص٤٨٤،نمبر٥٥٧٩) ددې څخه معلوم سو چې دجمعې لپاره دي اَودَس وکړي .

حاشيه : (الف) د حضرت حسن څخه پوښتنه وسوه چې ويوسړي ته دجمعې په ورځ حَدَث عارض (وړاندي) سو دئ اَودَس لره ولاړئ چې واپس راغلئ نو امام لمونځ پوره کړئ وُ؟ ده وفرمائل څلور رکعته د ماپښين لمونځ دي وکړي .

[٧٨](١٥) وَ كَذَالِكَ اِن ضَاقَ الوَقتُ فَخَشِيَ اِن تَوَضّأ فَاتَهُ الوَقتُ لَم يَتَيَمّم وَ لٰكِنّهُ يَتَوَضّأ وَ يُصَلِّي فَائِتَتَهُ [٧٩](١٦) وَ المُسَافِرُ اِذَا نَسِيَ المَآ ءَ فِي رَحلِهِ فَتَيَمّمَ وَصَلّي ثُمّ ذَكَرَ المَآ ءَ فِي الوَقتِ لَم يُعِد صَلٰوتَهُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمّدٌ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ يُعِيدُ.

اُصُول : کوم لمونځ چې فوت سي او دهغه نائب نه وي دهغه لمانځه لپاره تيمم کولائي سي. او دکوم لمانځه چې نائب وي دهغه لپاره تيمم نه سي کولائي .

[٧٨](١٥) دغه رنګه که وخت تنګ وي او خوف وي چې که اَودَس کوي نو وخت به فوت (تير) سي بيادي هم تيمم نه کوي لېکن اَودَس دي وکړي او لمونځ دي قضآء راوګرزوي .

وجه : دلته به د وخت دتنګئ په وجه لمونځ قضآء سي. او قضآء خود ادآء خليفه ده نوځکه لمونځ نه سوفوت.ځکه دئ به اَودَس کوي او که وخت فوت (تير) سو نو د لمونځ قضآء به راګرزوي .

[٧٩] (١٦) يومسافر په خپل بَار (غوټه) کي اُوبَه هيري سوې او تيمم ئې وکړئ او لمونځ ئې ادآءکړئ بياپه وخت کي دننه اُوبَه ورته په يادسوې، نوخپل لمونځ به نه راګرزوي، د امام ابوحنيفة او محمد رحمهماالله په نېز او امام ابويوسف فرمائي لمونځ به راګرزوي .

وجه : طرفين رحمهماالله فرمائي چې په بَار(غوټه) کي په عام توګه اُوبَه په خپله دځيښلو او د وُبس دځيښلو لپاره موجود وي. په صحرآء او ځنګله کي د اَودَس لپاره په بَار(غوټه) کي اُوبَه نه اِيرِدِي . نوځکه د اُوبُو هېرېدل د اُوبُو د نه مُوندَلُو لپاره يومقبول عذردئ. نوګواکه ده اُوبَه نه دي پيداکړئ . ځکه دده تيمم درست دئ .نولمونځ به نه راګرزوي .

اصول : د بَار(غوټې) حالت هم اُوبَه ورپه يادونکئ حالت نه دئ .

[٨٠](١٧) وَ لَيسَ عَلْي المُتَيَمِّمِ اِن لَم يَغلِب عَلْي ظَنِّهِ اَنّ بِقُربِهِ مَآ ءً اَن يّطلُبَ المَآ ءَ .

فائده : او امام ابويوسف فرمائي چي په غُوتَه کي په عمومي توګه سره اُوبَه موجودوي .که څه هم دځيښلولپاره وي .ځکه نودده نه تيمّم صحيح دئ نه لمونځ . لِهٰذَا لمونځ به راګرزوي .

اصول : د غوټی(بار) حالت اوبه يادونکی حالت دی .

پام لرنه : اختلاف په هغه صورت کي دئ چي په خپله اُوبَه ايښي وي يادده په حکم سره بل چا اُوبَه ايښي وي. او که يوبل چا دده په غوټه (بَار) کي اُوبَه ايښي وي نوبالاتفاق تيمم کول درست (صحيح) دئ. ځکه چي دئ معذور دي .

پام لرنه : دا مسئله پراصول باندي مبني(بنآء)ده .

لغت : رِحلٌ : غوټه، کجاوه، بار.

[٨٠] (١٧) پرتيمم کونکي باندي د اُوبُوطلب (تلاش) ضروري نه دئ هغه وخت چي دده غالب ګمان نه وي چي وده ته قريب اُوبَه سته .

وجه : (١) په ځنګل اوصحرآء اوشاوخوا د اُوبُوعلامات نه وي. اوغالب ګمان نه وي چي په يوه ميل کي دننه اُوبَه پيداکيږي. نو دئ په حقيقي توګه سره د اُوبُو مُونډُونکئ نه دئ. او په علاماتُ سره هم اُوبَه پيداکونکئ نه دئ. نوځکه پرده باندي د اُوبُو طلب او تلاش ضروري نه دئ (٢) د دې اندازه دحضرت عبدالله بن عمرτ دعمل څخه هم کيږي.عَن نَافِعَ اَنّهُ اَقبَلَ هُوَ وَعَبدُاللهِ بِنِ عُمَرَ مِنَ الجَرفِ حَتّٰي اِذَا کَانَا بِالمَربَدِ نَزَلَ عَبدُاللهِ فَتَيَمّمَ صَعِيدًا طَيّبًا فَمَسَحَ بِوَجهِهِ وَ يَدَيهِ اِلٰي المِرفَقَينِ ثُمّ صَلّٰي (الف) (مؤطاء امام مالک،باب العمل في التيمم،ص٤١)اودبخاري په دغه

حاشيه : (الف) حضرت نافع او حضرت عبدالله بن عمرτ د جَرَف(ديوځائ نوم دئ)څخه تشريف راوړئ (راروان و) تردې چي دُوئي دواړه مقامِ مَربَد ته راغله نو عبدالله بن عمر راشوه سو بيائي په پاکه خاوره سره تيمم وکړی . پس مخ ئي مسح کړئ او دواړه لاسونه سره د ږيريو مسح کړل بيائي لمونځ اداءکړئ .

[٨١](١٨) وَ اِن غَلَبَ عَلْي ظَنِّهِ اَنّ هُنَاكَ مَاءً لَم يَجُز لَهُ اَن يّتَيَمّمَ حَتّٰي يَطلُبَهُ .

حديث کي دومره عبارت زيات دئ ثُمّ دَخَلَ المَدِينَةَ وَالشّمسُ مُرتَفِعَةٌ فَلَم يُعِد (الف) (بخاري شريف،باب التيمم فی الحضر اذا لم يَجد المآء،ص٤٦،نمبر٣٣٧) ددې دواړو حديثودملاؤپدو(امتزاج)څخه معلوم سو چي که اُوبَه ليري وي، او نِژدې دملاؤپدو اُميد نه وي نو د طلب کولو ضرورت نسته ځکه چي حضرت عبدالله بن عمرτ ومدينې ته د راتلو ورسته لمونځ نه دئ راګرزولئ .

[۸۱] (۱۸) اوکه دده غالب ګمان وي چې دلته (نزدې) اُوبَه سته نوده لپاره نه دئ جائز چې تیمم وکړي آن تردې چې د اُوبُو طلب وکړي .
وجه : (۱) غالب ګمان ددې اُوبُو د پیدا کېدو علامت دئ. ځکه د اوبو د پیداکېدو په وخت کي تیمم نه سي کولائي ترهغوپوري چې د اوبو د پلټني وروسته دا یقین ونه کړي چې په یوه میل کي دننه اُوبَه نسته (۲) دحضرت علیτ قول هم دئ عَن عَلِيٍّ اِذَا اَجنَبَ الرَّجُلُ فِي السَّفَرِ تَلُومُ مَابَينَهُ وَ بَينَ آخِرِ الوَقتِ فَاِن لَم يَجِدِ المَآءَ تَيَمَّمَ وَصَلَّي (دارقطنی،باب في بيان الموضع الذي يجوز التيمم فيه،ج اوّل،ص۱۹۵،نمبر۷۱۰/ مصنف ابن ابي شيبة ۱۹۵ من قال لايتيمم مَارِجًا ان يقدر على المآء، ج اوّل،ص۱٤۸،نمبر۱۷۰۱)
اصول : ظاهري علامت اوغالب ګمان د اُوبُو د پیدا کېدو په درجه کي دئ .
فائده : د امام شافعي په نېز که د اُوبُود پیداکېدو اُمِیدوي که نه وي په هرحال کي طلب او تلاش ضروري دئ او چې اُوبَه نه سي پیدا نو به تیمم کوي، چې د فَلَم تَجِدُوا مَآ ءً مکمل تحقق(ثبوت)وسي .

حاشیه : (الف) حضرت ابن عمر τ مدیني ته داخل سو په داسي حال کي چې لمر ښه لوړ و او دماځیګر لمونځ ئې نه راوګرزاوئ .

[۸۲](۱۹) وَ اِن كَانَ مَعَ رَفِيقِهِ مَا ءٌ طَلَبَهُ مِنهُ قَبلَ اَن يَتَيَمَّمَ فَاِن مَنَعَهُ مِنهُ تَيَمَّمَ وَ صَلَّي .

[۸۲](۱۹) که دملګري(دوست) سره زیاتوب اُوبَه وې نودتیمم کولو څخه مخ کي دې دهغه څخه وغواړي که هغه د اُوبُوڅخه منع کړئ نوتیمم دي وکړي او لمونځ دي ادآء کړي .
وجه : (۱) ملګرتُوب د اُوبُو د پیداکېدو یو اُمِید دئ ځکه بې له غوښتني دي تیمم نه کوي (۲) ددې تائید د یو روایت څخه هم کیږي. عَن عَائِشَةَ (ﷺ) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اِستَيقَظَ وَحَضَرَتِ الصَّلٰوةُ فَالتَمَسَ النَّاسُ المآ ءَ فَلَم يَجِدُوا (الف) (سنن للبيهقي،باب اعواز المآء بعدطلبه،ج اوّل،ص۲۲۳) ددې حدیث څخه معلوم سو چې اندازه وي چې اُوبَه پیداکیږي نو اول دي لاکوشش وکړي بیاکه نه سوې پیدا نودي تیمم وکړي .

YO

M>

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) رَاوِښ سو په داسي حال کي چي دلمانځه وخت پوره سوئ و نوخلکو د اُوبُو طلب وکړئ خو نه کړي پيدا .

﴿... بَابُ المَسحِ عَلْي الخُفّينِ ...﴾

[٨٣](١) اَلمَسحُ عَلْي الخُفّينِ جَائِزٌ بِالسّنّةِ مِن كُلِّ حَدَثٍ مُوجِبٍ لِلوُضُو ءِ اِذَا لَبِسَ الخُفّينِ ثُمّ اَحدَثَ .

﴿... بَابُ المَسحِ عَلْي الخُفّينِ ...﴾

ضروري پام لرنه : د مسح معنْي ده نَود (نُنند) لاَس پر يو اندام باندي تبرول يا پر يوشي باندي تبرول .

وجه : عَن اَبِي وَقّاصٍ(رضي الله عنه)عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) اَنّهُ مَسَحَ عَلْي الخُفّينِ (الف) (بخاري شريف ،باب المسح علي الخفين،ص٣٣،نمبر٢٠٢) د مَسحِ عَلْي الخُفّينِ ثبوت په حديث متواتر سره دئ.خوکه چيري په آيت وَ امسَحُوا بِرُؤُسِكُم وَ اَرجُلَكُم اِلْي الكَعبَينِ (آيت٦سورة المائدة٥) کي وَاَرجُلِكُم په کسره(زېر) سره وويل سي نو امام شافعي فرمائي چي په دي کي د مَسحِ عَلْي الخُفّينِ جواز ښکاره کيږي، که نه نوپه اصل آيت کي خو دپښو دمينځلو حکم دئ.خوددې ثبوت دحديث څخه دئ ځکه د مَسحِ عَلْي الخُفّينِ لپاره دېر شرطونه دي .د مَسحِ عَلىٰ الخُفَّينِ حديث دڅلوېښت(٤٠) صحابهٔ کراموڅخه رانقل سوئ دئ، او بې له تأويل ددې انکار کونکئ کافردئ. صرف رَوَافِض ددې خلاف دي .

[٨٣](١) پرموزو باندي مسح کول جائزده دحديث په وجه دهرهغه حدث څخه چي اَودَس واجب کونکئ وي هغه وخت چي موزې (سره د)طهارت په پښوکړي وی، بيا حَدَث راغلئ وي .

وجه : په کوم حدثِ اَکبَر کي چي د غُسل ضرورت وي په هغه کي به مُوزَه خلاصوي، اود غُسل سره به پښې مينځي،صرف حدثِ اَصغَر يعني د اَودَس په ځائ کي پر موزو مَسَح کولائي سي،دوهمه خبره داده چي پرطهارت باندي به موزې په پښوکړي وي

حاشيه : (الف) حضرت سعدبن ابي وَقّاص فرمايي چي حضور (ﷺ) پر موزو مسح وکړه .

بيا به حَدَث ورته راغلئ وي نوهغه وخت بيا پر موزو مَسح کولائي سي، پرطهار باندي په پښوکولوصورت دا هم دئ چي پښې اَوّل پري مينځي بيا موزې په پښوکي، بيا لاس پري مينځي بيا مَخ پري مينځي او پرسر مسح وکړي، دمکمل طهارت وروسته حدث عارض سي نو پر موزو مسح کولائي سي، ځکه چي دحدث څخه مخ کي مکمل طهارت هم سته، او موزې ئې هم په پښودي، دغسل دضرورت پر وخت پرموزو باندي مسح جوازنه لرى او د اَودَس د ضرورت پر وخت جائزده، ددې دليل داحديث دئ.عَن صَفوَانَ بنِ عَسّالٍ (ﷺ) قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَأمُرُنَا اِذَا كُنّاسَفرًا اَن لاَ نَنزِعَ خِفَافَنَاثَلْثَةَ اَيّامٍ وَلَيَالِيهِنّ اِلاّ مِن جَنَابَةٍ وَلٰكِن مِن غَائِطٍ وَ بَولٍ وَ نَومٍ (الف) (ترمذي شريف،باب المسح علٰي الخفين للمسافر والمقيم،ص٢٧،نمبر٩٦) په حديث کي دئ چي کله جنابت وي نو پر موزو باندي مسح نه سي کولائي،

اوچي دواړي پښې به پرطهارت داخل کړي وي،دليل يې داحديث دئ.عَن مُغِيرَةَ بنِ شُعبَةَ قَالَ كُنتُ مَعَ النّبِيّ (ﷺ) فِي سَفَرٍ فَاَهوَيتُ لاَنزَعَ خُفّيهِ فَقَالَ دَعهُمَا فَاِنّي اَدخَلتُهُمَاطَاهِرَتَينِ فَمَسَحَ عَلَيهِمَا (ب) (بخاري شريف،باب اذا دخل رجليه وهما طاهرتان،ص٣٣،نمبر٢٠٦) ددې حديث څخه دحنفيه مسلک ثابتيږي چي صرف پښې ئې پري مينځلې او موزې ئې په پښوکړي. بيائي وروسته نور اعضآء پري مينځل نو دا جائزدئ. ځکه چي حضور (ﷺ) وفرمائل :ما دُوَارِي پښې دپاکئ په حالت کي داخلي کړي دي .

فائده : امام شافعي فرمائي چي مکمل اَودَس ئې کړئ وي او موزې ئې په پښو کړي وي نو بيا خو مسح کولائي سي که نه نو نه، دئ دهغو حديثو څخه استدلال کوي چي په هغه کي دئ چي پرطهارت باندي موزې په پښوکړي وي .

پام لرنه : د احنافو په نېز په اَودَس کي ترتيب واجب نه دئ، په دغه وجه هم که

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) ومونږ ته حکم راکاوئ کله چي مونږ پرسفر يو،چي خپلې موزې دري ورځي دري شپې مَه خلاصوئ. لېکن دجنابت څخه (مَسح مَه کوئ) لېکن دګندګئ او بَولُو او خوب څخه مسح کولائي سئ (ب) مغيرة بن شعبةؓ فرمائي چي زه دحضور (ﷺ) سره پرسفروم نوزه دحضور (ﷺ) د موزې د خلاصولو لپاره کُوږ سوم، نوحضور (ﷺ) راته وفرمايل دا پرېږده ځکه چي دا دواړي پښې مُو دطهارت په حالت کي داخل کړي دي، بيائي پردې دواړو موزو مسح وکړه .

[٨٤](٢) فَاِن كَانَ مُقِيمًا مَسَحَ يَومًا وَ لَيلَةً وَ اِن كَانَ مُسَافِرًا مَسَحَ ثَلْثَةَ اَيّامٍ وَلَيَالِيهَا وَ اِبتِدَائهَا عَقِيبَ الحَدَثِ [٨٥](٣) وَالمَسحُ عَلٰي الخُفّينِ عَلٰي ظَاهِرِهِمَا خُطُوطًا يَبتَدِأ مِنَ الاَصَابِعِ اِلٰي السّاقِ وَ فَرضُ ذَالِكَ مِقدَارُ ثَلْثَ اَصَابِعَ مِن اَصَابِعِ اليَدِ .

دمکمّل اَودَس څخه مخکي موزې په پښوکړې نو جائز دئ .

[٨٤](٢) که مقيم وي نودي تر يوې ورځي يوې شپې پوري مسح کوي او که مسافروي نودي تردې ورځي دري شپې پوري مسح کوي، او د مسح د وخت ابتدآء د حَدَث څخه وروسته ده .

وجه : ددې مُدّت (وخت) دليل په حديث کې دئ قَالَ اَتَيتُ عَائِشَةَ ... فَقَالَ جَعَلَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) ثَلٰثَةَ اَيّامٍ وَلَيَالِيهِنّ لِلمُسَافِرِ وَ يَومًا وَ لَيلَةً لِلمُقِيمِ (الف) (مسلم شريف،باب التوقيت فِي المسح على الخفين،ص١٣٥،نمبر٢٧٦) دمسافرلپاره درې ورځې درې شپې دمقيم لپاره يوه ورځ يوه شپه دحدث دوخت څخه شروع کيږي، د موزو په پښوکولو د وخت څخه نه شروع کيږي، ځکه چې موزه مَانِعِ حَدَث ده نودهغه وخت څخه به مَانِعِ حَدَث وي چې حَدَث پيداسوئ وي، ترڅوچې حَدَث نه وي نو دا به مَانِعِ حَدَث څرنګه وي؟ نوځکه د حَدَث د وخت څخه به د مسحِ مُدَت شروع کيږي .

پام لرنه : کوم حديثونه چې د تَحدِيدِمُدّت (متعين وخت) خلاف دي هغه ضعيف دي، او دعلمآء په نېز مَعمُولٌ بِهَا نه دي .

[٨٥](٣) دموزو مسح به د پښو پر ظاهره خُوَا باندې کول کيږي د خَطُونُو په شکل به شروع کيږي د ګوتو څخه تر پنډئ پورې. او ددې فرض د دروګتوپه مقداردئ د لاس د ګوتو څخه .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) درې ورځې درې شپې د مسافر لپاره او يوه ورځ يوه شپه دمقيم لپاره مسح کول جائز کړې ده .

[٨٦](٤) وَ لاَ يَجُوزُ المَسحُ عَلٰي خُفٍّ فِيهِ خَرقٌ كَثِيرٌ يَتَبَيّنُ مِنهُ قَدرَ ثَلاَثِ اَصَابِعَ الرِّجلِ وَ اِن كَانَ اَقَلّ مِن ذَالِكَ جَازَ .

تشريح : پر موزو باندې دمسح طريقه داده چې د پښو پر لوړه (بالا) حصّه به مسح کوي پرلاندې خُوَا به نه کوي او درې د لاس ګوتې به دپښو دګوتو لخوا څخه راکشوي، او کش کش تر پنډئ پورې به رسوي او د لاس دګوتوڅخه د درو(٣) ګوتو په اندازه کَشَوَل فرض دئ .

وجه : (١) دپښو پر بالائي حصّه باندې دمسح کولو دليل داحديث دئ.عَن عَلِيٍّ قَالَ لَوكَانَ الدِّينُ بِالرّأيِ لَكَانَ اَسفَلُ الخُفِّ اَولٰي بِالمَسحِ مِن اَعلاَهُ وَ قَدرَ أيتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) يَمسَحُ عَلٰي ظَاهِرِ خُفّيهِ (الف) (ابوداؤدشريف،باب كيف المسح،ص٢٤، نمبر١٦٢) ددې حديث څخه معلوم سو چې دپښو پر لوړه خُوَا باندې مسح کول ضروري ده او په کوم حديث کې چې دپښو پر لاندې خُوَا باندې مسح کول ثابت ده. هغه دفضيلت په توګه ده. او د درو(٣) ګوتو د پنډئ وخُوَا ته د راکشولو دليل داحديث دئ عَن جَابِرَ (رضي الله عنه) قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) بِيَدِهِ هٰكَذَا مِن اَطرَافِ الاَصَابِعِ اِلٰي اَصلِ السّاقِ وَ خَطّطَ بِالاَصَابِعِ (ب) (ابن ماجه شريف،باب فِي مسح اعلٰي الخف واسفله،ص٧٨، نمبر٥٥١) په دې حديث کې دګوتو څخه تر پنډئ پورې دکشولو تذکره ده او اَصَابِعٌ دجمع صيغه ده چې مطلب ئې دا سو چې کم از کم به درې ګوتې وي .

لغت : خُطُوطًا : د خَط (لِيکِي.کَرخ) په شان په کشېدوسره، اَلسّاقُ : پُنډَئ .

[٨٦](٤) مسح نه ده جائز پر دارنګه موزو باندي چي په هغه کی ډېر زيات ځيري توب وي. دهغه څخه دپښو د درو(٣) ګوتومقداربښکاره کيږي. اوکه ددې څخه لږ بښکاره کيږي نومسح جائز ده .

حاشيه:(الف)حضرت عليτ فرمائي که دين پررَأيَه باندي وائي نودمُوزې لاندي حصّه به ډېرمناسب وائ د مسح لپاره ترلوړه حصّه.مَا رَسُولُ الله(ﷺ)ولیدئ چي دمُوزې پر لوړه حصه ئې مسح کول (ب) حضور(ﷺ) په خپل لاس باندي دارنګه اِشَارَه وکړه دګوتو دکنارو څخه تر پنډيو پوري او دګوتو څخه په کشېدو.

[٨٧](٥) وَلاَ يَجُوزُ المَسحُ عَلْي الخُفّينِ لِمَن وَجَبَ عَلَيهِ اَلغُسلُ.

وجه : اصل خودادئ چي که موزه دپښې څخه خلاصه سي. نوټوله موزه خلاصه سول اوپښه پري مينځل ضروري ده. او د دروګوتوپه اندازه څرېدل هم ګوا که دموزې خلاصېدل دئ. ځکه چي څلورمه حصه دپښې په بعضوځايوکي د کُل حکم لري ځکه په پښه (قدم) کي اصل ګوتي دي، او درې (٣) ګوتي اکثرقدم دئ. لدې وجه د درو(٣) ګوتو په اندازه څرېدل او بښکاره کېدل به داسې ګڼو ګواکه پښه (قدم) ټول خلاص سو، نوځکه اُوس به موزه خلاصه وي او پښه به مينځي.دموزې دخلاصېدولکبله دپښو دمينځلودليل دا اثردئ. عَن رَجُلٍ مِن اَصحَابِ النّبِيّ (ﷺ) فِي الرّجُلِ يَمسَحُ عَلْي خُفّيهِ ثُمّ يَبدُو لَهُ فَيَنزَعُهُمَا قَالَ يَغسِلُ قَدَمَيهِ (الف) (السنن للبيهقي،باب من خلع خفيه بعدمامسح عليهما،ج اوّل،ص٢٨٩) سَألتُ مَعمَرًا عَنِ الخَرقِ يَكُونُ فِي الخُفّ فَقَالَ اِذَا خَرَجَ مِن مَوَاضِعِ الوُضُوءِ شَيئٌ فَلاَ تَمسَح عَلَيهِ وَ اِخلَع (السنن للبيهقي،باب الخف الذي مسح عليه رسول اللهρ ج اوّل،ص٤٢٥،نمبر١٣٤٧/مصنف ابن ابي شيبة٢٢١ فِي الرّجُلِ يَمسَحُ علْي خفيه ثُمّ يَخلَعُهُمَا،ج اوّل، ص١٧٠،نمبر١٩٥٨)

پام لرنه : که د درو(٣) ګوتوڅخه په کمه اندازه موزه څيري سوې وي نوپرهغه مسح جائزده .

فائده : امام شافعي فرمائي که لږ څه څيري سوې وي چي د اَودَس ځائي ځيني بښکاره کيږي نوپرهغه باندي مسح کول جوازنه لري. زمونږ جواب دادئ چي لږ ډېره (څه نه څه) خوموزه خامخاڅيري وي ځکه دا مقدار مَعفوٌعَنهُ دئ .

لغت : خَرقٌ : څريوالئ، يَتَبَيّنُ : بښکاره کيږي .

[٨٧](٥) پرموزومسح جائز نه ده دهغه سړي لپاره چي پرهغه غسل واجب وي .

وجه : په مسئله نمبر ١ کي حديث تېر سوئ دئ چي صرف په حَدَثِ اَصغَر (اَودَس)

حاشيه : (الف) د رسول الله (ﷺ) په اصحابانوکي ديوه سړي څخه دا روايت دئ چي يوسړئ مسح وکړي پرخپلو موزو باندي بياددە خيال سو،او دوارې ئې وکښلي،نو وفرمائل چي دوارې پښې دي پري مينځي .

[٨٨](٦) وَيَنقُضُ المَسحُ مَا يَنقُضُ الوُضُوءَ وَينقُضُ اَيضًا نَزعُ الخُفّ .

کي مسح کولائي سي، په کوموحَدَثُوکي چي د غُسل ضرورت وي . په هغوکي دموزې څخه پښه خلاصول ضروري ده. نوځکه مَسح عَلْي الخُفّين (هلته) جواز نه لري .

[۸۸](٦) مسح ماتوي(ختم کوي) هغه شيان چي اَودَس ماتوي او دموزې خلاصېدل هم .

وجه : دکوموحَدَثُونُوڅخه چي اَودَس ماتيږي دهغو حَدَثُوڅخه مسح هم ماتيږي، او دوهم وار به پر موزومسح کوي. خو دادئ چي موزه وکاږي نو د پښو دمينځلو ضرورت نسته ځکه چي مسح د اَودَس بعض حصه ده، نو ځکه چي دکوم شي څخه اَودَس ماتيږي دهغه څخه مسح هم ماتيږي.لېکن که موزه دپښې څخه وخيژي نو به دواړې موزې وکاږي او پښې به مينځي .

وجه (١) په مسئله نمبر٤ کي حديث تير سوچي دموزې په خلاصېدسره به دوهم وار پښې مينځي .که ديوې پښې موزه خلاصه سوه نو دواړي پښې به مينځي، داځکه چي که پريوه موزه مسح وکړي او بَلَه پښه پري مينځي دارنګه غَسل او مَسح په يوه وظيفه کي نه سي جمع کولائي. پر دواړو به مسح کوي يا به دواړي مينځي، دحديث څخه دا معلوميږي (٢) عَن مُغِيرَةَ بِنِ شُعبَةَ (ﷺ) قَال غَزَونَا مَعَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فَأَمَرَ نَا بِالمَسحِ عَلْي الخُفّينِ ثَلاَثَةَ اَيّامٍ وَلَيَالِيهَا لِلمُسَافِرِ وَ يَومًا وَ لَيلَةً لِلمُقِيمِ مَالَم يَخلَع (الف) (سنن للبيهقي،باب من خلع خفيه بعد مامسح عليهما،ص٤٣٤، نمبر١٣٧٦/ مصنف ابن ابي شيبة٢٢١ فِي الرجل يمسح علي خفيه ثُمّ يخلعهما،ج اوّل،ص١٧٠،نمبر١٩٦٠) د مَالَم يَخلَع څخه معلوميږي چي که موزه دپښوڅخه خلاسه سي نودوهم واربه پښې مينځي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) ومونږ ته حکم راکړئ پر موزو باندي د مسح کولو دري ورځي دري شپې دمسافر لپاره او يوه ورځ يوه شپه د مُقيم لپاره تر څو چي موزې پې خلاصي کړي نَه وي .

[۸۹](٧) وَ مُضِيّ المُدّةِ فَاِذَا مَضَتِ المُدّةُ نَزَعَ خُفّيهِ وَغَسَلَ رِجلَيهِ وَصَلّي وَ لَيسَ عَلَيهِ اِعَادَةُ بَقِيّةِ الوُضُوءِ [۹۰](٨) وَ مَن اِبتَدَأ المَسحَ وَهُوَ مُقِيمٌ فَسَافَرَ قَبلَ تَمَامِ يَومٍ وَلَيلَةٍ مَسَحَ تَمَامِ ثَلاَثَةِ اَيّامٍ وَ لَيَالِيهَا .

[۸۹](٧) او د مُدَت (وخت) تېرېدل هم مسح ماتوي .بس چي مُدَت تيرسي نو دواړې موزې دي وکاږي او دواړي پښې دي پري مينځي او لمونځ دي وکړي، اوپرده باندي دا نور اَودَس راګرزول ضروري نه دئ .

وجه : (١) لوړپه ډيرو حديثونوکي تير سوچي د مسح مُدَت د مقيم لپاره يوه ورځ يوه شپه او دمسافر لپاره دري ورځي او دري شپې دئ .نوکه دغه مُدَه پرمسح باندي تېره سي نو دمَسحِ وخت په خپله ختم کيږي، ځکه چي موزه دحَدَث لپاره مَانِع وه. د وخت دتېرېدو سره مَانِع ختم سو او حَدَث په پښوکي دَنَنَه سِرَايَت وکئ، ځکه موزه به خلاصه وي او پښې به مينځي، بياکه چيري ده د اوّل څخه اَودَس درلودئ نو صرف

پښې دي پرې مينځي. نور اَودَس راګرزول لازم نه دئ. که چيرې راوګرزوي نو ښَه خبره ده (۲) په مسئله نمبر ٤ کي دا حديث تېر سوئ دئ چې فَيَنزَعُهُمَا قَالَ يَغسِلُ قَدَمَيهِ (الف) (سنن للبيهقي،نمبر ۱۳۷۰) چې مطلب ئې داو چې صرف دواړه قدمونه مينځل لازم دي. ټول اَودَس راګرزول لازم نه دئ .

لغت : نَزَعَ : ودې کاږي .

[۹۰] (۸) يوچا مسح شروع کړه په داسي حال کي چې دئ مقيم و بيا ديوې ورځي يوې شپې دپوره کېدو څخه مخ کې سفر شروع کړئ نو مسح به کوي دريې ورځي دريې شپې .

حاشيه : (الف) دواړي موزې دي خلاصې کړي، وفرمائل چې دواړه قدمونه به مينځي .

[۹۱](۹) وَ مَن اِبتَدَأَ المَسحَ وَ هُوَ مُسَافِرٌ ثُمّ اَقَامَ فَاِن كَانَ مَسَحَ يَومًا وَ لَيلَةً اَو اَ كثَرَ لَزِمَهُ نَزعُ خُفّيهِ وَ اِن كَانَ اَقَلّ مِنهُ تَمّمَ مَسحَ يَومٍ وَ لَيلَةٍ

[۹۲](۱۰) وَ مَن لَبِسَ الجَرمُوقَ فَوقَ الخُفّ مَسَحَ عَلَيهِ .

وجه : مُقِيم ديوې شپې يوې ورځي پوره کولوڅخه مخ کي سفرشروع کئ نوحَدَث پرقدم باندي د سرايت کولوڅخه مخ کي دئ مسافر سو. نوځکه مُدَت (وخت) به اُوس ځله وُرِد سي دمسافر پرمُدَه به عمل کوي. او که يوه شپه يوه ورځ پوره سوې وائي نو به حَدَث پرقدم باندي سرايت کړئ وائي اُوس دا بيا نه پورته کيږي، اُوس به پښه خلاصوي او مينځي به، په دې صورت کي دريې ورځي نه سي پوره کولائي .

اصول : چې حَدَث پرقدم باندي سرايت نه وي کړئ، نو د مُدَت حکم بدلېدلائي سي. د سرايت کولو وروسته نه شي بدلېدلائي .

[۹۱](۹) يوچا مسح شروع کړه په داسي حال کي چې دئ مسافر وُ بيامقيم سو نو که يوه شپه يوه ورځ مسح کړې وه يا ئې ددې څخه زيات کړې وه نو پر ده باندي دواړې مُوزې خلاصول لازم دي، او که ددې څخه کم وي نويوه شپه يوه ورځ به پوره کوي .

وجه : چې د مُسَافَرَئ په حالت کي وي نو دريې ورځي دريې شپې مسح کولائي سي. لېکن که په مينځ کي د مُسَافَرَئ حالت ختم سو، نو د مقيم پرمُدَه يوه شپه يوه ورځ باندي به اکتفآء کوي،اُوس که يوه ورځ پوره کړې وه يا ددې څخه زيات پوره کړې وه،نوموزې به خلاصوی اوپښې به مينځي،که يوه شپه يوه ورځ نه وه پوره کړې نويوه ورځ يوه شپه به پوره کوي، ځکه چې مقيم خونو په آخر کي دئ چې دئ .

[۹۲](۱۰) کوم چاچې جَرمُوق پر موزو باندي لوړي په پښوکړي وي نو پر هغه به مسح کوي .

وجه : (١) جَرمُوقٌ يا مُوقٌ وهغه مُوزُو ته ويل کيږي چې د ښو موزو دحفاظت لپاره [٩٣](١١) وَ يَجُوزُ المَسحُ عَلْي الجَورَبَينِ اِلاّ اَن يّکُونَا مُجَلّدَينِ اَو مُنَعّلَينِ وَ قَالاَ يَجُوزُ اِذَا کَانَا ثَخِينَينِ لاَ يَشُفّانِ .

پرهغه لوړي په پښو کيږي نوګواکه دواړي د موزې قسمونه دي نوځکه پر جَرمُوق باندي مسح کولائي سي .
پام لرنه : پر جَرمُوق باندي دمسح کولولپاره هغه شرطونه دي کوم چې پر موزې باندي دمسح کولولپاره دي (٢) په حديث کي دئ. عَن اَنَسٍ بِنِ مَالِکٍ (ﷺ) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) کَانَ يَمسَحُ علْي ا لمُوقَينِ وَ الخِمَارِ (الف) (سنن للبيهقي،باب المسح علي الموقين،ج اوّل،ص٤٣٢،نمبر١٣٦٨/ابوداؤدشريف،باب المسح علْي الخفين،ص٢٣،نمبر١٥٣) ددې حديث څخه ثابت دئ چې حضور (ﷺ) پر جَرمُوق باندي مسح کړې ده .
فائده : د امام شافعي په نېز پر جَرمُوق باندي مسح جائز نه ده، هغه فرمائي چې د قدم بَدَل خو مُوزَه ده اُوس چې دموزې بَدَل جَرمُوق سي. دا د بَدَل لپاره بَدَل جوړ سو چې صحيح نه دئ. مونږ جواب دا ورکوچې دواړي موزې سره يو ځائي سوې د دوطَاقُ والا يوه موزه ځني جوړسوه .
لغت : جَرمُوقٌ : او مُوق : پر موزو باندي لوړ چې دموزو دحفاظت لپاره کومي موزې په پښوکيږي وهغه ته جَرمُوق يا مُوق وائي .
[٩٣](١١) مسح جائزده پر جَورَ بَينُ باندي او نه ده جائز لېکن چې دا دواړي مُجَلّدَينِ وي يا دواړي مُنَعّلَينِ وي او صاحبين فرمائي چې پر جَورَ بَينُ باندي مسح جائزده په دا شرط چې پَنډِ وي، اُوبَه نه جَذَب کوي .
تشريح : د سُوتِي کپړې ځخه جوړي سوي موزو ته جَورَ بَين يا جُرَاب ويل کيږي چې ددې پر تَلِي باندي چَمړَه مُبلَوَلي(لګولي) وي نودې ته مُنَعّلَينِ وائي دا د نَعلٌ ځخه مشتق(جوړ)دئ،دچوتي په پُوندَه کي چې کومه وَسپِنَه لګوي هغه ته نَعلٌ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) پر جَرمُوق او عمامه باندي مسح کوله (د خِمَارمعنْي دلته په عمامه سره ده)
وائي،اوکه پرتَلِي باندي هم چَمړَه وي او د چَوَتِي په شان پرقَدَم باندي ئې هم چَمړَه وي، نو اُوس خو دېره چَمړَه ولګېدل ځکه د سُوت ودې موزوته مُجَلّدَينِ وائي، جَورَب چې مُجَلّدَينِ وي يا مُنَعّلَينِ وي نو د امام ابوحنيفة په نېز پردې باندي مسح کول جائزده، که نه نو بيا نه .
وجه : عَن مُغِيرَةَ بِنِ شُعبَةَ (ﷺ) قَالَ تَوَضّاَالنّبِيّ (ﷺ) وَمَسَحَ عَلْي الجَورَبَينِ وَالنّعلَينِ (الف) (ترمذي شريف،باب فِي المسح علْي الجوربين والنعلين،ج اوّل،ص٢٩،نمبر٩٩/ ابوداؤدشريف،باب المسح علْي الجوربين،ص٢٤،نمبر١٥٩) دحديث ځخه معلوم سو چې پر جَورَبَينُ باندي مسح کول جائز ده او د وَالنّعلَينُ ترجمه استاد اَبُوالوَلِيد دا کړې ده : جَورَبَين هغه چې مُنَعّلَينِ وي،

يعني د سُوت دارنګه موزه چي نَعل په کي لګېدلي وي، او د رَاشِدبنِ نَجِيح څخه روايت دئ قَالَ رَأيتُ أ نَسَ بنِ مَالِكٍ (ﷺ) دَخَلَ الخَلاَ ءَ وَعَلَيهِ جَورَبَانِ اَسفَلُهُمَا جُلُودٌ وَ اَعلاَهُمَا خَزّ فَمَسَحَ عَلَيهِمَا (ب) (السنن للبيهقي،باب ماورد فِي الجوربين والنعلين،ج اوّل،ص٤٢٨،نمبر١٣٥٧) ددې څخه معلوم سو چي حضرت امام ابوحنيفة چي د سُوت په موزوکي د مُجَلَّدَينِ او مُنَعَّلَينِ کوم قيد لګولئ دئ هغه ئې ددې روايات په رونا کي لګولئ دي .

فائده :(١) صاحبين رحمهماالله او ائمهٔ ثلاثه فرمائي چي که دري(٣) شرطونه د سُوت په موزوکي وي نو بيامسح کول پر جائز ده (١) دومره پنډي وي چي دمسح کولوپه وخت کي اُوبَه و پښو ته سِرَايَت نه کوی(٢) دټرلوبغيره پر پښو باندي ټينګيږي (٣) تر يوه ميل پوري په موزه کي تللائي سي . نوپردغه موزو باندي مسح کولائي سي. او ددې وجه داده چي ددې درې شرطو په وجه به د سُوت موزه د چمړې دموزې سره مُشَابِه (يو رکم) سي. ځکه چي په اصل کي خو دچمړې پر موزه باندي مسح جائز ده، نو په دا وجه دا شرطونه ولګول (٢) په عام احاديثوکي پر

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) اَودَس وکړئ او د سُوت پر موزه او پر چپلکو باندې مسح وکړه (ب) مَا انس بن مالکؓ ولیدئ چي و بَيتُ الخَلآء ته داخل سو او دده په پښوباندي د سُوت (جورې سوي)دُوی (٢) موزې وې د دواړولاندي حصه دچمړې وه، او لوړه حصه د رِيشَمُ وه نو ده (انس) پر دواړو مسح وکړه .

[٩٤](١٢) وَلاَ يَجُوزُ المَسحُ عَلَي العَمَامَةِ وَ القَلَنسُوَةِ وَ البُرقَعِ وَ القُفّازَينِ .

جَورَبَينُ باندي دمسح کولو ثبوت سته که مُجَلّدَينِ او مُنَعّلَينِ وي که نه وي، نو پرخالص جَورَبَينُ باندي دمذکوره شرطوسره مسح جائز ده .

پام لرنه : امام ابوحنيفة په آخري عمر کي دصاحبين وقول ته رجوع وکړه نوځکه د جَورَبَينُ پرمسح باندي اتفاق وسو .

لغت : خُفّ : دچمړې موزه. جَورَبَينِ : د سُوت موزه چي پر تَلِي باندې چمړه لګېدلې وي. ثَخِينَينِ : د ثَخِينٌ تثنيه ده. پَنډَه موزه. يَشُفّانِ : د يَشُفّ تثنيه ده چي اُوبَه ځني راچَنَل کيږي .

[٩٤](١٢) پرلنګوټه، پرخُوَلَئ او بُرقَع او دستکلو باندي مسح جائز نه ده .

وجه : (١) په آيت کي پر سَر باندي دمسح کولو حکم سوئ دئ اُوس د خَبَرِوَاحِد حَدِيث په ذريعه پر کِتَابُ اللهِ باندي زياتوب کول جائز نه دئ. نو دحديث په وجه پرلنګوټه، خُوَلَئ او بُرقَع (چادري)باندي مسح جوازنه لري او په کومو احاديثو کي چي ددې ذکردئ چي حضور (ﷺ) پر لنګوټه مسح وکړه دهغه مطلب دادئ چي د سَر پر بعض حصّه ئې مسح وکړه او پر لنګوټه ئې هم وکړه (٢) او په حديث کي هم د دې طريقهٔ کار ذکر راغلئ دئ. عَن اَنَسِ بنِ مَالِكٍ قَالَ رَأيتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) يَتَوَضّأ

وَعَلَيهِ عَمَامَةٌ قَطرِيّةٌ فَاَدخَلَ يَدَهُ مِن تَحتِ العَمَامَةِ فَمَسَحَ مُقَدّمَ رَأسِهِ فَلَم يَنقُضِ العَمَامَةَ (الف) (ابوداؤدشريف،باب المسح علي العمامة،ص٢١،نمبر١٤٧) په مُسلم شريف کي دئ. اَنّ النّبِيّ (ﷺ) مَسَحَ عَلَي الخُفّينِ وَ مَ◌َقدَمِ رَأسِهِ وَعَلَي عَمَامَتِهِ (مسلم شريف،باب المسح علي النّاصية والعمامة،ص١٣٤،نمبر٢٧٤) ددې حديث څخه معلوم سو چې د سَر پر بعض حصه ئې مسح وکړه او پر لنګوټه ئې مسح وکړه،لِهٰذَا

حاشيه : (الف) مَا حضور (ﷺ) وليدئ چې دده پر سَر باندي قَطَرِي لنګوټه وه، نو حضور (ﷺ) تر لنګوټې لاندي لاس داخل کئ بيا ئې د سَر مخکنئ حصه باندي مسح وکړه او لنګوټه ئې نه کړه خلاص .

[٩٥](١٣) وَ يَجُوزُ عَلَي الجَبَائِرِ وَ اِن شَدّهَا عَلَي غَيرِ وُضُو ءٍ .

صرف پر لنګوټه باندي مسح کفايت نه کوي (٣) امامِ ترمذي فرمائلي دي چې علمآء فرمائي چې صرف پر لنګوټه باندي مسح کول کفايت نه کوي تر څو چې ددې سره پر سَر باندي هم مسح ونه کړي، **وَهُوَ قَولُ سفيان الثوري ومالك بن انس و ابن المبارك،والشافعي** (ترمذي شريف،باب ماجآء في المسح علي الجوربين والعمامة ص٢٩نمبر١٠٠) (۴) دارقطني باقاعده باب قائم کړئ دئ بَابٌ فِي جَوَازِ المَسحِ عَلَي بَعضِ الرّأسِ (ج اول ص٢٢٠نمبر٧٢٨) او ددې لاندې دارنګه څلور حديثونه ذکر کړئ دي دهغه څخه دا معلوميږي چې د عمامې سره پر سَر باندي هم مسح کول ضروري ده، پر دَستکَلُو باندي هم مسح کول جواز نه لري (١) ددې هغه دلائل دي کوم چې د مسح علَي العمامة په باب کي تېر سوي دي (٢) ددې شيانو په مينځلو کي هيڅ حرج نسته او مسح کول د حرج د دفع کولو لپاره وي، نو ځکه لاسونه مينځل ضروري دي، پر دستکلو باندي مسح کول جواز نه لري .

لغت : اَلقَفّازَينِ : دستکلي، دستانې .

[٩٥](١٣) مسح جائز ده د زخم پر پټيو باندي که څه هم هغه ئې بغير د اَودَس تړلي وي .

وجه : (١) د زخم پټئ خلاصول مُشکل دئ او حرج پکښې دئ، نو ځکه د پټئ سره به مسح پر کوي، که څه هم پټئ ئې د حَدَث په حالت کي تړلي وي (٢) په ابوداؤد کې دا تعليق سته. اِنّمَا يَکفِيهِ اَن يّتَيَمّمَ و يَعصِرَ اَو يَعصِبَ شَکّ مُوسْي عَلَي جُرحِهِ خِرقَةً ثُمّ يَمسَحُ عَلَيهَا وَيَغسِلَ سَائِرَ جَسَدِهِ (الف) (ابوداؤدشريف،باب في المجدور يتيمم،ص٥٥،نمبر٣٣۶) (٣) عَن عَلِيّ بنِ اَبِي طَالِبٍ قَالَ سَاَلتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) عَنِ

حاشيه : (الف) و ده ته صرف دا کفايت کوي چې تيمم وکړي او پټئ وتړي پر خپل زخم باندي، موسيٰ ته شك پيدا سوئ دئ چې يَعصِرُ لفظ ئې ووائي يا ئې د يَعصِبُ لفظ ووائي، بيا دي پر هغه باندي مسح وکړي، او دا نور ټولَ بدن دي پرې مينځي .

[٩٦](١٤) فَاِن سَقَطَت مِن غَيرِ بُرءٍ لَم يَبطُلِ المَسحُ [٩٧](١٥) وَ اِن سَقَطَ عَن بُرءٍ بَطَلَ .

الجَبَائِرِ يَكُونُ عَلْي الكَسرِ كَيفَ يَتَوَضّأ صَاحِبُهَا وَ كَيفَ يَغتَسِلُ اِذَا اَجنَبَ؟ قَالَ يَمسَحَانِ بِالمَآءِ عَلَيهَا فِي الجَنَابَةِ وَالوُضُوءِ (الف) (دارقطني،باب جوازالمسح علي الجبائر ص٢٣٣نمبر٨٦٥/ابن ماجه شريف،باب المسح علي الجبائرص٩٣نمبر٦٥٧/السنن للبيهقي،باب المسح علي العصائب والجبائرج١ ص٣٤٨نمبر١٠٧٧) د حديث څخه معلوم سو چي پر کپچئ(پټئ) باندي مسح کول جائز ده .

لغت : اَلجَبَائِرُ : د جَبِيرَةٌ جمع ده پټئ،کپچئ .

پام لرنه : په عام توګه سره پر زخم باندي بغير د اَودَس پټئ تړلي خو ددې باوجود صحابۀ کرامو پر هغو باندي مسح کوله، ځکه چي دا مجبوري ده، نو ځکه چي بغيره د اَودَس هم پټئ وتړي نو پر هغه باندي مسح کول جائز ده .

[٩٦](١٤) نوکه چيرى د زخم دجوړېدو بغير پټئ يَلَه سوه نومسح نه باطل کيږي .

تشريح : اَودَس ئي وکړئ بيائي پرپټئ مسح وکړه په دغه دوران کي زخم لانه وجوړسوئ چي پټئ يَلَه سوه نوهغه اول مسح لاجاري ده، دُويَم وار دمسح کولوضرورت نسته .

وجه : (١) ترڅوچي زخم نه وي جوړ سوئ نو پټئ تړل ګواکه دهغه مينځل دئ، ځکه دوهم وار دمسح کولوضرورت نسته (٢) مجبوري هم ده .

[٩٧](١٥) که زخم جوړسو او کپچئ (پټئ)يَلَه سوه نو مسح به باطل (ختم)سي .

وجه : چي زخم ټيک سي نو اُوس هغه مجبوري هم ختم سوه، نو اُوس به اصل ته ځو او مسح به باطل سي، اُوس به دا دُويَم وار بيامينځي .

حاشيه : (الف) حضرت علي فرمائي چي مَا د حضور (ﷺ) څخه پر مات ځائ باندي چي پټئ وي په اړه پوښتنه وکړه، چي هغه به څه رنګه اَودَس کوي ؟ او چي جُنُب سي نو څه رنګه به غُسل کوي ؟ حضور وفرمائل چي پر دواړو پټيو دي په اُوبُو سره مسح وکړي په جنابت کي هم او په غُسل کي هم .

لغت : بُرءٌ : د زخم ټيک کېدل(جوړېدل) .

اصول : خاص دمجبورئ په وخت کي پر فَرع باندي عمل کولائي سي او چي مجبوري ختم سي نو پر اَصل باندي عمل کول ضروري دئ .

﴿... بَابُ الحَيضِ ...﴾

[۹۸](۱) اَقَلّ الحَيضِ ثَلْثَةَ اَيّامٍ وَ لَيَالِيهَا فَمَا نَقَصَ مِن ذَالِکَ فَلَيسَ بِحَيضٍ وَ هُوَ اِستَحَاضَةٌ وَ اَ كثَرُهُ عَشرَةَ اَيّامٍ وَ مَازَادَ عَلْي ذَالِکَ فَهُوَ اِستَحَاضَةٌ .

﴿... بَابُ الحَيضِ ...﴾

ضروري يادونه : دحيض معني ده بَيَدَل په شريعت کي داسي بنځه چي نابالغه نه وي، آئِسَه نه وي د چِريَان د وِينِي مرض نه وي او حَمَل نه وي ددې د رحم څخه وِينَه راووزي نو ودغه ته حيض وائي،څوک چي دچِريَان دوِينِي په مرض کي مُبتلاء وي ياحَامِلَه وي يا نا بَالِغَه وي يا آئِسَه وي دهغې د رحم څخه چي کومه وِينَه راوزي هغه دحيض نه وي بلکه د استحاضې وِينَه وي،ددې دليل دغه آيت دی وَ يَسئَلُونَکَ عَنِ المَحِيضِ قُل هُوَ اَذًي فَاعتَزِلُوا النِّسَآ ءَ فِي المَحِيضِ وَلاَ تَقرَبُوهُنّ حَتّٰي يَطهُرنَ (الف) (آيت ۲۲۲،سورة البقرة۲)

[۹۸](۱) دحيض کم از کم مُدَه درې ورځي درې شپې ده، نوچي کُوم تر دې کَم وي هغه حيض نه دئ هغه استحاضه ده، او ددې زيات څخه زيات مده لس(۱۰) ورځي ده، ددې څخه زيات چي کوم وِينَه راسي هغه ته د استحاضې وِينَه وائي .

وجه : د درو ورځو درو شپو څخه چي وِينَه لږ راسي و هغه ته د استحاضې وِينَه وائي،يا د لسو ورځو څخه زيات وِينَه راسي و هغه ته هم د استحاضې وِينَه وائي ددې دليل داحديث دئ.عَن اِبِي اُمَامَةَ البَاهِلِيّ (ﷺ) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَيَكُونُ الحَيضُ لِلجَارِيَةِ وَالثّيّبِ الّذِي قَد اَيئسَت مِنَ الحَيضِ اَقَلّ مِن ثَلْثَةِ اَيّامٍ وَلاَ اَكثَرَ مِن عَشرَةَ اَيّامٍ فَاِذَا رَأتِ الدّمَ فَوقَ عَشَرَةِ اَيّامٍ فَهِيَ مُستَحَاضَةٌ فَمَازَادَ عَلْي اَيّامِ اَقرَائِهَا قَضَت وَ دَمُ الحَيضِ اَسوَدٌ خَائِرٌ تَعلُوهُ حُمرَةٌ وَ دَمُ المُستَحَاضَةِ اَصفَرٌ رَقِيقٌ

حاشيه : (الف) خلګ ستاځخه دحيض په باب کي پوښتنه کوی، ته ورته وفرمايه چي دا دګندګئ شيئ دئ، ځکه دحيض په زمانه کي دښځو څخه جلا وسپرئ او ودُوئي ته مه ورنزدې کپرئ تر څوچي پاکِ نه سي .

[٩٩](٢) وَ مَا تَرَاهُ المَرأ ةُ مِنَ الحُمرَةِ وَالصّفرَةِ وَالكُدرَةِ فِي اَيّامِ الحَيضِ فَهُوَحَيضٌ حَتّي تَرَيْ البَيَاضَ خَالِصًا .

(الف) عَن وَاثِلَةَ بِنِ الاَسقَعِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَقَلّ الحَيضِ ثَلْثَةَ اَيّامٍ وَ اَكثَرُهُ عَشرَةُ اَيّامٍ (ب) (دارقطني،كتاب الحيض،ص٢٢٥،نمبر٨٣٦/٨٣٤) په دارقطني کي دارنګه ډپرحديثونه دي چي دهغوځخه دامعلوميږي چي کم ازکم مُده ئې دري ورځي دري شپې او زيات څخه زيات مُده ئې لس ورځي ده .

فائده : د امام شافعي په نږ دحيض کم ازکم مُده يوه ورځ ده او زيات څخه زيات مُده پنځلس(١٥) ورځي ده، ددې دليل دا قول دئ. عَن عَطآ ءَ قَالَ اَكثَرُ الحَيضِ خَمسَةَ عَشَرَةَ وَ قَالَ اَدنْي الحَيضِ يَومٌ (ج) (دارقطني،كتاب الحيض،ص٢١٦، نمبر٧٩٠/٧٨٩) د دغه رنګه قول څخه دئ استدلال کوي چي دحيض کم از کم مُدَه يوه روځ او زيات څخه زيات مُدَه پنځلس ورځي ده، د امام مالک په نږ دحيض په کم ازکم مُدَه کي هيڅ تَحدِيد نسته، ځکه چي لږ د حضرت عطآء قول راغلئ چي کم ازکم مُدَه يوه ورځ هم کېدلائي سي .

[٩٩](٢) اوښځه دحيض په زمانه کي چې کومه سَرَه وِينَه ژَرَه وِينَه او دخاؤرو په شان خَرَه وِينَه وِينِي هغه ټول حيض دئ. تردې پوري چي خالص تَکِي سپيني اُوبَه وَوِينِي .

وجه : دحيض په زمانه کي دښځي تُورَه وِينَه،سَرَه وِينَه،ژَرَه،خَرَه وِينَه د امام ابوحنيفه په نږ حيض شمارل کيږي .ځکه چي دحضرت عائشة (ﷺ) قول دئ چي د تَک سُپين څخه علاوه ټول رنګونه حيض دئ. كُنّ نِسَآ ءٌ يَبعَثنَ اِلَي عَائِشَةَ (ﷺ)

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل حيض د اِنجِلَئ لپاره او ثَيّبَې لپاره چي دحيض څخه ناميد سوې وي تر درو (٣) ورځو کم نه دئ او تر لس (١٠) ورځوزيات نه دئ، بس که تر لسو ورځو زيات وِينَه وليده نو هغه مُستَحَاضَه ده.بيا که دحيض د وخت څخه زيات سي نو دا به د لمانځه قضآء کوي دحيض وِينَه بالکل تور وي سُروالئ پر غالب وي او دمُستَحَاضې په وِينَه کي لږ څه ژِروالئ وي (ب) لږ تر لږ دحيض وِينَه دري ورځي ده او زيات څخه زيات لس ورځي ده (ج) عطآء وفرمائل حيض د زيات څخه زيات پنځلس ورځي دئ او لږ تر لږ يوه ورځ .

[١٠٠](٣) وَالحَيضُ تَسقُطُ عَنِ الحَائِضِ اَلصّلْوةَ وَ يَحرُمُ عَلَيهَا اَلصّومَ وَتَقضِي اَلصّومَ وَلاَتَقضِي الصّلْوةَ .

بِالدُرجَهِ فِيهَا الكُرسُفُ فِيهِ الصّفرَةُ فَتَقُولُ لاَ تَعجَلنَ حَتّي تَرَينَ القُصّةَ البَيضَآءَ تُرِيدُ بِذَالِكَ الطّهرَ مِنَ الحَيضَةِ (الف) (بخاري شريف،باب اقبال الحيض وادباره،ص٤٦، نمبر٣٢٠) ددې اثر څخه معلوم سو چې د حيض په زمانه کې تر څو چې خالص سپيني اُوبَه نه سي بنکاره دا پاته ټول رنګونه په حيض کې شمار دي .
پام لرنه : د اُمّ عَطِيّه څخه روايت دئ. قَالَت كُنّا لاَ نَعُدّ اَلكُدرَةَ وَالصّفرَةَ شَيئًا (ب) (بخاري شريف،باب الصفرة والكدرة في غير ايام الحيض،ص٤٧،نمبر٣٢٦) په دې قول کې دحيض د زمانې څخه علاوه (بل وخت) کې خَړَه او ژَړ رنګ وِينَه په حيض کې نه ده شمېرلې او دحيض په زمانه کې چې کوم خَړ رنګ او ژَړ رنګ وِينَه وي هغه ئې حيض شمېرلې ده، لکه څرنګه چې دحضرت عائشة (رضي الله عنها) دقول څخه معلوم سو .
فائده : امام ابويوسف فرمائي چې خَړ رنګ وِينَه دحيض نه ده، دا دغذآء د خرابئ په وجه وي، دحيض د وِينې حصه (برخه) نه ده، دده دليل دغه لوړ د اُمّ عَطِيّه قول دئ كُنّا لاَنَعُدّ الكُدرَةَ وَالصّفرَةَ شَيئًا (بخاري شريف،٣٢٦) .
پام لرنه : كه بنځه دحيض خاونده وي نو زَرغُونَه وِينَه دحيض وِينَه شمارل كيږي، او كه آيِسَه وي نو زَرغُونَه وِينَه د استحاضې وِينَه ده .
لغت : اَلصّفرَةُ : ژَړ رنګ، اَلكُدرَةُ : هغه وينه چې دخاؤرو رنګ ئې وي .
[١٠٠](٣) حيض ساقطوي دحائضې بنځې څخه لمونځ او حرام ګرزوي پر دې باندي روژه،نوحائضه به قضآء کوي د روژې او قضآء به نه راګرزوي دلمانځه .

حاشيه : (الف) بنځو حضرت عائشة رضي الله عنها ته ډُوبئ(دِبَه) را استاوئ چې په هغه کې به کُرسُف (کپړه يا پَنبَه وغيره) و، او په کُرسُف کې به ژَړ رنګ وِينَه وه، نوحضرت عائشة به ورته فرمائل تَلوَار مَه کوئ تردې چې سَپِينَه وِرئ(پَنبَه) وه وِينَئ، ددې مطلب داو چې تاسو به هغه وخت دحيض څخه پاکې ياست (ب) مورِ خَړ رنګ او ژَړ رنګ وِينَه حيض نه شميرل .

[١٠١](٤) وَلاَ تَدخُلُ المَسجِدَ وَلاَ تَطُوفُ بِالبَيتِ .

تشريح : دحيض په حالت کې لمونځ د اول څخه ساقطيږي، ځکه وروسته بيا دلمانځه قضآء نسته. او روژه واجبيږي، لېکن دحيض په حالت کې هغه ادآء کولائي نه سي، دهغه ادآء کول حرام دي ځکه وروسته به بيا قضآء راګرزوي .
وجه : (١) د لسو ورځو پنځوس لمونځونه دي او هره مياشته دپنځوس لمونځو په قضآء راوړلوکې حرج عظيم دئ، ځکه نولمونځ ګرسره ساقط دئ، د سره واجب هم نه دئ . او روژه په ټوله کال کې صرف لس(١٠) ورځې قضآء کوي. په دي کې هيڅ حرج نسته، نوځکه روژه پرخپل ځائ فرض پاته سوه، خوصرف قضآء به وروسته کوي (٢) په حديث کې دئ. عَن مَعَاذَةَ قَالَت سَألتُ عَائِشَةَ (رضي الله عنها) فَقُلتُ مَا بَالُ الحَائِضِ

تَقضِي الصّومَ وَلاَ تَقضِي الصّلْوةَ؟ فَقَالَت أَحَرُورِيّةٌ اَنتِ؟ قُلتُ لَستُ بِحَرُورِيّةٍ وَلٰكِنّي أسئلُ قَالَت كَانَ يُصِيبُنَاذَالِکَ فَنُؤمَرُ بِقَضَآءِ الصّومِ وَلاَ نُؤمَرُ بِقَضَآءِ الصّلْوةِ (الف) (مسلم شريف،باب وجوب قضآء الصوم علٰي الحائض دون الصلوة،ص١٥٣،نمبر٣٣٥/ بخاري شريف،باب لاتقضٰي الحائض الصلوة،ص٤٦،نمبر٣٢١) دا مسئله متفق عليه ده .

[١٠١](٤) حائضه بنځه مسجد ته نه سي داخلېدائي او نه د بَيتُ الله طواف کولائي سي .

وجه : (١) په حديث کي دئ چي. سَمِعتُ عَائِشَةَ ... فَقَالَ وَجِّهُوا هٰذِهِ البُيُوتَ عَنِ المَسجِدِ فَاِنّي لاَ اُحِلّ المَسجِدَ لِحَائِض وَلاَجُنُبٍ (ب) (ابوداؤدشريف،باب فِي الجنب يدخل المسجد،ص٣٤،نمبر٢٣٢) ددې حديث ځخه معلوم سو چي حائضه بنځه مسجد

حاشيه : (الف) حضرت معاذة رضي الله عنها فرمائي چي مَا د حضرت عائشي رضي الله عنها ځخه پوښتنه وکړه چي دا ځه وجه ده چي حائضه د روژې قضآء کوي او دلمانځه قضآء نه کوی؟ نوحضرت عائشي رضي الله عنها وفرمائل آيا ته د حَرُورِيَه مقام (ځائ) وسېدونکي ئي؟ ما ورته وويل چي نه، لېکن زه پوښتنه کوم، عائشة رضي الله عنها فرمائي چي موږ ته به حيض راتلئ نو موږ ته د روژې دقضآء کولو حکم کېدئ، او د لمانځه د قضآء کولو حکم نه کېدئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل چي د دې کورو دروازې د مسجد ځخه وَاړَوَئ، ځکه چي زه مسجد دحائضي او جُنُب لپاره حلال نه ګڼم .

[١٠٢](٥) وَلَا يَأتِيهَا زَوجُهَا [١٠٣](٦) وَلاَيَجُوزُ لِحَائِضٍ وَلاَ لِجُنُبٍ قِرَآ ءَةُ القُرآنِ .

ته نه سي داخلېدائي او طواف په مَسجِدُ الحَرَام کي کيږي، نو ځکه دا طواف هم نه سي کولايي (٢) خو د طواف د مَنع په لړ کي يو مُستَقِل حديث هم سته. عَن عَائِشَةَ (ﷺ) قَالَ(اَلنّبِيّ) لَعَلّکِ نَفِستِ؟ قُلتُ نَعَم قَالَ فَاِنّ ذَالِکَ شَيئٌ کَتَبَهُ اللهُ عَلٰي بَنَاتِ آدَمَ فَافعَل مَايَفعَلُ الحَاجّ غَيرَ لاَ تَطُوفِي بِالبَيتِ حَتّٰي تَطَهّرِي (الف) (بخاري شريف،باب تقضي الحائض المناسک کلها الا الطواف بالبيت،ص٤٤،نمبر٣٠٥) دحديث ځخه معلوم سو چي حائضه بنځه به طواف نه کوي .

[١٠٢](٥) مېړه به دحائضې مَيني سره وطي نه کوي .

وجه : په آيت کي دئ. وَ يَسئَلُونَکَ عَنِ المَحِيضِ قُل هُوَ اَذيً فَاعتَزِلُوا النِّسَآ ءَ فِي المَحِيضِ وَلاَ تَقرَ بُوهُنّ حَتّٰي يَطهُرنَ (ب) (آيت ٢٢٢،سورة البقرة٢)

پام لرنه : وطي کول خو حرام دي، لېکن وبنځه ته پر توګ (ازار) وروا ګوندي نوخالي پَرُوتَ ورسره کولائي سي، او که دحيض په ابتدآء کي وطي ورسره وکړې نو يو دِينَار دي صدقه (خيرات) کړي په (ابوداؤد باب في اتيان الحائض ص٤٠نمبر ٢٦٥) کي دحضرت ابن عباس (رضی اللہ عنہ) قول دئ. اِذَا اَصَابَهَا فِي اَوّلِ الدّمِ فَدِينَارٌ وَ اِذَا اَصَابَهَا فِي اِنقِطَاعِ الدّمِ فَنِصفُ دِينَارٍ .

[١٠٣](٦) د حائضې او جُنُب لپاره دقرآن وَينَا جواز نه لري .

وجه : (١) عَن اِبنِ عُمَرَ عَنِ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ لاَ تَقرَأ الحَائِضُ وَ لاَ الجُنُبُ شَيئًا مِّنَ

حاشيه : (الف) حضور(ﷺ) وفرمايل شايد تا لره حيض راغلئ دئ؟ ما ورته وويل چي هو!حضور وفرمائل دغه داسي شيئ دئ چي الله دآدم عليه السلام پرلُوئُو باندي فرض.(مقرر) کړئ دئ، نوځکه چي حاجي څومره کارونه کوي ته هم کوه، ماسوا ددي چي د بَيتُ الله طواف مَه کوه ترڅوچي ته پاکه سوې نه يي (ب) ستا څخه دحيض په اړه خلګ پوښتنه کوي، ته ورته وفرمايه چي دا خو دګندګئ شيئ دئ، نوځکه دښځوڅخه دحيض په حالت کي ليري وسېړئ، او د دوئي سره نزدېکت مَه کوئ ترڅوچي دوئي پاکِ سوي نه وي .

[١٠٤](٧) وَلاَ يَجُوز لِلمُحدِثِ مَسّ المُصحَفِ اِلاّ اَن يّأخُذَهُ بِغِلاَفِهِ .

القُرآنِ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء فِي الجنب والحائض لايقرأ القرآن،ص٣٤،نمبر١٣١/ ابوداؤدشريف،باب فِي الجنب يقرأ القرآن،ص٣٤،نمبر٢٢٩) علمآء فرمائي که چيري يوه بنځه وکشنيانو ته سبق وائي نوآيت دي ټکړه ټکړه کي(يويوتورئ)دي ورته ووائي خوتسبيح او تهليل ويلائي سي .

[١٠٤](٧) د بې اَودَسَ لپاره جائز نه دئ قرآن مَس کول مګر دا چي قرآن په غلاف (په بَلَه کپړه)سره ونيسي .

تشريح : بې اَودَس سړئ زباني قرآن ويلائي سي خو قرآن ته لاَس نه سي ورورِائي که چيري مَس کوي نو د يوغلاف(پوښ) په ذريعه باندي به قرآن مَس کوي .

وجه : (١) لاَ يَمَسّهُ اِلاّ المُطَهّرُونَ (آيت ٧٩سورة الواقعة٥٦) (٢) په حديث کي دئ کَانَ فِي کِتَابِ النّبِيّ (ﷺ) لِعَمرِو بنِ حَزَمٍ اَن لاّ تَمَسّ القُرآنَ اِلاّعَلْي طُهرٍ (ب) (دار قطني،باب فِي نهي المحدث عن مس القرآن،ج١،ص١٢٨،نمبر٤٢٩/سنن للبيهقي،باب الحائج لاتمس المصحف ولا تقرأالقرآن،ص٤٦١،نمبر١٤٧٨) دغه رنګه ډېرحديثونه په دارقطني کي نقل سوي دي چې دهغه څخه دا معلوميږي چي قرآن ته بغير اودس لاس ورورِل جوازنه لري .

پام لرنه : کوم غلاف(پوښ) چي دقرآن سره مُبنَتئ دئ هغه ګواکه دکتاب حصه ده نو ځکه ددغه غلاف سره لاَس ورورِل هم جواز نه لري، ددې څخه علاوه غلاف بايد وي .

پام لرنه : (١) په کشنيانو باندي ګړِي ګړِي اَودَس کولوکي حرج دئ (٢) دُوئي

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمايل چي جُنُب اوحائضه دي قران نه وائي (ب) حضور (ﷺ) د عمروبن حزم په خط کي ليکلي و، چي قرآن دي نه مس کوي مګر دپاکئ په حالت کي .

[١٠٥](٨) فَاِذَا اِنقَطَعَ دَمُ الحَيضِ لاَقَلّ مِن عَشرَةِ اَيّامٍ لَم يَجُز وَطيُهَا حَتّي تَغتَسِلَ اَو يَمضِي عَلَيهَا وَقتُ صَلْوةٍ کَامِلَةٍ .

مَرفُوعُ القَلَم دي (٣) که دُوئي دقرآن څخه منع سي نو دُوئي بياقرآن نه وائي لِهٰذَا وکشنيانو ته بې له اَودَس د ويلولپاره قرآن ورکول جائز دئ .

[١٠٥](٨) كه چيري دحيض وِينَه د لسو ورځوڅخه کم باندي ختم سول، نوددې سره وطي کول جائز نه دي تر څو چي غُسل ونه کړي يا پرهغه حائضه باندي د کامل لمونځ وخت تېر سي .
وجه (١) دلسو ورځوڅخه کم وِينَه ختم سوې ده، نو امکان لري چي دوهم وار بيا وِينَه راسي او دښځې عادت بدل سي، نولدې وجه يادي ښځه غُسل وکي چي مکمل پاکه سي، په آيت حَتّٰي يَطّهّرنَ (آيت ٢٢٢،سورة البقرة٢) کي که په تشديد سره ووايو نو مطلب به داسي چي ښځه ښَه ښَه پاک سي او دا هغه وخت کېدلائي سي چي ښځه غُسل وکړي (٢) يواثر هم ددې تائيد کوي. سَألَ اِنسَانٌ عَطَآءَ قَالَ اَلحَائِضُ تَرْي الطّهرَ وَلاَ تَغتَسِلُ أ تَحِلّ لِزَوجِهَا؟ قَالَ لاَ حَتّٰي تَغتَسِلَ (الف) (مصنف عبدالرزاق باب الرجل يصيب امرأته وقد رأت الطُهرَ ولم تغتسل،ص٣٣٠،نمبر١٢٧٣/سنن للبيهقي،باب الحائض لاتؤطأ حتّٰي تطهّر وتغتسل،ج١،ص٤٦٢،نمبر١٤٨٣) دوهم صورت ئې دادئ چي پرهغه ښځه باندي ديولمونځ کامل وخت تيرسي، نو د الله فرض به پردې باندي واقع(لازم)سي، نو به حُکمًا د اګنو چي دا پاک سوه، ځکه چي د الله فرض (لمونځ) پر واجب سو نو ددې قاعدې تحت به د انسان حق هم پر لازميږي .
پام لرنه : د احنافو مسلک دلته پر احتياط باندي بنآء دئ .
پام لرنه : دلمانځه دومره وخت تيرسي چي ښځه غُسل او تکبيرِتحريمه کولائي سي .

حاشيه : (الف) د حضرت عطآء څخه پوښتنه وکړه چي حائضه پاکه سي لېکن غُسل ئې نه وي کړئ، نو آيا دا دخاوند لپاره حلاله ده؟ وفرمائل نه، ترڅو چي غُسل ونه کړي .

[١٠٦](٩) وَ اِن اِنقَطَعَ دَمُهَا لِعَشرَةِ اَيّامٍ جَازَ وَطيُهَا قَبلَ الغُسلِ [١٠٧](١٠) وِالطّهرُ اِذَا تَخَلّلَ بَينَ الدّمَينِ فِي مُدّةِ الحَيضِ فَهُوَ كَالدّمِ الجَارِي .

[١٠٦](٩) او که دحائضې وِينَه د لسو ورځو دپوره کېدوسره ختم سوه، نو دهغې ښځي سره د غُسل دکولو مخ کي هم وطي کول جائز دي .
وجه : دلسو(١٠) ورځوڅخه زيات خوحيض راتلائي هم نه سي، ددې بعد چي کومه وِينَه راځي هغه به د استحاضې وِينَه وي، په دغه وجه که ښځي غُسل نه وکړئ نوهم وطي ورسره کولائي سي، خوبياهم ښَه به داوي چي د غُسل دکولوڅخه وروسته دي وطي وکړي چي پرمکمّل پاکي باندي وطي وسي، په دغه صورت کي به پر آيت حَتّٰي يَطهُرنَ بغير تشديدباندي عمل وي،چي دهغه تفسيرحضرت مُجَاهِد کړئ دئ چي کله وِينَه مُنقَطِع سوه، نو دا پاکه سوه، عبارت دادئ. عَن مُجَاهِدَ فِي قَولِهِ عَزّوَجَلّ ،وَ لاَ تَقرَبُوهُنّ حَتّٰي يَطهُرنَ، حَتّٰي يَنقَطِعَ الدّمُ فَاِذَا تَطَهّرنَ قَالَ يَقُولُ اِذَا اِغتَسَلنَ (سنن للبيهقي،باب الحائض لاتوطأحتّٰي تطهر وتغتسل،ج اوّل،ص٤٦٢،نمبر١٤٨٢) .

فائده : د امام شافعي او امام مالک په نېز په هرحالت کي غُسل دئ، دغسل څخه مخ کي وطي جواز نه لري ددوئي په نېز د حَتّٰي يَطهُرنَ معنْي طهارت بِالمَآء ده، او دبيهقي د اثر څخه استدلال کوي چې مکمل طهارت بايد وي بيادي وطي وکړي .

[۱۰۷](۱۰) هغه پاکي چې د دو وِينُو تر منځ وي دحيض په زمانه کي نوهغه دجاري وِينِي په مثال ده .

تشريح : عمومًا دارنګه کيږي چې د لږ وخت لپاره وِينَه راسي او بيا بَند سي بيا راسي بيا بند سي. د حيض وِينَه مُسَلسَل نه وي راروان نو په دغه وجه دحيض د مُدې (وخت) په مينځ کي چې کوم طُهر او پاکي وي دهغه حکم هم د وِينِي د جِريَان دئ (ګواکي وِينَه جاري ده، دربدلې نه ده) يعني په دغه مُده کي به ښځه لمونځ نه

[۱۰۸](۱۱) وَ اَقَلّ الطُّهرِ خَمسَةَ عَشَرَ يَومًا وَلاَ غَايَةَ لاَكثَرِهِ

[۱۰۹](۱۲) وَ دَمُ الاِستِحَاضَةِ هُوَ مَا تَرَاهُ المَراَةُ اَقَلّ مِن ثَلْثَةِ اَيّامٍ اَو اَكثَرَ مِن عَشرَةِ اَيّامٍ .

کوي، اونه به ددې خاوند ددې سره وطي کوي، مثلاً اَوّلَه ورځ وِينَه راغله بيا وِينَه بَندَسوه بيا لسمه ورځ وِينَه راغله نو د اولي ورځي څخه ونيسې تر لسمي ورځي پوري به حيض شمارل کيږي او ددې حکم به دحيض حکم وي .

وجه : (۱) لکه څرنګه چې د زکْوة نصاب دکال په شروع او آخر کي پوره کېدل کفايت کوي،دغه رنګه دحيض په اَوّله او آخره ورځ کي وِينَه راسي،نو تولي ورځي به حيض شمارل کيږي، که څه هم په مينځ کي وِينَه نه وي راغلې (۲) په عامه توګه وِينَه همېشه نه وي راروانه ځکه دمسلسل د وِينِي د راتګ شرط يې نه ولګاوئ .

[۱۰۸](۱۱) لَږ تر لَږ طُهرپنځلس ورځي وي او هيڅ حَدنسته د زيات طُهرلپاره .

تشريح : د دوحيضو تر مينځ طُهر به لږ تر لږ پنځلس ورځي وي، او د زيات طُهر لپاره څه حَدمقرر نه دئ، دوه کاله او درې کاله هم ښځي لره حيض نه راځي .

وجه : (۱) د ابراهيم نخعي څخه نقل سوي دي چې کم از کم د طُهر مُدَه پنځلس ورځي وي ځکه پنځلس ورځي به کَمَه مُدَه وي .

پام لرنه :(۱) دا قول نه وما ته ملاؤسوئ دئ او نه وصاحبِ هدايه ته (۲) داقامت مُدَه پنځلس ورځي ده ددې څخه استدلال کېدلائي سي چې،د طُهر مُدَه پنځلس ورځي ده .

[۱۰۹](۱۲) او د استحاضې وِينَه هغه ده چې ښځه تردې ورځي لږ او يا تر لس ورځي زيات و وِينِي .

تشريح : د احنافو په نېز ښځي لره لږ تر لږ درې ورځي وِينَه راځي لېکن دمثال په توګه دوې ورځي وِينَه راغله اوبيايوولس ورځي بالکل وِينَه نه راله،نو دا دوې ورځي وِينَه به داستحاضې وِينَه شمېرل کيږي، دغه رنګه دلسو ورځوڅخه زيات

[۱۱۰](۱۳) فَحُكمُهُ حُكمُ الرّعَافِ لاَيَمنَعُ الصّلاَةَ وَلاَ الصّومَ وَلاَ الوَطيَ .

وينَه راغله نودا به هم د استحاضې وينَه شمېرل کيږي .
پام لرنه : دکومو امامانوپه نېز چې دحيض د وينې دارومدار د وينِي پر سُروالي يا د وينِي پر تور والي باندي دئ دهغوپه نېز داستحاضې مسئله ډېر آسانه ده، چې کله توره او تَکَه سَرَه وينَه راسي نوهغه به دحيض وينه وي، او چې پِيَازِي رنګ يا زَرِ رنګ يا خَرِوَبرَه وينه وي نوهغه به د استحاضې وينه وي او داستحاضې په حالت کي به ښځه لمونځ کوي، او روژې به نيسي او په خاوندبه ځان هم وطي کوي، علمآء فرمائ چې که ښځه مُتَحَيِّرَه وي يعني نه دخپل عادت اندازه معلومه وي چې په مياشته کي په کومو کومو ورځوکې حيض راتلئ او نه دا ورمعلوم وي چې دکوم وخت څخه حيض شروع سوئ دئ او کله ختم سوئ دئ، نو د دارنګه ښځي لپاره دويني د رَنګَت مطابق دحيض او استحاضې فيصله کول زيات بهتر دئ، ځکه چې په حديث کي دئ. عَن فَاطِمَةَ بِنتِ أبِي حُبَيشٍ اَنّهَا كَانَت تُستَحَا ضُ فَقَالَ لَهَا النّبِيّ (ﷺ) اِذَا كَانَ دَمُ الحَيضِ فَاِنّهُ دَمٌ اَسوَدٌ يُعرَفُ فَاِذَا كَانَ ذَالِکَ فَاَمسِكِي عَنِ الصّلْوةِ فَاِذَا كَانَ الآخَرُ فَتَوَضّئِي وَصَلّي (الف) (ابوداؤدشريف،باب من قال تو ضأ لكل صلٰوة،ص٤٨،نمبر٣٠٤) نو امام احمد د ويني پر رَنګ باندي د حيض او استحاضې فيصله کړې ده .
[۱۱۰](۱۳) د استحاضې حکم د پَزِي د وِينِي په شان دئ نه لمونځ منع کوي نه روژه او نه وطي .
تشريح :/ وجه : د استحاضې په حالت کي دا ټول جائز دي، په حديث کي ددې دليل موجود دئ (۱) عَن عَائِشَةَ (ﷺ) اَنّهَا قَالَت قَالَت فَاطِمَةُ بِنتِ اَبِ◌ِي حُبَيشٍ لِرَسُولِ اللهِ (ﷺ) يَارَسُولَ اللهِ! إنّي لاَ اَطهُرُ أ فَاَدَعُ الصّلْوةَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ)

حاشيه : (الف) حضور(ﷺ) وفرمائل چې دحيض وينه وي يقينًا هغه توره وينه وي، چې پېژندل کيږي بس نوکه دغه وينَه وي بيا دلمانځه څخه منع سَه، او بياکه چيري بَلَه وينَه وي(يعني د استحاضې وي) نو اَودَس کوه او لمونځ کوه .

[۱۱۱](۱۴) وَ اِذَا زَادَ الدّمُ عَلْي العَشرَةِ وَلِلمَرأةِ عَادَةٌ مّعرُوفَةٌ رُدّت اِلْي اَيّامِ عَادَتِهَا وَ مَا زَادَ عَلْي ذَالِکَ فَهُوَ اِستِحَاضَةٌ .

اِنّمَا ذَالِکَ عَرَقٌ وَلَيسَ بِالحَيضَةِ فَاِذَا اَقبَلَتِ الحَيضَةُ فَاترُكِي الصّلْوةَ فَاِذَا ذَهَبَ قَدرُهَا فَاغسِلِي عَنكِ الدّمَ وَصَلّي(الف)(بخاري ،باب الاستحاضة،ص٤٤،نمبر٣٠٦/مُسلم،باب المستحاضة وغسلها وصلواتها،ص١٥١،نمبر٣٣٣) ددې حديث څخه معلوم سو چې مُستحاضه به لمونځ کوي او روژه دلمانځ په رکم ده نوځکه روژه به هم نيسي (۲) د خاوند د وطي کولو دليل دا حديث دئ. عَن عِكرَمَةَ قَالَ كَانَت اُمّ حَبِيبَةَ تُستَحَاضُ فَكَانَ زَوجُهَا يَغشَاهَا (ب) (ابوداؤدشريف،باب المستحاضة يغشاها زوجها،ص٤٩، نمبر٣٠٩) (۳) ددې حديث څخه معلوم سو چې دمُستحاضې وِينَه د

پَزي(پُوزي) د وِينې په رَڼګم ده، او د پزي د وينوکېدو په حالت کي لمونځ او روژه او وطي جائز دي، نو د استحاضې په حالت کې به هم دا شيان ټول جائز وي .
لغت : رُعَافٌ : د پزي څخه چي کومه وينه راځي هغه ته رُعَاف وائي .
دحيض او استحاضه تحقيق : په رِحم کي دننه پرځلورطرفه دحيض ګټکِي (يعني د وِينې ګټکِي) وي هغه وار په وار غټيږي چي کله دحيض وخت راسي نوهغه پرې کيږي سوکه سوکه د وينې سره رايله کيږي، ځکه دحيض وينه خنډه او توره وي لېکن چي دحيض په رګوکي يوه ناجوړي وي نو دحيض وروسته هم دهغه څخه وِينَه رايله کيږي، چي په هغه کي بيا ګټکِي نه وي يا وينه سره وي يا دخاؤرو يا ژړرنګه وِينَه وي، د استحاضې وينه په رِحم کي د زخم يا د ناجوړئ په وجه راځي .
[١١١](١٤) که وينه د لسو ورځوڅخه زيات سي او دښځي يومعلوم عادت وي نوبه ددې دعادت د زمانې پرلوري راګرزوي، او کوم چي دمعلوم عادت څخه زيات وي هغه به د استحاضې وِينَه وي .

حاشيه : (الف) فاطمة بنت ابي حبيش وحضور (ﷺ) ته وويل ائ دخدائ رسوله! زه نه پاک کېږم، نو آيا لمونځ پرېږدم؟ حضور (ﷺ) وفرمائل دا د رَګ وِينَه ده حيض نه دئ، نوکله چي حيض راسي نولمونځ پرېږده کله چي دحيض وخت په خپله اندازه تير سي نو دځان وِينَه پرې مينځه او لمونځ وکه (ب) عکرمه فرمائي چي أُمّ حَبِيبَه به مُستحاضه کېدل او ددې خاوند به ددې سره وطي کولې .

[١١٢](١٥) وَ اِن اِبتَدَاَت مَعَ البُلُوغِ مُستَحَاضَةٌ فَحَيضُهَا عَشرَةَ اَيّامٍ مِن كُلِّ شَهرٍ وَالبَاقِي اِستِحَاضَةٌ .

تشريح : مثلاً د يو چاعادت په هره مياشته کي د درو(٣) ورځو يا دپنځو ورځو دحيض د راتګ دئ، اُوس دې لره نَه ورځي وِينَه راغله نو به دا وايو چي ددې عادت بدل سوئ دئ او نَه ورځي به حيض شمېرو، لېکن که دې لره ترلسو ورځو هم زيات وِينَه راغله نو د لسو ورځوڅخه زيات چي کومه وِينَه ده هغه به استحاضه وي، او ددې سره سره ددې ښځي عادت چي کوم پنځه ورځي وې دهغه څخه زيات وينه چي کومه راغلې ده هغه به هم استحاضه شمارل کيږي، يعني د پنځو ورځو څخه زيات ټول وِينَه به استحاضه وي او دعادت مطابق به پنځه ورځي حيض وي .
وجه : (١) په حديث کي ودې ته اشاره سته. قَالَت عَائِشَةُ (رضي الله عنها) رَأيتُ مَركَنُهَا مَلآنِ دَمًا فَقَالَ لَهَا رَسُولُ الله (ﷺ) اُمكُثِي قَدرَ مَاكَانَت تَحبِسُكِ حَيضَتُكِ ثُمّ اِغتَسِلِي وَصَلِّي (الف) (مُسلم شريف،باب المستحاضة وغسلها وصلواتها،ص١٥١،نمبر٣٣٤) (٢) عَنِ النّبِيِّ (ﷺ) قَالَ فِي المُستَحَاضَةِ يَدَعُ الصّلْوةَ اَيّامَ اَقرَائِهَا اَلّتِي كَانَت تَحِيضُ فِيهَا ثُمّ تَغتَسِلُ وَ تَتَوَضّأ عِندَ كُلّ صلْوةٍ وَ تَصُومُ وَتُصَلِّي (ب) (ترمذي شريف، باب ماجآء ان المستحاضة تتوضالكل صلوة،ص٣٣،نمبر١٢٦) ددې حديث څخه معلوم سو چي که د ښځي د حيض يو خپل معروف او معلوم عادت وي او بيا د لسو ورځو څخه زياتَ وِينَه راسي نو د عادت څخه چي څومره زيات وينه راغلې ده هغه به ټوله په استحاضه کي شمارل کيږي .

[۱۱۲](۱۵) که د بالغ توب وروسته د اوّل څخه مُستحاضه سوه نو ددې حیض لَس ورځي دئ په هره میاشته کي او دا پاته به استحاضه وي .
تشریح : یوې ښځي ته اوّله وِینَه راغله او د لسو ورځو څخه زیات وِینَه راغله

حاشیه : (الف) حضرت عائشة رضي الله عنها فرمائي چې ما ولیدل چې د اُمّ حَبِیبَه لوښئ د وِینې ډک وُ نو و دې ته حضور(ﷺ)وفرمائل دومره وخت انتظاروکه څومره وخت چې ستاحیض ته منع کولې،بیاغُسل وکه لمونځ ادآءکه (ب) حضور(ﷺ) دمُستحاضې په پاب کي وفرمائل چې د حیض په زمانه کي به لمونځ پرېږدي څونه چې د حیض عادت و،بیا دي غُسل وکي او د هر لمانځه لپاره دي اَودَس وکي،روژې دي ونسي او لمونځ دي وکي .

[۱۱۳](۱۶) وَ المُستَحَاضَةُ وَمَن بِهِ سَلَسُ البَولِ وَالرّعَافُ الدّائِمُ

مُستحاضه سوه. ددې څه خاص معلوم عادت جوړ نه سو.چې سړئ ئې پرهغه باندي حمل کي،هروخت وِینَه روان ده نود دارنګه ښځي د به په هره میاشته کي لَس ورځي حیض شمارل کیږي.او نوري ورځي به د استحاضي وي .
وجه : (۱) په میاشته کي درې ورځي یقیني دحیض دي،په دانورو اُووورځوکي شَك دئ،خو د احنافو په نېز دحیض زیات مُدَه لَس ورځي ده نوځکه لس ورځي په دحیض دشمېرېږي،دحیض مُدَه لس ورځي ده ددې دلیل په مسئله نمبر۱کي حدیث تیر سو اَقَلّ الحَیضِ ثَلاَثَةَ اَیّامٍ وَاَکثَرُهُ عَشرَةَاَیَّامٍ (دارقُطني نمبر۸۳۶) .
فائده : د امام ابویوسف رأیه داده چې د لمانځه او روژې په حق کي درې ورځي حیض دئ او دا نوري ورځي به لمونځ او روژه ادآء کوي، او د وطي کولو په حق کي به لَس ورځي حیض شمارل کیږي چې تر لسو ورځو پوري وطي ونه کي، دا مسئله پر احتیاط باندي مبني ده .
پام لرنه : باقاعده یو حدیث مو په دې لړ کي نه دئ موندلئ .
فائده : د امام شافعي په نېز که وِینَه تُورَه وي یا سُرَه وي نو هغه به حیض وي او دا نوره زمانه به د استحاضې د شمېرل کیږي، دده دلائل هغه حدیثونه دي چې په هغه کي و تُورَه او سُورَه وینه ته حیض ویل سوئ دي، دا حدیث په مسئله نمبر۱۲ کي د ابوداؤد په حواله تېر سوئ دئ، دحدیث الفاظ دادي فَاِنّهُ دَمٌ اَسوَدٌ یُعرَفُ (ابوداؤدشریف،نمبر۳۰۴) .
[۱۱۳](۱۶) مُستحاضه ښځه او کوم څوك چې د سلسل البول ناجوړ وي یا ئې همېشه در پزه(پوزه)وینه بهیږي یا داسي زخم وي چې نه جوړیږي نو دا خلګ به اَودَس کوي د هر لمانځه د وخت لپاره او لمونځونه به کوي په هغه اَودَس سره په وخت کي دننه چې څومره خُوَښَه سي د فرائضو څخه او د وافلو څخه، بیا چې کله وخت تیر سي نو د دوئي اَودَس به باطل سي او پر دوئي باندي بیا نوئ اَودَس کول لازم دئ د بل لمانځه لپاره .

وَ الجُرحُ الّذِي لاَ يَرقَأ يَتَوَضّؤنَ لِوَقتِ كُلّ صَلْوةٍ وَيُصَلّونَ بِذَالِكَ الوُضُوءِ فِي الوَقتِ مَاشَآ ءُوا مِنَ مِنَ الفَرَائِضِ وَالنّوَافِلِ فَإِذَا خَرَجَ الوَقتُ بَطَلَ وُضُونُهُم وَكَانَ عَلَيهِم اِستِينَافُ الوُضُوءِ لِصَلْوةٍ اُخرْي.

تشريح : (۱) هغه چې مُسلسل داستحاضې وِينَه ورته راروان وي (۲) يائې مُسلسل بَولِي راروان وي (۳) يائې پزه ويني سوې وي همېشه ئې وِينَه روان وي (۴) يائې د زَخم وِينَه نه بنديږي او دومره وخت هم نه ورته ملاؤيږي چې اَودَس وکي تحريمه ووائي فرض لمونځ ادآء کي نو و داسي خلکو ته معذور ويل کيږي، او و معذور ته شريعت آسانتيا ورکړې ده چې د هر فرض لمونځ په وخت کي به اَودَس کوي او په هغه اَودَس سره به فرضونه او نفلونه چې څومره زړه و غُوَارِي ادآء کي، چې وخت تير سي نو اُوس خو ضرورت پوره سو نو ځکه د وخت په تېرېدو سره به اَودَس مات سي، وِينَه خو روان وه لېکن د مجبورئ او ضرورت په وجه مو هغه غيرمعتبر وګڼله، لېکن چې کله ضرورت پوره سو نو د وِينې راوتل مُعتبر وګڼل سو او اَودَس په مات سو، اُوس به د نوي وخت لپاره نوئ اَودَس کوي، ددې دليل دا حديث دئ (۱) عَنِ النّبِيّ (ﷺ) اَنّهُ قَالَ فِي المُستَحَاضَةِ تَدَعُ الصّلْوةَ اَيّامَ اَقرَائِهَا اَلّتِي كَانَت تَحِيضُ فِيهَا ثُمّ تَغتَسِلُ وَتَتَوَضّأ عِندَكُلّ صَلْوةٍ وَتَصُومُ وَتُصَلّي (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء ان المستحاضة تتوضأ لكل صلوةٍ،ص۳۳،نمبر۲۶/ابن ماجه شريف،باب ماجآء فِي المستحاضة التِي قد عدّت اَيّامَ اقرائها قبل ان يستمِرّالدّمُ،ص۸۸،نمبر۶۲۴) فِيهِ تَوَضّئِي لِكُلّ صَلْوةٍ صلوةٍ وَاِن قَطَرَالدّمُ عَلْي الحَصِيرِ (ب) ددې احاديثو څخه معلوم سو چې د هر لمانځه لپاره به اَودَس کوي، خو زمونږ په نېز به معذور د هر لمانځه پر ځائ به د هر وخت لپاره اَودَس کوي، ځکه چې مُحاوره داده چې لمونځ ذکر سي مُراد ځني

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) د مُستحاضې په لړ کي وفرمائل،چې هغه به دحيض په زمانه کي لمونځ پرېږدي په کومه کي چې حيض راتلئ،بيا به غُسل کوي او د هر لمانځه په وخت کي به اَودَس کوي او زرژه به نيسي او لمونځ به کوي (ب) د هر لمانځه لپاره اَودَس کوه که څه هم پر چټائي باندي وِينَه څڅيږي .

[۱۱۴](۱۷) وَ النِّفَاسُ هُوَالدّمُ الخَارِجُ عَقِيبَ الوِلاَدَةِ [۱۱۵](۱۸) وَالدّمُ الّذِي تَرَاهُ الحَامِلُ وَمَا تَرَاهُ المَرَاَةُ فِي حَالِ وَلاَدَتِهَا قَبلَ خُرُوجِ الوَلَدِ اِستَحَاضَةٌ .

﴿... د نفاس بيان ...﴾

وخت وي، ويل کيږي چې ماپښين راسه يعني د ماپښين په وخت کي راسه،نو ځکه د عِندَكُلّ صَلْوةٍ څخه مراد عِندَكُلّ وَقتِ صلْوةٍ دئ، نو ځکه د امام شافعي په نېز هم په يوه اَودَاسَه سره د فرضو په تابعداري کي ډېر نفلونه ادآء کولائي سي، نو ګواکه د احنافو او شوافعو مسلك سره نژدې نژدې سو .

فائده : د امام شافعي په نېز د حديثو په وجه د هر لمانځه لپاره به اَودَس کوي او ددې په تابعداري کي بيا نفلونه هم کولائي سي .
پام لرنه : په احاديثو کي د هر لمانځه لپاره د غُسل کولو حُکم دئ هغه خو يا د استحباب په توګه دئ يا د علاج په توګه دئ .
لغت : سَلسَلُ البَولِ : هغه چي هر وخت د بولو قطرې(څاڅکي)را روان وي، اَلرّعَافُ الدّائِمُ : چي همېشه ئې تر پزه ويني بهيږي، لاَيَرقَاَ : چي وِينَه نه بنديږي .
فائده : د امام زفر په نېز د فرض لمونځ د وخت په داخلېدو سره به سم دستي اَودَس مات سي .
[١١٤](١٧)نفاس هغه وِينَه ده چي د کِشني د پيدا کېدو وروسته راووزي .
تشريح : دا لفظ د نَفَسٌ څخه مُشتق دئ، يعني هغه وِينَه چي د نَفَس يعني د انسان د راوتلو وروسته راووزي .
لغت : عَقِيبَ : وروسته .
[١١٥](١٨) هغه وِينَه چي حامله(مېندواره)ښځه ئې وويني يا ئې ښځه د پيدائش په وخت کي وويني د کِشنِي د پيدائش څخه مخکي هغه استحاضه ده .
[١١٦](١٩) وَ اَقَلّ النِّفَاسِ لاَ حَدّ لَهُ وَ اَکثَرُهُ اَربَعُونَ يَومًا وَمَا زَادَ عَلْي ذَالِكَ فَهُوَ اِستِحَاضَةٌ .

وجه : (١) ځکه چي نفاس و هغه وِينَه ته وائي چي د کِشنِي د پيدائش وروسته وي او دا خو د کِشنِي د پيدائش څخه مخکي ده، او حيض ځکه نه سي کېدلائي چي هغه د خالي رِحم څخه راوزي او دلته خو رِحم په کِشنِي سره دِك دئ (٢) د حيض کَتِکِي چي تِکِره تکِره کيږي رايله کيږي نوحيض ځينې جزږيږي، او د کشني په حالت کي مُورِينَه د کَتِکَيُو سره مُوښَتي وي نو ځکه هغه کَتِکِي نه سي پرې کېدلائي نو ځکه هغه د حيض وِينَه نه ده، دغه رنګه د کِشنِي په وجه د رِحم خُولَه بند ده نو په دې وجه هم نه حيض راتلائي سي او نه نفاس، نو ځکه هغه به د استحاضې وِينَه وي .
فائده : امام شافعي دغه حيض بولي .
[١١٦](١٩) د نفاس لږ تر لږ مُدې لپاره څه خاص حَد نسته او د هغه زيات مُدَه څلوېښت ورځې ده او کوم چي ددې څخه زيات سي هغه استحاضه ده .
وجه : په حديث کي دئ. عَن اُمِّ سَلَمَةَ قَالَت کَانَتِ النّفَسآءُ تَجلِسُ عَلْي عَهدِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) اَربَعِينَ يَومًا (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في کَم تمکث النفسآء ص٣٥نمبر١٣٩) د ابوداؤدشريف په روايت کي دا جُمله زيات راغلي ده. لاَ يَامُرُهَا النّبِيّ (ﷺ) بِقَضَآءِ صَلَوَاةِ النّفَسَآءِ (ب) (ابوداؤدشريف،باب ماجآء فِي وقت النفسآء ص٤٩نمبر٣١٢) ددې حديثو څخه معلوم سو چي د نفاس زيات څخه زيات مُدَه څلوېښت شپې ده، ددې وروسته چي

کُومه وِینَه راځي هغه به د استحاضې وِینَه وي، او د لږ مُدې ئې څه خاص حَد دئ معلوم، ددې دلیل دا حدیث دئ. عَن اَنسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ)

حاشیه : (الف) حضرت اُمّ سلمه فرمائي چې نُفَساء ښځه د حضور (ﷺ) په زمانه کې څلویښت ورځې کښیناسته(لمونځ ئې نه کاوئ) (ب) حضور (ﷺ) د نفاس د وخت د لمانځه د قضاء کولو حُکم نه ورکاوئ .

[۱۱۷](۲۰) وَ اِذا تَجَاوَزَ الدّمُ عَلَي الاَربَعِينَ وَقَد كَانَت هٰذِهِ المَرأ ةُ وَ لَدَت قَبلَ ذَالِكَ وَ لَهَا عَادَةٌ فِي النِّفَاسِ رُدّت اِلَي اَيّامِ عَادَتِهَا وَ اِن لَم يَكُن لَهَا عَادَةٌ فَنِفَاسُهَا اَربَعُونَ يَومًا .

وَقتُ النِّفَاسِ اَربَعُونَ يَومًا اِلاّ اَن تَرْي الطّهرَ قَبلَ ذَالِكَ (الف) (دارقُطني،كتاب الحيض نمبر۸۴۱/ترمذي شريف،نمبر۱۳۹) د اِلاَّ اَن تَرْي الطّهرَ قَبلَ ذَالِكَ څخه معلوم سو چې که د څلویښتو ورځو څخه مخکې وِینَه بندسي که څه هم د یو څو ګنټو وروسته وِینَه بند سي نو هم ښځه پاك ده .

[۱۱۷](۲۰) د نفاس وِینَه تر څلویښتو ورځو زیات سي حالانکه دې ښځي مخکې بچئ زیږولئ و او ددې لپاره د نفاس خپل عادت و نو د نفاس وِینَه به راګرزوي ددې د عادت پر لوري، او که ددې عادت نه وي نو ددې د نفاس مُدَه څلویښت ورځي ده .

تشریح : د کومي ښځي چې مخکې بچئ پیدا سوئ وي او ددې د نفاس یو خپل عادت وي مثلاً پنځویشت ورځي ئې نفاس راتلئ اُوس دې لره پنځوس ورځي دنفاس وِینَه راغله نو لَس ورځي خو یقیناً استحاضه ده نو ځکه ددې لسو ورځو سَرَه به دا نوري پنځلس ورځي هم استحاضه شمارل کیږي، او ددې د هغه اوّل عادت مطابق به پنځویشت ورځي نفاس شمارل کیږي، ځکه چې د څلویښتو ورځو وروسته لَس ورځي استحاضه ده نو معلوم سو چې د پنځویشتو ورځو وروسته هم د استحاضې وینه راغلې د، او که د دې ښځي یو خاص معلوم عادت نه وي نو د حدیث مطابق په څلویښت ورځي نفاس وي او دا نوري پاته ورځي به استحاضه وي، و عادت ته د راګرزولو دلیل او حدیث په مسئله نمبر۱۹ کې تیر سو .

حاشیه : (الف) حضور (ﷺ) د نفاس وخت څلویښت ورځي مُتعین کړئ، مګر دا که چیري ددې څخه مخکې طُهر ووینې(نو مخکې به هم پاك سي) .

[۱۱۸](۲۱) وَ مَن وَلَدَت وَلَدَينِ فِي بَطنٍ وَاحِدٍ فَنِفَاسُهَا مَاخَرَجَ مِنَ الدّمِ عَقِيبَ الوَلَدِ الاَوّلِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ اَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي وَ قَالَ مُحَمّدٌ وَ زُفَرُ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي مِنَ الوَلَدِ الثّانِي .

[۱۱۸](۲۱) يو ښځي ديوه حمل څخه دوه کشنيان وزيږول نو ددې نفاس هغه وِينَه ده چي د اول کشني وروسته راووزي د امام ابوحنيفه په نېز، او امام محمد او امام زفر وفرمائل چي د دوم کشني وروسته .
وجه : امام ابوحنيفه او امام ابويوسف فرمائي چي د يوه کشني دپيداکېدو وروسته د رِحم خُولَه خلاص سوه او انسان هم پيدا سو چي لفظِ نِفَاس(يعني د نَفس) څخه مُشتق(جوړ)دئ نو ځکه د اول کِشنِي وروسته چي کومه وِينَه راووزي هغه به ټوله نِفَاس شمېرل کيږي، او امام محمد او زفر فرمائي چي يو بچئ(کِشنَئ)په نس کي موجود دئ نو ځکه ښځه تر اُوس پوري لا حامله ده او دحمل په حالت کي چي کومه وِينَه راځي هغه د استحاضې وِينَه وي، نو ځکه د اوّل بچي(کِشنِي)وروسته چي کومه وِينَه ده هغه به د استحاضې وِينَه وي، دومه خبره دا هم ده چي د رِحم خُولَه هم تر اُوس پوري لا پوره نه ده خلاص سوې تر څو چي دوم بچئ پيدا نه سي او د رِحم خُولَه پوره نه سي خلاص نو د نِفَاس وِينَه به څه رنګه شمارو ؟ .
حاصل : د طرفينو نظر د کِشنِي و پيدا کېدو ته تللي دئ او د امام مُحمد نظر د نَنَه په نَس کي چي کوم بچئ موجود دئ و هغه ته تللئ دئ .
لغت : عَقِيبَ .

﴿... بَابُ الأَنجَاسِ ...﴾

[119](1) تَطهِيرُالنِّجَاسَةِ وَاجِبٌ مِن بَدَنِ المُصَلِّى وَ ثَوبِهِ وَ المَكَانِ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيهِ .

﴿... بَابُ الأَنجَاسِ ...﴾
ضروري پام لرنه : اَنجَاسٌ د نَجَسٌ جمع ده معنْي ناپاکي. د نِجَاسَت دوه قسمونه دی نجاستِ حُکمِيّه لکه داودس اوغسل ضرورت وی اونِجَاسَتِ حَقِيقِيّه لکه بولی اوغُوَل دلته ددغه نجاست حقيقيه داحکام په باب بحث دی.دليل يه دغه آيت دئ. وَثِيَابَكَ فَطَهِر (آيت4،سورة المدثر47) اوحديث دادئ عَن اَسمَاءَ بِنتِ اَبِي بَكرٍ اَنَهَاقَالَت سَاَلَت اِمرَاَةُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) فَقَالَت يَارَسُولَ اللهِ اَرَاَيتَ اِحدَانَا اِذَا اَصَابَ ثَوبَهَاالدّمُ مِنَ الحَيضَةِ كَيفَ تَصنَعُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِذَا اَصَابَ ثَوبَ اِحدَاكُنّ مِنَ الحَيضَةِ فَلتَقرُصهُ ثُمّ لِتَنضَحهُ بِمَاءٍثُمّ لِتُصَلِّي فِيهِ (الف) (بخاري شريف،باب غسل دم المحيض،ص45،نمبر307،ترمذي شريف،باب ماجاء في غسل دم المحيض من الثوب،ص 35،نمبر138)
[119](1) نجاست پاکول واجب دي (1) دلمونځ کونکي دبدن څخه (2) دهغه دجامو څخه (3) او دهغه ځايه څخه چي لمونځ پرکوي .

تشريح : دلمونځ کونکي لپاره دبدن ،کپړو اود ځائ پاکول ضروري دئ کنه نو لمونځ يه نه صحيح کيږي دنجاست حکميه څخه دپاکولودليل خود اودس اوغسل په ابوابوکي تيري سو اودنجاست حقيقيه څخه دپاکولودليل دادئ .

وجه : (1) دنجاست حکميه څخه پاکي ضروري ده نودنجاست حقيقيه مثلاً بولي ګندګي لګېدلې وي نو د هغه څخه پاکي په درجه اَولّي ضروري ده ځکه چي دا خو

حاشيه : (الف) دحضور (ﷺ) بي بي د حضورڅخه پوښتنه وکړه چي په موږکي د يوې پرجامو د حيض وينه ولګيږي نوڅه دي وکي؟ حضور (ﷺ) وفرمايل په تاسو کي ديوې پرجامو دحيض وينه ولګيږي نوهغه په لاس وموږئ بيا يه په اوبو پري مينځئ بيا په هغه کي لمونځ وکئ .

[120] (2) وَ يَجُوزُ تَطهِيرُ النّجَاسَةِ بِالمَاءِ وَبِكُلّ مَائِعٍ طَاهِرٍ يُمكِنُ اِزَالَتُهَا بِهِ كَا لخَلّ وَمَآءِ الوَردِ .

نورګنده شئ دئ (2) دبدن دپاکېدلودليل داحديث دي سَمِعتُ اَنَسَ بنِ مَالِكٍ يَقُولُ كَانَ النّبِيّ (ﷺ) اِذَاخَرَجَ لِحَاجَتِهِ اَجِيئُ اَنَا وَغُلاَمٌ مَعَنَا اِدَاوَةٌ مِن مّاءٍ يَعنِي يَستَنجِي بِهِ (الف) (بخاري شريف،باب الاستنجاء بالماء،ص27،نمبر150) په اُوبُو باندي داستنجاء کولو وجه داده چي دمُصَلّي بدن دنجاست حقيقيه څخه بايدپاك وي .

دکپړو دپاکېدلو دليل دغه لورآيت دئ.وَثِيَابَكَ فَطَهّر او په حديث کي دئ. عَن اَسمَآ ءَ اِبنَةَ اَبِي بَكرٍاَنّ اِمرَاَةً سَاَلَتِ النّبِيّ(ﷺ) عَنِ الثّوبِ يُصِيبُهُ الدّمُ مِنَ الحَيضَةِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) حُتّيِهِ ثُمّ اُقرُصِيهِ بِالمَاءِ ثُمّ رَشّيِهِ وَصَلّي فِيهِ (ب) (ترمذي شريف،باب ماجاء في غسل دم الحيض من الثوب،ص35،نمبر138) او د مکان دپاکېدلو د شرط دليل داحديث دئ. عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) نَهْي اَن يّصَلّي فِي سَبعَةِ مَوَاطِنَ فِي المَزبَلَةِ وَالمَجزَرَةِ وَالمَقبَرَةِ وَقَارِعَةِ الطّرِيقِ وَفِي الحَمّامِ وَفِي مَعَاطِنِ الاِبلِ وَفَوقَ ظَهرِبَيتِ اللهِ (ج) (ترمذي شريف ،باب ما جاء في كراهية مايصلي اليه وفيه ص 81 نمبر346) ددې حديث څخه معلوم سو چي په دغه ځايو کي ګندګي وجود لري. نو لدې کبله په دغه ځايو کي لمونځ کول ناجا ئز دئ .

[120] (2) دنجاست پاکول جائز دئ په اوبوسره او په هر هغه بيدونکي پاك شي سره چي په هغه نجاست ليري کول ممکن وي.لکه سِرکَه او د ګُلاَب اُوبَه .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) چي به کله دخپل ضرورت لپاره وائئ نو زه اوزوماسره يو هلك به هم و. زموږ سره به د اُوبُو لوښئ و. يعني حضور (ﷺ) به په هغه اَودَس کاوئ (ب) دحضور (ﷺ) بي بي دهغه کپړو په اړه پوښتنه وکړه چي دحيض وينه پرلګېدلي وي نو حضور (ﷺ) وفرمايل ومُوږَئ بيا پرهغه اُوبَه توئ کئ اوپه هغه کي لمونځ وکئ (ج) حضور (ﷺ) په اوه ځايه کي دلمونځ کولو څخه منع وکړه (1) د امبارغورزولو په ځائ کي (2) د وُښ دحلالولوپه ځائ کي (3) په هيدره(قبرستان)کي (4) په لاره کي (5) په غُسل خَانه کي (6) د وُښ دټرلو په ځائ کي (7) او پر بَيتُ الله لور .

وجه : (1) د احنافو په نيز اصل قاعده داده چي په کومو شيانو دنجاست اجزاء پري مينځل کېدائي سي که اُوبَه نه وي نوهم په دې شيانوباندي نجاستِ حقيقيه پاکول

جائزدئ.ځکه چي اصل خو د نجاست اجزاء نا پاك دي چي هغه ختم سي نوکړه په خپله پاك سوه. نو ځکه دګلاب اُوبَه يا سِرکَه چي د اوبو په رکم نرم وي اودنجاست اجزاء مينځلائي سي په هغه که نجاست پري مينځي نوپاك کيږي. خو بياهم دا د رَس(جُوس)دقسمونوځخه دئ نو ځکه په دې باندي اودس ياغسل جواز نه لري.تفصيل مخ کي تېرسوئ دئ (2) په حديث کي دئ. قَالَت عَائِشَةُ (ﷺ) مَا كَانَ لاَحدَانَا اِلاّ ثَوبٌ وَاحِدٌتَحِيضُ فِيهِ فَإِذَا اَصَابَهُ شَيئٌ مِنَ دَمٍ قَالَت بِرِيقِهَا فَقَصَعَتَهُ بِظُفرِهَا (الف) (بخاري شريف،باب هل تصلي المراة في ثوب حاضت فيه،ص45، نمبر312/ابوداودشريف،باب المراة تغسل ثوبهاالذي تلبسه في حيضها،ص58،نمبر364) آخري حديث دئ.وينَه د ټولو په نېز ناپاك ده اوهغه يې په لاړو(نانو)نوده کړه په نوك يه وموړل او وينه زائله سوه نو هغه شئ به پاك سي (3) چي پر چَوَټه نجاست لګېدلئ وي او پرمځکه وموړي اونجاست زائل سي نوچَوَټه پاکيږي، ددې مطلب داسو چي اصل قاعده دغه ده چي دنجاست په زائلېدو سره کپړه پاکيږي .

فائده : امام محمد او امام شافعي فرمايي چي که صرف په اوبو نجاست زائل کړي خو پاکيږي. که په يو بل بيدونکي زائل کړي نو شئ نه پاکيږي.د دوئي دلائل هغه حديثونه دي په کمو کي چي په اوبوسره د منئ.ويني.بولو د پاکولو ذکردئ. عَن اَسمَاءَ بِنتِ اَبِي بَكرٍ .....اِذَا اَصَابَ اِحدَاكُنّ الدّمُ مِنَ الحَيضَةِ فَلتَقرُصهُ ثُمّ لِتَنضَحهُ بِمَاءٍ ثُمّ لِتُصَلّي فِيهِ (بخاري شريف،باب غسل دم المحيض،ص 45،نمبر307) په دې حديث کي په اوبوباندي دناپاکئ دليري کولوذکردئ. نو ځکه صرف په اوبو باندي ناپاکي پاکيږي(ليري کيږي) .

لغت : مَائِعٌ : هر بيدونکئ شئ. اَلخَلّ : سِرکَه. مَآ ءُ الوَردِ : د ګلاب اُوبَه .

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمائي چي زموږ سره به يوه کپړه وه موږ به په هغه کي حائضه کېدو نوچي کله به پردې کپړه څه وينه لګېده نوپه لاړو(نارو)به نود(نند)کاوئ اوپه نوك به موږئ .

[121](3) وَ اِذَا اَصَابَتِ الخُفّ نِجَاسَةٌ وَ لَهَا جِرمٌ فَجَفّت فَدَلَكَهُ بِالاَرضِ جَازَ الصّلْوةُ فِيهِ .

پام لرنه : کوم بيدونکئ شئ چي د نجاست د ليري کولو صلاحيّت نه لري په هغه باندي جامه(کپړه)نه پاکيږي .

[121](3) که پر موزه دارنګه نجاست ولګيږي چي جسم(بدن)لري بيا هغه وَچ سي بيايې پرمځکه وموږي نو په هغه موزه کي لمونځ کول جائز دئ .

تشريح : کوم نجاست چي جسم (بدن) لري لکه غوَل،لېرشن،ګوبر او دغه رنګه نورشيان چي دچمړې پرموزه ياچَوَټه ولګيږي بيا وَچ سي بيايه پرمځکه دومره وموږي چي دانه سي محسوس چي ګندګي پرلګېدلې ده نوهغه چَوَټه يا موزه پاك ده.

وجه : (1) په چمړه کي چي کوم نجاست سرايت کړئ وي هغه کم (لږ) دئ او دوچيدلوپه وجه دناپاکئ جسم واپس ځان ته جذب کوي او په چمړه کي ډېره لږ ناپاکي

پاته سوه اوچي دا لوړه خوا دې پرمځکه وموړل نونجاست زائل سو. او دا مخکي تيرسو چي دنجاست په زائليدوسره کپړه ياچوټه پاکيږي.نوځکه دغه چَوَټي يا موزې پاك دي (2) په حديث کي دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِذَا وَطِيَ اَحَدُكُم بِنَعلِهِ الاَذٰي فَاِنّ التّرَابَ لَهُ طُهُورٌ (الف) (ابوداودشريف،باب في الاذى يصيب النعل،ص61،نمبر 385،باب الصلاة في النعل،نمبر650) د دې حديث څخه معلوميږي چي پرخاورو دموړلو بعد چَوَټه ياموزه پاکيږي .

اصول : دنجاست حقيقيه په زائليدوسره شئ پاکيږي.

لغت : جِرمٌ : جسم لرونکي. جَفّت : خشك(وَچ) سو. دَلَکَ : موړي .

فائده : امام شافعي فرمائي چي پر موزه نجاست ومُښلِي نو د مينځلو بغيره نَه

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل چي په تاسو کي د يوه چَوَټه گندگي لاندِ کړي نو خاوري دهغه لپاره پاکونکئ شئ دئ .

[122] (4) وَ المَنِيّ نَجَسٌ يَجِبُ غَسلُ رَطبِهِ .

پاکيږي.ځکه چي دموښلو په وجه نجاست بيا هم پرموزه پاتيږي او دحديثوڅخه معلوميږي چي نجاست دمينځلوبغيره نه پاکيږي .

پام لرنه : نود(ننډ) نجاست په مينځلو پاکيږي .

[122](4) مني ناپاك دي ناوده مني مينځل واجب دي.

وجه : (1) د مَنِي په راوتلوغسل واجبيږي. په کوم شي چي غسل واجبيږي نودا ښکاره خبره ده چي هغه شئ به په خپله هم ناپاك وي (2) په حديث کي دئ چي حضرت عائشې به ناوده مني دحضور دکپړوڅخه مينځل که چيري نه وائ ناپاك نودمينځلوضرورت نه و. په حديث کي دئ. سُئِلَت عَائِشَةُ (ؓ) عَنِ المَنِيّ يُصِيبُ الثّوبَ؟ فَقَالَت كُنتُ اَغسِلُهُ مِن ثَوبِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فَيَخرُجُ اِلَي الصّلٰوةِ وَ اَثَرُ الغَسلِ فِي ثَوبِهِ بُقَعُ المَآءِ (الف) (بخاري شريف،باب غسل المني وفركه،ص36،نمبر230/ مسلم شريف،باب حكم المني،ص 140،نمبر289) دُوَم حديث دئ. يَاعَمّارُ اِنّمَايُغسَلُ الثّوبُ مِن خَمسٍ،مِنَ الغَائِطِ وَالبَولِ وَالقَيءِ وَالدّمِ وَالمَنِيّ (دارقطني،باب نجاسة البول والامربالتنزه منه،ج 1،ص 134،نمبر452)

فائده : د امامِ مالك هم دغه مسلك دي.

فائده : د امامِ شافعي په نيز مَنِي پاك دي.که پرکپړه ولګيږي نودمينځلوضرورت نسته.دده دلائل (1) هغه حديثونه دي چي په هغوکي دا ذکر دئ چي د حضور (ﷺ) مني به په موړلو صفا کول.که چيري دا ناپاك وائ نو به په موښلوسره نه وائ پاك سوي بس په دغه وجه مني پاك دي (2) د منئ څخه انسان پيدا دئ چي هغه پاك دئ. نومَنِي هم بايدپاك سي (3) امام شافعي د عبدالله بن عباس د دې حديث څخه استدلا ل کوي.عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ سُئِلَ النّبِيّ(ﷺ)عَنِ المَنِيّ يُصِيبُ

حاشيه : (الف) د حضرت عائشه څخه پرکړه دمني لګېدلو په اړه پوښتنه وکړه نودې وفرمائل چې ما د حضور دکړوڅخه مَنِي مينځل بيادئ لمانځه له واتئ نو د مينځلو اثر دده په کپړوکي داوبونشان (نښان) و.

[123](5) فَاِذَا جَفّ عَلْي الثّوبِ اَجزَاهُ فِيهِ الفَرَكُ [124](6) وَ النّجَاسَةُ اِذَا اَصَابَت المِرآ ةَ اَوِالسّيفَ اِكتَفْي بِمَسحِهِمَا .

الثّوبَ قَالَ اِنّمَاهُوَ بِمَنزَلَةَ المُخَاطِ وَالبُزَاقِ وَ اِنّمَايَكفِيكَ اَن تَمسَحَهُ بِخِرقَةٍ اَو بِاِذخَرٍ (الف) (دارقطني،باب ماوردفي طهارة المني وحكمه رطبًاويابساً،ج 1،ص131،نمبر441) موږ وايو چې د دې حديث سَنَدکمزورئ دئ .

[123](5) چې پرکپړه وَچ سي نوکفايت کوي دهغه موښل .

تشريح : مَنِي ناپاك دي خو يوڅه خنډ وي چې پر کپړه وچ سي نو په موښلو دهغه ټوله اجزاء ختميږي ځکه کپړه پاکيږي. اوکه لږ څه پاته سي هغه مَعفُوّعَنهُ دي .

وجه : (1) په حديث کي دموښلو په ذريعه دپاکولو دليل سته.عَن عَائِشَةَ (رضي الله عنها) لَقَد رَاَيتُنِي اَفرِكُهُ مِن ثَوبِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فَرَكاً فَيُصَلّي فِيهِ (ب) (مسلم شريف،باب حكم المني،ص140،نمبر288/ترمذي شريف،باب ماجاء في المني يصيب الثوب،ص31،نمبر116) (2) عَن عَائِشَةَ (رضي الله عنها) قَالَت كُنتُ اَفرِكُ المَنِيّ مِن ثَوبِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) اِذَا كَانَ يَابِسًا وَ اَغسِلُهُ اِذَاكَانَ رَطباً (ج) (دارقطني،باب ماوردفي طهارة المني وحكمه رطباً ويابساً،ج 1، ص131،نمبر443) د دې حديثو څخه معلوم سوچې وَچ مني وي نو چې ښه يې وموږې هم کپړه پاکيږي .

فائده : دامام مالك په نېز مني صرف په مينځلو پاکيږي.موښل يې کافي نه دي .

[124] (6) نجاست چې پرهنداره يا پر تُره ولګيږي نو د هغه دواړو موږل کفايت کوي .

وجه : (1) هنداره او تُره چې ښُوَئ وي په موږلو سره ټوله نجاست ليري کيږي نو په

حاشيه : (الف) د حضور (ﷺ) څخه پر کپړه دمني د لګېدلو په اړه پوښتنه وسوه وفرمائل چې هغه د پزي (پوزي) دګرنګو او لاړُو په شان دي. دغه کفايت کوي چې دکپړې په ټکړه يې وموښي يايې په اِذخَر واښه وموښي (ب) حضرت عائشه فرمائي چې ما وينئ چې ما دحضور دکپړوڅخه مني ښه موښل بياحضور (ﷺ) په هغه کي لمونځ کاوئ (ج) د حضرت عائشه څخه روايت دئ چې ما د حضور (ﷺ) دکپړو څخه مني موښل چې کله به وچ وُ اوهغه مومينځل چې کله به ناو ده وُ .

[125](7) وَ اِن اَصَابَتِ الاَرضَ نِجَاسَةٌ فَجَفّت بِالشّمسِ وَ ذَهَبَ اَثَرُهَا جَازَتِ الصّلاَةُ عَلْي مَكَانِهَا وَلاَ يَجُوزُ التّيَمّمُ مِنهَا .

موښلوسره پاکيږي.ځکه چې نجاست په مکمّله توګه دصفاکېدو ورسته نجاست نه سو پاته.لِهٰذَا دواړه پاك دي ليکن که تُوره يا هنداره نقشين وي اونجاست په مکمله توګه نه ځني پاکيږي نوهغه په موښلو نه پاکيږي.مينځل يې ضروري دئ (2) صحابه کرامو قِتَال کاوئ تُري به صفاکړې لمونځ به ادا کاوئ دمينځلواتّفاق به ډير کم و.ددې څخه دامعلوم سوچې ښُوَئ شئ که په موښلوصفاسي نوپاکيږي .

لغت : اَلمِرآ ةُ : هنداره .
[125](7) كه پرمځكه نجاست ولګيږي او لُمَر هغه وَچ كړي اودناپاكئ اثر ختم سي نوپرهغه ځائ لمونځ كول جائز دئ اوتيمم پر ناجائز دئ .
تشريح : بَولي يا غُوَل يا يوه بله ناپاكي پرمځكه لګيدلي وي ليكن لمرهغه ناپاكي وَچَه كړي او د ناپاكئ اثر ختم سي دا نه محسوسيږي چي دلته مخكي بولي يا ګندګي وجود درلودئ نواوس داځائ پاك دئ پرهغه لمونځ كول جائزدئ.تيمم پركول ناجائزدئ.ځكه چي په آيتِ قرآني باندي دخاورو بالكليه پاكي ضروري ده فَتَيَمّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا دبالكليه پاكو خاوروقيد لګيدلئ دئ .
وجه : (1) په حديث كي دئ. قَالَ عَبدُاللهِ اِبنِ عُمَرَ كُنتُ اَبِيتُ فِي المَسجِدِفِي عَهدِ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) وَكُنتُ فَتيً شَابًا عَزبًا،وَ كَانَتِ الكِلاَبُ تَبُولُ وَ تَقبِلُ وَ تَدبِرُ فِي المَسجِدِ فَلَم يَكُونُو يَرشّونَ شَيئًا مِن ذَالِكَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في طهورالارض اذايبست،ص 60،نمبر382) (2) عَن اَبِي قَلاَبَةَ قَالَ اِذَا جَفّتِ الاَرضُ فَقَد زَكّت (ب) (مصنف ابن ابي شيبة72من قال اذاكانت جافة فهوزكاتها،ج 1ص 59 نمبر625) چي سُپَئ په مسجد

حاشيه : (الف) عبدالله ابن عمرفرمائي چي مادحضور په زمانه كي په مسجدكي شپي تيرولي.زه ځوان يواځي وم.سپي مچاړي كولي مسجدلره تلئ راتلئ يوه هم پرهغه اوبه نه پاشلئ (ب) ابوقلابه وفرمائل چي مځكه وچه سي نو پاك سي .

[126](8) وَمَن اَصَابَتهُ مِنَ النّجَاسَةِ المُغَلّظَةِ كَالدّمِ وَالبَولِ وَ الغَائِطِ وَالخَمرِ مِقدَارَ الدِّرهَمِ فَمَادُونَهُ جَازَتِ الصّلوةُ مَعَهُ وَ اِن زَادَ لَم يَجُز .

كي بَولي كوي اوبيايه هم څوك نه مينځي او پر هغه لمونځ كوي دا ددې خبري دليل دئ چي كله بَولي وچي سي او اثرات يې ختم سي نوځائي پاك دئ.د ابوقلابه په قول كي خوصاف ذكر سوئ دئ چي مځكه وچه سي نو پاكه ده .
پام لرنه : چي نجاست نود وي يادهغه اثرات نه وي ختم سوي نو دمينځلوبغيره مځكه نه پاكيږي .
فائده : امامِ شافعي اوامامِ زفرفرمائي چي دنجاست وچيدلواواثرات ختم كيدلوورسته هم دمينځلوبغيره مځكه نه پاكيږي .
وجه : (1) دپاكولو يوشئ نه سوموجود (2) په حديث كي دئ. اَنّ اَبَاهُرَيرَةَ قَالَ قَامَ اَعرَابِيّ فَبَالَ فِي المَسجِدِ فَتَنَاوَلَهُ النَاسُ فَقَالَ لَهُم النّبِيّ دَعُوهُ وَهَرّيقُوا عَلْي بَولِهِ سَجلاً مِن مَآءٍ اَو ذَ نُوبًامِن مَآءٍ فَاِنّمَا بُعِثتُم مُيَسّرِينَ وَلَم تُبعَثُوا مُعَسّرِينَ (الف) (بخاري شريف،باب صب الماء علي البول في المسجد،ص35،نمبر220) د دې حديث څخه معلوم سوچي پر مځكه اُوبَه توئي كړې مځكه پاكيږي.موږ وايو چي نَود(نُند)نجاست وي نو د اُوبُو په تويولو سره موږ هم دمځكي دپاكئ قائل يو.دلته خومچاړي نودې وې او په تلوار يه لمونځ كړئ و نو ځكه په اُوبُو يې پاكِ كړې. خو چي وَچ وي بيا پر لوړ حديث باندي عمل وسو .
لغت : جَفّت : وَچ سو .

[126](8) پر يو چاچي نجاستِ مُغَلّظَه ولګيږي لکه ويني،بولي،غول اوشراب د يوه درهم په اندازه يادهغه څخه کم نولمونځ دهغه سره جائز دئ او که زيات سي نو جواز نه لري .

حاشيه : (الف) ابوهريره وفرمائل يو صحرائي ولاړسو اوپه مسجدکي بَولي داره (شروع) کړي.اصحابانو وهغه ته تنبيه شروع کړل نوحضور (ﷺ) و خلګو ته وفرمائل دئ پرېږ دئ اود ده پرمچاړو يوه سَولاَغَه اُوبَه توئي کړئ (سجلا لفظ په ووايي يا يې ذنوبا لفظ و وايي) تاسو د آسانئ لپاره اَستَوَل سوي ياست په تنګئ (سختي) سره نه ياست اَستَوَل سوي .

تشريح : نجاستِ مغلظه چي پر بدن يا پرکپړه ولګيږي او د دِرهَم يعني د ورغوي د پُسَارَه څخه کم وي نودمينځلوبغيره لمونځ صحيح کيږي که څه هم دهغه مينځل ضروري دئ.ځکه چي په دغه اندازه شريعت معاف کړئ دئ که نه بياخوحرج عظيم لازميږي.

وجه : (1) په ډبره سره استنجآء کولو حديث کي دئ چي په ډبره دګندګئ مقام صفاکړل سي نولمونځ صحيح کيږي.حالانکه په ډبره چي استنجآء وکړي نوګندګي مکمّله نه صفاکيږي صرف کميږي.خود دې باوجود يه لمونځ ته جواز ورکړئ دئ نود دې مطلب خودادئ چي په دومره اندازه نجاستِ غليظه معاف دئ. په حديث کي دئ. عَن عَائِشَةَ (رضي الله عنها) قَالَت اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِذَا ذَهَبَ اَحَدُكُم اِلَي الغَائِطِ فَلْيَذهَب مَعَهُ بِثَلاَثَةِ اَحجَارٍ يَستَطِيبُ بِهِنّ فَاِنّهَا تَجزِئُ عَنهُ (الف) (ابوداودشريف،باب الاستنجاء بالاحجار،ص7،نمبر40) دغولومقام ديوه درهم په اندازه يادورغوي دجَوَري برخي په اندازه دئ نوځکه په دومره اندازه(نجاست)معاف دئ که تردې زيات لګېدلئ و نو بغير د مينځلولمونځ نه صحيح کيږي په حديث کي دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيّ تُعَادُ الصّلوةُ مِن قَدرِالدِّرهَمِ مِنَ الدّمِ (دارقطني،باب قدرالنجاسة التي تبطل الصلوة ص385 نمبر1479) معلوم سو چي تر دِرهَم کم وي نومعاف دئ. او درهم يا دهغه څخه زيات وي نو لمونځ ورسره نه صحيح کيږي .

فائده : امام شافعي اوامام زفر فرمائي چي لږ نجاست به هم مينځل کيږي ځکه چي په حديثوکي دمينځلوحکم دئ. په لږ او ډېر نجاست کې فرق نه دئ کړئ نوځکه لږ نجاست به هم مينځي بيالمونځ صحيح کيږي.

لغت : نَجَاسَتِ مُغَلّظَه : چي په اتفاق سره نجس ګڼل کيږي هغه نجاستِ مغلظه دئ.او په کوم نجاست کي چي دعلمآء اختلاف وي هغه نجاستِ خفيفه دئ .

پام لرنه : ويني،د انسان بولي،غول نجاستِ مغلظه دي دليل يې دا حديث دئ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل چي د تاسو څخه يو غُولو لره وُلاَړ سي نودځان سره دي دري ډبري يوسي.په هغه دي صفائي وکړي.ځکه چي دغه صفائي به کفايت وکړي .

[127](9) وَ اِن اَصَابَتهُ نِجَاسَةٌ مُخَفّفَةٌ كَبَولِ مَا يُؤكَلُ لحَمُهُ جَازَتِ الصّلْوةُ مَعَهُ مَا لَم يَبلُغ رُبعُ الثّوبِ .

يَاعَمّارُ اِنّمَايُغسَلُ الثّوبُ مِنَ خَمسٍ مِنَ الغَائِطِ وَالبَولِ وَالقَيءِ وَالدّمِ وَالمَنِيّ (الف) (دارقطني،باب نجاسة البول والامر بالتنزه منه والحكم في بول مايوكل لحمه ج1،ص134،نمبر452) د شرابو د ناپاکئ دليل داحديث دئ. عَن اَبِي ثَعلَبَةَ الخُشَنِيّ اَنّهُ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِنّا نُجَادِرُ اَهلَ الكِتَابِ وَهُم يَطبَخُونَ فِي قُدُورِهِمُ الخِنزِيرَ وَيَشرِبُونَ فِي آنِيَتِهِمُ الخَمرَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِن وَجَدتُم غَيرَهَا فَكُلُوا فِيهَا وَ اشرِبُوا وَ اِن لَم تَجِدُوا غَيرَهَا فَارحَضُوهَا بِالمَآءِ وَ كُلُوا وَ اشرِبُوا (ب) (ابوداود شريف،باب في استعمال آنية اهل الكتاب،ج2،ص180،نمبر3839) په دې حديث کي حضور (ﷺ) فرمائلي دي چې په کوم لوښي کي شراب چيښي که چيرې دهغه څخه علاوه بل نه سي پيدا نوهغه دي پرې مينځي بيايي پکي چيښئ،دمينځلوحکم پردي دلالت کوي چې شراب ناپاك دي نوځکه د شرابو لوښئ به مينځي بياپاکيږي. اِنّمَاالخَمرُ وَالمَيسِرُ وَالاَنصَابُ وَالاَزلاَمُ رِجسٌ مّن عَمَلِ الشّيطَانِ (آيت 9،سورة المائدة ٥) په دې آيت کي هم شرابو ته ناپاك ويل سوي دي.

[127](9) اوکه پرکپړه يابدن باندي نجاست خفيفه ولګيږي لکه دهغه حيوانانو بولي چې غُوښې خُوړل کيږي نو د هغه سره لمونځ صحيح کيږي ترهغوچې دکپړې وځلورمه برخه ته نه وي رسيدلئ .

تشريح : نجاست خفيفه وهغه ته وائي چې د هغه د پاکئ او ناپاکئ دواړه رنګه

حاشيه : (الف) ائ عَمّار جامه دپنځو نجاستو څخه مينځل کيږي (1) غُول (2) بولي (٣) پاکئ (۴) وينې (۵) اودمني څخه (ب) د حضور(ﷺ) څخه پوښتنه وکړه چې مور د اهل کتاب سره معامله کوو دوئي په خپلو دېګوکي خنزير پخوي اوپه خپلولوښو کي شراب چيښي.حضور (ﷺ) وفرمائل چې که چيرې د دې څخه علاوه بل لوښئ وموندئ نو په هغه کي خوراك وکړئ چيښاك وکړئ اوکه د دې څخه علاوه بل نه سي پيدا نو دغه په اُوبُو پرې مينځئ او په دغه کي خوراك اوچيښاك وکړئ .

دليلونه موجو دوي.يا د هغه په اړه د علمآء تر مينځ اختلاف وي.لکه دهغه حيوانانو بَولِي چې غُوښې خوړل کيږي د دې په پاکئ اوناپاکئ کې دواړه رنګه حديثونه موجوددي. دپاکئ دليل يه داحديثونه دي. (1) عَن اَنَسٍ اَنّ نَاسًا مِن عُرَينَةَ قَدِمُوا المَدِينَةَ فَاجتَوُوهَا فَبَعَثَهُم رَسُولُ اللهِ (ﷺ) فِي اِبِلِ الصّدَقَةِ وَقَالَ اِشرِبُوا مِن اَلبَانِهَا وَ اَبوَا لِهَا (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في بول مايوكل لحمه ص21 نمبر72) حضور (ﷺ) د عُرَينَه وخلګوته د وُښ دمچارو دچيښلوحکم ورکړئ.چې هغه پاك وي نو د چيښلوحکم به ورکړئ وي؟ (2) عَنِ البَرَآءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَبَأسَ بِبَولِ مَا اُكِلَ لَحمُهُ (ب) (دارقطني،باب نجاسة البول والامر بالتنزه منه والحكم في بول مايوكل لحمه،ص135،نمبر454) د دې څخه معلوميږي چې دمَأكُولُ اللّحم بولي پاك دي...دناپاکئ دليل يه داحديثوه دي (1) عَن اِبنِ عَبَاسٍ..... فَقَالَ النّبِيّ يُعَذّبَانِ وَمَايُعَذّبَانِ فِي كَبِيرٍثُمّ قَالَ بَلّي كَانَ اَحَدُهُمَا لاَيَستَتِرُ مِن بَولِهِ وَكَانَ الآخَرُيَمشِي بِالنّمِيمَةِ (ج) (بخاري شريف،باب من الكبائران لايستترمن بوله،ص35،نمبر226/ ترمذي شريف،باب التشديد في البول،ص31،نمبر70) د دې حديث څخه معلوم سوچې هر رنګه بولي لګيدل ګناه کبيره ده.نوپه دغه وجه ناپاك دي (2) عَن اَنَسٍ قَالَ

قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) تَنَزّهُوا مِنَ البَولِ فَاِنّ عَامَةَ عَذَابَ القَبرِمِنهُ (د) (دارقطني،باب نجاسة البول والامربالتنزه منه،ج1،ص135،نمبر453) دغه دواړه قسم حديثونه دمَأكُولُ اللّحم په باب کي دي.په دغه وجه د دې دبولوپه باب کي دعلمآء اختلاف پيداسو. نو د امام ابوحنيفه په نېز دغه بولي نجاست خفيفه دي اود نوروحيوانانو يادانسان په باره کي حديثونه نسته نوځکه دهغوبولي نجاست غليظه دي .

حاشيه : (الف) حضرت انس فرمائي چي يوڅه خلګ دمقام عرينه ځخه مديني ته راغلل نو د دوئي نسونه وپرسېدل نوحضور دوئي دصدقي وُښانو لره واستول او ورته وويل چي دهغه شيدې هم وچيښئ اودهغه بولي هم وچيښئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل چي دکوم حيوان غُوښي خوړل کيږي دهغه په بولوکي هيڅ حرج نسته (يعني پاك دي) (ج) و دواړو ته ديولوئ شي په وجه عذاب نه ورکول کيږي. بيا يه وفرمائل چي ولي نه يوه د بولوڅخه ځان نه کاتئ اوهغه بل چُغلي کول (د) حضور(ﷺ) وفرمائل د بولو څخه ځان ګورئ ځکه چي په عام توګه د قبرعذاب په دغه وجه وي.

دنجاست خفيفه په باب کي اصل روايت دادئ چي دومره ولګيږي چي خلګ يې کثير او زياتِ وګڼي نوکپړه ناپاکيږي.بل روايت دادئ چي دکپړې څلورمه حصه وي نودا ګواکي ډېره سوه اوکپړه ناپاك سوه.ځکه چي دستر په خلاصېدوکي چي څلورمه حصه د سترخلاص سي نو د ټول ستر دخلاصېدو قائم مقام دئ .

داحرام په حالت کي چي سر وخرئي نوڅلورمه د سَر دټول سَر دخريلوقائم مقام ده دغه رنګه دلته هم دکپړې پرڅلورمه حصه ولګيږي نوپرټوله کپړه دلګېدلو قائم مقام دئ اوکپړه ناپاکيږي .

پام لرنه : بعض حضرات فرمائي چي دکپړې څلورمه اوبعض حضرات فرمائي چي دکپړې هره حصه چي جلاجلا نوم لري لکه نستونئ(لستونئ)،لمن نو د نستونې څلورمه دغه رنګه دلمون څلورمه مراد ده.دغوا اوګاميښو د شُپَانَه لپاره د بولوڅخه ځان ساتل ډېرګران وي. که دکپړې پرڅلورمه دبولولګېدل اودختو مښتېدل معاف نه سي نو د دُوئي لپاره به ډېر لوئي حرج سي.په دغه وجه امام ابوحنيفه فرمائي چي نجاست خفيفه دکپړې پرڅلورمه لګېدلئ وي نولمونځ ورسره صحيح کيږي که څه هم مينځل په کاردئ.د دې آسانتياوجه دغه حديث دئ. قُلتُ لأُم سَلَمَةَ اِنّي اِمرَأ ةً اَطيَلَ ذَيلِي وَ اَمشِي فِي المَكَانِ القَذرِ؟ فَقَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَطهَرُهُ مَابَعدُهُ (الف). وَعَن عَبدِاللهِ اِبنِ مَسعُودٍ قَالَ كُنّا نُصَلّي مَعَ رَسُولِ اللهِ وَلاَ نَتَوَضّأمِنَ المُوطْي (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء في الوضوء من الموطي ص36 نمبر143/ابوداودشريف،باب في الرجل يطأ الأذي برجله،ص30،نمبر204) پر لَمَن چي لږ ډېره ناپاکي ولګيږي اودهغه څخه وروسته ځائ بيا دغه لَمَن وڅنډي نو لمونځ په صحيح کيږي. د دې څخه اشاره دامعلوميږي چي نجاست غليظه ديوه درهم څخه لږ وي ياخفيفه دکپړې دڅلورمي څخه کم وي نومَعفُوّعَنهُ دئ که نه خوحرج به لازم سي .

فائده : د امام محمد په نېز د مَأكُولُ اللّحم بَولي پاك دي .

حاشيه: (الف) مَا و اُمّ سَلَمَه ته وويل زه داسي بښځه يم چي لمن يه وږده ده اودګندګي پرځايوګرزم،دې وويل چي حضور(ﷺ) وفرمائل چي هغه ورسته ځائ يي ببرته پاك وي (ب) عبدالله ابن مسعود فرمائي چي موږ دحضور(ﷺ) سره لمونځ کاوئ اوتر پښولاندي سوي وَچي ناپاکئ څخه مو اَودَس نه کاوئ .

[128](10) وَتَطهِيرُ النِّجَاسَةِ الَّتِي يَجِبُ غَسلُهَا عَلْي وَجهَينِ فَمَا كَانَ لَهُ عَينٌ مَرئِيّةٌ فَطَهَارَ تُهَا زَوَالُ عَينِهَا اِلاّ اَن يّبقْي مِنَ اَثَرِهَا مَايَشُقّ اِزَالَتُهَا .

﴿... د نجاست د پاکولو طريقه ...﴾

[128](10) چي مينځل يې واجب وي دهغه نجاست دپاکولو دوې طريقي دي (1) بس کوم نجاست چي په سترګوښکاره کيږي دهغه پاکي دهغه دعين زائل کول دئ.مګر دا چي اثر يې باقي پاته سي چي دهغه زائل کول مشکل وي .

تشريح : کُوم نجاست چي د وچېدلو ورسته په سترګوښکاره سي دهغه دپاکولوطريقه داده چي دومره واره دې پري مينځي چي دنجاست عين زائل سي.هغه که په يوه وارزائل سي که په پنځه واره .

وجه : (1) د نجاست مرئيه د عين په زائلېدو دپاکئ دليل داحديث دئ. عَن اَسمَآ ءَ بِنتِ اَبِي بَکرٍ اَنّهَاقَالَت سَمِعتُ اِمرَأ ةً تَسأَلُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) کَيفَ تَصنَعُ اِحدَانَا بِثَوبِهَا اِذَا رَاَتِ الطّهرَ اَتُصَلّي فِيهِ؟ قَالَ تَنظُرُ فَاِن رَاَت فِيهِ دَمًا فَلتَقرُصهُ بِشَيءٍ مِّن مَآءٍ وَلِتَنضَح مَالَم تَرْي وَ تُصَلّي فِيهِ (الف) (ابوداودشريف،باب المراة تغسل ثوبهاالذي تلبسه في حيضها،ص58،نمبر361) په دې حديث کي دئ چي اُوبَه پر واچوئ ترڅوچي نجاست ښکاره کيږي.د دې مطلب دادئ چي دنجاست مرئيه تر زائلېدوپوري به مينځل کيږي (2) دمستحاضې په باب کي داحديث راغلئ دئ. عَن عَائِشَةَ قَالَت جَائَت فَاطِمَةُ بِنتِ اَبِي حُبَيشٍ... فَاِذَا اَدبَرَت فَاغسِلِي عَنكِ الدّمَ وَصَلّي (ب) (مسلم شريف،

حاشيه : (الف) يوې ښځې د حضور (ﷺ) څخه پوښتنه وکړه چي زمونږ څخه يوه په خپلوکپروڅرنګه وکي کله چي پاکي وويني آياپه دغه کپروکي به لمونځ کوي؟ حضور(ﷺ) وفرمائل چي وګورئ که په هغه کي وينه ووينئ نوهغه په يوڅه اوبو سره وموړئ بيانو اُوبَه پرتُوئي کړئ ترهغه وخت چي ګندګي نه سي ښکاره او بيا په هغه کي لمونځ وکړئ (ب) وفاطمه بنت ابي حبيش ته حضور (ﷺ) وفرمائل چي کله دحيض وينه ختم سي نو د خپل بدن څخه وينه پري مينځه او لمونځ وکه .

[129](11) وَ مَا لَيسَ لَهُ عَينٌ مَرئِيّةٌ فَطَهَارَتُهَا اَن يّغسِلَ حَتّي يَغلِبَ عَلْي ظَنِّ الغَاسِلِ اَنّهُ قَدطَهُرَ .

باب المستحاضة وغسلهاوصلواتها،ص151،نمبر333) په دي کي د اذکر سوئ دئ چي وِينَه پري مينځئ اولمونځ وکئ.څو واره پرې مينځئ دايې نه دئ ذکرکړئ. ګواکي مطلب يه داسوچي دنجاست مرئيه تر زائلېدو پوري مينځئ .

چي نجاست زائل سي خودنجاست رنګ پاته سي اوبغيره دصابون نه ليري کيږي نوددې زحمت کولوڅه خاص ضرورت نسته کپړه بياهم پاک ده.لکه ګوبر چي ولګيږي په عاموأُوبُوسره پري مينځي نو ګوبر خوليري سي ليکن هغه داغ (نشان) يې

باقي پاته کيږي نودهغه دليري کولولپاره دصابون وغيره ضرورت نسته.ددي دليل (۱) دا حديث دئ.سُأ لَت عَائِشَةُ (ﷺ) عَنِ الحَائِضِ يُصِيبُ ثَوبَهَاالدّمُ؟ قَالَت تَغسِلُهُ فَإِن لَم يَذهَب اَثَرُهُ فَلتُغَيّرهُ بِشَيئٍ مّن صُفرِهِ (الف) (ابوداؤدشريف،باب المراة تغسل ثوبها الذي تلبسه في حيضها،ص58،نمبر357) دحديث څخه معلوم سوچي داغ اورنګ که نه سي ولاړ نوهم څه حرج نسته هغه دي په صفره سره بدل کړي (۲) شريعت د دارنګه شديدمشقت څوك نه مكلف كوي .

[129](11) کُوم نجاست چي نه ښکاره کيږي دهغه دطهارت طريقه داده چي مينځي دې ترهغه وخت پوري چي دمينځونکي غالب ګمان سي چي دا پاك سو .

تشريح : کُومه ناپاکي چي دوچېدلو وروسته نه ښکاره کيږي لکه بولي،شراب هغه دي دومره واره پري مينځي اوهر واردې ونښتېځي چي د مينځونکي داګمان سي چي اوس نو ټوله نجاست وواتئ کپړه پاك سوه.

وجه : (۱) په باربارمينځلوسره به نجاست په پلپسي وزي آخر کار به ټوله نجاست ووزي او د زيلان نجاست څخه خوکپړه يابدن پاکيږي (۲) علمآء ويلي دي چي

حاشيه : (الف) د حضرت عائشې څخه دهغه حائضې په باب پوښتنه وسوه چې پرکپړو يې وينه لګېدلې وي نو يې وفرمائل چې هغه دي پري مينځي.بياکه چيري اَثَرنه سي وُلاړ نو په ژړ رنګ دې متغيرکړي .

[130](12) وَ الإِستِنجَآ ءُ سُنّةٌ يَجزِئُ فِيهِ الحَجَرُ وَالمَدَرُ وَ مَا قَامَ مَقَامَهُ يَمسَحُهُ حَتّي يُنَقّيَهُ وَ لَيسَ فِيهِ عَدَدٌ مَسنُونٌ .

درې واره دې پري مينځي او دوئي دداحديث څخه استدلال کوي. عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ اِذَا اِستَيقَظَ اَحَدُكُم مِن نَومِهِ فَلاَيَغمِس يَدَهُ فِي الإِنَآءِ حَتّي يَغسِلَهَا ثَلاَ ثًا فَاِنّهُ لاَيَدرِي اَينَ بَاتَت يَدُهُ (الف) (مسلم شريف،باب كراهة غمس المتوضئ وغيره يده المشكوك في نجاستهافي الانآء قبل غسلهاثلاثا ص136 نمبر278) دلته د نجاست غيرمرئيّه په اړه حُكم سوئ دئ چي درې واره يې پريمنځئ نوبل ځائ به هم نجاست غيرمرئيه درې واره مينځل کيږي .

﴿... د استنجآء بيان ...﴾

[130](12) استنجآء سنّت ده،کفايت کوي په دي کي ډبره اولوټه اوکوم چي ددې قائم مقام وي. هغه ځائ دي مسح کړي تردې چي صفايه کړي .

تشريح : د غولو د پاکولو لپاره ډبره،لوټه،لرګئ،او دارنګه شئ چي ګندګي په صفاکيدائي سي په دارنګه ټولو شيانوسره استنجآء کول سُنّت ده.په دغه شيانوچي دومره واره مقام صفاکړي چي ګندګي ليري سي نوکفايت کوي. او د بولو لپاره د دارنګه شي ضرورت دئ چي بولي جذب کؤي لکه لوټه. په ډبره کار نه کيږي ځکه چي په دي کي دبولودجذب کولوصَلاَحِيّت نسته.د ډبري يادلوټي په استعمال سره په نجاست کي کمئ خو را تلائي سي مکمله صفائي نه سي کولائي. لېکن دمخرج سره

شاوخوا ديوه دِرهَم دپُسَارَه په اندازه کي وي نوشريعت دانساني مجبورئ په وجه دا آسانتيا ورکړي ده. خوبيا هم ښه خبره داده چي اُوبَه استعمال کړي چي په مکمّله توګه صفائي وسي .

حاشيه : (الف) حضور(ﷺ)وفرمائل دتاسوځخه يو د خوب رَاوِښ سي نوخپل لاس دي په لوښ کي نه اچوي تردي چي هغه دري واره پري مينځي.ځکه چي ده ته نه دئ معلوم چي خپل لاس يې چيري چيري ګرزولئ دئ .

پام لرنه : دلته هم اصل مقصد دنجاست پاکي ده که په هرڅو لوټو سره پاك سي. د دروعددپوره کول ضروري نه دئ. د دې ټولو دليل (١) دا حديث دئ. عَن عَائِشَةَ (رضي الله عنها) قَالَت اِنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِذَا ذَهَبَ اَحَدُكُم اِلَي الغَائِطِ فَلْيَذهَب مَعَهُ بِثَلاَثَةِ اَحجَارٍ يَستَطِيبُ بِهِنّ فَاِنّهَا تَجزِئُ عَنهُ (الف) (ابوداودشريف،باب الاستنجآء بالاحجار ص7 نمبر40) دحديث ځخه داخبره معلوم سوه چي دِبره او لوټه داستنجآء لپاره کفايت کوي.دا هم معلوم سوه چي دري دِبري ځکه ضروري دي چي عموما په دغه عدد باندي صفائي کيږي. ځکه خو يې وويل فَاِنّهَاتَجزِئُ عَنهَا (2) عَن اَبِي هُرَيرَةَ (رضي الله عنه) عَنِ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ ... وَمَن اِستَجمَرَ فَلْيُوتِر مَن فَعَلَ فَقَد اَحسَنَ وَمَن لاَ فَلاَحَرَجَ (ابوداود شريف،باب الاستتارفي الخلآء ص6 نمبر 35)

فائده : امام شافعي فرمائي چي دري دِبري اخستل ضروري دي او که په درو صفائي نه وسي نوبيابه دِيري دِبري اخلي.ليکن خوطاق عدد دِبري به اخلي.ددې دليل داحديث دئ. عَن سَلمَانَ قَالَ قِيلَ لَهُ قَدعَلّمَكُم نَبِيّكُم (ﷺ) كُلّ شَيئٍ حَتّي الخَرَائَةَ قَالَ فَقَالَ اَجَل لَقَد نَهَانَااَن نَستَقبِلَ القِبلَةَ لِغَائِطٍ اَو بَولٍ اَو اَن نَستَنجِي بِاليَمِينِ اَو اَن نَستَنجِي بِاَقَلّ مِن ثَلاَثَةِ اَحجَارٍ اَو اَن نَستَنجِي بِرَجِيعٍ اَوبِعَظمٍ (ب) (مسلم شريف،باب الاستطابة،ص130،نمبر262) په دې حديث کي د استنجآء کولو دِپر آداب ذکر دي.د دې سره دا هم دئ چي په درو دِبرو دي استنجآء کوي.مور وايوچي داپه دې وجه دئ چي په دروباندي عموماصفائي کيږي يا دا د استحباب په توګه دئ واجب نه دئ .

لغت : اَلمَدَرُ : لوټه، يُنَقّيهِ : صفادې کړي .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل چي د تاسو ځخه يوغُولُولره ولاړسي نودځان سره دي دري دِبري يوسي اوپه هغه دي پاکي حاصله کړي. ځکه چي دري دِبري دپاکئ حاصلولولپاره کافي دي (ب) وحضرت سلمان ته خلګو وويل چي ستاسو نبي و تاسو ته هرشئ دربښئ تردې چي دغُولُوکولوطريقه هم؟وويل هو.مور يې منع کړي يوچي دغُولُو په حالت يا د بولو په حالت کي دقبلې استقبال وکړو يا په ښي لاس استنجآء وکړو ياد درو دِبرو ځخه په کم باندي استنجآء وکړو يالبرښن يا هډوکي سره استنجآء وکړو .

[131](13) وَ غَسلُهُ بِالمَآءِ اَفضَلُ [132](14) وَ اِن تَجَاوَزَتِ النّجَاسَةُ مَخرَجَهَا لَم يَجُز فِيهِ اِلاّ المَآ ءُ اَوِ المَآ ئِعُ .

[131](13) مقام په اوبوسره مينځل افضل(ښه) دئ .

وجه : سَمِعتُ اَنَسَ بنِ مَالِكٍ يَقُولُ كَانَ النّبِيّ(ﷺ) اِذَا خَرَجَ لِحَاجَتِهِ اَجِيئُ اَنَا وَغُلاَمٌ مَعَنَا اِدَاوَةٌ مِّن مَآءٍ يَعنِي يَستَنجِي بِهِ (الف) (بخاري شريف،باب الاستنجآء بالمآء ص27 نمبر150) تپر شوي او د دې حديث دملاوېدو څخه دا معلوميږي چي په اُوبُو سره استنجآء کول افضلَ ده.ځکه چي په دي کي مکمّله صفائي کيږي.خود ډبرو د استعمال څخه کفايت کوي او لمونځ صحيح کيږي .

[132](14) که نجاست دمخرج څخه زيات ځله خورسو نو په دي کي جواز نه لري ېپله له اُوبُو يا بيدونکئ شئ .

تشريح : دشيخين په نېز دمخرج څخه علاوه ديوه درهم دمقدارڅخه زيات نجاست خورسي او د امام محمد په نيز د مخرج سره د يوه درهم دمقدارڅخه زيات نجاست خور سي نوپه اُوبُو سره مينځل ضروري دئ. اُوس په ډبره سره صفاکول کفايت نه کوي .

وجه : (1) چي دمجبورئ په وجه دمخرج په ډبره سره صفائي کافي وګڼل سوه خوکه د دې څخه زيات نجاست خور سي نو په اُوبُو سره مينځل ضروري دئ (2) دحضرت علي دقول څخه د دې تائيد کيږي. قَالَ عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبَ اَنّهُم كَانُوا يُبعِرُونَ بَعرًا وَ اَنتُم تَتلِطُونَ تَلطًا فَاتّبِعُوا الحِجَارَةَ المَآ ءَ (ب) (سنن للبيهقي،باب الجمع في الاستنجاء بين المسح بالاحجاروالغسل بالماء،ج1،ص172،نمبر517) د دې څخه معلوم سو چي ډبره هغه وخت کفايت کوي چي نجاست تر مخرج پوري محدود وي لکه صحابه کرام چي فضلات(ګندګي) يې وچه کوله نوتر مخرج پوري به وه.ليکن که

حاشيه : (الف) حضرت انس فرمائي چي حضور(ﷺ) به کله دقضآء حاجت لپاره واتئ نوزه او زُمَا سره يو(بل) هلك د اُوبودك لوښئ به هم و تللو.يعني په دې به حضور استنجآء کوله (ب) حضرت علي فرمائي چي صحابه د پُچُو په رکم غُول کول او تاسو نرم غُول کوئ نوځکه د ډبري وروسته اُوبَه استعمالوئ .

[133](15) وَ لاَ يَستَنجِي بِعَظمٍ وَلاَرَوثٍ وَلاَ بِطَعَامٍ وَلاَ بِيَمِينِهِ .

تر مخرج زيات وي نو به حتمًا اوبه استعمالوي .

پام لرنه : په اُوبُو هم استنجآء کول جائز ده.او هر هغه بيدوکئ شئ چي نجاست په زائليږي په هغه سره هم استنجآء کول جائز ده. د امام شافعي اختلاف په دې اړه مخکي تيرسوئ دئ .

[133](15) نه دي استنجآء کوي په هډوکي،نه په ليرشنو،نه په خوراکي شي،نه په ښي لاس سره .

وجه : (1) دارنګه شئ چي په خپله ناپاك وي لکه لېرشن،وَچ ګوبر(خوشايه) نو هغه به بل شئ څرنګه پاك کړي.نوځکه په ناپاك شئ باندي استنجآء کول جائز نه ده (2) دارنګه شئ چي بنُوَئ وي لکه هَډُوکَئ په هغه سره مقام نه صفاکيږي صرف دا چي نور به لا نجاست ځله خورسي نوځکه په هغه باندي هم استنجآء نه صحيح کيږي (3) دارنګه شئ چي محترم وي لکه خوراکي شئ اوکاغذ نوپه هغه باندي هم استنجآء کول

ناجائزده ځکه چې دا داحترام خلاف دئ.دغه رنګه ښئ لاس محترم دئ هغه هم دغُولُو لپاره استعمالول ښه کار نه دئ.نوځکه په هغه باندي هم استنجآء کول جائز نه ده .

پام لرنه : که په دغه شیانو استنجآء وکړه او نجاست صفاسو نو د لمانځه لپاره صحیح دئ.په دې شیانوسره د استنجآء دمکروه والئ دلیل دحضرت سلمان حدیث دئ چې په مسئله نمبر12 کې تیرسو. عَن سَلمَانَ ... لَقَد نَهَا نَا اَن نَستَقبِلَ القِبلَةَ لِغَائِطٍ اَو بَولٍ اَو اَن نَستَنجِي بِاليَمِينِ اَو اَن نَستَنجِي بِاَقَلّ مِن ثَلاَثَةِ اَحجَارٍ اَو اَن نَستَنجِي بِرَجِيعٍ اَوبِعَظمٍ (الف) (مسلم شریف،باب الاستطابة،ص130،نمبر262) په دې حدیث کې په ښي لاس سره او په لبرشنو سره او په هَډُوکِي سره د استنجآء کولو څخه منع راغلې ده .

حاشیه : (الف) حضور (ﷺ) مونږ منع کړوچې دغُولُو او بولوپه وخت کې دقبلې استقبال وکړو یاپه ښي لاس استنجآء وکړو یاد درو ډبروځخه په کم باندي استنجآء وکړو یاپه لبرشن یاپه هَډُوکِي باندي استنجآء وکړو .

﴿... کِتَابُ الصّلاَةِ ...﴾

[134](1) اَوّلُ وَقتِ الفَجرِ اِذَاطَلَعَ الفَجرُ الثّانِيُ وَ هُوَ البَيَاضُ المُعتَرِضُ فِي الأُفُقِ وَ آخِرُ وَقتِهَا مَالَم تَطلُعِ الشّمسُ .

﴿... کِتَابُ الصّلاَةِ ...﴾

ضروري پام لرنه : د صَلاَةٌ لغوي معنْي ده دعآء. په شریعت کې و ارکان معهوده ته صلاة وائي.د صَلاَة دفرضیّت دلیل د قرآن مجید ډېر آیتونه دي. مثلا اِنّ الصّلاَةَ کَانَت عَلْي المُؤمِنِينَ کِتَابًا مَوقُوتًا (الف) (آیت 103،سورة النسآء 4)

پام لرنه : لمونځ یَو د اَهمِیّت ور عبادت دئ اوطهارت دهغه لپاره شرط دئ.نو ځکه طهارت یې مخکې ذکرکړئ.اوس دطهارت د ابحاثو د ختم کېدو وروسته دلمانځه مسئلې شروع کړې .

وخت : وخت د لمانځه لپاره شرط دئ که وخت نه وي داخل نوترهغوپوري لمونځ نه واجبیږي.د وخت په راتلو سره لمونځ واجبیږي.د وجوب اصل وجه خو د الله ځُکم دئ لېکن د الله حکم هر وخت مونږ نه اورو نوځکه وخت په طور دعلامت متعین سو چې کله وخت رالئ نو پُوه سَه چې حکم رالئ بس لمونځ شروع که.د وخت دلیل هغه لوړ آیت دئ .

[134](1) دسهار اول وخت کله چې فَجرِصادق راوخیږي،فجرثاني په اُفُق کې خوره وره رونا ده او د سهار آخري وخت تر هغو دئ چې لُمَر نه وي راختلئ .

وجه : دسهار د لمانځه دفرضیّت دلیل داآیت دئ. وَ سَبّح بِحَمدِ رَبّكَ قَبلَ طُلُوعِ الشّمسِ وَقَبلَ غُرُوبِهَا وَ مِن آنآءِ الّلیل فَسَبّح وَ اَطرَافَ النّهَارِ لَعَلّكَ تَرضْي (ب) (آیت130،سورة طه،20) بلکه په دې آیت کې د ټولو لمنځو و وختو ته اشاره وسوه. او د سهار د لمانځه و وخت ته هم اشاره وسوه .

حاشيه : (الف) لمونځ پر مؤمنانو باندي د وخت متعيّن سره فرض دئ (ب) دخپل رب تسبيح بيان کړئ د لُمَر د راختو څخه مخکي او د پرېوتو څخه مخکي او د شُپې په يوڅه برخه کي.نوتسبيح بيان کئ او د وُرځې په کنارو(طرفو)کي شايد چې ته راضي(خوشحاله) سې .

[135] (2) وَ اَوّلُ وَقتِ الظّهرِ اِذَا زَالَتِ الشّمسُ وَ آخِرُ وَقتِهَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي اِذَا صَارَظِلّ كُلّ شَيئٍ مَثلَيهِ سِوْي فَئ الزّوَالِ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌرَحِمَهُمَااللهُ اِذَاصَارَظِلّ كُلّ شَيئٍ مِثلَهُ .

لغت : اَلفَجرُالثّانِي : د فجر دوه قسمونه دي (1) صبح کاذب (2) صبح صادق. صبح کاذب: په مشرقي اُفُق کي د لېوه دلکئ په رکم يوه وُږدَه رُونَاوي چې په ډېر مشکل يې سړئ ويني.دهغه څخه لږڅه وروسته په محرابي شکل کي خوره وره يوه رُونَاوي چې وهغه ته صبح صادق وائي.بعض ماهرين فلکيات وائي چې پر اتلس(18) ډګرئ اوبعض ماهرين وائي چې پر پنځلس(15) ډګرئ باندي دغه رونَاموجود وي.پر دواړو طرفو باندي دلائل سته.د دغه صبح صادق پر وخت د سهارلمونځ واجبيږي.ودغه ته مصنف د اَلبَيَاضُ المُعتَرِضُ په لفظ سره اشاره کړې ده.د دې دليل دا حديث دئ. عَن سَمُرَةَ بنِ جُندُبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَ يَغُرّنّكُم اَذَانُ بِلاَلٍ وَلاَهٰذَا البَيَاضُ لِعُمُودِ الصّبحِ حَتّٰي يَستَطِيرَ هٰكَذَا (الف) (مسلم شريف،باب بيان ان الدخول في الصوم يحصل بطلوع الفجر،کتاب الصوم ص350 نمبر1094) دحديث څخه معلوم سوچې هغه رونا چې د آسمان په وُږدوَل کي وي هغه صبح صادق نه دئ. بلکه يَستَطِيرُ يعني په اُفُق کي خوره وره رُونَا صبح صادق دئ. په آيت کي هم و دې ته اشاره سته. وَكُلُوا و اشرَبُوا حَتّٰي يَتَبَيّنَ لَكُمُ الخَيطُ الاَبيَضُ مِنَ الخَيطِ الاَسوَدِ مِنَ الفَجرِ (آيت 187،سورةالبقرة2) د تَبَيّنَ څخه مراد د فجر(سهار)په ښه توګه واضح کېدل دئ چې هغه دصبح صادق په وخت کي وي .

[135](2) د ماپښين اوّل وخت کله چې لمر زائل سي(ترسرواوړي) اودهغه آخري وخت د امام ابوحنيفه په نېز چې د هر شي سايه دُوَه مثل سي د اصلي سايې څخه علاوه.او د صاحبين په نېز کله چې د هر شي سايه يومثل سي .

حاشيه : (الف) تاسو دي په دُوکَه کي وَانَه چوي د بلال اذان او نَه دا د سهار وُږدَه رونا.تر هغو چې رُونَاخوره نه سي .

تشريح : دظهر(ماپښين) اوّل وخت د زوال څخه سم دستي وروسته شروع کيږي. په دي کي دهيڅا اختلاف نسته.خو د آخري وخت په باره کي د امام ابوحنيفه رأيه داده چې دسايه اصلي څخه علاوه تردوو مثلو پوري وخت دئ.دهغه څخه وروسته دماځيګر وخت شروع کيږي. د ده دليل داحديث دئ .

وجه : عَن اَبِي ذَرٍّ قَالَ كُنّا مَعَ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) فِي سَفَرٍ فَاَرَادَ المُؤذِّنُ اَن يُؤذِّنَ لِلظّهرِ فَقَالَ النّبِيّ اَبرِد. ثُمّ اَرَادَ اَن يُؤذِّنَ فَقَالَ لَهُ اَبرِد. حَتّٰي رَأينَا فَيئَ التّلُولِ فَقَالَ النّبِيّ اِنّ شِدّةَ الحَرّ مِن فَيحِ جَهَنّمَ فَاِذَا اِشتَدّ الحَرّ فَاَبرِدُوا بِالصّلاَةِ (الف) (بخاري شريف،باب الابراد بالظهر

في السفر،ص77،نمبر539) پوټيان ډېرجګ نه وي چې دهغه سايه لاندي ښکاره کيږي دا هغه وخت کېدائي سي چې د هر شي سايه دیوه مثل څخه زیات سوی وي.د دې څخه دامعلوم سو چې د ماپښین لمونځ یې دیوه مثل څخه ورسته کړئ دئ. نوځکه دماپښین وخت تر دُوَه مثل پوري دئ .

فائده : صاحبین اونوراِمَامَان وائي چې دسایه اصلي څخه علاوه تریوه مثل پوري وخت وجود لري. د دُوئي دلیل داحدیث دئ. اَخبَرَنِي اِبنُ عَبّاسٍ (ؓ) اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ اَمّنِي جِبرَئِيلُ عِندَ البَيتِ مَرّتَينِ فَصَلّي الظّهرَ فِي الأُولٰي مِنهُمَاحِينَ كَانَ الفَئ مِثلَ الشّرَاكِ ثُمّ صَلّي العَصرَ حِينَ كَانَ كُلّ شَيئ مِثلَ ظِلّهِ ثُمّ صَلّي المَغرِبَ حِينَ وَجَبَتِ الشّمسُ وَ اَفطَرَالصّائِمُ ثُمّ صَلّي العِشَآءَ حِينَ غَابَ الشّفَقُ ثُمّ صَلّي الفَجرَ حِينَ بَرِقَ الفَجرُ وَحَرُمَ الطّعَامُ عَلَي الصّائِمِ وَصَلّي المَرّةَ الثّانِيَةَ الظّهرَحِينَ كَانَ ظِلّ كُلّ شَيئٍ مِثلَهُ لِوَقتِ العِصرِ بِالاَمسِ ثُمّ صَلّي العَصرَحِينَ كَانَ ظِلّ كُلّ شَيئٍ مِثلَيهِ ثُمّ صَلّي المَغرِبَ لِوَقتِهِ الاَوّلِ ثُمّ صَلّي العِشَآ ءَ الآخِرَةَ حِينَ ذَهَبَ ثُلُثُ اللّيلِ ثُمّ صَلّي الصّبحَ حِينَ اِسفَرّتِ الاَرضُ ثُمّ اِلتَفَتَ اِلَيّ جِبرَئِيلُ فَقَالَ يَامُحَمّدُ هٰذَا وَقتُ الاَنبِيَآءِ مِن قَبلِكَ وَالوَقتُ فِيمَابَينَ هٰذَينِ الوَقتَينِ (ب) (ترمذي

حاشیه : (الف) ابوذر فرمائي چې مورږدحضور سره پر سفر و موذن دماپښین د اذن کولو اراده وکړه نوحضور وفرمائل لَږ یې سُوږ(یَخ) که. بیایي د اذان کولو اراده وکړه حضور وفرمائل لَږ یې سُوږ که. تر دې چې موږ د پوټیانو سایه ولیدل.بیا حضور (ﷺ) وفرمائل چې سخته ګرمي دجهنم د تَاؤ څخه ده. (پر راروانَ صفحه)
شریف،باب ماجآء مواقیت الصلاة عن النبي،ص38،ابواب الصلاة،نمبر149/ابوداؤدشریف،باب المواقیت، ص62،نمبر393) په دې حدیث کي دټولو لمنځو وختونه بیان سوي دي.

او د ظُهر(ماپښین) آخري وخت یومثل ښوول سوئ دئ.اودیوه مثل وروسته دماځیګرشروع کیږي.د دغه حدیث په وجه صاحبین هم د دې قائل دي چې دماپښین وخت تریوه مثل پوري دئ.خوبیا هم احتیاط په دي کي دئ چې دیوه مثل وروسته دماپښین لمونځ نه وکړي اود دوومثلو څخه مخکي دماځیګرلمونځ ونه کړي .

لغت : فَيءُ الزّوَالِ : ټیك دماپښین په وخت کي چې لُمَر پر سَر ولاړوي هغه وخت چې کُومَه لږ سایه وي وهغه ته سایه اصلي او فَيء الزّوَال وائي.د دغه سایه څخه علاوه چې دهرشئ سایه دهغه دقد برابره سي دې ته یومثل سایه ویل کیږي. مثلا د یو سړي درختهقد) پنځه نیم فُټه ده. نودسایه اصلي څخه علاوه چې سایه پنځه نیم فُټه پوري ورسیږي نودایومثل دئ. اودسایه اصلي څخه علاوه چې یوولس(11) فُټ ته ورسیږي نو دُوَه مثل ده .

حاشيه : (تېرشوي صفحه) بس چي سخته ګرمي وي نولمونځ په يخنئ کي کوئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل چي جبرئيل دبيت الله سره دوه واره زما امامت کړئ دئ.نو يه دماپښين لمونځ په اول وخت کي راکړئ چي کله سايه دچپلکي په اندازه سوه. بيا يه دماځيګرلمونځ راکړئ هغه وخت چي دهرشئ سايه يومثل سوه.بيايه دمابنام لمونځ راکړئ کله چي لمر پرېواتئ او روزه دار روزه ماته کړه. بيايه دماخستن لمونځ راکړئ کله چي شفق ولوېدئ. بيايه دسهارلمونځ راکړئ چي کله سهارسو او خوراك پرروزه دارباندي حرام سُو. اودوم واريه دماپښين لمونځ راکړئ کله چي دهرشئ سايه يومثل سوه چي تېر ورځ يه کوم وخت دماځيګرلمونځ راکړئ و. بيايه دماځيګرلمونځ راکړئ کله چي دهرشئ سايه دوه مثل سوه. بيايه دمابنام لمونځ راکړئ په اول وخت کي بيايې دعشآء آخره لمونځ راکړئ کله چي دشپې دوي حصي تيري سوي وي.بيا يه دسهارلمونځ راکړئ کله چي پرمځکه اَسفَار(رونا)سوي وه.بيا وماته جبرئيل متوجه سواو وويل ايه محمد دا دتاځخه دمخکني انبيآء وخت دئ.او د لمنځو وخت د دي دوو وختوپه منځ کي دئ .

[136] (3) وَ اَوّلُ وَقتِ العَصرِ اِذَا خَرَجَ وَقتُ الظّهرِ عَلْي القَولَينِ وَ آخِرُ وَقتِهَا مَالَم تَغرُبِ الشّمسُ .

[136](3) د ماځيګر اوّل وخت کله چي دماپښين وخت ووزي پردواړو قولوباندي. او آخري وخت يي تر هغو دئ چي لُمَر نه وي لوېدلئ .

تشريح : د صاحبين د قول مطابق د مِثلِ اوّل وروسته د ماځيګر وخت شروع کيږي.اود امام ابوحنيفه دقول مطابق د دوومثلو وروسته د ماځيګر وخت شروع کيږي.او بعض محدثينو د دواړو رنګه حديثو په رُونَا کي فرمائلي دي چي ديوه مثل ځخه وروسته د دوومثلوځخه مخکي مهمل وخت دئ يعني نه د ماپښين وخت دئ نه دماځيګر .

پام لرنه : د احاديثوځخه معلوميږي چي دماپښين وروسته سم دستي د ماځيګر وخت شروع کيږي د دواړوترمينځ نه مُهمَل وخت سته نه مُشتَرَك وخت.داول حديث ځخه دامعلوميږي چي د ماځيګر آخري لمونځ يه پردوه مثل باندي اداء کړئ ولېکن په دوم حديث کي دئ چي د لُمَر تر پرېوتو پوري د ماځيګر وخت وجودلري.خوچي لُمَر ژَړ سي نولمونځ مکروه سي.نوځکه د لُمَر د ژړوالي ځخه مخکي دماځيګر لمونځ کول په کاردئ.خوبياهم د لُمَر د پرېوتو ځخه مخکي چي د ماځيګرلمونځ وکړي نوادآء دئ قضآء نه دئ.ځکه چي اوس خولاوخت پاته دئ.د لُمَر د پرېوتوځخه مخکي دماځيګر د وخت د وجود دليل .

وجه : (1) وَ سَبِّح بِحَمدِ رَبِّكَ قَبلَ طُلُوعِ الشّمسِ وَ قَبلَ غُرُوبِهَا (آيت130 سورةطه20) د لُمَر د پرېوتو ځخه مخکي دلمونځ کولو مطلب دادئ چي د ماځيګردلمانځه وخت د لُمَر تر پرېوتوځخه مخکي پوري سته (2) په حديث کي دئ.عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ مَن اَدرَكَ مِنَ الصّبحِ رَكعَةً قَبلَ اَن تَطلُعَ الشّمسُ فَقَد اَدرَكَ الصّبحَ وَمَن اَدرَكَ مِنَ العَصرِ رَكعَةً قَبلَ اَن تَغرُبَ الشّمسُ فَقَد اَدرَكَ العَصرَ [137](4) وَ اَوّلُ وَقتِ المَغرِبِ اِذَاغَرَبَتِ الشّمسُ وَآخِرُ وَقتِهَامَالَم تَغِبِ الشّفَقُ [138](5)

وَهُوَالبَيَاضُ الَّذِي يُرْي فِي الأُفُقِ بَعدَ الحُمرَةِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي هُوَ الحُمرَةُ .

(الف) (ترمذي شريف،باب ماجآءفيمن ادرك ركعة من العصرقبل ان تغرب الشمس،ص45،نمبر186/ بخاري شريف،باب من ادرك من الفجرركعة،ص٨٢،نمبر579) د لُمَر د پرېوتلو څخه مخکي د ماځيګر يو رکعت ورته ملاؤ سي نوګواکه د ماځيګر پوره لمونځ ورته ملاؤ سو.د دې مطلب دادئ چي دلمر دپرېوتوڅخه مخکي پوري دماځيګروخت دئ.

[137](4) د مابنام اوّل وخت کله چي لمر پريوزي او د هغه آخري وخت تر هغوچي شفق نه وي غائب سوئ .

وجه : دمابنام داول وخت باب حديث تپرسوئ دئ.اوحضرت جبرئيل دواړي ورځي د مابنام لمونځ د لُمَر د پرېوتو وروسته ورکړئ.ځکه چي مستحب وخت دغه دئ.لېکن دمابنام آخري وخت په حقيقت کي دشفق دغروب تروخته پوري دئ.دهغه دليل داحديث دئ.عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّ قَالَ اِذَاصَلّيتُمُ الفَجرَ ... فَاِذَا صَلّيتُمُ المَغرِبَ فَاِنّهُ وَقتٌ اِلْي اَن يَسقُطَ الشّفَقُ (ب) (مسلم شريف،باب اوقات الصلاة الخمس،ص222،نمبر612/ترمذي شريف،باب ماجآءفي مواقيت الصلواة،ص40،نمبر151) د دې حديث څخه معلوم سوچي دمابنام وخت دشفق تر پرېوتو پوري وجود لري.

[138](5) شفق هغه سپينه رُونّا ده چي په اُفُق کي د سُرخَئ وروسته بنکاره کيږي د امام ابوحنيفه په نېز.اوصاحبين وويل شفق(په خپله)هغه سرخي ده .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل چاته چي د سهار يو رکعت ملاؤ سو د لُمَر دراختلوڅخه مخکي ګواکه وهغه ته د سهار لمونځ ملاؤ سو.او چاته چي د لُمَر د پرېوتلوڅخه مخکي دماځيګر يورکعت ملاؤسو نوګواکه د ماځيګر لمونځ ورته ملاؤ سو (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل بس چي د مابنام لمونځ وکئ نودهغه وخت د شَفَق تر دوېمدو پوري وي .

تشريح : د لُمَر د لومړدو وروسته اوّل سرخي راځي بياسپينه رُونّا خوره وره وي. بيا وُږده سپينه رُونّا وي چي بياض مستطير او بيا بياض مستطيل ورته ويل کيږي.دهغه وروسته پر اُفُق باندي مکمله تاريکي خوره سي.د امام ابوحنيفه په نېز د سُرخَئ وروسته چي کوم بياض مستطير وي ترهغو دمابنام وخت دئ.دهغه وروسته دماخستن وخت شروع کيږي (1) په سهارکي بياض مستطير دسهار وخت دئ.دغه رنګه دمابنام وخت هم بايد چي بياض مستطير وائي.ځکه چي دواړه په يوه رنګ دي (2) په حديث کي دئ.سَمِعتُ اَبَامَسعُودِ الاَنصَارِيّ يَقُولُ ... وَيُصَلّي المَغرِبَ حِينَ تَسقُطِ الشّمسُ وَيُصَلّي العِشَآ ءَ حِينَ يَسوَدّ الأُفُقُ وَ رُبَمَا آخِرُهَا حَتّي يَجتَمِعَ النّاسُ (الف) (ابوداؤدشريف،باب في المواقيت ص63،62،نمبر 394) په دې حديث کي دئ چي حضوردماخستن لمونځ دافق دتورېدلو وروسته کاوئ. مطلب يه دادئ چي دبياض مستطير پوري دمابنام وخت سته.چي دسرخئ وروسته راځي.ځکه چي دسفيدئ (سپين والئ) دغائبېدلو وروسته اُفُق تُوريږي. د دې خبري تائيدد دې اثرڅخه هم کيږي.کَتَبَ عُمَرُبنِ

عَبدِالعَزِيزِ اَنّ صَلّوا صَلاَةَ العِشَآءِ اِذَا ذَهَبَ بَيَاضُ الأُفُقِ فِيمَابَينَكُم وَبَينَ ثُلُثِ اللّيلِ (مصنف عبدالرزاق،باب وقت العشآء الآخرة،ص556، نمبر2110) د دې اثرڅخه معلوم سوچې د اُفُق د سپينوالِي دختم کېدو وروسته يعني د شَفَقِ اَبيَض د ډوبېدو وروسته د ماخستن د لمانځه وخت وي .

فائده : د صاحبينُ او د جمهور امامانو په نېز د بياض مستطير څخه مخکي چې کومه سُرخِي ده ترهغو پوري دماشښام وخت وي.د دُوئي دليل دا حديث دئ.عَن اِبنِ عُمَرَ (ﷺ) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَلشّفَقُ اَلحُمرَةُ فَاِذَا غَابَ الشّفَقُ وَجَبَتِ الصّلْوةُ (ب) (دارقطني،باب صفة المغرب والصبح،ج1،ص 276،نمبر1044/سنن للبيهقي،باب دخول وقت العشآء بغيبوبة الشفق،ج1، ص548،نمبر1744) د دې حديث او د ابوهريره (رضي الله عنه) د قول څخه معلوميږي چې د سُرَه شفق

حاشيه : (الف) ابومسعود انصاري فرمائي چې حضور (ﷺ) لمونځ کاوئ د ماښام چې کله به لُمَر ډوب سو او د ماخستن چې کله به اُفُق تُور سو.اوکله به مؤخّر کاوئ تر هغو چې خلګ جمع سو (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل شفق هغه سرخي ده.بس چې شفق غائب سي نو د ماخستن لمونځ واجب دئ .

[139](6) وَ اَوّلُ وَقتِ العِشَآءِ اِذَا غَابَ الشّفَقُ وَ آخِرُ وَقتِهَا مَا لَم يَطلُعِ الفَجرُ [140](7) وَ اَوّلُ وَقتِ الوِترِ بَعدَ العِشآءِ وَ آخِرُ وَقتِهَا مَالَم يَطلُعِ الفَجرُ .

پوري د ماښام وخت دئ دهغه دغروبېدو وروسته دماخستن وخت شروع کيږي .

[139](6) دماخستن اوّل وخت چې شفق غائب سي او دهغه آخري وخت ترهغوچې فَجر نه وي طلوع سوئ .

وجه : د ماخستن د اوّل وخت په باره کي په مسئله نمبر12 اومسئله نمبر4 کي حديث تيرسوئ دئ. خو د آخري وخت په باب کي داحديث دئ. عَن عَائِشَةَ قَالَت اِعتَمّ النّبِيّ (ﷺ) ذَاتَ لَيلَةٍ حَتّي ذَهَبَ عَامّةُ اللّيلِ وَحَتّي نَامَ اَهلُ المَسجِدِ (الف) (مسلم شريف،باب وقت العشآء وتاخيرها ص229نمبر638) د دې حديث څخه معلوم سوچې عَامّةُ اللّيل يعني دشپې يوه غټه حصه تېرسوه. په بل حديث کي دئ چې نيمه شپه تېرسوه. نوځکه دنيمي شپې پوري دلمونځ کولو ثبوت په صحيح حديث سوئ دئ.او د شپې تر آخري پوري دماخستن دوخت دموجودوالئ دليل دصحابه قول دئ. قَالَ لاَبِي هُرَيرَةَ مَااَفرَطَ صَلْوةُ العِشَآءِ؟ قَالَ طُلُوعُ الفَجرِ وَعَن عَبدِالرّحمٰنَ بنِ عَوفٍ فِي اِمرَاَةٍ تَطهُرُقَبلَ طُلُوعِ الفَجرِ صَلّتِ المَغرِبَ وَالعِشَآ ءَ (ب) (السنن للبيهقي،باب آخروقت الجواز لصلوة العشآء،ج 1ص553،نمبر1763) دصحابي د دې قول څخه معلوم سو چې د ماخستن وخت دطلوع فجر څخه مخکي پوري وي. دټولو امامانو دغه مسلك دئ .

[140](7) دوترو اول وخت دماخستنه بعد دئ اودهغه آخي وخت ترهغوچې صبح صادق نه وي طلوع سوئ .

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمائي چي حضور يوه شپه دماخستن لمونځ وکړئ هغه وخت چي دشپې عام حصه تيرسوي وه.اودمسجد خلګ بيده سوي و (ب) دحضرت ابوهريرة څخه پوښتنه وسوه چي دماخستن لمونځ څه وخت کيږي؟وفرمائل چي ترطلوع فجرپوري.اودعبدالرحمن بن عوف څخه پوښتنه وسوه دهغه ښځي په اړه چي دطلوع فجرڅخه مخکي دحيض څخه پاك سي. وفرمائل چي د مابنام او ماخستن لمونځ به کوي .

[141](8) وَ يَستَحِبّ الإِسفَارُ بِالفَجرِ .

وجه : (۱) په حديث کي دئ. عَن خَارِجَةَ بنِ حُذَافَةَ اَنّهُ قَالَ خَرَجَ عَلَينَا رَسُولُ اللهِ فَقَالَ اِنّ اللهَ اَمَدّكُم بِصَلْوةٍ هِيَ خَيرٌلَكُم مِن حُمُرِالنّعَمِ اَلوِترُجَعَلَ اللهُ لَكُم فِيمَا بَينَ صَلْوةِ العِشَآءِ اِلْي اَن يّطلُعَ الفَجرُ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في فضل الوتر،ص103، نمبر452/ابوداؤدشريف،ابواب الوتر،باب استحباب الوتر،ص208،نمبر1418) د دې څخه معلوم سو چي د وِتر دلمانځه وخت دماخستن څخه ونيسي دصبح صادق تر راختو پوري دئ.اوپه حديث کي اَمَدّكُم يعني يولمونځ په زيات کړئ ددې څخه معلوم سوچي د وِترلمونځ واجب دئ.په دغه خوپرېنځو لمنځو زياتوب راځي.يوبل حديث دئ. عَن مَسرُوقٍ اَنّهُ سُئِلَ عَائِشَةُ (ؓ) عَن وِترِ النّبِيّ (ﷺ) فَقَالَت مِن كُلّ اللّيلِ قَد اَوتَرَ اَوّلَهُ وَ اَوسَطَهُ وَ آخِرَهُ فَانتَهْي وِترُهُ حِينَ مَاتَ فِي وَجهِ السّحَرِ (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء في الوتر اول الليل وآخره ص103 نمبر456) د دې حديث څخه معلوم سوچي د وترو لمونځ دشپې په اوّل،اوسط،او آخر کي کېدلائي سي .

[141](8) په سهارکي اِسفَارکول مستحب دئ .

تشريح : د سهار اصل وخت خو د طلوع صبح صادق څخه شروع کيږي.لېکن مستحب دادئ چي بنَه په اِسفَار(رُونَا)کي دسهار لمونځ شروع کي .

وجه : (1) جماعت به زيات وي کنه نوخلګ خو په غَلَس اوتياره کي لږ راځي او جماعت به قليل وي (2) په حديث کي دئ. عَن رَافِعَ بنِ خَدِيجٍ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ يَقُولُ اَسفِرُوا بِالفَجرِ فَاِنّهُ اَعظَمُ لِلاَجرِ (ج) (ترمذي شريف،باب الاسفار بالفجر،ص40، نمبر154/ابوداؤد شريف،باب في وقت الصبح،ص67،نمبر424)

حاشيه : (د) حضور (ﷺ) موږ لره راغلئ.ده وفرمائل الله يولمونځ زيات کړئ هغه ستاسو لپاره ترسرو وُښانو بهتر دئ. هغه وتر دئ. دغه الله ستاسولپاره دماخستن دلمانځه څخه ونيسي ترطلوع فجر پوري کړئ دئ (ب) حضور (ﷺ) په ټوله شپه کي وترکړي دي.دشپې په شروع کي.په منځ کي.او په آخرکي.په آخر کي د حضور (ﷺ) وترچي کله انتقال وکړئ دېښلمي پروخت و (ج) حضور (ﷺ) به فرمائل د سهار لمونځ په اِسفَار (رونا) کي کوئ په دي کي اجر و ثواب زيات دئ .

[142](9) وَ الإِبرَادُ بِالظّهرِ فِي الصّيفِ وَ تَقدِيمُهَا فِي الشّتَآءِ .

په دي کي الفاظ دارنګه دي اصبحوا بالصبح د دې څخه دامعلوم سوچي د سهار لمونځ په اسفار کي کول مستحب دئ .

فائده : د امام شافعي او نورو امامانو په نېز هر لمونځ په اوّل وخت کي کول مستحب دئ.او فجر په غلس او تاريکه کي کول مستحب دئ.د دوئي دليل داحديث دئ.اَنّ

عَائِشَةَ (ﷺ) اَخبَرَتهُ قَالَت كُنّ نِسَآ ءُ المُؤمِنَاتِ يُشهِدنَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلْوةَ الفَجرِ مُتَلَفِّعَاتٌ بِمُرُوطِهِنّ ثُمّ يَنقَلِبنَ اِلْي بُيُوتِهِنّ حِينَ يَقضِينَ الصّلْوةَ لاَيُعرَفُهُنّ اَحَدٌ مّنَ الغَلَسِ (الف) (بخاري شريف،باب وقت الفجر،ص82،نمبر578/مسلم شريف،باب استحباب التكبيربالصبح،ص230،نمبر645) په دې حديث کي وګوره چې په غلس کې لمونځ کړئ دئ.مورِ دا وايو چې که دمدينې په رکم خلګ په غلس کي مسجد له راځي لکه څرنګه چې دروژې په مياشته کې راځي نوبياخوغلس مستحب دئ اوکه چيري خلګ بيده وي نوبيا اِسفَار مستحب دئ .

[142](9) مستحب دئ په ګرمي کي دماپښين لمونځ په يخني کي کول اوپه يخنئ کي هغه مخکي کول .

وجه : (1) په حديث کې دئ. عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ حَدّثَاهُ عَن رَسُولِ اللهِ (ﷺ) اَنّهُ قَالَ اِذَا اِشتَدّ الحَرّ فَاَبرِدُوا بِالصّلْوةِ فَاِنّ شِدّةَ الحَرّ مِن فَيحِ جَهَنّمَ (ب) (بخاري شريف،باب الابردابالظهر في شدة الحر،ص76،نمبر533/ترمذي شريف،باب ماجآء في تاخيرالظهر في شدة الحر،ص40،نمبر157) ددې حديث څخه معلوم سوچې که ګرمي وه نودماپښين په لمانځه کي تأخيرمستحب دئ (2) او په حديث کي دئ. اَنَسُ بِنِ مَالِكٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) خَرَجَ حِينَ زَاغَتِ الشّمسُ فَصَلّي الظّهرَ (ج) (بخاري شريف،باب وقت الظهر

حاشيه : (الف) حضرت عائشې خبرورکړئ دئ چې مُؤمِنَاتِ ښځې به دحضور سره د سهار لمانځه لره حاضرېدلې په خپلو پرونانوکي پېچلي وې. بيابه خپلوکوروته تلې کله چې لمونځ به پوره کړئ دُوئي دتاريکئ په وجه نه پېژندل کېدلې (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل که ګرمي زيات وي نولمونځ په يخنئ کي کوئ.ځکه چې سخته ګرمي دجهنم د تَاوْښه ده (ج) حضور(ﷺ)راوواتئ لمرتر سر اوښتئ وُاودماپښين لمونځ يې وکړئ.

[143](10)وَتَأخِيرُ العَصرِ مَالَمَ تَتَغَيّرِ الشّمسُ[144](11) وَتَعجِيلُ المَغرِبِ .

عندالزوال،ص77،نمبر540) د دې څخه معلوم سو چې يَخ وي نو لمونځ ژرکول پکاردئ. په يو بل حديث کي دئ. سَمِعتُ اَنَسَ بِنِ مَالِكٍ يَقُولُ كَانَ النّبِيّ اِذَا اِشتَدّ البَردُ بَكّرَ بِالصّلْوةِ وَ اِذَا اِشتَدّ الحَرّ اَبرَدَ بِالصّلْوةِ يَعنِي اَلجُمعَةَ (الف) (بخاري شريف،باب اذا اشتدالحريوم الجمعة،ص124،كتاب الجمعة،نمبر906) د دې حديث څخه معلوم سوچې په يخ کي دي دماپښين لمونځ ژرکوي او په ګرمي کي دې ځنډوي .

[143](10) ماځيګر دي مؤخرکړي ترهغوچې په لُمَر کي ژېروالئ نه سي را .

وجه : (1) په حديث کي دئ.عَلِيّ بِنِ شَيبَانَ قَالَ قَدِمنَا عَلْي رَسُولِ اللهِ (ﷺ) اِلْي المَدِينَةِ فَكَانَ يُؤَخّرُالعَصرَ مَادَامَتِ الشّمسُ بَيضَآءَ بَقِيّةً (ب) (ابوداؤدشريف،باب في وقت صلوة العصر،ص65،نمبر408) (2) په بل حديث کي دئ.سَمِعتُ اَبَامَسعُودِ الاَنصَارِيّ يَقُولُ ... وَ رَأيتُهُ يُصَلّي العَصرَ وَالشّمسُ مُرتَفِعَةٌ بَيضَآ ءُ قَبلَ اَن تَدخُلَهَا الصّفرَةُ (ج) (دارقطني،باب ذكربيان المواقيت واختلاف الروايات في ذالك،ج1،ص259،نمبر975) د دې دواړوحديثوڅخه معلوم

سوچي د لُمَر د ژړوالي څخه مخکي پوري د ماځيګرلمونځ مؤخرکول مستحب دئ.چي دماځيګرڅخه مخکي سنتونه اونفلونه اداء کړي.ځکه چي دماځيګردلمانځه وروسته نفلونه نه سي کولائ .

[144](11) دمابنام لمونځ وختي کول(مستحب دئ)

وجه : (1) په لوړتېرسوي حديث کي دي وليدئ چي حضرت جبرئيل دواړي ورځي

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) چي کله به سخت يَخ و نو ژر به لمونځ کاوئ اوچي سخته ګرمي به وه نو لمونځ به يخ کاوئ يعني دجمعي لمونځ (ب) علي ابن شيبان فرمائي چي مورِ حضور (ﷺ) لره مديني ته راغلو نو حضور (ﷺ) ماځيګر ځنډاوئ تر هغو چي لُمَر سپين ځلېدئ (ج) ابومسعود انصاري فرمائي چي مَا حضور (ﷺ) وليدئ د ماځيګر لمونځ يې کاوئ په داسي حال کي چي لُمَر به لوړ و او روښان وُ. په هغه کي د ژړوَالِي د راتلو څخه مخکي .

[145] (12) وَتَأخِيرُ العِشَآءِ اِلْي مَاقَبلَ ثُلُثِ اللّيلِ [146](13) وَ يَستَحِبّ فِي الوِترِ لِمَن يَالِفُ صَلْوةَ اللّيلِ اَن يّؤَخّرَ الوَترَ اِلْي آخِرِاللّيلِ وَ اِن لَم يَثِق بِالاِنتِبَاهِ اَوتَرَ قَبلَ النّومِ .

پر يوه وخت دمابنام لمونځ ورکړئ ددې مطلب دادئ چي په اوّل وخت کي دمابنام لمونځ کول مستحب دئ (2) په حديث کي دئ.فَقَامَ اِلَيهِ اَبُو اَيّوبُ ... وَقَالَ اَمَا سَمِعتَ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) يَقُولُ لاَ تَزَالُ اُمّتِي بِخَيرٍ اَو قَالَ عَلْي الفِطرَةِ مَالَم يُؤَخّرُوا المَغرِبَ اِلْي اَن تَشتَبِكَ النّجُومُ (الف) (ابوداؤدشريف،باب في وقت المغرب ص66 نمبر 418) د دې حديث څخه معلوم سو چي دمابنام لمونځ ژرکول د خيرکاردئ .

[145](12) د ماخستن لمونځ دشپې د اَوّلَنئ دريمي حصې پوري ځنډول مُستَحَب دئ .

وجه : په حديث کي دئ.عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لَولاَ اَن اَشُقّ عَلْي اُمّتِي لاَمَرتَهُم اَن يُؤَخّرُوا العِشَآ ءَ اِلْي ثُلُثِ اللّيلِ اَو نِصفِهِ (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء في تاخيرالعشآءالآخرة،ص42،نمبر167/ابوداؤدشريف،باب ماوقت العشآءالآخرة،ص66،نمبر422) د دې څخه معلوم سو چي د ماخستن لمونځ دشپې تر اَوّلَنئ دريمي حصې پوري ځنډول مستحب دئ .

[146](13) په وِترُ کي مُستحب دهغه سړي لپاره چي د تهجد کولو شوق لري دا دئ چي وُ دې ځنډوي د شُپې تر آخري حصې پوري.اوکه بَرُوسَه نه وي د ويښېدو نو وِتر دي وکړي د بيدېدو څخه مخکي .

تشريح : څوك چي د تهجدشوق لري او عادت يې وي هغه دي وِتر د شُپې په آخري

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) به فرمائل زُمَا په اُمّت کي به هميشه خَير وي يا به پر فِطرَت پاته وي ترهغو چي د سُتُورُو تر ځلېدو پوري د مابنام لمونځ ونه ځنډوي (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل که وماته پر اُمّت باندي دتکليف ببره

نه وائ نو مَا به و دُوئي ته د ماخستن د لمانځه د شُپې تر اَوّلَنۍ دريمي حصي يا تر نيمي شُپې پوري دځنډولو حکم کړئ وائ .

حصه کي ادآ کړي.او کُوم څوك چي پر ځان د راپورته کښدو بَاوَر نه لري هغه لره د بيدښدلو څخه مخکي وِتر کول په کار دي .

وجه : په حديث کي دئ.عَن جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ(ﷺ) مَن خَافَ اَن لاَيَقُومَ مِن آخِرِاللّيلِ فَليُوتِر اَوّلَهُ وَمَن طَمَعَ اَن يَقُومَ آخِرَهُ فَليُوتِر آخِرَاللّيلِ فَاِنّ صَلْوةَ آخِرَاللّيلِ مَشهُودَةٌ وَ ذَالِكَ اَفضَلُ (الف) (مسلم شريف،باب من خاف ان لا يقوم من آخراللیل فليوتر اوّله، ص258،نمبر755) ددي حديث څخه معلوم سو چي وِتر په اخيرکي کول پکار دي.لېکن که دبيدښدو خطره وي نو دبيدښدلو څخه مخکې بايد اداء کړي .

لغت : يَثِقُ بِالإِنتِبَاهِ : پر ځان يې د راپورته کښدو بَرُوسَه وي .



حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل چي وکُوم چا ته داخطره وي چي د شُپې په آخري حصه کي به راوښ نه سي نوهغه دي دشپې په اَوّلَه حِصّه کي وِتر وکړي.اوڅوك چي دا اُمَيد لري چي د شُپې په آخري حِصّه کي به بيدار سي هغه لره پکار دئ چي په اخير شپه کي وِتر وکړي. ځکه چي د آخيري شُپې لمونځ حاضر کړل کيږي او دغه افضل دئ .

﴿... بَابُ الاَذَانِ ...﴾

[247](1) اَلاَذَانُ سُنّةٌ لِلصّلوَاتِ الخَمسِ وَالجُمعَةِ دُونَ مَاسِوَاهَا [148](2) وَلاَ تَرجِيعَ فِيهِ .

﴿... بَابُ الاَذَانِ ...﴾

ضروري پام لرنه : د اَلاَذَانُ معنْي ده اِعلاَن. په اَذَان کي دلمانځه اِعلاَن کيږي ځکه ودې ته اذان وائي د اذان ثبوت ددې آيت څخه دئ. يَا اَيّهَاالّذِينَ آمَنُوا اِذَا نُودِيَ لِلصّلاَةِ مِن يَومِ الجُمُعَةِ فَاسعَوا اِلْي ذِكرِاللهِ (الف) (آيت 9،سورة الجمعة62)

[147](1) اذان سنت دئ د پنځولمنځو لپاره او دجمعې لپاره نه ددې څخه د مَاسِوَا لپاره .

تشريح : دپنځولمنځواو دجمعې څخه علاوه د نَه سُنّتِيّت مطلب دادئ چې د (1) وتر (2) عيدين (3) جنازه (4) کسوف (5) استسقآء (6) تراويح (7) او سُنّتِ زَوَائِدُ لپاره اذان کول سنت نه دئ. د اذان د سُنّتِيّت دليل داحديث دئ. اَنّ اِبنَ عُمَرَ کَانَ يَقُولُ کَانَ المُسلِمُونَ حِينَ قَدِمُوا المَدِينَةَ يَجتَمِعُونَ فَيَتَحَيّنُونَ الصّلْوةَ لَيسَ يُنَادِي لَهَا فَيَتَکَلّمُوا يَومًا فِي ذَالِكَ فَقَالَ بَعضُهُم اِتّخِذُوا نَاقُوسًا مِثلَ نَاقُوسِ النَصَارْي وَقَالَ بَعضُهُم بَل بُوقًا مِثلَ قَرنِ اليَهُودِ فَقَالَ عُمَرُ اَوَلاَتُبعَثُونَ رَجُلاً يُنَادِي بِالصّلْوةِ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَابِلاَلُ. قُم فَنَادِي بِالصّلْوةِ (ب) (بخاري شريف،باب بدءالاذان،ص85،نمبر604/مسلم شريف،باب بدءالاذان، ص264،نمبر377) ددې حديث څخه معلوم سوچې دلمانځه لپاره اذان کول سُنّت دئ .

[148](2) په اذان کي ترجيع نسته .

حاشيه : (الف) ائ مؤمنانو د جمعې په ورځ دلمانځه لپاره چې اَذَان وسي نو د الله د ذِکر پر لوري په منډه وُلاړ سئ (ب) حضرت عبدالله بن عمر به فرمائل چې کله مسلمانان مديني ته راغلل نوجمع کېدل به او دلمانځه انتظار به کاوئ.د دُوئي لپاره اذان نه کېدئ.خلګوددي په اړه يوه ورځ خبره وکړل بعضو وويل چې ناقوس کښېږ دئ لکه څرنګه چې دنصاري و ناقوس وي. بعضو وويل بلکه بوق ديهود دبوق په رکم(بوق يوه تُرلَكَ او يو سارنګئ په رکم شئ دئ چې دهِنْدُوَانُو په مَنْدَرَانُو کي بجاويږي) نوحضرت عمر وفرمائل چې يوسړئ نه واستوو چې دلمانځه ږغ وکي؟ نوحضور (ﷺ) وفرمائل ائ بلال وَلاړ سَه د لمانځه لپاره ږغ (اذان) وکه .

[149](3) وَ يزِيدُ فِي اَذَانِ الفَجرِ بَعدَ الفَلاَحِ اَلصّلْوةُ خَيرٌ مِّنَ النّومِ مَرّتَينِ .

تشريح : د ترجيع مطلب دادئ چې اشهدان لااله الاالله اواشهدان محمدا رسول الله دُوَه دُوَه واره سوکه ووائي بيادغه دواړي کلمې دُوَه دُوَه واره په زوره ووائي.نودغه دواړي کلمې دوه واره راګرزي ځکه ودې ته ترجيع وائي.د احناف په نېز په اذان کي ترجيع نسته .

وجه : (1) عبدالله بن زيدچې فرشتو(ملائکو)اذان کاوئ ده په خوب کي وليدلې (2) اوحضرت بلال ته چې د اَذَان تلقين وکړئ په هغه کي ترجيع نه وه (3) عَن عَبدِاللهِ بِنِ زَيدٍقَالَ کَانَ اَذَانُ رَسُولِ اللهِ (ﷺ) شَفعًا شَفعًا فِي الاَذَانِ وَالاِقَامَةِ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في ان الاقامة مثني مثني،ص48،نمبر194/ابوداؤدشريف،باب کيف الاذان،ص78،نمبر499) په حضرت ابومحذوره باندې حضور (ﷺ) دُوَه دُوَه واره شهادتين ځکه ووېل چې دئ يې په زوره آواز سره ووايي.دده داخيال سو چې ترجيع اصل ده.حالانکه د شهادتين د تکرارڅخه مقصد په زوره ويناوه ترجيع نه وه .

فائده : د امام شافعي په نبز په اَذَان کي ترجيع سته.دده دليل دحضرت ابومحذوره هغه وُرِد حديث دئ.دغه حديث په(مسلم شريف،باب صفة الاذان ص165 نمبر379/ترمذي شريف،باب ماجآء في الترجيع في الاذان ص48 نمبر192) کي په تفصيل سره راغلئ دئ.د ابومحذوره حديث چي په دارقطني کي دئ په هغه کي ترجيع نسته. (دارقطني،باب في ذكر اذان ابي محذورة واختلاف الروايات فيه،ص241،نمبر892) په دې حديث کي دترجيع کلمات نسته .

پام لرنه : د تَطوِيل په وجه حديث نَه نقل کوم .

[149](3) د سهار په اذان کي دي د حَيّ عَلْي الفَلاَح وروسته اَلصّلْوةُ خَيرٌمِّنَ النّومِ زيات کړي .

حاشيه : (الف) عبدالله بن زيد فرمائي چي دحضور(ﷺ) اذان شفعه شفعه و.په اذان کي هم په اِقامَت کي هم.

[150] (4) وَ الاِقَامَةُ مِثلُ الاَذَانِ اِلاّ اَنّه يَزِيدُ فِيهَا بَعدَ حَي عَلْي الفَلاَحِ قَدقَامَتِ الصّلْوةُ مَرّتَينِ .

وجه : په حديث کي دئ. عَن بِلاَلٍ (رضي الله عنه) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَ تَثُوبَنّ فِي شَيئٍ مِّنَ الصّلَوَاتِ اِلاّ فِي صَلْوةِ الفَجرِ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في التثويب في الفجر،ص49،نمبر198) او په دارقطني کي دئ. سَمِعتُ اَبَامَحذُورَةَ يَقُولُ كُنتُ غُلاَمًا صَبِيًّافَاَذّنتُ بَينَ يَدَيّ رَسُولِ اللهِ اَلفَجرَ يَومَ حُنَينٍ فَلَمّابَلَغتُ حَيّ عَلْي الصّلْوةِ،حَيّ عَلْي الفَلاَحِ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَلحِق فِيهَا اَلصّلْوةُ خَيرٌ مِّنَ النّومِ (ب) (دارقطني،باب ذكرالاقامةواختلاف الروايات فيها ص244نمبر899) ددې څخه معلوم سوچي دسهار په اذان کي اَلصّلْوةُ خَيرٌمِّنَ النّومِ ويل په کاردئ .

[150](4) اقامت د اذان په ركم دئ مګر دابه پکښي زياتيږي د حَيّ عَلْي الفَلاَح وروسته قَدقَامَتِ الصّلْوةُ دوه واره .

وجه : د احناف په نبز د اَذَان په ركم اِقَامَت هم مَثْني مَثْني يعني دُوَه دُوَه واره دئ. يَويَو وارنه دئ.ددې دليل (1) په مسئله نمبر2 کي تېرسوئ دئ (2) په ابوداؤدکي د ابن ابي ليلْي يو وُرِد حديث نقل دئ دهغه په منځ کي دا لفظ سته فَاَذّنَ ثُمّ قَعَدَ قَعدَةً ثُمّ قَامَ فَقَالَ مِثلَهَا اِلاّ اَنّهُ يَقُولُ قَد قَامَتِ الصّلْوةُ (ج) (ابوداؤدشريف،باب كيف الاذان،ص81،نمبر 506) (3) يو دريم حديث دئ. عَن اِبنِ اَبِي لَيلَةَ عَن مَعَاذِ اِبنِ جَبَلٍ ثُمّ اَمهَلَ هَنِيئَةً ثُمّ قَامَ فَقَالَ مِثلَهَا اِلاّ اَنّهُ قَالَ (د) (ابوداؤد شريف،باب كيف الاذان،ص82،نمبر507) د ابومحذوره په حديث کي اقامت مَثْني مَثْني

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل په لمانځه کي په يوه کي لا تثويب مه کوئ لېکن د سهار په لمانځه کي (ب) ابومحذورة فرمائي چي زه کِشنَئ هلك وَم.بس مَا د حُنَين په ورځ د حضور (ﷺ) په مخکي اَذَان وکړئ.چي زه حي علي الصلوة حي علي الفلاح ته راورسېدم نو رسول الله (ﷺ) وفرمائل په دي کي الصلوة خيرمن النوم ورګډکه (ج) اَذَان يې وکړئ بيالږ ساتکئ کښېنستئ بيايې د اَذَان په ركم اِقَامَت وکړئ لېکن دا چي قدقامت الصلوة يې

ووائي (د) د معاذبن جبل څخه روايت دئ چي بيالږ څه ودرېدئ بيا وَلاړ سو بيايي وويل د اَذَان په ركم مګر دا چي وويل .

[151](5) وَ يَتَرَسّلُ فِي الاَذَانِ وَ يَحدِرُ فِي الإِقَامَةِ [152](6) وَ يَستَقبِلُ بِهِمَا القِبلَةَ .

دئ. قَالَ وَعَلّمَنِي الإِقَامَةَ مَرّتَينِ مَرّتَينِ (ابوداؤدشريف،باب كيف الاذان،ص79،نمبر502) ددې حديثو څخه معلوم سوچي د اَذَان په ركم اِقَامَت هم مَثْني مَثْني دئ.ځكه چي مثلها لفظ راغلئ دئ دهغه مطلب دادئ چي د اَذَان په ركم اِقَامَت هم مَثْني مَثْني سي .

فائده : د امام شافعي او د نورو اِمَامَانُو په نېز اِقَامَت فُرادْي فُرادْي يعني يويو وار ټوله كلمات دي.ماسوا د قدقامت الصلوة.د دُوئي دليل دېرحديثونه دئ مثلاً عَن اَنَسٍ قَالَ اَمَرَ بِلاَلٌ اَن يَشفَعَ الاَذَانَ وَاَن يُوتِرَ الإِقَامَةَ اِلاّ اَلإِقَامَةَ (الف) (بخاري شريف،باب الاقامة واحدة الاقوله قدقامت الصلوة،ص85،نمبر607/مسلم شريف،باب الامر بشفع الاذان وايتارالاقامة،ص164،نمبر378) ددې احاديثو په وجه جمهورامامان د اقامت دفُرادْي فُرادْي د استحباب قائل دي. د احنافو په نېز هم كه اقامت فُرادْي فُرادْي وكړي نو په اِقَامت كي څه كراهت نسته.صرف د افضليّت فرق دئ .

[151](5) سوكه سوكه دې كوي په اذان كي او ژر زر دې كوي په اقامت كي.

وجه : (1) په اَذَان كي آواز ليري رسول مقصد وي نو لدې وجهې په مابين كي دي لږ دريږئ اوكلمات دي اداءكوي.اوپه اِقَامَت كي صِرف په مسجدكي آواز رسول مقصد وي نوځكه مُسَلسَل دي كلمات اداءكوي په منځ كي دي نه دريږي (2) عَن جَابِرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ لِبِلاَلٍ يَا بِلاَلُ اِذَا اَذّنتَ فَتَرَسّل فِي ذَالِكَ وَ اِذَا اَقَمتَ فَاحدِر (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء في الترسل في الاذان،ص48،نمبر195) ددې حديث څخه معلوم سوچي اَذَان دي په درنګ درنګ كوي او اِقَامَت دي ژَر ژَركوي.دا مُستَحَب دئ .

لغت : تَرَسّلَ : په درنګ درنګ خبره كول ، يَحدِرُ : مسلسل خبري كول .

[152](6) د اذان او اقامت د وَينَا پر وخت دي د قبلې استقبال وكړي .

حاشيه : (الف) حضورحكم وكړئ وبلال ته چي اذان دي شُفعَ كړي اواِقَامَت دي وتركړي مګرده قدقامت الصلوة (ب) حضوروبلال ته وفرمائل ائ بلال چې اَذَان كوي نوپه درنګ يې كوه اوچې اِقامَت كوي نومسلسل يې كوه .

[153](7)فَاِذَا بَلَغَ اِلَي الصّلوةِ وَالفَلاَحِ حَوّلَ وَجهَهُ يَمِينًاوّشِمَالاً.

وجه : (1) د اَذَان او اقامت د وينا پر وخت وقبله ته مخامخ درېدل سُنّت دئ.لېكن كه ددې خلاف وكړل نو د اَذَان او اقامت ادائيګي صحيح سوه.البته د سُنّت مخالفت وسو (2) په حديث كي ددې ثبوت سته په ابوداؤدكي دمعاذبن جبل يو وُرِد حديث دئ په هغه كي يوعبارت دارنګه دئ. فَجَآ ءَ عَبدُاللهِ بِنِ زَيدٍ اِلَي رَجُلٍ مِن الاَنصَارِ وَقَالَ فِيهِ فَاستَقبَلَ القِبلَةَ (الف) (ابوداؤدشريف،باب كيف الاذان،ص82نمبر507) دباب في الاقامة څخه مخكي

داحديث دئ.ددې څخه دامعلوم سو چې فرشتې د استقبال قبلې په حالت کې اذان کړئ و.نوځکه د استقبال قبلې په حالت کې اَذَان او اقامت کول سُنّت دئ .

[153](7) بياچې و حَيّ عَلْي الصّلْوة حَيّ عَلْي الفَلاَح ته راورسيږی نوخپل مخ دي پر ښي اوکِنَه خوا وګرزوي .

تشريح : پر حي علي الصلوة دي پر ښئ خوا مخ وګرزوي چې د ښي طرف وخلګو ته د اَذَان خبر ورسيږي او په حي علي الفلاح کې دي وکښئ خواته مخ وګرزوي چې دکښې خوا وخلګو ته د اَذَان خبر ورسيږي .

وجه : ددې وجه په حديث کې داده عَن عَونِ اِبنِ جُحَيفَةَ عَن اَبِيهِ قَالَ اَتَيتُ النّبِيّ بِمَكّةَ وَهُوَ فِي قُبّةٍ حَمرَ آ ءَ مِن اُدُمٍ فَخَرَجَ بِلاَلٌ فَاَذّنَ فَكُنتُ اَتَتَبّعُ فَمَهُ هٰهُنَا وَهٰهُنَا ... فَلَمّا بَلَغَ حَيّ عَلْي الصّلْوةِ حَيّ عَلْي الفَلاَحِ لَوّي عُنُقَهُ يَمِينًا وَشِمَالاً وَلَم يَستَدِر (ب) (ابوداؤدشريف،باب في المؤذن يستديرفي اذانه،ص84،نمبر520) ددې حديث څخه معلوم سو چې په حي علي الصلوة حي علي الفلاح کې پرښئ اوکښه خوا مَخ ګرزول په کار دئ .

حاشيه : (ج) عبدالله بن زيد وفرمائل چې فرشتې وقبله ته استقبال وکړئ (اواذان يې وکړئ) (ب) ابوجحيفه فرمائي چې زه په مکه کې حضور (ﷺ) ته راغلم.دئ دچمړې (خَرمَن)په سره خيمه کې وُ نوبلاَل راوواتئ.بس اَذَان يې وکړي نو مَا د حضرت بلال دچهرې(مَخ) اِتّبَاع کولَه.ده کله پر دې خُوَا کله پر هَا خوُاَ مَخ ګرزاوئ... چې کله حي علي الصلوة حي علي الفلاح ته راورسېدئ نوخپله غاړه پر ښي اوکښه خوا وګرزول لېکن مکمّل نه وګرزېدئ .

[154](8) وَ يُؤَذّنُ لِلفَائِتَةِ وَيُقِيمُ فَاِن فَاتَتهُ صَلَوَاتٌ اَذّنَ لِلاُولْي وَ اَقَامَ وَكَانَ مُخَيّرًا فِي الثّانِيَةِ اِن شَآ ءَ اَذّنَ وَ اَقَامَ وَ اِن شَآ ءَ اِقتَصَرَ عَلْي الاِقَامِةِ .

[154](8) د ډېرو فوت سوو لمنځولپاره به اذان کيږي اواقامت به کيږي بس نوکه ډېر لمنځونه فوت سي.د اَوّل لمانځه لپاره دي اذان او اقامت وکړي.او په نورو لمنځوکي اختيار دئ که خُوښه سي د هر يوه لپاره دي اذان وکي او اقامت د وکي او که خُوښه سي صرف پر اِقَامَت دي اکتفآء وکړي .

تشريح : که يولمونځ فوت سوئ وي نو د هغه لپاره به اذان کيږي او اقامت به کيږي.اوکه ډېر لمنځونه وي نو وده ته اختيار دئ که خُوښه سي د هر يوه لپاره دي اذان وکړي او د هر يوه لپاره دي اقامت وکړي او که خُوښه سي صرف د اَوّل لپاره دي اذان وکړي او د نورو هر يوه لپاره دي اقامت وکړي .

وجه : (1) په حديث کې دئ. قَالَ عَبدُاللهِ اِنّ المُشرِكِينَ شَغَلُوا رَسُولَ اللهِ (ﷺ) عَن اَربَعَ صَلَوَاتٍ يَومَ الخَندَقِ حَتّي ذَهَبَ مِنَ اللّيلِ مَاشَآ ءَ اللهُ فَاَمَرَ بِلاَلاً فَاَذّنَ ثُمّ اَقَامَ فَصَلّي الظّهرَ ثُمّ اَقَامَ فَصَلّي العَصرَ ثُمّ اَقَامَ فَصَلّي المَغرِبَ ثُمّ اَقَامَ فَصَلّي العِشَآ ءَ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في الرجل تفوته الصلوات بايتهن يبدء،ص43،نمبر179،نسائي شريف، باب كيف يقضي الفوائت من الصلوات،ص72،نمبر623) ددې حديثوڅخه معلوم سوچې يو واردي اَذَان وکړي او د

نورو لپاره دي اقامت وکړي (اوکه خُوښه سي دهريوه لپاره دي اذان هم وکړي) (2) د اَذَان مقصد د دباندي څخه خلګ رابلل وي او په يوه اَذَان خلګ ټول سره جمع سو نوځکه د نورو لمنځو لپاره د اَذَان کولوڅه خاص

حاشيه : (الف) عبدالله بن مسعود فرمائي چې مُشرِکِينُ حضور (ﷺ) د خَندَق د غَزَا په ورځ د ځلورو لمنځو څخه مشغول کړئ.تردي چې دشپې يوڅه حصه لاهم تېره سوه.نويې وبلال ته حکم ورکړئ هغه اذان وکئ بيايې اقامت وکئ او د ماښښين لمونځ يې وکړئ بيايې اقامت وکئ او د ماځيګر لمونځ يې وکړئ بيايې اقامت وکئ او د ماښام لمونځ يې وکئ بيايې اقامت وکئ او د ماخستن لمونځ يې وکئ .

[155](9) وَ يَنبَغِي اَن يّؤَذِّنَ وَ يُقِيمَ عَلْي طَهَارَةٍ فَاِن اَذَنّ عَلْي غَيرِ وُضُوءٍجَازَ [156](10) وَيُكرَهُ اَن يّقِيمَ عَلْي غَيرِ وُضُوءٍ [157](11) اَو يُؤَذِّنَ وَ هُوَ جُنُبٌ .

حاجت نسته. خو هر فرض لمونځ په اَذَان سره شروع کيږي نو په دې وجه که د هر يوه لپاره جَلاَ جَلاَ اذان وکړي نوکولائي سي .

[155](9) مناسب دئ چې اذان او اقامت په اَودَاسَه سره ولولي.که اذان بغير د اَودَس وکړئ نو جائز دئ .

وجه : (1) په اذان کي مقصد و لمانځه ته رابلل وي او ذکر دئ نوځکه په اَودَاسَه سره دي اذان وکي.او د اقامت وروسته خو بس لمونځ کول دئ نوچې نور خلګ په لمانځه کي مشغول وي اولمانځه ته رابلونکئ سړئ په خپله اودس لره ولاړسي څومره بد به معلوميږي.نوځکه بغيره اَودَس اقامت کول مکروه دئ خوکه چيږي وکړئ نو اقامت اداسو (2) په حديث کي دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ (رضي الله عنه) عَنِ النّبِيّ (ﷺ) قَالَ لاَيُؤَذّنُ اِلاّمُتَوَضِّئُ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في كراهية الاذان بغيروضوء ص50 نمبر200) ددې حديث څخه معلوم سوچې بغير اودس اذان اواقامت کول مکروه دئ.

[156](10) او مکروه دئ چې اقامت وکړي بغير اودسه .

وجه : مخته دا خبره تېره سوه چې نورخلګ ولمانځه ته راوبولي او په خپله لمونځ پرېږدي اَودَس لره وُلاړ سي دا څومره بَدَه خبره ده ؟

[157](11) يااذان وکړي په داسي حال کي چې دئ جنب وي (نومکروه دئ)

وجه : (1) چې بغيره اَودَس اذان کول مکروه دئ نو د جنابت په حالت کي اذان کول په درجه اولې مکروه دئ (2) حديث په مسئله نمبر9 کي تېرسوئ دئ.(ترمذي شريف،نمبر300)

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل اَذَان دې نه کوي مګر د اَودَس په حالت کي .

[158](12) وَ لاَ يُؤَذّنُ لِصَلْوةٍ قَبلَ وَقتِهَا اِلاّ فِي الفَجرِ عِندَ اَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

[158](12) نه دي کيږي اذان دلمانځه لپاره دخپل وخت څخه مخکي ماسوا په سهار کي د امام ابويوسف په نېز .

وجه : (1) د اذان کولو مقصد وخت وربښوول وي. لېکن د وخت څخه مخکي په اذان کولوکي د وخت تجهيل راځي.نوځکه د وخت څخه مخکي دي اذان نه کوي (2) په مدينه طيبه کي د سهار اذان د وخت څخه مخکي کېدئ هغه د تهجدکونکو د راپورته کولو لپاره او چي کوموخلګوتهجدکړئ و وهغو ته د آرام کولو د اِطِّلاَع ورکولو لپاره کېدئ.نوکه چيري دمدينې طيبې اومکې مُکرّمې په شان يوځائ د تهجدکونکوکثرت (ډېرښت)وي نو د هغو د راپورته کولولپاره اذان کېدلائي سي په دغه وجه دسهاردلمانځه لپاره عبدالله ابن ام مکتوم دوم اذان کاوئ.په حديث کي دئ.عَن عَبدِاللهِ بِنِ مَسعُودٍ عَنِ النّبِيِّ قَالَ لاَيَمنَعَنّ اَحَدُكُم اَو اَحَدًا مِّنكُم اَذَانُ بِلاَلٍ مِن سُحُورِهِ فَاِنّهُ يُؤَذِّنُ اَو يُنَادِي بِلَيلٍ لِيَرجِعَ قَائِمُكُم وَ لِيُنَبِّهَ نَائِمُكُم (الف) (بخاري شريف،باب الاذان قبل الفجر،ص87،نمبر621/نسائي شريف،باب الاذان في غيروقت الصلوة، ص75،نمبر642) ددې حديث څخه معلوم سوچي په شپه کي دحضرت بلال اذان دسهاردلمانځه لپاره نه و. د تهجدکونکو د راپورته کولولپاره و.په دغه وجه خودلمانځه پر وخت حضرت عبدالله ابن ام مکتوم دوباره بيا اذان کاوئ.په حديث کي دئ (3) عَن عَائِشَةَ عَنِ النّبِيِّ اَنّهُ قَالَ اِنّ بِلاَلاً يُؤَذِّنُ بِلَيلٍ فَكُلُوا وَاشرَبُوا حَتّي يُؤَذِّنَ اِبنَ اُمِّ مَكتُومٍ (ب) (بخاري شريف،باب الاذان قبل الفجر،ص87،نمبر622/ترمذي شريف،

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل دتاسو څخه دي يو د بلال اَذَان د پېښلمي څخه نه کړي منع ځکه چي دئ اَذَان کوي په شُپَه کي چي دتاسوځخه په تهجدکي ولاړ خلګ واپس سي.او د تاسوځخه بيده خلګ را وِښ سي (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل چي بلال په شُپَه کي اَذَان کوي ځکه پېښلمئ خورئ اوچيښئ. تر هغو چي عبدالله ابن ام مکتوم اذان وکړي .

باب ماجآء في الاذان بالليل،ص50،نمبر203) (4) که د وخت څخه مخکي اَذَان وکئ نو اَذَان به راګرزوي په حديث کي دئ. عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ بِلاَلاً اَذّنَ بِلَيلٍ فَاَمَرَهُ النّبِيّ (ﷺ) اَن يُنَادِيَ اَنّ العَبدَ قَد نَامَ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في الاذان بالليل،ص50،نمبر203/ ابوداؤدشريف،باب في الاذان قبل دخول الوقت،ص86،نمبر532) ددې حديث څخه معلوم سوچي حضرت بلال د وخت څخه مخکي اَذَان وکړئ نوحضور (ﷺ) و ده ته د خلګو په مخکي د معذرت غُوښتلو وَيناوکړه چي. اِنّ العَبدَ قَد نَامَ. ووايه (5) اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ لَهُ لاَ تُؤَذِّن حَتّي لِيَتَبَيّنَ لَكَ الفَجرُ هٰكَذَا وَ مَدّ يَدَيهِ عَرضًا (ب) (ابوداؤدشريف،باب في الاذان قبل دخول الوقت،ص86،نمبر534)

فائده : خو بيا هم د ړغه تېرشو احاديثو په وجه امام ابويوسف او امام شافعي فرمائي چي که دسهارځخه مخکي اَذَان وکئ نو اَذَان صحيح کېږي. په نورو لمنځو کي د وخت څخه مخکي اَذَان نه صحيح کيږي .

K

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عمر فرمائي چي حضرت بلال په شپه کي اذان وکړئ نوحضور (ﷺ) و ده ته حکم وکړئ چي ږغ وکړه چي زه دخوب وَم (ب) حضور (ﷺ) وحضرت بلال ته وفرمائل چي اذان مه کوه تر هغو چي سهار ستا دپاره (وتاته) واضح سوئ نه وي دارنګه .

﴿... بَابُ شُرُوطِ الصّلْوةِ اَلّتِي تَتَقَدّمُهَا ...﴾

[159](1) يَجِبُ عَلْي المُصَلّي اَن يّقَدّمَ الطّهَارَةَ مِنَ الاَحدَاثِ اَوِ الاَنجَاسِ عَلْي مَا قَدّمنَاهُ .

ضروري پام لرنه : شُروط : د شرط جمع ده.هغه فرضونه چي دلمانځه څخه مخکي اداسي.کوم فرضونه چي په لمانځه کي دننه لازم دي وهغوته اَرکَان ويل کيږي.لکه د مُصَلّي د بدن پاکېدل. دا شرطونه شپږ دي (1) دبدن پاکي دحدث او نجس دواړوڅخه (2) دځائ پاکي (3) دکپړو(جامې) پاکي (4) دسترپټول (5) دلمانځه نيت کول (6) وقبله ته مخامخ کېدل. تفصيل يې مخته راروان دئ .

[159](1) واجب دئ پرلمونځ کونکي باندي چي اوّل پاکي حاصله کړي دحَدَث څخه اونَجَس څخه لکه مخکي چي مورِ بيان کړل .

تشريح : دحدث دوه قسمونه دي.حدث اصغر لکه د اودس کولوضرورت وي او حدث اکبر لکه دغسل کولوضرورت وي لکه جنابت عارض سوئ وي يادحيض يانفاس څخه پاکه سي.خومُصَلّي لره د دې دواړو حدثوڅخه پاکي ضروري ده. د حدث اصغر څخه دپاکئ دليل دا آيت دئ.وَ اِذَا قُمتُم اِلْي الصّلْوةِ فَاغسِلُوا وُجُوهَكُم وَ اَيدِيكُم اِلْي المَرَافِقِ الخ (آيت 6 سورة المائدة 5) او د حدث اکبرڅخه دپاکئ دليل دا آيت دئ. وَ اِن كُنتُم جُنُبًا فَاطّهّرُوا (آيت 6 سورة المائدة 5) او د نجاست څخه دپاکئ دليل دا آيت دئ وَ ثِيَابَكَ فَطَهّر(آيت 4، سورة المدثر74) دا ښکاره خبره ده چي پر کپړه نجاست لګېدلئ وي نوځکه دنجاست څخه دپاکئ دليل په دې آيت کي موجود دئ.ددې حديث څخه هم معلوميږي.

يَاعَمّارُ اِنّمَايُغسَلُ الثّوبُ مِن خَمسٍ مِنَ الغَائِطِ وَالبَولِ وَالقَيءِ وَالدّمِ وَالمَنِيّ (دارقطني،باب نجاسة البول والامر بالتنزه منه،ج اوّل،ص 134،نمبر452) ددې حديث څخه معلوم سوچې دبدن کپړې اومکان (ځائ) ددې نجاستو څخه پاکئ ضروري ده.نورتفصيل يې په بَابُ الأنجَاس کي وګورئ .

[160](2) وَ يَستُرُ عَورَتَهُ [161] (3) وَ العَورَةُ مِنَ الرّجُلِ مَا تَحتَ السّرّةِ اِلَي الرّكبَةِ وَ الرّكبَةُ عَورَةٌ دُونَ السّرّةِ .

[160](2) مُصلّي دي خپل ستر پټ کړي .

وجه : په آيت کي دئ. يَابَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُم عِندَ كُلّ مَسجِدٍ (الف) (آيت31،سورة الاعراف7) او په حديث کي دئ. عَائِشَةَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) لاَ تُقبَلُ صَلٰوةُ حَائِضٍ اِلاّ بِخِمَارٍ (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء لاتقبل صلوة المرءة الحائض الابخمار،ص86،نمبر377،ابواب الصلوة/ ابوداؤدشريف،باب المرءة تصلي بغيرخمار،ص101،کتاب الصلٰوة،نمبر641) ددې حديث څخه معلوم سو چې مصلي لره ستردعورت ضروري دئ .

[161](3) د نَر ستر د نُه څخه لاندي ترځنګون پوري دئ.اوځنګون ستر دئ نه کي نُه (نوم) .

تشريح : ځنګون په ستر کي داخل دئ او نُه (نوم) په ستر کي نه دئ داخل په دغه وجه که په لمانځه کي نُه (نوم) بنکاره سي نولمونځ نه خرابيږي. لېکن که دځنګون څلورمه حصه بنکاره سي نولمونځ خرابيږي .

وجه : (1) په حديث کي دئ چې نُه(نوم) په ستر کي نه دئ شامل اوځنګون په ستر کي داخل دئ. سَمِعتُ عَلِيًّا يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اَلرّكبَةُ مِنَ العَورَةِ (ج) (دارقطني،باب الامربتعليم الصلوة والضرب عليهاوحدالعورة التي يجب ستر هاج 1 کتاب الصلوة ص23 نمبر878) (2) عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مُرُوا صِبيَانَكُم بِالصّلاَةِ فِي سَبعِ سِنِينَ وَ اِضرِبُوهُم عَلَيهَا فِي عَشرٍ وَ فَرّقُوا بَينَهُم فِي المَضَاجِعِ وَ اِذَا زَوّجَ اَحَدُكُم خَادِمَهُ مِن عَبدِهِ اَو اَجِيرِهِ فَلاَيَنظُرُونَ اِلَي شَيئٍ مِن عَورَتِهِ فَاِنّ كُلّ شَيئٍ اَسفَلَ مِن سُرّتِهِ اِلَي رُكبَتِهِ مِن عَورَتِهِ (د) (سنن للبيهقي،باب

حاشيه : (الف) ائ د آدم زُويَه دهرلمانځه په وخت کي زينت اختيار وئ (يعني ستر پټوئ) (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل دښځي لمونځ نه صحيح کيږي مګر په پروني کي (ج) حضور (ﷺ) وفرمائل ځنګون په ستر کي دئ (د) حضور(ﷺ) وفرمائل وخپلو اولادو ته دلمونځ حکم ورکوئ د وُو(اُوُو)کالُ په عمرکي (راروانَ صفحه)

[162] (4) وَ بَدَنُ المَرءَةِ الحُرّةِ كُلّهُ عَورَةٌ اِلاّ وَجهَهَا وَ كَفّيهَا .

عورة الرجل ج2 ص324نمبر3235.دارقطني،باب الامربتعليم الصلاة والضرب عليهاوحدالعورة التي يحب ستر هاص237نمبر876) د حضرت علي په حديث کي راغلي وُچي ځنګون په ستر کي دئ.په دغه وجه د ابن شعيب په حديث کي د اِلَي رُكبَتَهِ ترجمه،سره دځنګون،کړې ده.لکه د وَاَيدِيكُم اِلَي المَرَافِقِ ترجمه يې،سره دږيرئ،کړې ده. نوځکه ځنګون به په سَتر کي داخل

وي.او د عمرو ابن شعيب حديث اَسفَلَ مِن سُرّتِهِ دئ.چي مطلب يې دادئ چي د نُه (نوم) څخه کښته کښته ستر دئ . نُه (نوم) په ستركي نه دئ داخل .
فائده : د امام شافعي په نېز ځنګون په ستركي نه دئ.دده دليل داحديث دئ.عَن عُمَرَبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ...فَلاَيَنظُرُ اِلْي مَادُونَ السّرّةِ وَفَوقَ الرّكبَةِ فَاِنّ مَاتَحتَ السّرّةِ اِلْي الرّكبَةِ مِنَ العَورَةِ (الف) (دارقطني،باب الامربتعليم الصلوات والضرب عليهاوحدالعورة التي يجب سترها،ص237،نمبر876/ابوداؤدشريف،باب مٰتي يؤمرالغلام بالصلاة،ص78،نمبر496) په دې حديث کي دځنګون څخه لوړ ته ستر ويل سوي دي.ځکه دده پر مذهب ځنګون په ستر کي نه دئ داخل .
پام لرنه : ددې احاديثو په وجه دبعضواحنافوداقول دئ چي ځنګون په لمانځه کي ښکاره سي نولمونځ نه فاسدوي.او دايې هم ويلي دي چي دځنګون سترمعمولي دئ او د نورو ځايو سَتر ترهغه سخت دئ او د شرمګاه (فرج) د تر هغه هم سخت دئ .
لغت : اَلسّرّةُ : نُه (نوم). اَلرّكبَةُ : ځنګون .
[162](4) د آزاد ښځي بدن ټولَ ستر دئ ماسوا ددې د مَخ او ددې د دواړو ورغوڅخه .

حاشيه : (تېر شوې صفحه) او پرهغه باندې وهئ.دلسوکال ُپه عمرکي.اودوئي جلابيدوئ. اوچي دتاسو څخه څوك وخپل خادم يامزدورته واده وروکي نودهغه دسترڅخه دي ويوه شي ته نه ګوري.ځکه چي هرشئ چي دنُه (نوم) څخه لاندي دئ.دځنګون سره هغه دده ستر دئ (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل چي د نُه (نوم) لاندي اودځنګون څخه لوړدي نه ګوري.ځکه چي د نُه څخه لاندي تر ځنګون پوري ستر دئ .
تشريح : د آزادښځي مخ او ورغوي ستر نه دئ.يعني که دا په لمانځه کي ښکاره سي نو لمونځ نه فاسديږي .
وجه : (1) په آيت کي دئ وَلاَ يُبدِينَ زِينَتَهُنّ اِلاّمَاظَهَرَ مِنهَا (الف) (آيت31سورة النور24) د آيت مطلب دادئ چي ښځي دي خپل زينت نه ښکاره کوي ليکن کوم زينت (ښائست) چي په خپله ښکاره سي نوپه هغه کي څه حرج نسته. اوحضرت ابن عباس فرمائي چي مَخ او لاَسُونَه په خپله ښکاره کيږي نوځکه هغه په ستركي نه دي.عَن اِبنِ عَبّاسٍ فِي قَولِهِ وَلاَيُبدِينَ زِينَتَهُنّ اِلاّمَاظَهَرَ.الآية قَالَ اَلكُحلُ وَالخَاتَمُ (سنن للبيهقي،باب عورة المرءة الحرة،ج2،ص319،نمبر3626) په دې اثرکي د اَلكُحلُ څخه مراد د رَانجُو دلګولوځائ يعني مَخ مراد دئ او دخَاتَمُ څخه دګوتمئ په لاس کولوځائ يعني لاس مراد دئ.چي لاس اومخ ښکاره وي نوداسترنه دئ (2) ددې دواړو د ښکاره کولوضرورت هم سته په دغه وجه په لمانځه کي داسترنه دي (3) په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ (ﷺ) ... قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) يَا اَسمَآ ءُ اِذَا بَلَغَتِ المَحِيضَ لَم يُصلِح لَهَا اَن يّرْي مِنهَا اِلاّ هٰذَا وَهٰذَا وَ اَشَارَ اِلْي وَجهِهِ وَكَفّيهِ (ب) (ابوداودشريف،باب ماتبدي المرءة من زينتها،ج2،ص123،نمبر4104،كتاب اللباس) ددې حديث څخه معلوم سوچي د آزادِ ښځي مَخ او وَرغَوِي ستر نه دي .

پام لرنه : قَدَم په لمانځه کي ستر دئ يانه دئ په دي کي اختلاف دئ.بعض حضرات فرمائي چې د قَدَم وخلاصولو (لځولو) ته انسان ډېر اَحوَج دئ د وَرغَوُ تر خلاصولو.چې ورغوي په ستر کي نه دئ نو قَدَم هم بايد په ستر کي نه سي شامل. بياخو قَدَم هم مقام زينت دئ.لېکن بعض نورحضرات فرمائي چې قدم ستردئ اوهغه ددې حديث څخه استدلال کوي.عَن اُمِّ سَلَمَةَ اَنّهَاسَاَلتِ النّبِيّ (ﷺ) اَتُصَلِّي المَرءَ ةُ فِي دِرعٍ وَ خِمَارٍ لَيسَ عَلَيهَا اِزَارٌ؟ قَالَ اِذَا كَانَ الدِّرعُ سَابِغًا يُغَطِّي ظُهُورَ

حاشيه : (الف) ښځي دي خپل زينت(ښائست)نه ښکاره کوي لېکن هغه چې په خپله ښکاره سي (يعني مخ او ورغوي) (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل ائ اسمآء ښځه چې بالغ سي نو ددې صَلاَحِيّت نه لري چې دا وليدل سي مَاسِوَا ددې او ددې ځايو څخه.اوحضور (ﷺ) وخپل مَخ او وَرغَوِي ته اشاره وکړه .

[163](5) وَ مَا كَانَ عَورَةٌ مِنَ الرّجُلِ فَهُوَ عَورَةٌ مِنَ الاَمَةِ وَ بَطنُهَا وَ ظَهرُهَا عَورَةٌ وَ مَا سَوْي ذَالِكَ مِن بَدَنِهَا لَيسَ بِعَورَةٍ .

قَدَمَيهَا (الف) (ابوداؤدشريف،باب في كم تصلي المرءة،ص101،كتاب الصلاة،نمبر640) ددې حديث څخه معلوم سوچې دښځي دواړي پښې پټې وي نولمونځ جائزدئ.نوځکه دښځي دواړي پښې ستر دي .

پام لرنه : ددې احاديثو او ضرورت په وجه بعض علمآء فرمائي چې په لمانځه کي ستر دي لېکن دباندي نه دي ستر .

[163](5) د نرَ چې څونه اَندَامُونَه ستر دي هغه د مينځي دا هم ستر دي او د هغې نَس او د هغې شَا هم ستر دي ددې څخه علاوه ددې دبدن څخه نه دئ ستر .

تشريح : دمينځي د وَرِې څخه ونيسې ترځنګانه پوري ستردئ.لېکن سر،غاړه، بازوګان،پُندَئ او پښې ستر نه دي .

وجه : (1) مينځه دخپل مولْي دکار لپاره دباندي وزي که چيري دغه اعضآء سترسي نو حرج به لازم سي.ځکه دغه اعضآ سترنه دي.په لمانځه کي که دغه اعضآء ښکاره سي نو لمونځ نه فاسديږي (2) اَنّ صَفِيّةَ بِنتِ اَبِي عُبَيدٍ حَدّثَتهُ قَالَت خَرَجَت اِمرَاَةٌ مُتَخَمِّرَةٌ مُتَجَلبِبَةٌ فَقَالَ عُمَرُ مَن هٰذِهِ المَراَةُ ؟ فَقِيلَ لَهُ هٰذِهِ جَارِيَةٌ لِفُلاَنٍ رَجُلٍ مِن بَنِيهِ فَاَرسَلَ اِلْي حَفصَةَ مَاحَمَلَكِ عَلْي اَن تَخَمّرِي هٰذِهِ الاَمَةِ وَتَجَلبِيهَاتَشبِيهِهَابِالمُحصَنَاتِ حَتّي هَمَمتُ اَن اَقَعَ بِهَا لاَ اُحسِبُهَا اِلاّ مِنَ المُحصَنَاتِ لاَ تَشَبّهُوا اَلاِمَآ ءَ بِالمُحصَنَاتِ (ب)

حاشيه : (الف) اُمّ سلمة دحضور (ﷺ) څخه پوښتنه وکړه چې اَيَا ښځه په قميص اوپيروني کي چې پربدن باندي ازار(پرتوګ) نه وي لمونځ کولائي سي؟حضور وفرمائل چې قميص دومره وُږدوي چې ددواړوقدمو لوړه حصه پټه کړي نوکولائي سي (ب) د صفيه بنت ابي عُبَيدبيان دئ چې يوې ښځي پيرونئ پرسر کړئ په پرده کي راووتل نوحضرت عمر پوښتنه وکړه چې څوك ده؟ و ده ته وويل سو چې دفلاني مينځه ده.د دُوئي د هلکانو څخه ديوه نوم يه واخستئ نوده حضرت حفصه ته اِطّلاَع ورواستول چې تاسوکوم شي راپاسولي ياست پردې خبره چې ودې مينځه ته پيرونئ ورپرسرکئ او پر دې باندي پَردَه واچوئ او د آزاد ښځو په رنګ يې کړئ؟ تر دې چې مَا دا سوچ وکړئ چې دا وَوَهَم. مَا دا نَه ګڼل مګر آزاد ښځه.مينځي د آزادُ ښځو په رنګ مه کوئ .

[164](6) وَ مَن لَم يَجِد مَا يُزِيلُ النِّجَاسَةَ صَلّي مَعَهَا وَ لَم يُعِد [165](7) وَ مَن لَم يَجِد ثَوبًا صَلّي عُريَا نًا قَاعِدًا يُؤمِي بِالرّكُوعِ وَ السّجُودِ .

(سنن للبيهقي،باب عورة الامة،ج2،ص320،نمبر3221) ددې حديث څخه معلوم سوچې د مينځې دومره ستر نه دئ څومره چې د آزادښځې دا دئ.لېکن تيئ اوځيګر (سينه) موضع د شهوت (خوند) دي په دغه وجه به دا ټول ځايونه په ستر کې شامل وي .
پام لرنه : خالص مينځه : مُدَبّره،اُمّ وَلَدَه ټولي په خالص مينځه کې شاملي دي .
[164](6) که دارنګه شيئ نه کړئ پيداچې نجاست په زائل کړي نود دارنګه نجاست سره به لمونځ کوي او وروسته به نه راګرزوي .
تشريح : پرکپړو ياپربدن باندې نجاست لګېدلئ وي لېکن دنجاست د زائلولو لپاره اودهغه دمينځلو لپاره دده سره اُوبَه يا بيدونکي شيئ نه وي نو دئ به په هغه کپړوکي او د هغه بدن سره لمونځ کوي .
وجه : دده په طاقت کې تردې زيات څه نسته اوشريعت در طاقت زيات څوك نه مُکلّف کوي.نوځکه دده لمونځ به جواز پيداکړي. د بيا راګرزولو ضرورت به نه وي .
[165](7) څوك چې کپړه نه کړي پيدا هغه به لځ لمونځ کوي.په ناستي به درکوع اوسجدې اشاره کوي .
وجه : (1) دده سره بالکل کپړې نه وي يا خوکپړې وي لېکن د درو حصو(برخو) څخه زيات برخه ناپاك وي نوګواکه دده سره کپړې دسره سته نه.نوځکه دئ به لځ لمونځ کوي.خوپه ولاړي به دليري څخه سترښکاره کيږي اوبدبه معلوميږي نولدې کبله قيام به پريږدي اوپه ناست به لمونځ کوي.اودرکوع اوسجدې لپاره به اشاره کوي.ځکه چې دغه دده په وس کې سته (2) عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَ لّذِي يُصَلّي [166](8) فَاِن صَلّي قَائِمًا اَجزَاهُ وَ الاَوّلُ اَفضَلُ [167](9) وَيَنوِيَ لِلصّلْوةِ اَلّتِي يَدخُلُ فِيهَا بِنِيّةٍ لاَيَفصِلُ بَينَهَا وَ بَينَ التّحرِيمَةِ بِعَمَلٍ .

فِي السّفِينَةِ وَالّذِي يُصَلّي عُرِيَانًا يُصَلّي جَالِساً (الف) (مصنف ابن عبدالرزاق،باب صلوة العريان ج2ص584نمبر4565) ددې اثرڅخه معلوم سوچې لځ سړئ به دمجبورئ په وجه په ناستي فرض لمونځ اداکوي او دده څخه قيام ساقطه ده .
لغت : يُؤمِي : اشاره به کوي .
[166](8) بياکه لځ سړي په ولاړي لمونځ وکئ نوکفايت کوي لېکن اوّل افضل دئ(يعني په ناستي لمونځ کول) .
وجه : (1) د مرض د مجبورئ پر وخت ناسته د وَلاَړي قائم مقام ده. او د رکوع او سجدې نائب هغه په اشاره سره اداء کول دي.ځکه ددې ټولو اَرکَانُ نائب پيداسو.لېکن

په ولاړه کي دستردښکاره کېدو بدنمائي (بدوالئ)واضح دئ اوددې نائب هم نه سوپيدا نوځکه په ناستي لمونځ کول افضل دئ چې عندالله اوعندالناس دبدنمائي څخه ځان وژغوري.خوبياهم که په ولاړي لمونځ وکړي لمونځ به اداسي.ځکه چې دا مجبوري ده (2) په اثرکي دئ. عَن مَيمُونَ بنِ مِهرَانَ قَالَ سُئِلَ عَلِيّ عَن صَلْوةِ العُرَيَانِ فَقَالَ اِن كَانَ حَيثُ يَرَاهُ النّاسُ صَلّي جَالِسًا،وَ اِن كَانَ حَيثُ لاَيَرَاهُ النّاسُ صَلّي قَائِمًا (مصنف ابن عبدالرزاق،باب صلوة العريان،ج 2،ص584، نمبر4566) ددې اَثَر څخه په ولاړي دلمانځه کولو ګنجائش معلوميږي.

[167](9) دهغه لمانځه نيّت دي وکړي په کُوم کي چې داخليږي داسي نيّت چې دهغه په مابين کي او د تحريمه په مابين کي د يوعمل په ذريعه فصل نه وي .

تشريح : نيّت د ارادې نوم دئ.دتحريمې سره سره دا اراده وي چې زَه دفلاني وخت

حاشيه : (الف) د ابن عباس څخه روايت دئ چې څوك په کښتئ کي لمونځ کوي اوځوك چې لځ لمونځ کوي هغه دي په ناستي لمونځ کوي .

[168](10) وَ يَستَقبِلُ القِبلَةَ اِلاّ اَن يّكُونَ خَآئِفًا فَيُصَلّي اِلْي اَيّ جِهَةٍ قَدَرَ .

لمونځ کوم.که دزړه د ارادې بغيره لمونځ وکئ يايه تکبيرتحريمه وکئ نولمونځ يه نه سوصحيح.که چيري نيّت وکئ بيا په يوبل کارمشغول سو اودهغه کار وروسته دوم وار دنيّت بغيرتکبيرتحريمه وکئ نو د تکبيرتحريمه پر وخت نيت نه وُ نو احرام(تکبيرتحريمه)هم نه سوصحيح .

وجه : داحديث دئ سَمِعتُ عَمَرَ اِبنِ خَطّابٍ عَلْي المِنبَرِ يَقُولُ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ (ﷺ)يَقُولُ اِنّمَاالاَعمَالُ بِالنّيّاتِ (الف) (بخاري شريف، باب كيف كان بدء الوحي الي رسول الله ص2نمبر1) او که د امام اقتدآءکوي نو د انيّت به هم کوي چې زَه ددې امام په اقتدآء کي لمونځ کوم.ځکه چې دمقتدي لمونځ دامام دلمانځه سره متضمن دئ .

وجه : عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ قَالَ اِنّمَاجُعِلَ الاِمَامُ لِيُؤتَمّ بِهِ فَلاَتَختَلِفُوا عَلَيهِ فَاِذَا كَبّرَ فَكَبّرُوا (ب) (مسلم شريف،باب ائتمام الماموم بالامام،ص177،كتاب الصلوة،نمبر414/بخاري شريف،باب انما جعل الامام ليؤ تم به،ص95،نمبر688) ددې حديث څخه معلوم سو چې مقتدي به د امام مکمله اقتدآء کوي.دهغه څخه اِنحِرَاف بايد نَه وکي. ځکه د امام د اقتدآء نيّت ضروري دئ. عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ قَالَ اَلاِمَامُ ضَامِنٌ وَالمُؤَذِّنُ مُؤتَمَنٌ (ترمذي شريف،باب ماجآء ان الامام ضامن والمؤذن مؤتمن،ص51،نمبر207) چې امام ضامن سو نودهغه اقتدآء هم بايد وسي .

پام لرنه : په نيت کولوکي د زړه اراده(قصد)کفايت کوي.په ژبه سره وينا ضروري نه ده.لېکن که په ژبه سره ووايي خو ښه خبره ده .

[168](10) په لمانځه کي دي دقبلې استقبال کوي لېکن که خوف وُ(ببره وه) نو لمونځ دي وکړي چې وکومه خوا ته خُوښَه سي .

حاشيه : (الف) د عمرابن خطاب څخه پر منبر داوينا واؤ رېده چي حضور(ﷺ)فرمائل د اعمالو دار او مدار پر نيّت باندي دئ (ب) حضور (ﷺ) وفرمائل امام جوړسوئ دئ ددې لپاره چي دده اقتدآء وسي نوځکه دده خلاف مه کوئ. نو چي دئ تکبير ووائي تاسو تکبير ووایاست .

[169](11) فَاِن اِشتَبَهَت عَلَيهِ القِبلَةُ وَ لَيسَ بِحَضرَتِهِ مَن يّسئَلُهُ عَنهَا اِجتَهَدَ وَصَلّي فَاِن عَلِمَ اَنّهُ اَخطَاَ بَعدَ مَا صَلّي فَلاَ اِعَادَةَ عَلَيهِ .

وجه : په آيت کي دئ وَحَيثُ مَا كُنتُم فَوَلّوا وُجُوهَكُم شَطرَهُ (الف) (آيت 144،سورة البقرة2) ددې آيت څخه معلوم سوچي په لمانځه کي به دقبلې پرخُوَامخ کوي.او د خوف(بيري) پر وخت چي په کومه خوا ممکن وي مخ وګرزوي لمونځ اداکيږي.ددې دليل دا آيت دئ. وَللهِ المَشرِقُ وَالمَغرِبُ فَاَينَمَا تُوَلّوا فَثَمّ وَجهُ اللهِ (ب) (آيت115،سورة البقرة2) ددې آيت څخه معلوم سو چي دمجبورئ پر وخت په بله خوا مخ وګرزوي لمونځ وکي نولمونځ صحيح کيږي.ځکه چي هلته هم د الله مَخ (وجود) سته .

[169](11) که پرلمونځ کونکوباندي قبله مشتبه سي اوهلته بل څوك موجود نه وي چي دهغه څخه ددې په باب پوښتنه وکړي نواجتهاد به کوي اولمونځ به کوي بياکه چيري ورمعلوم سي چي غلطي سوې ده دلمانځه د ادائيګئ وروسته نو پر ده باندي راګرزول نسته .

تشريح : / وجه : (1) قبله نه وي معلوم او يوڅوك هم نه وي چي دهغه څخه پوښتنه وکړي نو تَحَرّي به کوي پرکومه خوا چي د زړه رُجحَان وي پرهغه خوا به لمونځ کوي.او د لمانځه وروسته معلوم سوچي پرغلط جهت (خوا) په لمونځ کړئ دئ بياهم دلمانځه دراګرزولوضرورت نسته.ځکه چي دده په طاقت کي څومره و هغه ده وکړل (2) په حديث کي دئ. عَن جَابِرَ قَالَ كُنّا مَعَ النّبِيّ (ﷺ) فِي مَسِيرٍ اَو سَرِيّةٍ فَاَصَابَنَا غَيمٌ فَتَحَرّينَا وَ اختَلَفنَا فِي القِبلَةِ فَصَلّي كُلّ رَجُلٍ مّنّا عَلّي حِدَةٍ فَجَعَلَ اَحَدُنَا يَخُطّ بَينَ يَدَيهِ لِنَعلَمَ اَمكِنَتِنَا فَلَمّااَصبَحنَا نَظَرنَاهُ فَاِذَا نَحنُ قَدصَلّينَا

حاشيه : (الف) هرچيري چي ياست خپل مخ دبيت الله پرلوري کوئ په لمانځه کي (ب) خاص د الله لپاره دئ مَشرق و مَغرب نو په هره خوا چي مَخ وکئ په هغه خوا الله موجود دئ .

[170] (12) وَ اِن عَلِمَ ذَالِكَ وَ هُوَ فِي الصّلٰوةِ اِستَدَارَ اِلٰي القِبلَةِ وَ بَنٰي عَلَيهَا .

عَلّي غَيرِ القِبلَةِ فَذَكَرنَا ذَالِكَ لِلنّبِيّ (ﷺ) فَقَالَ قَد اَجزَءَت صَلَوَاتُكُم (الف) (سنن للبيهقي،باب الاختلاف في القبلة عندالتحري،ج2،ص16،نمبر2235/ترمذي شريف،باب ما جآء في الرجل يصلي لغيرالقبلة في الغيم،ص80،نمبر345) ددې حديث څخه معلوم سوچي په تحري سره لمونځ وکړي که قبله غلطه سي نو هم دلمانځه د راګرزولو ضرورت نسته. ځکه چي دغه تَحَرّي دده قبله سوه .

[170](12) اوكه چيري دقبلې څخه غلط والئ ورمعلوم سي په داسي حال كي چي دئ په لمانځه كي وي نو د قبلې و خوا ته به راګرزي او پر هغه به بنآء كوي .
وجه : صحابه و وبيت المقدس ته لمنځونه كول. شپاړس يا اوولس(17) مياشتي وروسته قبله بدله سوه. يو څه صحابه كرام په لمانځه كي مشغول وُ.اِطِّلاَع وركول سوه چي قبله بدله سوې ده نو هغه خلګ دلمانځه په مابين كي وګرزېدل. پر لمانځه په بنآء وكړه اوخپل لمونځ يه كاوئ. په حديث كي دئ. عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ قَالَ بَينَ النّاسِ بِقُبَاءَ فِي صَلْوةِ الصّبحِ اِذجَآءَ هُم آتٍ فَقَالَ اِنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَد اُنزِلَ عَلَيهِ اللّيلَةَ قُرآنٌ وَ قَد اَمَرَ اَن يَستَقبِلَ الكَعبَةَ فَاستَقبِلُوهَا وَ كَانَت وُجُوهُهُم اِلَي الشّامِ فَاستَدَارُوا اِلَي الكَعبَةِ (ب) (بخاري شريف،باب ماجآء ومن لم يرالاعادة علي من سهي فصلي الي غيرالقبلة ص58 كتاب الصلوة نمبر403) ددې حديث څخه معلوم سو چي تَحَرّي

حاشيه : (الف) د حضرت جابر څخه روايت دئ چي موږ د حضور(ﷺ)سره په يو سفركي و.بس پر موږ باندي وَريَخ وَغُورېدل.نو موږ تَحَرّي وكړه اوموږ دقبلې په اړه سره مختلف سو.نو زموږ څخه هريوه وجلاجلاچهَت (لوري) ته لمونځ وكړئ. نو زموږ څخه هريوه خپل مخ ته خط كش كړئ چي موږ خپل خپل ځائ معلوم كړو.چي سهار سو نوموږ وليدل چي موږ دقبلې څخه علاوه وبله خواته لمونځ كړئ و.دحضور (ﷺ) په مَخ كي مو ددې تذكره وكړه نو حضور (ﷺ) وفرمائل ستاسولمونځ صحيح سو (ب) حضرت عبدالله بن عمر وفرمائل په داسي حال كي چي خلګو په قبآء كي دسهار لمونځ كاوئ يو راتلونكئ سړئ راغلئ او وويل چي پر حضور (ﷺ) باندي په شُپَه كي قرآن نازل سوئ دئ اوحكم يه كړئ دئ چي دكعبې استقبال كوئ نوخلګو دكعبې استقبال وكئ. حالانكه د دُوئي مَخ د شَام پر خوا ولو. نو دا خلګ دكعبې پر خوا وګرزېدل .

يې كړې وي او بيا هم د قبلې څخه په خِلاَف جِهَت كي لمونځ كوي.او په منځ كي قبله ورته معلوم سي نو وهغه خواته دي وګرزي او پر اوّل لمونځ دي بنآء وكړي. اَوّل لمونځ هم د تَحَرّي په وجه صحيح دئ .
لغت : اِستَدَارَ: ودي ګرزي. د دَورٌ څخه مشتق دئ. بَنْي : بنآء دي وكړي .
فائده : امام شافعي فرمائي كه چيري قبله بالكل د شَا پر خوا سي نو اُوس خو مكمّله پر دا بله خوا سوه ځكه لمونځ به راګرزوي. موږ وايو چي دده په وَس (طاقت)كي دغونه و نو ځكه نه به راګرزوي. بيا په حديث كي هم د راګرزولو حكم نسته .

σσσ

﴿... بَابُ صِفَةِ الصّلْوةِ ...﴾

[171](1) فَرَائِضُ الصّلْوةِ سِتّةٌ اَلتّحرِيمَةُ [172](2) وَ القِيَامُ [173](3) وَ القِرَآ ءَةُ .

﴿... بَابُ صِفَةِ الصّلْوةِ ...﴾

ضروري پام لرنه : د صِفَةُ الصّلْوة څخه د لمانځه هيئت مراد دئ چي لمونځ بايد څه ركم وسي او په هغه كي به كوم كوم شئ وي .

[171](1) دلمانځه فرضونه شپږ دي (1) تحريمه .

وجه : (1) د تحريمې دليل دا آيت دئ وَرَبّكَ فَكَبّر (آيت3 سورة المدثر74) (2) په حديث كي دئ.عَن اَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) مِفتَاحُ الصّلْوةِ اَلطّهُورُ وَ تَحرِيمُهَاالتّكبِيرُ وَ تَحلِيلُهَا اَلتّسلِيمُ وَلاَ صَلْوةَ لِمَن لَم يَقرَأ بِالحَمدِ وَ سُورَةٌ فِي فَرِيضَةٍ اَو غَيرِهَا (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في تحريم الصلوة وتحليلها،ص55،نمبر238/ ابوداؤدشريف،باب الامام يحدث بعدمايرفع رأسه من آخر ركعة،ص98،نمبر618) ددې حديث څخه معلوم سوچي دلمونځ دشروع لپاره تحريمه ترل فرض دئ. په آيت كي دئ وذكراسم ربه فصلي (آيت 15سورة الاعلي 87) ددې آيت څخه هم تحريمه ثابتيږي. ځكه چي ددې ذِكر څخه مراد هغه تَكبِير دئ ګوم چي دتحريمې پر وخت ويل كيږي .

[172](2) په وَلاَرِي درېدل .

وجه : په وَلاَرِي درېدلو دليل دا آيت دئ. وقوموا لله قانتين (ب) (آيت 238سورة البقرة2) په دې آيت سره په لمانځه كي قيام فرض ده .

[173](3) قرات كول فرض دئ .

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل لمونځ شروع كونكئ شئ پاكي ده.او دهغه تحريمه ترڅ دتكبيروَينَاده او د لمانځه خلاصول سلام كول دئ او د هغه لمونځ ګرسره نه سومكمّل چاچي اَلحَمدُ اوسورة نه و لُوستَئ په فرض لمونځ كي وي يادهغه څخه په علاوه كي (ب) د الله لپاره په پته خوله دريږئ .

[174](4) وَ الرّكُوعُ [175](5) وَ السّجُودُ [176](6) وَ القَعدَةُ الاَخِيرَةُ مِقدَارَ التّشَهّدِ .

وجه : (1) فَاقرَءُوا مَا تَيَسّرَ مِنهُ وَ اَقِيمُوا الصّلْوة وَ آ تُوالزّكْوةَ (الف) (آيت 20سورة المزمل73) ددې آيت څخه معلوم سو چې په لمانځه كي قرات ويل فرض دئ (2) په لوړه مسئله كي د يوحديث څخه هم معلوم سوچې قرات كول فرض دئ .

[174](4) ركوع فرض ده .

[175](5) سجده فرض ده .

وجه : د دواړو دليل دا آيت دئ. يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا اِركَعُوا وَ اسجُدُوا وَ اعبُدُوا رَبّكُم (ب) (آيت 77سورة الحج22) او دغه رنګه دا آيت دئ.وَ اَقِيمُوا الصّلْوةَ وَ آ تُوا الزّكْوةَ وَ ارکَعُوا مَعَ الرّاكِعِينَ (ج) (آيت 43سورة البقرة2) .

[176](6) او آخِرَه ناسته د تشهد په اندازه (فرض ده) .

تشريح : تَشَهّد ويل خو واجب ده لېكن د تَشَهّد د وينا په اندازه په قعده اخيره كي ناسته فرض ده .

وجه : (1) دا حديث دئ . هغه صحابي چې لمونځ يې ژر ژر پوره كړئ او دې واره د حضور (ﷺ) خدمت ته راغلئ وهغه ته حضور (ﷺ) دلمانځه كولوطريقه وروښوول.ددې حديث په آخر كي حضور (ﷺ) څلور كاره كول په ډېر شدت (تاكيد) سره بيان كړل. په هغوكي خو دې كارونه دآيت په وجه فرض دي. نوځكه څلورم كار هم بايد فرض سي. په حديث كي دئ. عَن رِفَاعَةَ بنِ رَافِعٍ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) بَينَمَا هُوَ جَالِسٌ فِي المَسجِدِ يَومًا.....فَاِن كَانَ مَعَكَ قُرآنٌ فَاقرَأ وَاِلاّ فَاَحمِدِاللهَ وَ كَبّرهُ وَ هَلّلهُ ثُمّ اِركَع فَاطمَئِنّ رَاكِعًا ثُمّ اِعتَدِل قَائِمًا ثُمّ اُسجُد فَاعتَدِل

حاشيه : (الف) د قرآن څخه چې څومره آسان وي ووایاست او لمونځ قائموئ او زكواة وركوئ (ب) ائ مؤمنانو ركوع كوئ سجده كوئ او د خپل رب عبادت كوئ (ج) لمونځ قائم كړئ،زكُوة وركړئ اودركوع كونكوسره ركوع كوئ .

سَاجِدًا ثُمّ اِجلِس فَاطمَئِنّ جَالِسًا ثُمّ قُم فَاِذَا فَعَلتَ ذَالِكَ فَقَدتَمّت صَلْوتُكَ وَاِن اِنتَقَصتَ مِنهُ شَيئًا اِنتَقَصتَ مِن صَلْوتِكَ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآءفي وصف الصلوة ص66نمبر302)په دې حديث كي (1) قرات (2) ركوع (3) سجده (4) اوپه تشهدكي د ناست حكم سوئ دئ.بيا دا هم ويل سوي دي چې كه په دي كي يوشئ هم پاته سو نو په لمانځه كي يو شئ پاته سو.ددې مطلب دادئ چې اخيره ناسته دتشهد په اندازه فرض ده (2) دترمذي په دغه باب كي دحضرت ابوهريره حديث دئ چې په اخير كې داجمله ده. ثُمّ اِرفَع حَتّي تَطمَئِنّ جَالِسًاوَافعَل ذَالِكَ فِي صَلْوتِكَ كُلّهَا (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء في وصف

الصلوة،ص67،نمبر303) ددې حديث څخه هم معلوم سوچي په قعده اخيره کي ناسته فرض ده (3) په ابوداؤد کي دعبدالله بن مسعود حديث دئ. وَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) اَخَذَبِيَدِعَبدِاللهِ بنِ مَسعُودٍ فَعَلّمَهُ التّشَهّدَ فِي الصّلْوةِ فَذَكَرِ مِثلَ دُعَآءِ حَدِيثِ الاَعمَشِ اِذَا قُلتَ هٰذَا اَو قَضَيتَ هٰذَا فَقَد قَضَيتَ صَلْوتَكَ اِن شِئتَ اَن تَقُومَ فَقُم وَاِن شِئتَ اَن تَقعُدَ فَاقعُد (ج) (ابوداؤد شريف،باب التشهد ص146 نمبر970) ددې حديث څخه هم معلوم سوچي که دتشهدپه اندازه کښيني نولمونځ به صحيح سي که نه نونه صحيح کيږي (4) حضور (ﷺ) يو لمونځ هم دتشهدپه اندازه د نا ستي بغيره نه دئ پوره کړئ.ددې څخه معلوميږي چي دتشهدپه اندازه ناسته فرض ده (5) عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ (ﷺ) قَالَ اِذَا قَضَي الإِمَامُ الصّلْوةَ وَقَعَدَ فَاَحدَثَ قَبلَ اَن يَتَكَلّمَ فَقَد تَمّت صَلْوتُهُ وَمَن كَانَ خَلفَهُ

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) په مسجدکي يوه ورځ ناست وُ. ده وفرمائل چي که ستاسوسره څه قرآن وي نو هغه واياست که نه نو د خدائ تحميدکوئ.تکبيرکوئ او تهليل کوئ.بياپه اطمينان سره رکوع کوئ بياپوره درپرئ بياسجده کوئ. او په پوره اطمينان سره سجده کوئ.بياکښينئ او په پوره اطمينان سره کښينئ بيا وَلاړ سئ.بس چي تاسودومره وکئ نولمونځ موپوره کړئ اوکه په دي کي څه کمي پاته سي نوپه لمانځه کي کمي پاته سوه (ب) بياسر دسجدې څخه پورته کئ تر دې چي په اطمينان سره کښينئ او داشيان په خپلو ټولو لمنځوکي کوئ (ج) حضور (ﷺ) د عبدالله بن مسعود لاس ونيوئ بيايه وده ته دلمانځه تشهد وروښوول (نودحضرت اعمش دحديث په شان يې ددعآء ذکر وکړئ) بياحضور (ﷺ) وفرمائل چي تا تشهدوويل يادي اداکړل نوخپل لمونځ دي پوره کړئ.ځکه که ولاړبدل غواړي ولاړ دي سي اوکه کښېنستل غواړي کښيدني .

[177] (7) وَ مَازَادَ عَلْي ذَالِكَ فَهُوَ سُنّةٌ [178](8) وَ اِذَا دَخَلَ الرّجُلُ فِي صَلْوتِهِ كَبّرَ .

مِمّن اَتَمّ الصّلْوةَ (الف) (ابوداؤدشريف،باب الامام يحدث بعدمايرفع رأسه ص98نمبر617) ددې څخه هم معلوميږي چي اَخيره نا سته فرض ده .

[177](7) او چي ددې څخه زيات دي هغه سنت دي .

تشريح : مصنف ددې څخه علاوه ته سُنّت ويلي دي حالانکه په لمانځه کي څه شيان واجب هم دي. لېکن وټولو ته سُنّت ځکه وويل چي هغه په سُنّت اوحديث سره ثابت دي.په دغه وجه ودې ته سنت وويل که نه په دي کي څه واجب هم سته مثلاً (1) قرات فاتحه (2) سورة ورسره ضم کول (3) په مکررو افعالو کي دترتيب مراعت ساتل (4) قعده اُولْي (5) په قعده اخيره کي تشهد ويل (6) په کوموکعتوکي چي قرات جهري دئ هلته په جهر سره ويل او په کومو رکعتوکي چي سري دئ هلته سِرّي ويل (7) په وتروکي دعآء قنوت ويل (8) تکبيرات د عيدين،دا ټوله واجب دي .

[178](8) چي يوسړئ په لمانځه کي داخليږي نو تکبير دي ووائي .

تشريح : دتحريمې د ټرلو پر وخت دي تکبير ووائي .ځکه چي په آيت کي دئ وَرَبّكَ فَكَبّر (آيت3،سورةالمدثر،74) نو د تحريمې سره دي تکبير ووائي.په مسئله نمبر1 کي

حديث تير سو په هغه کي و وَتحرِيمُهَا اَلتّكبِيرُ دهغه حديث څخه هم معلوميږي چي دتحريمي پر وخت دي تکبير ووائي .
پام لرنه : د امام ابوحنيفه په نبز تکبير په لمانځه کي نه دئ داخل بلکه هغه د لمانځه د شرائطو څخه دئ ځکه چي په آيت کي دئ وَ ذَ كَرَ اِسمَ رَبِّهِ فَصَلّٰي (ب)

حاشيه : (الف) حضور (ﷺ) وفرمائل که امام لمونځ پوره کړئ او کښېنستئ بيا د خبروکولو څخه مخ کي حَدَث ورته عارض سو نو دده لمونځ پوره سو.او څوك چي دده و شاته دي د هغو لمونځ هم پوره سو (ب) دخپل رَب د نوم ذکر وکه بيا لمونځ وکه .

[179](9) وَ رَفَعَ يَدَيهِ مَعَ التّكبِيرِحَتّٰي يُحَاذِي بِاِبهَامَيهِ شَحمَتَئ اُذُنَيهِ .

(آيت 15،سورة الاعلي،187) په دې آيت کي ذکرسوي دي چي د الله ذکر وکئ بيالمونځ وکئ.مطلب يه داسوچي اَوّل به ذکر وي.يعني تکبير به اَوّل وي بيابه لمونځ وي .
فائده : د امام شافعي په نبز هغه په لمانځه کي داخل دئ او د لمانځه دفرضو څخه دئ.ځکه ټوله شرطونه هغه دي کُوم چي دلمانځه شرطونه دي .
[179](9) دواړه لاسونه دي د تکبير سره سم پورته کي تر دې چي دواړي بَتِي ګوتي د غوږو د نرُمئ سره برابري کړي .
تشريح : د تکبير د ويناسره دي دواړه لاَسُونَه دومره پورته کړي چي دواړي بتي ګوتي دغوږو دنرمئ سره برابري سي .
وجه : په حديث کي دواړي طريقي سته يعني اَوّل دي لاس پورته کړي بيادي تکبير ووائي اوداهم سته چي اول دي تکبيرووائي بيادي لاس پورته کړي.داحنافو په نبز بهتره داده چي اول دي لاس پورته کړي چي په عمل باندي هم دالله څخه دماسوا انکار وسي بيادي تکبير ووائي چي دالله د وحدانيّت اقرار وسي.ددي دليل داحديث دئ.اَنّ اِبنَ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ (ﷺ) اِذَا قَامَ لِلصّلٰوةِ رَفَعَ يَدَيهِ حَتّٰي تَكُونَاحَذوَ مَنكَبَيهِ ثُمّ كَبّرَ (الف) (مسلم شريف،باب رفع اليدين حذوالمنكبين مع تكبيرة الاحرام،ص168،نمبر390/ابوداؤدشريف،باب رفع اليدين،ص111،نمبر722) ددې حديث څخه معلوم سوچي اول دي لاس پورته کړي بيادي تکبير ووائي نوښه خبره ده.اوکه اول تکبير ووائي بيالاس پورته کړي بياهم څه حرج نسته.په حديث کي ددې هم ذکر سته. اَنّهُ رَاٰي مَالِكَ بِنِ الحُوَيرِثِ اِذَا صَلّٰي كَبّرَ ثُمّ رَفَعَ يَدَيهِ ... وَحَدّثَ اَنّ رَسُولَ اللهِ كَانَ يَفعَلُ هٰكَذَا (مسلم شريف،باب رفع اليدين حذوالمنكبين مع تكبيرة الاحرام،ص168،

حاشيه : (الف) حضور چي دلمانځه لپاره درپدئ نو دواړه لاَسُونَه د وږو برابر پورته کول بيايي تکبير وايئ .

اصل اصل اصل

نمبر391/ابوداؤدشريف،باب رفع اليدين في الصلوة،ص111،نمبر726) په دې حديث کي اَوّل تکبير بيا لاَس پورته سوئ دئ.لاَسُونَه دي دغورِو ترنُرمئ پوري پورته کي دارنګه چي ګوتي دغورِو دنُرمئ مدمقابلي سي اونورلاس دي وغاړه او وَرُو ته نزدي وي چي پرتولوحديثو باندي عمل وسي.دغورِودنُرمئ سره د ګوتو د برابرولو دليل داحديث دئ عَن مَالِكِ بِنِ الْحُوَيرِثِ اَنَّ رَسُولَ اللهِ كَانَ اِذَاكَبَّرَ رَفَعَ

يديه حتي يحاذي بهماذنيه (الف) (مسلم شريف باب استحباب رفع اليدين حذوالمنكبين ص168نمبر391)ددي حديث څخه مخ کي حديث دئ عن قتادة بهذاالاسناد انه رأي النبي وقال حتي يحاذي بهمافروع اذنيه (ب) (مسلم شريف ص168 نمبر391) عن وائل بن حجر قال رايت النبي حين افتتح الصلوة رفع يديه حيال اذنيه (ج) (ابوداؤدشريف،دباب رفع اليدين آخري حديث دئ ص112نمبر728) ددي تولوحديثو څخه معلوم سو چي دتکبير دويناپروخت به نر دغورِو ترنرمئ پوري لاسونه پورته کوي.تروِرو پوري دپورته کېدو چي کوم حديث دئ مورِروايو چي هغه دښځولپاره دئ. اودهغه دليل داحديث دئ عن وائل بن حجر قال قال رسول الله يااابن حجر اذاصليت فاجعل يديك حذآء اذنيك والمرءَةُ تجعلي يديها حذآء ثدييها (د) (رواه الطبراني،اعلاء السنن،باب افتراض التحريمة وسننها ج 2 ص181)په دې حديث کي دښځو په باره کي راغلي دي چي دوئي دي دخپلو تئ پوري لاسونه پورته کوي.ځکه چي ددي لپاره دغه زيات دستر شئ دئ.

فـائـده دامام شافعي اودنورو امامانو په نېز لاسونه به تروِرو پورته کوي.ددوئي دليل دغه حديثونه دي.عن سالم بن عبدالله عن ابيه ان رسول الله وكان يرفع يديه حذو منكبيه اذا افتتح الصلوة (ه) (بخاري شريف،باب رفع اليدين في التكبيرة الاولي ص102نمبر735+ مسلم شريف،باب استحباب رفع اليدين حذوالمنكبين ص168نمبر390)ددي حديثو څخه معلوم سو چي لاسونه يه تروِرو پوري پورته کول.احناف دغه رنګه عمل کوي چي پرتولو احاديثو باندي عمل وسي.

لـغـت ابهام : بټه ګوته، شحمة : دغورِ نرمه، دغورِ نرمي.

پـام لـرنـه درکوع په وخت کي لاس پورته کول جائز دئ.په احاديثو سره ثابت دئ.خواحناف پردي باندي عمل ځکه نه کوي چي ددي خلاف حديث موجود دئ اواصل خبره داده چي دامام ابوحنيفه نظر د الله پرقول قوموا لله قانتين (و) باندي لګېدلئ دئ.ځکه پرنوروحديثو باندي عمل وکړئ.حديث دا دئ (1) قال عبدالله بن مسعود اَلا اصلي بكم صلوة رسول الله فصلي فلم يرفع يديه الا في اول مرة (ز) (ترمذي شريف،باب ان النبي لم يرفع الا في اول مرة،ص59نمبر257) عن البرآء ان رسول الله كان اذا افتتح الصلوة رفع يديه الي قريب من اذنيه ثم لايعود (ح) ابوداؤد شريف،باب من لم يذكرالرفع عندالركوع ص116نمبر749+نسائي شريف،باب رفع اليدين حذوالمنكبين عندالرفع من الركوع والرخصة في ترك ذالك ص120نمبر1059)ددي حديثوڅخه معلوم سوچي د رکوع پروخت د رفع يدين دپرېښولو ګنجائش سته.

فـائـده دامام شافعي اودنوروامامانو په نېز و رکوع ته دتلو اود پورته کېدو پروخت رفع يدين سته. ددوئي دليل داحديث دئ عن عبدالله بن عمر قال رايت رسول الله اذاقام في الصلوة رفع يديه حتي تكونا حذومنكبيه

حاشيه : (الف) حضورچي به تکبيروائي نودواړه لاسونه به دغورِو په برابر پورته کول (ب) صحابي حضورولیدئ او وفرمائل لاسونه دغورِونه دنرمئ په برابري پورته کول (ج) وائل بن حجرفرمائي چي ماحضور ولیدئ چي کله ده لمونځ شروع کړئ نودواړه لاسونه دغورِو په برابري پورته کړل (د) حضور وفرمائل ائ ابن حجر چي ته لمونځ کوي نوخپل لاسونه دغورِو سره برابر وه.اوښځه دي خپل لاسونه د تئ سره برابر وي (ه) حضور خپل لاسونه دورِو په برابرئ پورته کول چي کله به لمونځ شروع کاوئ (و) دخدائ په مخ کي په ادب سره درپرئ ياپه عاجزي سره درپرئ (ز) عبدالله بن مسعود وفرمائل.أيا زه وتاسوته دحضور(په شان)لمونځ نه

کړم در؟ بیا یه لمونځ ورکړئ اولاسونه نه کړل پورته مګر اول وار (ح) حضورچي به لمونځ شروع کاوئ نوخپل لاسونه به ترغوږو پورته کول بیایه دوم وارنه پورته کول.

[180](10) فَإن قَالَ بَدَلاً مِنَ التَّكبِيرِاَللّٰهُ اَجَلُّ اَواَعظَمُ اَو اَلرَّحمٰنُ اَكبَرُ اَجزَاهُ عِندَاَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَااللّٰهُ تَعَالٰى وَقَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى لاَيَجُوزُ اِلاَّ اَن يَّقُولَ

وكان يفعل ذالك حين يكبرللركوع ويفعل ذالك اذارفع راسه من الركوع ويقول سمع الله لمن حمده ولايفعل ذالك في السجود (الف) (بخاري شريف،باب رفع اليدين اذاكبرواذاركع واذارفع ص102نمبر736+ مسلم شريف،باب استحباب رفع اليدين حذوالمنكبين مع تكبيرة الاحرام والركوع وفي الرفع من الركوع وانه لايفعله اذارفع من السجود ص168نمبر390)ددې څخه معلوم سوچي درکوع پروخت لاس پورته کول مستحب دئ .اودنه کولوهم ګنجائش سته.ځکه پردې مسئله باندي جګړه(اختلاف)نه دئ کول په کار صرف داستحباب اختلاف دئ.

[180](10)که د الله اکبر پرځائ الله اجل ووائي یا الله اعظم ووائي یا الرحمن الاکبر ووائي نودامام ابوحنیفه اوامام محمدپه نېزکفایت کوي.اوامام ابویوسف وفرمائل چي نه دئ جائزمګردا چي ووائي الله اکبر او الله الاکبر او الله الکبیر.

تشریح دطرفین امامانو په نېز دتکبیرتحریمي پروخت دالله دتعظیم هره کلمه چي ووائي اوتحریمه وترې نوداکفایت کوي په شرط ددې چي دتعظیم کلمه وي.استغفار اودغه رنګه بله کلمه نه وي.خو د تکبیرڅخه علاوه په بله کلمه(لفظ)سره تحریمه ترل مکروه دئ.

وجه (1) په آیت کي دئ وذکراسم ربه فصلّٰی (آیت 15سورة الاعلي 87) د آیت څخه معلوم سوچي دلمانځه څخه مخکي دي دالله هسي یونوم واخلي هغه که تکبیر وي یادتعظیم یوه کلمه(لفظ) وي (2) په آیت کي دئ وربك فکبر (ب) (آیت 3سورة المدثر74)ددې آیت څخه هم معلومیږي چي اصل مقصد دالله تعظیم کول دئ هغه که په هره کلمه(لفظ)سره وي (3) په حدیث کي دئ عن ابي سعید خدري قال کان رسول الله اذاقام الي الصلوة بالليل کبر (ج) (ترمذي شریف،باب مایقول عند افتتاح الصلوة ص57 نمبر242)ددې حدیث څخه معلوم سوچي دتحریمي پروخت دي تکبیر ووائي.نوځکه هسي یورنګه کلماتو(لفظو)سره تعظیم کول کفایت کوي.

فائده دامام ابویوسف اوامام شافعي په نېز په خاص توګه الله اکبر او الله الاکبر او الله الکبیر ویل ضروري دئ.ځکه چي دغه کلمات په حدیث کي دتکبیر تحریمي لپاره راغلي دي.سمعت ابا حمید الساعدي یقول کان رسول الله اذا قام الي الصلوة استقبل القبلة ورفع یدیه وقال الله اکبر (د) (ابن ماجه شریف،باب افتتاح الصلوةص114،نمبر803،ابواب اقامة الصلوة + ترمذي شریف،باب ماجآء في وصف الصلوة،باب منه ص66 نمبر304) په دې حدیث کي خاص د الله اکبر لفظ ذکرسوئ دئ ځکه په دغه کلمه(لفظ) سره به تکبیرتحریمه وي. په الله الاکبر کي او الله الکبیر کي مبالغه زیاته ده ځکه په دې دواړو کلمو(لفظو) باندي هم تحریمه اداکیږي.

حاشیه : (الف) حضورچي به لمانځه ته درېدئ نودواړه لاسونه به پورته کول تردي چي کېدل به. و وږو ته نزدي.اودغه رنګه به کول چي کله به درکوع لپاره تکبیروائي.اودغه رنګه به کول چي درکوع څخه به سرپورته کاوئ.اوسمع الله لمن حمده به وائي او رفع یدین به په سجده کي نه کاوئ (ب) دخپل رب لوئي بیان که (ج) حضورچي به دشپې دلمانځه لپاره درېدئ نوتکبیربه وائي (د) حضورچي به لمانځه ته درېدئ نودقبلي استقبال یه کاوئ اودواړه لاسونه پورته کول او الله اکبریه وائي.

اَللّٰهُ اَكبَرُ وَاللّٰهُ الاَكبَرُ وَاللّٰهُ الكَبِيرُ [181] (11) وَيَعتَمِدُ بِيَدِهِ اليُمنٰي عَلٰي اليُسرٰي .

---

[181](11)او ودنیسي په ښي لاس سره کنې لاس باندي اودواړه لاسونه دي تر نه(نوم)لاندي ونیسي

تشریح په حدیث کي دئ چي ښئ لاس دي پرکنې لاس کښیږدئ.اوداهم دئ چي په ښي لاس دي کنې لاس ونیسي.ځکه داحنافو په نېزسنت طریقه داده چي دښي لاس په بټه ګوته اوکشنئ(خچئ)ګوته دي دکنې لاس مړوند ونیسي اودانوري دري ګوتي دي دکنې لاس پرمړوند کښیږدي.چي پردواړو حدیثو باندي عمل وسي.

وجـه (1) عن وائل بن حجر انه رأي النبي ... ثم وضع يده اليمني علي اليُسريٰ (الف) (مسلم شريف،باب وضع يده اليمني علي اليسري ص173نمبر401+ ابوداؤد شريف،باب وضع اليمني علي اليسري ص117نمبر755+ بخاري شريف،باب وضع اليمني علي اليسري في الصلوة نمبر740)ددې حديث څخه معلوم سوچي بنئ لاس دي پرکنې لاس کښيږدئ (2) قبيضة بن هلب عن ابيه قال كان رسول الله يؤمنا فياخذ شماله بيمينه (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء في وضع اليمين علي الشمال في الصلوة،ص123نمبر809)ددې حديث څخه معلوم سوچي په بنې لاس بايد کې لاس ونيسي.ځکه احنافو پردواړوحديثو عمل وکئ.اوترنامه(نُه)لاندي دلاس نيولو حديث دادئ (3) عن علي قال ان من السنة في الصلوة وضع الكف علي الكف في الصلوة تحت السرة (ج) (ابوداؤد شريف،باب وضع اليمني علي اليُسريٰ في الصلوة ص117نمبر756+ دارقطني،باب في اخذالشمال باليمين في الصلوة،ج1ص289نمبر1089+ سنن للبيهقي،باب وضع اليدين علي الصدرفي الصلوة من السنة ج2 ص48نمبر2341)ددې حديثو څخه معلوم سوچي لاس ترنامه(نُه) لاندي اينبول په کاردئ.

فـائـده دامام شافعي په نبز لاس پرسينه(ځيګره)اينبول سنت دئ.دده دليل داحديث دئ عن وائل انه رأي النبي وضع يمينه علي شماله ثم وضعها علي صدره (د) ابوداؤد شريف،باب وضع اليمني علي اليُسريٰ في الصلوةص117نمبر 759+ سسنن للبيهقي،باب وضع اليدين علي الصدرفي الصلوة من السنة ج2 ص46 نمبر2335)ددې حديث څخه معلوم سو چي لاس پرسينه(ځيګره)اينبول په کار دئ.

پـام لـرنـه امام ترمذي بهترين فيصله کړې ده چې د دواړو ګنجائش سته.ورأي بعضهم ان يضعها فوق السرة ورأي بعضهم ان يضعها تحت السرة وكل ذالك واسع عندهم (ه) (ترمذي شريف،باب ماجآء في وضع اليمين علي الشمال في الصلوة ص59 نمبر252)

پـام لـرنـه په ولاړه کي چي په کوم کوم ځائ کي ذکرکول مسنون وي په هغه ځائ کې لاس ټرل بنه دئ. اوپه کوم کوم ځائ کي چي ذکر کول نه دئ مسنون په هغه ځايوکي لاس يله پرېښول سنت دئ.

حاشيه : (الف) وائل بن حجرحضورولیدئ ... بيايه خپل بنئ لاس پرکنې لاس کښېښوئ (ب) حضور زمونږ امامت کاوئ نوکنې لاس بـه پـه بنې لاسي سره نيوئ (ج) حضرت علي وفرمائل چې په لمانځه کې سنت دادئ چې ورغوئ دي پر ورغوي اړدي ترنُه(نُوم)لانـدي (د) حضورښئ لاس پرکنې لاس باندي کښېښوئ بيايه دغه دواړه پرخپله سينه(ځيګره)کښېښول (ه) دبعضـو علمـآء رأيـه ده چې دواړه لاسونه دي پرنامه(نـه)لوړ ونيسـي اودبعض رأيـه ده چـې دغـه دواړه دي ترنامه(نه)لانـدي ونيسـي. اودعلمـآء پـه نبز ددې دواړو څخـه دهريـوه ګنجائش سته .

وَيَضَعُهُمَا تَحتَ السُّرَّةِ [182](12) ثُمَّ يَقُولُ سُبحَانَكَ اَللّٰهُمَّ وَبِحَمدِكَ وَ تَبَارَكَ اِسمُكَ وَ تَعَالٰى جَدُّكَ وَلاَ اِلٰهَ غَيرُكَ [183](13) وَيَستَعِيذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيطَانِ الرَّجِيمِ .

لـغـت يعتمد : نيسي به، اَلسُّرَّةُ : نُه(نوم)

[182](12) دتحريمي دتړلو وروسته دي ووائي سبحانك اللّهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالىٰ جدك ولا اله غيرك.

تـشريـح دتحريمي دتړلو وروسته نوري هم ډيري دعاګان منقولي دي.لېکن داحنافو په نبز سُبحانك اللّهم ويـل ډيـره افضل ده.

وجـــه داحـديث دئ عن ابي سعيد الخدري قال كان رسول الله اذاقام الي الصلوة بالليل كبرثم يقول سبحانك اللّهم الخ (الف) (ترمذي شريف،باب مايقول عندافتتاح الصلوة ص57نمبر242+ابوداؤدشريف،باب من راي الاستفتاح بسبحانك ص119 نمبر775) ددې حـديث څخه معلوم سوچي سبحانك اللّهم الخ ويل په کار دئ.

فـائـده دامام شافعي په نبزاللّهم اني وجهت وجهي الخ ويل زيات بهتر دئ (ب) (ابوداؤد شريف،باب ما يستفتح به الصلوة من الدعآء ص117نمبر760)امام ابويوسف ددي دواړو حديثوپه وجه د دواړو حديثو دضم كولو (ملاؤولو)قائل دئ.

[183](13)او اعوذ بالله من الشّيطان الرّجيم او بسم الله الرّحمن الرّحيم دي ووائي.

وجه په آيت كي دئ فاذاقرأت القرآن فاستعذ بالله من الشّيطان الرّجيم (ج) (آيت 98سورة النحل16) ددي آيت څخه معلوم سوچي دقرآن دويلوڅخه مخكي دي اعوذبالله الخ ووائي.عن ابي سعيدالخدري قال كان رسول الله اذاقام اليٰ الصلوة ثم يقول اعوذ بالله السّميع العليم من الشّيطان الرّجيم (ترمذي شريف،باب مايقول عندافتتاح الصلوة ص57 نمبر 242) په دغه وجه داحنافو په نبز اعوذ بالله ويل دقرآن سُنّت دئ.د ثنا سُنّت نه دئ ځكه په هر ركعت كي دقرآن دقرات څخه مخكي اعوذبالله الخ او بسم الله الخ ويل كيږي. د بسم الله الخ ويلو دليل داحديث دئ عن ابن عباس قال كان النبي يفتتح صلواته ببسم الله الرحمن الرحيم (د) (ترمذي شريف،باب من رأي الجهر ببسم الله الرّحمن الرّحيم ص57 نمبر245) ددي حديث څخه معلوم سوچي دقرات څخه مخكي بسم الله بايد وويل سي. لېكن په دي كي دا تذكره نسته چي په زوره ويل په كارده.كېدلائي سي چي حضورپر دغه موقع بسم الله ويله لېكن آهسته(سوكه)په ويل.ددي دليل داحديث دئ عن عبدالله بن مغفل قال سمعني ابي وانا في الصلوة اقول بسم الله الرّحمن الرّحيم فقال لي اي بني محدث اياك والحدث ... وقال وقدصليت مع النبي ومع ابي بكر وعمر ومع عثمان فلم

حاشيه : (الف) حضورچي به كله دشپي دلمانځه لپاره ولاړېدئ نوتكبيربه وائي بيابه سُبحانك اللّهم الخ ويل (ب) حضورچي به كله دلمانځه لپاره ولاېدئ نوتكبير به وائي بيابه وجهت وجهي الخ وائي (ج) چي كله قرآن واياست نواعوذبالله واياست (د) حضور به خپل لمونځ دبسم الله څخه شروع كاوئ .

وَيَقرَأُ بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ وَيَسِرُّ بِهِمَا [184] (14) ثُمَّ يَقرَأُ فَاتِحَةَ الكِتَابِ .

اسمع احدا منهم يقولها فلا تقلها،اذا انت صليت فقل الحمد لله رب العلمين (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في ترك الجهر ببسم الله الرَّحمن الرَّحيم ص57 نمبر244 + بخاري شريف،باب مايقول بعدالتكبير ص103نمبر743 + مسلم شريف،باب حجة من قال لايجهر بالبسملة ص172نمبر399)ددي څخه معلوم سوچي صحابه كرامو بسم الله آهسته (سوكه) ويل.

پام لرنه داهم معلوم سوچي بسم الله د الحمدلله يا ديوبل سورة جزء نه ده.

فـائـده دامام شافعي په نبز به بسم الله په زوره وائي.ځكه چي دئ بسم الله د الحمدلله جزء ګڼي اودسورة جزء يه هم ګڼي.دده د دليل حديث لوړ تيرسو (2) عن انس بن مالك قال بينارسول الله ذات يوم بين اظهرنااذا غفي اغفاءة ثم رفع راسه متبسما فقلنا ماالضحكك يارسو لله قال انزلت علي انفًا سورة فقرا بسم الله الرحمن الرحيم انا اعطيناك الكوثراخ (ب) (مسلم شريف،باب حجة من قال البسملة آآية من اَوَّل كلّ سورة سويٰ براءة ص172نمبر400+ ابوداؤدشريف،باب ماجآء من جهربسم الله ص121نمبر784)ددي څخه معلوم سوچي بسم الله دسورة جزء ده.په دغه وجه په جهري لمانځه كي بايد دايه زوره وويل سي.ددي څخه لاهم واضح دليل په دارقطني كي دئ عن ابن عباس ان رسول الله كان يجهر ببسم الله الرحمن الرحيم (ج) (دارقطني،باب وجوب قراءة بسم الله الرَّحمن الرَّحيم ج1 ص308نمبر1147)ددي حديثو څخه معلوم سوچي په جهري لمنځوكي په جهر(زوره)بسم الله ويل پكارده.

پـام لـرنـه بسم الله دي دهرسورة څخه مخکي سوکه ووائي نوښه خبره ده چي داختلاف څخه بچ (محفوظ) سي اوپراحتياط باندي عمل وسي.

[184](14) بيادي سورة فاتحه ووائي.

تـشريـح داحنافو په نيزدهسي يوځايه څخه يوغټ آيت يادري کشني آيتونـه ويـل فـرض دي.کـه دومـره لا هـم نـه ووائي نو لمونځ يه نه سوصحيح.خوپرده باندي سورة فاتحه ويل واجب ده.که نه ووائي نوپـه لمانځـه کـي بـه کمـي پاته سي اوسجده سهو به کوي.

وجـه (1) دهسي يو ځايه څخه دقرآن دويلو دفرضيت دليل دغه آيـت دئ فاقرؤا ماتيسرمن القرآن (آيت 20سورة المزمل73) (2) په حديث کي دئ عن ابي سعيد قال امرنا ان نقرا بفاتحة الكتاب وماتيسر (د) (ابوداؤدشريف، باب من ترك القراءة(الفاتحة)في صلوته بفاتحة الكتاب ص125نمبر818+ نسائي شريف،باب ايجاب قراءة فاتحة الكتاب في الصلوة ص105نمبر912) (3) پـه بخـاري شـريف کـي دئ حضـوروهغه صـحرائي تـه وفرمائـل چـي ژر ژر يـه لمـونځ وکـړئ ثم اقرا ماتَيَسَّر معك من القرآن (هـ) (بخاري شريف،باب وجوب القراءة

حاشيه : (الف) عبدالله بن مغفل فرمائي چي زما پلار واؤربدل چي زه په لمانځه کي بسم الله وايم نـو زمـا پـلار وويـل ائ زمازويـه دانـوئ شئ دئ.دنوي شي څخه ځـان ګوره...او وفرمائـل مادحضـور، ابوبکر،عمراوعثمـان سره يوځـائ لمـونځ کـړئ دئ.ديـوه څخـه مونـه دئ اوربدلئ چي په زوره بسم الله ويله.نوځکه دغه مه واياست.چي کله تاسولمونځ وکئ نو الحمدلله الخ وواياست (ب) حضرت انـس فرمـائي چـي يوه ورځ زمونږ په مابين کي حضور وجود درلودئ.اچانك پرده باندي د وحي کيفيت راغلئ(طاري سو).بيايه دخندا(مسبدلو) په حالـت کـي سر راپورته کئ.مونږ وويل ائ دخدائي رسوله. ته کوم شي وخندولي؟ حضوروفرمائل اوس پرمابانـدي يوسورة نازل سو.بياحضور بسم الله الرحمن الرحيم.انا اعطيناك الكوثر ولوستئ (ج) حضور بسم الله په زوره ويله (د) دابوسعيد څخه روايت دئ چي حضور ومونږ ته حکم وکړئ چـي فاتحه واياست اوپه قرآن کي چي کوم آسانه وي هغه واياست (ه) بيا واياست کوم چي دتئ سره دقرآن څخه آسانه وي .

[185])15) وَسُورَةٌ مَّعَهَا اَوثَلاَثُ آيَاتٍ مِّن اَيِّ سُورَةٍ شَآءَ [186](16) وَ اِذَاقَامَ الاِمَامُ

للامام والماموم في الصلوة كلها ص150نمبر757+ مسلم شريف،باب وجوب قرآءة الفاتحة في كل ركعة ص170نمبر397) ددي مطلـب داسوچي دقرآن څخه چي کوم آسان دئ دهغه ويل فرض دئ.که څه هم دسورة فاتحي څخه علاوه(سوا)وي.

دسورة فاتحي دوجوب دليل (4) عن عبادة بن صامت ان رسول الله قال لاصلوة لمن لم يقرا بفاتحة الكتاب (الف) (بخاري شريف،باب وجوب القراءة للامام والماموم في الصلوة كلها ص104نمبر756+مسلم شريف،باب وجوب قراءة الفاتحة في كل ركعة ص169نمبر394)ددي حديث څخه معلوم سوچي سورة فاتحه ويل واجب ده.که نه ووائي نو په لمانځه کي به کمي پاته سي.په حـديث کـي دئ (5) عن ابي هريرة عن النبي قال من صلي صلوة لم يقرا فيهابأمّ القرآن فهي خداج ثلاثا غير تمام (ب) (مسلم شريف،باب وجوب قراءة الفاتحة في كل ركعة ص169نمبر395+ابوداؤدشريف، باب من ترك القراءة في صلوته ص125نمبر821) د فهي خداج مطلـب دادئ چـي دفاتحي په پربښولو سره به کمي پاته سي او دهغه اتمام به په سجده سهو سره کوي.

فـائـده امام شافعي او امام مالك فرمـائي چـي فاتحـه ويـل فـرض ده.ددوئـي دلائـل دغـه لورحديثونـه دي. مـونږ وايوچي دقرآن آيت او ددي مسئلي حديث نمبر12 اونمبر 1 چي سـره يوځـائ کـړي نونتيجـه يـه دغـه راوزئ چـي دفاتحي ويناواجب ده.اوددي قائل مونږ هم يو.

[185](15) اودسورة فاتحي سره دي سورة ملاو کي يا دري آيتونه دهر سورة چي وي.

تـشريـح دسورة فاتحي سره يوکشنئ سورة يا ديوسورة دري آيتونه ملاوول واجب دي.

وجـه (1) پـه حـديث کـي دئ عن ابي سعيدقال قال رسول الله ... ولاصلوة لمن لم يقرا بالحمد وسورة في فريضة اوغيرها (ج) (ترمذي شريف،باب ماجآء في تحريم الصلوة وتحليلها ص55نمبر238)په دي حديث کي د وسورة في فريضة لفظ څخه معلوميږي چي دسـورة فاتحي په ركم دسورة ملاوبدل هم واجب دي. (2) دماپښين،ماځيګر،مابنام اوسـهارپه لمانځـه کـي کـوم کـوم سـورة وائي ددي تذکره په تفصيل سره په ابوداؤدشريف کي راغلي ده.ددي څخه دامعلوم سوچي دسـورة ملاوبـدل واجـب دئ (تفصـيل يـه پـه ابوداؤد،بـاب قـدرالقراءة فـي صـلوة الظهـر والعصـر،باب قـدرالقراءة فـي المغـرب ص123نمبر798+ترمذي شريف،باب ماجآء في القراءة في الصبح ص67 نمبر306)

[186](۱۶)اوچـي امـام ووائـي وَلاَالضَّالّيَنَ نـودئ دي آمـين ووائـي اومقتـدي دي هـم آمـين ووائـي او دادي آهسته(سوكه)ووائي.

تـشـريـح امـام دي دسـورة فـاتحي وروسـته آمـين ووائـي اومقتـدي دي هـم آمـين ووائـي.لېكن دواړه دي آمـين آهسته(سوكه)ووائي.

وجـه (1) عن ابي هريرة ان رسول الله قال اذا اَمَّنَ الامام فامنوا فانه من وافق تأمينه تأمين الملائكة غفرله ماتقدم من ذنبه وقال ابن شهاب وكان رسول الله يقول آمّين (د) (بخاري شريف،باب جهرالامام بالتَّامين ص107نمبر780+مسلم شريف،

حاشيه : (الف) حضوروفرمائل دهغه سړئ لمونځ نه سوصحيح كوم چا چي سورة فاتحه نه ووېل (ب) حضوروفرمائل كوم چاچي لمونځ وكړئ اوپه هغه كي اُمُّ القرآن يعني سورة الفاتحه نه ووېل نوهغه ناقص دئ.دري واره دامكمل نه دئ (ج) حضوروفرمائل دهغه لمونځ نـه صحيح كيږي چاچي الحمد نه ووېل اوسورة يه نه كي ملاؤ په فرض لمونځ كي وي يادهغه ځخه پـه عـلاوه كـي (د) حضـوروفرمائل چـي امام آمين ووائي نوتاسوهم آمين وواياست.ځكه چي دكوم چا آمين دملائكي دآمين سره موافق(بوځائ) سي (باقي پررا روانه صفحه)

وَلاَالضَّالّيَنَ قَالَ آمّيِنُ وَيَطُولُهَا المؤ ثُمَّ يُكَبِّرُ وَيَرْكَعُ [187](17) ثُمَّ يُكَبِّرُ وَيَرْكَعُ [188](18) وَيَعتَمِدُ بِيَدَيهِ عَلىٰ رُكبَتَيهِ وَيُفَرّجُ اَصَابِعَهُ وَيَبسُطُ ظَهرَهُ وَلاَيَرفَعُ رَاسَهُ وَلاَيَنكُسَهُ .

باب التسميع والتحميد والتامين ص176نمبر410) ددي حديث ځخه معلوم سو چي آمّين دي ووائي.اوپه سوكه سره دآمّـين ويلو دليل داحديث دئ (1) دحضرت امام اعظم نظرودي خواته تللـئ دئ چـي آمـين دعـآء ده اوپـه لمانځـه دقـرات ځخه ماسوا ځومره دعآءګان دي تولي سوكه ويل كيږي.نوځكه آمين هم بايدآهسته(سوكه)وي.په دغه وجه حضـرت امام اعظم دسوكه ويناړحديث باندي عمل وكئ.ددعآء آداب دادي چي په آه وزاري سره آهسـته وسـي.په آيـت كـي دئ ادعوا رَبَّكُم تضرُّعًاوخفيةً انه لايحبُّ المعتدين (الف) (آيت 55 سورة الاعراف7) (2) په حديث كـي دئ عن علقمة بن وائل عن ابيه ان النبي قرأ غيرالمغضوب عليهم ولاالضالين فقال آمّين وخفض بهاصوته (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء في التَّامين ص58نمبر248+ دارقطني،باب التَّامين في الصلوة بعدفاتحة الكتاب والجهربها،ج1 ص328نمبر1256)ددي حديث ځخه معلوم سوچي آمـين بايدآهسـته ووائي.په بخاري،مسلم اودغه رنګه نوروكتابوكي دپه زوره آمين ويلو باضابطه حديث نسته.

فـائـده دامام شافعي او امام مالك په نېز آمين په زوره ويل بهتر(ښه)دئ.ددوئي دليل (1)ددغه لوړ حـديث ځخـه امام بخاري اوامام مسلم استدلال كړئ دئ چي په زوره دي آمين وائي(كه څه هم په دي كـي دزورلفظ نسـته) (2) عن ابي هريرةقال ترك الناس التَّامين وكان رسول الله اذا قال غيرالمغضوب عليهم ولاالضَّآلّين قال آمين حتي يسمعها اهل الصف الاول فيرتج بهاالمسجد (ج) (ابن ماجه شريف،باب الجهر بآمين ص121نمبر853+ دارقطني،باب التَّامين في الصلوة ج1 ص328نمبر1253)ددي حديث ځخه معلوم سوچي آمين په زوره ويل په كاردئ.لېكن پـه خپلـه ابـوهريره فرمـائي چـي اصـحابانو پـه زوره آمين ويل پرېښوئ.

پـام لـرنـه دا داستحباب اختلاف دئ.كه څوك په زوره آمين وائي نوپرهغه باندي نكير نه دئ كول په كار.

[187](17)بيادي تكبير ووائي او ركوع دي وكړئ.

وجـه په حديث كي دئ چي حضور په ركوع اوسجده كـي تكبيـر وائـي سمع اباهريرة يقول كان رسول الله اذا اقام الي الصلوة يكبر حين يقوم ثم يكبر حين يركع (د) (بخاري شريف،باب التكبيراذاقام من السجود ص109نمبر789)ددي حديث ځخه معلـوم سـوچي وركوع ته دتللو پروخت دي تكبيروائي.

[188](18)دواړه لاسونه دي پردواړو ځنګنوباندي تم كړي اوګوتى دي ځله آزادي كښيزدي اوشا (ملا)دي برابـره كړي،سردي نه پورته كوي اونه دي دېركښته كوي.

تـشـريـح دركوع په حالت كي دي په لاس ځنګنونه دارنګه ونيسي لكه ده چي پرهغه باندي تكيه كړي وي.اوګوتي دي پرځنګنوباندي خوري وري كښيزدي.

حاشيه : (دتيري سوي صفحي پاته برخه)دهغه تېرګناهونه معافيږي.ابن شهاب وائي چي حضور

آمين وائي (الف) خپل رب په زاري سره سوکه رابولئ.هغه ترحد زيات تجاوز کونکي نه خوښوي (ب) حضورغيرالمغضوب عليهم ولاالضالين ووايئ او آمين يه ووايئ اودهغه سره آواز آهسته(سوکه)کړئ (ج) حضورچې به غيرالمغضوب عليهم ولاالضالين وايئ نوآمين به وايئ.داول صف خلګوبه اورېدئ اومسجدبه درزېدئ (د) حضور چې به لمانځه ته درېدئ نوتکبيربه وايئ چې کله به درېدئ.بيابه تکبيرووايئ چې رکوع لره به ځئ .

[189](19) وَيَقُولُ فِي رُكُوعِهِ سُبحَانَ رَبِّيَ العَظِيمُ ثَلٰثاً وَ ذَالِكَ اَدنَاهُ [190](20) ثُمَّ يَرفَعُ رَاسَهُ وَيَقُولُ سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَهُ وَيَقُولُ المؤتَمُّ رَبَّنَا لَكَ الحَمدُ .

شا(ملا)دي ده کوناټو سره برابره کړي.سردي نه دېر کښېکاري اونه دي ترملا(شا)پورته نيسي.بلکه دملا(شا)سره دي برابره وي.

وجه (1) داحديث دئ فذكروا صلوة رسول الله فقال ابوحميد انا اعلمكم بصلوة رسول الله ان رسول الله ركع فوضع يديه علي ركبتيه كانه قابض عليهما و وتر يديه فنحاهما عن جنبيه (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء يجافي يديه عن جنبيه في الركوع ص60 نمبر260) ددې حديث ځخه معلوم سوچې په لاس دي ځنګونه دارنګه ونيسي چې دليندې درسي په ركم ښكاره(معلوم)سي (2) په حديث کې دئ عن ابي حميد الساعدي قال كان النبي اذاركع اعتدل فلم ينصب راسه ولم يقنعه ووضع يديه علي ركبتيه (ب) (نسائي شريف،باب الاعتدال في الركوع ص118نمبر1040+ ابوداؤدشريف،باب صلوة من لايقيم صلبه في الركوع والسجود ص132نمبر863) ددې حديث ځخه معلوم سوچې په ركوع کي دي سر د سُرين(کوناټي)سره برابروي نه دي ټيټوي اونه دي زيات پورته کوي.

لغت لاينكسه : نه دي دېرټيټوي(کښته کوي)

[189](19)اوپه ركوع کي دي سبحان ربي العظيم دري واره ووائي اودا ددې ادنٰي(کمه)درجه ده.

تشريح لږ تر لږه دري واره سبحان ربي العظيم ويل سنت دئ.تردې په زيات هم ويلائي سي.لېکن طاق عدد پوره کول افضل دئ.

وجه عن ابن مسعود ان النبي قال اذا ركع احدكم فقال في ركوعه سُبحان ربي العظيم ثلث مرات فقد تم ركوعه وذالك ادناه (ج) (ترمذي شريف،باب ماجآء في التسبيح في الركوع والسجود ص60 نمبر261 +ابوداؤدشريف،باب مايقول الرجل في ركوعه وسجوده ص134 نمبر870)

[190](20)بيادي خپل سر پورته کي او ودي وائي سمع الله لمن حمده او مقتدي دي ووائي ربنالك الحمد.

تشريح دامام ابوحنيفه په نبز دي امام صرف سمع الله لمن حمده ووائي او مقتدي دي صرف ربنالك الحمد ووائي.

وجه په حديث کې دئ عن ابي هريرة ان رسول الله قال اذا قال الامام سمع الله لمن حمده فقولوا اللهم ربنالك الحمد (د) (بخاري شريف،باب فضل اللهم ربنا لك الحمدص109نمبر796+ ترمذي شريف،باب آخر وباب مايقول الرجل اذا رفع راسه ص61نمبر267)ددې ځخه معلوم سوچې امام دي سمع الله لمن حمده ووائي مقتدي دي ربنالك الحمدووائي.که چيري منفرد وي نودئ خو امام هم دئ اومقتدي هم نوځکه دواړه به وائي.

حاشيه : (الف) ځه اصحابانو دحضوردلمانځه تذكره وكړه نوابوحميدساعدي وويل زه وتاسوته دحضورلمونځ دربنيمه.چې حضوربه لمونځ كاوئ نوخپل دواړه لاسونه به پردواړوځنګنو ايښول دارنګه لكه هغه چې نيولي وي.اودواړه لاسونه به دليندې د رسي په ركم جوړول.اودواړه لاسونه به د اړخو ځخه ليري كول (ب) حضورچې به ركوع كول نوسر به برابر وئ نه يه سر لوړ پورته كاوئ نه يه كښته ټيټاوئ اودواړه لاسونه به پر دواړو ځنګنو ايښول (ج) نبي وفرمائل چې دتاسو ځخه يو ركوع وكړي نوپه ركوع كي دي سبحان ربي العظيم دري واره ووائي نودده ركوع پوره سوه او دغه ادنٰي درجه ده (د) حضوروفرمائل چې امام سمع الله لمن حمده ووائي نوتاسو اللهم ربنا لك الحمد ووایاست .

[191](21) فَاِذَا اِستَوىٰ قَائِمًا كَبَّرَ وَسَجَدَ [192](22) وَ اِعتَمَدَ بِيَدِهِ عَلَىٰ الاَرضِ وَوَضَعَ

فـائـده دامام شافعي په نېز امام به دواړي کلمي وائي.دده دليل دا حديث دئ عن ابي هريرة قال كان النبي اذا قال سمع الله لمن حمده قال اللّهم لك الحمد (الف) (بخاري شريف،باب مايقول الامام ومن خلفه اذا رفع راسه من الركوع ص109نمبر795+ ترمذي شريف،باب مايقول الرجل اذا رفع راسه من الركوع ص61نمبر266)ددې حديث څخه معلوميږي چې امام به تسميع اوتحميد دواړه وائي.موږ ددې جواب ورکوو چې داهغه وخت دئ چې کله يواځي لمونځ کوي نو به دواړه وائي.

پـام لـرنـه د دواړو حديثونه رونا کي صاحبين فرمائي چې امام به تسميع اوتحميد دواړه وائي.

[191](21)بياچې سيدا ودرېږي نوتکبيردي ووائي اوسجده دي وکړي.

تـشريـح دامام ابوحنيفه په نېز په اطمينان سره درېدل چې تعديل ارکان ورته ويل کيږي واجب دئ.

وجـه پـه حـديث کـي دئ عن ابي مسعود الانصاري قال قال رسول الله لاتجزئ صلاة لايقيم الرجل فيها صلبه في الركوع والسجود (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء في من لايقيم صلبه في الركوع ولاالسجود ص61نمبر265+ابوداؤدشريف،باب صلوة من لايقيم صلبه في الركوع والسجود ص131نمبر855+بخاري شريف،باب امرالنبي الذي لايتم ركوعه بالاعادة ص109نمبر793) ددغـه احـاديثو پـه وجـه امـام ابوحنيفه وتعديل ارکان ته واجب وائي.ځکه چې ددې بغيره لمونځ کافي لمونځ نه دئ.ددغه تعديل ارکان نه کولو په وجه خوحضوردلمانځه دراګرزولو حکم ورکړئ.

فـائـده دامام شافعي اوامام ابويوسف په نېز فرض دئ.ددوئي دليل دغه لوړ حديث دئ.

پـام لـرنـه د امام شافعي په نېز د فرضو وروسته سيدا دسنتو درجه ده په مابين کې دواجب درجه نسته.که په يوحديث کي تاکيد وي نودئ سيدا دهغه دفرضيت پرخوا ځي.اودامام ابوحنيفه په نېز د فرضو او سنتو ترمنځ دواجب درجه ده نوکه چيرې ډېر زيات تاکيدراغلئ و خوفرضيت به ثابت کړي.که ددې څخه کم(لږ)تاکيدوي نوواجب به وي.اوکه ددې څخه کم(لږ)تاکيدوي نوسنّت به وي. ددغه اصولي فرق پر بنياد باندي دامام ابوحنيفه او امام شافعي ترمنځ اختلاف راغلئ دئ.

پـام لـرنـه يو روايت دئ چې تعديل ارکان او قومه سنّت ده.

[192](22)پـه سـجده کـې دي دواړه لاسـونه پرمځکـه تـم کړي(ولګوي)اوخپـل مخ(چهـره)دي ددواړو ورغو(لاسو)ترمنځ کښيږدي.

تـشريـح دسجدې کولوطريقه داده چې تندئ اوپزه دي پرمځکه کښيږدي او دواړه لاسونه دي هم پرمځکه کښيږدي خو دارنګه چې چهره(مخ) د دواړو لاسو په مابين کي وي.

وجـه (1) په حديث دئ قلت للبراء بن عازب اين كان يضع وجهه اذا سجد بين كفيه؟ فقال بين كفيه

حاشيه : (الف) حضورچې به سمع الله لمن حمده ووائي نواللهم ربنالك الحمد به وائي (ب) حضوروفرمائل لمونځ کافي لمونځ نـه دئ ترهغو چـې سړئ په رکوع اوسجده کي دنرئ ملا(شا)هډوکي(اډوکي)سيدا نه کړي(يعني په اطمينان سره پوره رکوع اوسجده ونه کړي) .

وَجهَهُ بَينَ كَفَّيهِ [193](23) وَسَجَدَ عَلىٰ اَنفِهِ وَجَبهَتِهِ فَاِن اِقتَصَرَ عَلىٰ اَحَدِهِمَا جَازَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالىٰ وَقَالاَ لاَيَجُوزُ الاِقتِصَارُ عَلىٰ الاَنفِ اِلاَّ مِن عُذرٍ .

(ترمذي شريف،باب ماجآء اين وضع الرجل وجهه اذا سجد ص62نمبر271) في ابي داؤد عن عبدالجبار بن وائل عن ابيه عن النبي فلماسجد وضع جبهته بين كفيه وجافىٰ عن ابطيه (الف) (ابوداؤدشريف،باب افتتاح الصلوة ص114 نمبر736)ددې حديث څخه معلوم سوچې دسجدې پروخت دي چهره(مخ)د ورغوو په منځ کي کښيږدي او ورغوي دي پرمځکه کښيږدي.دواړي ږدئ دي دمځکي څخه لوړي ونيسي اود بغل څخه دې جلا ونيسي. ددې دليل داحديث دئ عن البراء قال قال رسول الله اذا سجدت

فضع كفيك وارفع مرفقيك وفي حديث آخر اذا صلي فرج بين يديه حتي يبدو بياض ابطيه (ب) (مسلم شريف،باب الاعتدال في السجودووضع الكفين علي الارض ص194نمبر 495+بخاري شريف،باب يبدي ضبعيه ويجافي في السجود نمبر807)

[193](23)اوسجده دي وکړي پرخپله پزه باندي اوپر تندي باندي.بيا کـه ددواړو څخـه پريـوه بانـدي اکتفآء وکړه نوجائزده دابوحنيفه په نبز اوصاحبين وفرمائل نه دئ جائز اکتفآء کول پر پزه باندي مگر دعذر په وجه.

تـشريـح پر پزه اوتندي دواړو باندي سجده کول پکاردئ.لېکن که ددواړو څخه هسي پريوه باندي يعني صرف پـر پزه يا صرف پر تندي باندي اکتفآء وکړه نوبياهم سجده اداکيږي.خويو څه کمئ به پاته سي.لېکن دصاحبين امامـانو په نبزتندئ اصل دئ ځکه که صرف پر تندي سجده وکړه نوسجده به ادا سي.اوکه صرف پر پزه سجده وکړه اوپر تندي باندي هيڅ عذر نه وي نوسجده يه نه اداکيږي. ځکه چي ده پراصل باندي سجده ونه کړه.دامام ابوحنيفـه دليـل دادئ

وجـه (1) دئ فرمائي چي دمخ (چهرى)پـه ايښولوسـجده اداکيـږي کـه تنـدئ ولګيـږي کـه پـزه ولګيـږي خـو سـر پرمځکه ولګېدئ (2) په حديث کي ددواړو دايښولو تذکره موجود ده.په حديث کي دئ عن ابن عباس قال قال النبي امرت ان اسجد علي سبعة اعظم علي الجبهة واشاربيده علي انفه واليدين والرکبتين واطراف القدمين (ج) (بخاري شريف،باب السجودعلي الانف ص112نمبر812+مسلم شريف،باب اعضآء السجود والنهي عن کف الشعر ص193نمبر490+ترمذي شريف،باب ماجآء في السجودعلي الجبهة والانف ص61 نمبر270) نوځکه ددواړو څخه پريوه باندي اکتفآء هم کفايت کوي.

وجـه (1) صاحبين فرمائي چي په سجده کي اصل تندئ دئ.پزه فرع ده نوځکه که بغيـره عـذر تنـدئ نـه ولګـاوئ نوسجده يه نه سوه صحيح (2) په بعضو حديثوکي صـرف دتنـدي تـذکره سـته.عن ابن عباس قال امر النبي ان يسجد علي سـبعة اعضـآء ولايکـف شـعرا ولاثوبا،الجبهـة واليـدين والـرکبتين والـرجلين (د) (بخـاري شـريف،باب السـجودعلي سـبعة اعظـم ص112 نمبر809+مسلم شريف،باب اعضآء السجودوالنهي عن کف الشعر ص193 نمبر 490)

حاشيه : (الف) وائل بن حجرفرمائي چي حضوربه کله سجده کوله نوخپل تندئ به ددواړو ورغوو(لاسو)په مـابين کـي ايښـووئ اولاسـونه به ددواړو اړخو څخه جلا(ليري)ايښـوول (ب) حضـوروفرمائل چـي کلـه سـجده کـوئ نوخپـل ورغوي(لاسونه)کښـيږدئ اودواړه اړخونـه پورته کئ.في حديث آخر چي کله به لمونځ کاوئ نودواړه لاسونه به دبغل څخه جلا ايښوول تردي چـي دبغـل سـپين والـئ بـه ښـکاره کېدئ (ج) حضوروفرمائل چي وماته حکم سوئ دئ چي پر اوه اډوکو(هډوکو)باندي سجده وکړم.پرتنـدي باندي.اوپـه خپـل لاس بانـدي وپـزه تـه اشـاره وکړه.اوپـردواړو لاسـو بانـدي.پردواړو ځنګنوبانـدي.اوپر دواړوقـدمو (پښـو) بانـدي (د) حضـور تـه حکـم وسـو چـي پـر اوه(7)اندامويانديي سجده کوه او نه دي بېښتان سره راتولوي او نه دي کيږي سره راتولوي.تندي او پر دواړولاسو.دواړو ځنګنـو او دواړو پښو

باندي سجده کوه .

[194](24) فَإِن سَجَدَ عَلىٰ كَورِ عَمَامَتِهِ اَوعَلىٰ فَاضِلِ ثَوبِهِ جَازَ [195](25) وَيُبدِي ضَبُعَيهِ وَيُجَافِي بَطنَهُ عَن فَخِذَيهِ [196](26) وَيُوَجِّهُ اَصَابِعَ رِجلَيهِ نَحوَالقِبلَةِ .

ددي حديث څخه معلوم سو چي تندئ اصل دئ نوځکه بغيره عذر که تندئ نه ولګاوئ نوسجده يه نه سوه ادا.په دي کي دتندي خاص ذکردئ.

[194](24)که دلنګوتي پرخاك(کناره)باندي يايه پر زائده کيږه باندي سجده وکړه نوجائز دئ.

وجـه په حـديث کـي دئ عن انس بن مالك قال کنانصلي مع النبي فيضع احدنا طرف الثوب من شدة الحر في مکان السجود (الف) (بخاري شريف،باب السجودعلي الثوب في شـدة الحـر ص56 نمبر385+ نسائي شريف،باب السجودعلي الثياب ص125 نمبر1117+ ابوداؤد شريف،باب الرجل يسجدعلي ثوبه ص103 نمبر660) ددي حـديث څخـه معلـوم سـوچي دلنګوتي(عمـامي) پـر خاك(کناره) باندي که سجده وکړي نو سجده ادا کيږي.

لـغت کور : دلنګوتي پيچ،کناره،خاك

[195](25) دواړه بغلونه دي کشاده(ځله خلاص) ونيسي اونس دي د ورنو څخه جلاکوي.

تـشريـح نارينه دي دارنگه سجده كوي چي بغل دنس څخه ليري وي.او ورنونه هم دنس څخه جلاوي.

وجـه په حديث كي ددې ثبوت سته عن مالك بن بحينة ان رسول الله كان اذا صلىٰ فرج بين يديه حتي يبدو بياض ابطيه (ب) (بخاري شريف،باب يبدي ضبعيه ويجافي جنبه في السجود ص56 نمبر807+مسلم شريف،باب الاعتدال في السجدووضع الكفين علي الارض ص194 نمبر495) ددې حديث څخه معلوم سوچي بغل دي د ورانه څخه اودنس څخه دومره جلا نيسي چي بل څوك دشادخوا څخه دده دبغل سپين والئ ووينې.

پـام لـرنـه بښځه به سره ټوليږي سجده به كوي.دا رنگه كول ددې دستردپاره بهتر(بښه)دئ.

لـغت ضبع : د ضبع څخه دتثنيې صيغه ده بغل، يجافي : ليري دي ونيسي.

[196](26)(دسجدې په حالت كي دي)ددواړو پښو گوتي دي وقبله ته متوجه كړي.

وجـــه پـه حـديث كـي دئ يستقبل باطراف رجليه القبلة قال ابوحميد عن النبي (ج) (بخاري شريف،باب يستقبل باطراف رجليه القبلة ص112) فقال ابوحميد الساعدي اناكنت احفظكم لصلوة رسول الله فذكرالحديث وفيه واذا سجد وضع يديه غير مفترش ولا قابضهما واستقبل باطراف اصابع رجليه القبلة (د) (بخاري شريف،

حاشيه : (الف) مور به دحضور سره لمونځ كاوئ نو زمور څخه به يوه دسختي گرمئ په وجه دكپړي څاك دسجدې پرځاى اينبوئ (ب) حضور چې به لمونځ كاوئ نودواړه لاسونه به د اړخو څخه كشاده اينبول دومره چې دبغل سپين والئ به بښكاره كېدئ (ج) ابوحميد الساعدي دحضور په باب نقل كړي دي چې ددواړو پښو په گوتوسره دي دقبلې استقبال كوي (د) ابوحميد وويل چې ما دتاسو څخه زيات دحضور لمونځ ياد كړئ دئ. بيا يه يو ورد حديث ذكر كئ او په

[297]((27) وَيَقُولُ فِي سُجُودِهِ سُبحَانَ رَبِّيَ الاَعلىٰ ثَلٰثاً وَذَالِكَ اَدنَاهُ [198](28) ثُمَّ يَرفَعُ رَاسَهُ وَيُكَبِّرُ [199](29) وَاِذَا اِطمَئَنَّ جَالِسًا كَبَّرَ وَسَجَدَ .

باب سنة الجلوس في التشهد ص114 نمبر828+ سنن للبيهقي،باب ينصب قدميه ويستقبل باطراف اصابعهما القبلة،ج2 ص167 نمبر2717) ددې حديث څخه معلوم سوچي دسجدې په حالت كي دپښوگوتي بايد دقبلې پرطرف وي.

[197](27) په سجده كي دي سبحان ربي الاعلىٰ دري واره ولولي او دغه ادنٰي درجه ده.

وجـــــه عن ابن مسعود قال...اذاسجد فقال في سجوده سبحان ربي الاعلىٰ ثلث مرات فقد تم سجوده وذالك ادناه (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في التسبيح في الركوع والسجود ص60 نمبر261+ ابوداؤد شريف،باب مايقول الرجل في ركوعه وسجوده ص133 نمبر870) ددې حديث څخه معلوم سوچي دري واره سبحان ربي الاعلىٰ ويل په كار دئ.او دغه ادنيٰ(لږ)مرتبه ده كه ددې څخه زيات ووائي نو بنه كاردئ.

پـام لـرنـه خالي سر پرمځكه اينبولو څخه فرض سجده ادا كيږي دا نورټول سنتونه دي.

[198](28) بيادي سر پورته كړي او تكبير دي ووائي.

تـشريـح دتكبير دويلو سره دي په جلسه كي په اطمينان سره كښيني.

وجـه عن انس...كان رسول الله اذا قال سمع الله لمن حمده قام حتي نقول قد اوهم ثم يسجد ويقعد بين السجدتين حتي نقول قد اوهم (ب) (مسلم شريف،باب اعتدال اركان الصلوة وتخفيفهما في تمام ص189 نمبر483)يعني حضورد دوسجدو په مابين كي دومره ډېر كښېنستئ چي دخلگو به دا خيال سوچي دحضور هېرسو.ددې څخه معلوميږي چي په قومه كي په اطمينان سره ناسته په كار ده.ددغه احاديثو په وجه دبعضو امامانو په نېز تعديل اركان واجب دئ.

پـام لـرنـه دومره سرپورته کړئ چې وناسته ته قریب(نزدي)سو نو اَوّلَه سجده یه اداسوه.
[199](29)اوچي کله په اطمینان سره کښیني نوتکبیردي ووائي اوسجده دي وکړي.
وجـه د دومي سجدې دلیل په ډیرو احادیثو کي دئ مثلا عن ابي هريرة ان النبي دخل المسجد فدخل رجل فصلي...ثم اسجد حتي تطمئن ساجدا ثم ارفع حتي تطمئن جالسا ثم اسجد حتي تطمئن ساجدا ثم افعل ذالك في صلوتك كلها (الف) بخاري شريف،باب امرالنبي الذي لايتم ركوعه بالاعادة ص109 نمبر793) په دې حدیث کي غلطي کونکي صحابي ته د دومي سجدې کولوتلقین هم سوئ دئ.نوځکه دومه سجده هم فرض ده لکه څرنګه چې اوله سجده فرض ده.

هغه کي ذکرکړي دئ چې کله به حضورسجده کوله نودواړه لاسونه به ایښول.نه به غوږول اونه به سره ټولول.او دپښودګوتوپه کنارو(سرو)به دقبلې استقبال کاوئ (الف) حضوروفرمائل چې سجده وکي نو په سجده کي دي دري واره سبحان ربي الاعلیٰ ووائي دهغه سجده پوره سوه اودغه ادنٰي مرتبه(درجه)ده (ب) حضوربه سمع الله لمن حمده ویل نودومره په ولاړي ولاړو چې زمونږبه داخیال سوچې شایدوحضورته وهم ورپیداسو.بیابه سجده کول اوددواړوسجدوپه مابین کي به کښېناستئ دومره چې زمونږ به داخیال سوچې شایدوحضورته وهم پیداسو(یعني دومره ډېر به په قومه کي درېدئ او په جلسه کي به کښېنستئ) (ج) حضورمسجدته داخل سو.بیایوسړئ داخل سواولمونځ په وکئ...بیاسجده کوئ تردې چې ښه په اطمینان سره سجده وکئ بیا سر پورته که تردې چې ښه په اطمینان سره کښېنه.بیاسجده وکه تردې چې ښه په اطمینان سره سجده وکي.بیادغه رنګه په ټولو لمنځوکي وکړه .
[200] (30) فَإِذَا اِطمَئَنَّ سَاجِدًا كَبَّرَ وَاِستَوىٰ قَائِمًا عَلىٰ صُدُورِ قَدَمَيهِ وَلاَ يَقعُدُ وَلاَ يَعتَمِدُ بِيَدَيهِ عَلىٰ الأَرضِ [201] (31) وَيَفعَلُ فِي الرَّكعَةِ الثَّانِيَةِ مِثلَ مَافَعَلَ فِي الأُولىٰ

---

[200](30) چې کله په اطمینان سره سجده وکړه نو تکبیر دي ووائي ددواړو پښو پرتلو باندي سیدا دي ودریږي.او نه دي کښیني او نه دي دواړه لاسونه پر مځکه لګوي.
تشریح دسجدې څخه دولاړېدو پر وخت دي په مابین کي جلسه استراحت نه کوي اونه دي پرمځکه لاس لګوي بلکه دواړه لاسونه دي پرځنګنو تکیه کړي اوسیدا دي ودریږي.
وجـه (1) په حدیث کي دئ عن ابي هريرة قال كان النبي ينهض في الصلوة علي صدور قدميه (الف) (ترمذي شريف،باب منه ايضا(كيف النهوض من السجود) ص64 نمبر288+سنن للبيهقي،باب من قال يرجع علي صدورقدميه ج2 ص179 نمبر2763)ددې څخه معلوم سو چې حضور نه کښېنستئ بلکه پر پښوسیدا درېدئ (2) عن محمد بن حجادة اذا نهض علي ركبتيه واعتمد علي فخذيه (ب) (ابوداؤد شريف،باب افتتاح الصلوة ص114 نمبر736)ددې حدیث څخه معلوم سو چې حضور به سیدا ولاړېدئ.
فـائـده دامام شافعي په نبز دآخري سجدې وروسته جلسه استراحت سته.دده دلیل داحدیث دئ (۱) اخبرني مالك بن الحويرث الليثي انه رايٰ النبي يصلي فاذا كان في وتر من صلوته لم ينهض حتي يستوي قاعدا(ج) (بخاري شريف،باب من استويٰ قاعدا في وتر من صلوته ثم ينهض ص113 نمبر823+ ترمذي شريف،باب كيف النهوض من السجود ص64 نمبر287) (2) جآء نامالك بن الحويرث...واذا رفع راسه عن السجة الثانية جلس واعتمد علي الارض ثم قام (د) (بخاري شريف،باب كيف يعتمدعلي الارض اذا قام من الركعة ص114 نمبر824)ددې حدیث څخه معلوم سوچې جلسه استراحت سنت ده.زمونږ جواب دادئ چې دا یه دسپینږرتوب(کمزورئ)په وخت کي کړي ده. خوبیا هم که څوك جلسه استراحت وکي نو سجده سهو نه لازمیږي ځکه چې په حدیث سره ثابته ده.
لـغت صدورقدميه : دپښې لوړه حصه چې دهغه په زور سړئ ولاړیږي.
[201](31) په دوم رکعت کي دي هغه وکي کوم چې په اول رکعت کي کیږي مګر داچي ثنآء دي نه وائي او اعوذ بالله دي نه وائي.
وجـه ثنآء صرف په اول رکعت کي ویل کیږي.ځکه په دوم رکعت کي دي دغه دواړه نه وائي.

حاشيه : (الف) حضورچي به په لمانځه کي دربدئ نود دوارو قدمو پرسينه(ځيګره)باندي به(يعني سيدا)دربدئ. (ب) دمحمدبن حجاده ځخه روايت دئ چي حضوربه ولاړبدئ نوپر دوارو ځنګنو به ولاړبدئ اوپر دوارو ورنو به تکيه لګول (ج) حضور وليدل سوچي کله به دلمانځه طاق رکعت و نو نه به دربدئ تر دې چي بنه سم به کښېنستئ (د) چې د دومي سجدې ځخه به سر پورته کئ نو کښې به ناستئ او پر مځکه به تکيه ولګول بيا به ولاړ سو.

اِلاَّ اَنَّهُ لاَيَستَفتِحُ وَلاَ يَتَعَوَّذُ [202](32) وَلاَيَرفَعُ يَدَيهِ اِلاَّفِي التَّكبِيرَةِ الأُولىٰ [203](33) فَاِذَا رَفَعَ رَاسَهُ مِنَ السَّجدَةِ الثَّانِيَةِ فِي الرَّكعَةِ الثَّانِيَةِ اِفتَرَشَ رِجلَهُ اليُسرىٰ فَجَلَسَ

پـــام لـــرنـــه په دوم رکعت کي به بسم الله آهسته(سوکه)وائي.ځکه چې دقرات ځخه مخکې بسم الله سوکه ويل سنت ده.په حديث کې دئ عن ابن عباس قال كان النبي يفتتح صلوته ببسم الله الرحمن الرحيم (ترمذي شريف،باب من راىٰ الجهر ببسم الرحمن الرحيم ص245)ددې ځخه معلوم سوچي هرركعت بايد د بسم الله الرحمن الرحيم ځخه شروع سي(په دارقطني نمبر1143 کي هم سته)

[202](32) لاس به نه پورته کوي مګر دتکبير اولۍ پر وخت.

تـشريـح (1) داحنافو په نبز دتکبير اولۍ ځخه علاوه بل وخت لاس پورته کول سنت نه دئ.نه درکوع ځخه دپورته کېدو پروخت او نه ددوم رکعت دشروع کېدو پروخت.ددې دليل په مسئله نمبر9کې دپام لرنه دعنوان لاندې تېر سوئ دئ.دا دليل هم په ياد ساتئ چې په حديث کې دئ. عن جابر بن سمرة قال خرج علينا رسول الله فقال مالي اراكم رافعي ايديكم كانها اذناب خيل شمس؟ اسكنوا في الصلوة (الف) (مسلم شريف باب الامربالسكون في الصلوة والنهي عن الاشارة باليد ص181 نمبر430)ددې حديث ځخه معلوم سوچي په لمانځه کې سکون او اطمينان مطلوب دئ.اوګړي ګړئ لاس پورته کولوکي سکون نسته.په دې وجه هم رفع يدين نه دئ په کار (2) عن علقمة عن عبدالله قال صليت مع النبي ومع ابي بكر ومع عمر فلم يرفع ايديهم الاّ عند تكبيرة الاولىٰ في افتتاح الصلوة (ب) (دارقطني،باب ذكرالتكبير ورفع اليدين الخ ص296 نمبر1120+ ترمذي شريف،باب ماجآء ان النبي لم يرفع الا في اول مرة ص50 نمبر257)ددې حديث ځخه معلوم سوچي دتکبير اولۍ ځخه علاوه په يوه وخت کي هم رفع يدين نه دئ کول په کار.

فـــائـــده امام شافعي د دوم رکعت په شروع کي هم د رفع يدين قائل دئ.دده دليل دا حديث دئ عن نافع ان ابن عمركان اذا دخل في الصلوة ... واذ قام من الركعتين رفع يديه ورفع ذالك ابن عمر الي النبي (ج) (بخاري شريف،باب رفع اليدين اذا قام من الركعتين ص102) په دغه وجه دامام شافعي په نبز ددوم رکعت دشروع کېدو پروخت هم رفع يدين سته.

[203](33) چې کله سر په دوم رکعت کي ددومي سجدې ځخه را پورته کي نوخپله کنې پښه دي وغوړوي او پر هغه دي کښيني او بنئ پښه دي جګه ودروي.

تـشريـح داحنافو په نبز په دوارو تشهدو کي به بنئ پښه جګه دروي او کنې پښه به غوړوي او پر هغه به کښيني.

وجـــه (1) فقال ابوحميدالساعدي فاذا جلس في الركعتين جلس عليٰ رجله اليسري ونصب اليمنيٰ واذا جلس في الركعة الآخرة قدم رجله اليسريٰ ونصب الاخريٰ وقعد علي مقعدته (د) (بخاري شريف،باب سنة الجلوس في التشهد ص114،نمبر828 +

حاشيه : (الف) جابربن سمرة فرمائي چې حضور زمونږ مخ ته راغلئ او وفرمائل څه وجه ده چې خپل لاسونه مو پورته کړي دي.لکه دځغستا دآسانو لکئ چې وي؟.په لمانځه کي په سکون سره ووسئ (ب) وفرمائل ما لمونځ وکئ دنبي اوحضرت ابوبکراو حضرت عمر سره،نوهغو لاس نه کړئ پورته مګر صرف دتکبيراولۍ پر وخت دلمانځه په شروع کي (ج) ابن عمر به چې په لمانځه کې داخلېدئ ... چې کله به ددوارو رکعتو ځخه ولاړېدئ نو لاس به پورته کاوئ.ابن عمردا حديث تر حضور پوري مرفوع کړئ دئ (د)

ابوحميدالساعدي وفرمائل ... بس چي كله پر دواړو ركعتو كښيني نو پر كنې پښه دي كښيني او بنئ پښه دي جگه ودروي. بيا چي پر آخري ركعت كښيني نو كنې پښه دي مخ ته كي او بنئ پښه دي جگه ودروي او پر خپل مقعد دي كښيني(يعني تَوَرّك دي وكړي) عَلَيهَا وَنَصَبَ اليُمنيٰ نَصبًا [204] (34) وَوَجَّهَ اَصَابِعَهُ نَحوَ القِبلَةِ وَوَضَعَ يَدَيهِ عَلَيٰ فَخِذَيهِ وَيَبسُطُ اَصَابِعَهُ .

مسلم شريف،باب مايجمع صفة الصلوة ومايفتتح به ص194نمبر498) (2) عن وائل بن حجر قال قدمت المدينة قلت لانظرن الىٰ صلوة رسول الله فلما جلس يعني للتشهد افترش رجله اليُسريٰ ووضع يده اليُسريٰ يعني علي فخذه اليُسريٰ ونصب رجله اليُمنيٰ (الف) (ترمذي شريف،باب كيف الجلوس في التشهد ص65 نمبر292)ددې احاديثو څخه معلوم سوچي په تشهدكي بنئ پښه جگه درول په كارده او كنې پښه دي وغورۍ اوپر هغه دي كښيني.او په دوم حديث كي داَوَّلي ناستي او آخري ناستي قيد هم نسته. په دغه وجه په دواړو ناستو كي داحنافو په نېز په يوه انداز (يوركم) ناسته مسنون ده.

فـا ئـد ه (1) دامام مالك په نېز په آخري ناسته كي تورك سنت دئ.د تورّك مطلب دادئ چي دواړي پښي دي وشا ته كي او پر مقعددي كښيني.دده دليل دبخاري شريف هغه لوړ حديث دئ(بخاري شريف،نمبر828) (2) په حديث كي دئ حتي اذا كانت السجدة التي فيها التسليم اخر رجله اليُسريٰ وقعد متوركًا علي شقه الايسر (ب) (مسلم شريف،باب صفة الجلوس في الصلوة وكيفية وضع اليدين علي الفخذين 216 نمبر579+ ابوداؤدشريف،باب من ذكر التورك في الرابعة ص145نمبر963)ددې حـديث څخـه معلوم سو چي په آخري ناسته كي تورك سنت دئ.

[204](34)دپښوگوتي دي وقبله ته متوجه كي او دواړه لاسونه دي پر دواړو ورنو كښيږدي اود لاسوگوتي دي كشاده(خله خلاصي) ونيسي.

وجـه (1) دپښوگوتي وقبله ته متوجه كولو دليل داحديث دئ عن عبدالله بن عمر قال من سنة الصلوة ان تنصب القدم اليُمنيٰ استقباله باصابعها القبلة والجلوس علي اليُسريٰ (ج) (نسائي شريف،باب الاستقبال باطراف اصابع القدم القبلة عندالقعود للتشهد ص161نمبر1159) (2) واقبل بصدرة اليمني علي قبلته (ابوداؤدشريف،من ذكرالتورك في الرابعة نمبر967 ددې بـاب آخـري حـديث دئ)ددې حديث څخه معلوم سوچي په تشهد كي د ناستي پر وخت دي دپښوگوتي پر قبله رُخ(جانب)وگرزوي.

دلاسو گوتي پر ورنو باندي دايښوولو دليل او دښي لاس دگوتو څخه حلقه(گول دائره)جوړولو اواشاره كولـو دليل په دې حديث كي دئ.عن وائل بن حجر قال ... ثم جلس فافترش رجله اليُسريٰ ووضع يده اليُسريٰ علي فخذه اليُسريٰ وحد مرفقه الايمن علي فخذه اليُمنيٰ وقبض ثنتين وحلق حلقة ورايته يقول هكذا وحلق بشر الابهام والوسطيٰ واشار بالسَّبَّابة (د) (ابوداؤدشريف،باب كيف الجلوس في التشهد ص145 نمبر957) عاصم بن كليب الجرمي عن ابيه عن جده قال دخلت

حاشيه : (الف) وائل بن حجرفرمائي زه مديني ته راغلم چي دحضورلمونځ ووينم.بس چي دتشهدلپاره كښينستئ نو كنې پښه يـه وغـورول اوپر هغه يه كنِ لاس كښيښوئ يعني پر كنِ ورانه باندي او بني پښه يه جگه ودرول (ب) تردې چي هغه سجده وسول چي پـه هغـه كـي سلام گرزي نوكنې پښه يه وشاته كړه اوپر كنې خو ايه تورك وكړئ كښيښتئ (ج) عبدالله بن عمر فرمائي چي دلمانځـه دسـنت څخـه دادئ چي بنئ قدم دي جگ ودروي او په خپلوگوتو سره دي دقبلي استقبال وكي اوپـر كنـه پښـه دي كښـيني (د) وائـل بـن حجرفرمـائي چـي ... بياكښيښتئ او خپله كنه پښه يه وغورول او كنِ لاس يه پر كنِ ورانه باندي كښيښوئ او بنئ ږيرئ يه دحد په شان جـوړه كـړه او خنصـر او كشنئ گوتي را وگرزولي او پورا حلقه يه جوړه كړه او ما وليدئ چي ده دغه رنگه كول.راوي بشر دبټي گوتي او دمينځ د گوتي څخـه حلقه جوړه كړه اودشهادت په گوته اشاره وكړه .

[205] (35) ثُمَّ يَتَشَهَّدُ وَالتَّشَهُّدُ اَن يَّقُولَ اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلامُ عَلَيكَ اَ يُّها النَّبِيُّ وَرَحمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلاَمُ عَلَينَا وَعَلَيٰ عِبَادِاللهِ الصَّالِحِينَ

علي النبي وهويصلي وقد وضع يده اليُسريٰ عليٰ فخذه اليُسريٰ ووضع يده اليُمنيٰ علي فخذه اليُمنيٰ وقبض اصابعه وبسط السبابة (الف) (ترمذي شريف،باب ابواب الدعآء ج 2 ص199 نمبر3587 دابواب المناقب څخه دوې صـفحې مخكـې دئ +نسائي شريف،باب قبض الثنتين من اصابع اليداليُمنيٰ وعقدالوُسطيٰ ص42 نمبر1269) په دې باب كي دپر حديثونه نقل كړي دي.ددې حديث څخـه

معلوم سوچي لاس دي پر ورانه کښيږدي دښي لاس په ګوتو دي حلقه جوړه کړي او دشهادت په ګوته دي د لااله الاالله دوينا پر وخت اشاره وکړي.

[205](35) بيا دي تشهد ووائي او تشهد دادئ چي ودي لولي التَّحيَّاتُ لله الخ.

وجه (1) دا دعبدالله بن مسعود تشهد ده او داحنافو په نبزددي لوستل افضل دئ.دهغه وجه داده چي وعبدالله بن مسعودته ددي تشهد دويلو حکم سوئ دئ. قال عبدالله بن مسعود کنا اذا صلينا خلف النبي قلنا السَّلام علي جبرئيل وميکائيل السَّلام علي فلان وفلان فالتفت الينا رسول الله فقال انَّ الله هوالسَّلام فاذاصليٰ احدکم فليقل التَّحيَّات لله الخ (ب) (بخاري شريف،باب التشهد في الأخرة ص 115 نمبر831 +مسلم شريف،باب التشهد في الصلوة ص173 نمبر402) په دي حديث کي د فَلْيَقُل امر صيغه چي پر وجوب دلالت کوي نو په دغه وجه دعبدالله بن مسعود تشهد زمونږ په نبز زياته بهتره(بنه)ده (2) دمسلم شريف په حديث کي دا هم سته سمعت ابن مسعود يقول علَّمني رسول الله التشهد کَفّي بين کَفَّيه کما علَّمني السورة من القرآن (ج) (مسلم شريف،باب التشهد في الصلوة ص174 نمبر402+ ترمذي شريف،باب ماجآء في التشهد ص65 نمبر289+نسائي شريف،باب تعليم التشهد کتعليم السورة ص178 نمبر1279) ددي حديث څخه نور اهميّت زيات سو.په دي وجه چي لکه څرنګه چي دقرآن تعليم وکړاوئ دغه عبدالله بن مسعودته حضور دتشهد تعليم وکړي.نو ځکه زمونږ په نبز دغه تشهد لوستل بهتره ده.

فائده دامام شافعي په نبز دعبدالله بن عباس تشهد لوستل بهتره ده.دده دليل دغه حديث دئ عن ابن عباس انه قال کان رسول الله يُعَلّمُنَاالتَّشهُّدکمايعلّمُنَاالسورة من القرآن فکان يقول التَّحيَّاتُ المبارکاتُ الخ (د) (مسلم شريف،باب التشهد في الصلوة ص 174 نمبر403+ترمذي شريف،باب منه،باب ماجآء في التشهد ص65 نمبر290) ددي حديث په وجه دده په نبز

حاشيه : (الف) زه پرحضورباندي داخل سوم.حضورلمونځ کاوئ اوحال دا و چي کنِ لاس په پر کنِ ورانه باندي ايښئ و او بنئ لاس يه پر بني ورانه باندي ايښئ و.او ګوتي را ټولي کړي وي.اود شهادت ګوته خلاص کړي وه (ب) عبدالله بن مسعودفرمائي چي کله به مونږ په حضور پسي لمونځ کاوئ نومونږ به ويل اَلسَّلامُ عليٰ جبرائيل وميکائيل اَلسَّلامُ عليٰ فُلانٍ وفُلانٍ نوحضور مونږ ته متوجه سو او وفرمائل الله هغه سلام دئ.بس چي دتاسو څخه يوڅوک لمونځ وکي نو بايد ووايي اَلتَّحيَّاتُ لله الخ (ج) ابن مسعودفرمائي چي وما ته حضور تشهد را وښول په داسي حال کي چي زما لاس دده په لاس کي و لکه څرنګه چي به دقرآن سورة را ښوئ (د) عبدالله بن عباس فرمائي چي حضوربه مونږ ته تشهد رابنوه لکه څرنګه چي دقرآن سورة رابنوئ.بس ويل به التَّحيَّاتُ المبُارَکَاتُ الخ .

اَشهَدُ اَن لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَاَشهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً عَبدُهُ وَرَسُولُهُ [206](36) وَلاَيَزِيدُ عَليٰ هٰذَا فِي القَعدَةِ الأُولیٰ [207] (37) وَيَقرَأُ فِي الرَّکعَتَينِ الاَخِيرَتينِ بِفَاتِحَةِ الکِتَابِ خَاصَّةً .

دعبدالله بن عباس تشهد لوستل مسنون ده.

پام لرنه تشهد لوستل واجب ده که هره تشهد وي.ځکه چي په لوړ حديث کي دامر صيغه راغلي ده او دهغه څخه وجوب ثابتيږي.او دسورة په شان تعليم ورکولو څخه هم تاکيد ثابتيږي.

[206](36) په قعده اُولیٰ کي دي پر تشهد باندي زياتوب نه کوي.

تشريح په قعده اُولیٰ(اوله ناسته)کي در تشهد زيات څه دي نه وائي.دغونه دي ووائي او دريم رکعت ته دي ولاړ سي.

وجه عن عبدالله بن مسعود قال کان النبي في الرکعتين کاَ نَّه عليٰ الرضف قلت حتي يقوم قال ذالك يريد (الف) (نسائي شريف،باب التخفيف في التشهد الاول ص164 نمبر1177+ ابوداؤدشريف،باب في تخفيف القعود ص150 نمبر995) په دي حديث کي دئ چي حضورپه قعده اُولیٰ کي دومره ژر ولاړېدئ ګواکي دئ پر ګرمو ډبرو باندي ناست و.ددي حديث څخه معلوم سو چي په قعده اُولیٰ کي دي در تشهد زيات څه نه وائي.

فـائـده دامام شافعي په نبز په قعده اُولیٰ کي به هم دتشهد وروسته درودشریف لولي(وائي بـه). دده دلیل هغـه حدیثونه دي چي په هغه کي دتشهد وروسته د درود شریف لوستلو فضیلت راغلئ دئ.

[207](37) او په آخري دو رکعتو کي به سورة فاتحه وائي په خاص توګه.

تـشریـح دماپښین او ماځیګر په آخري دو رکعتو کي قرات نه دئ فرض نو چي سورة فاتحه ووائي دا بهتر دئ. او که تسبیح ووائي دا هم ټیك(صحیح)دئ.

وجـه (1) عن عبدالله بن ابي قتادة عن ابيه ان النبي كان يقرأ في الظهر في الاوليين بام الكتاب وسورتين وفي الركعتين الاخريين بام الكتاب ويسمعنا الآية ويطول في الركعة الاولىٰ ما لايطيل في الركعة الثانية وهكذا في العصر (ب) (بخاري شريف،باب يقرا في الآخرين بفاتحة الكتاب ص107 نمبر776+ مسلم شريف،باب القرآءة في الظهروالعصر ص185 نمبر451) (2) جابر بن سمرة قال قال عمر لسعد لقد شكوك في كل شيئ حتي الصلوة اَمَّا اَنَا فَاَمُدُّ في الاوليين واحذف في الآخرين ولا آتو ما اقتديت به من صلوة رسول الله قال صدقت ذاك الظن بك (ج) (بخاري

حاشيه : (الف) حضوربه داولو دو رکعتوپه تشهد کي دارنګه وُ لکه چي پر ګرمو ډبرو باندي وي. ماورتـه وویـل چـي د ولاړېدو لپـاره ؟ وویل دغه په مراد دئ (ب) حضوردماپښین په اولو دو رکعتو کي سورة فاتحه او دوه سورتونه لوستل او په نـورو دو رکعتـو کـي سـورة فاتحه لوستل او مورِ ته کله نا کله آیت اوروئ.اول رکعت په وږداوئ دومره دوم یـه نـه وږداوئ.او دغـه رنګـه پـه مـاځیګرکي کـول (ج) حضرت عمروحضرت سعدته وفرمائل ستا څخه په هرشئ کي شکایت سوئ دئ.تردي چي په لمانځه کي لا هم.حضـرت سـعدوفرمائل زه اول رکعت وږدوم او دوم مختصر کوم.اوزه کوتاهي نه کـوم دهغـه شـي پـه لږکـي کـوم چـي مادحضورسـره پـه لمانځـه کـي اقتداء کـړې ده.حضرت عمروفرمائل تا رشتیا وویل.ستا په باب زوما دغه ګمان و.

[208](38) فَإِذَا جَلَسَ فِي آخِرِالصَّلوةِ جَلَسَ كَمَاجَلَسَ فِي الأُولىٰ وَتَشَهَّدَ [209](39) وَصَلّيٰ عَلَيٰ النَّبِيِّ [210](40) وَدَعَا بِمَا شَآءَ مِمَّ يُشبِهُ اَلفَاظَ القُرآنِ

شریف،باب یطول في الاولیین ویحذف في الاخریین ص106 نمبر770+مسلم شریف،باب القرآءة في الظهر والعصر ص186 نمبر453) د اول حدیث څخه معلوم سوچي په وروستنئ دو رکعتو کي سورة فاتحه ویل کفایت کـوي.او پـه دوم حـدیث کـي هـم ددي اشاره سته چي په وروستنئ دو رکعتوکي اختصارکاوئ چي دهغه مطلب داغه کېدائي سئ چي صرف سـورة فاتحه یه ویل.په دغه وجه په وروستنئ دورکعتوکي سورة فاتحه ویل داحنافو په نبز په بعض روایاتو کي واجب ده اوپه بعض روایاتو کي مستحب ده.

فـائـده دامام شافعي په نبز په وروستنئ دو رکعتوکي سورة فاتحه ویل فرض ده (1) دلوړ حدیث پر بنیاد بانـدي (2) لاصلوة الابفاتحة الكتاب حدیث پر بنیاد باندي (حواله یه تېره سوی ده)

[208](38) بس چي کله دلمانځه په آخر کي کښیني نودغه رنګه دي کښیني لکه په قعده اُولٰي کي چي کښېنسـتلئ و اوتشهد دي ووائي.

تـشریـح په قعده اُولٰي کي کښه پښه غوړوي اوپر هغه کښېني اوښئ پښه جګه دروي دغه رنګه به په قعـده اخیـره کي هم کښېني.تَوَرُّك به نه کوي.اودتشهد لوستلو دلیل په مسئله نمبر34 کي تېرسوئ دئ.

[209](39) اوپر حضور دي درودشریف ووائي.

تـشریـح په اخیره ناسته کي دي پر حضور باندي درودشریف ووائي.درود ویل سنت دئ دا ویل په کار دئ لـېکن که نه ووائي بیاهم سجده سهو نه لازمیږي.

وجـه (1) په لمانځه کي د درودشریف دسنتیت دلیل دا آیت دئ انَّ الله وملائكته يُصَلُّونَ علي النَّبيّ يا اَيُّهاالَّذين آمنوا صلُّوا عليه وسلّموا تسليما (الف) (آیت 56سورة الاحزاب 33)ددي آیت په وجه په ژوند کي یو وار درود ویل فرض دئ او په لمانځه

کي سنت دئ (2) په حديث کي دئ عن كعب بن عجرة ... فقلنا قد عرفنا كيف نسلم عليك فكيف نصلي عليك؟ قال قولوا اَللّٰهُم صلّ علٰي محمدالخ (ب) (مسلم شريف،باب الصلوة علي النبي بعدالتشهد ص175 نمبر406+ابوداؤدشريف،باب الصلوة علي النبي بعدالتشهد ص147 نمبر976) ددي حديث څخه معلوم سوچي دتشهد وروسته پرحضورباندي درودشريف لوستل په کار دئ (3) عن سهل بن سعد انَّ النبيَّ قال لاصلوة لمن لم يصل علي نبيه (ج) (دارقطني،باب ذكروجوب الصلوة علي النبي في التشهد ص347 نمبر1327)ددي حديث څخه هم معلوم سوچي پر حضورباندي درودشريف لوستل په كاردئ.

[210](40) او دعآء دي وکړي چي زړه يه وغواړي.داسي دعآء چي دقرآن دالفاظو سره مشابه وي اوپه حديث کي منقول دعآء ګان وي اونه دي کوي دعآء دارنګه چي دكَلاَمُ النَّاس سره مشابه وي.

حاشيه : (الف) الله اوفرشتي پر حضور باندي درود را استوي. ايه مؤمنانو! تاسوهم پرحضورباندي درود اوسلام واستوئ (ب) مورِ وويل مورِ پوه سو چي پرتاباندي څه رنګه سلام وکو لېکن پر تا باندي درود څه رنګه واستو؟حضوروفرمائل اَللّٰهُمَّ صَلّ علٰي مُحَمَّدٍالخ وواياست (ج) حضوروفرمائل دهغه لمونځ نه کيږي چاچي پرخپل نبي باندي درود نه وايئ .

وَالاَدعِيَةِ المَاثُورَةِ وَلاَيَدعُو بِمَا يُشبِهُ كَلاَمَ النَّاسِ [211](41) ثُمَّ يُسَلِّمُ عَن يَّمِينِهِ وَيَقُولُ اَلسَّلاَمُ عَلَيكُم وَرَحمَةُ اللهِ وَيُسَلِّمُ عَن يَّسَارِهِ مِثلَ ذَالِكَ .

تشريح د درود وروسته دي هغه دعآء وکړي چي په قرآن کي وي يا په احاديثوکي منقول وي.

وجه (1) که دانساني کلام(خبرو په شان)دعآء وکړي نولمونځ به فاسد سي.نو ځکه دارنګه دعآء دي نه کوي چي دانسانانو دخبروسره مشابه وي (2) په حديث کي دئ عن عبدالله قال اذا كُنا مع النَّبيّ في الصلوة ... ثم ليَتَخَيَّر من الدعآء اعجبه اليه فيدعو به (الف) (بخاري شريف،باب ما يتخير من الدعآء بعدالتشهد وليس بواجب ص115 نمبر835+ ابوداؤدشريف،باب التشهد ص146 نمبر968) (3) عن عائشة زوج النبي اخبرته اَنَّ رسول الله كان يدعو في الصلوة اَللّٰهُمَّ اني اعوذبك الخ (ب) (بخاري شريف،باب الدعآء قبل السلام ص115 نمبر832)ددي حديث څخه معلوم سوچي دسلام څخه مخکي دعآء کول په کار ده.لېکن دا سنت دئ واجب نه دئ.

لغت الما ثورة : هغه چي په احاديثو کي منقول وي.

[211](41) بيادي سلام وګزوي پر ښي طرف او ودي وائي السَّلاَمُ عليكم ورحمة الله او سلام دي وکي پر کنِ طرف دغه رنګه.

وجه په حديث کي دئ (1) عن عبدالله ان النبي كان يسلم عن يمينه وعن شماله حتي يري بياض خديه السلام عليكم ورحمة الله،السلام عليكم ورحمة الله (ج) (ابوداؤدشريف،باب في السلام ص150 نمبر996+ بخاري شريف،باب التسليم ص116 نمبر837+ترمذي شريف،باب ماجآء في التسليم في الصلوة ص65 نمبر295)ددي حديث څخه ثابت سوچي سلام دارنګه ګرزول په کار دئ چي پر سائيډو(اطرافو)باندي ولاړو خلګو ته دسړي بارخوګان ښکاره سي (2) عن ابي سعيد قال قال رسول الله مفتاح الصلوة الطهور وتحريمها التكبير وتحليلها التسليم (د) (ترمذي شريف،باب ماجآء في تحريم الصلوة وتحليلها ص55 نمبر238+ ابوداؤدشريف نمبر618)ددي حديث پر بنآء باندي داحنافو په نېز په سلام سره دلمانځه څخه وتل واجب دئ.که دسلام بغيره دلمانځه څخه وواتئ نوسجده سهو پرلازمه ده.خوفرض نه ده.ځکه چي مخکي دا تيرسو چي حضور دتشهد په باب وفرمائل اذا قلت هذا او قضيت هذا فقد قضيت صلوتك الخ (ه) (ابوداؤدشريف،باب التشهد ص146نمبر970+ترمذي شريف،باب ماجآء في وصف الصلوة ص66 نمبر302) چي دتشهد په اندازه کښيني نولمونځ يه پوره سو.ددي څخه معلوميږي چي مخ ته بيا سلام ګرزول فرض نه دئ. دغه رنګه په طحاوي شريف کي دئ عن عمرو بن العاص ان رسول الله قال اذا قضي الامام الصلوة فقعد فاحدث هو واحد ممن اتم الصلوة معه قبل ان يسلم الامام فقد تمت صلوته فلايعود فيها (و) (طحاوي شريف،باب السلام في الصلوة هل هو من فروضها او من سننها ص194+ سنن للبيهقي،باب تحليل الصلوة بالتسليم ج2ص250نمبر2970) ددي

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل په دعآء کي چې کومه ښه وي هغه خوښه کړه او دهغه په ذريعه دعآء وکړه (ب) حضورپه لمانځه کي دعآء کوله اللهم اني اعوذبك الخ (ج) حضور سلام ګرزاوئ پر ښي طرف او پر کن طرف تردې چې دحضور د بارخو سپينوالئ ښکاره کېدئ السلام عليكم ورحمة الله (د) حضور وفرمائل دلمانځه دشروع کولو لپاره پاکي ده.او دهغه تحريمه کول تکبيردئ او دهغه خلاسول(ختم کول) سلام کول دئ (ه) چې کله دي تشهدوويل يادي هغه پوره کړل نوګواکه تا لمونځ پوره کړئ (و) چې امام لمونځ پوره کړئ بيا کښېنستئ بيا په حدث وکړئ امام يا هغه چې دده سره لمونځ پوره کړئ د امام د سلام ګرزولو څخه مخکې نو دهغه لمونځ پوره سو.

[212](42) وَيُجْهِرُ بِالقِرَآءَةِ فِي الفَجرِ وَفِي الرَّكعَتَينِ الأُولَيَينِ مِنَ المغرِبِ وَالعِشَآءِ اِن كَانَ اِمَامًا

حديث څخه معلوميږي چې په قعده اخيره کي کښېنستئ او حدث ورته عارض سو نولمونځ يې پوره سو.که سلام وګرزوي که نه.نومعلوم سو چې سلام ګرزول فرض نه دئ.که سلام ګرزول فرض وائي نو دده لمونځ څه رنګه پوره کېدئ ؟ عن ابن عمرأَنَّ رسول الله قال اذا قضي الامام الصلوة وقعد فاحدث قبل ان يتكلم فقد تمت صلوته ومن كان خلفه ممن اتم الصلوة (ابوداؤدشريف،باب الامام يحدث بعد مايرفع راسه ص98 نمبر 617) ددې څخه معلوميږي چې سلام فرض نه دئ که نه نو په حدث سره څه رنګه لمونځ پوره کيږي ؟.

فائده امام شافعي په نبز د تحليلها التسليم حديث په وجه دسلام په ذريعه دلمانځه څخه وتل فرض دئ.

[212](42)جهري قرات دي وکړي په سهاركي،د مابنام په اولو دو رکعتوکي او د ماخستن په اولو دواړو رکعتوکي که امام وي.او قرات به سوکه(پټ)کوي داولو دو په وروستوکي.

تشريح دسهار په دواؤو رکعتوکي دماشګام په اولو دو رکعتوکي دماخستن په اولو دو رکعتوکي به قرأت په زوره وائي.دماشګام په دريم رکعت کي او دماخستن په آخري دو رکعتوکي قرأت آهسته(سوکه)وائي.

وجه په حديث کي دئ عن ابن عباس قال انطلق النبي ... وهو يصلي باصحابه صلوة الفجر فلما سمعوا القرآن استمعوا له (الف) (بخاري شريف،باب الجهر بقرآءة صلوة الصبح ص106 نمبر773+مسلم شريف،باب الجهر بالقرآءة في الصبح والقرآءة علي الجن ص184 نمبر449)په دې باب کي دجناتو(پيرانانو)په مخکي دسهار په لمانځه کي په جهرسره قرات کولو ډېر حديثونه ذکر کړي دي.دهغو څخه معلوميږي چې دسهار په لمانځه کي جهري قرات دي که په خپله امام وي.په مابنام کي دجهري قرات دليل دا دئ جبير بن مطعم عن ابيه قال سمعت رسول الله قرء في المغرب بالطُّور (ب) (بخاري شريف،باب الجهرفي المغرب ص105 نمبر765) د سَمعتُ دلفظ څخه معلوم سوچې حضور جهري قرات کړئ و په دغه وجه خو راوي سورة طور واؤ ربدئ.دماخستن په لمانځه کي دجهري قرات کولو دليل دا حديث دئ سمعت البرآء ان النبي كان في سفرفقرأ في العشآء في احدي الركعتين بالتين والزيتون (ج) (بخاري شريف،باب الجهرفي العشآء ص105 نمبر767+مسلم شريف،باب القرآءة في العشآء ص187 نمبر464) دلته هم د سَمعتُ لفظ څخه معلوميږي چې حضوردماخستن په لمانځه کي په جهر (زوره)سره قرات کړئ دئ.

دماخستن په آخري دو رکعتوکي دپه زوره قرات نه کولو دليل دا حديث دئ قال عمرلسعدشكوك في كل شيئ حتي الصلوة قال اَمَّا انا فامد في الاوليين واحذف في الاخريين (د) (بخاري شريف،باب يطول في الاوليين ويحذف في الاخريين ص106 نمبر770) ددې حديث څخه

حاشيه : (الف) ابن عباس فرمائي چې حضور رخصت سو ... ده وخپلوملګروته دسهارلمونځ ورکاوئ.چې کله پيرانانو قرآن واؤربدئ نويه ښه په تَوَجّه اوربدل شروع کړل (ب) مادحضورڅخه اوربدلي دي چې دمابنام په لمانځه کي سورة طور وائي (ج) حضورپه سفرکي و نو دماخستن داولو دو رکعتو څخه په يوه کي وَالتّين وَالزَّيتُون ووائي (د) حضرت عمر وحضرت سعد ته وويل ستا شکايت يه کړئ دئ په هرشئ کي آن تردې چې په لمانځه کي هم.سعد وفرمائل بهرحال زه خو اَوّلَني دوه رکعتونه وږدوم اوپه آخري دو رکعتو کي قرات حذف کوم يعني پرېږدم.

وَيُخفِي القِرَآءَةَ فِيمَا بَعدَ الأُولَيَينِ [213](43) وَإن كَان مُنفَرِدًا فَهُوَ مُخَيَّرٌ إن شَآءَ جَهَرَ وَاَسمَعَ نَفسَهُ وَإن شَآءَ خَافَت [214](44) وَيُخفِي الإِمَامُ القِرَآءَةَ فِي الظُّهرِ وَالعَصرِ .

معلوم سوچي په آخري دو ركعتو كې قرات نه كاوئ يا په سوكه(آهسته)كاوئ.ځكه چې دحذف يوه معنيٰ ده قرات پرېښول. ځكه قرات په نه كاوئ يا په سوكه كاوئ. پردغه باندي دمانښام دريم ركعت قياس كول په كار دئ.اوپه هغه كي هم قرات نسته لكه چې مخكي تير سو يا په قرات سوكه كاوئ.

[213](43) اوكه يواځي لمونځ كوي نو وده ته اختياردئ كه خوښه سي په زوره دې ووائي او په خپل ځان دې واوري او كه خوښه سي سوكه دې ووائي.

تشريح كه يواځي لمونځ كوي نودئ دځان لپاره امام هم دئ نوځكه په جهري لمانځه كي په زوره سره ويلائي سي او وخپل ځان ته اورولائي سي.لېكن دده وشاته څوك نسته چې په هغه په واوروي نو سوكه په هم ويلائي سي.بنه خبره داده چې لږ په زوره ووائي چې دجماعت پر هيئت باندي لمونځ اداسي.

وجه ددې دليل دغه اثر دئ عن نافع اَنَّ عبدالله بن عمر كان اذا فاته شيئ من الصلوة مع الامام فيماجهرفيه الامام بالقرآءة .انه اذا سلم الامام قام عبدالله فقرأ لنفسه فيمايقضي وجهر (الف) (مؤطا امام مالك،باب العمل في القرآءة ص64) ددې اثرځخه معلوم سوچي جهري لمونځ يواځي كوي نوپه زوره قرات كولائي سي.ځكه چې عبدالله بن عمرپه زوره وائي.

[214](44) امام دي قرات آهسته وائي په ماپښين او ماځيګركي.

وجه (1) عن ابي قتادة قال كان النبي يقرا في الركعتين من الظهروالعصر بفاتحة الكتاب وسورة ويسمعناالآية احيانا (ب) (بخاري شريف،باب القرآءة في الظهر والعصر ص105 نمبر762+مسلم شريف،باب القرآءة في الظهروالعصر ص185 نمبر451) د يسمعنا الآية احيانا څخه معلوميږي چې حضور په اولو دواړو ركعتو كې قرات سوكه(آهسته) كاوئ.لېكن كله ناكله به يو يا دوه آيتونه مور اورېدل.د دغه حديث د يَقرَأُ فِي الرَّكعَتَين څخه معلوميږي چې په آخري دو ركعتو كې قرات ويل ضروري نه دئ.ځكه چې حضور خاص په اولو دو ركعتو كې قرات كاوئ (2) عن الزهري قال عن رسول الله ان يجهر بالقرآءة في الفجر في الركعتين وفي الوليين من المغرب والعشآء ويسر فيما عدا ذالك (ج) (اخرجه ابوداؤد في مراسله درايه ص91+اعلآء السنن ج 4 ص 6 +مصنف ابن ابي شيبة،139 في قرآءة النهار كيف هي في الصلوة ج 1 ص302 نمبر3661) ددې څخه هم معلوم سوچي په ماپښين اوماځيګر كې قرات بايد سرّي(آهسته)وي.

حاشيه : دعبدالله بن عمر معامله دا وه چې كله به دده څخه يو ركعت دامام دلمانځه پاته سو نوچې په كوم كې امام جهري قرات كوي چې كله به امام سلام په ګرزاوئ نو عبدالله بن عمر به ولاړېدئ او دخپل ځان لپاره به كاوئ هغه لمونځ كوم چې ده به قضآء كول او قرات به په زوره وائي(يعني په فوت سوي لمنځوكي به جهري قرات كاوئ) (ب) حضوردماپښين اوماځيګر په اولو دو ركعتوكي سورة فاتحه ويل او سورة به ورضم كاوئ او كله نا كله به مور ته اوروئ هم (ج) دزهري مرسل حديث دئ چې حضورپه سهاركي دمانښام اوماخستن په اولو دو ركعتوكي په زوره قرات وايئ او ددې څخه په ماسوا كي آهسته وايئ.

[215](45) وَالوِترُ ثَلٰثُ رَكعَاتٍ لاَيَفصِلُ بَينَهُنَّ بِسَلاَمٍ .

(دوتروبيان)

[215](45) وتر دري ركعت دي.ددې په منځ كي دي په سلام سره فصل نه راولي.

تشريح د امام ابوحنيفه په نېز دوترو لمونځ واجب دئ.او دري ركعت پر يوه لاره دي.پر دوه ركعت دي سلام نه ګرزوي چې دريم ركعت بياپه جلاسلام سره كوي.بلكه دري سره ركعت دي په يوه سلام سره ادا كړي.

وجه (1) دوترو تاكيدپه ډيرو حديثوكي راغلئ دئ.اوچې كله ديوشي تاكيد راسي نوهغه شئ دسنتيت څخه راووزي د واجب مقام ته ورسيري.لېكن خوپه آيت سره نه دي ثابت اونه دومره تاكيد راغلئ دي چې دفرضيت ځائ ته ورسيري.كه نه نوبياخوبه دپنځو بجائ شپږ لمنځونه فرض سي.ځكه وتر دواجب په مقام كي راغلو.

پـــام لـــرنـــه دامام شافعي په نيز دسنتو وروسته دفرضو درجه ده.د واجب درجه نه ده ځکه دده په نيز هم وتر مؤکددي.لېکن په سنتوکي داخل دي.ځکه چې مخته بيا د وجوب درجه دده په نيز نسته (2) دوجوب دليل يه داحديث هم دئ قال ابوالوليد العدوي قال خرج علينا رسول الله فقال انَّ الله تعالىٰ قد امدكم بصلاة وهي خيرلكم من حمرالنعم وهي الوتر فجعلها لكم فيما بين العشآء الي طلوع الفجر (الف) (ابوداؤد شريف،باب استحباب الوتر،باب تفريع ابواب الوتر ص208 نمبر1418+ترمذي شريف،باب ماجآء في فضل الوتر ص103 نمبر452+ابن ماجه شريف،باب ماجآء في الوتر ص164 نمبر1168) پرفرضو لمنځو باندي دزياتولو مطلب دغه دئ چې هغه هم دفرض په شان د اهميّت ورسي.لېکن مورږ يه نه فرض کو نو ځکه واجب به کو (3) عن عبدالله بن بريدة عن ابيه قال سمعت رسول الله يقول الوتر حق فمن لم يوتر فليس منا،الوتر حق فمن لم يوتر فليس منا،الوتر حق فمن لم يوتر فليس منا (ب) (ابوداؤدشريف،باب في من لم يوتر ص208 نمبر1419+سنن للبيقي،باب تاكيدصلوة الوتر ج2 ص 659 نمبر4460) ددي حديث ځخه معلوم سوچې وترحق دي يعني واجب دي (4) عن عليٍّ قال قال رسول الله ياهل القرآن اوتروا فان الله وتر يحب الوتر (ج) (ابوداؤدشريف،باب استحباب الوتر ص207 نمبر1416+ترمذي شريف،باب ماجآء ان الوتر ليس بحتم ص103 نمبر453) په دي حديث کې دامر صيغه ده چې دوجوب لپاره راځي.ددي ځخه هم دوجوب ثبوت ملاؤيږي.

فـــائـــده دامام شافعي اوصاحبين په نيز وترسنت دي.

وجـه (1) ددوئي دليل دا حديث دئ.عن عليٍّ قال الوترليس بحتم كهيئة الصلوة المكتوبة ولكن سُنَّة

حاشيه : (الف) زمورږ مخته حضورتشريف راوړئ بيايه وويل الله پرتاسوباندي يولمونځ زيات کړئ دئ اوهغه ستاسولپاره تر سرو وښانو بهتر(ښه)دئ او هغه وتر دي.نو دغه ستاسولپاره دماخستن اوطلوع فجر(سهار)تر منځ کړئ دي (ب) دحضور ځخه دا وينا اورېدلې ده چې وتر حق دي،کوم چاچې وتر نه وکړه هغه زمورږ ځخه نه دئ.وتر حق دي،کوم چاچې وتر نه وکړه هغه زمورږ ځخه نه دئ.وتر حق دي،چاچې وتر نه وکړه هغه زمورږ ځخه نه دئ (ج) حضور وفرمائل ائ اهل قرآن ! وتر کوئ.الله وتر دئ.وتر خوښوي. سَـنَّهَا رسـولُ الله (الـف) (ترمـذي شـريف،باب ماجـآء اَنَّ الـوترليس بحـتم ص103نمـبر454+نسـائي شـريف،باب الامربالوترص189نمبر1677)دحضرت علي دقول ځخه معلوم سو چې وتر واجب نه دي بلکه سنت دي.مورږ وايو چې دفرضو په شان خو مورږ هم وتر فرض نه ګڼو.مورږ خوې صرف واجب ګڼو (2) عن عبدالله عن النبي قال انَّ الله وترېحب الوترفاوتروا ياهل القرآن (ب) (ابن ماجه شريف باب ماجآء في الوترص164نمبر1170) ددي حديث ځخه معلوم سوچې الله وتر خوښوي او دغه دسنتيت دليل دئ..... وتر په يوه سلام سره دري رکعتونه دي ددي دليل

وجـه (1) پـه حـديث کـي دئ عن علي قال كان رسول الله يوتر بثلاث يقرا فيهن بتسع سور من المفصل يقرا في كل ركعة بثلاث سور آخرهن قل هوالله احد (ج) (ترمذي شريف،باب ماجآء في الوتربثلاث ص106نمبر459) (2) عن ابئ بن كعب ان رسول الله كان يوتر بثلث ركعات كان يقرا في الاولىٰ بسبح اسم ربك الاعلىٰ وفي الثانية بقل يايها الكافرون وفي الثالثة بقل هوالله احد ولايسلم الا في آخرهن (د) (نسائي شـريف،باب ذكـراختلاف الفـاظ النـاقلين بخبرابـئ ابـن كعـب في الـوتر ص191 نمـبر 1700+ترمـذي شـريف باب ماجـآء مـايقرا في الوترص106نمبر463+ابوداؤدشريف باب مايقرا في الوترص208نمبر1423) ددي احـاديثو ځخـه معلـوم سـو چـي حضـور دري رکعت وتر کول.او دا هم معلوم سو چې په يوه سلام سره ادا کول.ځکه چې د ابـئ ابـن کعـب پـه حـديث کـي دئ ولايسلم الا في آخرهن (3) په مسلم شريف کي دحضرت عائشي يو وړد حديث دئ په هغه کي دحضور دتهجد دلمانځه ذکر دئ.دهغه ځخه هم معلوميږي چې حضور دري رکعت وتـر کـول انه سئل عائشة كيف كانت صلوة رسول الله ؟... ثم يصلي اربعا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي ثلاثا (هـ) (مسلم شريف،باب صلوة الليل وعدد ركعات النبي في الليل ص354 نمبر738) ددي حديث ځخه هم معلوم سو چې حضور وتر دري رکعت کول.

فـــائـــده : دامام شافعي او امام مالك په نيز دري رکعت وتر په دوه سلام دي.يعني دوه رکعت دي وکي سـلام دي وګرزوي بيا دي يو رکعت وتر وکي.دده دليل دا حديث دئ فقال رسول الله صلوة الليل مثني مثني فاذا خشي احدكم الصبح صلي

ركعة واحدة توتر له ما قد صليٰ (و) (بخاري شريف،باب ماجآء في الوتر ص135 نمبر990+ مسلم شريف،باب صلوة الليل وعدد ركعات النبي في الليل وان الوتر ركعة وان الركعة صلوة صحيحة ص254 نمبر736) ددي احاديثو او دمسلم شريف د ډيرو حديثو په وجه دده په نېز وتر يو ركعت دي.دمسلم شريف په دغه لوړ ذكر سوي باب كي دئ عن ابن عمر قال قال رسول الله الوتر ركعة من آخر اللَّيل (ز) (مسلم

حاشيه : (الف) علي وفرمائل وتر ضروري نه دي دفرض لمانځه دهيئت په شان.لېكن سُنّت دي. حضور دا سنت كړي دي (ب) حضور وفرمائل الله وتر دئ او وترخوښه وي.اې دقرآن خاوندانو وتر كوئ (ج) حضور دري ركعت وتر كول.او په هغوكي دمفصل څخه نه(9)سورتونه ويل.په هر ركعت كي دري سورته.او دهغه په آخري ركعت كي قل هوالله احد وايئ (د) حضور دري ركعت وتركول.په اول ركعت كي سَبّح اسمَ رَبّكَ الاعليٰ،په دوم ركعت كي قُل يٰاايُّها الكَافرون اوپه دريم ركعت كي قُل هُوَالله اَحَد وايئ.او سلام يه نه كاوئ مگرپه آخري ركعت كي (ه) دحضرت عائشي څخه پوښتنه وكړه چي دحضور لمونځ څه رنگه و؟... بيا يه لمونځ كاوئ څلور ركعت،دهغه دښه والي پوښتنه مه كوه او دهغه د وړدول دحالت. بيا يه لمونځ كاوئ دري ركعت(وتر) (و) حضور وفرمائل دشپي لمونځ دوه دوه ركعت دئ.نو كه چيري ستاسو څخه پر يوه دسهاركېدو خوف(ډېره) وي نو يو ركعت دي وكړي.چي كوم تهجد يه كړي دي هغه دي وتر كړي (ز) حضور وفرمائل وتر يو ركعت دئ د شپي په آخري برخه(حصه)كي.

[216](46) وَيَقنُتُ فِي الثَّالِثَةِ قَبلَ الرُّكُوعِ فِي جَمِيعِ السَّنَةِ .

شريف،ص 257 نمبر752) ددي حديث څخه معلوم سوچي وتر يو ركعت دي.

پـــام لـــرنـــه : وتهجد اوصلوة اللّيل ته هم وتر ويل كيږي لكه څه رنگه چي دتتبع څخه معلوميږي.په خپله امام ترمذي فرمائي قال اسحاق بن ابراهيم معني ما روي ان النبي كان يوتر بثلاث عشرة،قال انما معناه انه كان يصلي من الليل ثلاث عشرة ركعة مع الوتر فنسبت صلوة الليل الي الوتر (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في الوتربسبع ص103 نمبر457)ددي څخه معلوم سوچي دتهجد ولمانځه ته هم وتر ويل كيږي.نو ځكه په كوم ځائ كي چي د پنځو ركعتو يا ديوه ركعت وتر ذكر دئ نو هغه دتهجد دلمانځه سره دي.دا هغه وتر نه دي كوم چي داحنافو په نېزدري ركعت دي.

[216](46) دعآء قنوت به ويل كيږي په دريم ركعت كي دركوع څخه مخكي په توله كال كي.

تـشريـح : د وترو په دريم ركعت كي دركوع څخه مخكي به دعآء قنوت وائي.

وجـه : په حديث كي دئ عن ابئ ابن كعب ان رسول الله قنت في الوتر قبل الركوع (ب) (ابوداؤدشريف،باب القنوت في الوتر ص209 نمبر1427+نسائي شريف،باب ذكراختلاف الفاظ الناقلين بخبرابئ ابن كعب في الوتر ص191 نمبر1700+ابن ماجه شريف،باب ماجآء في القنوت قبل الركوع وبعده ص16 نمبر1182) ددي حديث څخه معلوم سو چي په وترو كي به دعآء قنوت په دريم ركعت كي د ركوع څخه مخكي وائي.او په كوم حديث كي چي دركوع وروسته ذكر راغلئ دئ يا دسهار په لمانځه كي دقنوت ويلو ثبوت راغلئ دئ هغه قنوت نازله ده چي ديو مصيبت په وخت كي ويل كيږي.ددي ثبوت دا حديث دئ عن ابن عباس قال قنت رسول الله شهراً متتابعًا في الظهر والعصر والمغرب والعشآء وصلوة الصبح في دُبُرِكُلّ صلوةٍ اذا قال سمع الله لمن حمده من الركعة الآخرة يدعو علي احيآء من بني سليم عليٰ رعلٍ وذكوانٍ وعصيَّةٍ وَيُؤَ مّنُ خلفه (ج) (ابوداؤد شريف،باب القنوت في الصلوة ص211 نمبر1443+بخاري شريف،باب القنوت قبل الركوع وبعده ص136 نمبر1002) ددي حديث څخه معلوم سوچي دركوع وروسته قنوت نازله دمصيبت په وخت كي وه.

فـــائـــده : دامام شافعي په نېز قنوت دركوع وروسته ده.دده دليل دا حديث دئ انس بن مالك اَ قَنَتَ النبيُّ في الصبح ؟ قال نعم. قيل اَوقنت قبل الركوع ؟ قال بعدالركوع يسيرا (د) بخاري شريف،باب القنوت قبل الركوع وبعده ص136 نمبر1001+ ابوداؤد شريف،باب القنوت في الصلوة ص209 نمبر1444) ددي حديث څخه معلوم سو چي دركوع وروسته قنوت ويل په كار ده. موږ دا وايوچي دسهار په لمانځه كي چي كوم ثبوت سته هغه دقنوت نازله دئ د دعآء قنوت ثبوت نه دئ.

حاشيه : (الف) دحضور ځخه چې کوم روايت دئ چې وتر په ديار لس(13) رکعت کول دهغه معنې داده چې حضور دشپې ديار لس(13) رکعت کول دوترو سره.نو دشپې لمونځ په ووترو ته منسوب کړئ (ب) حضور په وترو کې دعآء قنوت درکوع ځخه مخکې وويل (ج) حضور پر لپسې يوه مياشته قنوت وويل.ماپښين.ماخيګر.ماښام.ماخستن او دسهار په لمانځه کې.دهر لمانځه وروسته چې کله به سمع الله لمن حمده ووايئ په آخري رکعت کې.نو وبنوسليم،رعل، زکوان،عصيّه ته به بد دعآء کوله او دشا(وروسته)خلګوبه آمين وايئ (د) دانس بن مالك ځخه پوښتنه وسول چې حضور دسهار په لمانځه کې قنوت وويل؟ جواب په ورکړئ چې هو(و) پوښتنه ځني وسول چې آيا د رکوع ځخه مخکې وويل؟وفرمائل د رکوع ځخه لږ وروسته.

[217](47) وَيَقرَأُ فِي كُلِّ رَكعَةٍ مِنَ الوِترِ فَاتِحَةَ الكِتَابِ وَسُورَةً مَّعَهَا [218](48) فَإِذَا اَرَادَ

ټوله کال دقنوت ويلودليل داحديث دئ قال ابوهريرة اوصاني رسول الله بالوترقبل النوم (الف) (بخاري شريف،باب ساعات الوترص135 نمبر995+ابوداؤدشريف،باب في الوترقبل النوم ص210 نمبر1432)ددې حديثوځخه معلوم سوچې وتر ټوله کال کول دي.نوځکه ټوله کال به په هغه کې دعآء قنوت ويل هم واجب وي.ځکه چې دا خو د ابئ بن کعب په حديث کې تيرسو چې قَنَتَ في الوتر قبل الرُّكوع يعني په وتروکې درکوع ځخه مخکې قنوت وايئ نوځکه ټوله کال به قنوت وائي (2) اثردئ عن ابراهيم قال : لاوتر الاَّ بقنوت (مصنف ابن ابي شيبة 593 من قال لاوتر الابقنوت ج2 ص102 نمبر6959) ددې اثر ځخه معلوم سوچې په وتروکې قنوت ويل لازمي دئ .

فـائـده : دامام شافعي په نيزصرف د روژې په آخري نصف کې قنوت ويل کيږي.دده دليل (1) دا حديث دئ اَنَّ ابئ ابن کعب اَمَّهُم يعني في رمضان وکان يقنت في النصف الاخير من رمضان (ب) (ابوداؤدشريف،باب القنوت في الوترص209 نمبر1428)ددې ځخه معلوم سوچې دابئ بن کعب عمل داو چې هغه صرف د روژې دمياشتې په آخري نيمي(نصف)کې قنوت وايئ.لېکن مورږ ثابت کړئ چې حضوردرکوع ځخه مخکې هميشه قنوت وايئ (2) دا اثرهم دده دليل دئ عن ابي هريرة قال نزلت عليه عشرسنين فما رايته قنت في وتره (مصنف ابن ابي شيبة 588 من کان لايقنت في الوتر ج2 ص100 نمبر6943)

[217](47) دوترو په هر رکعت کې به سورة فاتحه اودهغه سره سورة ورضم کوي.

وجه (1) د فاقرؤا ماتيسر من القرآن آيت په وجه خوقرات فرض دئ لېکن وتر دمکمل فرضو په شان نه دي چې په دريم رکعت کې دي نو سورة نه سي ورضم.بلکه مِن وَجهٍ دسنتُ په شان دي.نو ځکه ددې په دريم رکعت کې به هم سورة ورضم کوي (2) په مسئله نمبر45 کې دابئ بن کعب حديث تيرسو چې حضور په اول رکعت کې دسورة فاتحې وروسته سبح اسم ربك الاعلىٰ،په دوم رکعت کې قل يا اَيُّهَاالكافرون او په دريم رکعت کې قل هوالله احد وايئ.نو ځکه ددې احاديثو په وجه په دري سره رکعتوکې به دسورة فاتحې وروسته سورة ورضم وي (ابوداؤدشريف نمبر1423+ترمذي شريف،463)

[218](48) بياچې ددعآء قنوت اراده وکړي نوتکبيردي ووائي او لاس دي پورته کې بيادي دعآء قنوت ووائي.

وجه : دقرات ځخه ودعاته منتقل کيږي اومخکې تيرسو چې ديوه عمل ځخه وبل عمل ته منتقليږي نوتکبيردي ووائي.اودلاس پورت کېدو ثبوت په دې اثرکې دئ عن عبدالله(بن مسعود)انه کان يقرأُ في آخر رکعة من الوتر قل هوالله احد ثم رفع يديه فيقنت قبل الرکعة (ج) (جزء رفع اليدين للامام البخاري ص28،مصنف ابن ابي شيبة 591 في رفع اليدين في القنوت ج2 ص101 نمبر6953)

حاشيه : (الف) ابوهريرة فرمائي چې حضور وما ته دبيدبدو ځخه مخکې دوترو اداکولو وصيّت وکړئ (ب) حضرت ابئ بن کعب دخلګوامامت وکړئ يعني په رمضان کې نودرمضان دنيمي وروسته په آخرکې قنوت وايئ (ج) عبدالله بن مسعود دوترو په آخري رکعت کې قل هوالله احد وائي. بيا په دواړه لاسونه پورته کول.بيا په درکوع ځخه مخکې قنوت وايئ.

اَن يَّقنُتَ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيهِ ثُمَّ قَنَتَ [219](49) وَلاَيَقنُتُ فِي صَلوةٍ غَيرَهَا (220)(50) وَلَيسَ فِي شَيئٍ مِنَ الصَّلوةِ قِرَآءَةُ سُورَةٍ بِعَينِهَا لاَيُجَوِّزُ غَيرَهَا (221)(51) وَيُكرَهُ

عبدالرحمن بن الاسودعن ابيه قال كان ابن مسعود يرفع يديه في القنوت الي ثدييه (سنن للبيهقي،باب رفع اليدين في القنوت ج3 ص59 نمبر4867) ددې اثرځخه معلوم سوچي دقنوت ويلو ځخه مخکي به لاس پورته کوي.

[219](49) اوقنوت دي نه وائي د وترو ځخه په علاوه(ماسوا)کي.

تشريح : لوړ په مسئله نمبر44 کي حديث تيرسو چي حضوريوه مياشته دسهار په لمانځه کي قنوت ووائي ددې مطلب دادئ چي ددې وروسته دا قنوت ويل منسوخ سو.نوځکه په نورو لمنځو کي دي اوس قنوت نه وائي.ددې دليل دا حديث دئ عن انس بن مالك ان النبي قنت شهرا ثم تركه (الف) (ابوداؤدشريف، باب القنوت في الصلوة ص211 نمبر1445) ددې حديث ځخه معلوم سوچي ديوې مياشتي وروسته حضور قنوت نازله پريښول.ځکه چي منسوخ سوه.

فائده : دامام شافعي په نېز اوس هم دسهار په لمانځه کي قنوت نازله ويل سنت ده.دده دليل دا حديث دئ عن البرآء ان النبي كان يقنت في صلوة الصبح زاد ابن معاذ وصلوة المغرب (ب) (ابوداؤدشريف،باب القنوت في الصلوة ص211نمبر1441)ددې حديث ځخه معلوم سوچي دسهار په لمانځه کي قنوت ويل سنت دئ.

پام لرنه : اوس هم داحنافو په نېز پر دې باندي عمل سته چي دمصيبت په وخت کي دسهار په لمانځه کي قنوت نازله وائي.

[220](50) په يوه لمانځه کي يو متعين سورة نسته چي دهغه ځخه علاوه بل نو جائز نه وي.

تشريح ديوه لمانځه لپاره يو متعين سورة نسته چي دهغه ويل نو ضروري وي،دهغه دويلو بغير نو لمونځ نه صحيح کيږي.

وجه فاقرءوا ماتيسر من القرآن (آيت 20سورة المزمل73) په دې آيت کي دئ چي په قرآن کي کوم آسان وي هغه واياست.نو ځکه ديو آيت تعيين به ددې خلاف وي.

فائده دامام شافعي په نېز دسورة فاتحې ويل ضروري دئ دهغه بغير لمونځ نه صحيح کيږي.دده دليل لاصلوة الابفاتحة الكتاب حديث دئ.زموږ په نېز دا حديث دوجوب لپاره دئ که فاتحه نه وويل نو په لمانځه کي به کمي پاته سي لېکن لمونځ يه صحيح دئ.

[221](51) او مکروه دئ چي ديو لمانځه لپاره يو متعين سورة خاص کي چي په هغه کي دهغه ځخه علاوه گرسره بل وائي نه.دا مکروه دئ.

وجه ددې په وجه دبل سورة اهميت کميږي حالانکه دټولوسورتواهميت برابردئ.نوځکه ديولمانځه لپاره هميشه يوسورة متعين کول مکروه دئ.خوکه چيري دفضيلت دحاصلولو لپاره يوسورة په يو لمانځه کي اکثراوبښتروائي نوداجائزدئ.خوپه دې شرط چي کله ناکله نورسورتونه هم وائي.لکه څه رنگه چي حضورپه وتروکي اکثرسبح اسم ربك الاعلىٰ قل ياايها الكافرون اوقل هوالله احد وايئ.دغه رنگه پرسنت باندي دعمل کولولپاره يادبرکت لپاره يوسورة دېر دېر وائي نوپه دي کي څه حرج نسته.

حاشيه : (الف) حضوريوه مياشته قنوت ووايئ بيا په پريښوئ (ب) حضوردسهار په لمانځه کي قنوت وايئ.ابن معاذ دمابنام دلمانځه اضافه هم ورسره کړې ده(چي په مابنام کي هم قنوت وايئ)

اَن يَّتَّخِذَ قِرَآءَةَ سُورَةٍ بِعَينِهَا لِلصَّلوةِ لاَيَقرَأُ فِيهَا غَيرَهَا [222] (52) وَاَدنىٰ مَايُجزِئُ مِنَ القِرَآءَةِ فِي الصَّلوةِ مَايَتَنَاوَلُهُ اِسمُ القُرآنِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَااللهُ لاَيَجُوزُ اَقَلَّ مِن ثَلٰثِ آيَاتٍ قِصَارٍ اَو آيَةً طَوِيلَةً .

[222](52) لږ تر لږ قرات چي په لمانځه کي کفايت کوي دومره دئ چي وهغه ته دقرآن نوم شامل وي دامام ابوحنيفه په نېز اوصاحبين فرمائلي دي چي دري کوشني(کشني)آيتونه يا يو ورد آيت ددې ځخه کم(لږ)جواز نه لري.

تـشريـح : دامام ابوحنيفه په نبز په دومره اندازه ويلو څخه لمونځ صحيح کيږي چې وهغه ته قرآن ويل کيږي.او مور داوينو چې ديوه آيت اهميت هم سته او وهغه ته قرآن هم ويل کيږي نو ځکه که يو آيت په لمانځـه کـي ووائـي که څه هم کشنئ(کوشنئ)آيت وي خو لمونځه به صحيح سي.

وجـه : ځکه چې فاقرءوا ماتيسر من القرآن په ويلئ دئ.او لږ تر لږه ويوه آيت ته قرآن ويـل کيږي نـو دومـره ويـل بـه کفايت وکړي.

فـا ئـــد ه : صـاحبين فرمـائي چـي يوکشـنئ آيـت مثلاًصـرف اَلرَّحمٰنُ ياصـرف علَّم القُرآن خوآيـت دئ لـيکن ددې وويونکي ته دقرآن ويونکي نه وائي.نوځکه يوآيـت وړد يـا دري کشـني آيتونـه وي چـي دهغـه وويـونکي تـه دقـرآن ويونکئ ووائي.د دومره وينا(لوستلو)څخه لمونځ صحيح کيږي.که ددې څخه کم(لږ)ووائي نـودا قـرات نـه دئ اوپـه دغه وجه لمونځ نه صحيح کيږي.

پـــام لـــرنـــه : دآيتو د ويلو پنځه قسمونه دي (1) فرض،چې دهغه سره جواز متعلق دئ دغـه دامـام صـاحب پـه نبز يو پوره آيت دئ.اوس نو کـه هغـه پـر دوو کلمـو بانـدي مشـتمل وي لکـه ثُمَّ نَظَرَ بيـاخو جـائز دئ. اوکـه چيـري صرف يوه کلمه وي لکه مُدهَآمَّتَان يا صرف يو حرف وي لکه ص.ن.ق نو په دي کي دمشائخو اختلاف دئ.اصح په عدم جواز دئ (2) واجب،قرات فاتحه او قرات سورة واجب دئ (3) مسنون،هغه دسهار او ماپښين پـه لمانځـه کـي طوال مُفَصَّل دئ.يعني دسورة حجرات څخه تر سورة بروج پوري،په ماځيګراوماخستن کي اوساط مُفَصّـل دئ.يعنـي دسورة بروج څخه ترسورة لم يکن(بَيّنَه)پوري،په مابنـام کـي قصـار مُفَصَّـل دئ،يعنـي دسـورة زلزال څخـه دقـرآن تـر آخرپوري (4) مستحب،هغه دسهارپه اول رکعت کي د دېرش آيتوڅخه تر څلويښتو آيتو پوري دئ اوپه دوم رکعـت کي دشلو څخه تر ديرشو آيتو پوري دئ دسورة فاتحي څخه علاوه (5) مکروه،هغه دادئ چې صرف سـورة فاتحـه ووائي يا دفاتحې سره يو کشنئ يا نيمئ آيت ورضم کړي ياسورة ووائي او فاتحه نه ووائي يا په اول رکعت کي يو سورة ووائي او په دوم رکعت کي دهغه څخه مخکي سورة ووائي،دا صورتونه ټول مکروه دي .

[223] (53) لاَيَقرَأُ المؤتَمُّ خَلفَ الاِمَامِ .

(قِرَات خلف الامام)

[223](53) مقتدي دي دامام وروسته قرات نه وائي.

تـشريـح : داحنافو په نبز دمقتدي لپاره قرات کول صحيح نه دئ.ځکه چې دامام قرات دمقتدي لپاره کـافي دئ.دده کار دامام قرات اوربدل اوخاموش پاته کېدل دئ.دحضرت امام ابوحنيفه نظر آيت او نص قطعي ته تللئ دئ.

وجـه : (1) په آيت کي دئ واذا قُرئَ القرآن فاستمعوا له وانصتوا لعلکم ترحمون (الف) (آيت204سورة الاعراف7) په آيت کي حکم سوئ دئ چې کله قرآن لوستل کيږي نو غوږ ورته ونيسئ وايورئ اوپټه خوله سـئ. نوځکـه چـي کلـه امـام قـرات کوي نودمقتدي کار وهغه ته غوږ اينبول دئ اوکه چيري نه اوري نو خاموش دي سـي.په دغـه وجـه قـرات خلـف الامام صحيح نه دئ (2) په حديث کي هم دئ چې کله امام قرات کوي نومقتدي بايدخاموش سـي عن ابي هريرة قال قال رسول الله انما جعل الامام ليؤتم به فاذا کبرفکبروا واذا قرأ فانصتوا (ب) (ابن ماجه شريف،باب اذا قرء الامام فانصتواص120 نمبر846+نسائي

شريف،تاويل قوله عَزَّوَجَلَّ واذا قرئ القرآن فاستمعوا له ص107 نمبر922+دارقطني باب ذكرقوله من كان له امام فقرآءة الامام له قرآءة ص323 نمبر1229) ددې حديث څخه معلوم سو چې دقرات په وخت کې مقتدي بايد خاموش وي (3) بلکه قرات کونکي حضور منع کړل عن عمران بن الحصين انَّ رسول الله صلَّي الظُّهر فجعل رجل يقرء خلفه سبح اسم ربك الاعلىٰ فلما انصرف قال اَيُّكُم قرَا او اَيُّكُمُ القَارئُ ؟ قال رجل انا فقال قدظننت ان بعضكم خالجنيها (ج) (مسلم شريف،باب نهي الماموم عن جهره بالقرآءة خلف الامام ص172 نمبر398) د ابوداؤدشريف حديث دئ مالي انازع القرآن قال فانتهي الناس عن القرآءة مع رسول الله فيماجهرفيه (د) (ابوداؤدشريف،باب من رائ القرآءة اذا لم يجهرص127،نمبر826+ ترمذي شريف،باب ماجآء في ترك القرآءة خلف الامام اذا جهرالامام بالقرآءةص71 نمبر312+دارقطني،باب ذكرقوله من كان له امام فقرآءة الامام له قرآءة ص321 نمبر1222) ددې احاديثوڅخه معلوم سوچې قرات خلف الامام مناسب نه دئ.حضور دناراضګئ اظهاروکړئ (4) مقتديانو ته په دې وجه هم دقرات ضرورت نسته چې امام د مقتديانو د طرف څخه قرات کوي.دامام قرات دمقتدي قرات دئ.په حديث کې ددې باقاعده ذکردئ.عن جابر قال قال رسول الله من كان له امام فقرآءة الامام له قرآءة (ه) (ابن ماجه شريف،باب اذا قرء الامام فانصتوا ص120 نمبر850+دارقطني،باب ذكرقوله من كان له امام ص321 نمبر1220)

حاشيه :(الف) چې قرآن ويل کيږي نوغوږ ورته نيسئ وايورئ اوخاموش سئ شايدپرتاسورحم وسي
(ب) حضوروفرمائل امام صرف ددې لپاره جورسوئ دئ چې تاسودده اقتدآء وکړئ بياچې دئ تکبيروروائي نوتئ هم تکبيروواياست اوچې دئ قرات کوي نوتاسوخاموش سئ (ج) حضوردماپښين لمونځ ورکړئ نويوه سړي وروسته سبح اسم ربك الاعلىٰ لوستل شروع کئ.چې کله حضـورفارغ سونوپوښـتنه وکـړه چـې دتاسـوڅخه کـوم يـوه قـرات کـاوئ ؟ يادتاسـو څخـه څـوك قـاري دئ ؟ يـوه سـړي وويـل ما.نوحضوروفرمائل زما دا خيال سو چې دتاسوڅخه بعض زما سره جنګ(اختلاف)کوي (د) حضوروفرمائل،څه خبره ده چې زما سره په قرآن کي جنګ(اختلاف)کوئ ؟ راوي وويل چې خلګ په جهري لمونځ کي دحضورسره دقرات کولوڅخه منع سو (ه) دکوم چا چې امام وي نودامام قرات دده قرات دئ .

[224](54) وَمَن اَرَادَ الدُّخُولَ فِي صَلوةِ غَيرِهِ يَحتَاجُ اِلىٰ نِيَّتَينِ نِيَّةُ الصَّلوةِ وَنِيّ ةُ المتَابَعَةِ .

ددې حديث څخه معلوم سو چې امام فاتحه وويل ګواکه مقتدي هم وويل هغه بغير نه سوپاته (5) عن ابي دردآء سمعه يقول سئل رسول الله اَ في كل صلوة قرآءة ؟ قال نعم قال رجل من الانصار وجبت هذه ؟ فالتفت اليَّ وكنت اقرب القوم منه فقال ما اري الامام اذا ام القوم الا قدكفاهم (الف) (نسائي شريف،باب اكتفآء الماموم بقرآءة الامام ص107 نمبر924+دارقطني ص326 نمبر1248) ددې څخه هم معلوم سو چې دمقتديانو لپاره دامام قرات کافي دئ (6) په مؤطاء امام مالك کي دئ کان عبدالله بن عمر لايقرأ خلف الامام (ب) (مؤطاء امام مالك،باب ترك القرآءة خلف الامام فيماجهرص68) (7) مقتدي که په رکوع کې دامام سره ملاؤسي نو دمقتدي هغه رکعت شمار دئ.لېکن دفاتحې ويلو موقع نه سوه ملاؤ نو ګواکه د امام شافعي په نېز هم په دې صورت کي دامام ويلي(لوستلي)فاتحه دمقتدي لپاره کافي سوه نو آخر په يوه صورت کي دئ هم داحنافو سره يوځاى سو.

فائده :امام شافعي او امام مالك فرمائي چې دامام وروسته به فاتحه وائي.که قرات جهري کوي که سرّي.او يو روايت دادئ چې که سري قرات کاوئ نوفاتحه به وائي او که جهري کاوئ نو نه به وائي.د دوئي دليل دا حديث دئ عن عبادة بن صامت ان رسول الله قال لاصلوة لمن لم يقرء بفاتحة الكتاب (ج) (بخاري شريف،باب وجوب القرآءة للامام والماموم في الصلوات كلهافي الحضروالسفر ومايجهرفيهاومايتخافت ص104 نمبر756+مسلم شريف،باب وجوب قرآءة الفاتحة في كل ركعة ص169 نمبر394+ابوداؤدشريف،نمبر823) ددې حديث څخه ثابتيږي چې دمقتدي لپاره هم فاتحه ويل ضروري ده. جواب : حنفيه هم فاتحه واجب ګڼي لېکن دمقتدي لخوا امام وويل نو ځکه دمقتدي لخوا يه کفايت وکړئ.لکه څرنګه چې مخکې په احاديثو سره ثابت سو.

پـام لـرنـه : دامام محمدځخه روايت دئ چي داحاديثو پر بنياد باندي پـه سرّي لمونځ کـي دي احتياطًا فاتحـه ووائي(هدايه اولين،فصل في القرآءة ص101)

[224](54) کوم چاچي دبل په لمانځه کي د داخلېدو اراده وکړه هغه محتـاج دئ د دونيتو.دلمانځـه دنيّـت او داتبـاع دنيّت.

تـشريـح : که يوسړئ دبل اقتداء کوي نودئ به دوه قسمه نيّت کوي.يـو داصـل لمانځـه نيّـت او دوم دامـام داقتـدآء کولونيّت.

وجـه (1) ځکه چي امام دمقتدي دلمانځه ضـامن دئ پـه اصـلاح اوفسـادکي.نوځکه دده د اقتـدآء کولـو نيّـت بـه هم کوي.که دده د اقتدآء نيّت نه وکي. داصل لمانځه دنيّت کولوسره په صف کي ودرېدئ نو اقتدآء يه نـه سـوه صـحيح (2) عن ابي هريرة قال قال رسول الله الامام ضامن والمؤذن مؤ تمن (د) (ترمذي شريف،باب ماجآء ان الامام ضامن والمؤذن مؤتمن ص51 نمبر207) ددې ځخه معلوم سو چي امام دمقتدي دلمانځه ضامن دئ

حاشيه : (الف) دحضور ځخه پوښتنه وسوه آيا په هرلمانځه کي قرات سته ؟حضـور وفرمائـل هو(و)! دانصـارو يـوه سړي وويـل دغـه قرات واجب سو نوحضور وماته متوجه سو اوزه تر قوم وحضور زيات قريـب(نزدې) وم.حضـور وفرمائـل زه نـه پـوهيږم مګر دا چـي امام دقوم امامت وکړي نو د ده قرات ددوئي لپاره کافي دئ (ب) عبدالله بن عمـر د امـام وروسـته قـرات نـه کـاوئ (ج) حضـور وفرمائـل دهغه لمونځ ګرسره نه دئ چا چي سورة فاتحه نه وويل (د) حضور وفرمائل امام ضا من دئ او مؤذن امانت دار دئ.

[225](55) وَالجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَ كَّدَةٌ [226](56) وَاَولِيٰ النَّاسِ بِالاِمَامَةِ اَعلَمُهُم

نو ځکه دمقتدي لپاره به دامام دامامت نيّت کول ضروري وئ (٣) عن ابي هريرة ان رسول الله قال انما جعل الامام ليؤتم به فلا تختلفوا عليه (الف) (مسلم شريف،باب ائتمام الماموم بالامام ص176 نمبر414) ددې حـديث ځخـه هـم دمتابعـت نيـت کولـو ضرورت معلوميږي.

(دجماعت بيان)

[225](55) جماعت سنت مؤکده دئ.

وجـه : (1) عن ابي هريرة ان رسول الله قال والذي نفسي بيده لقد هممت ان آمُرَ بِحَطَبٍ لِيُحَطَّبَ ثُمَّ آمُرُبِالصَّلوةِ فَيُؤَذَّنُ لَهَا ثُمَّ آمُرُرَجُلاً فَيَؤُمَّ النَّاسَ ثُمَّ اُخَالِفُ اِلىٰ رِجَالٍ فَاُحرِقَ عَلَيهِم بُيُوتَهُم وَالَّذِي نَفسِي بِيَدِهِ لَويَعلَمُ اَحَدُهُم اَنَّهُ يَجِدُ عَرَقًا سَمِينًا اَو مِرمَاتَينِ حَسَنَتَين لَشَهِدَ العِشَآءَ (ب) (بخاري شريف،باب وجوب صلوة الجماعة ص89 نمبر644+ابوداؤدشريف،باب في التشديدفي ترك الصلوة ص88 نمبر548) حضـور دجماعت پر پرېښولو دکورو دسوځلو اراده وکړه چي دجماعت دوجوب دليل دئ.خوبيا هم دا سُنّت مؤکده دئ (2) عن ابن عباس قال قال رسول الله من سمع المنادي فلم يمنعه من اتباعه عذر قالوا وما العذر؟ قال خوف او مرض لم تقبل منه الصلوة التي صلّيٰ (ج) ابوداؤدشريف،باب في التشديد في ترك الجماعة ص88 نمبر551)ددې ځخه هم معلوم سوچي جماعت سنت مؤکده دئ.ځکـه چي بغير عذردجماعت دپرېښولو ځخه لمونځ نه قبليږي .

[226](56) دخلګوځخه دجماعت زيـات حقدار چـي پـه هغوکي دسنتو زيـات عـالم وي.بياکـه چيـري (پـه سنت پوهانوکي) ټوله برابر و نو په هغوکي ښه قرات کونکئ،که چيري په هغه کي هم ټوله برابر و نـو تـر ټولـو زيـات پرهېزګاره،او که په دي کي هم برابر و نو هغه چي په عمرکي زيات وي.

تـشريـح : دسنت ځخه مراد دلمانځه احکام دي.نوځکه چي په موجوده خلګوکي دلمانځه په احکامو اومسئلو بانـدي زيات واقفيّت لري هغه بايد امام جوړکړي خو په دې شرط چي دومـره قـرات يـه زده وي چـي لمـونځ پـه صـحيح کيږي.بياکه چيري په علم بالمسائل کي ټول سره برابـرو نـوچي دکـوم چـاقرات ډېر ښـه وي هغـه دي امـام جـوړ کړي.اوکه چيري د ټولوقرات هم ښه وي نو زيات پرهېزګار دي امام جوړ کړي.اوکه په پرهېزګارئ کي هم ټـول سره برابروي نوچي کوم په عمرکي زيات وي هغه دامامت حقدار دئ.

پـام لـرنـه : دا هغه وخت دئ چي دمخکي ځخه امام مُتَعَيّن نه وي.اوکه چيري دمخکي ځخـه امـام متعـين وي نو هغه د امامت زيات حقدار دئ .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل چي امام د دي لپاره جور سوئ دئ چي دهغه اقتداء وسي نوځکه دهغه څخه اختلاف مه کوئ (ب) حضوروفرمائل قسم په هغه ذات سره چي په قبضه کي زما جان (روح)دئ.ما اراده وکړه چي دبوتو(لکړو.غنو) د راوړلو حکم وکم چي بتي(لکړي)جمع سي.بيادلمانځه حکم وکړم نو دهغه لپاره اذان وسي.بياويوه سړي ته حکم ورکم چي هغه امامت وکړي.بيازه خلګوته ورسم او دهغو کورونه وروسوځم.قسم په هغه ذات چي دهغه په قبضه کي زما جان(روح)دئ که د دوئي څخه ويوه ته معلوم سي چي دئ يو پندِ(ښه)هډوکئ يا دوه ښه ښکر پيدا کوئ سي نو په ما خستن کي به ضرور حاضرسي (ج) حضور وفرمائل کوم چا چي اذان واوړېدئ اويوعذر دئ د اتباع کولو څخه نه کړئ منع،خلګو پوښتنه وکړه عذر چش دئ ؟ حضور وفرمائل يا بېره يا ناجوړي(مرض) نودده هغه لمونځ نه قبليږي چي ده کړئ دئ .

بِالسُّنَّةِ فَإِن تَسَاوُوا فَأَقرَأُ هُم وَإِن تَسَاوُوا فَأَورَعُهُم وَإِن تَسَاوُوا فَأَسَنُّهُم .

وجه : (1) په مسئلو زيات پوه به ځکه تر تولومخکي کوي چي دده ضرورت زيات راځي چي په کوم ځائ کي سجده سهوکيږي او په کوم ځائ کي نه کيږي.دغه رنګه کوم رُکن فرض دئ کوم واجب او کوم سنت.او ددي رعايت څومره کول پکار دئ ؟ (2) هسي هم د زيات پوه سړي رعب(دبدبه)زيات وي.او دهغه په وجه دجماعت معامله په قابوکي وي (3) او په اصحابانوکي غټ قاري ابئ ابن کعب و.لېکن حضور هغه وخت په ډېر تاکيد سره حضرت ابوبکر پر مصلّيٰ باندي ودراوئ چي اَعلمُ بالسُّنَّة و.ددي څخه دا معلوميږي چي اَعلمُ بالسُّنَّة دامامت زيات حقدار دئ.عن ابي موسيٰ قال مرض النبيُّ فاشتدَّ مَرَضُهُ فقال مروا ابابكرٍ فليصل بالنَّاس (الف) (بخاري شريف،باب اهل العلم والفضل احق بالامامة ص93 نمبر678+مسلم شريف، باب استخلاف الامام اذاعرض له عذرص178نمبر418) (4) عن ابن مسعود قال قال رسول الله لِيَلِيَني منكم أُولوُا الاَحلاَم وَالنُّهيٰ ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم (ب) (مسلم شريف باب تسوية الصفوف واقامتهاوفضل الاوَّل فالاوَّل ص181نمبر 432)ددي حديث څخه معلوم سوچي عقلمنداوسمجداره خلګ بايدامام ته نزدي وي چي دضرورت په وخت کي ضرورت په پوره سي.دا يه نه دي ويلي چي قاري بايدوحضورته نزدي وي (5) په حديث کي دئ عن عقبة بن عمرقال قال رسول الله يؤم الناس اقدمهم هجرة.وفي حديث آخر فان كانوا في الهجرة سوآء فافقههم في الدين وان كانوا في الدين سوآء فاقرأُهم للقرآن (ج) (دارقطني،باب من احق بالامامة ص284 نمبر1072) په دي حديث کي هم و افقه ته دامامت زيات حق ورکړئ دئ.

فائده : دامام ابويوسف اوامام شافعي رايه ده چي کوم څوك ښه قاري وي هغه د امامت زيات حقدار دئ.ددوئي دليل داحديث دئ عن ابي مسعودالانصاري قال قال رسول الله يَؤُمُّ القومَ اقرأُهم لكتاب الله فان كانوا في القرآءة سوآء فاعلمهم بالسنة فان كانوا في السنة سوآء فاقدمهم هجرة.وفي حديث آخر فان كانوا في الهجرة سوآء فليؤمهم اكبرهم سنا (د) (مسلم شريف،باب من احق بالامامة ص236 نمبر673+ابوداؤدشريف،باب من احق بالامامة ص94 نمبر582)ددي حديث څخه معلوم سوچي څوك ډېر(ښه)قاري وي هغه دامامت زيات حقدار دئ.مور دا ويوچي دحضور په زمانه کي چي څوك زيات قرآن خوان و هغه په مسئلوکي زيات پوه و نوځکه اقرا بالقرآن وويل.دزيات عمروالا دامامت حقداردئ دهغه دليل داحديث دئ عن مالك ابن الحويرث قال قدمنا علي النَّبي ...قال...فاذاحضرت الصلوة فليؤذن لكم احدكم وليؤمكم اكبركم (ه) (بخاري شريف،باب اذا استووا في القرآءة فليؤمهم اكبرهم ص94 نمبر685) ددي حديث څخه معلوم سوچي كه تولـه پـه هجرت او قرات کي برابروي نوچي دعمر په لحاظ زيات وي هغه دامامت ډېر حقدار دئ.

لغت : اَورَعُ : چي زيات(ډېر) پرهېزګاروي.

حاشيه : (الف)حضور ناجوړه سو بيا دده ناجوړي زيات سوه نوحضور وفرمائل چي وابوبکر ته حکم وکئ چي لمونځ(امامت)ورکړي (ب) حضوروفرمائل وماته دي نزدي بالغان او خاوندان دعقل ووسي.بياهغه چي د دوئي څخه په درجه کي کم وي.بياچي دهغوڅخه په درجه کي کم وي (ج) حضور وفرمائل چي امامت دي هغه کوي چي په دوئي کي دهجرت په لحاظ قديم(مخکي) وي.اوکه په هجرت کي سره برابروي نوچي ددين په لحاظ زيات فقيه وي.اوکه په دين کي سره برابروي نوچي کوم دقرآن زيات قاري وي (د) حضوروفرمائل چي دقوم امامت دي هغه کوي چي دالله کتاب زيات لوستونکئ وي.بيا که دوئي په قرات کي سره برابروي نوهغه چي په دوئي کي دسنتو زيات عالم وي.بياکه چيري په سنتوکي سره برابروي نو هغه چي په دوئي کي دهجرت په لحاظ قديم وي.په يو بل حديث کي دئ چي په هجرت کي سره برابروي نو ددوئي امامت دي وکړي چي په عمر کي لوئي(زيات) وي (ه) حضور وفرمائل چي دلمانځه وخت راسي نوستاسولپاره دي يو اذان وکړي او په تاسوکي لوئي دي وتاسو ته امامت درکړي.

[227](57) وَيُكرَهُ تَقدِيمُ العَبدِ وَالاَعرَابِيِّ وَالفَاسِقِ وَالاَعمىٰ وَوَلَدُ الزِّنَا فَإن تَقَدَّمُوا جَازَ .

[227](57) مکروه دئ غلام(مریئ)د امامت لپاره مختـه کـول او صـحرائي سړئ،فاسـق،ړوند،او ولـدالزنا مختـه کول.بیا که چیري مخت کئ نو جائز دئ.

وجـه : (1) په دې خلګوکي عمومًا جهالت وي.او خلګ ددوئي دامامت څخه نفرت کوي.ځکـه ددي خلګـو امامـت مکروه دئ.لېکن که په دې خلګوکي علم وي او خلګ ددوئي دامامت څخه خوشحال وي نوبیا ددوئي امامت نـه دئ مکروه.په نابینا(ړانده)کي یوه وجه دا هم ده چې دئ دناپاکئ څخه ځان نه سي کتلائي.که چیـري دئ دناپـاکئ څخـه ځان کتلائي سي نوبیانه دئ مکروه (2) په حدیث کي دئ عن عبدالله بن عمر اَنَّ رسول الله کان یقول ثلاثة لایقبل الله منهم صلوة من تقدم قومًا وهم لهٰا کارهون (الف) (ابوداؤدشریف،باب الرجل یؤم القوم وهم لهٰاکارهون ص95 نمبر593) ددې حدیث څخه معلوم سو چې قوم دکوم چا دامامت څخه کراهیَت(ناخوښي) ښکاره کوي دهغه سړي امامت مکروه دئ.او دغه لوړ ذکرسـوو خلګو دامامت څخـه خلـګ نفرت کـوي نـو ځکـه ددوئـي امامـت مکـروه دئ.خوبیـا هـم نفس امامـت یـه جـائزدئ. دغلام(مرئي)دامامت دجواز دلیل دغه اثر دئ وکانت عائشة یؤمها عبدها ذکوان من المصحف (ب) (بخاري شریف،باب امامة العبد والمولیٰ ص96 نمبر692) دفاسق امامت جائز دئ لېکن مکروه دئ دهغه دلیـل دا حـدیث دئ عن عبیدالله بن عدي بن خیار انه دخل علیٰ عثمان بن عفان وهو محصور فقال انَّکَ امام عامةً ونزل بك ماتریٰ ویصلي لنا امام فتنة ونتحرج فقال الصلوة احسن ما یعمل الناس فاذا احسن الناس فاحسن معهم واذا اسآء فاجتنب اسآءتهم (ج) (بخاري شریف،باب امامة المفتون والمبتدع ص96 نمبر695) ددې اثر څخه معلوم سو چې په فاسق پسي لمونځ کول صحیح دئ که څه هم مکـروه دئ. وقال الزهري لانریٰ ان یصلي خلف المخنس الا من ضرورة لابد منها (د) (بخاري شریف،باب امامة المفتون والمبتدع ص96نمبر695) ددې اثر څخه هم معلوم سو چې دضرورت په وجه په فاسق پسـي لمـونځ کـولائي سـي.عن ابي هریرة اَنَّ رسول الله قال صَلُّوا خلف کل برٍّ وفاجرٍ وصلُّوا علیٰ کل برٍ وفاجرٍ (سنن للبیهقي،باب الصلوة علي من قتل في نفسه غیر مستحل لقتلها ج4 کتاب الجنائز ص29 نمبر6832) د نابینا (ړانده)دامامت په لړکـي دا حدیث راغلئ دئ.عن انس استخلف ابن ام مکتوم ویؤم الناس وهو اعمیٰ (ه) (ابوداؤدشریف،

حاشیه : (الف) حضوروفرمائل الله د درو کسانو لمونځ نه قبلوي څوك چې دیو قوم د امامت لپاره مخته راسي حالانکه هغه په نه خوښـوي (ب) دحضرت عائشې امامت ددې غلام(مریئ)ذکوان کاوئ دقرآن څخه (ج) عبیدالله بـن عـدي،پر عثمـان بـن عفـان باندي داخـل سـو پـه داسي حال کي چې هغه محبوس(قیدي) و.عبیدالله ورته وویل چې ته دعوامو امام یې او پر تا هغه مصیبت نازل سوئ دئ کوم چې ته یـې وینې.او وموږ ته دفتنې امام لمونځ راکوي.او موږ حرج محسوس و.حضرت عثمان وفرمائـل لمـونځ ښـه شـئ دئ کـوم خلـګ چـې عمـل کوي.نو که خلګ ښه کوي تاسو هم دهغوسره ښه معامله کوئ او که بـده معاملـه کـوي نـو تاسـو دهغـو دبـدو څخـه ځـان ګـورئ (د) امـام زهري وفرمائل چې زه په مُخَنّث پسي لمونځ کول ښه نه ګڼم لېکن دضرورت په وجه (ه) حضور عبدالله ابن ام مکتوم دمدیني خلیفـه جـوړ کړئ.هغو دخلګوامامت کاوئ حالانکه دئ نابینا(ړوند) و.

[228](58) وَيَنبَغِي لِلإِمَامِ اَن لاَّيَطُولَ بِهِمُ الصَّلوةَ [229](59) وَيُكرَهُ لِلنِّسَآءِ اَن يُّصَلِّينَ وَحدَهُنَّ

باب امامة الاعمي ص95 نمبر595) ددې څخه معلوم سو چې که چیري نابینا دپاکئ او ناپاکئ احتیاط کوي او په قوم کي عزتمند وي نو هغه امام جوړولائي سي.مکروه نه دئ.

[228](58) دامام لپاره مناسب دئ چې پر مقتدیانو باندي لمونځ وږد نه کړي.

وجـه : (1) د لمانځه په ډېر وږدېدو سره به کمزوري او سپینږیري پرېښـانه سـي چـې پـه شـریعت کـي جـواز نـه لري.نو ځکه دمستحب څخه زیات قرات نه دئ وږدول په کار. خوکه چیري یوائي لمونځ کوي نو بیـاچې څـومره وږدولائي سي وږد دې کړي (2) په حدیث کي دئ اخبرني ابومسعود ان رجلا قال والله یا رسول الله اني لاَ تَاَخَّرُ عن صلوة الغدآة من اجل فلان ممایطیل بنا فما رَاَیتُ رسول الله في موعظه اشد غضباً منه یومئذ ثم قال ان منکم منفرین فایکم ما صلیٰ بالناس فلیتجوز فان فیهم

الضعيف والكبير وذا الحاجة (الف) (بخاري شريف،باب تخفيف الامام في القيام واتمام الركوع والسجود ص97 نمبر 702+مسلم شريف،نمبر466) ددي څخه معلوم سو چي امام وي نو لمونځ دي زيات نه وږدوي.او كه يواځي وي نو چي څومره وغواړي وږد دي كړي.

[229](59) دښځو لپاره مكروه دي چي ښځي يواځي په جماعت سره لمونځ وكړي،خوبياهم كه جماعت كاوئ نو امام دې په مابين كي ودريږي لكه څه رنگه چي لځ خلگ دريږي.

تشريح : كه يواځي ښځي لمونځ كوي نو جلا جلا دي لمونځ وكړي.ځكه چي هلته نارينه نسته نو ښځه به امامت كوي.اودښځي امامت جائز خو دئ لېكن مكروه دئ.او كه په جماعت سره لمونځ وكړي او امامت ښځي وكړي نو امام ښځه دي دښځو په ما بين كي ودريږي. د نر په ركم مخ ته دي نه دريږي.

وجه : (1) ځكه چي دا دښځو دستر خلاف دئ.نو ځكه امام ښځه به په ما بين كي دريږي لكه څه رنگه چي ټول لځ خلگ وي د هغو امام په ما بين كي دريږي (2) عن ريطة الحنفية قالت امتنا عائشة فقامت بينهن في الصلوة المكتوبة ... في حديث آخر امتنا ام سلمة في صلوة العصر فقامت بيننا (ب) (دار قطني،باب صلوة النسآء جماعة وموقف امامهن ص388 نمبر1493) ددي اثر څخه معلوم سو چي ښځه امام به په مابين كي دريږي.

حاشيه : (الف) ابومسعود وفرمائل چي يوه سړي وويل اى دخداى رسول ! قسم په خداى زه دفلاني سړي په وجه دماپښين دلمانځه څخه پاتېږم.ځكه چي دئ وږد لمونځ(جماعت)وركوي.نوما حضور په يوه نصيحت كي هم ددي ورځي په ركم په خښم نه دئ ليدلئ.بياحضوروفرمائل په تاسو كي څه كسان(خلگ) نفرت پيدا كونكي دي.په تاسوكي چي څوك لمونځ وركړي نو مختصر لمونځ دي وركوي.ځكه چي په دي كي كمزوري انسانان وي.سپين ږيري وي او ضرورتمندخلگ وي (ب) ريطه حنفيّه وائي چي حضرت عائشي زمور امامت وكئ نو دا په فرض لمانځه كي دښځو په مابين كي ودرېدل.په بل حديث كي دئ اُمّ سلمة دماځيگر په لمانځه كي زمور امامت وكئ نو زمور په مابين كي ودرېدل

بِجَمَاعَةٍ فَإِن فَعَلنَ وَقَفَتِ الإِمَامَةُ وَسطَهُنَّ كَالعُرَاةِ [230](60) وَمَن صَلّىٰ مَعَ وَاحِدٍ اَقَامَهُ عَن يَّمِينِهِ [231](61) وَإِن كَانَا اِثنَينِ تَقَدَّمَهُمَا .

دښځي د امامت دمكروه والي وجه دا حديث دئ عن ابي هريرة قال قال رسول الله خيرصفوف الرجال اَوَّلُهَا وَشَرُّهَا آخرُهَا وخيرصفوف

النسآء آخرها وشرها اَوَّلُهَا (الف) (مسلم شريف،باب تسوية الصفوف واقامتهاوفضل الاول الخ ص182 نمبر440+ابوداؤد شريف،باب صف النسآء والتاخر عن الصف الاول،ص106 نمبر678)چي دښځي لپاره دمخ صف ته تلل مكروه دئ نو امامت به هم مكروه وي ځكه چي په امامت كي مخ ته تلل وي.دښځي امامت مكروه دئ دهغه دليل دا اثر هم دئ. عن عليٍّ قال لاتؤم المرأةُ (مصنف ابن ابي شيبة 317،من كره ان تؤم المرآة النسآء ج1 ص430 نمبر4957)

لغت : العُرَآةُ : دعاري جمع ده معني لځ .

پام لرنه : دلځو خلگو امام به په مابين كي دريږي ددي دليل دغه اثر دئ عن قتادة قال اذا خرج ناس من البحر عرآة فاَمَّهُم احدهم صلوا قعودا وكان امامهم معهم في النصف وَيَأُمُّونَ ايمآءً (مصنف عبدالرزاق،باب صلوة العريان ج2 ص583،نمبر4564)

[230](60) كه ديوه سړي سره لمونځ وكي نو هغه دي خپل ښي طرف ته ودروي.

وجه : (1) ښئ جانب(طرف)افضل دئ ځكه كه يوسړئ مقتدي وي نو امام دي هغه وخپل ښي جانب (طرف) ته وروي (2) په حديث كي دئ عن ابن عباس قال صليت مع النبي ذات ليلةٍ فَقُمتُ عن يَّساره فاخذ رسول الله براسي من ورائي فجعلني عن يَّمينه فصليٰ (ب) (بخاري شريف،باب اذا قام الرجل عن يَّسارالامام وحوله الامام خلفه الي يمينه تمت صلوته ص100 نمبر726) ددي

حديث څخه معلوم سو چي که يو مقتدي وي نو هغه بايد پر ښي جانب(اړخ) ودروي.لېکن تر امام به لږ څه وشا ته دريږي.

[231](61) او که دوه مقتديان وي نو امام به د دواړو څخه مخته دريږي.

وجه : په حديث کي دئ عن انس بن مالك قال صليت انا ويتيم في بيتنا خلف النبيّ وامي خلفنا ام سليم (ج) (بخاري شريف،باب المرأة وحدها تكون صفا ص101 نمبر 727+ابوداؤد شريف،باب اذا كانوا ثلاثة كيف يقومون ص97 نمبر612) په دې حديث کي انس او يتيم دوه کسان و او دحضوروشاته ودربدل.ددې څخه معلوم سوچي که مقتديان دوه کسان و نو امام به مخته دريږي او دواړه مقتديان به شاته دريږي.

فائده : دامام ابويوسف په نېز به امام د دواړومقتديانو په مابين کي دريږي.دده استدلال ددې اثر څخه دئ استاذن علقمة والاسودعليٰ عبدالله (بن مسعود)

حاشيه : (الف) حضوروفرمائل د نرانو ښه صف اوّل دئ او بد صف يه آخري دئ.او دښځو ښه صف آخري دئ او بد صف يه اوّل صف دئ (ب) عبدالله بن عباس فرمائي چي ما يوه شپه دحضور سره لمونځ وکړئ نو زه دحضور وکښ اړخ(جانب) ته ودربدم.حضور دشا دخوا څخه زما سر ونيوئ او زه يه خپل ښي طرف ته کړم (ج) انس بن مالك فرمائي چي ما اويتيم زما په کور کي په حضور پسي لمونځ وکړئ او زما مور اُمّ سُلَيم زما وشاته وه .

[232](62) وَلاَ يَجُوزُ لِلرِّجَالِ اَن يَّقتَدُوا بِامرَاَةٍ اَو صبيٍّ .

وقد كُنَّا اطلنا القعود علي بابه فخرجت الجاريةُ فاستاذنت لهما فَاَذنَ لهما ثم قام فصليٰ بيني وبينه ثُمَّ قال هكذا رأيت رسول الله فعل (الف) (ابوداؤدشريف،باب اذا كانوا ثلاثة كيف يقومون ص97 نمبر 613) په دې حديث کي دئ چي عبدالله بن مسعود د علقمه او اسود په مابين کي ودربدئ. ځکه دامام ابويوسف په نېز دا بهتره ده. دامام اعظم په نېز هم دا جائز دئ لېکن ومخته دربدل بهتردئ.

[232](62) نه دئ جائز د نر لپاره چي اقتدا وکړي دښځي يا دکشني .

تشريح : نر مقتدي وي او دهغه امام ښځه وي يا بچئ(کشنئ)وي نو دا جواز نه لري.

وجه : (1) په مسئله نمبر 57 کي (مسلم شريف،نمبر440+ابوداؤد شريف نمبر678) حديث تېرسوئ دئ چي په هغه کي و چي دښځو مخته صف بددئ او شاته صف يه ښه دئ.او دامامت په وجه به دا درانو څخه هم مخته وي نو ځکه دنر لپاره ددې امامت نه صحيح کيږي.په مسئله نمبر57کي چي کومه دښځي دامامت مسئله تېره سوه هغه داوه چي ښځه دښځي امامت کولائي سي دنر د نسي کولائي (2) په حديث کي دئ عن جابربن عبدالله قال سمعتُ رسول الله عليٰ منبره يقول فذكرالحديث وفيه آلاَ ولا تؤمن امرَاَة رجلاً (ب) (سنن للبيهقي،باب لايامّ رجل بامرأةٍ ج3 نمبر ص128 نمبر5131) ددې حديث څخه معلوم سو چي ښځه دي د نر امامت نه کوي.

پام لرنه : په ابوداؤد شريف کي دښځو دامامت په لږ کي يو حديث نقل کړئ دئ عن اُمّ ورقة بنت عبدالله بن حارث بهذا الحديث قال كان رسول الله يزورها في بيتها وجعل لها مؤذناً يؤذن لها وامرها ان تؤم اهل دارها (ج) (ابوداؤدشريف باب امامة النسآء ص95 نمبر 592) ددې حديث څخه معلوميږي چي ښځه امامت کولائي سي.لېکن په دي کي ددې ثبوت نسته چي ښځي دنر امامت کاوئ.دسنن بيهقي او نورحديثونه چي سره يوځائ کړي دهغه څخه دغه مترشح کيږي چي دې په کور کي دښځو امامت کاوئ. دنرانو امامت يه نه کاوئ.

او دکشني اقتدآء ځکه نه صحيح کيږي چي پرهغه باندي لمونځ نسته.که هغه لمونځ مات(فاسد) کړي نوپر هغه باندې قضآء نسته.او امام دمقتدي دلمانځه ضامن وي دکشني د اقتدآء په صورت دامام لمونځ کمزورئ دئ نو دا کمزورئ لمونځ دمظبوط لمانځه څه رنګه ضامن جوړېدلائي سي؟نو ځکه دبالغ نر يا ښځي لپاره دکشني اقتدآء

کول جواز نه لري. عن الشَّعبي قال لايؤم الغلامُ حتي يحتلم (مصنف ابن ابي شيبة،122 في امامة الغلام قبل ان يحتلم ج1 ص306 نمبر3505) عن ابن عباس قال قال رسول الله لايتقدم الصف الاول اعرابي ولاعجمي ولاغلام لم يحتلم (دارقطني،باب من يصلح ان يقوم خلف الامام ج1 ص285 نمبر1076)

حاشيه : (الف) علقمه او اسود وعبدالله بن مسعود ته درا تلو اجازت وغوښتئ،او د ده پر دروازه باندي ناست ډېر ټائيم تير سوئ و.بيا يوه مينځه را ووتل او د دوارو لپاره اجازت وغوښتئ او عبدالله اجازت ورکړئ.بيا ولاړسو زما او دده په مابين کي لمونځ وکړئ.بيا يه وويل چې ما وليدئ دغه رنګه حضور کوله (ب) دحضور څخه پر منبر باندي دا وينا اورېدلي ده بيا يه يو ورد حديث ذکر کړئ په هغه کي داو چې واؤرئ ! ښځه دي دنر امامت نه کوي (ج) حضور د اُمّ وَرَقَه کورته ددې دزيارت لپاره تلئ.ددې لپاره يو مؤذن متعين کړئ چې اذان به کاوئ او اُمّ وَرَقَه ته حکم کړئ و چې دخپلو کورنيانو امامت وکړي .

[233](63) وَيَصُفُّ الرِّجالُ ثُمَّ الصِّبيَانُ ثُمَّ الخُنثيٰ ثُمَّ النِّسَآءُ [234](64) فَاِن قَامَت اِمرَاَةٌ اِلىٰ جَنبِ رَجُلٍ وَهُمَا مُشتَرِكَانِ فِي صَلوةٍ وَّاحِدَةٍ فَسَدَت صَلوتُهُ .

فائده : بعضو امامانو په سنتو او نفلو کي دکشني اقتدآء جائز کړي ده.او هغو ددې حديث څخه استدلال کړئ دئ عن عمر ابن سلمة قال كنا بحاضر ... فكنت أؤُمُّهُم وانا ابن سبع او ثمان سنين (الف) ابوداؤدشريف باب من احق بالامامة ص93 نمبر585) په دې حديث کي دئ چې عمر ابن سلمة د اوو يا د اتو کالو کشنئ و.او دئ ښه قاري و په دغه وجه د اصحابانو امامت وکړئ.ددې څخه معلوميږي چې دکشني اقتدآء کول جائزده.زمونږ لخوا جواب دادئ چې په دې حديث(واقعه) کي وحضور ته نه ومعلوم چې خلګو کشنيان امامان کړي دي.ځکه چې دا حديث د وَلِيَلِني منكم اولوا الاحلام والنُّهيٰ ثُمَّ الَّذين يلونهم ثُمَّ الذين يلونهم (ب) (مسلم شريف،باب تسوية الصفوف واقامتها ص181 نمبر432) بر خلاف دئ.

[233](63) صف به جوړيږي دنرانو بيا دکشنينانو بيا دنرښځيانو بيا دښځو.

وجه : (1) په حديث کي دغه رنګه د صف جوړولو طريقه ښول سوې ده.په حديث کي دئ.عن انسٍ بن مالكٍ قال صَلَّيتُ انا ويتيم في بيتنا خلف النَّبيّ وأُمّي أُمُّ سليمٍ خلفنا أُمُّ سُلَيمٍ (ج) (بخاري شريف،باب المرأة وحدها تكون صفاً ص101 نمبر727+ابوداؤدشريف،باب اذاكانوا ثلاثة كيف يقومون ص97 نمبر612) ددې حديث څخه معلوم سوچې نران به په اول صف کي دريږي.کشنيان په دوم صف کي.اوخُنثيٰ مُشكل(نرښځئ)خو دنر او ښځي تر مابين دئ نو ځکه دئ به دښځوڅخه مخکي او دکشنيانو(کچنيانو)څخه وروسته دريږي.او په آخري صف کي به ښځي دريږي (2) دمسلم شريف حديث مخکي تيرسو عن ابي هريرة قال قال رسول الله خيرصفوف الرجال اَوَّلُهَا وشَرُّهَا آخرُهاَ وخيرصفوف النّسآء آخرها وشَرُّهَا اَوَّلُهَا (د) (مسلم شريف،باب تسوية الصفوف واقامتها وفضل الاول فالاول ص182 نمبر440) ددې حديث څخه هم معلوم سو چې نر بايد مخته ولاړ وي او زنانه بايد وروسته ودريږي.

[234](64) بيا که چيري يوه ښځه دنر په بغل(څنګ)کي ودرېدل او دوئي دواړه په يوه لمانځه کي سره شريکان وي نو دنر لمونځ فاسددئ.

تشريح : چې ښځه دنر په بغل(څنګ) کي ودريږي او دهغه څخه دنر لمونځ فاسد سي دا خلاف قياس دئ.نوځکه دفاسدېدو لپاره يو څه شرطونه دي (1) ددواړو لمونځ به يووي (2) ښځه به بغيره دپردې ولاړه وي (3) د رکوع او سجدې لمونځ به وي (4) ښځه به قابل دشهوت وي (5) اوامام ددې دامامت نيت هم کړئ وي نو هغه وخت بيا د نر لمونځ فاسددئ .

حاشيه : (الف) عمربن سلمه فرمائي چي زه په قوم کي حاضر وم ... ما د دوئي امامت کاوئ.حال دا و چي زه د اوو کالو يا داتو کالو هلك وم (ب) ماته نزدي دتاسو څخه بايد بالغ او عقلمند سړئ وي.بيا چي دهغه څخه وروسته وي بيا چي دهغه څخه وروسته وي (ج) انس بن مالك فرمائي چي ما او يتيم زما په کورکي په حضور پسي لمونځ وکړئ او زما مور اُمّ سُلَيم زما وشا ته وه (د) حضوروفرمائل د نر ښه صف اَوّل دئ او دهغه بد صف آخري دئ.او دښځي ښه صف آخري صف دئ او بد صف يه اول صف دئ.

[235](65) وَيُكرَهُ لِلنِّسَآءِ حُضُورُ الجَمَاعَةِ .

وجه : (1) دنر ذمه داري وه چي وښځه ته نصيحت کړئ وائ او شاته کړي وائ لېکن ده دا رنګه نه وکړه نو ځکه دده لمونځ فاسددئ (2) په مسئله نمبر63 کي دمسلم شريف حديث تيرسو چي دښځي لپاره آخري صف بهتر دئ لېکن چي دا صف ته راغله نودي دسنت خلاف کار وکړئ ځکه ددي لمونځ فاسد دئ (3) حديث دئ عن الحارث بن معاوية اَنَّهُ رکب الیٰ عمربن الخطاب يسئله عن ثلاث خلال،قال فقدم المدينة فسأله عمر ما اقدمك؟ قال لأسئلك عن ثلاث خلال،قال وما هي؟ قال ربما کنت والمرأةُ في بنآء ضيق فتحضرالصلوة فان صليت انا وهي کانت بحذائي فان صلت خلفي خرجت من البنآء قال تستر بينك وبينها بثوب ثم تصلي بحذائك ان شئت (الف) (بمعناه مصنف عبدالرزاق،باب الرجل والمرأةُ يصليان احدهمابحذآء الآخر ج2 ص36 نمبر2391+مجمع الزوائد ج1ص76+ اعلآء السنن،باب فسادصلوة الرجال بمحاذآة النسآء ج4 نمبر252) ددي اثر څخه معلوم سو چي د نر او ښځي تر منځ پرده وي نو لمونځ نه فاسديږي (4) اخبرنا ابوحنيفة عن حماد عن ابراهيم قال اذا صلت المرأةُ الي جانب الرجل وکانا في صلوة واحدة فسدت صلوته.قال محمد وبه ناخذ وهو قول ابي حنيفة (ب) (کتاب الآثارلامام محمد،باب مايقطع الصلوة،ص27 نمبر137) ددي اثر څخه معلوم سو چي دحضرت ابراهيم فتويٰ دا وه چي بغير د پردي نر اوښځه يو ځائ سره ودريږي نو دنر لمونځ فاسديږي.

فائده : امام شافعي فرمائي چي دښځي د نر سره دربدل مکروه خودئ لېکن لمونځ نه فاسدوي.دده دليل دا حديث دئ عن عائشة زوج النبي انهاقالت کنت انا بين يدي رسول الله ورجلائي في قبلته فاذا سجد غمزني فقبضت رجلي فاذا قام بسطتها (ج) (بخاري شريف،باب التطوع خلف المرآة ص73 نمبر513) ددي حديث څخه معلوم سو چي ښځه په محاذاة کي راسي نو لمونځ نه فاسديږي.ځکه چي حضور دلمانځه په ما بين کي حضرت عائشه مسح(مس)کوله خو بيا هم لمونځ پر خپل ځائ پاته و.

وجه : (1) دښځو لپاره دمسجد په جماعت کي شاملېدل جائز دئ.ځکه چي حضور اجازت ورکړئ دئ.لېکن دځوانانو ښځو لپاره مکروه دئ.ځکه چي دنرانو سره داختلاط په وجه د فتني خطره ده (2) حديث دئ سمعتُ عائشة زوج النبي تقول لو اَنَّ رسول الله رايٰ ما احدث النسآءُ لمنعهنَّ

حاشيه : (الف) حارث ابن معاويه د درو خبرو دپوښتني لپاره حضرت عمر ته راغلئ.مديني ته راغلئ نو حضرت عمر پوښتنه ځني وکړه ولي راغلئ يه ؟ حارث وويل د درو خبرودپوښتني لپاره راغلئ يم.عمر وويل هغه کومي دي ؟ حارث وويل کله ناکله زه او زما بي بي په تنګ کور کي يو او دلمانځه وخت راسي نوکه زه او زما ښځه لمونځ وکو نو دا زما په محاذاة کي راځي او که دا زما وشا ته لمونځ وکي نو دا دمکان(کور)څخه دباندي وزي.حضرت عمر وفرمائل ستا او ددي په مابين کي دکپړي ستر وکئ.بيادي داستاپه محاذاة کي لمونځ وکئ که ستا خوښه سي (ب) امام ابوحنيفه دحَمّاد څخه او هغو دابراهيم څخه خبر ورکړئ دئ وويل چي ښځه دنر پر اړخ(څنګ)کي لمونځ وکي او دواړه په يوه لمانځه کي شريکان وي نو دنر لمونځ فاسد دئ.راوي وائي چي موږ پر دغه باندي عمل کو.دا دابوحنيفه قول دئ (ج) حضرت عائشه فرمائي چي زه دحضور په مخکي وم او زما دواړي پښي دقبلي پر طرف وي.بياچي ده سجده کول نو زه به ښورولم.نو ما به دواړي پښي راتولولي.بيا چي به دئ ولاړ سو نو ما به غوړولي.

[236](66) وَلاَبَاسَ بِاَن تَخْرُجَ العَجُوزُ فِي الفَجرِ وَالمغرِبِ وَالعِشَآءِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ يَجُوزُ خُرُوجُ العَجُوزِ فِي سَائِرِالصَّلوَاةِ

المسجدكما منعت نسآءُ بني اسرائيل (الف) (مسلم شريف،باب خروج النسآء الي المساجداذا لم يترتب عليه فتنة ص183 نمبر 445+ابوداؤدشريف،باب ماجآء في خروج النسآء الي المسجد ص91 نمبر 569) ددې حديث څخه معلوم سوچې دصحابه كرامو بنځي حضور منع كولي نو دنن سبا بنځي به ولي نه منع كيږي (3) عن عبدالله عن النبي قال صلوة المرأة في بيتها افضل من صلوتها في حجرتها وصلوتهافي محدعها افضل من صلوتها في بيتها (ب) (ابوداؤدشريف، باب ماجآء في خروج النسآء الي المسجد ص91 نمبر570) ددې حديث څخه معلوميږي چې په مسجد كې هم جواز لري.لېكن په كوركي ادا كول زيات بهتر(بنه)دئ.اودغه ومسجد ته دتللو دكراهيت دليل دئ.مسجد ته دتلو دليل دا حديث دئ. عن ابي هريرة ان رسول الله قال : لاتمنعوا امآء الله مساجدالله ولكن ليخرجن وهن تفلات (ابوداؤدشريف،باب ماجآء في خروج النسآء الي المساجد ص91 نمبر 565+مسلم شريف،باب خروج النسآء الي المساجداذا لم يترتب عليه فتنة ص183 نمبر 442)

[236](66) هيڅ دحرج خبره نه ده چې سپين سري بنځي دسهار مابنام او ماخستن لمانځه لپاره مسجد ته ولاړي سي دامام ابوحنيفه په نبز.اوصاحبين فرمائي چې دتولو لمنځو لپاره دسپين سرو وتل جائز دئ.

وجه : وسپين سرو بنځو ته رغبت كم(لږ)وي.اوخصوصًا په سهار مابنام ماخستن كي شرپسندان ويده(بيده)وي نو ځكه دسپين سرو لپاره جائز دئ چې په جماعت سره لمونځ كولو لپاره مسجد ته ولاړي سي.اوصاحبين فرمائي چې سپين سري بنځي دكم رغبت په وجه تولو لمنځو ته تلائي سي. دليل يه دغه حديث دئ قال رسول الله اَيُّمَا امراَةٍ اصابت بخورا فلا تشهدمعنا العشآء الآخرة (ج) (مسلم شريف،باب خروج النسآء الي المساجدص183 نمبر 444) ددې څخه معلوم سو چې داسي بنځه چې وهغې ته رغبت كيږي هغه دي مسجد ته نه حاضريږي. دوم اثر دادئ عن عبدالله بن مسعود قال والذي لا اله غيره ما صلت امراَة صلوةً خير لها من صلوتها تصليها في بيتها الا ان يكون مسجدالحرام او مسجدالرسول الا عجوزاً في منقلها (د) (سنن للبيهقي،باب خيرمساجدالنسآءقعربيوتهن ج 3 ص188 نمبر 5364) ددې اثر څخه معلوم سو چې سپين سريه بنځه هغه هم بغيره دعطرو او بنائسته كيږو مسجد ته تلائي سي.

فائده : كومو خلګوچې دبنځو مسجد ته دتلو اجازت وركړئ دئ هغه ددې حديث څخه استدلال كوي عبدالله بن عمرقال سمعت رسول الله يقول لاتمنعوا نسآئكم المساجد اذا استاذنكم اليها فقال بلال بن عبدالله والله لنمنعهُنَّ (ه) (مسلم شريف،باب خروج النسآء الي المساجد ص183

حاشيه : (الف) كه حضور ليدلي وائ كوم چې دنن سبا بنځو پيداكړي دي نو دوئي به دمسجدوڅخه منع كړي وائي.لكه دبني اسرائيلو بنځي چې منع كړي سوي (ب) حضوروفرمائل دبنځي لمونځ په كور كي دپر بنه دئ ددې تر لمانځه چې په كمره كي وي.او ددې لمونځ چې په كشنئ خونه كي وي دپر بنه دئ تر هغه چې په كور كي وي (ج) حضوروفرمايل هره بنځه چې عطر(خوشبوئي)ولګوي نو هغه دي زمور سره دماخستن لمانځه ته نه راځي (د) عبدالله بن مسعود وفرمائل قسم په خدائ نه دئ كړئ بنځي يو بنه لمونځ كوم چې دي په كور كي كړئ وي.مګر داچې په مسجدحرام كي كړئ وي يا په په مسجد رسول كي كړئ وي.لېكن كه چيري سپين سري وي(هغه مسجدته راتلائي سي)چې دنغل بغيره موزو كي راغلي وي (ه) حضور وفرمائل تاسو خپلي بنځي

[237](67) وَلاَيُصَلِّي الطَّاهِرُ خَلفَ مَن بِهِ سَلسَلُ البَولِ وَلاَالطَّاهِرَاتِ خَلفَ المستَحَاضَةِ [238](68) وَلاَ القَارِئُ خَلفَ الأُمِّي وَلاَ المكتَسِيُ خَلفَ العُريَانِ [239](69) وَيَجُوزُ اَن يَّؤُمَّ المتَيَمِّمُ المتَوَضِّئِينَ وَالماسِحُ عَلىٰ الخُفَّينِ الغَاسِلِينَ .

نمبر442) ددې حديث څخه معلوم سوچې كه بنځي مسجد ته تلل وغواړي نو دهغو منع كول نه دئ په كار.لېكن په خپله په دغه حديث كي دئ چې د راوي زوئي بلال وفرمائل چې زه خوې منع كوم چې دوئي د دوكي شئ ځني جوړ نه كي.چې په شپه كي بنځي مسجد ته حاضرسي دهغه دليل دا حديث دئ عن ابن عمر عن النبي ائذنوا للنسآء بالليل الي المساجد(بخاري شريف،باب هل عليٰ من لايشهد الجمعة غسل من النسآء والصبيان ص123،ابواب الجمعة نمبر899)

[237](67) پاك سړئ دي دهغه په اقتدآء كي لمونځ نه كوي كوم څوك چې په سلسل البول كي اخته وي او نه پاك بنځي دمستحاضې بنځي وروسته.

وجه : دا قاعده ده چې دامام درجه دي اعلیٰ(لوړه.بهتره)وي يا دې دمقتدي سره درجه برابر وي.يا دي امام تر مقتدي لږځه کم وي نو اقتدآء جائزده.او که امام دمقتدي څخه ډېر دکمي(کښته)درجي وي نو دداسي امام اقتدآء جواز نه لري.اوس پردې اصول باندې ډيري مسئلې متفرع دي.اوس دسلسل البول ناجوړه چې هر وخت يه بولي روان وي تر پاك سړي ډېر دکمي(کښته)درجې دئ.ځکه چې دسلسل البول والا خو معذور دئ او پاك سړي معذور نه دئ.نو ځکه دپاك سړي لپاره دسلسل البول ناروغه سړي اقتدآء کول جواز نه لري (2) حديث دئ عن ابي هريرة قال قال رسول الله الامام ضامن والمؤذن مؤتمن (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء ان الامام ضامن والمؤذن مؤتمن ص51 نمبر207) ددې حديث څخه معلوم سو چې امام ضامن دئ.نو ځکه ضامن بايد مضبوط وي او د اعلیٰ درجې وي يا کم از کم د برابرې درجې وي.او سلسل البول يا مستحاضه د پاك سړي څخه د کښتې درجې دئ.نو ځکه اقتدآء نه صحيح کيږي.

اصول : (1) امام ضامن دئ (2) امام په درجه کې بايد تر مقتدي اعلیٰ يا برابر وي.

[238](68) او اقتدآء نه صحيح کيږي دويونکي(خوانده) د په اُمّي(انپړ) پسې او نه دکپړې اغوستونکي د په لځ پسې.

تشريح کوم څوك چې دومره قرآن ويلائي سي چې لمونح په صحيح کيږي هغه دداسي سړي اقتدآء وکړي چې دقرآن په يوه آيت هم نه پوهيږي نو دده اقتدآء نه صحيح کيږي.ځکه چې امي(انپړ) معذور دئ او قاري(خوانده) نه دئ معذور.نوځکه داصل اوصحيح اقتدآء په معذور پسې نه صحيح کيږي.دغه رنګه چې دکوم چا سره دستر پټولو کپړه وي هغه دداسي سړي اقتدآء وکړي چې بالکل لځ وي نو دده اقتدآء نه صحيح کيږي.ځکه چې لځ معذور دئ اود کپړې والا صحيح او اصل دئ.

قاعده : په مسئله نمبر65 کې تيرسو چې امام ضامن دئ.

[239](69) جائز دئ چې تيمم کونکئ د اودس کونکي امامت وکړي او پر موزه باندې مسح کونکئ دپښو مينځونکي سړي امامت وکړي.

حاشيه : (دتيري سوي صفحي بقايه)مسجد ته د راتلو څخه مه منع کوئ که چيرې دوئي ستاسوڅخه اجازت وغواړي.دعبدالله زوئي بلال وويل چې موږ خو بنځې مسجد ته دتلوڅخه منع کو (الف) حضور وفرمائل امام ضامن دئ او مؤذن امانت دار دئ.

[240](70) وَيُصَلِّي الْقَائِمُ خَلفَ الْقَاعِدِ .

وجه : (1) تَيَمُم کونکئ د اوبو د نېستئ پر وخت د اودس کونکي په حکم کې دئ.نو ځکه د دواړو درجه برابره سوه.دغه رنګه پرموزوباندې مسح کونکئ دهغه سړي په رکم دئ چې پښې يه مينځلې وي.نو ځکه دوئي هم په درجه کې سره برابردي.په دغه وجه اودس کونکئ په تيمم کونکي پسې او پښې مينځونکئ پر موزو باندې مسح کونکي سړي اقتدآء کولائي سي (2) په حديث کې ددې ثبوت سته عن عمرو بن العاص قال احتلمت في ليلةٍ باردَةٍ في غزوة ذات السَّلاسل فَأشفقتُ ان اغتسل فاهلك فتيمَّمتُ ثم صليت باصحابي الصبح (الف) (ابوداؤد شريف،باب اذا خاف الجنبُ البردَ اَ يتيمم ص 54 نمبر334+بخاري شريف،باب اذاخاف الجنبُ علي نفسه المرضَ اوالموتَ ص49نمبر345) په دې حديث کې وضاحت دئ چې حضرت عمرو دجنابت تيمم وکړئ او لمونځ يه ورکړئ. سره ددې چې ملګرو يه اودسونه او غسلونه کړي و.او حضور پر دې باندې هيڅ نه وويل نو ددې مطلب دادئ چې په تيمم کونکو پسې د اودس کونکو اقتدآء صحيح ده. او دا خو په واري واري باندې سوي دي چې حضور به پر موزو مسح وکړه و اودس کونکو ته به امامت ور کړئ.نو ځکه دا مسئله خو ګرسره عام ده.

[240](70) په ولاړي ولاړ سړئ به په ناستي ناست سړي پسې لمونځ کوي.

تشريح : وامام ته يو عذر وي چې دهغه په وجه دئ په ناستي لمونځ ورکوي او مقتدي هيڅ عذر نه لري ځکه هغه په ولاړي لمونځ کوي نو دئ د په ناستي ناست امام اقتدآء کولائي سي.ځکه چې ناست سړئ تقريباً وولاړ سړي ته قريب قريب دئ. لېکن که امام ناست وي نو مقتدي به نه کښېني بلکه ولاړ به وي.

وجه : په حديث کې دئ.داديوه وړدحديث ټکړه (ټکره) ده دخلتُ عليّ عائشةَ فقلتُ اَلاَ تُحَدّثيني عن مرض رسو ل الله ... فجعل ابوبکر يصلي وهو قائم بصلوة النبي والناسُ بصلوة ابي بکر وَالنَّبيُّ قاعد (ب) (بخاري شريف،باب انماجعل الامام ليؤتم به ص95

نمبر687) دمسلم شريف او ابن ماجه شريف په حديث کي تصريح ده وقام ابوبكرٍ وكان ابوبكر ياتم بالنبي والناسُ ياتمون بابي بكرٍ قال ابن عباس واخذ رسول الله من القرآءة من حيث كان بلغ ابوبكر (ج) (ابن ماجه شريف،باب ماجآء في صلوة رسول الله في مرضه ص174 نمبر1235+مسلم شريف،باب استخلاف الامام اذا عرض له عذر الخ ص178نمبر418) ددي دواړو حديثو څخه معلوم سوچي په ناست امام پسي به مقتديان په ولاړي لمونځونه کوي.نوددي وجه امام بخاري فيصله ورکړئ ده چي ثُمَّ صليٰ بعد ذالك النبي جالسًا والناسُ خلفه قيام لم يامرهم بالقعود وانمايؤخذ بالآخر

حاشيه : (الف) عمروبن عاص فرمائي د غزوه سلاسل په يوه يخه شپه کي زه احتلام سوم نوزه وبيرېدم چي که زه غسل وکړم نو مړ به سم نو ما تيمم وکي او ملګرو ته مو دسهار لمونځ ورکي (ب) راوي وائي چي زه حضرت عائشي ته راغلم او ورته ومو ويل چي آيا دحضور دمرض به باب به څه نه کړي بيان؟ ... نو ابوبکر لمونځ ورکاوئ.هغه دحضور اقتدآء کوله او خلګو دابوبکر اقتدآء کوله.او حضور په ناستي ناست و (ج) ابوبکر ولاړ و او ابوبکردحضور اقتدآء کوله او خلګو دابوبکر ده کوله.ابن عباس وفرمائل چي حضور دهغه ځائ څخه قرات شروع کړئ کوم ځائ ته چي ابوبکر رسېدلئ و.

[241](71) وَلاَ يُصَلِّي الَّذِي يَرْكَعُ وَيَسجُدُ خَلفَ المؤمِي [242](72) وَلاَ يُصَلِّي المفترِضُ خَلفَ المتَنَفِّلِ .

فالآخرمن فعل النبي (الف) (بخاري شريف،باب انماجعل الامام ليؤتم به ص96نمبر689) ددي څخه هم معلوم سو. امام بخاري فرمائي چي مقتديان به په ولاړي لمونځ کوي.ځکه چي قيام فرض ده بغيره عذرنه ساقطيږي.

فائده : دبعضوحضرات رايه ده چي کله امام په ناستي لمونح کوي نومقتدي هم بايد په ناستي لمونځ وکړي.ددوئي دليل دا حديث دئ عن عائشة أُمُّ المؤمنين انها قالت رسول الله في بيته وهو شاكٍ فصليٰ جالسًاوصليٰ ورائه قوم قيامًا فاَشار اليهم ان اجلسوا فلما انصرفَ قال انماجُعل الامامُ ليؤتم به فاذا ركع فاركعوا واذا رفع فارفعوا واذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا رَبَّناَ ولك الحمدُ واذا صليٰ جالسًا فصلوا جلوسا اجمعون (ب) (بخاري شريف،باب انماجُعل الامامُ ليؤتم به ص95 نمبر689+ابوداؤد شريف،باب الامام يصلي من قعود ص96 نمبر601) په دي حديث کي حضور په ناست امام پسي دناستي حکم ورکړئ دئ.زمورجواب دادئ چي په خپله امام بخاري فرمائي چي اَوّل عمل منسوخ دئ .

[241](71) کوم سړئ چي رکوع اوسجده کوي هغه دي په اشاره کونکي پسي لمونځ نه کوي.

تشريح : کوم سړئ چي دعذر په وجه په اشاره سره لمونځ کوي،رکوع اوسجده نه سي کولائي هغه معذور دئ.نوځکه په هغه پسي رکوع اوسجده کونکئ سړئ ګواکه تندرست(صحيح وسالم) دئ دهغه اقتدآء نه صحيح کيږي. دليل يه په مسئله نمبر67 کي تېرسوئ دئ.

[242](72) فرض ادا کونکئ دي په نفل ادا کونکي پسي لمونځ نه کوي.

وجه : (1) مخکي لا په مسئله نمبر67 کي تير سو چي امام ضامن دئ نو ځکه هغه بايد د اعليٰ درجې وي.يا کم از کم دامام درجه بايد دمقتدي سره برابره وي.او فرض ادا کونکئ دنفل ادا کونکي څخه اعليٰ دئ او نفل ادا کونکئ ادنيٰ دئ نو ځکه دفرض ادا کونکي اقتدآء په نفل ادا کونکي پسي نه صحيح کيږي (2) په دغه حديث کي هم ودي ته اشاره سوې ده عن ابي هريرة اَنَّ رسول الله قال انما جُعلَ الامامُ ليؤتم به فلا تختلفوا عليه (ج) (مسلم شريف،باب ائتمام الماموم بالامام ص177 نمبر414) په دي حديث کي دئ چي امام داقتدآء لپاره دئ نوځکه دده څخه اختلاف مه کوئ.او دلته د اعليٰ د ادنيٰ درجې والا څخه اختلاف راځي.

فائده : دامام شافعي په نېزد فرض ادا کونکي اقتدآء په نفل ادا کونکي پسي جائزده.

حاشيه : (الف) بياحضور دهغه وروسته په ناستي لمونځ وکړي او خلګ دده وروسته ولاړ و.وهغوته دناستي حکم نه کړئ ور.دحضور به آخري فعل کتل کيږي (ب) حضرت عائشه فرمائي چې حضور په خپل کورکي ناجوړه و.نوپه ناستي لمونځ وکئ او دده وشاته قوم په ولاړي لمونځ وکئ.نو حضور ودوئي ته اشاره وکړه چې کښېنئ.بياچې کله فارغ سو نو وويل چې امام ددې لپاره جوړسوئ دئ چې دده اقتدآء وکړل سي.نوچې دئ رکوع وکړي تاسورکوع وکړئ.چې سر راپورته کي نو تاسو سر پورته کئ.اوچې سمع الله لمن حمده ووائي نو تئ ربنا ولك الحمد واياست.اوچې په ناستي لمونځ درکړي نو په ناستي لمونځ کوئ (ج) حضور وفرمائل امام ددې لپاره دئ چې دده اقتدآء وسي.نوځکه دده څخه اختلاف مه کوئ.

[243](73) وَلاَ يُصَلِّي فَرضاً خَلفَ مَن يُّصَلِّي فَرضاً آخَرَ [244](74) وَيُصَلِّي المُتَنَفِّلُ

وجه : (١) د ده (امام شافعي) په نېز دامامت مطلب ضامن کېدل نه دئ بلکه پر يوه ځائ په اجتماعي توګه سره لمونځ کول دئ.نوځکه دنفل اوفرض په اختلاف سره څه فرق نه کوي (2) په حديث کي ددې ثبوت سته ان معاذ بن جبل كان يُصَلّي مع رسول الله العشآء ثم ياتي قومه فيصلي بهم تلك الصلوة (الف) (ابوداؤدشريف، باب امامة من صلي بقوم وقدصلي تلك الصلوة ص95 نمبر599) ان معاذاً كان يصلي مع النبي العشآء ثم ينصرفُ اليٰ قومه فيصلي بهم هي له تطوع ولهم فريضة (دارقطني،باب ذكرصلوة المفترض خلف المتنفل ج1ص281نمبر1063) په دې حديث کي دئ چې حضرت معاذ به دحضور سره دماخستن لمونځ وکئ بيابه راغلئ.نو مطلب يه داسوچې ده به فرض کړئ و بيابه راتلئ او قوم ته چې به لمونځ ورکاوئ نودنفل نيت به کاوئ.او په خپله دقوم لمونځ فرض و.ددې څخه معلوم سوچې فرض کونکئ په نفل لمونځ کونکي پسي لمونځ کولائي سي.زمونږ لخوا جواب دادئ چې په حديث کي ددې صراحت نسته چې حضرت معاذ دحضور سره دماخستن د فرض لمونځ نيت کاوئ او دلمانځه بعد بياراتلئ او قوم ته دنفل په نيت لمونځ ورکاوئ.بلکه دا عين امکان لري چې ده دحضور سره دبرکت لپاره دنفل په نيت لمونځ کاوئ او وقوم ته دفرض په نيت جماعت(لمونځ)ورکاوئ .

[243](73)او نه دئ جائز اقتدآء کول دداسي سړي چې فرض لمونځ کوي په داسي سړي پسي چې يو بل فرض ادآء کوي.

تشريح : مثلاًيوسړئ دماپښين فرض ادآء کوي هغه دداسي سړي اقتدآء نه سي کولائي چې دماځيګر فرض ادا کوي.

وجه : (١) مخکي تيرسوچې امام ضامن وي.نوځکه د دواړو نيت بايدمُتّحد(يو)وي (2) دغه رنګه په مسئله نمبر72 کي حديث تيرسو چې فلاتختلفوا عليه چې د امام اومقتدي په منځ کي بايد اختلاف نه وي.په لمانځه کي اتحاد ضروري دئ.نوځکه يوفرض ادا کونکئ په بل فرض ادا کونکي پسي اقتدآء نه سي کولائي.تفصيلي دلائل تېرسوي دي .

[244](74) لمونځ کولائي سي نفل ادا کونکئ په فرض ادا کونکي پسي.

وجه : (1) دفرض ادا کونکئ اعليٰ درجه وي اونفل ادا کونکئ ادنيٰ درجه وي.نوځکه نفل ادا کونکئ په فرض ادا کونکي پسي اقتدآء کولائي سي (2) په حديث کي دئ عن جابر بن يزيد انه صَلّيٰ مع رسول الله وهو غلام شاب فلماصَلّيٰ اذا رجلان لم يصليا في ناحية المسجد فدعا بهما فجيئ بهما ترعد فرائصهما فقال مامنعكما ان تصليا معنا ؟ قالا قدصلينا في رحالنا قال لاتفعلوا اذا صَلّيٰ احدكم في رحله ثم ادرك الامامَ ولم يصل فليصل معه فانها له نافلةً (ب) (ابوداؤدشريف،باب فيمن صلي في منزله ثم ادرك الجماعةَ يصلي معهم ص92نمبر875

حاشيه : (الف) حضرت معاذبن جبل به دحضور سره دماخستن لمونځ کاوئ بيا به خپل قوم ته راتلئ بيابه ودوئي ته هغه لمونځ ورکاوئ (ب) دجابر بن يزيد څخه روايت دئ چې ده دحضور سره لمونځ وکئ.حضرت جابر څوان و.چې کله لمونځ پوره سو نودوه کسان دمسجد په کونج کي ناست و.چې لمونځ يه نه وکړئ.دواړه را وغوستل.دواړه راوستل سو په داسي حال کي چې د دواړو وړې کپېدلي.حضور وفرمائل چې زمونږسره دلمونځ کولوڅخه تئ دواړه چا منع کاست؟ دواړو وويل مونږ په خپله کجاوه کي لمونځ کړئ دئ.حضور وفرمائل داسي مه کوئ.چې دتاسوڅخه يو په کجاوه کي لمونځ وکي بيا امام ومومي چې هغه لمونځ نه وي کړئ نو دهغه سره دي لمونځ وکي.دا به نفل سي.

خَلفَ المفتَرِضِ [245](75) وَمَن اِقتَديٰ بِاِمَامٍ ثُمَّ عَلِمَ اَنَّهُ عَلیٰ غَيرِ طَهَارَةٍ اَعَادَ الصَّلوةَ .

+ترمذي شريف،باب ماجآء في الرجل يصلي وحده ثم يدرك الجماعة ص52 نمبر219) په دي حديث کي حضور ترغيب ورکړئ دئ چي که تاسو مخکي فرض لمونځ کړئ و بياهم کـه دفرضـو جماعـت کښدئ نـو دوبـاره دهغـه سـره بياشـريك سئ.چي دغه ستالپاره نفل سي.نوددي څخه خو دامعلوم سـوچي نفـل ادا کـونکئ دفرضـي لمـونځ ادا کـونکي اقتـدآء کولائي سي.

پـام لـرنـه : داحنافو په نبز په سهار،ماښکيګر،مابنام کي که فرض لمونځ کړئ و نو دوم وار دي دنفل پـه نيـت بيا اقتدآء نه کوي.ځکه چي دسهار او ماښکيګر وروسته يونفلي لمونځ نسته.او دمابنام وروسـته نفـل سـته لـېکن دري رکعته نفل نسته.که دمابنام دفرض کونکو اقتدآء وکړي خو دري رکعت نفل به کوي.نوځکـه پـه دي دري لمنځـوکي په فرض ادا کونکو پسي به اقتدآء نه کوي.خو که چيري دماپښين او ماخستن لمونځ په کړئ و بيا دفرضو جماعـت کښدئ نو دوباره دي دنفلو نيت وکـئ پـه فرضـو والا پسـي اقتـدآءکولائي سـي. ددي دليـل دا اثـردئ (1) اَنَّ عبدالله بن عمرکان يقول من صلي المغرب او الصبح ثم ادرکهما مع الامام فلايعد لهما (الف) (مؤطاامام مالك،باب العمل في صلوة الجماعة،کتاب الصلوة ص116) ددي اثر څخه معلوم سوچي که دمابنام او سهار لمونځ کړئ و نو دوباره دي بيا دهغه په جماعـت کـي نـه شـاملېږي (2) عن ابن عباس اَنَّ النَّبِيَّ نَهیٰ عن الصلوة بعدالصبح حتي تشرق الشمس وبعد العصر حتي تغرب (ب) (بخاري شريف،باب الصلوة بعدالفجر حتي ترفع الشمس ص82 نمبر581) ددي څخه هم معلوم سـو چـي دسـهار اومابنـام دفـرض دادا کولوځخـه بعدکه ددي جماعت کښدئ نو په دي کي دي دنفل په نيت نه شريك کيږي.

[245](75)که يوچا دامام اقتدآء وکړه بيا معلوم سو چي دئ پر طـهـارت بانـدي نـه و نـو مقتـدي دي هـم لمـونځ را وګزوي.

تـشريـح : امام دجنابت په حالت کي يا بغير داودس لمونځ ورکړئ نو امام به هم لمـونځ را ګرزوي.ځکـه چـي ده بغير دطهارت لمونځ ورکړئ.لېکن دده سره سره مقتدي به هم لمونځ راګرزوي.

وجـه : (1) ځکه چي دمقتدي لمونځ دامام دلمانځه سره په اصلاح اوفساد کي متضمن دئ لکه څه رنګه چي قاعـده او سره ددلائلو تيرسو.نوځکه دامام دلمانځه دفسادسره به دمقتدي لمونځ هم فاسـدوي.اوقابل داعـادي بـه وي (2) پـه حديث کي دئ عن ابي هريرة قال اقيمت الصلوة فسوي الناسُ صُفُوفَهم فخرج رسول الله فتقدم وهوجنب ثم قال عليٰ مکانکم فرجع فاغتسل ثم خرج وراسه يقطرمآءً فصليٰ بهم (ج) (بخاري شريف،باب اذا قال الامام مکانکم حتي يرجع انتظروه ص89 نمبر640) ددي حـديث څخـه دومره معلوم سوچي که امام جنب وي نو دده لمونځ نه صحيح کيږي.او پـه يوبـل اثرکـي دئ عن عليٍّ انه صليٰ بالقوم وهوجنب فاعاد ثم امرهم فاعادوا (د)

حاشيه : (الـف) عبـدالله بـن عمـر بـه فرمائـل چـي کـوم چـا چـي دمابنـام اوسـهار لمـونځ وکـړئ او بيـا دغـه دواړه لمنځونـه دامـام سـره ومومي(ومونډي) نودادي نه راګرزوي (ب) حضوردلمانځه څخه منع کړل دسهارپه وخت کي تردي چي لمر را وخيـژي او دمـاښکيګر پـه وخت کي تر دي چي غروب سي(پريوزي) (ج) او ابوهريرة فرمائي چي جماعت ودرېدئ او خلګو صف سيدا کړئ نوحضور وواتـئ پـه داسي حال کي چي دئ جنب و.بيا حضور وفرمائل پر خپلوځايو ووسـئ(ودرېږئ).بيا واپـس ولاړئ بيايـه غسـل وکـړئ بيـا را وواتـئ پـه داسي حال کي چي دسر څخه اوبه څڅېدلي.بيايه ودوئي ته لمونځ ورکړئ (د) دحضرت علي څخه نقل سوئ دئ چي ده دجنابت پـه حالـت کي وقوم ته لمونځ ورکړئ نوپه خپله ده لمونځ راوګرزاوئ اوقوم ته هم حکم ورکړئ چي دوئي دي هم لمونځ راوګرزوي.

[246](76) وَيُكرَهُ لِلمُصَلِّي اَن يَّعبَثَ بِثَوبِهِ اَوبِجَسَدِهِ [247](77) وَلاَيُقَلِّبُ الحَصیٰ

(سنن للبيهقي.باب امامة الجنب ج2 ص560 نمبر4078+دارقطني،باب صلوة الامام وهوجنب اومحدث ج1 ص354 نمبر1355) عن سعيدبن مُسَيّب ان رسول الله صلي بالناس وهوجنب فاعاد واعـادوا (الـف) (دارقطني،باب صلوةالامام وهوجنب اومحدث ج1 ص354 نمبر1354)ددي اثر اوحديث څخه هم معلوم سوچي مقتديان به هم لمنځونه راګرزوي.

فـائـده : (1) امـام شـافعي فرمـائي چـي مقتـدي پـاك دئ ځکـه دهغـه لمـونځ پـوره سو.صـرف امـام بـه لمـونځ راګرزوي.ځکه چي ده بغير دطهارت څخه لمونځ(جماعت)ورکړئ دئ.دده دليـل دا حـديث دئ عن النبي اَيُّمَا امامٍ سهيٰ فصليٰ بالقوم وهوجنب فقدمضت صلواتهم ثم ليغتسل هو ثم ليعد صلوته وان صلي بغير وضوء فمثل ذالك (ب) (دارقطني،باب صلوة الامام

وهوجنب اومحدث ص354 نمبر1353)ددې حديث څخه معلوم سوچې مقتدي پرطهارت باندي دئ ځکه دده لمونځ صحيح دئ او امام به خپل لمونځ راګرزوي (2) دامام شافعي په نېز دجماعت مطلب دادئ چې ټول پريوه ځائ لمنځونه سره کوي.لېکن امام دمقتديانومکمل ذمه داره نه دئ.نوځکه دامام دفساد څخه دمقتديانو فساد نه لازميږي .

(دمکروهاتو بيان)

[246](76) مکروه دئ دلمونځ کونکي لپاره چې دئ په خپله جامه يا په خپل بدن بازئ کوي.

وجه : (1) په لمانځه کي خشوع او خضوع په کار ده.په آيت کي دئ وقوموا لله قانتين په لمانځه کي په خشوع او ادب سره د الله په مخکي درپږئ. نوځکه په بدن او جامه سره بازئ کول مکروه دئ (2) په حديث کي هم راغلي دي عن ابن عباس عن النبي امرت ان اسجدَعليٰ سبعة اعظمٍ لا اكف شعرا ولاثوبا (ج) (بخاري شريف،باب لايكف ثوبه في الصلوة ص113 نمبر816+مسلم شريف،باب اعضآء السجودوالنهي عن كف الشعروالثوب ص193 نمبر490) ددې حديث څخه معلوم سو چې بلاوجه بار بار کپړه(جامه) پر لپېچل مکروه دئ نو په هغه باندي بازئ کول به هم مکروه وي (3) په حديث کي دئ قال ابوذر قال رسول الله لايزال الله عزوجل مقبلاً علي العبد وهو في صلوته ما لم يلتفت فاذا التفت انصرف عنه (د) (ابوداؤدشريف،باب الالتفات في الصلوة ص138 نمبر909) په بازئ کولوکي دلمانځه څخه وبل طرف ته متوجه کېدل وي په دغه وجه مکروه دي.په دي باندي لمونځ خو نه فاسديږي لېکن ښه کار نه دئ.

[247](77) دبري (شګي) دي نه پرله اړوي را اړوي لېکن که چيري پر هغه باندي سجده نه سوه کېدلائي نو يو وار دي دبري(شګي)برابري کړي.

وجه : (1) بار بار شګي(دبري)پر له اړول را اړول بازئ دي.چې په مسئله نمبر73 کي منع کړي دي (2) په حديث کي دئ عن معيقيب قال سألتُ رسول الله عن مسح الحصيٰ في الصلوة فقال

حاشيه : (الف) حضور دجنابت په حالت کي لمونځ ورکړئ نو حضور هم لمونځ را وګرزاوئ او خلګو هم لمونځ راوګزاوئ (ب) دحضورڅخه روايت دئ چې کوم امام هير سو او وقوم ته دجنابت په حالت کي لمونځ ورکړئ نو دقوم لمونځ صحيح سو بيا امام بايد غسل وکي بيا دي خپل لمونځ را وګزوي.او که بغير د اودس لمونځ ورکړي نو دهغه حکم هم ددې په شان دئ (ج) حضور وفرمائل وما ته حکم سوئ دئ چې پر اوه اندامو باندي سجده وکم او نه ښښتان سره وپېچم نه کپړې پر له وپېچم (د) حضور وفرمائل الله وبنده ته همېشه متوجه وي تر څوچې دئ په لمانځه کي وي.او يوه خوا بله خوا ته متوجه نه وي.بيا چې په دي خوا ها خوا متوجه سي نو الله هم درحمت توجه ځني ليري کړي.

اِلاَّ اَن لاَيُمكِنُهُ السُّجُودُ عَلَيهِ فَيُسَوِّيهِ مَرَّةً وَاحِدَةً [248](78) وَلاَ يُفَرقِعُ اَصَابِعَهُ وَلاَيَتَخَصَّرُ [249](79) وَلاَ يَسدُلُ ثَوبَهُ [250](80) وَلاَ يَعقِصُ شَعرَهُ .

ان كُنتَ لابُدَّ فاعلاً فمرةً واحدةً.وفي حديث آخر عن ابي ذر عن النبي قال اذا قام احدكم الي الصلوة فلايمسح الحصيٰ فان الرحمة تواجهه (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في كراهية مسح الحصي في الصلوة ص87 نمبر379+ابوداؤدشريف،باب مسح في مسح الحصي في الصلوة ص143 نمبر 946+945)ددې حديث څخه معلوم سوچې بار بار شګي(دبري) ليري کول مکروه دي.خوکه چيري ضرورت راسي او پر شګو(دبرو)سجده کول ناممکن وي نويو وار دي هغه سره برابري کړي.

[248](78) نه دي په ګوتو ټکان کوي اونه دي پر تشو(اړخو)باندي لاسونه اږدي.

تشريح : په ګوتوباندي ټکان کول چې دګوتو څخه آواز پورته کيږي په لمانځه کي دا رنګه کول مکروه دي.دغه رنګه په لمانځه کي پر تشو(اړخو)باندي لاسونه ايښول يا پر شا(ملا)باندي لاسونه ايښول مکروه دي.

وجه : عن عليٍّ اَنَّ رسول الله قال لاتفقع اصابعك وانت في الصلوة (ب) (ابن ماجه شريف،باب مايكره في الصلوة ص136 نمبر964+سنن للبيهقي،باب كراهية تفقيع الاصابع في الصلوة ج2 ص410 نمبر3574) ددې حديث څخه معلوم سوچې په لمانځه کي په ګوتوسره ټکان کول مکروه دي. پر تشو باندي دلاس نيولو دمکروه والي دليل دا حديث دئ عن ابي هريرةَ عن النبيّ انه نهيٰ

ان يصلي الرجل متخصراً (ج) (مسلم شريف،باب كراهية الاختصار في الصلوةص206 نمبر545+ابوداؤدشريف،باب التخصر والاقعآء ص137 نمبر903)

[249](79) نه دي کيږه ځړوي.

تشريح : پر وړه باندي کيږه اچول دواړه څنګونه ځړولي پريښول سَدَل دئ او دا مکروه دئ.

وجه : په حديث کي دئ عن ابي هريرة انَّ رسول الله نَهيٰ عن السَّدل في الصلوة وان يغطي الرجل فاه (د) (ابوداؤدشريف، باب ماجآء في السدل في الصلوة ص101 نمبر643+ترمذي شريف،باب ماجآء في كراهية السَّدل في الصلوة ص87 نمبر378)

پام لرنه : بعضو علمآء فرمائلي دي چي يوه کيږه پر بدن باندي وي او دغه رنګه ځړيږي نو دستر دښکاره کېدو خطره ده ځکه مکروه دئ. اوکه ازار(پرتوګ) يا قميص وي پر هغه باندې لوړ سدل کړئ وي نو بيا مکروه نه دئ(كماقال في الترمذي في الباب المذكور) که نه نو ديهوديانو دغه طريقه وه دهغوسره دمشابهت په وجه مکروه دئ .

[250](80) او بېښتان دي نه غوټه کوي .

حاشيه : (الف) ما دحضور ځخه په لمانځه کي دشګو(ډبرو) دليري کولو په باب پوښتنه وکړه نو حضور وفرمائل که ضروري وي نو يو وار يه سمي(صحيح)کړه.او په يو بل حديث کي حضور وفرمائل په تاسو کي چي يو ولمانځه ته ولاړ سي نو شګي دي نه ليري کوي.ځکه چي رحمت وده ته متوجه وي (ب) حضور وفرمائل په ګوتو ټکان مه کوئ کله چي تئ په لمانځه کي ياست (ج) حضور منع وکړل چي سړئ پر توشي لاس کښيږدي لمونځ کوي (د) حضور په لمانځه کي دکيږي ځړولو ځخه منع کړل او دا چي سړئ په لمانځه کي خپله خوله پټه کړي.

[251](81) وَلاَ يَكُفُّ ثَوبَهُ [252](82) وَلاَ يَلتَفِتُ يَمِينًا وَ شِمَالاً [253](83) وَلاَ يَقعِي

تشريح : چي دښځو په شان بېښتان غوټه کړي پر سر يه سره وپېچي دا مکروه دئ.ځکه چي دښځي سره مشابهت راځي.

وجه : په حديث کي راغلي دي انه رايٰ ابا رافع مولِيٰ النَّبيّ ... اني سمعتُ رسولَ الله ذالك كَفلُ الشَّيطان يعني مَغرَزُ ضَفره (الف) (ابوداؤدشريف،باب الرجل يصلي عاقصاشعره ص101 نمبر646) ددي ځخه معلوم سوچي دنر لپاره دښځو په شان بېښتان سره يو ځائ کول پر سر باندي پېچلي ټرل مکروه دي.

[251](81) کيږي دي نه سره را ټولوي.

تشريح : بار بار کيږي راټولول مکروه دي.

وجه : په حديث کي راغلي دي عن ابن عباس عن النَّبيّ قال أُمرتُ ان اسجدَ عليٰ سبعةٍ لااكفُّ شعراً ولا ثوباً (ب) (بخاري شريف،باب لايكف ثوبه في الصلوة ص113 نمبر816+ مسلم شريف، باب اعضآءالسجود والنهي عن كف الشعر والثوب وعقص الراس في الصلوة ص193 نمبر490)

ددي حديث ځخه معلوم سو چي بار بار کيږي پر له پېچل(صحيح کول)مکروه دي.

[252](82) په لمانځه کي دي پر ښي او کنې خوا نه متوجه کيږي.

تشريح : که صرف نظر(سترګي) شا وخوا پرله وګزوي نو دا مکروه دئ.او که چهره(مخ) وګرزوي نو دا مکروه تحريمي دئ.او که سينه(ځيګر) دقبلي ځخه وګرزوي نو لمونځ په فاسددئ.

وجه : په حديث کي راغلي دي عن عائشة قالت سألتُ رسول الله عن الالتفات في الصلوة فقال هو اختلاس يختلسه الشيطان من صلوة العبد (ج) (بخاري شريف،باب الالتفات في الصلوة ص104 نمبر751+ ابوداؤدشريف،باب الالتفات في الصلوة ص138 نمبر910) ددي ځخه معلوم سو چي په لمانځه کي يوه خوا بله خوا ته کتل مکروه دئ.خو که چيري ډېر ضرورت وي ذو صرف د سترګو اړولو را اړولو ګنجائش سته.ددي دليل دا حديث دئ قال سهل التفت ابوبكر فرايٰ النَّبيَّ وفي حديث آخر عن ابن عمر انه قال رايٰ رسول الله نخامة في قبلة المسجد وهو يصلي بين يدي الناس فحتها(د) (بخاري شريف،باب هل يلتفت لامرينزل به

ص104 نمبر753+ ابوداؤدشريف،باب الرخصة (انظرفي الصلوة) ص139 نمبر916) ددي حديث څخه معلوم سوچي دضرورت پر وخت سترګي يوخوا بله خوا ته اړولو کي کراهيّت نسته.خوبيا هم په خشوع او خضوع کي خلل را تلائي سي نو ځکه بغير دضرورت څخه کتل نه دئ په کار .

[253](83) د سپي په ركم(شان)دي نه کښيني.

حاشيه : (الف) دنبي آزد کړئ غلام(مرثي)ابورافع حسن بن علي وليدئ چي ده چُوتّل جورکړئ و...وفرمائل ما دحضور څخه اورښدلي دي چي دا دشيطان برخه ده يعني بيښتان غوټه کول او چُوتّل ځني جوړول (ب) حضور وفرمائل ماته حکم سوئ دئ چي زه پر اوو اندامو باندي سجده وکم او بيښتان نه پر له ويښچم او نه کپړي پر له ويښچم (ج) حضرت عائشه فرمائي چي ما په لمانځه کي يوه خوا بله خواته دکتلو په اړه دحضور څخه پوښتنه وکړه حضور وفرمائل دا مُبَنّت دئ. شيطان دانسان په لمانځه پوري ومُښلي (د) دحضور د مرض الوفات پر موقع دابوبکرصديق دجماعت ورکولو هغه ورډ حديث کي دحضرت سهل دا عبارت دئ چي ابوبکر متوجه سو او حضور يه وليدئ.په يو بل حديث کي ابن عمر وفرمائل چي حضور دمسجد دقبلي پر جانب ګرول بئ(دپزي فُضله) وليدل په داسي حال کي چي حضور وخلګو ته جماعت ورکاوئ.بيا حضور هغه وګروونئ.

كَإِقعَآءِ الكَلبِ [254] (84) وَلاَ يَرُدُّ السَّلاَمَ بِلِسَانِهِ وَيَدِهِ .

تشريح : چي کوناټي پر مځکه کښيردي او دواړه څنګونه دسيني(څيګره) سره ومُښلّوي او دواړه لاسونه پر مځکه ولګوي.عموماً په دا انداز سپئ کښيني نو ځکه په دا شکل په لمانځه کي کښيښتل مکروه دئ.

وجه : حديث دئ عن سمرة بن جندبٍ قال نهي رسول الله عن الاقعآء في الصلوة (الف) سنن للبيهقي،باب الاقعآء المكروه في الصلوة ج2 ص173 نمبر2739) ددي څخه معلوم سو چي دسپي په شان کښيښتل مکروه دي.حضرت ابوعبيددبيهقي نمبر2743 په دغه باب دغه تفسير کړئ دئ.

پام لرنه : د دو سجدو په ما بين کي دواړي پُندي جګي دروں سُرين(کوناټئ) پر هغه ايښول ددغه رنګه ناستي ګنجائش سته.ددي دليل دا حديث دئ سمع طاؤساًيقول قلنا لابن عباس في الاقعآء علي القدمين فقال هي السُّنَّةُ فقلنا له انا لنراه جفآء بالرجل فقال ابن عباس بل هي سنةُ نبيّكَ (ب) (مسلم شريف،باب جوازالاقعآء علي القعبين ص202 نمبر536+سنن للبيهقي،باب القعود علي الكعبين بين السجدتين ج2 ص171 نمبر2732) ددي حديث څخه معلوم سوچي پر پُندو باندي د ناستي ګنجائش سته .

لغت : الاقعآء : دسپي په شان کښيښتل.

[254](84) دسلام جواب دي په ژبه هم نه ورکوي او دلاس په اشاره دې هم نه ورکوي.

وجه : په دواړو طريقو جواب ورکولو څخه په حديث کي ممانعت راغلئ دئ عن زيد بن ارقم قال كُنَّا نتكلَّم في الصلوة يُكَلمُ الرجلُ صاحبَهُ وهو الىٰ جنبه في الصلوة حتي نزلت وقوموا لله قانتين فامرنا بالسكوت ونهينا عن الكلام (ج) (مسلم شريف،باب تحريم الكلام في الصلوة ونسخ ما كان من اباحته ص204 نمبر539+ابوداؤدشريف،باب النهي عن الكلام في الصلوة ص144+ترمذي شريف،باب في نسخ الكلام في الصلوة ص92 نمبر405) ددي حديث څخه معلوم سو چي په لمانځه کي په ژبه سره خبري کول جواز نه لري.داحنافو مسلك دادئ چي که په هېره سره خبري وکړي هم يه لمونځ فاسديږي.

فائده : دامام شافعي په نېز که په هېره سره يا د لمانځه داصلاح لپاره خبري وکړي نو لمونځ يه نه فاسديږي.دده دليل دا ورډ حديث دئ چي دهغه يوه حصه(ټکړه)دلته نقل کوم.عن عبدالله قال صلّىٰ رسول الله فزاد او نقص قال ابراهيم الوهم منّي فقيل يارسول الله انه ازيد في الصلوة شيئ ؟ فقال انما انا بشر مثلكم انسي كما تنسون فاذا نسي احدكم فليسجد سجدتين وهو جالس ثم تحول رسول الله فسجد سجدتين (ج) (مسلم شريف،فصل من صلىٰ خمسًا اونحوه فليسجد

حاشيه : (الف) حضور په لمانځه کي دسپي په شان دناستي څخه منع کړل (ب) حضرت طاؤس فرمائي چي ما د ابن عباس څخه پر دو قدمو باندي د کښيښتو په باب پوښتنه وکړه.وفرمائل چي دا دنبي سنت دئ.ما ورته وويل چي مورږ پر خپلو پښو باندي بوج(وزن.تکليف)محسوسو.حضرت ابن عباس وفرمائل بلکه دا ستئ دنبي سنت دئ (ج) زيد بن ارقم فرمائي چي مورږ په لمانځه کي

خبري کولي. سړي به دخپل ملګري سره خبري کولې په داسي حال کي چې هغه به په لمانځه کي دده په اړخ کې و تر دې چې وقوموا لله قانتين آيت نازل سو نو ومونږ ته په پټه خوله ددربدو حکم وکړئ.او دخبرو کولو څخه منع کړو (ج) عبدالله بن مسعود فرمائي چې حضور لمونځ راکړئ او څه يه زيات کړئ يا يه کم کړئ.ابراهيم وويل چې دا وهم زما له خوا دي.نو وده ته وويل سو يا رسول لله آيا په لمانځه کي زياتوب راغلئ دئ ؟ نو حضور وفرمائل زه ستئ په شان انسان يم.زما هېرېږي لکه څه رنګه چې ستاسو هېرېږي.بس چې ستاسو څخه ديوه هېره وسي نو دوي سجدې دسهو بايد وکړي په ناستي ناستي.بياحضور را وګرزېدئ او دوي سجدې يه وکړې.

[255](85) وَلاَ يَتَّبَعُ اِلاَّ مِن عُذرٍ .

سجدتين وکلام الناس للصلوة والذي يظن انه ليس فيها لايبطلها ص213 نمبر572+ترمذي شريف،باب ماجآء في سجدتي السهو بعدالسلام والکلام ص90 نمبر393) په دې حديث کي دلمانځه داصلاح لپاره يا په هېره سره حضور خبري کړي دئ بيا يه سجده سهو کړي ده لمونځ يه پوره کړئ دئ.نو ځکه امام شافعي فرمائي چې په هېره سره يا دلمانځه داصلاح لپاره که خبري وکړي نو لمونځ نه فاسديږي.مونږ وايو چې په خپله ترمذي او مسلم باب قائم کړئ دئ او دا يه ويلې دي چې دخبري کولو جواز اوس منسوخ دئ.چه هر رنګه خبري وي. په اشاره سره دسلام جواب ورکولو ممانعت په دې حديث کي دئ .عن جابر بن سمرة قال کُنَّا اذا صلينامع رسول الله قلنا السَّلامُ عليکم ورحمةُ الله،السَّلامُ عليکم ورحمةُ الله واشار بيده الیٰ الجانبين فقال رسول الله علام تؤمون بايديکم کانها اذناب خيل شُمُسٍ انما يکفي احدکم ان يضع يده علي فخذه ثم يسلم علیٰ اخيه من علي يمينه وشماله (الف) (مسلم شريف،باب الامربالسکون في الصلوة والنهي عن الاشارة بيده الخ ص181 نمبر431+ابوداؤدشريف،باب رد السلام في الصلوة ص140 نمبر923) ددې حديث څخه معلوم سوچې دلاس په اشاره به هم دسلام جواب نه ورکوي .

فـائـده : دبعضو امام مانو په نبز په معمولي اشاره سره دسلام جواب ور کول جائزدئ.دوئي ددې حديث څخه استدلال کوي عن صُهَيبٍ قال مررتُ برسول الله وهو يصلي فسلمتُ عليه فرد الیَّ اشارةً وقال لااعلم الا انه قال اشارةً باصبعه (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء في الاشارة في الصلوة ص85 نمبر367+ابوداؤدشريف،باب ردالسلام في الصلوة ص140 نمبر925+ابوداؤدشريف،باب الاشارة في الصلوة ص143نمبر943+مسلم شريف،باب تحريم الکلام في الصلوة نمبر540)ددې حديث څخه معلوم سوچې په لمانځه کي دلاس په اشاره سره دسلام جواب ورکول جائزدئ.مونږ وايو چې دا په هغه اولو احاديثو سره منسوخ دئ.نو ځکه مکروه دئ.خودادئ چې دا خو نه خبري دي نه عمل کثير دئ نو ځکه لمونځ نه په فاسديږي.

[255](85) او چارزانو دي نه کښېني که چيري عذر نه و.

وجـه : په لمانځه کي چارزانو کښېنستل دسنت څخه خلاف دئ.ځکه دامکروه دئ.ځکه چې په حديث سره دا ثابت دئ چې په لمانځه کي دافتراش ناسته سُنّت ده.حديث دئ فقال ابوحميدالسَّاعدي ... فاذا جلس في الرکعتين جلس علي رجله اليُسريٰ ونصب اليُمنيٰ فاذا جلس في الرکعة الآخرة قدَّم رجله اليُسريٰ ونصب الاخريٰ وقعد عليٰ مقعده (ج) (بخاري شريف،باب سنة الجلوس في التَّشَهُّد

حاشيه : (الف) مونږ دحضور سره لمونځ کاوئ او مونږ ويل السَّلامُ عليکم ورحمةُ الله،السَّلامُ عليکم ورحمةُ الله او پر دواړو خواو مو په لاس سره اشاره کوله نو حضور وفرمائل په خپل لاس سره ولي اشاره کوئ ؟ لکه دځغستا د آسانو لکئ چې وي.ستاسو څخه ديوه لپاره دومره کافي دئ چې خپل لاس پر ورانه کښېزدي بيا پر خپل ورور باندي پر ښي او کښ طرف سلام وکړي (ب) حضرت سهيب فرمائي چې زه دحضور سره نزدې راتېر سوم په داسي حال کي چې ده لمونځ کاوئ.ما وده ته سلام وکئ نو ده وما ته په اشاره سره جواب راکئ.راوي وائي چې زما ګمان دادئ چې ده په ګوتو سره اشاره وکړه (ج) ابوحميد الساعدي وفرمائل ... بس چې کله پر دوه رکعته کښېنستئ نو پر کښه پښه دي کښېنستئ او ښئ پښه يه جګه ودرول.بس چې کله پر آخري رکعت کښېنستئ نو کښه پښه يه را مخته کړه او هغه بلـه پښه يه جګه ودرول او پر خپل مقعد باندي کښېنستئ.

[256](86) وَلاَيَاکُلُ وَلاَيَشرِبُ [257](87) فَاِن سَبَقَهُ الحَدَثُ اِنصَرَفَ وَتَوَضَّاَ وَبَنیٰ عَلیٰ صَلٰوتِهِ اِن لَم يَکُن اَمَامًا .

ص114 نمبر828+مسلم شريف،باب مايجمع صفة الصلوة وما يفتتح به ص194 نمبر498) ددې حديث څخه معلوم سوچې افتراش ناسته سنت ده يا تورك ناسته سنت ده.نوځکه چارزانو ناسته مکروه ده قال عبدالله(بن مسعود) لان اجلس علي رضفين خيرمن ان اجلس في الصلوة متربّعاً (الف) (مصنف عبدالرزاق،باب الاقعآء في الصلوة ج2 ص196 نمبر3052)

پـــام لـــرنـــه : کله نا کله حضور او صحابه کرام چارزانو کښېنستل نو ځکه دا مکروه تحريمي نه ده.که عذر وي نو دارنګه ناسته هم جائزده.

[256](86) او نه دي خوراك کوي نه دي چيښنګ کوي.

وجـه چې په لمانځه کې يوه خوا بله خوا ته متوجه کېدل منع دي نو خوراك او چيښنګ بـه پـه طريقـه اولـيٰ سره مکروه وي.او که ديوه جواري دمقدار څخه زيات شئ وخواړئ نو لمونځ يه فاسديږي.

[257](87) او که په خپله حدث ورته عارض سو نو واپس به ځي اودس به کوي او پر اول لمانځه بـه بنـآء کـوي که امام نه و.

تـشريـح : که چيرې په خپله حدث ورته عارض سو نـو واپـس بـه ځـي اودس بـه کـوي بيـا بـه راځـي پـر اول لمانځه به بنآء کوي مثلاً که چيرې مخکې دماپښين دوه رکعته کـړي و نـو چـې داودس څخـه واپـس راسـي نـو دوه رکعته به نور کوي او څلور به پوره کړي.لېکن ددې لپاره څلورشرطونه دي (1) په دغه دوران کـې بـه پـه قصـده سره دوم وار بيا حدث نه وي کړئ (2) خبرې نه وي کړي (3) دلمانځه ختم کونکئ بل کار به نه وي کـړئ (4) او دضرورت څخه زيات به هلته نه وي درېدلئ. نو بنآء کولائي سي.او که ددې څخه يو کار کړئ وي نو دسر څخـه به بيا لمونځ کوي.او دا چې ولاړئ راغلئ،دقبلې څخه سينه(ځيګر)وګرزېدئ دا معاف دي.دئ خو په حدث کې دئ نو ځکه خلاف قياس يه ودې ته جواز ورکړئ دئ.دغه وجه ده چې کوم حدث بار بار عارضيږي په هغه کې بنـآء کولائي سي.لېکن چې کوم حدث کله نا کله پېښيږي لکه احتلام(جُنُب)کېدل.نو په دي کې بيا بنآء نه سي کولائي.بلکه دسره څخه به لمونځ کوي.

وجـه : په حديث کې راغلـي دي عن عائشة قالت قال رسول الله من اصابه قيئ او رعاف او قلس او مذيّ فلينصرف فليتوضّا ثم ليبن عليٰ صلوته وهو في ذالك لايتكلم (ب) (ابن ماجه شريف،باب ماجآء في البنآء علي الصلوة ص171 نمبر1221+دارقطني،باب في الوضوء من الخارج من البدن كالرعاف الخ ص160 نمبر555) ددې حديث څخه معلوميږي چې بنآء کولائي سي.لېکن که دسـره لمونځ را وګرزوي نو بنه کار دئ.ځکه چې دا مسئله خلاف قياس ده.په حديث دئ عن علي بن طلقٍ قال قال رسول الله اذا فسآء احدكم في الصلوة فلينصرف فليتوضا وليعد الصلوة (ج) (ابوداؤدشريف،باب اذا حدث في الصلوة ص151 نمبر205) ددې حـ ديث څخه معلوميږي چې لمونځ بايد دسره څخه وکي.

حاشيه : (الف) پر دو انګارو باندې کښېنم دا بنه دئ تردې چې په لمانځه کې چار زانو کښېنم (ب) حضور وفرمائل کـه يـو چـا بـاکئ وهلي وي يا يه پژه ويني سوې وي يا يه داوبو باکي وهلي وي نو بايد واپس ولاړسي او اودس وکي بيا دخپل لمانځـه بنـآء وکړي.پـه دې شرط چې ده په دې مابين کې خبرې نه وي کړي (ج) حضـوروفرمائل چـې پـه تاسـو کـې يـو پـه لمانځـه کـې حـدث وکـي نـو بايـد واپـس ولاړسي اودس دي وکړي او لمونځ دي راوګزوي .

[258](88) فَإِن كَانَ إِمَامًا اِستَخلَفَ وَتَوَضَّاَ وَبَنيٰ عَلَيٰ صَلوتِهِ مَا لَم يَتَكَلَّمَ وَالاِستِيناَفُ افضَلُ [259](89) وَإِن نَامَ فَاَحتَلَمَ اَو جُنَّ اَو اُغمِيَ عَلَيهِ اَو قَهقَهَ اِستَانَفَ الوُضُوءَ وَالصَّلوةَ [260](90) وَإِن تَكَلَّمَ فِي صَلوتِهِ سَاهِيًا اَو عَامِداً بَطَلَت صَلوتُهُ .

فـا ئـد ه : امام شافعي فرمائي دحدث په صورت کـې دي دسـره څخـه لمـونځ وکـي او دده دليـل دغـه دابـوداؤد حديث دئ. زمونږ په نېز ددواړو حديثو دجمع کېدو وروسته دابوداؤد حديث پر افضليّت باندې محمول دئ.

[258](88) او که امام وي خليفه به جوړوي او اودس به کوي او بنآء به کوي پر خپل لمانځه بانـدي تـر څـو چـې خبره نه وي کړي او دسره څخه لمونځ کول بهتر(بنه) دئ .

وجـه : که امام وي نو خو بنکاره خبره ده چې خليفه به جوړوي چې دغه خليفه ومقتديانو ته لمونځ ورکـړي. او اصل امام به اودس کوي بنآء به کوي. دخليفه جوړولو لپاره دا حديث دئ دخلتُ عليٰ عائشة فقلتُ لها الا تُحَدّثيني عن مرض

رسول الله ... وكان ابوبكر يُصلّي وهو قائم بصلوة النبي والنَّاسُ يُصلون بصلوة ابي بكر (الف) (مسلم شريف،باب استخلاف الامام اذا عرض له عذرص177 نمبر418+بخاري شريف،باب انَّماجُعلَ الامام ليؤتم به ص95 نمبر687) ددي حديث څخه معلوم سو چي دضرورت په وخت کي به امام خليفه جوړوي.ځکه چي دابوبکر پر ځائي حضور لمونځ ورکړئ.

پام لرنه : په حديث کي دا تير سو چي تر هغو پوري بنآء کولائي سي چي خبره نه وي کړي نو ددي څخه دا هم معلوم سو چي که په قصده سره حدث کړئ وي نو بنآء نه سي کولائي.دسره څخه به لمونځ کوي .

[259](89) اوکه بيده سو احتلام سو يا لېونئ سو يا بېهوښي پر راغله يا په په زوره وخندل نودوم وار به اودس کوي او لمونځ به هم دوم وار کوي .

وجه : دغه امور(اعراض) ټوله کله نا کله پېښيږي نو ځکه دحدث په وجه په دي کي بنآء نه سي کولائي.ځکه چي په حدث کي دبنآء جواز په هغه شيانو کي کېدلائي سي چي بار بار(همېشه) واقع کيږي.

لغت : أُغميَ : بېهوښه کېدل.

پام لرنه : بيده سو او احتلام سو دغه قيد يه ځکه ولګاوئ چي که چيري لږ څه وخت بيده سو او بيا احتلام سو نو دسره څخه به ادا کوي او که چيري ډېر بيده سو نو بيا خو په خپله خوب هم ناقض دئ.

[260](90) که په لمانځه کي په هېره سره خبره وکړه يا په قصد سره خبره وکړه نو لمونځ يه باطل دئ.

وجه : په حديث کي راغلي دي عن زيد بن ارقم قال كنا نتكلمُ في الصلوة،يُكَلّمُ الرَّجُلُ صَاحبَهُ وهو الىٰ جنبه في الصلوة حتي نزلت وقوموا لله قانتين فَأُمرنا بالسُّكوت ونُهينا عن الكلام (ب) (مسلم شريف باب تحريم الكلام في الصلوة ونسخ ماكان

حاشيه : (الف) زه حضرت عائشه ته راغلم او ورته ومو ويل چي ته دحضور دمرض الوفات په لړکي څه بيان کوې؟... ابوبکر ولاړ و دحضور په اقتدآء کي لمونځ کاوئ.او خلګو دابوبکرپه اقتدآء کي لمونځ کاوئ (ب) زيد بن ارقم فرمائي چي مونږ په لمانځه کي خبري کولي.سړي به په لمانځه کي دخپل څنګ دملګري سره خبري کولي تر دي چي قوموا لله قانتين آيت را نازل سو نو مونږ ته دېتي خولي درېدو حکم وکئ او دخبرو کولو څخه منع کړو .

[261](91) وَإن سَبَقَهُ الحَدَثُ بَعدَ مَاقَعَدَ قَدرَالتَّشَهُّدِ تَوَضَّأَ وَسَلَّمَ [262](92)وان تَعَمَّدَ الحَدَثَ فِي هٰذِهِ الحَالَةِ اَوتَكَلَّمَ او عَمَلَ عَمَلاً يُنَافِي الصَّلوةَ تَمَّت صَلوتُهُ .

من اباحته ص204+ابوداؤدشريف باب النَّهي عن الكلام في الصَّلوة ص144 نمبر949+ترمذي شريف باب نسخ الكلام في الصلوة ص92 نمبر405)ددي حديث څخه معلوم سوچي په لمانځه کي خبري کول جوازنه لري.اودلمانځه حالت داسي حالت دئ چي دسړي لمونځ په يادوي نوځکه که چيري په هېره سره خبري وکړي نوهم لمونځ فاسدوي.لکه څه رنګه چي په يوه بل حديث کي ودي ته اشاره سوې ده عن معاوية بن حكم السُّلميّ قال بيناناأُصَلّي مع رسول الله...ثم قال انَّ هذه الصلوة لايُصلحُ فيها شيئ من كلام النَّاس انماهوالتَّسبيحُ والتكبيرُ وقرآءة القرآن (الف) (مسلم شريف،باب تحريم الكلام في الصلوة ونسخ ماكان من اباحته ص203 نمبر537)ددي حديث څخه معلوم سوچي لمونځ دخلګودخبرو هيڅ صلاحيّت هم نه لري.نود دي څخه دا هم معلوم سوچي په هېره سره خبري هم لمونځ فاسدوي.

فائده : دامام شافعي په نېز په هېره سره خبري او دامام مالك په نېز دلمانځه داصلاح لپاره خبري کولوڅخه لمونځ نه فاسديږي.

وجه : ددوئي دليل دذُواليَدَين مشهورحديث دئ.چي په مسئله نمبر84 کي تيرسو.اوددي جواب دادئ چي اوس خبري کول منسوخه سوي لکه څه رنګه چي امام مسلم او امام ترمذي په خپل کتاب کي د نَسخُ الكلام اوتَحريمُ الكلام په عنوان باب قائم کړئ دئ چي اوس هررنګه خبري کول منسوخ سوي دي.نو ځکه که په هېره سره خبري وکړي نولمونځ داسي حالت دئ چي مُتَذَكّردئ ځکه لمونځ فاسديږي.

[261](91) او که حدث ورته لاحق سو دتشهد په اندازه دکښېنستو وروسته نو اودس به کوي او سلام به په ګرزوي.

وجه : دتشهد په اندازه دناستي وروسته په خپله حدث ورته عارض سو نو دتشهد په اندازه ناسته آخري فرض و چې پوره سو لېکن سلام کول چې واجب دئ هغه تر اوسه پاته دئ نو ځکه دئ به دوباره اودس کوي پر لمانځه به بنآء کوي او سلام به په ګرزوي.

[262](92) او که په قصد سره حدث ځان ته عارض کئ په دغه حالت کي يا په خبره وکړي يا په داسي کار وکئ چې دلمانځه سره ضد و نو دده لمونځ پوره سو.

وجه : (1) دتشهد په اندازه دناستي وروسته په قصده سره دحدث کولو څخه وروسته دده پر ذمه يوفرض هم نه دئ پاته سوئ صرف سلام کول پاته و چې واجب دي.نو ځکه لمونځ ګواکه په يو حيثيّت پوره سوئ دئ لېکن سلام يه پرېښوئ نو ښه کار يه نه وکړئ. او بنآء په دې وجه نه سي کولائي چې په قصده سره يو مانع او قاطع را منځ ته کړئ نو لدې کبله پر لمانځه باندي بنآء نه سي کولائي. نوځکه دغه به وايو چې لمونځ پوره سو لېکن دواجب دکمې سره (2) دلمانځه دپوره کېدو دليل په حديث کي دئ عن عبدالله بن عمر اَنَّ رسول الله قال اذا قضي الامام الصلوة وقعد فاحدث قبل ان يتكلم فقدتمت صلوتُه ومن كان خلفه ممن اتم الصلوة (ب) (ابوداؤدشريف،باب الامام يحدث بعد مايرفع راسه ص98 نمبر617+دارقطني،باب من احدث قبل التسليم في آخرصلوته او احدث قبل تسليم الامام فقد تمت صلوتُه ص368 نمبر1407)

حاشيه : (الف) مور دحضور سره لمونځ کاوئ ... بيا حضور وفرمائل دا لمونځ صلاحيت نه لري په دي کي دخلګو دخبرو.دا خو صرف تسبيح.تکبيراو دقرآن ويل دئ (ب) حضور وفرمائل که لمونځ پوره کړئ او کښېنستئ بيا يه حدث وکړئ دخبرو دکولو څخه مخکي(يعني دسلام څخه مخکي)نو دده لمونځ پوره سو.او کوم خلګ چې دده وروسته دي دهغو څخه به شمېرل کيږي کومو چې لمونځ پوره کړئ دئ.يعني د دوئي هم لمونځ پوره سو.

[263](93) وَإِن رَاىٰ المُتَيَمِّمُ المآءَ فِي صَلوتِهِ بَطَلَت صَلوتُهُ [264](94) وَإِن رَاٰهُ بَعدَ مَا قَعَدَ

ددې حديث څخه معلوم سوچې دتشهدپه اندازه دناستي وروسته يه حدث وکړئ نولمونځ يه پوره سو.

بلکه که يو سړئ دامام وشا ته ولاړ وي او دامام دسلام څخه مخکي ده په قصده سره حدث وکړئ نو ددغه سړي لمونځ پوره دئ.که څه هم پر ده باندي واجب سلام باقي پاته دئ.په حديث کي دئ عن عبدالله بن عمر ان رسول الله قال اذا جلس الامام في آخر ركعةٍ ثم احدث رجل من خلفه قبل ان يسلم الامام فقد تمت صلوته (الف) (دارقطني،باب من احدث قبل التسليم ص368 نمبر1407) ددې حديث څخه معلوم سو چې که مقتدي هم د تشهد په اندازه د ناستي څخه وروسته حدث وکړئ نو دده لمونځ پوره کيږي.

فائده : دامام شافعي په نېز سلام فرض دئ نو لدې کبله دتشهد په اندازه دنا ستي وروسته که حدث وکئ نو فرض يه باقي پاته دئ نو ځکه لمونځ به فاسد سي.دده دليل دا حديث دئ عن علي عن النبي قال مفتاح الصلوة الطهور وتحريمها التكبير وتحليلها التسليم (ب) (ترمذي شريف،باب ما جآء مفتاح الصلوة الطهور ص5 نمبر 3+ ابوداؤدشريف،باب الامام يحدث بعد ما يرفع راسه من آخر ركعةٍ ص98 نمبر618) ددې حديث په وجه لکه څه رنګه چې طهارت او تکبيرتحريمه فرض دي دغه رنګه دده په نېزسلام هم فرض دئ.مور وايو چې دطهارت او تکبيرتحريمه دفرضيت وجه نور آيتونه دي صرف دغه حديث نه دئ.

[263](93) که تيمم کونکي سي دلمانځه په منځ کي اوبه وليدلې نو دده لمونځ به باطل سي.

وجه : (1) دتيمم دکولو څخه مخکي ده په قصده سره حدث کړئ و نو بيا تيمم کول د حدث دپټولو لپاره يوشئ(ذريعه) سو لېکن دتشهد څخه مخکي پر اوبو باندي قدرت پيدا کړئ نو هغه په قصده سره چې حدث کړئ و هغه واپس بيا راغلئ.ځکه چې دخليفه پر ځائ باندې پر اصل قدرت پيدا کړئ او تر اوسه لا فرض پاته دي نو ځکه لمونځ يه فاسد سو. لمونځ دي دسره څخه وکړئ (2) په يو اثر کي راغلي دي عن الحسن اَ نَّهُ قال في متيممٍ مَرَّ بمآءٍ غيرمحتاجٍ الي الوضوء فجاوزه فحضرت الصلوة وليس معه مآء قال يعيدالتيمم لان قدرته علي المآء تنقض تيممه الاول (مصنف بن ابي شيبة،ص232 في متيمم مربمآءٍ جاوزه،ج1 ص176 نمبر2026) چې اودس وکړي بنآء په دې وجه هم نه سي کولائي چې (3) دتيمم څخه مخکي په قصده سره ده حدث کړئ و او مخکي دا خبره تېره سوه چې که په قصده سره حدث وکړئ نو بنآء نه سي کولائي.ځکه چې قاطع او مانع منځ ته راغلئ. بنآء په دې وجه هم نه سي کولائي چې (4) دا معامله کله نا کله پېښيږي.

[264](94) او که اوبه ولیدلي دتشهد په اندازه دناستي څخه وروسته(نو دامام ابو حنیفه په نېز یه لمونځ باطل سو او دصاحبین په نېز یه لمونځ پوره سو)

وجه : (1) امام ابوحنیفه فرمائي چې دتشهد په اندازه دناستي څخه وروسته پر اوبو باندي قدرت پیدا کېږئ نو فرائض که څه هم پوره سوي دي لېکن اوس هم دري کار پاته دي درود شریف،دعآء او سلام نو ګوا که لمونځ پاته دئ نو ځکه دلمانځه په ما بین کي پر اصل باندي قادر سو او داصل

حاشیه : (الف) حضور وفرمایل چې امام په آخري رکعت کي کښیني بیا دامام دسلام دګرزولو څخه مخکي دشا وخواته یو سړئ حدث وکړي نو د دا سړي لمونځ پوره دئ (ب) حضور وفرمائل دلمانځه شروع پاکي ده،دهغه تحریمه ترل الله اکبر ویل دئ او دهغه څخه وتل سلام کول دئ .

قَدرَ التَّشَهُّدِ [265](95) اَو کَان مَاسِحاً فَانقَضَت مُدَّةُ مَسحِهِ اَو خَلَعَ خُفَّيهِ بِعَمَلٍ قَلِيلٍ اَو کَانَ اُمّياً فَتَعَلَّمَ سُورَةً اَو عُرياناً فَوَجَدَ ثَوبًا .

بنآء پر کمزوري باندي نه صحیح کېږي نو ځکه لمونځ په فاسد دئ او دسره څخه به لمونځ کوي

وجه : (1) صاحبین فرمائي چې فرائض خو ټوله پوره سوي دي اوس صرف واجبات یا سنن پاته دي.او مخکي په مسئله نمبر92کي تیرسوچې که دتشهد وروسته حدث وکړئ نو لمونځ یه پوره دئ.دلته ګواکه دتشهد وروسته حدث کړئ دئ نو ځکه لمونځ په پوره دئ (2) دمسئله نمبر92 دحدیث څخه علاوه ددي حدیث څخه هم استدلال کوي.دعبدالله بن مسعود حدیث دئ اَنَّ رسولَ الله اخذ بید عبدالله فعلَّمه التَّشَهُّدَ في الصلوة فذکر مثل دعآء حدیث الاعمش اذا قلت هذا او قضیت هذا فقد قضیت صلوتك ان شئت ان تقوم فقم وان شئت ان تقعد فاقعد (الف) (ابوداؤدشریف،باب التشهدص 146) په دي حدیث نمبر970 کي فرمائلي دي چې دتشهد په اندازه دناستي وروسته یا دلوستلو(ویلو)وروسته لمونځ پوره سو.اوس که خوښه سي کښیني دي او دعآء دي ووائي او سلام دي په وګرزوي او که خوښه سي ولاړ دي سي.نو لدي کبله دتشهد وروسته که پر اوبو باندي قدرت پیدا کړئ نو ددي څخه مخکي لا لمونځ پوره سوئ دئ. نوځکه تیمم کونکي که دتشهد وروسته اوبه ولیدلي نو لمونځ یه پوره دئ.

پام لرنه : دغه قاعده او اصول او اختلاف په را روانو یولس(11)مسئلو کي دئ.

اصول : امام ابوحنیفه : دسلام ګرزولو څخه مخکي داصل بجائ پر خلیفه باندي قدرت پیدا کړئ نو لمونځ یه فاسدیږي ځکه چې تر اوسه لا لمونځ پاته دئ.

اصول : صاحبین : دتشهد په اندازه دناستي وروسته دخلیفه بجائ پر اصل باندي قدرت پیدا سونو فرضونه خو ټوله پوره سوي دي ځکه لمونځ پوره دئ سره دکمئ .

[265](95) یا پر موزو باندي مسح کونکئ و دمسح مدت ختم سو یا دواړي موزې په عمل قلیل سره خلاص سولي یا اُمّي و سورة یه زده(ازده) کړئ یا لځ و کېږي یه پیدا کړي .

تشریح : پر موزو باندي مسح کونکئ و او دتشهد په اندازه دناستي ورسته دمسح مدت ختم سو او ګواکه اودس یه مات سو. یا دواړي موزې په عمل قلیل سره وختلي .ځکه چې که په عمل کثیر سره وختلي نو عمل کثیر خو په خپله لمونځ فاسدوي. دموزو دختلو خبره خو وروسته ده.نو ځکه په عمل قلیل سره دخلاصېدو قید یه ولګاوئ چې دغه مسئله ځني جوړه سي چې دموزې دختلو په وجه دتشهد وروسته دده اودس مات سو. یا یو آیت هم نه وي ورته یاد چې دقرات په وجه لمونځ صحیح سي. دتشهد وروسته ده دري آیتونه زده(ازده)کړل او پر اصل باندي قدرت پیدا کړئ. یا لځ و دتشهد په اندازه دناستي څخه وروسته دومره کېږه ورته ملاؤ سوه چې لمونځ په صحیح کېږي . په دي کي هم پر اصل باندي قدرت پیدا سو نو د امام اعظم په نېز دتیرو دلائلو په وجه لمونځ باطل دئ او د صاحبین په نېز لمونځ پوره دئ.

حاشیه : (الف) حضور دعبدالله بن مسعود لاس ونیوئ او وده ته دلمانځه تشهد ور زده کړه.بیا یه داعمش دحدیث د دعآء په شان راوي بیان وکړئ.حضور وفرمائل چې کله ته دا تشهد ووائي یا یه پوره کړي نو ستا لمونځ پوره سو که ولاړبدل غواړي ولاړ سه او که کښېنستل غواړي کښېنه (او دعآء ووایه)

[266](96) اَو مُؤمِيًا فَوقَ◌ دَرَ عَلىٰ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ اَو تَذَكَّرَ اَنَّ عَلَيهِ صَلوةً قَبلَ هٰذِهِ [267](97) اَو اَحدَثَ الاِمَامُ القَارِئُ فَاستَخلَفَ اُمِّياً [268](98) اَو طَلَعَتِ الشَّمسُ فِي صَلوةِ الفَجرِ [269](99) اَو دَخَلَ وَقتُ العَصرِ فِي الجُمعَةِ .

لـغت : خَلَعَ : موزه يه خلاص سوه،اُمّي : چي څه نه سي ويلائي،يوآيت هم نه وي ورته ياد عُرياناً : لخ.

[266](96) يا اشاره كونكي و او پر ركوع وسجده باندي قدرت پيدا كئ يا ورپه ياد سو چي پر ده باندي ددې څخه مخكي لمونځ پاته (قضآء) دئ.

تـشريـح : يو سړئ صـاحب ترتيـب و او پـر ده بانـدي د پنځـو لمنځـو څخـه كم(لږ)قضـآء و او پـه وخـت كـي گنجائش هم و او دتشهد څخه وروسته ورپه ياد سو چي پر ده باندي ددې څخه مخكي قضآء هم سته نـو گواكـه دده اودس مات سو.نو ځكه دامام اعظم په نيز لمونځ باطليږي او دصاحبين په نيز لمونځ پوره دئ.

لـغت : مُؤمِيًّا : هغه چي په اشاره سره ركوع او سجده كوي .

[267](97) يا قاري امام حدث وكړئ او اُمّي يه خليفه جوړ كئ.

تـشريـح : وامام ته دومره آيتونه ياد و چي په هغه باندي لمونځ جائز دئ د تشهد په انـدازه دكښېنسـتلو وروسـته ده ته حدث عارض سو او اُمّي سړئ يه خليفه جوړكړئ .اُمّي خو پر قرات قدرت نه لري نو گواكه عاجز يه خليفه جوړكړئ ځكه لمونځ يه فاسد دئ.

پـام لـرنـه : فخرالاسلام فرمائلي دي چي دتشهد په وخت كي گرسره دقرات ضـرورت نسـته نـو ځكـه كـه اُمّي سړئ خليفه كړي نو هيڅ حرج نسته.په دغه وجه د اكثريت رايه داده چي په دې وخت كي كه اُمّي خليفه جوړ كړي نو لمونځ نه فاسديږي.

[268](98) يا دسهار په لمانځه كي لمر را وخاتئ .

تـشريـح : دتشهد په اندازه دناستي وروسته لمر را وخاتئ نو دامام اعظم په نيز لمونځ فاسد دئ.

وجـه : (1) په حديث كي راغلي دي عن ابي هريرة قال نهي رسول الله عن صلوتين بعد الفجر حتي تطلع الفجر وبعد العصر حتي تغرب الشمس (الف) (بخاري شريف،باب لاتتحري الصلوة قبل غروب الشمس ص83 نمبر588+مسلم شريف،باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها ص275 نمبر825) (2) ابوسعيد الخدري يقول سمعتُ رسول الله يقول لاصلوة بعدالصبح حتي ترتفع الشمس ولاصلوة بعدالعصر حتي تغيب الشمسُ (ب) (بخاري شريف،باب لاتتحري الصلوة قبل الغروب ص82 نمبر586+مسلم شريف،باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها ص275 نمبر827) ددې دواړو حديثو څخه معلوم سو چي دلمر دراختو په وخت كي لمونځ نه دئ كول په كار نو ځكه كه دتشهد وروسته لمر راوخاتئ نو دامام اعظم رايه ده چي لمونځ فاسد سو.

[269](99) يا دماځيگر وخت په جمعه كي داخل سو.

حاشيه : (الف) حضور منع وكړه د دو لمنځو څخه. دسهار وروسته تردې چي لمر راوخيژي او دماځيگر وروسته تردې چي لمر پريوزي (ب) حضور به ويل لمونځ نسته دسهار څخه وروسته تردې چي لمر را لوړ سي او نسته لمونځ دماځيگر وروسته تردې چي لمر پټ سي .

[270](100) او كان ماسحاً علي الجبيرة فسقطت عن بُرءٍ [271](101) او كانت مستحاضةً فبرأت بطلت صلوتهم في قول ابي حنيفةَ وقال ابو يوسف ومحمد تَمَّت صلوتُهُم في هذه المسائل كُلها .

تـشريـح : دجمعې لمونځ يه وركاوئ.دتشهد په اندازه كښېنستلئ و چي دماځيگر وخت داخل سو.

وجـه : دماځيگر وخت دداخليدو لكبله دا به قضآء وي. نو ځكه دقضآء بنآء پر ادآء بانـدي راغلـه.نو ځكـه دامـام اعظم په نيز لمونځ فاسد دئ.

[270](100) يا پر پټئ باندي مسح كونكئ و هغه جوړ سو او يله سوه .

تشريح : يوه سړي پر زخم باندي پټئ تړلې وه ده پر هغه باندي مسح کړي وه لمونځ يه کاوي.دتشهد په اندازه دکښېنستلو وروسته زخم مُکمّل جوړ سو پټئ يله سه.د زخم دجوړېدو وروسته پټئ يله سوې ده نو ځکه اودس مات دئ.ځکه چې دئ دنقل(مسح) بجائ پر اصل(غَسل)باندي قادر سو نو ځکه دامام اعظم په نېزلمونځ باطل(فاسد)دئ.

لغت : الجبيرةُ : پر زخم باندي تړلې پټئ.کپچئ. بُرءٌ : دزخم جوړېدل .

[271](101) يا مستحاضه ول او جوړ سوه نو دامام ابوحنيفه پر قول باندي لمونځ باطل دئ.او صاحبين فرمائي چې په دې ټولومسئلوکي لمونځ پوره دئ.

وجه : (1) دليل مخکې تيرسو چې دتشهد په اندازه دکښېنستلو وروسته يو فرض هم نه دئ پاته صرف درودشريف او دعآء چې سنت دي اوسلام چې واجب دئ پاته دئ.او په احاديثو سره موږ دا ثابته کړي ده چې دتشهد په اندازه دناستي وروسته که حدث عارض سونو دهغه لمونځ پوره دئ.نو ځکه په دې دولس(12)مسئلوکي دټولو لمنځونه پوره سول.او امام ابوحنيفه فرمائي چې که څه هم سنت او واجب پاته دي خو بيا هم لمونځ بحال دئ.او دلمانځه په ما بين کي داصل پر ځائ خليفه يا دخليفه پر ځائ اصل را منځ ته سي چې دهغه په وجه پر ما قبل باندي بنآء نه سي کولائي.نو په دې وجه لمونځ فاسد دئ امام ابوحنيفه په دې مسئلو کې احتياط خپل کړئ دئ.ځکه چې په دې مسئلو کي د اضعف بنآء پر اقويٰ باندي يا داقويٰ بنآء پر اضعف باندي ده (2) دامام شافعي په نېز سلام فرض دئ نو ځکه دهغو رعايت يه هم وکئ (3) په دې صورتو کي دلمانځه د اتمام حکم خلاف قياس دحديث په وجه کړئ دئ.نو ځکه کوم حدث چې بار بار پېښيږي او په حديث کي هم دهغه تصريح کړې ده نو دهغه په باره کي به حکم وي چې پر دې باندي دي بنآء وکړي يا يه لمونځ پوره سو.لېکن کومي مسائلي چې باربار نه پېښيږي او په حديث کي هم دهغه تصريح نه وي نوپه هغوکي داحتياط تقاضآء ده چې لمونځ فاسد سي او دسره څخه دوم وار بيا لمونځ وکړي.اوصاحبين ودې طرف ته تللي دي چې کله دحديث په وجه لمونځ پوره سوئ دئ نو د دوباره بيا کولو ضرورت يه نسته .

(بَابُ قَضَآءِ الفَوَائِتِ)

[272](1) وَمَن فَاتَتهُ صَلوةٌ قَضَاهَا اِذَا ذَكَرَهَا [273](2) وَقَدَّمَهَا عَلىٰ صَلوةِ الوَقتِ اِلاَّ اَن يَّخَافَ

(بَابُ قَضَآءِ الفَوَائِتِ)

ضروري پام لرنه : قضآء الفوائت :کوم لمونځ چې فوت سي اوپاته سي وهغه ته فوائت وائي.اودهغو و ادائيګئ ته قضآء ويل کيږي.دلمانځه قضآءکول فرض ده.ځکه چې لمونځ پروخت ادآء کول فرض و چې هر کله پر خپل وخت نه کړئ ادآء نواوس به دهغه قضآءکول فرض وي.ددې دليل داحديث دئ عن انس بن مالك عن النَّبيِّ قال من نَسيَ صلوةً فليصل اذا ذكر لاكفارةَ لها، الاَّ ذالك واقم الصَّلوة لذكري(الف) (آيت 14 سورة طه 20)(بخاري شريف،باب من نسي صلوةً فليصل اذا ذكرص84 نمبر597+ابوداؤدشريف،باب في من نام عن صلوةٍ او نسيها ص70 نمبر435) ددې حديث او آيت څخه معلوم سو چې دفوت سوي لمونځ قضآء کول فرض ده.

[272](1) دکوم چا چې لمونځ فوت سو هغه به قضآء کوي کله چې ورپه ياد سي.

وجه لمونځ فرض و هغه يه پربښوئ نو ځکه دهغه قضآء کول به فرض وي.بلکه چې څه رنګه ورپه ياد سي فوراً دې ادا کړي.ځکه چې لوړ د بخاري په حديث کي دئ فَلْيُصَلّ اذا ذکر لا کفارة لها الاَّ ذالك.نو ځکه چې څه رنګه ورپه ياد سي فوراً دې قضآء وکړي خو په دې شرط چې مکروه وخت نه وي.ځکه چې په مکروه وخت کي دلمانځه قضآء کول جواز نه لري.ددې تفصيل مخته راراوان دئ .

[273](2)اوفوت سوئ لمونځ دي مخته کي تروختي لمونځ لېکن که دوختي لمونځ دفوتېدو خوف ونومخکي کوي به وختي لمونځ پرفوت سوي لمونځ باندي بيابه دفوت سوي لمونځ قضآء کوي.

تشريح که دې شرطونه موجود سو نو فوت شده لمنځونه به تر وختي لمنځو مخکي ادا کوي (1) په وخت کي به دومره ګنجائش وي چې فائته او وقتيّه لمنځونه دواړه په کي ادآء کولائي سي.ځکه چې که د دواړو لمنځو د ادا کولو ګنجائش نه وي او دئ دفوت شده لمونځ ادائيګي شروع کړي نووقتي لمونځ به هم فوت سي نوځه فائده يه وکړه؟ (2) په ياد يه وي چې پرمابانديفوت شده لمونځ سته. ځکه چې که په ياد نه وي چې پر ما باندي فوت شده لمونځ سته او وختي لمونځ يه وکړئ نو ترتيب يه ساقطيږي.ځکه چې د نه يادېدو په وجه دئ مجبور دئ (3) قضآء لمنځونه ترشپږو زيات نه وي. ځکه چې که تر شپږو لمنځوزيات قضآء وي نو ددې شپږو قضآء چې دئ کوي تر هغو به دا وختي لمونځ هم ځني فوت سي.او دوختي لمونځ وخت به ووزي (ختم به سي) ځکه کې دغه دري شرطونه وي نو دفائته او وقتيّه په ما بين کي ترتيب واجب دئ که نه نو نه .

وجه (1) دلوړبخاري دحديث دالفاظو.فَلْيُصَلّ اذا ذکر.ځخه معلوم سوچې فوت سوئ لمونځ ورپه يادسي دهغه سره سم دستي پر ده باندي قضآء واجب سوه.دوختي لمانځه وخت دهغه ځخه وروسته دئ.نو

حاشيه (الف) حضورε وفرمائل چې دچا لمونځ هيرسو نو لمونځ کول په کار دئ چې کله ورپه ياد سي.نسته کفاره مګر دغه.بيا راوي ددليل په توګه اقم الصلوآ لذکري آيت ولوستئ (ب) حضورε وفرمائل چې دچا لمونځ هير سي.بيا ورپه ياد سي په داسي حال کي چې دئ دامام سره يوځائ وي نو هغه لمونځ پوره کول په کار دئ بيا دي قضآء وکړي هغه لمونځ چې هيګر سويګ دئ.بيا دي را وګرزوي هغه لمونځ چې دامام سره ادا کړئ دئ .

فَوتَ صَلوةِ الوَقتِ فَيُقَدِّمُ صَلوةَ الوَقتِ عَليٰ الفَائِتَةِ ثُمَّ يَقضِيهَا [274](3) وَمَن فَاتَتهُ صَلَوَاتٌ رَتَّبَهَا فِي القَضَآءِ كَمَا وَجَبَت فِي الاَصلِ اِلاَّ اَن تَزِيدَ الفَوَائِتُ عَليٰ خَمسٍ

ځکه اول به فائته ادا کوي دهغه ځخه وروسته به وقتيّه ادا کوي.دحديث ددې تاکيد ځخه دترتيب وجوب معلوميږي (2) عن عبدالله بن عمر اَنَّ رسول الله قال من نَسيَ صلوةً فلم يذکرها الاَّ وهو مع الامام فَلْيُصَلّ مع الامام فاذا فرغ من صلوته فَلْيُعد الصلوةَ الَّتي نَسيَ ثم ليعدالصلوةَ الَّتي صليٰ مع الامام (ب) (سنن للبيهقي،باب من ذکر صلوةً وهو في اُخريٰ ج2ص313 نمبر 3193)په دې حديث کي دئ چې که دامام سره وختي لمونځ کاوئ نو هم به

دفوت شده لمانځه قضآء اول کوي.دترتيب برقراره ساتلو لپاره وختي لمونځ دي را وګرزوي.ددې ځخه معلوم سو چې دفائته او وقتيّه په مابين کي ترتيب واجب دئ (3) دفائته او وقتيه په مابين کي دترتيب برقراره ساتلو لپاره دبخاري په حديث کي دئ عن جابرقال جعل عمر يوم الخندق يَسُبُّ کفارهم وقال يا رسول الله ! ماکدتُّ اصلي العصر حتي غربت الشمسُ قال فنزلنا بطحانَ فصليٰ رسول الله بعد ماغربت الشمس ثم صلي المغرب (الف) (بخاري شريف،باب قضآء الصلوات الاول فالاول ص84 نمبر598+ترمذي شريف،باب ماجآء في الرجل تفوته الصلوات بايتهنَّ يبدأُ ص43 نمبر179.180) په دې حديث کي دماځيګرفائته مخکي ادا کړئ دئ بيا يه دماښام وختي ادا کړئ دئ.ددې ځخه معلوم سو چې دفائته او وقتيّه په مابين کي ترتيب ضروري دئ.که نه نو دماښام لمونځ به نه وائي مؤخرکړئ.

فائده دامام شافعي او دنورو امامانو په نېز دفائته او وقتيّه په مابين کي دغه رنګه د ډيرو فائته و په مابين کي ترتيب سنت دئ.دوئي هم دلوړو احاديثو ځخه استدلال کوي.او يو حديث دا هم دئ چې پر سنتيت باندي دلالت کوي عن علي بن ابي طالب انه قال شغل رسول الله يوم الاحزاب عن صلوة العصر حتي صلي مابين المغرب والعشآء فقال شغلونا عن الصلوة الوسطيٰ صلوة العصرَ ملاَ اللهُ قبورهَم وبيوتَهَم ناراً (ب) (سنن للبيهقي، باب من قال بترك الترتيب في قضآئهن وهو قول طاؤس والحسن ج2 ص312 نمبر3189) په دې حديث کي حضور دماځيګرلمونځ دماښام ځخه مخکي کړئ دئ.چې په نتيجه کي دا ځني معلوميږي چې دفائته او وقتيه په ما بين کي ترتيب واجب نه دئ سنت دئ.

[274](3) دکوم چا چې ډېرلمنځونه فوت سوي وي هغه به په ترتیب سره قضاءکوي لکه څه رنګه چې په اصل کي واجب سوي و.لېکن که فوائت ترپنځه زیات سي نوپه هغوکي ترتیب ساقطیږي.
تـشریـح لکه څنګه چې دفائته اووقتیّه په مابین کي ترتیب ضروري دئ دغه رنګه چې فوائت ډیر سـي نودهغوپـه مابین کي هم ترتیب ضروري دئ.مثلاًاول دماپښین بیاماځیګربیامابنام بیابه ماخستن ادا کوي.په کوم ترتیب چې په اصل کي وقتي واجب سوي و.ددي دلیل دا حدیث دئ قال عبدالله ان

المشرکین شغلوا رسول الله عن اربع صلواتٍ یوم الخندقَ حتیٰ ذهب من اللَّیل ماشآء اللهُ فامر بلالاً فَاَذَّنَ ثم اقام فصلیٰ الظهر

حاشیه : (الف) حضرت عمر دجنګ خندق په ورځ ددوئي وکافرانو ته چپ او رپ وویل.بیا یه وویل مـا تـر اوسـه دمـاځیګرلمونځ نـه دئ کړئ.تردي چې لمر پرېواتئ.وفرمائل مورِ مقام بطحـان تـه راغلـو. بـس هغـو خلګـو اوحضـور دلمـر دپرېوتـو وروسـته دمـاځیګر لمـونځ وکئ.بیا یه دمابنام لمونځ وکئ (ب) حضرت علي فرمائي چې حضوردجنګ احزاب په ورځ دماځیګردلمانځه څخه مشغول کړل سو. تـر دي چې هغه یه دمابنام او ماخستن تر مابین ادآء کړئ.بیاحضور وفرمائل زه دصلوةالوسطي دماځیګر دلمانځه څخـه منـع کړم.خـدائ پـاك دي د دوئي قبرونه اوکورونه د وور څخه ډك کړي.
صَلَوَاتٍ فَیَسقُطُ التَّرتِیبُ فِیهَا .

ثم اقام فصلي العصر ثم اقام فصلي المغرب ثم اقام فصلي العشآء (الف) (ترمذي شریف،باب ماجآء في الرجل تفوته الصلوات بایتهن یبدأ ص43 نمبر179+نسائي شریف،باب کیف یقضي الفوائت من الصلوة ص85 نمبر623) په دي حدیث کـي پـه ترتیـب سـره لمـونځ ادآء سوئ دئ.اول یه دماپښین بیا دماځیګر بیادمابنام بیـا دماخسـتن د ادآء کـړئ دئ.ددي څخـه دا معلـوم سـو چـي ترتیب ضروري دئ.لېکن که شپږ لمنځونه قضآء سـي نـو اوس کـه هغـه قضـآء پرځـائ راؤړي نوترهغوبـه وقتـي لمونځ هم قضآء سي.نوځکه اوس بیا ترتیب ساقط دئ. خو بیا هم که وخت ملاؤ سي نو ترتیب دي برقراره وساتي.

حاشيه : (الف) عبدالله بن مسعود فرمائي چي مشركين دجنګ خندق په ورځ حضور دځلورو لمنځو څخه مشغول کړئ.تردي چي څومره دالله خوښه وه شپه تېره سوه.بس وحضرت بلال ته حکم ورکړئ،بس اذان يه وکړئ،بيا يه اقامت وکړئ،بيا يـه دماپښـين لمـونځ وکړئ،بيـا يه اقامت وکړئ بيا يه دماځيګر لمونځ وکړئ،بيا يه اقامت وکړئ نـو دمابنـام لمـونځ يـه وکړئ،بيـا اقامـت وسـو بـس دماخسـتن لمـونځ يـه وکړئ.

(بَابُ الأَوقَاتِ الَّتِي تُكرَهُ فِيهَا الصَّلوةُ)

[275](1) لاَيَجُوزُ الصَّلوةُ عِندَ طُلُوعِ الشَّمسِ وَلاَ عِندَ غُرُوبِهَا اِلاَّعَصرَيَومِهِ

(بَابُ الأَوقَاتِ الَّتِي تُكرَهُ فِيهَا الصَّلوةُ)

ضـروري پـام لـرنـه په کومو وختو کي چي لمونځ مکروه دئ دهغـو بيـان دئ. دليـل يـه دا حـديث دئ سمعتُ عقبةَ بن عامرالجهني يقول ثلاث ساعاتٍ كان رسول الله ينهانا ان نصلّيَ فيهنَّ اوان نقبرفيهنَّ موتاناحين تطلع الشمس بازغةً حتيٰ ترتفع وحين يقوم قائم الظهيرة حتي تميل الشمس وحين تضيف الشمس للغروب حتي تغرب (الف) (مسلم شريف،باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها ص276 نمبر831+نسائي شريف،باب الساعات التي نهي عن الصلوة فيها ص65 نمبر561) ددي حديث څخه معلوم سو چي په دي درو وختو کي لمونځ کول مکروه دئ.

پـام لـرنـه مکروهات پر دري قسم دي (1) دلمر راختو،دلمر پرېوتو او چي لمر پر سر ولاړ وي په دي وختو کي کراهت ډېر زيات دئ. په دي کي هر فرض يا نفل لمونځ کول مکـروه تحريمـي دئ (2) او دمـاځيګر دفرضـو وروسته او دسهار دفرضو وروسته په دي کي کراهيت کم(لږ)دئ.په دي کي نوافل کول مکروه دي البته فـرض او واجبات ادآء کولائي سي (3) دسهار دطلوع کېدو وروسته دسهار دسنتو څخه عـلاوه هـر نفـل لمـونځ کـول مکـروه دئ.په دي کي هم کراهيت کم(لږ)دئ.

[275](1) نه دئ جائز لمونځ دلمر دراختو په وخت کي او نه دهغه دپرېوتو په وخـت کـي مـا سـوا دهغـي ورځـي دماځيګره او نه خاص د(ټاکي)غرمي په وخت کي.

وجـه (1) په دي درو وختو کي غيرمسلم دلمرعبادت کوي ځکـه پـه دي درو وختـو کـي دلمانځـه کولـو څخـه منـع راغلي ده.قال عمر بن عنسة السُّلَميّ ... اخبرني عن الصلوة ؟ قال رسول الله صلّ صلوة الصبح ثم اقصر عن الصلوة حتي تطلع الشمس حتي ترتفع فانها تطلع حين تطلع بين قرنَيَ شيطان وحينئذٍ يسجدُ لهاالكفارُ ثم صلّ فان الصلوة مشهودة محضورة حتي يستقل الظلَّ بالرُّمح ثم اقصر عن الصلوة فانَّ حينئذٍ تُسجَرُ جهنمُ فاذا اقبل الفيئُ فَصَلّ فان الصلوة مشهودة محضورة حتي تصلي العصر ثم اقصر عن الصلوة حتي تغربَ الشمسُ فانها تغربُ بين قرنَيَ شيطانٍ وحينئذٍ يسجدُ لهاالكفارُ (ب) (مسلم شريف،باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها ص276 نمبر832+نسائي شريف،باب النهي عن الصلوة بعدالعصرص66 نمبر573) ددي حديث څخه

حاشيه : (الف) عقبه بن عامرفرمائي چي په درو وختو کي به حضور موږ دلمونځ کولوځخه او خپل مړي په قبرو کي دداخلولو(يعني دجنازي لمونځ دکولو)څخه منع کولو.يو چي کوم وخت لمر په ځليدو سره راخيژي ترهغو چي لوړ سوئ نه وي.دوم کوم وخت چي بالکل ماپښين(لمر پر سر) وي تر هغو چي زوال نه سي.او دريم چي کله لمر وپټېدو ته مائل سي تر هغو چـي ډوب سـوئ نـه وي (ب) حضـور وفرمائل دسهارلمونځ وکئ بيا دلمانځه څخه منع سي تر دي چي لمر راوخيژي يا يه وويل چي لمر را لوړ سي.ځکه چي کلـه راخيـژي نـو دشيطان ددو ښکرانو په ما بين کي راخيژي.او په دغه وخت کي کافران وده ته سجده کوي.بيا لمونځ کوئ ځکـه چـي لمـونځ حاضـر کـړل سوئ دئ(يعني دلمانځه په ذريعه د الله حاضري نصيب کيږي يا ملائکه دغه وخت کي حاضـريږي) تـردي چـي ديـوي نېـزې پـه برابـري سايه کمه سي.بيا دلمانځه څخه منع سئ.ځکه چي په دغه وخت کي جهنم ګرم کول کيږي.بيا چي سايه را شروع سي نو لمونځ وکئ. ځکـه چي لمـونځ حاضـر کـړل سـوي دي.تـر دي چـي دمـاځيګر لمـونځ وکئ.بيـا دلمانځـه څخـه منـع سـئ تـر دي چـي لمـر پريـوزي.ځکـه چـي لمردشيطان د دو ښکرانو په مابين کي پټيږي.او په دغه وخت کي کافران وده ته سجده کوي.

وَلاَ عِندَ قِيَامِهَا فِي الظَّهِيرَةِ .

معلوم سو چي په دې درو وختو کي لمونځ کول مکروه دي (2) په لوړه ضروري پام لرنه کي هم دمسلم شريف حديث تير سو(3) عن ابن عمر قال قال رسول الله لا تتحروا بصلوتكم طلوع الشمس ولا غروبها فانها تطلع بين قرنَيِ الشيطان (الف) (بخاري شريف،باب الصلوة بعدالفجرحتي ترتفع الشمس ص82 نمبر 582+مسلم شريف،باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيهاص275 نمبر828+نسائي شريف،باب نهي عن الصلوة بعدالعصرص66 نمبر571)ددې احاديثو څخه معلوم سو چي په دې درو وختو کي لمونځ کول مکروه دئ (4) عن ابن عمر قال قال رسولُ الله اذا بدا حاجب الشمس فاَخّروا الصلوة حتي تبرز واذا غاب حاجب الشمس فاخروا الصلوة حتي تغيب (ب) (مسلم شريف باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيهاص275 نمبر829)

فـائـده دامام شافعي په نبزدبيت الله شريفي وشا وخوا ته په مکروه وختوکي هم لمونځ کول جائز دئ.دده دليل دا حديث دئ عن جُبَيربن مطعم ان النبي قال يا بني عبدمناف لا تمنعوا احدا طاف بهذالبيت وصليٰ اَيَّةَ ساعةٍ شآء من ليلٍ او نهارٍ (ج) (نسائي شريف،باب اباحة الصلوة في الساعات كلهابمكة ص68 نمبر586)ددې حديث څخه معلوم سوچي په مکه کي په مکروه وختو کي هم لمونځ کول جائز دئ.

دهغې ورځي دماځيګر لمونځ دلمر دپرېوتو په وخت کي دکولو وجه داده عن ابي هريرةَ ان رسول الله قال من ادرك من الصبح ركعةً قبل ان تطلع الشمس فقد ادرك الصبح ومن ادرك ركعةً من العصر قبل ان تغرب الشمس فقد ادرك العصر (د) (بخاري شريف،باب من ادرك من الفجرركعةً ص82 نمبر 579+مسلم شريف،باب من ادرك ركعةً من الصلوة فقد ادرك تلك الصلوة ص221 نمبر608+ترمذي شريف،باب ماجآء في من ادرك ركعةً من العصرقبل ان تغرب الشمس ص45 نمبر186) ددې حديث څخه معلوم سو چي دلمر دپرېوتو څخه مخکي که دماځيګر لمونځ ملاؤ سو نو ګواکه هغه لمونځ ملاؤ سو.نو دماځيګر آخري وخت خو مکروه دئ او دغه مکروه وخت ددې لمانځه لپاره سبب جوړسو نو ځکه دلمر دپرېوتلو کراهيت په مابين کي راغلئ خو بيا هم لمونځ صحيح کيږي.احناف دغه حديث صرف دماځيګر پر وخت باندي حمل کوي. او دسهار پوره وخت کامل دئ نو ځکه که دهلته دلمانځه په ما بين کي لمر را وخيژي نو لمونځ فاسد دئ.ګواکه په مکروه وختو کي دلمانځه دممانعت حديث دسهار پر وخت باندي حمل کوي.

فـائـده دنورو امامانو په نبز په دې وختو کي لمونځ کول مکروه دئ لېکن که ادآء کئ نو لمونځ يه نه فاسديږي.

لـغت اَلظَّهيرةُ : خاص ماپښين(تاکنده غرمه).

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل دخپل لمانځه لپاره دلمر دراختو او پرېوتو انتظارکوئ ځکه چي هغه دشيطان ددو ښکرانو په ما بين کي راخيژي (ب) حضور وفرمائل چي دلمر کناره(غوړ) را ښکاره سي نو لمونځ ځنډوئ.تر هغو چي هغه بالکل را وخيژي.او چي کله دلمر کناره(غوړ) پر پرېوتو سي نو لمونځ ځنډوئ تر هغو چي هغه ډوب سي (ج) حضور وفرمائل ائ دعبدمناف خلګو ! ددې بيت الله دطواف او لمونځ کولو څخه ځوك مه منع کوئ دشپې او دورځې په هر وخت کي چي خوښه سي (د) حضور وفرمائل کوم چا چي دسهار يو رکعت ومونډئ دلمر دراختو څخه مخکي نو ګواکه دسهار لمونځ يه ومونډئ. او کوم چا چي دماځيګر يو رکعت ومونډئ دلمر دپرېوتو څخه مخکي نو ګواکه دماځيګر لمونځ يه ومونډئ.

[276](2) وَلاَيُصَلِّي عَلىٰ جَنَازَةٍ وَلاَيَسجُدُ لِلتِّلاَوَةِ [277](3) وَيُكرَهُ اَن يَّتَنَفَّلَ بَعدَ صَلوةِ الفَجرِ حَتّٰي تَطلَعَ الشَّمسُ وَبَعدَ صَلوةِ العَصرِ حَتّٰي تَغرُبَ الشَّمسُ .

---

[276](2) او په دې مکروه وختوکي دي پر جنازه لمونځ نه کوي.او نه دي سجده دتلاوت کوي.

وجه (1) دجنازې لمونځ دئ او په مکروه وختو کي لمونځ مکروه دئ.نوځکه په مکروه وختو کي دي دجنازې لمونځ هم نه کوي (2) په ضروري پام لرنه کي دمسلم شريف يو حديث راغلئ و چي دهغه يوه تکړه دا وه وان نقبر فيهنَّ موتانا حين تطلع الشمس (الف) (مسلم شريف،باب الاوقات التي نهي عن الصلوةفيهاص276 نمبر831) چي ښکاره اوظاهري مطلب په دادئ چي په دې وختوکي مور ځپل مړئ نه کو دفن.لېکن مړئ پټول دا څه معنې نه لري نو ځکه دحديث صحيح معنيٰ داده چي په دغه وخت کي دجنازې لمونځ نه وکو.او په سجده تلاوت کي هم سجده کول

دلمانځه برخه(حصه) ده نو ځکه په دې وختو کې دې سجده دتلاوت هم نه کوي.په اثر کې راغلي دي حدثَّنا ابوتميمة الهجيمي قال لما بعثنا الركب قال ابوداؤد يعني المدينة قال كنت اقص بعد صلوة الصبح فاسجد فيها فنهاني ابن عمر فلم انته ثلاثَ مراتٍ ثم عاد فقال اني صليتُ خلفَ رسول الله ومع ابي بكرٍ وعمرَ وعثمانَ فلم يسجدوا حتي تطلع الشمس (ب) (ابوداؤد شريف،باب من يقرأُ السجدة بعدالصبح ص207 نمبر1415) ددې اثر ځخه معلوم سو چې په مکروه وخت کې سجده کول جواز نه لري.

پام لرنه که خاص په دغه مکروه وختو کې جنازه راغله يا يه په دغه مکروه وخت کې دسجدې آيت ولوستئ(تلاوت يه کړئ) نو په مکروه وخت کې داسبب را منځ ته سو لهذا دغه مکروه وختونه سبب جوړ سول. نو په داسې صورت کې په دې مکروه وختوکې دجنازې لمونځ کولائي سي او سجده دتلاوت هم کولائي سي.

اصول دجنازې دلمونځ په اړه تاکيد سوئ دئ چې مې ځنډوئ داسې نه چې مړئ و پرسيرې او يا پټاؤسي.نوځکه که چيرې په مکروه وخت کې جنازه راغله نو په هغه وخت کې هم کولائي سي. ددې دليل دا حديث دي عن علي بن ابي طالب ان رسول الله قال لا تؤخروا الجنازةَ اذا حضرت (ابن ماجه شريف،باب ماجآء في الجنازة لاتؤخروا اذاحضرت ص212 نمبر1486)

[277](3) مکروه دئ چې نفل وکړي دسهار دلمانځه وروسته ترڅو چې لمر راوخيژي او دماځيګر دلمانځه وروسته تر څو چې لمر پريوزي.

تشريح دسهار دفرضو ځخه وروسته دي دلمر تر راختو پوري يو قسم نفلي لمونځ نه کوي دغه رنګه دماځيګردفرضو وروسته دلمر تر پرېوتو پوري دي يو رنګه نفل لمونځ نه کوي.

وجه (1) ګواکه دئ په فرض لمونځ کې مشغول دئ ددې فضيلت زيات سو.اوس په نفل کې مشغول کېدل ګواکه په کمه درجه کې مشغولېدل دئ نوځکه نفل لمونځ دي نه کوي (2) په حديث کې هم دنفل لمونځ ځخه منع راغلې ده عن ابن عباسٍ انَّ النَّبيَّ نهيٰ عن الصلوة بعدالصبح

حاشيه : (الف) يا مور خپل مړي دفن کو(يعني دجنازې لمونځ وکو)کوم وخت چې لمر راخيژي (ب) ابوتميم هجيمي فرمائي چې کله مو قافله مديني ته روانه کړه نو ما دسهار دلمانځه وروسته تلاوت کاوئ نو حضرت عمر دري واره زه منع کړم خو زه منع نه سوم نو يه وويل چې ما دحضور او ابوبکر،اوعمر،اوعثمان وشا ته لمونځ کړئ دئ.دې خلګو دلمر تر راختو پوري سجده نه کوله.

[278](4) وَلاَ بَاسَ بِاَن يُصَلِّيَ فِي هٰذَينِ الوَقتَينِ الفَوَائِتَ [279](5) وَيُكرَهُ اَن يَّتَنَفَّلَ بَعدَ طُلُوعِ الفَجرِ بِاَكثَرَ مِن رَكعَتَيِ الفَجرِ .

حتي تشرق الشمس وبعدالعصرحتي تغرب (الف) (بخاري شريف،باب الصلوة بعدالفجر حتي ترفع الشمس ص82 نمبر581+ مسلم شريف،باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها ص275 نمبر825) ددې حديث ځخه معلوم سو چې دسهار دلمانځه ځخه وروسته دلمر تر راختو پوري او دماځيګر دلمانځه ځخه وروسته دلمر تر پرېوتو پوري نفل لمونځ نه دئ کول په کار. مکروه دئ.

[278](4) او هيڅ دحرج خبره نه ده چې په دواړو وختو کې فائته لمنځونه وکې او سجده دتلاوت وکې او دجنازې لمونځ وکې.

وجه (1) فوت شده لمونځ چې واجب دئ هغه دنفل ځخه افضل دئ نو ځکه په فرض لمونځ کې تقديراً مشغولېدل ادنيٰ درجه ده او حقيقةً مشغولېدل اعليٰ درجه ده.نوچې په واجب کې په حقيقي توګه شامل سي دا به زيات افضل وي.او دغه ادآء کولائي سي.دغه رنګه دجنازې لمونځ اوسجده دتلاوت واجب دي نو ځکه دا هم دسهار دفرضوځخه وروسته او دماځيګردفرضوځخه وروسته ادآء کولائي سي (2) په حديث کې دئ عن اُمّ سلمةَ صلي النبيُّ بعدالعصر رکعتين وقال شغلني ناس من عبدالقيس عن الرکعتين بعدالظهر (ب) (بخاري شريف،باب مايصلي بعدالعصر من الفوائت ص83 نمبر590+مسلم شريف،باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيهاص277نمبر 834) ددې حديث ځخه معلوم سو چې فوت شده لمونځ دماځيګر اوسهار ځخه وروسته کولائي سي.ځکه چې دماپښين کوم سنت چې پاته سوي و هغه دقضآء په توګه حضور ادآء کړه.

فائده دامام شافعي په نېز دماځيګر دفرضو ځخه وروسته سنت هم کولائي سي.دده دليل داحديث دئ عن عائشة قالت رکعتان لم يکن رسول الله يدعهما سرّاً ولا علانيةً رکعتان قبل الصبح ورکعتان بعدالعصر (ج) (بخاري شريف،باب مايصلي بعدالعصرمن

الفوائت ونحوها ص83 نمبر592+مسلم شريف،باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها277 نمبر835+1935) ددغه باب په حديث کي دحضرت عائشي څخه هم روايت دئ ماکان النَّبيُّ ياتيني في يوم بعدالعصر الاَّ صليٰ رکعتين (د) (بخاري شريف،نمبر593+مسلم شريف،نمبر835 هغه مخکنئ باب دئ) ددي حديث څخه معلوميږي چي حضور دماځيګر څخه وروسته دغه دوه رکعتونه مسلسل کوله .

[279](5) مکروه دئ چي نفل وکړي دسهار د راختو وروسته دسهار د دو سنتو څخه زيات.

تشريح دسهار(صبح صادق) څخه وروسته دي دسهار دوه سنتونه وکړي او دوه فرض دي وکړي. ددي څخه زيات سنت کول مکروه دئ.

وجه په حديث کي راغلي دي عن حفصةَ قالت کان رسول الله اذا طلع الفجرُ لايصلي الاَّ رکعتين خفيفتين (هـ) (مسلم شريف،باب استحباب رکعتي سنة الفجر ص250 نمبر723) او په ترمذي کي دئ عن ابن عمر اَنَّ رسول الله قال لاصلوة

حاشيه : (الف) حضور دسهار وروسته دلمانځه څخه منع کړي ده ترڅوچي لمر راخيژي او دماځيګر وروسته ترڅوچي لمر پرېوزي (ب) دائمّ سلمه څخه روايت دئ چي حضور دماځيګر وروسته دوه رکعته وکړه او ده وفرمائل دعبدالقيس څوکسانو دماپښين دلمانځه وروسته د دو رکعتو څخه مشغول کړم (ج) حضرت عائشه فرمائي چي دوه رکعتونه هيڅ کله هم حضور نه دي پري اينسي.نه په پټه او نه په ښکاره.دوه رکعته دسهار دفرضوڅخه مخکي او دوه رکعته دماځيګر څخه وروسته (د) يوه ورځ داسي نه ده راغلي چي حضور ما لره راغلئ وي او دماځيګروروسته دوه رکعته نه وي کړي (ه) چي سهار طلوع کېدئ نو حضور نه کول مګر دوه مختصر رکعتونه .

[280] (6) وَلاَ يَتَنَفَّلُ قَبلَ المغرِب .

بَعدَ الفجر الا سجدتين (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء لاصلوةَ بعدطلوع الفجر الاَّ رکعتين ص96 نمبر419) ددي احاديثو څخه معلوم سو چي دطلوع فجر څخه وروسته صرف دوه رکعته سنت کول په کار دي.

[280](6) دمابنام دفرضو څخه مخکي دي نفل نه کوي.

وجه (1) دمابنام داذان څخه وروسته دفرضوڅخه مخکي دوه رکعته نفل کول ثابت دئ لېکن احناف وائي چي نه وکي ښه دئ.ددي وجه داده چي دفرضو په کولو تاخير راځي او په حديث جبريل کي تير سو چي دواړي ورځي دمابنام لمونځ ژر وکړئ.نو ځکه دمابنام فرض ژر کول په کار دي (2) سُئلَ بن عمر عن الرَّکعتين قبل المغرب فقال مارايتُ احداً عليٰ عهدرسول الله يُصَلّيهمَا (ب) (ابوداؤد شريف،باب الصلوة قبل المغرب ص189 نمبر1284) ددي حديث څخه معلوم سوچي دحضور په زمانه کي دمابنام دفرضوڅخه مخکي ددو رکعتو سنتو څه خاص رواج نه و (3) حَدَّثَنَا عبدالله بن بريدةَ عن ابيه قال قال رسول الله انَّ عندَ کُلّ اذانين رکعتين ماخلا المغرب (ج) (دارقطني،باب الحَثّ علي الرکوع بين الاذانين ج1 ص272 نمبر1028) ددي څخه هم معلوم سو چي دمابنام دفرضوڅخه مخکي سنت نسته.

فائده دامام شافعي په نېز دمابنام دفرضوڅخه مخکي دوه رکعت سنت سته.دده دليل دا حديث دئ عن عبدالله المزني قال قال رسول الله صلوا قبل المغرب رکعتين لمن شآء خشيةَ اَن يَتَّخذَهَا الناسُ سنةً (د) (ابوداؤد شريف،باب الصلوة قبل المغرب ص189 نمبر1281+بخاري شريف،باب الصلوة قبل المغرب ص157 نمبر1183) ددي حديث څخه معلوم سوچي دمابنام دفرضوڅخه مخکي سنت سته.

پام لرنه ددي حديث په وجه داحنافو په نېز دادئ چي که يوڅوك سنت وکي نو مکروه نه دي.دحديث دطرز څخه هم دا معلوميږي چي سنت نه دي نفل دي.

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل دسهار وروسته نسته يو لمونځ مګر دوه رکعتـه (ب) دحضـرت ابـن عمـر څخـه دماښـام څخـه مخکـي دو رکعتو په باب پوښتنه وسوه نو وفرمائل چي دحضور په زمانه کي يو ځوك مـي نـه دئ ليـدلئ چـي دغـه دوه رکعتونـه کولـه (ج) حضـور وفرمائل دهرو دو اذانو يعني داذان او اقامت په مابين کي دوه رکعتونه سته ماسوائ دماښام (د) حضور وفرمائل دماښام څخه مخکـي دوه رکعته لمونځ کوئ.بيا په وويل چي دماښام څخه مخکي دوه رکعته لمونځ کوئ دکوم چا چي خوښه سي. لمن شآء ددي بيري په وجه وويـل چي خلګ دا سنت ونه ګڼي .

(بَابُ النَّوَافِلِ)

[281](1) اَلسُّنَةُ فِي الصَّلوةِ اَن يُصَلِّيَ رَكعَتَينِ بَعدَ طُلُوعِ الفَجرِ [282](2) وَاَربَعاً قَبلَ الظُّهرِ

(بَابُ النَّوَافِلِ)

ضـروري پـام لـرنـه د اَلنَّوَافِلُ څخه مراد دفرضو څخه علاوه لمـونځ دئ.نـو دلتـه پـه النوافل کـي سـنت او نفـل دواړه شامل دي.دليل يه داحـديث دئ سئلت عائشة عن صلوة رسول الله عن تطوعه ؟ فقالت كان يصلي في بيتي قبل الظهر اربعًا ثم يخرج فيصلي بالناس ثم يدخل فيصلي ركعتين وكان يصلي بالناس المغرب ثم يدخل فيصلي ركعتين ويصلي بالناس العشآءَ ويدخل بيتي فيصلي ركعتين ... وكان اذا طلع الفجرُ صليٰ ركعتين (الف) (مسلم شريف،باب جوازالنَّافلة قائمًاوقاعداً ص252 نمبر730+ابوداؤد شريف،ابواب التطوع وركعات السنة ص185 نمبر1251+ترمذي شريف،باب ماجآء في من صليٰ في يومٍ وليلةٍ ثنتئ عشرركعةً من السنة ماله من الفضل ص94 نمبر414) ددي حديث څخه معلوم سو چي دفرض لمونځ څخه مخکي او دفرض لمونځ څخه وروسته پـه ټولـه ورځ او شپه کي سنت مؤکده سته او هغه دولس رکعته دي.ددي تاکيد راغلي دئ .

[281](1) سنت په لمانځه کي دادئ چي دوه رکعته دطلوع فجر وروسته وکړي.

وجـه په حديث کي دئ عن عائشةَ قالت لم يكن النبيُّ عليٰ شيءٍ من النوافل اَشَدُّ تعاهداً منه عليٰ ركعتي الفجر (ب) (بخاري شريف،باب تعاهدركعتي الفجرص156نمبر۱۱۶۹+مسلم شريف،باب استحباب ركعتي سنة الفجرص250 نمبر724+ 1686)ددي حـديث څخـه معلوم سوچي دسهاردسنت مؤکده دي.ځکه چي حضورددي ډېرتاکيدکاوئ

[282](2) دماپښين څخه مخکي څلور رکعته او دماپښين وروسته دوه رکعته سنت دي.

وجـه پـه حـديث کـي دئ عن عائشةَ ان النبي كان لايدعُ اربعاً قبل الظهر وركعتين قبل الغدآة (بخاري شريف،نمبر1182) پـه يـو بـل حديث کي راغلي دي عن ابن عمرقال حفظتُ من النَّبيّ عشرَ ركعاتٍ،ركعتين قبل الظهر،وركعتين بعدها،وركعتين بعدالمغرب في بيته،وركعتين بعدالعشآء في بيته،وركعتين قبل صلوة الصبح (ج) (بخاري شريف،باب ركعتين قبل الظهر ص157 نمبر 1180+ابوداؤد شريف،باب الاربع قبل الظهروبعدها ص187 نمبر1269) ددي حديث څخه معلوم سو چي دماپښين څخه مخکـي څلـور او دهغـه څخـه وروسـته دوه رکعته سنت دي.

~~حاشيه : (الف) دحضرت عائشي څخه دحضور دنفل په باره کي پوښتنه وسوه نو دي وفرمائل چي حضور زما په کور کي دماپښين څخه~~ مخکي څلور رکعته کول بيا به واتئ او وخلګو ته لمونځ ورکاوئ.بيا کـور تـه داخلېـدئ نـو دوه رکعتـه کـول.او وخلګـو تـه دماښـام لمـونځ ورکاوئ بيا داخلېدئ او دوه رکعته لمونځ يه کاوئ.او دماخستن لمونځ يه وخلګو ته ورکاوئ او زما کور ته داخلېدئ نو دوه رکعتـه لمـونځ يه کاوئ ... چي فجر به طلوع سو نو دوه رکعته به کول (ب) حضرت عائشه فرمائي چي په نوافلو کي پر يـوه لا دومـره تاکيد نـه کـاوئ څومره چي دسهار پـر دو رکعتـو بانـدي کـاوئ (ج) حضـور څلـور رکعتـه دماپښـين څخـه مخکـي او دوه رکعتـه دسـهار څخـه مخکـي نـه پربښول.په يو بل حديث کي دئ چي ابن عمر فرمائي چي ما دحضور څخه لس رکعته ياد کړي دي.دوه رکعته دماپښـين څخـه مخکـي،دوه

دهغه څخه وروسته،دوه دمابنام څخه وروسته په خپل کور کي،دوه دماخستن وروسته په خپل کور کي او دوه رکعته دسهار دلمانځه څخه مخکي .

وَرَكعَتَينِ بَعدَهَا [283](3) وَاَربَعاً قَبلَ العَصرِ وَاِن شَآءَ رَكعَتَينِ [284](4) وَرَكعَتَينِ بَعدَالمغرِبِ [285](5) وَاَربَعًا قَبلَ العِشَآءَ وَبَعدَهَا اَربَعاً وَاِن شَآءَ رَكعَتَينِ .

او يو روايت دماپښين څخه وروسته دظلور ركعتو حديث هم سته. قالت أُمُّ حبيبةَ قال رسول الله من حافظ عليٰ اربع ركعاتٍ قبل الظهر واربعاً بعدها حُرِّمَ علي النَّار (الف) (ابوداؤدشريف،باب الاربع قبل الظهروبعدها ص187 نمبر1269+ترمذي شريف،باب آخر(باب ماجآء في الركعتين بعدالظهرص98 نمبر427) ددیګ حدیث او دهغه لوؤحدیث پربنیادباندي دماپښګین وروسته څګلور رکعته سنت دي.په دغه وجه دا معمول دئ چې دوه رکعته دسنتوپه نیت کوي.بیادوه رکعته دنفلوپه نیت کوي.

[283](3) دماځیګرڅخه مخکي څلورركعته او که وغواړي دوه رکعته دي وکي.

وجـــــــــه عن ابن عمرقال قال رسول الله رحم الله امرءً صلیٰ قبل العصر اربعاً (ب) (ابوداؤدشریف،باب الصلوة قبل العصر ص187نمبر1271+ترمذي شريف،باب ماجآء في الاربع قبل العصرص98 نمبر430) ددي حديث څخه معلوم سوچي دماځیګره څخه مخکي څلورركعته سنت دي.لېکن دیو بل حدیث څخه معلومیږي چې دوه رکعته سنت دي.په حدیث کي دئ عن عليٍّ اَنَّ النَّبِيَّ كان يُصلي قبل العصرركعتين (ج) (ابوداؤدشريف،باب الصلوة قبل العصرص187 نمبر1272+ترمذي شريف،باب ماجآء في الاربع قبل العصرص98 نمبر429) ددي حديث په وجه صاحب كتاب وفرمائل چې دماځیګر سنتونه دوه رکعته هم کولائي سي .

[284](4) دمابنام وروسته دوه رکعته دي.

وجه ددي وجه په څو حديثو کي لوړه تېره سوه (مسلم شريف،باب جوازالنافلة قائماًص252 نمبر730)

[285](5) او دماخستن څخه مخکي څلور رکعته او دهغه وروسته څلور رکعته اوکه وغواړي دوه رکعته سنت دي وکړي.

وجه دماخستن څخه وروسته ددو رکعتو خو څوحدیثونه تیرسو.او دماخستن څخه وروسته دظلورو رکعتو حدیث دادئ عن عائشةَ قال سألتها عن صلوة رسول الله فقالت ماصليٰ رسول الله العشآء قَطُّ فدخل عَلَيَّ الاَّ صليٰ اربع ركعاتٍ او ستَّ ركعاتٍ (د) (ابوداؤدشريف،باب الصلوة بعدالعشآء ص192 نمبر1303+سنن للبيهقي،باب من جعل بعدالعشآء اربع ركعاتٍ او اكثر ج2 ص671 نمبر450) ددي حديث څخه معلوم سو چې دماخستن څخه وروسته څلور رکعته سنت دي.اودضروري پام لرنې وروسته ورد حديث تيرسو په هغه کي دا الفاظ و ويصلي بالناس العشآءَ ويدخل بيتي فيصلي ركعتين (ه) (مسلم شريف،باب جوازالنافلة قائماًوقاعداًص252 نمبر730+ابوداؤدشريف،ابواب التطوع وركعات السُّنَّة ص185 نمبر1251) ددي حديث څخه معلوم سو چې دماخستن څخه وروسته دوه رکعته سنت دي.نوځکه د دواړو حدیثو پر بنیاد باندي

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل کوم چا چې دماپښین څخه مخکي پرڅلور رکعته باندي اودهغه څخه وروسته پرڅلورباندي محافظت وکئ هغه به پر اور باندي حرام کړل سي (ب) حضور وفرمائل خدائ دي پر هغه سړي باندي رحم وکي کوم چا چې دماځیګرڅخه مخکي څلور رکعته وکړل (ج) حضور به دماځیګرڅخه مخکي دوه رکعته کول (د) دحضور دلمانځه په باب دحضرت عائشې څخه پوښتنه وسوه نو دي وفرمائل چې یو وخت داسي نه دئ سوئ چې حضور دي دماځیګرلمونځ کړئ وي مالره دي راغلئ وي مګر دا چې ده څلور رکعته لمونځ په کړئ دئ یا یه شپږ رکعته لمونځ کړئ دئ (ه) حضور به دماخستن جماعت ورکاوئ زما کور ته به را داخلېدئ. بس دوه رکعته لمونځ به کاوئ.

[286](6) فَاِن صَلّيٰ بِاللَّيلِ صَلّيٰ ثَمَانِيَ رَكعَاتٍ [287](7) وَنَوَافِلُ النَّهَارِ اِن شَآءَ صَلّيٰ رَكعَتَينِ بِتَسلِيمَةٍ وَاحِدَةٍ وَاِن شَآءَ اَربَعاً وَ يُكرَه الزِّيَادَةُ عَلَيٰ ذَالِكَ .

داحنافو عمل دادئ چې دوه رکعته دسنتو په نیت باندي کوي او دهغه وروسته دوه رکعته دنفلو په

نيت دماخستن څخه ورسته کوي. لکه څه رنګه چې څرګنده ده چې دماخستن داولنيو څلورو رکعتو دليل په حديث مشهور کې نسته نو ځکه دماخستن څخه مخکې څلور رکعته مندوب دي.خو منع هم نه ده راغلې او په حديث کې دئ عن عبدالله بن مغفل قال قال النَّبيُّ بين كُلّ اذانين صلوة بين كُلّ اذانين صلوة ثم قال في الثالثة لمن شآء (الف) (بخاري شريف،باب بين كل اذانين صلوة ص87 باب الاذان نمبر627) په دې وجه سره دماخستن داذان او اقامت په مابين کې څه رکعتونه بايد وي.نوځکه دماخستن څخه مخکې څلور رکعته مندوب دي.مستحب دي.

[286](6) که په شپه کې نفل کوي نو په يوه سلام سره اته رکعته کولائي سي.

وجه ځکه چې حضور په يوه سلام سره تر اته رکعته زيات لمونځ نه دئ کړئ.نوځکه زيات تر زيات په يوه سلام اته رکعته لمونځ کولائي سي. په دې حديث کې ددې ثبوت سته عن عائشةَ قالت كان رسول الله يصلي من اللَّيل ثلاثَ عشرةَ ركعةٍ يوتر من ذالك بخمس لايجلس في شيئٍ الاَّ في آخرها (ب) (مسلم شريف،باب صلوةالليل وَعَدَدُ رَكعات النَّبيّ في الليل ص254 نمبر737) په دې حديث کې دئ چې ديارلس(13)رکعته کړي دي اوپنځه رکعته وتر دي او صرف په آخري رکعته کې ناسته کړي ده نو معلوم سوه چې په يوه سلام سره اته رکعته دشپې کړي دي.له هم دغه وجهې په يوه سلام باندي په شپه کې اته رکعته کول جائز دي.د اتو څخه زيات ثبوت نسته نو ځکه داتو څخه زيات کول بنه کار نه دئ.

پام لرنه دا توله اختلاف استحبابي دئ .

[287](7) د ورځې نفل که خوښه سي په يوه سلام دي دوه دوه رکعته وکړي او که خوښه سي څلور دي وکړي.ددې څخه زياتوب کول مکروه دئ.

وجه ماپښين او سهار د دو رکعتو ثبوت سته.نو ځکه دوه دوه رکعته نفل کولائي سي.او څلور څلور رکعته هم دماپښين او ماځيګرسنتونه دي.نو ځکه څلور رکعته هم کولائي سي.په حديث کې دئ قالت ام حبيبة زوج النَّبيّ قال رسول الله من حافظ علي اربع ركعاتٍ قبل الظهر واربعًا بعدها حُرّمَ علي النَّار (ج) (ابوداؤدشريف،باب الاربع قبل الظهر وبعدها ص187 نمبر1269) ددې حديث څخه معلوم سو چې د ورځې سنت څلورڅلوردي نو نفل هم ددې په مشابهت کې څلور په يوه سلام سره کولائي سي.ددې څخه زيات په يوه سلام سره نه دي ثابت نو ځکه مکروه دئ.لېکن کراهت تنزيهي دي.

حاشيه:- (الف) حضور وفرمائل د دو اذانو په ما بين کې لمونځ دئ.د دو اذانو په مابين کې لمونځ دئ(يعني داذان او اقامت په ما بين کې) بيا په دريم وار وفرمائل،چې دکوم چاچې خوښه سي (ب) حضور به په شپه کې ديارلس(13)رکعته کول.په دې کې به پنځه د وترو د کول.په دې کې صرف په آخري کې کښيناستئ (ج) حضور وفرمائل څوك چې دماپښين څخه مخکې پر څلورو رکعتوباندي اودهغه وروسته پرڅلورورکعتوباندي محافظت کوي هغه به پراور باندي حرام کړل سي.

[288](8) فَاَمَّا نَوَافِلُ اللَّيلِ فَقَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالىٰ اِن صَلّيٰ ثَمَانِيَ رَكعَاتٍ بِتَسلِيمَةٍ وَاحِدَةٍ جَازَ وَيُكرَهُ الزِّيَادَةُ عَلىٰ ذَالِكَ [289](9) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَااللهُ تَعَالىٰ لاَيَزِيدُ بِاللَّيلِ عَلىٰ رَكعَتَينِ بِتَسلِيمَةٍ وَاحِدَةٍ [290](10) وَالقِرَآءَةُ وَاجِبَةٌ

[288](8) بهر حال دشپې نفلونه نو ابوحنيفه فرمائلي دي چې که اته رکعته په يوه سلام سره وکړي نو جائز دي او ددې څخه زيات کول مکروه دي.

وجه ددې دليل په مسئله نمبر6 کې تير سو.

[289](9) او صاحبين فرمائي چې په شپه کې په يوه سلام سره دي پر دوه رکعته زياتوب نه کوي.

تشريح صاحبين فرمائي چې د ورځې خو په يوه سلام څلور رکعته هم کولائي سي ځکه چې ثبوت يه سته.لېکن دشپې په يوه سلام سره دوه دوه رکعته کول بنه کار دئ.

وجه په حديث کي دئ عن ابن عمرعن النَّبيّ قال صلوةُ اللَّيل مثنيٰ مثنيٰ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء ان صلوةَ اللَّيل مثنيٰ مثنيٰ ص98 نمبر437) ددي حديث څخه معلوم سو چي دشپي نفلي لمونځ دوه دوه رکعته دئ.لېکن دورځي دځلورو ثبوت سته نو ځکه د ورځي دځلورو قائل سو او دشپي په باب يه وفرمائل چي دوه دوه رکعته افضل دي.

فائده امام شافعي دحديث په وجه فرمائي چي دشپي او د ورځي دوه دوه رکعته کول افضل دي.د دوئي دليل دا حديث دئ (1) عن ابن عمرعن النَّبيّ قال صلوةُ اللَّيل والنَّهار مثنيٰ مثنيٰ ان تشهد في كُلّ ركعتين (ب) (ابوداؤدشريف،باب في صلوةُ النهارص190 نمبر1295) (2) او دا حديث دئ عن عائشةَ قالت كان رسول الله يُصَلّي فيما بين ان يفرغَ من صلوة العشآء وهي التي يدعو النَّاسُ العَتَمَةَ الىٰ الفجر احديٰ عشرَ ركعةٍ يُسَلّمُ بين كل ركعتين (ج) (مسلم شريف،باب صلوة الليل وعددُ ركعات النَّبيّ في الليل ص254 نمبر736) ددي حديث څخه هم معلوم سو چي دشپي لمونځ دوه دوه رکعته کول په کار دئ.او د ورځي په باب دا حديث دئ عن أمّ هاني بنت ابي طالبٍ اَنَّ رسولَ الله يومَ الفتح صليٰ سبحةَ الضُّحيٰ ثمانيَ ركعاتٍ يُسَلّمُ من كل ركعتين (د) (ابوداؤدشريف،باب صلوة الضُّحيٰ ص190 نمبر1290) ددي حديث څخه معلوميږي چي د ورځي لمونځ دوه دوه رکعته کول په کار دئ.ددي احاديثو په وجه امام شافعي دشپي او دورځي د دو دو رکعتو نفلو قائل دئ .

(فَصلٌ فِي القِرَآءَةِ)

[290](10) قرات واجب دئ دفرضو په اوّلو دو رکعتوکي او و ده ته اختيار دئ په دا نورو دو

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل دشپي لمونځ دوه دوه رکعته دئ (ب) حضوروفرمائل دشپي او دورځي لمونځ دوه دوه رکعته دئ (ج) حضرت عائشه فرمائي حضور لمونځ کاوئ په دې منځ کي چي فارغ به سو دماخستن دلمانځه څخه چي وهغه ته خلګ عتمه وائي تر سهاره پوري يوولس(11)رکعته.د هرو دو رکعتو په مابين کي سلام کاوئ (د) حضور دفتح مکي په ورځ دځابنت لمونځ وکئ اته رکعته. پر هر دوه رکعته به سلام ګرزاوئ .

فِي الرَّكعَتَينِ الأُولَيَينِ وَهُوَ مُخَيَّرٌ فِي الأُخرَيَينِ اِن شَآءَ قَرَءَ الفَاتِحَةَ وَاِن شَآءَ سَكَتَ

رکعتوکي.که خوښه سي سورة فاتحه دي ووائي او که خوښه سي خاموش دي سي او که خوښه سي تسبيح دي ووائي.

تشريح : دفرضو کوم لمونځ چي څلور رکعتيز دئ مثلاً ماپښين،ماښيګر اوماخستن يا دري رکعتيز وي لکه دمابنام ده نو دهغو په اولو دو رکعتوکي قرات کول فرض دئ.که يو لوئي آيت هم نه کئ تلاوت نو لمونځ يه فاسديږي.سورة فاتحه لوستل(ويل)اوسورة ورسره ضم کول دواړه واجب دي.دلائل يه مخکي تيرسو.

وجه : (1) اصل کي په فرضوکي اول دوه رکعته اصل دي او دانور دوه رکعتونه دهغوتابع دي.نو ځکه په اولو دو رکعتوکي به قرات کول فرض وي (2) په حديث کي دئ عن عبدالله بن ابي قتادةَ عن ابيه اَنَّ النَّبيَّ كان يقرأُ في الظهر في الاوليين بأمّ الكتاب وسورتين وفي الركعتين الاخريين بأمّ الكتاب ويسمعنا الآيةَ ويطول في الركعة الاولىٰ مالايطيل في الركعة الثانية وهكذا في العصر (الف) (بخاري شريف،باب يقرأُ في الاخريين بفاتحة الكتاب ص107 نمبر776+مسلم شريف،باب القرآءة في الظهروالعصر ص185 نمبر451) ددي حديث څخه معلوم سو چي په آخري دو رکعتوکي صرف سورة فاتحه ويل.لېکن دا زمور په نبز بطور سنت دئ دوجوب په توګه نه دئ (3) جابربن سَمُرَةَ قال قال عمر لسعدٍ لقد شَكَوكَ في كُلّ شيئٍ حتي الصلوة قال اَمَّا انَاَ فَاَمُدُّ في الاوليين واحذفُ في الاخريين ولا آلو ما اقتديتُ به من صلوة رسول الله قال صدقتَ ذالك الظَّنُّ بك او ظَنّي بك (ب) (بخاري شريف،باب يطول في الاوليين ويحذف في الاخريين ص106 نمبر770+مسلم شريف،باب القرآءة في الظهر والعصر ص186 نمبر453) د اَحذفُ في الاخريين دوي ترجمي(معنيٰ ګان)کېدلائي سي.يوه دا چي قرات بالکليّه نه کوم.دا ترجمه به داحنافو مطابق وي چي په نورو

دو رکعتو کي قرات نسته.او دومه ترجمه(معنيٰ)داده چي مختصر قرات کوم يعني سورة فاتحه وايم.ددي ترجمي څخه به دفاتحي ثبوت پيدا سي چي داحنافو په نبز دفرضو په آخري دو رکعتوکي سنت ده (4) عن عبدالله بن ابي رافع قال يعني علياً يقرأُ في الاوليين من الظهر والعصر بأمّ القرآن وسورةٍ ولايقرأُ في الاخريين (ج) (مصنف عبدالرزاق،باب كيف القرآءة في الصلوة ج2 ص100 نمبر2656+مصنف ابن ابي شيبة، 146 من كان يقول يسبح في الاخريين ولايقرأُ،ج1 ص327 نمبر3742) ددي اثر څخه معلوم سوچي په آخري دو رکعتوکي قرات ضروري نه دئ.

فـائـده : دامام شافعي په نبز په آخري دو رکعتوکي سورة فاتحه لوستل(ويل)ضروري ده.

وجـه : (1) دده په نبز هر رکعت مستقل(جلا)لمونځ دئ.او لمونځ بغير دقرات نه صحيح کيږي نو

حاشيه : (الف) حضور دماپښين په اولو دو رکعتوکي سورة فاتحه او دوه سورتونه ويل.او په آخري دو رکعتوکي سورة فاتحه ويل.او کله نا کله په موږ آيت اوروئ.او څومره چي اول رکعت وږداوئ دومره دوم رکعت نه وږداوئ.او دغه رنګه په ماځيګرکي کول (ب) حضرت عمر وحضرت سعد ته وفرمائل په هر شي کي ستا شکايت راغلئ دئ.تري چي په لمانځه کي هم.حضرت سعد وفرمائل بهر حال زه خو په اولو دو رکعتوکي وږدم او په آخري دو رکعتوکي مختصرکوم.او دحضور په لمانځه کي چي څه رنګه مو اقتدآء کول په هغه کي کمئ نه کوم.حضرت عمر وفرمائل چي تا رشتيا وويل.ما ستا په باب دغه رنګه ګمان درلودئ (ج) حضرت علي دماپښين او ماځيګر په اولو دو رکعتوکي سورة فاتحه او سورة وايئ.او په آخري دو رکعتوکي هيڅ نه ويل.

وَإِن شَآءَ سَبَّحَ [291](11) وَالقِرَآءَةُ وَاجِبَةٌ فِي جَمِيعِ رَكَعَاتِ النَّفلِ وَفِي جَمِيعِ الوِترِ [292](12) وَمَن دَخَلَ فِي صَلوةِ النَّفلِ ثُمَّ اَفسَدَهَا قَضَاهَا .

څکه په آخري دو رکعتوکي هم سورة فاتحه ويل ضروري ده (2) په دغه مسئله کي دبخاري حديث تيرسو چي په هغه کي و چي حضور په آخري دو رکعتوکي سورة فاتحه ويل ددي مطلب دادئ چي سورة فاتحه ويل واجب ده.

[291](11) قرات واجب دئ دنفلو په ټولو رکعتوکي او د وترو په ټولو رکعتوکي.

وجـه : دنفلو هر دوه رکعته يوه شفعه ده او شفعه مستقل لمونځ دئ.دغه وجه ده چي که دځلورو رکعتو نيت وتاړئ نو هم دوه رکعته لازميږي.ځلور رکعته نه لازميږي.هر دوه رکعته يوه جلا جلا شفعه ده ددي اشاره په حديث کي سته عن ابن عمرعن النبي قال صلوةُ اللَّيل والنَّهار مثنيٰ مثنيٰ (ابوداؤدشريف،باب في صلوة النَّهار ض190 نمبر1295) نوځکه په هره شفعه کي قرات کول لازم دئ.او دهري شفعي په هر رکعت کي قرات کول ضروري دئ (2) وتر هم من وَجهٍ نفل دي نو څکه ددوئي په دريم رکعت کي به قرات کوي.داحتياط هم دغه تقاضا ده (3) دوترو په دريم رکعت کي دقرات کولو ثبوت په حديث کي دئ سالتُ عائشةَ بأيّ شيئٍ كان يُوترُ رسول الله؟ قالت كان يقرأُ في الاوليٰ بسبّح اسمَ ربّك الاعليٰ وفي الثانية بقُل يا اَيُّهَاالكافرون وفي الثالثة بقُل هوالله احد والمعوذتين (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء مايقرأُ في الوتر ص106 نمبر463+ابوداؤدشريف،باب مايقرُ في الوتر ص208 نمبر1423) په دي حديث کي هم دئ چي د وترو په دريم رکعت کي قل هوالله احد سورة لوستلئ دئ.چي په نتيجه کي دا ثابت سو چي د وترو په دريم رکعت کي ضَم دسورة واجب دئ.او چي کله د وترو په دريم رکعت کي قرات کيږي نو دنفلو په دريم رکعت کي خو به په طريقه اَولي سره کيږي.

[292](12)څوك چي په نفل لمونځ کي داخل سو بيا هغه فاسد کړي نو دهغه قضآء به کوي.

تـشريـح : که يوچا دنفلو نيت وتاړئ او دتحريمي وروسته لمونځ پرېښوئ نو د دو رکعتو قضآء پرلازمه ده.

وجـه : نفل تر څو چي نه وي شروع کړي هغه نفل دي،تَبَرُّع ده.لېکن دشروع کولو وروسته هغه يو رنګه عملاً دنذر په شان(رکم)ګرزي او نذر پوره کول ضروري دئ.نو څکه نفل دشروع کولو وروسته که پرېښول نو دهغه قضآء کول واجب ده.دنذر د پوره کولو دليل دا آيت دئ ثُمَّ لِيَقضُوا تَفَثَهُم وليُوفُوا نُذُورَهُم (ب) (آيت 29 سورة الحج22) د دي آيت څخه معلوميږي چي نذر پوره کول په کار دئ.په يو بل آيت کي دئ چي عمل باطلول نه دئ په کار نو څکه چي کله دنفلو نيت وتاړئ دا بيا يو عمل جوړ سو.نو څکه دا به نه باطلوي.او که پرېښوئ نو دهغه قضآء پر لازمه ده.په آيت کي ارشاد دئ ياايُّها الذَّين آمنوا اطيعوا الله واطيعوا الرَّسُولَ ولا تبُطلوا اعمالكم (ج) (آيت 33

حاشيه : (الف) دحضرت عائشي څخه ما پوښتنه وکړه چې حضور په کوموکوموسورتو سره وتر کول؟.حضرت عائشي وفرمائـل پـه اول رکعت کې سبح اسم ربّك الاعلیٰ او په دوم کې قُل یا اَیُّهاَ الکافرون او په دریم کې قل هوالله احد او قـل اعـوذبرب النـاس او قـل اعـوذبرب الفلق وائي(لوستئ) (ب) بیا د ښپښتانو او دنورو شیانو ګندګي ختم کول په کار ده او خپل نذر پوره کـول پـه کـار دئ (ج) ائ مؤمنـانو دالله اطاعت وکړئ او درسول اطاعت وکړئ او خپل عملونه مه باطلوئ.

[293](13) فَإن صَلّیٰ اَربَعَ رَکعَاتٍ وَقَعَدَ فِي الأُولَیَینِ ثُمَّ اَفسَدَ الأُخرَیَینِ قَضيٰ رَکعَتَینِ [294](14) وَیُصَلّي النَّافِلَةَ قَاعِداً مَعَ القُدرَةِ عَلیٰ القِیَامِ [295](15) وَإن اِفتَتَحَهَا

سورةُمحمد47) ددې آیت څخه معلوم سو چې اعمال باطلول نـه دئ پـه کـار او کـه باطـل کړل نـو دهغـه قضـآء دي وکړي.

فـائـده : دامام شافعي په نبز که نفل دشروع کولو وروسته ختم کړل نو بیا هم نفل دي.دهغه قضآء کول لازمه نه ده.دده دلیل دا آیت دئ مَاعلیَ المُحسنینَ من سبیلٍ وَاللهُ غفورٌ رَّحیمٌ (الف) (آیت 91 سورة توبه 9) په دې آیت کې دئ چې پـر احسان کونکي او نفلي کار کونکي باندي هیڅ لاره نسته.یعني واجب نه ده.نو ځکه نفل لمونځ دشروع کولو وروسته کې ختم(فاسد)کړئ نو قضآء یه نه ده واجب.

[293](13) که څلور رکعته لمونځ وکړئ او پر دوه رکعته باندي کښېنستئ بیا یه دوم رکعت فاسد کړئ نو صرف دوه رکعته دي قضآء وکړي.

تـشریـح : دڅلور رکعته نفل لمونځ نیت یه وکړئ.بیا دوه رکعته وکړه پـر اَلتَّحیَّات کښېنسـتئ بیـا یـه آخـري دوه رکعته فاسد کړل نو صرف د آخري دو رکعتو قضآء به کوي.اولني دوه رکعته پوره سول.

وجـه : دا مسئله پر دوه اصول باندي مبني ده.یو دا چې هر دوه رکعته جلا جلا شفعه ده.دیـوې شـفعي پـه فسـاد سره بله شفعه نه فاسدیږي.دومه قاعده داده چې کله د اولنئ دو رکعتـو وروسـته پـه تشـهد کـې کښېنسـتئ نـو دواړه رکعتونه پوره سول.اوس صرف سلام پاته دئ.نو ځکه که آخري دوه رکعته فاسد کړل نو دهغو قضآء به کوي.خـو اولني دوه رکعته پوره دي.پر هغو باندي هیڅ اثر نه لویږي.

اصـول : (1) په نفلو کې دوه رکعته جلا جلا شفعه ده (2) د یوې په فساد سره پر بله څه اثر نه لویږي. دحـدیث صلوةُ اللَّیل والنَّهار مثنیٰ مثنیٰ(ابوداؤدشریف،نمبر1295)څخه استدلال کېدلائي سي.

[294](14) نفل لمونځ په ناستي کولائي سي پر ولاړه باندي دقدرت درلودو باوجود.

تـشریـح : دنفل لمونځ په ولاړي کولو قدرت لري لېکن بیا یه هم په ناستي کـول غـواړي نـو کـولائي سـي. خـو ثواب به نیم وي.او په فرضوکي که دولاړي قدرت وي بیا هم په ناستي لمونځ کوي نو لمونځ یه فاسد دئ.ځکه چې په فرض لمانه کي قیام(ولاړه)فرض ده.

وجـه : په حدیث کي دئ عن عمران بن حصین قال سألتُ النَّبيَّ عن صلوة الرجل وهوقاعدٌ فقال من صلیٰ قائمًا فهو افضلُ ومن صلیٰ قاعداً فله نصفُ اجرُالقائم ومن صلیٰ نائمًا فله نصفُ اجرُالقاعد (ب) (بخاري شریف،باب صلوة القاعد ص150، ابواب تقصیرالصلوة نمبر1116+ترمذي شریف،باب ماجآء اَنَّ صلوةَ القاعد علیٰ النّصف من صلوة القائم ص85 نمبر371) ددې حـدیث څخـه معلـوم سـو چې نفل لمونځ دقدرت باوجود په ناستي کولائي سي.خو صرف وده ته به ثواب دهغه په نیمایه ملاؤیږي کـوم چـې په ولاړي کوي.

[295](15) که په ولاړي نفل شروع کړل بیا کښېنستئ نو جائز دئ دامام ابوحنیفه په نبز او صاحبین فرمائي چـې جواز نه لري لېکن که چیري عذر و نو.

حاشیه : (الف) پر محسنینو باندي هیڅ الزام نسته (ب) مـا دحضـور څخـه دسـړي دلمانځـه پـه بـاب پوښـتنه وکـړه چـې دئ یـه پـه ناسـتي وکړي.حضور وفرمائل کوم چا چې په ولاړي وکړئ هغه افضل دئ.او کوم چا چې په ناستي وکـړئ دهغـه لپـاره دولاړ سـړي نـیم ثـواب دئ.او کوم چا چې په بیدبدو(پروتي)وکړئ وهغه ته دناست سړي نیم ثواب ملاؤیږي .

قَائِماً ثُمَّ قَعَدَ جَازَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالىٰ وَقَالاَ لاَيَجُوزُ اِلاَّ مِن عُذرٍ [296](16) وَمَن كَانَ خَارِجَ المِصرِ يَتَنَفَّلُ عَلىٰ دَابَّتِهِ اِلىٰ اَيِّ جِهَةٍ تَوَجَّهَت يَامِي اِيمَآءً .

وجه : (1) دامام ابوحنيفه وجه : مخكي تير سوچي په نفلو کي ولاړه نه ده لازمه.نو ځکه چي ترڅو ولاړ و ولاړ دي وي.او مخته ولاړه بيا نه ده لازمه سوی.نوځکه دئ کښېنستائي سي (2) په حديث کي دي عن عائشةَ اَنَّ رسولَ الله كان يُصلي جالسًا فيقرأُ وهو جالس فاذا بقي من قرائته نحو من ثلثين آيةً او اربعين آيةً قام فقرَاها وهو قائم ثم ركع ثم سجد يفعل في الرّكعة الثانية مثل ذالك (الف) (بخاري شريف،باب اذا صليٰ قاعدًا ثم صَحَّ او وجدخفةً تمم مابقي ص150 نمبر1119+ مسلم شريف،باب جوازالنافلة قائماً وقاعداً ص252 نمبر731+ ترمذي شريف،باب من تطوع جالسًا ص85 نمبر374) په دي حديث کي حضور په ناستي هم لمونځ کړئ دئ او په ولاړي هم. مطلب يه دا سو چي که په ولاړي شروع کئ نو په ناستي پوره کولائي سي.

فائده : صاحبين فرمائي چي په ولاړي نفل شروع کړل نو گواکه ولاړه پر ځان لازمه کړل گواکه دا عملاً نذر جوړ سو.نوځکه بغيره عذر ناسته جواز نه لري.دقياس تقاضآء هم دغه ده.په حديث کي دئ سألنا عائشةَ عن صلوة رسول الله فقالت كان رسول الله يُكثرُالصلوةَ قائماً وقاعداً فاذا افتتح الصلوةَ قائمًا ركع قائمًا واذا افتتح الصلوةَ قاعداً ركع قاعداً (مسلم شريف،باب جوازالنافلة قائماًوقاعداً ص252 نمبر730) په دي حديث کي دئ چي په ولاړي لمونځ شروع کاوئ نو په ولاړي رکوع اوسجده کول.خوبياهم دحديث دانداز ځخه معلوميږي چي که ولاړ و اوکښېنستئ لمونځ يه وکړئ نو هم جائز دئ .

[296](16) څوك چې دښار ځخه دباندي وي هغه نفل كولائي سي پر سوار لئ باندي پر كومه خوا چي متوجه وي په اشاره سره.

تشريح : چي دښار ځخه دباندي وي نو نفل لمونځ پر سوارلئ باندي په ناستي کولائي سي.او چي سوارلئ وقبله ته متوجه نه وي نو بنكاره خبره ده چي وقبله ته خپل رخ(توجه)نه سي کولائي نو ځکه دقبلي پر خلاف جانب رُخ کړي نفل کولائي سي.دغه رنگه پر سوارلئ باندي رکوع اوسجده هم په پوره توگه نه سي کولائي نو په اشاره سره به رکوع اوسجده کوي.ددي هم گنجائش سته.

وجه : (1) نفل لمونځ هروخت کولائي سي نفل دي زيات تر زيات کوي ځکه شريعت دغه ټولي آسانتياوي ورکړي دي.چي خلاف قبله دي وي،رکوع اوسجده دي په اشاره وي،پر سوارلئ باندي سپور وي بيا هم نفل کولائي سي.دفرض لمونځ لپاره که قدرت وي نو دسوارلئ ځخه به را شوه کيږي (2) په حديث کي دئ جابر بن عبدالله اخبره اَنَّ النَّبِيَّ كان يُصلي التَّطَوُّعَ وهو راكب في غيرالقبلة (ب) (بخاري شريف،باب صلوة التطوع علي الدَّواب حيثما توجهت به ص148 نمبر1094+مسلم شريف،باب جوازصلوة النافلة علي الدَّابَّة في السفرحَيثُ توجهت 244 نمبر700) ددي حديث ځخه معلوم سوچي که دقبلي د رخ(جانب)برخلاف لمونځ وکړي نو بيا هم جائز دئ (2) عامربن ربيعةَ اخبره قال رَأيتُ النَّبيَّ وهو علي الرَّاحلة

حاشيه : (الف) حضور په ناستي لمونځ کاوئ نو قرات به کاوئ دناستي په حالت کي.بس چي کله به دقرات تقريباً دبرش يا څلوېښت آيتونه پاته و نو ولاړ به سو او دغه به د ولاړي په حالت کي وايل.بيا به رکوع بيا به سجده کول.په دوم رکعت کي به هم دغه رنگه کول (ب) حضور به نفل لمونځ کاوئ په داسي حال کي چي پر سوارلئ به سپور و دقبلي ځخه په مخالف جانب کي.

يسبح يؤمي براسه قبل الي اي وجهٍ تَوَجَّهَ ولم يكن رسول الله يَصنعُ ذالك في الصلوة المكتوبة (الف) (بخاري شريف،باب ينزل للمكتوبة ص148 نمبر1097+مسلم شريف،باب جوازالنافلة علي الدَّابَّة في السَّفرحيثُ تَوَجَّهَت ص244 نمبر700) ددي حديث ځخه معلوم سوچي په نفل لمونځ کي به پر سوارلئ باندي رکوع اوسجده په اشاره سره کوي.او فرض لمونځ ته به را شوه کيږي...دښار ځخه دباندي قيد يه ځکه ولگاوئ چي په بعضو حديثو کي راغلي دي چي حضور دښار ځخه دباندي نفل لمونځ پر سوارلئ باندي وکړئ او دقبلي پر خلاف رخ(جانب)باندي وکړئ.نو ځکه احنافو دا قيد ولگاوئ چي دښار ځخه

دباندي داسي کولائي سي.په ښار کي به دسوارلئ څخه شوه کيږي لمونځ بـه کوي.پـه حـديث کـي دئ کان عبدالله بن عمر يُصلّي في السفر علي راحلته اينما تَوَجَّهَت به يؤمي وذكر عبدالله اَنَّ النَّبِيَّ كان يفعله (ب) (بخاري شريف،باب الايمآء علي الدَّابَّة ص148،ابواب التقصيرنمبر1096+مسلم شريف،باب جوازالنَّافلة علي الدَّابَّة في السفر ص244 نمبر770+1614) ددې حـديث څخـه معلوم سوچې عبدالله بن عمر په سفرکي دقبلي څخه پر خلاف رخ(جانب) لمـونځ کـاوئ.ددې مطلـب دادئ چـې پـه ښار کي دا رنګه کول جواز نه لري.

فـائـده : امام ابويوسف فرمائي چې دغه لوړوډيرو حديثو کي دسفر قيد او دښار څخه د دباندي قيد نسته نو ځکه په ښار کي دننه که پر سوارلئ باندي سپور وي نو هلته هم خلاف قبله لمونځ کولائي سي .

حاشيه : (الف) ماحضور وليدئ چې پر سوارلئ باندي نفل لمونځ کاوئ او په سر باندي پر هغه جانب اشاره کوله پر کوم جانب چې متوجه و.او حضور دا په فرض لمونځ کي نه کوله (ب) حضرت عبدالله بن عمر په سفر کي پر سوارلئ باندي لمونځ کاوئ پر کومه خوا چې سوارلئ متوجه کېدله او اشاره به کوله. او عبدالله بن عمر ذکر کوي چې حضور دغه رنګه کوله .

(بَابُ سُجُودِ السَّهوِ)

[297](1) سُجُودُ السَّهوِ وَاجِبٌ فِي الزِّيَادَةِ وَالنُّقصَانِ بَعدَالسَّلاَمِ يَسجُدُ سَجدَتَينِ ثُمَّ

(بَابُ سُجُودِ السَّهوِ)

ضروري پـام لـرنـه : سُجُودُ السّهو :چې يو واجب په هير سي يا دواجب زيادتي راسي يا فرضـونه مکـرر ادا سي نو ګوا کي ددې دپوره کولو لپاره سجده سهو واجب ده.دسنت دپرېښولو څخه سـجده سـهو نـه لازميږي.کـه فرض پاته سي نو لمونځ فاسديږي.دليل په دا حديث دئ عن عمران بن الحصين قال سَلَّمَ رسولُ الله في ثلاث رکعاتٍ من العصر ثم قام فدخل الحُجرةَ فقام رجل بسيطُ اليدين فقال اَقُصرت الصلوةُ يارسول الله ؟ فخرج مغضبًا فصليٰ الرکعةَ التي کان ترك ثم سلَّم ثم سجد سجدتي السـهو ثم سـلَّم (الـف) (مسـلم شـريف،باب فصـل مـن تـرك الـرَّکعتين او نحوهـا فليـتم مـابقي ويسجدسـجدتين بعدالتسـليم ص214 نمبر574+1294+بخاري شريف،باب هل ياخذالامامُ اذا شَكَّ بقول النَّاس ص99 نمبر714+ترمذي شريف،باب ماجآء في الامام ينهض في الرَّکعتين ناسيًا ص83 نمبر364+ابوداؤدشريف،باب السهو في السجدتين ص153 نمبر1018 ددې بـاب آخـري حـديث دئ) ددې حديث څخه معلوم سوچې که يو واجب هير سي نو سلام دي په وګرزوي بيا دي سجده سهو وکـي بيـادي سـلام پـه وګرزوي.

[297](1) سجده سهو واجب ده.د واجباتو په زياتولو يا کمولوکي دي. د سلام وروسـته دوې سـجدې وکړي بيـادي تشهد ووائي او سلام دي وګرزوي.

تـشريـح : په لمانځه کي د واجب کمي راسي يا زياتوب راسي يـا د ترتيـب خـلاف سـي نـو دهغـه دپـوره کولـو لپاره به سجده سهوکوي.او سلام به په ګرزوي.داحنافو پـه نېـز بـه د اَلتَّحيَّاتُ دلوسـتلو وروسـته پـر يـوه خـوا سـلام ګرزوي بيا به دوي سجدي دسهو کوي بيا به دوباره اَلتَّحيَّاتُ وائي،درودشريف به وائي،دعآء به وائي،او دوبـاره بـه پر دواړو خواو سلام ګرزوي.

وجـه : (1) په لوړ حديث کي ددي ثبوت سته چي حضور په کمي او زياتوب کي سلام ګرزولئ دئ بيا يه سجده سهو کړي ده او بيا يه دوم وار سلام کرزولئ دئ.چي دزياتوب په صورت کي سجده سهو کړي وي دهغه دليـل دا حـديث دئ عن عبدالله قال صلي النَّبيُّ الظُّهر خمسًا فقالوا اَزيدَ في الصلوة ؟ قال وماذاكَ قالوا صَلَّيتَ خمسًا قال فثنيٰ رجله وسجد سجدتين (ب) (بخاري شريف،باب ماجآء في القبلة ومن يريٰ الاعادةَ عليٰ من سهيٰ ص58 نمبر404+مسلم شريف،باب من صلي خمسًااونحوه ص212 نمبر572)په دي حديث کي دئ چي پر پنځه رکعته باندي حضـور سـجده سـهو کـړي ده چـي د زيـاتوب پـه صورت کي سجده سهو ده.دکمئ په صورت کي دسجده سهوکولودليل دا حـديث دئ عن عبدالله بن بحينةَ اَنَّهُ قال صليٰ لنا رسولُ الله ركعتين

حاشيه : (الف)حضور د ماځيګر پر درو رکعتو سلام وګرزاوئ.بيا ولاړسو او پـه کمـره کـي داخـل سـو.بيا يـو سـړئ ولاړسـو چـي وُړده لاسونه و او پوښتنه وکړه ای دخدائ رسول آيا لمونځ راکم سو ؟ نوحضور په خښم وواتئ او هغه رکعته يه ورکړئ کوم چي پاته سوئ و بيا يه سلام وګرزاوئ بيا يه سجده سهو وکړه بيا يه سلام وګرزواى (ب) حضور دماپښين لمونځ پنځه رکعته ورکړئ نـو خلګو وويـل آيـا په لمانځه کي زياتوب سوئ دئ ؟ نو حضور وفرمائل داڅه خبره کوي ؟ خلګو وويل تا پنځه رکعته وکړل.راوي وائـي چـي حضـور پښـه را وګرزول او دوي سجدي يه وکړي .

يَتَشَهَّدُ وَيُسَلِّمُ [298](2) وَيَلزِمُهُ سُجُودُ السَّهوِ اِذَا زَادَ فِي صَلوتِهِ فِعلاً مِن جِنسِهَا لَيسَ مِنهَا

ثم قـام فلـم يجلـس فقـام النَّـاسُ معـه فلمـا قضـيٰ صـلوتَه وانتظـرنا التَّسـليمَ كَـبَّرَ فسـجد سـجدتين وهـو جـالس قبـل التَّسـليم ثم سـلَّم (الـف) (ابوداؤدشريف،باب من قام من ثنتين ولم يَتَشَهَّد ص155 نمبر1034+ترمذي شريف،باب ماجآء في الامام ينهضُ في الركعتين ناسيًا ص83 نمبر364+نسائي شريف،باب مايفعل من قام من ثنتين ناسيًاولم يتشهد ص137 نمبر1223) په دي حديث کي پر کمي باندي سـجده سهو کړي ده.د اَوَّلي ناستي پر نه کولو او د تشهد پر نه ويلو باندي سجده سهو کړي ده.دا هم معلوم سـو چـي قعـده اُولیٰ او تشهد لوستل واجب ده نو دواجب پر پريښولو باندي سـجده سـهو کـړي ده. د دو سـلامو پـه مـابين کـي دي تشـهد ووائـي ددي دليـل دا حـديث دئ. عن عمران بن الحصين اَنَّ النَّبيَّ صليٰ بهم فسها فسجد سجدتين ثم تَشَهَّدَ ثم سَلَّمَ (ب) (ابوداؤدشريف،باب سجدتي السهو فيهما تشهدوتسليم ص156 نمبر1039+ترمذي شريف،باب ماجآء في التشهد في سجدتي السهو ص90 نمبر395) ددي حديث ځخه معلوم سو چي د دواړو سلامو په مابين کي به دوباره تشهد وائي.او چي تشـهد وائـي نـو په آخر کي به درودشريف او دعآء هم وائي.اول سلام دلمانځه دپوره کولـو لپـاره دئ او دوم سـلام ددي لپـاره دئ چي سجده سهو دلمانځه په مابين کي راسي چي خدائي مه کړه که چيري په سجده سهو کي کمئ يا زيـاتوب راسـي نو هغه په سجده باندي پوره کړل سي.

فـائـده : دامام شافعي په نېز به دسلام ځخه مخکي سجده سهو کوي.دده دليل دغه لوړ دابوداؤد حديث دئ چي په هغه کي دئ فسجد سجدتين وهوجالس قبل التسليم ثم سَلَّمَ (ابوداؤدشريف،باب من قام من ثنتين ولم يتشهد ص155 نمبر1034) او امام مالك فرمائي چي که په لمانځه کي کمي راغلي وي نو دسلام ځخه مخکي به سجده سـهو کـوي او کـه زيـادتي سوي وي نو دسلام ځخه وروسته به سجده سهو کوي.ده وکتل چي دسلام ځخه مخکي او دسلام ځخـه وروسـته پـه دواړه طرح سجده سهو ثابت ده نو ځکه ده دا مسلك اختيار کړئ.

[298](2) پر مُصَلّي باندي به سجده سهو لازم وي چي زيات کړي په لمانځه کي دارنګه فعل چي دلمانځـه دجـنس ځخه وي لېکن دلمانځه ځخه نه وي يا يو مسنون فعل پرېږدي.

تـشريـح : مثلاًرکوع یاسجده دلمانځه دافعالوځخه ده لېکن پـه یـوه رکعت کـي دوه واره رکـوع وکړي یـا دري واره سجده وکړي نو دادوم واررکوع یادریمه سجده دلمانځه ځخه نه ده که څه هم دلمانځه د جنس ځخه ده.نوځکه سجده سهو به لازميږي.اود فعل مسنون ځخه مرادفعل واجب دئ چي په سنت نبوي سره ثابت دئ.که چيري سـنت پرېښول خو لمونځ يه پوره دئ د سجده سهو ضرورت نسته.

وجـه : په حديث کي دئ عن عبدالله قال صَلَّينَامع رسول الله فاما زاد او نقص قال ابراهيم وَاَيمُ الله ماجآء ذَاكَ الاَّ من قبلي

حاشيه : (الف) وفرمائل. حضور موږ ته دوه رکعته لمونځ راکئ بياولاړسو او نه کښېنستئ نوخلک هم دده سره ولاړ سو.بس چـي کلـه ده لمونځ پوره کړئ اومور دسلام انتظار وکئ نوحضور تکبيروالئ او دوي سجدي يه وکړي پـه داسـي حـال کـي چـي دئ ناست و دسـلام ځخه مخکي.بياده سلام په وگرزاوئ (ب) حضور وخلگو ته لمونځ ورکړي نو دحضور هير سو بيا حضـور دوي سـجدي وکړي بيا يـه تشهد وويل بيا يه سلام په وکرزاوئ (ج) حضور وفرمايل چي په لمانځه کي کمي يا زيادتي وسـي،ابراهيم راوي وويـل قسم پـه خـدائي دا وهم زوما لخوا دئ.راوي وفرمائل مور ووېل ائ دخدائي رسول په لمانځه کي څه بدلون راغلئ دي ؟ حضـور وفرمائـل نـه. مـور وده تـه هغه خبره وکړه چي ده کړې وه.حضور وفرمائل که سړئ زيادتي وکړي يا کمي وکړي نو دوي سجدي کول په کار دي.راوي وائـي چـي بياحضور دوي سجده سهو وکړي .

اَو تَرَكَ فِعلاً مَسنُوناً [299](3) اَو تَرَكَ قِرَآءَةَ فَاتِحَةَ الكِتَابِ اَوِ القُنُوتِ اَوِ التَّشَهُّدِ اَو تَكبِيرَاتَ العِيدَينِ اَو جَهَرَالإِمَامُ فِيمَايُخَافِتُ اَو خَافَتَ فِيمَا يُجهَرُ [300](4) وَسَهوُالإِمَامِ يُوجِبُ عَلىٰ المؤتَمِّ اَلسُّجُودَ فَإن لَمَ يَسجُدِالإِمَامُ لَمَ يَسجُدِ المؤتَمُّ .

قال قلنا يارسول الله اَحَدَثَ في الصلوة شيئ ؟ فقال لا قال فقلنا له الذي صنع فقال اذا زَادَالرَّجُلُ او نَقَّصَ فليسجد سجدتين قال ثم سجد سجدتين (ج) (مسلم شريف،باب من ترك ركعتين او نحوهما فليتم مابقي ويسجد سجدتين بعدالتسليم ص213 نمبر572+1287+ ابوداؤد شريف،باب من قال يتم علي اكثر ظنه ص154 نمبر1029) ددي حديث ځخه معلوم سو چي په لمانځه کي زياتوب راسـي يـا يو واجب پاته سي نو سجده سهو به کوي .

[299](3) يايـه دسـورة فـاتحي وينـا پرېښـول،يا يـه دعـآء قنـوت پرېښـول،يا يـه تشـهد پرېښـول،يا يـه تکبيـرات عيدين(داخترانو تکبيرونه)پرېښول،يا امام قرات په زوره ووايئ په کوم ځائ کي چي پټه خوله په کار ده،يا يـه پـټ ووائي په کوم ځائ کي چي جهري(په زوره)ويل په کار دئ.

تـشريـح : تشهد يه پرېښوه ددي مطلب دادئ چي دتشهد په اندازه ناسته پرېښدوه،يا يـه تشـهد لوسـتل پرېښـول دا خـو دواړه واجـب دي نـو ځکـه سـجده سـهو لازميـږي.ددي دليـل پـه مسـئله نمبـر1 کـي د ابوداؤدشـريف حديث(نمبر1034)کي تيرسو،،قام فلم يجلس،،چـي حضـور د دو رکعتـو ورسـته ولاړ سـو او پـه قعـده أولـيٰ کـي نـه کښېنستئ نو سجده سهو وکړه.پر دغه باندي دا نور واجبات قياس کړه.چي يو واجـب يـه هيـر سـي پـر هغـه بانـدي دسـجده سـهو کولـو دليـل دا حـديث دئ .قال صليٰ بنا علقمة الظُّهرَ خمساً ... فاذا نسي احدكم فليسجد سجدتين (الف) (مسلم شريف،باب من صليٰ خمساً اونحوه الخ ص213 نمبر572+1285) په دي حديث کي دئ چي که مو هيـر سـي نـو سـجده سـهو وکړئ.په جهري قرات کي سري وکړئ او په سري قرات کي جهري وکړئ نـو سـجده سـهو لازم ده.ددي دليـل دا اثر دئ عبدالرزاق عن الثوري قال اذا قُمتَ فيما يجلس فيه او جَلَستَ فيمايُقامُ فيه او جَهَرتَ فيمايُخافتُ فيه او خافت فيما يُجهرُ فيه ناسياً سَجَدتَّ سجدتي السهو (ب) (مصنف عبدالرزاق،باب اذاقام فيمايقعد فيه اوقعد فيمام يقام اوسلم في مثنيٰ ج2 ص313،ابواب السهو نمبر3495) ددي اثر ځخه معلوم سو چي که په جهري لمانځه کي سري قرات وکړئ او په سري لمانځه کي جهـري قرات وکړئ نو سجده سهو به کوي.

فـائـده : دبعضو امامانو په نېز سري جهري کولو او جهري سري کولو ځخه سجده سهو نه لازميږي. ددوئي استدلال ددي حديث ځخـه دئ عن قتادةَ كان النَّبيُّ يقرأُ في الركعتين من الظهر والعصر بفاتحة الكتاب وسورة وسورة يسمعنا الآية احياناً (بخاري شريف،باب القرآءة في العصر ص105 نمبر762)

[300](4) دامام دسهو ځخه پر مقتدي باندي سجده واجب ده.بيا که چيري امام سجده ونـه کړي نـو مقتـدي دي هـم سجده نه کوي.

وجـه : (۱) امام ضامن دئ پر امام باندي سجده لازمه سوه او ده سجده سهو وکړه نو که څه هم پر مقتدي

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل په تاسو کي ديوه هېره وسي نو دوي سجدي دسهو کول په کار دي (ب) حضرت ثوري وفرمائل که چيري بو ځائ ناسته وي هلته ولاړسي يا ته کښېنستي چيري چي ولاړه ضروري وي يا يه جهري قرات وکړئ چيري چي سري قرات کېدئ يا يه سري قرات وکړئ چيري چي جهري قرات کېدئ په هېره سره دوي سجدي دسهو به کوي .

[301](5) فَإِن سَهِيَ المؤتَمُّ لَمَ يَلزِمِ الإِمَامُ السُّجُودَ [302](6) وَمَن سَهِيَ عَنِ القَّعدَةِ الأُولِيٰ ثُمَّ تَذَكَّرَ وَهُوَ إِلِيٰ حَالِ القُعُودِ اَقرَبُ عَادَ فَجَلَسَ وَتَشَهَّدَ وَإِن كَانَ إِلِيٰ حَالِ القِيَامِ

باندي سجده نه وي لازمه سوي خو بيا هم به مقتدي سجده سهو کوي. پر لازمه ده (2) ددي دليل دا حديث دئ عن عبدالله بن لجينة انه قال صلىٰ لنا رسولُ الله ركعتين ثم قام فلم يجلس فقام النَّاسُ معه فلما قضىٰ صلوتَه وانتظرنا التَّسليمَ كبَّر فسجد سجدتين وهو جالس قبل التسليم ثم سَلَّمَ (الف) (ابوداؤدشريف،باب من قام من ثنتين ولم يتشهد ص155 نمبر1034+ترمذي شريف،باب ماجآء في الامام ينهض في الركعتين ناسيًا ص83 نمبر365+مسلم شريف،باب اذا نسي الجلوسَ في الركعتين فليسجد سجدتين قبل اَن يُسلّم ص211 نمبر570) په دي حديث کي پر امام باندي سجده وه نو مقتديانو هم مجبورًا دهغه اقتدآء وکړه.ددي څخه معلوم سو چي د امام په وجه پر مقتديانو باندي هم سجده سهو لازميږي.

[301](5) بس که چيري دمقتدي څخه هېره وسوه نو پر امام سجده سهو نه ده لازمه او نه پر مقتدي باندي سجده سهو لازمه ده.

وجه : (1) مقتدي تابع دئ نو ځکه دامام بر خلاف سجده سهو نه سي کولائي که نه نو دتابع په وجه به پر اصل باندي لازمه سي (2) په حديث کي دئ عن عمرعن النَّبيّ قال ليس عليٰ من خَلفَ الامام سهوفان سهيٰ الامامُ فعليه وعليٰ من خلفهُ السهوُ وان سهيٰ من خلف الامام فليس عليه سهو والامام كافيه (ب) (دارقطني،باب ليس علي المقتدي سهو وعليه سهو الامام ج1 ص365 نمبر1398) ددي حديث څخه ثابت سو چي دمقتدي دسهو څخه پر امام باندي سهو نه لازميږي او دامام دسهو څخه پر مقتدي باندي لازمه ده (3) دغه رنګه اثر په مصنف عبدالرزاق،باب هل عليٰ من خلف الامام سهو ج2 ص315 نمبر3506) کي موجود دئ.

[302](6) دچا چي قعده اُولىٰ هېره سي بيا يه په ياد سي په داسي حال کي چي وناسته ته زيات قريب(نزدي)وي نو واپس دي سي او کښيني دي او تشهد دي ووائي.او که و ولاړه ته زيات نزدي وي نو نه دي واپس کيږي او سجده سهو دي وکړي.

تشريح : قعده اُولىٰ واجب ده ليکن که دا هېره سوه ولاړ سو او و ولاړه ته نزدي سو بيا ورپه ياد سو نو اوس دي دوباره بيا نه کښيني بلکه ولاړ دي سي مخکي راروان اعمال دي وکړي.ځکه چي اوس دناستي په وجه په قيام(ولاړه)کي تاخير راځي. او که وناسته ته نژدي و ورپه ياد سو نو تر اوس لا نه دئ ولاړ سوئ نو ځکه په ناسته کي هيڅ حرج نسته.او سجده سهو هم نه ده لازمه.

وجه : په حديث کي دئ عن مُغيرةَ بن شعبةَ قال قال رسول الله اذا قام الامامُ في الركعتين فان ذكر قبل ان يستويَ قائمًا فليجلس فان استويٰ قائمًا فلايجلس ويسجد سجدتي السهو (ج) (ابوداؤد شريف،باب من نسيَ ان يتشهد وهوجالس ص255 نمبر1036+

حاشيه : (الف) حضور مورِ ته دوه رکعت لمونځ راکئ.بيا ولاړ سو او نه کښېنستئ نو خلګ هم دده سره ولاړ سو.نو چي کله حضور لمونځ پوره کړئ او مورِ دسلام ګرزولو انتظار وکئ نو حضور تکبير ووايئ او دوي سجدي يه وکړي په داسي حال کي چي ناست و دسلام څخه مخکي بيا يه سلام په وګرزاوئ (ب) حضور وفرمائل څوك چي دامام وشاته وي پر هغه سجده سهو نسته.بياکه دامام هير سو نو پرده باندي سجده سهو سته او څوك چي دده وشا ته وي پر هغو باندي هم سجده سته.او که چيري هغه چي دامام وشا ته دئ دهغه څخه هېره وسوه نو پر هغه باندي سجده سهو نسته.امام دهغه لپاره کافي دئ (ج) حضور وفرمائل چي امام پر دوه رکعت ولاړ سي.نو که دپوره درېدلو څخه مخکي ورپه ياد سي نو بايد کښيني.بيا که چيري مکمل درېدلئ وي نو نه دي کښېني او دوي سجدي دسهو دي وکړي .

اَقرَبُ لَم يُعِد وَيَسجُدُ لِلسَّهوِ [303](7) وَاِن سَهيٰ عَنِ القَعدَةِ الاَخِيرَةِ فَقَامَ اِلَي الخَامِسَةِ رَجَعَ اِلَي القَعدَةِ مَالَم يَسجُد وَاِلَغيٰ الخَامِسَةَ وَسَجَدَ لِلسَّهوِ [304](8) وَاِن قَيَّدَ الخَامِسَةَ بِسَجدَةٍ بَطَلَ فَرضُهُ وَتَحَوَّلَت صَلوتُهُ نَفلاً وَكَانَ عَلَيهِ اَن يَّضُمَّ اِلَيهَا رَكعَةً سَادِسَةً [305](9) وَاِن قَعَدَ فِي الرَّابِعَةِ ثُمَّ قَامَ وَلَم يُسَلِّم يَظُنُّهاَ القَعدَةَ الأُولٰي عَادَ اِلَي القُعُودِ مَالَم

دار قطني،باب الرجوع الي القعود قبل استتمام القيام ج1 ص367 نمبر1403) ددې حديث څخه معلوم سو چې که وولاړه ته نژدې و نو نه دي کښېني او سجده سهو دي وکړي.

[303](7) که اخيره ناسته هېره سوه او پنځم رکعت ته ولاړ سو نو به واخيره ناسته ته را گرزي تر څو چې سجده يه نه وي کړې او پنځم رکعت دي لغو کړي او سجده سهو دي وکړي.

وجه : (1) د بابُ صفة الصَّلوة په مسئله نمبر6 کې تيرسو چې اخيره ناسته فرض ده اوس ده دا پرېښول پنځم رکعت ته ولاړئ چې گواکه نفل به وي.نو ترڅوچې دپنځم رکعت سجده نه وي کړې او هغه يه مضبوط کړئ نه وي نو هغه دي پريږدي قعده اخيره ته راسي او قعده اخيره دي وکړي اوسلام دي په وگرزوي (2) که دپنځم رکعت سجده وکړه نو اوس چې کومه قعده کوي هغه به دنفل لمونځ قعده وي او دفرض لمونځ قعده اخيره پاته سوه او قاعده ده چې که فرض پريږدي نو لمونځ فاسديږي.نو ځکه فرض يه فاسد دئ نفل ځني جوړ سول.نو ځکه دغه لمونځ دي دوباره وکړي (3) په اثرکې راغلي دي عن حَمَّادٍ قال اذا صليٰ الرَّجلُ خمسًا ولم يجلس في الرابعة فانه يزيدالسادسةَ ثم يسلم ثم يستانف صلوتَه (مصنف عبدالرزاق،باب الرجل يُصلي الظهر اوالعصرخمسًا ج2 ص303 نمبر3461) ددې اثر څخه معلوم سوچې شپږم رکعت دي ورسره ضم کړي چې شپږ رکعت نفل سي اوفاسد کړي فرض دي دوباره بياوکړي .

اصول : دفرضو په پرېښولو سره لمونځ فاسد دئ .

لغت : اَلغيٰ : لغو دې کړي.ختم دې کړي .

[304](8) او که پنځم رکعت په سجده سره مقيد کړئ نو دده فرض باطل دي.او دده فرض لمونځ به په نفلو سره بدل سي.او پر ده باندي دادئ چې پنځم رکعت ته شپږم هم ورضم کړي .

تشريح : فرض لمونځ و او د قعده اخيره کولو بغيره پنځم رکعت ته ولاړ سو او دپنځم رکعت سجده يه هم وکړه نو ځکه پنځم رکعت چې نفل و دفرضو سره ملاؤ(ضم)سو او دفرضو قعده اخيره چې فرض وه پاته سوه نو ځکه لمونځ بايد فاسد سي لېکن په نفل سره به بدل سي.ځکه چې دنفلو قعده اخيره بيا هم کولائي سي.اوس دده لپاره ښه خبره داده چې شپږم رکعت ورسره ضم کړي چې شپږ رکعت نفل سي او پنځم رکعت چې په حقيقت کې يو نفل دئ چې بتيرآء لمونځ ورته وائي دهغه ځخه دئ بچ سي. دليل يه په مسئله نمبر7 کې تيرسو(مصنف عبدالرزاق نمبر3461)

[305](9) او که په څلورم رکعت کې کښېنستئ بيا ولاړ سو او سلام يه نه په وگرزاوئ،دده دا گُمان سو چې دا اوله ناسته ده نو واپس به را گرزي وقعده(ناست) ته

يَسجُد لِلخَامِسَةِ وَلَو سَلَّمَ وَسَجَدَ لِلسَّهوِ [306](10) وَاِن قَيَّدَالخَامِسَةَ بِسَجدَةٍ ضُمَّ اِلَيهَا رَكعَةً اُخريٰ وَقَد تَّمَّت صَلوتُهُ وَالرَّكعَتَانِ نَافِلَةً [307](11) وَمَن شَكَّ فِي صَلوتِهِ فَلَم يَدرِ اَصَلّيٰ ثَلٰثاً

تر څو چې دپنځم رکعت سجده ونه کړي او سلام دي وگرزوي او سجده سهو دي وکړي.

وجه : اخيره ناسته کړي ده نو ځکه فرض خو مکمل سوي دي اوس صرف سلام پاته دئ چې واجب دئ.نو ځکه دپنځم رکعت دسجدې کولوځخه مخکې مخکې وقعدې(ناسته) ته را واپس سي او سلام دي وگرزوي سجده

سهو دي وکړي بيادي دتشهد دلوستلو سره سلام په وګرزوي.دئ دپنځم رکعت دسجدې څخه مخکې دئ نو يو رکعت مکمل سوئ نه دئ ځکه دا پرېښولائي سي.بل طرف ته به څلور رکعت فرض مکمل سي.

[306](10) او که پنځم رکعت په سجده سره مقيد کړئ نو د دغه سره به شپږم رکعت ملاؤ وي او دده لمونځ به پوره سي.او دغه دوه رکعته به نفل سي.

تشريح : (1) اخيره ناسته کړي ده نو ځکه څلور رکعته فرض به پوره سي.پنځم رکعت په نفل بتيرآء لمونځ دئ چي دهغه څخه منع راغلي ده نو ځکه شپږم رکعت به ورضم وي چې دوه رکعته نفل سي (2) په اثر کي راغلي دي عن قتادةَ في رجلٍ صليٰ الظُّهر خمسًا قال يزيد اليها رکعةً فتکون صلوةَ الظهر ورکعتين بعدها ... تطوعا (مصنف عبدالرزاق،باب الرجل يصلي الظهر او العصرخمسا ج2 ص303 نمبر3460) په دې اثر کي ګواکه پر څلور رکعته کښېنستلئ دئ نو ځکه څلور رکعته دماپښين پوره سول او پاته دوه رکعته به نفل سي.

اصول : چې فرائض پوره سوي وي دهغه وروسته نوافل ور ضم کړي نو فرض نه فاسديږي.

فائده : دامام شافعي په نېز دادئ چې پنځم رکعت ورضم کړي نو څلور رکعته فرض يه پوره دي.دده دليل دا حديث دئ عن عبدالله قال صليٰ بنا رسول الله خمسًا فقلنا يارسول الله اَ زيدَ في الصلوة ؟ قال وما ذاك ؟ قالوا صلَّيت خمساً قال انما انا بشر مثلکم اذکر کما تذکرون وانسي کما تنسون ثم سجد سجدتي السهو (الف) (مسلم شريف،باب من صلي خمسا او نحوه فليسجد سجدتين ص213 نمبر572+ ابوداؤدشريف،باب اذا صلي خمسا ص153 نمبر1019) په دې حديث کي ددې ثبوت نسته چې حضور دڅلورم رکعت وروسته قعده اخيره وکړه پنځم رکعته ته ولاړ سوئ و.يا دقعده اخيرې دکولوبغيره ولاړ سوئ و.او ده دوې سجدې دسهو وکړي او څلور رکعته پوره کړل .نو ځکه که په قعده اخيره کي کښيني که نه کښيني په هر حالت کي به سجده سهو کوي نو به څلور رکعته فرض پوره سي.

[307](11) چا ته چې شك سي په لمانځه کي،بس نه وي ورمعلوم چې درې رکعته کړي دي يا څلور رکعته او دا(شك) اول وار وده ته ورپېښ سوئ وي نو دسره څخه به لمونځ کوي.

وجه : په اثرکي راغلي دي عن ابن عمر في الَّذي لايدري ثلاثاً صليٰ او اربعًا قال يُعيدُ حَتّيٰ يَحفَظَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة،239 باب من قال اذا شَكَّ فلم يدر کم صليٰ ج1 ص385 نمبر4422)

حاشيه : (الف) حضور موږ ته پنځه رکعته لمونځ راکړئ.موږ وويل ائ دخدائ رسول آيا په لمانځه کي زياتوب راغلئ دئ ؟ حضور وفرمائل څه وسو ؟ خلګو وويل تا پنځه رکعته لمونځ وکئ.حضور وفرمائل زه ستاسو په شان انسان يم.يادوم ي لکه څه رنګه چې تاسو يادوئ او هېرېږي مو لکه څه رنګه چې ستاسو هېرېږي.بيا يه دوي سجدې دسهو وکړي (ب) دحضرت عبدالله بن عمر څخه روايت دئ دهغه سړي په باب چې نه وي ورمعلوم چې درې رکعته کړي دي ياڅلور. وفرمائل لمونځ به راګرزوي تر څو چې ورپه ياد سي .

اَم اَربَعًا وَذالِكَ اَوَّلُ مَاعَرَضَ لَهُ اِستَانَفَ الصَّلوةَ [308](12) فَاِن كَانَ يَعرِضُ لَهُ كَثِيراً بَنيٰ عَلَيٰ غَالِبَ ظَنِّهِ اِن كَانَ لَهُ ظَنٌّ وَاِن لَم يَكُن لَهُ ظَنٌّ بَنيٰ عَلَيٰ اليَقِينِ .

دا اثر موږ پر دې حمل کوو چې اول وار شك ورته پيداسوئ وي نو دسره څخه دي لمونځ وکي،او که بار بار شك ورته پيدا کيږي نو پر ظن غالب دي عمل وکي او پر يقين دي عمل وکي.

لغت : استَانَفَ : دسره څخه دې شروع کي.

[308](12) او که وده ته بار بار شك پيښيږي نو پر غالب ګُمان دي بنآء وکړي.

تشريح : مثلاً په درې رکعته او څلور رکعته کي شك سو او غالب ګُمان ددې وي چې څلور رکعته مي کړي دي نو پر غالب ګُمان څلور رکعته باندي به عمل کوي او سلام به په ګرزوي.او که پر يوه خوا غالب ګُمان نه وي نو درې رکعته يقيني دي نو ځکه درې به بنياد جوړوي او يو رکعت به بل ورسره ضم وي.چې څلور رکعته پوره سي.او سجده سهو به هم کوي.

وجه : په حديث کي ددې ثبوت سته عن ابي سعيدالخدري قال قال رسول الله اذا شَكَّ اَحَدُكُم في صلوته فلم يدر کَم صليٰ ؟ ثلاثاً ام اربعاً ؟ فليطرح الشَّكَّ وليبن عليٰ ما استَيقَنَ ثم يَسجُدَ سجدتين قبل ان يُسَلِّمَ (الف) (مسلم شريف،باب السهوفي الصلوة والسجود ص211 نمبر571 +ابوداؤدشريف،باب اذا شك في الثنتين والثلاث ص154 نمبر1024+بمعناه ترمذي شريف،باب فيمن يشك في الزيادة والنقصان

ص91 نمبر398) په دې حديث کې دئ چې ظن غالب نه وي بلکه پر دواړو خواو شك وي نو پر يقين دي بنآء وکړي. په بل حديث کې دئ چې پر ظن غالب باندې عمل کولائي سي قال عبدالله صليٰ رسولُ الله ... واذا شَكَّ اَحَدُكُم في صلوته فَلَيَتَحَرّ الصَّوَابَ فَلْيُتم عليه ثم يَسجُدَ سجدتين . په يو بل حديث کې دئ فَلَيَنظُر اَحريٰ ذَالكَ للصَّواب (ب) (مسلم شريف،باب من شك في صلوته فلم يدر كم صلي فليطرح الشك الخ ص211 نمبر572) ددې حديث څخه معلوم سوچې غور کول په کار دئ چې څو رکعته کړي دي بيا چې وهره خواته ظن غالب سي پر هغه بايد عمل وکړي.

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل که په تاسو کې ويوه ته په لمانځه کې شك وي او نه وي معلوم چې درې يه کړي دي که څلور رکعته.نو شك دي پرېږدي او پر يقين دي بنآء وکړي بيا دي سجدې وکړي دوې سجدې ددې څخه مخکې چې سلام په وګرزوي (ب) عبدالله بن مسعود وفرمائل چې حضور لمونځ وکړئ ... او وفرمائل که چيرې دتاسو څخه ويوه ته په خپل لمانځه کې شك وي نو بايددئ صحيح تحري وکړي او پر هغه باندې لمونځ پوره کول په کار دئ بيادې دوې سجدې وکړي. په يو بل حديث کې دئ چې کتل په کار دئ چې ودرستګئ(صحيح) ته کومه خبره ور نزدې ده.

(بَابُ صَلوةِ المرِيضِ)

[309](1) اِذَا تَعَذَّرَ عَلَي المرِيضِ القِيَامُ صَليٰ قَاعِداً يَرَكَعُ ويَسجُدُ فَاِن لَم يَستَطِعِ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ اُومِي اِيمَآءً وَجَعَلَ السُّجُودَ اَخفَضَ مِنَ الرُّكُوعِ

[310](2) وَلاَيَرفَعُ اِليٰ وَجهِهِ شَيئاً

(بَابُ صَلوةِ المرِيضِ)

ضروري پام لرنه : وناجوړه ته الله تعالي ګنجائش ورکړئ دئ چې څومره طاقت يه وي هغونه کار دي کوي.نو که په ولاړي لمونځ نه سو کولائي نو په ناستي دې وکي او که په ناستي نه سي کولائي نو په پورتي په اشاره سره دې وکي.خو چې تر څو يه هوش اوحواس کار کوي او په اشاره سره لمونځ کولائي سي نو لمونځ نه ساقطيږي.دليل يه دغه آيت دئ ليس عليٰ الاعميٰ حرجٌ وَّلا عليٰ الاعرج حرجٌ ولاعليٰ المريض حرجٌ (الف) (آيت 17 سورة الفتح 48) ددې آيت څخه ثابت سو چې دخپل قدرت مطابق دي سړئ کار کوي لاَيُكَلّفُ اللهُ نفسًا الاَّوُسعَهَا (آيت 286 سورة البقرة 2) ددې آيت څخه ثابت سو چې الله تعاليٰ د وسعت څخه زيات څوك نه مکلف کوي.

[309](1) پر ناجوړه سړي باندې ولاړه متعذر وي نو په ناستي به لمونځ کوي،رکوع اوسجده به کوي،بيا که چيرې رکوع اوسجده نه سي کولائي نواشاره به کوي اوسجده به زياته تيټوي تر رکوع.

تشريح : کوم څوك چې نه سي ولاړبدلائي نو په ناستي به لمونځ کوي.او په ناستي به رکوع اوسجده کوي.او که رکوع اوسجده هم نه سوه کولائي نو درکوع اوسجدې اشاره به کوي.اودسجدې لپاره به سر زيات تيټوي دليل يه دا حديث دئ عن عمران بن الحصين قال كانت بي بواسير فسالتُ رسولَ الله عن الصَّلوة فقال صَلّ قائماً فان لم تستطع فقاعداً فان لم تستطع فعليٰ جَنبٍ (ب) (بخاري شريف،باب اذا لم يطق قاعداً صليٰ عليٰ جنبٍ ص 150 نمبر1117+ترمذي شريف،باب ماجآء ان صلوةَ القاعدعليٰ النّصف من صلوةالقائم ص85 نمبر372+ابوداؤدشريف، باب اي صلوةالقاعدص144 نمبر952) ددې حديث څخه معلوم سوچې که په ناستي لمونځ نه سوکولائي نو پر اړخ دي پريوزي لمونځ دي وکړي.د رکوع اوسجدې لپاره دي اشاره کوي.او دسجدې لپاره دي تر رکوع زيات سر تيټ کړي ددې دليل دا دئ قال عليٰ كُلّ حالٍ مستلقياًومنحرفًا فاذا

استقبل القبلةَ وكان لايستطيع الأَذالك فيؤمي ايمآءً ويجعل سُجُودَهُ اخفضُ من ركوعه (ج) (مصنف عبدالرزاق، باب صلوة المريض ج2 ص475 نمبر4135) ددي اثر څخه معلوم سو چي دسجدي لپاره دي سر زيات ټيټ کړي.

لـغـت : أُومئُ : اشاره دي وکړي.

[310](2) او خپل مخ ته دي شئ نه پورته کوي چي پر هغه سجده وکي.

حاشيه : (الف) پر راندہ هيڅ حرج نسته،پر ګوډ هيڅ حرج نسته اوپر ناجوړه هيڅ حرج نسته (ب) عمران بن حصين فرمائي چي زه د بواسيرو ناجوړه وم مادحضور څخه دلمانځه په باره کي پوښتنه وکړه نو حضور وفرمائل په ولاړي لمونځ کوه.بياکه چيري طاقت نه لري نو پر اړخ لمونځ کوه (ج) دحضرت قتاده څخه روايت دئ په هر حال کي ستوني ستخ يا دقبلي څخه علاوه په بل حالت کي يې.بس چي کله دقبلي استقبال وکئ او که طاقت نه لرئ مګر ددي نو اشاره وکئ په اشاره کولوسره.اوسجده زيات ټيټ کړئ تر رکوع.

يَسجُدُ عَلَيهِ [311](3) فَإِن لَم يَستَطِعِ القُعُودَ اِستَلقيٰ عَلَيٰ قَفَاهُ وَجَعَلَ رِجلَيهِ إِلَيٰ القِبلَةِ وَأُومِئ بِالرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ [312](4) وَإِن اِضطَجَعَ عَلَيٰ جَنبِهِ وَ وَجَّهَهُ

وجـه : لوړ په اثر کي راغلو چي د رکوع اوسجدي به اشاره کوي نو ځکه لکړه يا يو بل شئ دي ومخ ته نـه را پورته کوي چي پر هغه سجده وکي.دايه منع کړئ دئ.په اثر کي دئ اَنَّ ابن عمرَ کان يقول اذا کان احدُکم مريضاًفلم يستطع سجوداً علي الارض فلا يرفعُ اليٰ وجهه شيئاً وليجعل سُجُودَه رکوعًا وليؤ مي براسه (الف) (مصنف عبدالرزاق،باب المريض ج2 ص475 نمبر4137+سنن للبيهقي،باب الايمآء بالرکوع والسجود اذا عجزعنهما ج2 ص435 نمبر3672،ابواب المريض) پـه دي حـديث کـي دئ اجعل سُجودَكَ اخفضُ من رکوعكَ . ددي حديث او اثر څخه معلوم سوچي ومخ ته دي شيئ نه را پورته کوي بلکـه دسر په اشاره سره دي لمونځ کوي.په رکوع کي دي لږ ټيټوي او په سجده کي دي ډير ټيټوي.

[311](3) که دناستي طاقت نه لري نو پر څټه دي ستوني ستخ پريوزي او دواړي پښې دي وقبله تـه وګـرزوي او درکوع او سجدي اشاره دي کوي.

تـشريـح : ستوني ستخ دي پريوزي پښې دي وقبله ته کړي نو په دي کي يوه فائده داده چي قبله رخ به سي.چي دلمونځ کونکي لپاره دصحت په حالت کي فرض دئ. که څه هم يو کراهيت په کښې دئ هغه دا چي پښې يه وقبلـه ته ګرزولي دي.حضرت مصنف داستقبال قبلي په وجه دا طريقـه افضـله ګڼلـي ده. پـه اثـر کـي راغلـي دي عن ابن عمرَقال يُصلي المريضُ مستلقيًا عليٰ قَفَاهُ تَليَ قَدَمَاهُ القبلةَ (ب) (سنن للبيهقي،باب روي في کيفية الصلوة علي الجنب والاستلقآء وفيه نظر ج2 ص436 نمبر3679)

[312](4) او که پر اړخ پرېواتئ او دده مخ وقبله ته و او اشاره کوي نو هم جائز دئ.

وجـه : (1) په مسئله نمبر1 کي دبخاري حديث تير سو فان لم يستطع فعلي جَنبٍ چي که دناستي طاقت نه وي نو پـه پـر اړخ دي پريـوزي لمـونځ دي وکـړي (2) علي بن ابي طالب عن النَّبيّ قال يُصَلّي المريضُ قائماً ان استطاعَ فان لم يستطع صَليٰ قاعداً فان لم يستطع اَن يَّسجُدَ اَوماَ وجعل سُجودَهُ اخفضَ من رکوعه فان لم يستطع ان يصليَ قاعداً صليٰ عليٰ جنبه الايمنَ مُستقبلَ القبلة فان لم يستطع اَن يُّصليَ عليٰ جنبه الايمن صليٰ مستلقيًا رجله مما يلي القبلةَ (ج) (سنن للبيهقي،باب ماروي في کيفية الصلوة علي الجنب او الاستلقآء ج2 ص306 نمبر3678+دارقطني،باب صلوة المريض ومن رعف في صلوته الخ ج2 ص31 نمبر1690) ددي حـديث څخـه معلوم سوچي پر بنې اړخ دي پريوزي لمونځ دي وکړي.او که چيري دغه رکم نه سو کولائي نو ستوني ستخ دي پريوزي وقبله ته دي پښې وګرزوي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر به ويل كه په تاسوكي يو مريض وي او پر مځكه دسجدي كولوطاقت نـه لـري نـو وخپل مـخ تـه دي يـو شيئ نه را پورته كوي او سجده دي دركوع په ركم كوي او په سر دي اشاره كوي (ب) حضور وفرمائل ناجوړه به پر څټـه سـتوني سـتخ پريوزي لمونځ به كوي.دده دواړي پښي به وقبله ته وي (ج) حضور وفرمائل كه طاقت لري نو په ولاړي به لمونځ كوي.او كه طاقـت نـه درلودئ نو په ناستي به كوي.او كه طاقت نه درلودئ چې سجده وكي نو اشاره به كوي.او سجده به تر ركوع زيات تيټوي.بيا كه طاقت نـه درلودئ چې لمونځ وكي په ناستي نو لمونځ به كوي پر ښي اړخ وقبلې ته مخامخ.بيا كه پر ښي اړخ لمونځ نه سـي كـولائي نـو لمـونځ بـه كوي په پروتي ستوني ستخ.دده پښي به دقبلې پر طرف وي.

اِلىٰ القِبلَةِ وَاُومِئ جَازَ [313](5) فاِن لَم يَستَطِعِ الاِيمَآءَ بِرَاسِهِ اَخَّرَالصَّلوةَ وَلاَيُومِئُ بِعَينَيهِ وَلاَبِقَلبِهِ وَلاِبِحَاجِبَيهِ [314](6) فَاِن قَدَرَ عَلىٰ القِيَامِ وَلَم يَقدِر عَلىٰ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ لَم يَلزِمهُ القِيَامَ وَجَازَ اَن يُصَلِّيَ قَاعِداً يُومِئ اِيمَآءً [315](7) فَاِن صَلّىٰ الصَّحِيحُ بَعضَ صَلوتِهِ قَائِماً ثُمَّ حَدَثَ بِهِ مَرَضٌ اَتَمَّهَا قَاعِداً يَرَكَعُ وَيَسجُدُ وَيُومِئُ اِيمَآءً اِن

فـائـده دامام شافعي په نيبز دغه دئ چې پر ښي اړخ دي پريوزي لمونځ دي وكړي او كه دا نه سي كولائي نـو په پروتي دې وكړي پښي پر قبله مخ.دده دليل دغه دواړه حديثونه دي .

لـغـت اسَتلقَّيٰ : ستوني ستخ پرېوتل ، قَفَا : څټه، وڅه.

[313](5) بيا كه چيري په سر سره داشاري كولو طاقت نه لري نو لمونځ به مؤخر سي. او نه دي اشاره كـوي پـه خپلو سترګو سره او نه په زړه سره او نه په ورځو سره.

تـشريـح كه په سر سره هم داشاري كولو طاقت نه لري نـو لمـونځ ځنـي مـؤخر دئ.عقل او دمـاغ يـه تـر اوسـه موجود دي نو دشريعت خطاب هم پر ده باندي وجود لري.نو ځكه لمونځ پرلازم دئ.خو دادئ چې مؤخر كـوي بـه او لمونځ به كوي.

وجـه دمسئلي نمبر4 دحديث څخه معلوم سو چې په سر به اشاره كوي.او كه په سر سره اشاره نه سي كولائي نـو لمونځ ځني مؤخر دئ.

لـغـت بحَاجبَيه : په دواړو ورځو سره .

[314](6) كه پر ولاړه باندي قدرت لري لـېكن پـر ركـوع اوسـجده قـدرت نـه لـري نـو پـر ده بانـدي ولاړه نـه ده لازمه.او دده لپاره جائز دئ چې په ناستي په اشاره سره لمونځ وكي.

تـشريـح يو سړئ دربدلائي خو سي لېكن دملا(شا) د درد په وجه ركوع او سجده نه سي كولائي نـو پـر ده بانـدي ولاړه نه ده لازمه.دئ دي كښيني د ركوع او سجدې په اشاره سره دي لمونځ وكړي.

وجـه ددې وجه داده چې ولاړه ددې لپاره ده چې ركوع او سجده پـه صـحيح توګـه سـره وكـړي.لېكن چـې ركـوع اوسجده په ګرسره ونه كړه نو ولاړه چې فرض وه هغه به دده څخه ساقطه سي.اوس كه خوښه سي ولاړ دي سي او كه خوښه سي په ناستي دي په اشاره سره لمونځ وكړي.

[315](7) كه چيري جوړ سړي بعض لمونځ په ولاړي وكړئ بيا ده ته ناجوړي پيدا سوه نو هغه به پوره كوي پـه ناستي،ركوع به كوي اوسجده به كوي،اواشاره به كوي كه چيري دركـوع او سـجدې طاقـت نـه درلودئ.يـا بـه پُـن مخي پرېوزي كه دناستي طاقت نه درلودئ.

وجـه (1) په دمسئله نمبر1 كي دبخاري حديث تيرسو چې كه د ولاړي طاقت نه درلودئ نو پـر اړخ دي پريـوزي لمونځ دي وكړي. او دا هم تير سو چې كه ركوع او سجده نه سوه كولائي نو په اشاره به لمونځ كوي (2) پـه آيـت كي تيرسوچې پر ناجوړه باندي هيڅ حرج نسته.پر څومره چې طاقت وي هغونه به كوي.نـو كـه پـه ولاړي لمـونځ كاوئ او دلمانځه په مابين كي دېر ناجوړه سو او په ناستي كښېناستئ نو اَدنيٰ يه پر اَعليٰ بانـدي بنـآء كـړه ځكـه دا جائز دئ.او كه ركوع او سجده نه سوه كولائي نو په اشاره سره به لمونځ كوي .

لَم يَستَطِعِ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ اَو مُستَلقياً اِن لَم يَستَطِعِ القُعُودَ [316](8) وَمَن صَلّيٰ قَاعِداً يَرَكَعُ وَيَسجُدُ لِمَرَضٍ ثُمَّ صَحَّ بَنيٰ عَلىٰ صَلوتِهِ قَائِماً (317)(9) فَاِن صَلّيٰ بَعضَ صَلوتِهِ بِاِيمَآءٍ ثُمَّ قَدَرَ عَلىٰ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ اِستَانَفَ الصَّلوةَ [318](10) وَمَن اُغمِيَ

[316](8) کوم چا چې په ناستي لمونځ وکړئ رکوع اوسجده یه کوله دیو مرض په وجه بیاجوړ سو نو په ولاړي به پر خپل لمونځ باندي بنآء کوي.

وجـه (1) ناسته ګواکه نیمه ولاړه ده نو ځکه که چیري په ناستي رکوع او سجده کوله او پر ولاړه قدرت پیدا کـړئ نو پر هغه به بنآء کوي او دا نور پاته لمونځ به په ولاړي پوره کوي (2) ولاړ خلګ دناسـت سـړي اقتـدآء کـولائي سي لېکن دپروت سړي اقتدآء نه سي کولائي نوددې ځخه هم دا معلوم سو چې ناسته ګواکه نیمـه ولاړه ده.نـو ځکـه پر دغه به بنآء کوي.د سره ځخه دلمونځ کولو ضرورت نسته (3) په حدیث کي ددې ثبوت سته عن عائشةَ ان رسولَ الله كان يُصَلّي جالساً فيقرأُ وهو جالس فاذا بقي من قرائته قَدرَ ما يكونُ ثلثين او اربعين آيةً قام فقرأَ وهو قائم ثم ركع ثم سجد ثم يفعل في الثانية مثل ذالك (الف) (مسلم شريف، باب جوازالنافلة قائماوقاعداص252 نمبر731) په دې حدیث کي حضورپه ناسـتي لمـونځ کـړئ دئ بیاپه آخر کې په ولاړي پرهغه باندي بنآء کړي ده.داحدیث که ځه هم دنوافلو په باب کي دئ لېکن ددې ځخه دا معلومیږي چې دناجوړئ په صورت کي په فرائضوکي هم پر ناستي باندي د ولاړي بنآء کولائي سي.

[317](9) بیا که چیري بعض لمونځ په اشاره سره وکړئ وروسته پـر رکـوع اوسـجده بانـدي قـدرت پیـدا کـئ نـو لمونځ به دسر ځخه کوي.

وجـه (1) اشاره کول بېخي دېر دکمزورئ حالت دئ.پر دې باندي داعلیٰ بنآء نه سي کولائي (2) دغه وجه ده چې دپروت یا په اشاره سره لمونځ کونکي سړي اقتدآء ناست خلګ یا په ولاړي ولاړ خلګ نه سي کولائي.ځکه چې دا دېر اعلیٰ حالت دئ او دا بل دېر ادنیٰ حالت دئ.نو ځکه که په اشاره سـره لمـونځ کـاوئ او پـه دې مـابین کـې پـر رکوع اوسجده باندي قدرت پیدا کئ نو پر دغه باندي بنآء نه سي کولائي بلکه دسره ځخه به لمونځ کـوي (3) دلـوړ حدیث ځخه ثابت سوچې حضور پر ناسته باندي دولاړي بنآء کړي ده.لېکن په اشاره سره لمونځ کولو بانـدي دبنـآء کولو حدیث نسته.نو ځکه داحتیاط تقاضا داده چې پر اشاره کولو باندي باید درکوع اوسجدې کولو بنآء نه وسي.

[318](10) پر کوم چا چې پنځه لمنځه یا دهغه ځخه کم (لږ) بېهوښي راسي نو هغه به قضآء کوي چې کلـه جـوړ سي.او که فوت سوي وي دبېهوښئ په وجه پنځو لمنځو ځخه زیات نو قضآء به نه کوي.

تـشریـح دبېهوښئ په وجه پنځه لمنځونه یا دهغه ځخه کم (لږ) قضآء سوي وي نو دهغه قضـآء بـه راوړي.او کـه ددې ځخه زیات قضآء سوي وي نوقضآء به نه کوي. معاف دئ.

وجـه (1) بېهوښي چې طاري سي نو ګواکه عقل ختم سو نو ځکه دشریعت خطـاب دده ځخـه پورتـه دئ.لـېکن کـه دیوې شپې یوې ورځې ځخه کم (لږ) بېهوښه و نو دا دخوب په درجه کي ده.

حاشیه : (الف) حضور لمونځ کاوئ په ناستي نو قرات به کاوئ په داسي حال کي چې ناست به و.بس چې کله به د ده دقرات ځخه دېرش یا څلوېښت آیتونه پاته و نو ولاړ به سو بیا به قرات کاوئ په ولاړي، بیا به رکوع کوله بیا به سجده کوله،بیا بـه دغـه رکـم پـه دوم رکعت کې کول.

عَلَيهِ خَمسُ صَلواتٍ فَمَا دُونَهَا قَضَاهَا اِذَا صَحَّ وَاِن فَاتَتهُ بِالاِغمَآءِ اَكثَرَ مِن ذَالِكَ لَم يَقضِ .

نو ځکه ددې یوې شپې یوې ورځې لمنځونو به قضآء راوړي.او که دیوې شـپې یـوې ورځـې ځخـه زیـات بېهوښـه ونو دده ځخه خطاب پورته دئ.نو ځکه اوس به ددې قضآء نه کوي (2) دغه رنګـه کـه قضـآء پـر لازمـه سـي نـو حرج به راسي نو لکه ځه رنګه چې دحائضې ځخه لمونځ معاف دئ دغه رنګه به دده ځخه لمـونځ معـاف وي (3) په آثار کي راغلي دي عن عبدالله بن عمر عن نافع قال اغمي علي ابن عمر يوماً وليلةً فلم يقض ما فاته ... وفي حديث آخر ... ان ابن عمر اغمي عليه شهرا فلم يقض مافاته وصلي يومه الذي افاق فيه (الف) (مصنف عبدالرزاق،باب صلوة المريض علي الدَّابَّة وصلوة المغمي عليه ج2 ص479 نمبر4152+4153) ددې دواړو آثار ځخه معلوم سو چې دیوې شپې یوې ورځـې لمنځونـه قضـآء سـوي وي نو قضآء به راوړي او که زیات قضآء سوي وي نو قضآء یه نسته.معاف دي که نه نو حرج لازمیږي.

حاشيه : (الف) پر عبدالله بن عمربانديي يوه شپه يوه ورځ بيهوښي راغله نو چي کوم لمنځونه فوت سوي و دهغو قضآء يه نـه وکړه.پـه يـو بل حديث کي دئ چي پر ابن عمر باندي يوه مياشته بيهوښي راغله نو چي کوم لمنځونه فوت سوي و دهغو قضـآء يـه نـه وکـړه.او دهغـي ورځي قضآء يه وکړه په کومه ورځ چي افاقه ورته سوي وه.

(بَابُ سُجُودِ التِّلاَوَةِ)

[319](1) فِي القُـرآنِ اَربَعَـةَ عَشَـرَ سَـجدَةً فِي آخِـرِ الاَعـرَافِ وَفِي الرَّعـدِ وَفِي النَّحـلِ وَفِي بَـنِي اِسـرَائِيلَ وَمَـريَمَ وَالأُولىٰ فِي الحَـجّ وَالفُرقَـانِ وَالنَّمـلِ وَالاِنشِقَّاقِ وَالعَلَقِ [320](2)

(بَابُ سُجُودِ التِّلاَوَةِ)

ضروري پـام لـرنـه په قرآن کريم کـي څورلس(14) آيتونـه دي چـي دهغـو پـه لوسـتلو سـره سـجده سـهو واجبيږي.ودي ته سجده تلاوت وائي.دسجده تلاوت دواجبېدلو دليل دا دئ عن ابن عباس اَنَّ النبيَّ سَجَدَ بالنَّجم وسجد معه المسلمون والمشركون والجن والانس (الف) (بخاري شريف،باب سجدة النجم ص146 نمبر1071+مسلم شريف،باب سجودالتلاوة ص215 نمبر576) ددي حديث څخه ثابت سوچي د سـجدي د آيـت پـه لوسـتلوسـره سـجده کـول پـه کـار ده.اوکـوم خلـګ چـي واؤري هغو لره هم سجده کول په کار ده.

[319](1) په قـرآن کـريم کـي پرځـورلس(14) آيتوبانـدي سـجدي دي (1) دسـورة اعـراف پـه آخرکـي(2) الرعد(3) النحل(4) بني اسرائيل(5) مريم(6) په سورة الحج کي اوله سجده(7) الفرقان(8) النمل(9) الم تنزيل(10) ص(11) حم السجدة(12) النجم(13)الانشقاق(14)العلق. دغه څورلس(14) آيتونـه دي چـي ددي پـه وينـا سـره پرلوسـتونکي بانـدي سـجده سـهو واجبيږي.داحنافو په نېز په سورة الحج کي چي کومه اوله سجده ده دهغي په لوستلو سره سجده سهو واجبيږي.

وجـه (1) ددي وجه دا اثر دئ عن سعيد بن المسيب والحسن قالا في الحج سجدةٌ واحدةٌ الاولىٰ منها (ب) (مصنف ابن ابي شيبة،باب 215 من قال هي واحدة وهي الاولىٰ ج1 ص373 نمبر4300) (2) عـن ابـن عباس قـال في سورة الحـج الاولىٰ عزيمة والآخرة تعليم وكـان لايسجد فيها (ج) (مصنف عبدالرزاق،باب كم في القرآن من سجدة ص342 نمبر5892) ددي دواړو آثارو څخه معلوم سوچي پـه سورة الحج کي پر اول آيت باندي سجده ده دوم آيت دتعليم لپاره دئ.

فـا ئـد ه دامام مالك په نبز پردواړو ځايوباندي سجده سته دده دليل دا حديث دئ ان عقبة ابن عامر حدثه قال قلت لرسول الله في سورة الحج سجدتان قال نعم ومن لم يسجد هما فلايقراهما (د) (ابوداؤدشريف،باب كم سجدة في القرآن ص206 نمبر1402.باب تفريع ابواب السجود+ترمذي شريف،باب في السجدة في الحج ص128 نمبر578) ددې حديث څخه ثابت سو چې په سورة الحج کې دوې سجدې دي.په دې لحاظ سره به سجدې ټولې پنځلس(15) سي.دغه دامام مالك قول دئ .

[320](2) سجده واجب ده په دغه ځايوکې پر لوستونکي باندي او پر اورېدونکي باندي که څه هم د اورېدلو اراده يه کړې وي او که داورېدلو اراده نه وي کړې.

تـشريـح ددې آيتو په لوستلو سره پر لوستونکي او پر اورېدونکي دواړو باندي سجده واجبيږي.کـه داورېدو نيت کړئ وي که نه وي کړئ.

وجـه (١) دوجوب دليل يه دا اثر دئ عن ابن عباس قال ص ليس من عزائم السجود وقدرايتُ النَّبيَّ

حاشيه :-(الف) حضور سجده وکړه په سورة النجم کې اوحضور سره مسلمانانو،مشرکانو، پيرانانو او انسانانو هم سجده وکړه (ب) سعيدبن المسيب او حسن وفرمائل چې په سورة الحج کې يوه سجده ده.په دې کې اوله سجده (ج) ابن عباس وفرمائل په سورة الحج کې اوله سجده تاکيدي ده او دومه سجده دتعليم لپاره ده.او په دغه کې سجده نه کولـه (د) ماوحضـور تـه وويـل چـې پـه سـورة الحج کې دوې سجدې دي؟ نو حضور وفرمائل هو! اوکوم چا چې دوې سجدې ونه کړې گواکه هغه يه ويلي نه ده.

[320](2) وَالسُّجُودُ وَاجِبٌ فِي هٰذِهِ المَوَاضِعِ عَلَىٰ التَّالِي وَالسَّامِعِ سَوَآءٌ قَصَدَ سِمَاعَ القُرآنِ اَولَمْ يَقصُد

يَسجدُ فيها (الف) (بخاري شريف،باب سجدة ص .ص146 نمبر1069+ابوداؤدشريف،باب السجودفي ص .ص307 نمبر1409+ترمذي شريف،باب ماجآء في السجدة في ص. ص127 نمبر577) ددې حديث څخه معلوم سوچې په سورة ص کې سجده تاکيدي نـه ده.ددې مفهوم مخالف به داوي چې دنورو آيتو سجدې تاکيدي دي او د دغه شـي نـوم وجـوب دئ. نـو ځکـه سـجده تلاوت واجب ده.په يو بل حديث کې هم ودې ته اشـاره سـوې ده عن ابن عمر قال كان النَّبيُّ يَقرأُ السَّجدةَ ونحن عنده فيسجد ونسجد معه فَنَزدَحمُ حتي ما يجد اَحَدُناَ لجبهته موضعاً يَسجُدُ عليه (ب) (بخاري شريف،باب ازدحام النَّاس اذا قَرَاَ الامامُ السَّجدَةَ ص146 نمبر1076+باب ماجآء في سجودالقرآن+ مسلم شريف،باب سجودالتلاوة ص215 نمبر575) ددې حـديث څخـه معلـوميږي چـې سجده واجب ده او پر اورېدونکو باندي هم واجب ده.ځکه خو د اورېدو وروسته به ټولوخلګوسجده کوله.تر دې چې دسجدې لپاره به ځائ نه و. ددې حديث څخه دا هم معلوم سوچې کـه دآيـت سـجده د اورېـدلو اراده نـه وي نـو هـم داورېدلو څخه سجده واجبيږي.ځکه چې په دې کې به دېر خلګ هغه هم وي چې د اورېـدو اراده يـه نـه وه بيـا هـم دوئي سجده وکړه (2) ددې اثر څخه ددې تائيد کيږي عن ابن عمر قال انما السَّجدَةُ علي من سمعها، سعيدبن جبير قال من سمع السـجدةَ فعليـه ان يسـجد (ج) (مصـنف ابـن ابي شـيبة،207،باب مـن قـال السـجدةُ علـي مـن جلـس لهـا ومـن سمعهـاج1 ص367 نمبر4225+4222) ددې اثر څخه معلوم سوچې هرڅوك آيت سجده واوړي پر هغه باندي سجده کـول واجـب ده.کـه داورېدلو اراده وکړي او که نه.

فـا ئـد ه دامام شافعي په نبز سجده تلاوت سـنت ده.دده دليـل دا اثـر دئ عن عمربن الخطاب قرا يوم الجمعة علي المنبربسورة النحل حتي اذا جآء السجدةَ نزل فسجد وسجدالنَّاسُ حتي اذاكانت الجمعةُ القابلةُ قرا بها حتي اذا جآء السجدةَ قال اَيُّها النَّاسُ انما نَمُرُّ بالسجود فمن سجد فقد اصاب ومن لم يسجد فلا اثم عليه ولم يسجد عمر (د) (بخاري شريف،باب من راي ان الله عزوجل لم يوجب السجود ص147 نمبر1077+ابوداؤدشريف،باب السجودفي ص. ص207 نمبر1410+ترمـذي شـريف،باب ماجـآء مـن لم يسـجد فيـه ص127 نمبر576) ددې حديث او اثرڅخه معلوم سوچې سجده تلاوت واجب نـه ده سنت ده.کـه سـجده وکـې ثـواب بـه ورتـه ملاؤسي او که نه وکي نو هيڅ دحرج خبره نه ده.دبعضوحضرات مذهب داهم دئ چې که داورېدوپـه نيـت واوړي خوسجده به کوي اوکه بغيره ارادې واوړېده نوپرده ضروري نه ده.ددوئي دليل دااثر دئ قال سلمانُ ما لهذا غدونا وقال عثمان انما السَّجدةُ علي من استمعها (هـ) (بخاري شريف،باب من راي ان الله عزوجل يوجب السجود ص146 نمبر1077) ددې اثر څخه معلوم سو چې د اورېدو په نيت يه واوړي خو سجده ضروري ده که نه نو نه ده ضروري.

حاشيه : (الف) ابن عباس وفرمائل چي په سورة ص کي تاکيدي سجده نسته بيا يه هم حضور ليدل سوئ دئ چي په دي کي سجده کول (ب) حضور به دسجدې آيت تلاوت کاوئ او مونږ به دده سره ونوحضور به سجده کول او مونږ به هم دده سره سجده کوله نو مونږ به ډير رش جوړ کړئ. تر دي چي دمونږ څخه به بعضو دتندي دلګولو ځاي نه سو موندلائي چي پر هغه دي سجده وکو (ج) سعيد بن جبير فرمائي چي څوك دسجدې آيت واؤري پر هغه دادئ چي سجده وکړي (د) عمربن الخطاب دجمعې په ورځ سورة النحل ووائي تر دې چي دسجدې آيت راغلئ نو لاندي را شوه سو او سجده يه وکړه.اوخلګوهم سجده وکړه چي دا بله جمعه راغله نو هغه يه ووايئ چي دسجدې آيت راغلئ نو يه وويل ائ خلګو ! مونږ پر سجده تېريږو نو چې کوم چا سجده وکړه هغه صحيح کار وکئ او کوم چا چې سجده نه وکړه پر هغه هيڅ ګناه نسته.او حضرت عمر سجده ونه کړه (ه) حضرت سلمان وفرمائل مونږ ددې سجدې لپاره نه راځو. حضرت عثمان وفرمائل سجده پر هغه سړي سته چي سجدې ته غوږ ونيسي وايوري .

[321](3) فَإِذَا تَلاَ الإِمَامُ آيَةَ السَّجدَةِ سَجَدَهَا وَسَجَدَالمامُومُ مَعَهَ [322](4) فَإِن تَلاَ المامُومُ لَم يَلزِمِ الإِمَامَ وَلاَ المامُومَ السُّجُودُ [323](5) وَإِن سَمِعُوا وَهُم فِي الصَّلوةِ آيَةَ سَجدَةٍ مِن رَجُلٍ لَيسَ مَعَهُم فِي الصَّلوةِ لَم يَسجُدُوهَا فِي الصَّلوةِ فَإِن سَجَدُوهَا فِي الصَّلوةِ لَم تَجُز لَهُم وَلَم تُفسِد صَلوتُهُم .

[321](3) بيا که امام دسجدې آيت ولوستئ نو دهغه سجده به کوي او مقتدي به هم دده سره سجده کوي.

وجه (1) مخکي تير سو چي امام ضامن دئ نو ځکه چي پر امام باندي سجده واجب سي نو پر مقتدي به هم واجب وي (2) ددې لپاره دليل دا هم دئ چي په مسئله نمبر2 کي تيرسو كان النَّبِيُّ يَقرأُ السَّجدةَ ونحن عنده فيسجدُ ونسجدُ معه (الف) (بخاري شريف،باب ازدحام الناس ص146 نمبر1076) په دې حديث کي دئ چي حضور سجده کوله او مونږ هم دده په اقتدآء کي سجده کول.

[322](4) بس که مقتدي دسجدې آيت ولوستئ نو نه پر امام لازمه ده او نه پر مقتدي باندي سجده لازمه ده.

وجه (1) مقتدي دامام تابع دئ نو ځکه که مقتدي دسجدې آيت تلاوت کړئ نو ددې په وجه پر امام باندي سجده نه ده لازمه.او چي مقتدي دامام څخه خلاف وکړي سجده نه سي کولائي خو بيا د امام مخالفت لازميږي نو ځکه نه پر امام سجده سته نه پر مقتدي سته (2) دامام ابوحنيفه په نېز خو مقتدي به ګرسره قرات نه کوي.ده چي کوم قرات کړئ دئ هغه يه خلاف قاعده کړئ دئ. نو ځکه پر يوه هم سجده نه ده لازمه .

[323](5) که خلګ پر لمانځه وي او دوئي دسجدې آيت دداسي سړي څخه واؤري چي ددوئي سره په لمانځه کي نه وي شريك نو خلګ دي په لمانځه کي دغه سجده نه کوي.او که چيري په لمانځه کي سجده وکړه نو ودوئي ته کفايت نه کوي.لېکن د دوئي لمونځ نه فاسديږي.

تشريح څه کسانو لمونځ کاوئ.يو بل سړئ چي په دغه لمونځ کي نه و شريك هغه دسجدې آيت تلاوت کړئ او دې لمونځ کونکو خلګو دغه آيت واؤرېدئ نو دې خلګو ته په کار دئ چي اوس دي ددې سجده نه کوي بلکه دلمانځه څخه د فراغت وروسته دي سجده وکړي.لېکن که ده په لمانځه کي سجده وکړه نو لمونځ يه نه فاسديږي.

وجه (1) دغه سجده دلمانځه داعمالو څخه نه ده.ددې سبب دلمانځه د دباندي څخه راغلئ دئ.نو ځکه دغه بايد په لمانځه کي نه سي ادآء.دلمانځه څخه دباندي ادآء کول په کار ده.خوبيا هم که ادآء کړه نو دلمانځه برخلاف کار يه نه دئ کړئ ځکه لمونځ يه نه فاسديږي (2) ددې اثر څخه ددې تائيد معلوميږي عن طاؤسٍ في الرجل سمع السَّجدةَ وهو في الصلوة قال لايسجد (ب) (مصنف ابن ابي شيبة 216 باب يسمع السجدة القرآءة وهو في الصلوة من قال لايسجد ج1 ص374 نمبر4303، په دې باب کي ډير اثرونه دئ،مصنف عبدالرزاق،باب اذا سمعتَ السجدةَ وانت تُصَلّي ج3 ص351 نمبر5941)

حاشيه : (الف) حضور دسجدې آيت لوستئ او مونږ به دده سره موجود و نو ده به سجده کوله او مونږ به هم دده سره سجده کوله (ب) دحضرت طاؤس څخه دهغه سړي په باره کي روايت دئ چي دسجدې آيت يه اورېدلئ وي په داسي حال کي چي دئ په لمانځه کي وي نو يه وفرمائل چي دئ دي اوس سجده نه کوي.

[324](6) وَمَن تَلاَ آيةَ سَجدَةٍ خَارِجَ الصَّلوةِ وَلَمْ يَسجُدهَا حَتّٰى دَخَلَ فِي الصَّلوةِ فَتَلاَهاَ وَسَجَدَ لَهَا اَجزَئَتهُ السَّجدةَ عَنِ التّلاَوَتَينِ [325](7) فَإن تَلَتهاَ فِي غَيرِالصَّلوةِ فَسَجَدَهَاَ ثُمَّ دَخَلَ فِي الصَّلوةِ فَتَلاَهاَ سَجَدَهاَ ثَانياً وَلَمْ تَجْزهُ السَّجدةُ الأُولىٰ [326](8) وَمَن كَرَّرَ تِلاَوَةَ سَجدَةٍ وَّاحِدَةٍ فِي مَجلِسٍ وَّاحِدٍ اَجزَئتهُ سَجدَةً وَّاحِدَةً .

---

[324](6) يوسړي دلمانځه څخه دباندي دسجدې آيت ولوستئ،دهغه لپاره سجده نه وه کړې چې لمونځ يه شروع کئ او په لمانځه کې دوباره بيا هغه آيت ولوستئ نو د دواړو لپاره هغه يوه دلمانځه سجده کفايت کوي په دې شرط چې مجلس نه وي بدل سوئ.

وجه (1) دلمانځه سجده اعلیٰ ده نو ځکه دادنیٰ لپاره کفايت کوي.او مجلس يو دئ نوځکه د لمانځه والا يوه سجده يه کافي ده (2) ديوې سجدې دکفايت لپاره دا اثر دئ عن مجاهدٍ قال اذا قراتَ السَّجدةَ اجزاك ان تسجد بها مرةً ، عن ابراهيمَ في الرَّجُل يَقرأُ السَّجدةَ ثم يُعيدُ قرائتها قالا تجزيها السجدةُ الاولیٰ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة 204،باب الرجل يَقرأُ السَّجدَةَ ثم يُعيدُ قرائتها كيف يصنع ج1 ص365 نمبر4200+4199) ددې اثر څخه معلوم سو چې څو واره د آيت سجده د ويلو څخه کـه مجلس يو وي نو يوه سجده کافي ده.

[325](7) بيا که چيري دسجدې آيت تلاوت کړئ دلمانځه څخه دباندي او دهغه سجده يه وکړه بيا په لمانځه کې داخل سو بيا يه دهغه آيت تلاوت وکئ نو دوم وار دي دهغه سجده وکي،او دده لپاره اوله سجده کفايت نه کوي.

وجه دلمانځه څخه دباندي سجده ادنیٰ ده او په لمانځه کي دننه سجده اعلیٰ ده.نو ځکه ادنیٰ سجده به د اعلیٰ لپاره کفايت ونه کړي.نو په دغه وجه دلمانځه څخه دباندي چې کومه سجده کړي ده هغه به دلمانځه د دننه سجدې لپاره کفايت ونه کړي.په لمانځه کي دننه دسجدې آيت دلوستلو لکبله به بله سجده کوي.

[326](8) که يوچا دسجدې يو آيت په يوه مجلس کي مکرر تلاوت کړئ نو ددې لپاره يوه سجده کفايت کوي.

وجه (1) دقياس تقاضآء خو داده چې دهر آيت لپاره جلا جلا بايد سجده وکړي.لېکن دحرج په وجه به تَدَاخُل کيږي.لېکن په دي کي شرط دادئ چې مجلس يو وي.دومه خبره داده چې ادنیٰ به په اعلیٰ کي داخليږي اعلیٰ به په ادنیٰ کي نه داخليږي.نو اوس په دغه لوړ صورت کي يو آيت سجده څو واره ويلئ دئ نو کـه مجلس يو وي خو تَدَاخُل به راسي او يوه سجده به لازمه سي.او که مجلس بدل سوئ وي نوډيري سجدې بـه لازمـي سـي (2) پـه اثـر کـي راغلـي دي عن ابي عبدالرحمن انه كان يقرأُ السَّجدَةَ فَيَسجُدُ ثم يُعيدُهاَ في مجلسه ذالك مراراً لاَيَسجُدُ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة 204،باب الرجل يقرأُ السَّجدةَ ثم يعيدقرائتهاكيف يصنع،ج1 ص366 نمبر4201) ددې اثر څخه معلوم سوچې که په يوه مجلس کي څو واره آيت سجده ووائي نو تَدَاخُل به کيږي او يوه سجده به لازميږي.

حاشيه : (الف) دحضرت ابراهيم څخه فتويٰ ده چې يو سړئ دسجدې آيت ووائي بيا دهغه وينا مکرر کړي.وفرمائل ددې لپاره اولـه سـجده کفايت کوي (ب) ابو عبدالرحمن به دسجدې آيت لوستئ او سجده به کوله.بيا بـه پـه دغـه مجلس کـي څـو واره راګـرزاوئ او دوم وار يـه سجده نه کوله.

[327](9) وَمَن اَرَادَ السُّجُودَ كَبَّرَ وَلاَيَرفَعُ يَدَيهِ وَسَجَدَ ثُمَّ كَبَّرَ وَرَفَعَ رَا سَهُ وَلاَ تَشَهُّدَ عَلَيه وَلاَسَلاَمَ .

---

[327](9) کوم چا چې دسجده تـلاوت اراده وکـړه نـو تکبيـر دي ووائـي او لاس دي نـه پورتـه کـوي او سـجده دي وکړي.بيا دي تکبير ووائي او سر دي را پورته کړي.پر دي دي تشهد نه وائ او نه دي سلام کوي.

وجه پـه اثـر کـي راغلـي دي عن عبدالله بن مُسلمٍ قال كان ابي اذا قرأَ السَّجدةَ قال اَللّٰهُ اَكبَرُ ثُمَّ سَجَدَ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة 202،باب من قال اذا قرات السَّجدةَ فكبر وسجد ج1 ص364 نمبر4187) ددې اثـر څخـه معلـوم سـوچي صـرف د تکبيـر تحريمي په وينا سره به سجدې ته ځي.تشـهد بـه نـه وائـي ددې لپـاره دغـه اثـر دليـل دئ عن سعيدبن الجبيرانه كان يقرأُ السَّجدةَ فيرفعُ راسه ولايُسَلّمُ،قال كان الحسنُ يقرأُ بنا سُجُودُالقرآن ولايُسَلّمُ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة 201،باب من كان لايسلم من

السجدة ج1 ص364 نمبر4184+4183) ددي اثرځخه معلوم سوچي په سجده تلاوت کـي تشـهد او سـلام نسته.صـرف دتکبير تحريمي په ويلو سره به سجده وکي بيا به تکبير ووائي سر به را پورته کي بس دغه کفايت کوي.

پـــام لـــرنـــه سجده تلاوت دلمانځه حصه(برخه) ده نو ځکه ددي لپاره اودس ضروري دئ. ددي لپاره اثـر دادئ عن ابراهيمَ قال اذا سمعه وهو عليٰ غير وضوءٍ فليتوضَّا ثم ليقرا فَلْيَسجُدَ (ج) (مصنف ابن ابي شيبة 220،باب في الرجل يسجدالسجدةَ وهو علي غيروضوءٍ ج1 ص467)

حاشيه : (الف) عبدالله بن مسلم وائي چي زما پلار به کله دسجدي آيت وايئ نو الله اکبر به وائي بيا به سجده کولـه (ب) سـعيد بـن جبيـر بـه دسجدي آيت لوستئ بيا به سر پورته کاوئ اوسلام به نه کاوئ،حسن به زمـوږ پـه مخکـي دقـرآن سـجده لوسـتل اوسـلام بـه نـه کـاوئ (ج) ابراهيم وويل چي کله دسجدي آيت واوري او په اوداسه سره نه وي نو اودس دي وکي بيا دي ووائي بيادي سجده وکي.

(بَابُ صَلاَةِ المسَافِرِ)

[328](1) اَلسَّفَرُ الَّذي يَتَغَيَّرُ بِهِ الاَحكَامُ اَن يَّقصُدَ الانسَانُ مَوضِعًا بَينَهُ وَبَينَ المقصَدِ

(بَابُ صَلاَةِ المسَافِرِ)

ضـروري پـــام لـــرنـــه چي سړئ پر سفر ولاړ سي وهغه ته مسـافر وائي.دسـفر پـه حالـت کـي دي سـړئ نـيم لمونځ کوي ددي دليل دا حـديث دئ سمع ابن عمر يقولُ صَحبتُ رَسُولَ الله فكان لايزيدُ في السَّفَر عليٰ ركعتين وابَابَكرٍ وعُمَرَ وعُثمانَ كَذَالكَ (الـف) (بخاري شريف،باب من لم يتطوع في السفر دُبُرَالصَّلَوَات ص149 نمبر1102+مسلم شريف،باب صلوة المسافرين وقصرها ص242 نمبر689) ددي حديث څخه معلوم سو چي حضور اوصحابه کرامو په سفرکي تـر دوه رکعتـه زيـات نـه دي کړي.

[328](1) دکوم سفر څخه چي احکام بدليږي هغه دادئ چي انسان دداسي ځائ اراده وکي چـي دده او دده دمقصـد په مابين کي د درو ورځو سفر وي د وُښ په پښه(په تگ) يا دپښو په تگ او معتبر نه دئ په دي کي پـه اوبـو کـي تگ.

تـشريـح دکومه ځائ څخه چي کوم ځائ ته ځي دهغه ځاي سفر به د درو ورځو لاره وي.په ميانه روي سره چي تگ کوي دسهار څخه چي د لمر تر زوال پوري تگ وکي.او د وُښ تگ او د انسان پر پښو تـگ معتبـر دئ.ځکـه چي انسان عموماً په دغه رفتار سره تگ کوي.په دغه وجه شريعت د دوئي چال(رفتار)معتبر کړئ دئ.ددي څخـه په تېز رفتار باندي تگ معتبر نه دئ.ځکه چي شريعت د انسان عمومي حالت معتبر وي.

پـام لـرنـه انسان په عام توګه د ورځي په درميانه تګ سره دسهار تر ماپښين شپارس(16)ميل سفر کولائي سي.نو په دي لحاظ په درو ورځو اته څلوېښت(48)ميل سفر کولائي سي.او داحنافو پـه نېز اتـه څلوېښت ميل پـه دغه حساب سره مشهوره دي.

وجـه (1) د درو ورځو دسفر اعتبار ددي حديث څخه دئ عن ابي سعيد الخدري قال قال رسول الله لايَحِلُّ لامرَاَةٍ تُؤمنُ بالله واليوم الآخر ان تُسَافرَ سَفَراً يكونُ ثلاثةَ اَيَّامٍ فَصَاعداً الاَّ ومعها اَبُوهَا او ابنُهَا او زَوجُهَا او اَخُوهَا او ذُومَحرَمٍ منهَا (ب) (مسلم شريف،باب سفرالمرَاَة مع محرمٍ الىٰ حَجٍّ وغيره ص434.ابواب الحج نمبر1340+بخاري شريف،باب كم اقام النَّبيُّ في حَجَّته ص147،ابواب تقصيرالصلوة نمبر1088) په دي حديث کي چي کوم مسافت په سفر کښلئ دئ هغـه د درو ورځومسـافت دئ.نوځکـه د درو ورځـو پـر مسـافت باندي به دلمانځه دقصرحکم کيږي (2) پر موزه باندي تر درو ورځو پوري مسح کولو څخه هم دا اشاره ملاويږي چي د درو ورځوسفرمُدّت سفر دئ. حديث دا دئ قال اَ تَيتُ عائشةَ اَسئَلُهاَ عن المسح علي الخُفَّين ... فقال جعل رسول الله ثلاثةَ اَيَّامٍ ولَيَاليهنَّ للمسـافر ويومًا وليلـةً للمقيم (ج) (مسـلم شـريف،باب التوقيت في المسـح علي الخفين ص135 نمـبر276+ابوداؤدشـريف،باب التوقيت في المسح ص23 نمبر157) ددي

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر فرمائي چي زه د حضور سره وم ده پـه سفرکي تـردو رکعتوځخـه زيـات نـه کـول. او ابـوبکر،عمر او حضرت عثمان هم دغه رنګه کول (ب) حضور وفرمائل ديوي ښځي لپاره نه دئ حلال چي پر الله او دآخرت پر ورځ ايمان لـري چـي دا سفر وکي داسي سفر چي تر دري ورځي يا دهغه څخه زيات وي مګر دا چـي د دي سره د دي پلار،يـا د دي زوئي،يـا د دي خاونـد،يا د دي وروړ،يا د دي ذي رحم محرم وي (ج) زه حضرت عائشي ته راغلم د مسح علـي الخفين پـه اړه د پوښـتني لپـاره ... حضـرت علـي وفرمائل چي حضور دري ورځي دري شپي دمسافر لپاره او يوه شپه يوه ورځ دمقيم لپاره متعينه کړل.

مَسِيرَةَ ثلثةَ اَيَّامٍ بِسَيرِ الاِبِلِ وَمَشيِ الاَقدَامِ وَلاَ مُعتَبَرَ فِي ذَالِكَ بِالسَّيرِ فِي المآءِ .

حديث څخه معلوميږي چي دسفر به دري ورځي وي.ودغه ته سفر شرعي ويل کيږي (3) ددي اثر څخـه هـم ددي تائيد کيږي كان ابن عمر وابن عباس يقصران ويفطران في اربعة بَرَدٍ وهو ستَّةَ عَشَرَ فَرسَخاً (الف) (بخاري شريف،باب في كم يقصرالصلوةُ ص147 نمبر1086) يو فرسخ دري شـرعي ميـل وي پـه دغـه حسـاب شـپارس فرسـخ اتـه څلوېښـت ميـل سـول. او انګريزي ميل کشنئ وي نو ځکه هغه دوه پنځوس نيم ميل جوړيږي. پـه يـوه ورځ پـه درميانـه تـګ سـره عمومـاً شپارس ميل سفر کېدلائي سي.نو ځکه د درو ورځو اته څلوېښت ميل سول.

پـام لـرنـه اصل د درو ورځو سفر دئ.ميل يه د آسانئ لپاره ميل متعين کړي دئ.

فـائـده د امام شافعي په نېز که د يوې ورځي يوې شپې مسافت وي نو هم قصر کولائي سـي. ددې دليـل دا قـول دئ سَمَّي النَّبيُّ السَّفَرَ يومًا وليلةً سفراً وفيه عن ابي هريرةَ قال قال النَّبيُّ لايَحِلُّ لامرَاَةٍ تؤمن بالله واليوم الآخر ان تُسَافرَ يومًا وليلةً ليس معها حُرمَةٌ (ب) (بخاري شريف،باب في كم تقصيرالصلوة ص148 نمبر1088) ددي حديث څخه معلوم سـو چـي ديـوې شـپې يـوې ورځـي وسفر ته هم سفر ويل کيږي.نو ځکه پر دې باندي هم قصر کېدلائي سي.امام ابوحنيفه د دلائلو په رونا کـي احتيـاط مختاره کړئ دئ.

لـغت مَقصَدٌ : دتګ ځائ، دقصد کولو ځائ. مَسيرٌ : د سير څخه مشتق دئ معني ده سفر کول.

(د فرسخ،ميل او کلو ميټر حساب)

په تېره زمانه کي په عربو کي بَرَدٌ،فَرسَخٌ او غُلوَه رائج(مشهور) و. وروسته شرعي ميل راغلئ او اوس بيا په دنيا کي انګريزي ميل او دکلو ميټر حساب رائج(مشهور) دئ.نو ځکه ددې تفصيل دادئ.

يو بَرَدٌ څلور فَرسَخ وي.او يو فَرسَخ دري شرعي ميل وي.او يو شرعي ميل څلـور زره هتـي يعنـي دوه زره کـزه وي.نو په دي حساب يو بَرَدٌ دولس(12) شرعي ميل سو. يو بَرَدٌ څلور فرسخ وي ددي ذکر دعبـدالله بـن عبـاس پـه اثر کي تير سو. كان ابنُ عمرَ وابن عباسٍ يُقصرَان ويُفطرَان في اربعة بَرَدٍ وهو ستَّةَ عَشَرَ فَرسَخاً (بخاري شريف،باب في كم يُقصر الصلوةَ ص147 نمبر1086) په دي اثر کي دئ چي څلور بَرَد شپارس فرسخ و. يعني يو بَرَد دڅلورو فرسخو و.او څلور بَرَد شپارس فرسخ سو. چي پرهغه باندي عبدالله بن عمر او عبدالله بن عباس دسفر حکم لګاوئ.

او يو فرسخ دري ميل وي.او يو شرعي ميل څلور زره هتي وي. ددې مطلب دا سو چې ميل دوه زره ګزه وي.ددې دليل د درمختار دغه عبارت دئ. اَلفَرسَخُ : ثَلاَ ثَةَ اَميَالٍ وَالميلُ : اَربَعَةَ آلاَف ذراعٍ (ردالمحتار علي درالمختار،باب صلوةالمسافر ج2 ص725) ددې عبارت څخه معلوم سو چې فرسخ دري ميل وي.او يو شرعي ميل دوه زره ګزه وي.نو ودولس(12) فرسخ ته په دري ميل کې ضرب ورکه نو شرعي اته څلوېښت(48) ميل سو.

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر او حضرت ابن عباس دلمانځه قصرکاوئ او دروژې افطار يه کاوئ دځلور بَرَدُ په سفر کې چې شپارس فرسخ جوړيږي (ب) حضور يوه شپه يوه ورځ سفر ګنلئ دئ.لکه څه رنګه چې حضور وفرمائل د يوې ښځې لپاره هم حلال نه دئ چې پر الله او پر ورځ د آخرت ايمان لري چې دا دي ديوي ورځې يوې شپې د مسافت سفر وکې چې ددې سره دي محرم نه وي ور سره .

(دشرعي ميل،انګريزي ميل او کلو ميټر تر منځ فرق)

انګريزي ميل دشرعي ميل څخه 1`1363 کم(کشنئ) وي.ځکه چې انګريزي ميل 1760 ګزه وي. او کلو ميټر دشرعي ميل څخه 828 `1 کم(کشنئ) وي.نو ځکه چې کلو ميټر صرف 1093`69 ګزه وي.اوکلوميټر دانګريزي ميل څخه 6092 `1 فيصدکشنئ وي.په دغه حساب اته څلوېښت(48) شرعي ميل 545 `54 انګريزي ميل جوړيږي. او 782 `87 کلو ميټر جوړيږي. چې پر دغه به دلمانځه دقصرحکم لګول کيږي. په کلکيولېټر باندې حساب وکئ.

(برد،فرسخ،کلوميټر او د ميل حساب په يوه نظر کې)

څوك	څومره	څومره کشنئ
يوشرعي ميل	2000 ګزه	
يوانګريزي ميل	1760 ګزه	1. 1363
يو کيلو ميټر	1093. 69 ګزه	۱. 8288
يو کليو ميټر	د انګريزي ميل څخه کشنئ وي	۶۰۹۲.۱
يوفرسخ	دري (3)	شرعي ميل
يوفرسخ	۴۰۹.۳	انګريزي ميل
يوفرسخ	۴۸۶.۵	کيلو ميټر
يو برد	څلور(4)	فرسخ
يو برد	دولس(12)	شرعي ميل
يو برد	۶۳۵.۱۳	انګريزي ميل
يو برد	۹۳۶.۲۱	کيلو ميټر
16 فرسخ	48	شرعي ميل
16 فرسخ	۵۴. 545	انګريزي ميل
16 فرسخ	782.۸۷	کيلو ميټر

[329](2) وَفَرضُ المسَافِرِ عِندَنَا فِي كُلِّ صَلوةٍ رُبَاعِيَّةٍ رَكعَتَانِ وَلاَيَجُوزُ لَهُ الزِّيَادَةُ عَلَيهَا

[329](2) دمسافر لمونځ زمور په نېز هرځلور رکعتيز لمونځ دوه رکعت کيږي.او پر دغه دوه باندي زياتوب کول جواز نه لري.

وجه (1) په ځو حديثو سره ثابت دئ چي حضور او صحابه کرامو په سفرکي ځلور رکعتيز لمونځ صرف دوه رکعت کړئ دئ.نو ځکه دسفر لمونځ صرف دوه رکعت دئ لهذا ددې ځخه زيات کول جواز نه لري (2) په حديث کي دي عن ابن عباس قال ان الله فَرَضَ الصَّلوةَ عَلىٰ لسَان نَبيّكُم عَلىٰ المسَافر رکعتين وعَلىٰ المقيم اربعًا (الف) (مسلم شريف،کتاب صلوة المسافرين وقصرهاص 241 نمبر687+ ابوداؤد شريف،باب صلوةالمسافر ص176نمبر1198+ بخاري شريف،نمبر1102) ددې حديث ځخه معلوم سوچي په سفر کي فرض لمونځ صرف دوه رکعته دئ.نو ځکه ددې ځخه زيات کول جواز نه لري (3) سَمعتُ انساً يَقُولُ خرجنا مع النَّبيّ من المدينة الىٰ مَكَّةَ فكان يُصَلّي رکعتين رکعتين حتي رجعنا الىٰ المدينة قُلتُ اَقَمتُم بمَكَّةَ شيئًا قال اَقَمنَا بهَا عشراً (ب) (بخاري شريف،باب ماجآء في التَّقصير وکم يقيم حتي يقصر ص147 نمبر1081) ددې حديث ځخه هم معلوم سو چي حضور په سفر کي لمونځ صرف دوه رکعت کاوئ.او په پام لرنه کي يو حديث تيرسو سمع ابن عُمَرَ يَقُولُ صَحبتُ رسولَ الله فكان لايَزيدُ في السَّفَر عليٰ رکعتين وابابکرٍ وعمرَ وعثمانَ کذالك (ج) (بخاري شريف،باب من يتطوع في السَّفر دُبُرَالصَّلوات ص149 نمبر1102) په مسلم شريف کي دئ يَا ابنَ اخي اني صَحبتغ رسولَ الله في السَّفر فلم يَزد عليٰ رکعتين حتي قَبَضَهُ اللهُ وصَحبتُ ابابکرٍ فلم يزد علي رکعتين حتي قبضه اللهُ وصَحبتُ عمرَ فلم يزد عليٰ رکعتين حتي قَبَضَهُ اللهُ ثم صَحبتُ عثمانَ فلم يزد عليٰ رکعتين حتي قَبَضَهُ اللهُ وقد قال اللهُ تعالىٰ لقد کان لکم في رسول الله أُسوَةٌ حَسَنَةٌ (مسلم شريف،کتاب صلوةالمسافرين وقصرها ص242 نمبر689) ددې حديث ځخه هم معلوم سو چي حضور د دو رکعتو ځخه زيات نه کول.نوځکه په سفرکي به صرف دوه رکعت لمونځ کوي.ددې ځخه زياتوب کول جواز نه لري.

فائده دامام شافعي په نېز دوه رکعت کول رخصت دئ يعني که وکړل نو جائز دي لېکن خوځلور رکعت کول عزيمت دئ او افضل دي.دده دليل هغه حديثونه دي چي په هغه کي صحابه کرامو ځلور رکعت لمونځ کړئ دئ. مثلا عن عبدالله قال صَلَّيتُ مع النَّبيّ بمنيٰ رکعتين وابي بکرٍ وعمرَ ومع عثمانَ صدراً من اَمَارَته ثم اَتَمَّهَا (د) (بخاري شريف،باب ماجآء في التقصير ص147 نمبر1082) په دې حديث کي حضرت عثمان په سفرکي اتمام کړئ دئ. چي په نتيجه کي دا معلوميږي چي اتمام کول هم جواز لري. په آيت کي هم ودې ته اشاره موجود ده وَاذَا ضَرَبتُم

حاشيه : (الف) الله لمونځ فرض کړئ دئ دنبي په ژبه سره پر مسافر دوه رکعته پر مقيم ځلور رکعته (ب) دحضرت انس ځخه اورېدلي دي چي ده ويل مور دحضور سره دمدينې ځخه مکې ته راووتلو نو دوه رکعته لمونځ موکاوئ.تر هغو چي مدينې ته واپس راغلو.ما پوښتنه وکړه چي آيا په مکه کي څه وخت ودرېداست؟ حضرت انس وفرمائل هلته لس(10) ورځي ودرېدو (ج) حضرت ابن عمر به ويل زه دحضور سره وم نو ده په سفر کي زياتوب نه کاوئ پر دوه رکعته،او ابوبکر،عمر اوحضرت عثمان هم دغه رنګه کول (د) حضرت عبدالله فرمائي چي ما دحضور سره په منيٰ کي لمونځ وکئ دوه رکعته او دابوبکراو عمر او عثمان د امارت په اوله زمانه کي هم،بيا ده اتمام وکئ يعني په منيٰ کي ځلور رکعته لمونځ وکئ.

[330](3) فَاِن صَلّيٰ اَربَعًا وَقَد قعَدَ فِي الثَّانِيَةِ مِقدَارَ التَّشَهُّدِ اَجزَاَتهُ الرَّكعَتَانِ عَن فَرضِهِ وَكَانَت الأُخرَيَانِ لَهُ نَافِلَةً [331](4) وَاِن لَم يَقعُد فِي الثَّانِيَةِ مِقدَارَ التَّشَهُّدِ فِي الرَّكعَتَينِ الأُولَيَينِ بَطَلَت صَلوتُهُ [332](5) وَمَن خَرَجَ مُسَافِراً صَلّيٰ رَكعَتَينِ اِذَا فَارَقَ بُيُوتَ المِصرِ.

في الارض فَلَيسَ عَلَيكُم جُنَاحٌ اَن تَقصُرُوا منَ الصَّلوة (الف) (آيت 101 سُورَةُ النّسَآء 4) په لمانځه کي قصرکوئ په دي کي څه دحرج خبره نسته. د آيت ځخه معلوميږي چي په قصرکولوکي څه حرج نسته.لېکن که اتمام وکي نو ښه خبره ده.مور دا وايو چي که دا نور دوه رکعت پرېږدي نو دده په نېز هم دهغه قضآء نسته او نه ددې پر پرېښولو څه

ګناه سته.ددې مطلب داسو چې دا نور دوه رکعته په سفر کې دنفل په شان سي.او نفل دفرض سره يو ځائي ادآء کول ښه کار نه دئ.نوځکه دوم رکعت دي نه ورضموي.

[330](3) بيا که مسافر څلور رکعت وکړل او په دوم رکعت کې دتشهد په اندازه ناسته وکړه نو وده ته کفايت کوي د دو رکعتو فرضو څخه.او دا نور دوه به دده لپاره نفل سي.

تشريح مسافر لره په کار و چې دوه رکعت کړي وائي لېکن ده څلور رکعت وکړل نوګواکه د دو رکعتو فرضو سره دوه رکعت نفل هم ضم کړل.نو که چيري د دو رکعتو وروسته دتشهد ناسته ده کړې وه نو ګواکه فرائض ټوله پوره سو او دفرائضو داتمام وروسته ده نفل ورضم کړي دي.نو ځکه اول دوه رکعتونه به فرض سي او آخري دوه رکعت به نفل سي.او سره دکراهيّت به لمونځ صحيح سي.ځکه چې فرض سلام پاته و او دهغه تاخير راغلئ.

اصول د فرضو داتمام وروسته نفل ورضم کړل نو فرض به سره د کراهيت ادآء سي.

[331](4) او که په دوم رکعت کې نه کښېنستئ دتشهد په مقدار د اولو دو رکعتو وروسته نو دده لمونځ به باطل سي.

تشريح د دو رکعتو وروسته آخره ناسته کوم چې پر مسافر باندي فرض وه کول په کار وه.او هغه ده نه وکړل او نور رکعتونه ورضم کړل چې نفل دي نو اول دوه رکعته فرض به فاسد سي نفل به سي.

وجه (1) ځکه چې قعده اخيره فرض وه هغه يه پرېښول او دهغه سره نفل ضم کړل (2) په اثر کې ددې ثبوت سته اَنَّ ابنَ مَسعُودٍ قال من صليٰ في السَّفَر اربعاً اعاد الصَّلوةَ (ب) (مصنف ابن عبدالرزاق،باب من اتم في السفر ج2 ص562 نمبر4466) ددې اثرځخه معلوم سوچې که مسافرځلور رکعته لمونځ وکئ نو لمونځ به راګرزوي (که په تشهد کې نه و کښېنستلئ نو)

[232](5) کوم ځوك چې مسافر دکور څخه راوؤزي نو هغه وخت به دوه رکعت لمونځ شروع کوي چې کله دښار د کورو څخه جلا سي.

تشريح دسفر په نيت دکور څخه راوتلئ دئ لېکن چې تر څو پوري په ښار او په فنائي ښار کې وي نو ګواکه په کور کې دئ. نو ځکه اوس دي قصر نه کوي بلکه چې کوم وخت دښار دکورو څخه دباندي را وؤزي او دلمونځ کولو ضرورت سي نوقصر دي وکړي.

حاشيه : (الف) چې ئئ په مځکه کې سفر وکئ نوپر ئئ څه دحرج خبره نه ده چې ئئ قصر وکئ (ب) عبدالله بن مسعود وفرمائل کوم چا چې په سفر کې څلور رکعته لمونځ وکئ نو لمونځ دي را وګرزوي.

[333](6) وَلاَ يَزَالُ عَليٰ حُكمِ المسَافِرِ حَتّيٰ يَنوِيَ الاِقَامَةَ فِي بَلدَةٍ خَمسَةَ عَشَرَ يَومًا فَصَاعِداً

وجه (1) په حديث کې راغلي دي عن انس بن مَالكٍ قال صَلَّيتُ الظُّهرَ مع رسول الله بالمدينَة اربعًاوالعصر بذي الحلَيفَة رکعتين (الف) (باب يقصر اذاخرج من موضعه ص148 نمبر1089) په دې حديث کې دئ چې ترځو په مدينه کې و نو څلور رکعته لمونځ يه وکئ او چې کله دمدينې څخه دباندي مقام ذُوالحُلَيفَه ته ولاړئ نو دا خو دښار څخه دباندي دئ ځکه دوه رکعت وکړل (2) په اثر کې دئ اَنَّ عَليًّا لمَّا خرج الي البصرة راىٰ خَصًّا فقال لولا هذا الخَصُّ لَصَلَّينَا رکعتين فَقُلتُ مَاخَصًّا؟ قال بَيتٌ من قَصَبٍ (ب) (مصنف عبدالرزاق،باب المسافرمتي يقصر اذا خرج مسافراً ج2 ص529 نمبر4319) دکوفي څخه دباندي دبانس کودئ وې ځکه حضرت علي وفرمائل که ددې کودئ څخه دباندي وتلي وائ نو دوه رکعت لمونځ به مو کولائ لېکن ددې کودئ سره يو. نو ځکه څلور رکعته لمونځ به کوو. ځکه چې تر اوسه په فنائ ښار کې يو.

[333](6) هميشه به دسفر پر حکم وي.تر هغو چې په يو ښار کې دپنځلس(15) ورځو داقامت نيت وکړي يا د زياتو. نو پر ده باندي اتمام لازم دئ. او که ددې څخه دلږ اقامت(وسېدلو) نيت وکئ نو اتمام به نه کوي.

تشريح که هسي په يوه ښار کې د پنځلس(15) ورځو داقامت نيت وکي نوهغه ځائ به وطن اقامت سي نو اوس به دئ د دوه رکعته لمونځ پر ځائ به څلور رکعته کوي او اتمام به کوي.او که په يو ښار کې دپنځلس(15) ورځو

څخه دلږ اقامت نيت وکړئ نو قصر به کوي اتمام به نه کوي.ځکه چي داحنافو په نږ دپنځلس(15) ورځو څخه کم وطن اقامت نه دئ.

وجـه په حديث کي راغلي دي عن ابن عباسٍ قال اقام النَّبِيُّ تسعَةَ عَشَرَ يَقصرُ فَنَحنُ اذَا سَافَرنَا تسعَةَ عَشَرَ قَصَرنَا واذا زدنا اَتَمَنَا (ج) (بخاري شريف،باب ماجآء في التقصير کم يقيم حتي يقصر ص147 نمبر1080+ابوداؤد شريف،باب متيٰ يتم المسافر ص180 نمبر1229) ددې حديث څخه معلوميږي چي حضور په مکه مکرمه کي نولس(19) ورځي قيام کړئ و.دابـوداؤد دحـديث څخـه معلوميږي چي اتلس(18) ورځي قيام کړئ و. او ديوه روايت څخه معلوميږي چي اولس(17) ورځـي قيـام وکـړئ او قصر يه کاوئ.ددې مطلب داسو چي که داولس(17) يا دنولس(19) ورځو څخه کم(لږ) اقامت کاوئ نو قصر به کوي. او دبخاري شريف،مسلم شريف او ابوداؤدشريف د نوروحـديثو څخـه معلـوميږي چـي حضـور پـه مکـه کـي لس(10) ورځي قيام کړئ و. سَمعتُ انساً يَقُولُ خرجنا مع النَّبِيّ من المدينة الىٰ مَكَّةَ فَكَانَ يُصَلّي ركعتين ركعتين حتي رجعنا الىٰ المدينَة قُلتُ اَقَمتُم بمَكَّةَ شَيئًا؟ قال اقمنا عشرا (د) (بخاري شريف،باب ماجآء في التقصير وکم يقيم حتي يقصر ص147 نمبر1081+مسلم شريف،فصل الي متيٰ يقصر

حاشيه : (الف) انس بن مالك فرمائي چي ما دحضور سره دمابښين لمونځ څلور رکعت په مدينه منوره کي ادأء کئ.او دماځيګرلمونځ مـي په ذُوالحُلَيفَه کي دوه رکعت وکئ (ب) حضرت علي چي کله دبصري پر خوا را وواتئ نـو دبـانس څخـه جوړسـوئ کـور يـه وليـدئ نـو يـه وفرمائل که دغه دبانس کور نه وائي نو به ما دوه رکعت لمـونځ کـړئ وائي.مـا وويـل خصّ څـه شـئ دئ؟ ده وويـل دبـانس کـور (ج) ابـن عباس فرمائي چي حضور نولس(19) ورځي قيام وکئ او قصر يه کاوئ.نو که موږ سفر وکو او نولس ورځي قيام وکو نـو قصـر بـه کـو او که زيات وکو نو اتمام به کو (د) حضرت انس فرمائي چي موږ دحضور سره دمديني څخه مکي ته را ووتو نو حضور دوه دوه رکعته لمونځ کاوئ.تر هغو چي مدينې ته واپس راغلو.ما ورته ووېل چي په مکه کي څه ورځي قيام وکـئ ؟ ووېل چـي مـوږ لـس(10) ورځـي قيام وکئ .

فَيَلزمُهُ الاِتمَامُ فَاِن نَوَي الاِقَامَةَ اَقَلَّ مِن ذَالِكَ لَم يُتِمَّ [334](7) وَمَن دَخَلَ وَلَم يَنوِيَ اَن يُّقِيمَ فِيهِ خَمسَةَ عَشَرَ يَومًا وَاِ نَّمَا يَقُولُ غَداً اَخرُجُ اَو بَعدَ غَدٍ اَخرُجُ حَتّٰي

اذا اقام ببلده ص243 نمبر693+ابوداؤدشريف،باب متي يتم المسافر ص180 نمبر1233) ددې حـديث څخـه معلـوم سـوچي کـه دلسو(10) ورځو څخه زيات د اقامت نيت کوي نو اتمام به کوي. لېکن احنافو دمابين قـول اخسـتئ دئ چـي اَوسَـط دئ.يعني چي دپنځلس(15) ورځو داقامت نيت وکي نو به اتمام کوي. او د دوئي دليل دا حديث دئ (1) عن ابن عباسٍ قـال اقـام رسـولُ الله بمَكَّـةَ عَـامَ الفَـتح خَمسَـةَ عَشَـرَةَ يقصرُالصَّـلوةَ (الـف) (ابوداؤدشـريف،باب مـتيٰ يُـتمُّ المسَـافرُ ص180 نمـبر1231+ترمـذي شريف،باب ماجآء في کم تُقصرُالصَّلوةَ ص122 نمبر548) ددې حديث څخه معلوم سو چي دپنځلس(15) ورځـو داقامـت نيـت وکي نو به اتمام کوي (2) ددې په تائيد کي دا اثر هم راغلئ دي قال کان ابن عمر اذا اجمع عليٰ اقامة خمس عشرة سرح ظهره وصـليٰ اربعًـا (ب) (مصـنف ابـن ابي شـيبة 741 باب مـن قـال اذا اجمـع علـي اقامـة خمسـة عشـرة اتم ج2 ص211 نمـبر8217+مصـنف عبدالرزاق،باب الرجل يخرج في وقت الصلوة ج2 ص534 نمبر4348) ددې اثرڅخه معلوم سوچي په وطـن اقامـت جوړبـدلوکي دپنځلس(15) ورځواعتباردئ.

فـا ئـد ه دامام شافعي په نږ که دڅلورو ورځو د اقامت اراده يه وي نو اتمام به کوي.

وجـه (1) لوړ حديث تير سو چي حضور دحج پر موقع په مکه کي لس(10) ورځي قيام کړئ ولېکن پر يوه پلا يه صـرف دري(3) ورځـي قيـام کـړئ و.دپنځمـي شـپږمي او اومـي ذي الحجـه پـه ورځ.او دا نـوري ورځـي پـه منيٰ،مُزدَلفَه او عَرَفَات کي قيام کړئ و.ددې څخه دا نتيجه را وزي چي که پر يوه پلا څلور ورځي په مکه کي قيام وکي نو اتمام به کـوي (2) ددې دليـل دا اثـر دئ عن ابن المسَيّب قال اذا اَقَمتَ بارضٍ اربعًا فَصَلّ اربعًا (ج) (ترمذي شريف،باب ماجآء في کم تقصيرالصلوة ص122 نمبر548+مصنف عبدالرزاق،باب الرجل يخرج في وقت الصلوة ج2 ص534 نمبر4346) ددې اثـر څخه معلوم سو چي که دڅلورو ورځو دقيام نيت وکي نو څلور رکعته لمونځ به کوي.

[334](7) که یو څوك وښار ته داخل سي او په هغه کي دپنځلس(15) ورځو داقامت نیت و نـه کـي صـرف دا یـه ویل سبا وزم یا بل سبا وزم تر دي چي په دغه کي څو کاله تیر سو نو دوه رکعت لمونځ به کوي.

وجـه (1) تر څو چي په یوه ښار کي دپنځلس(15) ورځو دقیام پخه اراده ونه کي تر هغـه وخـت پـوري بـه قصـر کوي. که دا وویل چي نن ځم یا سبا ځم.په دغه رنګه کولو(وینا) کي څو کاله تیر سو بیا هم دئ مسـافر دئ.قصـر به کوي (2) ددي ثبوت دمسئلي نمبر6 په اثر کي دئ قال ابن عمر اذا اجمع علي اقامة خمسٍ وَّعشرين سرح ظَهَرَهُ وصليٰ اربعًا (د) (مصنف ابن ابي شيبة ص343) په دي کي ویل سوي دي چي دپنځلس(15) ورځو وسېدلو پخـه اراده وکـي نـو اتمـام بـه کوي.او که پخه اراده نه وي کي نو قصر به کوي (3) حضور دفتح مکي پر موقع مکه ته تشریف راوړئ

حاشیه : (الف) ابن عباس فرمائي چي حضور په مکه کي دفتح مکي په ورځ پنځلس(15) ورځي قیام وکئ او پـه لمـونځ کـي قصـر کـاوئ (ب) حضرت ابن عمر به ویل چي کله دپنځلس(15) ورځو دقیام پخه اراده وکي او خپله شـا(ملا) سپکه کـي نـو څلـور رکعتـه لمـونځ دي وکي (ج) ابن مسیب وفرمائل که پر یوه مځکه(ځائ) څلور ورځي قیـام وکـي نـو څلـور څلـور رکعتـه لمـونځ دي کـوي (د) ابـن عمـر بـه فرمائل چي کله دپنځلس(15) ورځو دقیام پخه اراده وکي او شا(ملا) سپکه کي نو څلور رکعته لمونځ دي کوي .

بَقِيَ عَليٰ ذَالكَ سِنِينَ صَلّيٰ رَكعَتَينِ [335](8) وَاِذَا دَخَلَ العَسكَرُ اَرضَ الحَربِ فَنَوَوا الاِقَامَةَ خَمسَةَ عَشَرَ يَومًا لَم يُتِمُّوا الصَّلوةَ [336](9) وَاِذَادَخَلَ المسَافرُ فِي صَلوةِ المقِيمِ مَعَ بَقَآءِالوَقتِ اَتَمَّ الصَّلوةَ [337](10) وان دَخَلَ مَعَهُ فِي فَائتَةٍ لَم تَجُزصَلوتُهُ خَلفَهُ

او دپنځلس ورځو دقیام پخه اراده یه نه وکړي نو ځکه نولس(19) ورځي قیام وکئ او قصر یه کـاوي (4) عن جابر

بن عبدالله قال اقام رسولُ الله بتَبُوك عشرين يوماً يَقصُرُالصَّلوةَ (الف) (ابوداؤدشريف،باب اذااقام بارض العدوّيقصر ص181 نمبر1235) وفي حديثٍ آخر اَنَّ ابن عمرَ اقام بآذربيجان ستَّةَ اَشهُرٍ يقصرالصَّلوةَ وكان يُقولُ اذا اَزمَعتَ اقامةً فَاَتمَّ (ب) (مصنف عبدالرزاق،باب الرجل يخرج في وقت الصلوة ج2 ص532 نمبر4339) ددي اثر ځخه معلوم سو چي تر څو یه دپنځلس(15) ورځـو دقیـام پخـه اراده نـه وي تر هغو به قصر کوي. ځکه چي صحابه په آذربیجان کي شپږ میاشتي موجـود و او دقیـام پخـه اراده یـه نـه وه کړي نو قصر یه کاوئ.

[335](8) چي کله د لښکر خلګ د دارالحرب ومځکه ته داخل سي او دپنځلس(15) ورځو دقیام نیت وکـي بیـا بـه هم اتمام نه کوي.

وجـه (1) چي په دارالحرب کي لښکر وي نو دا یقیني خبره ده چي یو وخت شکست خوړلائي سي نو په نتیجه کي به دوئي تیښتي. نو ځکه که دپنځلس ورځو نیت هم وکي خو دا پخه اراده نه سي کېدلائي نـو ځکـه دپـنځلس ورځـو دنیت اعتبار نه سو پاته.لهذا قصر به کوي (2) په مسئله نمبر7 کي دابوداؤدشریف حدیث تیر سـو چـي حضـور پـه تبوك کي و او قصر یه کاوئ.حضرت ابن عمر په آذربیجان (دارالحرب) کي شپږ میاشتي و او قصر یه کاوئ.

[336](9) مسافر د مقیم په لمانځه کي داخل سي د وخت دبقآء سره نو لمونځ به پوره کوي.

وجـه (1) وجه دا ده چي وخت سبب دئ اوهغه باقي پاته دئ نو ځکه د مسافر لمونځ بـه دمقیم امـام پـه وجـه د دو رکعتو څخه څلور رکعته سي.ځکه چي دئ په اقتدآء کـي دامـام مخالفـت نـه سـي کـولائي او مخکـي سـلام نـه سـي ګرزولائي.نوځکه که وخت پاته واودمقیم امام اقتدآءوکي نوځلوررکعته بـه کـوي(2)ددي لپـاره اثرسـته ان ابن عمرکان يُصَلّي وَرَآءَالامام بمنيٰ اربعًافاذاصلي لنفسه صلي ركعتين(ج)(مؤطاامام مالك، باب صلوةالمسافراذاكان اماماوكان ورآءامامٍ ص133+مصنف عبدالرزاق،باب المسافريدخل في صلوةالمقيمين ج2نمبر4381) ددي اثرځخه معلوم سوچي په وخت کي دننه دمقیم په اقتدآء کـي دمسافر لمونځ څلور رکعته ګرزي.

[337](10) او که مسافر دمقیم په اقتدآء کي په فوت سوي لمونځ کي داخـل سـو نـو دمسـافر لمـونځ پـه مقیم پسـي جواز نه لري.

تـشریـح وخت ختم سوئ او لمونځ فوت سوئ دئ.ددي دقضآء پر وخت مسافر دمقیم اقتدآء وکي نو دسـره اقتـدآء نـه صـحیح کیږي.ځکـه چـي پـر مسـافر اوس صـرف دوه رکعتـه لازم دي.ددغـه دبـدلون پـه صـورت کـي دماپښین،ماځیګر او ماخستن لمونځ اوس څلور رکعته نه سي کېدلائي.نو ځکه اوس دمقیم امام په اقتدآء کي لمـونځ

نه سي کولائي.ځکه چي يا خو به پر دوه رکعته سلام په ګرزوي په دې صورت کي دامام مخالفت لازميږي.يا به ځلور رکعته کوي نو به دفرضو سره مزيد نور دوه

حاشيه : (الف) حضور په تبوك كي شل(20) ورځي قيام وكړ او لمونځ يه قصر كاوئ(ځكه چې دقيام پخه اراده يه نه وه كړي) (ب) حضرت ابن عمر په آذربيجان كي شپږ مياشتي قيام وكړ او قصر يه كاوئ. او ويل به چې كله داقامت پخه اراده وكړ نو اتمام كوئ (ج) عبدالله بن عمر په منيٰ كي په امام پسي ځلور ركعته كول.بيا چې كله به په خپله جلا لمونځ كاوئ نو دوه ركعته به كول .

[338](11) واذا صَلّيٰ المسافرُ بالمقيمينَ صَلّيٰ ركعتين وَسَلَّمَ ثُمَّ اَتَمَّ المقيمُونَ صَلوتَهُم وَيَستَحبُّ لَهُ اذا سَلَّمَ اَن يَّقُولَ لهم اَتِمُّوا صَلٰوتَكُم فَانَّا قَومٌ سَفرٌ [339](12) واذا دَخَلَ المسَافرُ مصرَهُ اَتَمَّ الصَّلوةَ وان لم ينو الاقامةَ فيه.

ركعته نفل ګڈوي چي هغه هم جواز نه لري.ځكه چي پر ده باندي فرض په خاص توګه دوه ركعته لازم دي.چي په ځلور ركعته نه سي بدلېدائي.

اصول دوخت په تېرېدو سره دمسافر دلمانځه په ركعتو كي بدلون نه سي را تلائي.

پام لرنه په دغه لوړه مسئله كي په وخت كي دننه بدلون راغلئ و.

[338](11) كه مسافر امام ومقيم ته لمونځ وركي نو دوه ركعت لمونځ دي وكي او سلام دي په وګرزوي.بيا دي مقيم خپل لمونځ پوره كي.او دامام لپاره مستحب دئ چې كله سلام په وګرزوي نو ومقتديانو ته دا ووائي،تاسو خپل لمنځونه پوره كئ ځكه چې موږ مسافر يو،

وجه (1) پر مسافر باندي صرف دوه ركعته لمونځ دئ.نو ځكه هغه به پر دوه ركعته باندي سلام په ګرزوي.او مقتدي مقيم دئ ځكه پر هغه باندي ځلور ركعته دي.نو ځكه دئ به دا پاته دوه ركعته وروسته پوره كوي.مقتدي كله نا كله په هېره سره دامام سره سلام وګرزوي.كه چيري امام دخپل مسافرت اعلان وكئ نو وده ته به ورپه ياد سي.نو ځكه مستحب دئ چې ووائي،موږ مسافر خلګ يو تاسو خپل لمونځ پوره كئ،(2) په حديث كي ددي ثبوت سته عن عمران بن حصين قال غَزَوتُ مع رسول الله وشهدتُ معه الفتحَ فاقام بمكةَ ثمانيَةَ عَشَرَةَ لَيلَةً لاَيُصَلّي الاَّ ركعتين ويَقُولُ يا اهلَ البَلَد صَلُّوا اربعًا فَانَّا قَومٌ سَفرٌ (الف) (ابوداؤدشريف،باب متي يتم المسافر ص189 نمبر1229+مصنف عبدالرزاق،باب مسافر ام مقيمين ج2 ص540 نمبر4369) ددې حديث څخه معلوميږي چې امام به دوه ركعته پوره كوي سلام به په ګرزوي او دا به وائي چې زه مسافر يم مقيم دي خپل خپل لمنځونه پوره كئ.

[339](12) چې مسافر خپل ښار ته داخل سي نو پوره لمونځ به كوي كه څه هم ده په هغه كي داقامت نيت نه وي كړئ.

تشريح مثلاً مسافر خپل وطن اصلي ته واپس راغلئ او يو څو ورځي وروسته بيا پر سفر ځي بيا هم چې ښار يا فنائ ښار ته داخل سي نو پوره لمونځ به كوي. ځكه چې دئ فورًا مقيم سو.

وجه په حديث كي راغلي دي سَمعتُ انسًا يَقُولُ خَرَجنَا مع النَّبيّ من المدينَةَ الىٰ مَكَّةَ فكان يُصَلّي ركعتين ركعتين حتي رَجَعنَا الىٰ المدينَة (ب) (بخاري شريف،باب ماجآء في التقصيروكم يقيم حتي يقصر ص147 نمبر1081+مسلم شريف،فصلٌ الىٰ مَتيٰ يَقصُرُاذا اقام ببلده ص243 نمبر693) په دې حديث كي دئ چې په مدينه كي داخل سو نو ځلور ركعته لمونځ يه وكئ(كه هلته داقامت نيت كړئ وي كه نه)

حاشيه : (الف) عمران بن حصين فرمائي چې ما دحضور سره غزوه وكړه.او زه دده سره په فتح مكه كي موجود وم.نو په مكه كي اتلس(18) ورځي قيام وكئ.لمونځ يه نه كاوئ مګر دوه ركعته او فرمائل ائ ښاروالو تئ ځلوررركعته كوئ،موږ مسافر يو(ب) حضرت انس فرمائي چې موږ دحضورسره دمدينې څخه مكي ته ووتو نودوه ركعته لمونځ موكاوئ ترهغو چې مدينې ته راغلو.

[340](13) ومن كان له وَطَنٌ فَانتَقَلَ عَنهُ وَاستَوطَنَ غَيرَهُ ثُمَّ سَافَرَ فَدَخَلَ وَطَنَهُ الاَوَّلَ لم يُتمُّ الصَّلوةَ [341](14) واذا نَويٰ المسَافرُ اَن يُّقيمَ بمَكَّةَ وَمنيٰ خَمسَةَ عَشَرَ يَوماً لم يُتمُّ الصَّلوةَ [342](15) وَالجَمعُ بَينَ الصَّلوتَين للمُسَافر يَجُوزُ فعلاً وَلاَيَجُوزُ وَقتاً

[340](13) دكوم چا چې وطن وي او دهغه څخه منتقل سوئ وي او بل ځائ په وطن جوړكړئ وي بيا يه سفر وكئ او هغه اول وطن ته داخل سو نو لمونځ به پوره نه كوي.

وجه (1) هغه اول وطن اوس وطن نه سو پاته هغه يو اجنبي ښار سو ځکه چې هغه اول ځای په پرېښوئ او بل ځای په خپل وطن جوړکړئ. نو ځکه که هغه اول وطن ته داخل سي نو پوره لمونځ به کوي (2) په حديث کي راغلي دي چې حضور کله دمکې څخه هجرت وکئ چې کله دوباره راغلئ نو قصر يه وکئ.حديث په مسئله نمبر12 کي تيرسو.

اصول بل ځای وطن اصلي جوړولو څخه اول وطن اصلي باطليږي.

[341](14) که مسافر په مکه او منيٰ کي دېنځلس(15) ورځو داقامت نيت وکئ بيا به هم پوره لمونځ نه کوي.

وجه (1) چې په يوه ښار کي دېنځلس(15) ورځو او شپو نيّت کړئ وي نو به اتمام کوي.دلته په دو ځايو کي يعني په مکه او منيٰ کي دېنځلس(15) ورځو دقيام نيت کړئ دئ پر يوه ځای باندي هم پنځلس(15) ورځي مکملي نه سوې نو ځکه اتمام به نه کوي (2) په اثر کي راغلي دي كان ابن عمر اذا قَدمَ مَكَّةَ فَاَرَادَ اَن يُّقيمَ خَمسَ عَشَرَةَ لَيلَةً سَرَّحَ ظَهرَهُ فَاَتَمَّ الصَّلوةَ (الف) (مصنف ابن عبدالرزاق،باب الرجل يخرج في وقت الصَّلوة ص534 نمبر4343) په دې اثر کي صرف په مکه کي دېنځلس(15) ورځو دقيام نيت کړئ دئ ځکه اتمام يه کړئ دئ (3) عن ابن عمرانه كان يُقيمُ بمَكَّةَ فاذا خرج الىٰ منيٰ قَصَرَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة 737 باب في اهل مكة يقصرون الي منيٰ ج2 ص208 نمبر8183) ددې اثر څخه هم معلوميږي چې که په دو ځايو کي دېنځلس(15) ورځو دقيام نيت کړئ و نو اتمام به نه کوي قصر به کوي.ځکه چې پر يوه ځای پنځلس ورځي نه سوې. په دې حديث کي هم ودې ته اشاره سته عن عبدالله بن عمر قالَ صلَّيتُ مع النَّبيّ بمنيٰ ركعتين وابي بكرٍ وعمرَ ومع عثمانَ صَدراً من اَمارَته ثُمَّ اَتَمَّهَا (ج) (بخاري شريف،باب الصلوة بمنيٰ ص147 نمبر1082+مسلم شريف،نمبر694)

[342](15) دمسافر لپاره دوه لمنځونه يوځای کول جائزدي فعلاً او جائزنه دي د وخت په اعتبار.

تشريح دماپښين لمونځ مؤخر کي او په آخري وخت کي اداءکي اوماځيګر رامخ ته کي اودماځيګر په اول وخت کي ادآء کي.دې ته جمع صوري وائي.مصنف ودې ته فعلاً جمع ويلي ده چې جائز ده.او په حديث سره ثابت ده.او ماځيګردماپښين په وخت کي يا ماپښين دماځيګر په وخت کي په جمع وختي اوحقيقي سره ادآء کولو ته جمع حقيقي وائي چې داحنافو په نېز جواز نه لري.

وجه (1) په آيت کي دئ انَّ الصَّلوةَ كَانَت عَلىٰ المؤمنينَ كتَاباًمَّوقُوتاً (د) (آيت103سُورةُ النّسآء4) په دې آيت کي تاکيد سوئ دئ چې لمونځ دمتعين وخت سره پر مؤمنانو باندي فرض سوئ دئ.

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر چې به مکې ته راتلئ او دېنځلس(15) شپو دقيام اراده به کوله نوځپله شا(ملا) به سپکوله او لمونځ به پوره کاوئ (ب) حضرت ابن عمر به په مکه کي قيام کاوئ.بياچې به کله منيٰ ته واتئ نو قصر به کاوئ (ج) ما دحضور سره په منيٰ کي دوه رکعت لمونځ وکئ،او دابوبکر،عمر او عثمان سره هم دده دامارت په شروع کي،بيا ده اتمام شروع کئ(ځکه چې په مکه کي واده وکئ مقيم سو) (د) يقيناً لمونځ پر مؤمنانو باندي فرض دئ سره د وخته.

[343](16) وَتجُوزُ الصَّلوةُ في سَفينةٍ قَاعداً عَلىٰ كُلّ حَالٍ عند ابي حنيفةَ وعندهما لاَتَجُوزُ

نو ځکه دوخت څخه مخکي کول يا ځنډول جواز نه لري.دحضرت امام اعظم نظر ودغه آيت ته تللئ دئ او احتياط په مختار کړئ دئ (2) دحديث څخه دجمع صوري تائيدمعلوميږي عن انسٍ عن النَّبيّ اذا عَجَلَ عليه السَّفرُ يُؤَخّرُالظُّهرَ الىٰ اَوَّل وقت العصر فَيَجمَعُ بينهما وَيُؤَخّرُالمغربَ حتيٰ يَجمَعُ بينهما وبين العشآء حينَ يَغيبُ الشَّفَقُ (الف) (مسلم شريف،باب جوازالجمع بين الصلوتين في السفر ص245 نمبر704+1627) په بخاري شريف کي راغلي دي عن انسٍ بن مالكٍ قال كان رسولُ الله اذا ارتَحَلَ قَبلَ اَن يَّزيغَ الشَّمسُ اَخَّرَ الظُّهرَ الىٰ وقت العصر ثم نَزَلَ فَجَمَعَ بينهما فاذا زَاغَت الشَّمسُ قبل اَن يَّرتَحلَ صَليٰ الظُّهرَ ثم رَكبَ (ب) (بخاري شريف،باب اذا ارتحل بعدمازاغت الشمس صلي الظهر ثم ركب ص150 نمبر1112) په دې دواړو حديثو کي دئ چې ماپښين په دماځيګر ووخت ته نزدې په ځنډ سره کاوئ.ددې مطلب داسو چې دماپښين لمونځ په په خپل وخت کي کړئ دئ.البته دسفر په وجه داول وخت فضيلت پرې ښوئ په آخري وخت کي ادآء کئ او دهغه وروسته دماځيګرلمونځ په خپل وخت کي په اول وخت کي وکړئ.دغه جمع صوري ده.ددغه بخاري په حديث کي دئ چې ماپښين يه په اول وخت کي ادآء کئ نوصرف دماپښين لمونځ يه ادآء کئ او سپور سو او دماځيګر لمونځ يه ونه کړئ چې جمع حقيقي نه سي را (3) دحضرت عبدالله بن عمر عمل هم دجمع صوري راغلئ دئ چې تفصيل يه په ابوداؤدشريف،باب الجمع بين الصلوتين ص178 نمبر1212 کي موجود دئ.

فـائـده امام شافعي او نور امامان په سفر کي دجمع حقيقي قائل دي. (1) د دوئي دليل دغه لوړ حديثونه پر جمع حقيقي باندي حمل کوي (2) او په حديث کي راغلي دي عن ابن عباسٍ قال كان رسول الله يجمع بين صلوة الظهر والعصر اذا كان عليٰ ظَهر سَريرٍ وَيَجمَعُ بيَنَ المغرب وَالعشَآء (ج) (بخاري شريف،باب الجمع في السفربين المغرب والعشآء ص149 نمبر1107+مسلم شريف،باب جوازالجمع بين الصلوتين في السفرص245 نمبر704+ابوداؤدشريف،باب الجمع بين الصلوتين ص178 نمبر1208) ددي احاديثو څخه معلوم سو چي ماپښين وماځيګر پريوه ځائ او ماښام وماخستن پر يوه ځائ ادآء کول په سفرکي جواز لري.

[343](16) جائز دئ لمونځ په کښتئ کي په ناستي په هر حالت کي دامام ابوحنيفه په نيز او دصاحبين په نيز جواز نه لري مګردعذر په وجه.

تشريح دامام ابوحنيفه په زمانه کي کښتئ دومره ښې نه وي.دتيز حرکت په وجه به دمسافر پر سر چکر راتلئ.نو ګواکه هر وخت دسر دچکراؤيدو ببره وه.نو ځکه ده فرمائل چي که عذر نه وي بيا هم په کښتئ کي په ناستي لمونځ کولائي سي.دده دليل دا اثر دئ صَلّيٰ بنَا اَنَسُ بنُ مالكٍ في السَّفينَة قُعُودًا عَليٰ بَسَاطٍ وَقَصَّرَالصَّلوةَ (د) مصنف عبدالرزاق.باب هل يُصَلّي الرَّجُلُ وهويسوق

حاشيه : (الف) دحضور څخه روايت دئ چي کله به د سفر تلوار وه نو ماپښين به دماځيګر تر اول وخت پوري ځنډاوئ بيا به دواړه جمع کول،او ماښام به ځنډاوئ تر دي چي دئ او ماخستن به سره جمع کول ترهغوچي شفق به غائبي دئ (ب) حضور چي به دلمر پرېوتو څخه مخکي سفرکاوئ نو ماپښين به ترماځيګره ځنډاوئ بيا به راشوه کښدئ او دواړه به جمع کول.اوکه چيري دسفرڅخه مخکي لمر زائل سوئ وائ نو دماپښين لمونځ به کاوئ بيا به سپرښدئ (ج) حضور به دماپښين اوماځيګر لمونځ سره جمع کول چي کله به پر سفر و.اودماښام اوما خستن تر منځ به جمع کول (د) انس بن مالك ومور ته پر چټائي په ناستي لمونځ را کړئ او قصر يه وکئ.

الاَّ بعُذرٍ [344](17) وَمَنَ فَاتَتهُ صَلَوةٌ في السَّفَر قَضَاهَا في الحَضَر ركعتين وَمَن فَاتَتهُ صَلَوةٌ في الحَضَرقَضَاهَا في السَّفَر اَربَعاً [345](١٨) وَالعَاصيُ وَالمطيعُ في السَّفَر في الرُّخصَة سَوَآءٌ .

دَابَّتَهُ ص580 نمبر4546+مصنف ابن ابي شيبة 542 باب من قال صليٰ في السَّفينَة جالسًا ج2 ص69 نمبر6559) ددي اثر څخه معلوم سو چي که عذر نه وي هم په کښتئ کي په ناستي لمونځ کولائي سي.

فـائـده دصاحبين په نيز که عذر وي خو په ناستي لمونځ کولائي سي.که نه نو په ولاړي به لمونځ کوي.ددوئي دليل دا اثردئ عن ابراهيمَ قال تُصَليٰ في السَّفينَة قائمًا فان لم تستطع فقاعداً تَتَّبعُ القبلَةَ حَيثُ مَالَت (الف) (مصنف عبدالرزاق،باب الصلوة في السفينة ج2 ص581 نمبر4552+مصنف ابن ابي شيبة 543 من قال صلي فيها قائما ج2 ص69 نمبر6570) ددي اثر څخه معلوم سو چي که دسړي عذر نه وي نو په کښتئ کي په ولاړي بايد لمونځ وکي.او که دسر دچکر خوف(ببره) وي نوپه ناستي دي لمونځ وکي.نن سبا په کښتئ اوجهاز کي دسر دچکر ببره نسته نو ځکه په ولاړي به لمونځ کوي. چي فرض قيام(ولاړه) فوت نه سي.

[344](17) دکوم چا چي لمونځ فوت سي په سفرکي نو قضآء به کوي هغه په حضر کي دوه رکعته،او دکوم چا چي فوت سي لمونځ په حضر کي نو قضآء به کوي هغه په سفر کي څلور رکعته.

تشريح چي په سفر کي قضآء سوي و نو هغه دوه رکعته و نو ځکه دغه که داقامت په حالت او په حضر کي قضآء کوي نو دوه رکعته به قضآء کوي.او دحضر لمونځ بيا څلور رکعته واجب سوئ و نو ځکه که دسفر په حالت کي دغه قضآء کوي نو به څلور رکعته قضآء کوي.

وجه (1) دوخت دتيرېدو وروسته په رکعتوکي بدلون نه راځي.نو ځکه چي څه رنګه واجب سوي دي هغه رنګه به ادا کوي (2) ددي اثر څخه تائيد کيږي عن الثوري قال من نَسيَ صَلوةً في الحضر فَذَكَرَ في السَّفَر صليٰ اربعاً وان نَسيَ صَلوةً في السَّفَر ذَكَرَ في الحَضَر صَليٰ ركعتين (ب) (مصنف عبدالرزاق،باب من نسي صلوةَ الحضر ج2 ص543 نمبر4388) ددي اثر څخه تائيدمعلوميږي چي دحضر لمونځ په سفر کي څلور رکعته او دسفر لمونځ په حضر کي دوه رکعته کيږي.

[345](18) نافرمان او فرمان بردار په سفرکي درخصت په سلسله کي سره برابر دي.

تشريح کوم رخصت او آسانتيا چي وفرمان بردار ته رسيږي هغه رخصت او آسانتيا ونافرمان ته هم ملاويږي.

وجه په احاديثو کي دسهولت(آسانتيا) په لړ کي دفرمان بردار او نافرمان تر منځ څه فرق نه دئ سوئ.نو لدې کبله ودوارو ته به برابره آسانتيا ملاويږي.

فائده دامام شافعي په نيز ونافرمان مسافر ته دا سهولت نه دئ حاصل.مثلاً دغلا لپاره روان وي نو ودغه سړي ته د دوو رکعتو او دروژي دافطار کولو سهولت(آسانتيا) نه ده حاصله.

وجه دده په نيز معصيت دنعمت سبب نه سي جوړېدلائي. او دغه سفر خو دمعصيت دئ نو ځکه دسهولت سبب نه سي جوړېدلائي.

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمائل لمونځ دي وکي په کښتئ کي په ولاړي.بيا که طاقت نه درلودئ نو په ناستي په کومه خوا چې کښتئ ګرزي هغه رنګه دي دئ وقبله ته متوجه کيږي (ب) حضرت ثوري وفرمائل دچا چې په حضر کي لمونځ هيرسي او په سفر کي ورپه ياد سي نو څلور رکعته لمونځ دي وکي.او که په سفر کي لمونځ هير سي او په حضر کي ورپه ياد سي نو دوه رکعته لمونځ دي وکي.

(بَابُ صَلوة الجُمعَة)

[346](1) لاَ تَصحُّ الجُمعَةُ الاَّ في مصرٍ جَامعٍ او في مُصَلىٰ المصر وَلاَ تَجُوزُ في القُرىٰ

(بَابُ صَلوة الجُمعَة)

ضروري پام لرنه جمعه دښار پر خلګو واجب ده او اول وار جمعه په مدينه کي قائمه سوې ده.ددې ثبوت ددې آيت څخه دئ يَاَيُّهَا الَّذينَ آمَنُوا اذا نُوديَ للصَّلوة من يَّوم الجُمُعَة فَاسعَوا الىٰ ذكرالله وَذَرُوا البَيعَ (الف) (آيت 9 سورة الجمعة 62) ددې آيت څخه جمعه ثابتيږي.

[346] (1) جمعه نه دصحيح مګر دښار په جامع مسجدکي يا دښار په عيدګاه کي.او نه ده جائز په کلي کي.

تشريح جمعه دجَمعيّت څخه مشتق ده ځکه ددې لپاره يوشرط دادئ چې دښار جامع مسجد وي يا دښار فنآء وي.دمصلي څخه عيدګاه يا دښار فنآء مراد ده.د مصرجامع دومه معنىٰ داده چې په لوئي ښار کي،په کلي کي نه.او داحنافو په نيز په کلي کي جمعه جواز نه لري.

وجه (1) دحضرت علي څخه اثر منقول دئ عَن عَليٍّ قال لاَجُمعَةَ وَلاَتَشريقَ الاَّ في مصرٍ جَامعٍ،وكان يَعُدُّ الامصَارَ البَصرَةَ وَالكُوفَةَ وَالمَدينَةَ وَالبَحرَين (ب) (مصنف عبدالرزاق،باب قُرَي الصّغَار ج3 ص167 نمبر5175+ مصنف ابن ابي شيبة 331 من قال لاَجُمعَةَ وَلاَتَشريقَ الاَّ في مصرٍجَامعٍ،ج1 ص439 نمبر5059) ددې اثرڅخه معلوم سو چې په لوئي ښار کي جمعه جائز ده (2) ددې تائيد ددې څخه هم کيږي چې دمدينې په قُربُ وجَوَار کي دِبر کلي و چې وهغو ته عَوَالي ويل کيږي هلته اصحابانو جمعه نه کول.بلکه دهغه ځائ خلګ مدينې ته راتلل او په مسجد نبوي کي لمونځ کاوئ.که چيرې په کلي کي جمعه جائز وائ نو په عَوَالي کي جمعه ولي نه کوله.سخت لمر او ګرمي يه برداشتول خلګ څله مدينې طيبې ته راتلل؟ په حديث کي راغلي دي عن عائشةَ زَوج النَّبيّ قَالَت كَانَ النَّاسُ يَنتَابُونَ الجُمعَةَ من مَنَازلهم وَالعَوَالي فَيَاتُونَ في الغُبَار فَيَصُبُّهُمُ الغُبَارُ وَالعَرَقُ (ج) (بخاري شريف،باب من اين تؤتي الجمعة وعلي من تجب ص123 نمبر902 + ابوداؤدشريف،باب من تجب عليه الجمعة ص158 نمبر1055) ددې اثر څخه معلوم سو چې دعوالي په کلو کي جمعه نه کېدله. صرف دمدينې په ښار کي جمعه کېدله (3) دمدينې طيبې وروسته اول وار په جُوَاثيٰ رنګه قلعو کي دجمعې لمونځ سوئ دئ. په حديث کي راغلي دي عن ابن عَبَّاسٍ قال انَّ اَوَّلَ جُمُعَةٍ جُمعَت بعد جُمعَةٍ في مسجد رسول الله في مسجد عبدالقيس بجُوَاثيٰ من البحرين (د) (بخاري شريف،باب الجمعة في القريٰ وَالمدَن ص122 نمبر892+ ابوداؤدشريف،باب الجمعة في القريٰ ص160 نمبر1048) په دې اثرکي دئ چې دمدينې وروسته اول وار په مسجد عبدالقيس کي جمعه سوې ده چې په بحرين کي و. که په کلي کي جمعه جائز وائي نو دبحرين دفتح څخه مخکي څومره کلي فتح سوي و

حاشيه : (الف) ائ مؤمنانو چي دجمعي په ورځ دلمانځه لپاره اذان وسي نو د الله د ذکر پر خوا په تلوار سره ولاړ سئ او خرڅول و رانيول پرپردئ (ب) حضرت علي وفرمائل جمعه او تشريق نسته مگر په جامع ښار کي (ج) حضرت عائشه فرمائي خلگ دجمعې دادآء کولو لپاره دخپلو کورو څخه او دعوالي څخه په واري واري راتلل نو دوئي په غبار کي را تلل نو دوئي ته غبار(گرد) اوخولي راتلي (د) حضرت ابن عباس فرمائي چي دمسجد رسول دجمعي وروسته تر ټولو اولنئ جمعه چي سوي ده هغه د جُواثيٰ په مسجد عبدالقيس کي سوي ده چي په بحرين کي و.

[347](2) وَلاَ تَجُوزُ اقَامَتُهَا الاَّ للسُّلطَان اَو لمن اَمَرَهُ السُّلطَانُ .

په هغو کي جمعه ولي نه وسوه.ددي څخه معلوميږي چي په ښار کي جمعه جائز ده په کلي کي جواز نه لري.

پـــام لـــرنـــه د جُوَاثيٰ په باره کي راغلي دي چي دا ديوې قلعې نوم دئ او هلته ښار و.

فـــائـــده د امام شافعي او دغه رنگه نورو امامانو په نښ په کلي کي جمعه جـائز ده چيـرې چـي ځلوښت کسـان لمونځ کونکي موجود وي.د دوئي دليل دابوداؤدشـريف دا حـديث دئ عن ابن عَبَّاسٍ قال انَّ اَوَّلَ جُمعَةٍ جُمعَت في الاسلام بَعدَ جُمعَةٍ جُمعَت في مسـجد رسـول الله بالمدينَـة لجُمعَـةٌ جُمعَـت بجُـوَاثيٰ قَريَـةٌ مـن قُـرَيٰ البَحـرَين قـال عثمـانُ قَريَـةٌ مـن قُـرَيٰ عبـدالقيس (الـف) (ابوداؤدشريف،باب الجمعة في القري ص160 نمبر1068) په دې حـديث کـي دئ چـي جُـوَاثيٰ پـه بحـرين کـي ديـو کلـي نـوم دئ.موږ وايو چي کله نا کله ښار ته هم قُرَيٰ ويل کيږي. لکه ومَكَّه مُكَرّمَه ته قرآن قَريَةٌ ويلي دي.د دوئي دليل دا حـديث دئ عن اُمّ عبدالله الدُّوسيَّة قالت سَمعتُ رسولَ الله يقول الجمعةُ واجبَةٌ عليٰ اهل كُلّ قَريَةٍ وان لم يكونوا الاَّ ثَلٰثةٌ وَّرَابعُهُم اَمَامُهُم (ب) (دارقطني،باب الجمعة علي اهل القرية ج2 ص7 نمبر1578) په دې حديث کي دئ چي په کلي کي جمعه واجـب ده (2) عن ابي اُمَامَةَ اَنَّ النَّبيَّ قال عَلَي الخَميس جُمعَةٌ ليس فيمادون ذالك (دار قطني،ذكرالعددفي الجمعة ج2 ص4 نمبر1564+ ابوداؤدشريف،باب الجمعة في القريٰ ص160 نمبر1069) ... مصر جامع وڅه ته وائي؟ تعريف يه پـه دې اثـر کـي دئ قُلتُ لعطآء مَا القَريَةُ الجامعةُ ؟ قال ذاتُ الجماعـة والامـير والقصـاص والـدُّوَر المجتَمعَـة غَيرَالمفتَرقَـة الآخـذُ بَعضُـهَا بـبَعضٍ كَهَيئَـة جَـدّه (ج) (مصـنف عبـدالرزاق،ج3 ص168 نمبر5179) ددې اثر څخه معلوم سو چي لوئي کلئ وهغه ته ويل کيږي چي په هغه کي اميـر وي،قصـاص او حـدود نافذکيږي،او کورونه نزدې نزدې وي،دخپمو والا په شان سره ليري ليـري نـه وي. دښـار دوم تعريـف دادئ سَمعتُ عُمَرَ بن دينَارٍ يَقُولُ اذا كان المسجدُ يَجمَعُ فيه الصَّلوة فَلتُصَلّ فيه الجُمعَةُ (د) (مصنف عبدالرزاق،باب القريٰ الصّغار ج3 ص170 نمبر5184) ددې څخه معلوم سو چي که ټولو کسانو په يوه وار په يوه مسجدکي لمنځونه کول نو په هغه کي جُمعَه جائز ده.

پـــام لـــرنـــه نن سبا په غټو غټو کلو کي دجمعي دجواز فتويٰ ورکول کيږي.

[347](2) او نه ده جائز جُمعَه قائمول مگر دباچا لپاره يا وکوم چا ته چي باچا حکم ورکي.

وجـه (1) ځکه چي دجمعې په لمانځه کي ډيرخلگ وي،دهغو سآمبالول دهر يوه کار نه دئ نو ځکه باچا يـا دباچـا مامور به جمع قائموي (2) په اثر کي ددې ثبوت سته سُئلَ عبدالله بن عمربن الخطاب عن القُريٰ التي بين مَكَّةَ وَالمدينَةَ ماتريٰ في الجمعة قال نعم اذا كان

حاشيه : (الف) حضرت ابن عباس فرمائي چي ترټولو اوله جمعه چـي پـه اسلام کـي سـوي ده دمسـجد رسـول دجمعـي وروسـته هغـه پـه جُوَاثيٰ کي وه.چي دبحرين کي کلو ځخه يو کلئ دئ.او حضرت عثمان فرمائي چـي دعبـدالقيس دکلـو ځخـه يـو کلـئ دئ (ب) حضـور بـه فرمائل چي جمعه واجب ده پر کلي والو باندې،که څه هم نه وي مگر دري کسان او څلورم د دوئي امام وي (ج) ما دعطـآء ځخـه پوښـتنه وکړه چي قريه جامعه وڅه ته وائي ؟ وفرمائل چي دجماعت والا وي،هلته امير وي،قصاص جاري کوي،نزدې نـزدې کورونـه وي ليـري ليري نه وي،دبعضو کورونو دبعضو سره ملاؤ(متصل) وي دجَدّې دښار په ركم (د) عمربن دينار به ويل دارنگه مسجد چي پـه هغـه کـي دجماعت لمونځ کيږي په هغه کي جمعه کولائي سي.

[348](3) ومن شرائطها الوقتُ فَتَصحُّ في وَقت الظُّهر وَلاَ تَصحُّ بَعدَهُ [349](4) ومن شرائطها الخُطبَةُ قَبلَ الصَّلوة يَخطُبُ الامامُ خُطبَتَين يَفصلُ بَينَهُمَا بقَعدَةٍ .

عليهم اَميرٌ فَليَجمَعُ (الف) (سنن للبيهقي،باب العددالذين اذا كانوا في قريةٍ وَجَبَت عليهم الجُمعَةُ ج3 ص254 نمبر5613) عن عمر بن عبدالعزيز ... قالَ لَهُم حينَ فَرَغَ من صَلوته اَنَّ الامَامَ يَجمَعُ حَيثُ كَانَ (ب) (مصنف عبدالرزاق،باب الامام يجمع حيث كان ج3 ص161 نمبر5147+مصنف ابن ابي شيبة،390 باب الامام يكون مسافرا فيمربالموضع ج2 ص476 نمبر5499) په بخاري شريف کي دا جمله هم راغلي ده حَدَّثَنَا ابوخُلدَةَ صَليٰ بنا اَميرٌ الجُمعَةَ (بخاري شريف،باب اذا اشتدالحريوم الجمعة ص124 نمبر906) ددي آثارو څخه معلوم سو چي امير او باچا(بادشاه) دي جمعه قائموي.

پام لرنه په کوم ځائ کي چي امير او باچا نه وي هلته چي مسلمانان سره جمع سي هر يو چي اميرجوړ کړي هغه به جمعه قائموي.

[348](3) دجمعي دشرطو څخه دوخت موجود والئ هم دئ.نو ځکه صحيح ده دماپښين په وخت کي،او نه ده صحيح د وخت څخه وروسته.

تشريح دماپښين په وخت کي جمعه صحيح کيږي.دهغه څخه وروسته نه صحيح کيږي.

وجه په حديث کي دئ عن انس بن مالكٍ اَنَّ رسولَ الله كان يُصَلّي الجُمعَةَ حين تَميلُ الشَّمسَ (ج) (بخاري شريف،باب وقت الجمعة اذا زالت الشَّمسُ ص123 نمبر904+مسلم شريف،باب في وقت صلوةالجمعة ص283 نمبر860) ددي حديث څخه معلوم سوچي د زوال څخه وروسته دجمعي لمونځ کاوئ. او دغه وخت دماپښين وخت دئ نو ځکه جمعه به دماپښين په وخت کي کيږي.که دماپښين وخت تير سي نو بيا جمعه نه کيږي بلکه دماپښين د لمانځه قضآء به کوي. په اثر کي راغلي دي كَانَ الحَجَّاجُ يُؤَخّرُالجُمعَةَ فَكُنتُ اَنَا اُصَلّي وابراهيمُ وسعيدُبنُ جُبَيرٍ فَصَلَّيَا الظُّهرَ ثُمَّ نَتَحَدَّثُ وهو يَخطُبُ ثُمَّ نُصَلّي مَعَهُم ثُمَّ نَجعَلُهَا نَافلَةً (د) (مصنف ابن ابي شيبة،387 الجمعة يؤخرها الامامُ حتي يذهب وقتُها ج1 ص474 نمبر5486) ددي اثر څخه معلوم سو چي که دماپښين وخت ختم سي نو اوس دجمعي لمونځ نه سي کولائي بلکه دماپښين دلمانځه قضآء به کوي.

[349](4) دجمعي دشرطوڅخه دلمانځه څخه مخکي خطبه هم ده،امام به خطبه لولي دوي خطبي،د دواړو په مابين کي به فصل کوي په ناسته سره.

وجه (1) دماپښين لمونځ څلور رکعته دئ او دجمعي لمونځ دوه رکعته دئ نو ځکه د دو رکعتو په مقابله کي دوي خطبي دي.ځکه خطبه دجمعي لپاره شرط ده (2) په حديث کي راغلي دي عن ابن عمر قال كان النَّبيُّ يَخطُبُ قائمًا ثُمَّ يَقعُدُ ثُمَّ يَقُومُ كَمَا يَفعَلُونَ الآنَ (ه) (بخاري شريف،

حاشيه : (الف) دعبدالله بن عمر څخه پوښتنه وسوه دهغه کلو په باره کي کوم چي دمکي او مديني په مابين کي دي چي دجمعي په باب ستا څه رايه ده؟ وفرمائل هو.که چيري پر دوئي باندي امير وي نو دوئي دي دجمعه قائمه کړي (ب) چي دلمانځه څخه فارغ سو نو عمر بن عبدالعزيز وهغو خلګو ته وويل چي امام جمعه قائمولائي سي په هر ځائ کي چي وي (ج) حضور به جمعه کوله چي کوم وخت به لمر ترسر واوښتئ (د) حجاج بن يوسف به جمعه ځنډوله نو ما،ابراهيم اوسعيدبن جبير دواړه و. نو دوئي دواړو دماپښين لمونځ کړئ و بيا به مور خبري کولې.په داسي حال کي چي حجاج به خطبه ويله.بيا مور دده سره لمونځ وکئ او هغه مور نفل وګرزاوئ (ه) حضور به په ولاړي خطبه ويله بيا به کښيناستئ بيا به ولاړيدئ لکه څه رنګه چي نن سبا خلګ کوي.

[350](5) وَيَخطُبُ قَائمًا عليٰ الطَّهَارَة فَان اقتَصَرَ عَليٰ ذكرالله تَعَاليٰ جَازَ عندَ ابي حَنيفَةَ رَحمَهُ الله تَعاليٰ وقالا لاَبُدَّ من ذكرٍ طويلٍ يَسُمُّهُ خُطبَةً [351] (6) فَان خَطَبَ قَاعدًا اَوعَليٰ

باب الخطبة قائما ص125 نمبر920+مسلم شريف،فصل يخطب الخطبتين قائما ص283 كتاب الجمعة نمبر861+ابوداؤدشريف،باب الخطبة قائما ص163 نمبر1094) ددي حديث څخه معلوم سوچي دوي خطبي به وائي او امام به د دواړو په مابين کي کښيني.که خطبه نه وويل نو به د ماپښين لمونځ کوي ددي ثبوت په دغه اثر کي دئ عن مصعب بن عُمَيرٍ قال وبلغنا انه لاَجُمعَةَ الاَّ بخُطبَةٍ فَمَن لم يَخطُب صَليٰ اربعًا (الف) (سنن للبيهقي،باب وجوب الخطبة وانه اذا لم يخطب صلي ظهرا اربعاج3 ص278 نمبر5702) ددي اثر څخه معلوم سوچي که خطبه نه وويل نو به د ماپښين څلور رکعته کوي.

[350](5) خطبه به وائي په ولاړي پر پاکي باندي،بياکه صرف پر ذكرُالله باندي اکتفآء وکړه نو دابوحنيفه په نږجائزده او صاحبين وفرمائل چي يو وُږد ذکر ضروري دئ چي وهغه ته خطبه ويل کېدائي سي.

وجه دخطبي په ولاړي لوستلو(ويلو) دليل لوړ تيرسو.دا حديث هم دئ عن جابر بن سَمُرَةَ اَنَّ رسولَ الله كان يَخطُبُ قائماً ثم يَجلسُ ثم يَقُومُ فَيَخطُبُ قائماً ممن حَدَّثَكَ انه كان يَخطُبُ جَالسًا فقد كَذَبَ (ب) (ابوداؤدشريف،باب الخطبة قائماص163 نمبر1093) ددي څخه معلوم سوچي خطبه په ولاړي ويل په كارده.دخطبي لپاره غُسل كول ښه كار دئ.ځكه چي په حديث كي دغُسل تاكيد سوئ دئ خو بيا هم اودس ضروري دئ.ځكه چي خطبه د دو ركعتولمانځه په مقابله كي ده او دهغه وروسته فوراً(سم دستي)لمونځ كول په كار دئ نو ځكه دخطبي لپاره اودس ضروري دئ.دامام ابوحنيفه په نېز مختصره خطبه هم كفايت كوي. (1) دليل يه دا حديث دئ حَدَّثَنَا شُعَيبُ بن رُزَيق الطَّائفي ... فَقَامَ (رسولُ الله) مُتَوَكِّئاً عَلىٰ عَصَا او قَوسٍ فَحَمدَاللهَ وَاَثنٰي عليه كَلماتٍ خَفيفَاتٍ طَيّبَاتٍ مُبَارَكَاتٍ (ج) (ابوداؤدشريف،باب الرجل يخطب علي قوسٍ ص163 نمبر1096) ددي حديث څخه معلوم سو چي دحضور خطبه به ډېره مختصره وه (2) په اثر كي راغلي دي عن الشَّعبيّ قال يَخطُبُ يَومَ الجُمعَة ماَ قَلَّ او كَثُرَ (د) (مصنف عبدالرزاق،باب وجوب الخطبة ج3 ص222 نمبر5412) ددي اثر څخه معلوم سوچي خطبه لږ وي نو هم كفايت كوي.

فائده صاحبين فرمائي چي دومره وُږده خطبه دي وي چي خطبه ورته ويل كېدائي سي.ځكه چي حضور په عمومي توگه سره دومره وُږده خطبه ويلې ده چي وهغه ته خطبه ويل كېدائي سي.

[351](6) كه چيري په ناستي خطبه وويل يا بغيره دطهارت ولوستل نو جائز ده مگر مكروه ده.

وجه دتيرو حديثو څخه معلوم سوچي خطبه په ولاړي ويل په كار ده لېكن كه په ناستي خطبه وويل نو خطبه خو صحيح سوه لېكن خو بغيره عذر دارنگه كول مكروه دئ

حاشيه : (الف) مَصعَب بن عُمَير فرمائي چي موږ ته دا خبره رسېدلي ده چي جمعه نه صحيح كيږي مگرسره دخطبي.بس كه خطبه نه وويل نو ځلور ركعته دماپښين لمونځ دي وكي (ب) حضور به خطبه ويل په ولاړي بيا به كښېنستئ بيا به ولاړېدئ.نو په ولاړي به خطبه ويل نو كوم چا چي دابيان كړئ دئ چي حضور په ناستي خطبه ويل هغه دروا ويلي دي (ج) حضور پر لكړه باندي تكيه وكړه ودرېدئ يا پر لنده باندي تكيه وكړه ودرېدئ.بيا يه دخدائي پاك تعريف وكئ او څو مختصري،ښې او مباركي كلمي يه وويلې (د) حضور دجمعې په ورځ لږ او ډېره خطبه ويله.

غَير طَهَارَةٍ جَازَ وَيُكرَهُ [352](7) ومن شَرَائطهَا الجَمَاعَةُ وَاَقَلُّهُم عند ابي حَنيفَةَ ثلثةٌ سويٰ الامام وَقَالاَ اثنان سويٰ الامام [353](8) وَيَجهَرُ الامامُ بقرَائَته في الرَّكعتَين وليس فيهما قرَاءَةُ سُورَةٍ بّعَينهاَ [354](9) وَلاَتَجبُ الجُمعَةُ عَلىٰ مُسَافرٍ ولا امرأَةٍ ولا مريضٍ

ځكه چي خطبه په اصل كي ذكر دئ او هغه وسو كه په ولاړي وي كه په ناستي. په ناستي دخطبي ويلو ثبوت په دي اثر كي دئ فَلَمَّا كَانَ مُعَاوِيَةُ استَاذَنَ النَّاسَ في الجلوس في احديٰ الخطبتين وقال اني قدكَبُرتُ وقد اَردتُّ اجلسُ احديٰ الخُطبَتَين فَجَلَسَ في الخطبَة الاولىٰ (الف) (مصنف عبدالرزاق،باب الخطبة قائماًج3 ص188 نمبر5264) ددي اثر څخه معلوم سوچي كه خطبه په ناستي وويل نو خطبه صحيح سوه..... دغه رنگه خطبه په حقيقت كي لمونځ نه دئ بلكه يو ذكر دئ نو ځكه كه بغيره د اودس خطبه وويل نو خطبه صحيح سوه. خو مكروه ده.ځكه چي ذكر بغير د اودس جواز لري. دامخكي په حديث سره ثابت سوي دي.

[352](7) دجمعې دشرطوڅخه جماعت دئ او لږ تر لږه د امام ابوحنيفه په نېز به دري كسان وي دامام څخه علاوه او صاحبين فرمائي چي دوه كسان دي وي دامام څخه علاوه.

وجه دامام ابوحنيفه دليل داحديث دئ عن اُمّ عبدالله الدُّوسيَّةَ قَالَت سَمعتُ رَسُولَ الله يَقُولُ الجُمعَةُ وَاجبَةٌ عَلىٰ اَهل كُلّ قَريَةٍ وان لم يَكُونُوا الاَّ ثَلثَةٌ وَرَابعُهُم امَامُهُم (ب) (دارقطني،باب الجمعة علي اهل قريةٍ ج2 ص7 نمبر1578) ددي حديث څخه معلوم سوچي دامام څخه علاوه دري كسان وي نوجمعه جائزده.

فائده صاحبين د دو كسانودموجودگئ قول ځكه وكئ چي دوه كسان هم جماعت دئ او دريم امام دئ نو جماعت خو پوره سو.

[353](8) امام به په دواړو ركعتو كي قرات په زوره وائي.خو په دي كي يو معلوم سورة لوستل(ويل) ضروري نه دئ.

وجـه په حديث کي راغلي دي قَالَ استَخلَفَ مَروَانُ اَبَاهُرَيرَةَ عَليٰ المدينَة ... قال ابوهريرةُ انّي سَمعتُ رَسُولَ الله يقرَأُ بهمَا يَومَ الجُمعَةَ يعني سُورَةَ الجُمعَةَ وَاذَا جَائَكَ المَنَافقُونَ (ج) (مسلم شريف،فصل في قرآءة سورة الجمعة ... في صلوة الجمعة ص287 نمبر877+مسلم شريف،باب مايقرأ به في الجمعة ص167 نمبر1124) په دې حديث کي دئ چې ما دجمعې په لمانځه کي دغه دواړه سورتونه واؤرېدل ددې مطلب دادئ چې دجمعې په دواړو رکعتو کـي حضـور جهـري قـرات کـاوئ. خـو دادئ چـې کـوم سـورتونه حضور لوستلي دي دهغه سورتو لوستل دجمعې په لمانځه کي ضروري نه دي.صرف مستحب دي.

[354](9) جمعه نه ده واجب پرمسافرباندي،نه پربنـځه باندي،نـه پرنـاجوړه(مريض) باندي،نـه پرکشـني باندي،نـه پرمرئي باندي،نه پر راننده باندي.

حاشيه : (الف) چې کله حضرت معاويه دخلګوځخه د دو خطبوځخه په يوه کي دکښېنستلو په باب اجازت وغوښتئ او وويل چې زه بوډا(کمزوري)سوم او ما اراده کړې ده چې د دوخطبوځخه په يوه کي کښېنم،نو په اوله خطبه کي کښېنستئ (ب) حضـور بـه فرمائـل چـې جمعه واجب ده پر کلي وال باندي که څه هم نه وي هلته مګر دري کسان او څلورم د دوئـي امـام (ج) حضـرت ابـوهريره وفرمائـل چـې ماواؤرېدل حضور سورة الجمعه او سورة المنافقون دجمعې په ورځ لوستل(ويل).

وَلاَ صَبيٍّ وَلاَ عَبدٍ وَلاَ اَعميٰ [355](10) فَان حَضَرُوا وَصَلُّوا مَعَ النَّاس اَجزَاهُم عَن فَرض الوَقت [356](11) وَيَجُوزُ للعَبد وَالمسَافر وَالمريض اَن يَؤُمُّوا في الجُمعَة [357](12) وَمَن صَليٰ الظُّهرَ في مَنزله يَومَ الجُمعَة قَبلَ صَلوة الامَام وَلاَ عُذرَ لَهُ كُرهَ لَهُ ذَالكَ

وجـه په حديث کي راغلي دي عن طارق بن شهابٍ عن النَّبيّ قال الجُمعَةُ حَقٌ وَّاجبٌ عَليٰ كُلّ مُسلمٍ في جَمَاعَةٍ الاَّ اَربَعَةٌ عَبدٌ مَّملُوكٌ او امرَاَةٌ او صَبيٌّ او مَريضٌ (الف) (ابوداؤدشريف،باب الجمعة للمملوك والمرَاة ص160 نمبر1067) پـه دارقطنـي کـي د اَومُسَافرٌ لفظ هم راغلئ دئ (دارقطني،باب من تجب عليه الجمعةُ ج2 ص3 نمبر1560) ددې حـديث څخـه معلـوم سـوچې پـر دغـو مـذکوره و خلګو باندي جمعه نسته.ځکه چې دجمعې لپاره په بعضو وختو کي ليـري تلـل وي چـې پـه هغـه کـي ودې مـذکوره خلګو ته حرج دئ. نابينا(روند) سړي ته هم په تللوکي حرج سته نو ځکه پر هغه باندي هم جمعه نسته.

[355](10) که دغه خلګ حاضرسو او دخلګوسره لمونځ وکئ نو د دوئي لپاره دوختي فرضو څخه کفايت کوي.

تـشريـح پر دغوخلګوباندي جمعه واجب نه ده لېکن کـه دې خلګوجمعـه وکـړه نـو دماپښـين لمـونځ د دوئـي څخـه ساقطيږي.

وجـه ځکه چې که څه هم جمعه پر دوئي نه ده واجب لېکن دماپښين اوجمعې څخه يو پر دوئي باندي واجب دئ.نو لدې وجه څخه که جمعه ادآء کړه نو دماپښين په بدله کي به صحيح سي.دغه اثـر ددوئـي دليـل دئ عن الحسن قال ان جَمَعنَ مع الامام اَجزَاَهُنَّ من صَلوة الامام (ب) (مصنف ابن ابي شيبة،340 المرَاَةُ تشهدالجُمعَةَ اَتُجزئيهاصلوةُالامام ص446 نمبر1556) عَن الظُّهري قال سَاَلتُهُ عَن المسَافر يَمُرُّ بقَريَةٍ فَيَنزلُ فيها يَومَ الجُمعَة قال اذَا سَمعَ الاذانَ فَليَشهَد الجُمعَةَ (ج) (مصنف عبدالرزاق،باب من تجب عليه الجمعةَ ص174 نمبر5205+5173) ددې اثرڅخه معلوم سوچې که دغه خلګ جمعې ته حاضرسي نـو دماپښـين لمـونځ به ادا سي.

[356](11) دمريئ،مسافر او ناجوړه لپاره جائزدئ چې دوئي په جمعه کي امامت وکي.

وجـه دغه خلګ عاقلان بالغان دي او د امامت قابل دي.خو د دوئي سهولت(آسانتيا)لپاره پر دوئي باندې جمعـه نـه ده واجب کړې.لېکن چې مشقت يه برداشت کئ اود جمعې لمانځه له راغلو اودجمعې امامت يه هم وکړئ نوامامت يه صحيح کيږي.خو بنځه او کشنئ(نابالغ) په عامو لمنځو کي د امامت قابل نه دي نو ځکه دجمعـې امامـت هـم نـه سي کولائي.

[357](12)که يوچا د جمعې په ورځ د امام د لمانځه څخه مخکې په خپل کورکي د ماپښين لمونځ وکئ حالانکـه ده څه عذر نه درلودئ نو دغه دده لپاره مکروه دئ.خو د ماپښين لمونځ يه صحيح دئ.

وجـه (1) دمکروه والي وجه داحديث دئ عَن طَارق بن شهَابٍ عَن النَّبيّ قَالَ اَلجُمعَةُ حَقٌ وَّاجبٌ عَليٰ كُلّ مُسلمٍ

في جَمَاعَةٍ (الف) (ابوداؤدشريف،باب الجمعة للمملوك والمرأة ص160 نمبر1067) ددې حديث څخه معلوم سوچې جمعه پرهر مسلمان باندې په شرائطو مذکوره و سره واجب ده.نوځکه که بغیره عذر دماپښین لمونځ د امام(دجمعې)دلمانځه څخه مخکې وکړئ نومکروه دئ (2) دوم حدیث دئ عن ابي

حاشیه:- (الف) حضور وفرمائل جمعه پر هر مسلمان باندې واجب ده په جماعت سره مګر پر ځلور کسانو پر غلام باندې،ښځه،کشني اوپرناجوړه باندې (ب) حسن وفرمائل که چیرې ښځې د امام سره جمعه ادآء کې نو ودوئې ته به کفایت وکې دامام دلمانځه سره (ج) د زُهري څخه نقل سوې دي چې ما د مسافر په باره کې پوښتنه وکړه چې په یو کلي کې تیر سي او دجمعې په ورځ په هغه کې قیام وکې نو وفرمائل چې مسافر اذان واوړي نو جمعې ته دي حاضر سي.

وَجَازَت صَلوتُهُ [358](13) فَان بَدَا لَهُ اَن يَّحضُرَ الجُمعَةَ فَتَوَجَّهَ اَلَيهَا بَطَلَت صَلوةُ الظُّهر عندَ اَبي حَنيفَةَ رحمه الله بالسَّعي اَلَيهَا وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ لاَ تُبطلُ حَتّيٰ يَدخُلَ مَعَ الامَام [359](14) وَيُكرَهُ اَن يُّصَلّي المعذُورُ الظُّهرَ بجَمَاعَةٍ يَومَ الجُمعَة

الجعد الضمري وَكَانَت لَهُ صَحبَةٌ اَنَّ رَسُولَ الله قَالَ مَن تَرَكَ ثَلاَثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا بها طَبَعَ اللهُ عَليٰ قَلبه (ب) (ابوداؤدشريف،باب التشديدفي ترك الجمعة ص158 نمبر1052) ددې حديث څخه هم معلوم سوچې بغیره عذره دري جمعې پرپرديو نو الله پاك دده پر زړه مُهر لګوي.بس په دغه وجه که بغیره عذره دماپښین لمونځ د امام څخه مخکې وکړئ نو مکروه دئ (3) په آیت فَاسعَوا الیٰ ذکرالله کې فَاسعَوا دامر صیغه د وُجُوب لپاره ده.او دوئې بغیره عذره امر پرېښوئې ځکه مکروه دئ.خو البته په اصل کې دماپښین لمونځ فرض دئ نو ځکه دماپښین ادآئیګې صحیح کیږي.

[358](13) بیا که چیرې دده خیال پیدا سو چې جمعې ته حاضرسي. بیا ودې ته متوجه سو نو د امام ابوحنیفه په نېز چې څه رنګه دجمعې پر لوري سعي شروع کړي سم دستي به د ماپښین لمونځ باطل سي. او صاحبین وفرمائل نه باطلیږي تر دې چې دامام سره(په لمانځه کې)داخل سي.

تشریح یوه سړي دامام دلمانځه څخه مخکې دماپښین لمونځ وکړئ بیا دجمعې خیال ورته پیدا سو نو دجمعې پر لوري راروان سو.امام ابوحنیفه فرمائي چې څه رنګه دکوره څخه راووزي نوماپښین به باطل سي.نوکه په جمعه کې شریك سو خودجمعې لمونځ به کوي او که شریك نه سو نو دوباره به بیادماپښین لمونځ کوي.اوصاحبین فرمائي چې کوم وخت دامام سره دجمعې په لمانځه کې شریك سي هغه وخت به دماپښین لمونځ باطلیږي او که شریك نه سو نو د ماپښین لمونځ به پرخپل ځائ صحیح پاته وي.دوباره د ماپښین لمونځ کولوضرورت نسته.

وجه صاحبین فرمائي چې پرده باندې په اصل کې جمعه واجب وه او دئ پر هغه باندې په مکمله توګه قادر سو نو ځکه پر اصل باندې دقدرت په وخت کې فرع باطلیږي.اوکه پر اصل باندې قدرت نه سو پیدا نوترهغو به فرع بحال(پرخپل ځائ) وي.امام ابوحنیفه فرمائي چې دجمعې پرلوري سعي کول ګواکه جمعه موندل دي(جمعې ته رسېدل دي) نو ګواکه پر اصل باندې قدرت پیدا سو ځکه دماپښین لمونځ به باطل سي.

پام لرنه دا مسئله پر جلا جلا اصول باندې بنآء ده.د بُطلاَن وجه دغه آیت دئ چې دآیت فَاسعَوا الیٰ ذکرالله په وجه پر ده باندې وجمعې ته سعي کول واجب وې او هغه ده نه وکړي نو ځکه چې کوم وخت په سعي وکړي د ماپښین لمونځ په باطل سو اونفل سو.

[359](14) مکروه دئ چې معذور سړئ د ماپښین لمونځ دجمعې په ورځ په جماعت سره ادآء کړي دغه رنګه چې قیدیان لمونځ په جماعت سره وکي.

وجه (1) معذور سړئ چې په جماعت سره دماپښین لمونځ کوي نو دجمعې په جماعت کې کمي راځي.ځکه چې مریئ،مسافر،ښځې،کشنئ،ناجوړه،او رانده ته هم کوشش کول پکار دئ چې په جمعه کې شریکان سي.نو ځکه دغه معذوره خلګ دي په ښار کې دماپښین لمونځ په جماعت سره نه کوي.خو دصحرا او د کلي پرخلګو باندې جمعه نه ده واجب

حاشیه : (الف) جمعه حق واجب ده پر هر مسلمان باندې په جماعت سره (ب) حضور وفرمائل کوم چا چې دري(3) جمعې د سُستئ په وجه پرېښولې خدائي پاك دده پر زړه باندې مُهرلګوي.

وَكَذَالكَ اَهلُ السّجن [360](15) وَمَن اَدرَكَ الامَامَ يَومَ الجُمعَة صَلّيٰ مَعَهُ مَا اَدرَكَ وَبَنيٰ عَلَيهَا الجُمعَةَ [361](16) وَان اَدرَكَهُ في التَّشَهُّد اَو في سُجُود السَّهو بَنيٰ عَلَيهَا

او نه هلته د جمعې دلمانځه جماعت سته ځکه دغه خلګ د ماپښين لمونځ په جماعت سره کولائي سي (2) په اثرکي راغلي دي عن الحسن اَنَّهُ کَانَ یَکرَهُ اذَا لم یُدرك قَومٌ الجُمعَةَ اَن یُصَلُّوا الجَمَاعَةَ (الف) (مصنف عبدالرزاق،باب القوم یاتون المسجدیومَ الجمعة بعد انصراف الناس ج3 ص232 نمبر5457) او په مصنف ابن ابي شیبة کي دئ قَالَ عَلیٌّ لاَجَمَاعَةَ یَومَ الجُمعَة الاَّ مَعَ الامام (ب) (مصنف ابن ابي شیبة 374 في القوم یجمعون یوم الجمعة اذا لم یشهدوها ج2 ص466 نمبر539) ددې اثرځخه معلوم سو چې دجمعې په ورځ معذورین باید د ماپښین لمونځ په جماعت سره ونه کړي.

فـائـده دبعضو خلګو په نبز کراهیت نسته. ددوئي دلیل دا اثر دئ فَذَکَرَ زَرُو التَّیمیّ فِي یَوم الجُمعَة ثُمَّ صَلُّوا الجُمعَةَ اَربَعاً فِي مَکَانهم وَکَانُوا خَائفین (مصنف ابن ابي شیبة 374 في القوم یجمعون یوم الجمعة اذا لم یشهدوها ج2 ص466 نمبر5395+ مصنف عبدالرزاق،باب القوم یاتون المسجد یوم الجمعة بعد انصراف الناس ج3 ص231 نمبر5456) ددې اثر ځخه معلوم سو چې معذورین په جماعت سره دماپښین لمونځ وکې نو دومره کراهیّت نه لري. ځکه چې د دوئي په حق کې جمعه ساقطه ده.

لـغت سجنٌ : قیدي .

[360](15) کوم چا چې امام دجمعې په ورځ وموندئ نو د ده سره به لمونځ کوي ځومره چې وموندئ او پر هغه باندي به دجمعې بنآء کوي.

وجـه (1) په حدیث کي راغلي دي عن ابي هُرَیرَةَ عن النَّبِيّ قال اذا سَمعتُم الاقامةَ فَامشُوا الیٰ الصَّلوة وَعَلَیکُمُ السَّکینَةُ وَالوَقَارُ وَلاَ تُسرعُوا فَمَا اَدرَکتُم فَصَلُّوا وَمَافَاتَکُم فَاَتمُّوا (ج) (بخاري شریف،باب لایسعي الیٰ الصَّلوة وَلیَاتهَابالسَّکینَة والوقار ص88 نمبر636) په دې حدیث کې دئ وَمَافَاتَکُم فَاَتمُّوا چې کوم فوت سي هغه پوره کړئ یعني پر اول لمونځ باندې بنآء کئ.نو دجمعې په لمانځه کې به هم دغه رنګه کیږي.دامام سره چې ځومره وموندئ هغه درست دئ او چې ځومره پاتـه سو هغـه بـه دجمعـې پـه توګـه سـره پـوره کـوي (2) پـه حـدیث کـي دئ عن ابي هریرةَ اَنَّ رَسُولَ الله قَالَ مَن اَدرَکَ منَ الجُمعَة رَکعَةً فَلیُضف الیها اُخریٰ (د) (دارقطني باب فیمن یدرك من الجمعة رکعةً اولم یُدرکهَا ج2 ص8 نمبر1579) ددې حدیث ځخه معلوم سو چې د امام سره ځومره وموندئ هغه صحیح دئ دا پاته به پر هغه باندې بنآء کړي او پوره به کړي.

[361](16) که امام په تشهدکي وموندئ یا یه په سجده سهوکي وموندئ نـو پـر دغـه بـه دجمعـې بنـآء کـوي دامـام ابوحنیفه او امام ابویوسف په نبز او امام محمد وفرمائل چې که د امام سره د دوم رکعت اکثره حصـه وموندلـه نـو پر هغه به دجمعې بنآء کوي او که د امام سره لږحصه وموندله نو پر هغه به دماپښین بنآء کوي.

تـشریـح دشیخین په نبز دادئ چې که دسلام ګرزولوځخه مخکې دامام سره یوځائ سو نو دامـام پـه اتبـاع کـي بـه دجمعې لمونځ کوي د ماپښین لمونځ به نه کوي.او دامام محمد په نبز دادئ چې

حاشیه : (الف) دحضرت حسن ځخه نقل سوي دي چې ده به نه خوښول چې قوم جمعه ونه کړي او لمونځ پـه جماعـت سـره وکـړي (ب) حضرت علي وفرمائل جماعت نسته دجمعې په ورځ مګر دامام سره (ج) حضور وفرمائل چـې کلـه تاسـو اقامـت واوْرئ نـو دلمانځـه پـر لوري راسئ او پر تاسو باید سکونت او وقار وي.او په تبزئ سره مه ځئ.او چې کوم وموندئ هغه وکئ او چې کوم فوت سـي هغـه پـوره کړئ (د) حضور وفرمائل ځوك چې په جمعه کې یو رکعت وموندي د هغه سره دي دوم رکعت ورضم کړي.

الجُمعَةَ عندَ ابي حَنیفَةَ وابي یُوسُفَ وقال مُحَمَّدٌ ان اَدرَکَ مَعَهُ اَکثَرَ الرَّکعَة الثَّانیَة بَنیٰ عَلَیهَا الجُمعَةَ وان اَدرَکَ مَعَهُ اَقَلَّهَا بَنیٰ عَلَیهَا الظُّهرَ

[۳۶۲](17) واذَا خَرَجَ الامَامُ یَومَ

که د دوم رکعت اکثره حصه دامام سره وموندل نو بیاخو به جمعه کوي او کـه اکثـره حصـه نـه وي مونـدلي نـو د جمعې لپاره خو جماعت شرط دئ او په اکثره حصه کي وده ته جماعت نه دئ ملاؤ سوئ نو ځکـه اوس بـه جمعـه نه کوي بلکه دماپښین ځلور رکعته به کوي.

وجـه (1) دشیخین دلیل دمسئلې نمبر15 دبخاري حدیث دئ چې ځومره ملاؤسـي هغـه د امـام سـره وکـئ او چـې ځومره فوت سي هغه پر دغه باندې بنآء کئ. نو چې د امام سره دسلام ځخـه مخکـي ملاؤسـي نوهغونـه بـه د امـام سره ادآء کوي او باقیمانده به پر هغه باندې بنآء کوي.که د دوم رکعت دږه برخه ورته ملاؤسوي وي که لږ ورتـه ملاؤسوي وي (2) که دسلام ځخه مخکې دامام سره یوځائ سي نو د ده په اتباع کي به هغه لمونځ کـوي کـوم چـې امام کړئ دئ یعني جمعه (3) په یوحدیث کي راغلـي دي عن ابي هُرَیرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله مَن اَدرَکَ الامَامَ جَالسًا قَبلَ اَن یُسَلّمَ فَقَد اَدرَکَ الصَّلوةَ (الف) (دارقطني،باب فیمن یدرك من الجمعة رَکعَةً اولم یُدرکهَا ج2 ص10 نمبر1589)ددې حدیث ځخه معلوم سـوچې

که دسلام څخه مخکي دامام سره يوځاى سونوګواکه ده جمعه ومونډله.نوځکه اوس به دوه رکعته دجمعي لمونځ کوي.

وجه دامام محمد دليل دمسئلي نمبر15 د دارقطني حديث دئ چي په هغه کي ويل سوي دي چي کوم چا چي دجمعي يو رکعت ومونډئ هغه دي دجمعي دوم رکعت ورضم کړي.نو اکثر رکعت ديوه رکعت قائم مقام دئ نو ځکه که اکثر رکعت ومونډئ نو جمعه به کوي که نه نو د ماپښين لمونځ به کوي. دده دليل دا حديث دئ عن ابي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله مَن اَدرَكَ رَكعَةً منَ الصَّلوة فَقَد اَدرَكَ الصَّلوةَ (ب) (ابوداؤدشريف،باب من ادرك من الجمعة رکعةً ص166 نمبر1121) په دي حديث کي ديوه رکعت د مونډلو ذکر دئ خو بيا به هم دجمعي لمونځ کوي.

[362](17) چي کله امام د جمعي په ورځ دخطبي لپاره راوؤزي نو خلګ دي لمونځ او خبري پريږدي ترهغو چي امام دخطبي څخه فارغ سي او صاحبين فرمائي چي هيڅ دحرج خبره نه ده چي خبري وکړي تر هغو چي امام خطبه نه وي شروع کړي.

تشريح چي امام د خطبي لپاره پر منبر وخيژي(وخيږي) نو خلګ دي هم خبري ختم کي.او لمونځ کول دي هم ختم کي.اوصاحبين فرمائي چي کله امام خطبه شروع کړي نو هغه وخت لمونځ کول يا خبري کول مکروه دي.که ددي څخه مخکي خبري وکي نو څه حرج نسته خو بيا هم خبري نه دي کول په کار.د خبرو د ممانعت دليل دا حديث دئ اَنَّ اَبَاهُرَيرَةَ اَخبَرَهُ اَنَّ رَسُولَ الله قال اذا قُلتَ لصَحبكَ يَومَ الجُمعَة اَنصت والامام يَخطُبُ فَقَد لَغَوتَ (ج) (بخاري شريف،باب الانصات يوم الجمعة والامام يخطب ص127 نمبر934+مسلم شريف،فصل في عدم الثَّواب من تكلَّم والامام يخطب ص281 نمبر851 كتاب الجمعة) د دي حديث څخه معلوم سوچي که خپل ملګري خبري کولي نو وهغه ته دا وينا کول چي ،چُپ سه،هم غلط کار دئ.بايد د ده دخاموش کولو لپاره و ده ته اشاره وسي. او د الامَامُ يَخطُبُ څخه صاحبين استدلال کړئ دئ چي کله امام خطبه وائي نوپه دغه وخت کي خبري کول مکروه دي ددي څخه مخکي دخبرو کولو ګنجائش سته.او دامام ابوحنيفه په نبز پر منبر باندي ناسته هم دخطبي برخه(حصه) ده نو ځکه چي څه رنګه پرمنبر

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل کوم چا چي امام په ناستي ومونډئ دسلام څخه مخکي نو ګواکه لمونځ يه ومونډئ (ب) حضور وفرمائل کوم چاچي دلمانځه څخه يو رکعت ومونډئ نو ګواکه لمونځ يه ومونډئ (ج) حضور وفرمائل دجمعي په ورځ يه وخپل ملګري ته وويل ،چپ سه،او امام خطبه ويل نو دا هم لغو خبره ده.

الجُمعَة تَرَكَ النَّاسُ الصَّلوةَ وَالكَلاَمَ حَتيٰ يَفرُغَ من خُطبَته وَقَالاَ لاَبَاسَ بان يَّتَكَلَّمَ مَالَمَ يَبدَا بالخُطبَة.

باندي کښيني نو فورًا به دخبرو کولو ممانعت راسي.

پام لرنه چي په خپله وامام ته دخبرو کولو ضرورت سي نو دئ د امر او نهي وغيره لپاره خبري کولائي سي ددي دليل دا حديث دئ عن جابرٍ قال لما استويٰ رَسُولُ الله يَومَ الجُمعَة قال اجلسوا فَسَمَعَ ذَالكَ ابنُ مَسعُودٍ فَجَلَسَ عَليٰ بَابِ المسجِدِ فَرَآهُ رَسُولُ الله فَقَالَ تَعَال يَاعَبدَالله بنَ مَسعُودٍ (الف) (ابوداؤدشريف،باب الامام يكلم الرجل في خطبته ص163 نمبر1091) په دي حديث کي حضور دخطبي په دوران کي دعبدالله بن مسعود سره خبري کړي دي او ومخ ته دراتلو وينا يه ورته کړي ده.نو ځکه دضرورت پر وخت امام خبري کولائي سي..... دخطبې پر وخت دلمونځ نه کولو دليل (1) دا آيت دئ اذَا قُرِئَ القُرآنُ فَاستَمِعُوا لَهُ وَاَنصِتُوا لَعَلَّكُم تُرحَمُونَ (ب) (آيت 20 سورةالاعراف) په دي آيت کي دقرآن د لوستلو په وخت کي دخاموشئ او په توجه سره د اوربدلو حکم سوئ دئ او په خطبه کي قرآن ويل کيږي،نو اوس که خلګ لمونځ کوي خو په خپله به قرآن وائي او خاموشي به نه اختيار وي نو په دغه وجه دلمانځه هم ممانعت راغلئ دئ (2) عن اِبنِ عَبَّاسٍ وابنِ عُمَرَ اَنَّهُمَا كَانَا يُكرِهَانِ الصَّلوةَ وَالكَلاَمَ يَومَ الجُمعَةِ بَعدَخُرُوجِ الاِمَامِ (ج) (مصنف ابن ابي شيبة،360 في الكلام اذا صعدالامامُ المِنبَرَ وخطب ج2 ص45 نمبر5297) (3) سَاَ لتُ قَتَادَةَ عَنِ الرَّجُلِ يَاتِي والامامُ يخطب يَومَ الجُمعَةِ ولم يَكُن صَليٰ اَيُصَلّي ؟ فَقَالَ اَمَّا اَنَا فَكُنتُ جَالِسًا (د) (مصنف عبدالرزاق،باب الرجل يجئ والامام يخطب ج3 ص245 نمبر5519) ددي اثر څخه معلوم سوچي دخطبي په دوران کي لمونځ نه دئ کول په کار.

فائده دامام شافعي په نبز دخطبي په دوران کي د دو مختصرو رکعتو کولو ګنجائش سته.دده دليل داحديث دئ سَمِعَ جَابِرٌقَالَ دَخَلَ رَجُلٌ يَومَ الجُمعَةِ وَالنَّبِيُّ يَخطُبُ فَقَالَ اَصَلَّيتَ ؟ قال لاَ. قال ثُمَّ فَصَلِّ رَكعَتَينِ (ه) (بخاري شريف،باب من جآء والامامُ يخطبُ صلي ركعتين خفيفتين ص127 نمبر931) د مسلم شريف او ابوداؤدشريف په روايت کي دارنګه حديث دئ سَمِعتُ جَابِرِبنِ عبدالله اَنَّ النَّبِيَّ خَطَبَ فقال اذا جآء اَحَدُكُم يَومَ الجُمعَةِ وَقَدخَرَجَ الامَامُ فَليُصَلِّ رَكعَتَينِ (و) (مسلم شريف،فصل من دخل المسجد والامام يخطب فليصل ركعتين ص287 نمبر875+2022)ابوداؤدشريف،باب اذا دخل والامام يخطب ص166 نمبر1117) ددي حديث څخه

معلوم سوچي کله امام خطبه وائي او تر اوس ده تَحِيَّةُ المَسجِد يا دجمعې سنت نـه وي کړي نـو د دو رکعتـو کولـو ګنجائش سته. خوبيا هم همېشه داسي عادت جوړول نه دئ په کار.

حاشيه : (الف) حضرت جابر فرمائي چي کله حضور پر منبر کښېنستئ نوحضور وفرمائل کښېنه،داخبره عبدالله بن مسـعود واوربدلـه نـو دئ دمسجدپه دروازه کي کښېنستئ.نوحضور دئ وليدئ نو يه وفرمائل عبدالله بن مسعود دلته راسه (ب) چي کله قرآن وويل سـي نوهغـه اورئ اوخاموش ووسئ. شايد پرتاسورحم وسي (ج) عبدالله بن عمر اوعبدالله ابن عبـاس دجمعـې پـه ورځ دامـام دخطبـي دلوسـتلو لپـاره د راوتلو وروسته لمونځ اوخبري مکروه ګڼلي (د) مادحضرت قتاده څخـه دهغـه سـړي پـه بـاب پوښـتنه وکـړه چـي دجمعـې پـه ورځ د امـام دخطبي پروخت راغلئ وي او تر اوس لمونځ نه وي کړئ. آيا دئ به لمونځ کوي؟ وفرمائل بهرحال زه خوکښېنم(يعني لمونځ نه کوم) (ه) يوسړئ دجمعې په ورځ مسجد ته راغلئ اوحضور خطبه لوستله نوحضور وفرمائل آيا تا لمونځ کړئ دئ؟ هغو وويل نه.حضور وفرمائل ولاړ سه دوه رکعته لمونځ وکه (و) حضور خطبه ويله او وفرمائل چي دتاسو څخـه يـودجمعې پـه ورځ راسـي او امـام دخطبـي لپـاره را وتلئ وي نو دوه رکعته لمونځ کول په کار دئ.

[363](18) وَإِذَا اَذَآنَ المؤَذِّنُونَ يَومَ الجُمعَةِ الاَذَانَ الاَوَّلَ تَرَكَ النَّاسُ البَيعَ وَالشِّرَآءَوَتَوَجَّهُوا اِلىٰ الجُمعَةِ[364](19)فَاِذَاصَعِدَالاِمَامُ المِنبَرَ جَلَسَ وَاَذَّنَ المؤَذِّنُونَبَينَ يَدَيِ المِنبَرِ ثُمَّ يَخطُبُ الاِمَامُ.

---

[363](18) چي کله مؤذن دجمعې په ورځ اول اذان وکـي نـو خلـګ دي اخسـتل او خرڅـول پريـږدي او دجمعـې وطرف ته دي متوجه سي.

وجـه په آيت کي دئ اِذَا نُودِيَ لِلصَّلوٰةِ مِن يَّومِ الجُمُعَةِ فَاسعَوا اِلىٰ ذِكرِاللهِ وَذَرُوا البَيعَ (الف) (آيت 19سورةالحج 62) ددې آيـت څخـه معلوم سو چي کله اذان وسي نو خرڅول او رانيول بايد پريږدي او دجمعې پر لـوري دي روان سـي.خو دحضـور په زمانه کي صرف دوم اذان کېدئ او حضرت عثمان چي وليدل چي دخلګو رش زيـات دئ نـو يـه يـو اذان بـل زيات کئ چي اذان اول ورته وائي.ددې ثبوت ددغه حديث څخه دئ عَنِ السَّائِبِ بنِ يَزِيدٍ قَالَ كَانَ النِّدَآءُ يَومَ الجُمعَةِ اَوَّلُهُ اِذَا جَلَسَ الاِمَامُ عَلىٰ المِنبَرِعَلىٰ عَهدِالنَّبِيِّ وابي بكرٍ وعمرَ فَلَمَّا كَانَ عُثمَانُ وَكَثُرُالنَّاسُ زَادَ النِّدَآءَ الثَّالِثَ عَلىٰ الزَّورَآءِ قال ابوعبدالله اَلزَّورَآءُ مَوضِعٌ بِالسَّرقِ بِالمَدِينَةِ (ب) (بخاري شريف،باب الاذان يوم الجمعة ص124 نمبر912+ ابوداؤدشريف،باب الندآء يوم الجمعة ص162 نمبر1087) ددې حديث څخه معلوم سوچي د اذان اول اضافه حضرت عثمان کړې ده. او په دغه وخت کي هم دجمعـې لپـاره اذان کيږي نو ځکه اوس به دغه وخت دجمعې لپاره سعي کوي.ددې پـه تائيـد کـي دغـه اثـر دئ (1) قَالَ لِي مُسلِمُ بنُ يَسَارٍ اِذَا عَلِمتَ اَنَّ النَّهَارَ قَد اِنتَصَفَت يَومَ الجُمعَةِ فَلاَ تَبتَاعُوا شَيئًا (ج) (مصنف ابن ابي شيبة،372 الساعة التي يكره فيها الشرآء والبيع ج2 ص465 نمبر5383) (2) قُلتُ لِلزُّهرِيِّ مَتيٰ يَحرُمُ البَيعَ وَالشِّرَآء يَومَ الجُمعَةِ فَقَالَ كَانَ الاَذَانُ عندخُرُوجِ الاِمَامِ فَاَحدَثَ اَمِيرُالمؤمِنِينَ عُثمَانُ التَّاذِينَةَ الثَّالِثَةَ فَاَذَّنَ عَلىٰ الزَّورَآءِ لِيَجتَمِعَ النَّاسُ فَاَرَىٰ اَن يَّترُكَ الشِّرَآءَ وَالبَيعَ عِندَالتَّاذِينَةِ (د) (مصنف ابن ابي شيبة،1372 الساعةالتي يكره فيهاالشرآء والبيع ج2 ص5389) ددې اثرڅخه معلوم سوچي د اذان اول سره سم دستي خرڅول او رانيول پربښول پکار دي.ځکه چي دغه نِدَآء ده.

[364](19) چي امام ومنبر ته وخيژي نو پر منبر دي کښيني او مؤذن دي ومنبر ته مخامخ اذان وکـي بيـادي امـام خطبه ولولي.

وجـه ددې ټولودليل دا حديث دئ عَن سَائِبِ بنِ يَزِيدٍ قَالَ كَانَ يُؤَذِّنُ بَينَ يَدَيِّ رَسُولِ الله اِذَا جَلَسَ

حاشيه : (الف) چي دجمعي په ورځ دلمانځه لپاره اذان وسي نو دالله د ذکر پر لوري ځغلئ(منډي وهئ) او بيع پريږدئ (ب) سائب بن يزيدفرمائي چي دجمعي په ورځ اول اذان و کله چي به امام پر منبرکښېنستئ.دحضور ابوبکر،عمرپه زمانه کي.چي کله دعثمان زمانه راغله اوخلګ زيات سو نو د زَورَآء پرمقام باندي د دريم اذان اضافه وکړه.ابوعبدالله فرمائي چي زَورَآء په مدينه کي ديو ځائي نوم دئ (ج) مسلم بن يسار وفرمايل چي کله درته معلوم سي چي دجمعي په ورځ ماپښين سو نو خرڅول او را نيول پريږد دئ (د) ما د زُهري څخه پوښتنه وکړه د جمعي په ورځ خرڅول او رانيول څه وخت حراميږي؟ نو وفرمائل اذان دامام دراوتلو پر وخت کېدئ نو حضرت عثمان دريم اذان شروع کئ نو د زَورَآء پر مقام په اذان په وکئ ددي لپاره چي خلګ جمع سي. نو زه په دا ګمان يم چي د اذان پر وخت خرڅول او رانيول پريږد دي

[365](20) وَاِذَا فَرَغَ مِنَ خُطبَتِهِ اَقَامُوا الصَّلوةَ.

عَلىٰ المِنبَرِ يَومَ الجُمعَةِ عَلىٰ بَابِ المَسجِدِ وابِي بكرٍ وعُمَرَ (الف) (ابوداؤدشريف،باب الندآء يَومَ الجُمعَةِ ص162 نمبر10880+بخاري شريف،باب التاذين عندالخطبة ص124 نمبر916) ددي حديث څخه معلوم سو چي کله امام پر منبر کښيني هغه وخت بايد د ده په مخکي اذان ثاني وسي.دهغه وروسته به امام خطبه وائي.

[365](20) چي کله امام دخطبي څخه فارغ سي نو خلګ به دجمعي لمونځ دروي.

وجه اول دي خطبه ووائي بيا دي لمونځ ودروي ددي دليل دا حديث دئ عَن اَنَسٍ قَالَ رَاَيتُ رَسُولَ اللهِ يَنزِلُ مِنَ المِنبَرِ فَيَعرِضُ لَهُ الرَّجُلُ فِي الحَاجَةِ فَيَقُومُ مَعَهُ حَتّٰى يَقضِيَ حَاجَتَهُ ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي (ب) (ابوداؤدشريف،باب الامام يتكلم بعدماينزل من المنبر ص166 نمبر1120) ددي حديث څخه معلوم سوچي دخطبي وروسته به دجمعي لمونځ قائموي.

حاشيه : (الف) سائب بن يزيد فرمائي چي دحضور په مخکي به اذان کېدئ چي کله به حضور پر منبر باندي کښېنستئ د مسجد پر دروازه باندي او د ابوبکر او عمر په زمانه کي هم (ب) ما حضور وليدئ چي دمنبر څخه به را شوه کېدي نو وده ته به يو سړي خپل ضرورت وړاندي کاوئ نو حضور به ددغه سړي سره دربدئ تر هغو چي ددي سړي ضرورت به پوره کاوئ بيا به ولاړېدئ او لمونځ به کاوئ.

(بَابُ صَلوةِ العِيدَينِ)

[366](1) يَستَحِبُّ يَومَ الفِطرِ اَن يُطعِمَ الاِنسَانُ شَيئًا قَبلَ الخُرُوجِ اِلَى المُصَلّٰى

(بَابُ صَلوةِ العِيدَينِ)

ضروري پام لرنه داختر لمونځ واجب دئ.دجاهليت په زمانه کي خلګو اختر جوړولو.وروسته اسلام هم دغه اختر برقراره کړئ.ددي ثبوت په دي آيت کي دئ وَلِتُكمِلُوا العِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُوا اللهَ عَلىٰ مَاهَدَاكُم وَلَعَلَّكُم تَشكُرُونَ (الف) (آيت 185 سورة البقرة 2) په تفسير طبري کي دئ چي په دي آيت کي دعيدالفطر پرموقع دتکبيرلوستلو ذکر دئ.ځکه چي د دي آيت په شروع کي د روژې تذکره ده.چي په نتيجه کي عيدالفطر ثابتيږي.او په آيت فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانحَر(ب) (سورة الكوثر108 آيت 2) په دي آيت کي تذکره ده چي اول د لوئي اختر لمونځ وکړئ بيا دحيوان قرباني وکړئ.نوځکه د دواړو آيتو څخه دعيدالفطر او عيدالاضحي ثبوت ښکاره کيږي..... داختر انو دلمانځه پر وجوب باندي دا حديث دلالت کوي عن ابي سعيدالخدري قَالَ كَانَ النَّبِيُّ يَخرُجُ يَومَ الفِطرِ وَالاَضحيٰ اِلَى المصَلّي فَاَوَّلُ شَيئٍ يَبدَاُ بِهِ الصَّلوةُ ثُمَّ يَنصَرِفُ فَيَقُومُ مُقَابِلُ النَّاسِ وَالنَّاسُ جُلُوسٌ عَلىٰ صُفُوفِهِم فَيَعِظُهُم وَيُوصِيهِم وَيَامُرُهُم (ج) (بخاري شريف،باب الخروج الي المصلىٰ بغيرمنبرص131 نمبر956) په دي حديث کي دئ چي حضور هميشه دارنګه کول چي دعيدالفطر او عيدالاضحي لپاره واتئ،دا استمرار او هميشه توب پر وجوب باندي دلالت کوي.حضورهيڅ کله د اخترانو لمونځ نه پريښوئ دا دوجوب دليل دئ.

فائده دامام شافعي په نبز خو د وجوب درجه نسته نو ځکه دده په نبز داخترانو لمونځ سُنَّتِ مُؤكّدَه دئ.دده دليل دا حديث هم دئ عَنِ البَرَآءِ بنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ اِنَّ اَوَّلَ مَايَبدَاُ فِي يَومِنَا هَذَا اَن نُّصَلِّيَ ثُمَّ نَرجِعَ فَنَنحَرُ فَمَن فَعَلَ ذَالِكَ اَصَابَ سُنَّتَنَا (د) (بخاري شريف،باب الخطبة بعدالعيدص131 نمبر965) په دي حديث کي اَصَابَ سُنَّتَنَا لفظ راغلئ دئ چي داځني معلوميږي چي داخترانو لمونځ سُنّت دئ.

[336](1) د کشني اختر په ورځ مستحب دئ چي انسان وعيدګاه ته د وتلوڅخه مخکي څه شئ وخوري.

وجه په حديث کي راغلي دي عَن اَنَسِ بنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ لاَيَغدُو يَومَ الفِطرِ حَتّٰي يَاكُلَ تَمَرَاتٍ.وفي حديث آخر وَيَاكُلَهُم وِترًا (ه) (بخاري شريف باب الاكل يوم الفطر قبل الخروج ص130 نمبر953) دحديث څخه معلوم سوچي وعيدګاه ته دتللو څخه مخکي په کشني اختركي

حاشيه : (الف) چي دروژې ورځي پوره کړئ اوکوم چي وتاسوته هدايت درکړئ دئ پر هغه دالله تکبير ووايئ اوشايدچي تاسوشکريه ادا کړئ (ب) دخپل رب لپاره لمونځ وکئ اوقرباني وکئ (ج) حضور به را واتئ دکشني او لوئي اختر په ورځ وعيدګاه ته،نو هغه اول شئ چي شروع کاوئ هغه لمونځ و،بيا به دهغه ځائ څخه ليږي سو دخلګو ومخته به ودرېدئ اوخلګ به په خپلوصفوکي ناست و نوحضور به وهغوته نصيحت کاوئ.وصيت به کاوئ اوحکم به ورته کاوئ (د) حضور وفرمائل تر تولو اول شئ چي شروع کوو يه په هغه ورځ هغه به لمونځ کوو،بيا به راواپس کيږو،نوقرباني به کوو، بس چي کوم چا دغه وکئ هغه زمور پر سنت عمل وکئ (ه) حضور دکشني اختر په ورځ عيدګاه ته نه تليئ تردي چي يوځو خورماوې خورلي،په بل حديث کي راغلي دي چي طاق(تاك) خورماوې خورلي.

[367](2) وَيَغسِلُ وَيَتَطَيَّبُ وَيَلبَسُ اَحسَنَ ثِيَابِهِ [368](3) وَيَتَوَجَّهُ اِلَى المصَلّي وَلاَيُكَبِّرُفِي طَرِيقِ المصَلّي عند ابي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالىٰ وَيُكَبِّرُ فِي طَرِيقِ المصَلّي عند ابي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ

يو څوړ شئ خورل په کار دئ. او په لوئي اختر کي دلمانځه څخه وروسته خورك مستحب دئ.ددي دليل دغه حديث دئ عن عبدالله بن بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ الله لاَيَخرُجُ يَومَ الفِطرِحَتّٰي يُطعِمَ وَلاَيَاكُلَ يَومَ النَّحرِ حَتّٰي يَذبَحَ (سنن للبيهقي،باب يترك الاكل يوم النحر حتي يرجع ج3 ص401 نمبر6159)

[367](2) غسل دي وکي او خوشبو دي ولګوي او ښې کپړې دي واغوندي.

تشريح دغه ټوله کارونه داختر په ورځ مستحب دي (1) دغسل کولو دليل دا حديث دئ . عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّهُ كَانَ يَغتَسِلُ فِي العِيدَينِ اِغتِسَالاً مِنَ الجَنَابَةِ (الف) (سنن للبيهقي،باب الاغتسال للاعيادج1 ص447 نمبر1428+مصنف ابن ابي شيبة 426 في الغسل يوم العيدين ج2 ص550) (2) اختر خو هم دجمعې په ركم يوه اجتماع ده نو ځكه كوم كارونه چي په جمعه كي

سنت دي هغه به په عيدين کي هم سنت وي. او په جمعه کي دغه کارونه سنت دي په حديث کي دئ عَن ابي سَعِيدِالخُدرِيِّ وَاَبِي هُرَيرَةَ قَالاَ قَالَ رَسُولُ اللهِ مَن اِغتَسَلَ يَومَ الجُمعَةِ وَلَبِسَ مِن اَحسَنِ ثِيَابِهِ وَمَسَّ مِن طِيبٍ اِن كَانَ عِندَهُ ثُمَّ اَتَي الجُمعَةَ (ب) (ابوداؤدشريف،باب الغسل للجمعة ص56 نمبر343) ددي حديث څخه معلوم سوچي دجمعې په ورځ دي غسل وکي.ښې کپړي دي واغوندي او خوشبو دي پرځان ومورې. اوعيدين هم دجمعې په شان يوه اجتماع ده نو ځکه په هغه کي به هم دغه کارونه سنت وي (3) داختر په ورځ د ښوکپړو اغوستلو حديث دادئ اَنَّ عَبدَاللهِ بنِ عُمَرَ قَالَ اَخَذَ عُمَرُ جُبَّةً مِن اِستَبرَقٍ تُبَاعُ فِي السُّوقِ فَاَخَذَهَا فَاُتِيَ بِهَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ اِبتَع هَذَا تَجَمَّل بِهَا لِلعِيدِ وَالوُفُودِ (ج) (بخاري شريف،باب ماجآء في العيدين والتجمل فيهما ص130 نمبر948) په دې حديث کي دئ تَجَمَّلَ بِهَا لِلعِيدِ وَالوُفُودِ ددې څخه دا معلوم سو چي داختر لپاره ښې کپړې اغوستل او ځان ښائسته کول سنت دئ.

[368](3) او وعيدگاه ته دي متوجه سي او دامام ابوحنيفه په نېز دي په لاره کي تکبير نه وائي.او دصاحبين په نېز دي تکبيروائي دعيدگاه په لاره کي په زوره سره.

تشريح دامام ابوحنيفه په نېز په کشني اخترکي دي په لاره کي په زوره تکبير نه وائي بلکه سوکه به وائي او دلوئي اختر پر وخت به په لاره کي په زوره سره تکبير وائي.

وجه ددې وجه داده چي تکبير يوه دعآء ده او دعآء آهسته(سوکه) ويل په کار ده نو ځکه په کشني اخترکي به سوکه تکبيروائي.د ده استدلال ددې اثرڅخه دئ عَن شُعبَةَ قَالَ كُنتُ اَقُودُ اِبنَ عَبَّاسٍ يَومَ العِيدِ فَيَسمَعُ النَّاسَ يُكَبِّرُونَ فَقَالَ مَا شَانُ الَّناسِ قُلتُ يُكَبِّرُونَ قَالَ يُكَبِّرُونَ ؟

حاشيه : (الف) عبدالله بن عمر به دعيدين(اخترانو) په ورځ دجنابت په شان غسل کاوئ (ب) حضور وفرمائل کوم چا چي دجمعې په ورځ غسل وکئ،او دخپلوښوکپړو(جامو)څخه کپړې واغوستې اوخوشبو يه ولګول که چيرې دده سره وي بيا جمعې لره راغلي (ج) عبدالله بن عمر وفرمائل چي حضرت عمر د ريشمو جبه(چپنه) واخستل چې په بازار کي خرڅېدل نو هغه يه حضور ته راوړل او وويل ای دخدائ رسول دا واخله په دې په اخترانوکي او د وفدو د راتلو پر وخت زينت حاصلوه .

[369](4) وَلاَيَتَنَفَّلُ فِي المصَلّيٰ قَبلَ صَلوةِ العِيدِ وَيَتَنَفَّلُ بَعدَهَا [370](5) فاذا حَلَّتِ الصَّلوةُ بِارتِفَاعِ الشَّمسِ دَخَلَ وَقتُهَا اِلىٰ الزَّوَالِ فَاِذَا زَالَتِ الشَّمسُ خَرَجَ وَقتُهَا

قَالَ يُكَبِّرُالاِمَامُ ؟ قُلت لاَ قَالَ اَجَانِبنُ النَّاسُ (مصنف ابن ابي شيبة 413 في التكبير اذا خرج الي العيد ج2 ص488 نمبر5629) په دې اثر کي حضرت ابن عباس د په زوره تکبير ويلوڅخه انکار کړئ دئ. البته په لوئي اختر کي په زوره تکبير په ډيرو احاديثو باندي ثابت دئ.نو ځکه هلته به په زوره تکبير وائي.

فائده دصاحبين په نېز په دواړو اخترانو کي به په زوره تکبير وائي.ددوئي دليل (1) دا حديث دئ اَنَّ عبدالله بن عُمَرَ اَخبَرَهُ اَنَّ رَسُولَ اللهِ كَانَ يُكَبِّرُ يَومَ الفِطرِ مِن حِينَ يَخرُجُ مِن بَيتِهِ حَتّيٰ يَاتِيَ المصَلّيٰ (الف) (دارقطني،كتاب العيدين ج2 ص34 نمبر1698+مستدرك للحاكم،كتاب صلوة العيدين ج1 ص438 نمبر1105) (2) عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّهُ كَانَ يَخرُجُ لِعِيدَينِ مِنَ المسجِدِ فَيُكَبِّرُ حَتّيٰ يَاتِيَ المصَلّيٰ وَيُكَبِّرُ حَتّيٰ يَاتِيَ الاِمَامُ (ب) (دارقطني،كتاب العيدين ج2 ص33 نمبر1696) ددې اثرڅخه معلوم سوچي په کشني اختر اولوئي اختر په دواړو کي به په لاره کي په زوره سره تکبير وائي.

[369](4) داختر دلمانځه څخه مخکي به په عيدگاه کي نفل نه کوي.او نفل به کوي داختر دلمانځه څخه وروسته.

وجه (1) که په نفل کي مشغول سي نو داختر دلمانځه به ناوخته سي.سره ددې چي لمونځ تر ټولو شيانو مخکي کول ضروري دئ (2) په حديث کي راغلي دي عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ خَرَجَ يَومَ الفِطرِ فَصَلّيٰ رَكعَتَينِ لَم يُصَلِّ قَبلَهَا وَلاَبَعدَهَا وَمَعَهُ

بِلاَلٌ (ج) (بخاري شريف،باب الصلوة قبل العيد وبعدها ص135 نمبر989+ابوداؤدشريف،باب الصلوة بعد صلوةالعيدص171 نمبر1159) ددي حديث څخه معلوم سوچي داختر دلمانځه څخه مخکي هم او وروسته هم نفل نه دي کول په کار. لېکن په يو بل اثر کې راغلي دي عَن اِبنِ عَبَّاسٍ كُرِهَ الصَّلوةُ قَبلَ العِيدِ (د) (بخاري شريف،باب الصلوة قبل العيد وبعدها ص 135 نمبر989) ددي اثرڅخه معلوم سوچي داختر دلمانځه څخه مخکي نفل کول مکروه دي وروسته نه.

[370](5) بس چې کله لمونځ حلال سي دلمر په ښه لوړ راتلو سره نو داختر دلمانځه وخت داخليږي تر زوال پوري، بس چې کله لمر زائل سي نو وخت يه وواتئ.

تشريح داختر دلمانځه وخت دلمر دلږ را پورته کېدو څخه وروسته تر زوال پوري.

وجه (1) روايت دئ قَالَ خَرَجَ عبدالله بنِ بُسرٍ صَاحِبَ رَسُولِ اللهِ مَعَ النَّاسِ فِي يَومِ عِيدِالفِطرِ اَواَضحيٰ فَاَنكَرَ اِبطَآءُالاِمَامِ فَقَالَ اِنَّا كُنَّاقَدفَرَغنَا سَاعَتُنَاهٰذِهِ وَذَالِكَ حِينَ التَّسبِيحِ (ه) (ابوداؤدشريف،باب وقت الخروج الي العيد ص١٦٨ نمبر١١٣٥) د دي حديث څخه معلوم سو

حاشيه : (الف) حضوربه تكبير وايئ دكشني اختر په ورځ کوم وخت چې به د کوره څخه واتئ تر هغوچې تر عيد ګاه به راتلئ (ب)عبدالله بن عمر به د اخترانولپاره دمسجد څخه را وتئ نو تکبير به وايئ تر هغوچې عيدګاه ته به راتلئ او تکبير به وايئ د امام تر راتلو پوري (ج) حضور دکشني اختر په ورځ را وواتئ بيا په دوه رکعت لونځ وکئ،نه په دهغه څخه مخکې کړي و نه يه دهغه څخه وروسته،او دده سره حضرت بلال و (د) ابن عباس داختر څخه مخکې لمونځ نه خوښاوئ (ه) عبدالله بن بُسردخلګوسره دکشني اختر يا دلوئي اختر لمونځ وکئ نو دامام دځنډېدلو انکار يه وکئ بيا يه وفرمائل چې مورِ به دغه وخت فارغ سوئ و او دغه داشراق دلمانځه وخت و.

[٣٧١](۶) وَيُصَلِّي الاِمَامُ بِالنَّاسِ رَكعَتَينِ [٣٧٢](٧) يُكَبِّرُ فِي الأُولىٰ تَكبِيرَةَ الاِحرَامِ

چې تسبيح يعني داشراق دلمانځه پر وخت حضور داختر دلمانځه څخه فارغ کېدئ.نو ځکه دغه وخت به داختر دلمانځه وي (٢) مخکې په ضروري پام لرنه کې دبخاري شريف يوحديث تيرسو چې په هغه کې دا لفظ وعَنِ البَرَآءِ بنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ سَمِعتُ النَّبِيَّ يَخطُبُ فَقَالَ اِنَّ اَوَّلَ مَا نَبدَاُ بِهِ فِي يَومِنَا هٰذَا اَن نُّصَلِيَ ثُمَّ نَرجِعَ فَنَنحَرُ (الف) (بخاري شريف.باب سنة العيدين لاهل الاسلام ص١٢١ نمبر٩٥١) ددي څخه دا معلوم سوچي په دغه ورځ دلمر دراختو څخه وروسته اولنئ کار داختر لمونځ کول دئ.نو ځکه دلمر دلوړېدو وروسته به داختر دلمانځه وخت وي.او دزوال څخه وروسته به وقت(وخت) ختميږي. ددي دليل دا حديث دئ عَن عَمُومَةَ لَهُ مِن اَصحَابِ النَّبِيِّ اَنَّ رَكباً جَاءُوا اِلَى النَّبِيِّ يُشهِدُونَ اَنَّهُم رَوُا الهِلاَلَ بِالاَمسِ اَاَمَرَهُم اَن يُفطِرُوا وَاِذَا اَصبَحُوا اَن يَّغدُوا اِلَى مُصَلٰهُم (ب) (ابوداؤدشريف،بابئ اذا لم يخرج الامام للعيد من يومه يخرج من الغد ص١٧١ نمبر١١٥٧) په دي حديث کې د زوال څخه وروسته دمياشتي دليدلو ګواهي ورکړي ده نو په هغه ورځ په لمونځ نه دئ کړئ بلکه دا بله ورځ سهار يه دلمانځه لپاره وينا کړي ده چې دا ددي خبې دليل دئ چې د زوال وروسته د اختر دلمانځه وخت نسته .

[٣٧١](۶) امام به وخلګو ته لمونځ وركوي دوه ركعته .

وجه په حديث کې راغلي دي عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ خَرَجَ يَومَ الفِطرِ فَصَلّيٰ رَكعَتَينِ لَم يُصَلِّ قَبلَهَا وَلاَ بَعدَهَا (ج) (بخاري شريف،باب الصلوة قبل العيد وبعدهاص١٣٥ نمبر٩٨٩) په دي حديث کې دئ چې حضور داختر لمونځ صرف دوه رکعته ورکړئ.نو ځکه داختر لمونځ به صرف دوه رکعته وي.

[٣٧٢](٧) تكبير به وائي په اول رکعت کې تکبير احرام او دهغه وروسته دري تکبيرونه بيا سورةِ فاتحه او دهغه سره دي سورة ضَم کړي.بيادي تکبير ووائي او رکوع ته دي ولاړسي.

تشريح د تکبير تحريمې وروسته په اخترانو کې دري زائد تکبيرونه دي.دهغه وروسته دي سورة فاتحه ولولي(ووائي)او دهغه سره به سورة ضموي بيا به د تکبير د ويلو سره رکوع ته ځي.

وجه د درو تکبير زوائدو دليل دا حديث دئ سَاَلَ اَبُومُوسيٰ اَلاَشعَرِيِّ وَحُذَيفَةُ بنُ اليَمَانِ كَيفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ يُكَبِّرُ فِي الاَضحيٰ وَالفِطرِ؟ فَقَالَ اَبُومُوسيٰ كَانَ يُكَبِّرُ اَربَعًاتَكبِيرَةً عَلَيٰ الجَنَازَةِ فَقَالَ حُذَيفَةُ صَدَقَ (د) (ابوداؤدشريف.باب التكبيرفي العيدين ص١٧٠

نمبر۱۱۵۳+سنن للبيهقي.باب ذكرالخبر الذي روي في التكبير اربعاج۳ص۲۸۹+مصنف عبدالرزاق.باب التكبيرفي الصلوة يوم العيدج۳ص۲۹۳ نمبر۵۶۸۶) د دې احاديثو

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل تر ټولو اول شئ چې شروع کوو يه په هغه ورځ هغه دا چې لمونځ به کوو.بيا به واپس کيږو او قربـاني به کوو (ب) د راوي اکا داخبر ورکړئ دئ چې څه شاه سواران حضور ته راغله او ګواهي يه ورکه چـې پروند تبـره شـپه مـور مياشـته وليدل نو حضور وخلګو ته حکم ورکړئ چې دوئي دي روژه ماته کي او چې سهار سي نو عيدګاه ته دي راسـي (ج) ابـن عبـاس فرمـائي چې حضور دکشنئ اختر په ورځ را وواتئ او دوه رکعته لمونځ يه وکئ.دهغه څخه مخکې هم لمونځ نه وُ کړئ او وروسته هم نـه وکړئ (د) حضرت موسي اشعري وفرمائل چې حضور تکبير وايئ په کشني اختر او لوئي اخترکي څلور لکه څرنګه چې پر جنازه باندي تکبير ويل کيږي.حضرت حذيفه وفرمائل رشتيا دي وويل.

وَثَلٰثاً بَعدَهَا ثُمَّ يَقرَأُ فَاتِحَةَ الكِتَابِ وَسُورَةٌ مَّعَهَا ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكبِيرَةً يَركَعُ بِهَا [۳۷۳](۸) ثُمَّ يُبدِئُ فِي الرَّكعَةِ الثَّانِيَةِ بِالقِرَآءَةِ فَاِذَا فَرَغَ مِنَ القِرَآءَةِ كَبَّرَ ثَلٰثَ تَكبِيرَاتٍ وَكَبَّرَ تَكبِيرَةً رَابِعَةً يَركَعُ بِهَا [۳۷۴](۹)وَيَرفَعُ يَدَيهِ فِي تَكبِيرَاتِ العِيدَينِ.

څخه معلوم سو چې داختر په لمانځه کې په اول رکعت کې دتکبير تحريمي وروسته بـه دري تکبيرونـه ويل کيږي.نو دتکبير تحريمي سره څلور تکبيرونـه سو.دغه رنګه پـه دوم رکعت کـي دقـرات وروسته بـه دري زائـد تکبيرونه ويل کيږي نو د رکوع دتکبير سره به څلور تکبيرونه سي.او په دوم رکعت کي به دقـرات وروسـته څلـور تکبيرونه ويل کيږي ددې دليل دا اثر دئ فَاَسنَدُوا اَمرَهُم اِلىٰ اِبنِ مَسعُودٍفَقَالَ تَكبِيرٌ اَربَعاً قَبلَ القِرَاءَةِ ثُمَّ تَقرَا فَاِذَا فَرَغتَ كَبَّرتَ فَرَكَعتَ ثُمَّ تَقُومَ فِي الثَّانِيَةِ فَتَقرا فَاِذَا فَرَغتَ كَبَّرتَ اَربَعاً (الف) (سنن للبيهقي.باب ذكرالخبر الذي روي في التكبير اربعاً ج۳ص۴۰۸ نمبر۶۱۸۳)پـه دې اثر کي دئ چې په دوم رکعت کي به د قرات وروسته څلور تکبيرونه ويل کيږي.دري تکبيرونه به زوائد او يـو بـه درکوع تکبير وي.

فـائـده دامام شافعي په نبز په اول رکعت کي به اوه (۷) او په دوم رکعت کي به پنځه (۵) تکبيرونه وائي او په دواړو کي به دقرات څخه مخکي تکبير وائي.دده دليل دا حديث دئ عَن عَبدِالله بنِ عَمرو بنِ العَاصِ قَالَ قَالَ نَبِيُّ اللهِ اَلتَّكبِيرُ فِي الفِطرِسَبعٌ فِي الأُولىٰ وَخَمسٌ فِي الأٰخِرَةِ وَالقِرَاءَةُ بَعدَهُمَا كُلِّيَتِهِم(ب) (ابوداؤدشريف.باب التكبير في العيدين ص۱۷۰ نمبر۱۱۵۱+ دارقطني.كتاب العيدين ج۲ ص۳۶ نمبر۱۷۱۱) ددې احاديثو څخه ثابت سوچې په اول رکعت کي به اوه (۷) او پـه دوم رکعـت کـي بـه پنځه (۵) تکبيرونه ويل کيږي.او دقرات څخه مخکي به ويل کيږي.دا د استحباب اختلاف دئ.

[۳۷۳](۸) بيا به شروع کوي په دوم رکعت کي د قرات سره.نو چې فارغ سـي دقـرات څخـه نـو تکبيـر دي ووائـي دري تکبيرونه او څلورم تکبير دي ووائي او دهغه سره دي رکوع ته ولاړسي.

وجـه پوره تفصيل او دليل تير سو.

[۳۷۴](۹) دواړه لاسونه به داخترانو په تکبيرو کي پورته کوي.

وجـه په حديث راغلي دي اَنَّ عُمَرُبنُ الخَطَّابِ كَانَ يَرفَعُ يَدَيهِ مَعَ كُلِّ تَكبِيرَةٍ فِي الجَنَازَةِ وَالعِيدَينِ وَهٰذَمُنقَطِعٌ (ج) (سنن للبيهقي.باب رفع اليدين في تكبيرالعيدج۳ ص۴۱۲ نمبر۶۱۸۹ +مصنف عبدالرزاق.باب التكبير باليدين ج۳ص۲۹۷نمبر۵۶۹۹) ددې څخه معلوم سو چـې دتکبير زوائد دوينا پر وخت به لاسونه هم تر غوږو پورته کوي.

حاشيه : (الف) راوي خپل سند تر عبدالله بن مسعود پوري ورساوئ.حضرت ابـن مسـعود وفرمائـل څلـور تکبيـر بـه وائـي د رکـوع څخـه مخکي بيا به قرات وائي بيا چې دقرات څخه فارغ سي نو تکبير دي ووائي او رکوع دي وکي.بيـا دي دوم رکعـت تـه ولاړ سـي نـو قـرات

دي وکړي بيا چې دقرات څخه فارغ سي نو څلور تکبير دي ووائي (ب) حضور وفرمائل تکبيرونه په کشني اختر کي اوه (۷) دي پـه اول رکعت کي او پنځه په دوم رکعت کي.او قرات د دواړو څخه وروسته دئ (ج) حضرت عمربن خطاب به لاس پورتـه کـاوئ د هر تکبيـر سره په جنازه کي او په اخترانوکي.دا حديث منقطع دئ.

[۳۷۵](۱۰) ثُمَّ يَخطُبُ بَعدَ الصَّلوةِ خُطبَتَينِ يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيهِمَا صَدَقَةَ الفِطرِ وَ اَحكَامَهَا [۳۷۶](۱۱) وَمَن فَاتَتهُ صَلوةُ العِيدِ مَعَ الاِمَامِ لَم يَقضِهَا [۳۷۷](۱۲) فَاِن غُمَّ الهِلاَلُ عَنِ النَّاسِ وَشَهِدُوا عِندَالاِمَامِ بِرُئيَةِ الهِلاَلِ بَعدَ الزَّوالِ صَلّيٰ العِيدَ مِنَ الغَدِ [۳۷۸](۱۳) فَاِن حَدَثَ عُذرٌ مَنَعَ النَّاسَ

---

[۳۷۵](۱۰) بيا به دلمانځه وروسته خطبه وائي دوي خطبي په دي کي بـه وخلګو تـه صـدقه فطـر او دهغـه احکـام وربښيئ.

تـشريـح لکه څرنګه چې په جمعه کي دوي خطبي ويل کيږي دغـه رنګـه بـه پـه اخترانـو کـي دوي خطبـي ويـل کيږي.اوکه دلوئي اختر موقع وي نو دقربانئ مسائل به ورته بيان وي.دلمانځه وروسته دخطبي ويلو دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ کَانَ النَّبِيُّ وَاَبُوبَکرٍ وَعُمَرُيُصَلُّونَ العِيدَينَ قَبلَ الخُطبَةِ (الف) (بخاري شريف.باب الخطبة بعدالعيدص۱۳۱ نمبر۹۶۳) ددي څخه معلوم سوچې خطبه به دلمانځه وروسته وائي.په بخاري شريف حديث نمبر۹۷۵ کي دلمانځه وروسته دخطبي تفصيل بيان کړئ دئ.دهغـه عبـارت دادئ سَمِعتُ اِبنَ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجتُ مَعَ النَّبِيِّ يَومَ فِطرٍ اَو اَضحيٰ فَصَلّيٰ العِيدَثُمَّ خَطَبَ ثُمَّ اَتَيَ النِّسَآءَ فَوَعَظَهُنَّ (بخاري شريف.باب خروج الصبيان الي المصليٰ ص۱۳۲ نمبر۹۷۵) په دې حديث کي دخطبي تذکره ده.او دا هم دئ چې دلمانځه وروسته خطبه وويل.

[۳۷۶](۱۱)دکوم چا چې داختر لمونځ فوت سي دامام سره نو دهغه قضآء به نه کوي،

وجـه (۱) داختر لمونځ په اجتماعي هيئت سره مشروع دئ.او دکوم چا چې داختر لمونځ دامام سره فوت سـي نـو اوس به اجتماعيت نه وي نو ځکه اوس به داختر دلمونځ قضآء نه کوي.خوبيا هم که دوه رکعته دنفل پـه توګـه ادآء کړي نو کولائي سي.دليل يه دغه قول دئ قَالَ عَطَآءٌ اِذَا فَاتَهُ العِيدُ صَلّيٰ رَکعَتَينِ (ب) (بخاري شريف.باب اذا فاته العيدصلي رکعتين ص۱۳۴ نمبر۹۸۷) (۲) قَالَ عَبدُاللهِ مَن فَاتَهُ العِيدُ فَليُصَلِّ اَربَعاً (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۲۹ الرجل تفوته الصلوة في العيد کم يصلي ج۲ ص۴ نمبر۸۷۹۹) ددي اثر څخه معلوم سو چې دکوم چا داختر لمونځ فوت سي هغـه دي دنفـل پـه توګـه څلـور رکعتـه وکړئ.

[۳۷۷](۱۲) بيا که چيري مياشته پر خلګو پټه سول (نه وليدل) او وامام(قاضي)ته دمياشتي ليدلو ګـواهي تـر زوال وروسته ورکړه نو داختر لمونځ به په دا بل سهار کوي.

وجـه په حديث کي راغلي دي عَن اَبِي عُمَيرِ بنِ اَنَسٍ عَن عَمُومَةٍ لَّهُ مِن اَصحَابِ النَّبِيِّ اَنَّ رَکباً جَآءُوا اِلَيٰ النَّبِيِّ يُشهِدُونَ اَنَّهُم رَوُا الهِلاَلَ بِالاَمسِ فَاَمَرَهُم اَن يُفطِرُوا وَاِذَا اَصبَحُوا اَن يَّغدُوا اِلَيٰ مُصَلّٰهُم (د) (ابوداؤدشريف.باب اذا لم يخرج الامام للعيد من يومه يخرج من الغد ص۱۷۱ نمبر۱۱۵۷ +سنن للبيهقي.باب الشهود يشهدون علي رؤية الهلال آخرالنهار ج۳ ص۴۴۲ نمبر۶۲۸۳)ددي حديث څخه معلوم سو چـي دزوال څخه وروسته دمياشتي دليدلو ګواهي راسي نو دا بله ورځ به د اختر لمونځ ادآء کيږي.

[۳۷۸](۱۳) بيا که چيري يو عذر پيښ سي چې خلګ په دا دومه ورځ هم دلمانځه څخه منع کړي نـو ددي بعـد بـه بيا د اختر لمونځ نه ادآء کوي.

حاشيه : (الف) حضور،ابوبکر او عمر داخترانو لمونځ دخطبي څخه مخکي اداء کـاوئ (ب) حضـرت عطـاء وفرمائـل کـه د اختـر لمـونځ فوت سي نو دوه رکعته لمونځ دي وکړي (ج) حضرت عبدالله وفرمائل دچا چې اختر فوت سي هغه دي څلور رکعته لمونځ ادآء کړي (د) ابوعمير بن انس فرمائي چې څه سواران خلګ د حضور خدمت ته راغلو.هغو ډيروند مياشتي دليدلو ګواهي ورکړه نو حضور ودوئي تـه حکم ورکړئ چې افطار دي وکړي او چې سهار کړي نو عيدګاه ته دي راسي.

مِنَ الصَّلوةِ فِي اليَومِ الثَّانِي لَم يُصَلِّهَابَعدَهُ [۳۷۹](۱۴) وَيَستَحِبُّ فِي يَومِ الاَضحيٰ اَن يَّغتَسِلَ وَيَتَطَيَّبَ وَيُؤَخِّرَ الاَکلَ حَتّيٰ يَفرَغَ مِنَ الصَّلوةِ [۳۸۰](۱۵) وَيَتَوَجَّهُ اِلَيٰ المُصَلّيٰ وَهُوَ يُکَبِّرُ [۳۸۱](۱۶) وَيُصَلِّي الضُّحيٰ رَکعَتَينِ کَصَلوةِ الفِطرِ وَيَخطُبُ بَعدَهَا خُطبَتَينِ يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيهَا الاَضحِيَةَ وَتَکبِيرَاتِ التَّشرِيقِ

تـشرح په دا دومه ورځ يه هم ديوعذر په وجه لمونځ ونه کړئ نو دريمه ورځ به د اختر لمونځ نه کوي.

وجه دجمعې دلمانځه په شان د اختر دلمانځه هم بايدقضآء نه و سي.لېکن دحديث مذکور په وجه خلاف قياس په دومه ورځ قضآء کړې ده.لېکن دريمه ورځ دقضآء کولو حديث نسته نو ځکه دريمه ورځ به قضآء نه کوي.

[۳۷۹](۱۴) د لوئي اختر په ورځ مستحب دئ چې غسل وکي،خوشبو ولګوي اوخوړل مؤخر کړي ترهغو چې دلمانځه څخه فارغ سي.

وجه لوئي اختر دکشني اختر په رکم دئ.نو ځکه په دي کي به هم غسل کوي او خوشبو به لګوي.د دې دواړو دليل په مسئله نمبر۲ کي تير سو.او خوراك دلمانځه وروسته خوړل مستحب دئ (۱) د دې دليل دا حديث دئ حَدَّثَنَا عَبدُاللهِ بنِ بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ اَنَّ النَّبِيَّ كَانَ لاَيَخرُجُ يَومَ الفِطرِ حَتّٰى يَطعَمَ وَكَانَ لاَ يَاكُلُ يَومَ النَّحرِ شَيئاً حَتّٰى يَرجِعَ فَيَاكُلَ مِن اُضحِيَتِهِ (الف) (دارقطني.كتاب العيدين ج۲ ص۳۴ نمبر۱۶۹۹) ددې حديث څخه معلوم سوچې دقربانئ پر موقع به د اختر دلمانځه وروسته څه خوراك کوي (۲) هسې هم هره ورځ خوراك کاوئ نو نن بايد دځه لږ وخت لپاره خوراك و نه کړي چې دا هم څه عبادت سي.

[۳۸۰](۱۵) دعيد ګاه وطرف ته به متوجه سي دتکبير دويلو سره.

تشريح په زوره آواز سره به تکبير وائي عيدګاه ته به ځي.

وجه (۱) حديث په مسئله نمبر ۳ کي تيرسو. (۲) په يو بل اثر کي هم راغلي دي عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّهُ كَانَ غَداً يَومُ الاَضحىٰ وَيَومُ الفِطرِ يَجهَرُ بِالتَّكبِيرِ حَتّٰى يَاتِيَ المصَلّٰى ثُمَّ يُكَبِّرُ حَتّٰى يَاتِيَ الاِمَامُ (دارقطني.كتاب العيدين ج۲ ص۳۴ نمبر۱۷۰۰)

[۳۸۱](۱۶) دلوئي اختر لمونځ به کوي دوه رکعته دکشني اختر دلمانځه په رکم او دهغه وروسته به خطبه وائي دوې خطبې په هغه کي به وخلګو تهد قربانئ احکام او تکبير تشريق وربښئ.

تشريح دلوئي اختر لمونځ دکشني اختر دلمونځ په رکم دئ.او په دي کي دکشني اختر په رکم دوې خطبې ويل کيږي.خو دادئ جي دلوئي داختر په خطبو کي به دقربانئ احکام او دتکبير تشريق احکام ور ښئي.ځکه چې خطبه داحکامو د ښوولو لپاره مروج ده او دغه موقع دقربانئ او دتکبير تشريق ده.نو ځکه دغه احکام به ور ښئي (۲) په بخاري شريف بَابُ الاَكلِ يَومَ النَّحرِ ص۱۳۰ نمبر۹۵۴ کي دئ چې حضور دلوئي اختر دخطبې پر موقع باندې دقربانئ احکام بيان کړل.

حاشيه : (الف) حضور په کشني اختر کي نه را واتئ تر څوچې خوراك به کاوئ او په يوم النحر کي نه خوړل هيڅ.تر څوچې واپس به راغلئ او دقربانئ دغوښو څخه به خوړل.

[۳۸۲](۱۷)فَاِن حَدَثَ عُذرٌ مَنَعَ النَّاسَ مِنَ الصَّلوٰةِيَومَ الاَضحيٰ صَلاَّهَا مِنَ الغَدِ وَبَعدَ الغَدِ ولاَ يُصَلِّيهَا بَعدَ ذَالِكَ [۳۸۳](۱۸) وَتَكبِيرُ التَّشرِيقِ اَوَّلُهُ عَقِيبَ صَلَوٰةِ الفَجرِ مِنَ يَومِ عَرَفَةَ وَآخِرُهُ عَقِيبَ صَلَوٰةِ العَصرِ يَومَ النَّحرِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ [۳۸۴](۱۹) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ اِلىٰ صَلَوٰةِ العَصرِ مِن آخِرِ اَيَّامِ التَّشرِيقِ [۳۸۵](۲۰) وَالتَّكبِيرُ عَقِيبَ الصَّلَوَاتِ المفرُوضَاتِ اَللهُ اَكبَرُ اَللهُ اَكبَرُ لاَ اِلٰهَ اِلاَّاللهُ وَاللهُ اَكبَرُ اَللهُ اَكبَرُ وَلِلهِ الحَمدُ.

---

[۳۸۲](۱۷) بيا که چيري يو عذر پيښ سو چې خلک دلوئي اختر دلمانځه څخه منع کړي نو لمونځ به کوي سبا او بل سبا او نه به کوي ددې وروته.

تشريح دلوئي اختر لمونځ به په لسمه (۱۰) ورځ د ذي الحجې ادآء کيږي لېکن که يوعذر پيښ سي نو په يوولسمه(۱۱) دې ادآء کي او ګه په دغه ورځ هم يوعذر پيښ سي نو په دوولسمه(۱۲) د ذي الحجې دې ادآء کي.خو په ديارلسمه(۱۳) نه سي ادآء کولائي. ددې وجه داده چې قرباني دري ورځې مشروع ده او دغه اختر دقربانئ اختر دئ نو ځکه تر دوولسمي ورځې پوري قرباني مشروع ده نو لدې کبله تر دوولسمي ورځې پوري داختر لمونځ هم دعذر په وجه کولائي سي.

[۳۸۳](۱۸) تکبیر تشریق ددې ابتدآء د عَرَفَات دورځې دسهار دلمانځه څخه وروسته د یوم النحر(دلوئي اختردورځي) دماځیګر دلمانځه تر وروسته پوري دئ دامام ابوحنیفه په نیز.

تشریح تکبیر تشریق به د ذي الحجي دنهم تاریخ دسهار دلمانځه وروسته شروع کوي او د ذي الحجي دلسم تاریخ دماځیګر دلمانځه تر وروسته پوري یعني توټل تر اتو(۸) لمنځو پوري به وائي.

وجه دده دلیل دااثر دئ عَن اَبِي وَائِلٍ عَن عَبدِالله اَنَّهُ کَانَ یُکَبِّرُ مِن صَلوةِ الفَجرِ یَومَ عَرَفَةَ اِلیٰ صَلوةِ العَصرِ مِن یَومِ النَّحرِ (الف) (مصنف ابن ابي شیبة ۴۱۴ التکبیر من اَیِّ یومٍ هو الیٰ اَیِّ سَاعةٍ ج۱ ص۴۸۸ نمبر۳۳۵۶) ددې اثر څخه معلوم سو چې د یَومُ النَّحر یعني د ذي الحجَّي د لسم(۱۰)تاریخ ترماځیګره پوري به تکبیر تشریق وائي.

[۳۸۴](۱۹)اوصاحبین وفرمائل(دیوم عرفات دسهارڅخه)دآخري اَیَّامِ تَشرِیق دماځیګرترلمانځه پوري.

تشریح د ذي الحجي دنهم دسهار څخه د دیارلسم د ماځیګر ترلمانځه وروسته پوري به دصاحبین په نیز تکبیر تشریق ویل کیږي.

وجه دده دلیل دا حدیث دئ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ کَانَ رَسُولُ اللهِ یُکَبِّرُ فِي صَلوةِ الفَجرِ یَومَ عَرَفَةَ اِلیٰ صَلوةِ العَصرِ مِن آخِرِ اَیَّامِ التَّشرِیقِ حِینَ یُسَلِّمُ مِنَ المکتُوبَاتِ (ب) (دارقطني.کتاب العیدین ج۲ ص۳۷ نمبر۱۷۱۹ +سنن للبیهقي.باب من استحبَّ ای یبتدِئَ بِالتَّکبیر خلف صلوة الصبح من یوم عرفة ج۳ ص۴۴۰ نمبر۶۲۷۸)د دې حدیث څخه معلوم سو چې دنهم دسهار څخه د دیارلسم تر ماځیګر پوري به دهر فرض لمانځه وروسته تکبیر تشریق وائي.نن سبا فتویٰ پر دغه باندي ده.

لغت عَقِیبَ : وروسته.

[۳۸۵](۲۰)تکبیردفرض لمانځه وروسته دارنګه دئ اَللهُ اَکبَرُ اَللهُ اَکبَرُلاَاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَاللهُ اَکبَرُ اَللهُ اَکبَرُ وَلِلهِ الحَمد.

وجه دهر فرض لمانځه وروسته دتکبیر ویلو دلیل دمسئلي نمبر۱۹ حدیث دئ حِینَ یُسَلِّمُ مِنَ المکتُوبَاتِ (دارقطني نمبر۱۷۱۹)

حاشیه : (الف) عبدالله بن مسعود به تکبیر وایئ د نهم تاریخ دسهار څخه وروسته تر ماځیګر پوري (ب) حضور به تکبیر وایئ دنهم تاریخ دسهار څخه وروسته د آخري اَیَّامِ تَشرِیق تر ماځیګر پوري کوم وخت چې دفرض لمونځ سلام په ګرزاوئ (یام لرنه) د اَیَّامِ تَشرِیق آخري د ذِي الحِجَّه تر دیارلسم پوري دئ.

(بَابُ صَلٰوةِ الکُسُوفِ)

[۳۸۶](۱) اِذَا انکَشَفَتِ الشَّمسُ صَلّیٰ الاِمَامُ بِالنَّاسِ رَکعَتَینِ کَهَیئَةِ النَّافِلَةِ فِي کُلِّ رَکعَةٍ رُکُوعٌ وَّاحِدٌ.

(بَابُ صَلٰوةِ الکُسُوفِ)

ضروري یام لرنه دلمر و ترنځي نیولو ته کسوف وائي.په دغه وخت کي لمونځ سنت دئ.دلیل په دا حدیث دئ عَن اَبِي بَکرَةَ قَالَ کُنَّا عِندَالنَّبِيِّ فَنَکَسَفَتِ الشَّمسُ فَقَامَ رَسُولُ الله یَجُرُّ رِدَآئَهُ حَتّٰی دَخَلَ المسجِدَ فَدَخَلنَا فَصَلّیٰ بِنَا رَکعَتَینِ حَتّٰی اِنجَلَّتِ الشَّمسُ فَقَالَ النَّبِيُّ اِنَّ الشَّمسَ وَالقَمَرَ لاَیَنکَسِفَانِ لِمَوتِ اَحَدٍ فَاِذَا رَاَیتُمُوهَافَصَلُّواوَادعُوا حَتّٰی یَنکَشِفَ مَا بِکُم (الف) (بخاري شریف.باب الصلوة فِي کسوف الشمس ص۱۴۱ ابواب الکسوف نمبر۱۰۴۰ + ابوداؤدشریف.باب من قال اربعُ رکعاتٍ ص۱۷۵ نمبر۱۱۸۵،ددې باب آخري حدیث دئ)ددې حدیث څخه معلوم سو چې دلمر د ترنځي پر لمونځ کول په کار دئ.

[۳۸۶](۱) چې کله لمر ترنځه ونیسي نو امام به وخلګو ته دوه رکعته لمونځ ورکوي دنفلو په رکم په هر رکعت کي یوه رکوع .

تشریح چې لمر ترنځه ونیسي نو امام به په جماعت سره لمونځ ورکوي.او چې څه رکم عام دنفلو لمونځ کیږي چې په هر رکعت کي یوه رکوع کیږي او قرآت سوکه کیږي.دغه رنګه به دکسوف جماعت هم ورکوي.

وجه (۱) په لوړ حدیث کي و چې دوه رکعته لمونځ به ورکوي.او په هغه کي د دو رکوع ذکر نه و راغلئ نو ځکه په یوه رکعت کي به دوي رکوع وي نه کوي (۲) عَن قَبِیصَةَ الهِلاَلِيِّ قَالَ کَسَفَتِ الشَّمسُ عَلیٰ عَهدِ رَسُولِ الله فَخَرَجَ فَزَعًا یَجُرُّ ثَوبَهُ وَاَنَا مَعَهُ یَومَئِذٍ بِالمَدِینَةِ فَصَلّیٰ رَکعَتَینِ فَاَطَالَ فِیهِمَا القِیَامَ ثُمَّ اِنصَرَفَ وَاِنجَلَّت فَقَالَ اِنَّمَا هٰذِالآیَاتُ یُخَوِّفُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهَا فَاِذَا رَاَیتُمُوهَا

فَصَلُّوا كَاَحدَثِ صَلَوةٍ صَلَّيتُمُوهَا مِنَ المكتُوبَةِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب من قال اربع ركعاتٍ ص۱۷۵ نمبر۱۱۸۵+ سنن للبيهقي.باب من صلي في الخسوف ركعتين ج۳ ص۴۶۴ نمبر۶۳۳) په دې حديث کې دئ چې لکه څه رنګه چې دسهار لمونځ په يوه رکوع سره وکئ دغه رنګه به دلمر د ترنځي لمونځ په يوه رکوع سره کوي. د اَحدَثِ صَلَوةٍ مِنَ المكتُوبَةِ څخه دسهار لمونځ مراد دئ. دغه رنګه په دې حديث کې دوه واره د رکوع کولو تذکره نسته (۳) د سَمُرة بن جُنْدُب يو وړد حديث دئ. دهغه يوه تکړه دا رنګه ده فَصَلّيٰ فَقَامَ بِنَا كَاَطوَلِ مَا قَامَ بِنَا فِي صَلوةٍ قَطُّ لاَ نَسمَعُ لَهُ صَوتًا قَالَ ثُمَّ رَكَعَ بِنَا كَاَطوَلِ مَا رَكَعَ بِنَا فِي صَلوةٍ قَطُّ لاَ نَسمَعُ لَهُ صَوتًا قَالَ ثُمَّ سَجَدَ بِنَا

حاشيه : (الف) ابوبکره فرمائي چې موږ دحضور سره و چې لمر ترنځي ونيوئ.نوحضور خپل پټو کش کئ ولاړ سو.تر دې چې مسجد ته داخل سو نو موږ هم داخل سو نو موږ ته حضور دوه رکعته لمونځ راکړئ.تر دې چې لمر خلاص سو.بيا حضور وفرمائل چې لمر او سپوږمئ دچا دمرګ په وجه ترنځه نه نيسي.او چې تاسو دا رنګه حالت ووينئ نو لمونځ کوئ او دعآء کوئ تر هغو چې خلاص سي چې څه کيږي (ب) قبيصه هلالي فرمائي چې دحضور په زمانه کس لمر ترنځي ونيوئ نو حضور د بيري (پريشانئ) په حالت کې کپړه په ځرپدل را وواتئ او زه دحضور سره په هغه ورځ په مدينه کې وم.نو دوه رکعته لمونځ يه ورکئ او په هغه دواړو کې وړده قِيَامَ (ولاړه) وکړه.بيا واپس راغلئ او لمر خلاص سو.بيا يه وفرمائل نښانئ (نخښې) دي.الله عَزَّوَجَلَّ په دې باندې خلګ بږوي بس چې کله دا ووينئ نو لمونځ کوئ او چې کوم دا نوئ لمونځ مو وکئ يعني دسهار دلمانځه په رکم.

[۳۸۷](۲) وَيَطُوُّ القِرَآءَةُ فِيهِمَا وَيُخفِيْ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ

كَاَطوَلِ مَا سَجَدَ بِنَا فِي صَلوةٍ قَطُّ لاَ نَسمَعُ لَهُ صَوتًا ثُمَّ فَعَلَ فِي الرَّكعَةِ الأُخرىٰ مِثلَ ذَالِكَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب من قال اربع ركعات ص۱۷۵ نمبر۱۱۸۴) په دې حديث کې هم ددې خبرې تذکره سته چې په يوه رکعت کې دوې رکوع وي نه دي کړي.چې په نتيجه کې دا ثابت سو چې دلمر د ترنځي په لمانځه کې به په يوه رکعت کې دوې رکوع وي نه کوي.بلکه يوه رکوع به کوي (۴) صرف دغه يوه لمونځ دئ چې په هغه کې د دو رکوع ذکر راغلئ دئ په نورو لمنځو کې يوه رکوع ده.نوځکه امام ابوحنيفه هغه طرف ته تللئ دئ چې په هغه کې د يوې رکوع کولوتذکره ده. خو که چيرې څوک دوې رکوع وي کوي نو د هغه لمونځ نه فاسديږي بلکه لمونځ يه صحيح دئ.

فائده امام شافعي فرمائي چې د لمر دترنځي په لمانځه کې په هر رکعت کې دوې رکوع وي دئ.دده دليل دا حديث دئ اَنَّ عَائِشَةَ زَوجِ النَّبِيِّ اَخبَرَتهُ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلّيٰ يَومَ خَسَفَتِ الشَّمسُ فَقَامَ فَكَبَّرَ فَقَرَاَ قِرَآءَةً طَوِيلَةً ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً ثُمَّ رَفَعَ رَاسَهُ فَقَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَهُ وَقَامَ كَمَا هُوَ ثُمَّ قَرَاَ قِرَآءَةً طَوِيلَةً وَهِيَ اَدنيٰ مِنَ القِرَآءَةِ الأُولیٰ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً وَهِيَ اَدنيٰ مِنَ الرَّكعَةِ الأُولیٰ ثُمَّ سَجَدَ سُجُوداً طَوِيلاً ثُمَّ فَعَلَ فِي الرَّكعَةِ الآ خِرَةِ مِثلَ ذَالِكَ ثُمَّ سَلَّمَ وَقَد تَجَلَّتِ الشَّمسُ (ب) (بخاري شريف.باب هل يقول كسفت الشمس او خسفت ص۱۴۲ نمبر۱۰۴۷ +مسلم شريف. كتاب الكسوف ص۲۹۵ نمبر۹۰۱) ددې حديث څخه ثابت سو چې په هر رکعت کې دي دوې رکوع وي.

[۳۸۷](۲) په دواړو رکعتو کې به قرات وړد وي.او سوکه به کوي دامام ابوحنيفه په نيز.او صاحبين وفرمائل چې په زوره به ويل کيږي.

وجه (۱) په مسئله نمبر ۱ کې د ابوداؤدشريف حديث تيرسو چې په هغه کې دا الفاظ و فَقَامَ بِنَا كَاَطوَلِ مَا قَامَ بِنَا فِي صَلوةٍ قَطُّ لاَ نَسمَعُ لَهُ صَوتًا (ج) (ابوداؤدشريف.باب من قال اربع ركعات ص۱۷۵ نمبر۱۱۸۴) په دې حديث کې راوي فرمائي چې د ولاړې په حالت کې هم موږ دحضور آواز نه اوربدئ.ددې مطلب دادئ چې حضور قرات په پټه(سري)کاوئ (۲) ددغه ابوداؤدشريف يو بل حديث دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت كَسَفَتِ الشَّمسُ عَلَيْ عَهدِ رَسُولِ اللهِ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ فَصَلّيٰ بِالنَّاسِ فَقَامَ فَحَزَرتُ قِرَائَتَهُ فَرَاَيتُ اَنَّهُ قَرَاَ سُورَةَ البَقَرَةِ (د) (ابوداؤدشريف.باب القرآءَةِ فِي صَلوةِ الكسوف ص۱۷۵ نمبر۱۱۸۷) په دې حديث کې دئ چې ما اندازه ولګول چې دحضور دسورة بقره قرآت دومره وړد و.د اندازې لګولو مطلب به دغه وي چې حضور په زوره قرآت نه و کړئ. که نه خو صفا به ويلي وائي چې حضور سورة بقره وويل.

حاشيه : (الف) حضورلمونځ راکئ نو مور يه دومره تر ډېره ودرولو چې هيڅ کله دومره ډېر نه و درېدلي.دحضورهيڅ آواز مور نه اورېدئ.بيا يه په مور دومره ورده رکوع وکړه چې په يوه لمانځه کې دومره ورده رکوع نه وه کړی.مور دده آواز نه اورېدئ.بيا يه وفرمائل چې په مور يه دومره ورده سجده وکړه چې دومره ورده سجده يه هيڅ کله په يوه لمانځه کې هم نه وه کړی.مور دده هيڅ آواز نه اورېدئ.بيا يه په دوم رکعت کې دغه رنګه وکړل (ب) حضورلمونځ وکئ په هغه ورځ چې لمر ترنځي ونيوئ.بس ولاړ سو او تکبير يه ووايئ او ورد قرات يه وکئ.بيا يه ورده رکوع وکړه.بيا يه سر راپورته کئ بيا يه وويل سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَهُ بيا ولاړ سو چې څه رنګه و.بيا يه ورد قرآت وکئ هغه د اول قرات څخه کم(لږ)و بيا يه ورده رکوع وکړه هغه د اولي رکوع څخه کم(لږ)و.بيا يه ورده سجده وکړه بيا يه په دوم رکعت کې هم دغه رنګه وکړل.بيا يه سلام په وګرزاوئ او لمر خلاص سوئ و (ج) مور يه تر ډېره په ولاړي درولي و په يوه لمونځ کې هم دومره تر ډېره نه و درېدلئ.مور دحضور آواز نه اورېدئ (د) حضرت عائشې وفرمائل لمر دحضور په زمانه کې ترنځي ونيوئ نو حضور را وواتئ او وخلګو ته لمونځ ورکئ.بس په ولاړي ودرېدئ نو ما دده دقرآت اندازه ولګول نو موليدئ چې حضور دسورة بقري مطابق ولوستئ.

يُجهرُ [٣٨٨](٣) ثُمَّ يَدعُو بَعدَهَا حَتّٰى تَنجَلِيَ الشَّمسُ [٣٨٩](٤) ويُصَلّيْ بِالنَّاسِ اَلاِمَامُ الَّذِي يُصَلّي بِهِمُ الجُمعَةَ فَاِن لَمَ يَحضُرِالاِمَامُ صَلّٰيهَا النَّاسُ فُرَادىٰ [٣٩٠](٥) وَلَيسَ فِي خُسُوفِ القَمَرِ جَمَاعَةٌ وَاِنَّمَا يُصَلّي كُلُّ وَاحِدٍ بِنَفسِهِ [٣٩١](٦) وَلَيسَ فِي الكُسُوفِ

ددې څخه معلوميږي چې په صلوة کسوف کې قرات سِرّي(سوکه) و.

فـائـده صاحبين فرمائي چې قرآت بـه پـه زوره وائي.ددوئـي دليـل دا حـديث دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت جَهَرَ النَّبِيُّ فِي صَلوةِ الخُسُوفِ بِقِرَآءَتِهِ (بخاري شريف.باب الجهر بالقرآءة في الكسوف.ص١٤٥ نمبر١٠٦٥ +ابوداؤدشريف.باب القرآءة في صلوةالكسوف ص١٧٥ نمبر١١٨٨) ددې حديث څخه معلوم سوچې حضور قرآت جهري کړئ و.نو ځکه دلمر دترنځي په لمانځه کې جهري قرآت کول سنت دئ.

[٣٨٨](٣) بيا به دعآء کوي تر هغو چې لمر خلاص سي.

تـشريـح دلمر دترنځي لمونځ به وږدوي.لېکن دوږد لمونځ ادآء کولو وروسته که بيا هم دلمر ترنځه خـتم نـه سـوه نو به تر هغه وختـه دعـآءکوي تـر څـو چـي دلمرترنځـه ختميـږي.ددې دليـل دا حـديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ..... فَقَالَ اِنَّ الشَّمسَ وَالقَمَرَ آيَتَانِ مِن آيٰتِ اللهِ وَاِنَّهُمَا لَايَنخَسِفَانِ لِمَوتِ اَحَدٍ فَاِذَا كَانَ ذَالِكَ فَصَلُّوا وَادعُوا حَتّٰى يَكشِفَ مَابِكُم (الف) (بخاري شريف.باب الصلوة في كسوف القمر ص١٤٥ نمبر١٠٦٣) په دې حديث کې دئ چې لمونځ کوئ او تر هغه وخته دعـآء کـوئ تر څوچې ترنځه نه وي ختم سوي.

[٣٨٩](٤) وخلګو ته دي هغه امام لمونځ ورکړي کوم چې وخلګو تـه دجمعـي لمـونځ ورکوي.بيـا کـه چيـري امـام حاضر نه وي نو خلګ به تنها تنها لمونځ کوي.

وجـه (١) چې امام نه وي نو خلګ انتشار خوروي او شور به کوي ځکه چـي امـام وي نـو پـه جماعـت سره دي لمونځ ورکړي او که امام نه وي نو خلګ دي جلا جلا لمونځ وکي (٢) دلمر د ترنځي پر وخـت حضـور جماعـت ورکړي ددې مطلب دادئ چې امام به لمونځ ورکوي.

[٣٩٠](٥) او د سپوږمئ په ترنځه کې جماعت نسته.صرف هر سړئ به جلا جلا لمونځ کوي.

وجـه (١) د سپوږمئ او مياشتي ترنځه په شپه کې وي چې دهغه په وجه نوره زياته تاريکي خوريږي.نو ځکه کـه دمياشتي په ترنځه کې دجماعت التزام وکړي نو خلګ به په تکليف سي.او انتشار به راسي.نو لدې کبله دمياشـتي د ترنځي په وخت کې به خلګ تنها تنها لمونځ کوي (٢) په ضروري پام لرنه کې دبخاري شريف حديث تيرسو فَاِذَا كَانَ ذَالِكَ فَصَلُّوا وَادعُوا حَتّٰى يَكشِفَ بِكُم (بخاري شريف.ص١٤٥ نمبر١٠٤٠) په دې کې دا ترغيب ورکړئ دئ چـي کـوم دغـه رنګه دخدائ پاك آيتونه ښکاره سي نو په خپله لمنځونه کوئ او دعآوي کوئ.نـو ځکـه دمياشـتي پـه ترنځـه کـې بـه خلګ يواځي او تنهآء لمونځونه کوي.

[٣٩١](٦) او دکسوف په لمانځه کې خطبه نسته.

حاشيه (الف) حضور وفرمائل لمر او سپورمئ دخدائ دآيتونو څخه نښانئ دئ.دوئي د چا دمرګ څخه ترنځه نه نيسي.نو چې کله داوي نو لمونځ کوئ او دعآء کوئ تر هغو چې دا خلاص سي.

خُطبَةٌ .

تشريح حضور دکسوف دلمانځه وروسته ولوسنل لپکن هغه خطبه يه ديو رسم دليري کولو لپاره لوسنلي وه. چې دخلګو دا خيال و چې ديو چا دمرګ يا د ژوند په وجه لمر ترنځه نيسي او په هغه ورځ دحضور صاحبزاده (زوئي) ابراهيم فوت سوئ و.نوحضور ددي دنفي کولو لپاره خطبه وويل لپکن د اختر او دجمعي دلمانځه په شان باضابطه (باقاعده) خطبه ويل ضروري نه ده.دخطبې بغيره هم لمونځ صحيح کيږي. دغه ركم آيةٌ مِن آياتِ اللهِ په وخت کي لمونځ کول دعآء کول او دخپلو ګناهونو څخه استغفار کول اصل دئ.ودي ته په خپله راوي هم اشاره کړې ده عَن اَبِي بَكرَةَ .....فَقَالَ اِنَّ الشَّمسَ وَالقَمَرَ آيَتَانِ مِن آيَاتِ اللهِ وَاَنَّهُمَا لاَ يَنخَسِفَانِ لِمَوتِ اَحَدٍ وَاِذَ كَانَ ذَالِكَ فَصَلُّوا وَادعُوا حَتّٰى يَنكَشِفَ مَابِكُم وَذَالِك اَنَّ اِبنًا لِلنَّبِيِّ مَاتَ يُقَالُ لَهُ اِبرَاهِيمُ فَقَالَ النَّاسُ فِي ذَالِكَ (الف) (بخاري شريف.باب الصلوة في كسوف القمرص١٤٥ نمبر١٠٦٣) په دې حديث کې دلمانځه وروسته د فَقَالَ : څخه تر اخير پوري خطبه وويل.لپکن راوي په خپله وائي چې دا خطبه په دا وجه وه چې په دغه ورځ دحضور دصاحبزاده (زوئ) ابراهيم انتقال سوئ و.نو ځکه دخلګو د اعتقاد دختم کولو لپاره خطبه وويل.که نه نو اصل خو فَصَلُّوا وَ ادعُوا دئ. او په يو بل حديث کې دئ فَاِذَا رَاَيتُم شَيئًا مِن ذَالِكَ فَافزَعُوا اِلىٰ ذِكرِاللهِ وَدُعَآئِهِ وَاِستِغفَارِهِ (ب) (بخاري شريف.باب الذكرفي الكسوف ص١٤٥ نمبر١٠٥٩) چې ددې آياتُ(نښانئ) په وخت کې په ښېره سره دالله د ذکر او استغفار پر لوري ولاړ سئ.که چيرې يو وخت وخلګو ته ددې ټولو مسئلو دسمجاوېدلو ضرورت راسي نو سمجاؤ دې کي.باقاعده دخطبې ويلو ضرورت نسته چې ددې بغيره دي نو دکسوف لمونځ نه صحيح کيږي.

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل لمر او سپورمئ دخدائ پاك د آيتوڅخه نښانئ دي.دا ديو چا دمرګ څخه ترنځه نه نيسي.بس چې کله دا وي نو لمونځ کوئ او دعآوي کوئ.تر هغو چې دوئي خلاص سي.او دا يه په دا وجه وويل چې دحضور صاحبزاده (زوئي) چې وهغه ته ابراهيم ويل فوت سوئ و.نو خلګو ددې په اړه ډيري خبري کولې (ب) بس چې په دې نښانئ کې يوه ووينئ نو په ښېره سره منډه کړئ دالله دذکر،دعآء او استغفار پر لوري.

(بَابُ صَلوةِ الاِستِسقَآءِ)

[٣٩٢](١) قَالَ اَبُوحَنِيفَةَ لَيسَ فِي الاِستِسقَآءِ صَلوةٌ مَسنُونَةٌ بِالجَمَاعَةِ فَاِن صَلّٰى النَّاسُ وُحدَانًا جَازَ وَاِنَّمَا الاِستِسقَآءُ اَلدُّعَآءُ وَالاِستِغفَارُ

[٣٩٣](٢) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالىٰ يُصَلّي

ضروري پام لرنه د استسقآء معنىٰ ده دباران طلب کول.چې په ملك کې قحط سالي جوړ سي او بارانونه نه وي نو استسقآء کېدلائيسي.دامام ابوحنيفه په لمونځ کول څه خاص ضروري نه دئ.صرف په دعآء سره هم استسقآء کېدلائي سي او لمونځ هم کولائي سي.او دصاحبين په نېز داستسقآء لمونځ مسنون دئ.د دواړو دلائل لاندي را روان دئ.ددې دليل دا آيت هم دئ فَقُلتُ اِستَغفِرُوارَبَّكُم اِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا يُرسِلِ السَّمَآءَ عَلَيكُم مِدرَارًا (ب) (آيت ١٠\١١

سورة نوح ١٧) په دې آيت کې دئ چې دخپلوخپلو ګناهوڅخه توبه وکئ چې خدائ پاك پر تاسو باندې ښه باران و وروي.او داستسقآء په لمانځه کې هم دخپلو ګناهوڅخه توبه کول کيږي نو ځکه ددې آيت څخه استسقآء ثابتيږي.

[٣٩٢](١) امام ابوحنيفه وفرمائل په استسقآء کې په جماعت سره لمونځ کول مسنون دئ.بيا کـه چيـرې تنهـا لمونځ وکې نو جائز دئ.استسقآء صرف د دعآء او استغفار نوم دئ.

تـشريـح حضور کله نا کله د استسقآء لمونځ کړئ دئ او کله نا کلـه صـرف دجمعـې پـه لمانځـه کـې لاس پورتـه کړي دي دعآء يه کړي ده.نو ځکه استسقآء په دواړه رکم جائز ده.خالص لمونځ کول هم مسنون نه دئ.

وجـه (١) په لوړ تبر سوئ آيت کې دا حکم دئ چـې دخپلـو ګناهوڅخـه توبـه او اسـتغفار وکـئ نـو ښـه بـاران بـه وسي.ددې څخه دا معلوميږي چې دګناهو څخه توبه کول او بارانِ رحمت غوښـتل استسـقآء ده (٢) پـه حـديث کـې دئ چې داستسقآء لپاره دجمعې دخطبې په وخت کې حضور لاسونه پورته کړل دعآء يـه وکړه.دهغـه څخـه بـاران وسو عَن اَنَسِ بنِ مَالِكٍ اَنَّ رَجُلاً دَخَلَ المسجِدَ يَومَ الجُمعَةِ وَرَسُولُ اللهِ قَائِمًا يَخطُبُ ... فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ يَدَيهِ قَالَ اَللّٰهُمَّ اَغِثنَا (الف) (بخاري شـريف.باب الاستسـقآء في خطبـة الجمعـة غيرمسـتقبل القبلـة ص١٣٨ نمـبر١٠١٤\مسـلم شـريف.كتاب الاستسـقآء ص١٩٣ نمبر٨٩٧\ابوداؤدشريف.باب رفع اليدين في الاستسقآء ص١٧٣ نمبر١١٧٥،ددې باب آخري حديث دئ) ددې حـديث څخـه معلـوم سو چې حضور ددې لپاره يو مستقل لمونځ ونه کړئ صرف پر دعآء باندې اکتفآء وکړه.نو ځکه دامام ابوحنيفه پـه نېز لمونځ ضروري نه دئ.صرف په دعآء او استغفار باندې هم استسقآء کېدلائي سـي.او کـه لمـونځ وکـي نـو څـه دحرج خبره نه ده.ځکه چې هغه هم په حديث سره ثابته ده.

[٣٩٣](٢) امام ابويوسف او امام محمد وفرمائل چې امام به دوه رکعته لمونځ ورکوي.او په هغه کـي بـه قـرات پـه زوره وائي.

وجـه دده دليل دا حديث دئ عَن عِبَادِ بنِ تَمِيمٍ عَن عَمِّهِ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ يَستَسقِي فَتَوَجَّهَ اِلىٰ القِبلَةِ يَدعُو وَحَوَّلَ

حاشيه : (الف) ما وويل دخپل رب څخه استغفار وکه.هغه دېر معاف کونکئ دئ.پر تاسو به مسلسل باران وکي (ب) انس بن مالك فرمائي چې يو سړئ دجمعې په ورځ مسجد ته داخل سو او حضور ولاړ خطبه يه ويله ... حضور لاس پورته کړه او وفرمائل اَللّٰهُمَّ اَغِثنَا .

اَلا مَامُ رَكعَتَينِ يَجهَرُ فِيهِمَا بِالقِرَآءَةِ [٣٩٤](٣) ثُمَّ يَخطُبُ وَيَستَقبِلُ القِبلَةَ بِالدُّعَآءِ وَيُقَلِّبُ الاِمَامُ رِدَآئَهُ وَلاَ يُقَلِّبُ القَومُ اَردِيَتَهُم [٣٩٥](٤) وَلاَ يَحضُرُ اَهلُ الذِّمَّةِ لِلاِستِسقَآءِ .

رِدَآئَهُ ثُمَّ صَلّيٰ رَكعَتَينِ يَجهَرُ فِيهِمَا بِالقِرَآءَةِ (الف) (بخاري شريف.باب الجهر بالقرآءةفي الاستسقآء ص١٣٩ نمبر١٠٢٤\ مسلم شريف.كتاب صلوة الاستسقآء ص٢٩٣ نمبر٨٩٤\ ابوداؤدشريف.ابواب صلوة الاستسقآء ص١٧١ نمبر١١٦١) ددې حـديث څخـه معلـوم سـو چـې امام به دوه رکعته لمونځ ورکوي.او قرات به په زوره کوي او پټو به هم دنبۍ فالي لپاره التيا کوي(پر دا بله خوا به اړه وي) چې ائ الله لکه څه رنګه چې پټو التيا کوم دغه رنګه زما حالت هم التيا کړي(واړوي) . او دا هم معلوم سو چې د دعآء په وخت کې دي وقبله ته استقبال وکړي.

[٣٩٤](٣) بيا دي امام خطبه ووائي او د دعآء غوښتلو سره دي دقبلې استقبال وکي او امام دي خپل پټو پـر دا بلـه خوا واړوي او قوم(خلګ) دي خپل پټوګان نه اړوي.

وجـه (١) د دانورو خبرو دلائل تير سو.د خطبې ويلو دليـل دا حـديث دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت شَكَاالنَّاسُ اِلىٰ رَسُولِ اللهِ قُحُوطَ المطَرِ فَاَمَرَ بِمِنبَرٍ فَوُضِعَ لَهُ فِي المصَلّيٰ ... فَقَعَدَ عَلَيٰ المِنبَرِ فَكَبَّرَ وَحَمِدَاللهَ عَزَّ وَجَلَّ الخ (ب) (ابوداؤدشريف.باب رفع اليدين في الاستسقآء ص١٧٢ نمبر١١٧٣) په دې حديث کې ددې تذکره سته چې دحضور لپاره منبر کښېښوئ او پـر هغـه باندې حضـور کښېنستئ او تکبير وتحميد يه ووايئ چې په دي کې وخطبه ته اشاره ده.خو دا رنګه خطبه يه نه وويل کوم چـې پـه عيدين او جمعه کې ويل کيږي.ځکه خو په بعضو حديثو کې راغلئ دي چې دا رنګه خطبه يـه نـه ويلـه (٢) عَن عَبدِ اللهِ بنِ زَيدٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ يَستَسقِي فَخَطَبَ النَّاسَ فَلَمَّا اَرَادَ اَن يَّدعُو اَقبَلَ بِوَجهِهِ اِلىٰ القِبلَةِ حَوَّلَ رِدَآئَهُ (دارقطني.كتاب الاستسقآء ج٢

ص۵۴ نمبر۱۷۸۶) ددې حديث څخه هم معلوم سو چې د استسقآء په لمانځه کې خطبه ويل په کار ده.او خلګ د توبې او استغفار په باره کې پويول (پوه کول) په کار دي.

[۳۹۵](۴) په استسقآء کې دي ذِمّي نه حاضريږي.

وجه ذِمّي کافر دئ.پر هغه باندي د الله غضب نازليږي نو ځکه د اُوبُو غوښتلو پر وخت مغضوب خلګ بايد نه سي حاضر.

حاشيه : (الف) حضور د اُوبُو غوښتلو لپاره را وواتئ.نو وقبله ته متوجه سو دعآء يه غوښتله او خپل پټو يه پر دا بله خوا واړاوئ.بيا يه دوه رکعته لمونځ وکئ.په دې دواړو کې په زوره قرات ووايئ (ب) حضرت عائشه فرمائي چې خلګو دحضور په مخکې د باران د نه کېدلو شکايت وکئ.بس دمنبر راوړلو حکم وسو.نو دحضور لپاره په عيدګاه کې منبر کښېښوئ.حضور پر هغه باندي تشريف فرما سو بيا يه تکبير ووايئ.د الله تعريف يه وکئ (بيا ومخ ته د وړدې خطبې ويلو ذکر دئ)

(بَابُ قِيَامِ شَهرِ رَمَضَانَ)

[۳۹۶](۱) يَستَحِبُّ اَن يَّجتَمِعَ النَّاسُ فِي شَهرِ رَمَضَانَ بَعدَ العِشَآءِ فَيُصَلِّيْ بِهِم اِمَامُهُم خَمسَ تَروِيحَاتٍ فِي كُلِّ

(بَابُ قِيَامِ شَهرِ رَمَضَانَ)

ضروري پام لرنه دقيام رمضان څخه دلته تهجد نه دي مراد.بلکه تراويح مراد دي.په مسلم شريف کې ،بَابُ التَّرغِيبِ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ وَهُوَ التَّرَاوِيحُ، مستقل باب قائم کړئ دئ چې قيام رمضان هغه تراويح دي.

[۳۹۶](۱) مستحب دادئ چې خلګ د روژې په مياشته کې دماخستن وروسته جمع سي.او امام دي ودوئي ته پنځه ترويحې ورکي.او په هره ترويحه کې دي دوه سلام وي.

تشريح په هره ترويحه کې به دوه واره سلام په ګرزوي.دوه رکعته او دوه رکعته به څلور رکعته سي. نو ګواکه په هره ترويحه کې څلور رکعته سو نو په پنځه ترويحو کې شل (۲۰) رکعته سو.

وجه د تراويح کولو دليل دا حديث دئ (۱) اَنَّ عَائِشَةَ اَخبَرَتهُ اَنَّ رَسُولَ اللهِ خَرَجَ لَيلَةً مِن جَوفِ اللَّيلِ فَصَلّيٰ فِي المسجِدِ وَصَلّيٰ رِجَالٌ بِصَلَاتِهِ فَاَصبَحَ النَّاسُ فَتَحَدَّثُوا فَاجتَمَعَ اَكثَرُ مِّنهُم فَصَلّيٰ فَصَلُّوا مَعَهُ فَاَصبَحَ النَّاسُ فَتَحَدَّثُوا فَكَثُرَ اَهلُ المسجِدِ مِنَ اللَّيلَةِ الثَّالِثَةِ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ فَصَلّيٰ بِصَلوتِهِ فَلَمَّا كَانَتِ اللَّيلَةُ الرَّابِعَةِ عَجَزَ المسجِدُ عَن اَهلِهِ حَتّيٰ خَرَجَ لِصَلوةِ الصُّبحِ فَلَمَّا قَضَيٰ الفَجرَ اَقبَلَ عَلَيٰ النَّاسِ فَتَشَهَّدَ ثُمَّ قَالَ اَمَّا بَعدُ ! فَاِنَّهُ لَم يَخفَ عَلَيَّ مَكَانَكُم لٰكِنِّي خَشِيتُ اَن تُفرَضَ عَلَيكُم فَتَعجِزُوا عَنهَا فَتَوَفّيٰ رَسُولُ اللهِ وَالاَمرُ عَلَيٰ ذَالِكَ (الف) (بخاري شريف.باب فضل من قام رمضان ص۲۶۹ نمبر۲۰۱۲\ مسلم شريف.باب الترغيب في قيام رمضان وهوالتراويح ص۲۵۹ نمبر۱۷۶۱\۱۷۸۴ + ابوداؤدشريف.كتاب تفريع ابواب شهررمضان باب في قيام شهر رمضان ص۲۰۲ نمبر۱۳۷۳)ددې حديث څخه معلوم سوچې حضور د تراويح لپاره په روژه کې دري ورځې درېدلئ و او خلګو ته تراويح ورکړي.خو همېشه يه په دي وجه ونه کړې چې داسي نه چې فرض سي..... دشل (۲۰) رکعته تراويح دليل دا حديث دئ (۱) عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ يُصَلِّي فِي شَهرِ رَمَضَانَ فِي غَيرِ جَمَاعَةٍ بِعِشرِينَ رَكعَةٍ وَالوِترِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماروي في عدد ركعاتِ القيام في شهر رمضان ج۲ ص۶۸۹ نمبر۴۶۱۵) (۲) اَنَّ عُمَرَ بنِ خَطَّابٍ اَمَرَ رَجُلاً يُصَلِّي بِهِم عِشرِينَ رَكعَةً (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۶۷۷ كم يصلي في رمضان من ركعةٍ ج۲ ص۱۶۵ نمبر۷۶۸۱\

حاشيه : (الف) حضرت عائشې خبر ورکړئ دئ چې حضور يوه شپه نيمه شپه وواتئ نو په مسجد کې لمونځ ورکئ او خلګوهم دده سره لمونځ وکئ.چې سهار سو نو خلګو خبري شروع کړې نو په دومه شپه دهغو ځخه زيات خلګ جمع سو.نو حضور لمونځ وکئ او خلګو هم دده سره لمونځ وکئ.چې سهار سو نو خلګوخبري شروع کړي.نو دمسجد خلګ دريمه شپه نور زيات سو.نوحضور را وواتئ او خلګو ته لمونځ ورکئ نو خلګو دحضور شاته لمونځ وکئ.بيا چې کله ځلورمه شپه سوه نو مسجد دخلګو ځخه ناکافي سو.تردې چې حضور دسهار لمانځه ته را وواتئ.بس چې دسهار لمونځ په وکئ نو وخلګو ته متوجه سو.حضور تشهد ووايئ بيا يه وفرمائل اَمَّا بَعدُ ! ستاسو حرکتونه پر ما پټ نه و لېکن زه ببرپرم چې پر تاسو به تراويح فرض سي.او تاسو دهغه د ادآء کولو ځخه عاجز سئ.بيا دحضور انتقال وسو او معامله دغه رنګه وه (ب) حضرت ابن عباس وفرمائل چې حضور د روژې په مياشته کې بغير دجماعت ځخه شل(۲۰) رکعته او وتر کول (ج) حضرت عمر ويو سړي ته حکم ورکئ چې وخلګو ته شل(۲۰) رکعته ورکه.

تَروِيحَةٍ تَسلِيمَتَانِ [۳۹۷](۲) وَيَجلِسُ بَينَ كُلِّ تَروِيحَتَينِ مِقدَارَ تَروِيحَةٍ ثُمَّ يُوتِرُ بِهِم وَلاَيُصَلِّي الوِترُ بِجَمَاعَةٍ فِي غَيرِ شَهرِ رَمَضَانَ.

مصنف عبدالرزاق.باب قيام رمضان ج ۴ ص۲۶۰ نمبر۷۷۳۰) ددې حديث او دصحابه دعمل ځخه معلوم سو چې د تراويح لمونځ شل(۲۰) رکعته دئ.

پام لرنه دحضرت عائشې په حديث کې دئ چې په روژه او د روژې بغيره حضورترېولس(۱۱) رکعته زيات نه دي کړي او دغه حديث امام بخاري او نورو په بَابُ قِيَامِ رَمَضَانَ کې ذکر کړئ دئ.دا حديث د شل(۲۰) رکعته تراويح خلاف نه دئ.ځکه چې په دې حديث کې د قِيَامُ اللَّيل ځخه مراد دتهجد لمونځ دئ.ځکه چې (۱) دغه حديث يه په مسلم شريف کې او په بخاري شريف کې د تهجد او وترو په باب کې هم نقل کړئ دئ (۲) په دې حديث کې ذکر دئ چې حضور ځلور رکعته پر يوه لار ادآء کول چې دځسن يه انتهآء نه وه.او دتراويح لمونځ پر يوه لاره ځلور رکعته نه کيږي.بلکه دوه دوه رکعته کيږي.ځکه هغه حديث دتراويح په باب نه دئ بلکه دتهجد په باب دئ.دحضرت عائشې دحديث تکړه دارنګه ده يُصَلِّي اَربَعًا فَلاَتَسئَل عَن حُسنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّي ثَلٰثًا (الف) (بخاري شريف.باب فضل من قام رمضان ص۲۶۹ نمبر۲۰۱۳\مسلم شريف.نمبر۷۳۸) په دې حديث کې ذکر دئ چې حضور ځلور رکعته په يوه نيت ادآء کول او بيا يه ځلور رکعته پر يوه ځائ کول. او ځلور رکعته دتراويح پر يوه ځائ نه کيږي نو ځکه دا حديث دتهجد په باره کې دئ (۳) سنن للبيهقي دواړه روايتونه دا رنګه جمع کړي دي چې اول يولس (۱۱) رکعته به شايد دتهجد کوله.بيا به شل(۲۰) رکعته تراويح کولې دسنن بيهقي جمله دا رنګه ده وَيُمكِنُ الجَمعُ بَينَ الرِّوَايَتَينِ فَاِنَّهُم كَانُوا يَقُومُونَ بِاِحدَيٰ عَشرَةَ ثُمَّ كَانُوا يَقُومُونَ بِعِشرِينَ وَيُوتِرُونَ بِثَلاَثٍ (ب) (سنن للبيهقي.باب ما روي في عدد ركعات القيام في شهر رمضان ج۲ ص۶۹۹ نمبر۴۶۱۸)

[۳۹۷](۲) د هر دوو ترويحو په مابين کې به کښېني دترويحې په اندازه بيا به وخلګو ته وتر ورکوي.او وتر به د روژې ځخه علاوه په جماعت سره نه کوي.

وجه (۱) د دوو ترويحو په مابين کې دناستي لپاره دا اثر دئ كَانَ عُمَرُ بنُ الخَطَّابِ يُرَوِّحُنَا فِي رَمَضَانَ يَعنِي بَينَ التَّروِيحَتَينِ قَدرَ مَايَذهَبُ الرَّجُلُ مِنَ المَسجِدِ اِلىٰ سَلعٍ (ج) (سنن للبيهقي.باب ماروي في عدد ركعات القيام في شهر رمضان ص۷۰۰ نمبر۴۶۲۲) ددې عمل ځخه معلوم سو چې د دوو ترويحو په مابين کې لږ ځه ناسته په کارده چې خلګ نه سې پرېشان(ستړي).او په روژه کې به د وترو لمونځ په جماعت سره ادآء کوي.ددې لپاره اثر په مسئله نمبر ۱ کې دبيهقي حديث تېرسوئ دئ چې وتر يه هم دتراويح سره يو ځائ ادآء کول (۲) دا اثر دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ دَعَا القُرَّآءَ فِي رَمَضَانَ فَاَمَرَهُم مِنهُم رَجُلاً يُصَلِّي بِالنَّاسِ عِشرِينَ رَكعَةً قَالَ وَكَانَ عَلِيٌّ يُوتِرُهُم (د) (سنن للبيهقي.باب ماروي في عددركعات القيام في شهررمضان ص۶۹۹ نمبر۴۶۲) ددې اثرځخه معلوم سوچې په روژه کې به وتر په جماعت سره وركوي. په نورو ورځو کې به خلګ جلا جلا وتر ادآءکوي.

حاشيه : (الف) حضور ځلور رکعته لمونځ کاوئ ته دهغه ښه والئ او وړد ول مه پوښته.بيا يه ځلور رکعته کول ته دهغه ښه والئ او وړد ول مه پوښته.بيا يه دري رکعته کول (ب) امکان لري د دواړو روايتو په ما بين کې دا رنګه جمع کول چې دا خلګو يوولس (۱۱) رکعته کول بيا ولاړېدل او شل (۲۰) رکعته کې کول او دري رکعته وتر يه کول (ج) عمربن خطاب ومور ته په روژه کې آرام را کاوي يعني د دو ترويحو په مابين کې په دونه اندازه چې سړئ دمسجد ځخه مقام سلع ته رسيږي (د) حضرت علي قُرَّآء (قاريان) را وبلل په

روژه کي او په هغو کي ويوه ته حکم ورکئ چي وخلګوته شل (۲۰) رکعته لمونځ ورکه.وفرمائل چي حضرت علي ودوئي ته وتر ورکول.

(بَابُ صَلٰوةِ الخَوفِ)

[۳۹۸](۱)اِذَ اِشتَدَّ الخَوفُ جَعَلَ الاِمَامُ النَّاسَ طَائِفَتَينِ طَآئِفَةً اِلٰى وَجهِ العَدُوِّ وَطَآئِفَةً خَلفَهُ فَيُصَلِّي بِهٰذِهِ الذَّآئِفَةِ رَكعَةً وَسَجدَتَينِ فَاِذَا رَفَعَ رَاسَهُ مِنَ السَّجدَةِ الثَّانِيَةِ مَضَت هٰذِهِ

(بَابُ صَلٰوةِ الخَوفِ)

ضروري پام لرنه د صَلٰوةُ الخَوف صورت دادئ چي ټوله خلګ په يوه امام پسي لمونځ کول غواړي نو امام به دوه جماعتونه جوړکړي.او وهر يوه جماعت ته به نيم نيم لمونځ ورکړي.لېکن که دوه امام وي نو هر يو جماعت به په جلا جلا امام پسي پوره لمونځ کوي.بيا د نيم نيم لمونځ کولوضرورت نسته.بعض امامان فرمائي چي تر څوچي حضور ژوندئ و نو هر سړي دا غوښتل چي زه خپل آخري لمونځ په حضور پسي وکم نوځکه دحضور په ژوند کي صَلٰوةُ الخَوف مشروع و.لېکن دحضور د وِصَال وروسته اوس دارنګه لمونځ کول منسوخ دئ.اوس به دوه جلا جلا امامان وي او دواړه جماعتونه به په جلا جلا امام پسي لمونځ کوي. ددوئي استدلال ددي آيت څخه دئ چي د صَلٰوةُ الخَوف په باره کي را نازل سوئ دئ. وَاِذَا كُنتَ فِيهِم فَاَقَمتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلتَقُم طَآئِفَةٌ مِنهُم مَعَكَ وَالیَاخُذُوا اَسلِحَتَهُم فَاِذَا سَجَدُوا فَلیَكُونُوا مِن وَّرَآئِكُم وَالتَاتِ طَآئِفَةٌ اُخرٰى لَم یُصَلُّوا فَلیُصَلُّوا مَعَكَ وَالیَاخُذُوا حِذرَهُم وَاَسلِحَتَهُم (الف) (آيت ۱۰۲ سورة النسآء ۴) په دي آيت کي وحضور ته خطاب دئ چي ته موجود يي نو وخلګو ته د صَلٰوةُ الخَوف جماعت ورکه.چي مطلب يه دا را وزي چي ستاځخه وروسته به صَلٰوةُ الخَوف دارنګه نه کيږي.

فائده جمهور امامان فرمائي چي حضرت ابوموسي اشعري وخلګو ته صَلٰوةُ الخَوف ورکئ ددي مطلب داسو چي وروسته هم صَلٰوةُ الخَوف جائز دئ عَن اَبِي العَالِيَةَ قَالَ صَلّٰى بِنَا اَبُومُوسٰى الاَشعَرِيّ بِاَصبَهَانَ صَلٰوةَ الخَوفِ (ب) (سنن للبيهقي.باب الدليل علي ثبوت صلوة الخوف وانها لم تنسخ ج۳ ص۳۵۸ نمبر۶۰۰۸) ددي اثر څخه معلوم سو چي وروسته هم صَلٰوةُ الخَوف ادآء کيږلائي سي.

پام لرنه هغه لوړ آيت او دغه حديث د صَلٰوةُ الخَوف دجواز دليل دئ.

[۳۹۸](۱) چي کله سخته بيره سي نو امام به دخلګو دوه جماعتونه جوړوي.يو جماعت به ددښمن په مقابله کي او دوم جماعت به د امام وروسته ولاړوي.بس امام به و اَوّل جماعت ته يو رکعت او دوي سجدي ور کوي.بس چي کله د دومي سجدي څخه سر را پورته کي اول جماعت به ولاړ سي د دښمن ومقابلي ته.او دوم جماعت به راسي نو وهغه ته به امام لمونځ ورکوي يو رکعت او دوي سجدي.از امام به تشهد (التَّحِيَّات) ووائي او سلام به په وګرزوي لېکن دوم جماعت به سلام نه په کرزوي بلکه ځي به د دښمن ومقابلي ته.او اول جماعت به راځي او هغه به يو رکعت او دوي سجدي جلا لمونځ کوي بغير دقرات (ځکه چي دغه جماعت لاحقان دي او پر لاحق باندي قرات نسته نو ځکه هغه به قرات نه کوي) او تشهد به وائي او سلام به په ګرزوي

حاشيه: ~~(الف) چي ته په خلګو کي موجود يې نو ته د دوئي لپاره لمونځ قائموه.نو يو جماعت ددوئي څخه بايدستا سره ولاړ وي او دوئي~~ بايد خپله اسلحه دځان سره واخلي.بس چي دوئي سجده وکي نو دوئي دي ستاځخه وشا ته سي او دوم جماعت دي راسي.هغه چي لمونځ يه نه دئ کړئ نو هغه دي ستا سره لمونځ وکي او خپل حفاظت دي اختياركي او اسلحه دي ورسره واخلي (ب) ابوالعاليه فرمائي چي مورږته ابوموسيٰ اشعري په اصفهان کي صَلٰوةُ الخَوف راکئ.

الطَّآئِفَةَ اِلٰى وَجهِ العَدُوِّ وَجَائَت تِلكَ الطَّآئِفَةُ فَيُصَلِّي بِهِمُ الاِمَامُ رَكعَةً وَسَجدَتَينِ وَتَشَهَّدَ وَسَلَّمَ وَلَم یُسَلِّمُ وَذَهَبُوا اِلٰى وَجهِ العَدُوِّ وَجَائَتِ الطَّآئِفَةُ الاُلٰى فَصَلُّوا وُحدَانًا رَكعَةً وَّسَجدَتَينِ بِغَيرِقِرَآءَةٍ وَتَشَهَّدُوا وَسَلَّمُوا وَمَضَوا اِلٰى وَجهِ العَدُوِّوَجَائَتِ الطَّآئِفَةُ الاُخرٰى

او ځي به ددښمن ومقابلي ته.او دوم جماعت دي راسي او هغه دي يو رکعت او دوي سجدي لمونځ وکي د قرات سره(ځکه چي دوئي مسبوقين دي او مسبوق چي خپل لمونځ پوره کوي نو قرات به کوي) او تشهد دي ووائي او

سلام دي په وګرزوي.بيا که امام مقيم وي نو و اول جماعت ته به دوه رکعته لمونځ ورکوي او و دوم جماعت ته به دوه رکعته.

وجه د صَلوٰةُ الخَوف جواز ددي حديث څخه هم ثابتيږي.اَنَّ عَبدَاللهِ بنِ عُمَرَ قَالَ غَزَوتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ قِبَلَ نَجدٍ فَوَازَينَاالعَدُوَّ فَصَافَفنَا لَهُم فَقَامَ رَسُولُ اللهِ يُصَلِّي لَنَا فَقَامَت طَآئِفَةٌ مَّعَهُ وَ اَقبَلَت طَآئِفَةٌ عَلَي العَدُوِّ فَرَكَعَ رَسُولُ اللهِ بِمَن مَّعَهُ وَسَجَدَ سَجدَتَينِ ثُمَّ انصَرَفُوا مَكَانَ الطَّآئِفَةِ الَّتِي لَم تُصَلِّ فَجَآءُوا فَرَكَعَ رَسُولُ اللهِ بِهِم رَكعَةً وَ سَجَدَ سَجدَتَينِ ثُمَّ سَلَّمَ فَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنهُم فَرَكَعَ لِنَفسِهِ رَكعةً وَسَجَدَ سَجدَتَينِ (الف) (بخاري شريف.ابواب صلوة الخوف ص۱۲۸نمبر۹۴۲\ابوداؤدشريف. باب من قال يصلي بكل طآئفة ركعة ثم يسلم ص۱۸۴.ابواب صلوة الخوف نمبر۱۲۴۴) ددي حديث څخه معلوم سو چي په صَلوٰةُ الخَوف کي به دوه جماعت جوړوي او امام به وهر جماعت ته يو يو رکعت ورکوي.او پاته يو رکعت به په خپله جلا جلا ادآء کوي.

د صَلوٰةُ الخَوف د ادآء کولوکومه طريقه چي لوړه ذکر سوه دغه د احنافو په نېز مستحب ده.کـه ددي څخـه خـلاف پـر نورو طريقو باندي کوم چي په حديث کي ذکر سوي دي ادآءکړئ نو لمونځ يه صحيح دئ.ددي طريقي د اختيارولو وجه داده (۱) دامام ابوحنيفه نظر د آيت ودي جملي ته تللئ دئ فَاِذَا سَجَدُوا فَلیَكُونُوا مِن وَّرَائِكُم وَالتَاتِ طآئِفَةٌ اُخرىٰ لَم يُصَلُّوا (ب) (آيت ۱۰۲ سورة النسآء ۴) په دي آيت کي دئ چي اول جماعت ديوه رکعت سجده وکي بايـد وشـاته ولاړ سـي.په دي کي ودي ته اشاره ده چي دوم رکعت دي ژر نه کوي.هغه به وروسته پوره کوي (۲) دقاعدې په لحاظ چي کوم صورت احنافو ښولئ دئ په هغه کي اول جماعت مخکي فارغه کيږي او دوم جماعت به وروسته فارغه کيږي او دقاعدې تقاضآء هم دغه ده (۳) په دي صورت کي به امام دمقتديانو انتظار نه کوي او که چيري اول جماعـت دوم رکعـت فـوراً پـوره کـړي نـو امـام بـه دغونـه وخـت د دوم جماعـت د راتلـو انتظـار کـوي.او دغـه د امامـت دعهدې(منصب)خلاف دئ.نو ځکه اول جماعت دي يو رکعت وکي او د دښمن مخ ته دي ولاړ سي.

حاشيه : (الف) عبدالله بن عمر فرمائي چي ما دحضور سره غزوه وکړه د نَجد پر لوري نو موږ د دښمن سره مخامخ سو نو د دوئي لپاره مو صف جوړ کئ نو حضور په ولاړي موږ ته لمونځ را کول شروع کئ نو يو جماعت د ده سره ودرېدئ او دوم جماعت د دښمن ومخ ته ودرېدئ نو حضور يو رکعت او دوي سجدي و هغه خلګو ته ورکي چي دده سره ور سره و.بيا هغه خلګ را وګرزېدل دهغـه جماعت ځاي ته ولاړل چي لمونځونه نه و کړي.بيا هغه خلګ راغلو او حضور و دوئي ته يو رکعت او دوي سجدي ورکړي.بيا حضور سلام پـه وګرزاوئ بيا د دوئي څخه هر يو ولاړ سو او خپل خپل يو رکعت او دوي سجدي يـه پـوره کـړي (ب) بـس چـي کلـه اول جماعـت سـجده وکړي نو دوئي بايد وشا ته سي او دوم جماعت دي راسي کوم چي لمونځ يه نه دئ کړئ.

وَصَلُّوا رَكعَةً وَسَجدَتَينِ بِقِرَآءَةٍ وَتَشَهَّدُوا وَسَلَّمُوا فَاِن كَانَ مُقِيمًا صَلّيٰ بِالطَّآئِفَةِ الأُولىٰ رَكعَتَينِ وَبِالثَّانِيَةِ رَكعَتَينِ [۳۹۹](۲) وَيُصَلِّي بِالطَّآئِفَةِ الأُلىٰ رَكعَتَينِ مِنَ المغرِبِ وَبِالثَّانِيَةِ رَكعَةً[۴۰۰](۳)وَلاَ يُقَاتِلُونَ فِي حالِ الصَّلوةِ فَاِن فَعَلُوا ذَالِكَ بَطَلَت صَلوتُهُم

بيا دي دوم جماعت يو رکعت وکي او د دښمن مخ ته دي ولاړ سي او اول جماعت دي راسي دوم رکعت دي پوره کړي. ددي دپوره کولو وروسته دي دا د دښمن مخ ته ولاړ سي او دوم جماعت دي وروسته خپل اول رکعت پوره کړي (۳) مُحَمَّدٌ قَالَ اَخبَرَنَا اَبُوحَنِيفَةَ عَن حَمَّادٍ عَن اِبرَاهِيمَ فِي صَلوةِ الخَوفِ قَالَ اِذَا صَلَّي الاِمَامُ بِاَصحَابِهِ فَلتَقُم طآئِفَةٌ مِّنهُم مَعَ الاِمَامِ وَطَآئِفَةٌ بِاِزَآءِ العَدُوِّ فَيُصَلِّي الاِمَامُ بِالطَّآئِفَةِ الَّذِينَ مَعَهُ رَكعَةً ثُمَّ تَنصَرِفُ الطَّآئِفَةُ الَّذِينَ صَلُّوا مَعَ الاِمَامِ مِن غَيرِ اَن يَّتَكَلَّمُوا حَتّيٰ يَقُومُوا مَقَامَ اَصحَابِهِم وَتَاتِي الطَّآئِفَةُ الأُخرىٰ فَيُصَلُّونَ مَعَ الاِمَامِ الرَّكعَةَ الأُخرىٰ ثُمَّ يَنصَرِفُونَ مِن غَيرِ اَن يَّتَكَلَّمُوا حَتّيٰ يَقُومُوا فِي مَقَامِ اَصحَابِهِم وَتَاتِي الطَّآئِفَةُ الأُلىٰ حَتّيٰ يُصَلُّوا رَكعَةً وُحدَانًا ثُمَّ يَنصَرِفُونَ فَيَقُومُونَ مَقَامَ اَصحَابِهِم وَتَاتِي الطَّآئِفَةُ الأُخرىٰ حَتّيٰ يَقضُوا الرَّكعَةَ الَّتِي بَقِيَت عَلَيهِم وُحدَانًا (الف) (كتاب الآثار لامام محمد. باب صلوة الخوف ص۳۹ نمبر۱۹۴) ددي اثر څخه د احنافو تائيد معلوميږي.

فـا ئـد ه د امام شافعي او دنورو امامانو په نېز د ابوداؤد شريف دحـديث پـه وجـه دادئ چـي اول جماعـت د امـام سره د يوه رکعت د کولو وروسته دوم رکعـت دي پـه هغـه وخـت پـوره کـړي او سـلام دي پـه وګرزوي.بيـا دي د دښمن مخ ته ولاړ سي او امام به تر هغو د دوم جماعت انتظارکوي.بيا دي دوم جماعت راسي چي د امام سـره يـو

رکعت وکي نو امام به سلام په ګرزوي او دوم جماعت به دوم رکعت پوره کوي بيا به سلام په ګرزوي(په ابوداؤدشريف.باب صلوة الخوف ص۱۸۱ نمبر ۱۲۴۰کي دا حديث موجود دئ)

[۳۹۹](۲) او لمونځ به ور کوي و اول جماعت ته د مابنام لمونځ دوه رکعته او و دوم جماعت ته به يو رکعت.

وجه دري رکعته نه ځله نيمئ کيږي نو ځکه و اول جماعت ته به امام دوه رکعته لمونځ ورکوي.او ودوم جماعت ته به يو رکعت لمونځ ورکوي.

[۴۰۰](۳) او د لمانځه په حالت کي به جنګ نه کوي.بس که جنګ وکئ نو د دوئي لمونځ به باطل سي.

وجه (۱) جنګ کول عَمَلٍ کَثِير دي نو ځکه دقتال (جنګ) کولو څخه به لمونځ فاسد سي.او دوم وار به لمونځ کوي (۲) د دي دليل دا حديث دئ قَالَ جَآءَ عُمَرُ يَومَ الخَندَقِ فَجَعَلَ يَسُبُّ كُفَّارَ قُرَيشٍ وَيَقُولُ يَارَسُولَ اللهِ مَاصَلَّيتُ العَصرَ حَتّٰى كَادَتِ الشَّمسُ اَن تَغِيبَ فَقَالَ النَّبِيُّ وَاَ نَا وَاللهِ مَاصَلَّيتُهَا بَعدُ قَالَ

حاشيه : (الف) امام محمد وفرمائل و ما ته ابوحنيفه د حَمَّاد څخه او هغه د ابراهيم څخه خبر راکړئ دئ د صَلوةُ الخَوف په باره کي وويل چي کله امام وخپل ملګرو ته لمونځ ورکړي نو د دوئي څخه دي يو جماعت د امام سره ودريږي. او يو جماعت دي د دښمن ومقابلې ته.نو امام به لمونځ ورکوي وهغه جماعت ته کوم چې دده سره دئ يو رکعت.بيا به هغه جماعت کوم چې د امام سره لمونځ کړئ دئ ولاړ سي بې څه خبرو کولو.تر دي چې د خپل ملګري پر ځائ ودريږي او دوم جماعت دي راسي او د امام سره دي دوم رکعت وکي.بيا دي واپس ولاړ سي بې له څه خبرو کولو تر دي چې دخپل ملګري پر ځائ ودريږي.او اول جماعت دي راسي تر دي چې هغه دي يو رکعت جلا جلا لمونځ وکړي.بيا دي واپس ولاړ سي د خپل ملګري پر ځاي دي ودريږي.او دوم جماعت دي راسي هغه رکعت دي پوره کړي کوم چې پر دوئي باندي پاته دئ يواځي يواځي.

[۴۰۱](۴) وَاِن اِشتَدَّ الخَوفُ صَلُّوا رُكبَانًا وُحدَانًا يُؤمُونَ بِالرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ اِلٰى اَيِّ جِهَةٍ شَآؤا اِذَا لَم يَقدِرُوا عَلَى التَّوجُّهِ اِلَى القِبلَةِ .

فَنَزَلَ اِلٰى بَطحَانَ فَتَوَضَّاَ وَصَلَّى العَصرَ بَعدَ مَا غَابَتِ الشَّمسُ ثُمَّ صَلَّى المغرِبَ بَعدَهَا (الف) (بخاري شريف.باب الصلوة عند مناهضة الحصون ولقآء العدو ص۱۲۹ نمبر۹۴۵) په دي حديث کي دئ چي جنګ شروع و نو ځکه لمونځ نه وکئ.دغه رنګه لمونځ کاوئ او جنګ شروع سو نو لمونځ به فاسد سي (۳) قَالَ اَنَسُ بنُ مَالِكٍ حَضَرتُ عِندَ مُنَاهَضَةِ حِصنٍ تَستَرعِندَ اِضَآئَةِ الفَجرِ وَاِشتَدَّ اِشتِغَالُ القِتَالِ فَلَم يَقدِرُوا عَلَى الصَّلوةِ فَلَم نُصَلِّ اِلاَّ بَعدَ اِرتِفَاعِ النَّهَارِ (ب) (بخاري شريف.باب الصلوة عندمناهضة الحصون ولقآء العدو ص۱۲۹ نمبر۹۴۵) ددي اثر څخه هم معلوميږي چي دجنګ او قتال په وخت کي به لمونځ نه کوي.بلکه لمونځ به مؤخرکوي.

[۴۰۱](۴) که ښځه ډبره سخته وي نو لمونځ کوئ د سوارلئ په حالت کي يواځي يواځي، اشاره به کوي درکوع اوسجدې په کومه خوا چې خوښه سي که چيري دقبلې پر خوا دمخ ګرزولو قدرت نه لري.

تشريح که ښځه زياته وي او دسوارلئ څخه د را شوه کښدلو او لمونځ کولو ګنجائش نه وي نو پر سوارلئ به سپور لمونځ کوي.او درکوع او سجدې اشاره به کوي.لکه څه رنګه چي نفل لمونځ پر سوارلئ باندي سپور کوي نو رکوع او سجده به په اشاره سره ادآء کوي.او که دقبلې پر خوا توجه نه سي کولائي نو پر کومه خوا چي ممکن وي پر هغه خوا دي مخ وګرزوي او لمونځ دي وکي.

وجه (۱) په نفل لمونځ کي قِيَامَ(ولاړه) ساقطيږي او درکوع او سجدې به اشاره کوي دغه رنګه دلته د خوف(بيري) دمجبورئ په وجه قِيَامَ(ولاړه) ساقطيږي رکوع او سجده به په اشاره سره کوي. او مخکي تير سو چي د ناجوړه او معذوره خلګو څخه د قبلې استقبال ساقطيږي.دا هم معذوره دي نو ځکه د دوئي څخه به هم د خوف(بيري) په وجه دقبلې استقبال ساقط وي (۲) ددي دليل دا آيت هم دئ فَاِن خِفتُم فَرِجَالاً اَو رُكبَانًا (ج) (آيت ۲۳۹ سورة البقرة ۲) په دي آيت کي دئ چي کله خوف (ښځه) وي نو پر سوارلئ باندي سپاره لمونځ کولائي سئ.او دهغه مطابق به ټوله رعايتونه هم ورته حاصل سي (۳) عَن اِبنِ سِيرِينَ اَنَّهُ كَانَ يَقُولُ فِي صَلوةِ المسَايَغَةِ يُؤمِي اِيمَآءً حَيثُ كَانَ وَجهُهُ (د) (مصنف ابن ابي شيبة ۷۴۶ في لاصلوة عندالمسايغة ج۲ ص۲۱۵ نمبر۸۲۶) په دي اثر کي موجود دئ چي په کومه خوا يه مخ متوجه وي په هغه خوا به په اشاره سره لمونځ کوي.د قبلې پر خوا متوجه کښدل ضروري نه دئ.او باقاعده رکوع او سجده کول هم ضروري نه ده.ځکه چي دئ د شَدِيدخوف (بيري) په وجه مجبور دئ.

لغت : رُكبَانًا . په سپور حالت کي. يُؤمُونَ . د اشارې کولو په حالت کي.

حاشيه : (الف) حضرت عمر د خندق دجنګ(غزا) په ورځ راغلئ.نو دقريش وکافرانو ته ښکنځاوي شروع کړي او وويل ائ دخدائ پيغمبره ما دما ځيګر لمونځ نه دئ کړئ تر دي چي نزدي و چي لمر پريوزي.نو حضور وفرمائل قسم په خدائ ما هم د ماځيګر لمونځ نه دئ کړئ.نو حضور په بطحان مقام کي را شوه سو او اودس يه وکئ او دلمر پرېوتو وروسته د ماځيګر لمونځ وکئ.بيايه دهغه وروسته د مابنام لمونځ وکئ (ب) حضرت انس وفرمائل زه د تستر د قلعي دجنګ پر وخت دسهار د را ختو په وخت کي حاضر سوم او دقتال اشتغال سخت سو نو خلګو دلمونځ کولو طاقت نه درلودئ.نو مور لمونځ نه وکئ مګر د ورځي د ښه را ختو وروسته (ج) بيا که تاسو په بېره کي ياست نو پياده يا پر سوارلئ باندي ناست لمونځ وکئ (د) د ابن سيرين څخه نقل سوي دي چي د مقابلي په وخت کي به په لمانځه کي اشاره کوي په کومه خوا چي د ده مخ متوجه وي.

(بَابُ الجَنَائِزِ)

[۴۰۲](۱) اِذَا اِحتَضَرَ الرَّجُلُ وُجِّهَ اِلیٰ القِبلَةِ عَلیٰ شِقِّهِ الاَیمَنِ [۴۰۳](۲) وَلُقِّنَ الشَّهَادَتَینِ [۴۰۴](۳) وَ اِذَا مَاتَ شُدُّوا لَحیَیهِ وَغُمِّضُوا عَینَیهِ .

(بَابُ الجَنَائِزِ)

ضروري پام لرنه جَنَائِزُ د جَنَازَةٌ جمع ده.د جيم په زبر سره.و مړي ته جنازه وائي.دجنازي دلمانځه ثبوت ددي آيت څخه دئ لاَ تُصَلِّ عَلیٰ اَحَدٍ مِّنهُم مَّاتَ اَبداً وَّلاَ تَقُم عَلیٰ قَبرِهِ (الف) (آيت ۸۴ سورة التوبه) په دي آيت کي دمنافق دلمانځه د ادآء کولوڅخه منع کړي ده.نو ددي څخه دا معلوم سو چي دمؤمن دجنازي لمونځ ادآءکول په کار دئ.نو ځکه د جنازي لمونځ کول فرضِ کفايه دئ.

[۴۰۲](۱) چي پر سړي باندي دمرګ وخت راسي نو هغه دي پر ښي طرف وقبله ته متوجه کړي.

وجه (۱) دبيدبدلوپر وخت دقبلي وجانب ته متوجه کېدل سنت او مستحب دئ نو ځکه دمرګ پر وخت هم وقبله ته متوجه کېدل په کار دئ (۲) په حديث کي راغلي دي عَن اَبِي قَتَادَةَ عَن اَبِیهِ ... فَقَالَ تُوُفِّیَ وَاَوصَیٰ بِثُلُثِهِ لَکَ یَارَسُولَ اللهِ وَاَوصَیٰ اَن یُّوَجِّهَهُ اِلیٰ القِبلَةِ لَمَّا اِحتَضَرَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ اَصَابَ الفِطرَةَ (ب) (سنن للبيهقي.باب مايستحبُّ من توجيهه نحوالقبلة ج۳ ص۵۳۹ نمبر۶۶۰۴) ددي حديث څخه معلوم سو چي دمرګ پر وخت بايد دمړئ مخ (توجه) دقبلي وخوا ته وګرزوي.

[۴۰۳](۲) دشهادتين تلقين دي ورته وکړي.

تشريح دمرګ پر وخت وناستو خلګو ته په کار دئ چي په سوکه آواز سره کلمه لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ مُحَمَّدُرَّسُولُ اللهِ ولولي.ګوندي ومړي ته هم خدائ پاك د لوستلو توفيق ورکړي او خاتمه يه پر ايمان باندي سي.په حديث کي ددي ترغيب سته.عَن اَبِي هُرَیرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ لَقِّنُوا مَوتَاکُم لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ (ج) (مسلم شريف.كتاب الجنائز.فصل في تلقين المحتضر لا اله الا الله ص۳۰۰ نمبر۹۱۷+ ابوداؤدشريف.باب في التلقين ج۲ ص۸۸ نمبر۳۱۱۷)ددي حديث څخه معلوم سوچي ومړي ته بايددي کلمي تلقين وسي.خو ومړي ته دلوستلو وينا نه ده کول په کار ځکه چي (خدائ مه کړه.قطب) که انکار وکئ نو خاتمه به پر کفر باندي سي.

[۴۰۴](۳) که مړ سو نو دده زامي دي وتړي او دده سترګي دي بند کړي.

وجه دمرګ پر وخت د انسان خوله خلاص پاتيږي چي په نتيجه کي وکتونکوخلګو ته کراهت محسوسيږي نوځکه زنه دي د سر سره ټينګه (ټچ) وتړي.نو خوله به خلاص نه پاتيږي او بد به نه ښکاره کيږي نو ځکه زنه به تړي.دغه رنګه دمرګ پر وخت سترګي خلاص پاتيږي چي بدي ښکاره کيږي نو ځکه سترګي دي هم فوراً بندوي.په حديث کي راغلي دي. عَن اُمِّ سَلَمَةَ قَالَت دَخَلَ رَسُولُ اللهِ

حاشيه : (الف) که د منافق څخه څوك مړسي د دوئي څخه پر يوه باندي ته لمونځ مه کوه هيڅ کله هم.او ته د دوئي پر قبر باندي مه درپېره (ب) قتاده دخپل پلار څخه نقل کوي ... خلګو وويل چي برآء بن معرور وفات سو او ده ستا لپاره ائ دخدائ پيغمبره د دريمي حصي مال وصيت کړئ دئ.ده وصيت کړي دئ چي دمرګ پر وخت دده مخ وقبله ته کړئ.حضور وفرمائل دفطرت سره سمه خبره کړي ده (ج) حضور وفرمائل وخپلو مړو ته د لاَاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ تلقين کوئ.

[۴۰۵](۴) فَاِذَ اَرَادُوا غُسلَهُ وَضَعُوهُ عَلیٰ سَرِیرٍ وَجَعَلُوا عَلیٰ عَورَتِهِ خِرقَةً وَنَزَعُوا ثِیَابَهُ [۴۰۶](۵) وَوَضَّؤُهُ وَلاَ یُمَضمِضُ وَلاَ یَستَنشِقُ [۴۰۷](۶) ثُمَّ یُفِیضُونَ المآءَ عَلَیهِ

عَلیٰ اَبِی سَلَمَةَ وَقَد شَقَّ بَصَرُهُ فَاَغمَضَهُ ثُمَّ قَالَ اِنَّ الرُّوحَ اِذَا قُبِضَ تَبِعَهُ البَصَرُ (الف) (مسلم شریف.فصل فی قول الخیر عندالمحتضر ص۳۰۰ کتاب الجنائز نمبر۹۲۰)ددې حدیث څخه معلوم سوچې دمرګ په وخت کې د مړي سترګې بندول په کاردي.

[۴۰۵](۴) چې دمړي دغسل اراه وکړي نو هغه دي پر تختـه باندي کښیږدي او دهغه پر ستر دي کشنئ کپړه کښیږدي او دده کپړه دي خلاص کړي.

وجـه (۱) دغسل په وخت کې به پر تخته په دې وجه اړدي چې اوبه یه لاندي توئي سي او په غسل ورکولـو کـي آساني وي.او دده پر ستر باندي به کشنئ کپړه ځکه اړدي چې دده ستر نه سـي ښکاره.خو پـه غسـل کولـو کـي بـه پرېښاني وي او کپړې به نودي سي نو په دغه وجه به نوري ټولي کپړې خلاصوي (۲) په دې حدیث کې دئ چـې د نرانو سترِ غلیظه نه دئ کتل په کار عَن عَلِیٍّ اَنَّ النَّبِیَّ قَالَ لاَ تَبرَز فَخِذَکَ وَلاَ تَنظُر اِلیٰ فَخذِ حَیٍّ وَلاَ مَیِّتٍ (ب) (ابوداؤدشریف.باب فِي سترالمیّتِ عندغسله ج۲ ص۹۲ نمبر۳۱۴۰) ددې ځخه دا معلوم سو چې دغسل ورکولو په وخت کې دمړي وستر تـه نـه دئ کتل په کار (۳) په اثر کـي راغلـي دي عَن اَیُّوبٍ قَالَ رَاَیتُهُ یَغسِلُ مَیِّتًا فَاَلقَیٰ عَلیٰ فَرجِهِ خِرقَةً وَعَلیٰ وَجهِهِ خِرقَةً اُخریٰ وَوَضَّاَهُ وَضُوءَ الصَّلٰوةِ ثُمَّ بَدَاَ بِمَیَامِنِهِ (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب غسل المیت ج۳ ص۳۹۸ نمبر۶۰۸۱+مصنف ابن ابي شیبة ۱۰، في المیت یغسل من قال یستر ولا یجرد ج۲ ص۴۴۸ نمبر۱۰۸۸۳) ددې اثر ځخه معلوم سو چې دمړي پر ستر باندي کشنئ کپړه اچول پـه کـار ده چې دمړي ستر ښکاره نه سي.

[۴۰۶](۵) او ومړي ته دي اودس ور وکي لېکن په پزه او خوله دي اوبه نه ورګرزوي.

وجـه (۱) په خوله او په پزه اوبه ورګرزول سنت دي لېکن دمړي د پزي او خولې ځخه اوبه را استل مشکل کـار دئ نو ځکه پمبه دي په اوبو سره ناؤده کي په خوله او په پزه کي دې ور ووهي.ګواکـه دا هم یـو رکـم پـه پـزه او خوله اوبه ګرزول سو.د ژوند په رکم دي باقاعده اوبه نه پکـي اچوي.پـه ژونـد کـي هم پـه پـزه او پـه خولـه اوبـه ګرزول سنت و،پس دمرګ به دهغه طریقه یو ځه بدله سي (۲) په اثر کي راغلي دي عَن سَعِیدِ بنِ جُبَیرٍ قَالَ یُوَضَّاُ المَیِّتُ وَضُوءَهُ لِصَلٰوةٍ اِلاَّ اَنَّهُ لاَ یُمَضمِضُ وَلاَ یَستَنشِقُ (مصنف ابن ابي شیبة،۱۲ ما اول مایبدأ به من غسل المیت ج۲ ص۴۴۹ نمبر۱۰۸۹۷)

[۴۰۷](۶) بیا دي پر مړي اوبه توئي کړي.

تـشریـح دغسل ورکولو لپاره دي پر مړي باندي طاق عدد واره اوبه توئي کړي چې هر اندام ښه پریمنځل سي.

وجـه په حدیث کي راغلي دي عَن اُمِّ عَطِیَّةَ قَالَت دَخَلَ عَلَینَا رَسُولُ اللهِ حِینَ تُوُفِّیَت اِبنَتُهُ فَقَالَ اغسِلنَهَا ثَلاثًا اَو خَمسًا اَو

حاشیه : (الف) حضور پر ابي سلمه باندي داخل سواو دده نظر(سترګي)خلاصي وي نوحضور هغه بندي کړي.بیا یـه وفرمائـل چـي کلـه روح قبض کیږي نو نظر(سترګي) په هغه پسي وروسته ګوري (ب) حضور وفرمائل خپل ورون مه خلاص وئ او نه د یـو ژونـدي یـا د مړي و ورانه ته ګورئ (ج) ما راوي ولیدئ چې ومړي ته غسل ورکاوئ نو دهغه پر شرمګاه باندي دکپړې یوه ټکړه واچوله او دهغه پـر مخ باندي بله ټکړه واچوله او دلمانځه د اودس په رکم یه اودس ور لره ورکړئ او دهغه دښي طرف ځخه شروع کړل.

[۴۰۸](۷) وَیُجمِرُ سَرِیرَهُ وِترًا [۴۰۹](۸) وَیُعلِ المَآءُ بِالسِّدرِ اَو بِالحُرضِ فَاِن لَم یَکُن فَالمَآءُ القُرَاحُ [۴۱۰](۹) وَیُغسِلُ رَاسُهُ وَلِحیَتُهُ بِالخِطمِیِّ . اَکثَرَ مِن ذَالِكَ اِن رَاَیتُنَّ ذَالِكَ بِمَآءٍ وَسِدرٍ وَاجعَلنَ فِي الآخِرَةِ کَافُوراً اَو شَیئًا مِن کَافُورٍ (نمبر ۱۲۵۳) وَفِي حَدِیثِ اُخریٰ قَالَ اِبدَاَنِ بِمَیَامِنِهَا وَمَوَاضِعِ الوَضُوءِ مِنهَا (الف) (بخاري شریف.باب غسل المیت ووضوءه بالمآء والسدر ص۱۶۷ نمبر۱۲۵۴) ددې حـدیث ځخـه دا خبـري معلومي سوي .غسل دي طاق عدد واره ورکړي.په غسل کي دي دبیري پاني استعمال کړي. پـه آخـر کـي دي پـر مړي باندي کافور واچوي چې خوشبو ځني ولاړیږي او ژر چنجي و نه کړي.غسل دي دښي جانـب ځخـه شـروع کړي.ددې حدیث ځخه دا هم معلوم سو چې پر مړي بانـدي دي ډیـري اوبـه واچـوي چـي اوبـه یـه وهـر ځـائ تـه ورسیږي.

[۴۰۶](۷) وتخته ته دي خوشبو ولګوي طاق عدد واره.

وجه (۱) وتخته ته دي خوشبوولګوي چي په نتيجه کي به دمړي بدبوئي نه محسوسيږي. دغه رنګه پر کپړو دي هم طاق عدد واره خوشبو ولګوي چي خوشبو برقراره وي (۲) په اثر کي راغلي دي عَن اَسمَآءَ بِنتِ اَبِي بَکرٍ اَنَّهَا قَالَت لِاَهلِهَااِجمُرُوا ثِيَابِي اِذَ اَنَا مُتُّ ثُمَّ کَفِّنُونِي ثُمَّ حَنِّطُونِي وَلاَ تَذَرُوا عَلَيَّ کَفَنِي حَنَاطًا (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الميت لايتبع بالمجمرة ج۳ ص۴۱۷ نمبر ۶۱۵۲ \ مصنف ابن ابي شيبة نمبر۱۱۰۲۰) ددې اثر څخه معلوم سو چي دمړي وکپړو ته دي د لَبَان(يا لوبان چي د يوغرني بوټي بيخ دئ چي په فارسي ژبه حَسَن لَبّه ورته وائي په انګريزي بِزُوئِن(benzoian) پښتو لغت درياب ص ۱۱۴۶ وګورئ قُطب) خوشبو دود کړي.او دده وتخت هم خوشبو دودول په کار ده.خو دغه خوشبو دودول په لاس کي په مړي پسي تر شا تلل نه دئ په کار.ځکه چي په دي کي د اور اثر دئ دخلګو به دا خيال سي چي دا د بُت پرستئ سره مشابهت لري نو دا هم يو قسم بت پرستي ده.

[۴۰۹](۸) و اوبو ته دي جوش ورکړي د بيري په پانو سره يا په زومئ سره. بيا که چيري دا نه وي نو په خالص اوبو سره.

وجه (۱) دبيري په پانو سره يا په زومئ سره صفائي ښه کيږي.نو ځکه د دغه دو څخه دي يو په ګډ کي او و اوبو ته دي جوش ورکي او په دغه اوبو سره دي ومړي ته غسل ورکي. او که نه سي ملاؤ نو په خالص اوبو دي ومړي ته غسل ورکي (۲) ددې لپاره د بخاري شريف حديث(نمبر۱۲۵۳ \مسلم شريف.باب في غسل الميت ص۳۰۴ نمبر۹۳۹) په مسئله نمبر۶ کي بِمَآءٍ وَسِدرٍ تېر سوئ دئ دهغه مطلب دغه و چي دبيري پاني دي پکي واچوي او جوش دي ورکي.

[۴۱۰](۹) دمړي سر او دهغه ږيره دي په خطمي سره پريمنځي .

وجه په اثر کي راغلي دي عَنِ الاَسوَدِ قَالَ قُلتُ لِعَائِشَةَ يُغسَلُ رَاسُ المَيِّتِ بِخِطمِيٍّ فَقَالَت لاَ تَعَبَّثُوا مَيِّتَکُم (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۴.في الميت اذا لم يوجد له سدر يغسل بغيره خطمي او اشنان ج۲ ص۱۴۵ نمبر۱۰۹۱۷) ددې اثر څخه

حاشيه : (الف) ام عطيه فرمائي چي کوم وخت دحضور د لور انتقال وسو نو حضور وفرمائل ودې ته دري واره غسل ورکئ يا ددې څخه زيات که تاسو مناسب وګڼئ په اوپو سره او د بيري په پانو سره.او په آخر کي کافور وروا‌چوئ يا دکافور څخه يو څه وروا‌چوئ.په دوم حديث کي دئ چي دمړي دښي جانب څخه شروع کئ او دده د اودس دځائ څخه شروع کئ (ب) دحضرت ابوبکر لور حضرت اسمآء وخپلو کورنيانو ته وويل چي کله زه مړه سم نو زما وجامو(کپړو)ته خوشبو ولګوئ بيا وما ته کفن راکئ بيا وما ته حنوط راکئ او زما پر کفن باندي حنوط مه پاشئ (ج) ما دعائشي څخه پوښتنه وکړه آيا د مړي سر دي په خطمي سره پريمنځي؟نو يه وفرمائل پر مړي باندي سختي مه کوئ (ګواکه مطلب يه دادئ چي په خطمي او دغه رنګه نورو شيانو سره منځلائي سئ . قطب)

[۴۱۱](۱۰) ثُمَّ يُضجَعُ عَلَيٰ شِقِّهِ الاَيسَرِ فَيُغسَلُ بِالمَآءِ وَالسِّدرِ حَتّٰي يَرَيٰ اَنَّ المَآءَ قَد وَصَلَ اِلَيٰ مَا يَلِي التَّحتِ مِنهُ ثُمَّ يُضجَعُ عَلَيٰ شِقِّهِ الاَيمَنِ فَيُغسَلُ بِالمَآءِ حَتّٰي يَرَيٰ اَنَّ المَآءَ قَد وَصَلَ اِلَيٰ مَايَلِي التَّحتِ مِنهُ [۴۱۲](۱۱) ثُمَّ يُجلِسُهُ وَيُسنِدُ اِلَيهِ وَيَمسَحُ بَطنَهُ مَسحًا رَفِيقًا فَاِن خَرَجَ مِنهُ شَيئٌ غَسَلَهُ وَلاَ يُعِيدُ غُسلَهُ .

معلوم سو چي دمړي سر په خطمي سره منځل مستحب دئ او ښه کار دي چي صفائي هم راسي او خوشبو هم.او که په دې شيانو سره نه پريمنځئ نو هم غسل يه صحيح دئ.

[۴۱۱](۱۰) بيا به پر کنې اړخ پرې باسي او په اوبو او د بيري په پانو سره به منځي تر هغو چي وويني چي اوبه ورسېدې د مړي تر لاندي(حصې)پوري.بيا به پرې باسي پر ښي اړخ.بس په اوبو به منځي تر دې چي وويني چي اوبه ورسېدئ د مړي تر لاندي(حصې)پوري.

وجه (۱) مړئ به اول پر کنې اړخ ځکه پرې باسي چي ښئ اړخ يه لوړ سي.او وښي اړخ ته به اول غسل ورکول کيږي.او مستحب دادئ چي دښي جانب څخه شروع کي.په حديث کي راغلي دي عَن اُمِّ عَطِيَّةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِ وَفِي غُسلِ اِبنَتِهِ اِبدَآنِ بِمَيَامِنِهَا وَمَوَاضِعِ الوَضُوءِ مِنهَا (الف) (بخاري شريف.باب يُبدأ بميامن الميت ص۱۶۷ نمبر۱۲۵۵\ ابوداؤدشريف.باب کيف غسل الميت ج۲ ص۹۲ نمبر۳۱۴۵) ددې حديث څخه معلوم سو چي دمړي دښي جانب څخه دې شروع کوي.دغه رنګه چي وروسته پر ښي اړخ باندې پرې باسي نو وکنې جانب ته به وروسته غسل ورکوي. او تر لاندي جسم پوري د اوبو رسولو شرط ځکه دئ چي غسل مکمل سي.يو ځائ وچ پاته نه سي.

لغت يُضجَعُ : پر اړخ دې پرې باسي.

[۴۱۲](۱۱) بيا به مړئ کښېنوي او وخپل طرف ته به راکړوي(مائلوئ)او دده نس به لږ څه مُښي.بيا کـه دده څخـه يو شئ راوؤزي نو هغه به منځي او دده غسل به نه را کړزوي.

وجـه (۱) مړئ به لږ څه وخپل طرف ته کوږ(مائل)ځکه کښېنوي چې کـه د نـس څخـه څـه شـئ راواتـئ هغـه بـه راوؤزي.بيا په نرم انداز سره دنس دمښلو مقصد هم دغه دئ چې که بولي او غُول که څه را وتل هغـه بـه اوس لا راوؤزي چې وروسته بيا کړي ناپاك نه کړي (۲) په اثـر کـي راغلـي دي عَن اِبرَاهِيمٍ قَالَ يُعصَرُ بَطنُ المَيِّتِ عَصرًا رَقِيقًا فِي الأُليٰ وَالثَّانِيَةِ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۷ في عصربطن الميت ج۲ ص۴۵۲ نمبر۱۰۹۳۳) ددې اثر څخه معلوم سو چې دمړي نس به لږ څه مُښي. او دغسل ورکولو وروسته که لږ څه نجاست راوؤزي نو غسل دي دوباره نه راګرزوي (۱) ځکـه چې په دي کې وغاسل ته مشقت دئ او دمړي دخرابېدو خطـره ده (۲) ددې لپـاره يـو اثـرهم دئ قُلتُ لِحَمَّادٍ اَلمَيِّتُ اِذَا خَرَجَ مِنهُ الشَّيئُ بَعدَ مَا يَفرُغُ مِنهُ قَالَ يُغسَلُ ذَالِكَ المَكَانُ (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۶ في الميت يخرج منه الشيئ بعدغسله ج۲ ص۴۵۲ نمبر۱۰۹۳۰) ددې اثر څخه معلوم سو چې که دغسل وروسته څه نجاست راوؤزي نو صـرف هغـه ځـاي بـه منځـي. غسل به نه راګرزوي.

پـــام لـــرنـــه که دغسل په مابين کې نجاست راوؤزي نو ښه خبره داده چې دوباره بيا غسل ورکي.

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل دخپلې لور دغسل په باب کې. دښي جانب څخه شروع کئ او ددې د اودس دځائ څخـه شـروع کـئ (ب) حضرت ابراهيم فرمائي چې دمړي نس دي سوکه ومښي اول وار او دوم وار (ج) ما دحضرت حَمّاد څخه پوښتنه وکړه چې دغسل څخـه دفارغېدو وروسته دمړي څخه څه شئ راوؤزي.نو ده وفرمائل صرف هغه ځائ به منځل کيږي.

[۴۱۳](۱۲) ثُمَّ يُنشِفُهُ بِثَوبٍ وَيُدرِجُ فِي اَكفَانِهِ [۴۱۴](۱۳) وَيُجعَلُ الحُنُوطُ عَلىٰ رَاسِهِ وَلِحيَتِهِ وَالكَافُورُ عَلىٰ مَسَاجِدِهِ [۴۱۵](۱۴) وَالسُّنَّةُ اَن يُكَفَّنَ الرَّجُلُ فِي ثَلٰثَةِ اَثوَابٍ اِزَارٍ وَقَمِيصٍ وَلِفَافَةٍ

---

[۴۱۳](۱۲) بيا به په کپړه باندي دمړي اوبه وچولکيږي او هغه به په کفن کي پېچل کيږي.

وجـه په کپړه دي دغسل اوبه ځکه وچ کړي چـي کفـن نود(نند) نـه سـي، او پـه کفـن کـي دپېچلـو تفصـيل مخکـي راروان دئ.

[۴۱۴](۱۳) حنوط دي ولګوي دمړي پر سر باندي،او دده پر ږيره باندي او کافور دي ولګوي دده دسجدې پر ځايو باندي.

تـشريـح دپر شيان سره ګډيږي يوخاص قسم خوشبوځني جوړيږي وهغه ته حنوط وائي.خلګ يه پـر مـړو بانـدي مورږي.دغسل وروسته دغه پر ږيره او پر سر باندي مورږل مستحب دئ.او دسجدې پر ځايو باندي مـثلاً مـخ.دواړه ورغوي.دواړه ځنګنونه او دواړي پښې چې دسجدې په وخت کې پر مځکه باندي لګيږي پر هغه دې ومـورږي چـې دغه ځايونه هم خوشبوداره سي (۱) په اثر کـي راغلـي دي عَن اِبنِ مَسعُودٍ قَالَ يُوضَعُ الكَافُورُ عَلىٰ مَوضِعِ سُجُودِ المَيِّتِ، عَن اِبرَاهِيمَ فِي حَنُـوطِ المَيِّـتِ قَـالَ يُبـدَاُ بِمَسَـاجِدِهِ (الـف) (مصـنف ابـن ابي شـيبة ۳۳ في الحنـوط كيـف يضـع بـه وايـن يجعـل ج۲ ص۴۶۰ نمبر۱۱۰۲۳\۱۱۰۲۱)ددې اثر څخه معلوم سو چې کافور او حنوط به دمړي دسـجدې پـر ځـايو بانـدي مـورږل کيـږي (۲) په حديث کې تېرسوي دي چې وَاِجعَلنَ فِ الآخِرَةِ كَافُوراً (بخاري شريف،نمبر۱۲۵۴) چې پـه آخـر کـي ومـړي تـه کـافور ورولګوئ.

(دکفن بيان)

(۴۱۵)(۱۴) سنت دادئ چې و نر ته بـه پـه دري کپړو کـي کفـن ورکـول کيـږي(۱)پرتـوګ (ازار) (۲)قمـيص(۳) پټو،که چيرې پر دوو کپړو اکتفآء وکړي نو هم جائز دئ.

وجـه (۱) نر په عامه توګه سره دري کپړې اغوندي نو ځکـه پـه دري کپـړو کـي کفـن ورکـول سـنت دئ (۲) پـه حـديث کـي راغلـي دي عَن عَائِشَةَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ كُفِّنَ فِي ثَلٰثَةِ اَثوَابٍ يَمَانِيَّةٍ بِيضٍ سَحُولِيَّةٍ مِن كُرسُفٍ لَيسَ فِيهِنَّ قَمِيصٌ وَلاَ عَمَامَةٌ (ب) (بخاري شريف.باب ثياب البيض للكفن ص۱۶۹ نمبر۱۲۶۴\ ابوداؤدشريف.باب في الكفن ج۲ ص۹۳ نمبر۳۱۵۱\ مسلم شريف.باب الجنائز ص۳۰۵ نمبر۹۴۱) ددې حديث څخه معلوم سو چې ونر ته په دري کپړو کـي کفـن ورکـول سـنت دئ. دقمـيص

لپاره دا حديث دئ اَنَّ عَبدَاللهِ بنِ اُبَيٍّ لَمَّا تُوُفِّيَ جَآءَ اِبنُهُ اِلَى النَّبِيِّ فَقَالَ اَعطِنِي قَمِيصُكَ اُكَفِّنُهُ فِيهِ (ج) (بخاري شريف.باب الكفن في قميص الذي يكف ص۱۶۹ نمبر۱۲۶۹) ددې حديث څخه معلوم سو چې يوه دارنګه کپړه هم په کفن کې بايد وي چې وهغه ته قميص ويل کيږي.لېکن په هغه کې به نستوني نه وي او نه به لمن وغيره وي. بلکه دسر دکښېيستلو لپاره به د مابين څخه څري. او دا به نه ګڼي.دغه رنګه به دري کپړې پوره کوي

حاشيه : (الف) ابن مسعود فرمائي چې کافور به د مړي دسجدې پر ځائي اينبول کيږي.دحضرت ابراهيم څخه دمړي دحنوط په باب پوښتنه وکړه نو وفرمائل دده دسجدې دځائ څخه به شروع کول کيږي.يعني اول به دسجدې پر ځائ لګول کيږي (ب) حضور په دري يمني،سپين سحوليه کپړو کې کفن کړل سو چې سوتي وي.په هغو کې قميص او لنګوته(عمامه)نه وي (ج) عبدالله بن اُبَيّ ابن سَلُول چې کله مړ سو نو دده زوئي دحضور خدمت ته راغلئ او وويل خپل قميص ماته عنايت که(راکه) په دي کې وهغه ته کفن ورکوم.
فَإن اِقتَصَرُوا عَلىٰ ثَوبَينِ جَازَ [۴۱۶](۱۵) فَاِذَا اَرَادُوا لُفَّ اللِّفَافَةِ عَلَيهِ اِبتَدَاُوا بِالجَانِبِ الاَيسَرِ فَاَلقُوهُ عَلَيهِ ثُمَّ بِالاَيمَنِ فَاِن خَافُوا اَن يَّنتَشِرَ الكَفَنُ عَنهُ عَقَدُوهُ [۴۱۷](۱۶) وتُكفَّنُ المراَةُ فِي خَمسَةِ اَثوَابٍ اِزَارٍ وَقَمِيصٍ وَخِمَارٍ وَخِرقَةٍ تُربَطُ بِهَا ثَديَاهَا وَلِفَافَةٍ

---

(۲) عَن عَبدِالرَّحمن بنِ عَمرو بنِ العَاصِ اَنَّهُ قَالَ اَلمَيِّتُ يُقَمَّصُ وَيُوزَرُ وَيُلَفُّ بِالثَّوبِ الثَّالِثِ فَاِن لَم يَكُنِ اِلاَّ ثَوبٌ وَاحِدٌ كُفِّنَ فِيهِ (الف) (مؤطاامام مالك .باب ماجآء في كفن الميت ص۲۰۶) که چيرې کپړې ميسري نه وي نو په دوو کپړو کې سدي کفن ورکې.او که چيرې دا هم ميسري نه وي نو چې څومره کپړه وي په هغونه کې دي کفن ورکې.په دوو کپړو کې دکفن ورکولو حديث دادئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَينَمَا رَجُلٌ وَاقِفٌ بِعَرَفَةَ اِذ وَقَعَ عَن رَاحِلَتِهِ فَوَقَصَتهُ اَو قَالَ فَاَوقَصَتهُ قَالَ النَّبِيُّ اِغسِلُوهُ بِمَآءٍ وَسِدرٍ وَكَفِّنُوهُ فِي ثَوبَينِ وَلاَ تُحَنِطُوهُ وَلاَ تُخَمِّرُوا رَاسَهُ فَاِنَّهُ يُبعَثُ يَومَ القِيَامَةِ مَلبِيًّا (ب) بخاري شريف باب الكفن في ثوبين ص۱۶۹ نمبر ۱۲۶۵) ددې حديث څخه معلوم سو چې دمُحرم سړي لپاره صرف دوې کپړې کافي دي. نو ځکه دکفن لپاره هم صرف دوې کپړې کافي دي.
لغت :اِزَارٍ . پرتوګ (دا يوه کپړه وي چې دسره څخه تر پښو پوري وي) قَمِيص :دا کپړه دسړي تر قد دوګنا(دبله) وي او دمابين څخه څيري او سر په کښيباسي او دغاړي څخه تر پښو پوري وي. اَللِّفَافَةُ : دا ديوه وړد پټو په رکم وي او پر ټوله کفن باندي لوړ پېچل کيږي.
[۴۱۶](۱۵) چې کله پر مړي دلفافې داچولو اراده وکې نو دکفني خوا څخه دې شروع کې نو پر لفافه دې واچوي.بيا دې دښي جانب څخه پر واچوي. بيا که چيرې ښره وي چې کفن به خلاص سي نو پر هغه دي غوټه ولګوي.
تشريح دکفن ورکولو په وخت کې به اول پټو لفافه غوړوي.پر هغه به لوړ ازار.او پر ازار به لوړ قميص غوړوي. بيا به مړي پر قميص باندي اړدي سر به دقميص دځيري ځائ څخه ورننباسي.او قميص لوړ حصه به مړي باندي اچوي.اوبيا دي پر قميص باندي ازار وپېچي او بيا دي لفافه وپېچي. اول دي کن طرف وپېچي بيا دي ښئ طرف وپېچي چې ښئ کناره يه لوړه سي او په اخير کې دې وپېچي. دښي طرف څخه دکولو اهميت مخکې تير سو.
[۴۱۷](۱۶) وښځه ته به په پنځو کپړو کې کفن ورکول کيږي (۱) ازار (۲) قميص (۳) پرونئ (۴) دکپړې يوه ټکره چې په هغه باندي ددې تي(ځيګر) وترل سي (۵) غټ پرونئ. بيا که چيرې پر درې کپړو باندي اکتفآء وکړه نو هم جواز لري.
وجه (۱)ښځه په ژوند کې دغه کپړې استعمالوي چې د ازار.قميص اوغټ پروني سره کشني دوپټه چې سر اوبېښتان په ټرې ا و سينه بند استعمالوي. نو ځکه په کفن کې به هم دغونه کپړې استعماليږي (۲) په حديث کې راغلي دي عَن رَجُلٍ مِن بَنِي عُرُوَةَ بنِ مَسعُودٍ ... فَكَانَ اَوَّلُ مَا اَعطَانَا

حاشيه : (الف) عمربن عاص وفرمائل ومړي ته به اول قميص ور اغوستل کيږي.بيا به ازار ور اغوستل کيږي بيا به په دريمه کپړه کې پېچل کيږي. که چيرې کپړې نه وي نو په يوه کپړه کې به کفن ورکول کيږي (ب) ابن عباس فرمائي يوه سړي په عرفه کې وقوف کاوئ

چي دخپلي کجاوي څخه رايله سو. او دده غاره ماته سوه . حضور وفرمائل ودي ته په اوبو او دبيري په پانو سره غسل ورکئ او په دو کپړو کي کفن ورکئ. او حنوط مه ورلګوئ. او دده سر مه پټوئ. ځکه چي دئ به دقيامت په ورځ تلبيه لولي راپورته کيږي.

فَإن اِقتَصَرُوا عَلىٰ ثَلٰثَةِ اَثوَابٍ جَازَ [۴۱۸](۱۷) وَيَكُونُ الخِمَارُ فَوقَ القَمِيصِ تَحتَ اللِّفَافَةِ [۴۱۹](۱۸) وَيَجعَلُ شَعرَهَا عَلىٰ صَدرِهَا وَلاَ يَسرِحُ شَعرَالمَيِّتِ وَلاَ لِحيَتَهُ .

رَسُولُ اللهِ اَلحِقّآءَ ثُمَّ الدِّرعَ ثُمَّ الخِمَارَ ثُمَّ المِلحَفَةَ ثُمَّ اُدرِجَت بَعدُ فِي الثَّوبِ الآخَرِ قَالَت وَرَسُولُ اللهِ جَالِسٌ عِندَ البَابِ مَعَهُ كَفَنُهَا يُنَاوِلُنَاهَا ثَوبًا ثَوبًا (الف) (ابوداؤدشريف.باب في كفن المراة ج۲ ص۹۴ نمبر۳۱۵۷) ددي حديث څخه معلوم سو چي دښځولپاره پنځه کپړي دي

(۲) په اثر کي راغلي دي عَن عَمرٍ قَالَ تُكفَنُ المرَاَةُ فِي خَمسَةِ اَثوَابٍ فِي المِنطِقِ وَفِي الدِّرعِ وَفِي الخِمَارِ وَفِي اللِّفَافَةِ وَالخِرقَةِ اللَّتِي تُشَدُّ عَلَيهَا (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۳۹. ماقالوا في كم تكفن المراة ج۲ ص۴۶۵ نمبر۱۱۰۸۸) ددي څخه معلوم سو چي دښځو دکفن لپاره پنځه کپړي دي. پر درو کپړو داکتفآء کولو دليل دا اثر دئ عَن مُحَمَّدٍ اَنَّهُ كَانَ يَقُولُ تُكفَنُ المرَاَةُ اَللَّتِي حَاضَت فِي خَمسَةِ اَثوَابٍ اَو ثَلٰثَةٍ (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۳۹. ماقالوا في كم تكفن المراة ج۲ ص۴۶۵ نمبر۱۱۰۸۵) ددي اثر څخه معلوم سو چي پر درو کپړو اکتفآء وکي نو هم جواز لري. په ځيګربند به تي(ځيګر) نس او ورنونه دري سره پټوي.او پر قميص به لوړ پر پيچي. ددي دليل دا اثر دئ عَن اِبنِ سِيرِينَ قَالَ تُوضَعُ الخِرقَةُ عَلىٰ بَطنِهَا وَتُعصَبُ بِهَا فَخِذَيهَا (د) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۰، في الخرقة اين توضع في المراة ج۲ ص۴۶۵ نمبر۱۱۰۹۲)

[۴۱۸](۱۷) او دوپټه دي پر قميص لوړه وي او دپروني څخه دي کښته وي

وجه په ژوند کي چي دوپټه به پر سر اچول نو پر قميص به لوړه راځړېدل. او په پروني کي به دننه وه. دمرګه بعد به هم دغه کيفيت کفن ورکول کيږي.ددي لپاره دا اثر دئ سَاَلَت اُمُّ الحُمَيد اِبنَةَ سِيرِينَ هَل رَاَيتَ الحَفصَةَ اِذَا غُسِلَت كَيفَ تُصنَعُ بِخِمَارِ المرَاَةِ ؟ قَالَت نَعَم كَانَت تُخَمِّرُهَا كَمَا تُخَمِّرُ الحَيَّةُ ثُمَّ يُفضَلُ مِنَ الخِمَارِ قَدرَ ذِرَاعٍ فَتَفرِشُهُ فِي مُؤَخَّرِهَا ثُمَّ تُعطِفُ تِلكَ الفَضلَةَ فَتُغَطِّيٰ بِهَا وَجهَهَا (ه) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۳ .في المراة كيف تخمر ج۲ ص۴۶۶ نمبر۱۱۱۰۷) ددي څخه معلوم سوچي د ژوند په ركم پرونئ به پر اچوي.

[۴۱۹](۱۸) دښځي بېښتان به ددي پرسينه (ځيګره) باندي اچوي. اود مړي په بېښتانو او دهغه په ږيره کي به رمونځ نه کوي.

وجـــه عَن اُمِّ عَطِيَّةَ ... فَضَفرنَا شِعرَهَا ثَلٰثَةَ قُرُونٍ وَاَلقَينَاهَا خَلفَهَا (ه) (بخاري شريف.باب يلقي شعرالمراة خلفها ص۱۶۸ نمبر ۱۲۶۳\ ابوداؤدشريف.باب كيف غسل الميت ج۲ ص۹۲ نمبر۳۱۴۴) ددي حديث څخه معلوم سو

حاشيه : (الف) دعمربن مسعودڅخه روايت دئ چي ... ترټولومخکي چي حضور ومورِ ته کفن راکئ هغه ازار و. بيا قميص. بيا دوپټه. بيا پرونئ. بيا يه پر لوپيچل. په بله کپړه کي. وفرمائل حضور پر دروازه باندي ناست و دده سره دده دلور کفن و ده يوه يوه کپړه ورکول (ب) حضرت عمر وفرمائل وښځه ته دي په پنځوکپروکي کفن ورکول سي ازار.قميص.دوپټه.پرونئ او يوه ټکړه(کپړه)چي پر ښځه باندي وترل سي (ج) محمد به ويل چي ښځه کومه چي بالغه سوې وي وهغه ته به کفن ورکول کيږي په پنځوکپرو کي (د) ابن سيرين فرمائي چي دکپړي ټکړه به ايښول کيږي دښځي پر نس باندي او په هغه سره به ددي ورون پيچل کيږي(پټيږي) (ه) آيا تاسو ليدلي وه چي وحفصه ته غسل ورکېدئ نو دښځي په دوپټه سره څه رنګه وکړل؟ وويل هو! دوپټه پر واچول سوه لکه څه رنګه چي پر ژوندو دوپټه اچولي وي. بيا د دوپټي څخه ديوي هتي په اندازه پاته سو نو هغه لاندي اوار کړل سو.بيا يه هغه پاته حصه سره را ټوله کړه او په هغه باندي ددي مخ پټ کړئ (و) د اُمِّ عَطِيَّه څخه روايت دئ چي مورِ دحضور دلور دبېښتانو جوړي (پوښتئ) جوړي کړي او هغه مو ددي وشا ته واچولي.

[۴۲])](۱۹) وَلاَ يَقُصُّ ظُفُرَهُ وَلاَ يَعقِصُ شَعرَهُ [۴۲۱](۲۰) وَيُحَمَّرُ الاَكفَانُ قَبلَ اَن يُدرِجَ فِيهَا وِتراً فَاِذَا فَرَغُوا مِنهُ صَلُّوا عَلَيهِ [۴۲۲](۲۱) وَاَلِيَ النَّاسِ بِالاِمَامَةِ عَلَيهِ

چي دښځي بېښتان به دري حصي کوي او ددي وشاته به اچوي. په بېښتانو کي به رمونځ ځکه نه کوي چي دا دډېر زينت شئ دئ او مړئ اوس دپاشلو لپاره تيار دئ. نو ځکه په بېښتانو کي رمونځ نه کول مستحب ده. ددي

دليـل دا اثـر دئ اَنَّ عَائِشَةَ رَاَت اِمرَاَةً يَكدُونَ رَاسَهَا فَقَالَت عَلاَمَ تُنصَونَ مَيِّتَكُم (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب شعرالميت واظفاره ج٣ ص٤٣٧ نمبر٦٢٣٢) ددې اثر څخه معلوم سو چې ومړي ته ددې ضـرورت نسـته چـې دده پـه بېښـتانو کـې دي اوس ړمونځ وسي.

[٤٢٠](١٩) دمړي نوکان به نه کاتيږي او نه به دده بېښتان کاتيږي.

وجـه (١) نوکان او بېښتان پرېکول هم په زينت کې شامل دي چې اوس ددې ضرورت نه سو پاتـه.نو ځکه بېښـتان او نوکان به نه ور پرېکوي.خو که چيري ډېر زيات غټ سوي و او په کتلو کې بدنما معلومېدل نـو پرېکـولائي هـم سي (٢) ددې دليل دا اثر دئ. يو اثر خو دحضرت عائشې څخه په مسئله نمبر ١٨ کـې تېرسـوئ دئ نمبـر ٦٢٣٢ کې کتلائي سئ (٣) سُئِل حَمَّادٌ عَن تَقلِيمِ اَظفَارِالمَيِّتِ فَقَالَ اَرَاَيتَ اِن كَانَ اَقلَفُ اَتُختَنُهُ وَقَالَ الحَسَنُ اِن كَانَ فَاحِشًا اُخِذَ مِنهُ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب شعرالميت واظفاره ج٣ ص٤٣٧ نمبر٦٢٣٣) ددې اثر څخه معلوم سوچې دزينت په توګه خو به نه ور پرېکـوي لېکن که ډېر بد نما معلومېدل نو پرېکولائي په هم سي.

اصول ومړي ته به بېخي ډېر زينت نه ورکول کيږي.

[٤٢١](٢٠) په کفن کې دپېچلو څخه مخکې طاق عدد واره به خوشبو ورته دوديږي.بس بيـا چـې ددې څخـه فـارغ سي نو به پر ده باندې لمونځ ادآء کيږي.

تـشريـح په کومو کپړو کې چې ومړي ته کفن ورکول کيږي په هغو کې دپېچلو څخه مخکې وهغوکپړو تـه دي د لَبَان خوشبو دري واره و دودوي چې کپړه ښه خوشبداره سي.او چنجي يه ژر ونه خوري.

وجـه ددې دليل دا حديث دئ عَن جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اِذَ اَجمَرتُمُ المَيِّتَ فَاَوتِرُوا وَرُوِيَ اَجمِرُوا كَفَنُ المَيِّتِ ثَلاَثًا (ج) (سنن للبيهقي.باب الحنوط للميت ج٣ ص٥٦٨ نمبر٦٧٠٢) ددې حديث څخه معلوم سو چې دري واره وکفن ته خوشبو دودول په کار ده.

[٤٢٢](٢١) پر مړي باندې دلمونځ ورکولو زيات حقداره باچا(بادشاه) دئ. کـه هغـه حاضـر نـه وي نـو دکلـي امـام مخته کول بهتر دئ بيا ولي مخته کول.

حاشيه : (الف) حضرت عائشې يوه ښځه ولېدل چې هغې دمړي په سر کـې ړمونځ کولـه نـو دې وفرمائـل چـې دځپل مړي بېښـتان څلـه برابره وئ؟ (ب) دحماد څخه دمړي دنوکانو پرېکولو په باب پوښتنه وکړه نو يه وفرمائل ستا څه رايه ده چې کـه دئ بغيـره ختنـې وي نـو ختنه به کوئ؟ (مطلب يه داده چې ختنه خو نه کوي نو نوکان يه هم مه کاتوه) حسن وفرمائل که چيري ډېر زيات غټ سوي و نو پرېکول په کار دئ (ج) حضور وفرمائل که ته ومړي ته خوشبو و دودوي نو طاق عدد واره و دودوه. يو روايت دا هم دئ چـې دمـړي وکفـن تـه طاق عدد واره خوشبو دود که.

اَلسُّلطَانُ اَن حَضَرَ فَاِن لَم يَحضُر فَيَستَحِبُّ تَقدِيمُ اِمَامِ الحَيِّ ثُمَّ الوَلِيُّ .

وجـه (١) چې باچا(بادشاه) موجود وي بيا هم بل سړئ لمونځ ورکئ نو په دي کې دپاچا توهين دي.نـو ځکـه باچـا ته دلمونځ ورکولو ډېرحق دئ. که هغه نه وي نو دکلي امام.ځکه چې دئ يه په ژونـد کـې خپـل امـام منلـئ دئ نـو دمرګه ورسته به هم دده په امامت راضي وي.او که هغـه هـم نـه وي نـو دده ولـي دجنـازې ورکولـو ډېر حقداره دئ.او په ولي کې هم په وراثت کې دعصبه ترتيب به وي.خو که ولـي ويـو بـل چـا تـه دجنـازې ورکولـو اجـازت ورکي نو ورکولائي سي (٢) په حديث کې راغلي دي عَن عِمرَانَ بنِ حُصَينٍ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ اِنَّ اَخَاكُمُ النَّجَّاشِيَّ قَد مَاتَ فَقُومُوا فَصَلُّوا عَلَيهِ فَقُمنَا فَصَفَّفنَا كَمَا يَصُفُّ عَلَي المَيِّتِ وَصَلَّينَا عَلَيهِ كَمَا يُصَلِّيْ عَلَيْ المَيِّتِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآء في صلوة النبي علي النجاشي ص٢٠١ نمبر١٠٣٩\ بخاري شريف.باب الصلوة علي الجنائزبالمصلي والمسجد ص١٧٧ نمبر١٣٢٧) ددې حـديث څخـه يـوه خبره خو دا معلوم سوه چې حضور دتولو امير و نو ځکه ده دنجاشي دجنازې لمونځ ورکئ.ځکه چـې دئ تـر تولـو زيات حقداره و. او دومه خبره دا چې دجنازې لمونځ فرض کفايه دئ.ځکه چې په دي کې د امر صيغه فَقُومُوا فَصَلُّوا عَلَيهِ الفاظ راغلي دئ (٢) والي او امير دجنازې دلمانځه زيات حقداره دئ ددې دليل دا اثر دئ سَمِعتُ اَبَاحَازِمٍ يَقُولُ اِنِّي لَشَاهِدٌ يَومَ مَاتَ الحَسَنُ بنُ عَلِيٍّ فَرَاَيتُ الحُسَينُ بنُ عَلِيٍّ يَقُولُ لِسَعِيدِ بنِ العَاصِ وَيَطعَنُ فِي عُنُقِهِ تَقَدَّمَ فَلَولاَ اَنَّهَا سُنَّةٌ مَا قَدَّمتُ وَكَانَ بَينَهُم شَيئٌ

(ب) (سنن للبيهقي.باب من قال الوالي احق بالصلوة علي الميت من الولي ج۴ ص۴۶ نمبر۶۸۹۴) په دې اثر کې حضرت حسين دحضرت حسن ولي و. لېکن سعيدبن عاص په دجنازې دلمانځه لپاره را مخ ته کړ.ځکه چې دې په دې وخت (وقت) کې والي او امير و.او حضرت حسين وفرمائل دا سنت دې نو ځکه والي او امير دلمونځ ورکولو دولي ځخه زيات حقداره دې. او دکلي مُلا (امام) ددې ځخه وروسته زيات حقداره دې ددې دليل دا اثر دې عَن عَلِيٍّ قَالَ اَلاِمامُ اَحَقُّ مَن صَلّيٰ جَنَازَةً، ذَهَبتُ مَعَ اِبرَاهِيمَ اِلِيٰ جَنَازَةٍ وَهُوَ وَلِيُّهَا فَاَرسَلَ اِلِيٰ اِمَامِ الحَيِّ فَصَلّيٰ عَلَيهَا (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۷۳،ماقالوا في تقدم الامام علي الجنازة ج۲ ص۴۸۳ نمبر۱۱۳۰۵\ ۱۱۳۰۶) ددې اثر ځخه معلوم سو چې دمسجد امام زيات حقداره دې. دهغه وروسته ولي دجنازې دلمانځه زيات حقداره دې ددې دليل دا اثر دې عَن عُمَرَ اَنَّهُ قَالَ اَلوَلِيُّ اَحَقُّ بِالصَّلوةِ عَلَيهَا (نمبر۶۳۷۳) وَفِي اَثَرٍ آخَرَ عَنِ الحَسَنِ قَالَ اَولِيٰ النَّاسِ بِالصَّلوةِ عَلِيٰ المراَةِ اَلاَبُ ثُمَّ الزَّوجُ ثُمَّ الابنُ ثُمَّ الاَخُ (د) (مصنف عبدالرزاق.باب من احق بالصلوة علي الميت ص۴۷۲ نمبر۶۳۷۰) ددې اثر ځخه معلوم سو چې دکلي دامام وروسته ولي زيات حقداره دې او په ولي کې ترتيب دادې چې پلار بيا خاوند (مېړه) بيا زوئي بيا ورور دجنازې دلمانځه حقداره دې.

حاشه : (الف) حضور ومورِ ته وفرمائل ستاسو ورور نجاشي وفات کړئ دئ نو ولاړ سئ پر ده جنازه وکئ. نو مورِ ولاړ سو او صف مو جوړ کئ لکه څه رنګه چې پر مړي صف جوړيږي. او مورِ پر ده باندي لمونځ وکئ لکه څه رنګه چې پر مړي باندي لمونځ کيږي (ب) د ابوحازم دا وينا ما اورېدلي ده چې زه حاضر وم په کومه ورځ چې دحسن بن علي انتقال وسو. ما حسين بن علي وليدئ چې ده وسعد بن عاص ته ويله او دده څټه يه کښېکښله چې دلمانځه لپاره مخته سه. که دا سنت نه وائي نو ما به ته دجنازې لپاره نه وائي مخ ته کړئ.او دحسين او حضرت سعيد په ما بين کې څه اختلاف و (ج) حضرت علي وفرمائل چې امام پر جنازه دلونځ کولو زيات حقداره دئ. زه دابراهيم سره جنازې ته ولاړم او دئ دهغې جنازې ولي و نو ده دکلي امام ته حال ورواستاوئ او هغه وهغې جنازې ته لمونځ ورکئ (د) حضرت عمر وفرمائل ولي وجنازې ته دلمونځ ورکولو زيات حقداره دئ. په يو بل اثر کې راغلي دئ چې حسن وفرمائل پر ښځه باندي دجنازې کولو زيات حقداره ددې پلار دئ بيا خاوند(مېړه) بيا زوئي بيا ورو.

[۴۲۳](۲۲) فَاِن صَلّيٰ عَلَيهِ غَيرُ الوَلِيِّ وَالسُّلطَانِ اَعَادَ الوَلِيُّ وَاِن صَلّيٰ عَلَيهِ الوَلِيُّ لَم يَجُز اَن يُصَلّيٰ اَحَدٌ بَعدَهُ [۴۲۴](۲۳) فَاِن دُفِنَ وَلَم يُصَلِّ عَلَيهِ صَلّيٰ عَلِيٰ قَبرِهِ اِلِيٰ ثَلٰثَةٍ

---

[۴۲۳](۲۲) که پر مړي باندي دولي او باچا څخه علاوه بل چا لمونځ وکئ نو ولي دوباره لمونځ را ګرزولائي سي. او که پر هغه باندي ولي لمونځ وکئ نو دهيڅ چا لپاره جواز نه لري چې ددې وروسته څوک پردې باندي لمونځ وکي.

تشريح امام او ولي دلمونځ ورکولو حقداره و نو ځکه که دې خلګو تر اوسه لمونځ نه وي کړئ او نورو خلګو کړئ وي نو که ولي دوباره لمونځ کول وغواړي نو کولائي سي.او که ولي لمونځ کړئ وي نو اوس دهيچا لپاره ګنجائش نسته چې دئ دي لمونځ وکي.

وجه (۱) خلګو دحضور دجنازې لمونځ کاوئ.په آخر کې اميرالمؤمنين حضرت ابوبکرصديق لمونځ وکئ. اوس ددې وروسته يو څوک هم دحضور دجنازې لمونځ نه کوي.حالانکه حضور په قبر کې ژوندئ دئ. ددې ځخه دا معلوم سو چې د ولي او امير دجنازې دکولو وروسته دي هيڅ څوک لمونځ نه کوي. که امير او ولي لمونځ نه وي کړئ نو لمونځ کولائي سي. ددې دليل دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنَّ اَسوَدَ رَجُلاً اَو اِمرَاَةً كَانَ يُقِيمُ المسجِدَ فَمَاتَ وَلَم يَعلَمِ النَّبِيُّ بِمَوتِهِ فَذَكَرَهُ ذَاتَ يَومٍ فَقَالَ مَا فُعِلَ ذَالِكَ الإنسَانُ قَالُوا مَاتَ يَارَسُولَ اللهِ قَالَ اَفَلاَ اٰذَنتُمُونِي فَقَالَ اِنَّهُ كَانَ كَذَا كَذَا قِصَّتُهُ قَالَ وَفَحَقِّرُوا شَانَهُ قَالَ فَدُلُّونِي عَلِيٰ قَبرِهِ قَالَ فَاَتِيٰ قَبرَهُ فَصَلّيٰ عَلَيهِ (الف) (بخاري شريف.باب الصلوة علي القبربعد مايدفن ص۱۷۸ نمبر۱۳۳۷\ ابوداؤدشريف.باب الصلوة علي القبر ج۲ ص۱۰۱ نمبر۳۲۰۳) ددې حديث ځخه معلوم سو چې حضور دټولو امير و او پر هغه په رنګ توره ښځه باندي لمونځ نه و کړئ نو ځکه ده دوباره لمونځ وکئ.

[۴۲۴](۲۳) بيا که چيري مړئ پټ کړئ او پر هغه يه لمونځ نه و کړئ نو دهغه پر قبر به لمونځ کول کيږي تر درو ورځو پوري او نه به کول کيږي لمونځ ددې وروسته.

تشريح تر څو چې مړئ پرسېدلئ نه وي تر هغو پر ده باندي لمونځ کېدلائي سي. او په عامه توګه په دې ورځو کې پرسيږي پټاويږي.نو ځکه د درو ورځو وروسته دي دجنازې لمونځ نه کوي.پر قبر باندي دجنازې لمونځ کولو دليل په مسئله نمبر۲۲ دبخاري په حديث دئ چې هغه توره ښځه باندي دپټېدلو وروسته حضور لمونځ

وکئ. د درو ورځو دلیل دا اثر دئ تُوُفِّيَ عَاصِم بنِ عمر وابنِ عُمَرَ غَائِبٌ فَقَدِمَ ذَالِكَ قَالَ اَيُّوبُ اَحسِبُهُ قَالَ بِثَلاَثٍ قَالَ فَقَالَ اَرُونِي قَبرَ اَخِي فَاَرُوهُ فَصَلّيٰ عَلَيهِ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ١٦٢،في الميت يصلي عليه بعددفن من فعله ج٣ ص٤٤ نمبر١١٩٣\ سنن للبيهقي،باب الصلوة علي القبر بعدمايدفن الميت ج٤ ص٨١ نمبر٧٠٢٥ \٧٠٠٣) په دې اثر کي د درو ورځو اشاره ستنه. زمور استدلال ددغه څخه دئ.

حاشيه : (الف) يو په رنګ نور نر يا ښځه په مسجد کي جارو(جاړو) واهئ. هغه مړ سو او وحضور نه دهغه خبر نه ورسېدئ نو يوه ورځ يه دهغه تذکره وکړه نو يه وفرمائل هغه انسان څه رنګه سو؟ خلګو وويل چي مړ سو ائ دخدائ پيغمبره ! حضور وفرمائل تاسو وما ته ولي نه وويل؟ خلګو وويل هغه داسي داسي و. ګواکه دهغه شان يه حقير(کم) وګڼئ نو حضور وفرمائل دهغه قبر وما ته را وښياست. راوي فرمائي چي حضور دهغه قبر ته راغئ او پر هغه يه لمونځ وکئ (ب) عاصم بن عمر فوت سو او ابن عمر موجود نه و. دهغه وروسته دئ راغئ. ايوب فرمائي چي دري ورځي وروسته راغئ. وفرمائل زما د ورو قبر وما ته را وښياست نو دهغه قبر يه وروښووئ نوابن عمر پر هغه باندي لمونځ وکئ.

اَيَّامٍ وَلاَ يُصَلّيٰ بَعدَ ذَالِكَ [٤٢٥](٢٤) وَيَقُومُ المصَلّيٰ بِحِذَآءِ صَدرِ المَيّتِ [٤٢٦](٢٥) وَالصَّلوةُ اَن يُكَبِّرَ تَكبِيرَةً يَحمِدُ اللهَ تَعَالىٰ عَقِيبَهَا ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكبِيرَةً وَيُصَلّيٰ

فائده بعض خلګو فرمائلي دي چي تر يوې مياشتي پوري دجنازې لمونځ کولائي سي.ددوئي استدلال ددې حديث څخه دئ اَنَّ البَرَآءَ بنِ مَعرُورَ تُوُفِّيَ فِي صَفَرٍ قَبلَ قُدُومِ رَسولِ اللهِ اَلمَدِينَةَ بِشَهرٍ فَلَمَّا قَدِمَ صَلّيٰ عَلَيهِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ١٦٢،في الميت يصلي عليه بعد مادفن من فعله ج٣ ص٤٣ نمبر١١٩٣٢ \ سنن للبيهقي نمبر٧٠٢١) په دې حديث کي دئ چې حضور يوه مياشته وروسته پر قبر باندي دجنازې لمونځ وکئ.او ددې مدت څخه وروسته به ځکه لمونځ نه پر کوي چې ځومره بېشماره رسولان او اصحابان مړه دي(تېرسوئ دي) پر يوه باندي هم اوس لمونځ نه کول کيږي. که چيرې وروسته هم لمونځ جائز وائي نو خلګو به ضرور کولائي. او ددې دممانعت لپاره اثر هم موجود دئ. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ لاَيُصَلّيٰ عَلَي المَيّتِ مَرَّتَينِ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ١٦٣،من كان لايري الصلوة عليها اذا دفنت وقدصلي عليها ج٣ ص٤٥ نمبر١١٩٤٥) ددې اثر څخه معلوم سو چې که يو وار لمونځ ادآء کړئ وي او ولي هم لمونځ کړئ وي نو دوباره دي بيا پر هغه جنازه نه کوي. پر دغه باندي د امام ابوحنيفه عمل دئ.

(د جنازې د لمانځه بيان)

[٤٢٥](٢٤) لمونځ ورکونکئ به دمړئ دسينې(ځيګره) سره دريږي.

وجه (١) دسينې سره د دريدو دليل دا اثر دئ عَن عَطَآءٍ قَالَ اِذَ صَلَّي الرَّجُلُ عَلَي الجَنَازَةِ قَامَ عِندَالصَّدرِ (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ١٠٢،في المراة اين يقام منها في الصلوة والرجل علي الجنازة اين يقام منه ج٣ ص٦ نمبر١١٥٥١ \ مصنف عبدالرزاق،باب اين يقوم الامام من الجنازة ج٣ ص٤٦٩ نمبر٦٣٥١) ددې اثر څخه معلوم سو چې دمړي دسينې سره به دريږي (٢) په دې وجه هم چې په سينه کي د ايمان نور وي نو چې هلته ودريږي نو ګواکه د ايمان دنور ګواهي ورکوي.

فائده د امامِ اعظم څخه يو روايت دا هم دئ چې دښځې پر مابين دي امام دريږي. دده دليل دا حديث دئ حَدَّثَنَا سَمُرَةَ بنِ جُندُبٍ قَالَ صَلَّيتُ وَرَآءَ النَّبِيِّ عَليٰ اِمرَاَةٍ مَاتَت فِي نِفَاسِهَا فَقَامَ عَلَيهَا وَسطَهَا (د) (بخاري شريف.باب اين يقوم من المراة والرجل ص١٧٧ نمبر١٣٣٢)ددې حديث څخه معلوم سو چې دښځې پر مابين دي دريږي چې دښځې لپاره امام ستر سي.

[٤٢٦](٢٥) او دلمانځه طريقه داده چې اول دي تکبير ووائي دهغه وروسته دي دخدائي حمد بيان کي(يعني ثنآء دي ووائي) بيا دي تکبير ووائي او سلام دي په وګرزوي.

تشريح دجنازې په لمانځه کي ځلور تکبيرونه ويل کيږي. داول وروسته دي ثنآء ووائي. د دوم وروسته دي پر نبي عليه السلام باندي درود شريف ووائي. د دريم وروسته دي دجنازې دعآء ووائي

حاشيه : (الف) برآء بن معرور دصفري په مياشته کي وفات سو.دحضور ومدينې ته دراتلو څخه يوه مياشته مخکې.بياچې حضور راغئ نو يه پر ده باندې لمونځ وکئ (ب) حضرت ابراهيم فرمائي چې پر مړي دي دوه واره لمونځ نه کوي (ج) عطآء وفرمائل چې کله يو څوك پر جنازه لمونځ وکئ نو دسيني سره دي درپرې (د) سمره بن جندب فرمائي چې ما پر يوه ښځه باندې دحضور وشاته لمونځ وکئ چې په نفاس کي وفات سوي وه.نو حضور دښځې په منځ کې ودرېدئ.

عَلىٰ النَّبِيِّ عَلَيهِ السَّلاَمُ ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكبِيرَةً ثَالِثَةً يَدعُو فِيهَا لِنَفسِهِ وَلِلمَيِّتِ وَلِلمُسلِمِينَ ثُمَّ يُكَبِّرُ تَكبِيرَةً رَابِعَةً وَيُسَلِّمُ .

او دځلورم تکبير وروسته دي سلام په وګرزوي.

وجـه دځلورو تکبيرو ويلو دليل دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ نَعَي النَّجَّاشِيَّ فِي اليَومِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ وَخَرَجَ بِهِم اِلىٰ المُصَلّٰي فَصَفَّ بِهِم وَكَبَّرَ عَلَيهِ اَربَعَ تَكبِيرَاتٍ (الف) (بخاري شريف.باب التكبيرعلي الجنازة اربعا ص۱۷۸ نمبر۱۳۳۳ \ ابوداؤد شريف.باب الصلوة علي المسلم يموت في بلاد المشرك ص۱۰۱ نمبر۳۲۰۴) ددې حديث څخه معلوم سو چې دجنازې په لمانځه کې به څلور تکبير ويل کيږي. دهر تکبير وروسته به څه وائي دهغه تفصيل په دي اثر کي راغلئ دئ سُئِلَ اَبَا هُرَيرَةَ كَيفَ تُصَلّي عَلَي الجَنَازَةِ فَقَالَ اَبُوهُرَيرَةَ اَنَا لَعَمرُاللهِ اُخبِرُكَ اَتَّبِعُهَا مِن اَهلِهَا فَاِذَا وَضَعتَ كَبَّرتُ وَحَمِدتُ اللهَ وَصَلَّيتُ عَلىٰ نَبِيِّهِ ثُمَّ اَقُولُ اَللّٰهُمَّ عَبدُكَ وَابنُ عَبدِكَ الخ (ب) (مؤطآ امام مالك،باب مايقول المصلي علي الجنازة ص۲۰۹) په دې اثر کي دئ چې د اول تکبير وروسته ثنآء.د دوم تکبير وروسته درودشريف. د دريم تکبير وروسته دي دمړي لپاره دعآء ووائي. که سورة فاتحه دثنآء په طور وويل نو هم څه دحرج خبره نه ده. خو که دقرات په توګه وويل نو داحنافو په نېز صحيح نه ده.

وجـه (۱) دجنازې لمونځ يو قسم دعآء ده. نو ځکه په دي کي به قرات نه وي (۲) په اثر کي ددې ممانعت موجود دئ. اَنَّ عَبدَاللهِ بنِ عُمَرَ كَانَ لاَيَقرَاُ فِي الصَّلوةِ عَلَي الجَنَازَةِ (ج) (مؤطا امام مالك.باب مايقول المصلي علي الجنازة ص۲۰۱ \مصنف عبدالرزاق.باب القرآءة والدعآء في الصلوة علي الميت ص۴۹۱ نمبر۶۴۳۳) ددې اثر څخه معلوم سو چې د اول تکبير وروسته په سورة فاتحه نه وائي.

فـائـده دامام شافعي او نورو امامانو په نېز د اول تکبير وروسته دي سورة فاتحه ووائي. دده دليل دا اثر دئ عَن طَلحَةَ بِنِ عَبدِاللهِ بنِ عَوفٍ قَالَ صَلَّيتُ خَلفَ اِبنَ عَبَّاسٍ عَلىٰ جَنَازَةٍ فَقَرَاَ بِفَاتِحَةِ الكِتَابِ وَقَالَ لِيَتَعَلَّمُوا اَنَّهَا السُّنَّةَ (د) (بخاري شريف.باب قرآءة فاتحة الكتاب علي الجنازة ص۱۷۸ نمبر۱۳۳۵ \ ابوداؤدشريف.باب مايقرا علي الجنازة ج۲ ص۱۰۰ نمبر۳۱۹۸) ددې اثر څخه معلوم سو چې په جنازه کي د اول تکبير وروسته دي سورة فاتحه ووائي.

د احنافو په نېز په عام توګه د لويانو لپاره دا دعآء ويل کيږي. عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ صَلّٰي رَسُولُ اللهِ عَلىٰ جَنَازَةٍ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ اِغفِر لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا الخ (ه) (اب،داؤدشريف.باب الدعآء للميت ج۲ ص۱۰۰ نمبر۳۲۰۱ \ترمذي شريف.باب مايقول في الصلوة علي الميت ص۱۹۸ نمبر۱۰۲۴)

حاشيه : (الف) حضور دنجاشي دمرګ خبر په هغه ورځ وركئ په کومه ورځ چې د ده انتقال کړئ و او خلک يه عيد ګاه ته بوتل بيا يه دخلګو سره صف جوړ کئ او پر هغه يه څلور تکبير وويل (ب) دحضرت ابوهريره څخه يو چا پوښتنه وکړه چې پر جنازه باندې لمونځ څه رنګه کيږي نو ده وفرمائل قسم په خدائ زه به وتاسو ته خبر درکړم او داهل جنازې وروسته به زه ځم. بس چې جنازه کښېږدئ نو تکبير وايم،ثنآء وايم،پر نبي عليه السلام باندې درود وايم او وايم اَللّٰهُمَّ عَبدُكَ وَابنُ عَبدِكَ الخ پوره دعآء وايم (ج) عبدالله بن عمر به دجنازې په لمانځه کې قرات نه کاوئ (د) ما په حضرت ابن عباس پسې لمونځ وکئ نو هغو سورة فاتحه وويل او وويل چې تاسو پوه سئ چې دا سنت ده (ه) حضور پر جنازه لمونځ وکئ.بس وويل اَللّٰهُمَّ اِغفِر لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا الخ .

[۴۲۷](۲۶) وَلاَ يُصَلّي عَلىٰ مَيِّتٍ فِي مَسجِدٍ جَمَاعَةٍ [۴۲۸](۲۷) فَاِذَا حَمَلُوهُ عَلىٰ سَرِيرِهِ

[۴۲۷](۲۶) او لمونځ دي نه کوي پر مړي باندې په هغه مسجد کې چې جماعت پکې کيږي.

وجه (۱) چي مړئ په مسجد کي کښيږدي نو امکان لري چي مسجد دي مُلَوّث سي. نو ځکه په مسجد کي جنازه کول مکروه تحريمي ده. خو که وکړه نو صحيح کيږي (۲) په حديث کي راغلي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ مَن صَلّيٰ عَلَيٰ جَنَازَةٍ فِي المسجِدِ فَلاَ شَيئَ لَهُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الصلوة علي الجنازة في المسجد ج۲ ص۹۸ نمبر۳۱۹۱ \ سنن للبيهقي.باب الصلوة علي الجنازة في المسجد ج۴ ص۸۶ نمبر۷۰۴۰) ددې حديث ځخه معلوم سوچي په مسجد کي دلمونځ کولو ځخه ثواب نه ملاؤيږي (۳) په خپله په مدينه طيبه کي دجنازې دلمانځه لپاره جلا ځائ متعين و.

فائده د امام شافعي په نبز په مسجد کي دجنازې لمونځ جائز دئ.ددې دليل دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ لَمَّا تُوُفِّيَ سَعدُ بنُ اَبِي وَقَّاصٍ ... فَبَلَغَهُنَّ اَنَّ النَّاسَ عَابُوا ذَالِكَ وَقَالُوا مَاكَانَتِ الجَنَائِزُ يَدخُلُ بِهَا المسجِدَ فَبَلَغَ عَائِشَةَ فَقَالَت مَا اَسرَعُ النَّاسِ اِلىٰ اَن يَّعِيبُوا مَا لاَ عِلمَ لَهُم بِهِ ، عَابُوا عَلَينَا اَن يَّمُرَّ بِجَنَازَةٍ فِي المسجِدِ وَمَا صَلّيٰ رَسُولُ اللهِ عَلَيٰ سُهَيلِ بنِ بَيضَآءَ اِلاَّ فِي المسجِدِ (ب) (مسلم شريف.ابواب الجنائز.فصل في جوازالصلوة علي الميت في المسجد ص۳۱۳ نمبر۹۷۳ \ ابوداؤدشريف.باب الصلوة علي الجنازة في المسجد ج۲ ص۹۸ نمبر۳۱۹۰) ددې حديث ځخه معلوم سو چي په مسجد کي جنازه ادآء کيدلائي سي.

پام لرنه لپکن دحديث د انداز ځخه معلوميږي چي عام اصحابانو مسجد ته د مړي پر راوړلو باندي د کراهت اظهار کړئ دئ. او دغه د احنافو مذهب دئ.

[۴۲۸](۲۷) بيا چي مړئ پر چار پائي باندي پورته کي نو دهغه ځلور سره پښې دي ونيسي او په تبزي سره دې يوسي لپکن منډي دي نه وهي(ځغلي دي نه)

تشريح ومړي ته دي کفن ورکي پر چارپائي دې پرېباسي او دچارپائي ځلور سره پښې دي ونيسي او وقبرستان ته دي ولاړ سي.لپکن په داسي انداز چي په تبزي سره دي ولاړ سي قبرستان ته دي ولاړسي. لپکن ځغلي دي نه. ځکه چي دا دمړي دشان خلاف دئ. او دمړي ديله کېدو خطره ده.

وجه د تلوار او ژر کولو لپاره دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النَّبِيِّ قَالَ اَسرِعُوا بِالجَنَازَةِ فَاِن تَكُ صَالِحَةً فَخَيرٌ تُقَدِّمُونَهَا وَاِن تَكُ سِوىٰ ذَالِكَ فَشَرٌّ تَضَعُونَهُ عَن رِّقَابِكُم (ج) (بخاري شريف.باب السرعة بالجنازة ص۱۷۶ نمبر۱۳۱۵)

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل کوم چا چي پر جنازه باندي په مسجدکي لمونځ وکئ دهغه لپاره هيڅ نسته (ب) دحضرت عائشې ځخه روايت دئ چي کله حضرت سعد بن ابي وقاص وفات سو ... حضرت عائشه ته خبر ورسېدئ چي خلګ عيب پر لګوي او خلګ وائي چي جنازه دارنګه نه وي چي هغه دي په مسجد کي داخله کړي. دا خبر وحضرت عائشه ته ورسېدئ نو حضرت عائشې وفرمائل ځومره ژر خلګ عيب لګوي دداسي شئ چي دهغه علم و دوئي ته نسته. هغه پر مورږ باندي عيب لګوي چي جنازه په مسجد کي تبره سي. حلانکه حضور پر سهل بن بيضآء باندي په مسجد کي جنازه وکړه (ج) حضوروفرمائل جنازه ژر يوسئ که هغه ښه سړئ وي نو ښه خبره ده کوم چي تاسو مخکي کوئ. او که چيري ددې ځخه علاوه وي نو بد شئ دئ چي تاسو يه دخپلي غاړي ځخه کښيږدئ.

اَخَذُوا بِقَوَائِمِهِ الاَربَعِ وَيَمشُونَ بِهِ مُسرِعِينَ دُونَ الخَبَبِ [۴۲۹](۲۸) فَاِذَا بَلَغُوا اِلىٰ قَبرِهِ كُرِهَ لِلنَّاسِ اَن يَّجلِسُوا قَبلَ اَن يُّوضَعَ مِن اَعنَاقِ الرِّجَالِ [۴۳۰](۲۹) وَيُحفَرُ

وَفِي اَبِي دَاؤدَ،عَن اِبنِ مَسعُودٍ قَالَ سَاَلنَا نَبِيَّنَا عَنِ المشيِ مَعَ الجَنَازَةِ فَقَالَ مَا دُونَ الخَبَبِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الاسراع بالجنازة ج۲ ص۹۷ نمبر۳۱۸۴) ددې حديث ځخه معلوم سو چي جنازه په تبزئ سره قبرستان ته وړل په کار ده. لپکن ځغستل نه دئ په کار. او دځلورو پښو دنيولو لپاره دا اثر دئ قَالَ عَبدُاللهِ بنِ مَسعُودٍ مَن اِتَّبَعَ جَنَازَةً فَليَحمِل بِجَوَانِبِ السَّرِيرِ كُلِّهَا فَاِنَّهُ مِنَ السُّنَّةِ (ب) (ابن ماجه شريف.باب ماجآء في شهودالجنآئز ص۲۱۱ نمبر۱۴۷۸۷) او په اثر کي راغلي دي رَاَيتُ اِبنَ عُمَرَ فِي جَنَازَةٍ فَحَمَلُوا بِجَوَانِبِ السَّرِيرِ الاَربَعِ فَبَدَاَ بِالمِيَامِنِ ثُمَّ تَنَحّيٰ عَنهَا (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۶۸،باي جوانب السرير يبدأ في الحمل ج۲ ص۴۸۰ نمبر۱۱۲۷۷) ددې

اثر څخه معلوم س چي څلور سره پښې يه نيول په کار دي. او دمړي د بنې جانب څخه نيول شروع کول په کار دئ.

لـغت اَلجَنَبُ : منډه کول.ذَبلِي خوړل.

[۴۲۹](۲۸) بيا چي قبر ته ورسيږي نو دخلګو لپاره مکروه دئ چي کښيني دخلګو دوړو څخه دابنولو څخه مخکې.

تـشريـح کومو خلګو چي مړئ پر وړو راخستئ دئ هغو لا تر اوسه د وړو څخه کښته کړئ نه دئ ددې څخه مخکې لا عام خلګ کښيني نو دا مکروه دئ.

وجـه (۱) دا دمړي دشان خلاف دئ (۲) چي دا مړې راخستئ دئ کيدئ سي چي دې خلګو تـه ضـرورت پـيښ سي چي چارپائي ځني ونيسي. نو ځکه دمړي دابنولو څخه مخکې عام خلګ بايد نه کښيني. خو که مجبور وي نـو کښښتلائي سي. ددې دليل دا اثـر دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنَّهُ لَم يَکُن يَقعُدُ حَتّيٰ يُوضِعُ السَّرِيرُ ، وَعَن اَبِي سَعِيدٍ قَالَ اِذَا کُنتُم فِي جَنَازَةٍ فَلاَ تَجلِسُوا حَتّيٰ يُوضَعُ السَّرِيرُ (د) (مصنف ابن ابي شيبة ۹۹، في الرجل يكون مع الجنازة من قال لايجلس حتي يوضع ج۳ ص۳ نمبر۱۱۵۱۰ \ ۱۱۵۱۱) ددې څخه معلوم سوچي چي دجنازې د کښښولو څخه مخکې کښښتل نه دئ په کار.

(۳۴۰](۲۹) قبر دي وکينل سي او لحد دي جوړ سي .

تـشريـح قبر دو رنګه کينل کيږي(خيږي) . يو لحد يعني سيدا يه وکيني بيا يـه وښـي جانـب تـه وکينـي د مـړي د ابنولو ځائ جوړوي او په هغه کي مړئ اړدي پر کناره يه کچا خښتي ابنول کيږي. او دوم صورت د شـق د دئ يعني سيدا يه وکيني او بنه يه جَوَر کي په هغه کي مړئ اړدي او د لوړ څخه لکړي پر کښيږدي پټ يه کـي. دواړه قسمونه جائز دي. او وخاؤره او مځکه ته کتل کيږي بيا قبر کاږي. خو لحد زيات بنه دئ او په هغه کي خرچه هم کمه ده.

حاشيه : (الف) دجنازې سره دتللو په باب ما دحضور څخه پوښتنه وکړه نو وفرمائل دمنډي وهلو څخـه لږ کم (وښـئ) (ب) عبدالله بن مسعود وفرمائل څوك چـي د جنـازې وروسته ولاړ سـي نـو د چارپـائي څلـور سره اړخونـه دي پورتـه کـي ځکـه چـي دا سـنت دئ (ج) حضرت ابن عمر يه په جنازه کي وليدئ چي ده دجنازې څلور سره طرفونه پورته کول او دښي جانب څخه شـروع کـول بيـا دهغـه څخـه جلا کېدئ (د) د ابوهريره څخه نقل سوئ دئ چي هغه نه کښښتئ تر هغو چي چارپائي ابنول کېده. او دابوسعيد څخه نقل سوئ دئ چـي وفرمائل چي کله ته په جنازه کي موجود يې نو مه کښښه تر هغو چي چارپائي نه کښښول سي.

اَلقَبرُ وَيُلحَدُ [۴۳۱](۳۰) وَيُدخَلُ المَيِّتُ مِمَّا يَلِي القِبلَةَ [۴۳۲](۳۱) فَاِذَا وُضِعَ فِي لَحَدِهِ قَالَ الَّذِي يَضَعُهُ بِسمِ اللهِ وَعَلَيٰ مِلَّةِ رَسُولِ اللهِ [۴۳۳](۳۲) وَيُوَجِّهُهُ

دلحد دمسنونيّت دليل دا حديث دئ (۱) اَنَّ سَعدَبنَ اَبِي وَقَّاصٍ قَالَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي هَلَكَ فِيهِ اَلحِدُوا لِي لَحَداً وَانصِبُو عَلَيَّ اَللَّبَنَ نَصبًا کَمَا صُنِعَ بِرَسُولِ اللهِ (الف) (مسلم شريف.کتاب الجنائز،فصل في استحباب اللحد ص۳۱۱ نمبر۹۶۶) ددې حـديث څخـه معلـوم سـو چـي لحد زيات بهتر دئ او سنت دئ (۲) پـه ترمـذي کـي حـديث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ النَّبِيُّ اَللَّحدُ اَنَا وَالشَّقُّ لِغَيرِنَا (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء في قول النبي اللحد لنا والشق لغيرنا ص۳۰۳ نمبر۱۰۴۵ \ ابوداؤد شريف،باب في اللحد ج۲ ص۱۰۲ نمبر۳۲۰۸) ددې حديث څخه هم معلوم سو چي لحد مسنون دئ.

[۴۳۱](۳۰) مړئ دي دقبلې دجانب څخه داخل کړي.

تـشريـح د مړي په قبر کي د داخلېدو دوه صورته دي (۱) مړئ دي دقبر دقبلې په خـوا کښيږدي او دهغـې خـوا دې په قبرکي داخل کي. داحنافو په نبز دغه مستحب دئ (۲) او دوم صورت يـه دادئ چـي مـړئ دي دقبـر دپښـو وخوا ته کښيږ دي او دهغه ځائي څخه دې را کش کي په قبر کي دې داخل کي.

وجـه عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ دَخَلَ قبراً لَيلاً فَاُسرِجَ لَهُ سِرَاجٌ فَاَخَذَهُ مِن قِبَلِ القِبلَةِ (ج) (ترمذي شريف.باب ماجآء في الدفن بالليل ص۲۰۴ نمبر۱۰۵۷) ددې حديث څخه معلوم سو چي دقبلې له خوا دي مړئ په قبر کي داخل کړي.

فـائـده د امام شافعي په نبز مړئ به د پښو لخوا په قبر کي داخلوي.دده دليل دا اثر دئ عَن اَبِي اِسحَاقَ قَالَ اَوصَيٰ الحَارِثُ اَن يُصَلّيٰ عَلَيهِ عَبدُاللهِ بنِ يَزِيدٍ فَصَلّيٰ عَلَيهِ ثُمَّ اَدخَلَهُ القَبرَ مِن قِبَلِ رِجلَيِ القَبرِ وَقَالَ هٰذَا مِنَ السُّنَّةِ (د) (ابوداؤدشريف.باب كيف يدخل الميت قبره ص١٠٢ نمبر٣٢١١) ددې اثر څخه معلوم سوچي د پښو لخوا دي مړئ داخل کړي.

[۴۳۲](۳۱) بس چي په قبر کي کښيږدي نو اينسونکي دي ووائي بِسمِ اللهِ وَعَلَيٰ مِلَّةِ رَسُولِ اللهِ .

وجـه حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ اِذَا اَدخَلَ المَيِّتَ القَبرَ قَالَ مَرَّةً بِسمِ اللهِ وَبِاللهِ وَعَلَيٰ مِلَّةِ رَسُولِ اللهِ وَقَالَ مَرَّةً وَبِسمِ اللهِ وعَلَيٰ سُنَّةِ رَسُولِ اللهِ (ه) (ترمذي شريف.باب ماجآء مايقول اذا ادخل الميت القبر ص٢٠٢ نمبر١٠٤۶ \ ابوداؤدشريف.باب في الدعآء للميت اذا وضع في قبره ج٢ ص١٠٢ نمبر٣٢١٣) ددې حديث څخه معلوم سو چي په قبر کي اينسونکئ سړئ دي بِسمِ اللهِ وَعَلَيٰ مِلَّةِ رَسُولِ اللهِ ووائي.

[۴۳۳](۳۲) او دمړئ مخ دي دقبلي په خوا را وګرزوي.

حاشيه : (الف) سعدبن ابي وقاص وفرمائل په هغه ناجوړي کي په کومه ناجوړي کي چي دد وفات وسو،زما لپاره لحد جوړ کئ او زما پر لحد باندي کچه خښتي کښيږ دئ لکه څه رنګه چي دحضور سره وسو (ب) حضور وفرمائل لحد زموږ لپاره دئ او شق زموږ څخه علاوه دنورو لپاره دئ (ج) حضور په قبر کي په شپه کي داخل سو. دحضور لپاره چراغ(څراغ)ولګاوئ نو مړئ يه دقبلي لخوا واخستئ (د) حضرت حارث وصيت وکئ چي وده ته دي عبدالله بن زيد لمونځ ورکئ.نو بيا يه وهغه ته لمونځ ورکئ بيا يه په قبر کي دقبر دپښو لخوا داخل کړئ او وفرمائل دا سنت دئ (ه) حضور چي به مړئ په قبر کي داخلوئ نو کله به بِسمِ اللهِ وَبِاللهِ وَعَلَيٰ مِلَّةِ رَسُولِ اللهِ ويل او کله به بِسمِ اللهِ وَعَلَيٰ مِلَّةِ رَسُولِ اللهِ ويل .

القبلة [۴۳۴](۳۳) وَيَجعَلُ العُقدَةَ [۴۳۵](۳۴) وَيُسَوِّيَ اللَّبَنُ عَلَيٰ اللَّحَدِ [۴۳۶](۳۵) وَيُكرَهُ الآجُرُ وَالخَشَبُ وَلاَبَاسَ بِالقَصَبِ .

وجـه (۱) په ژوند کي دقبلي پر خوا لمونځ کاوئ نو اوس دمرګه وروسته دي هم دقبلي پر خوا مخ وي (۲) اَنَّ رَجُلاً سَاَلَهُ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ مَالكَبَائِرُ ؟ قَالَ هُنَّ تِسعٌ فَذَكَرَ مَعنَاهُ وَزَادَ وَعُقُوقُ الوَالِدَينِ المسلِمَينِ وَاستِحلاَلُ البَيتِ الحَرَامِ قِبلَتَكُم اَحيَآءً وَاَموَاتًا (الف) (ابوداؤدشريف.باب ماجآء في التشديدفي اكل مال اليتيم ج٢ ص٤١ نمبر٢٨٧۵ \ سنن للبيهقي.باب ماجآء في استقبال القبلة بالموتيٰ ج٣ ص٥٧٣ نمبر۶٧٢۴) ددې حديث څخه معلوم سو چي مړئ دي هم د قبلي وخوا ته پرېباسي.

[۴۳۴](۳۳) غوتي دې خلاسي کي.

تـشريـح دکفن ورکولو په وخت که دخلاسېدو خطره وي نـو د غوتي ورکولـو حکم سـوئ و.اوس پـه قبـر کـي د مړئ د اينسولو وروسته دي هغه غوتي خلاسي کړي.ددې دليل دا اثر دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا اُدخِلَ المَيِّتُ القَبرَ حَلَّ عَنهُ العُقَدُ كُلَّهَا (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ١٢٠،ماقالوفي حل العقد عن الميت ج٣ ص١٧ نمبر١١۶۶٩) ددې اثر څخه معلوم سو چي دکفن غوتي دي خلاسي کړي.

[۴۳۵](۳۴) او په لحد کي دي کچه خښتي برابري واچوي.

تـشريـح دلحد په ښئ خوا کي مړئ اينسول کيږي نو ځکه دلحد پر خوله دي کچه خښتي برابري واچوي چي دلحد خوله په بنده سي.

وجـه ددې دليل دا حديث دئ اَنَّ سَعدَبنَ اَبِيَ قَّاصٍ قَالَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي هَلَكَ فِيهِ اَلحِدُوا لِي لَحَداً وَانصِبُوا عَلَيَّ لَبَنًا نَصبًا كَمَا صُنِعَ بِرَسُولِ اللهِ (ج) (مسلم شريف.كتاب الجنائز،فصل في استحباب اللحد ص٣١١ نمبر٩۶۶) عَن عَلِيٍّ اِبنِ حُسَينٍ اَنَّهُم عَلَيٰ قَبرِ رَسُولِ اللهِ نَصَبُوا اَللَّبَنَ نَصبًا (د) (مصنف ابن ابي شيبة ١٢٩،في اللبن ينتصب علي القبر او يبنيٰ بنآء ج٣ ص٢٣ نمبر١١٧٢٩) ددې اثر څخه معلوم سو چي په لحد کي بايد کچه خښتي واچوي.

[۴۳۶](۳۵) مکروه دي پخې خښتي او تختې. او هيڅ دحرج خبره نه ده چي دبانس لکړي په کي واچوي.

تـشريـح قبر دزړېدو او دخرابېدو لپاره دئ .نو ځکه پر دې باندي دارنګه شئ جوړول چې ډېر وخت وهي او پـه وور سره پوخ سوئ وي مکروه دئ. په دغه وجه پخې خښتي ورکول مکروه دي.ځکه چـې پـه دي کـي هم د وور اثر دئ او ډېر وخت وهي. دغه رنګه مظبوطه تخته ورکول مکروه ده ځکه چې هغه ډېر وخـت وهـي. بـانس چـې کوم دئ هغه ډېر وخت نه وهي نو ځکه هغه جائز دئ.

حاشيه : (الف) يوه سړي پوښتنه وکړه ائ دخدائ پېغمبره کبائري کومي دي؟ وفرمائل هغه نه(۹)دئ. بس دغه لوړ مفهوم يـه ذکـر کـئ او زيات يه کړئ دمسلمان مور او پلار نافرماني کول او بيتِ حرام حلال ګرزول چې ستاسو د ژوندو او مړو قبله ده (ب) ابـراهيم وفرمائـل چې مړئ په قبر کې داخل کې نو دده ټولې غوټې دي خلاسي کې (ج) سعدبن ابې وقاص په هغه ناجوړي کې وويل په کومه کـي چـې دئ وفات سو زما لپاره لحد جوړ کئ او پر ما باندي کچه خښتي واچـوئ لکـه څـه رنګـه چـې دحضـور سـره وسـو (د) حسين وفرمائـل چـې دحضور پر قبر باندي کچه خښتي واچولې.

[۴۳۷](۳۶) ثُمَّ يُهَالُ التُّرَابُ عَلَيهِ وَيُسَنَّمُ القَبرُ وَلاَ يُسَطَّحُ [۴۳۸](۳۷) وَمَن اِستَهَلَّ

وجـه په حديث کې راغلي دي عَن جَابِرٍ قَالَ نَهَيٰ رَسُولُ اللهِ اَن يُجَصِّصَ القَبرَ وَاَن يَقعُدَ عَلَيهِ وَاَن يَّبنيٰ عَلَيهِ (الف) (مسلم شريف.كتاب الجنائز.فصل في النهي عن تجصيص القبور ص۳۱۲ نمبر۹۷۰ \ ابوداؤدشريف.باب في البنآء علي القبر ج۲ ص۱۰۴ نمبر۳۲۲۵) ددې حديث څخه معلوم سو چې پر قبر دي پخه خښته او تختـه نـه ورکـوي. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ كَانُوا يَستَحِبُّونَ اللَّبِنَ وَيُكرَهُونَ الآجُرَ وَيَستَحِبُّونَ القَصَبَ وَيُكرِهُونَ الخَشَبَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۳۷،في تجصيص القبر والآجر يجعل له ج۳ ص۲۷ نمبر۱۱۷۶۹) ددې اثر څخه هم دمسئلې تائيد معلوميږي.

لـغت اَلآجُرُ : پخه خښته خَشَبٌ : لکړه اَلقَصَبُ : بانس .

[۴۳۷](۳۶) بيا دي پر قبر خاوري واچوي او قبر دي د بوك په ركم جوړ كي.

تـشريـح لکه څه رنګه چې د وُښ بوك وي په دغه رنګه دي دقبر شکل جوړکي. لېکن قبر دي ډېر نه لوړ وي.خو څلور کُوَنجه ومځکه ته دې نزدې نه جوړوي د بوك په ركم يو څه لوړ دي وي.

وجـه عَن سُفيَانِ التَّمَّارِ قَالَ دَخَلتُ البَيتَ الَّذِي فِيهِ قَبرُ النَّبِيِّ وَقَبرُ اَبِي بَكرٍ وَعُمَرَ مُسَنَّمَةً (ج) (بخاري شريف.باب ماجآء في قبرالنبي وابوبكر وعمر ص۱۸۶ نمبر۱۳۹۰ \ مصنف ابن ابي شيبة ۱۳۰،ماقالوا في القبر يسنم ص۲۳ نمبر۱۱۷۳۳) ددې اثر څخه معلوم سو چې قبـر به بوك نما جوړوي. قبر دي لوړ نه وي ددې دليل دا حديث دئ قَالَ لِي عَلِيٌّ اَلاَ اُبعِثُكَ عَلىٰ مَا بَعَثَنِي عَلَيهِ رَسُولُ اللهِ اَن لاَّ تَدَعَ تِمثَالاً اِلاَّ طَمَستُهُ وَلاَ قَبراً مُشَرَّفًا اِلاَّ سَوَّيتُهُ (د) (مسلم شريف.كتاب الجنائز. فصل في طمس التمثال وتسوية القبر المشرف ص۳۱۲ نمبر۹۶۹) ددې حديث څخه معلوم سو چې ډېر لوړ قبر بايد کښته سي .

لـغت يُهَالُ : خاوري دي پر واچوي. يُسَنَّمُ : د بوك په ركم دې جـوړ کـي. يُسَطَّحُ : څلـور کونجـه . دمځکـي دسـطح سره ټچ(مښتئ)

[۴۳۸](۳۷) د پيدائش وروسته چې ژړلي وي نو دهغه نوم به ايښول کيږي او غسل بـه ورکـول کيـږي او پـر هغـه باندي به لمونځ کيږي. او که چيري نه و ژړلي نو په يوه ټکره کپړه کي به پېچل کيږي او دفن کيږي به او پر هغه به لمونځ نه کول کيږي.

وجـه اصل قاعده داده چې ژوندئ پيدا سي او وروسته مړ سـي نـو پـر هغـه بانـدي بـه دمـړي ټول احکـام جـاري کيږي.او که مړئ پيدا سوئ وي نو هغه دغوښي د يوې ټوټې په مثال دئ پر هغـه دمـړي احکـام نـه جـاري کيـږي ژړل د ژوند علامت دئ. دغه رنګه په يو بل علامت باندې د ژوند معلومـات وسـو نـو پـر هغـه بـه دمـړي احکـام جاري کيږي که دا نه و نو بيا د مړي احکام نه پر جاري کيږي. که د ژوند معلومات وسو نـو ددې کشـني بـه نـوم ايښول کيږي. وده ته به غسل ورکول کيږي.او پر هغه به لمونځ هم ادآء کيږي .

حاشيه : (الف) حضور منع کړی ده چې پر قبر چونه يا ګچ واچوي او پر هغه کښيني او پر هغه تعمير وسي (ب) د ابراهيم څخه روايت دئ چې هغه پر قبر کچه خښتي اچول مستحب ګڼلي او پخي خښتي مکروه ګڼلي. او بانس اچول يې مستحب ګڼله اود تختې اچول يې مکروه ګڼلي (ج) سفيان فرمائي چې زه په هغه کور کې داخل سوم په کوم کې چې دحضور قبر دئ نو دحضور، ابوبکر او دعمر قبرونه مو وليدل چې هغه د بُوك په شان جوړ سوي و (د) ما ته حضرت علي وفرمائل، آيا تا نه واستوم پر هغه باندې پر کوم چې زه حضور واستولم،هغه دا چې يو بُت نه ووينم مګر هغه مټاؤ کړم. او نه يو لوړ قبر ووينم مګر هغه دمخکې سره برابر کړم.

بَعدَ الوِلاَدَةِ سُمِّيَ وَغُسِلَ وَصَلَّيٰ عَلَيهِ وَ اِن لَم يَستَهِلَّ اُدرِجَ فِي خِرقَةٍ وَ دُفِنَ وَ لَم يُصَلِّ عَلَيهِ .

دليل يه دا حديث دئ عَنِ المُغِيرَةَ بنِ شُعبَةَ اَنَّهُ ذَكَرَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ قَالَ اَلرَّاكِبُ خَلفَ الجَنَازَةِ وَالمَاشِي حَيثُ شَآءَ مِنهَا وَالطِّفلُ يُصَلَّيٰ عَلَيهِ (الف) (نسائي شريف. باب الصلوة علي الاطفال ص۲۱۴ نمبر۱۹۵۰) ددې حديث څخه معلوم سو چې که کشنئ فوت سي نو پر هغه به لمونځ کول کيږي.او کشنئ په هغه وخت کې ورته ويل کيږي چې په ده کې ژوند وي که نه نو بيا خو دغوښي يوه توټه ده. عَن جَابِرِ بنِ عَبدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اِذَ اِستَهَلَّ الصَّبِيُّ صَلِّيَ عَلَيهِ وَوَرِثَ (ب) (ابن ماجه شريف. باب ماجآء في الصلوة علي الطفل ص۲۱۵ نمبر۱۵۰۸ \ مصنف عبدالرزاق.باب الصلوة علي الصغير والسقط وميراثه ص۵۳۰ نمبر۶۵۹۵ \ سنن للبيهقي. باب السقط يغسل ويكفن ويصلي عليه ان استهل او عرفت له الحياة ج۴ ص۱۳ نمبر۶۷۸۳) ددې اثر څخه دلوړي مسئلي تائيد معلوميږي.

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل سپور سړئ دي دجنازي وشاته سي او پر پښو سړئ چې چيرې خوښه سي هلته دي ځي، او پر کشني به لمونځ ادآء کيږي (ب) رسول الله وفرمائل چې کشنئ وژارې نو پر هغه به لمونځ کول کيږي او هغه به وارث جوړيږي.

(باب الشهيد)

[۴۳۹](۱) اَلشَّهِيدُ مَن قَتَلَهُ المشرِكُونَ اَو وُجِدَ فِي المعرَكَةِ وَبِهِ اَثَرُ الجَرَاحَةِ اَو قَتَلَهُ المسلِمُونَ ظُلمًا وَلَم يَجِب بِقَتلِهِ دِيَةٌ [۴۴۰](۲) فَيُكفَنُ وَيُصَلّيٰ عَلَيهِ وَلاَ يُغسَلُ

ضروري پام لرنه وهغه شهيد ته به غسل نه وركول كيږي چې د اُحد دشهيدانو په شان(ركم)وي. يعني كافرانو ظلمًا قتل كړئ وي او د زخم لګېدلو وروسته د دنيا څخه څه فائده نه وي اخستې او مړ وي.او دده دقتل په وجه ديت،قصاص يا يوه بله معاوضه نه وي اخستل سوې چې مكمل په مظلوميت كي مړ وي.دارنګه شهيد كامل شهيد دئ. دهغه دا احكام دادي چې دا مخته را روان دئ.

[۴۳۹](۱) كامل شهيد هغه دئ (۱) چې مشركانو وژلئ وي (۲) يا دجنګ په ميدان كي موندلئ سوئ وي او پر ده باندي د زخم اثر وي (۳) يا مسلمان ظلمًا قتل كړئ وي او دده دقتل په وجه يو قسم ديت هم نه وي لازم سوئ.

تشريح دلته دشهيد دري تعريفونه دي يا دري قسمونه دي چې پوره او مكمل شهيدان ګڼل كيږي. اول دادئ چې مشرك قتل كړئ وي. دوم صورت دادئ چې مشرك خو په مكمله توګه نه وي قتل كړئ لېكن دجنګ په ميدان كي زخمي موندل سوئ وي بيا د دنيا څخه فائدې اخستلو بغيره وفات سوئ وي . دجنګ په ميدان كي موندل كېدل ددې دليل دئ چې دئ كافرانو قتل كړئ دئ. دريم صورت دادئ چې قتل كړئ خو مسلمان وي لېكن په داسي انداز كي قتل كړئ وي چې دهغه په وجه ديت او مال نه لازميږي بلكه قصاص لازميږي. كه ديت او مال لازم سي نو د ديت اخستلو په وجه په ظلم كي كمي واقع كيږي نو ځكه اوس دئ مكمل مظلوم نه سو او نه مكمل شهيد سو نو ځكه ده ته به غسل وركول كيږي. لېكن كه ديت نه وي لازم سوئ نو د مال نه اخستلو په وجه دئ مكمل مظلوم سو. نو ځكه دئ اوس دشهدائ اُحد په درجه كي سو نو ځكه ده ته به غسل وركول كيږي.

[۴۴۰](۲) بس كفن به وكول كيږي او لمونځ به كول كيږي او غسل به نه وركول كيږي.

وجه كفن به وركول كيږي او غسل به نه وركول كيږي ددې دليل دا حديث دئ عَن جَابِرٍ قَالَ النَّبِيُّ اِدفِنُوهُم فِي دِمَآئِهِم يَعنِي يَومَ اُحَدٍ وَلَم يُغسِلهُم (الف) (بخاري شريف،باب من لم ير غسل الشهيد ص۱۷۹ نمبر۱۳۴۶\ ابوداؤد شريف،باب في الشهيد يغسل ج۲ ص۹۱ نمبر۳۱۳۵) ددې حديث څخه معلوم سو چې وشهيد ته به غسل نه وركوي. دهغه په كپړو كي به كفن وركوي او پټوي به او كوم شئ(كپړه سامان وغيره قطب)چې زايات وي هغه به ځني ليري كوي. او چې كم(لږ)سي هغه به ورزياتوي. ددې دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ اَمَرَ رَسُولُ اللهِ بِقَتلىٰ اُحَدٍ اَن يُّنزَعَ عَنهُمُ الحَدِيدَ وَالجُلُودَ وَاَن يُّدفَنُوا بِدِمَآئِهِم وَثِيَابِهِم (ب) (ابوداؤدشريف،باب في الشهيد يغسل ج۲ ص۹۱ نمبر۳۱۳۴) ددې حديث څخه معلوم سو چې دكفن سره ور كومي كپړې يا شيان نه وي هغه هغه دي ځني ليري كړي او كومي كپړې چې دكفن سره مناسب وي هغه دي ورسره

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل شهيدان د دوئي په كپړو كي دفن كئ يعني د اُحَد دجنګ په ورځ او و هغو ته غسل نه كئ ور (ب) حضور د اُحَد دمقتولين په باب حكم وركړئ چې د دوئي څخه د اوسپني سامان او د چمړې سامان وباسئ(ليري كئ)،او د دوئي په وينو او د دوئي په كپړو كي دفن كئ.

[۴۴۱](۳) وَ اِذَا اُستُشهِدَ الجُنُبُ غُسِلَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَكَذَالِكَ الصَّبِيُّ وَقَالَ

كښيږدي. او په كفن كي چې كومه كمي پاته سي هغه دي پوره كړي.

پر شهيد به لمونځ كيږي ددې دليل (۱) دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ اَتيٰ بِهِم رَسُولُ اللهِ يَومَ اُحِدٍ فَجَعَلَ يُصَلِّي عَلىٰ عَشرَةٍ عَشرَةٍ وَحَمزَةُ هُوَ كَمَا هُوَ يَرفَعُونَ وَهُوَ كَمَاهُوَ مَوضُوعٌ (الف) (ابن ماجه شريف.باب ماجآء في الصلوة علي الشهدآء و دفنهم ص۲۱۶،نمبر۱۵۱۳ \ سنن للبيهقي.باب من زعم ان النبي علي شهدآء احد ج۴ ص۱۸ نمبر۶۸۰۴) ددې حديث څخه معلوم سو چې د احد پر شهيدانو باندي حضور لمونځ كړئ دئ (۲) لمونځ د درجاتو دترقئ لپاره او د استغفار لپاره دئ. او دا دكشنيانو او دنبي لپاره هم جائز دئ نو ځكه د شهيدانو لپاره هم بايد ادآء سي (۳) په خپله د بخاري په دې حديث كي راغلي دي عَن عَقبَةَ بنِ عَامِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ خَرَجَ يَومًا فَصَلّيٰ عَلىٰ اَهلِ اُحَدٍ صَلَوَاتُهُ عَلَي المَيِّتِ ثُمَّ اِنصَرَفَ اِلَي المِنبَرِ (ب) (بخاري شريف.باب الصلوة علي الشهيد ص۱۷۹ نمبر۱۳۴۴) ددې حديث څخه معلوم سو چې پر شهيد باندي لمونځ كېدلائي سي. په مصنف عبدالرزاق،باب الصلوة علي الشهيد وغسله ج۳ ص۵۴۲ نمبر۶۶۳۶\۶۶۳۷ كي پر شهيد باندي د لمونځ كولو په اړه تفصيل موجود دئ. فَليُرَاجِع !

فائده دامام شافعي په نېز به پرشهيد باندي دجنازې لمونځ نه كوي. دده دليل دا حديث دئ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ ... وَاَمَرَ بِدَفنِهِم فِي دِمَآئِهِم وَلَم يُغسَل وَلَم يُصَلِّ عَلَيهِم (ج) (بخاري شريف.باب الصلوة علي الشهيد ص۱۷۹ نمبر۱۳۴۳\ ابوداؤدشريف.باب في الشهيد يغسل ج۲ ص۹۱ نمبر۳۱۳۵) ددې حديث څخه معلوم سو چې پر شهيد به دجنازې لمونځ نه كوي.

پـام لـرنـه زمونږ عمل پر هغه مخکې احادیثو باندې دئ.
[۴۴۱](۳) جنـب سړئ کـه شـهید سـي وهغـه تـه بـه غسـل ورکـول کیـږي د امـام ابوحنیفـه پـه نیـز. دغـه رنګـه وکشني(بچي)ته هم او صاحبین وفرمائل و دواړو ته به غسل نه ورکول کیږي.
وجـه د امام ابوحنیفه په نیز ځکه غسل ورکول کیږي چې که خه هم دئ شهید دئ لېکن دجنابـت غسـل واجـب دئ نـو ځکـه دجنابـت غسـل بـه ورکـول کیـږي . ځکـه چـي وحضـرت حنظلـه تـه فرشتو(ملائکو)غسـل ورکـړئ .دده بنځي(مینې)وویل چې دئ جنب و. په حدیث کې راغلـي دي حَدَّثَنِي يَحْيَ بِنِ عِبَادِ بِنِ عَبدِاللهِ ... حَنظَلَةَ بنِ اَبِي عَامِرٍ قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ اِنَّ صَاحِبَكُم تَغسِلَهُ الملاَئِكَةُ فَاسئَلُوا صَاحِبَتَهُ فَقَالَت خَرَجَ وَهُوَ جُنُبٌ لَمَّا سَمِعَ الهَائِعَةَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ لِذَالِكَ غَسَلَتهُ الملاَئِكَةُ (د) (سنن للبيهقي،باب الجنب يستشهدفي المعركة ج۴ ص۲۲ نمبر۶۸۱۴،كتاب الجنائز) ددې حـدیث ځخـه معلـوم سـو چـي حضـرت حنظله جنب و او ملائکو وده ته غسل ورکئ نوځکه داحنافو په نیز

حاشیه : (الف) ابن عباس وفرمائل د اُحَد شهیدان یې حضور ته راوړل نو پر لسو لسو کسانو باندې لمونځ کاوئ او حضرت حمزه پـروت پاته و. او نور شهیدان یه پورته کول او حمزه پروت پاته و (ب) حضور یوه ورځ را وواتئ او د اُحَد پر شهیدانو باندې لمونځ وکـئ لکـه څه رنګه چې پر مړي باندې لمونځ کیږي بیا حضـور منبـر تـه راغلـئ (ج) د جـابر بـن عبـدالله څخـه روایـت دئ چـي ... حضـور د اُحَـد شهیدان د دوئي په وینو کي د دفن کولو حکم وکړئ او نـه یې غسل ورکـئ او نـه یـي پـر دوئـي بانـدي لمـونځ وکـئ (د) حضـور وفرمائـل ستاسو ملګري حضرت حنظله ته فرشتي غسل ورکوي . نو تاسو دده دبنځي څخه پوښتنه وکئ. نو دده بنځي وویـل دئ وواتـئ پـه داسـي حال کي چې دئ جنب و چې کله اعلان واؤرېدئ . حضور وفرمائل په دغه وجه فرشتي و ده ته غسل ورکوي.
اَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَااللهُ لاَ يُغسَلاَنِ [۴۴۲](۴) وَلاَ يُغسَلُ عَنِ الشَّهِيدِ دَمُهُ وَلاَ يُنزَعُ عَنهُ ثِيَابُهُ وَيُنزَعُ عَنهُ الفَروَ وَالحَشوَ وَالخُفَّ وَالسِّلاَحَ [۴۴۳](۵) وَمَن اِرتَثَّ غُسِلَ

به وجنب شهید ته غسل ورکول کیږي . دصاحبینو په نیز بـه غسـل نـه ورکـول کیـږي. دده دلیـل دغـه لـوړ تولـه حدیثونه دي په کومو کي چې دئ چې وشهیدانو ته دي غسل نه ورکوي.کشنیان خو دګناهو څخـه معصـوم دي لکـه څه رنګه چې شهیدان معصوم دي .نو ځکه وشهیدانو ته به غسل نه ورکوي. پر دغه یې قیاسوي وکشـنیانو تـه هـم صاحبین دغسل نه ورکولو قائل دي.
[۴۴۲](۴) دشهید څخه به دده وینه نه پرېمنځي. او دده څخه به دده کپړې نه باسي . او پوستین او زائـدي کپـړې او موزې او سلاح به ځني باسي.
تـشریـح د شهید سره چې کومې کپړې دي دئ به دهغه سره دفن کوي.او کوم شیان چې دکفن سره ناوړه دي لکه دچمړې پوستین،صدرئ او کوټ،دچمړې موزې او اسلحه دا به ځني جلا کوي. او که په کفـن کـي څـه کمـي پاتـه سي نو دکفن دري کپړې دي پوره کي.
وجـه په حدیث کي راغلـي دي عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ اَمَرَ رَسُولُ اللهِ بِقَتلِيْ اُحَدٍ اَن يُنزَعَ عَنهُمُ الحَدِيدَ وَالجُلُودَ وَاَن يُّدفِنُوا بِدِمَآئِهِم وَثِيَابِهِم (الف) (ابوداؤدشریف.باب في الشهیدیغسل ج۲ص۹۱ نمبر۳۱۳۴) ددې حدیث څخه معلوم سوچې زائد شیان به ځنـي باسـي . او دشهید دکپړو سره به پټوي.
لـغت اَلفَروَ : دچمړې لباس، اَلحَشوَ : دارنګه لباس چې د پمبه و دك وي، کوټ یـا دارنګـه بـل شـئ، اَلسِّلاحُ : اسـلحه ،سلاح، هتیار،
[۴۴۳](۵) کوم چا چې فائده واخستله هغه ته به غسل ورکول کیږي او د ارتثاث صورتونه دادي چې د زخم دلګېدو وروسته خوراك وکي.چیناك وکي.یا دوآء وکي.یا ژوندئ پاته سي تر دې چې پر ده د یوه لمونځ وخت تیر سي پـه داسي حال کي چې دئ په هوښ کي وي.یا دجنګ دمیدان څخه ژوندئ منتقل سي.
تـشریـح اصل قاعده داده چې د زخم دلګېدو وروسته څه وخت دئ په هوښ کي وي او ژوندئ وي.او ددنیا څخه څه فائده واخستله نو دا سړئ کامل شهید نه سو نو ځکه ده ته به غسل ورکول کیږي که څـه هـم دآخـرت پـه لحـاظ دئ شهیدوي. اوس د هوښ په حالت کي و پر ده باندې د یوه لمونځ وخت تیر سو نو ګواکه هغه لمونځ دده پر ذمـه قرض سو نو ځکه دا هم ددنیا څخه فائده اخستل سو نو ده ته به غسـل ورکـول کیـږي. د ارتثـاث والا تـه بـه غسـل ورکول کیږي دلیل یې دا اثـر دئ عَن عُمَرَ بنِ مَيمُونٍ فِي قِصَّةِ قَتلِ عُمَرَ حِينَ طَعَنَهُ قَالَ فَطَارَ العَلَجُ بِالسِّكِّينِ ذَاتَ طَرَفَينِ لاَ يَمُرُّ عَلَيْ

اَحَدٍ يَمِينًا وَلاَ شِمَالاً اِلاَّ طَعَنَهُ وَفِي ذَالِكَ دَلاَلَةٌ عَلىٰ اَنَّهُ قُتِلَ بِمُحَدَّدٍ ثُمَّ غُسِلَ وَكُفِنَ وَصَلّيٰ عَلَيهِ (الف) (سنن للبيهقي،باب الرتث الخ ج۴ ص۲۵ نمبر ۶۸۲۰)

حاشيه : (الف) حضور د اُحد شهيدانو په اړه حكم وكئ چې د دوئي څخه دي اسلحه او دچمړي لباس خلاص كړل سي. او دا چې دوئي دي د دوئي دويني او كپړو سره پټ كړي (ب) د عمر بن ميمون څخه د حضرت عمر دقتل په اړه نقل سوي دي چې كوم وخت يې دئ په نېزه وواهئ، چې مزغن(پند)كافر داسي چاړه چې دواړو خواو كار كاوئ واخسته منډه كړل پر بنئ او كنډه خوا پر هر چا چې تېرېدئ هغه يې په نېزه واهئ. په دي كي ودي ته اشاره ده چې حضرت عمر يې په تېز دهاره شي سره قتل كړئ دئ. بيا يې غسل وركئ. كفن يې وركئ. او پر ده باندي لمونځ وسو.

وَالاِرتِثَاثُ اَن يَّاكُلَ اَو يَشرِبَ اَو يُدَاوِيَ اَو يَبقيٰ حَيًّا حَيّ يَمضِي عَلَيهِ وَقتُ صَلٰوةٍ وَهُوَ يَعقِلُ اَو يَنقُلَ مِنَ المعرَكَةِ حَيًّا [۴۴۴](۶) وَمَن قُتِلَ فِي حَدٍّ اَو قِصَاصٍ غُسِلَ وَصَلّيٰ عَلَيهِ [۴۴۵](۷) وَمَن قُتِلَ مِنَ البُغَاةِ اَو قُطَّاعُ الطَّرِيقِ لَم يُصَلِّ عَلَيهِ .

په دي اثر كي حضرت عمر د زخم لګېدلو وروسته خوراك چېښاك كړئ دئ.نو ځكه وده ته غسل وركړئ. ددي ځخه دا معلوم سو چې كوم چا د زخم لګېدلو وروسته د دنيا ځخه څه فائده اخستې وي وهغه ته به غسل وركول كيږي.

[۴۴۴](۶) كوم چې په قصاص كي قتل سوئ وي وهغه ته به غسل وركول كيږي او پر هغه به لمونځ كيږي.

وجه (۱)غسل خو به په دي وجه وركول كيږي چې دئ شهيد نه دئ بلكه دعام مړو په شان دئ هم يو مړئ دئ. او لمونځ به ځكه اداء كيږي چې دئ مؤمن دئ (۲) حضرت ماعِزّ اسلمي چې په حد كي قتل سوئ و پر هغه باندي دجنازي لمونځ كړئ و (ابوداؤد شريف،باب الصلوة علي من قتله الحدودج۲ ص۹۸ نمبر ۳۱۸۶) (۳) د جُهينه يوه ښځه دزنا په حد كي قتل سوه نو حضور پر هغه باندي دجنازي لمونځ وكئ عَن عَبدِاللهِ بنِ بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ فِي قِصَّةِ الغَامِدِيَّةِ اَلَّتِي رُجِمَت فِي الزِّنَا قَالَ النَّبِيُّ فَوَالَّذِي نَفسِي بِيَدِهِ لَقَد تَابَت تَوبَةً لَوتَابَهَا صَاحِبُ مَكسٍ لَغُفِرَ لَهُ ثُمَّ اَمَرَ لَهَا فَصَلّيٰ عَلَيهَا وَدُفِنَت (الف) (سنن للبيهقي،باب الصلوة علي من قتله الحدود ج۴ ص۲۵ نمبر ۶۸۲۰) ددي حديث ځخه معلوم سو چې په حد كي قتل سي نو پر هغه به لمونځ كيږي.

[۴۴۵](۷) كه دباغيانو ځخه يو قتل سي يا د ډاكوګانو ځخه يوقتل سي نوپرهغو به لمونځ نه كيږي.

وجه چې وخلګو ته تنبيه وسي چې د دارنګه كار كولو ځخه دجنازي دلمانځه ځخه هم محروم كيږي . په حديث كي راغلي دي عَن جَابِرِ بنِ سَمُرَةَ قَالَ اُتِيَ النَّبِيَّ بِرَجُلٍ قَتَلَ نَفسَهُ بِمَشَاقِصَ فَلَم يُصَلِّ عَلَيهِ (ب) (سنن للبيهقي، باب الصلوة علي من قتل نفسه غير مستحلٍّ لقتلها ج۴ ص۲۹ نمبر ۶۸۳۳) په دي حديث كي حضور پر هغه سړي باندي لمونځ نه دئ كړئ كوم چې خپل ځان په خپله قتل كړئ و نو دغه رنګه پر ډاكوګانو او باغيانو باندي به هم لمونځ نه كيږي.

پاتې لرنه لپكن مړئ خو مؤمن دئ نو ځكه نور خلګ دې جنازه اداء كي .

حاشيه : (الف) دغامديه په سلسله كي روايت دئ چې د زنا په سلسله كي قتل كړل سوه . حضور وفرمائل قسم په هغه ذات چې په قبضه كي زما روح دئ داسي توبه يې وكړل چې كه چونګئ اخستونكئ دا رنګه توبه وكاړي نو الله به هغه معاف كي . بيا يې حكم وكئ او پر هغه باندي لمونځ وكئ او پټه كړه (ب) دحضور مخ ته داسي سړئ راوړئ چې هغه په چاړه سره خپل ځان قتل كړئ ونوحضور پر هغه باندي لمونځ نه وكئ .

(بَابُ الصَّلوةِ فِي الكَعبَةِ)

[۴۴۶](۱) اَلصَّلوةُ فِي الكَعبَةِ جَائِزَةٌ فَرضُهَا وَ نَفلُهَا [۴۴۷](۲) فَاِن صَلَّيٰ الاِمَامُ فِيهَا بِجَمَاعَةٍ فَجَعَلَ بَعضُهُم ظَهرَهُ اِلَيٰ ظَهرِالاِمَامِ جَازَ [۴۴۸](۳) وَمَن جَعَلَ مِنهُم وَجهَهُ اِلَيٰ وَجهِ الاِمَامِ جَازَ وَيُكرَهُ [۴۴۹](۴) وَمَن جَعَلَ مِنهُم ظَهرَهُ اِلَيٰ وَجهِ الاِمَامِ لَم تَجزِ صَلوتُهُ

(بَابُ الصَّلوةِ فِي الكَعبَةِ)

ضروري پام لرنه په بَيتُ الله کي دننه لمونځ کول جائز دئ . دهغه وجه داده چې دبَيتُ الله څه نه څه حصه به مخامخ وي چې قبله سي . او دقبلې جوړېدو لپاره دغونه حصه کفايت کوي . نور دلائل مخته راروان دي .

[۴۴۶](۱) په کعبه کي لمونځ کول جائز دئ. فرض هم او نفل هم.

وجه په حديث کي راغلي دي عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ البَيتَ وَاُسَامَةُ بنُ زَيدٍ وَعُثمَانُ بنُ طَلحَةَ وَبِلاَلٌ فَاَطَالَ ثُمَّ خَرَجَ وَكُنتُ اَوَّلُ النَّاسِ دَخَلَ عَلَيٰ اِثرِهِ فَسَاَلتُ بِلاَلاً اَينَ صَلَّيٰ فَقَالَ بَينَ العُمُودَينِ المُقَدَّمَينِ (الف) (بخاري شريف.باب الصلوة بين السواري في غير جماعة،كتاب الصلوة ص۷۲ نمبر۵۰۴) ددي حديث څخه معلوم سو چې په بيت الله کي دننه لمونځ کول جائز دئ.

[۴۴۷](۲) که امام په بيت الله کي په جماعت سره لمونځ وکړئ او بعضو خلګو خپلې شاوي د امام و شا ته ور وګرزولي نو لمونځ صحيح سو .

وجه چې مقتدي خپله شا د امام و شا ته وګرزول نو مقتدي د امام څخه مخکي نه سو بلکه د امام و شا ته سو، او د مقتدي و مخته هم قبله موجود ده نو ځکه لمونځ صحيح سو .

[۴۴۸](۳) او کوم مقتدي چې خپل مخ د امام ومخ ته وګرزاوئ نو هم لمونځ صحيح دئ لېکن مکروه دئ .

وجه په دې صورت کي هم د امام و مخ ته د مقتدي شا نه سوه نو ځکه لمونځ صحيح سو .لېکن د امام ومخ ته مخ ګرزول ښه کار نه ده نو ځکه مکروه دئ .

[۴۴۹](۴) د مقتديانو څخه کوم يوه چې خپله شا د امام و مخ ته وګرزول د هغه لمونځ جواز نه لري .

وجه د امام و مخ ته دمقتدي شا سوه نو مقتدي بالکل د امام څخه مخ ته سو او مخ ته قاعده تېر سوي ده چې مقتدي د امام څخه مخ ته سي نو د مقتدي لمونځ نه صحيح کيږي . دا مسئله پر قاعده باندي مستنبطه ده .

پام لرنه دا لوړ څلور صورتونه په بيت الله کي د دننه لمونځ کولو دي .

حاشيه : (الف) حضور په بيت الله کي داخل سو او اسامه بن زيد او عثمان بن طلحه او بلال داخل سو بيا را وواتئ. او زه تر ټولو مخکي د دوئي وروسته داخل سوم او دحضرت بلال څخه مو پوښتنه وکړه چې چيرې لمونځ وکړئ نو وفرمائل چې دا مخکي دواړو ستونو په مابين کي .


[۴۵۰](۵) وَ اِذَا صَلَّي الاِمَامُ فِي المسجِد الحَرَامِ تُحَلِّقُ النَّاسُ حَولَ الكَعبَةِ وَصَلُّوا بِصَلٰوةِ الاِمَامِ فَمَن كَانَ مِنهُم اَقرَبُ اِلَيٰ الكَعبَةِ مِنَ الاِمَامِ جَازَت صَلٰوتُهُ اِذَا لَم يَكُن فِي جَانِبِ الاِمَامِ [۴۵۱](۶) وَمَن صَلّيٰ عَلَيٰ ظَهرِ الكَعبَةِ جَازَت صَلٰوتُهُ .

---

[۴۵۰](۵) که په مسجد حرام کي لمونځ ورکي او ټول خلګ دکعبې شاوخوا حلقه جوړه کي او دامام سره لمونځ وکي نو څوک چې د دوئي څخه وکعبې ته زيات نزدي وي تر امام هم نو دهغه لمونځ صحيح دئ په دې شرط چې د امام په خوا(سائډ) کي نه وي.

تشريح دامام په خوا(سائډ)کي چې کوم خلګ وي اوترامام هم زيات وبيت الله ته نزدي سي نودامام په خواکي به ترامام هم مخ ته سي نوځکه دهغه سړي لمونځ نه صحيح کيږي.اوکوم خلګ چې دامام په خوا(سائډ)کي نه دي او په بله خوا (سائډ) کي دي هغه خلګ که وکعبه ته ډېر نزدي سي نو هغه خو د امام په خوا(سائډ)کي نه دي نو ځکه د امام څخه مخ ته نه سو نو ځکه د هغو لمونځ صحيح دئ.

اصول مقتدي د امام څخه مخ ته سي نو دده لمونځ نه صحيح کيږي که نه و نو صحيح کيږي. نقشه يه دارنګه ده.
(د بيت الله شا وخوا دلمونځ کولو نقشه)



ددي لمونځ نه کيږي ،دنوروټولوده صحيح دئ

مقتدي

[۴۵۱](۶) کوم چا چي د بيت الله پر چت لمونځ وکئ دهغه لمونځ جائز دئ.

وجه د بيت الله پر چت باندي لمونځ کول مکروه دئ ځکه چي دا رنګه کول ددي دعظمت او د شان خلاف دئ. لېکن که وکئ نو لمونځ صحيح کيږي. ځکه چي دبيت الله د محاذاة فضآء به دده ومخ ته وي او هغه به قبله سي. دقبلي جوړېدلو لپاره دبيت الله د دېوال مخ ته کېدل ضروري نه دئ.بلکه ددي فضآء بايد دسړي مخ ته وي. لکه يو څوك چي په هوائي جهاز کي لمونځ وکي نو دجهاز دبلندئ په وجه دبيت الله دېوال دده مخ ته سي کېدلائي. صرف دبيت الله دمحاذاة فضآء به دده مخ ته وي او لمونځ به صحيح سي. پر بيت الله باندي لوړ لمونځ کول مکروه دئ ددي دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عِمرَانَ اَنَّ النَّبِيَّ نَهيٰ اَن يُصَلّيٰ فِي سَبعَةِ مَوَاطِنَ فِي المزبَلَةِ وَالمجزَرَةِ وَالمقبَرَةِ وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ وَفِي الحَمَّامِ وَمَعَاطِنِ الاِبِلِ وَفَوقَ ظَهرِ بَيتِ اللهِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآء في كراهية مايصلي اليه وفيه،كتاب الصلوة ص۸۱ نمبر۳۴۶ \ابن ماجه شريف.باب المواضع التي تكره فيها الصلوة ص۱۰۶ نمبر۷۴۶) ددي حديث څخه معلوم سو چي پر بيت الله باندي لوړلمونځ کول مکروه دئ، خو بيا هم که لمونځ وکئ نو لمونځ يه صحيح کيږي.

فائده دامام شافعي په نېز يه لمونځ بلکليه نه صحيح کيږي. دده دليل هغه لوړ حديث دئ چي پر بيت الله باندي لمونځ کول مکروه دئ. نو ګواکه ګرسره صحيح کيږي نه.

~~حاشيه:-(الف) حضور منع وکړه ددي خبري څخه چي پر لوم ځائ لمونځ وکي (۱) دکچري غورزولو پرځائ (۲) دوښ دحلالېدو پرځائ (۳) په هيدره کي (۴) په لاره کي (۵) په غسل خانه کي (۶) د وښ دترلو په ځائ کي (۷) دبيت الله پر چت باندي .~~

(كِتَابُ الزَّكوٰةِ)

[۴۵۲](۱) اَلزَّكوٰةُ وَاجِبَةٌ عَلَي الحُرِّ المسلِمِ البَالِغِ العَاقِلِ اِذَا مَلِكَ نِصَابًاملِكًا تَامًّا وَ

(كِتَابُ الزَّكوٰةِ)

ضروري پام لرنه زكوٰة يې دلمانځه ځكه وروسته كړئ چي تقريباًيه اتياآيتوكي دلمانځه وروسته د زكوٰة ذكر راغلئ دئ.نوځكه دلمانځه دبحثودختم كېدو وروسته زكوٰة راوړئ.دزكوٰة معنيٰ ده پاكي دزكوٰة وركولوڅخه مال پاكيږي نوځكه ودې ته زكوٰة وائي.يادزكوٰة معنيٰ ده زياتوب اودزكوٰة وركولوڅخه مال زياتيږي نوځكه دې ته زكوٰة وائي.ددې ثبوت په ډيرو آيتوكي دئ.مثلاً يُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ وَيُؤتُونَ الزَّكٰوةَ وَيُطِيعُونَ اللهَ وَرَسُولَهُ (الف) (آيت ۷۱ سورةتوبه) ددغه آيت څخه دزكوٰة وركولو فضيت ثابتيږي.

[۴۵۲](۱) زكوٰة واجب دئ پر هر هغه آزاد باندي چي مسلمان وي،بالغ وي،عاقل وي په دې شرط چي دنصاب پوره مالك وي،او پر هغه باندي پوره كال تېرسوئ وي،په دغه وجه پر كشني،پرلېونې اوپرمُكَاتَب باندي زكوٰة نسته .

تشريح زكوٰة مالي عبادت دئ.په دغه وجه پر كافر باندي زكوٰة نه دئ فرض دده څخه چي هر څه اخستل كيږي هغه به تېكس ځني اخستل كيږي.نو ځكه دزكوٰة دفرضيت لپاره څه شرطونه دي (۱) آزاد به وي، نوځكه پر مرئي او مُكَاتب باندي زكوٰة نه دئ فرض. ځكه چي دا مال دده دمولېٰ دئ. دمرئي نه دئ. لكه په حديث كي چي راغلي دي عَن جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ لَيسَ فِي مَالِ المكَاتَبِ زَكوٰةٌ حَتّٰي يُعتَقُ (ب) (دارقطني ۱۰،باب ليس في مال المكاتب زكوٰة حتي يعتق ج۲ ص۹۳ نمبر۱۹۴۱ \ سنن للبيهقي،باب من قال ليس في مال العبدزكوٰة ج۴ ص۱۸۲ نمبر۷۳۴۸) ددې حديث څخه معلوم سو چي دمكاتب په مال كي زكوٰة نسته. ځكه چي دئ آزاد نه دئ. دومه خبره داده چي دمال په مكمله توكه سره مالك

جوړېدل هم ضروري دئ او دغلام(مرئي)مال نسته ځکه چي دده په لاس کي چي هر څه دي هغه دده دمولیٰ مال دئ. دوم شرط مسلماني ده ددي وجه مخکي تېره سوي ده. دريم شرط بلوغ دئ نو دکشني په مال کي زکوٰة نسته دليل يه دا حديث دئ عَن عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلٰثَةٍ عَنِ النَّائِمِ حَتّٰي يَستَيقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتّٰي يَحتَلِمَ وَعَنِ المجنُونِ حَتّٰي يَعقِلَ (ج) (ابوداؤدشريف،باب في المجنون يسرق اويصيب حداً ج٢ ص٢٥٦ كتاب الحدود نمبر٤٤٠٣ \ ابن ماجه شريف،باب طلاق المعتوه والصغير والنائم،كتاب الطلاق ص١٤٨) ددي حديث ځخه معلوم سو چي پر کشني باندي هيڅ ذمه داري نسته نو زکوٰة به هم دده په مال کي نه وي واجبيږي. ددي حديث ځخه دا هم معلوم سو چي مجنون(لېونئ)هغه سړئ دئ چي عقل يه بالکل ختم سوئ وي پر هغه باندي هم زکوٰة نه دئ واجب (٢) لکه په اثر کي چي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ لَيسَ فِي مَالِ اليَتِيمِ زَكٰوةٌ حَتّٰي يَحتَلِمَ (د) (مصنف ابن ابي شيبة ٤٣،من قال ليس في مال اليتيم زكوٰةٌ حتي يبلغ ج٢ ص٣٧٩ نمبر١٠١٢٦) ددي اثر ځخه هم معلوم سو چي ديتيم په مال کي زکوٰة نسته.كذا قال ابنُ مسعودٍ في مصنف ابن ابي شيبة ص١٠١٢٥.

فـائـده امام شافعي فرمائي چي دکشني په مال کي زکوٰة سته.

وجه (١) ځکه چي دا وُجوبِ مَالِيَه دي او په مال کي لکه څه رنګه چي تېکس واجبيږي دغه رنګه به

حاشيه : (الف) لمونځ قائم کئ اوزکوٰة ورکئ او دالله او دهغه درسول اطاعت وکئ (ب) حضور وفرمائل دمُکاتب په مال کي زکوٰة نسته تردي چي دئ آزاد سي (ج) حضور وفرمائل د درو کسانوځخه قلم پورته سوئ دئ يعني يو شئ نه دئ پر واجب پر بيده باندي ترهغو چي دئ راوښ سي،او دکشني ځخه ترهغوچي دئ بالغ سي او دلېوني ځخه تر دي چي عقلمند سي (د) د ابراهيم قول دئ : وفرمائل ديتيم په مال کي زکوٰة نسته ترهغو چي بالغ سي .

حَالَ عَلَيهِ الحَولُ وَلَيسَ عَلٰي صَبِيٍّ وَلاَ مَجنُونٍ وَلاَ مُكَاتَبٍ زَكٰوةٌ .

زکوٰة هم واجب وي (٢) په حديث کي راغلي دي عَن عَمرِوبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ فَقَالَ اَلاَمَن وَلِيَ يَتِيمًالَهُ مَالٌ فَلْيَتَّجِرفِيهِ وَلاَيَترُكهُ حَتّٰي يَاكُلَهُ الصَّدَقَةُ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآءفي زكوٰة مال اليتيم ص١٣٩ نمبر٦٤١\دارقطني نمبر١٩٥١)ددي حديث ځخه معلوم سوچي ديتيم په مال کي زکوٰة سته او يتيم وهغه ته ويل کيږي چي نابالغ وي نوځکه ددي حديث ځخه ثابت سوچي ديتيم په مال کي زکوٰة سته (٣) په اثرکي راغلي دي اَنَّ عُمَرَبنِ خَطَّابٍ قَالَ اِبتَغُوابِاَموَالِ اليَتٰمي لاَتَاكُلُهَاالصَّدَقَةُ (ب) (دارقطني ١١،باب وجوب الزكوة في مال الصبي واليتيم ج٢ص٩٥ نمبر١٩٥٤\سنن للبيهقي،نمبر٧٣٤٠)ددي اثرځخه هم معلوم سو چي ديتيم په مال کي زکوٰة سته. دزکوٰة دوجوب لپاره ځلورم شرط عقل دئ. ددي په اړه حديث تېرسوئ دئ. پنځم شرط دادئ چي دمُکَمّل نصاب مالك به وي. ځکه چي کـه دلږ مال مالك وي او په هغه کي زکوٰة ورکي نو نن به په خپله زکوٰة ورکوي او سبا به دخلګو ځخه زکوٰة غواړي. نو په دغه وجه دا شرط ولګاوئ چي دنصاب مالك به وي. او نصاب دادئ چي تولـه کال دمال ځخه خوراك چيښاك وکي دوه سوه درهم پاته سي، يا شل مثقال سره زر پاته سي نو په دي کي ځلوېښتمه حصه زکوٰة فرض دئ يعني په ځلوېښت درهم کي يو درهم لازم دئ. او د وُښانو،غُويانو،پسو او دکښتو زکوٰة جلاجلا دئ چي تفصيل يه مختـه راروان دئ. دليل يه په دي حديث کي دئ سَمِعتُ اَبَا سَعِيدِالخُدرِيِّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَيسَ فِيمَا دُونَ خَمسِ ذَوَدٍ صَدَقَةٌ وَليسَ فِيمَا دُونَ خَمسِ اَوَاقٍ صَدَقَةٌ وَلَيسَ فِيمَا دُونَ خَمسَةِ اَوسُقٍ صَدَقَةٌ (ج) (ابوداؤدشريف.باب ماتجب فيه الزكوة ص٢٢٤ نمبر١٥٥٨ \بخاري شريف.باب زكوة الورق ص١٩٤ كتاب الزكوة نمبر١٤٤٧) يوه اوقيه ځلوېښت درهم وي نو پنځـه اوقيـي دوه سوه درهم سو. ددي حديث ځخه معلوم سو چي د دوه سوه ځخه په کم (لږ) درهم کي زکوٰة نه واجبيږي. دغـه رنګـه د پنځـه وُښانو ځخه په کم (لږ) کي زکوٰة نه دئ واجب. او ددغه حديث ځخه ثابتيږي چي دپنځه اَوسُق ځخه کم (لږ) غلـه پيدا سي نو په هغه کي هم زکوٰة يعني عشر نسته. خو ديو بل حديث په وجه بيا احناف په دي باب کي اختلاف لري چي تفصيل به مخته راسي.

پـام لـرنـه دملكِ تام قيد يه ځکه ولګاوئ چي مُکاتب د شي مالك خو وي لېکن دده مِلکيّت پر هغه باندي تـام نـه وي نو ځکه پر هغه باندي زکوٰة نه دئ واجب. دزکوٰة دوجوب لپاره شپږم شرط دادئ چي پر دغه مال به کال تېر سوئ وي. ددي دليل دا حديثون دئ (١) عَن عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ بِبَعضِ اَوَلِ الحَدِيثِ قَالَ فَاِذَا كَانَت لَكَ مِئَتَا دِرهَمٍ وَحَالَ عَلَيهِ الحَولُ فَفِيهَا خَمسَةَ دَرَاهِمَ وَلَيسَ عَلَيكَ شَيئٌ يَعنِي فِي الذَّهَبِ حَتّٰي يَكُونَ لَكَ عِشرُونَ دِينَاراً فَاِذَا كَانَت لَكَ عِشرُونَ دِينَاراً وَحَالَ عَلَيهِ الحَولُ فَفِيهَا نِصفُ دِينَارٍ

فَمَا زَادَ فَبِحِسَابِ ذَالِكَ (د) (ابوداؤدشريف.باب في زكوة السائمة ص٢٢٨ نمبر٥٧٣،نمبر١٥٧٣) (٢) عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ

حاشيه : (الف) حضور وخلګو ته خطبه ولوستل او وفرمائل واوْرئ ! ځوك چې ديتيم نګهباني وكې او ديتيم مال وي نو په هغه كې تجارت كول په كاردئ. او هغه دارنګه مه پريږدئ چې صدقه هغه وخوري (ب) حضرت عمر وفرمائل ديتيم په مال باندي تجارت وپلټئ چې صدقه هغه ونه خوري (ج) حضور ووفرمائل دپنځو وُښانو ځخه په كم(لږ)كي صدقه يعني زكوٰة نسته،اود پنځه اوقيې سپين زروځخه په كم(لږ)كي زكوٰة نسته،او دپنځه وسق ځخه په كم(لږ)غله كي زكوٰة نسته (د) دحضور دبعضواحاديثوتكړه داده چې كله ستاسوسره دوه سوه درهم پوره سي اوپرهغه كال تيرسي نو په هغه كي پنځه درهم دي.او په سرو زرو كي هيڅ نسته تر هغو چې شل دينار سي.بس نو چې شل دينار سي او پر هغه كال تير سي نو په هغه كي نيم دينار دئ. او چې كوم زيات سي هغه په په دغه حساب سره دي.

[٤٥٣](٢) وَمَن كَانَ عَلَيهِ دَينٌ مُحِيطٌ بِمَالِهِ فَلاَ زَكوٰةَ عَلَيهِ [٤٥٤](٣) وَإن كَانَ مَالُهُ أكثَرَ مِنَ الدَّينِ زَكَّي القَاضِلَ إذَا بَلَغَ نِصَابًا [٤٥٥](٤) وَلَيسَ فِي دُوَرِ السُّكنِيٰ وَثِيَابُ البَدَنِ وَاَثَاثُ المنزِلِ وَدَوَابِ الرُّكُوبِ وَعَبِيدِالخِدمَةِ وَسَلاَحِ الاِستِعمَالِ زَكوٰةٌ

لاَزَكوٰةَ فِي مَالِ اِمرِئٍ حَتّيٰ يَحُولَ عَلَيهِ الحَولَ (الف) (دارقطني،باب وجوب الزكوة بالحول ج٢ ص٧٦ نمبر١٨٧٠) ددې حديث ځخه هم معلوم سو چې زكوٰة دنصاب پر مال باندي دكال تېرېدو وروسته واجبيږي.

[٤٥٣](٢) پركوم چا چې دارنګه قرضه وي چې دده دمال احاطه يې كړې وي نو پرهغه زكوٰة نه دئ واجب.

تشريح مثلاً ديوه سړي سره پنځه سوه درهم وي ليكن پر ده باندي پنځه سوه قرض هم وي كه قرض ادآء كې نو دده سره هيڅ شئ نه پاتيږي گواكه دده سره بالكيه دنصاب مال نسته نو ځكه پر ده باندي زكوٰة نه دئ واجب.

وجه په اثر كي راغلي دي اَنَّ عُثمَانَ بنِ عَفَّانَ كَانَ يَقُولُ هٰذَا شَهرُ زَكوٰتِكُم فَمَن كَانَ عَلَيهِ دَينٌ فَليُؤَدِّ دَينَهُ حَتّيٰ تَحصُلَ اَموَالُكُم فَتُؤَدُّونَ مِنهَا الزَّكوٰةَ (ب) (مؤطاامام مالك،الزكوٰة في الدين ص٢٨٤ \ سنن للبيهقي،باب الدين مع الصدقة ج٤ ص٢٤٩ نمبر٧٦٠٦) ددې اثرځخه معلوم سو چې قرض ادآء كي دهغه بعد چې څه پاته سي كه هغه ونصاب ته ورسيږي او پر هغه كال هم تير سي نو په هغه پاته مال كي زكوٰة سته كه نه نو بيا نسته.

[٤٥٤](٣) او كه دده مال دقرض ځخه زيات وي نو د زيات مال زكوٰة به واجب وي كه هغه ونصاب ته ورسيږي.

وجه په اثر كي راغلي دي عَن اِبنِ عَبَّاسٍ وَاِبنِ عُمَرَ فِي الرَّجُلِ يَستَقرِضُ فَيُنفِقُ عَليٰ ثَمَرَتِهِ وَعَليٰ اَهلِهِ قَالَ قَالَ اِبنُ عُمَرَ يَبدَاُ بِمَا اِستَقرَضَ فَيَقضِيهِ وَيُزَكِّي مَابَقِيَ، قَالَ قَالَ اِبنُ عَبَّاسٍ يَقضِي مَا اَنفَقَ عَلَي الثَّمرَةِ ثُمَّ يُزَكِّي مَا بَقِيَ (ج) (سنن للبيهقي.باب الدين مع الصدقة ج٤ ص٢٤٩ نمبر٧٦٠٨ كتاب الزكوة) ددې اثر ځخه معلوم سوچې اول به قرض ادآء كوي بيا چې څه پاته سو كه هغه ونصاب ته ورسيږي نو په هغه كي به زكوٰة واجب وي.

[٤٥٥](٤) زكوٰة نه دئ واجب د وسېدلو په كور كي،دبدن په كپړو كي،دكور په سامان كي، دسپارلئ په حيوانانو(شيانو)كي،دخدمت په غلامانو(مريانو)كي او داستعمالولو په اسلحه كي.

تشريح هغه شيان چې په انساني ژوند كي دضرورت لپاره وي او د روزانه په استعمال كي راځي په هغو كي زكوٰة نه واجبيږي. بلكه دضرورتِ اصليه ځخه خارج وي يا دغه لوړ شيان دتجارت،خرڅولو او اخستلو لپاره وي نو د دوئي په قيمت كي به زكوٰة واجب وي.

وجه (١) دحاجتِ اصلي په شيانو كي شريعت زكوٰة نه واجبوي (٢) په حديث كي راغلي دي سَمِعَ اَبَا هُرَيرَةَعَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيرُ الصَّدَقَةِ مَاكَانَ عَن ظَهرِ غَنِيٍّ وَاَبدَاَ بِمَن تَعُولَ (بخاري شريف.باب لاصدقة الاَّ عن ظهر غني ص١٩٢ نمبر١٤٢٦)دحديث ځخه معلوم سو چې دضرورت ځخه زيات وي نو بيا زكوٰة واجبيږي (٣) عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيسَ عَلَي المُسلِمِ فِي عَبدِهِ وَلاَ فِي فَرَسِهِ

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل ديوه انسان په مال كي زكوٰة نسته تر څو چې پر هغه كال تير سي (ب) حضرت عثمان به ويل دا ستاسو دزكوٰة مياشته ده.نو چې پر چا قرض وي هغه دي قرض ادآء كي تر دي چې ستاسو مال خالص سي او دهغه ځخه تاسو زكوٰة ادآء كئ (ج) دحضرت ابن عمر ځخه دهغه سړي په باب نقل سوي دي چې قرض واخلي او پر خپله مېوه يا پر كورنيانو باندي خرچ كي نو ابن عمر وفرمائل چې كوم قرض يې اخستئ دئ دهغه ځخه دې شروع كي او هغه دي ادآء كي بياچې څه پاته سي دهغه زكوٰة دي وركي. او حضرت ابن عباس وفرمائل چې څه يې پر مېوه خرچه كړې ده هغه دي ادآء كي بياچې څه پاته سي دهغه زكوٰة دي وركي.

[۴۵۶](۵) وَلَاتَجُوزُ اَدَآءُ الزَّكٰوةِ اِلاَّ بِنِيَّةٍ مُقَارِنَةٍ لِلاَدَآءِ اَو مُقَارِنَةٍ لِعَزلِ مِقدَارِالوَاجِبِ [۴۵۷](۶) وَمَن تَصَدَّقَ بِجَمِيعِ مَالِهِ وَلاَ يَنوِي الزَّكٰوةَ سَقَطَ فَرضُهَا عَنهُ .

صَدَقَةٌ (الف) (مسلم شريف.كتاب الزكوٰة ص۳۱۶ نمبر۹۸۲) ددې حديث څخه معلوم سو چې دخدمت کولو په غلامانو او دسوارلئ په آسانو کې زکوٰة نسته. او وجه داده چې دا شيان دخلګو دضرردرت شيان دي.پر دغه باندي دا لوړ دضرورت شيان بايد قياس کړل سي (۲) په حديث کې دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ قَالَ زُهَيرٌ اَحسِبُهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ... وَفِي البَقَرِ فِي كُلِّ ثَلٰثِينَ تَبِيعٌ وَالاَربَعِينَ مُسِنَّةٌ وَلَيسَ عَلَي العَوَامِلِ شَيئٌ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في زكوة السائمة ص۲۲۸ نمبر۱۵۷۲) (۳) يو بل حديث هم دئ عَن عُمَرَ اِبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيسَ فِي الاِبِلِ العَوَامِلِ صَدَقَةٌ (ج) (دارقطني ۶ باب ليس في العوامل صدقة ج۲ص۸۸ نمبر۱۹۲۱) ددې احاديثو څخه معلوم سو چې هغه حيوانان چې هره ورځ په کار راتلونکي وي او دضرورت شيان وي مثلا هَل په چلول وي يا سوارلي پر کول وي په هغو کې زکوٰة نسته.

اصول دحاجت اصلي په شيانو کې زکوٰة نه دئ واجب.

لغت دُوَرِالسُّكنٰي : هغه کور چې په هغه کې سړئ وسيږي. اَثَاثٌ : دکور سامان،فرنيچر.

[۴۵۶](۵) دزکوٰة ادائيګي جواز نه لري مګر په داسي نيت سره چې د ادائيګئ سره ملاؤ(يوځاى)وي يا دواجب مقدار دجلاکولو دوخت سره ملاؤ(يوځاى)وي.

تشريح چې کوم وخت زکوٰة دفقيرپه لاس ورکوي هغه وخت بايددزکوٰة نيت وي نوبيازکوٰة ادادئ.که هغه وخت مثلاًدقرض ورکولونيت وي اووروسته دزکوٰة نيت وکي نوزکوٰة نه سو ادايا هغه وخت يې هيڅ نيت نه وي دروپئ ورکولووروسته دزکوٰة نيت وکئ نوهم دزکوٰة ادائيګي نه وسوه.ياچې کوم وخت يې حساپ وکئ چې هرڅو روپئ يې زکوٰة ورکئ هغه يې دخپل مال څخه جلا کې په دغه وخت دزکوٰة نيت وي نو بيا هم زکوٰة ادآءکيږي.په دې صورت کې که دفقيرپه لاس کې دورکولوپه وخت د زکوٰة نيت نه وي نوهم هيڅ پرواه نه لري.ځکه چې کوم وخت يې دغه مال دخپل مال څخه جلاکاوئ په هغه وخت يې دزکوٰة نيت کړئ و.اوهغه مال اوس ورکوي نوځکه هغه اول کړئ نيت کفايت کوي.

وجه (۱) مخکې تير سو چې عبادت اصليه هغه وخت ادآءکيږي چې دعبادت نيت يې کړئ وي.او زکوٰة عبادت دئ نو ځکه ددې د ادائيګئ په وخت کې هم بايد نيت وي (۲) په حديث کې راغلي دي اِنَّمَا اَلاَعمَالُ بِالنِّيَّاتِ الخ (بخاري شريف.باب كيف كان بدءالوحي الي رسول الله صلي الله عليه وسلم ص۲ نمبر۱) ددې حديث په وجه دټولو عباداتو اصليه و د ادائيګئ لپاره دعبادت په وخت کې نيت کول ضروري دئ.

[۴۵۷](۶)کوم چاچې خپل ټول مال صدقه کئ اودزکوٰة نيت يې ونه کئ نودده فرض به ساقط سي.

تشريح ټول مال يې دصدقې په نيت ورکئ لېکن په هغه کې دزکوٰة نيت ونه کئ نو چې څومره مال په زکوٰة کې ورکول ضروري و دهغه ادائيګي خو وسوه لهٰذا فرض به ساقط سي.

وجه دټول مال په صدقه نافله کې فرض داخل سو نو ځکه دجلا(مستقل)نيت کولو ضرورت نه سو پاته. زکوٰة به ادآء سي.

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل پر مسلمان باندي دده په مرئي او دده په اس کې صدقه نسته (ب) دحضرت علي څخه روايت دئ چې زُهَير وفرمائل زما دا ګمان دئ چې دحضور څخه نقل سوئ دئ ... چې په هر دېرش غُواو کې ديوه کال سُخَوَندَر او په څلوېښت کې د دو کالوسُخَوَندَر، او په کار کونکو حيوانانو کې هيڅ شئ نسته (ج) حضور وفرمائل په کار کونکو وُښانو کې صدقه نسته.

(بَابُ زَكٰوةِ الاِبِلِ)

[۴۵۸](۱) لَيسَ فِي اَقَلِّ مِن خَمسِ ذَوٰدٍ مِنَ الاِبِلِ صَدَقَةٌ فَاِذَا بَلَغَت خَمسًا سَائِمَةً وَحَالَ عَلَيهِ الحَولُ فَفِيهَا شَاةٌ اِلٰي تِسعٍ فَاِذَا كَانَت عَشراً فَفِيهَا شَاتَانِ اِلٰي اَربَعَ عَشرَةَ فَاِذَا كَانَت خَمسَ عَشرَةَ فَفِيهَا ثَلٰثُ شِيَاهٍ اِلٰي تِسعَ عَشرَةَ فَاِذَا كَانَت عِشرِينَ فَفِيهَا اَربَعُ شِيَاهٍ اِلٰي اَربَعٍ وَّعِشرِينَ فَاِذَا بَلَغَت خَمسًا وَّعِشرِينَ فَفِيهَا بِنتُ مَخَاضٍ اِلٰي خَمسٍ وَّثَلٰثِينَ

(بَابُ زَكٰوةِ الاِبِلِ)

ضروري پام لرنه په عربو کي خو وُښان زيات و نو حکه مصنف د وُښ دزکوٰة احکام مخکي راوړي.او سره و سپين کم(لږ) و نو ځکه دهغه احکام وروسته راوړي.

پام لرنه په حيوانانو کي زکوة هغه وخت سته چي دوئي دکال اکثره برخه(حصه)په ځړانده(پرخپله خوله)ژوند تيروي او پر کور لږ څه خوراك کوي.لېکن که وحيوان ته پر کور خوراك وركوي گرزويي او دتجارت لپاره هم نه وي نو پر هغو کي زکوٰة نه دئ واجب. په حديث کي دئ بَهز بِنِ حَكِيمٍ يُحَدِّثُ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي كُلِّ اِبِلٍ سَائِمَةٍ مِن كُلِّ اَربَعِينَ اِبنَةَ لَبُونٍ (الف) (نسائي شريف.باب سقوط الزكوٰة عن الابل اذا كانت رسلاً لاهلها ولحمولتهم ص٣٣٨ نمبر٢٤٥١\ ابوداؤد شريف.باب في زكوٰة السائمة ص٢٢٧ نمبر١٥٧٥) ددي حديث څخه معلوم سو چي ځړانده(پرخپله خوله گرزېدونكي)حيوانان وي په هغو کي زکوٰة واجب دئ. د کار کولو لپاره حيوانان وي يا علوفه وي نو په هغو کي زکوٰة نسته. په ابوداؤد کي دا عبارت دئ. وَفِي سَائِمَةِ الغَنَمِ فَذَكَرَ نَحوَ حَدِيثِ سُفيَانٍ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في زكوٰة السائمة ص٢٢٧ نمبر١٥٦٧\بخاري شريف.نمبر١٤٥٤) دغه جملـه(تكره)د مِن ثُمَامَةَ بِنِ عَبدِاللهِ بِنِ اَنَسٍ دحديث په مابين کي ده. ددي څخه هم معلوم سو چي په ځړانده حيوانانو کي زکوٰة سته په علوفه کي نسته.

لغت اَلعَلُوفَةَ : هغه حيوان چي د کال اکثره برخه پر کور باندي خوراك کوي گرزي.

[٤٥٨](١) دپنځو وښانو څخه په کم(لږ)کي زکوٰة نسته. بس چي ځړانده وپنځو وښانو ته ورسيږي او پر هغو کال تير سي نو په هغو کي يوه وزه (بوزه) ده تر نُو وښانو پوري. بس چي کله لس وښانو ته ورسيږي نو په هغو کي دوي وزي (بوزي) دي تر څورلس وښانو پوري. بس چي کله پنځلس وښان سي نو په هغو کي دري وزي (بوزي) دي تر نولس وښانو پوري. بس چي کله شل وښان سي نو په هغو کي څلور وزي (بوزي) دي تر څليرويشت وښانو پوري. بس چي کله پنځه ويشت وښان سي نو په هغو کي يو بِنتِ مَخاض دئ تر پنځه دېرش وښانو پوري. بس چي کله ورسيږي وشپږدېرش ته نو په هغو کي يو بِنتِ لَبُون دئ تر پنځه څلوېښت پوري. بس چي کله وشپږ څلوېښت ته ورسيږي نو په هغو کي يوه حِقّه ده تر شپېتو پوري. بس چي کله يو شپېته سي نو په هغو کي يوه جِذعَه ده تر پنځه اَويَا پوري. بس چي کله شپږ اَويَا وښان سي نو په هغو کي دوي بِنتِ لَبُون دي تر نوي وښانو پوري. بس چي کله يو نيوي وښان سي نو په هغو کي دوي حِقّي دي تر يو سل شلو پوري.بيا به فرض دسر

~~حاشيه : (الف) حضور به فرمائل دځړانده وښانو څخه دهر څلويښتو څخه به يو بِنتِ لَبُون وي (ب) په ځړانده وزو(بزو)كي، بيا يې~~ دحضرت سفيان دحديث په رنګه ذكر كړئ .

فَاِذَا بَلَغَت سِتًّا وَّ ثَلٰثِينَ فَفِيهَا بِنتُ لَبُونٍ اِلٰي خَمسٍ وَّ اَربَعِينَ فَاِذَا بَلَغَت سِتًّا وَّ اَربَعِينَ فَفِيهَا حِقَّةٌ اِلٰي سِتِّينَ فَاِذَا بَلَغَت اِحدٰي وَسِتِّينَ فَفِيهَا جِذعَةٌ اِلٰي خَمسٍ وَّسَبعِينَ فَاِذَا بَلَغَت سِتًّا وَّ سَبعِينَ فَفِيهَا بِنتَا لَبُونٍ اِلٰي تِسعِينَ وَاِذَا كَانَت اِحدٰي وَتِسعِينَ فَفِيهَا حِقَّتَانِ اِلٰي مِائَةٍ وَّعِشرِينَ ثُمَّ تَستَانِفُ الفَرِيضَةُ .

څخه شروع کيږي.

وجه ددي حساب ثبوت په دي حديث کي موجوددئ عَن سَالِمٍ عَن اَبِيهِ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي الله عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ كِتَابَ الصَّدَقَةِ فَلَم يُخرِجهُ اِلٰي عُمَّالِهِ حَتّٰي قُبِضَ فَقَرَنَهُ بِسَيفِهِ فَلَمَّا قُبِضَ عَمِلَ بِهِ اَبُوبَكرٍ حَتّٰي قُبِضَ وَعُمَرُ حَتّٰي قُبِضَ وَكَانَ فِيهِ فِي خَمسٍ مِّنَ الاِبِلِ شَاةٌ وَفِي عِشرِينَ شَاتَانِ وَفِي خَمسَ عَشَرَةَ ثَلٰثُ شِيَاهٍ وَفِي عِشرِينَ اَربَعُ شِيَاهٍ وَفِي خَمسٍ وَّ عِشرِينَ بِنتُ مَخَاضٍ اِلٰي خَمسٍ وَّ ثَلٰثِينَ فَاِذَا زَادَت فَفِيهَا بِنتُ لَبُونٍ اِلٰي خَمسٍ وَّ اَربَعِينَ فَاِذَا زَادَت فَفِيهَا حِقَّةٌ اِلٰي سِتِّينَ فَاِذَا زَادَت فَفِيهَا جِذعَةٌ اِلٰي خَمسٍ وَّ سَبعِينَ فَاِذَا زَادَت فَفِيهَا بِنتَالَبُونٍ اِلٰي تِسعِينَ فَاِذَا زَادَت فَفِيهَا حِقَّتَانِ اِلٰي عِشرِينَ وَمِائَةٍ فَاِذَا زَادَت عَلٰي عِشرِينَ وَمِائَةً فَفِي كُلِّ خَمسِينَ حِقَّةٌ وَفِي كُلِّ اَربَعِينَ اِبنَةَ لَبُونٍ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآء في زكوٰة الابل والغنم ص١٥٣ نمبر٦٢١ \ابوداؤدشريف.باب في زكوٰة السائمة ص٢٢٥ نمبر١٥٧٠ \بخاري شريف.باب شكوة الغنم ص١٩٥ نمبر١٤٥٤) ددي حديث څخه دالوړ ټول حساب ثابتيږي چي په څونه وُښانو کي به څونه حيوانان وركول كيږي. او كله به وُزه(بوزه)وركول كيږي او كله د وُښ بچئ(جونګئ)وركول كيږي.

لـغـت سَائِمَةٌ : پ څړانده ژوند تېرونکئ حيوان . بِنت مَخَاض :هخـاض وهغـه وُښـه تـه ويـل کيږي چـي حاملـه(برالبـه وي،نو د بنتِ مخاض معنيٰ سوه دحاملي(برالبي وُښي بچئ)دا وهغه وبچي ته ويل کيږي چي پر هغه باندي يو کال تېرسوئ وي دوم کال شروع وي. حِقَّةٌ : هغه بچئ چي پر هغه باندي دسوالئ حق پيدا سوئ وي.يعنـي چـي دري کاله تېر سوي وي او څلورم کال کي قدم ايښئ وي. جِذعَةٌ : چي د مخ دخوا دواړه غاښونه وتلـي وي،يعنـي څلـور کال پوره سوي وي او په پنځم کال کي قدم ايښئ وي. د دارنکه بچي غاښونه وزي او دوم وار يې نوي غاښونه را خيژي او بالغ کيږي.

حاشيه : (الف) حضور دزکوٰة لپاره اِملاء وليکل(يعني په بل يې خط وليکئ) هغه يې دعُمّالو لپاره تر اُوسه لا نـه و رايستلئ چـي حضـور وفات سو.نو ځکه هغه خط يې د ثُري سره کښېښوئ بيا چې کله دحضور انتقال وسو نو حضرت ابوبکرپر هغه خط عمل وکئ تـردي چـي هغه وفات سو. او حضرت عمر هم عمل پر وکئ تردي چې هغه هم وفات سو. په دي خط کي دا خبـره وه چـي پـه پنځـه وُښـانو کـي يـوه وُزه(بوزه)،او په لس کي دوي وزي،اوپه پنځلس کي دري وزي،او په شل کي څلور وزي،او په پنځـه ويشت کـي يـوه بنتِ مخاض تـر پنځـه دېرش پوري. بس چې کله زيات سي نو په هغه کي بنتِ لبون ده تر پنځـه څلوېښت پـوري. بيـا پـه شپږڅلوېښت کـي يـو حِقَّه وُښ دئ تـر شپېتو پوري. بيا چې کله زيات سي نو په هغه کي يوه جَذعَه ده تر پنځه اويا پوري. بيا چې کله زيات سي ن په هغه کـي دوي بنتِ لبون دي تر نوي پوري. بيا چې کله زيات سي نو په هغه کي دوي حِقّي دي تر يو سل شل وُښانو پوري.بيا چې کله زيات سي تر يو سل شلو نو پـه هر پنځوس کي يوه حِقَّه ده او په هر څلويښتو کي يوه بنتِ لبون ده .

[۴۵۹](۲) فَيَكُونُ فِي الخَمسِ شَاةٌ مَعَ الحِقَّتَينِ وَ فِي العَشرِ شَاتَانِ وَ فِي خَمسَ عَشَرَةَ ثَلٰثُ شِيَاهٍ وَ فِي عِشرِينَ اَربَعُ شِيَاهٍ وَ فِي خَمسٍ وَّ عِشرِينَ بنتُ مَخَاضٍ اِلىٰ مِائَةٍ وَّ خَمسِينَ فَيَكُونُ فِيهَا ثَلٰثُ حِقَاقٍ [۴۶۰](۳) ثُمَّ تَستَانِفُ الفَرِيضَةُ فَفِي الخَمسِ شَاةٌ وَفِي العَشرِ شَاتَانِ وَفِي خَمسَ عَشَرَةَ ثَلٰثُ شِيَاهٍ وَفِي عِشرِينَ اَربَعُ شِيَاهٍ وَفِي خَمسٍ وَّ عِشرِينَ بِنتُ مَخَاضٍ

---

[۴۵۹](۲) بس وي به په پنځه وُښـانو کـي يـوه وُزه(بُوزه)سره د دو حقـو او پـه لسـو وُښـانو کـي دوي وُزي او پـه پنځلس وُښانو کي دري وُزي او په شلو وُښانو کي څلور وُزي او په پنځه ويشت وُښانو کي يوه بنتِ مخاض تر يـو سل پنځه ويشت پوري. نو په يو سل پنځوس وُښانو کي به دري حِقّي وي. بيا به فرض دسره څخه شروع کيږي.

تـشريـح د يوسل شلو وروسته په هر پنځه وُښانو کي به يوه وُزه(بُوزه)لازمه وي.او په پنځه ويشت وُښانو کي بـه د وُښي يو بچئ لازم وي چي وهغه ته بِنتِ مَخَاض ويل کيږي يعني چي يو کال يي تېـر سـوئ وي او پـه دوم کـال کي قدم ايښئ وي.اوس دا لوړ يو سل شل او پنځه ويشت چي سره يوځائي کړي نو يو سل پنځه څلوېښت سو. لېکن چي څه رنګه دواړه سره يوځائي کي يونيم سل ځني جوړ سي نو به دري حِقّي لازم سي. ځکه چي په اول کـي پـر شپږڅلوېښت باندي يوه حِقّه لازمه سوي وه. او په يونيوي کي دوي حِقّي وي نو ګواکه په هر پنځوس کي يوه حِقّه لازم سوه.په دغه حساب سره په يوسل پنځوس کي دري پنځوسيان راغلو نو به دري حِقّي لازم وي.

وجـه ددي ثبوت په دغه حديث کي دئ چي دا لوړ تيرسـو. ددي آخـري جملـه ه فَفِي كُلِّ خَمسِينَ حِقَّةٌ وَفِي كُلِّ اَربَعِينَ اِبنَةَ لَبُونٍ (حوالهٔ بالا) او په ابوداؤدشريف کي دئ فَاِذَا كَانَت خَمسِينَ وَمِائَةً فَفِيهَاثَلَاثُ حِقَاقٍ ... فَاِذَا كَانَت مِائَتَينِ فَفِيهَا اَربَعُ حِقَاقٍ او خَمسَ بِنتِ لَبُونٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في زَكوٰة السائمة ص۲۲۷ نمبر ۱۵۷۰، د حَدَّثَنَا محمدبن العلآء انا ابن المبارك يوه ټکړه ده) ددي حديث څخه ثابت سو چي په هر پنځوس وُښانو کي به يـوه حِقَّه لازم وي او پـه يـونيم سل کـي بـه دري حقـي لازم وي او په دوه سوه وُښانو کي به څلور حقي لازم وي. او د يوسل شلو وروسته پـه هـر پنځـه وُښـانو کـي يـوه وُزه(بوزه)او په پنځه ويشت کي به يـوه بِنـتِ مخـاض لازم وي.ددي دليـل دا اثـر دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ اِذَا زَادَت عَلىٰ عِشرِينَ

وَمِائَةَ يَستَقبِلُ بِهَاالفَرِيضَةُ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ١١ من قال اذا زادت علي عشرين ومائة استقبل بهاالفريضة ج٢ ص٣٦١ نمبر٩٩١١) ددي اِستَقبَلَ بِهَا الفَرِيضَةُ څخه معلوم سوچي ديو سل شلو وُښانو وروسته به بيا دسره څخه حساب شروع کيږي يعنې په هرپنځه وُښانو کي يوه وُزه(بوزه)او په پنځه ويشت وُښانو کي يو بنت مخاض لازم دي.

[۴۶۰](۳) بيا به فرض د سر څخه شروع کيږي،بس په پنځه وُښانو کي يوه وُزه(بوزه) په لس کي دوې وزې او په پنځلس کي دري وزې او په شل کي څلور وزې او په پنځه ويشت کي يو بِنتِ مَخَاض او په شپږديرش کې يو بِنتِ لَبُون بيا چې کله ورسيږي تر يوسل شپږنيوي پورې نو په هغه کي څلور حقې دي تر دوه سوه وُښانو پورې. تشريح د يوسل پنځوس وُښانو وروسته به بيا دسره څخه حساب شروع کيږي يعني په هر پنځه وُښانو کي يوه وُزه(بوزه)او په پنځه ويشت کي يوبِنتِ مَخَاض

حاشيه : (الف) بس چې کله يوسل پنځوس سي نو په هغه کي دري حقي دي.بيا چې کله دوه سوه سي نو په هغه کي څلور حقې يا پنځه بنتِ لَبُون دي (ب) دحضرت علي څخه نقل سوي دي وفرمائل چې کله پر يوسل شل وُښانو باندي زيات سي نو حساب به دسر څخه کيږي.

وَفِي سِتٍّ وَّثَلٰثِينَ بِنتُ لَبُونٍ فَاِذَا بَلَغَت مِائَةً وَّ سِتًّا وَّ تِسعِينَ فَفِيهَا اَربَعُ حِقَاقٍ اِلٰى مِائَتَينِ [۴۶۱](۴) ثُمَّ تَستَانِفُ الفَرِيضَةُ اَبَداً كَمَا تَستَانِفُ فِي الخَمسِينَ الَّتِي بَعدَ المِائَةِ وَالخَمسِينَ [۴۶۲](۵) وَالبُختُ وَالعِرَابُ سَوَآءٌ .

او په شپږديرښ کي يوه بِنتِ لَبُون ده.نو يوسل پنځوس او شپږديرش چې سره يوځائي سي يوسل شپږاتياسو. نوګواکه په يوسل شپږاتيا کي دري حقې او يوه بِنتِ مَخَاض لازميږي او په يوسل شپږنيوي کي څلور حقې لازم سوې. او تر دوسو پورې به دغه څلور حقې لازم وي.

وجه دليل يې لورِ تير سو.

[۴۶۱](۴) بيا به فرض شروع کيږي لکه څه رنګه چې ديو سل پنځوس وروسته پنځوس کي شروع کړل سوئ و.

تشريح لکه څه رنګه چې د يونيم سل وروسته چې کوم پنځوس دي په هغه کي په هر پنځو کي يوه وُزه(بوزه)لازم سوئ وه او په پنځه ويشت کي يوه بِنتِ مَخَاض او په شپږديرش کي يوه بِنتِ لَبُون او په پنځوس کي يوه حِقَّه لازم سوئ وه دغه رنګه به د دوسووښانو وروسته چې کوم پنځوس دي په هغه کي به دغه رنګه کول کيږي.

فائده د امامِ مالك په نبز ديو سل شلو وروسته په څلويښت کي يوه بِنت لَبُون او په هر پنځوس وُښانو کي يوه حِقَّه ده. او دهغه په مابين کي هيڅ شئ نسته. دده دليل دمسئلې نمبر ١ حديث دئ چې دهغه په آخر کي دا و فَاِذَا زَادَت عَلٰى عِشرِينَ وَمِائَةً فَفِي كُلِّ اَربَعِينَ بِنتُ لَبُونٍ وَ فِي كُلِّ خَمسِينَ حِقَّةٌ (الف) (اب،داؤدشريف. باب في زَكٰوة السائمة ص٢٢۶ نمبر١۵۶٧) په دي حديث کي صراحت سوئ دئ چې ديوسل شل وروسته په هر څلوښت وښانو کي يوه بِنتِ لَبُون او په هر پنځوس کي يوه حِقَّه لازم ده. او په مابين کي چې کوم پنځه يا لس يا پنځلس يا شل وُښان دي د هغو دزکوٰة هيڅ ذکر نه دئ سوئ نو ځکه په هغو کې زکوٰة هم نه دئ واجب.

[۴۶۲](۵) بُختي او عربي وُښ سره برابر دي.

تشريح خو دواړه وُښان دي نو ځکه د دواړو مسئله يوه ده.

(د وُښانو د زکوٰة د نصاب نقشه په را روان مخ کي وګورئ)

حاشيه : (الف) بس چي کله پر يوسل شل باندي زيات سي نو په هر څلويښت کي يوه بِنتِ لَبُون او په هر پنځوس کي يوه حِقَّه لازم ده.

(دوُښانو دزکوٰة نصاب)

وُښ زکوٰة				مجموعه دارنګه سوه				وُښ زکوٰة	
۵	يوه وُزه		۵		يوه وُزه		۱۲۵		۲حِقّي او يوه وُزه
۱۰	۲وُزي		۱۰		۲وُزي				۱۳۰
۱۵	۳وُزي		۱۵		۳وُزي		۱۳۵		۲ حقي او دري وُزي
۲۰	۴وُزي		۲۰		وُزاري		۱۴۰		۲ حقي او څلور وُزي
۲۵	يوه بِنتِ مخاض		۲۵		يوه بِنتِ مخاض		۱۴۵		۲حقي او يوه بِنتِ مخاض
۳۶	يوه بِنتِ لبُون		۳۰		يوه حقّه		۱۵۰		۳حقّي
۴۶	يوه حقه		د سر څخه						
۶۱	يوه جذعه		۵		يوه وُزه		۱۵۵		۳حقي او يوه وُز
۷۶	۲بِنتِ لبون		۱۰		دوي وُزي		۱۶۰		۳حقي اودوي وُزي
۹۱	۲حقي		۱۵		دري وُزي		۱۶۵		۳حقي او دري وُزي
۱۲۰	۲حقي		۲۰		څلور وُزي		۱۷۰		۳حقي او څلور وُزي
دسرڅخه			۲۵		يوه بِنتِ مخاض		۱۷۵		۳حقي او يوه بِنتِ مخاض
			۳۶		يوه بِنتِ لبُون		۱۸۶		۳حقي او يوه بنتِ لبُون
			۴۶		يوه حقه		۱۹۶		۴حقي
			۵۰		يوه حقه		۲۰۰		۴حقي

(بَابُ صَدَقَةِ البَقَرِ)

[۴۶۳](۱)لَيسَ فِي اَقَلِّ مِن ثَلٰثِينَ مِنَ البَقَرِ صَدَقَةٌ فَاِذَا كَانَت ثَلٰثِينَ سَائِمَةً وَحَالَ عَلَيهَا الحَولَ فَفِيهَا تَبِيعٌ اَو تَبِيعَةٌ وَفِي اَربَعِينَ مُسِنٌّ اَو مُسِنَّةٌ [۴۶۴](۲) فَاِذَا زَادَت عَلَيٰ

(بَابُ صَدَقَةِ البَقَرِ)

ضروري پام لرنه د وُښ د احکاماتو وروسته يې د غواو احکامات راوړل. ځکه چې دجسم(بدن)په لحاظ د وُښ وروسته دغوا او غوايه درجه ده.ددې ثبوت په احاديثو کې سته چې مخته يې ذکر راروان دئ.

[۴۶۳](۱) د دېرش غواو ځخه په کم(لږ)کې زکوٰة نسته.بس چې کله دېرش ځرانده غواوي سي او پر هغه کال تيرسي ن په هغه کې يوه سُخوندر يا يوه سُخوندرکی ده. او په ځلوېښت غواو کې يو مُسِن يا مُسِنّه ده.

وجه ددې ثبوت په دا حديث کې دئ عَن عَبدِاللهِ بِنِ مَسعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ قَالَ فِي ثَلٰثِينَ مِنَ البَقرِ تَبِيعٌ اَو تَبِيعَةٌ وَفِي كُلِّ اَربَعِينَ مُسِنَّةٌ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآء في زكوة البقرص۱۳۶ نمبر۶۲۲) په ابوداؤدشريف کې راغلي دي عَن اَبِي وَائِلٍ عَن مُعاذٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَمَّا وَجَّهَ اِلَيٰ اليَمَنِ اَمَرَهُ اَن يَّاخُذَ مِنَ البَقَرِ مِن كُلِّ ثَلٰثِينَ تَبِيعًا اَو تَبِيعَةً وَمِن كُلِّ اَربَعِينَ مُسِنَّةً (ابوداؤدشريف.باب في زكوٰة السائمة ص۲۲۸ نمبر۱۵۷۶) ددې حديث ځخه معلوم سو چې په دېرش غواو کې يو سُخوندر يا يو سُخوندرکی دئ.چې ديوه کال وي.او په ځلوېښت غواو کې يوه مُسِنّه ده چې د دوو کال وي. نوردلائل مخکې تېرسوي دي.

لغت تَبِيعٌ : چې يو کال يې پوره سوئ وي په دوم کال کې قدم ايښئ وي دغه رنګه سُخوندر يا سُخودرکی. مُسِنَّةٌ : چې دوه کال يې پوره سوي وي په دريم کال کې قدم ايښئ وي دغه رنګه سُخوندر يا سُخوندرکی.

[۴۶۴](۲) بيا چې کله زيات سي تر ځلوېښت نو واجب دئ په زياتوب کې په خپل حساب سره تر شپېتو پوري د امام ابوحنيفه په نېز نو په يوه غُوا کې د مُسِنّي يوه ځلوېښتمه حِصّه او په دو غُواو کې د مُسِني دوې ځلوېښتمه حِصّه او په درو غُواو کې دري ځلوېښتمه حِصّه ده.

تشريح د ځلوېښت ځخه تر شپېتو پوري نه دوه دېرش غُواوي جوړيږي او نه دوه ځلوېښت غُواوي ځني جوړيږي. په شپېتو کې دوه دېرشان جوړيږي نو دځلويښتوځخه ترشپېتوپوري امام ابوحنيفه فرمائي چې په هره غوا کې ديوې مُسِنّي ځلوېښتمه حِصّه لازم ده. اوس چې ځومره غُواوي زياتيږي په هره غُوا کې به د مُسِنّي ځلوېښتمه حِصّه لازميږي.نو په يوه غُوا کې يوه ځلوېښتمه حِصّه او په دو غُواو کې دوې ځلوېښتمي حِصّې په دري غُواو کې دري ځلوېښتمي حِصّې لازم دي.

وجه په اثر کې دي عَن مَكحُولٍ قَالَ مَا زَادَ فَبِالحِسَابِ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۵ في الزيادة في الفريضة ج۲ ص۳۶۴ نمبر۹۹۴۷) د دې اثر ځخه معلوم سو چې تر ځلوېښت غُواو ځخه چې کوم زيات سي هغه به په خپل حساب سره ادا کوي.

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل په دېرش غُواو کې يو سُخوندر يا يوه سُخوندره ده او په هر ځلوېښت کې يوه مُسِنّه ده (ب) د حضرت مکحول ځخه نقل سوي دي چې تر ځلوېښت چې کوم زيات سي نو دهغه په حساب سره به وي.

الاَربَعِينَ وَجَبَ فِي الزِّيَادَةِ بِقَدرِ ذَالِكَ اِلَيٰ سِتِّينَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ فَفِي الوَاحِدَةِ رُبعُ عَشَرِ مُسِنَّةٌ وَفِي الاِثنَينِ نِصفُ عَشَرِ مُسِنَّةٌ وَفِي الثَّلٰثَةِ ثَلٰثَةُ اَربَاعِ عَشَرِ مُسِنَّةٌ [۴۶۵] (۳) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَ مُحَمَّدٌ لاَشَيئَ فِي الزِّيَادَةِ حَتّٰي تَبلُغَ سِتِّينَ فَيَكُونُ فِيهَا تَبِيعَانِ اَو تَبِيعَتَانِ [۴۶۶](۴) وَفِي سَبعِينَ مُسِنَّةٌ وَتَبِيعٌ [۴۶۷](۵) وَفِي ثَمَانِينَ مُسِنَّتَانِ [۴۶۸](۶) وَفِي تِسعِينَ ثَلٰثَةُ اَتبِعَةٍ .

لغت رُبعُ عَشَرَ : دلسمي حِصّي ځلورمه يعني ځلوېښتمه حِصّه. نِصفُ عَشَرَ : دلسمي حصّي نيمئ يعني شلمه حِصّه. چيما وهغه ته دوې ځلوېښتمي حِصّې ويلي دي. دوې ځلوېښتمي حِصّې چې سره يوځائي کې شلمه حِصّه جوړيږي. ثَلٰثَةُ اَربَاعٍ : دري ځلوېښتمه حِصّه.

[۴۶۵](۳) حضرت امام ابويوسف او امام محمد وفرمائل په زياتوب کې هيڅ شئ نسته تر هغو چې شپېته ته ورسيږي. بس په شپېته کې دوه سُخوندرکيان يا دوې سُخوندري دي.

تشريح دشپېتو ځخه دوه واره دېرش دېرش جوړيږي او په يوه دېرشي کې سُخوندرکئ دئ نو ځکه په دوه واره دېرش کې به دوه سُخوندرکيان لازم وي.

وجـه حديث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا بَعَثَ رَسُولُ اللهِ مَعَاذاً اِلِيَ اليَمَنِ قِيلَ لَهُ بِمَا اُمِرتَ قَالَ اُمِرتُ اَن اَخُذَ مِنَ البَقَرِ مِن كُلِّ ثَلٰثِينَ تَبِيعًا اَو تَبِيعَةً وَمِن كُلِّ اَربَعِينَ مُسِنَّةً قِيلَ لَهُ اُمِرتَ فِي الاَوقَاصِ بِشَيءٍ؟ قَالَ لاَ وَسَاَسئَلُ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَسَاَلَهُ فَقَالَ لاَ وَهُوَ مَا بَينَ السِّنِينَ يَعنِي لاَ تَاخُذ مِن ذَالِكَ شَيئًا (الف) (دارقطني ٣ باب ليس في الكسر شيئ ج٢ ص٨٠ نمبر١٨٨٧\ مصنف ابن ابي شيبة،١٥ في الزيادة في الفريضة ج٢ ص٣٦٤ نمبر٩٩٤١) ددي حديث څخه معلوم سو چي په وَقَص کي هيڅ زکوٰة نسته او دڅلوېښتوڅخه تر شپيتو پوري وَقَص دئ نو ځکه په دي کي به هم هيڅ شئ نه وي لازم.

لـغت وَقَصٌ : د دو عمرونو په مابين کي يا د دو عددو په مابين کي چي کوم عدد وي وهغه ته وَقَص ويل کيږي.

[۴۶۶](۴) او په اويا(۷۰)کي به يوه مُسِنَّه او يوه تَبيعَه وي.

وجـه ځکه چي ديوه دېرشي او يوه څلوېښتي مجموعه اَويَا(۷۰) دي.

[۴۶۷](۵) او په اَتيا(۸۰)کي به دوې مُسِني وي.

وجـه په اَتيا کي دوه واره څلوېښت څلوېښت وي او په څلوېښت کي يوه مُسِنَّه وي نو ځکه په اَتيا کي به دوې مُسِنّي وي.

[۴۶۸](۶) او په نيوي کي به درې سُخوندرکيان وي.

حاشيه : حضور چي کله حضرت معاذ ويمن ته واستاوئ نو دحضرت معاذ څخه پوښتنه وسوه چي وتاتـه دڅـه حکم سوئ دئ؟ وفرمائـل ماته حکم سوئ دئ چي په غُواو کي په هر دېرش څخه يوه سُخوندر يا گيليگی او دڅلوېښـتو څخـه يـوه مُسِنَّه واخلم. پوښـتنه وسـوه چـي د وَقَّاص څخه د څه حکم سوئ دئ؟ نو حضرت معاذ دحضور څخه پوښتنه وکړه نـو حضـور وفرمائـل پـه اَوقَاص کـي هيڅ شـئ نـه دئ لازم. اَوقَاص وائي د دوو عمرو په مابين کي چي کوم حيوان وي يعني په اَوقَاص کي هيڅ شئ مه اخله .

[۴۶۹](۷) وَفِي مِائَةٍ تَبِيعَتَانِ وَمُسِنَّةٌ [۴۷۰](۸) وَعَلِيٰ هٰذَا يَتَغَيَّرُ الفَرضُ فِي كُلِّ عَشرَةٍ مِن تَبِيعٍ اِلِيٰ مُسِنَّةٍ [۴۷۱](۹) وَالجَوَامِيسُ وَالبَقَرُ سَوَآءٌ .

وجـه په نيوي کي دري واره دېرش دېرش وي او په دېرش کي يو سُخوندرکئ دئ نو ځکه په نيـوي کـي بـه دري سُخوندرکيان لازم وي.

---

[۴۶۹](۷) او په سل غُواو کي دوه سُخوندرکيان او يوه مُسِنَّه لازم ده.

وجـه په سل کي دوه واره دېرش دېرش وي يعني شپيته وي او يو وار څلوېښت وي. چي مجموعه يي سل سوه نو ځکه دوه سُخوندرکيان او يوه مُسِنَّه به لازم وي.

[۴۷۰](۸) دغه رنګه به حساب بدليږي په هر لس د سُخوندرکي څخه و مُسِنَّه ته.

تـشريـح د دېرش او څلوېښت په مابين کي د لسو عددو فرق دئ نو ځکه دهر لسو په زياتېدو سره مُسِنَّه لازمېدل نو سُخوندرکئ به لازم سي. اوچي سُخوندرکئ لازمېدئ نو مُسِنَّه به لازم سي.دغه رنګه د هرلسو په زيـاتوب سره به دسُخوندرکئ څخه به مُسِنَّه او د مُسِنَّه څخه به سُخوندرکي ته بدليږي.

پـام لـرنـه تَبِيعٌ : سُخوندرکي ته ويل کيږي.

[۴۷۱](۹) په مسئله کي غُوا او ګاميښه سره برابري دي.

تـشريـح کوم حساب چي دغُواو دزکوٰة په باره کي وړاندي سو هغه حسـاب د ګاميښـودزکوٰة پـه لړ کـي هـم دئ. ځکه چي د دواړو جنس نزدې نزدې دئ.

(دغُوا او ګاميښي زکوٰة ته يوه کتنه)

غُوا	زکوٰة	مُسنّه یاتبیعه	غُوا	زکوٰة	مُسنّه	یاتبیعه		
۳۰	۱	تبیعه	۶۰	۲	تبیعه			
۴۰	۱	مُسنّه	۷۰		۱	مُسنّه		
یوه تبیعه								
۴۱	۰۲۵.۱	مُسنّه	۸۰		۲	مُسنّه		
۴۲	۰۵۰.۱	مُسنّه	۹۰		۳	تبیعه		
۴۳	۰۷۵.۱	مُسنّه			۱۰۰	۲ تبیعه	یوه	
مُسنّه								
۴۴	۱.۱	مُسنّه	۱۱۰		۲	مُسنّه	یوه تبیعه	
۴۵	۱۲۵.۱	مُسنّه	۱۲۰		۳	مُسنّه		
۴۶	۱۵.۱	مُسنّه	۱۳۰		۳	تبیعه	یوه مُسنّه	

بس نور حساب هم پر دغه باندي قياسوه .

پام لرنه : په یوه غُوا کي د مُسنې څلوېښتمه حصّه لازميږي چې څلوېښت پر یوه تقسیم کې نو۰۲۵.۰ راوزي. دغه ۰۲۵.۰ته په یوه غُوا دوو غُواو کي چې څو در څلوېښت زیاتیږي ضرب ورکوه نو حساب په خپله راوزي. کوم چې دا لوړ درج دئ دا حساب په کالکولېټر(دحساب په ماشین)سوئ دئ.

(بَابُ صَدَقَةِ الغَنَمِ)

[۴۷۲](۱) لَيسَ فِي اَقَلِّ مِن اَربعِينَ شَاةٍ صَدَقَةٌ فَاِذَا كَانَت اَربَعِينَ شَاةً سَائِمَةً وَحَالَ عَلَيهَا الحَولُ فَفِيهَا شَاةٌ اِلٰي مِائَةٍ وَّعِشرِينَ فَاِذَا زَادَت وَاحِدَةٌ فَفِيهَا شَاتَانِ اِلٰي مِائَتَينِ فَاِذَا زَادَت وَاحِدَةٌ فَفِيهَا ثَلٰثُ شِيَاهٍ فَاِذَا بَلَغَت اَربَعُ مِائَةٍ فَفِيهَا اَربَعُ شِيَاهٍ ثُمَّ فِي كُلِّ مِائَةٍ شَاةٌ [۴۷۳](۲) وَالضَّانُ وَالمعزُ سَوآءٌ .

ضروري پام لرنه د وزو د زکوٰة په لړ کي دا باب دئ.نو ځکه حديث مخکي راروان دئ.


[۴۷۲](۱) د څلوېښتو وُزو څخه په کم(لږ)کي زکوٰة نسته.بس چې څلوېښت څړاندي وُزي سي او پر هغه کال تير سي نو په هغه کي یوه وُزه ده تر یو سل شلو وُزو پوري.بیا چې کله په دي کي یوه زیات سي(یعني یوسل یویشت سي) نو په هغه کي دوې وُزي دي تر دوه سوه پوري.بیا چې کله زیاته سي یوه وُزه(یعني دوه سوه یوه سي)نو په هغه کي دري وُزي دي.بیا چې ورسیږي وځلور سوه ته نو په هغه کي څلور وُزي دي. بیا په هر یوه سلي(۱۰۰) کي یوه وُزه زکوٰة دئ.

تشریح دځلوېښتوځخه تریوسل شلووُزوپه مابین کي یوه وُزه زکوٰة دئ.بیادیوسل یویشت څخه تر دوو سوو په ما بین کي دوې وُزي دزکوٰة دئ.او د دوه سوه یوې څخه تر دري سوه ننیوي پوري دري وُزي دي. او په څلور سوه وُزو کي څلور وُزي زکوٰة دي. بیا په هر یوه سلي کي یوه وُزه زکوٰة لازم دئ.

وجه په حديث کي دئ اَنَّ اَنَسًا حَدَّثَهُ اَنَّ اَبَا بَكرٍ كَتَبَ لَهُ هٰذَا الكِتَابَ لَمَّا وَجَّهَهُ اِلَي البَحرَينِ بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ هٰذِهِ فَرِيضَةُ الصَّدَقَةِ اَلَّتِي فَرَضَ رَسُولُ اللهِ عَلَي المسلِمِينَ وَاَلَّتِي اَمَرَاللهُ بِهِ رَسُولَهُ...وَفِي صَدَقَةِ الغَنَمِ فِي سَآئِمَتِهَا اِذَا كَانَت اَربَعِينَ اِلٰي عِشرِينَ وَمِائَةٍ:شَاةٌ.فَاِذَازَادَت عَلٰي عِشرِينَ وَمِائَةٍاِلٰي مِائَتَينِ شَاتَانِ.فَاِذَازَادَت عَلٰي مِائَتَينِ اِلٰي ثَلٰثِ مِائَةٍفَفِيهَاثَلٰثُ.فَاِذَازَادَت عَلٰي ثَلٰثِ مِائَةٍفَفِي كُلِّ مِائَةٍشَاةٌ.فَاِذَاكَانَت سَائِمَةُالرَّجُلِ نَاقِصَةً مِّن اَربَعِينَ شَاةًوَاحِدَةً فَلَيسَ فِيهَاصَدَقَةٌ اِلَّاَن يَّشَآءَرَبُّهَا (الف) (بخاري شريف.باب زكوٰة الغنم ص۱۹۵\۱۹۶نمبر۱۴۵۴\ابوداؤدشريف.باب في زكوٰة السائمةص۲۲۶نمبر۱۵۶۷) ددي حديث څخه ددغه لوړحساب تائیدکیږي.خوپه حديث کي دئ چې ددوه سوه یوه څخه تردري سوه پوري دري وُزي دي.او ددروسووورسته په هرسل کي یوه وُزه لازمه ده.او په متن کي وو چې د څلور سوه وروسته په هر سل کي یوه وُزه لازمه ده. ددې لړ څه اختلاف وروسته مسئله ببرته یو رنګه کیږي.

[۴۷۳](۲) د میږي او وُزې مسئله سره یورنګه ده. وجه میږ او وُزه تقریبًا یو جنس شمیرل کیږي نوځکه د دواړو د زکوٰة حساب هم سره یو رنګه دئ. وُزې زکوٰة

لـغـت:اَلضَّانُ.میږ اَلمِعزُ:وُزه.



یوه وُز

(د وزو وزکوٰة ته یوه کتنه)

دوې وُزې

۲۰۱ درې وُزې

۴۰۰ څلور وُزې

۵۰۰ پنځه وُزې

حاشیه : (الف) حضرت انس فرمائي چې حضرت ابوبکر دا خط ولیکئ چې کله امیر دبحرین پر لوري واستاوئ.بسم الله الرحمٰن الرحیم دغه دصدقې(زکوٰة)حساب دئ چې حضور فرض کړئ دئ پر مسلمانانوباندي او چې ددغه حکم الله او دالله رسول کړئ دئ... دځرانده وُزو په زکوٰة کې دادئ چې کله دځلویښتو څخه تر یو سل شلو پورې وي نو یوه وُزه. بیا چې کله زیات سي تر یو سل شلو وُزو(یعني یوسل یویشت سي)نو تر دوه سوه پورې دوې وُزې دي.بیا چې کله زیات سي تر دوه سوه(یعني دوه سوه یوه وُزه سي)نو تر درې سوه پورې کې درې وُزې دي.بیا چې کله زیات سي تر درې سوه نو په هر یوه سلي(۱۰۰)کې یوه وُزه ده.بیا چې کله دسړئ په ځرانده وُزو کې دځلوېښت څخه یوه هم کمه سي نو په هغه کې زکوٰة نسته. مګر دا که د وُزو مالك ورکول وغواړي.

(بَابُ زَكَوٰةِ الخَيلِ)

[۴۷۴](۱) اِذَا كَانَتِ الخَيلُ سَائِمَةً ذُكُوراً اَو اِنَاثًا وَحَالَ عَلَيهَا الحَولُ فَصَاحِبُهَا بِالخِيَارِ اِن شِآءَ اَعطيٰ عَن كُلِّ فَرَسٍ دِينَاراً وَاِن شَآءَ قَوَّمَهَا فَاَعطيٰ عَن كُلِّ مِائَتَي دِرهَمٍ خَمسَةَ دَرَاهِمَ [۴۷۵](۲) وَلَيسَ فِي ذُكُورِهَا مُنفَرِدَةً زَكَوٰةٌ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ [۴۷۶](۳) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ

(بَابُ زَكَوٰةِ الخَيلِ)

ضروري پام لرنه د آسانو په لړ کې څو قسم حدیثونه راغلي دي. نوځکه دعلمآء تر منځ هم اختلاف دئ چې په آسانو کې زکوٰة واجب دئ که نه. دا خو متفقه خبره ده چې د جهاد او خدمت لپاره چې کوم آسان وي په هغو کې زکوٰة نسته. او دتجارت په آسانو کې دهغو په قیمت کې په هر دوه سوه درهم کې پنځه درهم لازم دي. خو چې کوم آسان د نسل د افزائش لپاره وي په هغو کې اختلاف دئ چې زکوٰة سته که نه؟ او دهر یوه امام مسلك او دهغه دلیل مخته راروان دئ.

[۴۷۴](۱) چې کله آسان څرانده وي او نر او ماده دواړه وي او پر هغو کال تېرسوئ وي نو د دوئي ومالك ته اختیار دئ (۱) که خوښه سي دهر آس په بدله کې دي یو دینار ورکړي (۲) او که خوښه سي دهغه قیمت دي ولګوي او دهر دوه سوه درهم په بدله کې دي پنځه درهم ورکړي.

تشریح دغه آسان خو دجهاد لپاره نه دي او روزانه په کار هم راځي بلکه څرانده دي او دنسل د افزائش لپاره دي نو ځکه د دې دزکوٰة د ادآءکولو دوه صورتونه د. یو دا چې دهر آس په بدله کې یوه دینار ورکي. دوم صورت دادئ چې دهر آس قیمت ولګوي هرځو چې ددوئي قیمت وي دهر دوه سوه درهم په مقابله کې پنځه درهم زکوٰة ورکي. ددې دلیل دا حدیث دئ عَن جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي الخَيلِ السَّائِمَةِ فِي كُلِّ فَرَسٍ دِينَارٌ تُؤَدِّيهِ (الف) (دارقطني ۱۸،باب زكوٰة مال التجارة وسقوطهاعن الخيل والرقيق ج۲ ص۱۰۹ نمبر۲۰۰۰ \سنن للبيهقي. باب من رائ في الخيل صدقة ج۴ كتاب الزكوٰة ص۲۰۲ نمبر۷۴۱۹)ددې حدیث څخه ثابت سوچې په څرانده آسانو کې دهر آس په بدله کې دي یو دینار زکوٰة ورکي. او په دوه سوه درهم کې پنځه درهم زکوٰة لازم دي نو ځکه و مالك ته دا اختیار سته چې قیمت یې ولګوي دهر دوه سوه درهم څخه پنځه درهم ادآءکړئ.

[۴۷۵](۲) د امام ابوحنیفه په نېز صرف په نرو آسانو کې زکوٰة نسته.

تشریح چې صرف نر آسان وي نو تَوَالُد او تناسُل به نه وي او نسل یې نه زیاتیږي نو ځکه زکوٰة هم نه دئ واجب. او چې مُذَكّر او مُؤَنّث دواړه وي نو بیا خو نسل زیاتیږي نو زکوٰة به هم واجب وي.

[۴۷۶](۳) صاحبین فرمائي چې په آس کې زکوٰة نسته.

تـشريـح دنسل افزائش کونکي آسانو کي زکوٰۃ نسته. خو کـه چيـري دتجـارت لپـاره آسـان وي نـو دهغـو پـه قيمت کي په هر دوه سوه درهم کي پنځه درهم زکوٰة لازم دئ.

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل په څرانده آسانو کي په هر آس کي به يو دينار ادآء کيږي
لاَ زَكٰوةَ فِي الخَيلِ [۴۷۷](۴) وَلاَ شَيئَ فِي البُغَالِ وَالحَمِيرِ اِلاَّ اَن تَكُونَ لِلتِّجَارَةِ [۴۷۸](۵) وَلَيسَ فِي الفَصلاَنِ وَلاَ الحَملاَنِ وَالعَجَاجِيلِ زَكٰوةٌ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٌ اِلاَّ اَن يَّكُونَ مَعَهَا كِبَارٌ .

ځکه چي دا اوس دتجارت مال وګرزېدئ او دتجارت په مال کي زکوٰة سته.

وجـه د دوئي دليل دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ لَيسَ عَلىٰ المُسلِمِ فِي فَرَسِهِ وَغُلاَمِهِ صَدَقَةٌ (الف) (بخاري شريف.باب ليس علي المسلم في فرسه صدقة ص۱۹۷نمبر۱۴۶۳\ابوداؤدشريف.باب صدقة الرقيقص۲۳۲نمبر۱۵۹۵)ددي حديث څخه معلوم سو چـي دمسلمان پـه آسانوکي زکوٰة نسته. امام ابوحنيفه فرمائي چي دا دجهاد او روزانه استعمالېدونکو آسانو په باب کي راغلئ دئ.

[۴۷۷](۴) په کَچَرُو(خَچَرُو)او خرو کي زکوٰة نسته مګر که چيري دتجارت لپاره و.

تـشريـح خره او کچر(خچر) چي دتجارت لپاره وي نوبيا خو دا اموالِ تجارت دي نوځکه دمالِ تجارت په اعتبـار د دوئي په قيمت کي به د هر دوه سوه درهم څخه پنځه درهم زکوٰة وي. لېکن که دتجارت لپاره نه وي بلکه دنسل د افزائش لپاره وي نوپه هغو کي زکوٰة سته .

وجـه ددي دليل دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ... قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَالحُمُرُ قَالَ مَا اُنزِلَ عَلَيَّ فِي الحُمُرِ شَيئٌ اِلاَّ هٰذِهِ الآيَةُ الفَاذَّةُ الجَامِعَةُ فَمَن يَّعمَل مِثقَالَ ذَرَّةٍ خَيراً يَّرَهُ وَمَن يَعمَل مِثقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهُ (ب) (مسلم شريف،باب اثم مانع الزکوٰة ص۳۱۹نمبر۹۸۷\مصنف بن عبدالرزاق،باب الحمرج۴ص۳۱نمبر۶۸۷۱)ددي حديث څخه معلوم سو چي په خرو کي زکوٰة نسته او کچر(خچر)هم دخره يوقسم دئ نو ځکه په دي کي هم زکوٰة نسته .

[۴۷۸](۵) د وُښي په بچانو،د وُزُو په بچانو او دغُواو په بچانو کي دامام ابوحنيفه او امام محمد په نېز زکوٰة نسته مګر دا چي د دوئي سره د دوئي لُويان(غټان)وي.

تـشريـح ددي کشنيانو سره لُويان وي نو کشنيان به دلُويانو تابع سي او زکوٰة به لازم سي. لېکن کـه لُويـان نـه وي نو دنسل د افزائش هيڅ امکان نسته بلکه کشنيان به غټ سي لېکن تعداد به نه سي زيات نو ځکـه پـه دي کـي زکوٰة نسته .

وجـه دليـل يـي دا اثـر دئ عَنِ الحَسَنِ قَالاَ لاَ يَعتَدُّ بِالسَّخلَةِ وَلاَ تُوخَذُ فِي الصَّدَقَةِ (ج) (مصنف ابن ابي شيبة۲۴ السخلة تحسب علي صاحب الغنم ج۲ ص۳۶۷نمبر۹۹۸۲\سنن للبيهقي.باب يعدعليهم بالسخال التي نتجت ج۴ص۱۷۲نمبر۷۳۱۴) ددي اثر څخـه معلـوم سـو چـي د وُزو بچيان(مرغُونان)پـه زکـوٰة کـي نـه شـمارل کيـږي.او پـر دغـه بانـدي قيـاس د وُښـي پـر بچيانو(جونګيانو)او د غُوا پر بچيانو(سُخوندران اوسُخوندرو)باندي به هم زکوٰة نـه وي تـر څـو چـي د دوئـي سـره لُويان(غټان)نه وي.

حاشيه : (الف) پر مسلمان باندي دده په اس او مرئي کي زکوٰة نسته (ب) حضور وفرمائل ... پوښتنه وسوه ائ دخدائ پيغمبـره د خـره پـه باب کي څه حکم دئ ؟ حضور وفرمائل پر ما باندي دخره په باب کي هيڅ حکم نـه دئ نـازل سـوئ. مګر دا جـامع آيـت دئ . څوك چـي ديوي ذَرّي برابر دخير عمل کوي هغه به دئ ويني او څوك چي ديوي ذَرّي برابر بد عمل کوي هغه بـه دئ ويني (ج) دحسن څخـه نقل سوي دي وفرمائل چي د وُزي کشنئ بچئ(مرغُونئ يا سپرله)دي نه شميرل کيږي او نه دي هغه په زکوٰة کي اخستل کيږي.

[۴۷۹](۶) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ تَجِبُ فِيهَا وَاحِدَةٌ مِّنهَا [۴۸۰](۷) وَمَن وَجَبَ عَلَيهِ مُسِنٌّ فَلَم يُوجَدُ اَخَذَ المصَدِّقُ اَعليٰ مِنهَا وَرَدَّالفَضلَ اَواَخَذَ دُونَهَا وَاَخَذَ الفَضلَ .

لُـغت : اَلفَصلاَن : دفصيل جمع ده د وُښي بچيان. اَلحَملاَن : د حمل جمع ده د وُزې بچيان. اَلعَجاجِيل : د عَجُـول جمع ده د غُواو بچيان.

[۴۷۹](۶) امام ابويوسف وفرمائل په دي کي يو بچئ لازم دئ.

تـشريـح يعني که د دېرش غُواو بچيان وي نو پـه دي کـي يـو بچـئ لازم دئ ددې څخـه پـه کم(لږ)کـي نـه ده دئ لازم. ځکه چې که تر دېرش کم(لږ)غټي غُواوي يا غُويان وي نو هم زکوٰة نه لازميږي نـو چـي کشـني بچيـان تـر دېرش کم(لږ)وي به څه رنګه زکوٰة لازميږي ؟ دغه رنګه چې دځلويښتو وُزُو مَرغُونـان وي نـو پـه هغـه کـي يـو بچئ(مرغُونئ) لازم دئ. ځکه چې دلوئ وُزُو دغـه نصـاب دئ. او کـه د وُزُو بچيـان تـر څلوېښت کم(لـږ)وي نـو زکوٰة نه لازميږي. دغه رنګه د وُښي جُونګيان پنځه ويشت(۲۵)وي نو په هغو کـي يـو جـونګئ لازم دئ کـه ددې څخه کم(لږ)وي نو هيڅ شئ نه دئ لازم.

وجـه د دوئي دليل دا اثر دئ عَن عَطَاءٍ قَالَ قُلتُ لَهُ يُعَدُّ بِالصِّغَارِ اَولاَدُ الشَّاةِ ؟ قَالَ نَعَم (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۲۴ السخلة تحسب عليٰ صاحب الغنم.ج۲ ص۳۶۸نمبر۹۹۸۳) ددې اثر څخه معلوم سو چې د وُزُو مَرغُونان بـه هـم شـمارل کيږي او دهغو زکوٰة لازم دئ.

[۴۸۰](۷) پـر يـو سـړي مُسِـنّه لازم وه او دمالـك سـره مُسِـنّه نسـته نـو زکـوٰة اخسـتونکي دي دده څخـه بنـه حيوان(بُـودِن)واخلي او چـي کـوم زائـد يـي اخسـتئ دئ دهغـه پيسـي دي واپـس ورکړي.يـا دي دمُسـنّي څخـه کم(کمزورئ)واخلي او چې کوم زيات سي هغه دي دمالك څخه واخلي.

تـشريـح مثلاً ديوه کال سُخوندرکئ بِنتِ مَخاض لازم سوئ و.لېکن دمالك سره بِنتِ مخـاض نـه و بلکـه د دو کـالو سُخوندربِنتِ لَبُون ورسره و.چې دهغه قيمت په عام توګه دبِنتِ مخـاض څخـه شـل(۲۰)درهـم زيـات يـا دوې وُزې زيات جورېدئ نو زکوٰة اخستونکئ دي دمالك څخه بِنتِ لَبُون واخلي او کوم چې دبِنتِ مخاض څخه شل(۲۰)درهم زيات راغلي دي هغه دي ومالك ته واپس ورکي. دوم صورت يي دادئ چې مالك دي دبِنـتِ مخـاض څخـه کـم پـه خپله واخلي او دبِنتِ مخاض او دهغه ادنيٰ په مابين کي چې دقيمت کوم فرق دئ مثلاً شل(۲۰)درهم يـا دوې وُزې هغه دي هم دمالك څخه وصول کي چې زکوٰة سره برابر سرابر سي.او په دغه رنګه قيمـت سـره زکـوٰة وصـولول جائز دئ ددې دليل (۱)دا حديث دئ اَنَّ اَبَابَكرٍ كَتَبَ لَهُ اَلَّتِي اَمَرَاللهُ وَرَسُولُهُ وَمَن بَلَغَت صَدَقَتُهُ بِنتُ مَخاضٍ وَلَيسَت عِندَهُ وَعِندَهُ بِنتُ لَبُونٍ فَاِنَّهَا تُقبَلُ مِنهُ وَيُعطِيهِ المصَدِّقُ عِشرِينَ دِرهَمًا اَو شَاتَينِ فَاِن لَم يَكُن عِندَهُ بِنتُ مَخاضٍ عَليٰ وَجهِهَا وَعِندَهُ بِنتُ لَبُونٍ فَاِنَّهُ يُقبَلُ مِنهُ وَلَيسَ مَعَهُ شَيئٌ (ب) (بخاري شريف.باب العروض في الزکوٰة ص۱۹۴\۱۹۵\ابوداؤدشريف.باب زکوٰة السائمة ص۲۲۵نمبر۱۵۶۷، په اول حديث کي دئ \بخاري شريف.باب من بلغت عنده صدقة بنت مخاض وليست عنده ص۱۹۵ نمبر۱۴۵۳) ددې حديث څخه معلوم سو

حاشيه : (الف) حضرت عطاء وفرمائل ما پوښتنه ځني وکړه آيا د وُزې کشني مرغُونان بـه شمارل کيږي ؟ وفرمائل هو | (ب) حضرتابوبکر هغه ولېکل کوم چې الله او دهغه رسول حکم کړئ و چې دکوم چا زکوٰة وبِنتِ مخـاض تـه ورسيږي او دهغـه سـره بنـت مَخَاض نه وي بلکه دهغه سره بنت لَبُون وي نو هغه به ځني قبوله کيږي او زکوٰة اخستونکئ به ومالك ته شل(۲۰)درهم واپس ورکـوي يـا به دُوې وُزې ورکوي. او که دده سره بنت مخاض دارنګه نه وي بلکه اِبنِ لَبُون وي نو هغه به قبلول کيږي او دهغه سره بـه هـيڅ شـئ نـه وي.

[۴۸۱](۸) وَيَجُوزُ دَفعُ القِيَمِ فِي الزَّكوٰةِ [۴۸۲](۹) وَلَيسَ فِي العَوَامِلِ وَالحَوَامِلِ وَالعَلُوفَةِ زَكوٰةٌ .

چې پر مالك بِنتِ مَخاض لازم وي او دده سره بِنـتِ مخـاض نـه وي نـو دده څخـه دي بِنـتِ لَبُـون واخلـي او زکـوٰة اخستونکئ دي ومالك ته شل(۲۰)درهم ورکړي يا دي دوې وُزې ورکي چې په رنګه به ګواکه بِنـتِ مَخَـاض ځنـي جوړه سي.ددې حديث څخه دا هم معلوم سو چې کـوم حيـوان لازم سـوئ وي دهغـه پـه بدلـه کـي دهغـه قيمـت هـم ورکولائي سي (۲) ديو بل اثـر څخـه هـم ددې تائيـدکيږي قَالَ مُعَاذٌ لاَهلِ اليَمَنِ اِئتُونِي بِعَرضِ ثِيَابٍ خَمِيصٍ اَو لَبِيسٍ فِي الصَّدَقَةِ مَكَـانَ الشَّـعِيرِ وَالـذَّرَّةِ اَهـوَنُ عَلَـيكُم وَخَـيرٌ لاَصـحَابِ النَّـبِيِّ صَـلَّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَـلَّمَ بِالمدِينَـةِ (الـف) (بخـاري شـريف.باب العـروض في الزکـوٰة

ص۱۹۴نمبر۱۴۴۸)په دې اثر کې حضرت معاذ د جَوَارَيُو او بَاجَرَيُو په بدله کې کپړې اخستې دي.ددې څخه دا معلوم سوچې کوم شئ واجب سوئ وي دهغه قیمت دي ولګوي بل شئ یا روپئ اخستلائې سي.

لـغـت : اَلمُصَدِّقُ . زکوٰة اخستونکئ، اَلفَضلُ : چې کوم قیمت زیات وي.

[۴۸۱](۸) په زکوٰة کې دشي قیمت ورکول جائز دئ.

وجه ددې دلیل په مسئله نمبر اُوه(۷)کې تېر سوئ دئ.

[۴۸۲](۹) کارکونکي،پیټي پورته کونکي اوپر کور باندي خوراك کونکي حیوانانوکي زکوٰة نسته.

وجـه هغه حیوان چې دکور دکار لپاره وي یا دپیټي پورته کولو لپاره وي پـه هغـو کـي زکـوٰة نسـته. ددې دلیـل دا حـدیث دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ زُهَيرٌ اَحسِبُهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ... وَلَيسَ عَلَي العَوَامِلِ شَيئٌ (ب) (ابوداؤدشریف.باب زکوٰة السائمة ص۲۲۸نمبر۱۵۷۲\دارقطني۶ لي في العوامل صدقة ج۲ص۸۸نمبر۱۹۲۱) ددې حدیث څخه معلوم سو چې پـه کارکونکوحیوانـانو کي زکوٰة نسته. او عَلُوفَه یعني دکال په ډېره برخه کې پر کور خوراك کوي ژونـد تېـروي پـه هغـه کـي هـم زکـوٰة نسته ددې دلیل دا اثر دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ لَيسَ فِي غَنَمِ الرَّبَائِبِ صَدَقَةٌ (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۳ في الرجل تكون له الغنم في المصر يحتلبها ج۲ ص۳۶۷ نمبر۹۹۸۱) ددې اثر څخه معلوم سو چې وکومه وُزه ته پر کـور خـوراك ورکـوي ګـرزوي یـې پـه هغه کې زکوٰة نسته. او پر دغه باندې قیاس که نور کوم حیوانان چې پر کور خوراك ورکـوي ګـرزوي یـې دهغـو څخه هم دنسل افزائش نه کیږي مال نه زیاتیږي بلکه دمالك مال په حیـوان کـي شـاملیږي نـو ځکـه پـه دي کـي هـم زکوٰة نسته. د زکوٰة په حدیثو کې په هر ځائ کې د سَائِمةٌ لفظ راغلئ دئ ددې څخه هم معلـوم سـو چـې پـه څرانـده حیوانانو کې زکوٰة سته. پر کور خوراك کونکو حیوانان کې زکوٰة نسته. (بخاري شریف.نمبر۱۴۵۴)

لـغـت : اَلعَوَامِلُ .د عامل جمع ده کار کونکي حیوانان. اَلحَوَامِلُ : د حامل جمع ده پیټي پورته کـونکي حیوانـان. اَلعَلُوفَةُ : کوم حیوانان چې په کور کې خوراك ورکوي ګرزوي یې.

حاشیه : (الف) حضرت معاذ دیمن وخلګو ته وویل چې وما ته خمیص کپړه،د اغوستونکو کپړو سامان راکـئ د جُوَارَيُو او بَـاجَرَيُو پـر ځائ. دا ستاسو لپاره آسانه دئ او په مدینه کې د اصحابِ رسول لپاره بهتر(ښه)دئ (ب) حضور وفرمائل پر کـار کونکـو حیوانـانو باندې هیڅ شئ نسته (ج) حضرت ابراهیم وفرمائل پر پاللو وُزُو باندې زکوٰة نسته.

[۴۸۳](۱۰) وَلاَ يَاخُذُ المصَدِّقُ خِيَارَ المالِ وَلاَ رَذَالَتُهُ وَ يَاخُذُ الوَسطَ [۴۸۴](۱۱) وَمَن كَانَ لَهُ نِصَابٌ فَاستَفَادَ فِي اِثنَآءِ الحَولِ مِن جِنسِهِ ضَمَّهُ اِلَيٰ مَالِهِ وَزَكَّاهُ بِهِ .

---

[۴۸۳](۱۰) زکوٰة اخستونکئ به نه د اعلیٰ درجي مال اخلي او نه دکمي درجي. بلکه درمیانه درجي مال به اخلي.

وجـه (۱) دا دشریعت انصاف دئ چې نه دي داعلیٰ درجـي مـال اخلـي نـه دي د ادنـیٰ درجـي مـال اخلـي بلکـه د درمیانه درجي مال دي واخلي (۲) حدیث دئ اَنَّ اَنَسًا حَدَّثَهُ اَنَّ اَبَابَكرٍ كَتَبَ لَهُ الَّتِي اَمَرَاللهُ وَرَسُولَهُ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَلاَ يَخرُجُ فِي الصَّـدَقَةِ هَرِمَـةٌ وَلاَ ذَاتُ عَـوَارٍ وَلاَ تَـيسٍ اِلاَّ مَاشَـآءَ المصَـدِّقُ (الـف) (بخـاري شـريف.باب لايؤخـذفي الصـدقة هرمـة ولاذات عـوارٍ ولاتـيسٍ الاَّ ماشآءالمصدق ص۱۹۶نمبر۱۴۵۵\ابوداؤدشریف.باب زکوٰة السائمة ص۲۲۶نمبر۱۵۷۲)ددې حـدیث څخـه معلـوم سـو چـې اعلـیٰ او ادنیٰ مال به نه اخستل کیږي.بلکه اَوسَط حیوان به اخستل کیږي (۲) حـدیث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَـلَّمَ لَمَّـا بَعَـثَ مَعَـاذًا عَلَـي الـيَمَنِ ... وَ تَـوَقِّ كَـرَائِمَ اَمـوَالِ النَّـاسِ (ب) (بخـاري شـريف.باب لاتؤخـذكرائم امـوال النـاس في الصـدق ص۱۹۶نمبر۱۴۵۸)ددې حدیث څخه هم معلوم چې زکوٰة اخستونکئ به ښه او اعلیٰ مال نه اخلي.

[۴۸۴](۱۱) د چا سره چې دنصاب مال وي بیا دکال په مابین ددغه نصاب دجنس څخه فائده حاصله کړه نو دغه به دمال سره ملاؤوي او دهغه زکوٰة به ورکوي.

تشريح مثلاً څلويښت غُواوي ورسره موجودي وي چې د غُواؤ نصاب دئ او دکال په مابين کې د غُواو شل(۲۰)سُخوَندَرَان پيداسو اُوس دڅلويښتوغُواودنصاب زکوٰة ورکول و لېکن د شلو(۲۰) سُخوَندَرَانُو کال نه دئ پوره سوئ. صرف شپږ مياشتي سوي دي نو دغه شل(۲۰)سُخوَندرَان به هم د څلويښتو غُواو سره ملاؤوي او په روژه(روزه)کې به د شپيتو غُواو زکوٰة ورکوي.که څه هم پر شلو(۲۰)سُخوَندَرَانُو باندي کال نه دئ تېر سوئ.

وجه (۱) دغه شل(۲۰)سُخوَندَرَان دکال په مابين کې مالِ مُستَفَاد دئ. او جنس يې هم هغه دئ کوم چې دمالِ نصاب د دئ يعني غُواوي. نو حُکه د دوارو زکوٰۃ دي په روژه کي ورکي (۲) په اثر کي راغلي دي عَنِ الزُّهرِيِّ اَنَّهُ کَانَ يَقُولُ اِذَا اِستَفَادَ الرَّجُلُ مَالاً فَاَرَادَ اَن يُّنفِقَهُ قَبلَ مَجِيئِ شَهرِ زَکوٰتِهِ فَلْيُزَکِّهِ ثُمَّ لِيُنفِقهُ وَاِن کَانَ لاَيُرِيدُ اَن يُّنفِقَ فَلْيُزَکِّهِ مَعَ مَالِهِ (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۹من قال يزکيه اذا استفاد ج۲ص۳۸۷نمبر۱۰۲۲۷\مصنف عبدالرزاق،باب وجوب الصدقة في الحول ج۴ص۳۲نمبر۶۸۷۳)ددي اثر څخه معلوم سو چې په مالِ مُستفاد کي د مَالِ نِصاب سره يو ځاى زکوٰة واجب دئ.

پام لرنه که د نصاب څخه علاوه په مابين کي يو بل مال مُستفاد سي نو پر هغه باندي دکال تېرېدو وروسته زکوٰة واجب دئ .

فائده امام شافعي فرمائي تر څو چې پر مالِ مُستفَادباندي کال تېرنه سي ترهغوزکوٰة نه پرواجبيږي. دده دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن اِستَفَادَ مَالاً فَلاَ زَکوٰةَ عَلَيهِ حَتّيٰ يَحُولَ

حاشيه : (الف) حضرت انس فرمائي چې حضرت ابوبکر وليکل هغه چې الله وخپل رسول ته حکم ورکړئ و چې په زکوٰة کې دي(دېر)زور او ږوند نه ورکوئ او نه دي مِندَه ورکوي لېکن که چيري زکوٰة اخستونکئ وغواړي(خو دا بياجلا خبره ده.قطب) (ب) حضور چې کله حضرت معاذ يمن ته واستاوئ نو ورته وفرمائل ... دخلګو د بښه مال څخه ځان ګوره (ج) حضرت زهري به فرمائل چې سړئ مال مُستفاد کړي بيا اراده وکړي چې د زکوٰة دمياشتي د راتلوڅخه مخکې دا خرچ(مصرف)کړي نو ددې زکوٰة دي ورکې بيادي خرچ(مصرف)کې او که مصرف کول نه غُواړي نو دخپل مال سره دي د مُستفَاد زکوٰة هم ورکي.

[۴۸۵](۱۲) وَالسَّائِمَةُ هِيَ الَّتِي تَکتَفِي بِالرَّعيِ فِي اَکثَرِ الحَولِ فَاِن عَلَفَهَا نِصفَ الحَولِ اَو اَکثَرَ فَلاَ زَکوٰةَ فِيهَا [۴۸۶](۱۳) وَالزَّکوٰةُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَاَبِي يُوسُفَ فِي النِّصَابِ

عَلَيهِ الحَولُ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآء لازکوٰة علي المال المستفاد حتي حال عليه الحول ص۱۳۷نمبر۶۳۱\ دارقطني .باب وجوب الزکوٰة بالحول ج۲ص۷۷نمبر۱۸۷۷)ددي حديث څخه معلوم سو چې تر څو چې په خپله پر مالِ مُستفاد باندي کال نه سي تېر زکوٰة نه پر واجبيږي.

[۴۸۵](۱۲)سَائِمَةٌ وڅړانده حيوانانوته ويل کيږي چې دوئي دکال هغه ډېره برخه(حصّه)په څړانده(خپله خوله)باندي کفايت کوي،بس که چيري وحيوان ته نيم کال يادډېره حصّه(برخه)چاره(پر کور)په وخوړل نو په هغو کې زکوٰة نسته.

تشريح لوړ چې کوم تير سو چې په سَائِمَه حيوان کې زکوٰة سته نو اوس د سَائِمَه حيوان تشريح کوي. سَائِمَه حيوان يعني څړانده حيوان هغه ته ويل کيږي چې دکال شپږ مياشتي يا دشپږو مياشتوڅخه زيات پر خپله خوله وابنه خوري ژوند تېروي. لېکن که شپږ مياشتي يا دهغه څخه زيات په کور کي وابنه خوري ګزاره کوي نو وهغه نه عَلُوفَه ويل کيږي. او په عَلُوفَه کي زکوٰة نسته. دليل مخکي تېر سوئ دئ. او دا دليل هم دئ حَدَّثَنِي ثُمَامَةُ اِبنِ عَبدِاللهِ بِنِ اَنَسٍ اَنَّ اَنَسًا حَدَّثَهُ ... فَاِذَا کَانَت سَآئِمَةُ الرَّجُلِ نَاقِصَةٌ مِّن اَربَعِينَ شَاةً وَاحِدَةً فَلَيسَ فِيهَا صَدَقَةٌ (بخاري شريف.باب زکوٰة الغنم ص۱۹۵نمبر۱۴۵۴\ابوداؤدشريف.نمبر۱۵۷۰)په دي حديث کي د سَآئِمَةٌ لفظ راغلئ دئ نو حُکه په سَائِمَه کي زکوٰة واجب دئ.

لغت : اَلرَّعيُ : د وابنوخَرَل. عَلَف : د کور چاره(وابنه وغيره)خوړل.

[۴۸۶](۱۳) زکوٰة د امام اَبُوحَنِيفَه او امام اَبُويُوسُف په نېز په نصاب کي دئ په عَفوَ کي نه دئ او امام زفر او امام مُحَمّد فرمائي په دوارو کي واجب دئ.

تشريح مثلاً په دوه سوه درهم کي زکوٰة واجبيږي او ديو سړي سره دوه سوه دېرش(۲۳۰) درهم وي نو د امام اَبُوحَنِيفَه او امام اَبُويُوسُف رايه داده چې زکوٰة په دوه سوه درهم کي پنځه درهم واجب دي. دا پاته دېرش(۳۰)درهم عَفوَ دي زائد دي پر دې زکوٰة نه واجبيږي دا مُعاف دي.نو دکال دتېرېدو وروسته که

دېرش(۳۰)درهم هلاك(ضائع)سي نو پر دوه سوه درهم چي کوم پنځه درهم زکوٰة واجب سوئ وپه هغه کي هيڅ کمئ نه راځي پنځه درهم به بيا هم ورکوي. او دامام مُحَمّد او امام زُفَر په نېز پر عَفوَ هم زکوٰة واجب دئ نو ګواکه پر دوه سوه دېرش(۲۳۰)درهم پنځه درهم واجب سوي دي نو ځکه دېرش(۳۰)درهم هلاك(ضائع)سو نو په دغه حساب سره په پنځه درهم زکوٰة کي د پنځه شپېته(۶۵) پيسوکمي راځي. او څلور درهم پنځه دېرش(۳۵)پيسي زکوٰة واجبيږي.

وجه دشپخينو امامانو دليل داحديث دئ عَن مُعَاذٍاَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَمَرَهُ حِينَ وَجَّهَهُ اِلِيَ اليَمَنِ اَن لاَّ تَاخُذَمِنَ الكَسرِشَيئًااِذَاكَانَتِ الوَرَقُ مِائَتَي دِرهَمٍ فَخُذمِنهَاخَمسَةَ دَرَاهِمَ وَلاَتَاخُذمِمَّازَادَشَيئًاحَتّيٰ تَبلُغَ اَربَعِينَ دِرهَمًاوَاِذَا بَلَغَ اَربَعِينَ دِرهَمًا فَخُذ مِنهُ دِرهَمًا (ب) (دارقطني۳ باب ليس في الكسرشيئ ص۸۰نمبر۱۸۸۶)ددي حديث څخه معلوم سو چي د دوه سوه درهم وروسته تر څو چي څلوېښت درهم نه سي تر هغو په زکوٰة کي هيڅ کمي نه کيږي.

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل که يو چا مال مُستفاد کړئ نو پر هغه باندي زکوٰة نسته تر هغو چي پر دي کال تير سي.
(ب) حضور چي حضرت معاذ ويمن ته متوجه کئ نو حضور وده ته حکم وکئ چي په کسر کي څه مه ځني اخله. چي سپين زر دوه سوه درهم سي نو په هغو کي پنځه درهم واخله. او چي کوم زيات سي په هغه کي هيڅ مه اخله. تردي چي وځلوېښت(۴۰)درهم ته ورسيږي. او چي وځلوېښت(۴۰)درهم ته ورسيږي نو په هغه کي يو درهم واخله

دُونَ العَفوِ وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ تَجِبُ فِيهِمَا [۴۸۷](۱۴) وَاِذَا هَلَكَ المالُ بَعدَ وُجُوبِ الزَّكوٰةِ سَقَطَت [۴۸۸](۱۵) وَاِن قَدَّمَ الزَّكوٰةَ عَلَيٰ الحَولِ وَهُوَ مَالِكٌ لِلنِّصَابِ جَازَ .

فائده امام مُحَمّددليل دادئ چي اصل نصاب اوعَفوَدواړه دالله نعمتونه دي نوځکه زکوٰة پر دواړو لازم دئ.نو لدي کبله چي کله عَفوَ هلاك(ضائع)سوه نودزکوٰة يوڅه حصّه دحساب څخه ساقط سوه.

وجه په حديث کي دئ . فَاِذَا كَانَت مِائَتَي دِرَاهِمَ فَفِيهَ خَمسَةُ دَرَاهِمَ فَمَا زَادَ فَعَلَيٰ حِسَابِ ذَالِكَ (ابوداؤدشريف.باب في زكوٰة السائمة نمبر۱۵۷۲\مصنف ابن ابي شيبة.۱۵ في الزيادة في الفريضة ج۲ص۳۶۴نمبر۹۹۴۷)ددي حديث څخه معلوم سو چي کوم زائد وي په زکوٰة کي به هغه هم حسابيږي.

[۴۸۷](۱۴) د زکوٰة د واجبيدو وروسته که مال هلاك(ضائع)سي نو زکوٰة به ساقط سي.

تشريح پر نصاب باندي کال تير سو چي دهغه په وجه زکوٰة واجب سو او د ادآء کولو قدرت يې هم پيدا کئ لېکن و نن سَبا نن سَبا ته کاوئ په ټال متول کي مال هلاك(ضائع)سو نو د احنافو په نېز زکوٰة ساقطيږي.او که په قصد سره مال هلاك(ضائع)کئ نو زکوٰة به پر خپل ځائ واجب پاته وي.

وجه دزکوٰة محل مال وچي محل پرخپل ځائ پاته نه سونوزکوٰة به پرچا لازميږي.لکه جنايت کونکئ مريئ چي مړسي نومَولي به چش حواله کوي.دمولي څخه ضمان ساقطيږئ.دغه رنګه دمال دهلاکت وروسته زکوٰة ساقطيږئ.اوکه چيري نيمئ مال هلاك سي نونيمئ زکوٰة به ساقط سي. ددي يو مثال داقول هم دئ عَن عَطَآءٍ فِي الرَّجُلِ اِذَااَخرَجَ زَكوٰةَ مَالِهِ فَضَاعَت اَنَّهَاتَجزِي عَنهُ(ب)مصنف ابن ابي شيبة۸۹ ماقالوافي الرجل اخرج زكوٰة ماله فضاعت ج۲ص۴۰۸)ددي اثرڅخه معلوم سوچي که دزکوٰة مال استلئ وي بيامال هلاك سونوهغه کفايت کوي نوچي کله بياپوره مال هلاك سوئ وي خوبطريقهٔ اوليٰ به زکوٰة ساقط سي.

فائده امام شافعي فرمائي چي زکوٰة خو واجب سوئ و نو ځکه د مال دهلاکت څخه وروسته به هم زکوٰة واجب پاته وي. لکه څه رنګه چي د صَدَقَةُ الفِطر د واجبيدو وروسته مال هلاك(ضائع)سي بيا هم صَدَقَةُ الفِطر پر خپل ځائ واجب پاته وي.

وجه عَن مُغِيرَةَ عَن اَصحَابِهِ قَالُوا : اِذَا اَخرَجَ زَكوٰةَ مَالِهِ فَضَاعَت فَلْيُزَكِّ مَرَّةً اُخريٰ (مصنف ابن ابي شيبة ۸۹ ماقالوا الرجل اخرج زكوٰة ماله فضاعت ج۲ص ۴۰۸نمبر۱۰۴۸۸) ددي اثر څخه معلوم سو چي دوباره دي بيا ادآء کي.

[۴۸۸](۱۵)که دکال دپوره کېدومخکي زکوٰة ورکئ اوحال دادئ چي دئ دنصاب مالك دئ نوجائز دئ . تشريح يو سړئ دنصاب مالك دئ لېکن پر دي نصاب باندي کال نه دئ تېرسوئ او دئ اُوس زکوٰة ادآء کول غواړي نو جائز دئ.زکوٰة ادآءکيږي.

وجه (۱) مالِ نصاب اصل سبب دئ او هغه موجود دئ نوځکه زکوٰة ادآءکیږي (۲) په حدیث کي دئ عَن عَلِيٍّ اَنَّ العَبَّاسَ سَئَلَ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي تَعجِيلِ الصَّدَقَةِ قَبلَ اَن تَحِلَّ فَرَخَّصَ لَهُ فِي ذَالِكَ (ب) (ابوداؤدشريف .باب في تعجيل الزكوٰة ص۲۳۶نمبر۱۶۲۴\ترمذي شريف.باب ماجآءفي تعجيل الزكوٰة ص۱۴۶نمبر۶۷۸)ددي حديث څخه معلوم سو چي د کال دتېرېدو څخه مخکي زکوٰة ادآءکولائي سي ځکه چي وحضرت عباس ته ددي اجازت ورکړئ و.

حاشيه : (الف) دحضرت عطآء څخه نقل سوي دي چي يو سړئ دخپل مال زکوٰة وباسي بيا زکوٰة ضائع سي نو دده څخه دغه کفايت کوي (ب) حضرت عباس دحضور څخه د زکوٰة ژر ورکولو په باب پوښتنه وکړه د وخت د راتلو څخه مخکي نو حضور په دي لړ کي اجازت ورکئ.

(بَابُ زَكٰوةِ الفِضَّةِ)

[۴۸۹](۱) لَيسَ فِيمَا دُونَ مِائَتَي دِرهَمٍ صَدَقَةٌ فَاِذَا كَانَت مِائَتَي دِرهَمٍ وَحَالَ عَلَيهَا الحَولُ فَفِيهَا خَمسَةُ دَرَاهِمَ [۴۹۰](۲) وَلاَ شَيئَ فِي الزِّيَادَةِ حَتّٰي تَبلُغَ اَربَعِينَ دِرهَمًا فَيَكُونُ فِيهَا دِرهَمٌ ثُمَّ فِي كُلِّ اَربَعِينَ دِرهَمٌ دِرهَمٌ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ .

(بَابُ زَكٰوةِ الفِضَّةِ)

ضروري پام لرنه د فِضَّةٌ معنيٰ ده سپين زر. دلته دفِضَّةٌ څخه درهم،دسپينو زرو زېور او دسپينو زرو لوښي مراد دي. د احنافو په نېز په دي تولو شيانو کي زکوٰة سته. دليل يې دا حديث دئ اَنَّ اِمرَاَةً اَتَت رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهَا اِبنَةٌ لَّهَا وَفِي يَدِ اِبنَتِهَا مِسكَتَانِ غَلِيظَتَانِ مِن ذَهَبٍ فَقَالَ اَتَعطِينَ زَكٰوةُ هٰذَا؟ قَالَت لاَ قَالَ اَيَسُرُّكِ اَن يُّسَوِّرَكِ اللهُ بِهِمَا يَومَ القِيَامَةِ سِوَارَينِ مِن نَّارٍ؟ قَالَ فَخَلَعَتهُمَا وَاَلقَتهُمَا اِلَي النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَقَالَت هُمَا لِلّٰهِ وَرَسُولِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الكنزماهو وزكوٰة الحُلِيِّ ص۲۲۵نمبر۱۵۶۳) ددي حديث څخه معلوم سو چي د زېور زکوٰة هم لازم دئ.

[۴۸۹](۱) د دوه سوه درهم څخه په کم(لږ)کي زکوٰة نسته.بس چي کله دوه سوه درهم سي او پر هغه کال تير سي نو په هغه کي پنځه درهم دي.

وجه په حديث کي موجود دي چي تر دوه سوه په کم(لږ)کي زکوٰة نسته. سَمِعتُ اَبَا سَعِيدِالخُدرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ لَيسَ فِيمَا دُونَ خَمسِ ذَوَدٍ صَدَقَةٌ مِّنَ الاِبِلِ وَ لَيسَ فِيمَا دُونَ خَمسِ اَوَاقٍ صَدَقَةٌ (ب) (بخاري شريف.باب زكوٰة الورق ص۱۹۴نمبر۱۴۴۷\ابوداؤدشريف.نمبر۱۵۷۲)ددي حديث څخه معلوم سو چي د دوه سوه درهم څخه په کم(لږ)کي زکوٰة نسته. ځکه چي يوه اَوقِيَه څلوېښت درهم ده نو پنځه اَوقِيې دوه سوه درهم سو.

[۴۹۰](۲) بيا د دوه سوه درهم څخه په زيات کي هيڅ شئ نسته تر دې چي څلوېښت درهم سي،نو په څلوېښت درهم کي يو درهم دئ.بيا په هر څلوېښت درهم کي يو درهم دئ د امام ابوحنيفه په نېز.

تشريح د امام ابوحنيفه په نېز د دوه سوه درهم وروسته تر هغه وخت پوري هيڅ شئ نه لازميږي تر څو چي څلوېښت درهم نه سي. خو که څلوېښت درهم سي نو بيا په هغه کي يو درهم لازم دئ.

وجه دده دليل دا حديث دئ عَن مُعاذٍ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَمَرَهُ حِينَ وَجَّهَهُ اِلَي اليَمَنِ اَن لاَّ تَاخُذَ مِنَ الكَسرِ شَيئًااِذَا كَانَتِ الوَرَقُ مِائَتَي دِرهَمٍ فَخُذ مِنهَا خَمسَةَ دَرَاهِمَ .وَلاَ تَاخُذْ مِمَّا زَادَ شَيئًا حَتّٰي تَبلُغَ اَربَعِينَ دِرهَمًا وَاِذَا بَلَغَ اَربَعِينَ دِرهَمًا فَخُذ مِنهَا دِرهَمًا (ج) (دارقطني۳.باب ليس في الكسرشيئ ج۲ص۸۰نمبر۱۸۸۶\سنن للبيهقي.باب ذكرالخبرالذيرُوي في وقص الورق ج۴ص۲۲۸نمبر۷۵۲۴)ددي حديث څخه معلوم سو چي د دوه سوه درهم وروسته تر څو چي څلوېښت

حاشيه : (الف) يوه ښځه حضور ته راغله او ددي سره يوه بچي(انجلي)ورسره وه او دهغه بچي په لاسو باندي د سرو زرو دوه پنډېنډ منګړيان(کړي)و نو حضور وفرمائل آيا ددي زکوٰة ادآء کوي؟ دي وويل نه . حضور وفرمائل آيا دا به ته خوښ کي چي الله ددي په وجه دوه د اور منګړيان درواغوندي. راوي فرمائي چي دي ښځي دواړه منګړيان خلاص کړه او دحضور ومخته واچول(کښېنول)او وويل دا ښځه دالله او دهغه درسول لپاره دي (ب) حضور وفرمائل د پنځه وُښانو څخه په کم(لږ)کي زکوٰة نسته او د پنځه اَوقِيې څخه په کم(لږ)کي زکوٰة نسته (ج) چي کله حضرت معاذ ديمن پر لوري واستاوئ نو حضور ورته وفرمائل چي په کَسر کي څه مه اخله.چي

سپين زَر دوه سوه درهم سي نو په هغه کي پنځه درهم اخله.او چي کوم زيات سي په هغه کي هيڅ مه اخله. تردي چي څلوېښت درهم تـه ورسيږي نو په هغه کي يو درهم اخله

[۴۹۱](۳) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ مَازَادَ عَلىٰ المِائَتَينِ فَزَكوتُهُ بِحِسَابِهِ [۴۹۲](۴) وَاِن كَانَ الغَالِبُ عَلىٰ الوَرَقِ الفِضَّةُ فَهُوَ فِي حُكمِ الفِضَّةِ [۴۹۳](۵) وَاِن كَانَ الغَالِبُ عَلَيهِ الغَشُّ فَهُوَ فِي حُكمِ العُرُوضِ وَيُعتَبَرُ اَن تَبلُغَ قِيمَتُهَا نِصَابًا .

درهم ته نه وي رسېدلي نوپه دې کسر(يعني دا دمنځ په عدد)کي هيڅ شئ نـه دئ لازم.لـېکن کـه چيـري څلوېښت درهـم سـو نـو بيـا يـو درهـم لازم دئ. پـه ابوداؤدشـريف کـي دئ .عَن عَلِيٍّ ... هَاتُوا رُبعَ العُشُورِ مِن كُلِّ اَربَعِينَ دِرهَمًا دِرهَمٌ (ابوداؤدشريف ص۲۲۷نمبر۱۵۷۲)

[۴۹۱](۳) او صاحبينو وفرمائل چي د دوه سوه درهم څخه چي څه زيات سي نو دهغه زکوٰة پـه خپـل حسـاب سـره دئ .

تـشريـح مثلاً د دوه سوه درهم څخه يو درهم زيات سي نو په يوه درهم کي د يوه درهم څلوېښتمه برخه(حصّه)ب لازم وي. او په لس(۱۰)درهم کي به ديوه درهم څلورمه حصّه(برخه)لازم وي.

وجـه د دوئي دليل دا حـديث دئ عَن عَاصِمِ بنِ حَمزَةَ وَعَنِ الحَارِثِ الاَعوَرِ عَن عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ زُهَيرٌ اَحسِبُهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَاتُوا رُبعَ العُشُورِ مِن كُلِّ اَربَعِينَ دِرهَمًا دِرهَمٌ وَلَيسَ عَلَيكُم شيئٌ حَتّٰى تَتِمَّ مِائَتَي دِرهَمٍ فَاِذَا كَانَت مِائَتَي دِرهَمٍ فَفِيهَا خَمسَةُ دَرَاهِمَ فَمَازَادَ فَعَلىٰ حِسَابِ ذَالِكَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في زَكوٰة السآئمة ص۲۲۷نمبر ۱۵۷۲\سنن للبيهقي.باب وجوب ربع العشري نصابها وفيمازاد عليه وان قلّت الزيادة ج۴ص۲۲۷نمبر۷۵۲۱)په دې حديث کي دئ چي تر دوه سوه درهم چي هرڅوزيات سي دهغـه زکـوٰة پـه خپـل حسـاب سـره لازم دئ. نـو ځکـه پـه هـره روپيئ(روپي)کـي پـه خپـل حسـاب سـره څلوېښـتمه حصّه(برخه)لازم ده.پر کليکيولېټر سره څلوېښتمه حصّه ۰.۰۲۵ راځي .

[۴۹۲](۴) که غالب سپين زَر وي نو دا دسپينوزَرو په حکم کي دي.

تـشريـح درهم او دنانير جوړولو پلاره خالص سپين زَر په کار نه راوړل کيږي بلکه په هغه کي څه نه څه کُټ ملاوېدل ضروري وي. چي څه سخت سي او درهم يا دنانير ځني جوړ سي. نو ځکه اصل معيار يې دا جوړ کړئ دئ چي سره زَر يا سپين زَر يې زيات وي نو هغه د مکمّل سروزرو او سپينو زرو په حکم کـي دي. او کـه زيـات کُټ(ملاوټ)وي نو دا دسامان په حکم کي دي.

لـغـت : اَلوَرَقُ .دسپينوزرو سِکّه.

[۴۹۳](۵) او که پر سپينوزَرو يا پر سروزرو باندي غالب کُټ وي نو هغه دسامان په حکم کي دي. پـه دي کـي بـه دا معتبر وي چي ددې قيمت ونصاب ته ورسيږي.

تـشريـح کُټ غالب دي لېکن چي اندازه يې ولګوي نو تر دوه سوه درهم پوري سپين زَر به ځنـي راووزي او تـر نصاب پوري به ورسيږي نو په دي کي هم زکوٰة واجب دئ. ځکه چي که څه هم دکُټو دغلبي پـه وجـه دسـامان پـه حکم کي دي لېکن چي د دننه سپين زَر ځني راوباسي نو نصاب ته رسيږي نو حقيقت بـه معتبـر ګنـو او زکـوٰة بـه واجبوو.

پـــام لـــرنـــه په سپينوزَرو او سروزَرو کي دتجارت دنيّت کولو ضرورت نسته.ددې بغيره هم زکوٰة واجبيږي. ځکه چي شريعت دنيّت بغيره هم دا مالِ نامي يعني زياتېدونکئ مال ګڼلئ دئ.

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل راوړئ څلوېښتمه برخه. په هر څلوېښت درهم کي يو درهم. او پر ټاسو هيڅ نسته ټر هغو چـي دوه سـوه درهم پوره سي. بس چي کله دوه سوه درهم سي نو په هغه کي پنځه درهم دي. او چي کوم زيات سي نو دهغه زکوٰة په خپل حساب سره دئ .

(بَابُ زَكوٰةِ الذَّهَبِ)

[۴۹۴](۱) لَيسَ فِيمَا دُونَ عِشرِينَ مِثقَالاً مِّنَ الذَّهَبِ صَدَقَةٌ فَاِذَا كَانَت عِشرِينَ مِثقَالاً وَحَالَ عَلَيهَا الحَولُ فَفِيهَا نِصفُ مِثقَالٍ [۴۹۵](۲) ثُمَّ فِي كُلِّ اَربَعَةِ مَثَاقِيلَ قِيرَاطَانِ وَلَيسَ فِيمَا دُونَ اَربَعَةِ مَثَاقِيلَ صَدَقَةٌ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَقَالاَ مَازَادَ عَلىٰ العِشرِينَ فَزَكوٰتُهُ بِحِسَابِهَا [۴۹۶](۳) وَفِي تِبرِ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ وَحُلِيِّهِمَا وَالآنِيَةُ مِنهُمَا زَكوٰةٌ .

(بَابُ زَكٰوةِ الذَّهَبِ)

[۴۹۴](۱) د شلو(۲۰)مثقالو سرو زرو څخه په کم(لږ)کي زکوٰة نسته. بس چي کله شل(۲۰)مثقال سي او پر هغو باندي کال تير سي نو په دي کي نيم مثقال زکوٰة دئ .

وجه په حديث کي راغلي دي عَن عَاصِمِ بنِ ضَمرَةَ وَالحَارِثِ الأعوَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ... وَلَيسَ عَلَيكُم شَيئٌ يَعنِي فِي الذَّهَبِ حَتّٰي تَكُونَ لَكَ عِشرُونَ دِينَاراً فَاِذَا كَانَت لَكَ عِشرُونَ دِينَارًا وَحَالَ عَلَيهَا الحَولُ فَفِيهَا نِصفُ دِينَارٍ فَمَا زَادَ فَبِحِسَابِ ذَالِكَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في زكوٰة السائمة ص۲۲۸نمبر۱۵۷۳\سنن للبيهقي.باب نصاب الذهب وقدرالواجب فيه ج۴ص۲۳۲نمبر۷۵۳۴)ددي حديث څخه معلوم سوچي شل(۲۰)مثقال سره زر وي نو په دي کي نيم مثقال واجب دئ چي څلوېښتمه حصّه ده.

[۴۹۵](۲) بيا په هر څلور مثقال کي دوه قِيرَاط زکوٰة دئ او دڅلورو مثقالو څخه په کم(لږ)کي زکوٰة نسته د امام ابوحنيفه په نېز. او صاحبين فرمائي چي پر شل(۲۰)مثقال چي څو زيات سو نو دهغه زکوٰة په خپل حساب سره دئ.

تشريح لوړ تير سو چي د امام ابوحنيفه په نېز د شلو(۲۰)مثقالو وروسته تر څو چي سره زرڅلور مثقال نه سي هيڅ شئ نه لازميږي. په څلور مثقال کي دوه قيراط سَرَه زَر لازم دي.او دصاحبينو په نېز د شل(۲۰)مثقال سره زرو څخه چي هرڅو زيات سي په هغه کي په هغه خپل حساب سره زکوٰة ورسره لازميږي . د دواړو دلائل په بَابُ زَكٰوةِ الفِضَّة کي تېر سوي دي .

[۴۹۶](۳) د سپينو او سروزرو ټکړي(ټوټي)، ددي دواړو په زېوراتو او د دي دواړو په لوښو کي زکوٰة واجب دئ .

تشريح سره زر او سپين زر چي په هر حالت کي وي،که د درهم او دينار په شکل کي وي،د ټوټو په شکل کي وي يا د لوښو او زېوراتو په شکل کي وي په هر حال کي د احنافو په نېز زکوٰة پر واجب دئ. ددي دليل د بَابُ زَكٰوةِ الفِضَّة په شروع کي تېر سوئ دئ .

فائده د امام شافعي د يوه قول مطابق په زېوراتو کي زکوٰة نسته. دده دليل دا حديث دئ اَنَّ عَائِشَةَ زَوجَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ تَلِيُ بَنَاتِ اَخِيهَا يَتَامٰي فِي حُجرِهَا لَهُنَّ الحُلِيُّ فَلاَ تُخرِجُ مِنهُ الزَّكٰوةَ (الف) (سنن للبيهقي باب من قال لازكوٰة في الحُلِيِّ ج۴ص۲۳۲نمبر۷۵۳۵)

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل ... او پر تاسو باندي هيڅ شئ نسته يعني په سرو زرو کي تر دي چي ستاسو لپاره(دپاره) شل (۲۰) دينار سي، بيا چي کله ستاسو لپاره(دپاره) شل (۲۰) دينار سي او پر هغو کال تير سي نو په هغو کي نيم دينار دئ. بس چي څه زيات سي نو په خپل حساب سره به وي (ب) حضرت عائشه به د خپل ورور د لونو روزنه کول چي يتيمان وي او ددي په پرورش کي وي. دهغو سره زېورات و نو حضرت عائشي دهغه زکوٰة نه استئ .

(بَابُ زَكٰوةِ العُرُوضِ)

[۴۹۷](۱) اَلزَّكٰوةُ وَاجِبَةٌ فِي عُرُوضِ التِّجَارَةِ كَائِنَةً مَا كَانَت اِذَا بَلَغَت قِيمَتُهَا نِصَابًا مِنَ الوَرَقِ اَوِ الذَّهَبِ [۴۹۸](۲) يُقَوِّمُهَا بِمَا هُوَ اَنفَعُ لِلفُقَرَآءِ وَالمَسَاكِينِ مِنهُمَا [۴۹۹](۳) وَاِذَا كَانَ النِّصَابُ كَامِلاً فِي طَرَفَيِ الحَولِ فَنُقصَانُهُ فِيمَا بَينَ ذَالِكَ لاَ يَسقُطُ الزَّكٰوةَ .

(بَابُ زَكٰوةِ العُرُوضِ)

---

[۴۹۷](۱) زکوٰة واجب دئ د تجارت په سامان کي چي هر(رنګه)سامان وي. تر هغو چي ورسيږي دسپينو يا دسرو زرو ونصاب ته.

تشريح تجارت هر رنګه سامان چي وي دهغه به قيمت لګول کيږي. که دسپينو زرو سره قيمت ولګوي که دسروزرو سره قيمت ولګوي.که چيري دا قيمت دسپينوزرو يا دسروزرو دنصاب سره برابرسي او پر هغه باندي کال تير سي نو پر دي باندي زکوٰة واجب دئ .

وجه په حديث کي دئ عَن سَمُرَةَ بِنِ جُندُبٍ قَالَ اَمَّا بَعدُ ! فَاِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَامُرُنَا اَن نُخرُجَ الصَّدَقَةَ مِنَ الَّذِي نَعُدُّ لِلبيعِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب العروض اذاكانت للتجارة ص۲۲۵نمبر۱۵۶۲)وَفِي دَارِ قُطنِي عَن سَمُرَةَ بِنِ جُندُبٍ ... وَكَانَ يَامُرُنَا اَن نُخرُجَ مِنَ الرَّقِيقِ الَّذِي لِلبَيعِ (ب) (دارقطني.باب زكوٰة مال التجارة وسقوطهاعن الخيل والرقيق ج۲ص۱۱۱نمبر۲۰۰۸)ددي حديث څخه معلوم سو چي په مالِ تجارت کي زکوٰة واجب دئ لېکن کوم سامان چي دتجارت لپاره نه وي په هغه کي زکوٰة نه دئ واجب .

[۴۹۸](۲) د تجارت دسامان به قيمت لګول کيږي په هغه شي سره چې دفقيرانو او مسکينانو لپاره ډېرنفع بخش(ګټور)وي.

تشريح سره زر يا سپين زر کوم چي دمسکينانو او فقيرانولپاره زيات ګټه ور وي په هغه باندي به د تجارت دسامان قيمت لګول کيږي. او هغه قيمت ونصاب ته ورسيږي نو په هغه کي زکوٰة واجب دئ.

وجه د يو شي په قيمت لګولوسره د زکوٰة ورکولو دليل مخکي تېر سوئ دئ.(بخاري شريف.باب العروض في الزكوٰة ص۱۹۴نمبر۱۴۴۸\ابوداؤدشريف.باب زكوٰة السائمة ص۲۲۵نمبر۱۵۶۷\۱۵۷۲)

[۴۹۹](۳)که نصاب دکال په دواړوطرفو کي کامل و نو دکال په مابين کي کمېدل زکوٰة نه ساقطوي.

تشريح مثلاً د روژې په مياشته کي د يو مال نصاب مکمل وي او په مُحرّم(حسن حسين)کي نصاب کم سي بيا په روژه کي ببرته نصاب مکمل سي نوزکوٰة واجبيږي. خو که چيري دکال په مابين کي دنصاب مال په مکمل توګه سره ختم سي نو اوس خو بالکل مال دبېخ څخه ختم سو نو ځکه اوس چې د کوم وخت څخه نصاب راسي دهغه وخت څخه به بيا د زکوٰة مياشته شروع کيږي .

حاشيه : (الف) حضور مورِ ته حکم کاوئ چې مورِ زکوٰة دهغه شي د وباسو(ورکو)چې دخرڅولو لپاره تيّار سوئ وي .
(ب) سمُره بن جندب فرمائي ... حضور مورِ ته حکم راکئ چې مورِ دهغه غلام(مرئي)زکوٰة وباسو کوم چې د خرڅولو لپاره تيّار کړئ وي يعني دتجارت لپاره .

[۵۰۰](۴) وَيَضُمُّ قِيمَةُ العُرُوضِ اِلىٰ الذَّهَبِ والفِضَّةِ وَكَذَالِكَ يَضُمُّ الذَّهَبُ اِلىٰ الفِضَّةِ بِالقِيمَةِ حَتّٰى يَتِمُّ النِّصَابُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ [۵۰۱](۵) وَقَالاَ لاَ يَضُمُّ الذَّهَبُ اِلىٰ الفِضَّةِ بِالقِيمَةِ وَيَضُمُّ بِالاَجزَآءِ .

وجه په اوّل کي نصاب مکمّل کېدل د زکوٰة د انعقاد لپاره دئ او په آخر کي نصاب مکمل کېدل دزکوٰة دوجوب لپاره دئ. او په مابين کي کمي بېشي(کمبوت او زياتوب)کيږي نو ځکه دهغه اعتبار يې نه دئ کړئ.

[۵۰۰](۴) دتجارت دسامان قيمت به وسروزرو ته او سپينو زرو ته ملاؤيږي. دغه رنګه سره زر به د سپينو زرو سره قيمتًا ملاؤيږي چې نصاب پوره سي د امام ابوحنيفه په نېز .

تشريح سره زر د سپينو زرو سره د ملاؤولو دوې طريقې دي چې نصاب مکمل سي. يوه طريقه داده چې د سرو زرو قيمت ولګوي يا دسپينو زرو قيمت ولګوي د سروزرو سره ملاؤ کي.او دوم صورت يې دادئ چې دوزن په اعتبا يې سره ملاؤکي. مثلاً ديو سړي سره سل(۱۰۰)درهم دي او نه(۹) مثقال سره زر دي نو ددرهم نصاب نيمئ دئ لېکن د سروزرو نصاب د نيمي يعني لسو(۱۰)مثقالو څخه يو مثقال کم دئ لېکن د نو(۹)مثقالو قيمت سل(۱۰۰)درهم ورکوي.نودقيمت په اعتبارسل(۱۰۰)درهم او د نه(۹)مثقالوسروزرو قيمت هم سل(۱۰۰)درهم دئ چې دواړه سره يو ځائ کي نودوه سوه درهم پوره کيږي. او نصاب پوره دئ. نو د امام ابوحنيفه په نېز دواړه به قيمتًا سره ملاؤوي او زکوٰة به واجبيږي. که څه هم د وزن په اعتبار نصاب نه پوره کيږي.

پام لرنه د تجارت دسامان به هم قيمت لګول کيږي اوهغه به دسروزرو يا د سپينوزرو يا نقد(نغدو) روپئ سره ملاؤوي که نصاب پوره سو نو زکوٰة به واجبيږي.

[٥٠١](٥) صاحبين فرمائي چي سره زر به د سپينو زرو سره قيمتًا نه ملاؤوي. او د وزن په اعتبار به سره ملاؤوي.

تشريح په لوړ تېر سوي مثال کي سل(١٠٠)درهم او نه(٩)مثقال سره زر دي نو د زون په اعتبار سره زر د نيم نصاب څخه هم کم دي که څه هم قيمت يې سل(١٠٠)درهم وي نو ځکه چي سره زر او سپين زر سره ملاؤ کي نو هم نصاب نه پوره کيږي نو لهٰذا زکوٰة نه واجبيږئ. ځکه چي د اجزآء او وزن په اعتبار سره چې دواړه سره يوځائ سي هم نصاب نه پوره کيږي. که چيري سره زرلس(١٠)مثقال وائي نو بيا خو نيم نصاب د دې سو او نيم نصاب د سپينو زرو د سل(١٠٠)درهم سو.

لغت : اَلاَجزَآءُ : د جُزءٌ جمع ده. د جُز په اعتبار چي ما يې ترجمه کړې ده د وزن په اعتبار .

(بَابُ زَكٰوةِ الزُّرُوعِ وَالثِّمَارِ)

[٥٠٢](١) قَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ فِي قَلِيلٍ مَّ اَخرَجَتهُ الاَرضُ وَكَثِيرُهُ اَلعُشرُ وَاجِبٌ سَوَآءٌ سُقِيَ سَيحًا اَو سَقَتهُ السَّمَآءُ اِلاَّ الحَطَبُ وَالقَصَبُ وَالحَشِيشُ [٥٠٣](٢) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ

(بَابُ زَكٰوةِ الزُّرُوعِ وَالثِّمَارِ)

ضروري پام لرنه په غَلّه او مېوه جاتُ کي زکوٰة سته. ددې دليل او دمقدار تفصيل يې مخکي راروان دئ.

[٥٠٢](١) امام ابوحنيفه وفرمائل. مځکه که لږ غَلّه را وباسي او که زيات په هغه کي عُشر واجب دئ که په أوبو سره وُبَه کړې وي يا آسمان هغه أوبَه کړې وي. ماسوائ د سوځلو غني(بُټي) او بانس او وابنه .

تشريح د مځکي څخه چي څومره غلّې يا مېوې راوزي د احنافو په نېز په دې ټولو کي عُشر واجب دئ. که څه هم د دې مقدار و پنځه وَسَق ته رسيږ ي يا نه . او که څه هم هغه ټول کال پاته کېدلائي سي يا نه . خو که چيري دا رنګه شيئ وي چي قابِلِ اِلتِفَات نه ګڼل کيږي او دهغه هيڅ حيثيّت نه وي نو پر هغه زکوٰة نه دئ واجب. لکه د سوځلو لګړي(بوټي.خاشې) .بانسې او وابنه. چي د دارنګه شيانو هيڅ حيثيّت نسته او نه خلګ دغه شيان په قصد او اراده سره کري. بلکه دا شيان په خپله را شنه کيږي. او که چيري دا شيان باقاعده څوك وکري او دحيثيّت قابل سي نو بيا زکوٰة پکښې دئ.

وجه (١) په حديث کي راغلي دي عَن سَالِمِ بنِ عَبدِاللهِ عَن اَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيمَا سَقَتِ السَّمَآءُ وَالعُيُونُ اَو كَانَ عُشرِيًّا اَلعُشرُ وَمَا سُقِيَ بِالنُّضَحِ نِصفُ العُشرِ (الف) (بخاري شريف.باب العشرفيمايسقي من مآء السَّمَآء والمآءالجاري ص٢٠١نمبر١٤٨٣\مسلم شريف.كتاب الزكوٰة ص٣١٦نمبر٩٨١\ابوداؤدشريف.باب صدقة الزرع ص٢٣٢نمبر١٥٩٦)په دې حديث کي يو قيد نسته نه د پنځه وَسَق قيد سته او نه تر کال پوري د پاته کېدو قيد سته. بلکه مطلق دا دئ چي د آسمان په باران سره او د کارېزو په أوبېدو سره چي څه پيداوار وسي په هغه کي عُشر سته (٢) كَتَبَ عُمَرُ بنُ عَبدُالعَزِيزِ اَن يُّاخَذَ مِمَّا اَنبَتَتِ الاَرضُ مِن قَلِيلٍ اَو كَثِيرٍ اَلعُشرُ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الخضروات ج٤ص١٢١نمبر٧١٩٦\مصنف ابن ابي شيبة،٣٠ كُلُّ شيئ اخرجت الارض زكوٰة ج٢ص٣٧١نمبر١٠٠٢٨)په دې اثر کي دئ چي هر څه چي مځکه پيدا کړي په هغه کي عُشر دئ .

لغت : سَيحًا : په باران سره. اَلحَطَبُ : د سوځلو غني(لګړي.بوټي). اَلقَصَبُ : بانس. اَلحَشِيشُ : وابنه .

[۵۰۳](۲) صاحبين فرمائي عُشر نه دئ واجب مگر په مېوه جاتُ کي هغه چي باقي پاته کيږي په دې شرط چي پنځه وَسَق ته ورسيږي.

تشريح سَبزِي او دغه رنګه نور شيان چي تر دِېره باقي نه سي پاته کېدلائي په هغو کي دصاحبينو په نېز عُشر نسته. دغه رنګه تر څو چي د غَلّي مقدار پنځه وَسَق نه سي نو په هغه کي عُشر نسته. د دوئي دليل دا حديث دئ عَن مُعاذٍ اَنَّهُ کَتَبَ اِلیٰ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَسئَلُهُ عَنِ الخَضرَوَاتِ وَهِيَ البُقُولُ

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل باران او چيني چي کوم شيئ اُوبه کړي يا اُوبېدونکي مځکه وي نو په هغه کي عُشر دئ. او که اُوبه د وُښي په ذريعه ورکړي وي نو شلمه(۲۰)حصّه لازم ده (ب) حضرت عمربن عبدالعزيز وليکل چي هر څه مځکه شنه کړي لږ وي که دِېر دهغه څخه به عُشر اخستل کيږي.

وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ لاَ يَجِبُ العُشرُ اِلاَّ فِيمَا لَهُ ثَمَرَةٌ بَاقِيَةٌ اِذَا بَلَغَت خَمسَةَ اَوسُقٍ [۵۰۴](۳) وَالوَسقُ سِتُّونَ صَاعًا بِصَاعِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ لَيسَ فِيهَا شَيئٌ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآء في زَكوٰة الخضروات ص۱۳۸نمبر۶۳۸\سنن للبيهقي.باب الصدقة فيما يزرعه الآدمِيُّون ج۴ص۲۱۶نمبر۷۴۷۴)ددې حديث څخه معلوم سو چي په سبزيانو کي عُشر نسته. او د پنځه وَسَق د پوره کېدو دليل دا حديث دئ عَن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيسَ فِيمَا اَقَلَّ مِن خَمسَةِ اَوسُقٍ صَدَقَةٌ (ب) (بخاري شريف.باب ليس فيما دون خمسة اوسق صدقة ص۲۰۱نمبر۱۴۸۴\مسلم شريف.باب الزَکوٰة ص۳۱۶نمبر۹۷۹\ابوداؤدشريف.باب ماتجب فيه الزَکوٰة ص۲۲۴نمبر۱۵۵۸)ددې حديث څخه معلوم سو چي د پنځه وَسَق څخه په کم(لږ)کي زکوٰة نسته. دا حديث څو واره مخکي تېر سوئ دئ.

[۵۰۴](۳) وَسَق شپېته صَاع(پيماني)دئ دحضور په صَاع باندي .

تشريح چي يو وَسَق شپېته صَاع(پيماني)سو نو پنځه وَسَق دري سوه(۳۰۰)صَاع(پيماني)سوي. په صاع باندي د وزن کولو طريقه داده چي په يوه لوښي کي دي وَربُوشي يا غَنَم يا مَاش واچوي چي ديوي صاع(پيماني)په اندازه وي دې ته صَاع وائي. لکه نَن سَبا شيدي او دغه رنګه نور شيان په لوښي کي په تللو ورکوي. لېکن اُوس په دې زمانه کي دغه تِوله شيان په کيلو وزن کيږي. بيا د اُربُوشُو. غَنَمُو او مَاشُ دُرُندوالئ مختلف دئ نو ځکه د زون په اعتبار سره هره غَلَّه به دجلاجلا وزن وي. خو بيا هم يوه صَاع وُربُوشِي ۵۳۸.۳ کلو وي . او غَنَم ۴۹۸.۴ کلو او ماش ۹۷۲۶.۴ کلو وي. يعني څلور کلو نه سوه دوه اويا(۹۷۲)ګرام وي. په دغه اندازه دري سوه(۳۰۰)صَاع وُربُوشي ۴۰.۱۰۶۱ کلو دي . يعني لَس کُوينټل،يوشپېته کلو او څلوېښت ګرام سو. او دتِولو ۹۴.۲ لېټر جوړيږي . وجه حديث دئ عَن اَبِي سَعِيدٍقَالَ اَلوَسَقُ سِتُّونَ صَاعًا(مصنف ابن ابي شيبة ۲۸ في الوسق كم هو؟ج۲ص۳۷۰نمبر۱۰۰۱۱) ددې اثر څخه معلوم سو چي وَسَق شپېته صَاع دئ .

(د نوي او زړو اوزانو تفصيل)

په قديم(تېر)وخت کي په عربو کي د سرو او سپينو زرو د تللو لپاره مِثقال. اَستَار او قِيرَاط رائج و (چلېدئ) او د غَلّو د تللو لپاره لُوښي رائج و چي په هغو کي به اچول او خلکو به غَلّي تللي. و د غه ته به رِطل. مُد. صَاع او وَسَق ويله. د نن سبا په شان يې غلّي په وزن سره نه تللي. نو د کوم وخت څخه چي ددغه غَلّو وزن په کيلو ګرام سره شروع سو نو د رِطل. مُد.صَاع او وَسَق د کيلو سره په مُوازنه کولو کي مُشکلات را منځ ته سو. خو بيا هم د عُلمآء د اقوالو په رونا کي د عربو قديم(زاړه)وزنونه د هندوستان په نوو وزنو کي د منتقلولو کوشش وسو چي د عوامو لپاره آسانتيا پيداسي .

(د درهم وزن)

په هندوستان کي د سرو او سپينو زرو د وزن لپاره رَتّي. ماشه. او تُوله چليبدل. نو ددې حساب په دا رنګه دئ .

حاشيه : (الف) حضرت معاذ وحضور ته خط وليکئ او د سبزيانو په باب يې پوښتنه وکړه نو حضور وفرمائل په دي کي هيڅ شيئ نسته . (ب) حضور وفرمائل د پنځه وَسَق څخه په کم(لږ)کي زکوٰة نسته .

۸ رَتئ = يوه ماشه او ۱۲ ماشي = يوه توله يعني يوه تُوله ۹۶ رَتئ ده .

د يوه درهم وزن د يوه مِثقال څخه لږ څه کم دئ . لس(۱۰)درهم چې سره يوځائ کې نو ۷ مِثقال دي . ودې ته وزنِ سَبعَه وائي. په کلکيولېټر کي دارنګه ليکل کيږي (۷۰.۰مَثقَال) په دوه سوه درهم کي زکوٰة لازم دئ چې و ۲۰۰ ته په ۷۰.۰ کي ضرب ورکې نو ۱۴۰ مِثقَال جوړيږي .يعني چې ۱۴۰ مِثقَال سپين زروي نو زکوٰة لازميږي .

ديوه درهم وزن ۲۰.۲۵ رَتئ وي يا ۱۵.۳ ماشي يا ۲۶.۰ تولې ۰۶۱.۳گرام وي .

۲۰۰ درهم چې دزکوٰة نصاب دئ دهغه وزن ۵۰۴۰ رَتئ وي يا ۶۳۰ ماشي وي يا ۵۰.۵۲ تولي وي يا ۳۶.۶۱۲ گرام وي .

د قِيرَاط په اعتبار سره ديوه دِرهَم وزن ۱۴ قِيرَاط وي . او د ۲۰۰ دِرهَم وزن ۲۸۰۰ قِيرَاط وي .

(د دينار وزن)

يو دينار د يوه مِثقَال وي نو ځکه يو دينار د ۳۶ رَتئ سو يا ۵۰.۴ ماشي يا ۳۷۵.۰ تولې يا ۳۷۴.۴ گرام وزن يې سو .

۲۰ مِثقَال يعني شل(۲۰)دينار سره زرو کي زکوٰة واجبيږي ددې وزن ۷۲۰ رَتئ يا ۹۰ ماشي يا ۵۰.۷ تولي يا ۴۸.۸۷ گرام وي .

د قِيرَاط په اعتبار د يوه دينار وزن ۲۰ قِيرَاط دئ . او د ۲۰ دينار وزن ۴۰۰ قِيرَاط دئ .

پام لرنه ۱۰۰۰ گرام يو کېلو گرام وي .

(د صاع وزن)

د امام ابوحنيفه په نېز يوه صَاع ۸ رِطل وي . لېکن دا رِطل کشنئ دئ . دا د ۲۰ استار دئ . او دصاحبينو په نېز ۳۳.۵ يعني پنځه رِطل او يوه رِطل دريمه يوه صَاع وي . لېکن دا رِطل لُوئ دئ يعني ۳۰ استار يو رِطل دئ . چې دواړو ته په په استار کي ضرب ورکې نو حاصل يې ۱۶۰ استار جوړيږي . نو ځکه د دواړو رِطلو په صَاع کي هيڅ فرق نسته .

وجه په دُرّ مُختار کي عبارت دا رنګه دئ . فَقَالَ الطَّرَفَانِ : ثَمَانِيَةُ اَرطَالٍ بِالعِرَاقِي وَقَالَ الثَّانِي خَمسَةُ اَرطَالٍ وَثُلُثٍ . وَقِيلَ لَاخِلَافَ لَاَنَّ الثَّانِي قَدَّرَهُ بِرِطلِ المَدِينَةِ . لِاَنَّهُ ثُلُثُونَ اَستَاراً وَالعِرَاقِيُّ عِشرُونَ . وَاِذَا قَابَلَتَ ثَمَانِيَةَ بِالعِرَاقِيِّ بِخَمسَةٍ وَثُلُثٍ بِالمَدَنِيِّ وَجَدتَّهُمَا سَوآءً (ردالمحتار علي الدرالمختار. مطلب في تحريرالصاع والمد والمن والرطل ج۳ص۳۷۳) په دې عبارت کي دئ چې د امام ابوحنيفه عراقي رِطل شل(۲۰)استار دئ . نو ځکه د دواړو حاصل يو رنګه صَاع ده .

پام لرنه عراقي رِطل ۲۵.۴۴۲ گرام او مدني رِطل ۴۱.۶۶۳ گرام وي .

يو وَسَق شپېته صَاع وي . او دصاحبينو په نېز په پنځه وَسَق کي عُشر يعني لسمه حصّه لازم ده . چې حاصل يې دا دئ چې په پنځه وَسَق کي ۳۰ صَاع او شلمه حصّه وي نو ۱۵ صَاع به لازم وي .

په احسن الفتاوىٰ کي دئ چې يوه صَاع۵۳۸.۳ کيلو او نيم صَاع ۷۶۹.۱ کيلو ده يعني يو کيلو او ۷۶۹ گرام ده . دغه نيم صَاع په صَدَقَةُ الفِطر کي لازميږي . دغه چې په لېتر سره وتلې نو ۹۴.۲ لېتر جوړيږي .

يو وَسَق يعني ۶۰ صَاع ۲۸.۲۱۲ کېلو دئ . او پنځه وَسَق يعني ۳۰۰ صَاع ۴۰.۱۰۶۱ کېلو دئ . چې ودغه ته لس کوينټيل يوشپېته کلو او څلوېښت گرام وائي . (احسن الفتاوىٰ ج۴ص۴۱۶)

البته په دُرمختار کي ليکلي دي چې يوه صَاع ۱۰۴۰ درهم وي . عبارت دا دئ – اَلصَّاعُ المُعتَبَرُ ما يَسَعُ اَلفًا وَّ اَربَعِينَ دِرهَمًا مِن مَّاشٍ وَّ عَدَسٍ (ردالمحتارعلي الدرالمختار.باب صدقة الفطرج۳ص۳۷۴)ددې څخه معلوم سو چې د يوې صَاع وزن يو زر څلوېښت(۱۰۴۰)درهم دئ . او ديوه درهم وزن ۰۶۱.۳ گرام وي .نو ځکه ديوې صَاع وزن ۱۰۴۰ ۰۶۱.۳ = ۴۴.۳۱۸۳ گرام سو،اونيمئ صاع ۵۹۱.۱ کيلوسو،يعني نيمئ صاع يوکيلوپنځه سوه يونيوي گرام سو،

پـام لـرنـه د احتياط لكبله ما د احسن الفتاوي حساب ليكلئ دئ . والله اعلم بـالـصو اب.

(نصاب او وزنو ته يوه كتنه)

(فارموله)

څونه	برابر	دڅونه سره
۸رَتّئ	--	يوه ماشه
۱۲ ماشي	--	يوه تولـه
۶۶۴.۱۱ گرام	--	يوه تولـه
۲۱۸.۰ گرام	--	يو قيراط
۳۷۴.۴ گرام	--	يو مِثقال
۲۵.۴۴۲ گرام	--	يو رِطل
۳۵۳۸ گرام	--	يوه صاع
۱۷۶۹ گرام	--	نيم صَاع
۱۰۰۰ گرام	--	يو كيلو
۰۶۱.۳ گرام	--	يو درهم
۳۶.۶۱۲ گرام	--	دسپينو زرو نصاب
۳۷۴.۴ گرام	--	يو دينار
۴۸.۴۸ گرام	--	دسرو زرو نصاب

(دسپينو زرو نصاب)

دراهم	مِثقَال	قِيراط	تولـه	گرام	څونه زكوٰة كيږي
۱ درهم	۷.۰	۱۴	۲۶۲.۰	۰۶۱.۳	.....
۲۰۰دراهم	۱۴۰	۲۸۰۰	۵۰.۵۲	۳۶.۶۱۲	۳۰۹.۱۵ گرام

(دسرو زرو نصاب)

دينار	مِثقَال	قِيراط	تولـه	گرام	څونه زكوٰة كيږي
۱ دينار	۱مثقال	۲۰	۰. ۳۷۵	۳۷۵.۴	.....
۲۰دينار	۲۰مثقال	۴۰۰	۷. ۵۰	۴۸.۸۷	۱۸۹.۲ گرام

(د رتئ او ماشي حساب)

درهم	رتئ	ماشه	تولـه	گرام	څونه زكوٰة كيږي
۱ درهم	۲۰.۲۵	۱۵.۳	۲۶۲.۰	۰۶۱.۳	

۲۰۰درهم	۵۰۴۰	۶۳۰	۵۲. ۵۰	۳۶.۶۱۲	۳۱۲.۱ توله
۱ دینار	۳۶	۵۰.۴	۳۷۵.۰	۳۷۴.۴	
۲۰ دینار	۷۲۰	۹۰	۵۰.۷	۴۸.۸۷	۱۸۷.۰ توله

پام لرنه چې هسې یو نصاب پر څلوېښت باندې تقسیم کې نو څو ګرام یا څو تولې زکوٰة لازمیږي هغه په خپله راوزي . (دصَاع نصاب)

صَاع واجبیږي	رِطل	وَسَق	کیلو	لیتر	څونه
۱ صَاع الفِطر	۸	.....	۵۳۸.۳	۸۸.۵	صَدَقَةُ
نیم صَاع	۴	.....	۷۶۹.۱	۹۴.۲	۷۶۹.۱ کیلو
۶۰ صَاع	.....	۱ وَسَق	۲۸.۲۱۲	۸۰.۳۵۲	عُشر
۳۰۰ صَاع	.....	۵ وَسَق	۴۰.۱۰۶۱	۱۷۶۴	۱۴.۱۰۶ کیلو

یعني پنځه وَسَق،لس کوئینټل یوشپیته کیلوځلوېښت ګرام سو.چې په دې کې عُشریو سل شپږکیلواو څورلس ګرام لازمیږي.

پام لرنه دا حساب د احسن الفتاویٰ ج رابع ص۴۱۶ باب صَدَقَةُ الفِطرځخه اخستل سوئ دئ. په تولـه دنیا کې د کیلو او ګرام رواج دئ نو ځکه تولۍ حسابونه مې پر دغه باندې سِیټ کړي دي .

[۵۰۵](۴) وَلَیسَ فِي الخَضرَوَاتِ عِندَهُمَا عُشرٌ [۵۰۶](۵) وَمَا سُقِيَ بِغَربٍ اَو دَالِيَةٍ اَو سَانِيَةٍ فَفِيهِ نِصفُ العُشرِ عَليٰ القَولَينِ [۵۰۷](۶) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ فِيمَا لاَ يُوسَقُ كَالزَّعفرَانِ وَالقُطنِ يَجِبُ فِيهِ العُشرُ اِذَا بَلَغَت قِيمَتُهُ قِيمَةَ خَمسَةَ اَوسُقٍ مِن اَدنیٰ مَا يَدخُلُ تَحتَ الوَسَقِ .

پام لرنه که د اَتُو(۸)رِطلو یوه صَاع وي نو رِطل به کشنئ وي او ۲۵.۴۴۲ ګرام به یو رِطل وي . او که پنځه رِطل او دبل رِطل دریمه یوه صَاع وي نو بیا به رِطل غټ وي او ۳۷.۶۶۳ ګرام به رِطل وي . او د دواړو رِطلو مجموعي صَاع به ۵۳۸.۳ کیلو به وي .

[۵۰۵](۴) په سبزیانو کې د صاحبینو په نیز عُشر نسته .

وجه (۱) ددې دلیل په مسئله نمبر۲ کې تېرسوئ دئ (۲) عَن عَلِيٍّ قَالَ لَيسَ فِي الخَضرِ صَدَقَةٌ البَقلُ وَالتُّفَّاحُ وَالقِثَّاءُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الخضر ج۴ص۱۲۰نمبر۷۱۸۸)ددې اثر څخه معلوم سو چې په سبزیانو کې عُشر نسته .

[۵۰۶](۵) کومه مځکه چې په لویه سولاغه یا په راهټ یا د وُبنې په ذریعه اوُبه سي په هغه کې شلمه(حصّه)ده د دواړو قولو مطابق .

تشریح کومه مځکه چې په قُدرتي اُوبو مثلاً باران. کاریز او چینو سره نه اُوبیږي بلکه اکثر په ذاتي آلاتو سره اُوبیږي مثلاً په لویه سولاغه یا د غوایه په ذریعه یا د وُبس په ذریعه یا د یومشین په ذریعه اُوبیږي نو دهغه مځکې په پیداوار کې شلمه حصّه لازمه ده . یعني په شل(۲۰)کیلوغلّه کې یوکیلولازم دئ .

وجه (۱) په دې کې مشقت اوخرچه زیات سوې ده نوځکه شریعت عُشر کم کړئ پر نیمئ یې ودراوئ (۲) عَن عَبدِاللهِ عَن اَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمِ قَال فِيمَا سَقَتِ السَّمَآءُ وَالعُيُونُ اَو كَانَ عُشرِيًّا اَلعُشرُ وَمَا سُقِيَ بِالنَّضحِ نِصفُ العُشرِ (ب) (بخاري شریف.باب العشرفیمایسقي من مآءالسمآء والمآءالجاري ص۲۰۱نمبر۱۴۸۳\ ابوداؤدشریف.باب صدقة الزرع ص۲۳۲نمبر۱۵۹۶\مسلم شریف،کتاب الزکوٰة باب مافیه العشر او نصف العشرص۳۱۶نمبر۹۸۱)ددې حدیث څخه معلوم سو چې په مشین یا په بل شي یې مځکه اُوبه کړي وي نو شلمه حصّه لازمیږي . دا مسئله بالاتفاق ده .

لـغـت : نِصفُ العُشرِ : د لسمي حصّي نيمئ يعني شلمه حصّه .

[٥٠٧](۶) امام ابويوسف فرمائي په هغه شيانو کي چي په وَسَق کي نه راځي لکه زَعفران او پمبه چي په دي کي عُشر واجبيږي چي کله ددې قيمت د ادنيٰ درجې دغَلّي د وَسَق و قيمت ته ورسيږي چي په وَسَق کي داخليږي .

حاشيه : (الف) حضرت وفرمايل چي په سبزيو کي زکوٰة نسته. يعني سبزي،سيب چنبرخيال کي (ب) حضور وفرمائل آسمان يا چينه يې أوبه کړي يا سبرابي مځکه وي نو په هغه کي عُشر دئ. او کوم چي د وُښي په ذريعه أوبه سي په هغه کي شلمه حصّه ده .

[٥٠٨](۷) وَقَالَ مُحَمَّدٌ يَجِبُ العُشرُ اِذَا بَلَغَ الخَارِجُ خَمسَةَ اَمثَالٍ مِن اَعلیٰ مَا يُقَدَّرُ بِهِ نَوعُهُ فَاعتُبِرَ فِي القُطنِ خَمسَةَ اَحمَالٍ وَفِي الزَّعفَرَانِ خَمسَةَ اَمنَآءٍ [٥٠٩](۸) وَفِي العَسَلِ اَلعُشرُ اِذَا اُخِذَ مِن اَرضِ العُشرِ قَلَّ اَوَ كَثُرَ .

تـشريـح د ادنيٰ درجې غَلّه لکه جواري،باجري چي قيمت يې ډېر لږ وي او دا د وَسَق په ذريعه تلل کيږي. نو اُوس زعفران او پمبه چي په وَسَق کي نه تلل کيږي ځکه چي زعفران ډېر کم پيدا کيږي او ډېر قيمتي وي. په پوره کښت کي په مشکل سره دوه دري کېلو وي. پنځه وَسَق،لس کوينټل خو ګر سره وي نه. دغه د پمبه و ګاټونه جوړيږي په وَسَق کي نه وزن کيږي. لېکن که د پيدا شده زعفران قيمت پنځه د وَسَق جواريو يا باجريو دقيمت سره برابر سي نو بيا په زعفران کي هم عُشر لازم دئ.

وجه امام ابويوسف دمعنيٰ او قيمت اعتبار کړئ دئ چي د ادنيٰ درجې غَلّي دقيمت برابر سي نو ګواکه د معنيٰ په اعتبار پنځه وَسَق سو. او دغه هم کافي ګڼل سوي دي.

[٥٠٨](۷) امام محمد وفرمائل چي را وتونکي(شنه سوی)غَلّه پنځه مِثل ته ورسيږي په اعليٰ پيمانه سره چي په هغه باندي دغه رنګه غَلّه تلل کيږي نو اعتبار به کول کيږي په پمبه و کي د پنځه ګاټو او په زعفران کي د پنځه منو .

تـشريـح د امام محمد رايه داده چي هغه غَلّه چي په وَسَق نه تلل کيږي نو به دا کتل کيږي چي ددې لپاره تر لويه لا هم لويه پيمانه کومه ده؟ نو چي کله په دغه لويه پيمانه سره پنځه پيمانې ته وسيږي نو ګواکه پنځه وَسَق ته ورسېده . نو ځکه اُوس به عُشر لازم وي .مثلاً د زعفران د تللو تر ټولولويه پيمانه مَن دئ چي ۸۶.۷۹۵ ګرام دئ . نو ځکه چي زعفران پنځه کېلو سي ګواکه د پنځه وَسَق غَنَم په ركم سو،نوځکه اُوس په دي کي عُشرواجب دئ، يا پمبه چي په ګانټو سره تلل کيږي نو ددې تر ټولو غټه پيمانه دغه ده نو ځکه چي کله پمبه و پنځه ګانټ ته وريږي . نو به په دي کي عُشر واجب وي .

اصول امام محمد د داسي غَلّي د لوئ پيماني اعتبار کړئ دئ .

لـغـت : اَحمَال : د حَمل جمع ده بُوج . پېټئ . ګانټ .اَمنَآءُ د مَنٌّ جمع ده .يو وزن دئ چي ۸۶.۷۹۵ ګرام دئ . په رَدُّالمحتَار کـي راغلـي دي . وَالمنُّ بِالدَّرَاهِمِ مِائَتَانِ وَسِتُّونَ دِرهَمًا (ردالمحتار.باب صدقة الفطر.مطلب في تحريرالصاع والمد والمن والرطل ج۳ص۳۷۳)په دې عبارت کې دوه سوه شپېته درهم يو مَن ښُول سوئ دئ .او د يوه درهم وزن ۰۶۱.۳ګرام دئ.نوځکه۲۶۰درهم ته په ۰۶۱.۳کي ضرب ورکې نو۸۶.۷۹۵ګرام به دمَن وزن وي.

[٥٠٩](۸) او په شهدو کي عُشر واجب دئ چي د عُشري مځکه څخه حاصل سوئ وي، لږ شهد وي که ډېر شهد وي .

تـشريـح د امام ابوحنيفه په نبز لږ شهد وي که ډېر شهد وي په هر حالت کي په دي عُشر سته په دې شرط چي د عُشري مځکې څخه يې حاصل کړئ وي .که څه هم هغه لس مشك وي يا کم(لږ)وي .

وجـه قَالَ جَآءَ هِلاَلٌ اَحَدُ بَنِي مَتعَان اِلىٰ رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِعُشُورِ نَحلٍ لَهُ وَكَانَ سَئَلَهُ اَن يَّحمِيَ وَادِيًا يُقَالُ لَهُ سَلبَةُ فَحَمِيَ رَسُولُ اللهِ ذَالِكَ الوَادِيَ فَلَمَّا وَلِّيَ عُمَرُ ابنُ الخَطَّابِ كَتَبَ سُفيَانُ بنُ وَهَبٍ اِلىٰ عُمَرُبنِ خَطَّابٍ يَسئَلُهُ عَن ذَالِكَ فَكَتَبَ عُمَرُ اَن اَدِّيَ اِلَيَّ مَا كَانَ يُؤَدِّي اِلىٰ رَسُولِ اللهِ مِن عُشُورِ نَحلِهِ فَاَحَمَّ لَهُ سَلبَةَ وَاِلاَّ فَاِنَّمَا هُوَ ذُبَابُ غَيثٍ يَاكُلُهُ مَن يَّشَآءُ

(الف.حاشيه په راتلونكي مخكي وگورئ) (ابوداؤدشريف.باب زكوٰة العسل ص٢٣٣نمبر١٦٠٠\سنن للبيهقي.باب ماورد في العسل ج٤ص٢١٢نمبر٧٤٦٠)په دي حديث كي د شهدُ(شاتُ)دزكوٰة وركولو تذكره ده او مطلق ذكر دئ. په دي كي د لسسو(١٠)مشكُ دكېدلو قيد نسته . نو ځكه چي هر ځومره شِهد حاصل(پيدا)سو په هغه كي لسمه حصّه لازم ده .

[٥١٠](٩) وَقَالَ اَبويُوسُفَ لاَ شيئ فِيهِ حَتّيٰ تَبلُغَ عَشرَةَ اَزقَاقٍ [٥١١](١٠) وَقَالَ مُحَمَّدٌ خَمسَةَ اَفرَاقٍ وَالفَرقُ سِتَّةٌ وَّ ثَلثُونَ رِطلاً بِالعِرَاقِيِّ [٥١٢](١١) وَلَيسَ فِي الخارج مِن اَرضِ الخَرَاجِ عُشرٌ .

اصول د شِهد(شاتُ)په باب كي هم هغه اصول دئ كوم چي لوړ دغَلّو په باب كي تير سو چي په لږ او ډېر تولو كي عُشر سته.

[٥١٠](٩) امام ابويوسف وفرمائل تر دي چي و لس مُشك ته ورسيږي.

تشريح يعني چي لس مُشك يا دهغه ځخه زيات شِهد حاصل سي نو به په هغه كي عُشر لازم وي او كه ددي ځخه لږ سو نو په هغه كي عُشر نسته.

وجه ددده دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي العَسَلِ فِي كُلِّ عَشرَةِ اَزقَاقٍ زِقٌّ (ب) (ترمذي شريف.باب ماجآءفي زكوٰة العسل ص١٣٧نمبر٦٢٩\ابوداؤدشريف.باب زكوٰة العسل ص٢٣٣نمبر١٦٠١) ددي حديث ځخه معلوم سو چي لس مُشك وي نو يو مُشك لازميږي.

لغت اَزقَاقٌ : د زِق جمع ده معني ده مُشك .

[٥١١](١٠) امام محمد وفرمائل تردي چي شِهد وپنځه فِرق ته ورسيږي اويوفِرق به شپږدېرش(٣٦) رِطل وي په عراقي رطل سره.

تشريح امام محمد فرمائي چي شِهد كم از كم پنځه فِرَق سي نو په هغه كي عُشر لازم دئ او كه ددي ځخه كم(لږ)وصول سي نو عُشر نه لازميږي. او يو فِرق شپږدېرش(٣٦)رِطل وي. نو كه اُوس يو رِطل د ٢٥.٤٤٢گرام واخلي نو يو فِرَق به د ٩٢١.١٥ كيلو وي. او پنځه فِرَق ٦٠٥.٧٩ كيلو وي . او كه يو رطل د ٤١.٦٦٣ گرام دواخلي نويوفِرَق به٨٨٢.٢٣كيلو د وي.او پنځه فِرَق به د ٤١٣.١١٩كيلودوي.

پام لرنه د صاع په وزن كي اختلاف دئ. د اتو(٨) رطلو د صاع وي چي د احنافوپه نېز مُرَوّج ده. او پنځه رطل او د يوه رطل دريم صاع وي چي د نورو امامانو په نېز مُرَوّج ده .

وجه امام محمد فرمائي چي دشِهدُ د تَلُّو تر تولو غټه پيمانه فِرَق ده. نو ځكه چي پنځه فِرَق سي عُشر به لازم وي. امام محمد پر خپل مخكني اصول باندي تللئ دئ چي كوم شئ په وَسَق سره نه تللي په هغه كي به دا گورو چي د دغه د تللو غټه پيمانه څه شئ دئ ؟ كه په دغه غټه پيمانه سره پنځه پيماني سي نو پر هغه كي به عُشر لازم وي. او دشِهدُ د تللو غټه پيمانه فِرَق ده . نو ځكه كه پنځه فِرَق وي نو عُشر به لازم وي .

[٥١٢](١١) او د خراجي مځكي په پيداوار كي عُشر نسته .

وجه په خراجي مځكه كي خراج لازميږي. نو كه اُوس پر دي باندي عُشر لازم كو نو به مَؤُنَت دېل(دوچند)سي او شريعت پر يوه مځكه دوه واره خراج يا عُشر نه وصول وي . نو ځكه د مځكي په پيداوار كي عُشر نه لازميږي. صرف خراج به لازم سي .

حاشيه : (الف) د بني متعان يو سړئ هلال حضور ته راغلئ د شِهدُ عُشر يې راخستئ و او دا سوال(پوښتنه)وكړه چي يوه شله چي نوم يې سَلبَه دئ هغه دي دده لپاره محفوظ كړل سي. نو حضور هغه شله د هلال لپاره محفوظ كړه. بيا چي كله عُمربنِ خطّاب اميرالمؤمنين جوړسو نو سفيان بن وهب و ده ته ددي د پوښتني په اړه خط وليكئ نو حضرت عُمر جواب وركئ چي د شِهدُ ځومره عُشر چي وحضور ته ور ادآء كاوئ هغونه ادآء كړه. او دحضرت هلال لپاره سَلبه شله محفوظ كړئ. كه نه نو بيا دا د باران يو واښه دئ د چا چي خوښه سي هغه دي وخوري (ب) حضور وفرمائل د شِهدُ په باب كي چي په هر لس(١٠)مُشك كي يو مُشك دئ .

(بَابُ مَن يَّجُوزُ دَفعُ الصَّدَقَةِ اِلَيهِ وَمَن لاَّ يَجُوزُ)

[٥١٣](١) قَالَ اللهُ تَعَالىٰ اِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلفُقَرَآءِ وَالمسَاكِينِ اَلآيَة فَهٰذِهِ ثَمَانِيَةُ اَصنَافٍ [٥١٤](٢) فَقَد سَقَّطَ مِنهَا اَلمؤَلَّفَةُ قُلُوبُهُم لاَنَّ اللهَ تَعَالىٰ اَعَزَّالاِسلاَمَ وَاَغنىٰ عَنهُم (٥١٥)(٣) وَالفَقِيرُ مَن لَّهُ اَدنىٰ شَيئٌ [٥١٦](٤) وَالمسكِينُ مَن لاَ شَيئَ لَهُ

(بَابُ مَن يَجُوزُ دَفعُ الصَّدَقَةِ اِلَيهِ وَمَن لاَ يَجُوزُ)

ضروري پام لرنه وکومو خلګو ته زکوٰة ورکول جائز دئ چې زکوٰة په ادآء کيږي دا يو لوئي تفصيل لري .

[٥١٣](١) الله تعالىٰ فرمائي اِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلفُقَرَآءِ وَالمسَاكِينِ وَالعَامِلِينَ عَلَيهَا وَالمؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُم وَفِي االرِّقَابِ وَالغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللهِ وَابنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللهِ وَاللهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ (الف) (آيت ٦٠ سورة التوبة٩) په دې آيت کې اته(٨)قسم خلګ د زکوٰة مستحق کړئ دي.

[٥١٤](٢) د دې څخه مُؤَلَّفَةُ القُلُوب ساقط سوئ دي ځکه چې الله تعالي و اسلام ته عزت ورکړئ او د مُؤَلَّفَةُ القُلُوب څخه اسلام بې نياز کړئ .

تشريح مُؤَلَّفَةُ القُلُوب وهغو خلګو ته وائي چې و کافر ته د زکوٰة پيسې ورکړي ددې لپاره چې دئ و اسلام ته مائل سي. د اسلام په شروع کې داجائز و لېکن وروسته دا قسم منسوخ سو.ځکه چې اوس و اسلام ته الله عزت ورکړئ. نو اوس و مُؤَلَّفَةُ القُلُوب ته د احنافو په نېز زکوٰة ورکول جواز نه لري .

وجه دا اثر دئ عَن عَامِرٍ قَالَ اِنَّمَا كَانَتِ المؤَلَّفَةُ قُلُوبُهُم عَلىٰ عَهدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا وَلِّيَ اَبُوبَكرٍ اِنقَطَعَت (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ١٤٥ في المؤلفة قلوبهم يوجدون اليوم او ذهبوا ج٢ص٤٣٥نمبر١٠٧٥٩)ددې اثر څخه معلوم سو چې د ابوبکر په زمانه کې مُؤَلَّفَةُ القُلُوب ساقط سوئ دي.

[٥١٥](٣) فقير وهغه ته وائي چې د هغه سره يو شيئ نه وي .

تشريح د يو سړي سره مال وي لېکن دنصاب برابر نه وي وهغه ته فقير ويل کيږي.

پام لرنه ددې بر خلاف هم د فقير تفسير دئ چې د کوم چا سره يو شيئ هم نه وي وهغه ته فقير وائي

[٥١٦](٤) او مسکين وهغه ته ويل کيږي چې دهغه سره يو شيئ هم نه وي.

تشريح د چا سره چې يو مال نه وي وهغه ته مسکين وائي.

[٥١٧](٥) او عامل ته به امام ورکوي که عمل کړئ وي دده د عمل مطابق .

حاشيه : (الف) زکوٰة صرف د (١) فقيرانو (٢) مسکينانو (٣) په زکوٰة باندي دکار کونکولپاره (٤) مُؤَلَّفَةُ القُلُوبُو (٥) د مکاتب مريي د غارې د خلاصولو لپاره (٦) د پورورې(مقرو) (٧) کوم چې د الله په لاره کې په جهاد کې بُخت وي (٨) او مسافر لپاره دئ . دا فرض دئ د الله لجانب څخه او الله پوه او خاوند د حکمت دئ (ب) حضرت عامر وفرمائل مُؤَلَّفَةُ القُلُوب د حضور په زمانه کې و. بيا چې کله ابوبکر والي(امير)جوړ سو نو مُؤَلَّفَةُ القُلُوب ساقط سو .

[٥١٧](٥) وَالعَامِلُ يَدفَعُ اِلَيهِ اَلاِمَامُ اِن عَمِلَ بِقَدرِ عَمَلِهِ [٥١٨](٦) وَفِي الرِّقَابِ اَن يُّعَانَ المكَاتَبُونَ فِي فَكِّ رِقَابِهِم .

تشريح چې څومره کار يې کړئ وي حاکم به و کار کونکي ته دده دکار مطابق د زکوٰة څخه رقم ورکوي . او په دې باندي هم زکوٰة ادآء کيږي .

فـائـده و آلِ رسول او د آلِ رسول و ازاد کړئ غلام(مريي)ته د زکوٰة د روپئ څخه مزدوري ورکول ښه نه ده. ځکه چې زکوٰة او صدقه د انسانانو ميل(خِرَه)ده او دغه و آلِ رسول او د هغو وآزاد کړئ مريانو ته ورکول مناسب کار نه دئ. ځکه چې آزاد سوئ مريان هم د آلِ رسول په قوم کې داخل دي.

وجه ددې دليل دا حديث دئ حَدَّثَنَا بَهْزُبنُ حَكِيمٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَتِيَ بِشَيئٍ سَئَلَ اَصَدَقَةٌ هِيَ اَم هَدِيَّةٌ ؟ فَاِن قَالُوا صَدَقَةٌ لَم يَاكُل وَاِن قَالُوا هَدِيَّةٌ اَكَلَ (الف)(ترمذي شريف.باب ماجآء في كراهية الصَّدَقَةِ لِلنَّبِيِّ وَاَهلِ بَيتِهِ و مواليه ص۱۴۱نمبر۱۶۵۶\وبمعناه ابوداؤدشريف.باب الصدقة علي بني هاشم ص۲۴۰نمبر۱۶۵۲)ددې حديث څخه معلوم سو چې د اهلِ بيت لپاره صدقه(زکوٰة)اخستل جواز نه لري.او دزکوٰة د مال څخه د اُجرت(مزدوري)اخستلو کراهيت ددې حديث څخه معلوم سو. او د آلِ مُحمّد دآزاد سوو غلامانو(مريانو)لپاره د زکوٰة د مال څخه د اُجرت(مزدورئ)اخستلو کراهيت ددې حديث څخه معلوميږي عَن اَبِي رَافِعٍ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلاً مِّن بَنِي مَخزُومٍ عَلَي الصَّدَقَةِ فَقَالَ لاَبِي رَافِعٍ اَصحِبنِي كَيمَا تُصِيبَ مِنهَافَقَالَ لاَ حَتّيٰ اٰتِيَ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَاَسئَلَهُ فَانطَلَقَ اِلَيٰ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَسَئَلَهُ فَقَالَ اِنَّ الصَّدَقَةَ لاَ تَحِلُّ لَنَا وَاَنَّ مَولَي القَومِ مِن اَنفُسِهِم (ب) (ترمذي شريف.باب ماجآء في كَرَاهِيَةِ الصَّدَقَةِ لِلنَّبِيِّ و اهل بيته ومواليه ص۱۴۲نمبر۱۶۵۷\ابوداؤدشريف.باب الصدقة علي بني هاشم ص۲۴۰نمبر۱۶۵۰)ددې حديث څخه معلوم سو چې د آزاد سوئ غلام(مرئي)شمار هم په هغه قوم کې کيږي .او هغه هم بايد د زکوٰة د مال څخه مزدوري نه واخلي. دا تقويٰ تقاضا ده .لېکن که واخستئ نوجائزدئ.ځکه چې دحضور آل د زکوٰة د مال څخه مزدوري اخستې ده. د ابوداؤد په حديث نمبر۱۶۵۳ کې راغلې دي عَن كُرَيبٍ مَولَيٰ اِبنِ عَبَّاسٍ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ : بَعَثَنِي اَبِي اِلَيٰ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَي اِ بِلٍ اَعطَاهَا اِيَّاهُ مِنَ الصَّدَقَةِ (ابوداؤدشريف.باب الصدقة علي بني هاشم ص۲۴۰نمبر۱۶۵۳)په دې حديث کې دئ چې د صدقې وُښ يې و ابن عباس ته ورکئ.

[۵۱۸](۶) او د غارِي د خلاصولو مطلب دادئ چې د مُکاتب غلام(مرئي)دده په غارِه خلاصولو کې مدد وکړل سي.

تشريح پر مُکاتب مرئي باندې مالِ کتابت واجب وي نو د مالِ کتابت د ادآء کولو لپاره و مُکاتب ته د زکوٰة مال ورکول سي چې دئ په دې باندې مالِ کتابت ادآء کې.ځکه چې دئ هم غريب دئ او دغه رنګه دئ هم د زکوٰة مُستحق دئ.

لغت : فَكُّ رِقَابٍ . د مُکاتب غارِي ورخلاصول.

حاشيه : (الف) چې حضورله به کله چا صدقه(زکوٰة)راوړئ نو حضور به پوښتنه کوله چې دا صدقه(زکوٰة)دئ که هديه ده ؟ که ويل چې دا صدقه ده نو نه خوړل او که ويل چې دا هديه ده نو هغه يې خوړل (ب) د بني مخزوم يو سړئ يې د صدقې د وصولولو لپاره واستاوئ نو هغه و ابورافع ته وويل چې ته زما سره را سره سه چې و تاته هم څه ورسيږي. وفرمائل نه ! تر هغو چې زه حضور ته ولاړ سم او پوښتنه ځني وکړم نو هغه حضور لره ولاړئ او پوښتنه ځني وکړه نو وفرمائل چې صدقه(زکوٰة)زموږ لپاره نه دئ حلال او د قوم آزاد کړئ غلام(مريئ)هم دقوم څخه وي .

[۵۱۹](۷) وَالغَارِمُ مَن لَزِمَ دَينٌ [۵۲۰](۸) وَفِي سَبِيلِ اللهِ مُنقَطِعُ الغُزَاةِ [۵۲۱](۹) وَابنُ السَّبِيلِ مَن كَانَ لَهُ مَالٌ فِي وَطَنِهِ وَهُوَ فِي مَكَانٍ اٰخَرَ لاَ شَيئَ لَهُ فِيهِ فَهٰذِهِ جِهَاتُ الزَّكوٰةِ [۵۲۲](۱۰) وَ لِلمَالِكِ اَن يَّدفَعَ اِلَيٰ كُلِّ وَاحِدٍ مِّنهُم وَلَهُ اَن يَّقتَصِرَ عَلَيٰ صِنفٍ وَّاحِدٍ [۵۲۳](۱۱) وَلاَ يَجُوزُ اَن يَّدفَعَ الزَّكوٰةَ اِلَيٰ ذِمِّيٍّ وَلاَ يَبنِي بِهَا مَسجِدٌ

---

[۵۱۹](۷) غارم،مقروض هغه دئ چې قرض(پور)پر لازم سوئ وي.

تشريح پر چا چې قرض لازم سوئ وي او دومره روپئ ددې سره نه وي چې قرض په ادآء کې او د نصاب مطابق روپئ ورسره پاتې هم سي . نو دئ خو غريب دئ ځکه د زکوٰة مُستحق هم دئ .

[۵۲۰](۸)او د الله په لاره کې،مطلب دادئ چې د غازيانو څخه و شاته پاتې سوئ وي .

تشريح د غازيانو او مجاهدينو وشاته چې څوک پاتې سوئ وي وهغه ته مُنقَطِعُ الغُزَاة وائي. وهغو ته هم دزکوٰة مال ورکول او مرسته کول جائز دي.

[۵۲۱](۹) اِبنُ السَّبِيل،چې ددې مال دده په وطن کې وي او دئ په بل ځائ کې وي او هلته ددې لپاره هيڅ شيئ نه وي.

تـشريـح اِبنُ السَّبِيل : د لاري زوئي يعني مُسافر، چې په کور کې مالِ نصاب وي لېکن دده سره دلته هيڅ شيئ نـه وي نو ودا سړي ته دزکوٰة مال ورکول کېدائي سي. چې دئ کورته ځان ورسوي.

[۵۲۲](۱۰) و مالك ته جواز لري چې زکوٰة وهر صنف(قسم خلګو)ته ورکي. او دده لپاره دا هم جـواز لـري چـې پر يوه قسم باندي اکتفآء وکړي.

تـشريـح په آيت کې و اته(۸)قسمو ته د زکوٰة ورکولو تذکره کړې ده. لېکن که و يوه قسم ته ټوله زکوٰة ورکئ نـو هم زکوٰة ادآء کيږي.

وجـه په اثر کې راغلي دي عَن حُذَيفَةَ قَالَ اِذَا اَعطَاهَا فِي صِنفٍ وَّاحِدٍ مِنَ الاَصنَافِ الثَّمَانِيَةِ اَلَّتِي سَمَّي اللهُ تَعَالٰي اَجزَاهُ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۸۵، ماقالوا في الرجل اذا وضع الصدقة في صنف واحد ج۲ص۴۰۵نمبر۱۰۴۴۵)ددې اثر ځخه معلوم سو چې کـه ويـوه قسم ته زکوٰة ورکئ نو هم کفايت کوي.

فـا ئـد ه امام شافعي وفرمائل چې په آيت کې د جمع صيغه ده نو ځکـه لږ تـر لـږ دري کسـان بايـد وي. او ټولـه قسمونه يې د اِنَّمَا په لفظ سره مُقيد کړي دي نو ځکـه و ټولـو قسـمونه دي زکوٰة ورکـي. او د هـر قسـم و دري دري کسانو ته دې ورکي. مورِ دا وايو چې قرآن هغه قسمونه بيان کړي دي چې دغه قسمونه يې ټوله مَصرَف دي. کـه وټولو ته ورکوې که ويوه ته دضرورت په اندازه ورکوي. البته د ضرورت ځخـه زيـات ويـوه تـه دومـره ورکـول چې هغه مالدار(غني)سي مکروه دئ.

[۵۲۳](۱۱) نه دئ جائز چې زکوٰة و ذِمّي ته ورکي. او نه دي په دې مسجد جوړوي.او نه دي په دې باندي و مړي ته کفن ورکوي. او نه دي په دې باندي مريئ اخلي چې آزاد يه کړي.

وجـه (۱) يو غريب مسلمان د زکوٰة مالك جوړول ضروري دئ. ويو کافر ته زکوٰة ورکولو ځخه د زکوٰة ادئيګـي نه صحيح کيږي. دغه رنګه يو غريب يا د زکوٰة مُستحق يې مالك نه کئ جوړ نو هم زکوٰة نه سو ادآء.

~~حاشيه : (الف) د حضرت حُذيفه ځخه نقل سوئ دي چې که د اتو(۸)قسمو ځخه و يوه قسم ته ورکئ. کوم چې الله نوم اخستئ دئ نو دده ځخه کفايت کوي .~~

وَلاَ يُكَفَّنُ بِهَا مَيِّتٌ وَلاَ يَشتَرِي بِهَا رَقَبَةٌ يُعتَقُ [۵۲۴](۱۲) وَلاَ تُدفَعُ اِلٰي غَنِيٍّ .

په دغه مذکوره صورتو کې غريب مالك نه جوړيږي نو ځکه زکوٰة نه سوادآء مثلاً د مسـجد جوړولـو پـه صـورت کې د غريب ملکيّت نه سو متحقق. دغه رنګه ومړي ته کفن ورکولو کې هـم مـړئ يـې مالـك نـه سـو. ځکـه چـې د مرګ وروسته به ځه رنګه مالك جوړوي؟ دغه رنګه د مرئي(غلام)په اخستلو کې هم غلام(مريئ)يې مالك نه سو. ځکه چې دده مالك يې مالك جوړيږي. او مالك مالداره دئ نو ځکه د غلام(مرئي)په اخستلو او آزادولـو سـره زکـوٰة نه ادآء کيږي (۲) حـديث هـم دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لِمَعاذِ اِبنِ جَبَلٍ ... اَنَّ اللهَ قَد اِفتَرَضَ عَلَيهِم صَدَقَةً تُؤخَذُ مِن اَغنِيَائِهِم فَتُرَدُّ اِلٰي فُقَرَائِهِم (الف) (بخاري شريف.باب اخذالصدقة من الاغنيآء وترد في القرآء حيث كانوا ص۲۰۲\۲۰۳ نمبر۱۴۹۶)ددې حديث ځخه معلوم سو چې د مسلمان مادارانو ځخه به اخستل کيږي د هغو يعني پر غريب مسلمانانو به تقسيم کيږي .نو ځکه وغير مُسلم ته زکوٰة ورکول جواز نه لـري (۳) ددې اثـر ځخـه د لـوړو ټولـو مسـئلو تائيـد ښکاره کيږي . عَن الثَّورِي قَالَ الرَّجُلُ لاَيُعطِي زَكوٰةَ مَالِهِ مَن يَحبِسُ عَلَي النَّفقَةِ مِن ذَوِي اَرحَامِهِ وَلاَ يُعطِيهَا فِي كَفَنِ مَيِّتٍ وَلاَ دَينِ مَيِّتٍ وَلاَ بِنَآءِ مَسجِدٍ وَلاَ شِرَآءِ مُصحَفٍ وَلاَ يَحُجُّ بِهَا وَلاَ تُعطِيَهَا مُكَاتَبُكَ وَلاَ تَتَبَاعُ بِهَا نِسمَةٌ تُحَرِّرُهَا وَلاَ تُعطِيَهَا فِي اليَهُودِ وَالنَّصَارٰي وَلاَ تَستَاجِرُ عَلَيهَا مِنهَا يَحمِلُهَا لِيَحمِلَهَا مِن مَكَانٍ اِلٰي مَكَانٍ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب لمن الزكوٰة ج۴ ص۱۱۳نمبر۷۱۷۰\مصنف ابن ابي شيبة،۷ ماقالوا في الصدقة يعطي منها اهل الذمة ج۲ ص۴۰۲نمبر۱۰۴۱۰)ددې اثر ځخه هم د لوړو ټولو مسئلو تائيد معلوميږي (۴) په آيت کې د اِنَّمَا په حصر سره د اته(۸)قسمو تذکره سوې ده د دې مطلب دادئ چې ودغـه اتـو(۸)قسـمو تـه د زکـوٰة ورکولـو ځخه زکوٰة ادآء کيږي.

اصول مسلمان غريب يې مالك جوړول ضروري دئ.

پـا م لـرنـه و ذِمّي ته نفلي صدقه ورکول جائز ده.

وجـه حديث دئ عَن اَسمَآءٍ قَالَت قَدِمَت عَلَيَّ اُمّي رَاغِبَةً فِي عَهدِقُرَيشٍ وَهِيَ رَاغِمَةٌ مُشرِكَةٌ فَقُلتُ يَارَسُولَ اللهِ اِنَّ اُمّي قَدِمَت عَلَيَّ وَهِيَ رَاغِمَةٌ مُشرِكَةٌ اَفَاَصِلُهَا ؟ قَالَ نَعَم فَصِلِي اُمُّكِ (ج) (ابوداؤدشريف.باب الصدقة علي اهل الذمة ص٢٤٣نمبر ١٦٦٨)ددي حـديث څخـه معلـوم سو چي د مُشرك سره صِله رحمي كول نفلي صدقه وركول جائز ده.

[٥٢٤](١٢) زكٰة دي و يو مالدار سړي ته نه وركوي.

حاشيه : (الف) الله پر هغو زكوٰة فرض كړئ دئ چې دهغو دمالداراتو څخه به اخستل كيږي او دهغو پر فقيراتو به خرچ كول كيږي (ب) دحضرت ثوري څخه منقول دئ چې يو سړئ دخپل ذَوِي الأرحَامُ د نفقې ذِمّـه داره وي پر هغـه دي خپل زكوٰة نـه خرچ وي. او نـه دي وركوي د مړي په كفن كي. او نه د مړي په قرض كي. او نه دمسجد په جوړولو كي. او د قرآن په اخستلو كـي. او نـه دي پـه دي باندي حج كوي او نه دي دا و خپل مُكاتب تـه وركـوي. او نـه دي پـه دي باندي يـو غلام(مريئ)اخلـي چـي آزاد يـي كـي. او نـه دي و يهود او نصاريٰ ته وركوي. او نه دي دزكوٰة په پيسو يو څوك په اُجرت(مزدوري)باندي اخلـي چـي د يـوه خـائ څخـه وبـل خـائ تـه يوسـي (ج) حضرت اسمآء فرمائي چي ماته زما مور راغله په داسي حال كي چي د قريشُ عَهد(وخت.او زمانه)يي غُوښته. او پـه خبثم وه ځكـه چـي مُشركه وه. ما وويل ائ دخدائ پيغمبره! زما مور ماته راغلي ده په داسي حال كي چي دا په غضب(خبثم)ده. مُشركه ده. آيا زه ددي سـره صِله رحمي وكم ؟ حضور وفرمائل هو(وو) ! دخپلي مور سره صَله رحمي كوه .

[٥٢٥](١٣) وَلاَيَـدفَعُ المـذَكّي زَكوٰتَـهُ اِلىٰ اَبِيـهِ وَجَـدِّهِ وَاِن عَلـيٰ وَلاَ اِلىٰ وَلَـدِهِ وَوَلَـدِ وَلَـدِهِ وَاِن سَـفَلَ وَلاَ اِلىٰ اُمِّـهِ وَجَدَّاتِـهِ وَاِن عَلَـت وَلاَ اِلىٰ اِمرَئَتِـهِ

[٥٢٦](١٤) وَلاَ تَدفَعُ المرَاَةُ اِلىٰ زَوجِهَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالىٰ وَقَالاَ تُدفَعُ اِلَيهِ .

وجـه پـه حديث كي دئ عَن اَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لاَ تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ اِلاَّ فِي سَبِيلِ اللهِ اَو اِبنِ السَّبِيلِ اَو جَارٌ فَقِيرٌ يَتَصَدَّقُ عَلَيهِ فَيَهدِي لَكَ اَو يَدعُوكَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب من يجوز له اخذالصدقة وهو غني ص٢٣٨نمبر١٦٣٧)ددي حديث څخه معلوم سو چي د مالدار ړي لپاره په عامو حالاتو كي زكوٰةاخستل جـواز نـه لـري مگر دا چـي دئ مُجاهد وي يـا مُسافر.

[٥٢٥](١٣) زكوٰة وركونكئ دي زكوٰة نه وركوي وخپل پلار ته.وخپل نيكه ته كه څه هم تر لـوړ پـوري وي.وخپل اولاد ته نه د اولاد و اولاد ته كه څه هم تر لاندي پوري وي.نه وخپله مور ته نه وخپله اَنَا ته كـه څـه هـم تـر لـوړ پوري وي،او نه وخپله بي بي(مينه)ته.

وجـه (١) ددي خلگو سره دومره جوړه(تينگه)رابطه وي چي ددوئي خُوَرَكَه هم د سړي پر ذِمّه لازم وي. نوځكـه ودي خلگو ته وركول گواكه د زكوٰة مال په خپله دځان سره ايښول دئ. نو په دغه وجه د زكوٰة مال ودي خلگو ته وركولو سره زكوٰة نه ادآء كيږي (٢) په اثر كي راغلي دي چي د كومو خلگو كفالـت كـوي او د اُصـول او فُـرُوع څخه وي وهغه ته د زكوٰة وركولـو څخـه زكـوٰة نـه ادآء كيـږي عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ لاَبَاسَ اَن تَجعَلَ زَكوٰتَكَ فِي ذَوِي قَرَابَتِكَ مَالَمَ يَكُونُوا فِي عَيَالِكَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ٩٦ ماقالوا في الرجل يدفع زكوٰته الي قرابته ج٢ص٤١٢نمبر١٠٥٣١\مصنف عبدالرزاق باب لمن الزكوٰة ج٤ص١١٢ نمبر٧١٦٤)ددي اثر څخه معلوم سو چي كوم د نزدي عزيز(قريب)وي او په قُدرتي توگه دهغو كفالت هم كوي نو و داسي خلگو ته د زكوٰة وركولو څخه زكوٰة نه ادآء كيږي.

پـــام لـــرنـــه پلار،نيكه،مور،انا اُصُول دي او زوئي،لمسئ فُرُوع دي.

[٥٢٦](١٤) او زكوٰة دي نه وركوي بنځه و خپل خاوند(مېړه)ته د امـام ابوحنيفـه پـه نبـز او صـاحبين فرمـائي چـي وخاوند ته دي وركي.

وجـه (١) د امام اعظم دليل د لوړي مسئلي نمبر١٣ اثر دئ چي كوم څوك په كفالت كي وي و هغـو تـه زكـوٰة نـه سي ور كولائي. او بنځه د مېړه په كفالت كي وي نوځكـه زكـوٰة بېرتـه وده تـه راځـي. نـو ځكـه و دي تـه د زكـوٰة ورکولو څخه زكـوٰة نـه ادآء كيـږي (٢) كـه و خاوند(مېړه)تـه وركـي نـو د نـان او نفقـه پـه وجـه بېرتـه دغـه مـال بنځي(مينې)ته را واپس كيږي. او وروسته به په خپله بنځه ددغه مال څخه خوراك كوي. نو ځكه گواكه زكـوٰة يـي بېرته په خپل جيب كي واچاوئ. نو ځكه و خاوند(مېړه)ته د زكوٰة مال وركـول جـواز نـه لـري. البتـه نفلـي صـدقه وخاوند(مېړه)ته وركولائي سي.او صاحبين فرمائي چي بنځه(مينه)خپل زكوٰة و مېړه ته وركولائي سي.

وجه (۱) خاوند(میړه)دښځي په عَيَال کي نه دئ. يعني پر ښځه دخاوند(میړه)نان و نفقه نه ده لازم (۲) په حديث کي دئ عَن اَبِي سَعِيدِالخُدرِيِّ ... قَالَت يَا نَبِيَّ اللهِ اِنَّكَ اَمرتَ اليَومَ بِالصَّدَقَةِ وَكَانَ عِندِي حُلِيٌّ لِي فَاَرَدتُّ اَن اَتَصَدَّقَ بِهِ فَزَعَمَ اِبنُ مَسعُودٍاَنَّهُ

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل زكوٰة حلال نه دئ د مالدار لپاره مګر دا چې دالله په لاره کې وي يا مسافر وي يا فقير همسايه وي پر هغه صدقه کړل سي نو هغه يې و تاته هديه کې يا يې په تا وخوري وچيښي نو بيا خو حلال دئ (ب) ابن عباس وفرمائل خو کـه چيـري هغه قريبان دده په عَيَال کي نه وي.

[۵۲۷](۱۵) وَلاَيدفَعُ اِلىٰ مُكَاتَبِهِ وَلاَ مَملُوكِهِ [۵۲۸](۱۶) وَلاَ مَملُوكِ غَنِيٍّ وَلاَ وَلَدِ غنِيٍّ اَذَا كَانَ صَغِيراً.

وَوَلَدُهُ اَحَقُّ مَن تَصَدَّقتَ بِهِ عَلَيهِم فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَدَقَ اِبنُ مَسعُودٍ زَوجُكَ وَوَلَدُكَ اَحَقُّ مَن تَصَدَّقتَ بِهِ عَلَيهِم (الف) (بخاري شريف.باب الزكوٰة علي الاقارب ص۱۹۷نمبر۱۴۶۲)په دې حديث کي حضور د حضرت عبدالله بن مسعود وښځه ته وفرمائل چـي سـا بچيان(اولاد)او ستا خاوند(میړه)ستا دصدقې زيـات حقداره دي.يعنـي دزکـوٰة، نـو ځکـه د ښـځي و میړه تـه زکـوٰة ورکول جائز دئ. امام اعظم ددې جواب دا ورکوي چې دا قول دنفلي صدقې په باب کي دئ اوهغـه خـو مـور هم جائز بولو.

[۵۲۷](۱۵) او زکوٰة دي نه ورکوي وخپل مُکاتب مرئي ته او وخپل مرئي(مملوك)ته.

وجه (۱) مُکاتب چې ترڅو مَالِ کتابت نه وي ادآء کړئ تر هغه وخت پوري دئ مرئي پاته دئ. او د مرئـي ټول مال بلکه دئ په خپله د مولیٰ په ملکيت کي وي.نو ځکه وخپل مُکاتب يا وخپل مرئي ته زکوٰة ورکول ګواکه په خپله په خپل جيب کي دا مال ايښول سو. نوځکه وخپل مُکاتب او مرئي ته زکوٰة ورکولو څخه زکـوٰة نـه ادآء کيـږي (۲) مخکـي يـو اثـر تيـر سـوئ دئ پـه هغـه کـي دا و عَنِ الثَّورِيِّ قَالَ وَلاَ تُعطِيهَا مُكَاتَبُكَ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب لِمَنِ الزَّكوٰةُ ج۴ص۱۱۳نمبر۷۱۷۰)ددې اثر څخه معلوم سو چې و مُکاتب ته زکوٰة مه ورکوه ځکـه چـي هغـه دده غلام(مرئـي)دئ. نو په دغه وجه وخپل مرئي ته زکوٰة ورکول جواز نه لري.

[۵۲۸](۱۶)اودمالداروملوك ته اودمالدارواولادته دي زکوٰة نه ورکوي چې کله دوئي کشنيان وي.

وجه (۱) مخکي تيرسوئ ديچې د مملوك مال د مولیٰ مال وي.نو که د مالداره سړي و مملوك ته زکوٰة ورکئ نـو هغه به د مالداره مولیٰ ولاس ته ښرته ورسيږي او ومالداره سړي ته زکوٰة ورکول جواز نه لري نوپه دغه وجـه د مالداره سړي ومملوك ته زکوٰة ورکول هم نه دئ جائز. که چيري د غريب سړي مملـوك وي نـو وهغـه تـه زکـوٰة ورکول جائز دئ.ځکه چې هغه خو به دغريب مولیٰ ولاس ته ورسيږي. دغه رنګه د مالداره سړي کشـنئ بچـئ د مالداره په کفالت کي وي او ګواکه په خپله پلار دده دمـال مالـك وي نوځکـه د مالـداره سړي دبچي(کشـني)په لاس زکوٰة ورکول ګواکه د مالداره په لاس کي زکوٰة ورکول دئ. نو ځکه دمالداره سړي وکشني بچي ته زکوٰة ورکـول جواز نه لري (۲) کشنئ بچئ د پلار دمالدارئ پـه وجـه مالـداره شـميرل کيـږي پـه دي وجـه هـم د مالـداره سړي وبچي(کشني)ته زکوٰة ورکول جواز نه لري.دمالداره لپاره زکوٰة جواز نه لري د هغه حـديث دادئ عَن عَطَآءِ بنِ يَسَارٍ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ اِلاَّ لِخَمسَةٍ(۱)لِغَازٍ فِي سَبِيلِ اللهِ(۲)اَو لِعَامِلٍ عَلَيهَا(۳)اَو لِغَارِمٍ(۴)اَو لِرَجُلٍ اِشتَرَاهَا بِمَالِهِ(۵)اَو لِرَجُلٍ كَانَ لَهُ جَارٌ مِسكِينٌ فَتُصُدِّقَ عَلَيٰ المِسكِينِ فَاَهدَاهَا المِسكِينُ لِلغَنِيِّ (ابوداؤدشريف.باب من يجوز له اخذالصدقة وهوغني ص۲۳۸نمبر۱۶۳۴\۱۶۳۵)

پـام لـرنـه لوئ(غټ)بچيان د پلار ماتحت نه وي نو ځکه که پلار مالداره وي او دده لوئ(غټ)زوئي غريـب وي نو وهغه ته زکوٰة ورکولائي سي.ځکه چې دغريب په لاس کي زکوٰة ورکړئ.

اصول کشنئ بچئ د پلار سره شمېرل کيږي.

حاشيه : (الف) د ابوسعيد خدري ځخه روايت دئ ... چې دعبدالله بن مسعود ښځي وويل اې دخداې پيغمبره ! تا ښ دصدقې حکم ورکړئ. او زما سره څه زيورات دي نو زه غواړه چې دا صدقه کړم. دعبدالله بن مسعود دا ګمان دئ چـي دئ او دده اولاد زيـات حقداره دي چـي زه پر دوئي باندي صدقه وکړه. حضور وفرمائل عبدالله بن مسعود صحيح وائي. ستا خاوند (میړه) او ستا بچيـان (اولاد) زيـات حقـداره دي. ته پر هغو باندي صدقه وکړه (ب) حضرت ثوري وفرمائل وخپل مُکاتب ته زکوٰة مه ورکوه.

[٥٢٩](١٧) وَلاَ يَـدفَعُ اِلىٰ بَـنِي هَاشَـمٍ وَ هُـم آلُ عَلِـيٍّ وَ آلُ عَبَـاسٍ وَ آلُ جَعفَـرَ وَ آلُ عَقِيـلٍ وَ آلُ الحَـارِثِ بـنِ عَبـدُ المطَّلِـبِ وَ مَـوَالِيهِم
[٥٣٠](١٨) وَقَالَ اَبُوحَنِيفَةَ وَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالىٰ اِذَا دَفَعَ الزَّكوٰةَ اِلىٰ رَجُلٍ يَظُنُّهُ فَقِيراً ثُمَّ بَانَ اَنَّهُ غَنِيٌّ اَو هَاشَمِيٌّ اَو كَافِرٌ اَو دَفَعَ فِي ظُلمَةٍ اِلىٰ فَقِيرٍ ثُمَّ بَانَ اَنَّهُ اَبُوهُ اَو اِبنُهُ فَلاَ اِعَادَةَ عَلَيهِ اِعَادَةَ عَلَيهِ

---

[٥٢٩](١٧) او زکوٰة دي نه ورکوي وبني هاشم ته او هغه آلِ علي،آلِ عَبّاس ،آلِ جعفر،آلِ عقيل اوآلِ حارث بن عبدالمطلب دي او د دوئي آزاد کړي غلامان(مريان)دي.

وجـه (١) مخکي په حديث کي تېرسوي دي چي د آلِ هاشم او د دوئي و آزادکړو غلامانو(مريانو)تـه زکـوٰة جـواز نه لري. ځکه چي دا دخلګو(دمال)ميل(خيره)ده او دمال خيره د آلِ رسول لپاره خوړل ښه کار نه دئ (٢)عَن عبدِاللهِ بِنِ نَوفَلِ الهَاشَمِيِّ ... ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَنَا اِنَّ هٰذِهِ الصَّدَقَاتِ اِنَّمَا هِيَ اَوسَاخُ النَّاسِ وَ اَنَّهَا لاَتَحِلُّ لِمُحَمَّدٍ وَلاَ لآلِ مُحَمَّدٍ (الـف) (مسـلم شـريف.باب تحـريم الزکـوٰة علـي رسـول الله صـلي الله عليـه وسـلم وعلـي آلـه وهـم بنـو هاشـم وبنوعبـدالمطلب دون غـيرهم ص٣٤٥نمبر١٠٧٢\ ترمذي شريف.باب ماجآءفي کراهية الصدقة للنبي صلي الله عليه وسلم واهل بيته ومواليه ص١٤٢نمبر٦٥٧)ددي حـديث ځخه معلوم سو چي د محمدصلي الله عليه وسلم او د آلِ محمدصلي الله عليه وسلم چي لوړ يـي تـذکره وسـوه لپـاره زکوٰة اخستل جواز نه لري..... او د دوئي د آزاد کړو غلامانو(مريانو)لپاره د عدمِ جواز دليل دا حديث دئ عَن اَبِي رَافِعٍ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلاً مِّن بَنِي مَخزُومٍ عَلَي الصَّدَقَةِ ... فَقَالَ اِنَّ الصَّدَقَةَ لاَ تَحِلُّ لَنَا وَاَنَّ مَوَالِيَ القَومِ مِن اَنفُسِهِم (ب) (ترمذي شريف.باب ماجآءفي کرهيةالصدقة للنبي واهل بيته ومواليه ص١٤٢نمبر٦٥٧)ددي ځخـه معلـوم سـو چـي د آزاد کـړي غلام(مرئي)شمار په هغه قوم کي کيږي. نوځکه دبنو هاشم د آزاد کړومريانو لپاره زکوٰة اخستل جواز نه لري.

پـا م لـرنـه په نن زمان کي حالت د پخوا په رکم نه دئ. چي بلـه يـوه لاره نـه وي نـو و بنوهاشـم تـه دزکـوٰة ورکولو ګنجائش بعضو مُفتيانو کرامو ورکړئ دئ. وآزاد کړي مرئي او منځه ته دزکوٰة ورکولـو دا حـديث دئ عَن اَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَتيٰ بِلَحمٍ تَصَدَّقَ بِهِ عَلىٰ بَرِيرَةَ فَقَالَ هُوَ عَلَيهَا صَدَقَةٌ وَهُوَ لَنَا هَدِيَّةٌ (بخاري شريف.باب اذا تحولت الصدقة ص٢٠٢نمبر١٤٩٥)

لـغت : آلُ عَلِيٍّ : د علي د خاندان خلګ. مَوَالِيَ : د مولىٰ جمع ده آزاد کړئ غلام(مريئ).

[٥٣٠](١٨) امام ابوحنيفه او امام محمد فرمايلي دي که زکوٰة ويوه سړي ته ورکئ په دا ګُمان چـي دا فقيـر دئ بيـا ښکاره(معلوم)سو چي دا خو مالدار دئ،يا هاشمي دئ،يـا کـافر دئ،يـا يـه پـه تاريکـه کـي و مسکين تـه ورکـئ بيـا ښکاره(معلوم)سوچي دا خو دده پلار دئ،يا دده زوئي دئ نو پر ده باندي دزکوٰة اعاده نسته.

تـشريـح يو سړي په دا خيال زکوٰة ورکئ چي دا فقير(مُستحق)دئ لېکن وروسته معلوم سو چي دا خو مُستحق نـه دئ خو بيا هم که د تحقيق او پلټني وروسته ورکړئ و او وروسته غلطي ښکاره سوه نـو دزکـوٰة ادآئيګـي وسـوه. د احنافو په نېز دوباره د زکوٰة ورکولو ضرورت نسته.

وجـه اَنَّ مَعنِ بنِ يَزِيدٍ حَدَّثَهُ ... وَكَانَ اَبِي يَزِيدُ اَخرَجَ دَنَانِيرَ يَتَصَدَّقُ بِهَا فَوَضَعَهَا عِندَ رَجُلٍ فِي المسجِدِ فَجِئتُ فَاَخَذتُهَا فَاَتَيتُهُ بِهَا فَقَالَ وَاللهِ مَا اِيَّاكَ اَرَدتُّ فَخَاصَمتُهُ اِلىٰ رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَكَ مَانَوَيتَ يَا يَزِيدُ وَلَكَ مَا اَخَذتَ يَا مَعنُ

حاشيه : (الف) حضور مورِ ته وفرمائل دا صدقات دخلګو خيره ده دا دمحمد او آلِ محمد لپاره حلال نه ده (ب) حضور دبنو مخـزوم يـو سړئ د زکوٰة دوصولئ لپاره واستاوئ ... نو حضور وفرمائل صدقه زمورِ لپاره نه ده حلال او دا چي دقوم آزاد کړئ مريـئ د قـوم ځخـه شمېرل کيږي.

[٥٣١](١٩) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالىٰ وَعَلَيهِ الاِعَادَةُ [٥٣٢](٢٠) وَلَو دَفَعَ اِلىٰ شَخصٍ ثُمَّ عَلِمَ اَنَّهُ عَبدُهُ اَو مُكَاتَبُهُ لَم يَجزِ فِي قَولِهِم جَمِيعًا [٥٣٣](٢١) وَلاَ يَجُوزُ دَفعُ الزَكوٰةِ اِلىٰ مَن يَمِلكُ نِصَابًا مِن اَيِّ مَالٍ كَانَ [٥٣٤](٢٢) وَيَجُوزُ دَفعُهَا اِلىٰ مَن يَّمِلكُ اَقَلَّ مِن ذَالِكَ وَاِن كَانَ صَحِيحًا مُكتَسِبًا

(الف) (بخاري شريف.باب اذا تصدق علي ابنه وهو لايشعر ص١٩١نمبر١٤٢٢)په دې حديث کي دئ چي د پـلار زکـوٰة پـه هېـره سره و زوئي ته ورسېدئ بيا هم حضور وپلار ته وويل چي تا چي کوم نيّت کړئ دئ دهغه ادائيګي وسوه (٢) عَنِ

الحَسَنِ فِي الرَّجُلِ يُعطِي زَكوٰتَهُ اِلىٰ فَقِيرٍ ثُمَّ يَتَبَيَّنَ لَهُ اَنَّهُ غَنِيٌّ قَالَ اَجزَي عَنهُ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ٩٧ ماقالوافي الرجل يعطي زكوٰته لغنيّ وهو لايعلم ج٢ص٤١٣نمبر١٠٥٤٣)ددي اثر څخه معلوم سو چي ومالدار ته په دا خيال زكوٰة وركئ چي غريب دئ نو د زكوٰة ادائيګي وسوه.

[٥٣١](١٩) امام ابويوسف فرمائي پر ده باندي زكوٰة راګرزول دئ.

تشريح يعني په هېره(غلطي)سره وغير مُستحق ته زكوٰة وركئ او وروسته ښكاره سو نو دامام ابويوسف په نېز زكوٰة نه سو ادآء. دوباره به ادآء كوي.

وجه (١) غريب يې مالك جوړول ضروري و او هغه ونه سو او مُستحق ته زكوٰة نه ورسېدئ نو ځكه زكوٰة به دوباره ادآء كوي (٢) عَن اِبرَاهِيمَ فِي الرَّجُلِ يُعطِي زَكوٰتَهُ الغَنِيَّ وَهُوَ لايَعلَمُ قَالَ لاَ يَجزِيهِ (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ٩٥ ماقالوا في الرجل يعطي زكوٰته لغنيّ وهو لايعلم ج٢ص٤١٣نمبر١٠٥٤٤)ددي اثر څخه معلوم سو چي كه په هېره(غلطي)سره و غيرمُستحق ته زكوٰة وركئ نو زكوٰة يې نه سو ادآء.

اصول چي زكوٰة ومُستحق ته نه ورسيږي كه څه هم په هېره سره وي نو زكوٰة نه سو ادآء.

[٥٣٢](٢٠) او كه زكوٰة و يو سړي ته وركئ بيا معلوم سو چي دا خو دده غلام(مريئ)دئ يا دده مُكاتب دئ نو بالاتفاق جواز نه لري.

وجه د خپل مرئي يا دمُكاتب په لاس كي زكوٰة ولاړئ نو گواكه په خپل لاس كي پاته دئ. ځكه چي د غلام(مرئي)ملكيّت دخپل ځان ملكيّت دئ. نو گواكي ديوه جېب څخه راويستئ په بل جېب كي كښېښوئ. نو ځكه بالاتفاق زكوٰة نه سو ادآء.

اصول د غلام(مرئي)ملكيّت په خپله د مولىٰ(مالك)ملكيّت دئ.

[٥٣٣](٢١) زكوٰة وركول جواز نه لري وهغه سړي ته چي دنصاب مالك سي د هر رنګه مال چي وي.

تشريح د خپل حاجتِ اصلي څخه زيات وي او هر مال چي دنصاب برابرسي نو وهغه ته دزكوٰة وركولو څخه زكوٰة نه ادآء كيږي.

وجه ځكه چي دئ غني اومالداردئ اومخكي تير سو چي وغني اومالدار ته زكوٰة نه سي وركولائي.

عَن عَطَآءِبنِ يَسَارٍ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ اِلاَّ لِخَمسَةٍ(ابوداؤدشريف.نمبر١٦٣٤\١٦٣٥)

[٥٣٤](٢٢)اوجائزدئ زكوٰة وركول وداسي سړي ته چي دنصاب څخه دكم مالك وي كه څه هم هغه جوړاو ګټه كونكئ وي.

حاشيه : (الف) مَعَن بن يزيد بيان كړئ دئ ... زما پلار يزيد يو څه دنانير دصدقي لپاره را ويستل او هغه يي په مسجد كي د يو سړي سره كښېښول نو زه ولاړم او هغه زكوٰة مو واخستئ. هغه مو راوړي نو پلار ووېل چي قسم په خداۍ وتاته مو دركولو نيّت نه و كړئ. نو ما والد(پلار)دحضور خدمت ته را وستئ. نو حضور وفرمائل اۍ يزيد تا چي كوم نيّت كړئ و هغه ورسېدئ او اۍ مَعَن تا چي كوم واخستئ هغه تيك(صحيح)دئ (ب) د يو سړي په باب يي د حسن څخه پوښتنه وكړه چي دا خيال يي و چي فقير دئ زكوٰة يي وركئ بيا معلوم سو چي هغه خومالداره دئ نو وفرمائل چي كفايت كوي (ج) دحضرت ابراهيم څخه پوښتنه وكړه د يو سړي په اړه چي زكوٰة ومالداره ته وركي او و ده ته نه وي معلوم. حضرت ابراهيم وفرمائل چي و ده ته كفايت نه كوي.

[٥٣٥](٢٣) وَيُكرَهُ نَقلُ الزَّكوٰةِ مِن بَلَدٍ اِلىٰ بَلَدٍ آخَرَ [٥٣٦](٢٤) وَاِنَّمَا يُفَرَّقُ صَدَقَةُ كُلِّ قَومٍ فِيهِم اِلاَّ اَن يَّحتَاجَ اَن يَّنقُلَهَا الاِنسَانُ اِلىٰ قَرَابَتِهِ اَو اِلىٰ قَومٍ هُم اَحوَجُ اِلَيهِ مِن اَهلِ بَلَدِهِ .

تشريح كوم سړئ چي دنصاب څخه د كم(لږ)مالك وي هغه دشريعت په نظركي غني نه دئ بلكه هغه فقيردئ نو ځكه وهغه ته زكوٰة وركول كېدائي سي. كه څه هم هغه په سرت(په بدن)جوړ وي او او په خپله ګټه كولائي سي. ځكه چي في الحال دئ فقير دئ او و فقير ته زكوٰة وركول جائز دئ.

وجه په اثر كي راغلي دي سَمِعتُ حَمَّاداً يَقُولُ مَن لَم يَكُن عِندَهُ مَالٌ يَبلُغُ فِيهِ الزَّكوٰةُ اَعطَيٰ مِنَ الزَّكوٰةِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ٨١ من قال لاتحل له الصدقة اذا ملك خمسين درهمًا ج٢ص٤٠٤ نمبر١٠٤٣٥)ددي اثر څخه معلوم سو چي څوك دنصاب مالك نه وي وهغه ته زكوٰة وركول كېدائي سي.

پام لرنه خوچي ويوه سړي ته دومره پيسي وركي چي هغه دنصاب مالك جوړسي دا مكروه دي.

وجه په اثر كي راغلي دي عَن عَامِرٍ قَالَ اَعطِ مِنَ الزَّكوٰةِ مَا دُونَ اَن يَّحِلَّ عَلَيهِ مَن تُعطِيَهُ الزَّكوٰةُ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ٨٠ ماقالوا في الزكوٰة قدر مايعطي منها ج٢ص٤٠٣ نمبر١٠٤٣٠)ددي اثرڅخه معلوم سو چي و يوه سړي ته دي دومره زكوٰة نه وركوي چي په خپله پر هغه باندي زكوٰة واجب سي.

لغت : مُكتَسِبًا . د كَسبٌ څخه اسم فاعل دئ. كاركونكئ.

[۵۳۵](۲۳) مکروه دئ زکوٰة دیوه بنارځخه وبل بنار ته نقل کول.

وجه (۱)په حدیث کي دئ چي دمالدارانوځخه زکوٰة واخله اودهغوخلګوپرغریبانوباندې تقسیم که نو ځکه زکوٰة به اَوّل دهغه بنارپرخلګوباندي تقسیموي.که دهغه ځائ ځخه بچاؤسوبیادې دبل بنارو غریبانوته ورکي.خوکه چیري دبل بنارخلګ ددې بنارترخلګو زیات محتاج ونوچي دابنارپریږ دي د بل بنارپربنارپانوباندي تقسیم کولائي سي(۲)په حدیث کي دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لِمَعَاذِبنِ جَبَلٍ حِينَ بَعَثَهُ اِلِيَ اليَمَنِ...قَدافْتُرِضَ عَلَيهِم صَدَقَةٌتُؤخَذُمِن اَغنِيَائِهِم فَتُرَدُّعَلِيٰ فُقَرَائِهِم(ج)(بخاري شريف باب اخذالصدقة من الاغنيآءوتردفي الفقرآءحيث كانواص۲۰۲\۲۰۳نمبر۱۴۹۶)په دې حدیث کي دئ چي ددې بنار دخلګوځخه دې واخلي اوددغه بناردخلګوپرغریبانودې تقسیم کي.ددې ځخه معلوم سوچي وبل بنار ته زکوٰة منتقل کول مکروه دئ.

[۵۳۶](۲۴)دهرقوم صدقه دي په هغه قوم کي تقسیم کي.مګرداچي محتاج وي چي انسان یي وخپلو قریبانو ته نقل کړي. یا یي وداسي قوم ته منتقل کړي چي ددې بنار دخلګوځخه زیات محتاج وي.

تشریح بنه خو داده چي دکوم بنار دمالدارانو ځخه زکوٰة واخلي دهغه بنار پر مسکینانو باندې تقسیم کي.لېکن که په بل بنار کي دده قریبان وي نو دقریبانو لپاره وبل بنار ته زکوٰة منتقل کولائي سي. یا دبل بنار خلګ ډېر محتاج وي نو بیا یي هلته منتقل کولائي سي. وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَهُ اَجرَانِ اَجرُ القَرَابَةِ وَاَجرُ الصَّدَقَةِ (الف) (بخاري شريف.باب الزكوٰة علي الاقارب ص۱۹۶ نمبر۱۴۶۱\ترمذي شريف.باب ماجآءفي الصدقة علي ذي القرابة ص۱۴۲نمبر۶۵۸)

پام لرنه که دبل بنار خلګ زیات محتاج نه وي خو بیا هم چي زکوٰة ورکي زکوٰة ادآءکیږي. ځکه چي دا خلګ فقیران دي او مصرف یي دي خو دارنګه کول مکروه دئ.

حاشیه : (الف) حضرت حمّاد وفرمائل چي دکوم چا سره دومره مال نه وي چي په هغه کي زکوٰة واجبیږي نو وهغه ته به زکوٰة دمال ځخه ورکول کیږي (ب) حضرت عامر وفرمائل چي دزکوٰة رقم دومره لږ ورکه چي وکوم چا ته چي دي زکوٰة ورکړئ دئ پرهغه زکوٰة واجب نه سي (ج) حضورچي معاذ بن جبل ویمن ته استاوئ ورته وفرمائل ... پر دغه خلګوباندي زکوٰة فرض کړل سوئ دئ. د دوئي دمالدارانوځخه دي واخستل سي او د دوئي پر فقیرانو دي تقسیم کړل سي (د) حضور وفرمائل د دوئي لپاره دوه قسم اجر(ثواب)دئ د قرابت اجر او دصدقې اجر.

(بَابُ صَدَقَةِ الفِطرِ)

[۶۳۷](۱) صَدَقَةُ الفِطرِ وَاجِبةٌ عَلِيٰ الحُرِّ المسلِمِ اِذَا كَانَ مَالِكًا لِمِقدَارِ النِّصَابِ فَاضِلاً

(بَابُ صَدَقَةِ الفِطرِ)

ضروري پام لرنه د کشني اختر په ورځ چي کومه صدقه ورکول کیږي وهغه ته صَدَقَةُ الفِطر وائي.تولـه میاشته سړئ روژې ونیسي دغه ورځ د اِفطَار ورځ وي نوځکه ودې ته صَدَقَةُ الفِطر وائـي. ددې دلیل مختـه راروان دئ .

[۵۳۷](۱) صَدَقَةُ الفِطر واجب ده پر هر آزاد،مسلمان باندي چي کله دنصاب دمقدار مالك وي او دخپل د وسېدلو د کور او دخپلو کپړو او دخپل سامان آسان،اسلحي او دخدمت دمرئي ځخه زیات وي.

تشریح چي دحاجت اصلي ځخه زیات وي نو بیا صَدَقَةُ الفِطر واجبیږي.او دغه لوړ تولـه شیان د حاجتِ اصلیّه ځخه دي. مثلاً دوُسېدلولپاره یوکُور،د ورځني اغستلولپاره کپړي،دکور ساماندجهادلپاره آسان،اسلحه(سلاح)او دخدمت لپاره غلام(مریئ)دغه شیان دانسان لپاره د ژوند دضروریاتوځخه دي.نو ځکه ددې شیانوځخه علاوه او پوره کال دخوراك ځیښاك ځخه علاوه د مقدارِ نصاب برابرمال مالك سي نو بیا صَدَقَةُ الفِطر واجبیږي.

وجه (۱) د غِنيٰ(مالدارئ)دلیل مخکي تېرسوئ دئ تُؤخَذُ مِن اَغنِيَائِهِم وَتُرَدُّ عَلِيٰ فُقَرَائِهِم (الف) (بخاري شريف.باب اخذالصدقة من الاغنيآءوتردعلي الفقرآءحيث ماكانوا ص۲۰۳نمبر۱۴۹۶)ددې حدیث ځخه معلوم سوچي زکوٰة یا صدقه به د مالدارانو ځخه اخستل کیږي.او مالداره هغه ته ویل کیږي چي دحاجتِ اصلیه ځخه علاوه د مالِ نصاب په اندازه زائد مال ورسره وي.په حدیث کي دئ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لاَ صَدَقَةَ اِلاَّ عَن ظَهرِ غَنِيٍّ (بخاري شريف.باب تاويل قوله من بعدوصيَّةٍ يوصيٰ بِهَا اَو دَينٍ.كتاب الوصايا ص۳۸۴نمبر۲۷۵۰)ددې حدیث ځخه معلوم سو چي دحاجتِ اصلیه ځخه دفراغت وروسته دي زکوٰة یا صَدَقَةُ الفِطر ادآءکړي (۲) د حاجتِ اصلیّه تفصیل ددې اثر ځخه معلومیږي عَن سَعِيدِ بنِ جُبَيرٍ قَالَ يُعطِي مِنَ الزَّكوٰةِ مَن لَّهُ الدَّارُ وَالخَادِمُ وَالفَرَسُ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۷۵ من له دار وخادم يعطي من الزكوٰة ج۲ص۴۰۲ نمبر۱۰۴۱۵)ددې اثرځخه معلوم

سو چي دكوم چا سره چي وُسېدلوكور وي او دخدمت لپاره مريئ وي او دجهاد لپاره آس وي هغه غَنِي(مالداره)نه دئ. كه هغه محتاج وي نو وهغه ته زكوٰة وركول كېدائي سي. ځكه چي دغه ټوله شيان په حاجتِ اصليّه كي داخل دي.

فائده امام شافعي فرمائي چي كوم سړئ د يوې ورځې يوې شپې دخوراك څخه زيات مال لري هغه دي صَدَقَةُ الفِطر ادآء كړي.

وجه دده دليل داحديث دئ عَن اَبِي صَعِيرٍعَن اَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اَدُّواصَدَقَةَ الفِطرِصَاعًا مِّن بُرٍّ اَو قَمحٍ عَن كُلِّ رَاسٍ صَغِيرٍ اَو كَبِيرٍ حُرٍّ اَو عَبدٍ ذَكَرٍ اَو اُنثيٰ اَمَّا غَنِيُّكُم فَيُزَكِّيهِ اللهُ وَاَمَّا فَقِيرُكُم فَيَرُدُّ اللهُ عَلَيهِ اَكثَرَ مِمَّا اَعطاهُ (ج) (دارقطني.كتاب زكوٰة الفطر ج٢ص١٢٨\١٢٩ نمبر٢٠٨٨ \ سنن للبيهقي.باب من قال بوجوبها علي الغني والفقيرج٤ ص٢٧٦ نمبر٧٦٩٥\ ابوداؤدشريف.باب من روي نصف صاع من قمح ص٢٣٥ نمبر١٦١٩)ددي حديث څخه معلوم سو چي

حاشيه : (الف) ددوئي دمالدارانوڅخه به زكوٰة اخستل كيږي او ددوئي پر فقيرانو باندي به تقسيم كيږي (ب) سعيد بن جُبَير وفرمائل چي زكوٰة به وركوي دهغه څخه چي كور لري،خادم لري،او آس لري (ج) حضور وفرمائل صَدَقَةُ الفِطر ادآء كوئ يوه پيمانه دغنمو څخه، كشني،لوئي،آزاد وي يا مريئ،د نر او ښځي لخوا څخه، پاته سو هغه ستاسو مالداره نو الله به هغه پاك كړي. اوپاته سو هغه ستاسو فقير نو الله تعالىٰ به دهغه څخه زيات و ده ته وركړي كوم چي ده وركړي دي.

عَن مَّسكَنِهِ وَثِيَابِهِ وَاَثَاثِهِ وَفَرَسِهِ وَسِلاَحِهِ وَعَبِيدِهِ لِلخِدمَةِ [٥٣٨](٢) يَخرُجُ ذَالِكَ عَن نَفسِهِ وَعَن اَولاَدِهِ الصِّغَارِ وَعَبِيدِهِ لِلخِدمَةِ [٥٣٩](٣) وَلاَ يُؤَدِّي عَن زَوجَتِهِ وَلاَ عَن اَولاَدِ الكِبَارِ وَاِن كَانُوا فِي عَيَالِهِ .

پر فقير باندي هم صَدَقَةُ الفِطر واجب ده. ځكه چي په حديث كي دئ فَيَرُدُّ اللهُ عَلَيهِ اَكثَرَ مِمَّا اَعطَاهُ ده چي څومره وركړي دي تر هغه زيات و ده ته واپس كيږي. د صَدَقَةُ الفِطر د وجوب دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ فَرَضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ زَكوٰةَ الفِطرِ صَاعًا مِّن تَمرٍ اَو صَاعًا مِّن شَعِيرٍ عَلَي العَبدِ وَالحُرِّ وَالذَّكَرِ وَالاُنثي وَالصَّغِيرِ وَالكَبِيرِ مِنَ المسلِمِينَ وَاَمَرَ بِهَا اَن تُؤَدِّيَ قَبلَ خُرُوجِ النَّاسِ اِلَي الصَّلَوٰةِ (الف) (بخاري شريف.باب فرض صدقة الفطر ص٢٠٤ نمبر١٥٠٣\ مسلم شريف.باب زكوٰة الفطر ص٣١٧نمبر٩٨٤)په دي حديث كي د فَرَضَ د لفظ څخه احناف د صَدَقَةُ الفِطر وجوب ثابتوي .

لغت : مَسكَنٌ .د وُسېدلو ځائ.د وُسېدو كور . اَثَاثَةٌ : د كور سامانز دكور شيان. سِلاحٌ : اسلحه. سلاح .

[٥٣٨](٢) صَدَقَةُ الفِطر به باسي د خپل ځان لخوا او دخپل كشني بچيانو لخوا او دخدمت د مريانو لخوا.

تشريح سړئ به دخپل ځان لخوا صَدَقَةُ الفِطر وركوي او دكوم چا چي كفالت كوي او په مُكمله توګه سره ذمّه داره وي دهغه لخوا به صَدَقَةُ الفِطر وركوي. مثلاً كشنئ اولاد،دخدمت مريان،سړئ د دغه خلګو كفالت كوي نو ځكه ددوئي لخوا به صَدَقَةُ الفِطر هم ادآء كوي .

وجه (١) لوړ په مسئله نبر١ كي دبخاري شريف حديث تيرسو چي د اَلعَبد او د اَلصَّغِير الفاظ موجود دي (٢) په حديث كي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ اَمَرَ رَسُولُ اللهِ بِصَدَقَةِ الفِطرِ عَنِ الصَّغِيرِ وَالكَبِيرِ وَالحُرِّ وَالعَبدِ مِمَّن تَمُونُونَ (ب) (دارقطني،كتاب زكوٰة الفطر ج٢ ص١٢٣ نمبر٢٠٥٩\ سنن للبيهقي،باب اخراج زكوٰة الفطرعن نفسه وغيره ج٤ ص٢٧٢ نمبر٧٦٨٢)ددي حديث څخه معلوم سو چي څوك دكوم چا كفالت(روزنه)كوي دهغه صَدَقَةُ الفِطر به هم په خپله ادآء كوي. د تَمُونُونَ معنىٰ ده د كوم چا چي تاسو كفالت كوئ.

[٥٣٩](٣) دخپلي بي بي(مينې)لخوا او دخپل لوئي اولاد لخوا به نه ادآء كوي كه څه هم هغه د دوئي په كفالت كي وي.

وجه د بي بي(مينې) نان او نفقه كه څه هم دخاوند(مېړه)پر ذمّه وي لېكن دا دخاوند په كور كي د احتباس(مُقَيّدكېدو)په وجه پر خاوند(مېړه)باندي لازم ده. دكفالت په وجه نه ده په دغه وجه خو د بي بي(مينې)ملكيّت جلا شمېرل(ګڼل)كيږي او د خاوند(مېړه)ملكيّت جلا شمېرل(ګڼل)كيږي. په دغه وجه پر خاوند باندي د بي بي صَدَقَةُ الفِطر نه ده لازم.دغه رنګه د لوئي زوئي ملكيّت هم جلا ګڼل كيږي. او دئ په خپله ذِمّه داره

سي. كه څه هم د يو محتاجي په وجه دده نفقه پر پلار باندي لازم وي. په دغه وجه د لوئي زوئي صَدَقَةُ الفِطر پر پلار باندي نه ده لازم.

حاشيه : (الف) فرض كړل حضور په صَدَقَةُ الفِطر كي يوه صَاع خُورمَا،يا يوه صَاع وُربُوشي،پر مرئي او پر آزاد،پر نر او پر ښځه،پر كشني او پر لوئي دمسلمانانوځخه،او ددي حكم يې وركاوئ چې وباسي(ادآء يې كړي)د خلګو و لمانځه ته د راوتلو څخه مخكي (ب) حضور حكم وركړئ د صَدَقَةُ الفِطر د وركولو د كشني،لوئي،آزاد او دغلام لخوا د چا چې دئ كفالت كوي.

[٥٤٠](۴) وَلاَ يُخرِجُ عَن مُكَاتَبِهِ [٥٤١](۵) وَلاَ عَن مَمَالِيكِهِ لِلتِّجَارَةِ [٥٤٢](۶) وَالعَبدُ بَينَ الشَّرِيكَينِ لاَ فِطرَةَ عَلىٰ وَاحِدٍ مِّنهُمَا [٥٤٣](۷) وَيُؤَدِّي المسلِمُ

پام لرنه كه پلار يا خاوند(مېړه)د زوئي يا دميني لخوا څخه صَدَقَةُ الفِطر ادآء كړل نو ادآء كيږي. ځكه چې د دواړو په مابين كي ډېر وُسعت وي. بي بي او غټ زوئي كه صاحب د نصاب وي نو په خپله به ادآء كوي.

[٥٤٠](۴) د خپل مُكاتب غلام(مرئي)لخوا به صَدَقَةُ الفِطر نه ادآء كوي.

وجه (١) مولىٰ د مُكاتب مرئي كفالت نه كوي بلكه مُكاتب په خپله دځان كفيل وي نو ځكه كه چيري مُكاتب مالداره وي نو پر مُكاتب باندي په خپله صَدَقَةُ الفِطر اِستَل(وركول)واجب ده (٢) په اثركي راغلي دي عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّهُ كَانَ يُؤَدِّي زَكٰوةَ الفِطرِ عَن كُلِّ مَملُوكٍ لَّهُ فِي اَرضِهِ وَغَيرِ اَرضِهِ وَعَن كُلِّ اِنسَانٍ يَعُولُهُ مِن صَغِيرٍ اَو كَبِيرٍ وَعَن رَقِيقِ اِمرَئَتِهِ وَكَانَ لَهُ مُكَاتَبٌ بِالمَدِينَةِ فَكَانَ لاَ يُؤَدِّي عَنهُ (الف) (سنن للبيهقي. باب من قَالَ لايُؤدي عن مُكاتبه ج۴ ص۲۷۲ نمبر۷۶۸۶\ مصنف ابن ابي شيبة ۷۳ ماقالوا في المكاتب يعطي عنه سيده ام لا ج۲ ص۴۰۰ نمبر۱۰۳۸۶)ددي اثر څخه معلوم سو چې حضرت عبدالله بن عمر دمُكاتب صَدَقَةُ الفِطر په خپله نه ادآء كول. ځكه چې دا دده په مَؤُنت كي نه و.

[٥٤١](۵) نه دي دتجارت دمريانو لخوا صَدَقَةُ الفِطر باسي(ادآء كوي) .

وجه دتجارت د مرئي په قيمت كي زكوٰة سته نو ځكه دده د صَدَقَةُ الفِطر وركولو ضرورت نسته، كه نه نو به دوه واره زكوٰة وركول سي .

[٥٤٢](۶) او كوم غلام(مريئ)چې د دو شريكانو په منځ كي وي د دې دواړو څخه پر يوه باندي هم صَدَقَةُ الفِطر نسته .

وجه (١) د دواړو شريكانو څخه يو لا هم پوره پوره مالك نه دئ او نه پوره پوره كفالت كوي بلكه د دواړو كفالت او مَؤُنت نيم نيم دئ. نو ځكه پر يوه شريك باندي هم صَدَقَةُ الفِطر نه لازميږئ (٢) په اثر كي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ لَيسَ فِي المَملُوكِ زَكٰوةٌ اَلاَّ مَملُوكٍ تَملَكُهُ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۱۸ في المملوك يكون بين رجلين عليه صدقة الفطر ج۲ ص۴۲۳ نمبر۱۰۶۵۱)په دي اثر كي د اِلاَّ مَملُوكٍ تَملِكُهُ مطلب دغه دئ چې ته دمملوك پوره پوره مالك يې نو زكوٰة يعني صَدَقَةُ الفِطر واجب ده. او چې مكمل مالك نه وي بلكه دده په شركت كي مملوك وي نو صَدَقَةُ الفِطر نه ده واجب.

[٥٤٣](۷) مسلمان مَولىٰ به صَدَقَةُ الفِطر ادآء كوي دخپل كافر غلام(مرئي)لخوا .

وجه (١) د احنافو په نېز د مرئي صَدَقَةُ الفِطر پر مَولىٰ باندي واجبيږي او مَولىٰ خو مسلمان دئ نو ځكه پر ده باندي واجب ده (٢) په بخاري كي يو بل حديث مُطلق دئ

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر به صَدَقَةُ الفِطر ادآء كوله د هر مملوك لخوا چي دده په مخكه كي به و او په بله مخكه كي به و. او دهر انسان لخو كوم چي ده به كفالت كاوئ. كشنئ و يا لوئ. او دخپلي ښځي د مرئي لخوا. او دده مُكاتب مريئ په مدينه منوّره كي و نو دهغو لخوا يي نه ادآء كوله. (ب) حضرت ابوهريره وفرمائل په مملوك كي صَدَقَه نسته مگر هغه مملوك چي ته يي پوره مالك يي.

اَلفِطرَةَ عَن عَبدِهِ الكَافِرِ [٥٤٤](٨) وَالفِطرَةُ نِصفُ صَاعٍ مِن بُرٍّ اَو صَاعًا مِّن تَمرٍ اَو زَبِيبٍ اَو شَعِيرٍ .

په هغه كي د مِنَ المسلِمِينَ قيد نسته نو حاصل يي دغه دئ چي مملوك كه مسلمان وي كه كافر په دواړو صورتو كي دده صَدَقَةُ الفِطر ايستل(ادآء كول)ضروري ده.عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ فَرَضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ صَدَقَةَ الفِطرِ صَاعًا مِّن شَعِيرٍ اَو صَاعًا مِّن تَمرٍ عَلَي الصَّغِيرِ وَالكَبِيرِ وَالحُرِّ وَالمملُوكِ (الف) (بخاري شريف.باب صدقة الفطرعلي الصغيروالكبيرص٢٠٥نمبر١٥١٢)په دي حديث كي وَالمملُوك لفظ مُطلق دئ. يعني پر كافر او مسلمان دواړو قسمو مريانو باندي صَدَقَةُ الفِطر واجب ده (٣) عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ صَدَقَةُ الفِطرِ عَن كُلِّ صَغِيرٍ وَّكَبِيرٍ ذَكَرٍ وَّأُنثٰي يَهُودِيٍّ اَو نَصرَانِيٍّ حُرٍّ اَو مَملُوكٍ نِصفُ صَاعٍ مِّن بُرٍّ (ب) (دارقطني،كتاب زكوٰة الفطرج٢ ص١٣١ نمبر٢١٠٠) په دي حديث كي دئ چي يهودي وي يا نصراني وي ددي مملوك صَدَقَةُ الفِطر واجب ده.

فـائـده د امام شافعي په نبز د كافر مملوك صَدَقَةُ الفِطر دده پر مَولىٰ نه ده واجب.

وجه (١) دده په نبز په خپله پر مَولىٰ باندي صَدَقَةُ الفِطر واجبيږي او غلام كافر دئ او كافر د صَدَقي اهل نه دئ.ځكه چي صَدَقَه خو عبادت دئ ځكه دده په نبز د كافر غلام(مرئي)صَدَقَةُ الفِطر پر مَولىٰ باندي نه ده واجب (٢) په اوله مسئله كي دبخاري شريف حديث تير سو په هغه كي د ذَكَرٍ اَو اُنثٰي مِنَ المسلِمِينَ قيد راغلئ دئ (بخاري شريف.باب صدقة الفطرعلي العبدوغيره من المسلمين ص٢٠٤نمبر١٥٠٤)نو ځكه د مسلمان مرئي د خو واجبيږي د كافر مرئي د نه واجبيږي.

[٥٤٤](٨) صَدَقَةُ الفِطر نيم صاع ده د غنمو يا يوه صاع ده د خُورمَا څخه يا دكِشمِش څخه يا د جُوارئ څخه.

تشريح صَدَقَةُ الفِطر به د غنمو څخه نيم صاع وركوي،او د خُورمَا څخه يوه صاع او د كِشمِش څخه يوه صاع او د جُوارَيُو څخه به يوه صاع وركوي.

وجه (١) عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ قَالَ اَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِزَكٰوةِ الفِطرِ صَاعًا مِّن تَمرٍ اَو صَاعًا مِّن شَعِيرٍ قَالَ عَبدُ اللهِ فَجَعَلَ النَّاسُ عَدلَهُ مُدَّينِ مِن حِنطَةٍ (ج) (بخاري شريف.باب صدقة الفطرصاع من تمرص٢٠٤نمبر١٥٠٧)ددي حديث څخه معلوم سو چي حضور د خُورمَا او جُوارَيُو د يوي صاع وركولو حكم كړئ دئ او خلكو نيم صاع غنم ديوي صاع خُورمَا برابر كنلئ دئ. او حضور دغه قبول كړئ دئ نو ځكه نيم صاع غنم وركول كفايت كوي (٢) عَن اَبِي صَعِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَاعٌ مِّن بُرٍّ اَو قَمحٍ عَليٰ كُلِّ اِثنَينِ صَغِيرٍ اَو كَبِيرٍ (د) (ابوداؤدشريف.باب من رويٰ نصف صاعٍ من قَمحٍ ص٣٣٥نمبر١٦١٩)ددي حديث او لور دبخاري دحديث څخه معلوم سو چي نيم صَاع غنم په صَدَقَةُ الفِطر كي وركول كفايت كوي. ځكه چي يوه صَاع د دو كسانو لخوا سوه. نو نيم صَاع به د يوه سړي لخوا كفايت وكي.

حاشيه : (الف) حضور فرض كړل صَدَقَةُ الفِطر يوه صَاع د جُوارَيُو څخه يا يوه صاع د خُورمَا څخه پر كشني باندي او پر لوئ باندي،پر آزاد باندي او پر مملوك باندي (ب) حضور وفرمائل صَدَقَةُ الفِطر سته هر كشني لوئ او نر او ښځه او يهودي او نصراني او آزاد او مملوك لخوا نيم صاع غنم (ج) حضور د صَدَقَةُ الفِطر حكم وكړئ يوه صاع خُورمَا، يوه صاع جُوَارِي نو خلكو دوه مُدَ غنم ددي برابر كړل.

پام لرنه دوه مُدَ نيم صاع وي (د) حضور وفرمائل يوه صاع غنم پر دو كسانو باندي دي كشنئ وي كه لوئ .

[٥٤٥](٩) وَالصَّاعُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ مُحَمَّدٌ ثَمَانِيَةُ اَرطَالٍ بِالعِرَاقِيِّ وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ

[٥٤٥](٩) او صاع د امام ابوحنيفه او امام محمد په نبز اته رِطل ده په عراقي رِطل باندي او امام ابويوسف وفرمائل پنځه رِطل او ديوه رِطل دريمه .

وجه (۱) ددې یو څه تفصیل په کتاب الزکوٰة کې تېر سوئ دئ. یوه صاع څلور مُد وي په دي کې اتفاق دئ. پاته سو دا چې یوه صاع څو رِطل وي په دي کې اختلاف دئ. د امام ابوحنیفه او امام محمد په نېز اته(۸)رِطل یوه صاع وي او دامام ابویوسف او امام شافعي په نېز پنځه رطل او د بَل رِطل دریمه حصه یوه صاع وي (۲) اته(۸)رِطل یوه صاع ده ددې دلیل دا حدیث دئ عَن اَنَسٍ بنِ مَالِكٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَوَضَّأُ بِرِطلَينِ وَيَغتَسِلُ بِالصَّاعِ ثَمَانِيَةَ اَرطَالٍ (الف) (دارقطني،كتاب زكوٰة الفطر ج۲ ص۱۳۴ نمبر۲۱۱۹\ ۲۱۲۰\ سنن للبيهقي،باب ما دَلَّ علي انَّ صاع النبيّ كان عياره خمسة ارطال و ثُلُثٍ ج۴ص۲۸۷ نمبر۷۷۲۴)ددې اثر څخه معلوم سو چې صاع باید اته(۸)رِطل وي.

فائده د امام ابویوسف او نورو امامانو دلیل دا حدیث دئ حَدَّثَنِي اَبِي عَن اُمِّهِ اَنَّهَا اَدَّت بِهٰذَا الصَّاعِ اِلٰي رَسُولِ اللهِ قَالَ مَالِكٌ اَنَا حَرَزتُ هٰذِهِ فَوَجَدتُّهَا خَمسَةَ اَرطَالٍ وَ ثُلُثٍ (ب) (دارقطني.كتاب زكوٰة الفطرص۱۳۲ نمبر۲۱۰۵\ سنن للبيهقي.باب ما دَلَّ علي ان صاع النبي صَلي اللهُ عليه وسلم كان عياره خمسة ارطال وثُلُثٍ ص۲۸۷نمبر۷۷۲۲)ددې حدیث څخه معلوم سو چې دحضور صاع پنځه رطل او دیوه رطل دریمه وه .پر دغه باندي دجمهور امامانو عمل دئ.

پام لرنه د امام ابوحنیفه په نېز که څه هم اته(۸)رطل یوه صاع ده لېکن دده صاع کشنئ ده او صرف دشلو(۲۰)استارو صاع ده چې ۲۵.۴۴۲گرام جوړیږي. او دصاحبینو په نېز صاع پنځه رطل او یوه دریمه د رطل وي لېکن د دوئي رِطل لوئ دئ. د دېرش(۳۰)استارُ صاع ده چې د ۴۱۳.۶۶۳گرام به یو رِطل وي،او د دواړو صاع به ۱۶۰ استار وي او ۳۵۳۸ گرام به وي. دلیل یه دغه عبارت دئ فَقَالَ الطَّرفَانِ ثَمَانِيَةَ اَرطَالٍ بِالعِرَاقِيِّ، وَقَالَ الثَّانِي خَمسَةَ اَرطَالٍ وَ ثُلُثٍ وَقِيلَ لاَ خِلاَفَ لاَنَّ الثَّانِي قَدَّرَهُ بِرِطلِ المَدِينَةِ لاَنَّهُ ثُلُثُونَ اَستَارًا وَالعِرَاقِيِّ عِشرُونَ، وَاِذَا قَابَلتَ ثَمَانِيَةَ بِالعِرَاقِيِّ بِخَمسَةٍ وَّ ثُلُثٍ بِالمَدِينِيِّ وَجَدتَّهُمَا سَوَاءً (ردالمحتارعلي الدرالمختار،باب صدقة الفطر ج۳ ص۳۷۴)ددې عبارت څخه معلوم سو چې د دواړو رطلو حاصل یوه دئ یعني ۳۵۳۸ گرام صاع ده.او نیم صاع غنم ۷۶۹.۱ گرام به صَدَقَةُ الفِطر وي.، یعني یوکېلو اوه سوه نه شپیته گرام. او د صاع لوښئ به ۹۴.۲ لیتر وي. ..... دا حساب د اَحسَنُ الفَتَاويٰ بَابُ صَدَقَةِ الفِطرج۴ ص۴۱۶ څخه اخستل سوئ دئ. خو د دُرّمُختار دعبارت څخه معلومیږي چې د صاع وزن تر دې لا هم کشنئ دئ. ځکه چې په هغه کي دئ چې دیوي صاع وزن ۱۰۴۰ درهم دئ. او دیوه درهم وزن ۰۶۱.۳ گرام دئ. نو د یوې صاع وزن ۱۰۴۰ ۰۶۱.۳ = ۴۴.۳۱۸۳ گرام سو،

حاشیه : (الف) انس بن مالك فرمائي چې حضور به اودس کاوئ په دوه رطل باندي او غُسل به کاوئ په یوه صاع باندي چې اته(۸)رطل ده (ب) حضرت مالك دخپلي مور څخه نقل کړئ دئ چې دي په یوه صاع سره حضور ته صدقه ورکړه. حضرت مالك وفرمایل ما هغه وتلل نو هغه مو پنځه رِطل او دریمه د رِطل مو ومونډل .

خَمسَةَ اَرطَالٍ وَ ثُلُثُ رِطلٍ [۵۴۶](۱۰) وَوُجُوبُ الفِطرَةِ يَتَعَلَّقُ بِطُلُوعِ الفَجرِ الثَّانِي مِن يَّومِ الفِطرِ [۵۴۷](۱۱) فَمَن مَاتَ قَبلَ ذَالِكَ لَم تَجِب فِطرَتُهُ [۵۴۸](۱۲) وَمَن اَسلَمَ اَو وُلِدَ بَعدَ طُلُوعِ الفَجرِ لَم تَجِب فِطرَتُهُ .

وجه دا عبارت دئ . اَلصَّاعُ المعتَبَرُ مَايَسَعُ اَلفًا وَّ اَربَعِينَ دِرهَمًا مِّن مَاشٍ اَو عَدَسٍ (ردالمحتار علي الدرالمختار،باب صدقة الفطرج۳ ص۳۷۴)ددې عبارت څخه معلوم سو چې یوه صاع د ۱۰۴۰ درهم وزن لري چې دغه بیا په گرام سره ۴۴.۳۱۸۳ گرام جوړیږي، او نیم صاع بیا ۷۲.۱۵۹۱ گرام جوړیږي، خو احتیاطًا ۷۶۹.۱ گرام وزن اخستل بهتر دئ. پوره تفصیل یې په بَابُ زَكوٰةِ الزُّرُوعِ وَالثِّمَارِ مسئله نمبر۳ کې وګورئ.

[۵۴۶](۱۰) د صَدَقَةُ الفِطر وجوب متعلق دئ د کشني اختر د سپېدو(صُبحِ صادق)د راختلو سره.

وجه روژه(روزه)د صُبحِ صادق(سپېدو)څخه شروع کیږي. او د روژې دمیاشتي وروسته دا اوّله ورځ ده چې افطار یې کړئ دئ(خوله خلاس سوئ ده)او روژه یې نه د نیولې، او د صَدَقَةُ الفِطر نسبت و افطار ته کیږي نو ځکه د کوم وخت څخه چې په حقیقت کې افطار شروع سوئ دئ یعني صُبحِ صادق(سپېدو)وخت دغه وخت به د صَدَقَةُ

الفِطر د وجوب سبب جوړيږي. نو ځکه د اختر په ورځ د صُبحِ صادق وخت د صَدَقَةُ الفِطر د وجوب سبب دئ. د امام ابوحنيفه استدلال ددي حديث د اشاري څخه دئ . عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ فَرَضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ زَكٰوةَ الفِطرِ صَاعًا مِّن تَمرٍ ... وَاَمَرَ بِهَا اَن تُؤَدِّيَ قَبلَ خُرُوجِ النَّاسِ اِلَي الصَّلٰوةِ (بخاري شريف.باب فرض صدقة الفطر ص۲۰۴ نمبر۱۵۰۳)په دي حديث کي د اختر دلمانځه څخه مخکي د صَدَقَةُ الفِطر د استلو(ورکولو)حکم ورکړئ دئ. ددي څخه دا اشاره ملاؤيږي چي و دي ته نزدي نزدي وخت يعني صُبحِ صادق ددي د استلو(ورکولو)سبب دئ .

فـائـده د امام شافعي په نېز د اختر د ورځي څخه مخکي چي کوم شپه ده د دغه شپي د مابنام وخت د صَدَقَةُ الفِطر د واجبېدو سبب دئ.

وجه دئ فرمائي چي ددغه مابنام د وخت څخه افطار شروع سو(خوله خلاس سوه)نو ځکه دغه د مابنام وخت به سبب جوړيږي. زمونږ لخوا جواب دادئ چي د مابنام وخت خو همېشه د افطار وخت و نو ځکه د صُبحِ صادق وخت به د صَدَقَةُ الفِطر د واجبېدو سبب جوړيږي.

لـغت : اَلفَجرُ الثَّانِيُ : څخه مراد صُبحِ صادق دئ. ځکه چي اَلفَجرُ الاَوَّل خو صُبح کاذب دئ.

[۵۴۷](۱۱) کوم سړئ چي د صُبحِ صادق څخه مخکي مړ سو دهغه صَدَقَةُ الفِطر نه واجبيږي.

وجه صُبحِ صادق د صَدَقَةُ الفِطر د واجبېدو سبب و او دا سړئ د سبب د واقع کېدو(راتلو)څخه مخکي مړسو نو ځکه به صَدَقَةُ الفِطر نه واجبيږي.

[۵۴۸](۱۲) او کوم چاچي اسلام راوړئ، يا کشنئ پيدا سو د صُبحِ صادق د راختلو وروسته نو دهغه صَدَقَةُ الفِطر نه واجبيږي.

وجه چي د صُبحِ صادق وروسته مسلمان سو نو دئ د صُبحِ صادق په وخت کي ګر سره مسلمان نه و. پر ده باندي سبب نه سو واقع . دغه رنګه د صُبح صادق وروسته کشنئ پيدا سو نو پر دغه کشني باندي سبب نه سو واقع نو ځکه پر دوئي باندي صَدَقَةُ الفِطر نه سوه واجب. ځکه چي د سبب وروسته دغه خلګ په وجود کي راغلو(يعني موجود سو)

اصول چي سبب نه سي موجود نو حکم نه لازميږي .

[۵۴۹](۱۳) وَالمستَحَبُ اَن يُخرِجَ النَّاسُ الفِطرَةَ قَبلَ الخُرُوجِ اِلَي المصَلّيٰ فَاِن قَدَّمُوهَا يَومَ الفِطرَةِ جَازَ [۵۵۰](۱۴) وَاِن اَخَّرُوهَا عَن يَّومِ الفِطرَةِ لَم تَسقُط وَكَانَ عَلَيهِم اِخرَاجُهَا .

---

[۵۴۹](۱۳) او مستحب دئ چي سړئ صَدَقَةُ الفِطر د اختر په ورځ و عيدګاه ته د وتلو څخه مخکي وباسي(ورکي). بيا که د اختر د ورځي څخه مخکي ويستل(وريي کړه)نو جائز ده .

وجه (۱) حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ بِزَكٰوةِ الفِطرِ قَبلَ خُرُوجِ النَّاسِ اِلَي الصَّلٰوةِ (الف) (بخاري شريف،باب الصدقة قبل العيدص۲۰۴ نمبر۱۵۰۹)ددي حديث څخه معلوم سو چي د اختر ولمانځه(عيدګاه)ته د وتلو څخه مخکي د اختر په ورځ دي صَدَقَةُ الفِطر وباسي(وردېکي)، که ددي څخه مخکي لا وباسي نو هم جائز دئ حکه چي د صَدَقَةُ الفِطر اصلي سبب مالداري ده او هغه موجود ده نو ځکه که د صُبحِ صادق څخه مخکي ادآء کړه نو ادآئيګي يي صحيح ده . لکه زکوٰة چي ژر ادآء کړي نو هم ادآء کيږي. (۲) په اثر کي راغلي دي فَكَانَ اِبنُ عُمَرَ يُؤَدِّيهَا قَبلَ ذَالِكَ بِاليَومِ وَاليَومَينِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب مَتيٰ تُؤَدّي ص۲۳۴ نمبر۱۶۱۰)په دي اثر کي دئ چي حضرت عبدالله بن عمر صَدَقَةُ الفِطر د اختر د ورځي څخه يوه يا دوي ورځي مخکي لا ايستله(ادآء کوله). ددي څخه دا معلوم سو چي سبب خو يي د کشني اختر د صُبحِ صادق(سپېدو)وخت دئ لېکن که دري څلور ورځي مخکي وباسي نو هم ادآء کيږي.

[۵۵۰](۱۴) او که صَدَقَةُ الفِطر د کشني اختر د ورځي څخه وروسته کړه نو هغه نه ساقطيږي او پر ده باندي دهغي ايستل(ورکول)ضروري دئ.

تـشريـح كه د كشني اختر تر ورځي پوري صَدَقَةُ الفِطر نه وايستل نـو د واجبـدو وروسته هـم نـه سـاقطيږي. لكـه لمونځ د واجبدو وروسته نه ساقطيږي. او وروسته هم ددې ايستل(وركول)واجب دئ. او دا خـو يـوه صـاع يـا نـيم صاع وركيږي نو ځكه دا څه خاص بوج هم نه دئ .

حاشيه : (الف) حضور د صَدَقَةُ الفِطر د ايستلو حكم وكړئ د لمانځه پر لوري د خلګو د وتلو څخه مخكـي (ب) ابـن عمـر بـه صَدَقَةُ الفِطر ادآء كوله د كشني اختر څخه يوه ورځ يا دوې ورځې مخكي .

(كِتَابُ الصَّومِ)

[٥٥١](١) اَلصَّومُ ضِربَانِ وَاجِبٌ وَنَفلٌ فَالوَاجِبُ ضَربَانِ مَا يَتَعَلَّقُ بِزَمَانٍ بِعَينِهِ كَصَومِ رَمَضَانَ وَالنَّذرِ المعَيَّنِ [٥٥٢](٢) فَيَجُوزُ صَومُهُ بِنِيَّةٍ مِّنَ اللَّيلِ فَإِن لَّم يَنوِ حَتّٰى اَصبَحَ

(كِتَابُ الصَّومِ)

ضـروري پـام لـرنـه د صَومٌ معنيٰ ده ځـان منـع كـول، پـه روژه (روزه) كـي د خـوراك چيښـاك او د جمـاع (نزديكت)څخه ځان كتل وي ځكه ودې ته صَوم وائي. دروژې د فرضيّت دليل دا آيت دئ يَآ اَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا كُتِبَ عَلَيكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبلِكُم لَعَلَّكُم تَتَّقُونَ (الف) (آيت ١٨٣ سورة البقرة ٢) او په حديث كي دئ اَنَّ اَعرَابِيًّا جَآءَ اِلىٰ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ... فَقَالَ اَخبِرنِي مَاذَا فَرَضَ اللهُ عَلَيَّ مِنَ الصِّيَامِ فَقَالَ شَهرُ رَمَضَانَ اِلاَّ اَن تَطَوَّعَ شَيئًا (ب) (بخاري شريف.كتاب الصوم باب وجوب صوم رمضان ص٢٥٤ نمبر١٨٩١)ددې آيت او حديث څخه معلوم سـو چـي د رمضـان(روژې دمياشـتي)روژې فرض دي.

[٥٥١](١) د روژې دوه قسم دي واجب او نفل،بيا د واجب دوه قسمونه دي،دهغه څخه يو چـي تعلـق لـري د مُتعـيّن زمان(وخت)سره لكه د رمضان روژې او نَذَرِ مُعيّن.

تـشريـح د روژې شـپږ قسـمونه دي (١) درمضـان روژې (٢) د مُعـيّن نَـذَر روژې (٣) قَضـآءِ رمضـان (۴) د غيـرِمُعيّن نَـذَر روژې (۵) د كفّـاراتو روژې (۶) نفلـي روژې. ددې شـپږ قسـم روژو څخـه اول دوه قسـمونه د رمضان او د نَذَرِمعلوم روژې د مُتعيّن وخت سره تعلّق لـري او پاتـه څلـور قسـمونه د وخـت سـره مُتعـيّن نـه دي. هسي يوه ورځ يې نيولائي سي.

[٥٥٢](٢) د وختِ مُتعيّن روژه دشپې د نيت كولو سره جائز ده،بيا كه نيّت نه و كړئ تردې چي سـهار سـو نـو وده ته كفايت كوي هغه نيّت چي دشپې او د زوال په مابين كي سوئ دئ.

تـشريـح كه دشپې نيّت نه و كړئ او د زوال څخه مخكي نيّـت وكـئ نـو هغـه نيّـت هـم د رمضـان او نَـذَرِ معلوم د ادآء كولو لپاره كافي دئ. ځكه چي د روژې د مياشتي په وجه دا خو يقيني ده چي يو مسلمان روژه نيسـي او د سهار څخه تر زوال پوري خوراك څيښاك يې هم نه دئ كړئ نو ځكه چي د ورځې په هغه دِېره خوا كي نيّت

وکئ نو روژه يې صحيح ده. او چې د زوال څخه مخکې نيّت وکئ نو د نيمئ ورځې څخه زياتَ حصّه پاتـه ده د لِلأَكثَرِحُكمُ الكُلِّ قاعدې مطابق دا نيّت مُعتبر ګڼل کيږي. دغـه حـال د نَـذَرمعلوم هـم دئ چـې د اوّل څخـه د روژې د نيولو لپاره ورځ مُتعيّن ده نو حُکه دغه ګُمان دئ چې دئ به دخپلې وعدې مُطابق روژه نيسي.
پـام لـرنـه د روژې وخت د صُبحِ صادق څخه شروع کيږي نو حُکه د صُبحِ صـادق څخـه د نيمـئ ورځـې د زيانُوب اعتبار دئ.

حاشيه : (الف) ای مؤمنانو پر تاسو باندې روژه فرض کړل سوې ده لکه څرنګه چې د تاسو څخه پر مخکې خلکو باندې فرض کړل سوې وه، شايد چې تاسو تقويٰ اختيار کئ (ب) د صحرا سړي وويل و ماته خبر راکه الله پر ما باندې د روژې څخه څه فرض کړي دي؟ حضور وفرمائل د رمضان روژې. مګر دا چې ته نفلي روژې نيول وغواړې.
اَجزَاتهُ النِّيَّةُ مَا بَينَهُ وَبَينَ الزَّوَالِ [٥٥٣](٣) وَالضَّربُ الثَّانِيْ مَا يَثبُتُ فِي الذِّمَّةِ كَقَضَآءِ رَمَضَانَ وَالنَّذرِ المطلَقِ وَالكَفَّارَاتِ فَلاَ يَجُوزُ صَومُهُ اِلاَّ بِنِيَّةٍ مِّنَ اللَّيلِ وَكَذَالِكَ صَومُ الظِّهَارِ [٥٥٤](٤) وَالنَّفلُ كُلُّهُ يَجُوزُ بِنِيَّةٍ قَبلَ الزَّوَالِ .

لـغـت : اَلنَّذرُ المعَيَّنُ : يو سړئ نذر وَمَنِي چې مثلاً د جُمعې په ورځ به روژه نيسم نـو ده خـو د روژې د نيولـو لپـاره ورځ مُتعيّن کړل نو حُکه دا نَذرِ مُعيّن سو. د نَذَر د واجبِدو دليل دا آيـت دئ ثُمَّ ليَقضُوا تَفَثَهُم وَليُوفُوا نُذُورَهُم (الف) (آيت ٢٩ سورة الحج ٢٢)ددې آيت څخه معلوم سو چې که نَذَر منلـئ وي نـو بايـد هغـه پـوره کـړي. روژه مُتعـيّن ده، کـه د ورځې نيّت وکي نو هم جائز دئ، ددې دليل دا حديث دئ (١) عَن حَفصَةَ زَوجِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ قَالَ مَن لَّم يُجَمِّعِ الصِّيَامَ قَبلَ الفَجرِ فَلاَ صِيَامَ لَهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في النية في الصوم ص٣٤٠نمبر٢٤٥٤\ترمذي شريف.باب ماجآء لاصيام لمن لم يعزم من الليل ص١٤٥نمبر٧٣٠)ددې حديث څخه معلوم سوچې دشپې څخـه د روژې نيّـت بايـد وکـي (٢) د يوبـل حـديث څخه معلوميږي چې د مُتعيّن روژې او نفلي روژې نيّت کـه د زوال څخـه مخکـي وکـي نـو هـم يـې روژه صـحيح کيږي عَن سَلَمَةَ بنِ اَكوَعٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلاً يُنَادِي فِي النَّاسِ يَومَ عَاشُورَآءَ اَنَّ مَن اَكَلَ فَليُتِمَّ اَو فَليَصُم وَمَن لَم يَاكُل فَلاَ يَاكُـل (ج) (بخـاري شـريف.باب اذا نـويٰ بالنهارصـوما ص٢٥٧نمـبر١٩٢٤\ابوداؤدشـريف.باب في الرخصـة فيـه(اي في النيـة) ص٣٤٠نمبر٢٤٥٥)په دې حديث کې چې کوم چا تر ماپښين پوري خوراك نه و کړئ وهغه ته د نيّت کولـو او روژې نيولو حکم ورکړئ. د دې څخه دا معلوم سو چې د ماپښين څخه مخکې مخکې پوري د روژې نيّت کولائي سي. پـه حديث کې دا حکم د سُنّت روژې په باب کې دئ لېکن مُتعيّن روژه هم پر دې باندې قياسيږي .
[٥٥٣](٣) دوم قسم هغه روژه ده چې پر ذِمّه باندې ثابت سوې وي لکه د رمضان قضـآء او نَـذَرِمُطلق او دکفـاراتو روژې، نو جائز نه دي دغه روژې مګر د شپې د نيّت سره، او دغه رنګه د ظهار دکفارې رزژې.
تـشريـح هغه روژې چې د وخت سره مُتعيّن نه دي او نفلي هم نه دي ددغه روژو نيّت به د شپې څخه کوي، نـو بيا روژې صحيح کيږي .
وجـه دغه روژې د مُطلق وخت سره دي، د يو خاص وخت سره مُتعين نه دي نو حُکـه د شـپې څخـه بـه پـه نيّـت کولو سره واجب روژه مُتعين کوي. او د شپې څخه به نيّت کوي .
وجـــــه لـــور د ابـــوداؤد حـــديث دئ . اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَـالَ مَـن لَم يُجَمِّعِ الصِّيَامَ قَبلَ الفَجرِ فَلاَ صِيَامَ لَـهُ (ابوداؤدشريف.نمبر٢٤٥٤\ترمذي شريف.نمبر٧٣٠)
[٥٥٤](٤) او نفلي تولي جائز دي د زوال څخه مخکي په نيّت کولو سره.

حاشيه : (الف) بيا خپلي خيري ليري کړئ او خپل نَذْرُونه پوره کئ (ب) حضور وفرمائل کوم سړئ چي د سهار څخه مخکي د روژي پخه اراده نه وکي دهغه روژه نه سوه صحيح (ج) حضور يو سړئ د عاشوري په ورځ په خلګو کي د اعلان کولو لپاره واستاوئ چي کوم چا خوراك کړئ دئ هغه د ي روژه پوره کي يا دي روژه ونيسي. وفرمائل کوم چا چي خوراك نه دئ کړئ نو اُوس دي خوراك نه کوي يعني روژه دي ونيسي.

[٥٥٥](٥)وَيَنبَغِي لِلنَّاسِ اَن يَّلتَمِسُوا الهِلاَلَ فِي اليَومِ التَّاسِعِ وَالعِشرِينَ مِن شَعبَانَ فَإِن رَاَوهُ صَامُوا وَإِن غُمَّ عَلَيهِم اَكمِلُوا عِدَّةَ شَعبَانَ ثَلٰثِينَ يَومًا ثُمَّ صَامُوا [٥٥٦](٦) وَمَن رَاٰيٰ

تشريح چي د زوال څخه مخکي مخکي نيّت وکي نو هم نفلي روژه جائز ده .

وجه (١) نفل روژه خو پر ذمّه باندي نه ده لازمه. نو ځکه که د سهار څخه تر اُوس پوري څه خوړلي چيښلي نه وي او د زوال څخه مخکي د روژې نيّت وکي نو اُوس خو د نيمئ ورځي څخه زيات پاتې ده د روژې نيّت يې وکئ نو ځکه روژه به صحيح سي (٢) حديث دئ عَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا قَالَت كَانَ النَّبِيُّ اِذَا دَخَلَ عَلَيَّ قَالَ هَل عِندَكُم طَعَامٌ فَاِذَا قُلنَا لاَ قَالَ اِنِّي صَائِمٌ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الرخصة فيه ص٣٤٠ نمبر٢٤٥٥\مسلم شريف.باب جواز صوم النافلة بنية من النهارقبل الزوال ص٣٦٤ نمبر١١٥٤)ددې حديث څخه معلوم سو چي د ورځي د خوراك څه انتظام(بندوبست)نه وسو نو حضور دروژې نيّت وکئ نو ددې څخه دا معلوم سوه چي دنفلي روژې نيّت د زوال څخه مخکي مخکي وکي نو هم روژه صحيح کيږي.

(د رؤيتِ هلال مسئله)

[٥٥٥](٥) انسان له په کار دئ چي په نيوشتم(٢٩)دشعبان مياشته وپلتي(وګوري)،بيا کې مياشته وليدل نوټول دي روژه ونيسي او که پر خلګو پټه سوه نو د شعبان(برات)دي دېرش ورځي پوره کي او بيا دي روژه ونيسي.

تشريح د شعبان(برات)په نيوشتم تاريخ مياشته کتل په کار ده. که ښکاره سوه نو روژه دي ونيسي او که نه سوه ښکاره نو د شعبان دي دېرش پوره کي بيا دي روژه ونيسي.

وجه په حديث کي دئ عَن عَبدِ اللهِ بنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلشَّهرُ تِسعٌ وَّعِشرُونَ لَيلَةً فَلاَ تَصُومُوا حَتّٰي تَرَوهُ فَاِن غُمَّ عَلَيكُم فَاَكمِلُوا اَلعِدَّةَ ثَلٰثِينَ (ب) (بخاري شريف.باب قول النبي صَلَّي الله عليه وسلم اذا رَاَيتُمُ الهلال فصوموا واذا رايتموه فافطروا ص٢٥٦ نمبر١٩٠٧\مسلم شريف.باب وجوب صوم رمضان لرؤية الهلال ص٣٤٧ نمبر١٠٨١)ددې حديث څخه معلوم سو چي دمياشتي په ليدلو سره روژه نيول په کار ده او که په نيوشتم(٢٩)باندي مياشته نه سي ښکاره نو دېرش دي پوره کړي(بيا دي روژه ونيسي).

پام لرنه دمَرَاکَش څخه علاوه تقريبًادعربوټوله ملکونه پروجودِقمريعني دنيومون فوراًبعدکيلنډر جوړوي چي دمياشتي دښکاره کېدوڅخه يوه ورځ مخکي وي.پر دې باندي نه مياشته ښکاره کيږي نه ښکاره کېدائي سي.الله تعالٰي دي ودوئي ته هدايت وکړي.دبَرّصَغِيرعُلمآءمُحقّق رُؤيتِ بَصَري کوي او همېشه پر صحيح تاريخ باندي اعلان کوي. الله تعالٰي دي و دوئي ته جزائ خير ورکړي.

لغت : غُمَّ عَلَيكُم . مياشته پټه سي، مياشته نه سي ښکاره.

[٥٥٦](٦) يو سړي د روژې مياشته يواځي وليدل نو روژه دي ونيسي کې څه هم امام دده ګواهي نه وي قبلول کړي.

تشريح يوه سړي يواځي د روژې مياشته وليدل او قاضي په يو وجه سره دده ګواهي نه کړه قبول نو دا سړئ دي په خپله روژه ونيسي.

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمائي چي کله په حضور زَمَا خوا ته تشريف راوړئ نو پوښته به کوله آيا ستاسو سره دودئ سته؟ بس چي مورِ به ورته وويل نسته نو به وفرمائل زه اُوس روزه دار يم (ب) حضور وفرمائل مياشته دنيوشت(٢٩)شپو وي نو روژه مه نيسئ تر څو چي مياشته ونه وينئ. بيا که پر تاسو باندي مياشته پټه سي نو دېرش(٣٠)ورځي پوره کئ .

هِلاَلَ رَمَضَانَ وَحدَهُ صَامَ وَاِن لَم يَقبَلِ الاِمَامُ شَهَادَتَهُ [٥٥٧](٧) وَاِذَا كَانَ فِي السَّمَآءِ عِلَّةٌ قَبِلَ الاِمَامُ شَهَادَةَ الوَاحِدِ العَدلِ فِي رُؤيَةِ الهِلاَلِ رَجُلاً كَانَ اَو اِمرَاَةً. حُرًّا كَانَ اَو عَبداً

وجه دغه سړي خوپه خپله مياشته ليدلي ده نوځکه دده په حق کي رمضان دئ دئ به روژه نيسي.په حديث کي تيرسوچي دمياشتي په ليدوسره روژه نيسئ او ده خو ليدلي ده نودئ بايدروژه ونيسي.

پـام لـرنـه که ده روژه نه ونيول نو قضآء به لازم سي کفّاره نه لازميږي. ځکه چې د قاضي د انکار کولو پـه وجه شُبه(شك)پيدا سو او کفّاره په شُبه(شك)سره ساقطيږي.

اصول په خپله که پر يوه خبره باندي يقين وي نو هغه بايد وکي،لېکن پر نورو باندې نه سي لازم کولائي تـر څـو چې قضآءِ قاضي نه وي يا شَهَادَتِ مُلزِمَه نه وي.

[۵۵۷](۷) که په آسمان کي څه عِلّت وي نو دمياشتي دليدلو په لړ کي به امام د يوه عادل سړي ګواهي قبلوي. هغـه که نر وي که ښځه. آزاد وي که غلام(مريئ).

تـشريـح په آسمان کي د علّت مطلب دادئ چې پر اُفُق باندي ګرد وي،خُپ وي يا وريځ وي نـو امکـان لـري چـي څوك دي مياشته ووينې او څوك دې نه ووينې نوځکه ديوه سړي ګواهي هم قابلِ قبول ده.

وجـه (۱) دمياشتي دليدومعاملـه يـودينې اَمَردئ.مُعـاملات نـه دي نـو ديـوه سـړي ګـواهي هـم قبـول ده.او دتکميـلِ شهادت يعني ددوګواهانوضرورت نسته (۲) په حديث کـي دئ عَن رِبعِي بنِ حِرَاشٍ عَن رَجُلٍ مِن اَصحَابِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِختَلَفَ النَّاسُ فِي آخِرِيَومٍ مِن رَمَضَانَ فَقَدِمَ اَعرَابِيَّانِ فَشَهِدَا عِندَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِاللهِ لاَهَلاَّالهِلاَلَ اَمسَ عَشِيَّةٍ فَاَمَرَرَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ اَن يُفطِرُوا(الف)(ابوداؤدشريف.باب شهادة رجلين علي رُؤية هلال شوّال ص۳۲۶ نمبر۲۳۳۹)ددې حـديث څخه معلوم سوچې دکشني اختردمياشتي لپاره دوه ګواهان ضروري دي،په دارقطنـي کـي دئ قَالاَوَکَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لاَيُجِيزُشَهَادَةَ الاِفطَارِ اِلاَّ بِشَهَادَةِ رَجُلَينِ(ب)(دارقطني.کتاب الصوم ج۲ص۱۳۷نمبر۲۱۲۹)ددې حـديث څخـه معلـوم سوچې که په آسمان کي عِلّت وي نوداخترلپاره به په دوګواهانوسره فيصله کيږي ددې څخه په لړ باندي نـه .ځکه چـي پـر دې بانـدي دفـرض روژې پرېښـولومداردئ.او د خلګوفائـده ده نـو ځکـه دا د معاملاتوپـه رکـم سـوه اوپـه معـاملاتو کـي ددوګواهـانودګواهئ ضـرورت وي.نوځکـه دکشـني اختراولـوئي اختردمياشـتي لپـاره د دو ګواهـانو ضرورت سته.اودرمضان دروژې دشروع کولولپاره ديوه ګواه ضرورت دئ ځکه چې دايـودينې امـر دئ اود اَمـرِ ديني دثبوت لپاره يوګواه کافي دئ (۲) په حديث کـي دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَآءَ اَعرَابِيٌّ اِلَي النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنِّي رَاَيتُ الهِلاَلَ قَالَ الحَسَنُ فِي حَدِيثِهِ يَعنِي رَمَضَانَ فَقَالَ اَتَشهَدُ اَن لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ ؟ قَالَ نَعَم قَالَ اَتَشهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ ؟ قَالَ نَعَم قَالَ يَا بِلاَلُ اَذِّن فِي النَّاسِ فَلِيَصُومُوا غَدًا (ج) (ابوداؤدشريف.باب في شهادة الواحدعلي رُؤية هلال رمضان ص۳۲۷نمبر۲۳۴۰\ترمذي شريف.باب ماجآء في الصوم بالشهادة ص۱۲۸نمبر۶۹۱)ددې حديث څخه معلوم سو چې د رمضان د ثبوت لپاره د يوه سړي ګـواهي کفايـت کوي.

حاشيه : (الف) خلګو د رمضان په اخري ورځ کي اختلاف وکئ، بيا دوه صحرايان راغلو او د حضور په مخکي ګواهي ورکـره قسم پـه خدائ پرون مابنام مياشته مورِ دوارو ليدلي ده. بيا حضور وخلګو ته حکم وکئ چـي افطـار دي وکـړي (ب) حضـور بـه د افطـار ګـواهي جائز نه ګڼل مګر د دو کسانو په ګواهي سره (ج) يو صحرائي حضور لره راغلئ او وويل مـا مياشـته ليـدلي ده. حضـرت حسـن پـه خپـل حديث کي وائي يعني د رمضان مياشته ليدلي ده نو حضور پوښتنه وکړه چې د لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ ګواهي ورکوی؟ وويل هـو(و)! حضـور پوښـتنه وکړه د مُحَمَّدُرَّسُولُ اللهِ ګواهي ورکوی؟ وويل هو(و)! حضور وفرمائل ائ بلال په خلګو کي اعلان وکه چې سبا روژه ونيسي.

[۵۵۸](۸) فَاِن لَم يَکُن فِي السَّمَآءِ عِلَّةٌ لَم تُقبَلِ الشَّهَادَةُ حَتّٰي يَرَاهُ جَمعٌ کَثِيرٌ يَقَعُ العِلمُ بِخَبَرِهِم [۵۵۹](۹) وَوَقتُ الصَّومِ مِن حِينَ طُلُوعِ الفَجرِ الثَّانِي اِلٰي غُرُوبِ الشَّمسِ .

---

[۵۵۸](۸) او که په آسمان کي عِلّت نه وي نو ګواهي به نه قبليږي تر هغو چې يو لوئي جماعت يـې ووينـي چـي د هغو د خبر څخه عِلمِ يقيني واقع(حاصل)سي.

وجـه که پر آسمان باندي وريځ،غُبار،ګرد،دُد، يا يو بل شئ نـه وي او مياشـته د ښـکاره کېـدو قابـل سـوه نـو وهـر کتونکي ته به ښکاره سي او ښه ډېر کسان به ووينې. لېکن ددې باوجود يوه يـا دو کسـانو د ليـدلو دعـويٰ وکـړه نـو ددې مطلب دادئ چې دا کسان درواغ وائي. او په داسي موقع باندي درواغ هم ويل کيږي نـو ځکـه د يـوه يـا د دو کسانو ګواهي به نه قبليږي. بلکه دومره کسان به ووينې چې د هغو دخبر څخه عِلمِ يقيني حاصل سي او پر درواغـو باندي نه سي حمل کېدائي. په اثر کـي راغلـي دي قُلتُ لِعَطَآءَ اَرَاَيتَ لَو اَنَّ رَجُلاً رَاٰي هِلاَلَ رَمَضَانَ قَبلَ النَّاسِ بِلَيلَةٍ اَيَصُومُ قَبلَهُم

وَيُفطِرُ قَبلَهُم ؟ قَالَ لاَ اِلاَّ اَن رَاٰهُ النَّاسُ اَخشيٰ يَكُونَ شُبِّهَ عَلَيهِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب كم يجوزمن الشهودعلي رُؤية الهلال ج۴ص۱۶۷نمبر۷۳۴۸)ددې اثر څخه معلوم سو چې عام رُؤيت وي نو بيا به قبليږي.

تجربه د زمانې تجربه داده چې کله مياشته د ليدلو قابل سي او مَطلَع صفا وي نو هر سړئ يې وينې. لېکن چې د ليدلو قابل نه وي نو هر سړئ يې نه سي ليدلائې. په داسي وخت کې يوه دوې ګواهئ راځي او هغه د درواغو ګواهئ وي. په دغه وخت کې مياشته پر آسمان باندې هِلاَل لا هم نه وي جوړ سوی. مياشته د نيومون اتلس(۱۸)ګنټې وروسته د ليدلو قابل کيږي. کوم خلک چې ددې څخه مخکې د ليدلو دعويٰ کوي هغه درواغ وائي. پام لرنه عرب علمآءُ پر يوه ګواهي پر دوې ګواهئ باندې د مياشتې د موجودګئ فيصله ورکړي ده او د عام رُؤيت اعتبار يې نه دئ کړئ دهغه نتيجه دا راووتل چې هلته کيلنډران يوه ورځ او يوه نيم ورځ مخکې تاريخ باندې جوړ کړل. او پر دغه باندې يوه دوې ګواهئ اخلي او د رُؤيت اعلان کوي. او پر اوه ويشت نيم يا پر اته ويشت باندې ګواهي اخلي. او د رُؤيت اعلان کوي د دوئي هيڅ کله هم په حقيقت کې نه ويشت او دېرش نه پوره کيږي. صرف دمخکني کيلنډر نه ويشت او دېرش پوره کوي چې قطعًا ناجائزدئ. او يوه ورځ فرض روژه ضائع کوي. اَلعَيَاضُ وَالحَفِيظُ ! نو څکه چې مَطلَع صفا وي بايد پر رُؤيتِ عَامّه باندې فيصله وکې.

[۵۵۹](۹) د روژې وخت د صُبحِ صادق د راختو څخه د لمر تر پرېوتو پورې دئ.

تشريح د صُبحِ صادق د وخت څخه بيا د لمر تر پرېوتو پورې د روژې وخت دوام لري.

وجه په آيت کې دئ وَكُلُوا وَاشرَبُوا حَتّيٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الخَيطُ الاَبيَضُ مِنَ الخَيطِ الاَسوَدِ مِنَ الفَجرِ ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ

حاشيه : (الف) ما د حضرت عطآء څخه پوښتنه وکړه که يو څوک د خلګو څخه يوه شپه مخکې د روژې مياشته ووينې نو ستا څه رائ ده ؟ آيا د دوئي څخه مخکې دي روژه ونيسي او د دوئي څخه مخکې دي افطار وکي ؟ حضرت عطآء وفرمائل نه ، مګر دا که چيرې خلګو وليدل. دا کېدلائې سي چې وده ته شُبه(شك)پيدا سوې وي.

[۵۶۰](۱۰) وَالصَّومُ هُوَ الاِمسَاكُ عَنِ الاَكلِ وَالشُّربِ وَالجِمَاعِ نَهَاراً مَعَ النِّيَّةِ [۵۶۱](۱۱) فَاِن اَكَلَ الصَّائِمُ اَو شَرِبَ اَو جَامَعَ نَاسِيًا لَم يُفطِر [۵۶۲](۱۲) وَاِن نَامَ

اِلَي اللَّيلِ (الف) (آيت ۱۸۷ سورة البقرة ۲)ددې آيت څخه معلوم سو چې د صُبحِ صادق څخه مخکې مخکې پورې به خوراك کوي او د صُبحِ صادق د وخت څخه روژه شروع کيږي او د لمر تر پرېوتو پورې ده. د خَيطِ اَبيَض څخه مراد صُبحِ صادق دئ. په حديث کې دئ سَمُرَةَ بنِ جُندُبٍ يَقُولُ سَمِعتُ مُحَمَّداً صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لاَ يَغُرَّنَّ اَحَدُكُم نِدَآءَ بِلاَلٍ مِّنَ السُّحُورِ وَلاَ هٰذَا البَيَاضَ حَتّيٰ يَستَطِيرَ (ب) (مسلم شريف.باب ان الدخول في الصوم يحصل بطلوع الفجرص۳۵۰نمبر۱۰۹۴\بخاري شريف.نمبر۱۹۱۷\ابوداؤدشريف.باب وقت السحورص۳۴۱نمبر۲۳۴۶)ددې حديث څخه هم معلوم سوچې د صُبحِ صادق څخه روژه شروع کيږي. عَن عُمَرَ بنِ خَطَّابٍ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَقبَلَ اللَّيلَ مِن هٰهُنَا وَاَدبَرَ مِن هٰهُنَا وَغَرَبَتِ الشَّمسُ فَقَد اَفطَرَ الصَّائِمُ (ج) (بخاري شريف.باب متي يحل فطرالصَّائم ص۲۶۲نمبر۱۹۵۴)ددې حديث څخه معلوم سو چې د لمر د پرېوتو وروسته دي روژه افطار(ماته)کړي.

(د کومو شيانو څخه چې روژه نه ماتيږي دهغو بيان)

[۵۶۰](۱۰) روژه د ورځې سره د نيّت د خوړلو او چيښلو او د نزدېکت څخه ځان ژغورل دئ.

تشريح د خوړلو،چيښلو او نزدېکت څخه د ورځې د روژې په نيّت ځان وساتي نو ددې ته روژه وائي. د هر شي تفصيل او دلائل مخکې تېر سوي دي.

[۵۶۱](۱۱) بيا که روژياتي خوراك وکئ يا يې چيښاك وکئ يا يې نزدېکت وکئ په هېره سره نو روژه يې نه ماتيږي.

وجه (۱) په هېره سره د خوړلو چېنلو او نزدېکت څخه روژه نه ماتيږي. ځکه چې هېره مېره معاف ده. عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا نَسِيَ فَاَكَلَ اَو شَرِبَ فَلْيُتِم صَومَهُ فَاِنَّمَا اَطعَمَهُ اللهُ وَسَقَاهُ (د) (بخاري شريف.باب الصائم اذا اكل او شرب ناسيًا ص۲۵۹نمبر۱۹۳۳\ابوداؤدشريف.باب من اكل ناسيًا ص۳۳۳نمبر۲۳۹۸)ددې حديث څخه معلوم سو چې که په هېره وخوړل يا وچېنل نو روژه يې نه ده ماته هغه دي پوره کړي (۲) عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن اَفطَرَ فِي شَهرِ رَمَضَانَ نَاسِيًا فَلاَ قَضَآءَ عَلَيهِ وَلاَ كَفَّارَةَ وَلْيُتِمَّ صَومَهُ (ه) (دارقطني۳ كتاب الصوم.ج۲ص۱۵۸نمبر۲۲۲۳)ددې حديث څخه هم معلوم سو چې په هېره سره وخوړل يا يې وچېنل نو روژه يې نه سوه ماته او نه دهغې د قضآء کولو ضرورت سته. او نه د کفارې ورکولو ضرورت سته.

[۵۶۲](۱۲) (۱) که بېده سو او احتلام سو (۲) يا يې وښځه ته وکتل او انزال سو (۳) يا يې تيل ولګول (۴) يا يې ښکر ولګاوئ (۵) يا يې سترګې توري کړې

حاشيه : (الف) خوراك كوئ او چيناك كوئ تردي چې سپين سپين سئ د تور سپن سي څخه ښكاره سي د سهار څخه (يعني صُبح صادق سي.سپيدي چاك وكړي)بيا روژه تر شپې پوري پوره كوئ (ب) دحضور څخه اوربدل سوي دي،تاسو دي د بلال اذان د سحري(پښلمي)دخوړلوڅخه دوكه نه كړي او نه دغه رونا تر څو چې دا خوره نه سي (ج) حضور وفرمائل چې شپه ددې خوا څخه راسي او ورځ پر ها خوا ولاړ سي او لمر پريوزي نو روژه دي ماته كي (د) حضور وفرمائل چې هېر يې سي او خوراك وكي يا چيناك وكي نو خپله روژه دي پوره كړي ځكه چې الله په ده خوراك وكئ او په دئ يې چيناك وكئ (ه) د حضور څخه نقل سوئ دئ كوم چا چې د وژې په مياشته كي په هېره سره افطار وكئ نو پر هغه باندي نه قضآء سته نه كفاره. يعني روژه يې صحيح سوه. په كار دئ چې دئ خپله روژه پوره كي.

فَاحتَلَمَ اَو نَظَرَ اِلىٰ اِمرَاَتِهِ فَاَنزَلَ اَو اِدَّهَنَ اَو اِحتَجَمَ اَو اِكتَحَلَ اَو قَبَّلَ لَم يُفطِر [۵۶۳](۱۳) فَاِن اَنزَلَ بِقُبلَةٍ اَو لَمسٍ فَعَلَيهِ القَضَآءُ وَلاَ كَفَّارَةَ عَلَيهِ

.

يا يې مچه واخستل نو روژه يې نه سوه ماته.

وجه (۱) روژه ماتيږي د يو شي ونس ته د تللو څخه يا و دماغ ته د تللو څخه يا د نزدېکت څخه، په لوړو صورتو کي نه جماع(نزدېکت)سوئ دئ او نه په نس يا په دماغ کي يو شئ تللي دئ نو ځکه روژه نه ماتيږي. په اثر کې راغلي دي (۲) قَالَ اِبنُ عَبَّاسٍ وَعِكرَمَةُ اَلصَّومُ مِمَّا دَخَلَ وَلَيسَ مِمَّا خَرَجَ (الف) (بخاري شريف.باب الحجامة والقيئ للصَّائم ص۲۶۰نمبر۱۹۳۸)ددې اثر څخه معلوم سو چې د يو شي د داخلېدو څخه روژه ماتيږي د يوشي دراوتلوڅخه روژه نه ماتيږي. البته په جماع کي مني را وزي بيا هم دهغه څخه روژه ماتيږي دا ځکه چې په هغه کي لذَّت كامل موجود دئ. چې ددې څخه د ماتېدو په باب کي حديث موجود دئ (۳) د احتلام څخه د نه ماتېدو په باب دا حديث دئ عَن رَجُلٍ مِّن اَصحَابِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لاَيُفطِرُ مَن قَآءَ وَلاَ مَن اِحتَلَمَ وَلاَ مَن اِحتَجَمَ (ب) (ابوداؤدشريف.في الصائم يحتلم نهارا في شهررمضان ص۳۳۰نمبر۲۳۷۶\ترمذي شريف.باب ماجآء في الصائم يذرعه القيئ ص۱۵۲نمبر۷۱۹\بخاري شريف.باب الحجامة والقيئ للصَّائم نمبر۱۹۳۸)ددې حديث څخه معلوم سو چې د احتلام کېدو،په خپله قيئ(باکئ)کېدو او دښکرلګولوڅخه روژه نه ماتيږي. او پر دغه باندي نوري مسئلي قياس کئ (۴) د رانجه لګولو څخه د روژې نه ماتېدو دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت رُبَمَا اِكتَحَلَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ صَائِمٌ (ج) (سنن للبيهقي.باب الصائم يكتحل ج۴ص۴۳۷نمبر۸۲۵۹) عَن اَنَسِ بنِ مَالِكٍ اَنَّهُ كَانَ يَكتَحِلُ وَهُوَ صَائِمٌ (د) (ابوداؤدشريف.باب في الكحل عندالنوم.كتاب الصائم ص۳۳۰نمبر۲۳۷۸\ترمذي شريف.باب ماجآء في الكحل للصَّائم ص۱۵۴نمبر۷۲۶)ددې حديث او اثر څخه معلوم سو چې د سترګو تورولو(رانجه لګولو)څخه روژه نه ماتيږي. ځکه چې د سترګو تورولو څخه د ماغ ته يو شيئ هم نه داخليږي. د مچي په اخستو سره که انزال نه سو نو روژه نه ماتيږي ددې دليل دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت اِن كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَيُقَبِّلُ بَعضَ اَزوَاجِهِ وَهُوَ صَائِمٌ ثُمَّ ضَحِكَت (ه) (بخاري شريف.باب القبلة للصائم ص۲۵۸نمبر۱۹۲۸\ابوداؤدشريف.باب القبلة للصائم ص۳۳۱نمبر۲۳۸۲)ددې حديث څخه معلوم سو چې صرف په مچه اخستلو(خوکلولو)سره روژه نه ماتيږي.

لـغـت : اِدَّهَنَ . د دُهنٌ څخه مُشتق(جوړ)دئ تېل لګول، اِحتَجَمَ . د حَجَامَةٌ څخه مُشتق دئ ښکر لګول، اِکتَحَلَ . د کُحلٌ څخه مُشتق دئ رانجه يې ولګول، قَبَّلَ د باب تفعيل څخه دئ معنيٰ مچه واخستل (خوکل يې کړي)

[۵۶۳](۱۳) بيا که د مچه کولو څخه يا د مَس (مُښلو) څخه انزال سو نو پر ده باندي قضآء ده پرده کفاره نسته.

حاشيه : (الف) روژه د داخلېدو څخه ماتيږي نه د يو شيي په را وتلو سره (ب) حضور وفرمائل روژه نه ماتيږي چا چي باکئ ووهلي،او نه چي چا احتلام وکئ او نه چاچي ښکر ولګاوئ (ج) حضرت عائشه فرمائي چي کله نا کله حضور رانجه استعمالول په داسي حال کي چي حضور په روژه کي و (د) انس بن مالك به رانجه لګول په داسي حال کي چي روژه به وه (ه) حضور به دخپلو بعضو بي بي ګانو مچه اخستل په داسي حال کي چي د ده به روژه وه . بيا دي وخندل .

[۵۶۴](۱۴) وَلاَ بَاسَ بِالقُبلَةِ اِذَا اَمِنَ عَلیٰ نَفسِهِ [۵۶۵](۱۵) وَيُکرَهُ اِن لَمَ يَامَنُ [۵۶۶](۱۶) وَاِن ذَرَعَهُ القَيئُ لَم يُفطِر وَاِن اِستَقَآءَ عَامِداً مِلاَ فَمِهِ فَعَلَيهِ القَضَآءُ .

وجـه (۱) خو په مُکمله توکه صورةً او معنيً جماع نه سوه مُتحقق نو ځکه کفاره نه لازميږي. ځکه چي کفّاره پـه شُبهاتوسره ساقطيږي.لېکن دجماع شکل خو موجود سواو د منئ په ايتسلوکي دده دخل دئ نوځکـه قضـآء بـه لازم وي (۲) پـــه اثـــر کـــي دئ عَنِ الحَسَنِ فِي الرَّجُلِ يُقَبِّلُ نَهَاراً فِي رَمَضَانَ ... وَقَالَ قَتَادَةُ اِن خَرَجَ مِنهُ الدَّافِقُ فَلَيسَ عَلَيهِ اِلاَّان يَّصُومَ يَومًا(الف)(مصنف عبدالرزاق.باب الرفث واللمس وهوصائم ج۴ص۱۹۲ نمبر۸۴۵۰) (۲) عَن مَيمُونَةَ مَولاَةَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَن صَائِمٍ قَبَّلَ فَقَالَ اَفطَرَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة،۶۰ من كره القبلة للصائم ولم يرخص فيها ج۲ص۳۱۷نمبر۹۴۲۶\۶۹ ماقالوا في الصائم يفطرحين يمني ص۳۲۲نمبر۹۴۷۹)ددي اثر او حديث څخه معلوم سو چي د مچي اخستلو څخه که انزال وسي نو روژه ماتيږي. کفاره نه لازميږي.

[۵۶۴](۱۴) په مچه اخستلو کي څه حرج نسته که چيري پر خپل ځان باندي قابو وي.

وجـه مخکي په مسئله نمبر۱۲کي حديث او وجه تېر سوه.

[۵۶۵](۱۵) مچه اخستل مکروه ده که چيري پر خپل ځان باندي اعتماد نه و.

وجـه (۱) که ځوان وي او پر نفس باندي اعتماد نه لري نو د روژې په حال کي مچه اخستل مکروه ده. دا خطـره ده چي داسي نه چي په جماع کي مُبتلاء نه سي. او کفاره او قضآء نه سي پر لازم نو ځکه که پر نفس بانـدي قـابو نه لري نو د دغه سړي لپاره مچه اخستل مکروه ده (۲) پـه حـديث کـي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنَّ رَجُلاً سَئَلَ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَنِ المُبَاشَرَةِ لِلصَّائِمِ فَرَخَّصَ لَهُ وَاَتَاهُ اٰخَرٌ فَنَهَاهُ فَاِذَا الَّذِي رَخَّصَ لَهُ شَيخٌ وَالَّذِي نَهَاهُ شَابٌّ (ج) (ابوداؤدشريف.باب كراهيته للشَّاب ص۳۳۱نمبر۲۳۸۷)په حديث کي د ځوان د منع کولو وجه دغه وه چي هغه پر نفس باندي قابو نه درلودئ. نو ځکـه دا به مکروه وي.

[۵۶۶](۱۶) که يو چالره په خپله باکئ راغلي نو روژه يې نه سوه ماته او که بـاکئ پـه قصـد سـره ووهلـي پـه ډکـه خوله سره نو پر هغه باندي قضآء سته.

وجـه په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن ذَرَعَهُ القَيئُ فَلَيسَ عَلَيهِ قَضَآءٌ وَمَن اِستَقَآءَ عَمَداً فَلَيَقضِ (د) (ترمذي شريف.باب ماجآء في من استقآء عمداً ص۱۵۳نمبر۷۲۰\ابوداؤدشريف.باب الصائم ليستقي عامداً ص۳۳۱نمبر۲۳۸۰)ددي حديث ځخه معلوم سو چي که په خپله باکئ ووهل سي نو روژه نه ماتيږي. ځکه چي يـو شـيئ وتلـئ دئ داخـل سـوئ نـه دئ.لېکن که په قصد سره باکئ د باندي را ويستلي او ووهلي نو اُس خو په باکئ وهلو کي دده قصد شامل دئ ځکه روژه يې ماته ده.

حاشيه : (الف) د حسن څخه ديو سړي په باب پوښتنه وکړه چي په روژه کي د ورځي مچه اخلي ... حضرت قتاده وفرمائـل کـه دده څخـه توپ وهونکي اُبه(وُبَه)ووتلي نو پر ده باندي هيڅ شيئ نسته مګر دا چي يوه ورځ روژه دي ونيسي (ب) د حضور څخه د روژاتي په بـاب پوښتنه وسوه چي هغه مچه واخلي نو وفرمائل چي روژه يې ماته سوه (ج) يوه سړي دحضور څخـه د روژاتـي لپـاره د مُباشـرت پـه بـاب

پوښتنه وکړه نو حضور وهغه ته د مُباشرت اجازت ورکئ، او یو بل د اجازت لپاره راغلئ نو حضور هغه منع کړئ. نو وکوم چا ته چې اجازت ورکړئ هغه سپین ږیرئ و او کوم چې منع کړئ هغه ځوان و (د) حضور وفرمائل کوم چا لره چې قیئ راغلئ وي پر هغه قضآء نسته او کوم چا چې قیئ وکئ په قصد سره نو هغه دي قضآء وکړئ.

[۵۶۷](۱۷) وَمَن اِبتَلَعَ الحَصَاةَ اَوِ الحَدِيدَ اَوِ النَّوَاةَ اَفطَرَ وَقَضٰي [۵۶۸](۱۸) وَمَن جَامَعَ عَامِداً فِي اَحَدِ السَّبِيلَينِ اَو اَكَلَ اَو شَرِبَ مَا يَتَغَذَّيٰ بِهِ اَو يَتَدَاوٰي بِهِ فَعَلَيهِ القَضَآءُ

فـائـده امام محمد فرمائي چې په حديث کې په مُطلق باکئ وهلو سره د روژې د ماتېدو حکم دئ نو ځکه کـه لږ باکئ وې هم روژه ماتيږي.

پام لرنه کفاره په دي وجه نه لازميږي چې باضابطه(باقاعده)خوراك کول نه سو مُتحقق.

[۵۶۷](۱۷)که يوچاشَکه تېره کړه يايې وُسپينه يا تاکئ تېره کړه نو روژه ماتيږي او قضآء دي وکړي.

وجـه (۱) که څه هم دا شيان دخوړلو نه دي لېکن صُورةً خوراك دئ ځکه روژه په ماته ده. لېکن په حقيقت کې دا شيان د خوړلو نه دي ځکه په مُکمله توګه خوراك نه سو مُتحقق نو ځکه کفاره نه لازميږي (۲) په اثر کې دا الفاظ راغلـي دي عَن اِبرَاهِيمَ اَنَّهُ رَخَّصَ فِي مَضغِ العَلَكِ لِلصَّائِمِ مَا لَم يُدخِلهُ حَلقَهُ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۳۱ من رخص في مضغ العلك للصائم ج۲ص۲۹۷نمبر۹۱۷۹)په دې اثر کې دئ چې عَلَك(ژاؤلي.ژالي) و ژوئي او ستوني لره نه سـي ولاړي نوپـه دي کې څه حرج نسته چې ددې مفهومِ مخالف بياداسوچې که په حلق(ستوني)کې ولاړي سـي نـوروژه ماتـه ده.اوعَلَك دغابنودصفاکولولپاره د ژوولو شيئ دئ.په عام توګه سره د دَوَآء يا غذآء پر ځائ د استعمالېدو شـيئ نـه دئ. او پـر دغه باندي هغه توله شيان بايدقياس کئ چې په عام توګه سره دغِذَآءيا دَوَآء په دول د خوړلو شيئ نه وي.

لـغت : اَلحَصَاةُ : شَګه. وړې وړې ډبرې. اَلنَّوَاةُ : تاکئ .

[۵۶۸](۱۸) يو چا جماع(نزدېکت)وکئ په قصد سره د دو لارو څخه پـه يـوه لاره کـي يـا يـې خـوراك وکـئ يـا يـې چيناك وکئ داسي شيئ چې غِذَآء ځني حاصليږي يا په هغه دوآء کيږي نو پر ده باندي قضآء سته او کفاره سته.

تـشريـح که په شرمګاه کي يا د غټو بولو په لاره کي د روژې په حالت کي په قصد سره جمـاع وکـړه نـو قضـآء او کفاره دواړي لازميږي.

وجـه (۱) په دې دواړو ځايو کي شهوت(لَذَّت)کامل موجود وي.نـو ځکـه روژه هـم مـاتيږي او کفـاره هـم لازم ده (۲) په حديث کې دئ اَنَّ اَبَاهُرَيرَةَ قَالَ بَينَمَا نَحنُ جُلُوسٌ عِندَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِذ جَآءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هَلَكتُ قَالَ مَالَكَ قَالَ وَقَعتُ عَلٰي اِمرَاَتِي وَاَنَا صَائِمٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ هَل تَجِدُ رَقَبَةً تُعتِقُهَا قَالَ لاَ قَالَ فَهَل تَستَطِيعُ اَن تَصُومَ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ قَالَ لاَ قَالَ فَهَل تَجِدُ اِطعَامُ سِتِّينَ مِسكِينًا قَالَ لاَ قَالَ فَمَكَثَ الخ (ب) (بخاري شريف.باب اذاجامع في رمضان ولم يكن له شيئ فتصدق عليه فليكفرص۲۵۹نمبر۱۹۳۶\ابوداؤدشريف.كفارة من اتيٰ اهله في رمضان ص۳۳۲نمبر۲۳۹۰)ددې حـديث څخـه معلـوم سـو چـې د رمضان په روژه کې په جماع کولو سره روژه ماته کې نـو پـر هغـه بانـدي کفـاره لازم ده (۳) او پـر دغـه بانـدي خوراك چيناك بايد قياس کئ ځکه چې په دې صورت کې هم پـه قصـد سـره مـاتول راغلـو (۴) پـه دې بـاب کـې مُطلق حديث دئ

حاشيه : (الف) د ابراهيم څخه نقل سوئ دئ چې هغو و روژاتي ته د عَلَك ژولو په لږ کې رخصت ورکړئ دئ تر څو چې هغه پـه حلق کې نه سي داخلي (ب) په دغه محال کې چې مورِ د حضور سره ناسته و اچانك يو سړئ راغلـئ او ووېل ائ د خدائ رسول! زه هلاك سوم. حضور وفرمائل څه وسو ؟ ووېل ما د روژې په حالت کې د خپلې بي بي سره جماع وکړې. حضور وفرمائل ستا سره مريـئ سته چې آزاد يې کې ؟ هغو ووېل نه. حضور وفرمائل چې ته طاقت لـرې چـې دوې مياشـتې پرلپسـې روژې ونيسـې ؟ هغـو ووېل چـې نـه . حضور وفرمائل آيا ډوډئ سته چې په شپېتو مسکينانو باندي وخورې ؟ هغو ووېل چې نه .

وَالكَفَّارَةُ [۵۶۹](۱۹) وَالكَفَّارَةُ مِثلُ كَفَّارَةِ الظِّهَارِ [۵۷۰](۲۰) وَمَن جَامَعَ فِيمَا دُونَ الفَرجِ

چې هسي يو رکم افطار وکې نو کفاره لازم ده. په حديث کې دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنَّ رَجُلاً اَفطَرَ فِي رَمَضَانَ فَاَمَرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَن يَّعتِقَ رَقَبَةً اَو يَصُومَ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ اَو يُطعِمَ سِتِّينَ مِسكِينًا الخ (الـف) (ابوداؤدشـريف.كفارة مـن اتيٰ اهلـه في رمضـان ص۳۳۲نمبر۲۳۹۲\دارقطني.باب القُبلة للصائم ج۲ص۱۷۰نمبر۲۲۸۳\۲۲۸۴)پـه دې حـديث کـې دئ چـې پـه هـر رکـم يـې د رمضان روژه ماته کړي وي که څه هم په خوراك چيناك وي نو پر ده بانـدي کفـاره لازم ده. د دارقُطنـي پـه پـه

حديث نمبر۲۲۸۴ کي اَنَّ رَجُلاً اَكَلَ فِي رَمَضَانَ فَاَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَن يَّعتِقَ رَقَبَةً الخ عبارت دئ د دي مطلب دغه دئ چي د خوړلو څخه هم كفاره لازميږي.

فائده امام شافعي فرمائي چي كه صرف په جماع سره ماته كړي وي خو كفاره لازميږي. او كه په خوراك چيښاك ماته كړي وي نو كفاره نه لازميږي.صرف قضآء لازميږي.

وجه په مخكني حديث كي په جماع سره ماتولو باندي كفاره لازم كړي وه.او په دوم حديث كي هم ددي جُزء دئ نو ځكه په خوړلو چيښلو سره ماتول پر جماع باندي نه سي قياس كېدلائي.

فائده د امام ابوحنيفه يو روايت دئ چي د پاخاني(غُولُو)په ځائ كي د جماع كولو څخه كفاره نه لازميږي (۱) ځكه چي په دي كي لذّت دومره مُكمل نه وي څومره چي په شرمگاه كي وي (۲) لكه څه رنگه چي په دي ځائ كي د جماع كولو څخه حَد نه لازميږي دغه رنگه كفاره هم نه لازميږي.

[۵۶۹](۱۹) او د روژي ماتولو كفاره د ظهار د كفاري په ركم ده.

تشريح كفارهٔ ظهار غلام آزادول دئ.اوكه هغه نه وي.نوشپيته ورځي پرلپسي روژي نيول دي.اوكه دا هم نه وسي نووشپيتومسكينانوته ډوډئ وركول دئ.درمضان دروژي په ماتولوكي هم دغه كفاره ده

وجه په مسئله نمبر۱۸كي دبخاري شريف حديث تيرسوچي هلته د كفاري دا تفصيل موجود و.ددغه څخه دكفاري تفصيل لازم دئ.اودكفارهٔ ظهارتفصيل په سورهٔ مُجادله۵۸ آيت نمبر۱۳ او۴ كي سته.

[۵۷۰](۲۰) كوم چاچي جماع وكړه د فرج څخه په علاوه كي او انزال سو نو پرده باندي قضآء سته كفاره نسته .

وجه (۱) دلته د فرج څخه مُراد د شرمگاه او دغُولو د ځائ څخه علاوه بل ځائ دئ.نو ځكه كه ددي دو ځايو څخه علاوه په بل ځائ كي مثلاً ورون يا بل ځائ كي جماع وكړه او انزال سو نو روژه ماتيږي او قضآء لازم ده كفاره نه لازميږي. ځكه چي په دي ځايو كي شِهوت(لَذّت)كامل نه وي. په حديث كي دئ عَن مَيمُونَةَ مَولاَةِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَن صَائِمٍ قَبَّلَ فَقَالَ اَفطَرَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۶۰ من كره القُبلة للصائم ولم يرخص فيها ج۲ص۳۱۷نمبر۹۴۲۶)ددي حديث څخه معلوم سو چي په مچه اخستلو روژه ماتيږي نو چي كله په غَيرِ فرج كي جماع وكي او انزال سي خو په طريقهٔ اولیٰ به روژه ماتيږي. ځكه چي دا خو د اعليٰ درجي حركت سوئ دئ (۲) په اثر كي راغلي دي اَنَّ اِبنَ مَسعُودٍ قَالَ فِي القُبلَةِ لِلصَّائِمِ قَولاً شَدِيداً

حاشيه : (الف) يوه سړي د روژي په مياشته كي روژه ماته كړه نو حضور و ده ته ځكم وركړئ چي غلام(مريئ)دي ازاد كي،يا دي دوي مياشتي پر لپسي روژي ونيسي،يا دي شپيته مسكينان په ډوډئ و خوروي (ب) دحضور څخه پوښتنه وسوه د روژاتي په باب كي چي مچه واخلي نو و فرمائل روژه يي ماته سوه.

فَاَنزَلَ عَلَيهِ القَضَآءُ وَلاَ كَفَّارَةَ عَلَيهِ [۵۷۱](۲۱) وَلَيسَ فِي اِفسَادِ الصَّومِ فِي غَيرِ رَمَضَانَ كَفَّارَةٌ [۵۷۲](۲۲) وَمَن اِحتَقَنَ اَو اِستَعَطَ اَو اَقطَرَ فِي اُذُنِهِ اَو دَاوِيٰ جَائِفَةً اَو آمَّةً

يَعنِي يَصُومُ يَومًا مَكَانَهُ وَهٰذَا عِندَنَا فِيمَا اِذَا قَبَّلَ فَاَنزَلَ (الف) (سنن للبيهقي.باب وجوب القضآء علیٰ من قبّل فانزل ج۴ص۳۹۵نمبر۸۱۰۶)ددي اثر څخه معلوم سو چي د فرج څخه په علاوه بل ځائ كي چي جماع وكي او مني راووزي نو روژه ماته ده.

[۵۷۱](۲۱) د رمضان څخه علاوه په بله روژه ماتولو كي كفاره نسته.

وجه (۱) د رمضان روژه فرض ده ددي څخه علاوه بله روژه فرض نه ده. او نه دهغه دومره اهميّت سته.نو ځكه كه درمضان څخه علاوه بله روژه ماته كړه نو صرف قضآء لازميږي. كفاره نه لازميږي (۲) په حديث كي چي كوم د كفاري ذكر دئ هغه د رمضان د روژي په ماتولو كي دئ په بله روژه كي نه دئ.نو ځكه بله روژه به پر دي باندي نه قياسيږي. او كفاره نه لازميږي. په غيررمضان كي د روژي د ماتولو څخه كفاره نه لازميږي صرف قضآء به لازم وي ددي دليل دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت ... فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لاَ عَلَيكُمَا صَومًا مَكَانَهُ يَومًا آخَرَ (ابوداؤدشريف.باب من رايٰ عليه القضآء ص۳۴۰نمبر۲۴۵۷\ترمذي شريف.باب ماجآء في ايجاب القضآء عليه ص۱۵۵نمبر۷۳۵)په دي حديث كي د نفلي روژي پر ماتولو صرف قضآء لازم كړي ده.

[٥٧٢](٢٢) کوم چا چي حُقنه واخستله(پيچکارئ ولګوله د کښتي خوا څخه)يا يي په پزه(پوزه)کي دوآء واچوله يا يي په غُوږ کي قطره و څڅوله يا يي د نس د زخم دوآء وکړه يا يي د دماغ د زخم نَودَه دوآء وکړه او هغه و نس ته ورسېدل يا دماغ ته ورسېدل نو روژه يي ماته ده.

وجه (١) هر د خوراك چيښاك شيئ يا د دوآء شيئ دماغ ته يا ګُلمو(نس)ته ورسيږي نو ددې څخه روژه ماتيږي.په دغه لوړو صورتو کي د مَنفَذ او سُوراخ په ذريعه دوآء يا اُوبَه و ګُلمو او دماغ ته رسيږي په دغه وجه روژه ماته ده (٢) په اثر کي راغلي دي قَالَ اِبنُ عَبَّاسٍ وَعِكرَمَةُ اَلصَّومُ مِمَّا دَخَلَ وَلَيسَ مِمَّا خَرَجَ (بخاري شريف.باب الحجامة والقيئ للصَّائم ص٢٦٠نمبر١١٩٣٨\سنن للبيهقي.باب الافطاربالطعام وبغيرالطعام اذا ازدرده عامداً او بالسعوط والاحتقان وغيرذالك مما يدخل جوفه باختياره ج٤ص٢٦١)ددې اثر څخه معلوم سو چي يو شيئ داخل سي نو دهغه څخه روژه ماتيږي او د داخلېدو مطلب په نس کي يا په دماغ کي داخلېدل دئ چي اصل دئ. د حُقنې په باب کي اثر موجود دئ عَنِ الثَّورِي قَالَ يُفطِرُ الَّذِي يَحتَقِنُ بِالخَمرِ وَلاَ يُضرَبُ الحَدُّ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الحقنة في رمضان والرجل يصيب اهله ج٤ص١٩٩نمبر٧٤٧٨) عَن عَطَآءٍ كُرِهَ اَن يَّستَدخُلَ الاِنسَانُ شَيئًا فِي رَمَضَانَ بِالنَّهَارِ فَاِن فَعَلَ فَلْيُبَدِّل يَومًا وَلاَيُفطِرُ ذَالِكَ اليَومَ (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب الحقنة في رمضان والرجل يصيب اهله ص١٩٩نمبر٧٤٧٨) ددې اثر څخه معلوم سو

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن مسعود و روژاتي ته د مچي اخستلو په باب کي سخته خبره وکړه. يعني ددې په ځاىٔ کي به يوه روژه نيسي او دا زمونږ په نېز هغه وخت دئ چي مچه واخلي او انزال سي (ب) دحضرت ثوري څخه نقل سوئ دئ چي وفرمائل روژه ماتيږي دهغه چا چي په شرابو سره حُقنه ولګول لېکن حَد به نه لګول کيږي (ج) دحضرت عطاء څخه نقل سوئ دئ چي مکروه دئ چي انسان يو شيئ په روژه کي د ورځي داخل کړي. بيا که چيري وکئ نو يوه ورځ دي په بدله کي واخلي يعني دومه ورځ دي روژه ونيسي او په هغه ورځ دي افطار نه کوي.

بِدَوَآءٍ رَطبٍ فَوَصَلَ اِلىٰ جَوفِهِ اَو دِمَاغِهِ اَفطَرَ [٥٧٣](٢٣) وَاِن اَقطَرَ فِي اِحلِيلِهِ لَم يُفطِر عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٌ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ يُفطِرُ [٥٧٤](٢٤) وَمَن ذَاقَ شَيئًا بِفَمِهِ لَم يُفطِر وَيُكرَهُ لَهُ ذَالِكَ .

چي ديو شي په بدن کي داخيلولوڅخه دي دومه(بله)ورځ قضآء ونيسي.خو په هغه ورځ دي هم روژه پوره کړي نه دي پرېږدي.

لغت : اِحتَقَنَ .د پاخاني(غُولو)دلاري څخه په نس کي دوآء اچول. آمَّةٌ . د دماغ جَوَر زخم چي دماغ ته دنَنَه رسېدلئ وي. رَطبٌ . نَود . د نَودې دوآء قيد يې ځکه ولګاوئ چي نَوده دوآء د زخم د رَطُوبَت سره يوځاىٔ سي نس يا ودماغ ته ژر رسيږي. او وَچَه دوآء د زخم رَطُوبَت لا نور وَچَوي نو ځکه هغه و ګُلمُو ته رسيږي. نو ځکه د وَچې دوآء په لګولو سره روژه نه ماتيږي.

فائده د صاحبينو په نېز په نَودَه دوآء لګولو سره هم اودس نه ماتيږي ځکه چي و ګُلمو ته رسېدل او و دماغ ته رسېدل يقيني نه ده.

اصول دوآء يا غِذآء و دماغ ته ورسيږي نو روژه ماته ده .

[٥٧٣](٢٣) که د بَولُو په ځاىٔ کي څاڅکئ واچاوئ نو روژه نه ماتيږي د امام ابوحنيفه او امام مُحمد په نېز او امام ابويوسف فرمائلي دي روژه ماتيږي .

وجه د امام ابوحنيفه نظريه داده چي د بَولُو د ځاىٔ د سُري(سُوراخ)مَنفَذ تر ګُلمُو پوري نه دئ. بلکه په مابين کي مثانه حائل ده بَولي د دې څخه په تَرَشَّح(څڅېدو)سره راځي. نو ځکه دوآء يا اُوبَه د بَولُو دځاىٔ په سُري(سُوراخ)کي واچوي نوهغه و ګُلمو ته نه سي رسېدائي. ځکه روژه هم نه په ماتيږي .

فائده د امام ابويوسف نظريه داده چي د بَولُو سُرئ(سُوراخ)براه راست و ګُلمو ته رسېدلئ دئ.په دغه وجه په ګُلمو کي تللي اُوبَه د بَولُو دلاري څخه راوزي. نو ځکه که هره دوآء يا اُوبَه د بَولُو په سُري(سُوراخ)کي واچولي هغه و ګُلمو ته رسيږي. نو ځکه روژه په ماته ده.

پـام لـرنـه د دې مسئلې دارو مدارپر ډاکټري باندې دئ اوډاکټري تحقيق دادئ چـې دبَولُوسُـرئ (سُوراخ)براه راست و کُلمو ته نه رسيږي نو حُکه د طرفينو دمسلك مُطابق روژه نه ماتيږي.

لـغـت : اِحلِيلٌ . د بَولُو د خاىٔ سُوراخ. (پام لرنه.په عُرفِ عام کې اُوس و قَضِيب او ذَکَر ته هم اِحلِيلٌ وائي .قطب)

[۵۷۴](۲۴) که يو چا په خُوله سره څه وخکل نو روژه نه ماتيږي لېکن دا مکروه دئ.

وجـه (۱) صرف د خُولې په خَکلُوسره په نس کې څه شيئ نه ولاړئ نوحُکه روژه نه ماتيږي لېکن دا امکان لـرې چې کله يو شيئ نس ته ولاړ سي او روژه په ماته سي نو حُکه بغير د ضـرورت دارنګـه کـول مکـروه دئ (۲) پـه اثرکـــې دئ عَـن اِبـنِ عَبَّـاسٍ قَـالَ لاَ بَاسَ اَن يَّتَطَـاعَمَ الصَّـائِمُ بِالشَّـيءِ يَعـنِي اَلمَرَقَـةَ وَنَحوِهَـا (الـف) (سـنن للبيهقـي.باب الصـائم يـذوق شيئاج۴ص۴۳۵نمبر۸۲۵۴)ددې اثر څخه معلوم سو چې بنُوروا او دارنګه بل شيئ خَکلُو څخه روژه نه مـاتيږي پـه دې شرط چې ونس ته يو شيئ ولاړ نه سي .

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عباس وفرمائل چې هيڅ د حرج خبره نه ده چې روژاتئ يـو شـيئ وخکـي يعنـي بنـوروا او دارنګـه بـل شيئ

[۵۷۵](۲۵) وَيُكرَهُ لِلمَرَاَةِ اَن تَمضَغَ لِصَبِيِّهَا الطَّعَامَ اِذَا كَانَ لَهَا مِنهُ بُدٌّ [۵۷۶](۲۶) وَمَضغُ العَلَكِ لاَ يُفطِرُ الصَّائِمَ وَيُكرَهُ [۵۷۷](۲۷) وَمَن كَانَ مَرِيضًا فِي رَمَضَانَ فَخَافَ

[۵۷۵](۲۵) د بنحي لپاره مکروه دئ چې دخپل کشني لپاره ډوډئ و ژوئي چې کله دده لپاره يو بله لاره وي.

تـشريـح که د کشني د ډوډئ د ژوولو ضرورت نه وي نو ډوډئ ژوول مکروه ده. او که سخت ضرورت سي نو ژوول کېدائي سي خو په دې شرط چې ډوډئ نس له ولاړه نه سي.

وجـه په اثر کې راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ لاَ بَاسَ اَن تَمضَغَ المرَاَةُ لِصَبِيِّهَا وَهِيَ صَآئِمَةٌ مَالَمَ تَدخُل حَلقَهَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۵۰ في الصائمة تمضغ لصبيها ج۲ص۳۰۶نمبر۹۲۹۳)ددې اثر څخه معلوم چې که ضرورت پيښ سي نو بنځه د خپـل کشـنئ لپاره ډوډئ ژوولائي سي. په دې شرط چې دد ې نس ته ډوډئ ولاړ نه سي.

لـغـت : مَضغٌ . ژوول.

[۵۷۶](۲۶) د ژاؤلو د ژوولو څخه د روژاتي روژه نه ماتيږي لېکن مکروه دي.

وجـه (۱) علك(ژاؤلي)د غابنو دصفائي لپاره بنځي ژوئي.نو حُکه که د غابنو دصفائي لپاره وژوولـي تسـي کـړې اوستوني له دهغې دانه(ذرّه)ولاړه نه سي نو روژه نه ماتيږي. حُکه چې نس تـه يـو شـيئ نـه ولاړئ لـېکن دارنګـه کول مکروه دئ (۲) په اثر کې دئ عَن اِبرَاهِيمَ اَنَّهُ رَخَّصَ فِي مَضغِ العَلَكِ لِلصَّائِمِ مَا لَم يَدخُلهُ حَلقَهُ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۳۱ من رخص في مضغ العلك للصائم ج۲ص۲۹۷نمبر۹۱۷۹)ددې اثر څخه معلوم سو چې د عَلَك په ژوولو روژه نـه مـاتيږي پـه دې شرط چې يو شيئ نس ته ولاړ نه سي.

لـغـت : اَلعَلَكُ . د ژوولو سَړښ(ژاؤلي.او دغه رنګه بل شيئ)

[۵۷۷](۲۷) څوك چې په روژه کې ناجوړه سو بيا ببريږي چې که دئ روژه ونيسي نو دده ناجوړي به نـوره زيانـه سي نو افطار دي وکړي او قضآء دي وکړي.

تـشريـح و ناجوړه ته د روژې په نيولو سره د ناجوړئ د زياتېدو خطـره وي نـو روژه مـاتولائي سـي او بيـا دې قضآء وکړي.

وجـه دا آيت دئ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهرَ فَلِيَصُمهُ وَمَن كَانَ مَرِيضًا اَو عَلىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّن اَيَّامٍ اُخَرَ يُرِيدُ اللهُ بِكُمُ اليُسرَ وَلاَ يُرِيدُ بِكُمُ العُسرَ (ج) (آيت ۱۸۵ سورة البقرة۲)د آيت څخه معلوم سو چې که نـاجوړ وي يـا پـه سـفرکي وي نـو روژه بـه مـاتوي او بلـه ورځ به دهغه قضآء کوي.

فـائـده د امام شافعي په نېز د حُـان يـا ديـو عُضـوِ د تلف(ضـائع)کېدو خطـره وي نوهغـه وخـت د افطـار کولـو اجازت سته.

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمائل هيڅ دحرج خبره نه ده چې ښځه د خپل کشني لپاره و ژوئي په داسي حال کي چې ددې روژه وي. تر هغو چې ددې په ستوني کي يو شيئ داخل نه سي (ب) د حضرت ابراهيم څخه نقل سوئ دئ چې وروژاتي ته د عَلَك د ژوولو رخصت ورکړئ. په دې شرط چې دده په ستوني کي څه شيئ داخل نه سي (ج) څوك چې د روژې مياشته و مُوندي هغه له روژه نيول په کار ده. او څوك چې ناجوړه وي يا پر سفر وي نو بله ورځ دي شمار کړي(وګڼي). الله تعالىٰ ستاسو سره آساني غُواړي.الله تعالي ستا سو سره تنګي نه غُواړي.

اِن صَامَ اِزدَادَ مَرَضُهُ اَفطَرَ وَقَضٰي [٥٧٨](٢٨) وَاِن كَانَ مُسَافِراً لاَ يَضُرُّهُ الصَّومُ فَصَومُهُ اَفضَلُ وَاِن اَفطَرَ وَقَضٰي جَازَ [٥٧٩](٢٩) وَ اِن مَاتَ المرِيضُ اَوِ المسَافِرُ وَ هُمَا

[٥٧٨](٢٨) که چير ي مُسافر وي او روژه وده ته نقصان نه ورسوي نو دده لپاره روژه نيول افضله ده. او که روژه ماته کړه او قضآء يې وکړه نو هم جائز دئ.

وجه (١) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مِنَ المدِينَةِ اِلٰي مَكَّةَ فَصَامَ حَتّٰي بَلَغَ عُسفَانَ ثُمَّ دَعَا بِمَآءٍ فَرَفَعَهُ اِلٰي يَدِهِ لِيُرِيَهُ النَّاسُ فَاَفطَرَ حَتّٰي قَدِمَ مَكَّةَ وَذَالِكَ فِي رَمَضَانَ فَكَانَ اِبنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ قَد صَامَ رَسُولُ اللهِ وَاَفطَرَ فَمَن شَآءَ صَام وَمَن شَآءَ اَفطَرَ (الف) (بخاري شريف.باب من افطر في السفرليُرَاهُ النَّاسَ ص٢٦١نمبر١٩٤٨\مسلم شريف.باب جوازالصوم والافطارفي شهررمضان للمسافر ص١١١٣)ددې حديث څخه معلوم سو چې مشقّت نه وي خو بيا هم د مُسافر لپاره دا ګُنجائش سته چې افطار وکي يا روژه ونيسي (٢) په سفر کي عمومًا مشقت وي نو ځکه سفر يي د مشقت په درجه کي کئ نو ځکه که و مُسافر ته تکليف نه وي نو هم افطار کولائي سي. او که مشقت نه وي نو روژه نيول افضله ده ځکه چې د رمضان فضيلت دِير لوئ شيئ دئ چې بيا نه ملاؤيږي (٣) وروسته بيا يواځي قضآء کول مُشکل دئ نو ځکه ښه خبره داده چې اُوس يې د تولوسره يو ځاى ادآء کړي. په حديث کي دئ عَن اَبِي دَردَآءَ قَالَ خَرَجنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي شَهرِ رَمَضَانَ فِي حَرٍّ شَدِيدٍ حَتّٰي كَانَ اَحَدُنَا لَيَضَعُ يَدَهُ عَلٰي رَاسِهِ مِن شِدَّةِ الحَرِّ وَمَا فِينَا صَائِمٌ اِلاَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَعَبدُاللهِ بِنِ رَوَاحَةَ (ب) (مسلم شريف.باب جوازالصوم والفطرفي شهررمضان للمسافرص٣٥٧نمبر١١٢٢\ابوداؤدشريف.باب في اختيارالصيام ص٣٣٤نمبر٢٤٠٩)په دې حديث کي دئ چې د سختي ګرمئ باوجود حضور او عبدالله بن رواحه روژه نيولې ده. په دغه وجه که د روژې په مياشته کي شديد تکليف نه وي نو روژه نيول افضله ده.

پام لرنه که سخت تکليف وي نو افطار کول افضل دئ. په حديث کي دئ عَن جَابِرِبنِ عَبدِاللهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ رَايٰ رَجُلاً يُظلَلُ عَلَيهِ وَالزِّحَامُ عَلَيهِ فَقَالَ لَيسَ مِنَ البِرِّ اَلصِّيَامُ فِي السَّفَرِ (ج) (ابوداؤدشريف.باب اختيارالفطرص٣٣٤نمبر٢٤٠٧\مسلم شريف.باب جوازالصوم في شهررمضان للمسافرص٣٥٦نمبر١١١٥)ددې حديث څخه معلوم سو چې که سخت تکليف و نو روژه نه نيول افضله ده.

لغت : يَضُرُّ . د ضَرٌّ څخه مُشتق دئ نقصان ورکول .

[٥٧٩](٢٩) که ناجوړه او مُسافر مړه سول او دواړه پر خپل خپل حالت باندي و نو پر دوئي دواړو قضآء نه ده لازم.

تشريح د ناجوړه سړي مثلاً لس(١٠)ورځي روژې پاته سوي وې او دئ تر اُوس د ناجوړئ په حالت کي وي.او وده ته دخپلو روژو دقضآء کولو موقع نه سوه ملاؤ

حاشيه : (الف) حضور د مدينې څخه مکّي ته را وواتئ. نو روژه يې ونيول تر دې چې مقام عَسفَان ته راورسېدئ بيا يې اُوبَه را وغُښتې او هغه يې و خپل لاس ته را پورته کړې چې خلک يې ووينې او حضور روژه ماته کړه.تر دې چې مکّي ته تشريف راوړئ او دا د رمضان په مياشته کي و. ابن عباس فرمائي چې حضور په سفر کي روژه هم نيولې ده او افطار يې هم کړئ دئ.بس د چا چې خوښه سي روژه دي ونيسي او دچا چې خوښه سي افطار دي وکړي (ب) مورِ دحضور سره د رمضان په مياشته کي په سخته ګرمي کي را وواتو.تردې چې زمورِ څخه يوه د سختي ګرمئ په وجه خپل لاس پر خپل سر ايښوئ. زمورِ څخه يو هم روژاتئ نه و ما سوائ د رسول الله صَلَّي الله عليه وسلم او دعبدالله بن رواحه څخه (ج) حضور يو سړئ وليدئ چې پر هغه باندي سايه کول کېده او پر هغه باندي رَش و . نو حضور وفرمائل په سفر کي روژه نيول نيکي نه ده (يعني هغه وخت چې شديد مُشقّت وي)

عَلىٰ حَالِهِمَا لَمْ يَلزِمهُا القَضَآءُ [٥٨٠](٣٠) وَإن صَحَّ المرِيضُ اَو اَقَامَ المسَافِرُ ثُمَّ مَاتَا لَزِمَهُمَا القَضَآءُ بِقَدرِ الصِّحَّةِ وَالإِقَامَةِ [٥٨١](٣١) وَقَضَآءُ رَمَضَانَ اِن شَآءَ فَرَّقَهُ وَإن

او انتقال(مړ)سو نو ددې لسو(١٠)روځو د کفارې ورکولو ضرورت نسته.

وجـه ځکه چې په رمضان کې وده ته روژه نیول معاف وه. او وروسته وده ته موقع نه ده ملاؤ سوې چـې قضـآء یې کړې وائ نو ځکه ددې لسو(١٠)روژو قضآء کول نه ده لازم. او اُوس دمرګه وروسته قضـآء کـولائي نـه سـې نو ددې په بدله کې پر وارثانو باندې فِدیَه ورکول هم نه ده لازم. دغه حال د مُسافر دئ چې په سفر کې څه روژې پاته سوې وې او اُوس د سفر په حالت کې و چې انتقال(مړ)سو نو د پاته سوو ورځو فِدیَه پر وارثـانو بانـدې نـه ده لازم.

اصول چې دقضآء وخت نه سي ملاؤ نو قضآء نه ده لازم.

[٥٨٠](٣٠) که ناجوړه جوړ سي یا مُسافر مُقیم سي بیا دواړه مړه سي نو د دواړو د جـوړوالي پـه مقـدار او اقامـت په مقدار قضآء لازم ده .

تـشریـح مثلاً د ناجوړئ په دوران کې لس(١٠)ورځې روژې پاته سوې وې. اُوس دئ پنځه ورځې جـوړ سـو او د روژې قضآءیې کولائي سوه لېکن قضآء یې ونه کړه او مړ سو نـو پنځـه ورځـې قضـآء لازم ده.لېکن د مرګـه وروسته قضآء نه سي کولائي نو پر وارثانو باندې ددې پنځو ورځو فِدیَه لازمیږي.دغه حال د مُسافر دئ.

وجـــه (١) پـه آیـت کـې دئ وَمَن كَانَ مَرِيضًا اَو عَلىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّن اَيَّامٍ اُخَرُ (الف) (آیت ١٨٥سورة البقرة٢)ددې آیـت ځنـه معلومیږي چې که په رمضان کې روژه نه ونیسي نو چې کله فُرصَت پیدا کې روژه دي ونیسي.او ده فُرصَت پیدا کړئ و. جوړ سوئ و نو ځکه روژه نیول په کار وه.او نه ونیول نو قضآء به لازم سي (٢) پـه حـدیث کـې دئ عَن عِبَادَةَ بنِ نَسيٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن مَرِضَ فِي رَمَضَانَ فَلَم يَزَل مَرِيضًا حَتّٰي مَاتَ لَمْ يُطعِم عَنهُ وَإن صَحَّ فَلَم يَقضِهِ حَتّٰي مَاتَ اَطعَمَ مِنهُ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب المريض في رمضان وقضآئه ج٤ص٢٣٧نمبر٧٦٣٥)ددې حـدیث ځنـه معلـوم سـو چـې اول د رمضان قضآء کول په کار ده. او چې نه وکړه نو ورځآء به د هغه فِدیَـه ورکـوي. ځکـه چـې د قضـآء وخـت ورتـه ملاؤ سوئ و.

[٥٨١](٣١) قضآء رمضان که خوښه سي جلا جلا دي ونیسي که خوښه سي پرلپسې دي ونیسي.

تـشـــریـح مـثلاً لـس(١٠)ورځـې د رمضـان روژې قضـآء سـوې وې نـو دا هـم جـائز دئ چـې پرلپسـې دي لس(١٠)ورځې روژې ونیسي او پوره دي کې او دا هم جائز دئ چې دوې ورځې ونیسي بیا ځـه ورځـې وروسـته ځلور روژې ونیسي او جلا جلا دي لس(١٠)ورځې پوره کې.

وجـه حـدیث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي قَضَآءِ رَمَضَانَ اِن شَآءَ فَرَّقَ وَإن شَآءَ تَابَعَ (ج) (دارقطني.باب القُبلة للصَّائم

حاشیه : (الف) ځوک چې ناجوړه وي یا په سفر کې وي هغه دي نوري ورځې روژه ونیسي شمار دي کـې (ب) حضـور وفرمائـل ځـوک چې په روژه کې ناجوړه سو او همیشه ناجوړه پاته سو تردي چې وفات(مړ)سو نو دده لخوا به ډوډئ نه پـه خـورول کیږي. او کـه جـوړ سو او نه کړه اداء تردي چې مړ سو نو دده لخوا به ډوډئ په خورول کیږي (ج) حضور د قضآء رمضان په باب کې وفرمائل کـه خوښـه سي جلا جلا دي قضآء وکړي او که خوښه سي نو پرلپسې دي قضآء وکړي.

شَاءَ تَابَعَهُ [٥٨٢](٣٢) وَ اِن اَخَّرَهُ حَتّٰي دَخَلَ رَمَضَانٌ آخَرَ صَامَ رَمَضَانَ الثَّانِي وَقَضَي الاَوَّلَ بَعدَهُ وَلاَ فِديَةَ عَلَيهِ [٥٨٣](٣٣) وَالحَامِلُ وَالمرضِعُ اِذَا خَافَتَا عَلىٰ وَلَدَيهِمَا

ص١٧٤نمبر٢٣٠٥\٢٣٠٨)ددې حدیث ځنـه معلوم سوچې جلاجلا او پرلپسـې قضـآء کـول د دواړو ګُجـائش سـته. خـو پرلپسې قضآء کو ل او ژر د فرضو ځنه ځان خلاصول ډېر ښه کار دئ.

وجـه په حدیث کې دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن كَانَ عَلَيهِ صَومٌ مِن رَمَضَانَ فَلْيُسرِدهُ وَلاَ يَقطَعهُ (الف) (دارقطني ٤باب القُبلة للصائم ج٢ص١٧١نمبر٢٢٨٩)ددې حدیث ځنه معلوم سو چې نـه دې مُنقطع(ختم)کـوي بلکـه پرلپسـې دي ونیسي ژر دي دا پوره کې.

[۵۸۲](۳۲) د روژې قضآء يې ځنډول تر دې چې دوم رمضان رالئ نو د دوم رمضان روژې به نيسي او د اول رمضان قضآء به وروسته کوي او پر ده باندې هيڅ قسم فِديَه نسته.
تشريح پر يو سړي باندې د رمضان څه روژې قضآء پاته وي لېکن د سُستئ په وجه دا ځنډولې تردې چې د دوم(بل)کال رمضان رالئ نو د دوم کال د رمضان روژې به اُوس ادآء کوي او د مخکنې کال قضآء به ددې رمضان وروسته کوي.
وجه (۱) د مخکنې کال روژې خو هسې هم قضآء سوې دي.اُوس که د دوم کال د وځنډوي نو دا به هم قضآء سي.نو ځکه د دوم کال روژې دي پر خپل وخت باندې ادآء کي او د مخکنې کال د روژو قضآء دي وروسته وکي
(۲) په اثر کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ اِنَّ اِنسَانًا مَرِضَ فِي رَمَضَانَ ثُمَّ صَحَّ فَلَم يَقضِهِ حَتّٰي اَدرَكَهُ شَهرُ رَمَضَانٍ اٰخَرَ فَلَيَصُمِ الَّذِي اَحدَثَ ثُمَّ يَقضِي الآخَرَ وَيُطعِمُ مَعَ كُلِّ يَومٍ مِسكِينًا (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب المريض في رمضان وقضائه ج۴ص۲۳۴نمبر۷۶۲۱)ددې اثر څخه معلوم سو چې د دوم رمضان روژې به اول نيسي او د اول رمضان روژې به وروسته قضآء کوي. او فِديَه ځکه نه لازميږي چې د قضآء وروسته چې هر وخت قضآء وکي هغه قضآء ده نو ځکه پر ده باندې هيڅ رنګه فِديَه نسته. په اثر کي چې کوم د هري ورځې په بدله کي و يوه مسکين ته د ډوډئ خورولو تذکره سوې ده هغه د استحباب په توګه ده. د فِديې او وجوب په توګه نه ده.
[۵۸۳](۳۳) حامله(ميندواره)او تئ ورکونکې ښځه که چيرې پر خپل کشني باندې وببريږي نو افطار دي وکي او قضآء دي وکي او پر دوئي دواړو باندې فِديَه نسته.
وجه (۱) دغه دواړې ښځي خو وروسته قضآء کولائي سي نو ځکه پر دوئي دواړو باندې فِديَه نسته. په ځنډ سره صحيح خو د روژو قضآء به کوي. او شيخ فاني ته خو اُوس د جوړېدو اُميد نسته نو ځکه هغه به فِديَه ورکوي. البته اُوس خو ددې کشني د ضائع کېدو خطره ده نو ځکه دا ښځي د ناجوړه او مُسافر په درجه کي سوې ځکه اُوس به افطار کوي او وروسته به قضآء کوي (۲) په حديث کي دئ عَن اَنَسٍ بنِ مَالِكٍ رَجُلٌ مِّن بَنِي عَبدِ اللهِ بنِ كَعبٍ ...

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل پر چاچې د رمضان روژې وي نو هغه دي مُسلسل ونيسي او په منځ کي دي نه مُنقطع کوي (ب) د حضرت ابوهريره څخه نقل سوئ دئ چې انسان په روژه کي ناجوړه سي بيا ښه سي. بس قضآء يې ونه کړه تر دې چې دوم رمضان رالئ نو روژې دي ونيسي د هغه کوم چې اُوس راغلئ دئ بيا دي د اول رمضان د وروسته قضآء وکړي. او د هري ورځې په بدله کي دي و مسکين ته ډوډئ وخوروي.
اَفطَرتَا وَقَضَتَا وَلاَ فِديَةَ عَلَيهِمَا [۵۸۴](۳۴) وَالشَّيخُ الفَانِيُ الَّذِي لاَ يَقدِرُ عَلَي الصِّيَامِ يُفطِرُ وَيُطعِمُ

عَبدِ اللهِ بنِ كَعبٍ ... اُحَدِّثُكَ عَنِ الصَّومِ اَوِ الصِّيَامِ اِنَّ اللهَ وَضَعَ عَنِ المسَافِرِ شَطرَ الصَّلٰوةِ وَعَنِ الحَامِلِ اَوِالمرضِعِ اَلصَّومَ اَوِالصِّيَامَ قَالَهَا اَلنَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كِلَيهِمَا اَو اَحَدَهُمَا (الف) (ترمذي شريف.باب ماجآء في الرخصة في الافطارللحُبلىٰ والمرضع ص۱۵۲نمبر۷۱۵\ابوداؤدشريف.باب من قال هي مُثبِتَةٌ للشيخ والحُبلىٰ ص۳۲۴نمبر۲۳۱۸)ددې حديث څخه معلوم سو چې پر حامله(ميندواره)او تئ ورکونکي ښځه باندې روژه نسته. او وروسته به قضآء کوي او فِديَه به نه ورکوي.ددې دليل دا اثر دئ (۱) عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ تُفطِرُ الحَامِلُ وَالمرضِعُ فِي رَمَضَانَ وَ تَقضِيَانِ صِيَامًا وَلاَ تُطعِمَانِ (ب) (مصنف ابن عبدالرزاق.باب الحامل والمرضع ج۴ص۲۱۸نمبر۷۵۶۴)ددې اثر څخه معلوم سو چې دا به فِديَه نه ورکوي بلکه قضآء به کوي (۲) دا خو وروسته د قضآء کولو طاقت لري نو ځکه حتمًا به قضآء کوي. فِديَه خو هغه وخت وي چې په ټوله ژوند يې قضآء نه سي کولائي. لکه شيخ فاني چې په ټوله ژوند قضآء نه سي کولائي.
فائده امام شافعي فرمائي چې حامله(ميندواره)او مُرضِعه(تئ ورکونکي)به فِديَه ورکوي او قضآء به نه کوي دده دليل دا اثر دئ عَن سَعِيدِ بنِ جُبَيرٍ قَالَ تُفطِرُ الحَامِلُ اَلَّتِي فِي شَهرِهَا وَالمرضِعُ اَلَّتِي تَخَافُ عَلَيٰ وَلَدِهَا تُفطِرَانِ وَتُطعِمَانِ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِّنهُمَا كُلَّ يَومٍ مِسكِينًا وَلاَ قَضَآءَ عَلَيهِمَا (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب الحامل والمرضع ج۴ص۲۱۶نمبر۷۵۵۵)ددې اثر څخه معلوم سو چې حامله او مُرضِعَه ښځه به د هري ورځې په بدله کي و يوه مسکين ته ډوډئ ورکوي او قضآء به نه کوي. دده دليل دا آيت هم دئ وَعَلَي الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِديَةٌ طَعَامُ مِسكِينٍ (د) (آيت ۱۸۴ سورة البقرة)د آيت څخه معلوم سو چې څوك طاقت نه

لري هغه به فِديَه وركوي. په دې آيت کي شيخ فاني داخل دئ. لېکن د ابن عباس د قول مُطابق حامله او مُرضِعَه هم په دي کي داخلي دي. عَن اِبنِ عَبَّاسٍ وَعَلىٰ الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِديَةٌ طَعَامُ مِسكِينٍ قَالَ كَانَت رُخصَةٌ لِلشَّيخِ الكَبِيرِ وَالمرَاَةِ الكَبِيرَةِ وَهُمَا يُطِيقَانِ الصِّيَامَ اَن يُفطِرَا وَيُطعِمَا مَكَانَ كُلَّ يَومٍ مِسكِينًا وَالحُبلىٰ وَالمرضِعُ اِذَا خَافَتَا (ه) (ابوداؤدشريف.باب من قال هي مُثبتة للشيخ والحبلىٰ ص۳۲۴نمبر۲۳۱۸)ددې اثر څخه معلوم سو چې حُبلىٰ او مُرضِعَه به هم د هري ورځي د روژې په بدله کي فِديَه ورکوي.

[۵۸۴](۳۴) او شيخ فاني چې پر روژه نيولو باندي قدرت نه لري افطار به کوي. او د هري ورځي په بدله کي به و يوه مسکين ته ډوډئ ورکوي لکه څه رنګه چې په کفّاراتو کي ور خوروي(ورکوي) .

حاشيه : (الف) عبدالله بن کعب فرمائي ... زه تاسو ته حديث بيان کوم چې حضور صَوم لفظ يا صِيَام ووايئ چې الله د مُسافر څخه د لمانځه نيم حصّه ساقط کړې ده. او د حاملې او تئ ورکونکي ښځې څخه روژه ساقط کړې ده. حضور صَوم يا صِيَام دواړه لفظونه وويل يا يې ددې څخه يو ووايئ (ب) ابن عباس فرمائي چې حَامِلَه او مُرضِعَه به په رمضان کي افطار کوي او د روژې به قضآء کوي او ډوډئ خورول به نه کوي (ج) سعيدبن جُبَير فرمائي چې حَامِلَه چې د رمضان په مياشته کي وي او تئ ورکونکي چې پر خپل کشني باندي ببريږي او د دواړو څخه به هر يوه د هري ورځي په بدله کي و يوه مسکين ته ډوډي ورکوي او پر دواړو باندي قضآء نسته (د) کوم خلګ چې د روژې طاقت نه لري هغه دي د يوه مسکين د ډودئ فِديَه ورکړي (ه) د حضرت ابن عباس څخه نقل سوي دي چې آيت وَعَلىٰ الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِديَةٌ طَعَامُ مِسكِينٍ و فرمائل د دې سپين ژيري لپاره او د سپين سري ښځي لپاره رُخصت و. چې دوئي طاقت لري خو بيا هم د روژې افطار وکي او د هري ورځي په بدله کي و يوه مسکين ته ډوډئ ورکړي. او حَامِلَه او تئ ورکونکي ښځي هم کله ببريږي نو د دوئي هم دغه حال دئ.

لِكُلِّ يَومٍ مِسكِينًا كَمَا يُطعِمُ فِي الكَفَّارَاتِ [۵۸۵](۳۵) وَمَن مَاتَ وَعَلَيهِ قَضَآءُ رَمَضَانَ فَاَوصَي بِهِ اَطعَمَ عَنهُ وَلِيُّهُ لِكُلِّ يَومٍ مِسكِينًا نِصفُ صَاعٍ مِّن بُرٍّ اَو صَاعًا مِّن تَمرٍ اَو شَعِيرٍ [۵۸۶](۳۶) وَمَن دَخَلَ فِي صَومِ التَّطَوُّعِ ثُمَّ اَفسَدَهُ قَضَاهُ .

وجه (۱) لوړ آيت تير سو په هغه کي و چې څوك طاقت نه لري هغه دي د هري ورځي په بدله کي کفاره و يوه مسکين ته ډوډئ ورکي. په اثر کي راغلي دي عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ كَانَ يَقرَاُهَا وَعَلىٰ الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ وَيَقُولُ هُوَ الشَّيخُ الكَبِيرُ الَّذِي اَلَّذِي لاَ يَستَطِيعُ الصِّيَامَ فَيُفطِرُ وَيُطعِمُ عَن كُلِّ يَومٍ مِسكِينًا نِصفُ صَاعٍ مِّن حِنطَةٍ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الشيخ الكبير ج۴ص۲۲۱نمبر۷۵۷۴\ بخاري شريف.باب قوله تعالىٰ ايَّامًا معدودات فمن كان منكم مريضًا الخ ج۲ص۶۴۷ كتاب التفسير نمبر۴۵۰۵)ددې اثر څخه معلوم سو چې شيخ فاني به قضآء نه کوي. او د هري ورځي په بدله کي به نيم صاع غَنَم و مسکين ته فِديَه ورکوي.

[۵۸۵](۳۵) چې څوك مړ سي او پر ده باندي قضآء وي او ده دهغه وصيّت کړئ وي نو دده لخوا به دده وَلِي خورول کوي د هري ورځي په بدله کي و يوه مسکين ته نيم صاع غَنَم يا يوه صاع خورما يا وُربُوشي.

تشريح يو څوك مړسو او پر ده باندي د رمضان روژه قضآء وه او ده دهغه د ادآء کولو وصيّت هم کړئ و.نووَلِي به د هغه د قضآء د هري ورځي په بدله کي و يوه مسکين ته ډوډئ ورکوي چې دهغه مقدار به نيم صاع غَنَم وي.

وجه (۱) عَن اِبنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن مَاتَ وَعَلَيهِ صِيَامُ شَهرٍ فَليُطعِم عَنهُ مَكَانَ كُلَّ يَومٍ مِسكِينًا (ترمذي شريف.باب ماجآء في الكفارة ص۱۵۲نمبر۷۱۸)ددې حديث څخه معلوم سو چې د مړي لخوا به د هري ورځي په بدله کي و يوه مسکين ته ډوډئ ورکوي.

فائده امام احمد فرمائي چې وَلِي به دده لخوا روژه نيسي قضآء به ادآء کوي.

وجه ددې دليل دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن مَاتَ وَعَلَيهِ صِيَامٌ صَامَ عَنهُ وَلِيُّهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب فيمن مات وعليه صيام ص۳۳۲نمبر۲۴۰۰)ددې حديث څخه معلوم سو چې وَلِي به د مړي لخوا روژه نيسي.

پام لرنه که مړي وَصِيّت کړئ وي نو پر وَلِي باندي فِديَه ورکول واجب ده. که وَصِيّت نه و کړئ نو پر وَلِي باندي فِديَه ورکول واجب نه ده.

[۵۸۶](۳۶) څوك چې په نفلي روژه کي داخل سو بيا يې هغه ماته کړه نو قضآء به کوي.

وجه (۱) نفلي روژه د شروع کولو څخه مخکي مخکي نفلي وي. دشروع کولو وروسته هغه نَذرِنَفلي سي. او نَذَر پوره کول واجب دئ نو په دغه وجه دا واجبيږي (۲) په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت أُهدِي لِي وَلِحَفصَةَ طَعَامٌ وَكُنَّا صَائِمَتَينِ فَأَفطَرنَا ثُمَّ دَخَلَ رَسُولُ اللهِ فَقُلنَا لَهُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا أُهدِيَت لَنَا هَدِيَّةٌ فَاشتَهَينَاهَا فَأَفطَرنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ لاَ عَلَيكُمَا صَومًا

حاشيه : (الف) حضرت ابن عباس به آيت. وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ. لوستئ (وايئ) او فرمائل به چي دِير سپين ږيرئ چي د روژي د نيولو طاقت نه لري افطار دي وکي او د هري ورځي په بدله کي دي و يوه مسکين ته نيم صاع غَنَم خوراك وركي (ب) حضور وفرمائل څوك چي مړ سي او پر هغه باندي روژه پاته وي نو دده وَلِي دي دده لخوا روژه ونيسي.

[۵۸۷](۳۷) وَإِذَا بَلَغَ الصَّبِيُّ اَو اَسلَمَ الكَافِرُ فِي رَمَضَانَ اَمسِكَا بَقِيَّةَ يَومِهِمَا وَصَامَا بَعدَهُ

مَكَانَهُ يَومًا آخَرَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب من راىٰ عليه القضآء.كتاب الصوم ص۳۴۰نمبر۲۴۵۷\ترمذي شريف.باب ماجآء في ايجاب القضآء عليه.كتاب الصوم ص۱۵۵نمبر۷۳۵)ددي حديث څخه معلوم سو چي نفلي روژه ماته کړي نو دهغې په بدله کي دي روژه ونيسي ځکه چي ګواکه نَذرِ نَفلِي يې مات کئ. په حديث کي دا ويل سوي دي چي ددې پر ځائ بله روژه ونيسئ .

پام لرنه پر دغه باندي به نفلي لمونځ هم قياسيږي چي که هغه مات کړئ نو قضآء به کوي.

فائده امام شافعي فرمائي چي نفلي روژه يا نفلي عبادت مات کي نو دهغه قضآء لازم نه ده.

وجه (۱) دا تَبَرُّع دئ او په تَبَرُّع کي لزوم نه وي. په دغه وجه که نفلي روژه يا نفلي عبادت مات کئ نو قضآء نه لازميږي. خو که قضآء وکي نو ښه خبره ده (۲) په حديث کي دئ عَن أُمِّ هَانِئٍ قَالَت لَمَّا كَانَ يَومُ الفَتحِ ... فَقَالَت يَارَسُولَ اللهِ لَقَد اَفطَرتُ وَكُنتُ صَائِمَةً فَقَالَ لَهَا اَكُنتِ تَقضِينِ شَيئًا قَالَت لاَ قَالَ فَلاَ يَضُرُّكِ اِن كَانَ تَطَوُّعًا (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الرخصة فيه اي في الصوم ص۳۴۰نمبر۲۴۵۶\ترمذي شريف.باب ماجآء في افطارالصائم المتطوع ص۱۵۵نمبر۷۳۱)ددي حديث څخه معلوم سوچي که نفلي روژه وي نو په ماتولو کې څه حرج نسته (۲) په دارقُطني کي دئ عَن أُمِّ هَانِئٍ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ... اِن كَانَ قَضَآءٌ مِّن رَمَضَانَ فَصُومِي يَومًا مَكَانَهُ وَاِن كَانَ تَطَوُّعًا فَاِن شِئتَ فَاقضِيهِ وَاِن شِئتَ فَلاَ تَقضِيهِ (ج) (دارقطني ۳ باب،ج۲ كتاب الصوم ص۱۵۴نمبر۲۲۰۶\سنن للبيهقي.باب التخييرفي القضآءان كان صومه تطوعًا ج۴ص۲۷۸)ددي حديث څخه معلوم سو چي د نفلي روژې ماتولو وروسته که خوښه سي قضآء دې وکړي که خوښه سي نه دې کوي.

[۵۸۷](۳۷) په رمضان کي کشنئ بالغ سي يا کافر مسلمان سي نو د ورځي پاتې حصّه(برخه)دې ونيسي او د دې وروسته دي قضآء وکړي او کومي ورځي چي تيري سوي دي د هغو قضآء دي نه کوي.

تشريح په کومه ورځ چي بالغ سو يا په کومه ورځ چي مسلمان سو د هغې ورځي څخه پر ده باندي روژه فرض سوه نو ځکه ددې ورځي بعد به قضآء کوي. او چي کوم وخت بالغ يا مسلمان سوئ دئ د هغه وخت څخه ونيسي د ورځي پاته حصّه(برخه)دي خوراك چيښاك نه کوي چي د رمضان احترام پر ځائ پاتې سي. او ددې ورځي څخه مخکي چي کومي ورځي تيري سوي دي دهغو روژه پر ده باندي نه وه فرض سوې. ځکه چي دئ بالغ سوئ نه و يا مسلمان سوئ نه و. نو ځکه دتيرو سوو ورځو قضآء پر ده باند نه ده لازم.

وجه په حديث کي دئ عَن سَلَمَةَ بنِ اَكوَعٍ قَالَ اَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ رَجُلاً مِن اَسلَمَ اَن اَذِّن فِي النَّاسِ اَنَّ مَن كَانَ اَكَلَ فَلْيُصِم

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمائي چي و ماته او حفصه ته ډوډئ په هديه کي راكول سوه. او زمور روژه وه نو مور افطار وکئ.بيا حضور داخل سو نو مور وهغو ته وويل ائ د خدائ پيغمبره مور ته هديه راكول سوه او زمور خواهش ورته وسو نو مور روژه ماته کړه. حضور وفرمائل تاسو دواړي ددې په ځائ کي بله ورځ روژه ونيسئ (ب) حضرت اُمّ هاني فرمائي چي د فَتحِ مَكّي ورځ سوه ... وفرمائل ائ د خدائ پيغمبره ما روژه ماته کړه او زما روژه وه نو وفرمائل آيا تا قضآء کوله؟ وويل نه . حضور وفرمائل ستا څه نقصان نه دئ که چيري نفلي روژه وي (ج) حضور وفرمائل ... که د رمضان قضآء وي نو دهغه پر ځائ يوه ورځ روژه ونيسه او که چيري نفلي روژه وي نو که دي خوښه سي دهغې قضآء وکه او که دي خوښه سي قضآء مه کوه.

وَلَم يَقضِيَا مَا مَضَي [۵۸۸](۳۸) وَمَن اُغمِيَ عَلَيهِ فِي رَمَضَانَ لَم يَقضِ اليَومَ الَّذِي حَدَثَ فِيهِ الاِغمَآءُ وَ قَضَي مَابَعدَهُ .

بَقِيَّةَ يَومِهِ وَمَن لَمَ يَكُن اَكَلَ فَليُصِم فَاِنَّ اليَومَ يَومَ عَاشُورَآءَ (الف) (بخاري شريف.باب صيام يوم عاشورآء ص۲۶۸ \ ۲۶۹نمبر۲۰۰۷)ددې حديث څخه معلوم سو چې کوم څوك چې د ورځې مسلمان سو او د روژې ورځ وي نو کـه چيـرې دوډئ خـورلې وي نو هم د روژې د احترام لپاره د ورځې په پاته برخه کې بايد خوراك چيښاك ونه کړي (۲) په حـديث کـې دئ عَطِيَّةَ بنِ رَبِيعَةَ الثَّقَفِيّ قَالَ قَدِمَ وَفدُنَا مِن ثَقِيفٍ عَلىٰ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَضَرَبَ لَهُم قُبَّةً وَاَسلَمُوا فِي النِّصفِ مِن رَمَضَانَ فَاَمَرَهُم رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَصَامُوا مِنهُ مَا اِستَقبَلُوا مِنهُ وَلَمَ يَامُرهُم بِقَضَآءِ مَا فَاتَهُم (ب) (سنن للبيهقي.باب الرجل يسلم في خلال شهر رمضان ج۴ص۴۴۸نمبر۸۳۰۸)ددې حديث څخه معلوم سو چې د راروان قضآء خو به کـوې د تېـر سـوې دا نـه . او پـه کومـه ورځ چې بالغ سو د هغې ورځې په شروع کې بالغ نه و نو ځکه د هغې ورځې روژه پر ده باندې نه سوه فرض.

لـغـت:وَلَمَ يَقضِيَامَامَضَي.مطلب دادئ چې دبلوغ ياداسلام څخه مخکې ورځو قضآءدې نه کوي.

[۵۸۸](۳۸) او پر کوم چا چې په رمضان کې بېهوښي راسي نو دهغه ورځې قضآء دي نه کوي په کومه ورځ چې بېهوښي پيدا سوې ده او دهغې ورځې څخه وروسته ورځو قضآء به کوي.

وجـه ديوه مسلمان څخه دغه اُميددئ چې په کومه ورځ ياپه کومه شپه چې بېهوښي پيدا سوې ده په هغـه ورځ ده د روژې نيّت کړئ و نوګواکـه دئ د روژې د نيّـت سـره د خوړلوچيښـولوڅخه منـع و نوځکـه دهغـې ورځـې روژه صحيح سوه.اوڅوورځې دغه رنګه بېهوښه پاته سونوپه دا پاته ورځوکې د روژې نيّت نه سو موجود نو ځکه بغيـر دنيّت د خوړلو چيښولو څخه منع و نو په دې روژه نه ادآء کيږي.

پـام لـرنـه د بېهوښئ په وخت کې خلګو څه شيـئ په وخوړئ يا يې په وچيښـئ نـو مريض(بېهوښـه)په خپلـه پوهنه او قصد سره نه وخوړل بلکه په هېره سره ګواکه خوړلې دي. او په هېره خوړل روژه نه ماتوي نو ځکـه د بېهوښئ په حالت کې که نور خلګ څه شيئ ورکې نو روژه يې نه ماتيږي. د دغه ورځې روژه يه ادآءکيږي.دنيّت کولو حديث دادئ (۱) اِنَّمَا الاَعمَالُ بِالنِّيَّاتِ مخکې تېرسوئ دئ (۲) په اثر کې راغلـي دي عَن نَافِعٍ قَالَ كَانَ اِبنُ عُمَرَ يَصُومُ تَطَوُّعًا فَيُغَبِّي عَلَيهِ فَلاَ يُفطِرُ. قَالَ الشَّيخُ هٰذَا يَدُلُّ عَلىٰ اَنَّ الاِغمَآءَ خَلاَلَ الصَّومِ لاَيُفسِدُهُ (ج) (سنن للبيهقي.باب من اغمي عليه في ايام من اشهررمضان ج۴ص۳۹۶نمبر۸۱۱۰)ددې اثر څخه معلوم سو چې په بېهوښي سره روژه نه ماتيږي.لکه څه رنګـه چـې پـه بيدبدلو روژه نه ماتيږي. او د وروسته ورځو قضآء به ځکه کوي چې د ده عقل سته صرف عقل ګواکه بيده سو نو لکه څه رنګه چې پر بيده خلګو باندې د رمضان روژه فرض پاته وي دغه رنګه پـر بېهوښـه بانـدې بـه هـم روژه فرض پاته وي. لېکن د بېهوښئ په وجه په دا پاته ورځو کې نيّت نه وکړئ نو ځکه ددې قضآء به کوي.

حاشيه : (الف) حضور و يو سړي ته حکم ورکړئ چې د اسلم قبيلې سره تعلق درلودئ چې په خلګو کـې اعـلان وکـه چـې کـوم چـا چـې خوراك کړئ دئ نو پاته ورځ دي روژه ونيسي او کوم چا چې خوراك نه دئ کړئ نو روژه دي ونيسي ځکه چې نن د عاشورآء ورځ ده (ب) زما وَفَد د ثقيف قبيلې څخه د حضور خدمت ته راغلئ. حضور د دوئـي لپـاره قُبّه جـوړه کـړه. دغـه خلـګ د رمضـان پـه نيمـئ کـې مسلمانان سوي و. حضور و دوئي ته حکم ورکئ چې څومر رمضان مخته دئ د هغه روژې ونيسئ او چې کوم فوت سو دهغـه د قضـآء کولو حکم يې وهغه ته نه کړئ ور (ج) حضرت ابن عمر به نفلي روژه نيوله. بس پر ده به بېهوښي راتلـه نـو روژه يـې نـه ماتولـه. شـيخ فرمائي چې دا عمل پر دې خبره دلالت کوي چې د روژې په مابين کې بېهوښي روژه نه ماتوي.

[۵۸۹](۳۹) وَاِذَا اَفَاقَ المجنُونُ فِي بعضِ رَمَضَانَ قَضٰي مَامَضٰي مِنهُ وَصَامِ مَا بَقِيَ [۵۹۰](۴۰) وَاِذَا حَاضَتِ المراَةُ اَو نَفَسَت اَفطَرَت وَقَضَت اِذَا طَهُرَت

---

[۵۸۹](۳۹) که په بعض رمضان کې لېونې ته اِفَاقَه وسوه(په هوښ راغئ)نو قضآء به کوي کوم چې تير سو،او چې کوم پاته دئ د هغه روژه به نيسي.

تـشريـح مثلاًپريو ولسم(۱۱)دروژې دلېونتوب څخه ښه سواوعقل يې راغلـئ نـود دولسم(۱۲)رمضـان څخـه بـه روژې نيسي او وروسته تر يوولسم(۱۱)رمضان پوري به بيا قضآء را ګرزوي.

وجـه ټوله رمضان د روژې د فرضيّت سبب موجود سو نو ځکه تيري روژې به هم نيسي.

پـام لـرنـه که د روژې ټوله مياشته لېونئ پاته سو نو اُوس پرده د يوې روژې قضآء نسته . (۱) ځکه چې دده په حق کې رمضان ګواکه راغلئ نه دئ او سبب مُتحقق سوئ نه دئ. نو ځکه دئ به هيڅ رنګه قضآء نه کوي (۲)

د ټوله رمضان په قضآء کولو کي حرج دئ نو ځکه هیڅ شیئ نه لازمیږي. او که په څه کي مجنون او په څه کي صحیح سو نو د صحّت د ورځو قضآء به کوي په دي کي څه خاص حرج نسته (۳) ددي لپاره د ابوداؤد مخته راروان حدیث دئ.

فائده امام شافعي فرمائي چي هر څو ورځي مجنون(لېونئ)پاته و د هغو ورځو قضآء نه واجبیږي.

وجه (۱) ځکه چي د لېونتوب په وجه دئ مخاطب نه سو پاته ګواکه دئ په دغه ورځو کي د کشني په رکم سو نو په دغه وجه پر ده باندي د لېونتوب د روځو قضآء نسته (۲) په اثر کي راغلي دي عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَرَّ عَلِيٌّ بِمَجنُونَةِ بَنِي فُلاَنٍ قَد زَنَت وَهِيَ تُرجَمُ فَقَالَ عَلِيٌّ لِعُمَرَ يَا اَمِيرَ المُؤمِنِينَ اَمَرتَ بِرَجمِ فُلاَنَةٍ قَالَ نَعَم اَمَا تَذكُرُ قَولَ رَسُولِ اللهِ رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلاَثٍ عَنِ النَّائِمِ حَتّٰى يَستَيقِظَ وَعَنِ الصَّبِيِّ حَتّٰى يَحتَلِمَ وَعَنِ المَجنُونِ حَتّٰى يَفِيقَ قَالَ نَعَم فَاَمَرَ بِهَا فَخَلّٰى عَنهَا (الف) (ابوداؤدشریف.باب في المجنون یسرق او یصیب حدًّا ج۲ص۲۵۶نمبر۴۴۰۱\سنن للبیهقي.باب الصبيّ لایلزمه فرض الصوم حتي یبلغ ولاالمجنون حتي یفیق ج۴ص۴۴۸نمبر۸۳۰۷)ددي اثر څخه معلوم سو چي پر مجنون(لېوني)باندي د جنون په زمانه کي روژي نه دي فرض.

[۵۹۰](۴۰) که ښځه حَائِضَه سي یا نَفَسَه سي نو روژه به ماتوي او چي کله پاك سي نو قضآء به کوي.

وجه (۱) د حیض او نفاس په زمانه کي ښځه د روژې نیولو قابله نه پاتیږي. نو ځکه که روژه نیولي وي نو هم به ماتوي او وروسته به قضآء کوي. په حدیث کي دئ عَن سَعِيدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَلَيسَ اِذَا حَاضَت لَم تُصَلِّ وَلَم تَصُم؟ فَذَالِكَ مِن نُقصَانِ دِينِهَا (ب) (بخاري شریف.باب الحائض تترك الصوم والصلوة ص۲۶۱نمبر۱۹۵۱)ددي حدیث څخه معلوم سو چي حائضه ښځه به نه

حاشیه : (الف) حضرت ابن عباس وفرمائل چي حضرت علي د بني فلان یوې لېونۍ ښځه مخته تېر سو چي هغې زناء کړې وه. په داسي حال کي چي پر دي باندي د رجم حکم لګېدلئ و. نو حضرت علي و حضرت عمر ته وفرمائل ائ امیرالمؤمنین تا پر فلانۍ باندي درجم حکم لګولئ دئ ؟ هغو وفرمائل هو! حضرت علي وفرمائل دحضور قول دي نه دئ په یاد چي د درو انسانانو څخه قلم پورته سوئ دئ. د بیده څخه تر هغو چي راوښې نه سي. او د کشني څخه تر هغو چي بالغ نه سي. او د لېوني څخه تر هغو چي افاقه(په سَد کي را نه سي)نه سي. حضرت عمر وفرمائل هو! او د لېونۍ د پرېښولو حکم یې صادرکړئ (ب) حضور وفرمائل آیا داسي نه ده؟ چي حائضه نه لمونځ کوي او نه روژه نیسي دا ددي د دین نقصان دئ.

[۵۹۱](۴۱)وَاِذَاقَدِمَ المُسَافِرُاَوطَهُرَتِ الحَائِضُ فِي بَعضِ النَّهَارِاَمسِكَاعَنِ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ بَقِيَّةَ يَومِهِمَا[۵۹۲](۴۲)وَمَن تَسَحَّرَ وَهُوَيَظُنُّ اَنَّ الفَجرَلَم يَطلُع اَوَاَفطَرَ وَهُوَ يَرَي اَنَّ الشَّمسَ قَد غَرَبَت ثُمَّ تَبَيَّنَ اَنَّ الفَجرَكَانَ قَدطَلَعَ اَو اَنَّ الشَّمسَ لَم تَغرُب قَضٰي

روژه نیسي او نه به لمونځ کوي.او دقضآء کولو دلیل دا حدیث دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت كُنَّا نَحِيضُ عِندَ رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ نُطهِرُ فَيَامُرُنَا بِقَضَآءِ الصِّيَامِ وَلاَ يَامُرُنَا بِقَضَآءِ الصَّلٰوةِ (ترمذي شریف.باب ماجآء في قضآء الحائض الصیام دون الصلوة ص۱۶۳نمبر۷۸۷)ددي حدیث څخه معلوم سو چي د روژې د قضآء کولو حکم به ورکول کیږي او د لمانځه د قضآء کولو حکم به نه ور کول کیږي.

[۵۹۱](۴۱) چي مُسافر کورته راسي یا حائضه ښځه پاك سي د ورځي په بعض حصّه(برخه)کي نو دواړه دي پاته ورځ د خوړلو چیښلو څخه ځان وژغوري(وساتي) .

تشریح مثلاًحائضه ښځه ماپښین صفا(پاك)سوه یامُسافرماپښین کورته راغلئ نوأوس دماپښین څخه تر مابنام پوري درمضان د احترام لپاره خوراك چیښاك نه دئ کول په کار.چي د رمضان احترام پر خپل ځائ پاته سي. د ورځي د شروع څخه خو دي د روژې اهلیّت نه درلودئ نو ځکه روژه نه سي نیولائي خو چي کله حائضه پاك سوه د روژې اهل سوه نو دهغه وخت څخه دي خوراك نه کوي.

وجه حدیث دئ عَن سَلمَةَ بنِ اَكوَعٍ قَالَ اَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ رَجُلاً مِن اَسلَمَ اَن اَذِّن فِي النَّاسِ اَنَّ مَن كَانَ اَكَلَ فَلْيُصِم بَقِيَّةَ يَومِهِ وَمَن لَم يَكُن اَكَلَ فَلْيُصِم فَاِنَّ اليَومَ يَومَ عَاشُورَآءَ (الف) (بخاري شریف.باب صیام یوم عاشورآء ص۲۶۹نمبر۲۰۰۷)ددي حدیث څخه معلوم سو چي داسي خلګ چي د ورځي په مابین کي د روژې اهل سي هغه دي د روژې په احترام کي پاته ورځ خوراك چیښاك نه کوي.

[۵۹۲](۴۲) کوم چا چي سحري(پېښلمئ)وکئ په د ي خيال چي تر اُوس نه دئ سهار سوئ يا يي روژه افطار(ماته)کړه په دي خيال چي لمر پرېوتلئ دئ. بيا ښکاره سو چي فجرطلوع سوئ و يا لمر تر اُوس نه و پرېوتلئ نو دهغې ورځي قضآء به کوي. او پر ده باندي کفاره نسته.

تشريح په دي خيال او سوچ يي پېښلمئ وکئ چي تر اُوس لا صُبحِ صادق نه دئ سوئ حالانکه سهار سوئ و. دغه رنګه روژه يي ماته کړه په دي سوچ او فکر چي لمر پرېوتلئ دئ حالانکه تر اُوس لا لمر نه و پرېوتلئ نو ده خو د ورځي خوراك وکړئ ځکه روژه خو نه صحيح کيږي. لېکن خو په هېره(غلطئ)سره خوراك کړئ دئ نو ځکه صرف قضآء به کوي کفاره نه لازميږي. ځکه چي په هېره(غلطي)سره کفاره ساقطيږي.

وجه حديث دئ عَن اَسمَآءَ بِنتِ اَبِي بَكرٍ قَالَت اَفطَرنَا عَليٰ عَهدِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي يَومٍ غَيمٍ ثُمَّ طَلَعَتِ الشَّمسُ قِيلَ لِهِشَامٍ فَأُمِرُوا بِالقَضَآءِ ؟ قَالَ بُدٌّ مِن قَضَآءٍ (ب) (بخاري شريف.باب اذا افطر في رمضان ثم طلعت الشمس ص۲۶۳نمبر ۱۹۵۹\ابوداؤدشريف.الفطرقبل غروب الشمس ص۳۲۹نمبر۲۳۵۹)ددي حديث ځخه معلوم سو چي کله د لمر د پرېتو ځخه مخکي روژه ماته کړه نو دهغې ورځي قضآء به کوي. لېکن خو په هېره سره داسي کړي دي نو ځکه کفاره نه لازميږي او پر دغه باندي د صُبحِ صادق وروسته پېښلمي کولو مسئله قياس

حاشيه : (الف) حضور د اسلم قبيلي و يوه سړي ته حکم ورکئ چي په خلګو کي اعلان وکه چي کوم چا چي دوډئ خوړلي ده هغه د ي پاته ورځ روژه ونيسي. او کوم چا چي دوډئ نه ده خوړلي هغه دي روژه پوره کي ځکه چي دا ورځ د عاشورآء ورځ ده (ب) اسمآء بِنتِ ابي بکر فرمائي چي مور د حضور په زمانه کي د وريځي په ورځ روژه ماته کړه بيا لمر را وخاتئ(ښکاره سو)نو دهشام ځخه پوښتنه وکړه آيا ودي ټولو ته د قضآء کولو حکم ور کړئ؟ (وَفِي الحديث قوله ،بُدٌّمِن قَضَآءٍ اَئ لاَبُدَّ مِن قَضَآءٍ ...قُطب...)

ذَالِكَ اليَومَ وَلاَ كَفَّارَةَ عَلَيهِ [۵۹۳](۴۳) وَمَن رَاٰيٰ هِلاَلَ الفِطرِ وَحدَهُ لَم يُفطِر [۵۹۴](۴۴) وَاِذَا كَانَت بِالسَّمَآءِ عِلَّةٌ لَم يَقبَلِ الاِمَامُ فِي هِلاَلِ الفِطرِ اِلاَّ شَهَادَةُ رَجُلَينِ اَو رَجُلٍ وَّ

کئ (۲) په اثر کي راغلي دي فَقَالَ عُمَرُ ... مَن كَانَ اَفطَرَ فَاِنَّ قَضَآءَ يَومٍ يَسِيرٌ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الافطارفي يوم مغيم ج۴ص۱۷۸نمبر۷۳۹۳)ددي اثر ځخه معلوم سو چي د يوې ورځي قضآء کول آسان ده او کفاره نه لازميږي.

لغت : تَسَحَّرَ . پېښلمئ يي وکئ،

[۵۹۳](۴۳) يوه سړي يواځي د کشني اختر مياشته وليدل نو روژه به نه ماتوي.

تشريح يوه سړي تنها د کشني اختر مياشته وليدل نو روژه به نه ماتوي. بلکه روژه به نيسي او وروسته به د ټولو سره يو ځائ اختر جوړوي.

وجه (۱) دلته په روژه ماتولو کي د يوې ورځي د عبادت نقصان دئ نو ځکه احتياط په دغه کي دئ چي روژه ونيسي او د ټولو سره يو ځائ اختر جوړکي (۲) دا هم کېدلائي سي چي وده ته د مياشتي د ليدلو تَوَهُّم سوئ وي او قاضي دده ګواهي نه ومنل نو دا وَهَم نور هم مظبوط سو چي شايد ده مياشته نه وي ليدلي نو ځکه دا ليدونکئ به هم روژه نيسي (۳) په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلصَّومُ يَومَ تَصُومُونَ وَالفِطرُ يَومَ تُفطَرُونَ وَالاَضحٰي يَومَ تُضَحُّونَ (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآءان الفطريوم تفطرون والاضحيٰ يوم تضحّون ص۱۵۰نمبر۶۹۷\ابوداؤدشريف،باب اذا اخطا القوم الهلال نمبر۲۳۲۴)ددي حديث ځخه معلوم سو چي دټولو سره يو ځائ کشنئ اختر اولوئ اختر کول په کار دئ،

اصول په کشني اختر او لوئ اختر کي اجتماعيّت مطلوب دئ،

پام لرنه په دي شرط چي پر اوه ويشت نيم يا پر اته ويشت باندي قصداً ګواهي نه وي اخستې، کوم چي عرب ملکونه کوي،پر مخکني کلېنډر باندي د درواغو ګواهي اخستونکو او اعلان کونکو حمايت نه دئ کول په کار،

[۵۹۴](۴۴) که په آسمان کي عِلّت(وريځ)وي نو امام به د کشني اختر په مياشته کي نه قبلوي مګر د دو نرانو ګواهي يا د يوه نر د دوښځو ګواهي.

وجه (۱) د کشني اختر پر موقع باندي ژر اعلان کوي نو يوه روژه ماتول(پرېښول)لازميږي او په دي کي د انسانانو نفع(ګټه)ده نو ځکه دا د مُعاملاتو په رکم سوه او په مُعاملاتو کي د دو نرانو يا د يوه نر د دو ښځو ګواهي

قابل قبول ده. دغه رنګه د عِيدُالفِطر او عِيدُالأضحٰي په رُؤيَت کي دوه نران يا دوي ښځي يوه نر ګواهي قابل قبول ده (۲) په حديث کي ددي ثبوت سته عَن رِبعِي بنِ حِرَاشٍ عَن رَجُلٍ مِّن اَصحَابِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِختَلَفَ النَّاسُ فِي آخِرِ يَومٍ مِّن رَمَضَانَ فَقَدِمَ اَعرَابِيَّانِ فَشَهِدَا عِندَالنَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِاللهِ لاَهَلاَّ الهِلاَلَ اَمسَ عَشِيَّةٍ فَاَمَرَ رَسُولُ اللهِ النَّاسَ اَن يُّفطِرُوا (ج) (ابوداؤدشريف،باب شهادة رجلين علىٰ رُؤية هلال شوّال ص۳۲۷نمبر۲۳۳۹)او په

حاشيه : (الف) حضرت عمر وفرمائل کوم چا چي افطار وکئ نو يوه ورځ قضآء کول آسان ده(يعني يوه ورځ قضآء لازم ده کفاره نه لازميږي) (ب) حضور وفرمائل روژه په هغه ورځ صحيح کيږي په کوم ورځ چې تاسو ټول روژه ونيسئ او کشنئ اختر هغه ورځ صحيح دئ په کوم ورځ چې تاسو يې ټول اختر وکئ او قرباني هغه ورځ صحيح کيږي په کوم ورځ چې ټول قرباني وکئ (ج) د روژې په آخري ورځ کي خلګو اختلاف وکئ. بيا حضور لره دوه د صحرا وُسېدونکي راغلو ګواهي يې ورکړه چې دوئي پرون مابنام مياشته ليدلي ده نو حضور وخلګو ته حکم وکئ چې روژې ماتې کړئ.

اِمرَاَتَينِ [۵۹۵](۴۵) وَاِن لَم تَكُن بِالسَّمَآءِ عِلَّةٌ لَم يُقبَلُ اِلاَّ شَهَادَةُ جَمَاعَةٍ يَقَعُ العِلمُ بِخَبَرِهِم .

دارقُطنـــي کـــي دئ قَالاَ (اِبنُ عُمَرَ وَ اِبنُ عَبَّاسٍ) وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لاَيُجِيزُ شَهَادَةَ الاِفطَارِ اِلاَّ بِشَهَادَةِ رَجُلَينِ (دارقُطني،كتاب الصوم ج۲ص۱۳۷نمبر۲۱۲۹)ددي دواړو حديثو څخه معلوم سو چې دکشني اختر او لوئ اختر لپاره که په آسمان کي عِلّت يعني دود،وريځ،ګرد او غُبار وي نو د دو ګواهانو ګواهي به قبليږي ددې څخه کم نه ،

[۵۹۵](۴۵) او که په آسمان کي عِلّت نه وي نو نه به قبليږي مګر د يوه جماعت ګواهي چې د دوئي د خبر څخه علمِ يقيني حاصل سي.

وجه (۱) چې آسمان صفا وي او مياشته د ليدلو قابل سي نو وهر کتونکي ته مياشته بنکاره کيږي خو ددې باوجود يو يا دوه کسان د مياشتي دليدلو دعويٰ کوي نو غالب ګمان دغه دئ چې دا خلګ دروغ وائي. نو ځکه د يوه جماعت رُؤيت به قبليږي. چې د هغو دکتلو څخه علمِ يقيني حاصل سي.... او د لوئ جماعت يو تعريف دادئ چې د هر کلي(محلّي)يو يا دوه کسان يې ووينې. په دُرّمُختار کي دا عبارت دئ عَن اَبِي يُوسُفَ : خَمسُونَ رَجُلاً كَالقَسَامَةِ قِيلَ اَكثَرُ اَهلِ المَحَلَّةِ وَقِيلَ مِن كُلِّ مَسجِدٍ وَاحِدٌ اَو اِثنَانِ (ردُّالمحتارعلي الدرالمختار،كتاب الصوم،مطلب ماقاله السبكيُّ من الاعتمادعلىٰ قول الحساب مردود ج۳ص۴۱۰)ددې څخه معلوم سو چې دهر کلي يو يا دوه خلګ يې ووينې نو ودې ته رُؤيتِ عامّه وائي.

تجربه هم دغه ده چې کله مياشته د ليدلو قابل وي نو هر سړئ يې ليدلائي سي (۲) په اثر کي ودې ته اشاره سوې ده . قُلتُ لِعَطَآءَ اَرَاَيتَ لَو اَنَّ رَجُلاً رَاىٰ هِلاَلَ رَمَضَانَ قَبلَ النَّاسِ بِلَيلَةٍ اَيَصُومُ قَبلَهُم وَيُفطِرُ قَبلَهُم ؟ قَالَ : لاَ اِلاَّ اَن اَرَاهُ النَّاسُ، اَخشٰي اَن يَّكُونَ شُبِّهَ عَلَيهِ (مصنف عبدالرزاق،باب كم يجوزالشهودعلي رؤية الهلال ج۴ص۱۶۷نمبر۷۳۴۸)ددې اثر څخه معلوم سو چې رُؤية عامّه به وي.

(بَابُ الاِعتِكَافِ)

[٥٩٦](١) اَلاِعتِكَافُ مُستَحَبٌّ وَهُوَ اللُّبثُ فِي المسجِدِ مَعَ الصَّومِ وَنِيَّةِ الاِعتِكَافِ

(بَابُ الاِعتِكَافِ)

ضروري پام لرنه اَلاِعتِكَافُ : د عَكفٌ څخه مُشتق (جوړ) دئ يوځائ درېدل (قيام کول) او لازم نيول. اعتکاف سُنّت دئ ددي دليل مخته راروان دئ.

پام لرنه د اعتکاف څلور قسمونه دي (١) سُنّتِ مُؤکده کفايه. د يوشتم(٢١)څخه تر دېرشم(٣٠)رمضان پوري چي کوم اعتکاف کيږي وهغه ته سُنّتِ مُؤکده کفايه وائي (٢) نَذَر، چي يو سړئ د اعتکاف کولو نَذَر ومني هغه د نَذَر اعتکاف دئ (٣) يوه ورځ او شپه نفلي اعتکاف کول (۴) يو څو منټه يا څو ګنټي اعتکاف کول. ددي دليل دا آيت دئ وَلاَ تُبَاشِرُوهُنَّ وَاَنتُم عَاكِفُونَ فِي المسَاجِدِ تِلكَ حُدُودُاللهِ فَلاَ تَقرَبُوهَا (الف) (آيت ١٨٧ سورة البقرة٢)

[٥٩۶](١) اعتکاف سُنت دئ، او هغه په مسجد کي درنګ(قيام)کول دئ سره د روژې او د اعتکاف د نيّت .

تشريح په مسجد کي درنګ کولو ته اعتکاف وائي. ددي لپاره دري شرطونه دي (١) روژه به وي (٢) د اعتکاف نيّت به وي (٣) او په مسجد کي به درنګ(قيام)وي. نو بيا اعتکاف دئ.

وجه د اعتکاف د سُنتيّت دليل دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ زَوجِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعتَكِفُ العَشرَ الأَوَاخِرَ مِن رَمَضَانَ حَتَّيٰ تَوَفَّاهُ اللهُ ثُمَّ اِعتَكَفَ اَزوَاجُهُ مِن بَعدِهِ (ب) (بخاري شريف. باب الاعتکاف في العشرالاواخرص٢٧١نمبر٢٠٢۶\مسلم شريف.کتاب الاعتکاف ص٣٧١نمبر١١٧٢\٢٧٨۴)مُسلسل اعتکاف کول دسُنتيّت دليل دئ. او د سُنّتِ کفايه وجه داده چي که څه کسانو اعتکاف وکئ نو د محلّي د نورو خلګود ذِمّي څخه ساقطيږي. او د درو سره شرطو دليل دا حديث دئ (١) عَن عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَت اَلسُّنَّةُ عَلَيٰ المعتَكِفِ اَن لاَّ يَعُودَ مَرِيضًا وَلاَ يُشهِدُ جَنَازَةً وَلاَ يَمَسُّ اِمرَاَةً وَلاَ يُبَاشِرُهَا وَلاَ يَخرُجُ لِحَاجَةٍ اِلاَّ لِمَا لاَ بُدَّ مِنهُ وَلاَ اِعتِكَافَ اِلاَّ بِصَومٍ وَلاَ اِعتِكَافَ اِلاَّ فِي مَسجِدٍ جَامِعٍ (ج) (ابوداؤدشريف،المعتکف يعودالمريض ص٣۴٢نمبر٢۴٧٣)ددي حديث څخه معلوم سو چي د اعتکاف لپاره روژه ضروري ده او د اعتکاف لپاره د ي مسجد وي (٢) په دارقُطني کي دئ عَن عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ اِعتِكَافَ اِلاَّ بِصِيَامٍ (د) (دارقطني،باب الاعتکاف ج٢ص١٧٩نمبر٢٣٣١)ددي حديث څخه معلوم سو چي د اعتکاف لپاره روژه ضروري ده.

حاشيه : (الف) په مسجد کي د اعتکاف په حالت کي د خپلو بي بي ګانو(مينو)سره مُباشرت مه کوئ. دغه د الله حدود دي و دي ته نزدي هم مه ځئ (ب) حضور د رمضان په آخري عشره کي اعتکاف کاوئ. تر دي چي الله وفات ورکئ. بيا دحضور وروسته دده بي بي ګانو اعتکاف وکئ (ج) حضرت عائشه فرمائي چي پر مُعتکف باندي سُنت دادئ چي (١) د ناجوړه عيادت دي نه کوي (٢) په جنازه کي دي نه حاضريږي (٣) بي بي دي نه مس کوي (۴) د بي بي سره دي مُباشرت نه کوي (۵) د ضرورت لپاره دي نه راوزي مګر هغه چي ضروري وي (۶) او نه اعتکاف دئ مګر د روژې سره (٧) او نه اعتکاف دئ مګر په جامع مسجد کي (د) حضور وفرمائل نه دئ اعتکاف مګر دروژې سره .

[٥٩٧](٢) وَيَحرُمُ عَلَيٰ المعتَكِفِ اَلوَطئُ وَاللَّمسُ وَالقُبلَةُ [٥٩٨](٣) وَإن اَنزَلَ بِالقُبلَةِ اَو لَمسٍ فَسَدَ اِعتِكَافُهُ وَعَلَيهِ القَضَآءُ .

فائده امام محمد فرمائي چي يو څو منټه نفلي اعتکاف هم کېدلائي سي. ددي اعتکاف لپاره د روژې شرط نسته. ثبوت يې ددي اثر څخه دئ عَن يَعلَيٰ بنِ اُمَيَّةَ اَنَّهُ كَانَ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ اِنطَلِق بِنَا اِلَيٰ المسجِدِ فَنَعتَكِفُ فِيهِ سَاعَةً (مصنف ابن ابي شيبة ٨٧ماقالوا في المعتكف ياتي اهله بالنهارج٢ص٣٣۶نمبر٩۶۵٢)په دي اثرکي ديوي ګنټي د اعتکاف لپاره ويل سوي دي. او دمسجد په سلسله کي دا حديث دئ (١) عَن حُذَيفَةَ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كُلُّ مَسجِدٍ لَهُ مُؤَذِّنٌ وَ اِمَامٌ

فَالاِعتِكَافُ فِيهِ يُصلِحُ (الف) (دارقطني،باب الاعتكاف ج۲ص۱۷۹نمبر۲۳۳۲)ددې حديث څخه معلوم سو چې په داسې مسجد کې چې په هغه کې پنځه وخت لمونځ کيږي په هغه کې اعتکاف جائز دئ (۲) مُعتکف خو به په جماعت سره لمونځ کوي نو که چيرې په مسجد کې جماعت نه کيږي نو هلته په جماعت سره لمونځ کولو کې به دِقّت(تکليف)وي. نو ځکه چې جماعت کيږي په هغه مسجد کې بايد اعتکاف وکي. خو که چيرې په دغه مسجد کې دجُمعې لمونځ نه کيږي نو مُعتکف د جُمعې لپاره جامع مسجد ته تللائي سي. او دنيّت شرط په دې وجه دئ چې اعتکاف عبادت دئ او عبادت بغير دنيّت نه صحيح کيږي. نو که چيرې يو سړئ بغير دنيّت په مسجد کې درنګ(قيام)وکي نو دده اعتکاف نه صحيح کيږي.

[۵۹۷] (۲) پر اعتکاف کونکي باندي وطي کول،بنځه په شهوت سره مَس کول او مچه اخستل حرام دي.

وجه په مسئله نمبر۱ کې دحضرت عائشې حديث تيرسوپه هغه کې و وَلاَ يَمَسُّ اِمرَاَةً وَلاَ يُبَاشِرُهَا (ب) (ابوداؤدشريف،المعتكف يعودالمريض ص۳۴۲نمبر۲۴۷۳\دارقطني،باب الاعتكاف ج۲ص۱۸۱نمبر۲۳۳۸\۲۳۳۹)ددې حديث څخه معلوم سوچې داعتکاف په حالت کې د ورځې يا د شپې بنځه دي نه په شهوت سره مَس کوي نه دي مچه کوي نه دي وطي ور سره کوي(۳)دآيت وَلاَتُبَاشِرُوهُنَّ وَاَنتُم عَاكِفُونَ فِي المسَاجِدِ(ج)(آيت ۱۸۷ سورة البقرة۲)څخه هم معلوميږي چې داعتکاف په حالت کې دي بنځه په شهوت سره نه مَس کوي.

[۵۹۸](۳) او که د مچې اخستلو يا د مَس کولو څخه انزال سو نو اعتکاف يې فاسديږي او پر ده باندي به قضآء لازم وي.

وجه (۱) که د مچې اخستلو يا د مَس کولو څخه انزال سو نو ددې څخه روژه ماتيږي او د روژې بغيره اعتکاف نه صحيح کيږي نو ځکه روژه يې ماتيږي. او دنفلي اعتکاف کولو څخه وروسته دا نَذَرتَنفِلي سو. نو ځکه کم از کم د يوې ورځې يوې شپې اعتکاف به لازم وي (۲) په اثر کې دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِذَا وَقَعَ المعتَكِفُ عَلىٰ اِمرَاَتِهِ اِستَانَفَ اِعتِكَافَهُ (د) (مصنف عبدالرزاق،باب وقوعه علىٰ امراته ج۴ص۳۶۳نمبر۸۰۸۱\مصنف ابن ابي شيبة ۹۲ ماقالوا في المعتكف يجامع ماعليه في ذالك ج۲ص۳۳۸نمبر۹۶۸۰)ددې اثر څخه معلوم سو چې په شهوت سره بنځه مَس کولو او د انزال څخه اعتکاف فاسديږي. او چې فاسد سي نو ددې قضآء به هم لازم وي. ددې حديث څخه استدلال کېدلائي سي. عَن عَائِشَةَ قَالَت

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل هر هغه مسجد چې دهغه لپاره مُؤذن وي او امام وي نو هغه د اعتکاف قابل دئ (ب) مُعتکف دي بنځه په شهوت سره نه مَس کوي او نه دي دهغې سره مُباشرت کوي (ج) دښځې سره مُباشرت مه کوئ کله چې تاسو په مسجد کې اعتکاف کونکي ياست (د) ابن عباس فرمائي چې د بنځې سره جماع(نزدېکت)وکئ نو د سر څخه دي اعتکاف وکي.

[۵۹۹](۴) وَلاَ يَخرُجُ المعتَكِفُ مِنَ المسجِدِ اِلاَّ لِحَاجَةِ الاِنسَانِ اَو لِلجُمعَةِ [۶۰۰](۵) وَلاَ بَاسَ بِاَن يَّبِيعَ اَو يَبتَاعَ فِي المسجِدِ مِن غَيرِ اَن يَّحضُرَ السِّلعَةَ .

كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ... ثُمَّ اَخَّرَ الاِعتِكَافَ اِلىٰ العَشرِ الأُوَلِ يَعنِي مِن شَوَّالٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الاعتكاف ص۳۴۱نمبر۲۴۶۴)حضور په رمضان کې اعتکاف نه و کړئ نو دهغه قضآء يې په شوّال کې وکړه. ددې څخه دا معلوم سو چې د اعتکاف قضآء سته. په حديث کې دئ چې نفلي روژه ماته کې نو دهغه قضآء لازم ده دغه رنګه چې نفلي اعتکاف مات کې نو هم به قضآء را ګرزوي.

[۵۹۹](۴) او مُعتکف به د مسجد څخه نه وزي مګر د انساني ضرورت لپاره يا د جُمعې لپاره.

تشريح ضرورت که شرعي وي يا طبعي د دواړو لپاره مُعتکف وتائي سي په طبعي ضرورتوکي خوراك،چيښاك،بولي،غُول،دجنابت غُسل اودس او دا رنګه نور شيان شامل دي. او شرعي ضرورتونه مثلاً د جُمعې لپاره جامع مسجد ته وتل دي. ددې ضرورتو لپاره د ضرورت په اندازه وتلائي سي. او چې ضرورت پوره کې فوراً دي مسجد ته واپس راسي.

وجه حديث دئ اَنَّ عَائِشَةَ زَوجِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَت ... وَكَانَ لاَيَدخُلُ البَيتَ اِلاَّ لِحَاجَةٍ اِذَا كَانَ مُعتَكِفًا (ب) (بخاري شريف،باب المعتكف لايدخل البيت الا لحاجةٍ ص۲۷۲نمبر۲۰۲۹\ترمذي شريف،باب المعتكف يخرج لحاجته ام لا ص۱۶۵نمبر۸۰۴)ددې حديث څخه معلوم سو چې مُعتکف د انساني ضرورت لپاره وتلائي سي.په دې باندي اعتکاف نه فاسديږي.

پـام لـرنـه د امام ابوحنيفه رايه ده چي بغير د ضرورت يوه ګنټه د مسجد ځخه د باندي پاتـه سـي نـو اعتکـاف يې فاسديږي.او صاحبين فرمائي چې د نيمئ ورځي ځخه زيات بغير دضرورت د باندي پاته سـي نـو اعتکـاف يـې فاسد دئ. ځکه چې اکثر د کُل حکم لري.

[٦٠٠](٥) ځه د حرج خبره نه ده چې په مسجد کې خرڅ کړي يا يې واخلـي بغېر ددې چـې سـامان د بيـع حاضـر کـي.

تـشريـح د خرڅولو را نيولو د سامان د حاضرولو بغيره د مُعتکف خرڅول او رانيول جائز دئ. خو ښـه کـار نـه دئ.

وجـه (١) بعض اوقات د معاشيّت د درستګئ لپاره و سړي ته د خرڅولـو را نيولـو ضـرورت پيښـيږي. ذو ځکـه ددې ګُنجائش سته. خو مسجد ته سامان را حاضرول مکروه دئ. ځکه چـې دا يـو رنګـه تَـوَحُش دئ (٢) قُلتُ لِعَطَآءٍ ... فَاَتِيْ مُجَاوِرُهُ اَيَبتَاعُ فِيهِ وَيَبِيعُ ؟ قَالَ لاَ بَاسَ بِذَالِكَ (ج) (مصنف عبدالرزاق،باب المعتکف وابتياعه وطلب الدُّنياج٤ص٣٦٣نمبر٨٠٧٨)ددې اثر ځخه معلوم سو چې د مُعتکف لپاره د خرڅولو رانيولو ګُنجائش سته. لېکن ښه کار نـه دئ. ددې وجـه عَن عَطَآءٍ قَالَ لاَ يَبِيعُ المعتَكِفُ وَلاَ يَبتَاعُ (د) (مصنف عبدالرزاق،باب المعتکف و ابتياعه وطلب الدنيا ج٤ص٣٦١نمبر٨٠٦٩)ددې اثرځخـه معلـوم سو چې په عامو حالاتو کې خرڅول را نيول ښه نه دئ.

لـغـت : يَبتَاعُ ،وايخلي. سَلعَةٌ ،دخرڅولو سامان.

حاشيه : (الف) بيا يې اعتکاف تر اوّلي عشري پوري وځنـډاوئ يعنـي د شـوّال تـر اوّلـي عشـري پـوري وځنـډاوئ (ب) حضـرت عائشـي وفرمائل ... حضور کور ته نه داخليدئ مګر دضرورت پر بنآء باندي چې کله به مُعتکف و (ج) مـا د عطـآء ځخـه پوښـتنه وکـړه ... آيـا مُعتکف په مسجد کې شيئ اخستئ سي ؟ او خرڅولائي سي ؟ حضرت عطـآء وفرمائـل پـه دې کـي ځـه د حـرج خبـره نسـته (د) حضـرت عطآء وفرمائل مُعتکف دې نه خرڅوي او نه دې اخلي.

[٦٠١](٦) وَلاَ يَتَكَلَّمُ اِلاَّ بِخَيرٍ وَيُكرَهُ لَهُ الصَّمتُ [٦٠٢](٧) فَاِن جَامَعَ المعتَكِفُ لَيلاً اَو نَهَاراً نَاسِيًا اَو عَامِداً بَطَلَ اِعتِكَافُهُ [٦٠٣](٨) وَلَوخَرَجَ مِنَ المسجِدِ سَاعَةً بِغَيرِ عُذرٍ فَسَدَ اِعتِكَافُهُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَقَالاَ لاَ يُفسِدُ حَتّيٰ يَكُونَ اَكثَرَ مِن نِصفِ يَومٍ .

---

[٦٠١](٦) او مُعتکف دي خبري نه کوي مګر دخير او مکروه ده دده لپاره پټه خوله.

تـشريـح مُستقل(همېشه)پټه خوله په اسلام کې عبادت نه ده نو ځکه د عبادت په توګه پټـه خولـه کېـدل مکـروه ده. دخير خبري کول په کار دي.

وجـــه پـه حـديث کـي دئ عَن صَفِيَّةَ قَالَت كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مُعتَكِفًا فَاَتَيتُهُ اَزُورُهُ لَيلاً فَحَدَّثتُهُ ثُمَّ قُمتُ الخ (الف) (ابوداؤدشريف،المعتکف يدخل البيت لحاجته ص٣٤١\٣٤٢ نمبر٢٤٧٠)ددې حديث ځخه معلوم سو چې مُعتکف خبـري کـولائي سي. نو ځکه دخير خبري دي کوي.

[٦٠٢](٧) که مُعتکف د شپې يا د ورځې په هېره سره يا په قصد سره جماع وکې نو دده اعتکاف باطل دئ.

تـشريـح دشپې هم مُعتکف دئ. نو ځکه کـه دشـپې جمـاع وکـي نـو هـم يـي اعتکـاف باطليږي.ځکـه چـي اعتکـاف يادونکئ شيئ دئ نو ځکه په دې حال کې هېره نه ده مُعاف.لهٰذا که په هېره سره هم په اعتکاف کې جماع وکې نـو اعتکاف يې فاسديږي.

وجـه د ددې آيت وَلاَ تُبَاشِرُوهُنَّ وَاَنتُم عَاكِفُونَ فِي المسَاجِدِ ځخه معلوميږي چې د اعتکاف پـه حالـت کـي د مُباشـرت ځخـه اعتکاف بـاطليږي. پـه اثـر کـي دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِذَا جَامَعَ المعتَكِفُ اَبطَلَ اِعتِكَافَهُ وَ اِستَانَفَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ٩٢ ماقالوا في المعتكف يجامع ماعليه في ذالك ج٢ص٣٣٨نمبر٩٦٨٠)په دې اثر کې د سهواً او قصـداً تـذکره نسـته نـو ځکـه کـه پـه هېره سره جماع وکې نو هم اعتکاف باطليږي.

[٦٠٣](٨) که مُعتکف د مسجد ځخه يو ساعت بغيره عذر ووزي نو د امام ابوحنيفه په نېـز دده اعتکـاف باطـل دئ. او صاحبينو وفرمائل نه فاسديږي تر دې چې تر نيمئ ورځې زيات سي.

وجـه (١) امام ابوحنيفه فرمائي چې د مُعتکـف د مسـجد ځخـه وتـل خـلاف قيـاس دي. خـو د مجبـوري پـه وجـه د ضرورت لپاره د وتلو ګنجائش سته. نو ځکه د ضرورت ځخه علاوه که ديوې ګنټې لپاره هم ووزي نو اعتکاف يې باطليږي. او صاحبين فرمائي چې ځه نه ځه ځنډ خو خامخا کيږي. نو که په لږځنډېدو يا دلږوخـت لپـاره پـر وتلـو

باندي اعتكاف فاسدسي نو ډېره تنګي به راسي.خو که نيمئ ورځ څوك ووزي نو بيا اعتكاف فاسددئ لهٰذا د نيمئ ورځي معيار صحيح(درست)دئ چي که ددي څخه زيات څوك ووزي نو اعتكاف يي فاسد دئ (۲) لوړ حديث تير سو چي وَلاَيَخْرُجُ لِحَاجَتِهِ اِلاَّ لِمَا لاَ بُدَّ مِنهُ (ج) (ابوداؤدشريف،المعتكف يعودالمريض ص۳۴۲نمبر۲۴۷۳)ددي څخه معلوم سو چي د ډېر زيات ضرورت لپاره دي وزي.

حاشيه : (الف) حضور په اعتكاف كي و نو دشپي دحضور دزيارت لپاره زه راغلم . ما دده سره خبري كولي بيا ولاړه سوم (ب) حضرت ابن عباس وفرمائل چي جماع وكي نو دده اعتكاف باطل دئ او د سر څخه دي اعتكاف وكي (ج) نه دي وزي مګر دداسي ضرورت لپاره چي هيڅ چاره يي نه وي.

[۶۰۴](۹) وَمَن اَوجَبَ عَلىٰ نَفسِهِ اِعتِكَافَ اَيَّامٍ لَزِمَهُ اِعتِكَافُهَا بِلَيَالِيهَا وَكَانَت مُتَتَابِعَةً وَاِن لَم يَشتَرِطِ التَّتَابُعَ فِيهَا.

خو بغير دضرورت وتلو څخه اعتكاف فاسديږي (۳) په حديث كي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَ النُّفَيلِيُّ قَالَت كَانَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَمُرُّ بِالمَرِيضِ وَهُوَ مُعتَكِفٌ فَيَمُرُّ كَمَا هُوَ وَلاَيَعرُجُ يَسئَلُ عَنهُ (الف) (ابوداؤشريف،المعتكف يعودالمريض ص۳۴۲نمبر۲۴۷۲)په دي حديث كي دئ چي حضور په تلو تلو(روان سره)د خلګو عيادت كاوئ، يو ځائ نه درېدئ،ددي څخه معلوميږي چي ډېر زيات درېدل ښه كار نه دئ. او ددغه څخه امام ابوحنيفه استدلال كړئ دئ چي بغير دضرورت ډېر زيات درنګ كول اعتكاف فاسدوي.

[۶۰۴](۹) يو چا پر خپل ځان باندي د څو ورځو اعتكاف لازم كړئ نو پر ده باندي د هغې د شپو اعتكاف هم لازميږي. او اعتكاف به پرلپسي كوي كه څه هم په هغه كي د پرلپسي كولوشرط نه وي لګولئ .

تشريح مثلاً دشپږو ورځو اعتكاف يي پر ځان لازم كړئ نو ددي ورځو د شپږو شپو اعتكاف به هم لازم وي. او شپږ سره ورځي به پرلپسي اعتكاف كوي.كه څه هم په هغه كي د پرلپسي كولو نيّت نه وي كړئ.

وجه (۱) په مُحاوره كي ورځ وويل سي نو په هغه كي شپه هم شامله وي. نو ځكه كه نيّت كونكي ورځ ذكر كړه نو دهغې شپه به هم شامل وي.لهٰذا چي څونه ورځي نيّت يي كړئ وي هغونه شپي به هم اعتكاف لازم وي (۲) روژه جلا جلا وي. ځكه چي روژه صرف د ورځي وي ددغه وروسته شپه راځي چي په هغه كي روژه نسته او د دواړو په مابين كي فاصل سته. نو ځكه روژه په مُتفرق توګه وي. لېكن اعتكاف دشپي او دورځي دواړه وي ځكه هغه مُسلسل وي. نو ځكه اعتكاف به پرلپسي وي. كه څه هم د مُسلسل كولو نيّت يي نه وي كړئ (۳) په اثر كي دئ عَن عَطَآءٍ فِي المعتَكِفِ يَشتَرِطُ اَن يَّعتَكِفَ بِالنَّهَارِ وَيَاتِي اَهلَهُ بِاللَّيلِ قَالَ لَيسَ هٰذَا اِعتِكَافٌ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۸۷ ماقالوا في المعتكف ياتي اهله بالنهارج۲ص۳۳۶نمبر۹۶۴۹)ددي اثر څخه معلوم سو چي د ورځي سره به شپه هم شامل وي. او چي شپه شامل سي نو پرلپسي به هم سي.

پام لرنه د څو ګنټو اعتكاف بغير دروژې هم كېدائي سي. په اثر كي راغلي دي عَن يَعلىٰ بنِ اُمَيَّةَ اَنَّهُ كَانَ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ اِنطَلِق بِنَا اِلىٰ المسجِدِ فَنَعتَكِفُ فِيهِ سَاعَةً (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۸۷ ماقالوا في المعتكف ياتي اهله بالنهارص۳۳۶نمبر۹۶۵۲)

حاشيه : (الف) حضور به د ناجوړه سره تېرېدئ په داسي حال كي چي حضور به مُعتكف و نو تېرېدئ به او نه به درېدئ دده حال به پوښتئ (ب) دحضرت عطآء څخه نقل سوئ دئ دهغه مُعتكف په باب كي چي شرط ولګوي چي اعتكاف به كوي د ورځي او د شپي و خپل اهل(كور)ته راسي نو وفرمائل دا اعتكاف نه دئ (ج) يعلىٰ بن اُميّه به و خپل ملګري ته ويل زمونږ سره مسجد ته ولاړ سه د يوې ګنټې اعتكاف به وكو.

(كِتَابُ الحَجّ)

[٦٠٥](١) اَلحَجُّ وَاجِبٌ عَليٰ الاَحرَارِ المسلِمِينَ البَالِغِينَ العُقَلاَءِ الاَصِحَّاءِ اِذَا قَدَرُوا

(كِتَابُ الحَجّ)

ضروري پام لرنه د حج معنيٰ ده اراده کول.دلته د بيتُ الله اراده په خاص انداز سره دکولونوم حج دئ.د حج ثبوت ددې آيت څخه دئ وَلِلّٰهِ عَلَيٰ النَّاسِ حِجُّ البَيتِ مَنِ اِستَطَاعَ اِلَيهِ سَبِيلاً (الف) (آيت ٩٧سورة آل عمران٣)ددې آيت څخه ثابت سو چې څوک دبيتُ الله پوري د تللو طاقت لري پر هغه باندي حج فرض دئ. حج د مالي او بدني دواړو عبادتو مجموعه ده.ځکه خو د مجبورئ په وجه حجّ بَدَل جائز دئ چې مجبور نه وي په خپله دي حج وکي.

[٦٠٥](١) حج واجب دئ پر آزاد،مسلمان،بالغ،عاقل،جوړ باندي کله چې پر توشه او کجاوه باندي قادر وي.د کور د ضروریاتو او د واپس راتلو پوري د اهل و عيال د نفقې څخه زيات وي او لاره په اَمَن سره وي.

تشريح د حج د فرضيّت لپاره دلته لس(١٠)شرطونه لګولي دي (١) آزادي (٢) اسلام (٣) بلوغ (۴) عقل (۵) جوړتيا (۶) پر توشه باندي قُدرت (٧) پر کجاوه او سوارلئ باندي قُدرت (٨) د کور دضروريات څخه زيات وي (٩) د واپس راتلو پوري د هغه اهل وعيال خرچه او نفقه کوم چې د حاجي پر ذمّه باندي وي تر دې زيات يا کم سي کم ددغه انتظام يې کړئ وي (١٠) لاره به هم په اَمَن وي. او د بنځې لپاره يو شرط بل هم سته. ددې سره به ذِي رَحِمِ مَحرم هم وي. چې دا ټول شرطونه موجود سي نو حج فرض دئ. او که دا شرطونه د حاجي سره نه وي نو پر ده باندي حج نه دئ فرض. لېکن که چيري وکئ نو فرض حج يې ادآء سو.

د مذکوره شرطو دلائل : چې آزاد،مسلمان،بالغ،عقلمند،وي نو عبادت فرض دئ (١) ددې دليل مخکې تېر سوئ دئ (٢) په سُنن بيهقي کې دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَيُّمَا صَبِيٍّ حَجَّ ثُمَّ بَلَغَ الحِنثَ فَعَلَيهِ اَن يَّحُجَّ حَجَّةً اُخرِيٰ،وَاَيُّمَا اَعرَابِيٍ حَجَّ ثُمَّ هَاجَرَ فَعَلَيهِ حَجَّةٌ اُخرِيٰ،وَاَيُّمَا عَبدٍ حَجَّ ثُمَّ اَعتَقَ فَعَلَيهِ حَجَّةٌ اُخرِيٰ (ب) (سنن للبيهقي،باب اثبات فرض الحج ج۴ص٥٣٣نمبر٨٦١٣)ددې څخه معلوم سو چې پر کشني او غلام(مرئي)باندي حج نه دئ فرض. چې جوړ وي نو حج فرض دئ که نه نو نه. ځکه چې که جوړ نه وي نو بيتُ الله ته به څه رنګه رسيږي.

وجه (١) په آيت کې مَنِ اِستَطَاعَ فرمائلي دي چې هغه څوک چې بيت الله ته رسېدائي سي. او ناجوړ سړئ بيت الله ته نه سي تلائي نو ځکه پر ده باندي حج نه دئ فرض. خو که بيا چيري مخکې تندرست(جوړ)و او پر ده باندي حج فرض سوئ و وروسته بيا ناجوړ سو نو پر ده باندي د حج بدل کولو وصيّت لازم دي. صحّت هم شرط دئ دليل يې دا حديث دئ عَن عَبدِ اللهِ اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ الفَضلُ بنُ عَبَّاسٍ رَدِيفَ رَسُولِ اللهِ فَجَائَتهُ اِمرَاَةٌ مِّن خَثعَمَ ... فَقَالَت يَا رَسُولَ اللهِ

حاشيه : (الف) د الله لپاره پر خلګو باندي د بيتُ الله حج کول دئ څوک چې ددې پر لوري دتللو طاقت لري (ب) حضور وفرمائل کوم يوه کشني چې حج کړئ وي بيا بالغ سي نو پر ده باندي دادئ چې دوم وار دي حج وکي. او کوم صحرائي چې حج کړئ وي بيا هجرت وکي نو پر ده باندي دادئ چې دوم وار دي حج وکي. او کوم غلام(مرئي)چې حج کړئ وي بيا آزاد کړل سي پر هغه باندي دوم حج دئ پام لرنه و صحرائي ته د دوم وار حج کولو حکم هغه وخت و چې د هجرت بغير اسلام نه و قبول. اُوس داسي نه دئ.

عَلَيٰ الزَّادِ وَالرَّاحِلَةِ فَاضِلاً عَنِ المسكَنِ وَمَالاً بُدَّ مِنهُ وَعَن نَفَقَةِ عَيَالِهِ اِلَيٰ حِينِ عَودِهِ وَكَانَ الطَّرِيقُ آمِنًا [٦٠۶](٢) وَيُعتَبَرُ فِي حَقِّ المرَاَةِ اَن يَّكُونَ لَهَا مُحرِمٌ يَحُجُّ بِهَا اَو زَوجٌ وَلاَ يَجُوزُ

اِنَّ فَرِيضَةَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ عَلَيٰ عِبَادِهِ فِي الحَجِّ اَدرَكَت اَبِي شَيخًاكَبِيراً لاَ يَستَطِيعُ اَن يَّثبُتَ عَلَيَ الرَّاحِلَةِ اَفَاَحُجُّ عَنهُ قَالَ نَعَم وَذَالِكَ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ (الف) (ابوداؤدشريف،باب الرجل يحج عن غيره ص٢٥٩نمبر١٨٠٩\ترمذي شريف،باب ماجآء في الحج عن الشيخ الكبيروالميّت ص١٨٥نمبر٩٢٨)ددې حديث څخه معلوم سوچې که جوړ وي خوحج به کوي اوکه نه نو بيا پرده باندي حج نه دئ فرض.خوکه چيري فرض سوئ وي اوبيا ناجوړسي نو د ده لخوا به وَلِي حجِ بَدَل کوي.چې توشه اوکجاوه وي نوحج فرض دئ ددې دليل داحديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَقَالَ جَآءَرَجُلٌ اِلَيٰ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ مَا يُوجِبُ الحَجَّ قَالَ اَلزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء في ايجاب الحج بالزادوالراحلة ص١۶٨نمبر٨١٣\دارقطني،كتاب الحج ج٢ص١٩٣نمبر٢٣٨٨)ددې حديث څخه معلوميږي چې دسفرتوشه(توښه)وي اوپرسوارلئ باندي دسپرېدوخرچه وي

نوحج فرض دئ.دوسېدلوکوراودکورد ضروري شيانوڅخه زياتوب او د واپس راتلو پوري د اهل وعيال د نفقې څخه زياتوب څه شيئ وي.

وجه ددې وجه داده چې دا شيان ټوله د انسان په حاجتِ اصليّه کې شامل دي او د حج لپاره به د حاجتِ اصليّه څخه فارغ وي. ځکه چې دا حُقُوقُ العِبَاد دي او حج حُقُوقُ الله دئ او حُقُوقُ العِبَاد د حُقُوقُ الله څخه مقدّم دي. لهٰذا چې ددې ټولوضروریاتو څخه فارغ وي نو حج فرض دئ. او چې لاره په اَمَن وي نو حج فرض دئ ددې دليل دادئ (۱) چې که لاره په اَمَن نه وي نو د حج کولو لپاره به څه رنګه ځي؟. په مَن اِستَطَاعَ اِلَيهِ سَبِيلاً کې دا داخل دئ چې تر مَکّې مُکرّمې پورې به لاره په اَمَن وي چې بيت الله ته په آساني سره ولاړ سي (۲) تر څو چې د مَکّې مُکرّمې پورې لاره په اَمَن نه وه نو حضور حج ته تشريف نه دئ وړئ. په حديث کې دئ عَن اَبِي اُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن لَم يَحبِسهُ مَرَضٌ اَو حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ اَو سُلطَانٌ جَآئِرٌ وَلَم يَحُجَّ فَلْيُمِت اِن شَآءَ يَهُودِيًّا اَو نَصرَانِيًّا (سنن للبيهقي،باب امكان الحج ج۴ص۵۴۶نمبر۸۶۶۰)په دي حديث کي دئ چې ظالم بادشاه(باچا)نه وي منع کړئ، بس ددې څخه دلاري پُر اَمَن کېدو(امنيّت)باندي استدلال کېدلائي سي.

لـغت : اَلزَّادُ ، توښه. رَاحِلَةٌ ، کجاوه- سوارلئ. عَودٌ ، واپس کېدل- بېرته راتلل.

[۶۰۶](۲) او د ښځي په حق کې به اعتبار کيږي چې ددې لپاره مَحرم وي چې په دې باندي حج وکي،يا خاوند(مېړه)وي. او نه دئ جائز د ښځي لپاره چې ددې دواړو بغيره حج وکي چې کله د ښځي په مابين او د مَکّې مُکرّمې په مابين کي د درو ورځو يا ددې څخه زيات سفروي.

تشريح ښځه چې دکوم ځائ څخه حج کول غواړي دهغه ځائ څخه ترمَکّي مُکرّمې پورې ددرو ورځو يا ددې څخه زيات سفر وي نو د مَحرم بغيره حج نه فرض کيږي. يا مَحرم وي يا خاوند(مېړه)وي چې په دې باندي حج وکي نو بيا حج فرض دئ. که مَحرم په خپله خرچه د حج لپاره تيّار نه وي نو دښځي سره بايد دومره خرچه وي چې و مَحرم ته هم خرچه ورکي حج لره د ځان سره بوزي.

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عباس فرمائي چې فضل بن عباس د حضور وشاته ناست و چې دخثعم قبيلي يوه ښځه راغله ... وويل ائ دخدائ رسول د حج په باب کي د الله فرض پر بندګانو باندي نازل سو، زما پلار ته ضعف(کمزوري، سپين ژرتوب)راغلئ دئ، پر کجاوه باندي ځان نه سي ټينګولائي نو آيا زه دده لخوا حج وکم ؟ حضور وفرمائل هو! دا د حجة الوداع واقعه وه (ب) يو سړئ حضور ته راغلئ او وويل ائ د خدائ رسول ! حج د کوم شي څخه واجب کيږي ؟ حضور وفرمائل د توشي او کجاوي د مالك جورېدو څخه .

لَهَا اَن يَّحُجَّ بِغَيرِهِمَا اِذَا كَانَ بَينَهَا وَبَينَ مَكَّةَ مَسِيرَةَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ فَصَاعِدًا [۶۰۷](۳) وَالمَوَاقِيتُ اللَّتِي لاَ يَجُوزُ اَن يَّتَجَاوَزَهَا الاِنسَانُ اِلاَّ مُحرِمًا لاَهلِ المَدِينَةِ ذُو الحُلَيفَةَ وَلاَهلِ العِرَاقِ

پام لرنه بعض علمآء فرمائي چې مَحرم نه وي نو ګرسره حج نه فرض کيږي. او بعض فرمائي چې حج فرض کيږي.لېکن حج ته تلل نه فرض کيږي. دادي دحجِ بَدَل لپاره وَصِيّت وکي.

وجه (۱) په حديث کي دئ عَن اَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لاَ يَحِلُّ لِامرَاَةٍ تُؤمِنُ بِاللهِ وَاليَومِ الآخِرِ اَن تُسَافِرَ سَفَرًا فَوقَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ فَصَاعِدًا اِلاَّ وَمَعَهَا اَبُوهَا اَو اَخُوهَا اَو زَوجُهَا اَو اِبنُهَا اَو ذُومَحرَمٍ مِنهَا (الف) (ابوداؤدشريف،باب في المراة تحج بغيرمحرم ص۲۴۹نمبر۱۷۲۶\مسلم شريف،باب سفرالمراة مع محرم الي حج وغيره ص۴۳۲نمبر۱۳۴۰) (۲) په دارقطني کي دئ عَن اَبِي اُمَامَةَ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لاَ تُسَافِرُ اِمرَاَةٌ سَفَراً ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اَو تَحُجَّ اِلاَّ وَمَعَهَا زَوجُهَا (ب) (دارقطني،كتاب الحج ج۲ص۱۹۹نمبر۲۴۱۹)ددې حديث څخه معلوم چې دښځي سره مَحرم وي نو حج فرض دئ. ځکه چې بغير مَحرم تر درو ورځو زيات سفر کول جواز نه لري.

فائده امام شافعي فرمائي که چيرې ددې سره بااعتماد ښځه وي نو بيا ښځه حج ته تلائي سي. مور وايو چې دښځي سره حج ته تلو کي د خُرافاتُ خطره ده نو ځکه منع دي سي او په حديث کي هم منع کړې ده.

پام لرنه خو ددې سره سره که ښځي بغير د مَحرم حج وکئ نو فرض حج يې ادآء کيږي. که څه هم د ناجائز کار ارتکاب يې وکئ.

[۶۰۷](۳) او هغه میقات چې نه دئ جائز چې انسان دهغه ځخه مخته تیر سي مګر چې احرام وتړي. د مدیني د خلګو لپاره ذُوالحُلَیفة،د عراق د خلګو لپاره ذَاتُ عِرق، دشام د خلګو لپاره جُحفة، د نَجَد د خلګو لپاره قَرن او د یَمَن د خلګو لپاره یَلَملَم دئ.

تشریح دغه ځایونه د مَکّي مُکرّمي ځخه بنه لیري دي. د مُکّي مُکرّمي د تعظیم لپاره دا ضروري دئ چې د دې مقاماتو ځخه دباندې ځخه خلګ مَکّي مُکرّمي ته راسي نو پر دې ځایو باندې د حج یا د عُمرې احرام وتړي بیا راسي. او حج یا عُمره ادآء کي. بیا دي خپل کار وکي دا د بیتُ الله د عظمت تقاضآء ده. او که د احرام د تړلو بغیر تر دې ځایو راتیر سو نو پر ده باندې دَم لازم دئ. لکه څه رنګه چې څوك مسجد ته راسي نو د مسجد د عظمت تقاضآء داده چې اوّل دي دوه رکعته تَحِیَّةُ المسجِد وکي یا یو بل(نفلي)لمونځ وکي.

وجه (۱) ددې مقاماتو(ځایو)صراحت په حدیث کې سوئ دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ وَقَّتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لأهلِ المَدِينَةِ ذَا الحُلَيفَةَ،وَلأهلِ الشَّامِ اَلجُحفَةَ،وَلاِهلِ نَجدٍ قَرنَ المَنَازِلَ،وَلأهلِ اليَمَنِ يَلَملَمَ هُنَّ لَهُنَّ وَلِمَن اَتيٰ عَلَيهِنَّ مِن غَيرِهِنَّ مِمَّن اَرَادَ الحَجَّ

حاشیه: (الف) حضور وفرمائل کومه ښځه چې پر الله او پر ورځ د آخرت ایمان لري دهغې لپاره حلال نه دئ چې دري ورځې یا دهغه ځخه زیات سفر وکي مګر دا چې ددې سره ددې پلار وي یا ددې ورور وي یا ددې خاوند(میړه)وي یا ددې زوئ وي یا ددې ذي رحم مَحرم وي (ب) حضور به فرمائل چې ښځه دي سفر نه کوي د درو ورځو سفر یا دي حج نه کوي مګر دا چې ددې سره ددې خاوند(میړه)وي.

ذَاتُ عِرقٍ وَلأهلِ الشَّامِ الجُحفَةُ وَلأهلِ النَّجدِ قَرنٌ وَلأهلِ اليَمَنِ يَلَملَمُ [۶۰۸](۴) فَاِن قَدَّمَ الاِحرَامَ عَلىٰ هٰذِهِ المَوَاقِيتِ جَازَ [۶۰۹](۵) وَمَن كَانَ مَنزِلُهُ

وَالعُمرَةَ وَمَن كَانَ دُونَ ذَالِكَ فَمِن حَيثُ اَنشَاَ حَتّٰي اَهلَ مَكَّةَ مِن مَكَّةَ (الف) (بخاري شريف،باب محصل اهل مكة للحج والعمرة ص۲۰۶نمبر۱۵۲۴\مسلم شريف،باب مواقيت الحج ص۳۷۴نمبر۱۱۸۱)ددې حدیث ځخه ثابت سو چې دغه مقامات(ځایونه)ددغه خلګو لپاره مِیقاتونه دي. بغیر د احرام ددې ځایو ځخه مخته تبرېدل جواز نه لري (۲) عَن عَائِشَةَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَقَّتَ لأهلِ العِرَاقِ ذَاتُ عِرقٍ (ب) (ابوداؤدشريف،باب في المواقيت ص۲۵۰نمبر۱۷۳۹\بخاري شريف،باب ذات عرق لاهل العراق ص۲۰۷نمبر۱۵۳۱)ددې حدیث ځخه معلوم سو چې د عراقیانو لپاره ذَاتُ عِرق مقام مِیقَات دئ.

(میقات)

ذُوالحُلَیفه	دا دمدینې دخلګومیقات دئ	دمَکّي مُکرّمي ځخه	۴۱۰ کیلومیترلیري دشمال و خوا ته دئ
ذَاتُ عِرق	دا دعراق دخلګومیقات دئ	دمَکّي مُکرّمي ځخه	۹۰ کیلو میترلیري دمشرق وخوا ته دئ
جُحفه	دا دشام د خلګو میقات دئ	دمکّي مُکرّمي ځخه	۱۸۷ کیلو میترلیري دشمال وخواته دئ
قَرَن	دا دنجد دخلګو میقات دئ	دمکّي مُکرّمي ځخه	۸۰ کیلو میترلیري دجنوب وخوا ته دئ
یَلَملَم	دا دیمن دخلګو میقات دئ	دمکّي مُکرّمي ځخه	۱۳۰ کیلومیتر لیري د جنوب وخوا ته دئ

[۶۰۸](۴) بیا که احرام ددې ځایوځخه مخکي وتړئ نو جائز دئ .

تشریح لوړ چې کوم پنځه ځایه د میقات بیان سوي دي که ددې مقاماتو ځخه مخکي احرام وتړئ نو هم جائز دئ، بلکه چې صبر کولائي سي نو افضل دئ .

وجه په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَولُهُ عَزَّ وَجَلَّ وَاَتِمُّوا اَلحَجَّ وَالعُمرَةَ للهِ، قَالَ مِن تَمَامِ الحَجِّ اَن تَحرُمَ مِن دُوصيرَةِ اَهلِكَ (ج) (سنن للبيهقي،باب من استحب الاحرام من دويرة اهله ج۵ص۴۵نمبر۸۹۲۹)ددي حديث څخه معلوم سو چي که د کور څخه احرام وتړي نو ډير ښه کار دئ.

[۶۰۹](۵) د کوم چا کور چي د ميقات وروسته وي نو دهغه ميقات حِل دئ.

تشريح دميقات په ځائ کي دنَنَه اودبَيتُ الله شاوخواچي کومه دحرم شريف حصّه ده ددي څخه دباندي ته حِل وائي.کوم خلګ چي په ميقات کي دنَنَه وسيږي د دوئي د حج اوعُمري د احرام تړلو لپاره ځائ حِل دئ. دوئي دي د حِل څخه خپل احرام تړي. و دوئي ته واپس ميقات ته د راتلو ضرورت نسته.

حاشيه : (الف) حضور ميقات مُتعين کئ. د مدينې د خلګو لپاره ذُوالحُلَيفه،د شام د خلګو لپاره جُحفَه،د نَجد د خلګو لپاره قَرنُ المَنَازِل،د يَمَن د خلګو لپاره يَلَملَم. دا مقات ددي خلګو لپاره دئ او د دوئي څخه علاوه چي څوك ددي ميقات څخه تير سي د هغو څخه چي د حج او عمري اراده کوي. او څوك چي په دي ميقات کي د نَنَه وي نو چي د کوم ځائ څخه شروع کوي(هغه ځائ ددوئي ميقات دئ)تر دي چي د مَکّي دخلګو لپاره د مَکّي څخه ميقات دئ (ب) حضور ميقات مُتعين کئ د عراق د خلګو لپاره ذَاتُ عِرق (ج) د حضور څخه روايت دئ چي د الله قول، وَاَتِمُّوا الحَجَّ وَالعُمرَةَ للهِ، حضور وفرمائل چي د حج د اتمام(تکميل،پوره کېدو)څخه دادئ چي د خپل اهل د کور څخه احرام وتړي.

بَعدَ المَوَاقِيتِ فَمِيقَاتُهُ اَلحِلُّ [۶۱۰](۶) وَمَن كَانَ بِمَكَّةَ فَمِيقَاتُهُ فِي الحَجِّ اَلحَرَمُ وَفِي العُمرَةِ اَلحِلُّ

په مسئله نمبر۳کي د بخاري شريف حديث تپر سوئ دئ چي دهغه يوه حصّه داوه وَمَن كَانَ دُونَ ذَالِكَ فَمِن حَيثُ اَنشَاَ حَتّيٰ اَهلَ مَكَّةَ مِن مَكَّةَ (بخاري شريف،نمبر۱۵۲۴\مسلم شريف،نمبر۱۱۸۱) او په يو بل حديث کي دئ فَمَن كَانَ دُونَهُنَّ فَمَهَلُّهُ مِن اَهلِهِ وَكَذَالِكَ حَتّيٰ اَهلَ مَكَّةَ يَهِلُّونَ مِنهَا (الف) (بخاري شريف،باب مهل اهل الشام ص۲۰۶\۲۰۷نمبر۱۵۲۶\مسلم شريف،باب مواقيت الحج ص۳۷۴نمبر۱۱۸۱)په دي حديث کي دئ چي څوك په ميقات کي د نَنَه وسيږي هغه دي د حج او عُمري احرام دهغه ځائ څخه وتړي د کوم ځائ څخه چي دئ روانيږي يعني د حِل څخه.

لغت : مَنزِلٌ ، دوسېدلو ځائ، کور،

[۶۱۰](۶)څوك چي په مَکّه مُکرّمه کي وي دهغه ميقات دحج لپاره حرم دئ او د عُمري لپاره حِل دئ.

وجه د مکّي دخلګو لپاره او هغه خلګ چي مکّي ته راغلي وي او څو ورځي قيام يي کړئ وي د دوئي د حج لپاره ميقات حرم شريف دئ،ددي دليل په لوړ حديث کي تپر سوئ دئ فَمَن كَانَ دُونَهُنَّ فَمَهَلُّهُ مِن اَهلِهِ وَكَذَالِكَ حَتّيٰ اَهلَ مَكَّةَ يَهِلُّونَ مِنهَا (بخاري شريف،باب مهل اهل الشام ص۲۰۷نمبر۱۵۲۶\مسلم شريف، نمبر۱۱۸۱)ددي حديث څخه معلوم سو چي د مکّي خلګ به د مکّي څخه احرام تړي. و دوئي ته د حِل د تللو ضرورت نسته. لېکن د عُمري احرام به د حِل څخه تړي.ځکه چي حضرت عائشه چي مکّي ته راغله مُقِيم سوه او ګواکه مَکّي سوه لېکن د عُمري د احرام لپاره ودي ته حکم وکئ چي تنعيم ته ولاړه سه چي دحرم څخه باندي په حِل کي دئ. او نن هلته د دي په نوم منسوب مسجِد عائشه موجود دئ. په حديث کي دئ حَدَّثَنِي جَابِرُ بنُ عَبدِاللهِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَهَلَّ وَاَصحَابُهُ ... قَالَت يَا رَسُولَ اللهِ اَتَنطَلِقُونَ بِحَجَّةٍ وَعُمرَةٍ وَاَنطَلِقُ بِالحَجِّ ؟ فَاَمَرَ عَبدَالرَّحمٰنَ بنِ اَبِي بَكرٍ اَن يَخرُجَ مَعَهَا اِلَي التَّنعِيمِ فَاعتَمَرَت بَعدَالحَجِّ فِي ذِي الحَجَّةَ (ب) (بخاري شريف،باب عمرة التنعيم،کتاب العمرة ص۲۴۰نمبر۱۷۸۵\ابوداؤدشريف،باب المهلة بالعمرة تحيض ص۲۸۰نمبر۱۹۹۵)ددي څخه معلوم سو چي حضرت عائشه د عمري لپاره تنعيم ته ولاړه احرام يي وتاړئ او تنعيم په حِل کي دئ. نو ځکه مَکّي به د عُمري لپاره د حِل څخه احرام تړي.

پام لرنه که د ميقات څخه بغير د احرام تير سو نو دَم پر لازم دئ.

وجه په اثر کي راغلي دي رَاَيتُ اِبنُ عَبَّاسٍ يُرَدُّ مَن جَاوَزَ المَوَاقِيتَ غَيرُ مُحرِمٍ (ج) (سنن للبيهقي،باب من مربالميقات يريدحجًا او عمرةً ج۵ص۴۴)ددي اثر څخه معلوم سو چي د ميقات څخه تير سي هغه دي پر ميقات باندي واپس کي. ځکه چي بغير د احرام مخته تپربدل نه دئ په کار. په يو بل اثر کي راغلي دي عَن عَبدِاللهِ بنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ قَالَ مَن نَسِيَ مِن نُسُكِهِ شَيئًا اَو تَرَكَهُ فَلْيُهرِق دَمًا (د) (سنن للبيهقي،باب من مَرَّبالميقَاتِ يريدُحجًا او عمرةً ج۵ص۴۴نمبر۸۹۲۵)ددي اثر څخه معلوم سو چي که پر ميقات باندي د احرام تړلو بغيره تير سو نو دَم پر لازم دئ.

حاشيه : (الف) او څوك چې په ميقات كې دَنَنَه وي نو چې دكوم ځائ څخه روانيږي دهغه ځائ څخه دي احرام وتړي. تر دې چې د مكّې خلګ دي د مَكّې څخه احرام وتړي (ب) حضرت عائشې وفرمائل ائ دخدائ پيغمبره ! تاسو حضرات به د حج او عمرې سره ځئ او زه به صرف د حج سره ځم؟ نو حضور و عبدالرحمن بن ابوبكر ته حكم وركئ چې دئ دي دحضرت عائشې سره در تنعيم پوري ولاړ سي نو ما د حج وروسته په ذي الحجه كي عُمره وكړه (ج) د جابر بن عبدالله رايه داده چې بغير د احرام تر ميقات مخته تير سي هغه دي را وګرزول سي (د) عبدالله بن عباس فرمائي چې يو چا د حج د نُسُكُ څخه څه هير سي يا يې پريږد دي نو وينه تويول په كار ده يعني دَم دي وركي .

[٦١١](٧) وَإِذَا اَرَادَ اَلاِحرَامَ اِغتَسَلَ اَو تَوَضَّاَ وَالغُسلُ اَفضَلُ وَلَبِسَ ثَوبَينِ جَدِيدَينِ اَو غَسِيلَينِ اِزَارًا وَرِدَاءً وَمَسَّ طِيبًا اِن كَانَ لَهُ وَصَلَّي رَكعَتَينِ وَقَالَ اَللّٰهُمَّ اِنِّي أُرِيدُ الحَجَّ فَيَسِّرهُ لِي وَتَقَبَّلهُ مِنِّي ثُمَّ يُلَبِّي عَقِيبَ صَلوتِهِ .

---

[٦١١](٧) چې كله د احرام اراده وكي نو غُسل دي وكي يا دي اَودَس وكي خو غُسل كول افضل دئ. او دوې نوي كپړې دي واغوندي يا دي دواړي منځلي سوي وي. لَنګ دي وي او پټو دي وي. او خوشبو دي ولګوي كه دده سره وي او دوه ركعت لمونځ دي وكي. او اَللّٰهُمَّ اِنِّي أُرِيدُ الحَجَّ فَيَسِّرهُ لِي وَتَقَبَّلهُ مِنِّي دي ووائي. بيا دي دلمانځه وروسته تلبيه ووائي.

تشريح د احرام د تړلو پر وخت دا شپږ سنتونه دي (١) اَودَس دي وكي يا دي غُسل وكي، خوغُسل كول بنه دئ (٢) دوې نوي كپړې دي واغُوندي (٣) خوشبو دي ولګوي (۴) دوه ركعت لمونځ دي وكي (۵) د حج يا د عُمرې نيّت دي وكي (۶) د لمانځه وروسته دي تلبيه ووائي.

وجه په دحديث كي دئ چې حضور د احرام لپاره غُسل وكئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِغتَسَلَ رَسُولُ اللهِ ثُمَّ لَبِسَ ثِيَابَهُ فَلَمَّا اَتَىٰ ذَا الحُلَيفَةَ صَلَّي رَكعَتَينِ ثُمَّ قَعَدَ عَلَىٰ بَعِيرِهِ فَلَمَّا اِستَوَىٰ بِهِ عَلَىٰ البَيدَآءِ اَحرَمَ بِالحَجِّ (الف) (دارقطني،كتاب الحج ج٢ص١٩٧نمبر٢۴٠٨\ سنن للبيهقي،باب الغسل للاهلال ج۵ص۴٩نمبر٨٩۴۵\ ترمذي شريف،باب ماجآءفي الاغتسال عندالاحرام ص١٧١نمبر٨٣٠)ددې حديث څخه معلوم سو چې د احرام لپاره غُسل وكي نو دا بهتر دئ. خو كه سهولت(آسانتيا)نه وي نو اَودس هم كفايت كوي (١) ددغه څخه معلوم سو چې د احرام كپړې دي واغُوندي (٢) په حديث كي دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِنطَلَقَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مِنَ المَدِينَةِ بَعدَ مَا تَرَجَّلَ وَادَّهَنَ وَلَبِسَ اِزَارَهُ وَرِدَائَهُ هُوَ وَاَصحَابُهُ فَلَم يَنهَ عَن شَيءٍ مِنَ الاَرديَةِ وَالأُزُرِ (ب) (بخاري شريف،باب مايلبس المحرم من الثياب والاردية والازار ص٢٠٩نمبر١۵۴۵)ددې حديث څخه معلوم سو چې كپړې ازار او پټو دي واغُوندي. ږمونځ دي ووهي او تيل يعني خوشبو دي ولګوي عَن عَائِشَةَ زَوجِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَت كُنتُ أُطِيبُ رَسُولَ اللهِ لِاحرَامِهِ حِينَ يُحرِمُ وَلِحِلِّهِ قَبلَ اَن يَّطُوفَ بِالبَيتِ (ج) (بخاري شريف،باب الطيب عندالاحرام ص٢٠٨نمبر١۵٣٩)ددې حديث څخه معلوم سو چې د احرام څخه مخكي دي خوشبو ولګوي.

فائده امام شافعي فرمائي چې داسي خوشبو دي نه لګوي چې دهغې چرم(جسم)د احرام وروسته هم پر ځائ پاته وي. ځكه چې كه د خوشبو چرم(جسم)د احرام وروسته هم پر ځائ پاته سي نو بيا خو به د احرام وروسته د خوشبو څخه فائده اخستل لازم سي چې صحيح(جائز)نه دئ. نو ځكه دارنګه خوشبو لګول جواز نه لري چې چرم يې د خوشبو وروسته هم پاته وي. مورږ وايو چې په حديث كي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت كَاَنِّي اَنظُرُ اِلَىٰ وَبِيصِ الطِّيبِ فِي مَفَارِقِ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحرِمٌ (د) (بخاري شريف،

حاشيه : (الف) حضور غُسل وكئ بيا يې كپړې واغُوستي. چې كله ذُوالحُليفه ته راغلئ نو دوه ركعت لمونځ يې وكئ بيا پر خپله وُښه باندې سپور سو. چې كله پر مقامِ بَيدآء باندې وخاتئ نو د حج احرام يې وتاړئ (ب) حضور د مديني څخه روان سو وروسته تر دې چې ږمونځ يې وكړه،تيل يې ولګول،او ازاريې واغُوستئ،او پټو يې واغُوستئ،ده او دده ملګرو نو حضور د اِزَار او پټو څخه منع نه كړل (ج) ما به و حضور ته د احرام لپاره خوشبو ورلګول كوم وخت چې ده به احرام تاړئ او ددې څخه د حلالېدو لپاره د بيتُ الله د طواف كولو څخه مخكي (د) ګواكه زه د حضور په سپنځه(سپنده)كي د خوشبو خلېدل وينم په داسي حال كي چې حضور مُحرم و.

[۶۱۲](۸) فَإِن كَانَ مُفرِدًا بِالحَجِّ نَوىٰ بِتَلبِيَةِ الحَجِّ وَالتَّلبِيَةُ اَن يَّقُولَ لَبَّيكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيكَ لَبَّيكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيكَ اِنَّ الحَمدَ وَالنِّعمَةَ لَكَ وَالمُلكُ لاَ شَرِيكَ لَكَ وَلاَ يَنبَغِي اَن يُّخِلَّ بِشَيءٍ مِّن هٰذِهِ الكَلِمَاتِ فَإِن زَادَ فِيهَا جَازَ [۶۱۳](۹) فَإِذَا لَبّىٰ

باب الطيب عندالاحرام ص۲۰۸نمبر۱۵۳۸)ددې حديث څخه معلوم سو چې د احرام وروسته که د خوشبو ځرم(جسم)باقي پاته سي نو څه حرج نه دئ. دوه رکعته لمونځ دي وکي ددې دليل شاته د دارقُطني حديث تير سو عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَهَلَّ فِي دُبُرِ الصَّلوٰةِ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء متيٰ احرم النَّبِيُّ صَلَّي الله عليه وسلم ص۱۶۹نمبر۸۱۹\ابوداؤدشريف،باب في وقت الاحرام ص۲۵۳نمبر۱۷۷۰)ددې حديث څخه معلوم سو چې د احرام د ترلوڅخه مخکې دوه رکعته نفل کول سنت دي. اَللّٰهُمَّ اِنِّي اُرِيدُ الحَجَّ فَيَسِّرهُ لِي الخ دا نيّت دئ او د هر عبادت لپاره نيّت ضروري دئ. نو ځکه دا نيّت دي وکي او د آسانتيا او د قبلېدو لپاره دي دُعآء هم وکي. د لوړ حديث څخه دا هم معلوم سو چې د لمانځه وروسته دي تَلبِيَه ووائي .

[۶۱۲](۸) بيا که چيري مُفرِد بِالحَج وي نو د تلبيي د ويلو وروسته دي د حج نيّت وکي، او تَلبِيَه داده لَبَّيكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيكَ الخ (ائ خدائ حاضر يم،حاضر يم،حاضر يم،ستا يو شريك نسته،حاضر يم،ټول تعريفون او نعمت ستا لپاره دي او مُلك ستا لپاره دئ ستا يو شريك نسته)نه دئ مُناسب چې ددې کلماتو څخه څه کم کړي،بيا که زيات کړي نو جائز دئ.

تشريح چې د حج په نيّت سره تَلبِيَه ووائي نو احرام وترِل سو.

پام لرنه لوړ چې کومه تَلبِيَه ذکر سوه په دي کې زياتوب هم کولائي سي ځکه چې دا خو ذکر دئ. او په ذکر کې زياتوب کول جائز دئ البته کمول هم جواز لري.

وجه حديث دئ عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا اِستَوَت بِهِ رَاحِلَتُهُ قَائِمَةً عِندَ مَسجِدِ ذُوالحُلَيفَةِ اَهَلَّ فَقَالَ لَبَّيكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيكَ لَبَّيكَ لاَشَرِيكَ لَكَ لَبَّيكَ اِنَّ الحَمدَ وَالنِّعمَةَ لَكَ وَالمُلكُ لاَشَرِيكَ لَكَ . قَالُوا وَكَانَ عَبدُ اللهِ بنِ عُمَرَ يَقُولُ هٰذِهِ تَلبِيَةُ رَسُولِ اللهِ قَالَ قَالَ نَافِعٌ كَانَ عَبدُ اللهِ يَزِيدُ مَعَ هٰذَا لَبَّيكَ لَبَّيكَ وَسَعدَيكَ وَالخَيرُ بِيَدَيكَ لَبَّيكَ وَالرَّغبَآءُ اِلَيكَ وَالعَمَلُ (ب) (مسلم شريف،باب التلبية وصفتهاووقتها ص۳۷۵نمبر۱۱۸۴\بخاري شريف،باب التلبية ص۲۱۰نمبر۱۵۴۹)ددې حديث څخه معلوم سو چې تلبيه به څه رنګه وائي. او د عبدالله بن عمر د عمل څخه دا هم معلوم سو چې د حضور د تلبيي څخه علاوه زياتوب هم کېدلائي سي.

[۶۱۳](۹) بس چې کله تلبيه وويل نو احرام يې وتاړئ.

تشريح چې د احرام کپړې واغوندي د حج يا د عُمرې نيّت وکي نو تلبيه به وائي بس احرام به وترِل(شروع)سي.

حاشيه : (الف) حضور به احرام تاړئ د لمانځه وروسته (ب) حضور چې به پر سوارلئ باندي سم(صحيح)سپور سو د مسجدِ ذُوالحُلَيفَه سره نو احرام به تاړئ او ويل به لَبَّيكَ الخ. عبدالله بن عمر وائي چې دا دحضور تلبيه وه. حضرت نافع فرمائي چې عبدالله بن عمر ددې سره لَبَّيكَ سَعدَيكَ وَالخَيرُ بِيَدَيكَ لَبَّيكَ وَالرَّغبَآءُ اِلَيكَ وَالعَمَلُ زياتاوئ.

فَقَداَحرَمَ [۶۱۴](۱۰) فَلَيَتَّقِ مَانَهَي اللهُ عَنهُ مِنَ الرَّفَثِ والفُسُوقِ وَالجِدَالِ [۶۱۵](۱۱)وَلاَيَقتُلُ صَيدًاوَلاَ يُشِيرُاِلَيهِ وَلاَيَدُلُّ اِلَيهِ

وجه د تلبيي و وينا ته بس احرام ترِل وائي. په حديث کې دئ عَن عَائِشَةَ زَوجِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَت خَرَجنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ ... وَاَهِلِّي بِالحَجِّ وَدَعِي العُمرَةَ (الف) (بخاري شريف،باب كيف تهل الحائض والنُّفسآءُص۲۱۱نمبر۱۵۵۶)په دې حديث کې د اَهِلِّي بِالحَجِّ ترجمه ده چې د حج احرام وتړه او دا معنيٰ يې هم ده چې د حج تلبيه ووايه. نو ځکه د احرام د ترِولو لپاره تلبيه ويل واجب ده. په تفسيرطبري کې دئ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الحَجَّ قَالَ

مَن اَهَلَ بِحَجٍّ (ب) (تفسيرطبري ج۲ص۱۵۲)ددې تفسير څخه معلوم سو چې تلبيه ويل اصل احرام دئ. نو ځکه د احرام نيّت به کوي تلبيه به وائي بس دغه احرام ترلې سو.

[۶۱۴](۱۰) بس ځان دي وګوري دهغه شيانوڅخه د کومو څخه چې الله منع کړې ده، مثلاً دجماع خبري،د فسق خبري او دجنګ خبري.

تشريح الله پاك مُحرم د جماع،جنګ او د فسق وفسوق د خبرو څخه منع کړئ دئ. مُحرم دي د احرام په حالت کي ددې خبرو څخه پرهېز وکي.

وجه فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الحَجَّ فَلاَرَفَثَ وَلاَفُسُوقَ وَلاَجِدَالَ فِي الحَجِّ(ج)(آيت ۱۹۷ سورة البقرة۲)ددې آيت څخه معلوم سوچې څوك احرام وترې هغه بايدد جماع دخبرو،د فسق د خبرو او د جنګ د خبروڅخه پرهېز وکي.

لغت : اَلرَّفَثُ ، د جماع خبري. اَلفُسُوقُ : دفسق خبري. اَلجِدَالُ : د جنګ خبري.

[۶۱۵](۱۱) بنکار دي نه قتل کوي نه دې دهغه و خوا ته اشاره کوي او نه دي پر هغه باندي رهنمائي کوي.

تشريح بنکار قتل کول،د هغه وخواته اشاره کول او دهغه پر لوري رهنمائي(لاربنونه)کول د مُحرِم لپاره دا توله حرام دي.

وجه د احرام په حالت کي د بنکار کولو حُرمت ددې آيت څخه ثابت دئ أُحِلَّ لَكُم صَيدُ البَحرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًالَّكُم وَلِسَّيَّارَةِ وَحُرِّمَ عَلَيكُم صَيدُ البَرِّ مَادُمتُم حُرُمًا (د) (آيت۹۶ سورة المائدة۵)ددې آيت څخه معلوم سو چې د سمندر(درياب)بنکارکول د احرام په حالت کي جائز دئ. لېکن د خُشکئ(د وچي)بنکارکول جواز نه لري. او دبنکار پر لوري اشاره کول يا وهغه ته رهنمائي کول جواز نه لري ددې دليل په دې حديثو کې دئ عَبدُاللهِ بنِ اَبِي قَتَادَةَ اَنَّ اَبَاهُ اَخبَرَهُ اَنَّ رَسُولَ اللهِ خَرَجَ حَاجًّا فَخَرَجُوا مَعَهُ ... فَاَكَلنَا مِن لَحمِهَا (لَحمِ الصَّيدِ) ثُمَّ قُلنَا اَنَاكُلُ لَحمَ صَيدٍ وَنَحنُ مُحرِمُونَ فَحَمَلنَا مَابَقِيَ مِن لَحمِهَا قَالَ اَمِنكُم اَحَدٌ اَمَرَهُ اَن يَّحمِلَ عَلَيهَا اَو اِشَارَ اِلَيهَا ؟ قَالُوا لاَ قَالَ فَكُلُوا مَا بَقِيَ مِن لَحمِهَا (د) (بخاري شريف،باب لايشيرالمحرم الي الصيدلِكَي يَصتَادَهُ الحلالُ ص۲۴۶نمبر۱۸۲۴) او په مُسلم شريف کي دئ هَل مِنكُم اَحَدٌ اَمَرَهُ اَو

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمائي چې موږ دحضور سره په حَجَّةُ الوِدَاع کي ووتلو ... حضور وفرمائل د حج احرام وترئ او عمره پرېږدئ (ب) په تفسير طبري کي دئ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الحَجَّ کې وفرمائل چې کوم چا چې د حج احرام وتارئ (ج) کوم چا چې حج فرض کئ نو نه خو دي د جماع خبري کوي نه دي د فسق خبري کوي او نه دي په حج کي جنګ کوي (د) او ستاسو لپاره حلال کړئ دئ د سمندر بنکار او طعام(خوراك)دسمندر ستاسو د نفع(ګټې)اخستولپاره او دسفرکونکو لپاره. او پر تاسو دځشکئ(دوچي)بنکار حرام کړل سوئ دئ تر څو چې تاسو په احرام کي ياست (د) حضور دحج لپاره راووتئ نو خلګ هم دده سره راووتل. موږ دبنکار غُوَښَه وخوړل نو موږ وويل چې موږ دبنکار غُوَښَه وخوړل حالانکه موږ په احرام کي يو. نو چې کوم غُوَښَه چاته وه هغه مو حضور ته راوړه. حضور وفرمائل آيا ستاسو څخه يوه و قتاده ته حکم ورکړئ و چې پر بنکار باندي حمله وکه يا دهغه پر لوري مو اشاره کړې وه ؟ صحابه و وويل نه ! حضور وفرمائل چې کومه ددې غُوَښَه چاته سوې ده هغه وخورئ.

[۶۱۶](۱۲) وَلاَيَلبِسُ قَمِيصًا وَلاَ سَرَاوِيلَ وَلاَ عَمَامَةَ وَلاَ قَلَنسُوَةَ وَلاَ قُبَآءَ وَلاَ خُفَّينِ اِلاَّ اِن لَم يَجِدَ نَعلَينِ فَيَقطَعُهُمَا مِن اَسفَلِ الكَعبَينِ

[۶۱۷](۱۳) وَلاَ يُغَطِّي رَاسَهُ وَلاَ وَجهَهُ .

اَشَارَ اِلَيهِ بِشَيءٍ قَالَ قَالُوا لاَ قَالَ فَكُلُوا مَا بَقِيَ مِن لَحمِهَا (الف) (مسلم شريف،باب تحريم الصيدالماكول البري او ما اصله ذالك علي المحرم.كتاب الحج ص۳۸۱نمبر۱۱۹۶\۲۸۵۵) ددې احاديثو څخه معلوم سو چې د محرم لپاره د بنکار پر خو اشاره کول يا لار بنونه کول هم جواز نه لري.

[۶۱۶](۱۲) مُحرم دي نه اَغُوندِي قميص،نه پرتوګ،نه لنګوټه،نه خولئ،نه جُبّه،نه موزې مګر چې نه وموندي چپلکي نو هغه دي تر بجلکو لاندي پرې کي.

تشريح اصول دادئ چې نرمُحرم دي ګنډلي کپړه نه اَغُوندِي. او دغه کپړې ټولي ګنډلي دي نو ځکه دغه دي نه اَغُوندِي.په دي کي دئ چې موزي دي هم نه په پښو کوي ځکه چې موزې هم ګنډلي سوي وي. خو کې چيري چپلکي نه وي نو موزي دي تر بجلکو لاندي کاټ(پرې)کي چې دچپلکو په رکم سي بيا هغه په پښو کولائي سي.

وجه ددې دليل دا حديث دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ اَنَّ رَجُلاً قَالَ يَارَسُولَ اللهِ مَا يَلبِسُ المحرِمُ مِنَ الثِّيَابِ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لاَيَلبِسُ القَمِيصَ وَلاَ العَمَائِمَ وَلاَ السَّرَاوِيلاَاتِ وَلاَ البَرَانِسَ وَلاَ الخُفَّافَ اِلاَّ اَحَدٌ لاَ يَجِدُ نَعلَينِ فَلَيلبِسَ خُفَّينِ وَلَيقطَعهُمَا اَسفَلَ مِنَ الكَعبَينِ

وَلاَ تَلبِسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيئًا مَسَّهُ زَعفَرَانٌ اَو وَرسٌ (ب) بخاري شريف،باب مالايلبس المحرم من الثياب ص۲۰۹نمبر۱۵۴۲\مسلم شريف،باب مايباح للمحرم بحج او عمرة لبسه ومالايباح ص۳۷۲\۳۷۳نمبر۱۱۷۷\ابوداؤدشريف،باب مايلبس المحرم نمبر۱۸۲۳)ددي حديث څخه معلوم سوچي قميص،پرتوگ،عمامه(لنگوټه)،او خولئ پر سر کول جواز نه لري. عمامه که څه هم ګنډلي خو نه وي لېکن په دې باندي سر پټيري او د نر مُحرِم لپاره سر پټول جواز نه لري.نو ځکه عمامه ټرل هم جواز نه لري. دغه رنګه په زعفران او ورس باندي رنګ سوی کپړه اَغُوستل هم جواز نه لري ځکه چې په دې کي خوشبو وي او د مُحرم لپاره خوشبو لګول جواز نه لري.خو چې پرېمنځي او خوشبو يې ختم سي نو بيا يې اَغُوستل جائزدئ. دغه رنګه موزي په پښو کول هم جواز نه لري خو که چيري چپلکي نه وي ورسره نو هغه دي کاټ(پري)کي د چپلکو په رکم دې جوړي کړي او په پښو دې کي.

[۶۱۷](۱۳) مُحرم دي نه سر پټوي او نه دي مخ پټوي .

وجه (۱) د سر نه پټولو حديث په مسئله نمبر۱۲کي تېرسوئ دئ وَلاَ العَمَائِمَ وَلاَ البَرَانِسَ چې عمامه(لنگوټه)دي نه ټرې او خولئ دي نه پرسر کوي. ځکه چې ددې څخه سر پټيزي (۲) او دښځي پر مخ کپړه بايد نه وي ددې دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَلمحرِمَةُ لاَ تَنتَقِبُ وَلاَ تَلبِسُ القُفَّازَينِ (ج) (ابوداؤدشريف،باب مايلبس المحرم ص۲۶۱نمبر۱۸۲۶)په دې حديث کي دئ چې مُحرمه ښځه دي نقاب(دمخ چادري.او پرده)نه کوي

حاشيه : (الف) آيا ستاسو څخه يوه وقتاده ته حکم ورکړئ و يا دښکار پر لوري يې اشاره کړې وه ؟ اصحابانو وفرمائل نه ! حضور وفرمائل کومه غُوښه چې پاته ده هغه وخورئ (ب) يوه سړي وويل ائ دخدائ رسول! مُحرم دي څه رنګه کپړه وَاغُونديِ ؟ حضور وفرمائل قميص دي نه اَغُونديِ،نه دي لنګوټه ټرې،نه دي پرتوگ اَغُوندي،نه دي خولئ پرسر کوي،نه دي موزي په پښو کوي مګر که چيري چوتي نه کړي پيدا نو دواړي موزي دي په پښو کي او دواړي دي تر بجلکو لاندي پرې کي. او دا رنګه يوه کپړه دي هم نه اَغُونديِ چې زعفران يا وَرَس پر مټنئ وي (ج) حضرت عبدالله بن عمر دحضور څخه نقل کوي چې مُحرمه ښځه دي نه نقاب(دمخ چادري)اچوي او نه دي دستکلي(دستاني)په لاس کوي .

[۶۱۸](۱۴) وَلاَ يَمَسُّ طِيبًا [۶۱۹](۱۵) وَلاَ يَحلِقُ رَاسَهُ وَلاَ شَعرَ بَدَنِهِ وَلاَ يَقُصُّ مِن لِحيَتِهِ وَلاَ مِن ظُفُرِهِ [۶۲۰](۱۶) وَلاَ يَلبِسُ ثَوبًا مَصبُوغًا بِوَرسٍ وَلاَ بِزَعفَرَانٍ وَلاَ بِعَصفَرٍ

ځکه چې ددې څخه مخ پټيري (۳) په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت كَانَ الرَّكبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحنُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مُحرِمَاتٌ، فَإِذَا حَاذُوا بِنَا سَدَلَت اِحدَانَا جِلبَابَهَا مِن رَاسِهَا عَلَيْ وَجهِهَا فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفنَاهُ (الف) (ابوداؤدشريف،باب في المحرمة تغطي وجهها ص۲۶۱نمبر۱۸۳۳)ددې حديث څخه معلوم سو چې د مُحرمې ښځې مخته يو اجنبي سړئ راسي نو پر مخ دي دليري څخه دا رنګه کپړه واچوي چې د مخ سره کپړه نه مُښلي، بيا د نر د تېرېدو وروسته دي ګپړه بيرته ليري کي.

[۶۱۸](۱۴) او مُحرم دي خوشبو نه لګوي.

وجه حديث دئ اَخبَرَنِي صَفوَانُ بنِ يَعلِيْ عَن اَبِيهِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ فَاَتَاهُ رَجُلٌ عَلَيهِ جُبَّةٌ بِهَا اَثَرٌ مِن خَلُوقٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِنِّي اُحرِمتُ بِعُمرَةٍ فَكَيفَ اَفعَلُ ... فَقَالَ اَنزِعِ عَنكَ جُبَّتَكَ وَاَغسِلِ اَثَرَ الخَلُوقِ اَلَّذِي بِكَ (ب) (مسلم شريف،باب مايباح للمحرم وبيان تحريم الطيب عليه ص۳۷۴نمبر۱۱۸۰\بخاري شريف،باب غسل الخلوق ثلٰثَ مَرَّاتٍ من الثياب ص۲۰۸نمبر۱۵۳۶)ددې حديث څخه معلوم سو چې دمُحرم لپاره خوشبولګول جواز نه لري. لوړ هم يو حديث تير سو په هغه کي دا رنګه الفاظ راغلي و وَلاَتَلبِسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيئًا مَسَّهُ زَعفَرَانٌ اَو وَرسٌ ددې څخه دا معلوم سو چې په زعفران او ورس کي خوشبو وي. ځکه دارنګه کپړه اُغوستل جواز نه لري.

[۶۱۹](۱۵) سر دي نه خرئي او نه دي دبدن ببښتان پرېکوي او نه دي پرېره کشنئ کوي او نه دي نوکان کشني کوي .

وجه په آيت کي راغلي دي وَلاَ تَحلِقُوا رُؤُوسَكُم حَتّيٰ يَبلُغَ الهَديُ مَحِلَّهُ فَمَن كَانَ مِنكُم مَرِيضًا اَو بِهِ اَذًا مِّن رَاسِهِ فَفِديَةٌ مِن صِيَامٍ اَو صَدَقَةٍ اَو نُسُكٍ (ج) (آيت ۱۹۶سورة البقرة۲)ددې آيت څخه معلوم سو چې مُحرم دي د سر يا بدن ببښتان نه پرېکوي. که ببښتان پرېکل نو صدقه به ورکوي يا به روژې نيسي يا به دم ورکوي. د نوکانو په لړ کي دا اثر دئ عَنِ الحَسَنِ

وَعَطَآءَ قَالَ اِذَا اِنكَسَرَ ظُفرُهُ قلَّمَهُ مِن حَيثُ اِنكَسَرَ وَلَيسَ عَلَيهِ شَيئٌ فَاِن قَلَّمَهُ مِن قَبلِ اَن اِنكَسَرَ فَعَلَيهِ دَمٌ (مصنف ابن ابي شيبة١٢في المحرم يقص ظفره ج٣ص١٣٠نمبر١٢٧٥٦)

لـغـت : يَقُصُّ : كشني كول،پرېكول،

[٦٢٠](١٦) او نه دي اَغُوندي په وَرَس باندي رنګېدلي كپړه او نه په زعفران سره او نه په عَصفَر(چي يوقسم ژړرنګ دئ كپړي په رنګيږي)مګر دا چي پرېمنځلي وي كه څه هم رنګ نه وي ځني توئي سوئ.

تـشريـح په دې رنګو كي خوشبو وي او د مُحرم لپاره خوشبوئي لګول جائز نه ده نو ځكه په دې رنګوسره رنګېدلي كپړه دي نه اَغُوندِي. خو كه چيري كپړه پرېمنحل سوې وي نو بيا جائز دئ

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمائي چي زمونږ دمخه سواران(سپاره خلك)تېرېدل او مونږ به په احرام كي و د حضور سره، نو چي كله به دوئي زمونږ مخته راتلو نو زمونږ څخه به هري يوې خپل پرونئ خراوئ د خپله سر څخه پر خپل مخ باندي، بس چي كله به زمونږ څخه تېرېدل نو مونږ به مخ خلاص وئ (ب) حضور وفرمائل خپله چپنه خلاص كه او كوم چي پر تا باندي دخلوق اثر دئ هغه پرېمنځه (ج) خپل سَر مه خروئ ترهغو چي هدي وخپل ځائ ته ورسيږي نو د تاسو څخه چي كوم ناجوړه وي يا دده په سر كي تكليف وي نو فديه وركول دئ د روژې څخه يا د صدقې څخه يا د دَم څخه .

اِلاَّ اَن يَّكُونَ غَسِيلاً وَلاَ يَنفَضُ الصَّبغَ [٦٢١](١٧) وَلاَ بَاسَ بِاَن يَّغتَسِلَ وَيَدخُلَ الحَمَّامَ [٦٢٢](١٨) وَيَستَظِلُّ بِالبَيتِ وَالمِحمَلِ .

كه څه هم رنګ نه وي تللئ لېكن خوشبو يې ختم سوې وي نو جائز دئ. ځكه چي مقصد خوشبو ختم كول دئ د رنګ جِرم(بدن)ختم كول نه دئ .

وجـه حديث دئ (١) عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ اَنَّ رَجُلاً قَالَ يَارَسُولَ اللهِ مَايَلبَسُ المحرِمُ مِنَ الثِّيَابِ ... وَلاتَلبِسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيئًا مَسَّهُ زَعفَرَانٌ اَو وَرسٌ (الف) (بخاري شريف،باب مايلبس المحرم من الثياب ص٢٠٩نمبر١٥٤٢\مسلم شريف،باب مايباح للمحرم وبيان تحريم الطيب عليه ص٣٧٢\٣٧٣نمبر١١٧٧)ددې حدث څخه معلوم سو چي په وَرَس او زَعفَرَان او عَصفَر باندي رنګېدلي كپړه دي نه اَغُوندِي.خو كه چيري خوشبو پرېمنځل سي نو بيا يې اَغُوستل جائز دي. ددې دليل په دې حديث كي دئ (٢) اَنَّ صَفوَانَ بنِ يَعليٰ قَالَ لِعُمَرَ اَرِنِي النَّبِيّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ... فَقَالَ اَغسِلِ الطِّيبَ الَّذِي بِكَ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ وَاَنزِعِ عَنكَ الجُبَّةَ (ب) (بخاري شريف،باب غسل الخلوق ثلث مَرَّاتٍ من الثياب ص٢٠٨نمبر١٥٣٦)ددې حديث څخه معلوم سو چي كپړه پرېمنځي او خوشبوځني ختم سي نو بيا په اَغُوستائي سي.

فـائـده امام شافعي فرمائي چي په عَصفَر سره رنګ سوې كپړه اَغُوستائي سي (١) دئ فرمائي چي په عَصفَر كي خوشبو نه وي (٢) وَلَبِسَت عَائِشَةُ اَلثِّيَابَ المعَصفَرَةَ وَهِيَ مُحرِمَةٌ وَقَالَ جَابِرٌ لاَ اَدرِي المعَصفَرَ طِيبًا (ج) (بخاري شريف،باب مايلبس المحرم من الثياب والاردية ص٢٠٩نمبر١٥٤٥)ددې اثر څخه معلوميږي چي په عَصفَر رنګ كي خوشبو نه وي.

[٦٢١](١٧) هيڅ دحرج خبره نه ده چي مُحرم غُسل وكي او په غُسل خانه كي داخل سي.

وجـه حديث دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ عَبَّاسٍ وَالمِسوَرُ بنِ مَخرَمَةَ اِختَلَفَا بِالاَبوَآءِ فَقَالَ اِبنُ عَبَّاسٍ يَغسِلُ المحرِمُ رَاسَهُ ... قَالَ فَصُبَّ عَليٰ رَاسِهِ ثُمَّ حَرَّكَ اَبُوَايُّوبَ رَاسَهُ بِيَدَيهِ فَاَقبَلَ بِهِمَا وَاَدبَرَ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا رَاَيتُهُ يَفعَلُ (د) (ابوداؤدشريف،باب المحرم يغتسل ص٢٦٢نمبر١١٨٤\مسلم شريف،باب جوازغسل المحرم بدنه وراسه ص٣٨٣نمبر١٢٠٥)ددې حديث څخه معلوم سو چي مُحرم غُسل كولائي سي او چي غُسل كولائي سي نو غُسل خاني ته هم داخلېدائي سي.

[٦٢٢](١٨) د كور څخه او د كجاوې څخه سايه حاصلولائي سي.

وجـه (١) د كور څخه يا د كجاوې څخه په سايه حاصلولو كي پر سر باندي كپړه نه اښول كيږي. چي خپمه وي نو هم دسر څخه ليري وي نو ځكه سايه حاصلول جائز ده. او ددې ضرورت هم پېښيږي (٢) په حديث كي دئ عَن اُمِّ الحُصَينِ حَدَّثَتهُ قَالَت حَجَّجنَا مَعَ النَّبِيّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ حَجَّةَ الوِدَاعِ فَرَاَيتُ اُسَامَةَ وَبِلاَلاً وَاَحَدُهُمَا اَخَذَ بِخِطَامِ نَاقَةِ النَّبِيّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَالآخَرُ رَافِعُ ثَوبَهُ يَستُرُهُ مِنَ الحَرّ حَتّٰي رَمٰي

حاشيه : (الف) يوه سړي وويل ائ دخدائ رسول ! مُحرم دي كومه كپړه اَغوندي ... مه اَغُونده دا رنګه كپړه چې په هغه كې د زَعفران يا د وَرس رنګ لګېدلئ وي (ب) حضور وفرمائل دا خوشبو چې لګېدلي ده دري واره پريمنځه. او دځان څخه جُبّه خلاص كه (ج) حضرت عائشي په عَصفَر لګېدلي كپړه واغُوستله حال دا و چې دا مُحرِمَه وه، او جابر وفرمائل عَصفَر زه خوشبو نه ګڼم (د) حضرت عبدالله ابن عبّاس او مُسوّربن مَخرَمَه په مقام اَبوآء كې اختلاف وكئ. عبدالله بن عبّاس وفرمائل چې مُحرم سر پريمنځلائي سي ... حضرت ابوايّوب پر سر باندي أوبَه توئي كړي بيا يي په دواړو لاسوباندي و خپل سر ته حركت وركئ بيايي هغه پر مخ او شا كئ بيا يه وفرمائل دغه رنګه مي حضور وليدئ كول يي.

[۶۲۳](۱۹) وَيَشُدُّ فِي وَسطِهِ اَلهَمِيَانَ [۶۲۴](۲۰) وَلاَيَغسِلُ رَاسَهُ وَلاَ لِحيَتَهُ بِالخِطمِيِّ [۶۲۵](۲۱) وَيُكثِرُ مِنَ التَّلبِيَةِ عَقِيبَ الصَّلوَاتِ كُلَّمَا عَلِيَ شَرَفًا اَو هَبَطَ وَادِيًا

جَمرَةَ العَقَبَةَ (الف) (ابوداؤدشريف،باب في المحرم يظلل ص۲۶۱\۲۶۲نمبر۱۸۳۴)ددي حديث څخه معلوم سوچي مُحرم سايه حاصلولائي سي. ځكه چې حضور د كپړي څخه سايه حاصل كړي ده.

[۶۲۳](۱۹) مُحرم په ملا(شا)كي هميانئ تړلائي سي.

تشريح هميانئ يوه ګنډلي تبلئ وي چې مُحرم په هغه كي پيسي اړدي (۱) د پيسو اښولو خو ضرورت پيښيږي نو ځكه د مُحرِم لپاره ددي ګُنجائش سته (۲) هميانئ پر بدن نه اَغُستل كيږي بلكه صرف پر بدن تړل كيږي. نو ځكه په دي كې څه حرج نسته (۳) په اثر كې راغلي دي سَاَلتُ اَبَاجَعفَرَ وَعَطَآءَ عَنِ الهَمِيَانِ لِلمُحرِمِ فَقَالَ لاَ بَاسَ بِهِ (ب) (بخاري شريف،باب الطيب عندالاحرام ص۲۰۸نمبر۱۵۳۷\مصنف ابن ابي شيبة ۴۳۴في الهميان للمحرم ج۳ص۳۹۳نمبر۱۵۴۴۴)ددي اثر څخه معلوم سو چې مُحرم هميانئ تړلائي سي.

[۶۲۴](۲۰) خپل سر او ږيره دي په خِطمِي سره نه پريمنځي.

وجه خِطمِي دِپره صفائي راولي او دحاجي لپاره ځان څه خِرَن ساتل ښه كار دئ نو ځكه سر او ږيره دي په خِطمِي سره نه پريمنځي. دغه رنګه په دي كي لږ څه خوشبو هم وي نو په دغه وجه هم ددي استعمال ښه نه دئ. دځان خِرَن ساتلو لپاره دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَامَ رَجُلٌ اِلَيِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَايُوجِبُ الحَجَّ ؟ قَالَ اَلزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ قَالَ يَارَسُولَ اللهِ فَمَا الحَجُّ قَالَ اَلشَّعثُ التَّفِلُ (ج) (ابن ماجه شريف،باب مايوجب الحج ص۴۱۹نمبر۲۸۹۶)ددي حديث څخه معلوم سو چې حاجي بايد څه خِرَن پرَن وي.

لغت : اَلخِطمِيُّ : دا يو قسم شيئ دئ چې په اردو ژبه كي ګُلِ خِيرُو په فارسي او هندي كي ريشۀ خِطمي او په انګريزي كي مارش ميلو(marsh.mallow)ورته وائي. په دي باندي بېښتان او دغه رنګه نورشيان صفآء كوي او لږ څه خوشبو هم پكښي وي.

[۶۲۵](۲۱) دلمانځه وروسته دي په دِپرښت سره تلبيه وائي. چې كله پر يو لوړځائ باندي وخيژي. يا په يو شَلَه كي كښته شوه سي يا د يو قافلي د خلګو سره ملاقات وكي او د سهار په وخت كي.

تشريح د دوه ركعته لمونځ وروسته چې احرام وتړي دهغه وروسته دي په كثرت سره هر وخت تلبيه وائي. پر لوړ ځائ دختلو په وخت كي،ويو شَلَه ته كښته د شوه كېدو پر وخت،دقافلو سره د ملاقات پر وخت او دپښلمي(تهجد)پر وخت دي په خاص توګه دِپره دِپره تلبيه وائي.

وجه (۱) د احرام په حالت كي تلبيه په لمانځه كي د تكبير په ركم ده. لكه څه رنګه چې په لمانځه كي د ولاړېدو او كښېنستو په وخت كي تكبير ويل كيږي دغه رنګه به د ولاړېدو او كښېنستو په وخت كې تلبيه ويل كيږي (۲) په حديث كي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَامَ رَجُلٌ اِلَيِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَا يُوجِبُ الحَجَّ ؟ قَالَ

حاشيه : (الف) اُمُّ الحُصَين بيان كوي چې مورِ دحضور سره په حَجَّةُ الوِدَاع كي حج وكئ نو اسامه او بلال او د دوئي څخه مو يو وليدئ چې دحضور د وُښي مَهَار يه نيولئ و. او هغه بل كپړه پورت نيولي د ګرمئ څخه پر حضور باندي پرده كوله. تردي چې جَمرَةُ العَقَبَه يې وكه (ب) دحضرت جعفر او عطآء څخه د مُحرم لپاره د هميانئ په باب پوښتنه وكړه ؟ نو وفرمائل په دي كې څه حرج نسته (ج) يو سړئ دحضور په مخكي ودرېدئ او پوښتنه وكړه ائ دخدائ پيغمبره حج دكوم شي څخه واجبيږي ؟ وفرمائل د توشي او كجاوي د مالك جوړېدو څخه. پوښتنه وكړه حج به څه رنګه وي ؟ وفرمائل خِرَن او يَلَه بِلَه ببښتانُ والا به وي.

اَو لَقِيَ رُكبَانًا وَبِالأَسحَارِ [۶۲۶](۲۲) فَاِذَا دَخَلَ بِمَكَّةَ اِبتَدَاَ بِالمسجِدِ الحَرَامِ فَاِذَا عَايَنَ البَيتَ كَبَّرَ وَهَلَّلَ ثُمَّ اِبتَدَاَ بِالحَجَرِ الأَسوَدِ فَاستَقبَلَهُ وَكَبَّرَ وَهَلَّلَ .

اَلزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ قَالَ يَارَسُولَ اللهِ فَمَا الحَجُّ ؟ قَالَ اَلشَّعثُ التَّفِلُ وَقَامَ آخَرُ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ وَمَا الحَجُّ قَالَ اَلعَجُّ وَالثَّجُّ قَالَ وَكِيعٌ يُعنِيْ بِالعَجِّ اَلعَجِيجُ بِالتَّلبِيَةِ وَالثَّجِّ نَحرُالبَدَنِ (الف) (ابن ماجه شريف،باب يوجب الحج ص۴۱۹نمبر۲۸۹۶)په دي حديث کي د اَلعَجُّ لفظ راغلئ دئ چې ترجمه يې په خپله حضرت وکيع کړي ده يعني په ډېرښت سره تلبيه ويل. نو ځکه بار بار تلبيه ويل ښه کار دئ.

لـغت : شَعِثًا : لوړ ځائ. هَبَطَ : کښته را شوه سو.

[۶۲۶](۲۲) بيا چې کله مَکّې ته داخل سي نو د مسجد حرام ځخه دي شروع کي.بيا چې کله بَيتُ الله ښکاره سي نو تکبير دي ووائي او لاَاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ دي ووائي بيادي دحجرِ اَسوَدځخه شروع کي او دهغې استقبال دي وکي او تکبيردي ووائي او تَهلِيل دي ووائي.

تشريح مَکّه مُکرّمه ته د داخلېدو ورسته تر تولو اَوّل کار د طواف قُدوم تيّاري کول ده.نو ځکه مَکّه مُکرّمه ته دداخلېدو وروسته دي مَسجِدِحَرَام ته ولاړ سي او چې بيتُ الله ښکاره سي نو دهغې دتعظيم لپاره دي تکبير او تَهلِيل ووائي بيا دي دحَجَرِاَسوَد استقبال وکي او دتکبير او تَهلِيل د وينا سره دي لاسونه پورته کي او حجرِاَسود دي مَچَه کړي.

وجه اَخبَرَتنِي عَائِشَةُ اَنَّ اَوَّلَ شَيئٍ بَدَاَ بِهِ حِينَ قَدِمَ النَّبِيُّ اَنَّهُ تَوَضَّاَ ثُمَّ طَافَ (ب) (بخاري شريف،باب من طاف بالبيت اذا قدم مكة قبل ان يرجع الىٰ بيته ص۲۱۹نمبر۱۶۱۴\مسلم شريف،باب بيان ان المحرم بعُمرة لايتحلل بالطواف قبل السعي ص۴۰۵نمبر۱۲۳۵)ددي حديث ځخه معلوم سو چې مَکّه مُکرّمه ته د راتلو وروسته دي اول دبيتُ الله طواف وکي. چې ځه رنګه بيتُ الله ووينې فورًا دي تکبير او تَهلِيل ووائي ددي دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ جُرَيجٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا رَاَي البَيتَ رَفَعَ يَدَيهِ وَقَالَ اَللّٰهُمَّ زِد هٰذَا البَيتَ تَشرِيفًا وَّ تَعظِيمًا الخ (ج) (سنن للبيهقي،باب القول عندرؤية البيت ج۵ص۱۱۸نمبر۹۲۱۳\ترمذي شريف،باب ماجآءفي كراهية رفع اليدين عندرؤية البيت ص۱۷۴نمبر۸۵۵)ددي حديث ځخه معلوم سوچي د بيتُ الله دليدلو پر وخت لاس پورته کول په کار دي.

فائده په يو بل حديث کي راغلي دي عَن عُمَرَبنِ خَطَّابٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَا عُمَرُ ! اِنَّكَ رَجُلٌ قَوِيٌّ لاَ تُؤذِ الضَّعِيفَ اِذَا اَرَدتَ اِستِلاَمَ الحَجَرِ فَاِن خَلاَ لَكَ فَاستَلِمهُ وَاِلاَّ فَاستَقبِلهُ وَكَبِّر (د) (سنن للبيهقي،باب

حاشيه : (الف) يو سړئ دحضور په مخکي ولاړسو او پوښتنه وکړه ائ دخدائ رسول ! حج دکوم شي ځخه واجبيږي؟ وفرمائل د توشي او کجاوي ځخه. پوښتنه وکړه ائ دخدائ رسول! حاجي بايد ځه رنګه وي؟ وفرمائل خِرَن پِرَن او خواره واره ببښتانو والا. يو بل صحابي ولاړ سو او پوښتنه وکړه ائ دخدائ رسول ! حج ځه شي دي ؟ وفرمائل تلبيه ويل او وينه تويول (ب) حضرت عائشه فرمائي حضور چې کله مَکّي ته تشريف راوړي نو تر تولو اوّل شيئ چې شروع يې کړئ دا چې اَودَس يې وکئ او د بيتُ الله طواف يې وکئ (ج) حضور چې به بيتُ الله ليدله نو لاس به پورته کاوئ او دا دُعآء به ويله اَللّٰهُمَّ الخ (د) حضور وفرمائل ائ عُمر ! ته طاقت ور سړئ يې وکمزوري ته تکليف مه ورکوه. چې کله ته ډېره مَچَه کوې نو چې ځائ خالي وي خو حَجَرِاَسوَد مَچَه کوه که نه نو بيا ددي استقبال کوه او تکبير وايه .

[۶۲۷](۲۳) وَرَفَعَ يَدَيهِ مَعَ التَّكبِيرِ وَاِستَلَمَهُ وَقَبَّلَهُ اِنِ اِستَطَاعَ مِن غَيرِ اَن يُّؤذِي مُسلِمًا [۶۲۸](۲۴) ثُمَّ اَخَذَ عَن يَّمِينِهِ مَا يَلِيَ البَابَ [۶۲۹](۲۵) وَقَد اِضطَبَعَ رِدَآئَهُ قَبلَ ذَالِكَ .

الاستلام في الزحام ج۵ص۱۳۰نمبر۹۲۶۱\بخاري شريف،باب تقبيل الحجرص۲۱۹نمبر۱۶۱۰)ددي حديث ځخه معلوم سو چې د حجرِاسود استلام دي وکي او تکبير دي ووائي او که موقع وه نو حجرِاسود دي مَچَه کي .

[۶۲۷](۲۳) دتکبير سره سره دي لاسونه پورته کي او د حجرِاسود استلام دي وکي او مَچَه دې کي که و يو مُسلمان ته د تکليف ورکولو بغيره ممکن وي .

تـشريـح كه و يو مُسلمان ته د تكليف وركولو بغيره د حجرِاسود مَچَه كول ممكن وي نـو مَچَـه دې كـي. او كـه د تكليف وركولو بغيره ممكن نه وي نو بيا دې نه مَچَه كوي صرف لاس دي پورته كي تكبير دي ووائي او مخته دي ولاړسي.

وجـه لوړ دفائدې تحت عنوان كي حديث تير سو چي وحضـرت عُمـر تـه حضـور وفرمائـل يَا عُمَرُ اِنَّكَ رَجُلٌ قَوِيٌّ لاَ تُـؤذِي الضَّـعِيفَ اِذَا اَرَدتَّ اِستِلاَمَ الحَجَـرِ فَـاِن خَـلاَ لَـكَ فَاسـتَلِمهُ وَاِلاَّ فَاسـتَقبِلهُ وَكَـبِّر (الـف) (سـنن للبيهقـي،باب الاسـتلام في الزحـام ج٥ص١٣٠نمبر٩٢٦١)ددې حديث څخـه معلـوم سـو چـي كـه زَحمَه(رَش)نـه وي خـو حَجَرِاَسوَد دي مَچَـه كـي او كـه زَحمَه(رَش)وي او وخلګو ته د تكليف وركولو خطره وي نـو لاس دي پورتـه كـي تكبيـر دي ووائـي او مختـه دي ولاړ سي.

[٦٢٨](٢٤) بيا دي د بيتُ الله د دروازې څخه د بنې جانب(اړخ)څخه شروع كي.

وجـه حـديث دئ عَن جَابِرٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ دَخَلَ المسجِدَ فَاستَلَمَ الحَجَرَ ثُمَّ مَضيٰ عَلَيٰ يَمِينِهِ فَرَمَلَ ثَلاثًا وَمَشيٰ اَربَعًا (ب) (نسائي شريف،باب كيف يطوف اول ما يقدم وعلي اَيّ شِقَّيه ياخذج٢ص٣٠نمبر٢٩٤٢\بخاري شريف،باب استلام الحجرالاسودحين يقدم ص٢١٨نمبر١٦٠٣)ددې حديث څخه معلوم سو چي د حَجَرِاَسوَد دښـي جانب(اړخ)څخـه دي طـواف شروع كي او په طَوَافِ قُدُوم كي دي په اولو درو چكرو كي رَمَل وكي او په دا نـورو پـاتو څلـور چكـرو كـي دي پـر خپل هيئت تګ كوي.

[٦٢٩](٢٥) او ددې څخه مخكي دې دخپل پټو اِضطِبَاع كړي وي.

تـشريـح چي طَوَافِ قُدُوم كوي نو د خپل پټو اِضطِبَاع به كـوي.د اِضطِبَاع مطلـب دادئ چـي پټـو دي د بنـي بَغَـل څخـه لاندي را وباسي پر كنې وړه دې واچوي.

وجـه عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَاَصحَابَهُ اِعتَمَرُوا مِنَ الجِعِرَّانَةِ فَرَمَلُوا بِالبَيتِ وَجَعَلُوا اَردِيَتَهُم تَحتَ اِبَاطِهِم قَد قَذَفُوهَا عَلَيٰ عَوَاتِقِهِمُ اليُسريٰ (ج) (ابوداؤدشريف،باب الاضطباع في الطواف ص٢٦٦نمبر١٨٨٤)ددې حديث څخه معلوم سـو چـي د طـواف شروع كولو څخه مخكي دي دخپل پټو اِضطِبَاع وكي .

حاشيه : (الف) ائ عمر ! ته طاقت ور سړئ يي،و كمزوري ته تكليف مه وركوه. چي كله ته دِبره مَچَه كـوي. نـو كـه چيـري خـائ خـالي وي نو حَجَرِاَسوَد مَچَه كه. كه نه نو بيا ددې استقبال وكه. او تكبير ووايه (ب) حضور چي مَكّي ته راغلئ نو مسجدحرام تـه داخـل سـو او حَجَرِاَسوَد يې مَچَه كړه او د بنې جانب لخوا تير سو. نو په دري اَوّلُو شَوطُو(چكرو)كې رَمَل وكئ او په څلورو كي پر خپـل هيئـت روان و (ج) حضور او دده ملګرو د مقام جِعِرَّانَة څخه عُمره ادآء كړه او د بيتُ الله په طواف كي رَمَل وكئ او خپل پټوګان يې تر بَغَلو لانـدې كـړل او هغه يې پر بنئ وړو باندې واچول .

[٦٣٠](٢٦) فَيَطُوفُ بِالبَيتِ سَبعَةَ اَشوَاطٍ وَيَجعَلُ طَوافَهُ مِن وَرَاءِ الحَطِيمِ [٦٣١](٢٧) وَيَرمَلُ فِي الأَشوَاطِ الثَّلٰثِ الأُوَلِ وَيَمشِي فِي مَا بَقِيَ عَلَيٰ هَيئَتِهِ .

---

[٦٣٠](٢٦) د بيتُ الله دي اُوه شوطه طواف وكي او خپل طواف دي دحطيم څخه شروع كي.

وجـه د اُوه شوطه طواف كولو دليل دا حـديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ سَعَي النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ثَلٰثَةَ اَشوَاطٍ وَمَشَي اَربَعَةً فِي الحَـجِّ وَالعُمـرَةِ (الـف) (بخـاري شـريف،باب الرمـل في الحـج والعمـرة ص٢١٨نمـبر١٦٠٤\٣١٦٠٣ ابوداؤدشـريف،باب في الرمـل ص٢٦٦نمبر١٨٨٦)ددې حديث څخه معلوم سو چي په طواف كي دي اُوه واره د بيتُ الله پر څلورو خواو چكر ولګوي ودې ته اُوه شوطه وائي. او دا هم معلوم سو چي په اَوّلُو درو كي به رَمَل كوي او په دا پاته څلورو كي به پـر خپـل هيئت باندې تګ كوي. او د حطيم وشاته د طواف كولو دليل دا دئ (١) چـي حطـيم هـم د بيتُ الله حصّـه(برخه)ده.

قريشو چي د بيتُ الله تعمير كاوئ نو د خرچي(پيسو)دكمئ په وجه دغه حصّه(برخه)پريښوه نو ځكه داهم په حقيقت كي د بَيتُ الله حصّه(برخه)ده. نو ځكه ددي څخه وروسته(وشاته)به طواف كوي (٢) حديث دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت كُنتُ أُحِبُّ اَن اَدخُلَ البَيتَ فَاُصَلِّي فِيهِ فَاَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِيَدِي فَاَدخَلَنِيَ الحَجَرَ وَقَالَ صَلِّي فِي الحَجَرِ اِن اَرَدتِّ دُخُولَ البَيتِ فَاِنَّمَا هُوَ قِطعَةٌ مِّنَ البَيتِ وَلٰكِن قَومَكِ اِستَقصَرُوهُ حِينَ بَنَوا اَلكَعبَةَ فَاَخرَجُوهُ مِنَ البَيتِ (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآءفي الصلوة في الحجرص١٧٧نمبر٨٧٦\ابوداؤدشريف،باب الصلوة في الحجرص٢٨٤نمبر٢٠٢٨)ددي حديث څخه معلوم سو چي حطيم چي حَجَر هم ورته وائي د بيتُ الله حصّه(برخه)ده. په دي كي لمونځ كول ګواكه په بيتُ الله كي د ټَنَه لمونځ كول دئ. نو ځكه دحطيم څخه د باندي(باهر)طواف كول په كار دئ (٣) عَن عَطَآءَ فِي رَجُلٍ طَافَ فَكَانَ مِن طَوَافِهِ دُخُولاً فِي الحَجَرِقَالَ لاَيَعتَدُّبِمَاكَانَ مِن دُخُولِ الحَجَرِ(مصنف ابن ابي شيبة ١٨٩في الرجل يطوف بالبيت فيكون من طوافه دخولاً في الحجرج٣ص١٣٩٣٧)ددي اثر څخه معلوم سو چي كه په حطيم كي د ټَنَه داخل سو طواف يي وكئ نو دا طواف مُعتبر نه دئ نو ځكه د حطيم څخه دي دباندي طواف كوي.

[٦٣١](٢٧) په دري اوّلو شوطو كي دي رَمَل كوي او په دا نورو كي دي پر خپل هيئت باندي تګ كوي.

تشريح د طوافِ قُدُوم په اوّلو درو شوطو كي دي پهلواني كوي او په دا پاتې څلورو چكرو كي دي پر خپل حالت باندي تګ كوي.

وجه (١) د رَمَل(پهلوانئ)كولو دليل په مسئله نمبر٢٦كي حديث تير سو. خو د پهلوانانو په ركم د تګ كولو وجه داوه چي صحابه د مَدِيني طَيِّبي څخه مَكّي مُكرّمي ته د عُمري لپاره راغلو نو دمَكّي كافرانو وويل چي د مَدِيني آبُ و هوا دوئي كمزوري كړي دي. حضور چي دا واؤربدل نو وصحابه ته حكم وكړئ چي د پهلوانئ په تګ سره طواف وكئ نو صحابه كرامو د پهلوانانو د تګ په ركم طواف وكئ. د درو طوافو(چكرو)وروسته دوئي(كافران)وتبنتبدل نو يي په دا نورو پاتې څلوروطوافو(چكرو)كي پر خپل هيئت باندي د تللو حكم وكئ (٢) په حديث كي دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ المشرِكُونَ اِنَّهُ يَقدِمُ عَلَيكُم وَفدٌ وَهَنَهُم حَميٰ يَثرَبٍ فَاَمَرَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَن يَّرمُلُوا

حاشيه : (الف) حضور سعي وكي په دري شوطو كي او تګ يي وكئ په څلورو كي په حج كي او په عمره كي (ب) حضرت عائشه فرمائي چي ما غُوښتله چي زه بيتُ الله ته داخله سم او لمونځ وكم نو حضور زما لاس ونيوئ او زه يي حطيم ته داخله كړم او وفرمائل په حطيم كي لمونځ وكه. كه ته بَيتُ الله ته داخلېدل غواړي ځكه چي دا هم د بيتُ الله تكړه(حصّه)ده. لېكن سنتا د قوم خرچه(پيسي)كمه سوه چي كله دا جوړه كړه نو دوئي د بَيتُ الله څخه دباندي ويستله .

[٦٣٢](٢٨) وَيَستَلِمُ الحَجَرَ كُلَّمَا مَرَّ بِهِ اِنِ استَطَاعَ [٦٣٣](٢٩) وَيَختِمُ بِالاِستِلاَمِ الطَّوَافَ [٦٣٤](٣٠) ثُمَّ يَاتِي المَقَامَ فَيُصَلِّي عِندَهُ رَكعَتَينِ اَو حَيثُ مَ تَيَسَّرَ مِنَ

اَلاَشوَاطَ الثَّلٰثَةَ وَاَن يَّمشُوا مَا بَينَ الرُّكنَينِ (الف) (بخاري شريف،باب كيف كان بدءُ الرمل ص ٢١٨ نمبر١٦٠٢\ ابوداؤدشريف،باب في الرمل ص٢٦٦نمبر١٨٨٦)ددي حديث څخه معلوم سو چي د رَمَل ابتدآء څه رنګه وسوه .

لغت : يَرمَلُ : په پهلواني سره تلل، اَلاَشوَاطُ : د شَوطٌ جمع ده د طواف و يوه چكر ته شَوط ويل كيږي، هَيئَتِهِ : پر خپل حالت باندي،

[٦٣٢](٢٨) حجراسود دي مَچَوِي هر كله چي ددي سره تبريږي كه چيري مُمكن وي.

تشريح هر كله چي د حجراسود سره تبريږي كه مَچَه وَلاَئي سوه مَچَه دي كي كه نه سوه مَچَه وَلاَئي نو په لاس دي اشاره ورته وكي او تكبير دي ووائي عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ طَافَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِالبَيتِ عَلٰي بَعِيرٍ كُلَّمَا اَتيٰ الرُّكنَ اَشَارَ اِلَيهِ بِشَيئٍ عِندَهُ وَكَبَّرَ (ب) (بخاري شريف،باب من اشار الي الركن اذا اتيٰ اليه ص٢١٩نمبر١٦١٣)ددي حديث څخه معلوم چي هر كله د حجراسود سره تبريږي مَچَه كوي دي. او كه نه سوه مَچَه كولائي نو اشاره دي ورته وكي او تكبير دي ووائي عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لاَ يَدَعُ اَن يَّستَلِمَ الرُّكنَ اليَمَانِيَّ وَالحَجَرَ فِي كُلِّ طَوَافِهِ قَالَ وَكَانَ عَبدُاللهِ بنِ عُمَرَ يَفعَلُهُ (ج) (ابوداؤدشريف،باب استلام الاركان ص٢٦٥نمبر١٨٧٦\بخاري شريف،نمبر١٦١١)

پـــام لـــرنـــه دلته د رُکن ځخه مُراد حَجَرِاَسوَد ده.
[۶۳۳](۲۹) او په مَچَوَلُو سره دي طواف ختم کي.
تـشريـح چي اُوَم طواف(شوط)ختم کي نو په آخر کي دي هم حجراسود مچ کړي او په مچکولو سره دي طواف ختم کړي.
وجـه حـديث دئ عَن عبدِالرَّحمٰنِ بنِ صَفوَانٍ ... فَرَاَيتُ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَدخَرَجَ مِنَ الكَعبَةِ هُوَ وَاَصحَابُهُ قَد اِستَلَمُوا البَيتَ مِنَ البَابِ اِلِيٰ الحَطِيمِ وَقَد وَضَعُوا خُدُودَهُم عَلَيٰ البَيتِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي وَسطِهِم (د) (سنن للبيهقي،باب الملتزم ج۵ص۱۵۰نمبر۹۳۳۱)ددي حديث ځخه معلوم سو چي په آخر کي هم بَيتُ الله مَچَه کول په کار ده.
[۶۳۴](۳۰) بيا دي مقام ابراهيم ته راسي او دهغه سره دي دوه رکعته لمونځ وکي يا په مسجد کي چي چيري وده ته آسان وي.
تـشريـح د طواف اُوَه شوط پوره کولو وروسته دي ومقام ابراهيم ته راسي او دوه رکعته لمونځ دي وکي.

حاشيه : (الف) حضرت ابن عباس فرمائي چي حضور او دده ملګري مکّي نه راغله نو مشرکانو وويل سنا سو و مخنه دارنګه وګډ راغلئ دئ چي د مَدِيني تبي کمزوري کړي دي. نو حضور ودوئي ته حکم وکئ چي په درو اوّلو شوطو کي دي په پهلوانئ سره تګ وکي او د رُکنِ يَمَانِي او رُکنِ شَامِي په مابين کي دي سوکه تګ وکړي (ب) حضور د بَيتُ الله طواف پر وُښ باندي سپور وکئ. هر کله چي به حجراسود ته راتلئ نو وهغي ته به اشاره کوله او تکبير به وايئ (ج) حضور په هر طواف کي د رُکنِ يَمَانِي او حجراسود استلام نه پرېښوئ او وفرمائل چي عبدالله بن عمر هم دغه رنګه کول (د) ما حضور وليدئ چي دئ او دده ملګري د بَيتُ الله ځخه را ووتل او دوئي د بَيتُ الله د دروازې ځخه تر حطيم پوري مَچَه کړل او خپل بارخوګان يي پر بَيتُ الله باندي کښېښول او حضور د اصحابانو په مابين کي و .
المسجِدِ [۶۳۵](۳۱) وَ هٰذَا الطَّوَافُ طَوَافُ القُدُومِ وَهُوَ سُنَّةٌ وَلَيسَ بِوَاجِبٍ وَلَيسَ عَلَيٰ اَهلِ مَكَّةَ طَوَافُ القُدُومِ .

وجـه حـديث دئ سَمِعتُ اِبنَ عُمَرَ يَقُولُ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَطَافَ بِالبَيتِ سَبعًا وَصَلَّي خَلفَ المَقَامِ رَكعَتَينِ ثُمَّ خَرَجَ اِلِيٰ الصَّفَا (الف) (بخاري شريف،باب من صلي ركعتي الطواف خلف المقام ص۲۲۰نمبر۱۶۲۷)ددي حديث ځخه معلوم سو چي د طواف د اُوه شوطو وروسته دي مقام ابراهيم ته راسي او د طواف دوه رکعته نفل دي ادآء کي. په آيت کي دئ وَا تَّخِذُوا مِن مَّقَامِ اِبرَاهِيمَ مُصَلّيٰ (ب) (آيت ۱۲۵سورة البقرة۲)په دي آيت کي حکم دئ چي د مقامِ ابراهيم سره لمونځ کوئ. دا دوه رکعت واجب دي. ددي دليل دحضور مُواظَبت دئ. په اثر کي دئ قُلتُ لِلزُّهرِيِّ اَنَّ عَطَآءَ يَقُولُ تَجزِئُهُ المَكتُوبَةُ مِن رَكعَتَيِ الطَّوَافِ فَقَالَ اَلسُّنَّةُ اَفضَلُ لَم يَطُفِ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سَبُوعًا قَطُّ اِلاَّ صَلَّيٰ رَكعَتَينِ (ج) (بخاري شريف،باب طاف النبيُّ وصلي لسبوعه ركعتين ص۲۲۰نمبر۱۶۲۳)په دي حديث کي دئ چي هر کله حضور د طواف اُوه شوطه پوره کړئ دي نو حضور دوه رکعات د طواف کړئ دي. ددي همېشه توب په وجه د احنافو په نېز دوه رکعته د طواف واجب دي.
فـائـده د امام شافعي په نېز د دغه لوړ حديث په وجه د طواف دوه رکعته سُنّت دي.
پـــام لـــرنـــه که دمقامِ ابراهيم سره ځائ نه سي پيدا نو دمسجدِحرام په هر ځائ کي دطواف دوه رکعته کولائي سي.
[۶۳۵](۳۱) ددي طواف نوم طواف قُدُوم دئ دا سُنّت دئ واجب نه دئ او پر اَهلِ مَکّه باندي طواف قُدُوم نسته.
تـشـــريـح د دباندي ځخه چي څه رنګه راسي فورًا چي کوم طواف کيږي هغه ته طوافِ قُدُوم(د راتلو طواف)وائي. دا دآفاقي لپاره سُنّت دئ.
وجـه (۱) د قُدُوم معنٰي ده د باهر(دباندي)ځخه راتلل، آفاقي خو د دباندي ځخه راځي نو ځکه دده لپاره سُنّت دئ. مَکّي خو د دباندي ځخه نه راځي نو ځکه دده لپاره نه دئ سُنّت. خو کـه چيري طـوافِ قُدُوم وکـي نـو څـه دحـرج خبره نه ده. هسي خو هم هر وخت طواف کول ښه کار دئ (۲) په حديث کي دئ عَن وَبرَةَ قَالَ كُنتُ جَالِسًا عِندَ اِبنِ عُمَرَ فَجَائَهُ رَجُلٌ فَقَالَ اَيَصلِحُ لِي اَن اَطُوفَ بِالبَيتِ قَبلَ اَن اٰتِيَ المَوقِفَ فَقَالَ نَعَم فَقَالَ فَاِنَّ اِبنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ لاَتَطُف بِالبَيتِ حَتّيٰ تَاتِيَ المَوقِفَ فَقَالَ اِبنُ عُمَرَ فَقَد حَجَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَطَافَ بِالبَيتِ قَبلَ اَن يَّاتِيَ المَوقِفَ فَبِقَولِ رَسُولِ اللهِ اَحَقُّ اَن تُاخَذَ اَو بِقَولِ اِبنِ عَبَّاسٍ اِن كُنتَ

صَادِقًا (د) (مسلم شريف،باب استحباب طواف القدوم للحاج والسعي بعده ص٤٠٥نمبر١٢٣٣)ددي حديث څخه معلوم سو چي حضور د حج احرام وتاړئ ددي باوجود وعرفات ته د تللو مخکي طواف قُدُوم وکئ چي د آفاقي لپاره مُستحب دئ.

حاشيه : (الف) حضور مَکّی ته راغلئ او اُوه شوطه د بَيتُ الله طواف يې وکئ او د مقام ابراهيم سره دوه رکعته لمونځ وکئ بيا د صفا و غره ته ولاړئ (ب) مقام ابراهيم د لمانځه ځائ جوړ کئ (ج) ما و زُهري ته وويل چي حضرت عطآء فرمائي فرض لمونځ د طواف د دو رکعتو لپاره کفايت کوي. حضرت زُهري وفرمائل سُنّت افضل دي. حضور چي هرکله اُوه شوطه طواف کړئ دئ نو دوه رکعت لمونځ يې کړئ دئ (د) حضرت وَبرَه دحضرت ابن عُمر سره ناست و نو ده لره يوسړئ راغلئ او پوښتنه وکړه چي زما لپاره دا صحيح دئ چي زه د بَيتُ الله طواف وکم و موقف يعني عرفات له د راتلو څخه مخکي نو ابن عُمر وفرمائل هو ! وويل چي ابن عبّاس فرمائي چي د بَيتُ الله طواف نه وکم تر هغو چي عرفات لره راسم. نو ابن عمر وفرمائل چي حضور حج وکئ او عرفات ته دراتلو څخه مخکي طواف وکئ. نو دحضور قول زيات حقدار دئ چي عمل پر وسي يا د عبّاس قول که ته رشتيا وايي .

[٦٣٦](٣٢) ثُمَّ خَرَجَ اِلَى الصَّفَا فَيَصعَدُ عَلَيهِ وَيَستَقبِلُ البَيتَ وَيُكَبِّرُ وَيُهَلِّلُ وَيُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَيَدعُو اللهَ تَعَالَى لِحَاجَتِهِ [٦٣٧](٣٣) وَيَنحَطُّ نَحوَ المروَةِ

---

[٦٣٦](٣٢) بيا دي د صفا غره و خوا ته ولاړ سي او پر هغه دي لوړ وخيژي(وخيږي)او د بَيتُ الله استقبال دي وکي او تکبير دي ووائي او تهليل دي ووائي او پر حضور دي درود شريف ووائي او دالله تعالي څخه دي دخپل ضرورت لپاره دعآء وکي.

تشريح د طواف او رکعتِ طواف څخه د فراغت وروسته دي نو اُوس د سعي لپاره د صفا غره وخوا ته ولاړسي او هلته دي لوړ وخيژي(وخيږي)د بَيتُ الله وطرف ته دي استقبال وکي،تکبير دي ووائي،تهليل دي ووائي،درود شريف دي ووائي او دعآء دي وغواړي.

وجه (١) حديث دئ قَالَ دَخَلنَا عَلَى جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ ... ثُمَّ خَرَجَ مِنَ البَابِ اِلَى الصَّفَا فَلَمَّا دَنَا مِنَ الصَّفا قَرَاَ اِنَّ الصَّفا وَالمروَةَ مِن شَعَائِرِاللهِ نَبدَاُ بِمَا بَدَءَاللهُ بِهِ فَبَدَاَ بِالصَّفَا فَرَقِيَ عَلَيهِ حَتَّى رَاَى البَيتَ فَاستَقبَلَ القِبلَةَ فَوَحَّدَاللهَ وَكَبَّرَهُ وَقَالَ لاَاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَحدَهُ لاَشَرِيكَ لَهُ لَهُ المُلكُ وَلَهُ الحَمدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيءٍ قَدِيرٌ لاَاِلٰهَ اِلاَّاللهُ وَحدَهُ اَنجَزَ وَعدَهُ وَنَصَرَ عَبدَهُ وَهَزَمَ الاَحزَابَ وَحدَهُ ثُمَّ دَعَا بَينَ ذَالِكَ قَالَ مِثلَ هٰذَا ثَلاَثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ نَزَلَ اِلَى المروَةَ (الف) (مسلم شريف،باب حجة النبيّ صلي الله عليه وسلم ص٣٩٥نمبر١٢١٨\ابوداؤدشريف،باب صفة حجة النبيّ صَلّى الله عليه وسلم ص٢٦٩نمبر١٩٠٥)ددي حديث څخه معلوم سو چي د صفا غره ته دي راسي تکبير او تهليل دي ووائي او دعآء دي وغواړي (٢) ددي تائيد ددي آيت څخه هم کيږي . اِنَّ الصَّفَا وَالمروَةَ مِن شَعَائِرِاللهِ فَمَن حَجَّ البَيتَ اَو اِعتَمَرَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيهِ اَن يَّطَّوَّفَ بِهِمَا (ب) (آيت ١٥٨سورة البقرة٢) ددي آيت څخه معلوميږي چي د صفا او مروه په مابين کي سعي کول په کار دي. په دغه وجه د صفا او مروه په مابين کي سعي د احنافو په نزد واجب دي. په پرېښولو يې دم لازميږي. پر صفا دي دومره لوړ وخيژي(وخيږي)چي بَيتُ الله ورته ښکاره سي. نو و بَيتُ الله ته دي استقبال وکي دُعآءګانِ دي وغواړي. په حديث کي دئ حَدَّثَنَا جَابِرٌ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ رَقِي عَلَى الصَّفَا حَتَّى اِذَا نَظَرَ اِلَى البَيتِ كَبَّرَ (ج) (نسائي شريف،باب موضع القيام علي الصفا ج٢ص٤٠٩نمبر٢٩٧٤)ددي حديث څخه معلوم سو چي پر صفا دي دومره لوړ وخيژي(وخيږي)چي بَيتُ الله ورته ښکاره سي بيا دي تکبير وغيره ووائي. ددي لپاره حديث دئ (نسائي شريف،باب التکبيرعلي الصفاص٣٢نمبر٢٩٧٥)لوړ هم د مُسلم شريف حديث تپر سوئ دئ چي پر صفا باندي دتکبير ويلو ذکرپکښي دئ.

[٦٣٧](٣٣) او لاندي به د صفا پر خوا راشوه کيږي او تګ به کوي پر خپل هيئت باندي . بس چي د شلي و نَس ته ورسيږي نو دمِيلَينِ اَخضَرَين په مابين کي دي په مَنذَه مَنذَه تګ وکي

حاشيه : (الف) بيا د دروازي څخه د صفا پر خوا ولاړئ،چي كله وصفا ته نژدي(نزدي)سو نو إِنَّ الصَّفَا وَالمروَةَ مِن شَعَائِرِاللهِ حضور ووائي. بيا يي وفرمائل دهغه خوا څخه شروع كوم د كوم څخه چي الله شروع په كړي ده. نو د صفا څخه سعي شروع كړي او پر صفا لوړ وخاتئ تر دي چي بَيتُ الله يي وليدل او د قبلي استقبال يي وكئ بيا يي توحيد بيان كئ او تكبير يي ووايئ بيا يي لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ الخ وويل. بيا يي په دي مابين كي دُعآء كوله. بيا يي دغه رنګه دري واره دُعآء وكړه. بيا د مَروَه پر لوري راغلئ (ب) صفا او مروه د الله شعائر دي. نو كوم چا چي د بَيتُ الله حج وكئ يا يي عُمره وكړه نو پر هغه باندي هيڅ د حرج خبره نه ده چي ددي طواف وكي (ج) حضور پر صفا وخاتئ تر دي چي پر بَيتُ الله باندي نظر ولګېدئ نو تكبير يي ووائي .

وَيَمْشِي عَلَيْ هَيئَتِهِ فَإِذَا بَلَغَ إِلَيْ بَطنِ الوَادِي سَعْي بَيْنَ المِيلَيْنِ الاَخضَرَيْنِ سَعيًا حَتّيْ يَاتِيَ المروَةَ فَيَصعَدُ عَلَيهَا وَيَفعَلُ كَمَا فَعَلَ عَلَيْ الصَّفَا .

تردي چي د مَروَه غره ته راسي. او پر هغه دي لوړ وخيژي(وخيږي). او پر هغه دي دغه رنګه تكبير تهليل او دُعآءګانِ وكي لكه څه رنګه چي پر صفا يي كړي وي.

تشريح د صفا او مَروَه په مابين كي مخكي نشيبي(لاندي)ځائ و چي وهغه ته مِيلَينِ اَخضَرَين وائي. په دي اُوس وخت كي دغه ځائ بالكيه سره برابر دئ. خو په ابتدآء او انتهآء كي دوي بتئ(هغه هم د زرغون رنګ ټيوب لائټونه پر دېوالو باندي لوړ)لګېدلي دي. چي هلته را ورسيږي نو لږ څه په مَنذِه دي ولاړسي . حضرت هاجره عليها السلام د خپل زوئي لپاره هلته په مَنذِه تللي وه. ودي ځائ ته بَطنِ وَادِي هم وائي .

وجه (١) د لوړ حديث په سلسله كي دا دئ چي قَالَ دَخَلنَا عَلَيْ جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ ... ثُمَّ نَزَلَ إِلَيْ المروَةَ حَتّيْ إِذَا إِنصَبَّت قَدَمَاهُ رَمَلَ فِي بَطنِ الوَادِيَ حَتّيْ إِذَا صَعَدَ مَشيْ حَتّيْ اَتيْ المروَةَ فَصَنَعَ عَلَيْ المروَةِ مِثلَ مَا صَنَعَ عَلَيْ الصَّفَا (الف) (ابوداؤدشريف،باب صفة حجة النبيّ ص٢٧٠نمبر١٩٠٥\مسلم شريف،باب حجة النبي صلي الله عليه وسلم ص٣٩٦نمبر١٢١٨)ددي حديث څخه معلوم سو چي په بَطنِ وَادِي كي به په تيز قدم(ګام)سره تګ كوي او په دا نورو ځايو كي به په پر خپل حالت باندي تګ كوي (٢) سعي واجب دي ددي لپاره دا حديث دئ عَن بَرَّةَ بِنتِ اَبِي تَجرَاة قَالَ رَاَيتُ رَسُولَ اللهِ حِينَ اِنتَهيْ إِلَيْ المسعيْ قَالَ اِسعَوا فَإِنَّ اللهَ كَتَبَ عَلَيكُم السَّعيَ فَرَاَيتُهُ يَسعْي حَتّيْ بَدَت رُكبَتَاهُ مِن اِنكِشَافِ إِزَارِهِ (ب) (دارقطني،كتاب الحج ج٢ص٢٢٤نمبر٢٥٦٠\٢٥٥٩)ددي حديث څخه معلوم سو چي سعي واجب دي. ځكه چي په آيت كي فَلاَ جُنَاحَ عَلَيهِ اَن يَّطَّوَّفَ بِهِمَا راغلئ دئ. ددي څخه معلوم سو چي ددي سعي اهميّت د فرض په ركم نه دئ. چي آيت او حديث دواړه سره ملاؤ كي نو واجب ځني ثابتيږي (٣) ددي حديث څخه هم وجوب معلوميږي عَن عُروَةَ عَن عَائِشةَ قَالَ قُلتُ لَهَا إِنّي لاَظُنُّ رَجُلاً لَو لَم يَطُف بَينَ الصَّفَا وَالمروَةَ مَا ضَرَّهُ قَالَت لِمَ ؟ قُلتُ لاَنَّ اللهَ يَقُولُ إِنَّ الصَّفَا وَالمروَةَ مِن شَعَائِرِاللهِ الخ فَقَالَت مَا اَتَمَّ اللهُ حَجَّ اِمرَءٍ وَلاَ عُمرَتَهُ لَم يَطُف بَينَ الصَّفَا وَالمروَةَ وَلَو كَانَ كَمَا تَقُولُ لَكَانَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيهِ اَن لاَّ يَطَّوفَ بِهِمَا (ج) (مُسلم شريف،باب بيان ان السعي بين الصفاوالمروة ركن ص٤١٤نمبر١٢٧٧\ابوداؤدشريف،باب امرالصفاوالمروة ص٢٦٩نمبر١٩٠١)ددي حديث څخه هم ددي تائيد كيږي چي سعي واجب دي.

فائده امام شافعي د دارقُطني او مُسلم شريف د لوړ حديث په وجه سعي فرض ګڼي.

حاشيه : (الف) بيا د مروه پر لوري را شوه سو، تر دي چي د حضور قدم لاندي ورسېدئ نو په بَطنِ وادي كي رَمَل وكئ، چي لوړ وخاتئ نو آهسته(سوكه)روان سو تردي چي مروه ته راغلئ او پر مروه يي دغه رنګه وكړه لكه پر صفا چي كړي و (ب) حضور يي وليدئ چي كله د سعي ځائ ته راغلئ نو وفرمائل چي سعي وكئ، الله پر تاسو باندي سعي فرض كړي دي. ما وليدل چي حضور سعي كولي تر دي چي د اِزَار(لنګ)د خلاصېدو په وجه دحضور ځنګڼونه بنكاره سو (ج) حضرت عُروَه و حضرت عائشي ته وويل زه ګمان كوم چي د صفا او مروه په مابين كي طواف نه وكي نو هيڅ نقصان نه دئ . حضرت عائشي وفرمائل ولي نه ؟ ما وويل ځكه چي الله تعالىٰ فرمائلي دي چي كه د صفا او مروه طواف ونه كي نو هيڅ د حرج خبره نه ده. نو حضرت عائشي وفرمائل د يو انسان حج او عُمره نه پوره كيږي كه ده د صفا او مروه طواف ونه كئ. كه دغه رنګه وي لكه څه رنګه چي ته وايي نو د آيت عبارت بايد دا رنګه وائي فَلاَ جُنَاحَ عَلَيهِ اَن لاَّ يَطُوفَ بِهِمَا .

[٦٣٨](٣٤) وَهَذَا شَوطٌ فَيَطُوفُ سَبعَةَ اَشوَاطٍ يَبتَدِي بِالصَّفَا وَيَختِمُ بِالمروَةِ [٦٣٩](٣٥) ثُمَّ يُقِيمُ بِمَكَّةَ مُحرِمًا فَيَطُوفُ بِالبَيتِ كُلَّمَا بَدَا لَهُ .

پام لرنه لكه څه رنګه چي پر صفا باندي دبَيتُ الله استقبال كوي تكبير تهليل درود او دعُآء وائي دغه رنګه به پر مروه باندي هم كوي.د لوړ حديث څخه دا معلوم سو.

لـغـت : بَطنُ الوَادِي . د صفا او مروه په مابين کي لاندي(جور)ځای ته بَطنُ الوَادِي وائي. پردي باندي اُوس زرغُوني بتئ لګولي دي. دلته خلګ په مَندَه تګ کوي. هَيئَتِهِ . پر خپل هيئت باندي.

[۶۳۸](۳۴) دا يو شوط دئ. نو طواف به کوي اُوه شوطه،شروع کوي به د صفا څخه او ختم کوي به پر مروه باندي.

تـشريـح دصفا څخه دي سعي شروع کي پر مروه دي ختم کي. او د صفا څخه تر مروه پوري يو شوط دئ، او د مروه څخه تر صفا پوري دوم شوط دئ. د احنافو په نېز دا نه دئ چې د صفا څخه تر مروه پوري او بيا د مروه څخه تر صفا پوري يو شوط دئ. دارنګه خو د احنافو په نېز څورلس شوط کيږي.

وجـه حديث دئ فَقَالَ اِبنُ عُمَرَ قَدِمَ رَسُولُ اللهِ فَطَافَ بِالبَيتِ سَبعًا وَصَلَّيٰ خَلفَ المَقَامِ رَكعَتَينِ وَطَافَ بَينَ الصَّفَا وَالمروَةَ سَبعًا وَقَد كَانَ لَكُم فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ أُسوَةٌ حَسَنَةٌ (الف) (سنن للبيهقي،باب وجو الطَّواف بين الصفاوالمروة وان غيره لايجزي عنه ج۵ص۱۵۸نمبر۹۳۶۳) په ابوداؤد کي دئ ثُمَّ اَتيٰ الصَّفَا وَالمروَةَ فَسَعيٰ بَينَهُمَا سَبعًا ثُمَّ حَلَقَ رَاسَهُ (ب) (ابوداؤدشريف،باب امرالصفاوالمروة ص۲۶۸نمبر۱۹۰۳)ددي حديث څخه معلوم سو چې د صفا څخه تر مروه پوري يو شوط دئ.

فـائـده د بعضو امامانو په نېز د صفا څخه تر مروه بيا ببرته د مروه څخه تر صفا پوري يو شوط دئ.

وجـه د دوئي دليل ددي اثر اشاره ده عَن عَطَآءٍ قَالَ سَالَتُ عَطَآءَ عَن رَجُلٍ سَعيٰ بَينَ الصَّفَا وَالمروَةَ اَربَعَةَ عَشَرَمَرَّةً قَالَ يُجزِيهِ (مصنف ابن ابي شيبة ۴۱۸ في الرجل يسعي بين الصفا والمروة اربعة عشرمرة ج۵ص۵۰) زمور دليل ددي اثر يو جُزء د يُعِيدُ لفظ دئ يعني دا به بيا راګرزوي. څورلس شوطه کفايت نه کوي.

[۶۳۹](۳۵) بيا دي په مکّه مُکرّمه کي د احرام سره درنګ(قيام)وکي او چې هر کله وَغُواړي د بَيتُ الله طواف دي کوي.

تـشريـح د حج احرام يې ترلئ و نو د فرض طواف وروسته به دا احرام خلاصيږي او دا طواف قُدُوم و. نو ځکه د دي طواف وروسته به د احرام په حالت کي په مکّه مُکرّمه کي درنګ(قيام)کوي. او چې هر وخت موقع وي نو د بَيتُ الله طواف دي په کثرت(ډېرښت)سره کوي.

وجـه (۱) طواف ډېر فضيلت لري نو ځکه چې هر وخت موقع وي طواف دي کوي (۲) په حديث کي دئ عَن طَاؤسٍ عَن رَجُلٍ اَدرَكَ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلطَّوَافُ بِالبَيتِ صَلٰوةٌ فَاَقِلُّوا مِنَ الكَلَامِ (ج) (نسائي شريف،باب اباحة الكلام في الطواف ص۴۰۲نمبر۲۹۲۵)لمونځ د طواف په ركم دئ

حاشيه : (الف) حضور مکّي ته تشريف راوړئ او د بَيتُ الله اُوه طواف وکړل او د مقام ابراهيم و شا ته دوه رکعته لمونځ وکئ. او د صفا مروه په مابين کي اُوه طواف وکړه، او دخدائ رسول ستا سو لپاره ښه نمونه ده (ب) بيا حضور و صفا مروه ته راغلئ او د دواړو په مابين کي اُوه سعي وکي، بيا يې د سر حلق وکئ (ج) يو سړئ چې حضور يې مُوندلئ و د هغه څخه روايت دئ چې حضور وفرمائل د بَيتُ الله طواف د لمانځه په شان(ركم)دئ نو ځکه خبري دي کمي کړي .

[۶۴۰](۳۶) وَاِذَا كَانَ قَبلَ يَومِ التَّروِيَةِ بِيَومٍ خَطَبَ الاِمَامُ خُطبَةً يُعَلِّمُ النَّاسَ فِيهَا الخُرُوجَ اِلٰي مِنيٰ وَالصَّلوٰةَ بِعَرَفَاتٍ وَالوُقُوفَ وَالاِفَاضَةَ .

نو ځکه د نفلي لمونځ په رکم باربار دي طواف کوي.حديث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ مَن طَافَ بِالبَيتِ خَمسِينَ مَرَّةً خَرَجَ مِن ذُنُوبِهِ كَيَومٍ وَلَدَتهُ اُمُّهُ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآءفي فضل الطواف ص۱۷۵نمبر۸۶۶)ددي حديث څخه معلوم سو چې د طواف ثواب زيات دئ نو ځکه ډېر ډېر طواف دي کوي او دحج احرام ترونکي لپاه د احرام په حالت کي د وُسپدو دليل دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَت خَرَجنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ عَامَ حَجَّةِ الوِدَاعِ فَمِنَّا مَن اَهَلَّ بِعُمرَةٍ وَمِنَّا مَن اَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمرَةٍ وَمِنَّا مَن اَهَلَّ بِالحَجِّ وَاَهَلَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِالحَجِّ فَاَمَّا مَن اَهَلَّ بِعُمرَةٍ فَحَلَّ وَاَمَّا مَن اَهَلَّ بِحَجٍّ اَو جَمَعَ الحَجَّ وَالعُمرَةَ فَلَم يَحِلُّوا حَتّٰي كَانَ يَومُ النَّحرِ (ب) (سنن للبيهقي،باب المفرديقيم علي احرامه حتي يتحلل منه يوم النحرج۵ص۱۷۸نمبر۹۴۲۸)ددي حديث څخه معلوم سو چې کوم چا د حج احرام وتاړئ يا د حج او عُمري دواړو احرام يې وتاړئ قران يې وکئ هغه به د طواف قدوم وروسته احرام نه خلاصوي. بلکه په مَکّه مُکرّمه کي به مُحرم درنګ(قيام)کوي. خو کوم چا چې د عُمري احرام ترلئ وي

دهغه عُمره به پوره سي. ځکه هغه به احرام خلاصوي او ځان به حلال کي په مَکّه مُکرّمه کي به درنګ(قيام)کوي.

[۶۴۰](۳۶) او چي کله د يَومُ التَّروِيَه ځخه يوه ورځ مخکي وي نو امام به خُطبه لولي(وائي) دا رانګه خُطبه چي په هغه کي به و خلګو ته وَر اِزدَه کوي و مِنيٰ ته وتل او په عَرَفَات کي لمونځ او وُقُوفِ عَرَفَه او د اِفَاضي احکام. تشريح يَومُ التَّروِيَه و اَتمّه ذِي الحَجَّه ته وائي. ددي ځخه يوه ورځ مخکي به اُوَمَه ذِي الحَجَّه وي. نو د اُوَم په ورځ به امام خُطبه لولي(وائي) چي په هغه کي به امام وخلګو ته و مِنيٰ ته د وتلو احکام،په عرفات کي د لمانځه احکام بيان وي. دغه رنګه وقوف عرفات به ځه رنګه کوي،طواف وِدَاع به ځه رنګه کوي دغه ټوله احکام به ورته بيان وي.

وجه (۱) ددي احکامو د زدکړي ضرورت دئ نو ځکه دغه احکام دي ورزده کړي (۲) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِذَا كَانَ قَبلَ التَّروِيَةِ خَطَبَ النَّاسَ فَاَخبَرَهُم بِمَنَاسِكِهِم (ج) (سنن للبيهقي،باب الخطبة التي يستحب للامام ان ياتي بها في الحج اَوَّلُهَا يوم السابع ج۵ص۱۸۰نمبر۹۴۳۶\نسائي شريف،باب الخطبة قبل يوم التروية ج۲ص۳۴نمبر۲۹۹۶)ددي حديث ځخه معلوم سو چي د ذي الحَجّي په اُوَم تاريخ خُطبه ويل په کار ده او په هغه کي د مَنَاسِكِ حَج ټوله اړخونه بيان ول په کار دي.

لغت : اَلاِفَاضَةَ . په عرفات کي درنګ(قيام)او فرض طواف ته اِفَاضَه وائي.

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل کوم چا چي پنځوس واره د بَيتُ الله طواف وکئ د ګناه ځخه به دارنګه را ووزي لکه نَن چي دده مور دئ زيږولئ وي (ب) حضرت عائشه فرمائي چي مور دحضور سره د حَجَّةُ الوِدَاع په ورځ ووتلو نو د مور ځخه ځه کسانو د عُمري احرام تړلئ و او د مور ځخه ځه کسانو د حج او عُمري احرام تړلئ و. او د مور ځخه ځه کسانو د حج احرم تړلئ و. او حضور د حج احرام تړلئ و. نو چا چي د عُمري احرام تړلئ و هغه حلال سو. او کوم چا چي د حج احرام تړلئ و يا يې حج او عُمره جمع کړي و نو هغه نه سو حلال تر هغو چي لسم(۱۰) تاريخ سو (ج) حضور د اتم(۸)تاريخ ځخه مخکي خلګو ته خُطبه ولوستل(وويل) او و دوئي ته د دوئي د حج د مَنَاسِكُ په باب خبر ورکړئ .

[۶۴۱](۳۷) فَاِذَا صَلَّي الفَجرَ يَومَ التَّروِيَةِ بِمَكَّةَ خَرَجَ اِلَيٰ مِنيٰ وَاَقَامَ بِهَا حَتّيٰ يُصَلِّيَ الفَجرَ يَومَ عَرَفَةَ ثُمَّ يَتَوَجَّهُ اِلَيٰ عَرَفَاتَ فَيُقِيمُ بِهَا [۶۴۲](۳۸) فَاِذَا زَالَتِ الشَّمسُ مِن يَومِ عَرَفَةَ صَلَّي الاِمَامُ بِالنَّاسِ الظُّهرَ وَالعَصرَ ثُمَّ يَبتَدِي فَيَخطُبُ خُطبَتَينِ قَبلَ الصَّلوةِ يُعَلِّمُ

[۶۴۱](۳۷) بس چي کله په اتم د ذي الحجي په مَکّه مُکرّمه کي د سهار لمونځ وکي نو مِنيٰ ته دي ووزي. او هلته دي قيام وکي تردي چي په نهم(۹)تاريخ د سهار لمونځ وکي بيا دي دعرفات پر لوري متوجه سي او هلته دي قيام(درنګ)وکي.

تشريح چي د ذِي الحَجّي په اتم(۸)تاريخ يې په مَکّه مُکرّمه کي دسهار لمونځ وکئ نو مِنٰي ته دي روان سي. او هلته دي د ماپښين،ماځيګر،ماښام،ماخستن او دسهار لمونځ وکي. او په دي مابين کي دي تکبير،تهليل او تلبيه وائي. او د نهم(۹)تاريخ دسهار لمونځ دي وکي د مِنيٰ ځخه دي عرفات ته روان سي او په عرفات کي دي د ماپښين او ماځيګر لمونځ يو ځائ ادآء کي.

وجه دحضور د حج چي کوم وُرِد حديث په مُسلم او ابوداؤدشريف کي راغلئ دئ په هغه کي ددي تفصيل دئ دَخَلنَا عَلَيٰ جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ فَسَئَلَ عَنِ القَومِ حَتّيٰ اِنتَهيٰ اِلَيٰ ... فَلَمَّا كَانَ يَومُ التَّروِيَةِ تَوَجَّهُوا اِلَيٰ مِنيٰ فَاَهَلُّوا بِالحَجِّ وَرَكِبَ رَسُولُ اللهِ فَصَلَّيٰ بِهَا الظُّهرَ وَالعَصرَ وَالمغرِبَ وَالعِشَآءَ وَالفَجرَ ثُمَّ مَكَثَ قَلِيلاً حَتّيٰ طَلَعَتِ الشَّمسُ وَاَمَرَ بِقُبَّةٍ مِن شَعرٍ تُضرَبُ لَهُ بِنَمِرَةٍ فَسَارَ رَسُولُ اللهِ وَلاَ تَشُكُّ قُرَيشٌ اِلاَّ اَنَّهُ وَاقِفٌ عِندَ المشعَرِالحَرَامِ كَمَا كَانَت قُرَيشٌ تَصنَعُ فِي الجَاهِلِيَّةِ فَاَجَازَ رَسُولُ اللهِ حَتّيٰ اَتيٰ عَرَفَةَ فَوَجَدَ القُبَّةَ قَد ضُرِبَت لَهُ بِنَمِرَةٍ فَنَزَلَ بِهَا (الف) (مسلم شريف،باب حجّة النبيّ صَلّي الله عليه وسلم ص۳۹۶نمبر۱۲۱۸\ابوداؤدشريف،باب صفة حجة النبي صلي الله عليه وسلم ص۲۷۰نمبر۱۹۰۵)ددي حديث ځخه معلوم سو چي په اتم(۸)ذي الحجة دي مٰنې ته راسي او هلته دي پنځه لمنځونه ادآء کي او په نهم(۹)ذي الحجّه دي د سهار دلمانځه وروسته عرفات ته ولاړ سي .

[۶۴۲](۳۸) بيا چې په نهم تاريخ لمر تر سر واوړي(زوال سي)نو امام دي وخلګو تـه لمونځ ورکـي د ماپښـين او ماځيګر دَ، نو دلمانځه څخه مخکې دي دوې خُطبې وخلګو ته وَلوَلِي(ووائي). په دې دواړو کې دي دلمانځه،وُقُوفِ عَرَفَات،وُقُوفِ مُزدَلِفَه،رمي جمرات،نحر،حلق او د طواف زيارت احکام ور ازده کړي.

تـشريـح د لمر د زوال څخه وروسته دي اوّل دوې خُطبـې ووائـي چـي پـه هغـه کـي د وُقُـوفِ عَرَفَـات احکام،پـه مُزدَلِفَه کې د قيام(درنګ)احکام،د رمي جمرات احکام،قُرباني به څه رنګه کوي ددې احکام،حلق به څه رنګه کـوي ددې احکام او د طواف زيارت احکام دي په تفصيل سره بيـان کـي. او حاجيـان دي پـه پـوه کـړي. ځکـه چـي ددې ضرورت دئ.

وجـه په حديث کي دئ دَخَلنَا عَليْ جَابرِ بنِ عَبدِاللهِ سَئَلَ عَنِ القَومِ حَتّيْ اِنتَهيْ اِليْ ... حَتّيْ اِذَا زَاغَتِ الشَّمسُ اَمَرَ

حاشيه : (الف) بس چې د تروېې ورځ سوه(يعني د ذي الحجّې اتم تاريخ)نو خلګ د مِنيْ پر لوري متوجه سو او د حـج احـرام يـې وتـاړئ او حضور سپور سو، نو په مِنيْ کې د ماپښين،ماځيګر،مابنام،ماخستن او سهار لمونځ وکئ، بيا لږ څه ودرېدئ تر دې چې لمر را وخـاتئ او د بېښتانو د خېمې په باب يې حکم ورکئ چې هغه دي په مقام نَمِرَه(په عرفات کـې نَمـرَه يـو ځـائ دئ)کـي ولګـوئ. بيـا حضـور روان سو،د قُريشو يقين و چې دئ په مَشعَرِحَرَام مُزدَلِفَه کې قيام کوي. لکه څه رنګه چـې قُريشـو پـه زمانـۀ چاهليّت کـې کـاوئ. لـېکن حضـور مخته ولاړئ تردې چې عرفات ته راغلئ نو خېمه يې و مُوندله چې په مقام نَمِرَه کې لګېدلې وه. نو حضور هلته راشوه سو(يعني قيـام يـې وکئ).

النَّاسَ فِيهِمَا الصَّلوةَ وَالوُقُوفَ بِعَرَفَةَ وَالمزدَلِفَةَ وَرَميَ الجِمَارَ وَالنَّحرَ وَالحَلَقَ وَطَوَافَ الزِّيَارَةِ [۶۴۳](۳۹) وَيُصَلِّي بِهِمُ الظُّهرَ وَالعَصرَ فِي وَقتِ الظُّهرِ بِاَذَانٍ وَاِقَامَتَينِ [۶۴۴](۴۰) وَمَن صَلَّي الظُّهرَ فِي رَحلِهِ وَحدَهُ صَلَّي كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنهُمَا فِي وَقتِهَا عِندَ

بِالقُصوَآءِ فَرَحِلَت لَهُ فَاَتيْ بَطنَ الوَادِيَ فَخَطَبَ النَّاسَ وَقَالَ اِنَّ دِمَآئَكُم وَاَموَالَكُم حَرَامٌ عَلَيكُم الخ (الف) (مُسلم شريف،باب حجة النبي صلي الله عليه وسلم ص۳۹۷نمبر۱۲۱۸\ابوداؤدشريف،باب صفة حجة النبي صلي الله عليه وسلم ص۲۷۰نمبر ۱۹۰۵)ددې حـديث څخـه معلـوم سو چي د لمانځه څخه مخکې دي خُطبه ولولي(ووائي)او دحج احکام دي په تفصيل سره ور وښائي.

فـائـده د امام مالك په نېز به د لمانځه وروسته خُطبه وائي. دده دليل دا حـديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ ... حَتّيْ اِذَا كَانَ عِندَ صَلوةِ الظُّهرِ رَاحَ رَسُولُ اللهِ مُهَجِّرًا فَجَمَعَ بَينَ الظُّهرِ وَالعَصرِ ثُمَّ خَطَبَ النَّاسَ ثُمَّ رَاحَ فَوَقَفَ (ب) (ابوداؤدشريف،باب الخروج الي عرفة ص۲۷۲نمبر۱۹۱۳)د لمانځه وروسته د خُطبې ذکر دئ نو ځکه د لمانځه وروسته دي خُطبه ووائـي د اخترانـو پـه شان(ركم)

[۶۴۳](۳۹) و خلګو ته دي د ماپښين او ماځيګر لمونځ د ماپښين پـه وخـت کـي ورکـي پـه يـوه اذان او دوه اقامت سره،

تـشريـح د احنافو په نېز چې دري شرطونه وي نو جَمعٌ بَينَ الصَّلاَ تَينِ کولائي سي (۱) ميدان د عرفـات بـه وي (۲) دامام سره به يوځائ لمونځ کوي (۳) احرام به تړلئ وي نو ماپښين او ماځيګر سره جمع کولائي سي. که نه نو بيا به لمونځ په خپل خپل وخت کي کوي،

وجـه (۱) ځکه چې په حديث کي جَمعٌ بَينَ الصَّلاَ تَينِ خلاف قياس ثابت دئ (۲) په حديث کي دئ قَالَ دَخَلنَا عَليْ جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ ... ثُمَّ اَذَّنَ ثُمَّ اَقَامَ فَصَلّيْ الظُّهرَ ثُمَّ اَقَامَ فَصَلَّي العَصرَ وَلَم يُصَلِّ بَينَهُمَا شَيئًا ثُمَّ رَكِبَ رَسُولُ اللهِ حَتّيْ اَتيْ الموقِفَ (ج) (مُسلم شريف،بَابُ حَجَّةِ النَّبِيِّ ص۳۹۷نمبر۱۲۱۸\ابوداؤشريف،بَابُ صِفَةِ حَجَّةِ النَّبِيِّ ص۲۷۰\۲۷۱ نمبر۱۹۰۵)ددې څخه معلوم سو چي د ماپښـين او ماځيګر لمنځونه به پر يوه لار ادآءکوي. او د مخکنـي حـديث څخـه معلـوم سـو چـي د زوال فـورًا بعـد حضـور د ماپښين لمانځه لره تشريف راوړي. ددې څخه دا ښکاره کيږي چې د ماځيګر لمونځ به د ماپښين په وخت کـي ادآء کوي. دا هم معلوميږي چې اذان به يو وي او اقامت به دوه وي. يو اقامت به د ماپښـين او يـو بـه د مـاځيګر لپـاره وي. او د دواړو په مابين کي به هيڅ رنګ سُنّت وغيره نه ادآء کوي.ځکه چې ژر به و وُقُوفِ عَرَفَـات تـه متوجـه کيږي.

[۶۴۴](۴۰) کوم چا چې په کجاوه کي يواځي لمونځ وکئ نو هر لمونځ به په خپل خپل وخت کـي ادآء کـوي د امـام ابوحنيفه په نېز، او صاحبين فرمائي مُنفَرِد به هم دواړه لمنځونه سره جمع کوي.

تـشريـح لوړ تير سو چې دري شرطونه وي نو به په ميدان عرفات کـي جَمعٌ بَينَ الصَّلاَ تَينِ کـوي. يعنـي ماپښين او ماځيګر به يو ځائ د ماپښين په وخت کي ادآء کوي که نه نو نه .

حاشيه : (الف) تردي چې لمر زوال سو نو حکم يې وکئ چې قُصويٰ وُبنَه دي راروان کي نو بَطنِ وَادِي ته راغلئ او خلګو ته خُطبه ولوستل إِنَّ دِمَآئَكُم وَاَموَالَكُم تر آخري پوري (ب) د ابن عمر څخه روايت دئ چې ... تردي چې د ماپښين وخت سو نـو حضـور پـه اوّل وخت کـي وواتئ او ماپښين او ماځيګرييې جمع کړل بيا يې و خلګو ته خُطبه وويل بيا ولاړئ او وُقُوفِ عَرَفَات يـي وکـئ (ج) بيـا يـي اذان وکـئ بيـا يې اقامت وکئ او د ماپښين لمونځ يې وکئ بيا يې اقامت وکئ او د ماځيګر لمونځ يې وکئ او د دواړو په مابين کي يو لمونځ هم ونه کـئ، بيا حضور سپور سو تردي چې و مَوقِف ته راغلئ .

اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالىٰ وَقَالَ اَبُو يُوسُفَ وَ مُحَمَّدٌ يَجمَعُ بَينَهُمَا المنفَرِدُ [۶۴۵](۴۱) ثُمَّ يَتَوَجَّهُ اِلىٰ الموقِفِ فَيَقِفُ

وجـه (۱) پر خپل خپل وخت باندي لمونځ کول په آيت سره فرض دئ. پـه آيـت کـي دئ إِنَّ الصَّلوٰةَ كَانَت عَلىٰ المؤمِنِينَ كِتَابًا مَّوقُوتًا (الف) (آيت۱۰۳سُورَةُ النِّسَآء) د آيت څخه معلوم سو چې هر لمونځ د خپل خپل وخت سره مُتعيّن دئ نوځکـه ديومظبوط دليل بغيره لمونځ دخپل وخت څخه مخکـي وروسـته نـه سـي کېدلائي.اوپـه عرفـات کـي دمـاځيګرلمونځ مخکي سوئ دئ لېکن چې دکوموشرائطوسره مخکـي سـوئ دئ هغـه شـرائط بـه ملحـوظ وي نوبيـا د وخـت څخـه مخکي کېدلائي سي. که هغه شرطونه نه سي موجودنولمونځ نـه سـي مخکـي کېدلائي. او د امـام سـره پـه جماعـت لمونځ کول شرط و لهٰذا که په جماعت سره لمونځ نه وکئ بلکه يواځي په کجاوه کي وکئ نو د وخت څخه نـه سـي مخکي کولائي بلکه د ماځيګر لمونځ به په خپل وخت کي کوي (۲) د امام سره په جماعت لمـونځ وکـي نـو پـه دې وجه به هم يو ځائ سره جمع کوي چې د عرفات په ميدان کي که يو وار انسانان ځلـه مُنتشر(خواره)سـو نـو بيـا د دوئي جمع کېدل دېر مُشکل دئ. نو ځکه د سهولت په خاطر يې جمع بين الصلاتين وکئ. او که يواځي لمونځ کـوي نـو ددې سهولت ضرورت نسته نو ځکه د جمع بين الصلاتين ضرورته نسته.

فـا ئـد ه صاحبين فرمائي چې په حديث کي په عرفات کي د جمع بين الصلاتين ذکـر پـه کثرت(ډېرښت)سـره راغلـئ دئ او بغير د يو شرط دئ. نو ځکه کوم خلګ چې بغير د امام جلاجلاخپل لمونځ کوي هغه بـه هـم جمع بين الصلاتين کوي. د دوئي دليل دا اثر دئ اَنَّ اِبنَ عُمَرَ كَانَ يَجمَعُ بَينَهُمَا اِذَا فَاتَهُ مَعَ الاِمَامِ يَومَ عَرَفَةَ (سنن للبيهقي،باب الخُطبة يوم عرفة والجمع بين الظهروالعصرج۵ص۱۸۶نمبر۹۴۵۶)

[۶۴۵](۴۱) بيا دي و مَوقَف ته متوجه سي او جَبَلِ رَحمَت ته دي نزدې قيام وکي. او عرفات ټوله د قيام کولو ځـائ دئ.

تـشريـح د ميدان عرفات پر څلور سره خواو اشاري لګېدلي دي. په دي کي چې هر ځائ قيام وکي حـج يـي ادآء کيږي. ښه خبره داده چې د جَبَلِ رَحمَت سره نزدې قيام وکي. ځکه چې حضور د جَبَلِ رَحمَـت سـره قيـام کـړئ و. او بَطنِ عُرنَه ته دي نزدې قيام نه کوي ځکه چې دلته و تيرو قومو ته عذاب ورکول سوئ دئ.

وجـه د عرفات ميدان ټوله د قيام کولو ځائ دئ ددې دليـل دا حـديث دئ عَن عَلِيٍّ اِبنِ اَبِي طَالِبٍ قَالَ وَقَفَ رَسُولُ اللهِ بِعَرَفَةَ فَقَـالَ هٰـذِهِ عَرَفَـةُ وَهُوَالموقَـفُ وَعَرَفَـةُ كُلُّهَـا مَوقَـفٌ ثُمَّ اَفَـاضَ حِـينَ غَرَبَـتِ الشَّـمسُ (ب) (ترمـذي شـريف،باب ماجـآء ان عرفـة كلهـا موقـف ص۱۷۷نمبر۸۸۵)ددې حديث څخه معلوم سو چې د عرفات ټوله ميدان د وقوف(قيام)ځائ دئ. او پـه بَطـنِ عُرنَـه کـي دي قيام نه کوي ددې وجه دا حديث دئ اَخبَرَنِي مُحَمَّدُ بنِ مُنكَدِرٍ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَرَفَةُ كُلُّهَا مَوقَفٌ وَارتَفِعُوا عَن بَطنِ عُرنَةَ وَالمزدَلِفَةُ كُلُّهَا مَوقَفٌ وَارتَفِعُوا عَن مُحَسِّرٍ)ج) (سنن للبيهقي،باب حيث ماقف من عرفة اجزاَهُ ص۱۸۶نمبر۹۴۵۹\سنن ابن ماجه شريف باب الموقف بعرفات ص۲۲۲)ددې حديث څخه معلوم سو چې په بَطنِ عُرنَه کي قيام نه دئ کول په کار. او د جَبَـلِ رَحمَت سره د قيام کولو دليل دا حديث دئ قَالَ دَخَلنَا

حاشيه : (الف) يقيناً لمونځ پر مُومنانو باندي فرض دئ د وخت معلوم سره (ب) حضور پـه عرفـات کـي قيـام وکـئ بـس وفرمائـل چـي دا عرفات د قيام کولو ځائ دئ. او عرفات ټوله د قيام کولو ځائ دئ. بيا د لمر پرېوتو وروسته ولاړئ (ج)

~~حضور وفرمائل ټوله عرفات د قيام کولو ځائ دئ. خو د بَطنِ عُرنَه څخه ليري وسپرئ. او ټوله مُزدَلِفَه د قيام کولو ځائ~~

دئ خو د مُحَسَّر څخه لیري وسپرئ .

بِقُربِ الجَبَلِ وَعَرَفَاتُ كُلُّهَا مَوقَفٌ اِلاَّ بَطنَ عُرَنَةَ [۶۴۶](۴۲) وَيَنبَغِي لِلاِمَامَ اَن يَّقِفَ بِعَرَفَةَ عَلىٰ رَاحِلَتِهِ وَيَدعُو وَيُعَلِّمُ النَّاسَ المَنَاسِكَ [۶۴۷](۴۳) وَيَستَحِبُّ اَن يَّغتَسِلَ قَبلَ الوُقُوفِ بِعَرَفَةَ .

عَلىٰ جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ ... ثُمَّ رَكِبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ حَتّٰي اَتَي الموقِفَ فَجَعَلَ بَطنَ نَاقَتِهِ القُصوَآءَ اِلَي الصَّخَرَاتِ وَجَعَلَ حَبلَ المُشَاةِ بَينَ يَدَيهِ وَاِستَقبَلَ القِبلَةَ فَلَم يَزَل وَا قِفًا حَتّٰي غَرَبَتِ الشَّمسُ وَ ذَهَبَتِ الصَّفرَةُ قَلِيلاً حَتّٰي غَابَ القُرصُ (الف) (مُسلم شريف،باب حجة النبي ص۳۹۸نمبر۱۲۱۸\ابوداؤدشريف،باب صفة خحة النبي ص۲۷۱نمبر۱۹۰۵)ددي حديث څخه معلوم سو چي د جَبَلِ رَحمَت سره نژدي(نزدي)قيام کول دپر افضل دئ.

[۶۴۶](۴۲) او د امام لپاره مُناسب دئ چي په عرفات کي پر خپله سوارلئ باندي سپور ولاړ دُعآء کوي او وخلکو ته د حج مناسك ور ازده کړي .

تشريح د امام لپاره مُناسب دادئ چي پر سوالئ باندي سپور وُقُوف وکي.

وجه (۱) چي خلګ په آساني سره امام ووينې او چي وهغه ته ګوري خپل مناسك د حج ادآء کوي (۲) حضور صَلي الله عليه وسلم په عرفات کي پر قُصويٰ وُښَه باندي سپور و وقوف عرفه يې وکړه. نو ځکه مُستحب دادئ چي امام پر خپله سوارلئ باندي سپور وُقُوفِ عرفه وکي. خو عوام دي لاندي(پرمځکه)وي. عَن اُمِّ الفَضلِ بِنتِ الحَارِثِ اَنَّ اُنَاسًا اِختَلَفُوا عِندَهَا يَومَ عَرَفَةَ فِي صَومِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَعضُهُم هُوَ صَائِمٌ وَقَالَ بَعضُهُم لَيسَ بِصَائِمٍ فَاُرسِلَت اِلَيهِ بِقِدحِ لَبَنٍ وَهُوَ وَاقِفٌ عَلىٰ بَعِيرِهِ فَشَرِبَهُ (ب) (بخاري شريف،باب الوقوف علي الدابة بعرفة ص۲۲۵نمبر۱۶۶۱) لوړ د مُسلم شريف د حديث نمبر۱۲۱۸څخه هم معلوم سو چي حضور پر قُصويٰ وُښَه باندي سپور و. ددي حديث څخه معلوم سو چي حضور سپور و وُقُوفِ عرفه يې وکړه. او دُعآء يې کوله. ځکه چي په حديث کي دئ عَن عُمَر بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيرُ الدُّعَآءِ يَومَ عَرَفَةَ (ج) ترمذي شريف،باب في دعآء يوم عرفة ج۲ص۱۹۵نمبر۳۵۸۵) او په يو بل حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ رَاَيتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَدعُو بِعَرَفَةَ يَدَاهُ اِلَي صَدرِهِ كَاِستِطعَامِ المِسكِينِ (د) (سنن للبيهقي،باب افضل الدعآء يوم عرفة ج۵ص۱۹۰نمبر۹۴۷۴)ددي حديث څخه معلوم سو چي په ميدان عرفات کي بايد په دُعآء کي سړئ مشغول وي. هسي خو هم جمع بين الصلاتين ددي لپاره کړي دي چي ژر موقف ته ولاړ سي دُعآء وکي، تکبير او تهليل ووائي.

[۶۴۷](۴۳) مُستحب دئ چي د وُقوف عرفات څخه مخکي غُسل وکي.

وجه غُسل کول د پاکئ شيئ دئ نو ځکه د وُقُوفِ عَرَفَات څخه مخکي غُسل کول مُستحب دئ.

حاشيه : (الف) حضور سپور سو تردي چي مَوقف ته راغلئ او د خپلي قُصويٰ وُښي نس يې د ګاري(لوئي دبري)پر خوا کئ او حَبلُ المَشَاة يې ومخته کئ او د قبلي استقبال يې وکئ او دلمر تر پرېوتو پوري هلته قيام وکئ. او لږ څه ژړوالئ ختم سو تردي چي(دلمر)تکئ غائبه سوه (ب) د اُمُّ الفضل څخه روايت دئ چي ددي سره په يوم عرفه کي د حضور د روژې په باب اختلاف وکئ. نو بعضو وويل چي حضور روژاتئ و او بعضو وويل چي حضور روژاتئ نه و. نو حضور لږه د شيدو پياله را واستول او حضور پر وُښَه باندي سپور و. او حضور شيدي نوش کړي (ج) حضور وفرمائل بنه دُعآء د عرفي د ورځي دُعآء ده (د) حضرت ابن عباس فرمائي چي حضور يې په عرفه کي د دُعآء په حالت کي وليدئ. دحضور لاسونه تر سينې(ځيګره)پوري و لکه يو مسکين چي شيئ غُواړي .

[۶۴۸](۴۴) وَيُجتَهِدُ فِي الدُّعَآءِ [۶۴۹](۴۵) فَاِذَا غَرَبَتِ الشَّمسُ اَفَاضَ الاِمَامُ وَالنَّاسُ مَعَهُ عَلىٰ هَيئَتِهِم حَتّٰي يَاتُوا المُزدَلِفَةَ فَيَنزِلُونَ بِهَا [۶۵۰](۴۶) وَالمستَحَبُّ اَن يَّنزِلُوا بِقُربِ الجَبَلِ الَّذِي عَلَيهِ المِيقَدَةُ يُقَالُ لَهُ قُزَحٌ .

---

[۶۴۸](۴۴) او په دُعآء کي دي بنَه کوشش وکړي .

وجه لوړ په حديث کي تير سو چي حضور دارنګه دُعآء کوله او لاس يې پورته کاوئ لکه يو سوال کونکئ مسکين چي وي، نو ځکه په عرفه کي دي په بنه دپرښت سره دُعآګان وغُواړي.

[۶۴۹](۴۵) بيا چي کله لمر پريوزي نو امام دي د عرفات څخه روان سي او خلک دي هم دده سره روان سي پر خپل هيئت(حالت)باندي تردي چي مُزدلفي لره راسي او هلته دي قيام وکي .

تشريح تر مابنام پوري دي په عرفات کي پاته سي او د لمر پرېوتو وروسته دي د هغه ځای څخه روان سي اول دي امام روان سي بيا دي عوام دده سره روان سي او په ځغستا دي نه ځي. بلکه پر خپل هيئت(حالت)دي تګ کوي .

وجه حديث دئ قَالَ دَخَلنَا عَلىٰ جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ ... فَلَم يَزَل وَاقِفًا حَتّٰى غَرَبَتِ الشَّمسُ وَذَهَبَتِ الصُّفرَةُ قَلِيلاً حَتّٰى غَابَ القُرصُ وَاَردَفَ اُسَامَةَ خَلفَهُ وَدَفَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَقَد شَنَقَ لِلقُصوَآءِ الزِّمَامَ حَتّٰى اَنَّ رَاسَهَا لَيُصِيبُ مُورِكَ رَحلِهِ وَيَقُولُ بِيَدَهِ اليُمنٰى اَيُّهَا النَّاسُ اَلسَّكِينَةَ اَلسَّكِينَةَ كُلَّمَا اَتٰى جَبَلاً مِّنَ الجِبَالِ اَرخٰى لَهَا قَلِيلاً حَتّٰى تَصعَدَ حَتّٰى اَتٰى المزدَلِفَةَ (الف) (مُسلم شريف،باب حجة النبي ص۳۹۸نمبر۱۲۱۸\ابوداؤدشريف،باب صفة حجة النبي ص۲۷۱نمبر۱۹۰۵ وباب الدفعة من عرفة ص۲۷۲نمبر۱۹۲۲)ددي حديث څخه معلوم سو چي د مابنام وروسته دي د عرفات څخه روان سي او دا هم معلوم سو چي په اطمينان سره دي تګ کوي تېزي دي نه کوي.

[۶۵۰](۴۶) مُستحب دادئ چي د هغه غره سره دي نژدې قيام وکي چي مِيقَدَه پر ده، چي وهغه ته قُزَح ويل کيږي.

تشريح په مُزدَلِفَه کي مُستحب دادئ چي د جَبَلِ قُزَح سره نژدې(نزدې)قيام وکي. هسي خو د وَادِيَ مُحَسّر څخه علاوه ټوله مُزدَلِفَه د قيام کولو ځای دئ. لېکن د جَبَلِ قُزَح سره نژدې قيام کول مُستحب دئ .

وجه (۱) ځکه چي حضور هلته قيام کړئ و. په آيت کي دئ فَاِذَا اَفَضتُم مِن عَرَفَاتٍ فَاذكُرُوا اللهَ عِندَ المشعَرِالحَرَامِ (آيت۱۹۸سورة البقرة۲) په دې آيت کي دئ چي د عَرَفَات څخه ولاړ سئ نو د مَشعَرُالحَرَام سره الله ډېر ياد کړئ او و جَبَلِ قُزَح ته مَشعَرُالحَرَام وائي (۲) په حديث کي دئ قَالَ دَخَلنَا عَلىٰ جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ ... ثُمَّ رَكِبَ القُصوَآءَ حَتّٰى اَتَى المشعَرَالحَرَامَ فَاستَقبَلَ القِبلَةَ فَدَعَاهُ وَكَبَّرَهُ وَهَلَّلَهُ وَوَحَّدَهُ فَلَم يَزَل وَاقِفًا حَتّٰى اَسفَرَ جِدًّا فَدَفَعَ قَبلَ اَن تَطلُعَ الشَّمسُ (ب) (مُسلم شريف،باب حجة النبي ص۳۹۹نمبر۱۲۱۸\ابوداؤدشريف،

حاشيه : (الف) حضور قيام وکئ تردي چي لمر پرېوتئ او لږ څه ژروالئ لېږي سو تر دي چي د لمر ټکئ غاښه(پته)سوه. او اُسامه يې تر شا کښېناوئ او حضور روان سو. د قُصويٰ وُښي مَهار يې و شاته کشاوئ. تردي چي دده سر د کجاوې د مخ پر حصّه لګېدئ. او په خپل ښي لاس يې اشاره کوله چي ای خلګو ! په اطمينان سره ځئ په اطمينان سر ځئ. چي چېرې به پوتئ(جګ ځای)راتلئ نو حضور به د قصويٰ مَهار لږ څه ډيله کاوئ(سُستاوئ) چي پر هغه باندي وخيژي(وخيږي). تردي چي حضور مُزدَلِفَه ته تشريف راوړئ (ب) بيا پر قُصويٰ باندي سپور سو تردي چي مُزدَلِفَه ته تشريف راوړئ، بيا يې دقبلي استقبال وکئ، بيا يې د الله تعريف وکئ، تکبير يې ووائي، تهليل يې ووائي او توحيد يې بيان کئ، همېشه يې قيام وکئ تردي چي ډېر اسفار(رونا)سوه، بيا د لمر د راختو څخه مخکې حضور روان سو .

[۶۵۱](۴۷) وَيُصَلِّي الاِمَامُ بِالنَّاسِ المغرِبَ وَالعِشَآءَ فِي وَقتِ العِشَآءِ بِاَذَانٍ وَاِقَامَةٍ [۶۵۲](۴۸) وَمَن صَلَّى المغرِبَ فِي الطَّرِيقِ لَم يَجزِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰى .

باب صفة حجة النبي ص۲۷۱نمبر۱۹۰۵) يو بل حديث دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ فَلَمَّا اَصبَحَ يَعنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَوَقَفَ عَلىٰ قُزَحٍ فَقَالَ هُوَ قُزَحٌ وَهُوَ الموقَفُ وَجَمعٌ كُلُّهَا مَوقَفٌ (الف) (ابوداؤدشريف،باب الصلوة يجمع ص۲۷۴نمبر۱۹۳۵)ددي دواړو حديثو څخه معلوم سو چي د جَبَلِ قُزَح سره قيام کول ډېر بهتر دئ .

لغت اَلمِيقَدَةُ:دوُوردبلبدوځای،په زمانهٔ جاهليّت کي ودي غَرَه ته نژدې دوُوربلولو ځای ومِيقَدَه يې بلله .

[۶۵۱](۴۷) او امام به وخلګو ته لمونځ وکړي د مابنام او ماخستن ده د ماخستن په وخت کي په يوه اذان او يوه اقامت سره .

تشريح امام به په مُزدَلِفَه کي هم جمع بين الصلا تين کوي او دا به په جمع تاخير سره کوي . او د ماخستن په وخت کي به د مابنام لمونځ کوي.

وجه (۱) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ جَمَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بَينَ المغرِبِ وَالعِشَآءِ بِجَمعٍ صَلَّي المغرِبَ ثَلاَثًا وَالعِشَآءَ رَكعَتَينِ بِاِقَامَةٍ وَّاحِدَةٍ (ب) (مُسلم شريف،باب الافاضة من عرفات الي المزدلفة واستحباب صلوتي المغرب والعشآء جميعا بالمزدلفة في هٰذه الليلة ص۴۱۷نمبر۱۲۸۸\۳۱۱۴)په دې حديث کي دئ چې په يوه اذان او يوه اقامت سره دواړه لمونځونه ادآء کړل (۲) د مابنام د لمانځه وروسته خو ټوله خلک پر هغه ځائ باندي موجود دي او د ماخستن لمونځ په خپل وخت کي ادآء کيږي نو ځکه د دوباره بيا اقامت ويلو ضرورت نسته. ددې حديث څخه دا هم معلوم سو چې په مُزدلفه کي به د مابنام او ماخستن لمنځونه پر يوه ځائ باندي سره ادآء کوي.

پام لرنه په يو بل حديث کي دوه واره د اقامت ويلو ذکر راغلئ دئ حَتّيٰ اَتيَ المزدَلِفَةَ فَصَلّيٰ بِهَا المغرِبَ وَالعِشَآءَ بِاَذَانٍ وَّاحِدٍ وَاِقَامَتَينِ (مُسلم شريف نمبر۱۲۱۸)

[۶۵۲](۴۸) کوم چا چې د مابنام لمونځ د مُزدَلِفي په لاره کي وکئ نو د امام ابوحنيفه او امام مُحمد په نيز جواز نه لري.

تشريح د عرفات څخه مُزدلفي ته راروان دئ او د مُزدلفي څخه مخکي په لاره کي د مابنام لمونځ وکئ نو د طرفينو په نيز به لمونځ دوباره را ګرزوي.

وجه (۱) ځکه چې د نَن د ورځي د مابنام د لمانځه وخت بدل سو او و مُزدَلِفَه ته د رسېدو وروسته ددې وخت داخليږي. نو ګواکه د وخت څخه مخکي لمونځ کړئ دئ (۲) په حديث کي راغلئ دي چې په دې ورځ د حاجيانو د لمانځه وخت بدل سوئ دئ . عَن اُسَامَةَ بنِ زَيدٍ اَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ دَفَعَ رَسُولُ اللهِ مِن عَرَفَةَ ... فَقُلتُ لَهُ اَلصَّلوةُ قَالَ اَلصَّلوةُ اَمَامَكَ فَجَآءَ المزدَلِفَةَ فَتَوَضَّاَ فَاَسبَغَ ثُمَّ اُقِيمَتِ الصَّلوةُ فَصَلّي المغرِبَ (ج) (بخاري شريف،باب الجمع بين الصلاة بالمزدلفة ص۲۲۷نمبر۱۲۷۲\مُسلم شريف،باب استحباب ادامة الحاج التلبية ص۴۱۶نمبر۱۲۸۰)ددې حديث څخه معلوم سو چې

حاشيه : (الف) حضور سهار کئ نو د جَبَلِ قُزَح سره قيام وکئ او دالته د قيام کولو ځائ دئ. او مُزدلفه ټوله د قيام کولو ځائ دئ (ب) حضور په مُزدلفه کي مابنام او ماخستن سره جمع کړل، د مابنام لمونځ يې وکئ دريې رکعته او د ماخستن دې دوه رکعته په يوه اقامت سره (ج) حضور د عرفات څخه روان سو ... ما وويل چې د لمانځه وخت سو. حضور وفرمائل د لمانځه وخت مخته دئ. بيا مُزدلفي ته راغلئ او په بنه توګه اَودَس وکئ بيا يې د لمانځه اقامت وکئ او د مابنام لمونځ يې وکئ .

[۶۵۳](۴۹) فَاِذَا طَلَعَ الفَجرُ صَلَّي الاِمَامُ بِالنَّاسِ الفَجرَ بِغَلَسٍ .

د لمانځه وخت مخکي دئ يعني چې مُزدلفي ته ورسيږو بيا دئ (۳) قَالَ عَبدُاللهِ بنِ مَسعُودٍ هُمَا صَلواتَانِ تُحَوَّلاَنِ عَن وَقتِهِمَا صَلوةُ المغرِبِ بَعدَ مَايَاتِي النَّاسُ المزدَلِفَةَ وَالفَجرِ حِينَ يَبزِغُ الفَجرُ قَالَ رَاَيتُ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَفعَلُهُ (الف) (بخاري شريف،باب من اذَّن واقام لكل واحدمنهما ص۲۲۷نمبر۱۶۷۵)ددې اثر څخه معلوم سو چې په نن ورځ د مابنام د لمانځه وخت دسر څخه بدل سوئ دئ نو ځکه که د وخت څخه مخکي لمونځ وکي نو حتمًا به بېرته راګرزوي .

فائده د امام ابويوسف په نيز په مُزدلفه کي دننه د مابنام لمونځ کول سُنّت دئ. نوځکه که په مُزدلفه کي دننه د مابنام لمونځ نه وکئ نو د راګرزولو ضرورت يې نسته. ځکه چې د مابنام دلمانځه وخت داخل سوئ دئ. نو د سُنّت خلاف کار خوې وکئ. لېکن لمونځ يې صحيح سو. د لمانځه د راګرزولو ضرورت نسته. دده دليل دا اثر دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ زُبَيرٍ قَالَ مِن سُنَّةِ الحَجِّ ... ثُمَّ يُفِيضُ فَيُصَلِّي بِالمزدَلِفَةِ اَو حَيثُ قَضَي اللهُ عَزَّوَجَلَّ ثُمَّ يَقِفُ بِجَمعٍ (ب) (سنن للبيهقي،باب من قال يصليهمابالمزدلفة اوحيث قضي الله عزوجل ج۵ص۱۹۹نمبر ۹۵۰۲)ددې اثرڅخه معلوم سوچې هرځائ موقع پيداسوه او د مابنام وخت سونو لمونځ کولائي سي.

[۶۵۳](۴۹) بيا چې فَجر طلوع سي نو امام دي وخلګو ته د سهار لمونځ په غَلس کي ورکي.

وجه (۱) په عامو ورځو کي د احنافو په نيز د سهار لمونځ په اسفار(رونا)کي کول سُنّت دئ لېکن په دې ورځ د وُقُوفِ مُزدَلِفي په وجه او د رَمي جَمَرَات په وجه په غَلس کي به لمونځ کوي (۲) عَن عَبدِالرَّحمٰنِ بنِ يَزِيدٍ قَالَ خَرَجتُ مَعَ عَبدِاللهِ(بنِ مَسعُودٍ)اِلَيٰ مَكَّةَ ثُمَّ قَدِمنَا جَمعًا فَصَلّيٰ الصَّلو تَينِ كُلَّ صَلوةٍ وَحدَهَا بِاَذَانٍ وَاِقَامَةٍ وَالعِشَاءَ بَينَهُمَا ثُمَّ صَلَّي الفَجرَ حِينَ طَلَعَ الفَجرُ قَائِلٌ يَقُولُ طَلَعَ الفَجرُ وَقَائِلٌ يَقُولُ لَم يَطلَعِ الفَجرُ ثُمَّ قَالَ اِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ هَاتَينِ الصَّلو تَينِ حُوِّلَتَا عَن وَقتِهِمَا فِي هٰذَا المكَانِ

المغـرِبَ وَالعِشَـآءَ فَـلاَ يُقَـدِّمُ النَّـاسُ جَمعًـا حَـتّٰى يُقِيمُـوا وَصَـلوةُ الفَجـرِ هِـذِهِ السَّـاعَةَ (ج) (بخـاري شـريف،متي يصـلي الفجربجمـع ص۲۲۸نمبر۱۶۸۳\مُسلم شريف،باب استحباب زيادة التغليس بصلوة الصبح يوم النحر بالمزدلفة ص۴۱۷نمبر۱۲۸۹)ددي حـديث څخـه معلوم سو چي په مُزدَلِفَه کي به د سهار لمونځ په غَلس(تاريکه)کي کوي.

پـام لـرنـه ددي حديث څخه هم معلوم سو چي په دي ورځ د سـهار د لمانځـه وخـت بـدل سـوئ دئ. ځکـه پـه غَلَس کي لمونځ وکئ نو په عامو ورځو کي اصلي وخت د اسفار وخت دئ. چي د لمانځه په بـاب د احنـافو مسلك دئ.

~~حاشيه : (الف) عبدالله بن مسعود وفرمائل هغه دواړه لمنځونه د خپل وخت څخه بدل سوئ دئ . د ماښام لمونځ د خلکو و مُزدلفه تـه د~~ راتلو وروسته او د سهار لمونځ چي څه رنګه فجرطلوع سي . حضور يې ليدلئ دئ چي دغه رنګه کول (ب) بيا دي دعرفي څخـه روان سي او په مُزدلفه کي دي لمونځ وکي يا چي الله تعالیٰ چيري په مُقدّر کي ليکلئ وي هلته دي لمونځ وکي . بيادي په مُزدلفه کـي قيـام وکـي (ج) زه د عبدالله بن مسعود سره مکّي مُکرّمي ته ولاړم، بيا مُزدلفي ته راغلئ، نو دوه لمنځونه وکړل، هر لمونځ يـې پـه جـلا جـلا اذان او اقامت سره، او د ماخستن ډوډئ ددي په مابين کي وه، بيا يې د سهار لمونځ د طلوعِ فجر په وخـت کـي وکـئ دومـره ژر چـي څـه کسـانو وويل چي صُبح صادق سوئ دئ او څه کسانو ويل چـي صُبح صـادق نـه دئ سـوئ، بيـا يـې وفرمائـل چـي حضـور وفرمائـل چـي دواړه لمنځونه په دي ځائ کي په خپل خپل وخت څخه بدل سوئ دي، د ماښام او ماخستن لمنځونه .

[۶۵۴](۵۰) ثُمَّ وَقَفَ الاِمَامُ وَوَقَفَ النَّاسُ مَعَهُ فَدَعَا [۶۵۵](۵۱) وَالمزدَلِفَةُ كُلُّهَا مَوقَفٌ اِلاَّ بَطنَ مُحَسِّرٍ [۶۵۶](۵۲) ثُمَّ اَفَاضَ الاِمَامُ وَالنَّاسُ مَعَهُ قَبلَ طُلُوعِ الشَّمسِ حَتّٰى

---

[۶۵۴](۵۰) بيادي امام قيام وکئ او خلګ دي دده سره قيام وکي او دُعآء دي کوي.

تـشريـح د سهار لمونځ دي په مُزدلفه کي په غَلَس کي وکي ټوله خلـګ دي هلتـه قيـام وکـي او د ځـانو لپـاره دي دُعآءګاني وغُواړي. ځکه چي د لمر د راختو څخه مخکي مخکي به ددي ځائ څخه وُزي. نو تر هغه وخـت پـوري دي دُعآء او استغفار کوي.

وجـه مخکي حديث تير سو په هغه کي دا راغلي و چي حضور به تر اِسفار پوري تکبير و تهليـل کـاوئ. او دُعـآء به کوله. قَالَ دَخَلنَا عَلىٰ جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ ... ثُمَّ رَكِبَ القُصوَآءَ حَتّٰى اَتَى المشعَرَالحَرَامَ فَاستَقبَلَ القِبلَةَ فَدَعَاهُ وَكَبَّرَهُ وَهَلَّلَهُ وَوَحَّدَهُ فَلَم يَزَل وَقِفًا حَتّٰى اَسفَرَ جِدًّا فَدَفَعَ قَبلَ اَن تَطلُعَ الشَّمسُ (الف) (مُسلم شريف،باب حجة النبي ص۳۹۹نمبر۱۲۱۸\ابوداؤدشريف،باب صفة حجة النبي ص۲۷۱نمبر۱۹۰۵)ددي حديث څخه معلوم سو چي تر اَسفَار پوري دي تکبير،تهليل،توحيد کوي،او دُعاګاني دي کوي، او د طُلوع شمس څخه مخکي دي د مُزدلفي څخه مِنيٰ ته روان سي.

[۶۵۵](۵۱) او مُزدلفه ټوله د قيام کولو ځائ دئ ماسوا د وَادِيَ مُحَسّر څخه.

وجـه (۱) په وَادِيَ مُحَسّر کي و اصحاب فيل ته الله عـذاب ورکـړئ و نـو ځکـه پـه وادي مُحسّـر کـي دي قيـام نـه کوي.وَادِيَ مُحَسّر په مُزدلفه کي د يوي شلي نوم دئ (۲) عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كُلُّ عَرَفَةَ مَوقَفٌ وَارفَعُوا عَن بَطنِ عُرَنَةَ وَكُلُّ المزدَلِفَةِ مَوقَفٌ وَارفَعُوا عَن بَطنِ مُحَسِّرٍ وَكُلُّ مِنٰى مَنحَرٌ اِلاَّ مَاوَرَاءَالعَقَبَةَ (ب) (ابن ماجه شريف،باب الموقف بعرفات ص۴۳۶نمبر۳۰۱۲)ددي حديث څخه معلوم سو چي په مُزدلفه کي بَطنِ مُحَسّر د قيام کولو ځائ نه دئ. په نـوره مُزدلفه کي قيام کولائي سي. هسي هم چي حضور د واديَ مُحسّر سره تېربـدئ نـو وُښـه تېـز کـړه (نسـائي شـريف نمبر۳۰۵۵)

[۶۵۶](۵۲) بيا دي امام او دده سره خلګ د لمر د راختلو څخه مخکي روان سي تردي چي مِنٰي ته راورسيږي.

تـشريـح د لمر د راختلو څخه مخکي دي د مُزدلفي څخه مِنٰي ته روان سي.

وجـه (۱) مُشرکين دلمرد راختوڅخه وروسته د مُزدلفي څخه روانېدل.لېکن حضور د دوئي مخالفت وکئ اود لمـر د راختو څخه مخکي د مُزدلفي څخه مِنٰي ته روان سو (۲) سَمِعتُ عُمَرَ بنِ مَيمُونَ يَقُولُ شَهِدتُ عُمَرَ صَلَّي بِجَمعٍ الصُّبحَ ثُمَّ وَقَفَ فَقَالَ اِنَّ المشرِكِينَ كَانُوا لاَ يَفِيضُونَ حَتّٰى تَطلُعَ الشَّمسُ وَيَقُولُونَ اَشرَقَ ثَبِيرٌ وَاَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ خَالَفَهُم ثُمَّ اَفَاضَ قَبلَ اَن تَطلُعَ الشَّمسُ

(ج) (بخاري شريف،باب متيٰ يدفع من جمع ص۲۲۸نمبر۱۶۸۴)ددي حديث څخه معلوم سو چي د لمر د راختو څخه مخکي دي د مُزدلفي څخه مِنيٰ ته روان سي.

حاشيه : (الف) بيا پر قُصواء وُښَه سپور سو، تردي چي مشعرحرام ته راغلئ، نو دقبلي استقبال يي وکئ، دعآء يي وکړه، تکبير يي ووائي، توحيد يي بيان کئ، قيام يي وکئ تردي چي ښه اَسفَارسو(رونا سوه). بيا د لمر د راختو څخه مخکي روان سو (ب) حضور وفرمائل عرفات د قيام کولو ځائ دئ لېکن د بَطنِ عُرنه څخه ليري وسپرئ، ټوله مُزدلفه دقيام کولو ځائ دئ لېکن د بَطنِ مُحسّر څخه ليري وسپرئ، ټوله مِنيٰ د نحر ځائ دئ ما سوائ د عَقَبَه شلي و شاته (ج) عمر بن ميمون فرمائي چي ما حضرت عمر وليدئ چي ده په مُزدلفه کي د سهار لمونځ کاوئ، بيا يي هلته قيام وکئ او وفرمائل چي مُشرکانو د مُزدلفي څخه کوچ نه کاوئ تر څو چي لمر به نه و راختلئ او ويل به ثَبِير غَر و ځليدئ(بيا به کوچ کاوئ) او حضور د دوئي مخالفت وکئ او دلمر د راختو څخه مخکي روان سو .

يَاتُوا مِنيٰ [۶۵۷](۵۳) فَيَبتَدِأُ بِجَمرَةِ العَقَبَةَ فَيَرمِيهَا مِن بَطنِ الوَادِي بِسَبعِ حَصَيَاتٍ مِثلَ حَصَاةِ الخَذَفِ [۶۵۸](۵۴) وَيُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ [۶۵۹](۵۵) وَلاَ يَقِفُ عِندَهَا

په مسئله نمبر ۵۰کي هم دمُسلم شريف حديث(مُسلم شريف،نمبر۱۲۱۸\ابوداؤدشريف، نمبر ۱۹۰۵)تېر سوئ دئ چي د لمر د راختو څخه مخکي حضور مِنيٰ ته روان سو.

[۶۵۷](۵۳) نو د جمرهٔ عقبه څخه دي شروع کي او د جمرهٔ عقبي رَمي دي وکي د بَطنِ وَادِي څخه په اُوو ډبرو سره د تُوکَرُو د شَګُو په ركم .

تشريح جَمَرَاتِ دري دي.اوپه دي وخت کي پردري سره ځايوباندي د سېمينټو(سېمټو)کمبي (تمبي) لګېدلي دي. جَمرَهٔ اُوليٰ،جَمرَهٔ وُسطيٰ او جَمرَهٔ عَقَبه، په لسم(۱۰)ذي الحجه به صرف د جَمرَهٔ عَقَبي رَمي کوي او د بَطنِ وَادِي څخه به اُوه ډبري(شګي)ولي. لکه څه رنګه چي يوه شګه غُورزوي په دغه رنګه غُورزنګ به ولي. که دسېمينټو(سېمټو)پر کمبه(تمبه)ولګيري خو ښه خبره ده. که نه نو کم از کم په څلور سره طرف کي په دري دري ڤټ حُدود کي دا شګه ولګيري نو هم کفايت کوي.

وجه قَالَ دَخَلنَاعَلَيٰ جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ ... ثُمَّ سَلَكَ الطَّرِيقَ الوُسطيٰ اَلَّتِي تَخرُجُ عَلَيٰ الجَمرَةِ الكُبريٰ حَتّٰي اَتيٰ الجَمرَةَ الَّتِي عِندَالشَّجَرَةِ فَرَمَاهَا بِسَبعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ مِّنهَا مِثلَ حَصَي الخَذَفِ رَمٰي مِن بَطنِ الوَادِي ثُمَّ اِنصَرَفَ اِلَي المَنحَرِ (الف) (مُسلم شريف،باب حجة النبي ص۳۹۹نمبر۱۲۱۸\ابوداؤدشريف،باب صفة حجة النبي ص۲۷۱نمبر۱۹۰۵)ددي حديث څخه معلوم سو چي د بَطنِ وَادِي څخه دي پر جمرهٔ عقبه باندي اُوه ډبري(شګي)وروغُورزوي.

لغت : اَلعَقَبَةَ . آخري، وروسته، دا آخري جمره ده او د دواړو جمرو و شاته ده نو ځکه ودي ته جمرهٔ عقبه وائي. رَمٰي . يَرمِي ډبره شَګه تَسَه وَل. بَطنُ الوَادِي. د جمرهٔ عقبي سره ديو ځائ نوم دئ . حَصَيَاتٌ. د حَصَاةٌ جمع ده شَګه . اَلخَذَفَ . شَګه تَسَه وَل .

[۶۵۸](۵۴) او تکبير دي ووائي د هري شَګي سره .

تشريح د رَمي جِمَرَات په وخت کي چي شَګي غُوَرزَوِي نو د هري شِګي د غُوَرزَوَلُو سره دي تکبير ووائي.

وجه لوړ په حديث کي تير سو يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ مِّنهَا (مُسلم شريف،ص۳۹۹نمبر۱۲۱۸\ابوداؤدشريف نمبر۱۹۰۵)نور دلائل مخکي راروان دي.

[۶۵۹](۵۵) او د جَمرَهٔ عَقَبَي سره به نه دريږي .

تشريح پر جمرهٔ اُوليٰ،جمرهٔ وُسطيٰ باندي د شَګُو غُوَرزَوَلُو وروسته دي و دريږي او دُعآء دي وکي لېکن پر جمرهٔ عقبه چي هر کله شګي غُوَرزَوِي نو نه دي دريږي بلکه مخته دي ولاړسي .

وجه (۱) چي هلته ډبر رَش جوړ نه سي (۲) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّهُ كَانَ يَرمِي الجَمرَةَ الدُّنيَا بِسَبعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ عَلَيٰ اِثرِ كُلِّ حَصَاةٍ

حاشيه : (الف) بيا حضور د مابين په لاره کي روان سو چې پر جَمرهٔ عَقَبَه باندي ور وتله . تردي چې هغه جمري ته راغلئ چې د درختِ سره ده . يعني جمرهٔ عقبه نو د هغې رَمي يې په اُوَه شَګو سره وکي . د هري شګي سره به تکبير وائي د ټوکَرُو د شَګُو په رکم د بَطنِ وَادِي ځخه رَمِي وکړي بيا د مَذبَح پر لوري واپس سو .

[۶۶۰](۵۶) وَيَقطَعُ التَّلبِيَةَ مَعَ اَوَّلِ حَصَاةٍ [۶۶۱](۵۷) ثُمَّ يَذبَحُ اِن اَحَبَّ .

ثُمَّ يَتَقَدَّمُ حَتّٰى يُسهِلَ فَيَقُومُ مُستَقبِلَ القِبلَةِ فَيُسهِلُ فَيَقُومُ طَوِيلاً وَيَدعُو وَيَرفَعُ يَدَيهِ ثُمَّ يَرمِي الوُسطىٰ ثُمَّ يَاخُذُ ذَاتَ الشِّمَالِ فَيَستَهِلُّ وَيَقُومُ مُستَقبِلَ القِبلَةِ فَيَقُومُ طَوِيلاً وَيَدعُو وَيَرفَعُ يَدَيهِ وَيَقُومُ طَوِيلاً ثُمَّ يَرمِي جَمرَةَ ذَاتِ العَقَبَةِ مِن بَطنِ الوَادِي وَلاَ يَقِفُ عِندَهَا ثُمَّ يَنصَرِفُ وَيَقُولُ هٰكَذَا رَاَيتُ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَفعَلُهُ (الف) (بخاري شريف،باب اذا رمي الجمرتين يقوم مُستقبل القبلة وَيسهل ص۲۳۶نمبر۱۷۵۱)په دې حديث کي دئ چې د جمرهٔ عقبې سره نه درېدئ . البته د جمرهٔ اُولىٰ او جمرهٔ وُسطيٰ د وِشتَلُو وروسته دي پر سائيډ(کناره)سي او دُعآء دي وکي چې و خلګو ته تليف نه وي .

پام لرنه په دې حديث کي دا هم دئ چې د هري شګي سره تکبير وائي .

[۶۶۰](۵۶) او تلبيه دي د اولي شَګِي غُوَرزَوَلُو سره ختم کي .

وجه (۱) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَردَفَ الفَضلَ فَاَخبَرَالفَضلُ اَنَّهُ لَم يَزَل يُلَبِّي حَتّٰى رَمىٰ الجَمرَةَ العَقَبَةَ (ب) (بخاري شريف،باب التلبية والتكبيرغداة النحرحين يرمي الجمرة العقبة ص۲۲۸نمبر۱۶۸۵)په ابن ماجه شريف کي دا زيادتي هم ده فَلَمَّا رَمَاهَا قَطَعَ التَّلبِيَةَ (ج) (ابن ماجه شريف،باب متي يقطع الحاج التلبية ص۴۴۰نمبر۳۰۴۰)ددې حديث ځخه معلوم سو چې تر جمرهٔ عقبه پوري به تلبيه وائي او د اوّلي دِبري(شګي)د غُورزولو سره به سم دستي تلبيه ختم کوي (۲) د تلبي مطلب دئ چې زه حاضر يم. نو چې د شيطان سره نژدې دا ووائي چې زه حاضر يم نو دا خو يوه دِبره اُلتِا(بېمعنيٰ)خبره ده. نو ځکه د شيطان د وِشتلو په وخت کي به تلبيه ختم کوي او د الله لوئي به بيان وي او تکبير به وائي .

[۶۶۱](۵۷) بيا دي ذبح وکي که خُوَښَه وي خو .

وجه خبره خو د مُفرد بالحج په باب کي شروع ده او پر مُفرد باندي هَدِي نه ده واجب بلکه مُستحب ده نوځکه که خُوَښَه سي خو هَدِي دي ذبح(حلال)کړي او که خُوَښَه سي نه دې حلالوي. نو ځکه مُصنف وفرمائل چې که خُوَښَه سي نو د رَمي وروسته دي ذبح وکي. دغه رنګه حضور ذبح کړي وه. خو که چيري مُتَمَتِع يا قَارن وي نو پر هغو باندي ذبح کول واجب نه ده (۱) په حديث کي دئ دَخَلنَا عَلىٰ جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ ... ثُمَّ اِنصَرَفَ اِلىٰ المنحَرِ فَنَحَرَ ثَلاَ ثًا وَّسِتِّينَ بِيَدِهِ ثُمَّ اَعطىٰ عَلِيًّا فَنَحَرَ مَا غَبَرَ وَ اَشرَكَهُ فِي هَدِيِهِ (د) (مُسلم شريف،باب حجة النبي ص۲۹۹نمبر۱۲۱۸\ابوداؤدشريف،باب صفة حجة النبي ص۲۷۱نمبر۱۹۰۵)ددې حديث ځخه معلوم سو چې د رَمِي وروسته چې وَس يې ورسيږي مُفرد بايد ذبح وکي (۲) دا هَدِي د حج د شُکريې په توګه ده. نو ځکه د الله د شُکر د ادآء کولو لپاره هَدِي ذبح کول په کار ده.

حاشيه : (الف) عبدالله بن عمر به پر جمرهٔ اُولىٰ باندي رَمِي کولې په اُوو شَګُو سره او پر هره شَګه به تکبير وايئ بيا به مخ ته تلئ تر دي چې نرم مخکې ته راتلئ بيا يې د قبلې استقبال کاوئ ولاړېدئ او تر دېره پوري به ولاړ و او دُعآء به کوله او دواړه لاسونه پورته کول بيايې د جمرهٔ وُسطيٰ رَمِي کولې بيا و چَپَه سائيډ(طرف)ته ليږي کېدئ او نرم مخکې ته تلئ او مخامخ و قبله ته درېدئ بيا به دُعآء کوله، او لاسونه پورته کوله او تر دېره پوري به ولاړ و، بيا به د جمرهٔ عَقَبې رَمِي کولې د بَطنِ وادي ځخه او هلته نه درېدئ، بيا به واپس راتلئ او فرمائل به چې دا رنګه مو حضور ليدلئ دئ کول يې (ب) حضور فضل بن عباس تر شا کښېناوئ نو هغو خبر ورکړئ چې حضور د جَمرَهٔ عَقَبې تر رَمِي پوري همېشه تکبير وايئ (ج) چې رَمِي کوي نو تلبيه ويل دي ختم کړي (د) بيا حضور د مَذبَح پر لوري واپس ولاړئ او په خپل لاس يې درېشپېته(۶۳)وُښان حلال کړل، بيا يې حضرت علي ته ورکړل او پاته هغو نحر(حلال)کړل، او حضرت علي يې په هَدِي کي حضور شريك کړئ .

[۶۶۲](۵۸) ثُمَّ يَحلِقُ اَو يُقصِرُ وَالحَلقُ اَفضَلُ [۶۶۳](۵۹) وَقَد حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيئٍ اِلاَّ النِّسَاءُ [۶۶۴](۶۰) ثُمَّ يَاتِي مَكَّةَ مِن يَومِهِ ذَالِكَ اَو مِنَ الغَدِ اَو مِن بَعدِ الغَدِ فَيَطُوفُ

---

[۶۶۲](۵۸) بيا دي حلق وکي يا دي قصر وکي او حلق افضل دئ .

تشريح د رَمِي وروسته دي حلق وکي يا دي قصر وکي .

وجه (۱) تر اُوسه په حج کي خِرَن بِرَن و. اُوس دي ببښتان صفا کي خِرِي مِرِي دي دځان څخه ليري کړي (۲) په آيت کي دئ لَتَدخُلُنَّ المسجِدَ الحَرَامَ اِن شَآءَ اللهُ آمِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُم وَمُقَصِّرِينَ (الف) (آيت ۲۷ سورة الفتح ۴۸)په دي آيت کي اشاره ده چي د عُمري يا دحج وروسته دي حلق يا قصر وکي (۳) په حديث کي دئ عَبدُاللهِ قَالَ حَلَقَ رَسُولُ اللهِ وَحَلَقَ طَائِفَةٌ مِن اَصحَابِهِ وَقَصَرَ بَعضُهُم قَالَ عَبدُاللهِ اِنَّ رَسُولَ اللهِ قَالَ رَحِمَ اللهُ المحَلِّقِينَ مَرَّةً اَو مَرَّتَينِ ثُمَّ قَالَ وَالمقَصِّرِينَ (ب) (مُسلم شريف،باب تفضيل الحلق علي القصروجوازالتقصيرص۴۲۰نمبر۱۳۰۱\ ابوداؤدشريف،باب الحلق والتقصيرص۲۷۸نمبر۱۹۷۹)ددي حديث څخه معلوم سو چي د رَمِي وروسته حلق ښه دئ او قصر هم جائز دئ. ځکه چي حضور و حلق کونکي ته دري واره دُعآء کړې ده او قصر کونکي ته يو وار دُعآء کړې ده (۴) په قصرکي خِرَي مِرِي لږ ليري کيږي نو قصر لږ بهتر دئ .

پام لرنه د ښځو لپاره صرف قصر کول جائز دئ. ځکه چي حلق ددي د زينت(بنائست)خلاف دئ. په حديث کي دئ اَنَّ اِبنَ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ لَيسَ عَلَيٰ النِّسَآءِ حَلقٌ اِنَّمَا عَلَيٰ النِّسَآءِ اَلتَّقصِيرُ (ابوداؤدشريف،باب الحلق والتقصيرص۲۷۹نمبر۱۹۸۵)

[۶۶۳](۵۹) او حلال سو دده لپاره هر شيئ ما سوائ دښځو څخه .

تشريح په لسم(۱۰)تاريخ د رَمِي جَمَرَات وروسته د ښځو څخه علاوه خوشبو،ګنډلي کپړه دغه رنګه څه نورشيان ټوله حلال سول .

وجه حديث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِذَا رَمَيتُمُ الجَمَرَةَ فَقَد حَلَّ لَكُم كُلَّ شَيئٍ اِلاَّ النِّسَاءُ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا اِبنَ عَبَّاسٍ وَالطِّيبُ ؟ فَقَالَ اَمَّا اَنَا فَقَد رَاَيتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَضمَخُ رَاسَهُ بِالمِسكِ اَفَطِيبٌ ذَالِكَ اَم لاَ ؟(ج) (ابن ماجه شريف،باب مايحل للرجل اذا رمي جمرة العقبة ص۲۲۴\ نسائي شريف،باب ما يحل للمحرم بعد رمي الجمار ج۲ص۴۲نمبر۳۰۸۶\ابوداؤدشريف،باب الافاضة في الحج ص۲۸۱نمبر۱۹۹۹)ددي حديث څخه معلوم سو چي د ښځي څخه علاوه ټول شيان حلال سول کوم چي د احرام په وجه حرام سوي و .

[۶۶۴](۶۰) بيا دي په هغه ورځ مَکّي مُکرّمي ته راسي يا په دومه ورځ يا په دريمه ورځ بيا دي د بيتُ الله اُوَه شوطه طَوَافِ زِيَارَت وکي .

تشريح و حاجي ته اختيار دئ چي په لسمه(۱۰)ذي الحجة د رَمِي،ذَبح او حلق کولو وروسته مَکّي مُکرّمي ته راسي طَوَافِ زِيَارَت چي فرض دئ هغه وکي او دا اختيار هم و ده ته سته چي په يوولسم(۱۱) يا دوولسم(۱۲) تاريخ باندي راسي .

حاشيه : (الف) انشآءالله په مسجد کي به داخل سئ په امن سره په داسي حال کي چي خَرَيُونکي به وي سرونه خپل او لنډونکي به وي (ب) حضور حلق وکئ او دده ملګرو حلق وکئ او بعضو قصر وکئ، حضرت عبدالله فرمائي چي حضور دُعآء وکړه ائ الله ! پر حلق کونکو باندي رحم وکي يو وار يا دوه وار، بيا يي وفرمائل پر قصر کونکو باندي رحم وکي (ج) حضور وفرمائل چي تاسو د جمري رَمِي وکئ نو ستاسو لپاره هر شيئ حلال سو ما سوائ د بي بي ګانو، يوه سړي وويل ائ عبدالله بن عباس ! آيا خوشبو هم ؟ وفرمائل بهر حال ما حضور وليدئ په مُشك يي سر مُبنُووَئ نو آيا دا خوشبو نه ده ؟ .

بِالبَيتِ طَوَافَ الزِّيَارَةِ سَبعَةَ اَشوَاطٍ [۶۶۵](۶۱) فَاِن كَانَ سَعيٌ بَينَ الصَّفَا وَالمروَةَ عَقِيبَ طَوَافَ القُدُومِ لَم يَرمَل فِي هٰذَا الطَّوَافِ وَلاَ سَعيٌ عَلَيهِ وَاِن لَم يَكُن قَدَّمَ السَّعيَ رَمَلَ فِي هٰذَا الطَّوَافِ وَيَسعيٰ بَعدَهُ عَلَيٰ مَا قَدَّمنَاهُ [۶۶۶](۶۲) وَقَد حَلَّ لَهُ النِّسَآءُ .

خو په لسم(۱۰)تاريخ باندي راتلل دپر ښه دئ. ځکه چي په دي کي عبادت ژر پوره کول دئ. او حضور په لسم(۱۰)تاريخ مَکّي مُکرّمي ته تشريف راوړئ و .

وجه (۱) دَخَلنَا عَلَيٰ جَابِرِبنِ عَبدِاللهِ ... ثُمَّ رَكِبَ رَسُولُ اللهِ فَاَفَاضَ اِلَي البَيتِ فَصَلّيٰ بِمَكَّةَ الظُّهرَ (الف) (مُسلم شريف،باب حجة النبي ص۴۰۰نمبر۱۲۱۸\ابوداؤدشريف،باب صفة حجة النبي ص۲۷۱نمبر۱۹۰۵)ددي حديث څخه معلوم سو چي حضور د ذي الحجي د لسمي تر ماپښين پوري مَکّي مُکرّمي ته تشريف وړئ و. نو ځکه د ذي الحجي په لسمه مَکّي مُکرّمي ته راتلل او طواف کول دپر بهتر دئ (۲) حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَفَاضَ يَومَ النَّحرِ ثُمَّ صَلَّي الظُّهرَ بِمِنيٰ يَعنِي رَاجِعًا

(ب) (ابوداؤدشريف،باب الافاضة في الحج ص٢٨١نمبر ١٩٩٨)ددې حديث څخه هم معلوم سو چې حضور د ذي الحجې په لسمه طواف کړئ دئ.

[٦٦٥](٦١) بيا که د طوافِ قُدُوم وروسته د صفا او مروه په مابين کې سعي کړي وې نو په دې طَوَافِ زِيَارَت کې به رَمَل نه کوي او نه پر ده باندې سعي سته، او که مخکې سعي نه وي کړي نو په دې طواف کې به رَمَل کوي او د هغه وروسته به سعي کوي لکه څه رنګه چې مخکې بيان سو .

تشريح په حج يا عُمره کې يو وار سعي او يو وار رَمَل(پهلواني)کيږي. نو که چيرې د حج په طواف قُدُوم کې سعي او رَمَل کړئ و نو په دې طوافِ زِيَارَت کې سعي او رَمَل نسته. او که مخکې سعي او رَمَل نه و کړئ نو د طوافِ زِيَارَت وروسته به سَعي بَينَ الصَّفَا وَ المرْوَةَ هم کوي او په طواف کې به په پهلواني سره تګ هم کوي.

وجه سُمِعَ جَابِرُ بنُ عَبدِاللهِ يَقُولُ لَمَ يَطُفِ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَلاَ اَصحَابُهُ بَينَ الصَّفَا وَالمروَةَ اِلاَّ طَوَافًا وَاحِدًا ... وَقَالَ اِلاَّ طَوَافًا وَاحِدًا طَوَافَهُ الاَوَّلُ (ج) (مُسلم شريف،بيان ان السعي لايتكررص٤١٤نمبر١٢٧٩)ددې حديث څخه معلوم سو چې په حج کې يا په عُمره کې به يوه سعي کوي. ځکه چې حضور او صحابه و يوه سعي کړې وه او هغو اول وار سعي کړې وې .

لغت عَقِبَ : وروسته، رَمَلَ : په پهلواني سره تګ کول، د طواف په اوّلو درو شَوطُوکې په پهلواني سره تګ کيږي و دې ته رَمَل ويل کيږي .

[٦٦٦](٦٢) او حلالِ سوې دده لپاره بې بې ګانِ ددې طواف وروسته .

تشريح د طوافِ زِيَارَت مخکې خپله بې بې(مينه)و ده ته حرام وه لېکن چې طَوَافِ زِيَارَت يې وکړئ نو ددې طواف په وجه اُوس و ده ته بې بې ګانِ حلالِ سوې .

وجه حديث دئ اَنَّ عَبدَاللهِ بنِ عُمَرَ قَالَ فَذَكَرَ الحَدِيثَ ... حَتّٰي قَضيٰ حَجَّهُ وَنَحَرَ هَديَهُ يَومَ النَّحرِ وَاَفَاضَ فَطَافَ بِالبَيتِ ثُمَّ

حاشيه : (الف) بيا حضور سپور سو او بَيتُ الله ته تشريف يوړئ او د مابښين لمونځ يې په مکّه مُکرّمه کې ادآء کړئ (ب) حضور د ذِي الحجّي په لسمه روان سو واپس راغلئ په مِنيٰ کې د مابښين لمونځ وکړئ يعني طَوَافِ زِيَارَت يې وکړئ واپس راغلئ (ج) جابربن عبدالله فرمائي چې حضور او دده ملګرو د صفا او مروه په مابين کې يو وار سعي کړي دي ... دا يې هم وفرمائل چې اوّل وار يې سعي کړي دي .

[٦٦٧](٦٣) وَهٰذَا الطَّوَافُ هُوَ المفرُوضُ فِي الحَجِّ [٦٦٨](٦٤) وَيُكرَهُ تَاخِيرُهُ عَن هٰذِهِ الاَيَّامِ فَاِن اَخَّرَهُ عَنهَا لَزِمَهُ دَمٌ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالىٰ وَقَالاَ لاَ شَيئَ عَلَيهِ [٦٦٩](٦٥) ثُمَّ يَعُودُ اِلىٰ مِنيٰ فَيُقِيمُ بِهَا .

حَلَّ مِن شَيئٍ حُرِمَ مِنهُ (الف) (سنن للبيهقي،باب التحلل بالطواف اذا كان قدسعي عقيب طواف القدوم ج٥ص٢٣٧نمبر ٩٦٤٧)ددې حديث څخه معلوم سو چې د طَوَافِ زِيَارَت وروسته ښځه هم حلاليږي. ددې څخه مخکې خوشبو،ګنډلې کپړه او ښکار حلال سوئ و، اُوس ښځه هم حلال سوه .

[٦٦٧](٦٣) په حج کې دا طَوَاف فرض دئ .

وجه ددې طواف د فرضيّت دليل دا آيت دئ ثُمَّ لِيَقضُوا تَفَثَهُم وَ لِيُوفُوا نُذُورَهُم وَ لِيَطَّوَّفُوا بِالبَيتِ العَتِيقِ (ب) (آيت ٢٩سورة الحج ٢٢)په دې آيت کې د اَمَر په صيغه سره د بَيتُ العَتِيق يعني د بَيتُ الله د طواف حکم ورکړئ دئ .نو ځکه دا طَوَاف فرض دئ .

[٦٦٨](٦٤) مکروه دئ طَوَافِ زِيَارَت ځنډول ددې ورځو څخه، بيا که مُؤخر کړئ نو د امام ابوحنيفه په نېز پر ده باندې دَم لازميږي. او صاحبين فرمائي پر ده باندې هيڅ شيئ نه لازميږي.

وجه د امام ابوحنيفه رايه داده چې که طَوَافِ زِيَارَت د اَيَّامِ نَحر څخه وځنډوي نو دَم لازميږي (١) ځکه چې دا شيان د وقت سره مُوَقّت دي نو ځکه د وخت څخه په ځنډولو باندې دَم لازميږي (٢) په اثر کې دئ اَنَّ عَبدَاللهِ بنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَن نَسِيَ مِن نُسُكِهِ شَيئًا اَو تَرَكَهُ فَليُهرِق دَمًا (ج) (سنن للبيهقي،باب من ترك شيئا من الرمي حتي يذهب ايام منيٰ ج٥ص٢٤٨نمبر٩٦٨٨)په دې اثر کې دئ چې څه پريږدي يا په هير سي نو دَم لازميږي. او ده خو پر وخت باندې

طَوَافِ زِيَارَت پرې اښئ دئ وروسته ادآء کړئ دئ نو ځکه پر ده باندې دَم لازم دئ، يو بل اثر هم دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَن قَدَّمَ شَيئًا مِن حَجِّهِ اَو اَخَّرَهُ فَلْيُهرِق لِذَالِكَ دَمًا (مصنف ابن ابي شيبة،٣٥٣ في الرجل يحلق قبل ان يذبح ج٣ص٩٤٥نمبر١٤٩٥٤)ددې اثر ځخه معلوم سو چې که د وخت ځخه وځنډول نو دَم لازم دئ .

فائده صاحبين فرمائي چې که په عُمر کې هسې يو طَوَاف وکې نو هغه طواف ادآءکيږي لهٰذا په ځنډولو سره دَم نه لازميږي .

[٦٦٩](٦٥) بيا دي د مِنيٰ پر لوري را وګرزي او هلته دي قيام وکي .

تشريح په لسمه د ذي الحجې دي طَوَافِ زِيَارَت وکي واپس دي مِنيٰ ته راسي او هلته دي قيام وکي او رَمِي جَمَرَات دي کوي .

وجه (١) حديث دئ عَن اِبنِ عُمرَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ اَفَاضَ يَومَ النَّحرِ ثُمَّ رَجَعَ فَصَلّيٰ الظُّهرَ بِمِنيٰ (د) (مُسلم شريف،باب استحباب طواف الافاضة يوم النحر ص٤٢٢نمبر١٣٠٨) (٢) يُسئَلُ اِبنُ عُمَرَ قَالَ اِنَّا نَبتَاعُ بِاَموَالِ النَّاسِ فَيَاتِي اَحَدُنَا مَكَّةَ فَيَبِيتُ عَلَيٰ المَالِ

حاشيه : (الف) تردي چې حضور خپل حج پوره کړئ او په لسم تاريخ يې خپله هَدِي نحر(حلال)کړه او ولاړئ، نو د بَيتُ الله طواف يې وکئ بيا هغه ټوله شيان حلال سول چې دده ځخه حرام سوي و (ب) بيا دي خپلې خِرِي مِرِي ليرې کړي او خپل نَذَر دي پوره کړي او د بَيتُ الله طواف دي وکي (ج) عبدالله بن عباس وفرمائل د چا چې د حج د اركانو ځخه څه هير سي يا هغه پرېږدي نو وينَه ټُويول په کار ده (د) حضور په يوم النحر کې طواف زيارت وکئ بيا واپس سو او د ماښښين لمونځ يې په مِنيٰ کې وکئ .

[٦٧٠](٦٦) فَاِذَا زَالَتِ الشَّمسُ مِنَ اليَومِ الثَّانِي مِن اَيَّامِ النَّحرِ رَمٰي الجِمَارَ الثَّلٰثَ يَبتَدِئُ بِالَّتِي تَلِي المسجِدَ [٦٧١](٦٧) فَيَرمِيهَا بِسَبعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ ثُمَّ يَقِفُ

فَقَالَ اَمَارَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَبَاتَ بِمِنيٰ وَظَلَّ (الف) (ابواداؤدشريف،باب يبيتُ بمكّة ليالي مِنيٰ ص٢٧٧نمبر١٩٥٨) ددې حديث ځخه معلوم سو چې لسمه يوولسمه او دوولسمه ايام تشريق کې په مِنيٰ کې شپَه تيرول سُنّت ده .

[٦٧٠](٦٦) په يوولسم تاريخ چې لمر زوال سي نو د درو سره جَمَرَاتُو رَمِي دي وکي، شروع دې کې د مسجد ځخه .

تشريح په لسمه ذي الحجه صرف د جَمرَهٔ عَقَبي رَمِي کول وې. لېکن په يوولسمه ذي الحجه(چې د لسمي ذي الحجې دومه ورځ ده)باندې د درو سره جَمَرَاتُو رَمِي دي وکي او د زوال وروسته دي رَمِي وکي . د اولي جَمرې ځخه دي شروع په وکي چې د مسجدِخِيف سره نژدې(نزدې)ده،هلته دي اُوه شَکِي وَولِي او د هري شَکِي سره دي تکبير ووائي او د اولي او دومي جَمرې سره دي ودريږي دُعآء دي وکي او د دريمي جَمرې وروسته دي نه دريږي او دُعآء دي نه کوي چې هلته رَش جوړ نه سي .

وجه (١) سَاَلتُ اِبنَ عُمَرَ مَتيٰ اَرمِي الجِمَارَ ؟ قَالَ اِذَا رَمٰي اِمَامُكَ فَارمِهِ فَاَعَدتُ عَلَيهِ المسئَلَةَ قَالَ كُنَّا نَتَحَيَّنُ فَاِذَا زَالَت الشَّمسُ رَمَينَا (ب) (بخاري شريف،باب رمي الجمارص٢٣٥نمبر١٧٤٦)ددې اثر ځخه معلوم سو چې د زوال ځخه وروسته دي رَمِي وکي (٢) د ابوداؤدشريف حديث دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت اَفَاضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مِن آخِرِ يَومِهِ حِينَ صَلّيٰ الظُّهرَ ثُمَّ رَجَعَ اِلَيٰ مِنيٰ فَمَكَثَ بِهَا لَيَالِيَ اَيَّامَ التَّشرِيقِ يَرمِي الجَمَرَةَ اِذَا زَالَتِ الشَّمسُ كُلَّ جَمرَةٍ بِسَبعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ وَيَقِفُ عِندَ الأُولٰي وَالثَّانِيَةِ فَيُطِيلُ القِيَامَ وَيَتَضَرَّعُ وَيَرمِي الثَّالِثَةَ وَلاَ يَقِفُ عِندَهَا (ج) (ابوداؤدشريف،باب في رمي الجمارص٤٢٠نمبر١٩٧٣)ددې حديث ځخه معلوم سو چې د دومي،دريمي او ځلورمي ورځي رَمِي به د زوال ځخه وروسته کوي، او د هري دِبري(شَکِي)سره به تکبير وائي او د اوّلي او دومي جمرې سره دي ودريږي دُعآء دي وکي او د دريمي جمرې سره دي نه دريږي .

لغت : اَليَومُ الثَّانِي مِن اَيَّامِ النَّحرِ . د يَومُ النّحر دومه ورځ د ذي الحجّي يوولسمه ورځ وي .اَلمسجِدُ . ددې مسجد ځخه مسجدِخيف مُراد دئ چې د جَمرَهٔ اُولیٰ ځخه ښَه وشا ته پر لږ لوړ ځائ باندې دئ. په دې وخت کې دايې دِبر لوئي مسجد جوړکړئ دئ .

[٦٧١](٦٧) نو د دې رَمِي دي وکي په اُوَه اُوَه شَکُو سره، تکبير دي ووائي د هري شَکِي سره، بيا دي ودريږي د جَمرَهٔ اُولیٰ سره او دُعآء دي وکي بيا دي رَمِي وکي چې ددې وروسته جَمرَه ده دغه رنګه او دهغې سره دي ودريږي بيادي رَمِي وکي د جَمرَهٔ عقبې سره دغه رنګه او هلته دي نه دريږي .

حاشيه : (الف) د عبدالله بن عمر څخه پوښتنه وکړه چې مورږ د خلګو مال خرڅوو نو زمورږ څخه بعض مَکّې ته راځي او هلته د مال لپاره شپه تيروي ؟ نو حضرت ابن عمر وفرمائل بهر حال حضور خو په مِنيٰ کي شپه تيروله او هلته قيام کاوئ (ب) ما د ابن عُمر څخه پوښتنه وکړه چې کله رَمِي جِمَار وکړي ؟ وفرمائل چې ستاسو امام رَمِي وکي نو تاسو دده رَمِي وکئ، ما دوم وار پوښتنه وکړه،حضرت ابن عُمر وفرمائل مورږ به انتظار کاوئ، نو چې لمر به زوال سو مورږ به رَمِي کولې (ج) حضور دهغه ورځې په آخر کي طَوَافِ زِيَارَت وکئ څه وخت چې د ماپښين لمونځ يې وکئ،بيا د مِنيٰ پر لوري واپس راغلئ،نو هلته د ايّام تشريق په شپه کې قيام وکئ،چې لمر به زوال سو نو د جَمَرَاتُو رَمِي به کولې پر هره جمره باندې د اُوو شُکُو سره،د هري شَکِي سره به تکبير وائي،او د اوّلي جمرې سره او د دومي جمرې سره درېدئ،او وُږده ولاړه کوله(دېر درېدئ)او عاجزي يې کوله او پر دريمه جمره يې رَمِي کولې نو هلته نه درېدئ .

عِندَهَا فَيَدعُو ثُمَّ يَرمِي الَّتِي تَلِيَهَا مِثلَ ذَالِكَ وَيَقِفُ عِندَهَا ثُمَّ يَرمِي جَمرَةَ العَقَبَةَ كَذَالِكَ وَلاَ يَقِفُ عِندَهَا [٦٧٢](٦٨) فَإِذَا كَانَ مِنَ الغَدِ رَمىٰ الجِمَارَ الثَّلٰثَ بَعدَ زَوَالِ الشَّمسِ كَذَالِكَ [٦٧٣](٦٩) وَإِذَا اَرَادَ اَن يَّتَعَجَّلَ النَّفرَ نَفَرَ اِلىٰ مَكَّةَ وَإِن اَرَادَ اَن يُّقِيمَ رَمٰي

تشريح ددې مسئلې تفصيل اووجه تولې لورږ تېرسوي دي (١) (ابوداؤدشريف،نمبر١٩٧٣) (٢) حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّهُ كَانَ يَرمِي الجَمرَةَ الدُّنيَا بِسَبعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ عَلىٰ اِثرِ كُلِّ حَصَاةٍ ثُمَّ يَتَقَدَّمُ حَتّٰى يُسهِلَ فَيَقُومُ مُستَقبِلَ القِبلَةِ فَيَقُومُ طَوِيلاً وَيَدعُو وَيَرفَعُو يَدَيهِ ثُمَّ يَرمِيَ الوُسطىٰ ثُمَّ يَاخُذُ ذَاتَ الشِّمَالِ فَيَستَهِلُّ وَيَقُومُ مُستَقبِلَ القِبلَةِ فَيَقُومُ طَوِيلاً وَيَدعُو وَيَرفَعُو يَدَيهِ وَيَقُومُ طَوِيلاً ثُمَّ يَرمِي جَمرَةَ ذَاتَ العَقَبَةِ مِن بَطنِ الوَادِي وَلاَ يَقِفُ عِندَهَا ثُمَّ يَنصَرِفُ وَيَقُولُ هٰكَذَا رَاَيتُ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَفعَلُهُ (الف) (بخاري شريف،باب اذا رمي الجمرتين يقوم مستقبل القبلة ويسهل ص٢٣٦نمبر١٧٥١)

[٦٧٢](٦٨) بس چې کله دا بله ورځ سي نو د درو سره جَمَرَاتُو دي د زوال څخه وروسته رَمِي وکي دغه رنګه .

تشريح د دابلي ورځې څخه مُراد دوولسمه(١٢)ذي الحجة ده. يعني په دوولسمه ذي الحجة دي هم د يوولسمي ذي الحجې په رکم د درو سره جَمَرَاتُو رَمِي وکي، او د لمر د زوال څخه مخکې دې وکي او پر جَمرَهٔ اُولي او جَمرَهٔ وُسطي دي ودريږي او دُعآء دي وکي او د جمرهٔ عقبې سره دي نه دريږي .

وجه ددې دليل په مسئله نمبر ٦٦کې تېرسوئ دئ .

[٦٧٣](٦٩) که ژر د کوچ کولو اراده وکي نو ولاړ دي سي د مَکّې مُکرّمې پر لوري او که قيام کول غُواړي نو په څلورمه ورځ دي رَمِي جِمَار وکي د زوال وروسته .

تشريح که تر درو ورځو پوري يعني تر دوولسمي ورځې پوري د جَمَرَاتُو رَمِي وکي د مِنيٰ څخه مَکّه مُکرّمه ته تلل وغُواړي نو تللائي سي او که د دوولسمي ورځې تر مابنام پوري په مِنيٰ کي قيام وکئ نو د دريارلسم په ورځ دي د زوال څخه وروسته د درو سره جَمَرَاتُو رَمِي وکي بيا دي مَکّې مُکرّمې ته واپس راسي .

وجه (١) په آيت کې دئ وَاذكُرُوا اللهَ فِي اَيَّامٍ مَّعدُودَاتٍ فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَومَينِ فَلاَ اِثمَ عَلَيهِ وَمَن تَاَخَّرَ فَلاَ اِثمَ عَلَيهِ لِمَنِ اِتَّقٰى (آيت٢٠٣سورة البقرة٢)ددې آيت څخه معلوم سو چې دوې ورځې يعني د دوولسم په ورځ راسي نو هم څه خبره نه ده (٢) په حديث کي دئ عَن عَبدِالرَّحمٰنِ يَعمَرُالدِّيلِيِّ قَالَ اَتَيتُ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ هُوَ بِعَرَفَةَ ... اَيَّامُ مِنيٰ ثَلٰثَةٌ فَمَن تَعَجَّلَ فِي يَومَينِ فَلاَ اِثمَ عَلَيهِ وَمَن تَاَخَّرَ فَلاَ اِثمَ عَلَيهِ (ب) (ابوداؤدشريف،باب من لم يدرك عَرَفَةَ ١٩٤٩)ددې حديث څخه هم معلوم سو چې په مِنيٰ کي د قيام کولو دري ورځي دي . لېکن په

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر به د حمرهٔ اولیٰ رَمِي په اُوُو دِبرو(شُکُو)سره کولې، پر هره شَکه به تکبير وائي، بيا به مخته کېدئ نرم مځکې ته به تلئ او د قبلې پر لوري به استقبال وکئ تر دِېر پورې به ولاړ و او لاس به پورته کړئ و دُعآء به کوله، بيا به د جَمَرهٔ وُسطي رَمِي کولې، بيا به و کنِ طرف ته پر نرم مځکه باندې درېدئ او دقبلې استقبال به کاوئ لاسونه به پورته کول او تر دِېره پورې به دُعآء کوله، بيا به د بَطنِ وَادِي څخه د جَمرَهٔ عَقَبي رَمِي کولې او هلته به نه درېدئ بيا به واپس تلئ او دا به ويل چې حضور مو دغه

رنګه ليدلئ دئ کول يې (ب) حضور وفرمائل ... په مِنيٰ کي د درېدو دري ورځي دي، بس چې کوم چا په دوو ورځو کي تلوار وکړه نو پر هغه باندي هيڅ ګناه نسته او کوم چا چې وځنډاوئ نو پر هغه باندي هيڅ ګناه نسته .

الجِمَارَ الثَّلٰثَ فِي اليَومِ الرَّابِعِ بَعدَ زَوَالِ الشَّمسِ كَذَالِكَ [۶۷۴](۷۰) فَاِن قَدَّمَ الرَّميَ فِي هٰذَا اليَومِ قَبلَ الزَّوَالِ بَعدَ طُلُوعِ الفَجرِ جَازَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالىٰ وَقَالاَ لاَ يَجُوزُ .

دوې ورځې کي هم يعني په يوولسمه او دوولسمه چې رَمِي وکي واپس(ببرته)راتلائي سي (۳) په اثر کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ كَانَ يَقُولُ مَن غَرَبَت عَلَيهِ الشَّمسُ وَهُوَ بِمِنىً اَوسَطَ اَيَّامِ التَّشرِيقِ فَلاَ يُنَفِّرَنَّ حَتّٰى يَرمِيَ الجِمَارَ مِنَ الغَدِ (الف) (۴) عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِذَا اِنفَتَحَ النَّهَارُ مِن يَّومِ النَّفرِ الآخِرِ فَقَد حَلَّ الرَّميُ وَالصَّدرُ (ب) (سنن للبيهقي،باب من غربت له الشمس يوم النفر الاول بمنیٰ حتي يرمي الجماريوم الثالث بعدالزوال ج۵ص۲۴۸نمبر۹۶۸۶\۹۶۸۷)ددې حديث څخه معلوم چې د دوولسم ماښام سي نو د مِنيٰ څخه دي کوچ نه کوي بلکه د دیارلسم تاریخ د زوال څخه وروسته دي رَمِي وکړي واپس دي راسي .

[۶۷۴](۷۰) بيا که په دې ورځ(د يارلسم)په ورځ د زوال څخه مخکې رَمِي مُقدمي کړي د طلوع فجر وروسته نو د امام ابوحنيفه په نېز جائز دئ او صاحبينو وفرمائل چې جواز نه لري .

تشريح که په ديارلسمه ذي الحجة د زوال څخه مخکې او د لمر د راختو څخه وروسته رَمِي کول وغُواړي نو د امام ابوحنيفه په نېز جائز دي او د صاحبينو په نېز جواز نه لري .

وجه (۱) چې ددې خبرې ګُنجائش سته چې په دريارلسم تاريخ ګرسره رَمِي ونه کي نو ددې خبرې هم بايد ګُنجائش پيدا سي چې د زوال څخه مخکې رَمِي وکي (۲) په اثر کي لوړ تير سو عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِذَا اِنفَتَحَ النَّهَارُ مِن يَّومِ النَّفرِ الآخَرِفَقَد حَلَّ الرَّميُ وَالصَّدرُ (سنن للبيهقي،باب من غربت الشمس يوم النفرالاول بمنیٰ الخ ج۵ص۲۴۸نمبر۹۶۸۷)په دې حديث کي دئ چې ورځ شروع سي(سهارسي)نو رَمِي کول حلال دي. او د ورځې د شروع کېدو څخه مُراد د لمر راختل دئ. ددې لمر د راختو وروسته رَمِي کول په کار دي نو په ديارلسم تاريخ يې کولائي سي .

فائده صاحبين فرمائي چې په ديارلسم تاريخ به هم د زوال څخه وروسته رَمِي کوي ځکه چې په حديث کي دئ چې په لسم تاريخ باندي د طُلُوعِ آفتاب وروسته حضور رَمِي کړي دي او په دا نورو ورځو کي د زوال وروسته رَمِي کړي دي. په حديث کي دئ سَمِعتُ جابِرَ بنِ عَبدِاللهِ يَقُولُ رَاَيتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَرمِي عَلىٰ رَاحِلَتِهِ يَومَ النَّحرِ ضُحىً فَاَمَّا بَعدَ ذَالِكَ فَبَعدَ زَوَالِ الشَّمسِ (ج) (ابوداؤدشريف،باب في رمي الجمارص۲۷۸نمبر۱۹۷۱)ددې حديث څخه معلوم سوچې په لسمه ذي الحجة دي د طلوع آفتاب وروسته رَمِي وکي او ددې وروسته په نورو ورځو کي د زوال وروسته حضور رَمِي کولي. ددې مطلب دا راوواتئ چې په ديارلسمه ذي الحجة به هم د زوال څخه وروسته رَمِي کوي .

پام لرنه د حضرت عبدالله بن عبّاس د قول په وجه امام ابوحنيفه د طُلوع آفتاب وروسته د رَمِي کولو قائل سوئ دئ .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر وفرمائل د اَيّامِ تشريق په مابين کي(يعني په دوولسمه ذي الحجة)پر کوم چا چې په مِنيٰ کي لمر پريوزي نو هغه دي کوچ نه کوي تر دي چې دا بله ورځ يعني په ديارلسمه ذي الحجة رَمِي وکي (ب) حضرت ابن عباس وفرمائل چې په ديارلسمه ذي الحجة ورځ را وخيژي(وخيږي)نو رَمِي کول هم حلال او واپس تلل هم حلال دي

پام لرنه : يَومُ الفِطرِ الآخَر و ديارلسمه ذي الحجة ته ويل کيږي .

(ج) حضور يې وليدئ چې په لسم تاريخ د څابنت پر وخت يې پر خپله سوارلئ باندي رَمِي کولې ، او د لسمي ذي الحجي وروسته خو د زوالِ شمس وروسته رَمِي کولې .

[۶۷۵](۷۱) وَيُكرَهُ اَن يُّقَدِّمَ الاِنسَانُ ثِقلَهُ اِلىٰ مَكَّةَ وَيُقِيمُ بِهَا حَتّٰى يَرمِيَ [۶۷۶](۷۲) فَاِذَا نَفَرَ اِلىٰ مَكَّةَ نَزَلَ بِالمُحَصَّبِ [۶۷۷](۷۳) ثُمَّ طَافَ بِالبَيتِ سَبعَةَ اَشوَاطٍ لاَ يَرمَلُ فِيهَا وَهٰذَا طَوَافُ الصَّدرِ .

---

[۶۷۵](۷۱) مکروه دئ چې انسان خپل سامان مَکّه مُکرّمه ته مُنتقل کړي او په خپله په مِنيٰ کي قيام وکي دد ې لپاره چې رَمِي وکي .

تـشريـح په خپله په مِنيٰ کي د رَمِي کولو لپاره قيام وکي او خپل سامان مَکّه مُکرّمه ته مُنتقل کړي دا رنګـه کـول مکروهِ تنزيهي دئ .

وجـه (١) په اثر کي راغلي دي قَالَ عُمَرُ مَن تَقَدَّمَ لَيلَةَ يَنفِرُ فَلاَ حَجَّ لَهُ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۲۲من كره ان يتقدم ثقله من مِنيٰ ج٣ص٣٨٧نمبر١٥٣٨۴) د اثر څخه معلوم سو چي خپل سامان مَکّي مُکرّمي ته نقل کول مکـروه دئ خوبيـا هم کـه سامان واستاوئ نو دَم نه لازميږي،په تېره زمانه کي خلګو خپل سامانونه دځان سره ساتل.په هوټل يا بل ځائ کـي نـه اېښـول نـو ځکـه کـه سـامان مخکـي واسـتوي او خپلـه پـه مِنـيٰ کـي پاتـه سـي نودسـړي زړه بـه دسـامان سـره لګېدلئ(مېښتئ)وي نو په دغه وجه دا مکروه دئ .لېکن که د نن سبا په رکم چي ټوله سامان مخکي لا په مَکّه مُکرّمه کي په هوټل کي وي نو بيا څه حرج نسته .

[۶٧۶](٧٢) بيا چي د مَکّي مُکرّمي په خوا کوچ وکي نو پر مُحصّب مقام دي قيام وکي ،

تـشريـح حضوردمِنيٰ څخه پرواپسي باندي ومَکّه مُکرّمه ته نژدې پرمقامِ مُحصّب باندي قيام کړئ و،

وجـه (١) حضوروفرمائل چي پردې ځائ باندي کافرانوټولوپريوه لاره دافيصله سره وکړه چي اسـلام بـه د منځ وړو(ختم کوو)نوځکه پردې ځائ دي قيام وکي چي وکافرانو ته دا ورښکاره کي چي اسلام ښه پرترقي دئ اومَکّـه مُکرّمه ته واپس راغلئ،ددې دشُکريې په توګه حضوراواصـحابانوپرمقامِ مُحصّـب بانـدي قيـام وکـئ (٢) اَنَّ اَنَسًا بِنِ مَالِكٍ حَدَّثَهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ صَلَّي الظُّهرَ وَالعَصرَ وَالمغرِبَ وَالعِشَآءَوَرَقَدَرَقدَةً بِالمحَصَّبِ ثُمَّ رَكِبَ اِلَيٰ البَيتِ فَطَافَ بِهِ (ب) (بخاري شريف،باب من صلي العصريوم النفربالابطح ص٢٣٧ نمبر١٧۶۴\مُسلم شريف،باب استحباب نزول المحصّب يوم النفروصلوة الظهر ومابعدها به ص۴٢٢ نمبر١٣٠٩)ددې حديث څخه معلوم سو چي د مِنيٰ څخه دوتلو وروسته پر مقامِ مُحصّب بانـدي قيـام کول په کار دئ .

لـغـت : اَلمحَصَّبُ . و مَکّه مُکرّمه ته نژدې(نږدې)د يوحائ نوم دئ .

[۶٧٧](٧٣) بيا دي د بَيتُ الله طواف وکي اُوه شَوطه،په دي کي دي رَمَل نه کوي او دا طَوافِ صَدردئ.

تـشريـح هسي خو چي په مَکّه مُکرّمه کي موجود وي چي هرځومره طوافونه کولائي سـي هغونـه بهتر(ښـه)دئ، خو چي د مَکّي مُکرّمي څخه واپس کيږي آخري طواف دي وکي ودې ته طواف صَدر او طواف وَدَاع وائي،په دې طواف کي دي رَمَل نه کوي .

وجـه (١) اُوس د مَکّي مُکرّمي او بَيتُ الله څخه رُخصتيږي نو ځکه وَدَاعِي طواف دي وکي او په دي کي بـه رَمَـل ځکه نه کوي چي رَمَل او سَعِي په هر حج او عُمره کي يو واره سُنّت دي دوم وار نه ، او په طوافِ قُدوم يا طوافِ زيارت کي يو وار رَمَل او سَعِي کړي دي نو ځکه دوم وار به نه کوي (٢) ددې طـواف دليـل دا حـديث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ اَمَرَ النَّاسَ اَن يَّكُونَ آخِرَ عَهدِهِم بِالبَيتِ اِلاَّ اَنَّهُ خَفَّفَ

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر وفرمائل کوم چا چي خپل سامان د دوولسمي ذي الحجي په شپه باندي مکّـه مُکرّمـه تـه مُنتقل کـړئ نـو ګواکه دده حج ګرسره نه سو صحيح (ب) حضور د ماښنين،ماځيګر،مابنام او ماخستن لمونځ په مُحَصّب کـي وکـي او لـږ څـه وخـت بيـده سو بيا د بَيتُ الله لپاره سپور سو او دهغي طواف يې وکئ .

[۶٧٨](٧۴) وَهُوَ وَاجِبٌ اِلاَّ عَلَيٰ اَهلِ مَکَّةَ ثُمَّ يَعُودُ اِلَيٰ اَهلِهِ [۶٧٩](٧۵) فَاِن لَم يَدخُلِ المحرِمُ مَکَّةَ وَتَوَجَّهَ اِلَيٰ عَرَفَاتَ وَوَقَفَ بِهَا عَلَيٰ مَا قَدَّمنَاهُ سَقَطَ عَنهُ طَوَافَ القُدُومِ وَلاَ شَيئَ

عَنِ الحَائِضِ (الف) (بخاري شريف،باب طواف الوداع ص٢٣۶نمبر١٧۵۵\مُسلم شريف،باب وجوب طواف الوداع وسقوطه عن الحائض ص۴٢٧نمبر١٣٢٧)ددې حديث څخه معلوم سو چي پر آفاقي باندي طواف وداع واجب دئ .

[۶٧٨](٧۴) دا طوافِ وَدَاع واجب دئ مګر د مَکّي پر خلګو باندي نه دئ واجب. بيا دي وخپل کورته واپس راسـي .

تـشريـح د طَوَافِ وَدَاع مطلب دئ د بَيتُ الله د پربښوولو طواف،لېکن د مَکّي خلګ خو په مکّه کـي دي دوئـي خـو بَيتُ الله نه پرېږ دي. نو ځکه د دوئي لپاره طوافِ وداع نه دئ واجب. دوئي ته خو چي هر وخـت موقـع ملاؤيـږي طوافونه به کوي .

وجـه (١) د وجوب دليل يې دغه لوړ حديث دئ (٢) يو بل حديث دا هم دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّاسُ يَنصَرِفُونَ فِي كُلِّ وَجهٍ فَقَـالَ رَسُولُ اللهِ لاَ يَنفِرُ اَحَدٌ حَتّٰى يَكُونَ آخِرُ عَهـدِهِ بِالبَيتِ (ب) (مُسلم شريف،باب وجوب طواف الوداع وسقوطه عن الحائض ص٤٢٧نمبر١٣٢٧\ابوداؤدشريف،باب طواف الوداع ص٢٨١نمبر٢٠٠٥)په دي حديث کي د اَمَر صِيغَه ده چي پر وجـوب بانـدي دلالت کوي، نو په دي وجه به هم پر آفاقي باندي طَوَافِ وَدَاع واجب وي .

[٦٧٩](٧٥) که مُحرم په مکّه کي نه سي داخل او عَرَفَات ته متوجه سي او هلته دارنګه وُقُوفِ عَرَفَه وکړي لکه څه رنګه چي مورِ مخ کي بيان کړه نو دده ځخه به طوافِ قدوم ساقط سي او د طوافِ قدوم په پربښوولو بانـدي پـر ده باندي هيڅ شيئ نه لازميږي .

تـشريـح يو مُحرم مَکّه ته نه راغلئ او احرام يې وتاړئ سيدا عَرَفَات له ولاړئ نـو دده حـج ادآء سـو. اُوس پـر ه باندي طَوافِ قُدُوم کول ضروري نه دئ او د طَوافِ قُدوم د پربښوولو ځخه دَم هم نه لازميږي .

وجـه (١) طَوافِ قُدُوم مَکّي ته د راتلو پر وخت کيږي او دئ مکّي ته راغلئ نه دئ نو ځکـه پـر ده بانـدي طَـوافِ قُدُوم نسته لکه يو ځوک چي مسجد ته داخل نسي نو پر هغه باندي د سره تَحِيّةُ المسـجد لازميږي هـم نـه (٢) اَخبَرَنِي مُضَرِّسُ الطَّائِي قَالَ اَتَيتُ رَسُولَ اللهِ بِالموقَفِ يَعنِي بِجَمعٍ قُلتُ جِئتُ يَارَسُولَ اللهِ مِن جَبَلَي طَيٍّ اَكلَلتُ مَطِيَتِي وَاَتعَبتُ نَفسِي وَاللهِ مَا تَرَكتُ مِن حَبلٍ اِلاَّ وَقَفتُ عَلَيهِ فَهَل لِي مِن حَجٍّ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ مَن اَدرَكَ مَعَنَا هٰذِهِ الصَّلوةَ وَاَتٰى عَرَفَاتَ قَبلَ ذَالِكَ لَيلاً اَو نَهَاراً فَقَد تَمَّ حَجُّهُ وَقَضٰى تَفَثَهُ (ج) (ابوداؤدشريف،باب مـن لم يـدرك عرفـة ص٢٧٦نمـبر١٩٥٠\ ترمـذي شـريف،باب ماجـآء مـن ادرك الامـام بجمـع فقـد ادرك الحـج ص١٧٩نمبر٨٩١)په دي حديث کي صحابي طوافِ قُدُوم نه دئ کړئ بلکه براه راسـت(دائيرك)عرفات تـه تللـئ دئ او په مُزدَلِفَه کي د حضور سره ملاؤ

حاشيه : (الف) حضور وخلګو ته حکم ورکئ چي د دوئي آخري عهد يعنـي وخـت دي د بَيتُ الله سره وي، مګر دا چـي د حائضـي ښـځي لپاره تخفيف وکئ (ب) د حضرت ابن عباس ځخه روايت دئ چي خلګ دي خوا ها خوا تـه روان و، نـو حضـور و فرمائـل د تاسو ځخـه دي يو دي خوا ها خوا ته نه ځي تردي چي دده آخري وخت د بَيتُ الله په طواف کي وي (ج) عُروَه بن مُضرس طائي فرمـائي چـي زمـا پـه مُزدَلِفَه کي حضور ته راغلم، ما وويل ائ د خدائ رسول د طَي غَرَه ځخه راغلئ يم او خپله سوارلئ او خپل ځان مو ستړئ کړئ دئ، او يو پوتَئ مو نه دئ پرې ښښئ مګر ما پر هغه باندي وُقُوف کړئ دئ نو آيا زما حج وسو ؟ حضـور وفرمائـل کـوم چـا چـي زمـوږ سـره دا لمونځ ومونډئ او دهغه ځخه مخکي په شپه کي يا په ورځ کي عرفات له راغلئ نو د هغه حج پـوره سـو او خپلـي خِـرِي مِـرِي دي ليـري کړي .

عَلَيـهِ لِتَرکِـهِ [٦٨٠](٧٦) وَمَـن اَدرَكَ الوُقُـوفَ بِعَرَفَـةَ مَـا بَـينَ زَوَالِ الشَّـمسِ مِـن يَّـومِ عَرَفَـةَ اِلٰى طُلُـوعِ الفَجـرِ مِـن يَّـومِ النَّحـرِ فَقَـد اَدرَكَ الحَـجَّ [٦٨١](٧٧) وَمَن اِجتَازَ بِعَرَفَةَ

سو بيا هم حضور ورته وفرمائل چي په عرفات کي پـه نهمـه(٩)ذي الحجـة کـي قيـام وکـي نـو حـج يـې ادآء سـو. حضور د طَوَافِ قُدُوم پر پربښوولو دَم نه دئ لازم کړئ. ددي ځخه دا هم معلوم سو چـي ځوک سـيدا عرفـات لـه ولاړ سي پر هغه باندي طَوَافِ قُدُوم نه دئ لازم، او دا هم معلوم سو چي طَوَافِ قُدُوم سُنّت دئ، ددي په پربښوولو باندي دَم نه لازميږي .

[٦٨٠](٧٦) کوم چا چي وُقُوفِ عَرَفَه و مونده د نهمي(٩)ذي الحجي د لمر د زوال وروسته ځخه د لسم(١٠)تـاريخ د طُلُوعِ صُبحِ صادق ځخه مخکي پوري نو هغه حج ومونډئ .

تـشـــريـح وُقُـوفِ عَرَفَـات فـرض دئ او ددي وخـت د نهمـي(٩)ذي الحجـي د لمـرد زوال وروسـته ځخـه دلسمي(١٠)ذي الحجي دطُلُوعِ فَجرځخه مخکي مخکي پوري دئ.نوځکه په دغه وخت کي چي کوم چا د احـرام پـه حالت کي د يوه منټ لپاره هم وُقُوف وکـئ نـودده حـج ادآء سـو.فرض اُوس صـرف طـواف زيـارت پاتـه دئ چـي هروخت يې وکي نوفرض به ادآء سي که څه هم بې وخت کولوځخه دَم لازميږي .

وجـه (١) يو حديث خو لوړ په مسئله نمبر٧٥کي تېر سوئ دئ په هغه کي دا و چي د لسمي(١٠)ذي الحجي ځخه مخکي ورځ يا شپه کي وُقُوفِ عرفات وکي نو دهغه حج ادآء سو (٢) عَن عَبدالرحمٰن بِنِ يَعمَرُ الدِّيلِيِّ قَالَ اَتَيتُ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ

عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِعَرَفَةَ فَجَآءَ نَاسٌ اَو نَفَرٌ مِن اَهلِ نَجدٍ فَاَمَرُوا رَجُلاً فَنَادیٰ رَسُولَ اللهِ كَيفَ الحجُّ ؟ فَاَمَرَ رَجُلاً فَنَادیٰ اَلحَجُّ اَلحَجُّ يَومُ عَرَفَةَ وَمَن جَآءَ قَبلَ صَلٰوةِ الصُّبحِ مِن لَيلَةِ جَمعٍ فَتَمَّ حَجُّهُ (الف) (ابوداؤدشريف،باب من لم يدرك العرفة ص۲۷۶نمبر۱۹۴۹\ترمذي شريف،باب ماجآءمن ادرك الامام بجمع فقد ادرك الحج ص۱۷۸نمبر۸۸۹)په دي حديث کي د لَيلَةُ جَمعٍ څخه مُراد د عرفات څخه وروسته شپه ده. نو ځکه ددي حديث څخه معلوم سو چي د نهمي(۹)ذي الحجي په ورځ او لسمي(۱۰)ذي الحجي په شپه د صُبحِ صَادِق څخه مخکي د يوه منټ لپاره هم وُقُوف عرفات وکړي نو حج يې ادآء سو .

لغت : لَيلَةُ جَمعٍ . د مُزدَلِفَي شپه .

[۶۸۱](۷۷)څوك چي دعرفات څخه تيرسوپه داسي حال کي چي دئ بيده دئ ياپرده باندي بېهوښي راغلي وي ياده ته نه وي معلوم چي داعَرَفَات دئ نودغه تېرېدل د وُقُوفِ عَرَفَات لپاره کفايت کوي .

تشريح د احرام سره د عَرَفَات په وخت کي په عرفات کي تير سو لېکن وده ته نه سو معلوم چي دا ميدان عرفات دئ. مثلاً دئ پر سوارلئ باندي بيده و يا دئ بېهوښه و يا وده ته دا نه و معلوم چي دا ميدانِ عَرَفَات دئ خو بيا هم د احرام سره د عَرَفَات په وخت کي تير سو نو ځکه وُقُوفِ عَرَفَات ادآء سو او دده حج صحيح سو .

وجه (۱) په مسئله نمبر۷۵کي دعُروه بن مُضرالطّائي حديث تير سو په هغه کي دئ چي ما دِېرغُرُونَه کتلي دي نوآيازوماحج اووُقُوفِ عَرَفَات وسو،عبارت دادئ وَاللهِ مَا تَرَكتُ مِن جَبَلٍ اِلاَّ وَقَفتُ عَلَيهِ فَهَل لِي مِن

حاشيه : (الف) حضرت عبدالرحمٰن فرمائي چي زه حضور ته راغلم په داسي حال کي چي حضور په عرفات کي و. نو د اهلِ نُجد څه کسان يا خلک راغلو، هغو ويوه سړي ته وويل هغه وحضور ته وَرِږَغ کړئ پوښتنه ځُني وکړه چي حج و څه ته وائي ؟ نو حضور و يوه سړي ته حکم وکئ، هغه اعلان وکئ چي حج د عرفي د ورځي نوم دئ، څوك چي د مُزدلفي د شپي د سهار څخه مخکي عرفات له راغلئ د هغه حج پوره سو .

وَهُوَ نَائِمٌ اَو مُغمیٰ عَلَيهِ اَو لَم يَعلَم اَنَّهَا عَرَفَةُ اَجزَاَهُ ذَالِكَ عَنِ الوُقُوفِ [۶۸۲](۷۸) وَالمرَاَةُ فِي جَمِيعِ ذَالِكَ كَالرَّجُلِ غَيرَ اَنَّهَا لاَ تَكشِفُ رَاسَهَا وَتَكشِفُ وَجهَهَا .

حَجّ (الف) (ابوداؤدشريف،باب من لم يدرك عرفة ص۲۷۶نمبر۱۹۵۰) اوحضور وفرمائل چي په دي وخت کي په ميدانِ عَرَفَات کي تيرسي نوحج يې ادآء سو،ددي مطلب دادئ چي نه وي ورمعلوم چي داعرفات دئ او په کي تيرسي نوهم حج يې ادآء سو(۲)اصل وُقُوف دئ که د مَيدان علم ورته وي که نه وي (۳) عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ قَالَ اِذَا وَقَفَ الرَّجُلُ بِعَرَفَةَ بِلَيلٍ قَد تَمَّ حَجُّهُ وَاِن لَم يُدرِكِ النَّاسُ بِجَمعٍ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۵۱ من قال اذا وقف بعرفة قبل ان يطلع الفجرفقد ادرك ج۳ص۲۱۸نمبر۱۳۶۷۳) په دي اثر کي دئ چي په عرفه کي خلګ نه وموندي او پر تير سو نو حج پوره سو .

پام لرنه د بېهوښئ په حالت کي يا د خوب په حالت کي بايد مُحرم وي. يا کم از کم ملګرئ يا دوست دده لجانب څخه احرام وتړي نو حج يې ادآء کيږي. او که ملګري يا دوست دده لخوا احرام ونه تاړئ او په خپله هم احرام نه و تړلئ نو د وُقُوفِ عَرَفَات د کولو څخه حج نه ادآء کيږي .

لغت : مُغمیٰ عَلَيهِ : بېهوښي راغله پر ده باندي . دِاغمَآءٌ څخه مُشتق دئ . اِجتَازَ : د تَجَاوُزٌ څخه مُشتق دئ تير سو. تجازو يې وکئ .

[۶۸۲](۷۸) بښځه په دي ټولو مسئلو کي د نر په ركم ده ماسوائ ددي چي دا به خپل سر نه خلاصوي(نه بښکاره کوي)او خپل مخ به خلاصوي(بښکاره کوي) .

تشريح لکه څه رنګه چي پر نرانو باندي احکام لازم دي دغه رنګه پر بښځو باندي هم لازم دي. البته په کوم ځائ کي چي ددي د سَتَر يا د نِسوَانِيّت خلاف وي هلته د بښځو مسئله د نرانو څخه برخلاف ده. په هغو کي دغه څو مسائلي دي چي ذکر کيږي چي نر به د احرام په حالت کي سر خلاصوي لېکن بښځه به سر پټوي، ځکه چي سر خلاصول د ستر خلاف دئ،خو البته مخ به بښکاره کوي لېکن چي کوم وخت نر مخته راسي نو مخ به بله خو ته ځني ګروزي،چي يو اجنبي نر ددي مخ و نه ويني،يا به د مخ څخه ليري پر مخ کېږه راځروي چي د مخ سره هم نه مُوښلي او د اجنبي نرانو څخه پرده هم وسي،

حکمت په دي کي حکمت دادئ چي د مينځي لپاره پر مخ باندي کېږه اچول ضروري نه ده. نو ځکه يو شريف او آزاد بښځه دي هم د الله دربار ته په خلاص(بښکاره)مخ ولاړه سي،چي مينځه او آزاد بښځه د الله په دربار کي سره

برابري ښکاره سي . ددې دا مطلب نه دئ چې آزادِ ښځي دي هر ځائ په خلاص(ښکاره)مخ ګرزي او د ستر خلاف کارونه دي کوي .

وجه عَن عَائِشَةَ قَالَت كَانَ الرُّكبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحنُ مُحرِمَاتٌ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا حَاذُوا بِنَا سَدَلَت اِحدٰينَا جِلبَابَهَا مِن رَاسِهَا عَلٰي وَجهِهَا فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفنَاهُ (ج) (ابوداؤدشريف،باب في المحرمة تغطي وجهها ص٢٦١نمبر١٨٣٣)ددې حديث څخه معلوم سو چې مُحرمَه ښځه دي خپل مخ خلاص(ښکاره)کړي او چې يو اَجنَبي نر مخته راسي نو د مخ څخه ليري دي

حاشيه : (الف) قسم په خداۓ يو لوړ ځائ مو نه دئ پرې ابنئ چې پر هغه مو وُقُوف نه دئ کړئ نو آيا زوما حج اداء سو ؟ (ب) حضرت ابن عمر وفرمائل که سړئ په شپه کي په عرفات کي قيام وکي نو دده حج پوره سو که څه هم په عرفات کي خلګ نه وي مُوندلي(دوم ترجمه يې داده. که څه هم په مُزدلفه کي خلګ نه و مُوندي) (ج) د حضرت عائشې څخه روايت دئ چې د قافلي خلګ زمونږ په مخکي تېرېدل په داسي حال کي چې مونږ د حضور سره په احرام کي و، نو چې نران به زمونږ مخته راتلل نو زمونږ څخه هري يوي د سر څخه خپل نقاب(پرده)پر مخ باندي اچاوئ،بيا چې دوئي به تير سو نو مونږ به مخ خلاصوئ(ښکاره کاوئ) .

[٦٨٣](٧٩) وَلاَتَرفَعُ صَوتَهَا بِالتَّلبِيَةِ [٦٨٤](٨٠) وَلاَ تَرمَلُ فِي الطَّوَافِ وَلاَ تَسعيٰ بَينَ الميلَينِ الاَخضَرَينِ [٦٨٥](٨١) وَلاَ تَحلِقُ وَلٰكِن تُقَصِّرُ .

پرونئ يا بله کېړه پر مخ راوخړوي په دارنګه چې کېړه د مخ سره نه لګيږي (٢) عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيسَ عَلَي المرَاَةِ اِحرامٌ اِلاَّ فِي وَجهِهَا (الف) (دارقطني،كتاب الحج ج٢ص٢٥٧نمبر٢٧٣٤)ددې حديث څخه معلوم سو چې د ښځي احرام ددې په مخکي دئ نو ځکه دا به د مخ څخه کېړه ليري کوي .

[٦٨٣](٧٩) او په تلبيه کي دي خپل آواز نه په زور کوي .

وجه (١) دښځي په آوازکي ونر ته يو کشش وي نو که چيري دا په زوره تلبيه وائي نو نران به و دې ته مُتوجه سي. لهٰذا ښځه دي په زوره تلبيه نه وائي سوکه سوکه دې وائي (٢) عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ لاَ تَصعَدُ المرَاَةُ فَوقَ الصَّفَا وَالمرؤَةَ وَلاَ تَرفَعُ صَوتَهَا بِالتَّلبِيَةِ (ب) (دارقطني،كتاب الحج ج٢ص٢٥٩نمبر٢٧٤١\سنن للبيهقي،باب المراة لاترفع صوتها بالتلبية ج٥ص٧٢نمبر٩٠٣٩)ددې اثر څخه معلوم سو چې ښځه به په تلبيه کي آواز نه په زوره کوي .

[٦٨٤](٨٠) په طواف کي به دپهلوانئ تګ نه کوي اونه به دمِيلَينِ اَخضَرَين په مابين کي منډه وهي .

تشريح نر په طَوافِ قُدُوم کي په اوّلو درو شَوطو کي رَمَل کوي او په پهلوانئ سره تګ کوي لهٰکن په پهلوانئ سره تګ کول د ښځي د ستر خلاف دئ نو ځکه دا به رَمَل نه کوي. دغه رنګه د صفا او مروه په مابين کي د سعي کولو په وخت کي به ښځه پر مِيلَينِ اَخضَرَين باندي منډه نه کوي ځکه چې دا ددې د ستر خلاف کار دئ .

وجه عَن اِبنِ عُمَرَقَالَ لَيسَ عَلَي النِّسَآءِ رَملٌ بِالبَيتِ وَلاَبَينَ الصَّفَا وَالمرؤَةَ(ج)(دارقطني،كتاب الحج ج٢ص٢٥٨نمبر٢٧٤٠\ باب نمبر٢٩٤\سنن للبيهقي،باب المراة تطوف وتسعي ليلااذاكانت مشهورة بالجمال ولارمل عليهاج٥ص٧٧ نمبر٩٠٥٥) ددې اثر څخه معلوم سو چې ښځه به نه رَمَل کوي نه به د صفا او مروه په مابين کي منډه کوي.

لغت : مِيلَينِ اَخضَرَين : د صفا او مروه په مابين کي دوې د زرغونه رنګ بتئ لګېدلي دي چې هلته سعي کونکي په تېزي سره تګ کوي .

[٦٨٥](٨١) او ښځه به د سر حلق نه کوي .

تشريح په حج کي د رَمِي يا ذَبحِ وروسته مُحرم سر خروي يا په عُمره کي د سعي وروسته سر خروي لهٰکن ښځه به په دې وخت کي سر نه خروي بلکه صرف د يوې ګُټي(ديوې ګُټي د بند. مُترجم)برابر ببښتان به کاتوي او احرام به خلاصوي .

وجه (١) دببښتانوپه خريلوبه ښځه ګنجه سي اوداددې دزينت(ښائست)خلاف دئ نوځکه دابه صرف قصر کوي (٢) اَنَّ اِبنَ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ لَيسَ عَلَي النِّسَآءِ حَلقٌ اِنَّمَا عَلَي النِّسَآءِالتَّقصِيرُ (د) (ابوداؤدشريف،باب الحلق والتقصيرص٢٧٩نمبر١٩٨٤\ترمذي شريف،باب ماجآءفي كراهية الحلق للنسآءص١٨٢نمبر٩١٤)ددې حديث څخه معلوم سو چې ښځه دي حلق نه کوي بلکه صرف تقصير دي وکي او د ګُوتي د يوه بَند برابر ببښتان دي پري کي ځان دي حلال کړي .

لغت : حَلقٌ : سر خَرَوَل . قَصرٌ : څه ببښتان پرېښول او څه خَرَيَل .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل پر ښځه باندي احرام نسته مګر ددې په مخکې يعني پر مخ دي کپړه نه اچوي (ب) حضرت ابن عمر وفرمائل ښځه دي پر صفا او مروه باندي نه خيژي(خيږي) او نه دي په تلبيه کې خپل آواز په زوره کوي (ج) حضرت ابن عمر وفرمائل پر ښحه باندي د بَيتُ الله په طواف کې رَمَل نسته او نه د صفا او مروه په مابين کې منډه سته (د) حضور وفرمائل پر ښځه باندي حلق نسته پر ښځه باندي صرف قصر دئ .

(بَابُ القِرَانِ)

[۶۸۶](۱) اَلقِرَانُ اَفضَلٌ عِندَنَا مِنَ التَّمَتُّعِ وَالاِفرَادِ .

(بَابُ القِرَانِ)

ضروري پام لرنه چې حج او عُمره دواړه په يوه سفر کې جمع کې او د حج سره د عُمرې احرام هم وتړي نو و دې ته قِرَان وائي . د قِرَان معنيٰ ده ملاؤول.يوځائ کول،نو حج او عُمره يې سره يو ځائ کړل ځکه ودې ته قِرَان وائي .

[۶۸۶](۱) زمورِ په نېز قِرَان تر تَمَتّع او اِفرَاد افضل دئ .

تشريح چې صرف د حج احرام وتړي و دې ته حج افراد وائي. اَوّل دي د عُمرې احرام وتړي هغه دي پوره کې احرام دي خلاص کې او د ميقات په خُدُود کې دي قيام وکې بيا دي په اَشهُرِ حج کې د حج احرام وتړي او حج دي پوره کې ودې ته حج تَمَتّع وائي. د تَمَتُّع معنيٰ ده فائده اخستل،ده د عُمرې وروسته د احرام د خلاصولو فائده واخستله نو ځکه و دې ته حج تمتع وائي. او د قِرَان معنيٰ مخکې تېر سوه، زمورِ په نېز د قران د افضليّت وجه (۱) داده چې په دې کې مُشقت ډېر دئ او په ډېر مُشقت کې ډېر ثواب وي نو ځکه حج قِرَان افضل دئ (۲) سُمِعَ عُمَرُ يَقُولُ سَمِعتُ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِوَادِ العَقِيقِ يَقُولُ اَتَانِي اللَّيلَةَ آتٍ مِن رَّبِّي فَقَالَ صَلِّ فِي هٰذَا الوَادِي المُبَارَكِ وَقُل عُمرَةٌ فِي حَجّةٍ (الف) (بخاري شريف،باب قول النبي صَلّي الله عليه وسلم العقيق وادٍ مبارك ص۲۰۷ نمبر۱۵۳۴\ابوداؤدشريف،باب في القران ص۲۵۷نمبر۱۸۰۰)ددې حديث ځخه معلوم سو چې و حضور ته باقاعده عُمره د حج سره د ملاؤولو حکم سوئ و ذو ځکه قِرَان به افضل وي (۳) عَن اَنَسِ بنِ مَالِكٍ اَنَّهُم سَمِعُوهُ يَقُولُ سَمِعتُ رَسَولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يُلَبِّي بِالحَجِّ وَالعُمرَةِ جَمِيعًا يَقُولُ لَبَّيكَ عُمرَةً وَحَجًّا (ب) (ابوداؤدشريف، باب القِرَان ص۲۵۷نمبر۱۷۹۵\ترمذي شريف،باب ماجآءفي الجمع بين الحج والعمرة ص۱۶۹نمبر۸۲۱\مُسلم شريف،باب في الافراد والقران ص۴۰۴نمبر۱۲۳۲)ددې حديث ځخه معلوم سو چې حضور د حج او عُمرې دواړو احرام تړلئ و په نتيجه کې دا معلوم سو چې قِرَان افضل دئ (۴) فَدَخَلتُ عَلىٰ اُمِّ سَلَمَةَ ... سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اَهِلُّوا يَا آلَ مُحَمَّدٍ بِعُمرَةٍ فِي حَجٍّ (ج) (سنن للبيهقي،باب العمرة قبل الحج والحج قبل العمرة ج۴ ص۵۷۹نمبر۸۷۸۶)په دې حديث کې هم د قِرَان اَهمِيّت بيان کړئ دئ. نو ځکه د احنافو په نېز قِرَان افضل دئ .

فائده د امام شافعي په نېز اِفرَاد افضل دئ .

وجه د دده دليل دغه حديث دي عَن عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَت خَرَجنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ عَامَ حَجَّةِ الوَدَاعِ فَمِنَّا مَن اَهَلَّ بِعُمرَةٍ وَمِنَّا

حاشيه : (الف) ما دحضور ځخه په وَادِيَ عَقِيق کې واؤربدل فرمائل يې، ما لره ئې زوما د رَب لخوا يو راتلونکئ راغلئ او وفرمائل په دې مُبارکه شَلَه کې لمونځ وکه او ووايه حج په عُمره کې دَنَنَه دئ (ب) ما دحضور ځخه واؤربدل د حج او عُمرې دواړو تلبيه يې ويله،فرمائل به لَبَّيكَ عُمره او حج لَبَّيكَ عُمره او حج (ج) ما اوربدلي دي حضور فرمائل ائ آلِ مُحمد عُمره په حج کې داخله کئ احرام وتړئ .

[۶۸۷](۲) وَصِفَةُ القِرَانِ اَن يُهِلَّ بِالعُمرَةِ وَالحَجِّ مَعًا مِنَ المِيقَاتِ وَيَقُولُ عَقِيبَ الصَّلوةِ اَللّٰهُمَّ اِنِّي اُرِيدُ الحَجَّ وَالعُمرَةَ فَيَسِّرهُمَا لِي وَتَقَبَّلهُمَا مِنِّي

[۶۸۸](۳) فَاِذَا دَخَلَ مَكَّةَ اِبتَدَاَ

مَن اَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمرَةٍ وَمِنَّا مَن اَهَلَّ بِالحَجِّ وَاَهَلَّ رَسُولُ اللهِ بِالحَجِّ فَاَمَّا مَن اَهَلَّ بِالحَجِّ اَو جَمَعَ الحَجَّ وَالعُمرَةَ لَم يَحِلَّ حَتّٰى كَانَ يَومُ النَّحرِ (الف) (بخاري شريف،باب التمتع والقران والافراد بالحج ص۲۱۲نمبر۱۵۶۲\ابوداؤدشريف،باب في افرادالحج ص۲۵۴نمبر۱۷۷۹\۱۷۷۷)ددي حديث څخه معلوم سو چي حضور په حجة الوداع کي مُفرد و نو ځکه مُفرد به دېر بهتر وي .د امام مالك په نېز تمتع دېر افضل دئ، دده دليل (۱) دادئ چي په قُرآن کي د تمتع ذکر دئ. په آيت کي دئ فَاِذَا اَمِنتُم فَمَن تَمَتَّعَ بِالعُمرَةِ اِلَى الحَجِّ فَمَا اِستَيسَرَ مِنَ الهَدىِ (ب) (آيت ۱۹۶ سورة البقرة۲)په دې آيت کي و تمتع ته اشاره ده نو ځکه تمتع افضل دئ (۲) هغه اصحابان چي هَدِي يې نه وه ورسره وړې حضور و هغو ته د عُمرې څخه د حلالېدو حکم وکړ ارشاد دئ عَن جَابِرٍ قَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللهِ وَ اَصحَابُهُ لاَربَعَ لَيَالِيَ خَلَونَ ... قَالَ رَسُولُ اللهِ اِجعَلُوهَا عُمرَةً اِلاَّ مَن كَانَ مَعَهُ الهَدىُ (ج) (ابوداؤدشريف،باب في افرادالحج ص۲۵۶نمبر۱۷۸۸) (۳) عَن عَائِشَةَ قَالَت خَرَجنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَلاَ نَرىٰ اِلاَّ اَنَّهُ الحَجُّ فَلَمَّا قَدِمنَا تَطَوَّفنَا بِالبَيتِ فَاَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن لَم يَكُن سَاقَ الهَدىَ اَن يَّحِلَ فَحَلَّ مَن لَم يَكُن سَاقَ الهَدىَ (د) (بخاري شريف،باب التمتع والقران والافراد بالحج ص۲۱۲نمبر۱۵۶۱)په دې حديث کي حضور و صحابه ته حکم وکړ چي عُمره وکړ او حلال سئ نو په دې وجه هم تمتع افضل دئ. دا هم د امام مالك دليل دئ چي تمتع افضل دئ. دا اختلاف صرف د افضليّت دئ .

[۶۸۷](۲) او د قِرَان شکل دادئ چي د ميقات څخه د ي د عُمرې او حج پر يوه لار احرام وتړي او د لمانځه وروسته دي ووائي ائ الله ! ما د حج او عُمرې اراده کړې ده نو ځکه دا دواړه زوما لپاره آسان کړې او زوما څخه دواړه قبول کړې .

تشريح د قِرَان صورت دادئ چي د حج او عُمرې دواړو احرام پر يوه لار وتړي او په لسمه ذي الحجة د ذَبحِ وروسته د دواړو احرامو څخه ځان حلال کړي، حج او عُمره يې دواړه سره يوځائ کړي دي نو ځکه دا قِرَان سو . او دواړه سره جمع کړي دي نو ځکه د دواړو د آسانئ لپاره دي دُعآء وکي .

[۶۸۸](۳) بيا چي مَکّه ته داخل سي نو د طواف څخه دې شروع کي،نو د بَيتُ الله طواف دي وکي اُوه شوط،په درو اوّلو کي دي رَمَل وکي او په دا نورو کي دي پر خپل حالت باندي تګ کوي او ددې وروسته دي د صفا او مروه په مابين کي سعي وکړي او دا د عُمرې افعال دي .

تشريح په عُمره کي دري کارونه کيږي (۱) احرام تړل (۲) اُوه شوط طواف کول (۳) د صفا او مروه په مابين کي سعي کول، دغه دري کارونه د عُمرې دي

~~حاشيه : (الف) مورِ د حضور سره په حجة الوداع کي راووتلو نو زمورِ څخه چا د عُمرې احرام تړلئ و، او زمورِ څخه چا د حج او~~ عُمرې دواړو احرام تړلئ و، او زمورِ څخه چا صرف د حج احرام تړلئ و،او حضور د حج احرام تړلئ و، بهر حال چا چي د حج احرام تړلئ و يا يې حج او عُمره سره جمع کړي و نو نه سو حلال مګر په يوم النحر کي (ب) بيا چي بې خوف سئ نو چي کوم چا عُمره د حج سره ملاؤ کړه تَمَتّع يې وکئ نو چي د هَدِي څخه آسانه وي هغه دي ورکي (ج) حضور د خپلو اصحابانو سره په څلورمه ذي الحجة مَکّه ته تشريف راوړئ ... حضور وفرمائل د حج څخه عُمره جوړه کئ مګر د چا سره چي هَدِي وي (د) مورِ دحضور سره راووتلو،زمورِ نيّت نه و مګر خاص د حج،بيا چي مورِ راغلو او د بَيتُ الله طَوَاف مو وکئ نو کوم چا چي هَدِي نه وه راشرلي وهغو ته حضور حُکم ورکړئ چي حلال دي سي،نو کوم چا چي هَدِي نه وه را شرلي هغه حلال سو .

بِالطَّوَافِ فَطَافَ بِالبَيتِ سَبعَةَ اَشوَاطٍ يَرمَلُ فِي الثَّلٰثَةِ الاُوَلِ مِنهَا وَ يَمشِي فِي مَا بَقِيَ عَلَيهِ هَيئَتِهِ وَ يَسعيٰ بَعدَهَا بَينَ الصَّفَا وَالمرَوَةَ وَهٰذِهِ اَفعَالُ العُمرَةِ [۶۸۹](۴) ثُمَّ يَطُوفُ بَعدَ السَّعيِ طَوَافَ القُدُومِ وَيَسعيٰ بَينَ الصَّفَا وَالمرَوَةَ لِلحَجِّ كَمَا بَيَّنَّاهُ فِي حَقِّ المفرِدِ .

او ده د عُمرې احرام تړلئ دئ نو ځکه دغه دري سره اعمال به مخکي کوي او عُمره به پوره کوي .

پام لرنه مخکي تير سو چي په هره عُمره هر حج کي په اوّل طواف کي په اوّلودرو شوطو کي به رَمَل کوي او په دا نورو څلورو شوطو کي به پر خپل هيئت(حالت)باندي تګ کوي .

وجه حديث دئ عَن جَابِرٍ قَالَ قَدِمَ رَسُولُ اللهِ وَ اَصحَابُهُ لاَربَعَ لَيَالِيَ خَلَونَ مِن ذِي الحَجَّةِ فَلَمَّا طَافُوا بِالبَيتِ وَبِالصَّفَا وَالمرَوَةَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِجعَلُوهَا عُمرَةً (الف) (ابوداؤدشريف،باب في افرادالحج ص۲۵۶نمبر۱۷۸۸)ددي حديث څخه معلوم سو چي د عُمرې لپاره دي طواف او د صفا او مروه په مابين کي سعي وکي او د احرام تړلو تذکره مخکي سوې ده چي د احرام بغيره عُمره ګرسره کيږي هم نه .

[۶۸۹](۴) بيا به طواف كوي د سعي وروسته طوافِ قُدُوم او سعي به كوي دصفا او مروه په مابين كي د حج لپاره لكه څه رنګه چې ما بيان كړل د مُفرِد په حق كي .
تشريح د عُمرې د پوره كولو وروسته دي اُوس د حج اعمال شروع كړي،او د حج د اعمالو څخه طوافِ قُدُوم دئ نو ځكه اوّل دي طوافِ قُدُوم وكي، او دا طواف د حج لپاره اوّل طواف دئ نو ځكه ددې وروسته دي دصفا او مروه په مابين كي سعي وكي .
پام لرنه د احنافو په نېز د عُمرې لپاره جلا طواف او سعي دي او د حج لپاره جلا طواف او سعي دي، نو ځكه قَارِن به دوه واره طواف كوي او دوه واره به د صفا او مروه په مابين كي سعي كوي .
وجه (۱) دواړه جلا جلا عبادتونه دي نو ځكه د دواړو لپاره به جلا جلا سعي كوي (۲) عَن عَلِيٍّ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَانَ قَارِنًا فَطَافَ طَوَافَينِ وَسَعيَ سَعيَينِ (ب) (دارقطني،كتاب الحج ج۲ص۲۳۲نمبر۲۶۰۶)ددې حديث څخه معلوم سو چې قَارِن به دوه طواف او دوې سعي كوي .
فائده امام شافعي فرمائي چې قَارِن به د عُمرې او حج لپاره يو طواف او يوه سعي كوي، دده دليل دادئ (۱) چې عُمره په حج كي داخلَ سوه نو د عُمرې افعال هم د حج په عمل كي داخل سو نو ځكه يو طواف او يوه سعي د دواړو لپاره كفايت كوي (۲) په حديث كي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت خَرَجنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ ... وَاَمَّا الَّذِينَ جَمَعُوا بَينَ الحَجِّ وَالعُمرَةِ فَاِنَّمَا طَافُوا طَوَافًا وَاحِدًا (ج) (بخاري شريف،باب طواف القارن ص۲۲۱ نمبر۱۶۳۸\مُسلم شريف،باب جوازالتحلل بالاحصاروجوازالقران واقتصارالقارن علي طوافٍ واحدٍ وسعيٍ واحدٍ ص۴۰۴ نمبر۱۲۳۰\۲۹۹۰)ددې حديث څخه معلوم سو چې يو طواف او يوه سعي به كوي .

حاشيه : (الف) حضور د خپلو اصحابانو سره په څلورمه د ذي الحجّي مكّه مُكرّمه ته تشريف راوړئ،بس چې د بيتُ الله او صفا او مروه طواف يې وكئ نو حضور وفرمائل دغه عُمره جوړه كئ (ب) حضور قَارِن و نو حضور دوه طواف وكړل او دوې سعي يې وكې (ج) مورِ دحضور سره په حجة الوداع كي راووتلو ... بهر حال كوم چا چې حج او عُمره دواړه جمع كړو نو هغو صرف يو طواف وكئ .
[۶۹۰](۵) فَاِذَا رَمَي الجَمرَةَ يَومَ النَّحرِ ذَبَحَ شَاةً اَو بَقَرَةً اَو بُدنَةً اَو سُبُعَ بُدنَةٍ اَو سُبُعَ بَقَرَةٍ فَهٰذَا دَمُ القِرَانِ [۶۹۱](۶) فَاِن لَم يَكُن لَهُ مَا يَذبَحُ صَامَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ فِي الحَجِّ آخِرُهَا

---

[۶۹۰](۵) بيا چې په لسمه(۱۰)ذي الحجة د جَمرهٔ عَقَبي رَمِي وكي نو يوه وُزه(بُوزه)دي حلال كړي يا يوه غُوا يا يو وُبن يا د وُبن أوه حصّه(برخه)يا د غُوا أومه(۷)حصّه(برخه)، بس دا د قِرَان دَم دئ .
تشريح پر قَارِن او مُتمَتع باندي هَدِي لازم ده، او د هَدِي صورت دادئ چې يوه وُزه وي يا يوه غُوا وي يا يو وُبن وي يا د غُوا أومه برخه يا د وُبن أومه برخه وي .
وجه (۱) پر قَارِن او مُتمتع باندي د هَدِي د لزوم دليل دا آيت دئ فَمَن تَمَتَّعَ بِالعُمرَةِ اِلَي الحَجِّ فَمَا اِستَيسَرَ مِنَ الهَدي فَمَن لَم يَجِد فَصِيَامُ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ فِي الحَجِّ وَسَبعَةٍ اِذَا رَجَعتُم تِلكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ذَالِكَ لِمَن لَّم يَكُن اَهلُهُ حَاضِرِالمسجِدِالحَرَامِ(الف) (آيت ۱۹۶سورةالبقرة)په دې آيت كي دئ چې كوم چا عُمره د حج سره ملاؤ كړه كه د تمتع په كولو سره ملاؤكړي وي كه د قِرَان په كولو سره ملاؤكړي وي پر هغه باندي هَدِي لازم ده، او كه د هَدِي وركولو طاقت نه درلودئ نو دري ورځي دي د حج څخه مخكي روژي ونيسي او اُوه ورځي دي د حج څخه وروسته روژي ونيسي، تولي لس(۱۰)ورځي دي روژي ونيسي (۲) په حديث كي دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ سُئِلَ عَن مُتعَةِ الحج فَقَالَ ... ثُمَّ اُمِرنَا عَشِيَّةَ التَّروِيَةِ اَن نُّهِلَّ بِالحَجِّ فَاِذَا فَرَغنَا مِنِ المَنَاسِكِ جِئنَا فَطُفنَا بِالبَيتِ وَبِالصَّفَا وَالمروَةِ فَقَد تَمَّ حَجُّنَا وَعَلَينَا الهَديُ كَمَا قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فَمَا اِستَيسَرَ مِنَ الهَدي (ب) (بخاري شريف،باب قول الله عَزَّوَجَلَّ ذَالك لمن لم يكن اهله حاضرالمسجدالحرام ص۲۱۳نمبر۱۵۷۲)ددې حديث څخه هم معلوم سو چې پر مُتمَتّع او قَارِن باندي هَدِي لازم ده، او د غُوا يا د وُبن د اُومي برخي دليل دا حديث دئ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِ اللهِ اَنَّهُ قَالَ نَحَرنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ

صَـلَّي اللهُ عَلَيـهِ وَسَـلَّمَ بِالحُدَيبِيَّـةِ اَلبُدنَـةَ عَـن سَـبعَةٍ وَالبَقَـرَةَ عَـن سَـبعَةٍ (ج) (ابوداؤدشـريف،باب البقـرة والجـزور عَـن كَـم تَجـزئُ ج٢ص٣٢نمبر٢٨٠٩\مُسلم شريف،باب جوازالاشتراك في الهدي واجزآء البدنة والبقرة كُلُّ واحدٍ منهُما عَن سَبعَةٍ نمبر١٣١٨)ددي حـديث څخه معلوم سو چي غُوا او وُښ د اُوُو كسانو لخوا كفايت كوي .

[٦٩١](٦) بيا كه دده سره هَدِي نه وي چي ذَبح كړي نو روژي دي ونيسي،دري ورځي په حج كي او د هغو آخري ورځ دي نَهَمَّه(٩)ذي الحجة وي .

تـشريـح پر قَـارِن او مُتمَتّـع بانـدي هَـدِي واجـب ده لـيكن كـه هَـدِي نـه كـړه ذبـح د پيسـو د نيسـتئ پـه وجـه يـا د حيوان(پسه،غُوايه،وُښ)د نه ملاؤوېدو په وجه نو د حج څخه مخكي دي دري ورځي روژي ونيسي او

حاشيه : (الف) كوم چا چي حج د عُمري سره يو ځائ كئ تَمَتّع يې وكئ نو د هَدِي څخه چي كومه ورته آسان وي، او څوك چي هَدِي نـه ومونـدي نو دري روژي دي ونيسي د حج په زمانه كي او اُوَه چي كله واپس راسـي، دا لـس روژي پـوره سـوي، دا تَمتّـع دهغـه لپـاره دئ چي د مسجِدحرام سره نژدي نه وي (ب) د حضرت عبدالله بن عباس څخه د حج تمتع په باب پوښتنه وكړه نو ده وفرمائل ... و مـوږ تـه د اَتَم(٨)په شپه حكم وكئ چي موږ د حج احرام وتړو، نو چي كله موږ د حج د مناسكُ څخه فارغ سو نو موږ راغلـو او د بَيتُ الله او د صـفا مروه طواف مو وكئ او زمونږ حج پـوره سـو او پـر مـوږ بانـدي هَـدِي سته لكـه څـه رنگـه چـي الله فرمـائلي دي فَمَا اِستَيسَرَ مِنَ الهَدي (ج) حضرت جابر وفرمائل موږ د حضور سره په حُدَيبيّه كي يو وُښ د اُوُو لخوا ذبح(حلال)كړئ او يوه غُوا د اُوُو لخوا .

يَومُ عَرَفَةَ [٦٩٢](٧) فَإن فَاتَهُ الصَّومُ حَيّاً يَدخُلَ يَومُ النَّحرِ لَم يَجُز اِلاَّ الدَّمُ .

دا پاته اُوَه روژي دي د حج څخه وروسته ونيسي .

وجـه (١) مخكي آيت تير سو چي هَدِي نه ومونـدي نو رزژي دي ونيسي، فَمَن تَمَتَّعَ بِالعُمرَةِ اِلىٰ الحَجِّ فَمَا اِستَيسَرَ مِنَ الهَدي فَمَن لَم يَجِد فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ فِي الحَجِّ وَسَبعةٍ اِذَا رَجَعتُم تِلكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ (آيت ١٩٦ سورة البقرة٢)په دي آيت كي دئ چي هَدِي نـه سـي وركولائي نو روژي ونيسه، دري روژي د حج څخه مخكي او اُوَه روژي د حج څخـه د فارغبـدو وروسـته،آخري ورځ دي يَومِ عَرَفَه وي ،ددي وجه داده چي كېدلائي سي چي ددي څخه مخكي دئ پر هَدِي بانـدي قُـدرت پيـدا كـي چـي اصـل دئ نـو څكـه روژه چـي فَـرع ده هغـه دي وځنـډوي،او د اختـر پـه ورځ او پـه اَيّـامِ تشـريق يعنـي يوولسم،دوولسم،او ديارلسمه ذي الحجة به روژه نه نيسي څكه چي دا ورځـي د خـوراك چيښـاك ورځـي دي،او پـه دي ورځو كي روژي منع دي،په حديث كي دئ عَن عُقبَةَ بنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ يَومُ عَرَفَةَ وَيَومُ النَّحرِ وَاَيَّامُ التَّشرِيقِ عِيدُنَا اَهلُ الإسلاَمِ وَهِيَ اَيَّامُ اَكلٍ وَشُربٍ (الف) (ابوداؤدشريف،باب صيام ايام التشريق،ص٣٣٥نمبر٢٤١٩\مُسلم شريف،باب تحريم صوم ايام التشريق، ص٣٦٠نمبر١١٤١)ددي حديث څخه ثابت سو چي د يَـومِ عَرَفـي او اَيّـامِ تَشـرِيق څخـه مخكـي مخكـي دي دري روژي ونيسي (٢) قَالَ اِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ نَهيٰ عَن صِيَامِ هٰذَينِ اليَومَينِ اَمَّا يَومُ الاَضحيٰ فَتَاكُلُونَ مِن لَحمِ نُسُكِكُم وَاَمَّا يَومُ الفِطرِ فَفِطرُكُم مِـن صِـيَامِكُم (ب) (ابوداؤدشـريف،باب في صـوم يـوم العيـدين ص٣٣٥نمـبر٢٤١٦\مُسـلم شـريف،باب تحـريم صـوم يـوم العيـدين ص٣٦٠نمبر١١٣٧)ددي حديث څخه معلوم سو چي د كِشنِي او لوئ اختر په ورځ روژه منع ده،نـو څكـه پـه لسمه ذي الحجة به روژه نه نيسي .

[٦٩٢](٧) بيا كه دده څخه روژه فوت سوه تردي چي لسمه ذي الحجة داخل سوه نـو كفايـت نـه كـوي مگر هَدِي وركول .

تـشريـح قَارِن يا مُتمَتّع هَدِي وركوله ليكن په يو وجه هَدِي نه كړه ور.او تر لسمي ذي الحجّي پوري دري روژي هم نه ونيوي نو اُوس به دَم وركوي،روژي نيول كفايت نه كوي .

وجـه (١) څكه چي په آيت كي صِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ فِي الحَجِّ راغلئ دئ او ددي وخت د لسمي ذي الحجّي څخه مخكي مخكي دئ او هغه فوت سو نو څكه اُوس به اصل لازم وي يعني هَدِي به لازم وي (٢) په اثر كي دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِذَا لَم يَصُـمِ المُتَمَتِّـعُ فَعَلَيـهِ الـدَّمُ ... وَعَـن اِبـرَاهِيمَ قَـالَ لاَ بُـدَّ مِـن دَمٍ وَلَوبِيِـعُ ثَوبَـهُ (ج) (مصـنف ابـن ابي شـيبة ٤٣في المتمتـع اذا فاتـه الصـوم

ج۳ص۱۵۰نمبر۱۲۹۸۳\۱۲۹۸۷)ددې اثر څخه معلوم سو چې که تر لسمي ذي الحجّې پورې روژې ونه نيولې نو اُوس پر ده باندې خالص دَم لازميږي .

فـائـده امامِ مالك فرمائي چې يوولسمه،دوولسمه او ديارلسمه ذي الحجة به روژې نيسي (۱) ځکه که څه هم ددې ورځو روژې مکروه دي لېکن دده لپاره ګُنجائش سته ځکه چې دا مجبوري ده (۲) په اثر کې راغلي دي عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ اَلصِّيَامُ لِمَن تَمَتَّعَ بِالعُمرَةِ اِلىٰ الحَجِّ اِلىٰ يَومِ عَرَفَةَ

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل د عرفات ورځ،او لسمه ذي الحجة،او ايّامِ تشريق يعني يوولسم،دوولسم او ديارلسم تاريخ زمونږ د اهلِ اسلام اختر دئ او دا د خوراك چيښاك ورځې دي (ب) حضور په دې دواړو ورځو کې د روژې نيولو څخه منع کړې ده،بهرحال د لوئ اختر په ورځ خو دي دخپلې قُربانئ غُوښتَه وَخُورَئ،بهرحال د کشني اختر په ورځ خو ستا سو د روژې څخه د افطار ورځ ده (ج) ابن عباس فرمائي چې که تَمَتع کونکئ روژه ونه نيسي نو پر ده باندې دَم لازم دئ ... او ابراهيم وفرمائل چې دَم ضروري دئ که څه هم خپلې کېږي خرڅوي .

[۶۹۳](۸) ثُمَّ يَصُومُ سَبعَةَ اَيَّامٍ اِذَا رَجَعَ اِلىٰ اَهلِهِ فَاِن صَامَهَا بِمَكَّةَ بَعدَ فَرَاغِهِ مِنَ الحَجِّ جَازَ [۶۹۴](۹) فَاِن لَم يَدخُلِ القَارِنُ بِمَكَّةَ وَتَوَجَّهَ اِلىٰ عَرَفَاتَ فَقَد صَارَ

فَاِن لَم يَجِد هَديًا وَلَم يَصُم صَامَ اَيَّامَ مِنيٰ (الف) (بخاري شريف،باب صيام ايام التشريق ص۲۶۸نمبر۱۹۹۹\مصنف ابن ابي شيبة ۴۴من رخص في الصوم ولم ير عليه هديا ج۳ص۱۵۱نمبر۱۲۹۹۱)ددې اثر څخه معلوم سو چې که هَدِي نه وموندي او روژې هم نه ونيسي نو په ايّام تشريق کې دې روژې ونيسي،او پاته اُوَه روژې دي د حج وروسته ونيسي .

[۶۹۳](۸) بيا دي اُوَه روژې ونيسي چې کله خپل کور ته واپس راسي،نو که په مَکّه مُکرّمه کې روژې ونيوې د حج څخه د فراغت وروسته نو دا هم جائز دئ .

تـشريـح څوك چې هَدِي ونه موندي او د حج وروسته اُوَه روژې نيول وي نو د امام ابوحنيفه په نېز هغه اُوه روژې چې کورته راسي هم يې نيولائي سي، او که و غُواړي په مَکّه مُکَرّمه کې هم نيولائي سي، په آيت کې د وَسَبعَةٍ اِذَا رَجَعتُم مطلب دادئ چې اِذَا رَجَعتُم مِنَ الحَجِّ چې کله د حج څخه فارغ سئ نو روژې ونيسئ که په مَکّه مُکرّمه کې نيسئ که واپس چې کورته راسئ نيسئ يې که په لاره کې نيسئ ،

وجـه عَن عَطَآءٍ قَالَ وَسَبعَةٍ اِذَا رَجَعتُم (الآية) قَالَ اِن شَآءَ صَامَهَا فِي الطَّرِيقِ وَاِن شَآءَ بِمَكَّةَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۵في قضآء السبعة الفرق والوصل ج۳ص۱۵۱نمبر۱۲۹۹۵)ددې اثر څخه معلوم سوچې په مَکّه مُکرّمه کې هم روژې نيولائي سي او په لاره کې هم نيولائي سي .

فـائـده امامِ شافعي فرمائي چې کورته دي راسي بيا دي روژې ونيسي .

وجـه (۱) دده استدلال دئ چې په آيت کې وَسَبعَةٍ اِذَا رَجَعتُم لفظ راغلئ دئ،يعني چې کله واپس راسئ کورته، نو ځکه چې واپس راسي روژې به نيسي (۲) په اثر کې راغلي دي عَن سَعِيدِ بِنِ المسَيّبِ قَالَ ... فَمَن لَم يَجِد فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ وَسَبعَةٍ اِذَا رَجَعَ اِلىٰ اَهلِهِ (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۶من قال يصوم اذا رجع الي اهله ج۳ص۱۵۲ نمبر۱۳۰۰۰)ددې اثر څخه معلوم سو چې کورته د واپس راتلو وروسته دي روژې ونيسي .

[۶۹۴](۹) بيا که قَارِن مَکّه مُکرّمه ته نه سو داخل او و عَرَفَات ته متوجه سو،نو د وُقُوفِ عَرَفَات په وجه د عُمرې پرېښونکئ سو او دده څخه به دَم د قِرَان ساقط سي،او پر ده باندې د عُمرې د پرېښولو په وجه دَم لازم سي او پر ده باندې د عُمرې قضآء لازم ده .

تـشريـح د قَارِن جوړېدو لپاره ضروري دئ چې د حج څخه مخکې به عُمره کړي وي،او که د حج څخه وروسته عُمره کړي وي نو قَارِن نه دئ او نه پر ده باندې دَم د قِرَان لازميږي، ځکه چې دئ ګرسره قَارِن سوئ نه دئ، نو چې کُوم سړئ مَکّې مُکرّمې ته ګرسره راغلئ نه دئ سيدا عرفات لـه ولاړئ نـو دا خبـره يقيني ده چې ده د حـج څخه مخکې عُمره نه ده کړې دده عُمره پاته سوه

حاشيه : (الف) ابن عُمر وفرمائل روژه د هغه سړي لپاره ده چې عُمره د حج سره يوځائ کې تمتع وکې د عرفې تر ورځې پورې، بيا که هَدِي نه وموندي او روژه نه ونيسي نو دمِنيٰ په شپو کې دي روژې ونيسي(يعني په ايّامِ تشريق کې دي روژې ونيسي) (ب) عطآء

ددي آيت وَسَبعَةٍ إذَارَجَعتُم په تفسير کي فرمائي چي که خُوښَه سي نو په لاره کي دي روژي ونيسي او که خُوښَه سي نو په مَکّه کي دي رزژي ونيسي (ج) د سعيد بن مُسيّب څخه روايت دئ چي څوک هَدِي نه وموندي نو هغه دي دري ورځي روژي ونيسي او اُوَه ورځي چي کله کورته واپس راسي .

رَفضًا لِعُمرَتِهِ بِالوُقُوفِ وَسَقَطَ عَنهُ دَمُ القِرَانِ وَعَلَيهِ دَمٌ لِرَفضِ العُمرَةِ وَعَلَيهِ قَضَآءُهَا .

نو ځکه دئ قَارِن نه دئ جوړ سوئ، البته د عُمري د پرېښولو په وجه د عُمري قضآء به لازم وي او د احرام تړلو وروسته د عُمري د پرېښولو په وجه دَمِ رَفَض لازميږي .

وجه اَخبَرَتنِي عَائِشَةُ قَالَت خَرَجنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مُوَافِينَ لِهِلاَلِ ذِي الحَجَّةَ ... اَرسَلَ مَعِيَ عَبدُالرَّحمٰنَ اِلَي التَّنعِيمِ فَاَردَفَهَا فَاَهَلَّلَت بِعُمرَةً مَکَانَ عُمرَتِهَا فَقَضيٰ اللهُ حَجَّهَا وَعُمرَتَهَا وَلَم يَکُن فِي شَيئٍ مِن ذَالِکَ هَديٌ وَلاَ صَدَقَةٌ وَلاَ صَومٌ (الف) (بخاري شريف،باب الاعتماربعدالحج بغير هدي ص۲۴۰نمبر۱۷۸۶)ددي حديث څخه معلوم سو چي د عُمري پرېښولو په وجه به بله عُمره کوي، او دا هم معلوم سو چي د حج وروسته عُمره ادآء کړي نو دَم د قِرَان نه لازميږي، البته د عُمري د پرېښولو په وجه د عُمري د پرېښولو دَم(يعني دَمُ الرَّفض)به لازم سي، ددي دليل (۱) دا حديث دئ عَن جَابِرٍ قَالَ ذَبَحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَن عَائِشَةَ بَقَرَةً يَومَ النَّحرِ (ب) (مُسلم شريف،باب جوازالاشتراك في الهدي الخ ص۴۲۴نمبر۱۳۱۹)په دي حديث د حضرت عائشې لخوا حضور غُوَا حلال کړه،او حضرت عائشه خو نه وه قَارِن، ځکه چي د حيض د راتلو په وجه خو دي عُمره پرېښولې وه، بيا هم ددي لجانب حضور يوه غُوَا ذَبَح(حلال)کړه، ددي مطلب دادئ چي دا دَم د عُمري د پرېښولو په وجه و، نو ځکه د عُمري د پرېښولو په وجه به دَم لاميږي (۲) په اثر کي دئ عَن طَاؤسٍ فِي المحرِمِ لِعُمرَةٍ أُعتُرِضَ لَهُ قَالَ يَبعَثُ بِهَدِيٍّ ثُمَّ يَحسِبُ کَم يَسِيرُ ثُمَّ يَحتَاطُ بِاَيَّامٍ ثُمَّ يَحِلَّ (مصنف ابن ابي شيبة ۵۷في الرجل اذا اهل بعمرة فاحصرج۳ص۱۵۹نمبر۱۳۰۷۸)ددي اثر څخه معلوم سو چي عُمره نه وکړي نو دهغې هَدِي دي وحرم شريف ته واستوي .

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمائي چي مونږ د حضور سره د ذي الحجي د مياشتي پر وخت راووتلو ... زوما سره عبدالرحمٰن ټر تنعيم پوري واستاوئ، نو ده حضرت عائشه تر شا کښېنوله، نو د عُمري په ځائ کي دي د عُمري احرام وتاړئ، نو الله ددي حج او عُمره پوره کړو، او ددي په وجه هَدِي،صَدَقَه او روژي هم نه سوي لازم (ب) حضور د عائشي لپاره په لسمه ذي الحجة غُوَا ذبح(حلال)کړل .

(بَابُ التَّمَتُّعِ)

[۶۹۵](۱) اَلتَّمَتُّعُ اَفضَلٌ مِّنَ الاِفرَادِ عِندَنَا [۶۹۶](۲) وَالمُتَمَتِّعُ عَليٰ وَجهَينِ مُتَمَتِّعٌ يَسُوقُ الهَديَ وَمُتَمَتِّعٌ لاَ يَسُوقُ الهَديَ [۶۹۷](۳) وَصِفَةُ التَّمَتُّعِ اَن يَّبتَدِءَ مِنَ الميقَاتِ فَيَحرُمُ بِالعُمرَةِ وَيَدخُلُ مَکَّةَ فَيَطُوفُ لَهَا وَيَسعيٰ وَيَحلِقُ اَو يُقَصِّرُ وَقَد حَلَّ مِن عُمرَتِهِ

(بَابُ التَّمَتُّعِ)

ضروري پـام لـرنـه د حج په مياشتو شَوّال،ذي قعده او د ذي الحجّي پـه لسو ورځـو کـي د عُمـرې احـرام وترې بيا عُمره وکي حلال سي او د حج په زمانه کي د حج احرام وترې او حج پوره کړي دې ته حجِّ تَمَتُّع وائي .
ددې دليل (١) دا آيت دئ فَمَن تَمَتَّعَ بِالعُمرَةِ اِلىٰ الحَجِّ فَمَا اِستَيسَرَ مِنَ الهَدي (الف) (آيت ١٩٦سورة البقرة٢)ددې آيـت ټخـه تَمَتّـع ثابتيږي (٢) په حَجّةُ الوَدَاعِ کي هغه احاديث دي چې حضور په صـحابهٔ و عُمـره وکـړه او احـرام يـې پـه خـلاص کړئ .
[٦٩٥](١) زمونږ په نيز تَمَتُّع تر اِفرَاد افضل دئ .
وجـه (١) په تَمَتُّع کي دوه عبادتونه په يوه سفر کي ادآء کيږي عُمره او حج نو ځکه دا به افضل وي (٢) په حجـة الوداع کي و صحابهٔ و ته د عُمرې کولو وروسته د حلالېدو لپاره حضور وفرمائل عَن عَائِشَةَ قَالَت خَرَجنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ... فَاَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن لَم يَكُن سَاقَ الهَديَ اَن يَّحِلَّ فَحَلَّ مَن لَم يَكُن سَاقَ الهَديَ (ب) (بخاري شريف،باب التمتع والقران والافراد بالحج ص٢١٢نمبر١٥٦١)په دې حديث کي حضور و صـحابه و تـه د عُمـرې کولـو او حلالېدو حکم کړئ دئ ددې ټخه دا معلوميږي چې تَمَتُّع افضل دئ .
فـائـده د امام ابوحنيفه يو روايت دا هم دئ چې اِفرَاد افضل دئ، ځکه چې په دي کي صرف د حـج لپـاره سـفر کيږي او د حج لپاره تلبيه او تکبير په کثرت سره کيږي .
[٦٩٦](٢) د مُتمَتِع دوه قسمونه دي (١) مُتمَتِع چې هَدِي بيايي(شړي) (٢) دوم مُتمَتِع چې قُرباني(هَدِي)نـه بيايي(نـه شړي)
تـشريـح نژدې خلګ د ميقات ټخه قرباني(هَدِي)بيايي نو دا هغه مُتمتِـع دي چـي د قرباني(هَـدِي)والا دي او کـوم خلګ چې قرباني(هَدِي)د ځان سره نه بوزي بلکه وروسته هَدِي واخلي ذَبَح(حلال)کړي دا بيا هغـه مُتمَتِـع دي چـي هَدِي يې د ځان سره نه ده بېولي. حضور په حَجّةُ الوَدَاع کي د قربانئ سره تشريف وړئ و .
[٦٩٧](٣) د تَمَتُّع طريقه داده چې د ميقات ټخه د عُمرې احرام شروع کړي او په مَکّه کي داخل سي، نو د عُمـرې طواف وکي، سعي وکي او حَلَق يا قَصر وکي او د خپلې عُمرې ټخه ځان حلال کړي .
تـشريـح ددې تفصيل مخکې تېر سوئ دئ .

حاشيه :- (الف) کوم چا چې عُمره د حج سره ملاو کړه تَمَتُّع يې وکئ نو ځه چې د هَدِي(قُربانئ)ټخه آسان وي هغه لازم دئ (ب) حضور وهغه ته حکم وکئ کوم چا چې هَدِي(قُرباني)نه وي بېولي(شړلی)دا چې حلال دي سـي .نـو کـوم چـا چـي هَدِي(قُرباني)نـه وه بېولي هغـه حلال سو .
[٦٩٨](٤) يَقطَعُ التَّلبِيَةَ اِذَا اِبتَدَاَ بِالطَّوَافِ [٦٩٩](٥) وَيُقِيمُ بِمَكَّةَ حَلاَلاً [٧٠٠](٦) فَاِذَا كَانَ يَومُ التَّروِيَةِ اَحرَمَ بِالحَجِّ مِنَ المسجِدِ الحَرَامِ وَفَعَلَ مَا يَفعَلُهُ الحَاجُّ المفرِدُ وَعَلَيهِ دَمُ التَّمَتُّعِ .

---

[٦٩٨](٤) او تلبيه به ختم کوي چې کله طواف شروع کړي .
تـشريـح چې د عُمرې طَوَاف شروع کړي نو اُوس دي تلبيه ويل ختم کړي .
وجـه (١) د لَبَّيكَ معنيٰ ده زه حاضر يم. او دئ خو حاضر دئ نو اُوس دا وينا چې،زه حاضر يم، ځه خاص معنيٰ نه لري. نو ځکه اُوس دي تلبيه ويل پريږدي (٢) حديث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ وَقَالَ يُلَبِّي المعتَمِرُ حَتّيٰ يَستَلِمَ الحَجَرَ (الف) (ابوداؤدشريف،باب متي يقطع المعتمرالتلبية ص٢٥٩نمبر١٨١٧\ترمذي شريف،باب ماجآء متي يقطع التلبية في العمرة ص١٨٥نمبر٩١٩)ددې حديث ټخه معلوم سو چې و حَجَراَسوَد ته بُوسه ورکړي(مچه کړي)او طواف شروع کـي نـو تلبيـه ويـل دي پريږدي .
[٦٩٩](٥) او په مَکّه مُکرّمه کي دي حلال مُقِيم سي .
وجـه (١) دئ خو د عُمرې ټخه حلال سوئ دئ نو ځکه اُوس د ي په مَکّه کي حـلال سـي قيـام دي وکـي (٢) پـه حديث کي دئ حَدَّثَنِي جَابِرُ بنِ عَبدِاللهِ اَنَّهُ حَجَّ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَومَ سَاقَ البُدنَ مَعَهُ وَقَد اَهَلُّوا بِالحَجِّ مُفرِدًا فَقَالَ لَهُم اَهِلُّوا

مِن اِحرَامِكُم بِطَوَافِ البَيتِ وَبَينَ الصَّفَا وَالمروَةَ وَقَصِّرُوا ثُمَّ اَقِيمُوا حَلاَلاً حَتّٰى اِذَا كَانَ يَومُ التَّروِيَةِ فَاَهِلُّوا بِالحَجِّ وَاجعَلُوا الَّتِي قَدَّمتُم بِهَا مُتعَةً (ب) (بخاري شريف،باب التمتع والقران والافرادبالحج ص۲۱۲نمبر۱۵۶۸)په دې حديث کې د عُمرې څخه د حلالېدو وروسته د قيام کولو حکم کړئ دئ .

[۷۰۰](۶) بيا چې کله اُوَم تاريخ سي نو د مسجدِحرام څخه دي د حج احرام وتړي او هغه اعمال دي کوي کوم چې د حج اِفراد والا يې کوي . او پر ده باندي دَم د تَمَتُّع سته .

تـشريـح دئ خو اُوس د مَکّي په رکم سوئ دئ او مَکّي د حج احرام د مَکّي څخه تړي نو ځکه دئ بـه هـم پـه اُوم تاريخ د حج احرام د حرم څخه تړي .او مُفرِد بِالحج چې کوم اعمال کوي مثلاً عرفات لره ځي،په مُزدلفه کـي قيـام کوي،رَمِي جَمَرَات کوي او طوافِ زيارت کوي دغه اعمال به دا سړئ هم کوي .ځکه چې دئ هم د مُفرِد بِالحج په رکم سوئ دئ. او دئ خو مُتَمَتِع سو نو ځکه پر ده باندي دَم د تَمَتُّع هم لازميږي .

وجـه د مسجدِحرام څخه يا د حرم څخه د احرام تړلو دليل (۱) دا حـديث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ وَقَّتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لاَهلِ المَدِينَةِ ذَا الحُلَيفَةَ وَلاَهلِ الشَّامِ اَلجُحفَةَ وَلاَهلِ نَجدٍ قَرنُ المَنَازِلِ وَلاَهلِ اليَمَنِ يَلَملَمُ فَهُنَّ لَهُنَّ وَلِمَن اَتٰي عَلَيهِنَّ مِن غَيرِ

حاشيه : (الف) د حضور څخه روايت دئ چې عُمره کونکئ دي د حَجَراَسوَدِ تر مَچُوُلُو پوري تلبيه لولي (ب) حضرت جـابر فرمـائي چـې ده د حضور سره هغه وخت حج وکئ چې کله ده هَدِي(قُربانې)روانه کړي روان و، خلکو د مُفرِد بالحج احرام ترلئ و، حضـور وفرمائـل چې د طَوَافِ بَيتُ الله او د سعي بين الصفا و المروة وروسته حـلال سـئ، او د بېښـتانو قصـر وکئ،بيـا حـلال سـئ قيـام وکـئ، تـردې چـې اتم(۸)تاريخ سي نو د حج احرام وتړئ او مخکې چې مو کومه عُمره کړې ده هغه مُتعه جوړ کړئ .

[۷۰۱](۷) فَاِن لَم يَجِد مَا يَذبَحُ صَامَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ فِي الحَجِّ وَسَبعَةٍ اِذَا رَجَعَ اِلٰي اَهلِهِ [۷۰۲](۸) وَاِن اَرَادَ المُتَمَتِّعُ اَن يَّسُوقَ الهَديَ اَحرَمَ وَسَاقَ هَديَهُ .

اَهلِهِنَّ لِمَن كَانَ يُرِيدُ الحَجَّ وَالعُمرَةَ فَمَن كَانَ دُونَهُنَّ فَمَهَلُّهُ مِن اَهلِهِ وَكَذَالِكَ حَتّٰي اَهلُ مَكَّةَ يَهِلُّونَ مِنهَا (الف) (بخاري شريف، باب مهل اهل الشام ص۲۰۶نمبر۱۵۲۶)ددې حديث څخه معلوم سو چې د مَکّي خلک به د مَکّي څخـه احـرام تـړي او مُتَمَتِـع د احـرام خلاصولو وروسته د مَکّي سړي په شان سو نو ځکه دئ به هم د مَکّي څخه احرام تـړي (۲) پـه مُسلم شـريف کـي دئ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ اَمَرَنَا النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَمَّا اَحلَلنَا اَن نَحرُمَ اِذَا تَوَجَّهنَا اِلٰي مِنيٰ قَالَ فَاَهلَلنَا مِنَ الاِبطَحِ (ب) (مُسلم شريف،باب بيان وجوه الاحرام وانه يجوز افراد الحج والتمتع والقران الخ ص۳۹۲نمبر۱۲۱۴)ددې حديث څخه هم معلو سـوچې صـحابهٔ کرامو په حَجّةُ الوَدَاع کي د اِبطَح چې په مَکّه مُکرّمه کي د يوځائ نوم دئ د هغه ځائ څخه احـرام وتـارئ، او پـر مُتَمَتِع باندي دَم د تَمَتُّع لازم دئ ددې دليل مخکې تېر سوئ دئ خو بيا هم دا آيت په دي کي نَص دئ فَمَن تَمَتَّعَ بِالعُمرَةِ اِلَي الحَـجِّ فَمَـا اِستَيسَـرَ مِـنَ الهَـدي فَمَـن لَم يَجِـد فَصِـيَامُ ثَلٰثَـةِ اَيَّامٍ فِي الحَـجِّ وَسَـبعَةٍ اِذَا رَجَعتُم تِلـكَ عَشَـرَةٌ كَامِلَـةٌ ذَالِـكَ لِمَـن لَم يَكُـن اَهلُـهُ حَاضِرِالمسجِدِالحَرَامِ (ج) (آيت ۱۹۶ سورة البقرة۲)پـه دې آيـت کـې دئ چـې کـوم چـا چـې تَمَتُّـع وکـئ پـر هغـه بانـدي هَدِي(قُرباني)لازم ده او که هَدِي نه کړه ور نو دري روژې دي د حج څخه مخکې ونيسي او اُوَه روژې دي د حـج څخه د فارغېدو وروسته ونيسي .

[۷۰۱](۷) بيا که نه ومُوندئ دارنګه حيوان چې ذَبَح(حلال)يې کړي نو دري ورځې دي روژې ونيسي په حـج کـي او اُوَه ورځې چې خپل کورته راسي .

تـشريـح ددې پوره تفصيل او دليل په باب القِرَان کي تېر سوئ دئ .

[۷۰۲](۸) که تَمَتُّع کونکي د هَدِي(قُربانئ)دشَرلو(ببولو)اراده وکړه نو د ځان سره دي هَدِي بوزي .

تـشريـح مخکې تير سو چې د مُتَمَتِع لپاره افضل دادئ چې د کور څخه د ځان سره هَدِي(قرباني)بوزي .نـو ځکـه که هَدِي د ځان سره بوزي نو ښه خبره ده .

وجه حضور په حَجّة الوداع کي د ځان سره هَدِي ببولي تشريف وړئ و . اَنَّ اِبنَ عُمَرَ قَالَ تَمَتَّعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ بِالعُمرَةِ اِلیٰ الحَجِّ وَاَهديٰ فَسَاقَ مَعَهُ الهَديَ مِن ذِي الحُلَيفَةَ وَبَدَاَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَاَهَلَّ بِالعُمرَةِ ثُمَّ اَهَلَّ بِالحَجِّ فَتَمَتَّعَ النَّاسُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِالعُمرَةِ اِلیٰ الحَجِّ (د) (بخاري شريف،باب من ساق البدن معه ص۲۲۹نمبر۱۶۹۱\مُسلم شريف،باب وجوب الدم

حاشيه : (الف) د حضرت ابن عباس ځخه روايت دئ چې حضور ميقات مُتعين کړئ، د اهلِ مدينې لپاره ذُوالحُلَيفَه،د اهلِ شَام لپاره جُحفَه، د اهلِ نَجد لپاره قَرنُ المَنَازِل، د اهلِ يَمَن لپاره يَلَملَم، بس دا ميقات ددي خلکو لپاره دئ او کوم چې پر دي(ځايو)باندي راسي ددوئي ځخه علاوه، او کوم ځوک چې په دي ميقات کي دَنَنَه وي نو دهغه لپاره مِيقَات دده د اهل(کور)ځخه دئ او دغه رنګه تردي چې اهلِ مَکّه به احرام تړي د مَکّي ځخه (ب) چې مور د عُمرې ځخه حلال سو نو حضور و مور ته حکم وکئ چې مور احرام وتړو چې کله د مِنيٰ پر خوا روان سو، وفرمائل چې مور د مَقَامِ اِبطَح ځخه احرام وتاړئ (ج) کوم چا چې عُمره د حج سره يو ځائ کړه تَمَتُّع يې وکئ نو چې کوم آسان وي د هَدِي(قُربانئ)ځخه، بيا چې کوم چا هَدِي نه ومُوندل نو هغه دي دري روژې ونيسي په حج کي او اُوه ورځې کله چې تاسو واپس راسئ، دا لس ورځې سوې، دا تَمَتُّع د هغه لپاره دئ چې د مسجدحرام سره(نژدې)نه وي، (د) حضرت عبدالله بن عمر فرمائي چې حضور په حجة الوداع کي عُمره د حج سره يو ځائ کړه تَمَتُّع يې وکئ، او هَدِي يې د ذُواحُلَيفَة ځخه د ځان سره بيولي وه، او حضور شروع کړئ نو د عُمرې احرام يې وتاړئ بيا يې د حج احرام وتاړئ، نو خلکو هم عُمره د حج سره يو ځائ کړه تَمَتُّع يې وکئ .

[۷۰۳](۹) فَاِن کَانَت بُدنَةً قَلَّدَهَا بِمَزَادَةٍ اَو نَعلٍ وَاَشعَرَ البُدنَةَ عِندَ اَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالیٰ وَهُوَ اَن يَّشُقَّ سَنَامَهَا مِنَ الجَانِبِ الاَيمَنِ وَلاَ يُشعِرُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالیٰ [۷۰۴](۱۰) فَاِذَا دَخَلَ مَکَّةَ طَافَ وَسَعيٰ وَلَم يَتَحَلَّل حَتّیٰ يَحرُمَ علي المتمتّع الخ ص۴۰۳نمبر۱۲۲۷)په دي حديث کي دئ چې حضور په حجة الوداع کي مُتمَتِع و او هَدِي(قُرباني)يي د ځان سره ببولي وه .

[۷۰۳](۹) بيا که وُښ وي نو و هغه ته دي د زَړې چمړې يا چَوَټُو هار(غارګئ)ور په غار کي،او دصاحبينو په نيز به د وُښ شعار کوي، او هغه دادئ چې د وُښ بوك دي د ښئ جانب ځخه ځيري کړي، او د امام ابوحنيفه په نيز شِعَار نسته .

تشريح چې هَدِي د ځان سره بُوزي نو پر هغه دي د هَدِي(قُربانئ)علامت ولګوي، د وُښ لپاره د هَدِي دوې علامې دي (۱) بوك دې ځيري کړي وينه دې پر بوك ور وَمُوړي (۲) زَړَه چمړه يا زَړَه چَوَټَه دي په غاړه ور وځړوي چې خلګ يې ووينې او احترام يې وکي او غَل ډاکو کار په ونه لري،حضور د هَدِي لپاره دواړه کارونه کړي دي (۱) عَن عَائِشَةَ قَالَت فَتَلتُ قَلاَئِدَ هَديِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اَشعَرَهَا وَقَلَّدَهَا اَو قَلَّدَهَا ثُمَّ بَعَثَ بِهَا اِلیٰ البَيتِ (الف) (بخاري شريف،باب اشعارالبدن ص۲۳۰نمبر۱۶۹۹)ددي حديث ځخه معلوم سو چې د وُښ په غاړه قَلاَدَه ځړول هم سُنّت ده او شِعَار کول هم (۲) کَانَ اِبنُ عُمَرَ اِذَا اَهديٰ مِنَ المَدِينَةِ قَلَّدَهُ وَاَشعَرَهُ بِذِي الحُلَيفَةَ يُطعِنُ فِي شِقِّ سَنَامِهِ الاَيمَنِ بِالشَّفرَةِ وَوَجَّهَهَا قِبَلَ القِبلَةِ بَارِكَةً (ب) (بخاري شريف،باب من اشعروقلدبذي الحليفة ثم احرم ص۲۲۹نمبر۱۶۹۵)ددي اثر ځخه معلوم سو چې د وُښ په ښي جانب بوك کي دي چاړه وَوَهِي او وِينَه دي تُوئي کړي، د صحابينو په نيز دغه سُنّت دئ،ځکه چې په حديث سره ثابت دئ،او د امام ابوحنيفه په نيز اشعار ضروري نه دئ ځکه چې په دي کي د حيوان تَعذِيب دئ او د قَلاَدي اچولو طريقه هم سته نو ځکه اشعار کول ضروري نه دئ، دده دليل دا اثر دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِن شِئتَ فَاَشعِرِ الهَديَ وَاِن شِئتَ فَلاَ تَشعِر (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۷۵في الاشعار واجب هُوَ اَم لاَ ج۳ص۱۷۲نمبر۱۳۲۰۹)ددي اثر ځخه معلوم سو چې اشعار ضروري نه دئ .

پام لرنه د امام صاحب دعلاقي خلګو دپر جَوَر(تينګ)اشعار کاوئ د هغه ځخه حيوان خورا دپر زيات په تکليف کيدئ نو د خپل وخت د اشعار انکار يې کړئ دئ، د اصل اشعار انکار يې نه دئ کړئ .

لغت مَزَادَةٌ : زړه چمړه ، اَشعَرَ : چاړه وَهَل او بوك ځله ورځيرل ،

[۷۰۴](۱۰) بيا چې په مَکّه مُکرّمه کي داخل سي نو طواف دي وکي او سعي دي وکي او نه دي حلاليږي تر دې چې په اتم(۸)تاريخ د حج احرام وتړي .

تشريح دې مُتَمَتِع خو د ځان سره هَدِي(قُرباني)ببولي ده نو ځکه د عُمرې کولو وروسته به بيښتان نه خروي(خريي) او نه به ګنډلي کيږه اغُوندي او نه به خوشبو لګوي

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمائي چي ما د حضور د هَدِي(قُربانئ)قَلاَدَه وَودَله بيا حضور د هَدِي اشعار په کاوئ او قَلاَدَه به پکي اچوله يا به صرف قَلاَدَه پکي اچوله بيا به هغه بَيتُ الله ته استوله (ب) حضرت ابن عمر چي به د مديني طَيّبي څخه هَدِي استوله نو وهغه ته قَلاَدَه ور په غاړه کوله او په ذُوالحُليفه کي د هغه اشعار کاوئ دارنګه چي ددي د بوك بنئ جانب به په نېزه واهَئ خُله څيرئ به، او حيوان به کښېناوئ قبله ته به مُتوجه کاوئ (ج) عبدالله بن عباس فرمائي که خُوښَه سي نو د هَدِي اشعار دي وکي او که خُوښَه سي نو اشعار دي نه کوي .

بِالحَجِّ يَومَ التَّروِيَةِ [٧٠٥](١١) فَاِن قَدَّمَ الاِحرَام قَبلَهُ جَازَ وَعَلَيهِ دَمُ التَّمَتُّعِ [٧٠٦](١٢) فَاِذَا حَلَقَ يَومُ النَّحرِ فَقَد حَلَّ مِنَ الاِحرَامَينِ [٧٠٧](١٣) وَلَيسَ لاَهلِ مَكَّةَ تَمَتُّعٌ وَلاَ قِرَانٌ

بلکه د احرام په حالت کي به وسيري او دوباره به د ذي الحجّي په اتم تاريخ د حج احرام تړي .

وجه حضور د ځان سره هَدِي ببولي وه نو په مابين کي نه و حلال سوئ . عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ تَمَتَّعَ رَسُولُ اللهِ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ بِالعُمرَةِ اِلَى الحَجِّ وَاَهدىٰ فَسَاقَ مَعَهُ الهَدىَ مِن ذِي الحُلَيفَةَ وَبَدَاَ رَسُولُ اللهِ فَاَهَلَّ بِالعُمرَةِ ثُمَّ اَهَلَّ بِالحَجِّ فَتَمَتَّعَ النَّاسُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِالعُمرَةِ اِلَى الحَجِّ فَكَانَ مِنَ النَّاسِ مَن اَهدٰي فَسَاقَ الهَدىَ وَمِنهُم مَن لَم يَهدِ فَلَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ قَالَ لِلنَّاسِ، مَن كَانَ مِنكُم اَهدٰي فَاِنَّهُ لاَيَحِلُّ مِن شَيئٍ حَرُمَ مِنهُ حَتّٰى يَقضِيَ حَجَّهُ (الف) (بخاري شريف،باب من ساق البدن معه ص٢٢٩نمبر ١٦٩١)په دي حديث کي دئ چي حضور وهغه خلکو ته حکم ورکئ چي هَدِي(قُرباني)يي د ځان سره ببولي وه چي د عُمرې او د حج دواړو احرامو څخه په لسم(١٠)تاريخ پر يوه لاره حلال سئ .

[٧٠٥] (١١) بيا که د اتم تاريخ څخه مخکي د حج احرام وتړي نو جائز دئ او پر ده باندي دَم د تَمَتُّع لازم دئ .

تشريح لوړ تير سو چي په اتمه(٨)ذي الحجة دي دحج احرام وتړي لېکن که د اتمي ذي الحجي څخه مخکي د حج احرام وتاړئ نو دا هم جائز دئ بلکه افضل دئ ځکه چي د عبادت لپاره تلوار کوي .

[٧٠٦](١٢) بيا چي په لسمه ذي الحجة باندي حلق وکي نو د دواړو احرامو څخه به فارغ سي .

تشريح ده خو د عُمرې احرام نه و خلاص کړئ او د حج احرام يې تړلئ و .نو ځکه په لسم تاريخ به د دواړو احرامو څخه ځان حلال کړي .

وجه ددي دليل په مسئله نمبر ١٠ کي تير سو . ثُمَّ لَم يَحِلِ مِن شَيئٍ حَرُمَ مِنهُ حَتّٰى يَقضِيَ حَجَّهُ نَحَرَ هَديَهُ يَومَ النَّحرِ (بخاري شريف،نمبر ١٦٩١)

[٧٠٧](١٣) د اهلِ مَکّي لپاره نه تَمَتُّع سته او نه قِرَان سته،صرف ددوئي لپاره حَجِ افراد دئ .

وجه (١) په آيت کي دئ ذَالِكَ لِمَن لَم يَكُن اَهلُهُ حَاضِرِي المسجِدِالحَرَامِ (ب) (آيت ١٩٦ سورة البقرة٢) په دې آيت کي د ذَالِكَ اشاره و تَمَتُّع او د هغه په تَبعِ کي و قِرَان ته ده. ددي مطلب دا سو چي تَمَتُّع او قِرَان دهغه لپاره دي چي د مسجدِحرام سره نژدې نه وي يعني مَکّي نه وي .نو ځکه د احنافو په نېز د مَکّي او په مِيقَات کي دَنَنَه خلکو لپاره تَمَتُّع او قِران نسته (٢) په يوه سفر کي حج او عُمره دواړه ادآء کړي دا فائده(گټه)حاصله کړي ودي ته تَمَتُّع کول وائي، لېکن که سفر نه وي نو فائده اخستل به څه وي ؟ په دغه وجه د مَکّي دخلکو لپاره تمَتُّع او قِرَان نسته، د حضرت عبدالله بن عباس دغه تفسير دئ چي د مَکّي دخلکو څخه علاوه د نورو خلکو لپاره

حاشيه : (الف) حضور په حجة الوداع کي عُمره د حج سره يو ځائ کړه تَمَتُع يي وکئ او هَدِي(قُرباني)يي بوته، او حضور شروع کړه بس د عُمرې احرام يې وتاړئ بيا يې د حج احرام وتاړئ او خلکو د حضور سره عُمره يو ځائ کړه تَمَتُع يې وکئ،نو د خلکو څخه څه کسانو هَدِي ببولي وه،او د هغو څخه څه کسانو هَدِي نه وه ببولي، بس چي حضور مَکّي ته راغلئ نو وخلکو ته وويل چي د تاسو څخه کوم چا چي هَدِي(قُرباني)ببولي ده، دهغه څخه يو شيئ نه حلاليږي چي حرام سوئ دئ تر څو چي حج نه وي پوره سوئ (ج) تَمَتُّع د هغه لپاره دئ څوك چي و مسجدِحرام ته نژدې وي .

اِنَّمَا لَهُمُ الاِفرَادُ خَاصَّةً [٧٠٨](١٤) وَاِذَا عَادَ المُتَمَتِّعُ اِلَى بَلَدِهِ بَعدَ فَرَاغِهِ مِنَ العُمرَةِ وَلَم يَكُن سَاقَ الهَدىَ بَطَلَ تَمَتُّعُهُ [٧٠٩](١٥) وَمَن اَحرَمَ بِالعُمرَةِ قَبلَ اَشهُرِ الحَجِّ فَطَافَ لَهَا اَقَلَّ مِن اَربَعَةِ اَشوَاطٍ ثُمَّ دَخَلَت اَشهُرُ الحَجِّ فَتَمَّمَهَا وَاَحرَمَ بِالحَجِّ كَانَ مُتَمَتِّعًا فَاِن طَافَ

تَمَتُّع او قِرَان دئ . عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ سُئِلَ عَن مُتعَةِ الحَجّ ... وَاَبَاحَهُ لِلنَّاسِ غَيرَ اَهلِ مَكَّةَ قَالَ اللهُ تَعَالیٰ ذَالِكَ لَمَن لَم يَكُن اَهلُهُ حَاضِرِي المسجِدِ الحَرَامِ (بخاري شريف،باب قول الله تعالي ذالك لمن لم يكن اهله حاضري المسجدالحرام ص۲۱۴نمبر ۱۵۷۲\مصنف ابن ابي شيبة ۴۸۱من كان لايريٰ علي اهل مكة متعة،ج۳ص۴۱۶نمبر ۱۵۶۹۰)

فـائـده د امام شافعي په نبز په آيت کي د ذَالِكَ اشاره و تَمَتُّع ته نه ده بلکه هَدِي ده نو ځکه دده په نبز مَکّـي تَمَتُّـع او قِرَان خو کولائي سي البته پر ده باندي هَدِي(قُربانـي)نه ده لازم .

وجـــه قَالَ يَحيٰ سُئِلَ مَالِكٌ عَن رَجُلٍ ... وَاِنَّمَا الهَديُ اَوِالصِّيَامُ عَلَيهِ مَن لَم يَكُن مِن اَهلِ مَكَّةَ (الف) (مؤطا امام مالك ماجآءفي المتمتع ص۳۵۶)ددي اثر ځخه معلوم سو چي پر مَکّي باندي هَدِي او روژه نسته .

[۷۰۸](۱۴) کـه تَمَتُّـع کـونکئ د عُمـري ځخـه د فارغبـدو وروسـته خپـل ښـار تـه راسـي او هَـدِي يـي نـه وي ببولي(شرلي)نو دده تَمَتُّع به باطل سي .

وجـه (۱) چي هَدِي يي نه وي ببولي نو د خپل اهلُ و عيال سره د ملاؤبدو او خپل ښار تـه د تلـو ځخـه اوّل سفر باطل سو، د ښار سره اِلمَام صحيح سو، او په يوه سفر کي حج او عُمره نه کړو ادآء نو تَمَتُّـع او قِـرَان نـه سـو نـو ځکه تَمَتُّع باطل سـو (۲) پـه اثـر کـي دئ عَن عَطَآءٍ قَالَ مَن اِعتَمَرَ فِي شَهرِالحَجِّ ثُمَّ رَجَعَ اِلیٰ بَلَدِهِ ثُمَّ حَجَّ مِن عَامِهِ فَلَيسَ بِمُتَمَتِّعٍ،اِنَّمَا المُتَمَتِّعُ مَن اَقَامَ وَلَم يَرجِعَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۷في الرجل يعتمرفي اشهرالحج ثم يرجع ثم يحج ج۳ص۵۲نمبر۱۳۰۰۶)ددي اثـر ځخـه معلوم سو چي که عُمره وکړه کورته ولاړئ نو تَمَتُّع يي فاسد سو .

پـام لـرنـه که هَدِي د ځان سره راوړي وه او بيـا يـي عُمـره وکړه کورتـه ولاړئ نـو د هَـدِي پـه وجـه مَکّـي مُکرّمي ته واپس راتلل ضروري دئ نو ځکه اوّل سفر يي نه دئ باطل سوئ او د کور سره اِلمَام نـه سـو صـحيح لهٰذا تَمَتُّع يي نه باطليږي .

[۷۰۹](۱۵) کوم چا چي د حج د مياشتي ځخه مخکي د عُمري احرام وتـاړئ او د ځلـورو شـوطو ځخـه کـم طـواف وکئ بيا د حج مياشته داخل سوه او عُمره يي پوره کړه او د حج احرام يي وتاړئ نو تَمَتُّع کونکئ به سـي، او کـه د حج د مياشتي ځخه مخکي د عُمري طواف ځلور شوطه وکئ يا يي ددي ځخه زيات وکئ بيا يي پـه دغـه کـال حـج وکئ نو دا به تَمَتُّع کونکئ نه وي .

تـشريـح د تَمَتُّع کېدو لپاره دوه شرطونه دي، يو دا چي د حج ځخه مخکي عُمره کړي وي،او دوم شرط دادئ چي عُمره يي د حج په مياشته کي ادآء کړي وي،د حج مياشته د اوّل شَوَّال(کشني اختر)ځخـه تـر لـس(۱۰)ذي الحجـي پوري ده، دوم اصول دادئ چي د اکثر شوط اعتبار دئ نو په اُوه شوط کي اکثرشوط ځلور دي او اَقَل شـوط درې دي، نو که اکثر شوط يعني د عُمري

حاشيه : (الف) د حضرت يحيٰ ځخه د يوه سړي په باب کي پوښتنه وسوه ... وفرمائل هَدِي يا روژه پر هغـه بانـدي سـته چـي د اهلِ مَکّـه ځخه نه وي، يعني په ميقات کي دَنَنَه ځخه نه وي (ب) حضرت امام عطآء وفرمائل کوم چا چي په شَوّال،ذي قعده يا ذي الحجة کي عُمـره وکړه بيا د خپل اهل پر لوري واپس راغلئ بيا يي په دغه کال کي حج وکئ نو پر ده باند ي هَدِي نسته، هَدِي پر هغه بانـدي سـته کـوم چـا چي په اَشهُرِ حج کي عُمره وکړه بيا په مَکّه کي تر حج پوري پاته سو بيا يي حج وکئ .

لِعُمرَتِهِ قَبلَ اَشهُرِ الحَجِّ اَربَعَةَ اَشوَاطٍ فَصَاعِدًا ثُمَّ حَجَّ مِن عَامِهِ ذَالِكَ لَم يَكُن مُتَمَتِّعًا [۷۱۰](۱۶) وَاَشهُرُ الحَجِّ شَوَّالٌ وَذُوالقَعدَةُ وَ عَشرٌ مِن ذِي الحَجَّةِ [۷۱۱](۱۷) فَاِن قَدَّمَ الاِحرَامَ

ځلور شوطونه د شوّال ځخه مخکي ادآء کړل نو تَمَتُّع نه دئ، ځکه چي عُمره د اَشهُر حج ځخه مخکي ادآء سوه، او چي عُمره د حج د مياشتي ځخه مخکي ادآء سي نوهغه تَمَتُّع نه وي، او که اکثر شوطونه يعني ځلـور شـوطونه پـه شوّال کي ادآء کړل نو اُوس خو عُمره د حج په مياشته کي ادآء سوه ځکه دا تَمَتُّع دئ .

وجـه عَن عبدِاللهِ بنِ عُمَرَ اَنَّهُ كَانَ يَقُولُ مَن اِعتَمَرَ فِي اَشهُرِالحَجِّ فِي شَوَّالٍ وَذِي القَعدَةِ وَذِي الحَجَّةِ قَبلَ الحَجِّ ثُمَّ اَقَامَ بِمَكَّةَ حَتّیٰ يُدرِكَهُ الحَجُّ فَهُوَ مُتَمَتِّعٌ اِن حَجَّ وَعَلَيهِ مَا اِستَيسَرَ مِنَ الهَدي (الف) (مؤطاامام مالك،باب ماجآء في التمتع ص۳۵۵\مصنف ابن ابي شيبة نمبر۱۳۰۰۰)ددي دواړو اثر ځخه شرطونه معلوم سو، يو دا چي د حج پـه مياشـته کـي عُمـره کـړي وي او دوم دا چـي د حـج ځخـه مخکي کړي وي نو بيا تَمَتُّع دئ، او که د حج ځخه وروسته عُمره وکړه نو تَمَتُّع نه دئ او نـه پر ده باندي دَم د تَمَتُّع سته .

لـغـت : شَوطٌ : د بَيتُ الله شاؤخوا(اېر چاپېره)يو طواف(چكر)كولو ته يو شَوط وائي .

[٧١٠](١٦) د حج مياشته شوّال،ذي قعده او د ذي الحجّي تر لسمي پوري ده .

وجـه (١) ددې دليل په مسئله نمبر١٥كي حديث تير سو (٢) په آيت كي دئ اَلحجُّ اَشهُرٌ مَّعلُومَاتٌ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الحَجَّ فَلاَ رَفَثَ وَلاَ فُسُوقَ وَلاَ جِدَالَ فِي الحَجِّ (ج) (آيت ١٩٦ سورة البقرة٢) په دې آيت كي دئ چې د حج يوڅو مياشتي معلوم دي چې په هغه كي دي د حج احرام وتړي، او د عبدالله بن عباس تفسير دادئ چې هغه مياشتي شوّال ذي قعده او ذي الحجه ده، لكه څه رنګه چې په مسئله نمبر١٥كي تير سو (بخاري شريف،باب قول الله عزوجل ذالك لمن لم يكن اهله حاضري المسجدالحرام ص٢١٤نمبر١١٥٧٢\سنن للبيهقي،باب بيان اشهرالحج ج٤ص٥٥٩نمبر٨٧١١)ددې څخه معلوم سو چې د حج مياشتي شوّال،ذي قعده او د ذي الحجي تر لس تاريخ پوري دي . په سنن بيهقي كي تر لسو تاريخو پوري صراحت موجود دئ .

[٧١١](١٧) بيا كه د حج احرام ددې مياشتو څخه مخكي وتاړئ نو دده احرام صحيح دئ اوحج به مُنعقدسي.

تـشريـح د حج دمياشتي څخه مخكي يعني د شوّال څخه مخكي په روژه كي احرام وتاړئ نو احرام به مُنعقد سي او حج كول يې دُرست دئ .

وجـه (١) احرام د حج لپاره د شرط په درجه كي دئ او چې شرط مُقدّم سي نوپـه دي كي څـه حـرج نستـه، لكـه اَودَس د لمانځه د وخت څخه مخكي كولائي سي دغه رنګه د حج احـرام د حـج د مياشـتي څخـه مخكـي وتـړي نـو تړلائي سي . خو دومره مخكي احرام تړل مكروه دئ (٢) عَن اِبنِ عَبَّاسٍ فِي الرَّجُلِ

حاشيه : (الف) ابن عُمر فرمائي چې كوم چا چې په اَشهُرِحج شَوّال،ذي قعده يا ذي الحجة كي عُمره وكړه د حج څخـه مخكـي بيـا پـه مَكّـه مُكرّمه كي موجود و تر دې چې حج دئ و موندئ(يعني موسم د حج پر راورسېدئ)نو دئ تَمَتُّع كونكئ دئ كه حج وكـئ، او پـر ده باندي چې آسان وي هغه هَدِي(قُرباني)لازمه ده (ب) د تَمَتُّع په باب د حضرت ابن عباس څخه پوښتنه وسوه ... اَشهُر حج هغه دي كـوم چـي الله په خپل كتاب كي ذكر كړي دي شوّال،ذي قعده او ذي الحجة نو كوم چا چې په دې مياشتو كي تمتـع وكـئ نـو پـر هغـه باندي دَم لازم دئ (ج) د حج مياشتي معلوم دي، بس چې كوم چا په دي كي حج فرض كړئ نـو د جمـاع او د فِسق خبـري دي نـه كـوي او نـه پـه حـج كـي جنګ(جګړه)سته .

بِالحَجِّ عَلَيهَا جَازَ اِحرَامُهُ وَاِنعَقَدَ حَجُّهُ [٧١٢](١٨) وَاِذَا حَاضَتِ المرأَةُ عِندَ الاِحرَامِ اِغتَسَلَت وَاَحرَمَت وَصَنَعَت كَمَا يَصنَعُ الحَاجُّ غَيرَ اَنَّهَا لاَتَطُوفُ بِالبَيتِ حَتّٰى تَطهُرَ [٧١٣](١٩) وَاِذَا حَاضَت بَعدَالوُقُوفِ بِعَرَفَةَ

يَحرُمُ بِالحَجِّ فِي غَيرِاَشهُرِالحَجِّ قَالَ لَيسَ ذَالِكَ مِنَ السُّنَّةِ (الف) (سنن للبيهقي،باب لايهل بالحج في غير اشهرالحج ج٤ص٥٦١ نمبر٨٧٢٠)ددې اثر څخه معلوم سو چې د اَشهُرِحج څخه مخكي د حج احرام وتړي نو دا د سُنّت خلاف دئ يعنـي مكـروه دئ، خـو بيا هم د حج احرام به سي .

فـا ئـد ه امام شافعي فرمائي چې كه د اَشهُرِحج څخه مخكي احرام وتـاړئ نـو حـج يـې نـه صـحيح كيـږي هغـه د عُمرې په احرام سره بدليږي، دده دليل دا اثر دئ (١) عَن عَطَآءٍ قَالَ مَن اَحرَمَ بِالحَجِّ فِي غَيرِ اَشهُرِالحَجِّ جَعَلَهَا عُمرَةً (ب) (سنن للبيهقي،باب لايهل بالحج في غيراشهرالحج ج٤ص٥٦١نمبر٨٧٢٣)ددې اثر څخه معلوم سو چې د اَشـهُرِحج څخـه عـلاوه كـي د حج احرام وتړي نو هغه دي عُمره جوړ كړي (٢) لوړ د عبدالله بن عباس اثر هم د امام شافعي دليل دئ .

[٧١٢](١٨) كه ښځه د احرام په وخت كي حائضه سي نو غُسل دي وكـي او احـرام دي وتـړي او هغـه اعمـال دي كوي كوم چې حاجي يې كوي،علاوه ددې چې د بَيتُ الله طواف د ي نه كوي تر څو چې پاك سوې نه وي .

وجـه (١) د طواف څخه علاوه د حج ټوله كارونه په صحرا كي كيږي ځكه حائضه ښځه هغـه كـولائي سـي البتـه طواف په مَسجِدِحَرَام كي كيږي او حائضه مَسجِد ته نه سي داخلېدائي نو ځكه طـواف بـه نـه كـوي، او د حـج نـور ټوله كارونه په كوي (٢) پـه حـديث كـي هـم ددې ثبـوت سـته عَن عَائِشَةَ قَالَت خَرَجنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ... فَقَالَ اَنَفَستِ يَعنِي اَلحَيضَةَ قَالَت قُلتُ نَعَم قَالَ اِنَّ هٰذِهِ شَيئٌ كَتَبَ اللهُ عَلٰى بَنَاتِ آدَمَ فَاقضِي مَا يَقضِي الحَاجُّ غَيرَ اَن لاَّ تَطُوفِي بِالبَيتِ حَتّٰى تَغتَسِلِي قَالَـت وَضَـحّٰى رَسُـولُ اللهِ نِسَـائَهُ بِالبَقَـرَةِ (ج) (مُسـلم شـريف،باب بيـان وجـوه الاحـرام وانـه يجـوزافرادالحج والتمتـع والقـران

ص۳۸۸نمبر۱۲۱۱\۲۹۱۸\بخاري شريف،باب كيف تهل الحائض والنفسآء ص۲۱۱نمبر۱۵۵۶)ددي حديث څخه معلوم سو چې حائضه او نُفَسآء بښځه به د حج احرام تړي مګر طواف به نه کوي .

[۷۱۳](۱۹) که د وُقُوفِ عرفات او طواف زيارت څخه وروسته حيض ورته راغلئ نو د مَکّي مُکرّمي څخه به واپس ځي او د طواف وداع په پرېښولو سره پر دي باندي هيڅ شيئ نه لازميږي .

تشريح د طواف زياره کولو وروسته بښځي ته حيض راغلئ نو اُوس خو دفرضو ادآئيګي سوي ده او صرف طواف وداع واجب پاته دئ نو ځکه دا د ي پرېږدي

حاشيه : (الف) د حضرت ابن عباس څخه نقل سوي دي چې هغه سړئ چې د اَشهُرحج څخه په علاوه کي احرام وتړي، وفرمائل دا د سُنّت څخه نه دئ (ب) حضرت عطآء فرمائي چې کوم چا چې د اَشهُرحج څخه په علاوه کي احرام وتاړئ نو هغه دي عُمره جوړه کړي (ج) حضرت عائشي وفرمائل مور د حضور سره راووتلو ... حضور وفرمائل آيا ته حائضه سوي يې ؟ ما ورته وويل هو ! حضور وفرمائل دا شيئ الله پر بَنَاتِ آدم باندي فرض کړئ دئ، نو چې حاجي څه رنګه ادآء کوي ته هم ادآء کوه خو د بَيتُ الله طواف مه کوه تر څو چې پاك سي غُسل دي نه وي کړئ، حضرت عائشه فرمائي چې حضور د خپلو بي بي ګانو لپاره غُوَا حلال کړه .

وَبَعدَ طَوَافِ الزِّيَارَةِ اِنصَرَفَت مِن مَكَّةَ وَلاَ شَيئَ عَلَيهَا لِتَرِكِ طَوَافِ الصَّدرِ .

اودمَکّي مُکرّمي څخه دي کورته واپس ولاړه سي،طواف وَدَاع خوواجب دئ نوځکه ددي په پرېښولو سره دَم نه لازميږي .

وجه عَن عَائِشَةَ قَالَت خَرَجنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَلاَنَرِيٰ اِلاَّالحَجَّ ... وَحَاضَت صَفِيَّةُ بِنتُ حُيَي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَقريٰ حَلقي اِنَّكِ لَحَا بَستُنَا اَمَا كُنتِ طُفتِ يَومَ النَّحرِ ؟ قَالَت بَلِيٰ قَالَ فَلاَ بَاسَ اِنفِرِي (الف) (بخاري شريف، باب اذا حاضت المراة بعد ما افاضت ص۲۳۷نمبر۱۷۶۲\مُسلم شريف،باب وجوب طواف الوداع ومسقوطة عن الحائض ص۴۲۷نمبر۱۷۶۲)ددي حديث څخه معلوم سو چې د طواف زيارت وروسته حيض ورته راسي او د طوافِ وَدَاع موقع نه وي نو د حائضي څخه به طواف وداع ساقط سيږي، او که طواف زيارت نه و کړئ حيض ورته راغلئ نو وُقُوفِ عرفات يې کړئ دئ لهٰذا حج خو يې ادآء سو، البته طواف زيارت چې فرض دئ هغه پاته دئ، نو ځکه د طواف زيارت لپاره دي ودرږي(قيام دي وکي)، يا چې هروخت يې موقع پيدا کړه طواف د ي وکي او دَم دي ورکي، او که ددي موقع هم نه سوه پيدا نو ددي په بدله کي دي په بل چا طواف زيارت وکړي .

وجه لوړ په حديث کي د صفيّي په اړه معلوم سو چې دا حائضه سوه نو حضور د افسوس اظهار وکئ چې که طوافِ زيارت نه دئ کړئ نو مور به دلته درږو(ترهغو به دلته قيام کوو)، لېکن چې ورمعلوم سو چې دي خو طواف زيارت کړئ دئ نو و فرمائل چې اُوس نو څه خبره نه ده، ددي څخه معلوم سو چې د طواف زيارت لپاره به درږي ځکه چې هغه فرض دئ او که طواف زيارت پاته سي نو دهغه بَدَل به په بل چا سره ادآء کوي ددي دليل دا اثر دئ عَنِ الحَسَنِ فِي الرَّجُلِ يَحُجُّ فَيَمُوتُ قَبلَ اَن يَّقضِيَ نُسُكَهُ قَالَ يُقضٰي عَنهُ مَا بَقِيَ مِن نُسُكِهِ (مصنف ابن ابي شيبة ۲۱۶ في الرجل يموت وقد بقي عليه من نسكه شيئ ج۳ص۲۶۱نمبر۱۴۱۱۷)

حاشيه : (الف) حضرت صفيه حائضه سوه نو حضور وفرمائل ستا دي د ښادئ کار سي، تا خو زه منع کړم آيا تا طواف زيارت کړئ دئ ؟ حضرت صفيه وفرمائل هو(وو) ! حضور وفرمائل بيا خو څه خبره نه ده، واپس ولاړه سه .

(بَابُ الجِنَايَاتِ)

[٧١٤](١) اِذَا تَطَيَّبَ المحرِمُ فَعَلَيهِ الكَفَّارَةُ فَإن طَيَّبَ عُضوًا كَامِلاً فَمَا زَادَ فَعَلَيهِ دَمٌ .

(بَابُ الجِنَايَاتِ)

ضروري پام لرنه جِنَايَات د جِنَايَةٌ جمع ده،په حج کي چي کومي غلطيکيږي وهغه ته جِنَايَت وائي.

[٧١٤](١) مُحرِم چي خوشبو ولګوي نو پر ده باندي کفّاره لازم ده،بيا کـه پرتولـه عُضـو خوشـبو ولګول يـا ددې څخه زيات نو پر ده باندي يو دَم دئ .

تـشريـح د احرام په حالت کي خوشبوئي لګول جواز نه لري،نو ځکه که پر يوه پوره عُضو باندې خوشبو ولګول مثلاً پر ټوله سر يا پر ټوله لاس باندې خوشبو ولګول نو پر ده باندي دَم لازميږي،او کـه د يـوې عُضـو څخـه پـر زيات باندي خوشبو ولګول نو ددې به په يوه عُضو کي تداخل راځي ،ځکه چي يو رنګه جِنَايت دئ نو ځکـه دواړه به سره يو ځائ کيږي يو دَم به لازميږي .

وجـه (١) عَن جَابِرٍ قَالَ اِذَا شَمَّ المحرِمُ رَيحَانًا اَو مَسَّ طِيبًا اَهرَقَ لِذَالِكَ دَمًا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ٢٩٦ماقالو فيه اذا شم الرَّيحان ج٣ص٣٠٨نمبر١٤٦٠٧) (٢) عَن عَطَآءٍ قَالَ اِذَا وَضَعَ المحرِمُ عَلىٰ شَيئٍ مِنهُ دُهنًا فِيهِ طِيبٌ فَعَلَيهِ الكَفَّارَةُ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ٢٩٦ماقالوا فيه اذا شم الريحان ج٣ص٣٠٨نمبر١٤٦١٠)ددې اثر څخه معلوم سو چي که خوشبو ولګوي نـو دَم لازميږي، د مُحرم لپاره د خوشبو لګولو مُمَانَعَت په دې حديث کـي دئ عَن يَعلىٰ اَنَّ رَجُلاً اَتَى النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِالجِعِرَّانَةِ وَعَلَيهِ جُبَّةٌ وَعَلَيهِ اَثَرُ الخَلُوقِ اَو قَالَ صُفرَةٌ فَقَالَ كَيفَ تَامُرُنِي اَن اَصنَعَ فِي عُمرَتِي ... قَالَ اَينَ السَّائِلُ عَنِ العُمرَةِ ؟ اِخلَع عَنكَ الجُبَّةَ وَاغسِل اَثَرَ الخَلُوقِ عَنكَ وَانقِ الصُّفرَةَ وَاصنَع فِي عُمرَتِكِ كَمَا تَصنَعُ فِي حَجِّكَ (ج) (بخاري شريف،باب يفعل بالعُمرة ما يفعل بالحج ص٢٤١نمبر١٧٨٩،ابواب العُمرة\مُسلم شريف،باب مايباح للمحرم ... وبيان تحريم الطيب عليه ص٣٧٣نمبر١١٨٠)ددې حديث څخه معلوم سو چي مُحرم بايد خوشبو نه ولګوي، په يو بل حديث کي دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَا ذَا تَامُرُنَا اَن نَلبِسَ مِنَ الثِّيَابِ فِي الاِحرَامِ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ... وَلاَ تَلبِسُوا شَيئًا مَسَّهُ زَعفَرَانٌ وَلاَ الوَرَسُ (د) (بخاري شريف،باب ماينهي من الطيب لمحرم والمحرمة ص٢٤٨نمبر١٨٣٨،ابواب العُمرة)ددې حديث څخه هم معلوم سو چي خوشبو نه ده لګول په کار .

حاشيه : (الف) حضرت جابر فرمائي چي مُحرم خوشبو بوئي کړي يا خوشبو و مُړي نو ددې په وجه دَم دئ (ب) حضرت عطآء فرمائي چي مُحرم پر يو تبلُ باندي لاس ونيسي چي په هغه کي خوشبو وي نو پر ده باندي کفاره لازم ده (ج) يـو سړئ حضـور تـه راغلـئ پـه داسي حال کي چي حضور په جِعِرّانَه کي و،پر هغه سړي باندي جُبّه وه په هغه کي د خَلُوق اثر و و فرمائل صُفرَه وه، هغو پوښتنه وکـره و ماته زوما د عُمرې په باب د څه کولو حکم راکوی ؟ ... حضور وفرمائل د عُمرې په باب پوښتنه کونکئ چيري دئ ؟ جُبّه د بـدن څخـه خلاس کړه، او د خَان څخه د خَلُوق اثر پريمينځه، او صُفره صفا کړه، او په عُمره کي دغه رنګه کوه لکه څه رنګه چـي دي پـه حـج کـي کوله (د) حضور وفرمائل دارنګه کړه مَه اَغُوندَه چي زَعفران ورسره لګېدلئ وي يا وَرَس ورسره لګېدلئ وي .

[٧١٥](٢) اِن طِيبَ اَقَلَّ مِن عُضوٍ فَعَلَيهِ صَدَقَةٌ [٧١٦](٣) وَاِن لَبِسَ ثَوبًا مَخِيطًا اَو اَغطىٰ رَاسَهُ يَومًا كَامِلاً فَعَلَيهِ دَمٌ [٧١٧](٤) وَاِن كَانَ اَقَلَّ مِن ذَالِكَ فَعَلَيهِ صَدَقَةٌ .

[٧١٥](٢) او که د يوې عُضو څخه پر لږ باندې خوشبو ولګول نو پر ده باندي صدقه سته .

وجه پر يوه عُضو باندي خوشبو لګول پوره اِرتِفَاق دئ نو ځکه دَم به لازميږي او ددې ځخه په لږ (کم) خوشبو لګولو کي اِرتِفَاق کامل نسته خو بيا هم ښه کار نه دئ، نو ځکه نيم صاع غَنَم دي خيرات کړي، د مُطلق صدقې ځخه نيم صاع مُراد ده .

[٧١٦](٣) که ګنډل سوې کپړه واغُوستل يا يې خپل سر پوره پټ کړئ نو پر ده باندي دَم لازميږي .

وجه د مُحرم لپاره ګنډل سوې کپړه منع ده، نو ځکه که پوره ورځ ګنډلي سوې کپړه واغُوستل يا يې پوره ورځ سر پټ کړئ نو پر ده باندي دَم لازم دئ،د ګنډلي سوي کپړې او د سر د پټولو مُمانعت په دې حديث کې دئ (١) عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَقَالَ قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ مَاذَا تَامُرُ نَا اَن نَلبِسَ مِنَ الثِّيَابِ فِي الاِحرَامِ ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لاَ تَلبِسُوا القَمِيصَ وَلاَ السَّرَاوِيلاَتِ وَلاَ العَمَائِمَ وَلاَ البَرَانِسَ اِلاَّ اَن يَّكُونَ اَحَدٌ لَيسَت لَهُ نَعلاَنِ فَلَيلبِسَ الخُفَّينِ وَلِيَقطَعَ اَسفَلَ مِنَ الكَعبَينِ وَلاَ تَلبِسُوا شَيئًا مَسَّهُ زَعفَرَانٌ وَلاَ الوَرَسُ وَلاَ تَنقِبُ المرأَةُ المحرِمَةُ وَلاَ تَلبِسُ القُفَّازَينِ (الف) (بخاري شريف،باب ماينهي من الطيب للمحرم والمحرمة ص٢٤٨نمبر١١٨٣٨\مُسلم شريف،باب مايباح للمحرم بحج او عمرة لبسه ص٣٧٢نمبر١١٧٧)په دې حديث کي چې ځومره کپړې يې ممنوع ګرزولي دي هغه ټولي ګنډلي سوي دي، لهٰذا ګنډلي کپړې اغُوستل منع دي، او عَمامَه(لنګوټه)مه پر سَر کوئ بُرنُس خَوَلئ مه پر سر کوئ ددې ځخه دا معلوم سو چې سَر پټول ممنوع دئ (٢) د يو بل حديث ځخه هم د سَر د پټولو مُمانعت معلوميږي حديث دادئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَينَمَا رَجُلٌ وَاقِفٌ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِعَرَفَةَ اِذ وَقَعَ عَن رَاحِلَتِهِ فَوَقَصَتهُ اَو قَالَ فَاَقعَصَتهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِغسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدرٍ وَكَفِّنُوهُ فِي ثَوبَينِ وَلاَ تُمَسُّوهُ طِيبًا وَلاَ تُخَمِّرُوا رَاسَهُ وَلاَ تُخَنِّطُوهُ فَاِنَّ اللهَ يَبعَثُهُ يَومَ القِيَامَةِ مُلَبِّيًا (ب) (بخاري شريف،باب المحرم يموت بعرفة ص٢٤٩نمبر١٨٥٠)په دې حديث کي دئ چې د مُحرم لپاره سَر پټول مکروه دئ .

پام لرنه چې دا دواړه کارونه ممنوع دي نو ددې په کولو سره دَم لازميږي، ځکه چې د حج د جنايت کفاره دَم دئ .

[٧١٧](٤) که د يوې ورځې ځخه کم(لږوخت)ګنډلي سوي کپړه واغوستل نو پر ده باندي صَدَقَه ده .

وجه اِرتِفَاقِ کامل به هغه وخت وي چې پوره يوه ورځ يې واغُوندي، ځکه چې د لږ وخت لپاره اغوستل د يخنئ،ګرمئ ځخه د ځان کټلو لپاره نه وي بلکه صرف پر بدن باندې اينول مقصد وي

حاشيه : (الف) يو سړئ ولاړسو او پوښتنه وکړه ای د خدائ رسول و مورږ ته څه حکم راکوې چې د احرام په حالت کې کپړه واغوندو ؟ نو حضور وفرمائل قميص مه اغوندئ،مه پرتوګ اغوندئ،مه لنګوټه تړئ،مه خُوَلئ پر سَر کوئ،مګر دا که د يو سړي سره چپلکي نه وي نو دواړي مُوزې د ي په پښو کي او تر ټجلکُو لوړ دي پري کي،او داسي يو شيئ مه اغوندئ چې پر هغه باندي زَعفَرَان مُښتئ وي، نه وَرَس پر مُښتئ وي، مُحرمه ښځه دي نِقَاب نه اچوي او مه دَستکَلي اغونده (ب) د حضرت ابن عباس ځخه روايت دئ چې يو سړي په عرفات کي د حضور سره قيام کړئ و چې اچانك د کجاوې ځخه رايله سو او غاړه (مَغزَئ) يې مات سوه، نو حضور وفرمائل ودې ته په اُوبُو او د بيرُو په پانو باندي غُسل ورکئ او په دوو کپړو کي کفن ورکئ،او وده ته خوشبو مه ورلګوئ او د ده سَر مه پټوئ، او مه وه ده ته خَنُوط ورلګوئ، ځکه چې الله دئ د قيامت په ورځ تلبيه لوستونکئ(ويونکئ)راپورته کوي .

[٧١٨](٥) وَاِن حَلَقَ رُبعَ رَاسِهِ فَصَاعِدًا فَعَلَيهِ دَمٌ وَاِن حَلَقَ اَقَلَّ مِنَ الرُّبعِ فَعَلَيهِ صَدَقَةٌ .

نو ځکه په دې باندي اِرتِفَاق کامل نه راغلئ نو ځکه دَم هم نه لازميږي،دغه رنګه چې يوه ورځ يې سَر نه کړي پټ نو اِرتِفَاق کامل نه راځي نو ځکه دَم نه لازميږي .

فائده د امام ابويوسف په نبز اکثر د کُل په ځکم کي دئ، ددې قاعدې په رونا کي که د ورځې ډبره برخه ګنډلي کپړه وَاغُوستله نو دَم لازميږي .

[٧١٨](٥) که د سَر څلورمه يا ددې ځخه زيات وَخَرَوِي(وَخَړِيي)نو پر ده باندي دَم لازميږي،او که د څلورمي برخي ځخه کم(لږ)وَخَرَوِي نو پر ده باندي صَدَقَه ده .

تشريح څلورمه د سَر د ټوله سَر په ځکم کي ده ځکه چې خلګ د سَر څلورمه خَرَوِي، نو ځکه که د سَر څلورمه وَخَرَوَل نو ګواکه ټوله سَر يې وَخَرَاوَئ نو ځکه د سَر په څلورمه کي دَم لازميږي .

وجه په آيت کي دئ فَمَن كَانَ مِنكُم مَرِيضًا اَو بِهِ اَذًى مِّن رَّاسِهِ فَفِديَةٌ مِّن صِيَامٍ اَو صَدَقَةٍ اَو نُسُكٍ (الف) (آيت ١٩٦سورة البقرة٢) په آيت کي دئ چې په سَر کي تکليف وي او د سَر د خَرَوَلُو ضرورت پيښ سي نو سَر دي وَخَرَوِي او روژه يا

صَدَقَه يا هَدِي څخه دي څه شيئ ورکړي،لېکن دا هغه وخت دي چې مجبوري وي، او که سَر وَخَرَوئ نو حَتمًا بـه هَدِي ورکوي، ددې اشاره په دې حديث کې ده عَن عَبدِاللهِ بنِ مَعقِلٍ قَالَ جَلَستُ اِلیٰ کَعبِ بنِ عُجرَةَ فَسَاَلتُهُ عَنِ الفِدیَةِ فَقَالَ نَزَلَت فِیَّ خَاصَّةً وَهِیَ لَکُم عَامَّةٌ حُمِلتُ اِلیٰ رَسُولِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ وَالقُمَّلُ یَتَنَاثَرُ عَلیٰ وَجهِي فَقَالَ مَا کُنتُ اَرَیٰ لِوَجعٍ بَلَغَ بِکَ مَا اَرَیٰ اَو مَا کُنتُ اَرَیٰ الجُهدَ بَلَغَ مَا اَرَیٰ تَجِدُ شَاةً ؟ فَقُلتُ لاَ قَالَ فَصُم ثَلٰثَةَ اَیَّامٍ اَو اِطعَامُ سِتَّةِ مَسَاکِینَ لِکُلِّ مِسکِینٍ نِصفُ صَاعٍ (ب) (بخاري شـريف،باب الاطعـام في الفديـة نصـف صـاع ص۲۴۴نمـبر۱۸۱۶\مُسـلم شـريف،باب جوازحلـق الـراس للمحـرم اذا کـان بـه اذي ص۳۸۲نمبر۱۲۰۱\۲۸۸۳) په دې حديث کې دئ چې حضور مخکې پوښتنه وکړه چې ستا سره وُزَه(بُوزه)سته ؟ نـو کعب بن عُجره وفرمائل نه ، نو بيا حضور وفرمائل چې دري روژې ونيسه، يا و شپږو مسکينانو تـه ډوډئ ورکـه او و هر مسکين ته نِيمَ صَاع ورکه، ددې څخه معلوم سو چـې اوّل هَدِي وُزه(بُـوزه)لازميږي کـه هغـه نـه وي نـو روژه او صَدَقَه لازميږي، او دا ټوله هغه وخت دي چې مجبوري وي او که مجبـوري نـه وي نـو پـه خـاص توګـه سره وُزه لازمه ده .

پـام لـرنـه هَدِي په حَرَم شريف کې حلالول ضروري ده، ځکـه چـې پـه آيـت کـې دئ هَديًا بَالِغَ الکَعبَةِ (ج) (آيت ۹۵سورة المائدة۵)نو ځکه دا هَدِي به د حَرَم په حُدُود کې حلاليږي .

فـائـده د امامِ مالك په نبز دادئ چې که ټوله سَر وَخَرَوئ نو هغه وخت دَم لازميږي .

وجـه په آيت کې سَر مُطلق دئ او د مُطلق سَر څخـه ټولـه سَـر مُـراد وي نـو ځکـه کـه ټولـه سَـر وَخَـرَوِي نـو دَم لازميږي، د امام شافعي په نبز که دري څلور ببښتان

حاشيه : (الف) د تاسو څخه څوك ناجوړه وي يا دده په سَر کـې تکليـف وي نـو فِديَـه ورکـول ده د روژې يـا صـدقه ورکـول ده يـا قُربـاني ورکول ده (ب) ما د کعب بن عُجره څخه د فِديې په باب پوښتنه وکړه، وفرمائل زوما په باب په خاص توګه نازل سوئ دئ او ستاسـو پـه باب عام دئ، وفرمائل زه يې پورته کړم و حضور ته وښوړم، حال دا و چې زوما پر مخ باندې سَپُوړي بونښدي، حضـور وفرمائـل زه يـې وينَم کوم تکليف چې تاته رسېدلئ دئ، آيا ته وُزې(بُوزې)لرې ؟ ما ورته وويل نه، حضور وفرمائل دري ورځې روژې ونيسه يا و شـپږو مسکينانو ته ډوډئ ورکه، و هر مسکين ته نِيمَ صَاع (ج) هَدِي چې و کعبه رسېدونکي وي .

[۷۱۹](۶) وَاِن حَلَقَ مَوَاضِعَ المِحَاجِمِ مِنَ الرَّقَبَةِ فَعَلَیهِ دَمٌ عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ وَقَالَ اَبُویُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ عَلَیهِ صَدَقَةٌ [۷۲۰](۷) وَاِن قَصَّ اَضَافِیرَ یَدَیهِ وَرِجلَیهِ فَعَلَیهِ دَمٌ .

وَخَرَوَل نو دَم لازميږي دده دليل دا اثر دئ عَنِ الحَسَنِ وَعَطَآءَ اَنَّهُمَا قَالاَ فِي ثَلٰثِ شَعَرَاتٍ دَمٌ، اَلنَّاسِي وَالمعتَمِدُ سَوَآءٌ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۳۸ في المحرم ثلث شعرات عليه فيه شيئ ام لا، ج۳ص۲۱۰نمبر۱۳۵۸۷)ددې اثر څخه معلـوم سـو چـې دري ببښـتان وَخَرَوِي نو هم دَم لازميږي او که په قصد سره يا په هېره سره وَخَرَوِي دواړه برابر دي، ددې اثر څخه د احنافو د مسلك تائيد هم کيږي چـې کـه سَـر څلورمـه وَخَـرَوِي نـو دَم لازميږي، او کـه پـه قصـد سـره وَخَـرَوِي نـو هـم دَم لازميږي، ځکه چې احرام يې په خپله په ياد ورولي،

[۷۱۹](۶) او که څټه د بنَکَر لګولو لپاره وَخَرَوَل نو د امام ابوحنيفه په نبز پر ده باندې دَم لازم دئ او د صـاحبينو په نبز پر ده باندې صَدَقَه ده .

تـشريـح پر څټه باندې ببښتان وي د بنَکَر لګولو لپاره د هغه ځائ ببښتان صفا کړل نو دمُحرم ببښتان کاټ سو نو ځکه پر ده باندې دَم لازميږي .

وجـه (۱) په لوړ بيان سوي حديث کې د مجبورئ په وجه سَر خَرَوَلئ و نو وُزَه لازم سوې وه دغه رنګه به دلتـه هم وُزه لازميږي (۲) څټه يو مُستقل اندام دئ نو ځکه ددې ببښتانو په خَرَوَلُو سره دَم لازميږي، په اثر کې راغلـي دي قَالَ مَالِكٌ وَمَن نَتَفَ شَعرًا مِن اَنفِهِ اَو اِبطِهِ اَو طَلیٰ جَسَدَهُ بِنَورَةٍ اَو یَحلِقُ عَن شَجَّةٍ فِي رَاسِهِ بِضَرُورَةٍ اَو یَحلِقُ قَفَاهُ لِمَوضِعِ المِحَاجِمِ وَهُوَ مُحرِمٌ نَاسِیًا اَو جَاهِلاً اِنَّ مَن فَعَلَ شَیئًا مِن ذَالِكَ فَعَلَیهِ فِي ذَالِكَ کُلِّهِ فِدیَةٌ وَلاَ یَبقیٰ لَهُ اَن یَّحلِقَ مَوضِعَ المِحَاجِمِ (ب) (مؤطاامام مالك،باب فدية من حلق قبل ان ينحرص۴۵۰)

وجـه صاحبين : د صاحبينو په نبز د څټې په خَرَوَلُو سره صَدَقَه لازميږي دَم نه لازميږي .

وجه (۱) اصل مقصد بنَکَر لګول وي بېښتان خَرَوَل مقصد نه وي، او په بنَکَر لګولو سره دَم نه لازميږي نو ځکه د غير مقصودي بېښتانو په خَرَوَلُو سره هم دَم نه لازميږي، ددې دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ بُحَينَةَ قَالَ اِحتَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحرِمٌ (ج) (بخاري شريف،باب الحجامة للمحرم ص۲۴۷نمبر۱۸۳۵\مُسلم شريف،باب جوازالحجامة للمحرم ص۳۸۳نمبر۱۲۰۲)ددې حديث څخه معلوم سو چې د احرام په حالت کې بنَکَر لګول جائز دئ، او چې بنَکَر لګول جائز دئ نو کوم شيئ چې غيرِمقصودي دئ يعني د ځتي بېښتان خَرَوَل پر هغه باندي به صَدَقَه لازم سي .

[۷۲۰](۷) که د دواړو لاسو د دواړو پښو نُوکَان پرې کړل نو پر ده باندي يو دَم دئ .

تشريح په يوه لاس کي پنځه ګُوتي دي، نو ځکه که د يوه لاس د پنځه سره ګُوتو نُوکَان پرې کړل نو يو دَم به لازم وي لېکن که د دواړو لاسو او د دواړو پښو د شَلُو ګُوتو نُوکَان پرې کړي نو بيا هم يو دَم لازم دئ او د دواړو تداخُل به راسي .

وجه (۱) ځکه چې دا ګُناه يو رنګه ده نو ځکه په يوه کي به تَدَاخُل راسي (۲) د نُوکَانو په پرېکولو سره دَم ځکه لازميږي چې دا اِرتِفَاقِ کامل دئ .

حاشيه : (الف) حسن او عطآء وفرمائل په درو بېښتانو کې دَم دئ، او په هېره سره او په قصد سره برابر دي (ب) حضرت مالك وفرمائل که يو چا د پزې(پوزې)يا د بغل بېښته وکښئ يا پر بدن باندي دبېښتانو د صفا کولو لپاره چُونَه ولګول يا يې د ضرورت په وجه په سَر کې زخم وکئ يا يې دځتې حلق وکئ، د بنَکَر لګولو په ځائ کې، حال دا و چې دئ مُحرم و، په قصد سره يا په هېره سره دا کارونه وکړل، نو په دې ټولو کارو کې فِديَه لازم ده، وده ته د بنَکَرلګولو اجازت نه سي ورکېدلائي (ج) ابن بُحَينَه فرمائي چې حضور د احرام په حالت کې بنَکَر ولګاوئ .

[۷۲۱](۸) وَإن قَصَّ يَداً اَو رِجلاً فَعَلَيهِ دَمٌ [۷۲۲](۹) وَإن قَصَّ اَقَلَّ مِن خَمسَةِ اَظَافِيرَ فَعَلَيهِ صَدَقَةٌ [۷۲۳](۱۰) وَإن قَصَّ مِن خَمسَةِ اَظَافِيرَ مُتَفَرِّقَةً مِن يَدَيهِ وَرِجلَيهِ فَعَلَيهِ صَدَقَةٌ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَاَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي عَلَيهِ دَمٌ .

---

(۳) په حج کي بايد چې پراګنده(خِرَن بِرَن)وي او نُوکان پرېکول د پراګندګئ خلاف دي نو ځکه د نُوکانو په پرې کولو سره دَم لازميږي (۴) په اثر کي راغلي دي قَالَ مَالِكٌ لاَ يُصلِحُ لِلمُحرِمِ اَن يَّتِفَ مِن شَعرِهِ شَيئًا وَلاَ يَحلِقُهُ وَلاَ يُقَصِّرُهُ حَتّٰي يَحِلَّ اِلاَّ اَن يُصِيبَهُ اَذًي فِي رَاسِهِ فَعَلَيهِ فِديَةٌ كَمَا اَمَرَهُ اللهُ تَعَالٰي وَلاَ يُصلِحُ لَهُ اَن يُقَلِّمَ اَظفَارَهُ وَلاَ يَقتُلُ قُملَهُ (مُؤطاامام مالك،باب فدية من حلق قبل ان ينحرص۴۵۰)

[۷۲۱](۸) که د يوه لاس نُوکان پرې کي يا د يوې پښې نُوکان پرې کي نو پر ده باندي دَم دئ .

تشريح د دواړو لاسو د دواړو پښو پر يوه لاره يې د څلورو سره نُوکان نه کړه پرې بلکه صرف د يوه لاس نُوکان يې پرې کړه يا يې د يوې پښې نُوکان پرې کړه نو بيا هم يو دَم لازميږي .

وجه (۱) ځکه چې دا د شلو(۲۰)ګُوتُو څلورمه ده (۲) عَنِ الحَسَنِ وَعَطَآءٍ قَالَ اِذَا اِنكَسَرَ ظُفرُهُ قَلَّمَهُ مِن حَيثُ اِنكَسَرَ وَلَيسَ عَلَيهِ شَيئٌ فَاِن قَلَّمَهُ مِن قَبلِ اَن اِنكَسَرَ فَعَلَيهِ دَمٌ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۲في المحرم يقص ظفره وينبط الجرح ج۳ص۱۳۹نمبر۱۲۷۵۶)په دې اثر کي دئ چې نُوکان پرې کړي نو دَم لازميږي .

اصول په دې مسئله کي څلورمه د کُل قائم مقام ګرزولي ده .

[۷۲۲](۹) او که د پنځو ګُوتُو څخه کم(لږ)نُوکان پرې کړل نو پر ده باندي صدقه ده .

وجه د يوه لاس د پنځو ګُوتُو څخه کم(لږ)ګُوتُو نُوکان پرې کړل نو پر ده باندي ځکه صَدَقَه ده چې د شَلُو ګُوتُو څلورمه برخه نه ده، بلکه ددې څخه لږ(کم)ده نو ځکه صدقه لازميږي، يعني يوه صاع وُرښُوشي يا يوه صاع غَنَم .

[۷۲۳](۱۰) او که د جلا جلا لاسو او جلا جلا پښو پنځه نُوکان پرې کړل نو د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په نېز پر ده باندي صدقه لازم ده، او امام مُحمد وفرمائل پر ده باندي دَم لازم دئ .

تشريح د يوه لاس پنځه نُوکان يې نه کړه پرې بلکه د مختلفو لاسو او مختلفو پښو پنځه نُوکان يې پرې کړل نو د شيخينو په نېز پر ده باندي صدقه لازميږي، او د امام مُحمد په نېز پر ده باندي دَم لازميږي .

وجه شيخين فرمائي چې د مُختلفو لاسو،پښو څخه نُوکان پرې کول زينت(بنائست)نه دئ بلکه بَدنُمائي ده او په شريعت کي د احرام په حالت کي بنائست اختيارول جواز نه لري او دا خو بَدنُمائي سوه نو ځکه دې ته دټولو شلو نُوکانو څلورمه برخه نه سي ويل کېدائي، لهٰذا صَدَقَه به لازميږي .

حاشيه : (الف) حضرت حسن او عطاء وفرمائل كه نُوك مَات(پري)سي نو پري دي كي د كوم ځاىٔ ځخه چي مات سوىٔ دىٔ او پر ده باندي هيڅ شيىٔ نسته، بيا كه نُوك د ماتېدو ځخه مخكي پرې كىٔ نو پر ده باندي دَم لازم دىٔ .

[٧٢٤](١١) وَإِن تَطَيَّبَ اَو حَلَقَ اَو لَبِسَ مِن عُذرٍ فَهُوَ مُخَيَّرٌ اِن شَآءَ ذَبَحَ شَاةً وَإِن شَآءَ تَصَدَّقَ عِلىٰ سِتَّةِ مَسَاكِينَ بِثَلٰثَةِ اَصوُعٍ مِنَ الطَّعَامِ وَإِن شَآءَ صَامَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ [٧٢٥](١٢) وَإِن قَبَّلَ اَو لَمِسَ بِشَهوَةٍ فَعَلَيهِ دَمٌ اَنزَلَ اَو لَم يَنزِل [٧٢٦](١٣) وَمَن جَامَعَ فِي اَحَدِ السَّبِيلَينِ

وجه (١) امام مُحمد فرمائي چي د جلا جلا لاسو پنځه نُوكان وي يا د يوه لاس، په هر صورت كي دا د ټولو نُوكانو ځلورمه برخه ده نو ځكه ځلورمه به د ټول قائم مقام سي او يو دَم به لازم سي (٢) لكه څه رنګه چي د سَر ببښتان د مُختلف ځايه ځخه ځلورمه د سَر كاټ(پري)كړي خو هم يو دَم لازميږي .

[٧٢٤](١١) كه د عُذر په وجه خوشبو ولګول يا يې حلق وكىٔ يا يې ګنډلي كپړه وَاغُوَستَل نو و ده ته اختيار دىٔ كه خُوَښَه سي وُزه(بُوزه)دي حلالَ كړي او كه خُوَښَه سي پر شپږو مسكينانو دي درې صَاع ډوډىٔ صَدَقَه كړي او كه خُوَښَه سي نو درې روژې دي ونيسي .

وجه (١) په آيت كي دىٔ چي د عُذر په وجه سَر وَخَرَوِي نو د دې درو كارو ځخه د يوه كار اختيار وده ته حاصل دىٔ، يا دي وُزه(بُوزه)حلال كړي يا دي درې صاع(پيماني)غَنَم پر شپږو مسكينانو باندي خيرات كړي يا دي درې روژې ونيسي آيت دادىٔ فَمَن كَانَ مِنكُم مَرِيضًا اَو بِهِ اَذًى مِّن رَاسِهِ فَفِدِيَةٌ مِّن صِيَامٍ اَو صَدَقَةٍ اَو نُسُكٍ (الف) (آيت ١٩٦سورة البقرة٢)په دې آيت كي ذكر سوىٔ دىٔ چي كه په سَر كي تكليف وي نو سَر دي وَخَرَوِي او د درو كارو ځخه دي يو كار وكىٔ (٢) په حديث كي دىٔ اَنَّ كَعبِ بنِ عُجرَةَ حَدَّثَهُ قَالَ وَقَفَ عَلَيَّ رَسُولِ اللهِ بِالحُدَيبِيَّةِ وَرَاسِي يَتَهَافَتُ قُمَّلاً فَقَالَ يُوذِيكَ هَوَامُكَ ؟ قُلتُ نَعَم قَالَ فَاَحلِق رَاسَكَ اَو اَحلِق قَالَ فِيَّ نَزَلَت هٰذِهِ الآيَةُ فَمَن كَانَ مِنكُم مَرِيضًا الخ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ صُم ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اَو تَصَدَّق بِفَرَقٍ بَينَ سِتَّةٍ اَو نُسُكٍ مِمَّا تَيَسَّرَ (ب) (بخاري شريف،باب قول الله او صدقة وهي ستة مساكين ص٢٤٤نمبر١١٨١٥\مُسلم شريف،باب جوازحلق الراس للمحرم اذا كان به اذًي ص٣٨٢نمبر١٢٠١)ددې حديث ځخه معلوم سو چي عُذر وي او د احرام خلاف كار وكي نو د صدقې،روژې يا د هَدِي(قربانىٔ)ځخه د يوه كولو اختيار دىٔ .

[٧٢٥](١٢) كه د مينې(بي بي)مَچَه واخستله يا يې په شَهوَت سره مَس كړه نو پر ده باندي دَم لازم دىٔ كه انزال سوىٔ وي كه نه وي سوىٔ .

وجه (١) په اثر كي راغلي دي عَن اَبِي جَعفَرٍ عَن عَلِيٍّ قَالَ مَن قَبَّلَ اِمرَاَتَهُ وَهُوَ مُحرِمٌ فَلْيُهرِق دَمًا (ج) (سنن للبيهقي، باب المحرم يصيب امراته مادون الجماع ج٥ص٢٧٥نمبر٩٧٩٠)ددې اثر ځخه معلوم سوچي د بنځي مَچَه واخلي نو دَم لازميږي (٢) د امام مُحمد په تصنيف كتاب الآثار ص٥٣ باندي هم د ابن عبّاس اثر نقل سوىٔ دىٔ چي دَم لازميږي .

[٧٢٦](١٣) د وُقُوفِ عرفات ځخه مخكي كوم چا چي د دواړو لارو ځخه په يوه كي جماع وكړه نو د هغه حج فاسد سو او پر هغه باندي وُزه(بُوزه)لازم ده،

حاشيه : (الف) بس د تاسو ځخه چي ځوك ناجوړه سي يا دده په سَر كي تكليف سي نو فِدِيَه وركول ده د روژې ځخه يا د صَدَقې په وركولو سره يا په ذَبح(حلالېدو)سره (ب) كعب بن عُجره بيان كوي چي په حُديبيّه كي حضور زوما مخته راغلىٔ او زوما پر سَر باندي سپورِي بُنبِدي، نو حضور وفرمائل چي سپورِي و تاته تكليف دركوي ؟ ما ورته وويل هو(وو) ! حضور وفرمائل خپل سَر وَخَرَوَه يا يې دارنګه وفرمائل وَخَرَوَه، حضرت كعب فرمائي چي زوما په باب فَمَن كَانَ مِنكُم مَرِيضًا نازل سوىٔ دىٔ، حضور وفرمائل دري روژې ونيسه يا يو فرَق پر شپږو مسكينانو باندي تقسيم كړه يا چي كوم آسان وي هغه ذبح(حلال)كړه (ج) د حضرت علي ځخه روايت دىٔ و فرمائل كوم چا چي د احرام په حالت كي خپله بي بي(مينه)مَچ كړه نو وِينَه دي ثُوئي كړي يعني دَم دي وركړي .

قَبلَ الوُقُوفِ بِعَرَفَةَ فَسَدَ حَجُّهُ وَعَلَيهِ شَاةٌ وَيَمضِي فِي الحَجِّ كَمَا يَمضِي مَن لَم يُفسِد حَجَّهُ وَعَلَيهِ القَضَآءُ .

او په حج کي دي د حج کارونه کوي لکه څه رنګه چي هغه سړئ يي کوي چي حج يي نه وي فاسد کړئ او پر ده باندي قضآء ده .

تـشريـح يو چا د حج احرام وتاړئ بيا يي د مخ يا د شا په ځائ کي جماع(نزدېکت)وکئ نو حج يي فاسد سو، البته دئ به د هغه احرام سره عُمره کوي او ځان به حلالوي، او کوم کوم کارونه چي حاجي کوي هغـه کارونـه بـه دئ کوي او په راتلونکي کال کي به د حج قضآء کوي، او د حج د ماتولو په وجه به وُزَه(بُوزه)لازم وي، وُزه(بُوزه)به ځکه لازم وي چي د حج قضآء لازم سي نو جِنَايَت دومـره شـديد نـه سـو پاتـه، بلکـه سپك(آسان)سـو، او د وُقُـوفِ عَرَفَات وروسته جماع وکړه نو حـج خـو مُکمـل سـو لهٰـذا قضـآء يـي نسـته ځکـه جِنَايَـت شـديد نـه سـو لهـذا دَم بـه شديد(يعني وُښ)لازم سي .

وجـه (١) په حديث کي دئ اَخبَرَنِي يَزِيدُ بِنِ نُعَيمٍ اَنَّ رَجُلاً مِن جُذَامٍ جَامَعَ اِمرَاَتَهُ وَهُمَا مُحرِمَانِ فَسَاَلَ الرَّجُلُ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُمَا اِقضِيَا نُسُكَكُمَا وَاهدِيَا هَديًا ثُمَّ اِرجِعَاحَتّيٰ اِذَا حِئتُمَا المكَانَ الَّذِي اَصَبتُمَا فِيهِ مَا اَصَبتُمَا فَتَفَرَّقَا وَلاَ يَريٰ وَاحِدٌ مِّنكُمَا صَاحِبَهُ وَعَلَيكُمَا حَجَّةٌ اُخريٰ فَتَقَبَّلاَنِ حَتّيٰ اِذَا كُنتُمَا بِالمكَانِ الَّذِي اَصَبتُمَا فِيهِ مَا اَصَبتُمَا فَاَحرِمَا وَاَتِمَّا نُسُكَكُمَا وَاَهدِيَا (الف) (سنن للبيهقي،باب مايفسدالحج ج٥ص٢٧٢نمبر٩٧٧٨) (٢) عَن اِبنِ عَبَّاسٍ فِي رَجُلٍ وَقَعَ عَليٰ اِمرَاَتِهِ وَهُوَ مُحرِمٌ قَالَ اِقضِيَا نُسُكَكُمَا وَارجِعَا اِليٰ بَلَدِكُمَا فَاِذَا كَانَ عَامٌ قَابِلٌ فَاَحرَجَا حَاجَّينَ فَاِذَا اَحرَمتُمَا فَتَفَرَّقَا وَلاَ تَلقِيَا حَتّيٰ تَقضِيَا نُسُكَكُمَا وَاِهدِيَا هَديًا (سنن للبيهقي،باب مايفسدالحج ج٥ص٢٧٣نمبر٩٧٨٢)ددي حديث او اثر ځخه معلوم سو چي د وُقُوفِ عَرَفَات ځخه مخکي جماع وکي حج فاسد کي نو په راتلونکي کال کي به قضآء کوي او هَدِي(قُرباني)به ورکوي، د حج د فاسدېدو دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن اَدرَكَ عَرَفَاتَ فَوَقَفَ بِهَا وَالمزدَلِفَةَ فَقَد تَمَّ حَجَّهُ وَمَن فَاتَهُ عَرَفَاتَ فَقَد فَاتَهُ الحَجَّ فَلْيُحلِل بِعُمرَةٍ وَعَلَيهِ الحَجُّ مِن قَابِلٍ (دارقطني،كتاب الحج نمبر٢٤٩٧)ددي حديث ځخه معلوم سو چي د وُقُوفِ عِرَفَات ځخه مخکي حج فاسد سي نـو عُمـره دي وکـي ځـان دي حلال کي او په راتلونکي کال کي دي حج وکي، او هَدِي خو مُطلق ده نو ځکـه پـه وُزه(بُوزه)بـه کـار وچليـږي (٣) د حـج د فسـاد اشـاره ددي آيـت ځخـه هـم ملاؤيـږي فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الحَجَّ فَلاَ رَفَثَ وَلاَ فُسُوقَ وَلاَ جِدَالَ فِي الحَجِّ (آيت١٩٧سورة البقرة٢)په دي آيت کي دئ چي د جماع خبري دي نه کوي او ده خو جِمَاع وکړه نو ځکه حج يـي فاسـد دئ، د مُطلق هَدِي ځخه وُزَه(بُوزه)مُراد وي په حديث کي دئ عَن كَعبِ بنِ عُجرَةَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ رَاٰهُ وَاَنَّهُ يَسقُطُ عَليٰ وَجهِهِ ... اَو يَهدِي شَاةً اَو يَصُومَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ (ب) (بخاري شريف،باب النُّسك شاة ص٢٤٢كتاب العُمرة نمبر١٨١٧)پـــه دي حـــديث کـــي و وُزَه(بُوزه)ته هَدِي ويل سوي دي ددي ځخه دا معلوم سو چي مُطلقًا هَدِي وويل سي نو د هغه ځخه وُزه(بُـوزه)مراد وي .

فـا ئـد ه امام شافعي فرمائي چي وُښ لازميږي، لکه څه رنګـه چـي د وُقُـوفِ عَرَفَـات وروسـته جمـاع وکـي وُښ لازميږي .

حاشيه : (الف) د قبيلهٔ جُذام يوه سړي د خپلي بي بي(مينې)سره جماع وکړه او دوئي دواړه مُحرم ولو، هغه سړي د حضـور ځخـه پوښتنه وکړه نو حضور و دوئي دواړو ته و فرمائل، دواړه د ي د حج قضآء وکي، او دواړه د ي هَدِي ورکي، بيا دي کورتـه ولاړسـي، تـر هغـو چي وهغه ځائ ته راورسيږي چي دا کارونه په کي کړي دي نو دواړه دي جلا جلا سي، او دواړه دي يو بـل تـه نـه ګـوري، او پـر تاسـو دواړو باندي دوم حج لازم دئ، نو دواړه راسئ تر دي چي هغـه ځـائ تـه راورسـيږئ چيـري چـي دا مُصـيبت در رسـيدلئ دئ نـو دواړه احرام وتړئ او دواړه حج پوره کئ (ب) حضور کعب بن عُجره وليدئ چي دده پر مخ باندي سپوږي رايله کېدي، حضور وفرمائل يا يـوه وُزه(بُوزه)هَدِي ورکه يا دري ورځـي روژې ونيسه .

[٧٢٧](١٤) وَلَيسَ عَلَيهِ اَن يُفَارِقَ اِمرَاَتَهُ اِذَا حَجَّ بِهَا فِي القَضَآءِ عِندَنَا [٧٢٨](١٥) وَمَن جَامَعَ بَعدَ الوُقُوفِ بِعَرَفَةَ لَم يُفسِد حَجُّهُ وَعَلَيهِ بُدنَةٌ [٧٢٩](١٦) وَمَن جَامَعَ بَعدَ

---

[٧٢٧](١٤) او پر ده باندي لازم نه دئ چي بي بي(مينه)دځان ځخه جلا کړي کله چي د بي بي سره قضآء حج ادآء کوي د امام ابوحنيفه په نېز .

تـشريـح چي کله د فَاسِد کړي حج قضآء کوي نو د امام ابوحنيفه په نېز په هغه حـج کـي مينـه د ځـان ځخـه جـلا کول ضروري نه ده، که ورسره وي نو هم حج ادآء کيږي .

وجه په لوړ حديث کي د احرام د تړلو څخه ونيسي تر طوافِ زيارت پوري مينه دځان څخه د جلا ساتلوحکم دئ هغه حکم د احتياط لپاره دئ چي دوباره بيا د مينې سره جماع ونه کي، که دا احتياط وکي نو ښَه خبره ده، لېکن که مينه ور سره وي نو پر حج باندي هيڅ اثر نه پرېږدي، په اثر کي راغلي دي عَن مُجاهِدٍ وَعَطآءَ قَالاَ وَعَلَيهِمَا الحَجُّ مِن قَابِلٍ وَلاَ يَتَفَرَّقَانِ (مصنف ابن ابي شيبة ۵۸في الرجل يواقع اهله وهومحرم ج۳ص۱۶۰نمبر۱۳۰۸۵)

فـائـده د امام شافعي او امام مالك په نېز دادئ چي د احرام تړلو وروسته تر طـواف زيـارت پـوري دي مينـه د ځان څخه جلا کړي .

وجـه د دوئي دليل دا لوړ حديث دئ په هغه کي دا حکم و چي مينه دي د حج دقضآء کولو په وخت کي ځان څخـه جلا کړي .

[۷۲۸](۱۵) کوم چا چي د وُقُوفِ عَرَفَات وروسته جماع وکړه نو د هغه حج نه فاسديږي او پـر ده بانـدي وُښ لازم دئ .

تـشريـح د وُقُوفِ څخه وروسته اودحَلق مخکي دمينې سره جماع وکي نوحج خو ادآء سوئ دئ ځکه چي وُقُوفِ يي کړئ دئ لېکن دحَلق مخکي مينه وده ته نه وه حلال اونه ګنډلي کېږه او نه خوشبو و ده ته حلال وه نو ځکـه پـه دې وخت کي چي جماع وکي نو جُرم يې سنګين دئ لهٰذا وُښ به حلالوي .

وجـه (۱) عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَجُلاً اَصَابَ مِن اَهلِهِ قَبلَ اَن يَّطُوفَ بِالبَيتِ يَومَ النَّحرِفَقَالَ يَنحَرَانِ جُزُورًا بَينَهُمَاوَلَيسَ عَلَيهِمَا اَلحَجُّ مِن قَابِلٍ (الف) (سنن للبيهقي،باب الرجل يصيب امراته بعدالتحلل الاول وقبل الثاني ج۵ص۲۷۹نمبر۹۸۰۱\مُؤطا امام مالك باب هدي من اصاب اهله قبل ان يفيض ص۴۰۶\مصنف ابن ابي شيبة ۵۹ كم عليهما هديا واحدا او اثنين ؟ ج۳ ص۱۶۱نمبر۱۳۰۸۸)ددې اثر څخه معلـوم سو چي د وُقُوفِ عَرَفَات وروسته او حَلق څخه مخکي جماع وکي نوبُدنَه يعني وُښ لازميږي او حج به مُکمل سـي، قضآء يې نه ده لازمه (۲) د وُقُوفِ عَرَفَات وروسـته پـه جمـاع کولـو بانـدي حـج نـه فاسـديږي ددې دليـل د مسـئله نمبر۱۳ د دارقُطني حديث هم دئ مَن اَدرَكَ عَرَفَاتَ فَوَقَفَ بِهَا وَالمُزدَلِفَةَ فَقَد تَمَّ حَجُّهُ (دارقطني،نمبر۲۴۹۷\ترمذي شريف،نمبر۸۸۹)

[۷۲۹](۱۶) کوم چا چي د حلق کولو وروسته جماع وکړه پر هغه باندي وُزه(بُوزه)لازم ده .

تـشريـح په حج کې حلق کړئ دئ لېکن تر اُوس طواف زيارت نه دئ کړئ او جماع يې وکـړه نـو تـر اُوس خـو ښځه لا نه وه حلال سوې لهٰذا دَم به لازميږي، لېکن خوشبو او ګنډلي سوې کېږه حلال سوې وه نو ځکه په جِنَايَـت کي به تخفيف راسي، نو ځکه د وُښ پر ځائ به وُزه(بُوزه)لازم سي .

حاشيه : (الف) ابن عباس وفرمائل يو سړئ په لسمه ذي الحجه د بَيتُ الله د طـواف څخـه مخکـي جمـاع وکـي نـو وفرمائل دواړه دي وُښ ذَبح(حلال)کړي او پر دواړو باندي په راتلونکي کال کي حج کول ضروري نه دئ .

الحَلقِ فَعَلَيهِ شَاةٌ [۷۳۰](۱۷) وَمَن جَامَعَ فِي العُمرَةِ قَبلَ اَن يَّطُوفَ اَربَعَةَ اَشوَاطٍ اَفسَدَهُمَا وَمَضيٰ فِيهَا وَقَضَاهَا وَعَلَيهِ شَاةٌ [۷۳۱](۱۸) وَاِن وَطِيَ بَعدَ مَا اَطَافَ اَربَعَةَ اَشوَاطٍ فَعَلَيهِ

وجـه د حضرت عبدالله بن عباس په اثر کي ددې اشاره ملاوُيږي عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ قَالَ فِي الَّذِي يُصِيبُ اَهلَهُ قَبلَ اَن يُّفِيضَ يَعتَمِرُ وَيَهدِي (الف) (سنن للبيهقي،باب الرجل يصيب امراته بعدالتحلل الاول وقبل الثاني ج۵ص۲۷۹ نمبر ۹۸۰۲)په دې اثر کـي هَـدِي مُطلق ده نو ځکه دا ويل کيدائي سي چي د حَلق وروسته او د طواف زيارت څخه مخکي جمـاع وکـړه نـو د مُطلـق هَدِي څخه وُزه(بُوزه)مُراد ده .

[۷۳۰](۱۷) کوم چا چي د څلور شوطه طواف څخه مخکي په عُمره کي جماع وکړي نو ده عُمره فاسد کړه نو ځکه دئ به په عُمره کي تېريږي او دهغه قضآء به کوي او پر ده باندي يوه وُزه(بُوزه)لازم ده .

تـشريـح چي څلور شوطه طواف وکي نـو د اُوُو شـوطو څخـه اکثـر شـوطونه وسـو نـو ګواکـه د فـرض ادآئيګـي وسوه، لېکن که د څلورو شوطو څخه کم(لږ)طواف کړئ و، نو ګواکه طواف يې کړئ نه دئ او فرض نه دي ادآء سوي لهٰذا که د څلورو شوطو څخه مخکي جماع وکړي نو عُمره يې فاسد ده، ځکه چي اُوه شوطه طواف په عُمـره کي فرض دئ نـو ځکـه ددې قضـآء لازم ده، او د عُمـرې د پرېښـولو پـه وجـه بـه وُزه(بُـوزه)لازم سـي، د وُزې د لازمېدو وجه داده چي عُمره د حج څخه په درجه کي کمه ده نو ځکه د کمي درجې دَم به لازم سي .

وجه عَن سَعِيدِ بنِ جُبَيرٍ اَنَّ رَجُلاً اَهَلَّ هُوَ وَ اِمرَاَتُهُ جَمِيعًا بِعُمرَةٍ فَقَضَت مَنَاسِكَهَا اِلاَّ التَّقصِيرَ فَغَشِيَهَا قَبلَ اَن تُقَصِّرَ فَسُئِلَ اِبنَ عَبَّاسٍ عَن ذَالِكَ فَقَالَ اِنَّهَا لَشَبَقَهُ ... وَقَالَ لَهَا اِهرِيقِي دَمًا قَالَت مَا ذَا قَالَ اِنحَرِي نَاقَةً اَو بَقَرَةً اَو شَاةً قَالَت اَيُّ ذَالِكَ اَفضَلُ قَالَ نَاقَةٌ (ب) (سنن للبيهقي،باب المعتمرلايقرب امراته ج۵ص۲۸۰نمبر۹۸۰۶)په دې اثر کې دئ چې دحلق څخه مخکې جماع وکړه نو دَم لازميږي، دغه رنګه د طواف څخه مخکې جماع وکړه نو عُمره فاسد ده، او دهغه قضآء کول ضروري ده، او دَم هم لازميږي ځکه چې د حَلق څخه مخکې جماع وکړي دَم لازم سوئ و، نو د طواف څخه مخکې په طريقهٔ اولیٰ سره دَم لازميږي . او لکه څه رنګه چې د وُقُوفِ عَرَفَات څخه مخکې د جماع کولو څخه حج فاسديږي دغه رنګه په عُمره کې د طواف کولو څخه مخکې دجماع کولو څخه عُمره فاسديږي .

فائده د امام شافعي په نبز د عُمرې په فاسدېدو کې هم وُښ لازميږي، لکه څه رنګه چې د حج په فاسدېدو کې وُښ لازميږي، ځکه چې په لوړ اثر کې د وُښ تذکره راغلې ده .

[۷۳۱](۱۸) او که په عُمره کې د څلور شوطه طواف وروسته جماع وکړه نو پر ده باندې وُزه(بُوزه)لازم ده، او دده عُمره نه فاسديږي او نه دهغه قضآء لازميږي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عباس د هغه سړي په باب کې وفرمائل چې د طواف زيارت څخه مخکې جماع وکړي هغه به عُمره کوي او هَدي به ورکوي (ب) سعيد بن جُبَير فرمائي يوه سړي او دهغه مينې دواړو د عُمرې احرام وتاړئ بيا يې ټوله مناسك ادآء کړل ماسوائ د قصر کولو، نو د قصر کولو څخه مخکې ددې سره جماع وکړي، نو د ابن عباس څخه په دې باب پوښتنه وسوه وفرمائل ده جماع ژر کړي دي ... ابن عباس وښځه ته وفرمائل وِينَه توئي کړه، ښځي پوښتنه وکړه آيا ذَبح وکړم ؟ وفرمائل وُښ يا غُوا يا وُزه(بُوزه)، پوښتنه وکړه کوم شيئ افضل دئ ؟ وفرمائل وُښ .

شَاةٌ وَلاَ تُفسِدُ عُمرَتَهُ وَلاَ يَلزِمُهُ قَضَآؤُهَا [۷۳۲](۱۹) وَمَن جَامَعَ نَاسِيًا كَمَن جَامَعَ عَمَدًا فِي الحُكمِ [۷۳۳](۲۰) وَمَن طَافَ طَوَافَ القُدُومِ مُحدِثًا فَعَلَيهِ صَدَقَةٌ .

تشريح په عُمره کې اُوه شوطه طواف کول فرض دئ، خو د صفا او مروه په مابين کې سعي کول د احنافو په نبز فرض نه دي واجب دي، نو ځکه څلور شوطه چې د اُوو شوطود نيمئ اکثرحصّه(ډېره برخه)ده ادآء کړې ده نو گواکه د عُمرې رُکن طواف يې کړې دئ نو ځکه عُمره نه فاسديږي، لېکن سعي کول او حَلق کول پاتې دئ او جماع يې وکړه لهذا پر ده باندې دَم لازم دئ .

وجه په لوړ حديث کې ددې ثبوت موجود دئ .

فائده د امام شافعي په نبز که د څلورشوطه طواف وروسته جماع وکړه نو بيا هم عُمره فاسديږي .

وجه دده دليل دا اثر دئ سَاَلنَا جَابِرُ بنِ عَبدِاللهِ فَقَالَ لاَ يُقَرِّبَنَّهَا حَتّٰي يَطُوفَ بَينَ الصَّفَا وَالمَروَةَ (الف) (بخاري شريف،باب متیٰ يحل المعتمر ص۲۴۱نمبر۱۷۹۴)ددې اثر څخه معلوم سو چې د صفا او مروه د سعي څخه مخکې دي جماع نه کوي، او که وکې نو گواکه فرض يې پرېښوئ نو ځکه عُمره يې فاسد ده .

[۷۳۲](۱۹) کوم چا چې په هېره سره جماع وکړې نو دهغه حکم دا رنګه دئ لکه چې په قصد سره جماع کړي وي .

تشريح په قصد سره د جماع کولو څخه چې کوم جنايت لازميږي په حج او عُمره کې په هېره سره د جماع کولو څخه هم هغه جنايت لازميږي، يعني په حج او عُمره کې په هېره سره او په قصد سره د جنايت کولو يو حُکم دئ .

وجه (۱) نصوص عام دي په هغو کې په قصد او په هېره سره کولو کې څه فرق نه دئ کړئ نو ځکه د دواړو به يو حُکم وي، صرف په روژه کې په هېره سره جنايت کولو کې کفاره نه لازميږي، هلته ددې تصريح کړې ده (۲) د حج او عُمرې حالت په ياد وروستونکئ حالت دئ نو ځکه په دي کې د هيري اعتبار نسته (۳) په دي کې د جنايت دارومدار پر ارتفاق او فائده حاصلولو باندې دئ، او فائده يې حاصله کړې ده که څه هم په هېره سره حاصله کړې ده نو ځکه دَم به لازميږي (۴) د هيري او قصد کولو يو حُکم دئ ددې لپاره دا اثر دئ قَالَ مَالِكٌ ... اَو

يَحلِقُ قَفَاهُ لِمَوضِعِ المِحَاجِمِ وَهُوَ مُحرِمٌ نَاسِيًا اَو جَاهِلاً اِنَّ مَن فَعَلَ شَيئًا مِن ذَالِكَ فَعَلَيهِ فِي ذَالِكَ كُلِّهِ اَلفِديَةُ (مؤطاامام مالك باب فدية من حلق قبل ان ينحرص۴۵۰) (۵) عَنِ الحَسَنِ وَعَطَاء اَنَّهُمَا قَالاَ فِي ثَلٰثِ شَعَرَاتٍ دَمُ النَّاسِي وَالمعتَمِدُ فِيهِمَا سَوَآءٌ (سنن للبيهقي،باب المحرم لايحلق شعره ج۵ص۹۸ نمبر۹۱۲۴\دارقطني نمبر۲۵۱۲)په دې اثر کې په قصد او په هېره سره جنايت برابر ګرزولئ دئ .

فـائـده د امام شافعي په نېز په هېره سره د جنايت کولو څخه دَم نه لازميږي، دده په نېز په هېره جنايت کولو کي هيڅ شيئ نه لازميږي ځکه چې د اُمّت څخه غلطي او هېره دواړه معاف کړي دي، دده دليل لوړ تېر سوئ دئ .

[۷۳۳](۲۰) کوم چا چې طوافِ قُدوم د بې اودسئ په حالت کي وکئ نو پر هغه باندي صدقه ده .

حاشيه : (الف) ما د جابر بن عبدالله څخه پوښتنه وکړه نو وفرمائل چې و ښځه ته دي نږدې نَه ورځي تر څو چې د صفا او مروه په مابين کي سعي ونه کړي .

[۷۳۴](۲۱) وَإن كَانَ جُنُبًا فَعَلَيهِ شَاةٌ [۷۳۵](۲۲) وَإن طَافَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ مُحدِثًا فَعَلَيهِ شَاةٌ .

تـشريـح طوافِ قُدوم د اَوَدَس په حالت کي کول په کار دئ لېکن که يو چا د حَدَث پـه حالـت کـي طـواف قـدوم وکئ نو پر هغه باندي صدقه لازميږي .

وجـه (۱) په حديث کي دئ چې طواف د لمانځه په شـان دئ او پـه لمانځـه کـي اَوَدَس ضـروري دئ نـو ځکـه پـه طواف کي به هم اَوَدَس ضروري وي،لهٰذا که بې اَوَدَسَه طوافِ قُدوم وکئ نو صدقه لازميږي، پـه حـديث کـي دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلطَّوَافُ حَولَ البَيتِ مِثلَ الصَّلوةِ اِلاَّ اَ نَّكُم تَتَكَلَّمُونَ فِيهِ فَمَن تَكَلَّمَ فِيهِ فَلاَ يَتَكَلَّمُ اِلاَّبِخَيرٍ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآءفي الكلام في الطواف ص۱۹۰نمبر۹۶۰\ نسائي شريف،باب اباحة الكلام في الطواف ج۲ص۲۸نمبر۲۹۲۵)ددې حديث څخه معلوم سوچې طواف دلمانځه په ركم دئ نوځکه په طواف کي هم اَوَدَس شرط دئ(۲)پـه يوبـل حـديث کي دئ عَن عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَت قَدِمتُ مَكَّةَ وَ اَنَاحَائِضٌ وَلَم اَطُف بِالبَيتِ وَلاَ بَينَ الصَّفَا وَالمروَةَ قَالَت فَشَكَوتُ ذَالِكَ اِلىٰ رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِفعَلِي كَمَايَفعَلُ الحَاجُّ غَيرَاَن لاَتَطُوفِي بِالبَيتِ حَتّٰي تَطَهَّرِي(ب)(بخاري شريف،باب تقضي الحائض المناسك كلّهاالا الطواف بالبيت ص۲۲۳نمبر۱۶۵۰)ددې حديث څخه هم معلوميږي چې د طهارت(پاکئ)بغېره دي طواف نه کوي .

پـام لـرنـه خو بيا هم د طواف ادائيګي به وسي، ځکه چې قرآن چې د طواف کومه تذکره کړې ده په هغه کي د طهارت شرط نه دئ لګولئ نو ځکه که بغيره د اَوَدَس طواف وکـئ نـو طـواف يـې ادآء کيـږي، آيـت دئ وَلِيَطَّوَّفُوا بِالبَيتِ العَتِيقِ (آيت۲۹سورة الحج۲۲)په دې آيت کي د طواف کولو حکم کړئ دئ لېکن د طهارت شرط يې نه دئ لګولئ نو ځکه بغيره د طهارت هم طواف ادآء کيږي خو صَدَقَه يا دَم به لازم سي .

پـام لـرنـه د صَدَقي څخه د صَدَقَةُ الفِطر مقدار نيم صاع مُراد ده، ځکه چـې د مُطلـق صـدقي څخـه د صَدَقَةُ الفِطر مقدار مُراد وي .

[۷۳۴](۲۱) او که طَوَافِ قُدُوم د جنابت په حالت کي وکړئ نو پر ده باندي وُزَه(بُوزه)لازم ده .

وجـه (۱) د جنابت په حالت کې طواف قدوم وکئ نو د حَدَث په نِسبَت په طَوَاف کـي زيـات(ډېر)نُقص راغلـئ نـو ځکه وُزَه(بُوزه)به لازم سي، او نوره وجه په مسئله نمبر ۲۰کي تېره سوئ ده (۲) د دَم د لازمېدو دليـل دا اَثَر دئ اَنَّ عَبدَاللهِ بنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَن نَسِيَ مِن نُسُكِهِ شَيئًا اَو تَرَكَهُ فَليُهرِق دَمًا (الف) (مؤطا امام مالك، باب مايفعل مَن نسي مِن نسكه شيئا ص۴۵۰\سنن للبيهقي،باب من ترك شيئا من الرمي حتي يذهب ايام منٰي ج۵ص۱۵۲ نمبر۲۵۱۲\۲۵۱۴)په دې اثر کي دئ چـي څـه شيئ پاته سي نو دَم لازميږي، او دجنابت په حالت کي طواف کول دا رنګه دئ ګواکه طواف نه دئ سوئ نو ځکـه دَم به لازميږي .

[۷۳۵](۲۲) او که طواف زيارت د بې اَوَدَسَئ په حالت کي وکئ نو پر ده باندي وُزه(بُوزه)لازم ده .

وجـه طوافِ زيارت ډېر اهم دئ او فرض دئ دا چې د بې اَوَدَسَئ په حالت کي وکي نو کمي پاته سوه نو دا کمـي دي د وُزې(بُوزې)په حلالېدو سره پوره کړي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل د بَيتُ الله ابر چاپيره(شاؤخوا)طواف د لمانځه په ركم دئ، مگر دا چي تاسو په طواف كي خبري كوئ څوك چي په طواف كي خبري كوي هغه دي صرف د خير خبري وكړي (ب) د حضرت عائشي څخه روايت دئ چي زه مَكّي ته راغلم په داسي حال كي زه حائضه وم، نه مورِ د بَيتُ الله طواف وكړئ او نه د صفا مروه، ما وحضور ته ددي شكايت وكئ نو حضور وفرمائل لكه څه رنگه چي حاجي كوي دغه رنگه كوه علاوه ددي چي د بَيتُ الله طواف مَه كوه تر هغو چي پاك سوي نه يي .

[٧٣٦](٢٣) وَإن كَانَ جُنُبًا فَعَلَيهِ بُدنَةٌ وَالاَفضَلُ اَن يُعِيدَ الطَّوَافَ مَادَامَ بِمَكَّةَ وَلاَ ذَبحَ عَلَيهِ [٧٣٧](٢٤) وَمَن طَافَ طَوَافَ الصَّدرِ مُحدِثًا فَعَلَيهِ صَدَقَةٌ وَإن كَانَ جُنُبًا فَعَلَيهِ شَاةٌ [٧٣٨](٢٥) وَإن تَرَكَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ ثَلٰثَةَ اَشوَاطٍ فَمَا دُونَهَا فَعَلَيهِ شَاةٌ [٧٣٩](٢٦) وَإن تَرَكَ اَربَعَةَ اَشوَاطٍ بَقِيَ مُحرِمًا اَبَدًا حَتّٰي يَطُوفَهَا .

---

[٧٣٦](٢٣) او كه طوافِ زيارت د جنابت په حالت كي وكئ نو پر ده باندي وُښ لازم دئ،او افضل دادئ چي طواف راوگرزوي تر څو چي په مَكّه كي وي،بيا پر ده باندي ذَبح نسته .

تشريح كه طواف راوگرزاوئ نو دَم نه لازميږي، ځكه چي په كوم ځائ كي چي نُقص و هغه يي پوره كړئ لهٰذا دَم نه لازميږي، او بنَه خبره خو داده چي د داسي نُقص والا طواف دوباره بيا راوگرزوي .

پام لرنه طوافِ زيارت يي د جنابت په حالت كي كړئ دئ دا لوئ(غټ)جنايت دئ نو ځكه په دي كي به دَم هم لوئ يعني وُښ لازم سي .

[٧٣٧](٢٤) كوم چاچي طوافِ صَدَر د حَدَث په حالت كي وكئ پر هغه باندي صَدَقَه ده او كه د جنابت په حالت كي وكئ نو پر هغه باندي وُزه(بُوزه)ده .

وجه طوافِ وداع د طوافِ زيارت څخه په درجه كي كم دئ نو ځكه ددي حُكم به د طواف قُدُوم په ركم وي، يعني كه د حَدَث په حالت كي وكئ نو صَدَقَه به لازميږي او كه د جنابت په حالت كي وكئ نو وُزه(بُوزه)به لازميږي، ځكه چي د جنابت په حالت كي جِنَايَت زيات(ډير)دئ .

لغت : طَوَافُ الصَّدرِ : طوافِ وداع چي په آخري وخت كي ادآء كيږي، وهغه ته طوافِ صَدر هم وائي .

[٧٣٨](٢٥) كه د طوافِ زيارت څخه دري شوطه يا دهغه څخه كم(لږ)پرېښول نو پر ده باندي وُزه(بُوزه)ده .

تشريح طوافِ زيارت فرض دئ،نو كه ډير شوطونه يعني څلور شوطه طواف وكئ او هغه كم(لږ)برخه پرېښوله نو پر ده باندي وُزه(بُوزه)وركول لازم ده .

وجه په اثر كي راغلي دي اَنَّ عَبدَاللهِ بنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَن نَسِيَ مِن نُسُكِهِ شَيئًا اَو تَرَكَهُ فَليُهرِق دَمًا (الف) (موطا امام مالك،باب مايفعل من نسي من نسكه شيئًا ص٤٥٠\سنن للبيهقي،باب من ترك شيئًا من الرمي حتي يذهب ايام مِنيٰ ج٥ ص٢٤٨نمبر٩٦٨٨\سُنن دارقطني،كتاب الحج ج٢ص٢١٥نمبر٢٥١٢)ددي اثر څخه معلوم سو چي د نُسُك څخه څه شيئ پاته سي نو دَم لازميږي، او دلته د فرض طواف څخه څه پاته سوئ دئ نو ځكه دَم به لازميږي .

[٧٣٩](٢٦) كه د طواف زيارت څخه څلور شوطه پرېښول نو همېشه به مُحرم پاته وي تر څو چي طواف وكړي .

تشريح د طوافِ زيارت څخه څلور شوطه نه وكړل نو اكثر طواف يي ونه كړئ گواكه گر سره طواف يي ونه كړئ لهٰذا تر څو چي فرض طواف ونه كړي تر هغو به د بي بي(مينې)په حق كي مُحرم پاته وي، ځكه چي تر څو پوري چي سړئ طوافِ زيارت ونه كړي تر هغو پوري دده لپاره بي بي(مينه)نه حلاليږي .

وجه په اثر كي راغلي دي حَدَّثَنَاابنُ اَبِي الزِّنَادِعَنِ الفُقَهَآءِالَّذِينَ يَنتَهِي اِلَيٰ قَومِهِم مِن اَهلِ المَدِينَةِ كَانُوا يَقُولُونَ مَن نَسِيَ اَن

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عباس و فرمائل د چا چي د حج په عبادت كي څه شيئ هېر سي يا هغه پرېږدي نو هغه بايد وِينَه ثُوئي كړي .

[٧٤٠](٢٧) وَمَن تَرَكَ ثَلٰثَةَ اَشوَاطٍ مِن طَوَافِ الصَّدرِ فَعَلَيهِ صَدَقَةٌ [٧٤١](٢٨) وَإن تَرَكَ طَوَافَ الصَّدرِ اَو اَربَعَةَ اَشوَاطٍ مِنهُ فَعَلَيهِ دَمٌ [٧٤٢](٢٩) وَمَن تَرَكَ السَّعيَ بَينَ الصَّفَا وَالمروَةَ فَعَلَيهِ شَاةٌ وَحَجُّهُ تَامٌ [٧٤٣](٣٠) وَمَن اَفَاضَ مَن عَرَفَاتٍ قَبلَ الاِمَامِ

اَن يُّفِيضَ حَتّٰي رَجَعَ اِلٰي بِلاَدِهِ فَهُوَ حَرَامٌ حِينَ يَذكُرُ حَتّٰي يَرجِعَ اِلَي البَيتِ فَيَطُوفَ بِهِ، فَاِن اَصَابَ النِّسَآءَ اَهديٰ بُدنَةً (سنن للبيهقي،باب التحلل بالطواف اذا كان قدسعيٰ عقيب طواف القدوم ج٥ص٢٣٨نمبر٩٦٥٠) ددي اثر څخه معلوم سو چي كه طواف زيارت نه و كړئ نو همېشه به مُحرم پاته وي، او كه په دي مابين كي د ښځي سره صُحبت وكئ نو د وُښ دَم پر لازم دئ .

[٧٤٠](٢٧) يو چا د طوافِ وَدَاع دري شوطه پرېښولو نو پر هغه باندي صَدَقَه لازم ده .

وجه طوافِ وَدَاع واجب دئ او دري شوطه يا ددي څخه كم(لږ)يي پري ايښئ دئ نو ګواكه طواف وداع يي ادآء كړئ دئ نو ځكه د درو شوطو په پرېښولو كي صَدَقَه لازميږي .

[٧٤١](٢٨) كه طوافِ صَدر پرېښوئ يا يي د هغه دري شوطه پرېښول نو پر ده باندي وُزَه(بُوزَه)لازم ده .

تشريح څلور شوطه پرېښول نو ګواكه پوره طواف صدر يي پرېښوئ، او طواف صدر واجب دئ نو ځكه د هغه په پرېښولو سره وُزَه(بُوزه)لازميږي .

وجه د وُزي د لازمېدو وجه د عبدالله بن عباس قول دئ چي لوړ تېر سوئ دئ (دارقُطني نمبر٢٥١٢)

[٧٤٢](٢٩) يوچا د صفا مروه سعي پرېښولي نو پر هغه باندي وُزه لازم ده او دهغه حج مُكمل سو .

وجه سعي واجب دي، نوځكه ددي په پرېښولو سره دَم واجبيږي، مخكي د عبدالله بن عباس قول تېر سوئ دئ (دارقطني نمبر٢٥١٢\٢٥١٤) د نُسُك په پرېښولو سره دَم لازميږي، او حج په دي وجه مُكمل سوئ دئ چي فرائض ټوله ادآء سوي دي، او سعي زمونږ په نېز واجب دي نو ځكه حج مُكمّل دئ، په اثر كي راغلي دي عَنِ الحَسَنِ فِي الرَّجُلِ يَترُكُ الصَّفَا وَالمروَةَ قَالَ عَلَيهِ دَمٌ (مصنف ابن ابي شيبة ٢٣٤ في الرجل يترك الصفا والمروة ما عليه،ج٣ص٢٦٩نمبر١٤٢٠٠)

[٧٤٣](٣٠) څوك چي عرفات ته د امام څخه مخكي وُوزي پر هغه باندي دَم لازم دئ .

تشريح امام د ي ټيك د لمر د پرېوتو وروسته وُوزي،نو كه يو سړئ د امام څخه مخكي وواتئ نو ددي مطلب داسو چي دئ د لمر د پرېوتو څخه مخكي وواتئ، نو ځكه چي د لمر دپرېوتو څخه مخكي وُوزي نو پر ده باندي دَم لازميږي .

وجه په حديث كي دئ چي حضور د لمر د پرېوتو وروسته د عرفات څخه وتلئ و قَالَ دَخَلنَا عَلٰي جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ ... فَلَم يَزَل وَاقِفًا حَتّٰي غَرَبَتِ الشَّمسُ وَذَهَبَتِ الصُّفرَةُ قَلِيلاً حَتّٰي غَابَ القُرصُ (الف) (مُسلم شريف،باب حجة النبيّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ص٣٩٨نمبر١٢١٨\ترمذي شريف،باب ماجآء ان عرفة كلها موقف ص١٧٧نمبر٨٨٥)ددي حديث څخه ثابت سو چي حضور د مابنام څخه وروسته د عرفات څخه روان سوئ و او چي د مابنام څخه مخكي څوك د عرفات څخه وُوزي نو ګواكه تَقدِيم د نُسُك يي وكئ نو د نُسُك د تقديم په وجه دَم لازميږي، عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَن قَدَّمَ شَيئًا مِن

حاشيه : (الف) حضور د لمر تر پرېوتو پوري وُقُوفِ عرفات كاوئ او لږ څه ژړوالئ ختم سو تر دي چي د لمر ټكئ پټه سوه .

فَعَلَيهِ دَمٌ [٧٤٤](٣١) وَمَن تَرَكَ الوُقُوفَ بِمُزدَلِفَةَ فَعَلَيهِ دَمٌ [٧٤٥](٣٢) وَمَن تَرَكَ رَميَ الجِمَارِ فِي الأَيَّامِ كُلِّهَا فَعَلَيهِ دَمٌ .

حَجِّهِ اَو اَخَّرَهُ فَلْيُهرِق لِذَالِكَ دَمًا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ٣٥٣في الرجل يحلق قبل ان يذبح ج٣ص٣٤٥ نمبر ١٤٩٥٤)ددي اثرڅخه معلوم سوچي دنُسُك دتقديم اوتاخيرڅخه دَم لازميږي،اودلته خُرُوج(وتل) مخته كړئ دئ نو ځكه دَم به لازميږي .

پام لرنه د لمر د پرېوتو څخه مخكي د عرفات څخه وواتئ او بيا د لمر دپرېوتو څخه مخكي عرفات ته راغلئ نو دَم به ساقط سي .

[٧٤٤](٣١) كوم چا چي د مُزدَلِفي وُقُوف پرېښوئ پر هغه باندي دَم لازم دئ .

وجه (١) د مُزدلِفي وُقُوف واجب دئ او مخكي تېرسوي دي چي د واجب پره پرېښولو سره دَم لازميږي، نو ځكه د مُزدلِفي په پرېښولو سره به دَم لازم سي، په مُزدلفه كي وُقُوف واجب دئ ددي دليل دا آيت دئ فَاِذَا اَفَضتُم مِن عَرَفَاتٍ فَاذكُرُواللهَ عِندَ المشعَرِالحَرَامِ (ب) (آيت ١٩٨سورة البقرة٢)په آيت كي د اَمَر صيغه ده چي د مشعرحرام سره د الله ذكر وكئ او مشعرحرام په مُزدلفه كي دئ نوځكه د مُزدلفي وُقُوف واجب دئ (٢) په حديث كي دئ عَن عُروَةَ بنِ مُضرَسٍ قَالَ اَتَيتُ رَسُولَ اللهِ بِالمزدَلِفَةِ ... فَقَالَ رَسُولُ اللهِ مَن شَهِدَ صَلوتَنَا هٰذِهِ وَوَقَفَ مَعَنَا حَتّٰي يَدفَعَ وَقَد وَقَفَ بِعَرَفَةَ قَبلَ ذَالِكَ لَيلاً اَو نَهَارًا فَقَد تَمَّ حَجَّهُ وَقَضيٰ

تَفَثَهُ (ج) (ترمذي شريف، باب ماجآء من ادرك الامام بجمع فقد ادرك الحج ص۱۷۹نمبر۸۹۱)په دې حديث کې دئ چې څوك د مُزدلفې په لمانځه کې حاضر سو او د هغه ځائ وُقُوف يې وکئ او ددې څخه مخکې د عَرَفَات وُقُوف کړئ وي نو حج يې مُکمل سو، ددې څخه دا معلوم سو چې وُقُوفِ د مُزدلِفې واجب دئ، او د حضرت ابن عباس قول مخکې تېر سوئ دئ چې د واجب د پرېښولو څخه دَم واجبېږي (دارقطني ج۲ص ۲۱۵ نمبر۲۵۱۲\۲۵۱۴)

[۷۴۵](۳۲) يو چا د ټولو ورځو رَمِئ جَمَرَات پرېښولې نو پر ده باندې دَم لازم دئ(او که د يوې ورځې ټولې رَمِي پرېښولې نو بيا هم پر ده باندې دَم لازم دئ) .

وجه (۱) د هرې ورځې جلا جلا رَمئ جمار واجب دي نو ځکه که د يوې ورځې ټولې رَمِئ جَمَرَات پرېښولې نو دَم لازميږي، لېکن که د درو سره ورځو رَمِئ جَمَرَات پرېښولې نو يو په بله کې به تداخل راسي، ځکه چې دا يو رنګه جِنَايَت دئ لهٰذا د ټولو رَمِي په پرېښولو سره هم يو دَم لازميږي، رَمِئ جَمَرَات واجب دي نو ځکه ددې په پرېښولو سره دَم لازميږي، په اثر کې راغلي دي عَنِ الزُّهرِيِّ عَن اَبَانَ بنِ عُثمَانَ قَالَ وَاللهِ اِنَّ الصَّلوةَ لَتَقضِي فَکَيفَ لاَ تَقضِي رَميَ الجِمَارَ (د) (مصنف ابن ابي شيبة۴۰۵في الرجل ينسي ان يرمي الجمار يقضيه او يهرق دَمًا ج۳ص۳۷۹نمبر۱۵۳۰۲)ددې اثر څخه د رَمِئ جِمَار اهميّت معلوميږي (۲) عَن عَطَآءَ بنِ اَبِي رَبَاحٍ اَنَّهُ قَالَ مَن نَسِيَ جَمرَةً وَاحِدَةً اَوِ الجِمَارَ کُلَّهَا حَتّٰي يَذهَبَ اَيَّامُ التَّشرِيقِ فَدَمٌ وَاحِدٌ يَجزِيهِ (ه) (سنن للبيهقي، باب من ترك شيئًا من الرمي حتي يذهب ايام مِنيٰ ص۲۴۸نمبر۹۶۸۸)ددې اثر څخه معلوم سو چې رَمِئ جِمَار پرېږدي نو دَم لازميږي،دا هم معلوم سو چې ټولې رَمِي پاته سي نوتداخُل به راسي اويَودَم به لازم سي .

حاشيه : (الف) عبدالله بن عباس وفرمائل يو چا د حج څخه څه شيئ مخته کئ يا يې وشاته کئ نو ددې په وجه دي وِينَه ټوئي کړي (ب) چې کله تاسو د عرفات څخه روان سئ نو د مَشعَرِحَرَام سره د الله ذکر وکئ (ج) حضور وفرمائل څوك چې په دې لمانځه کې حاضر سو او زمورِ سره د ددې ځائ تر رَوَانېدُو پورې قيام وکئ، او ددې څخه مخکې ورځ يا په شپه کې په عرفات کې قيام وکئ نو دده حج پوره سو او دئ د يې خپلې خِرې مِيرې لېرې کړي (د) اَبَان بن عُثمان وفرمائل قسم په خدائ د لمانځه قضآء کوو نو د رَمِئ جِمَار قضآء ولې نه کوو(ه) عطآء بن ابي رباح وفرمائل د چا چې يوه جَمرَه هېره سي يا يې ټولې جَمرَاتې هيرې سي تر د ې چې ايّام تَشرِيق ختم سي نو يو دَم د ټولو لپاره کفايت کوي .

[۷۴۶](۳۳) وَاِن تَرَکَ رَميَ اِحدَي الجِمَارِ الثَّلٰثِ فَعَلَيهِ صَدَقَةٌ [۷۴۷](۳۴) وَاِن تَرَکَ رَميَ جَمرَةِ العَقَبَةِ فِي يَومِ النَّحرِ فَعَلَيهِ دَمٌ [۷۴۸](۳۵) وَمَن اَخَّرَ الحَلقَ حَتّٰي مَضَت اَيَّامُ النَّحرِ فَعَلَيهِ دَمٌ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي .

[۷۴۶](۳۳) او که د درو رَمِئ جِمَارځخه يوه پرېښوه نو پر ده باندې صدقه ده .

وجه د يوولسم،دوولسم او ديارلسم په ورځ د درو سره کَمبُو(شيطانانو)رَمِي کيږي، نو که د درو کَمبُو څخه د يوې رَمِي پرېښولې نو صَدَقَه لازميږي، ددې وجه داده چې د درو کَمبُو(ځُلُو)په پرېښولوباندې دَم دئ او يوه کَمبَه(ځَلَئ)ددې نيمئ لا هم نه دئ نو ځکه صَدَقَه به لازميږي .

[۷۴۷](۳۴) که په لسم تاريخ د جَمرَهٔ عقبې رَمِي پرېښولئ نو پر ده باندې دَم دئ .

وجه (۱) په لسمه ذي الحجة صرف دجَمرهٔ عقبې يعني آخري خَلِي(کَمبې)رَمِي کيږي نو ځکه که په لسم تاريخ د جمرهٔ عقبې رَمِي پرېښولې نو ګواکه د پوره يوې ورځې رَمِي يې پرېښولې او د پوره يوې ورځې رَمِي په پرېښولو سره دَم لازميږي، ددې دليل په مسئله نمبر۳۲کې دحضرت عطآء قول تېرسوئ دئ (۲) د يَوَه نُسُك په پرېښولو سره دَم لازميږي ددې دليل په دارقطني نمبر۲۵۱۲کې تېر سوئ دئ .

[۷۴۸](۳۵) کوم چا چې حَلق وځنډاوئ تر دې چې اَيّامِ نَحَر تيرې سوې نو پر ده باندې د امام ابوحنيفه په نېز دَم دئ .

تشريح يو چا حَلق نه وکړئ تر دې چې دُوولسم تاريخ تير سو نو د وخت څخه وځنډاوئ لهٰذا دَم به لازميږي .

وجه (۱) عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَن قَدَّمَ شَيئًا مِن حَجِّهِ اَو اَخَّرَهُ فَلِيُهرِق لِذَالِكَ دَمًا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۳۵۳في الرجل يحلق قبل ان يذبح ج۳ص۳۴۵نمبر۱۴۹۵۴)ددې اثر څخه معلوم سو چې يو نُسُك د خپل وخت څخه وځنډوي نو پر هغه باندې دَم لازميږي، او دې سړي حَلق د خپل وخت څخه ځنډولئ دئ نو ځکه پر ده باندې به دَم لازم وي، د حَلق لپاره اَيّامِ نَحَر مُتعَيّن دي، ځکه چې يو شيئ د وخت سره عبادت وي او د وخت څخه وروسته بيا عبادت نه وي، نو ځکه که حَلق د وخت څخه وځنډاوئ نو دَم لازميږي. په اثر کې راغلي دي (۲) عَن عَامِرٍ فِي اِمرَاَةٍ نَسِيَت تُقَصِّرُ حَتّٰي خَرَجَت، فَقَالَ عَبدُالرَّحمٰنُ بنِ الاَسوَدِ وَعَامِرُ تُقَصِّرُ وَتُهرِقُ دَمًا (مصنف ابن ابي شيبة ۴۵۶ نمبرفي الرجل والمراَةِ نسيا ان تقصرا ج۳ص۴۰۱نمبر۱۵۵۳۵)ددې

اثر څخه معلوم سو چې د يوم النحر څخه وځندوي نو دَم لازميږي، د ترتيب د وجوب دليل دا حديث هم دئ عَن اَنَسٍ بِنِ مَالِكٍ اَنَّ رَسُولَ اللهِ اَتيٰ مِنيٰ فَاَتيَ الجَمرَةَ فَرَمَاهَا ثُمَّ اَتيٰ مَنزِلَهُ بِمِنيٰ وَنَحَرَ ثُمَّ قَالَ لِلحَلاَّقِ خُذ وَاَشَارَ اِلىٰ جَانِبِهِ الاَيمَنِ (ب) (مُسلم شريف،بيان اَنَّ السُّنَّةَ يوم النحريرمي ثم ينحرثم يحلق ص۴۲۱نمبر۱۳۰۵)ددې حديث څخه معلوم سو چې په ترتيب سره کول په کار دئ .

حاشيه : (الف) عبدالله بن عباس وفرمائل د حج څخه يو شيئ چا مخته کړئ يا يې وځنډاوئ نو د هغه په وجه دي وينَه ټُوئي کړي (ب) حضور مِنيٰ ته راغلئ، نو جَمري ته راغلئ او د هغې رَمِي يې وکړې بيا په مِنيٰ کي و خپل ځائ ته راغلئ او قُرباني يې وکړه بيا يې و سر خَرَيُونکي ته وويل چې وايخله(پرې په که)او و ښي طرف ته اشاره وکړه .

[۷۴۹](۳۶) وَكَذَالِكَ اِن اَخَّرَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالىٰ .

فائده د صاحبينو په نيز مخته يا شاته کولو په وجه باندې دَم نه لازميږي، د دوئي دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ زُرتُ قَبلَ اَن اَرمِيَ قَالَ لاَ حَرَجَ قَالَ حَلَقتُ قَبلَ اَن اَذبَحَ قَالَ لاَ حَرَجَ قَالَ ذَبَحتُ قَبلَ اَن اَرمِيَ قَالَ لاَ حَرَجَ (الف) (بخاري شريف،باب الذبح قبل الحلق ص۲۳۲نمبر۱۷۲۲\مُسلم شريف، باب جوازتقديم الذبح علي الرمي والحلق علي الذبح ص۴۲۱نمبر۱۳۰۶)د مُسلم په حديث کي دا لفظونه زيات هم راغلي دي قَالَ فَمَا سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَن شَيئٍ قُدِّمَ وَ لاَ اَخَّرَ اِلاَّ قَالَ اِفعَل وَلاَ حَرَجَ (نمبر۱۳۰۶)په دې حديث کي دئ چې د يو عَمَل د مخته کولو يا و شا ته کولو څخه دَم نه لازميږي، نو ځکه چې حَلَق د اَيّام نحر څخه وځندوي نو دَم نه لازميږي .

[۷۴۹](۳۶) دغه رنګه که طوافِ زيارت د اَيّام نَحَر څخه و ځندواوئ نو د امام ابوحنيفه په نيز دَم لازميږي .

وجه لوړ د حضرت عبدالله بن عباس قول تپر سوئ دئ، په دې اثر کي هم و دې ته اشاره سوې ده عَن اَبِي الزِّنَادِ عَنِ الفُقَهآءِ الَّذِينَ يَنتَهِي اِلىٰ قَولِهِم مِن اَهلِ المَدِينَةِ كَانُوا يَقُولُونَ مَن نَسِيَ اَن يُفِيضَ حَتّيٰ رَجَعَ اِلىٰ بِلاَدِهِ فَهُوَ حَرَامٌ حِينَ يَذكُرُ حَتّيٰ يَرجِعَ اِلىٰ البَيتِ فَيَطُوفَ بِهِ فَاِن اَصَابَ النِّسَآءَ اَهدىٰ بُدنَةً (سنن للبيهقي،باب التحلل بالطواف اذا كان قد سعي عقيب طواف القدوم ج۵ص۲۳۸نمبر۹۶۵۰)په دې کي دئ چې که په هېره سره طواف زيارت نه وکړئ او د ښځي(مينې)سره يو ځائ سو(جماع يې وکړي)نو هم وُښ پر لازميږي، او د صاحبينو مسلك دادئ چې دَم نه لازميږي، د دوئي دليل په مسئله نمبر۳۵کي حديث تپر سوئ دئ (بخاري شريف،نمبر ۱۷۲۲\مُسلم شريف،نمبر۱۳۰۶)

(د ښکار بيان)

ضروري پام لرنه د احرام په حالت کي دخُشکئ(د وچي)ښکار کول حرام دئ، البته په سمندر (درياب)کي ښکار کول جائز دئ، او که يو مُحرم ښکار وکي نو دئ به د ښکار بدله ادآء کوي، ددې دليل (۱) دا آيت دئ يَآ اَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لاَ تَقتُلُوا الصَّيدَ وَاَنتُم حُرُمٌ وَمَن قَتَلَهُ مِنكُم مُتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِثلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحكُمُ بِهِ ذَوَا عَدلٍ مِّنكُم هَديًا بَالِغَ الكَعبَةِ اَو كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِينَ اَو عَدلُ ذَالِكَ صِيَامًا (آيت ۹۶ سورة المآئدة۵) په آيت کي دئ اُحِلَّ لَكُم صَيدُ البَحرَ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَّكُم وَلِسَّيَّارَةِ وَحُرِّمَ عَلَيكُم صَيدُ البَرِّ مَا دُمتُم حُرُمًا (ب) (آيت ۹۶ سورة المآئدة۵)ددې دواړو آيتو څخه معلوم سو چې د مُحرم لپاره د خُشکئ(د وچي)ښکار کول حرام دئ او د سمندر د جائز دئ، دا هم معلوم سو چې که ښکار وکئ نو جَزآء به هم ورکوي، يا به ددې د کفاري په توګه و مسکينانو ته دوډئ ورکوي يا به ددې قيمت لګوي چې څومره غَنَم وي د هَري نِمَئ صَاع په بدله کي به يوه روژه نيسي (۲) ددې لپاره دا حديث هم دئ عَن عَائِشَةَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَمسٌ مِنَ الدَّوَابِّ كُلُّهُنَّ فَاسِقٌ يُقتَلنَ فِي الحَرَمِ اَلغُرَابُ وَالحَدَاةُ وَالعَقرَبُ وَالفَارَةُ وَالكَلبُ العَقُورُ (الف) (بخاري شريف،

حاشيه يوه سړي و حضور ته ووېل ما د رَمِي څخه مخکي طوافِ زِيَارَت وکئ، حضور وفرمائل هيڅ د حرج خبره نه ده، ووېل د ذبح څخه مخکي مو حلق وکړئ، حضور وفرمائل هيڅ د خبره نه ده، ووېل چې د رَمِي څخه مخکي مو ذبح وکړه، حضور وفرمائل هيڅ د حرج خبره نه ده (ب) ستاسو لپاره د سمندر ښکار حلال کړل سوئ دئ او دهغه خوراك ستاسو لپاره او د مُسافرانو لپاره سامان دئ، او د

خُشکئ(د وچي)بنکار يې حرام کړئ دئ تر څو چې تاسو مُحرِم ياست (ج) حضور وفرمائل پنځه حيوانان ټوله(پوره)فاسقان دي، په حرم کي به هم قتل کوي، کَارګه،ټپوس،لړم،مُوږَك،او لېونئ سوپئ .

[۷۵۰](۳۷) وَإِذَا قَتَلَ المحرِمُ صَيدًا اَو دَلَّ عَلَيهِ مَن قَتَلَهُ فَعَلَيهِ الجَزَآءُ وَسَوَآءٌ فِي ذَالِكَ العَامِدُ وَالنَّاسِ وَالمبتَدِي وَالعَائِدُ .

باب ما يقتل المحرم من الدواب ص۲۴۶نمبر۱۸۲۹\مُسلم شريف،باب ماينبدب للمحرم وغيره قتله من الدواب في الحل والحرم ص۳۸۱نمبر۱۱۹۸\۲۸۶۳)په دې حديث کي دئ چې دغه پنځه قسم حيوانان د احرام په حالت کي قتل کول(وژل)جائز دي نو معلوم سو چې دا نور پاته بنکاري حيوانان وژل(وشتل)جواز نه لري .

[۷۵۰](۳۷) که مُحرم بنکار قتل کړئ يا يې و داسي سړي ته وروښوئ چې هغه قتل کړئ نو پر ده باندي د بنکار بدله(ورکول)لازمه ده، او په دې باب کي په قصد سره يا په هېره سره، په شروع کي يا په آخر کي قتل کونکئ سره برابر دي .

تشريح مُحرم که په خپله بنکار قتل کړي نو هم د بنکار بدله پر لازم ده،اوکه و بل ته ووائي چې هلته بنکار دئ او هغه سړي بنکار قتل کړئ نو هم پر مُحرم باندي د بنکار بدله لازم ده، دغه رنګه که په هېره سره قتل کړئ يا په په قصد سره قتل کړئ نو هم بدله لازم ده، او په شروع کي قتل کړئ يا يو بل چا بنکار زخمي کړئ و او مُحرم هغه زخمي بنکارقتل کړئ بيا هم پر مُحرم باندي بدله لازم ده .

وجه (۱) و يو بل بنکاري ته بنکار ور وښوئ نو د بنکار مُحافظت يې برباد کړئ نو ځکه پر بنکار بنوونکي باندي هم بدله لازم ده (۲) په دې حديث کي ودې ته اشاره سوې ده اَخبَرَنِي عَبدُاللهِ بنِ اَبِي قَتَادَةَ ثُمَّ ... قُلنَا اَنَاكُلُ لَحمَ صَيدٍ وَنَحنُ مُحرِمُونَ ؟ فَحَمَلنَا مَابَقِيَ مِن لَحمِهَا قَالَ اَمِنكُم اَحَدٌ اَمَرَهُ اَن يَحمِلَ عَلَيهَا اَو اَشَارَ اِلَيهَا ؟ قَالُوا لاَ قَالَ فَكُلُوا مَابَقِيَ مِن لَحمِهَا (الف) (بخاري شريف،باب لايشيرالمحرم الي الصيد لكي يصتاده الحلال ص۲۴۶نمبر ۱۸۲۴\مُسلم شريف،باب تحريم الصيد الماكول البري وما اصله ذالك علي المحرم ص۳۸۰نمبر۱۱۹۶\۲۸۵۵)په دې حديث کي دئ چې آيا تا د بنکار کولو اشاره وکړه ؟ ددې څخه دا معلوم سو چې وبل ته د بنکار کولو اشاره کول هم په خپل د بنکار کولو په رکم ده ، نو ځکه د بنکار کولو په اشاره سره هم بدله لازميږي ، په اثر کي دئ عَنِ الحَسَنِ وَالعَطَآءَ فِي المحرِمِ اَشَارَ اِلَي صَيدٍ فَاَصَابَهُ مُحرِمٌ قَالاَ عَلَيهِ الجَزَآءُ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۵۴في المشيرالي الصيدقال عليه الجزآء ج۳ص۴۰۰نمبر۱۵۵۱۳)په دې اثر کي دئ چې پر اشاره کونکي باندي د بنکار بدله لازم ده، په هېره او په قصد سره اشاره کونکي سره برابر دي ددې دليل دا اثر دئ عَن اَبِي عُبَيدَةَ بنِ عَبدِاللهِ بنِ مَسعُودٍ اَنَّ مُحرِمًا اَلقَيَ جَوَالِقَ فَاَصَابَ يَربُوعًا فَقَتَلَهُ فَقَضَيٰ فِيهِ اِبنُ مَسعُودٍ بِجَفرٍ اَو جَفرَةٍ (ج) (سنن للبيهقي،باب قتل المحرم الصيد عمداً او خطاءً ج۵ص۲۹۴نمبر۹۸۵۸)په دې اثر کي دئ چې په غلطي سره پر يَربُوع(ځنګلي مږه،څوك يې خانَئ بُولي)باندي ځل يَلَه سواو هغه مږه سوه نو بيا هم پر هغه باندي د وُزي يو بچئ(مرغونه)لازم کړئ، دغه رنګه فيصله حضرت عمر هم وکړه قَالَ مَالِكٌ ... اَو يَخلِقُ قَفَاهُ لِمَوضِعِ المِحَاجِمِ وَهُوَمُحرِمٌ نَاسِيًااَوجَاهِلاًاِنَّ مَن فَعَلَ شَيئًامِن ذَالِكَ فَعَلَيهِ فِي ذَالِكَ كُلِّهِ الفِديَةُ(مؤطاامام مالك،باب فدية من حلق قبل ان ينحرص۴۵۰)ددې اثرڅخه معلوم سوچې که په هېره سره يو کار وکي نو پر ده باندي د په قصد کونکي

سړي په شان فديه لازميږي .

حاشيه : (الف) د عبدالله بن ابي قتاده څخه روايت سوئ دئ ... مور پوښتنه وکړه آيا د بنکار غُوښه خورلائي سو کله چې مور په احرام کي يو ؟ نو د غُوښي پاته برخه مور وپورل، حضور پوښتنه وکړه آيا ستاسو څخه يوه و ده ته حکم ورکړئ و چې پر بنکار باندي حمله وکي يا مو وده ته لار بنُوَنَه کړي وه ؟ خلګو وويل چې نه ! حضور وفرمائل چې کومه پاته غُوَښَه ده هغه وخورئ (ب) د حضرت حسن او عطآء څخه د مُحرم په باب نقل سوئ دئ، هغه د بنکار پر خوا لاربنونه وکړه او بل مُحرم هغه وَوِشتَئ، دواړو وفرمائل پر ده باندي بدله لازم ده (ج) د عبدالله بن مسعود زوئي وفرمائل چې د يوه مُحرم (د سوارلئ) ځل يَلَه (شوه) سو او پر يَربُوع(خانې)باندي و مُوښتَئ او هغه مږه سوه نو عبدالله بن مسعود په هغه کي د مَرغُونِي يا د سِيرلِي فيصله وکړه .

[۷۵۱](۳۸) وَالجَزَآءُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ اَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ اَن يُقَوِّمَ الصَّيدَ فِي المكَانِ الَّذِي قَتَلَهُ فِيهِ

فائده امام شافعي فرمائي چې پر بنُونکي باندي فِديَه نسته، ځکه چې ده په خپله بنکار نه دئ هلاك کړئ، په لوړ آيت وَمَن قَتَلَهُ مِنكُم مُتَعَمِّدًا کي دئ چې په قصد سره بنکار وژلئ وي په هېره سره نه نو بيا بدله لازميږي .

[۷۵۱](۳۸) د ښکار بدله د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف په نېز داده چې د ښکار قیمت دي په هغه ځای کې ولګوي چیري چې ښکار قتل کړئ وي، یا وهغه ته نژدې ځای کې که هغه په صحرآء کې وژلئ وي نو دهغه قیمت به لګوي، دوه انصاف داره خلګ .

تشریح په کوم ځای کې چې ښکار قتل سوئ دئ په هغه ځای کې چې ددې ښکار څه قیمت وي هغه قیمت به لګوي، او که ښکار په صحرآء کې قتل کړئ وي نو د هغه صحرآء سره نژدې چې کومه آبادي ده په هغه ځای کې چې ددې ښکار څه قیمت کېدلائي سي هغه قیمت به لګوي .

وجه (۱)په آیت کې دئ يَآاَيُّهَاالَّذِينَ اٰمَنُوالاَتَقتُلُواالصَّيدَوَاَنتُم حُرُمٌ وَمَن قَتَلَهُ مِنكُم مُتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحكُمُ بِهِ ذَوَا عَدلٍ مِّنكُم (الف) (آیت ۹۵ سورة المآئدة۵)په دې آیت کې دئ چې دوه انصاف داره خلګ به د ښکار د بدلي فیصله کوي، نو اُوس د بدلي د فیصلي دوه صورتونه دي، یو خو دادئ چې څه رنګه ښکار وي د هغه جسماني ساخت(په بدن کې برابري)به کتل کیږي دهغه مُناسب وُښ،غُوا،وُزه،یا د وُزې د مرغُوني فیصله به کوي، مثلاً د وَسَئ د جسماني ساخت برابر وُزه(بُوزه)ده نو ځکه د وَسَئ په بدله کې دي وُزه(بُوزه)لازمه کړي، او ددې څخه لوئي حیوان په مُقابله کې دي غُوا لازمه کړي او دا مسلك د امام محمد او امام شافعي دئ، او دشپخینو په نېز دادئ چې د ښکار قیمت به لګول کیږي بیا دي په هغه قیمت باندي یا هَدِي واخلي او هغه دي په حرم کې حلال کړي ځکه چې په آیت کې د هَديًا بَالِغَ الكَعبَةِ قید لګېدلئ دئ، یا دي په هغه قیمت باندي غَنَم واخلي او وهر مسکین ته دي نیمئ نیمئ صَاع غَنَم ورکي، یا چې څومره صَاع غَنَم په دې قیمت باندي کیږي د هغه هري نیمئ صَاع په بدله کې دي یوه روژه(روزه)ونیسي، مثلاً د ښکار په قیمت باندي لَس(۱۰)صَاع غَنَم اخستلائي سي نو شل(۲۰)ورځې دي روژې(روزې)ونیسي، د ښکار د قیمت لګولو وروسته و ښکار کونکي ته دا دري اختیارات حاصل دي لکه په آیت کې چې و ده ته اخیار ورکول سوئ دئ، د احنافو په نېز د يَحكُمُ بِهِ ذَوَا عَدلٍ مطلب هم دغه دئ ځکه چې ته د ښکار په قیمت سره ډوډئ اخلي یا روژې نیسي خو آخرکار به د ښکار قیمت لګول کیږي، نو ځکه د اوّل څخه دي د ښکار قیمت ولګوي او په هغه قیمت دي هَدِي واخلي، او په آیت کې دي د مِثلُ څخه مِثلِ معنوي مراد واخلي (۲) د ذَوَا عَدلٍ ضرورت هم هغه وخت ډېر پېښیږي چې کله د ښکار د قیمت لګولو ضرورت وي، او قرآن د ذَوَا عَدلٍ قید په لګېدو سره و دغه طرف ته اشاره کړې ده (۳) ددې دلیل دا حدیث دئ عَن كَعبِ بنِ عُجرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَضيٰ فِي بِيضِ نُعَامٍ اَصَابَهُ مُحرِمٌ بِقَدرِ ثَمَنِهِ (ب) (دارقُطني،كتاب الحج ج۲ص ۲۱۸نمبر۲۵۲۸\سنن للبيهقي،باب بيض النعام يصيبها المحرم ج۵ص۳۴۰نمبر۱۰۰۲۱)په دې حدیث کې حضور د شُتَرمُرغ د اَګئ قیمت لګولئ دئ

حاشیه : (الف) ای مُؤمنانو ښکار د احرام په حالت کې مَه قتل کوئ، د تاسو څخه چې څوك یې په قصد سره قتل کوي نو چې څه رنګه ښکار قتل کړي د حیوانانو څخه دغه رنګه بدله به ورکوي، د تاسو څخه دوه انصاف داره خلګ او د هغه فیصله به کوي (ب) حضور د شُتَرمُرغ د اَګئ چې مُحرم ماته کړي وه د هغه د قیمت د مقدار فیصله وکړه .

اَو فِي اَقرَبِ المَوَاضِعِ مِنهُ اِن كَانَ فِي بَرِيَّةٍ يُقَوِّمُهُ ذَوَا عَدلٍ [۷۵۲](۳۹) ثُمَّ هَوَ مُخَيَّرٌ فِي القِيمَةِ اِن شَآءَ اِبتَاعَ بِهَا هَديًا فَذَبَحَهُ اِن بَلَغَت قِيمَتُهُ هَديًا وَاِن شَآءَ اِشتَرَيٰ بِهَا طَعَامًا فَتَصَدَّقَ بِهِ عَليٰ كُلِّ مِسكِينٍ نِصفُ صَاعٍ مِن بُرٍّ اَو صَاعًا مِن تَمرٍ اَو صَاعًا مِن شَعِيرٍ وَاِن شَآءَ صَامَ عَن كُلِّ نِصفِ صَاعٍ مِن بُرٍّ يَومًا وَعَن كُلِّ صَاعٍ مِن شَعِيرٍ يَومًا [۷۵۳](۴۰) فَاِن فَضُلَ مِنَ الطَّعَامِ اَقَلَّ مِن نِّصفِ صَاعٍ وَهُوَ مُخَيَّرٌ اِن شَآءَ ددې څخه دا معلومیږي چې د ښکار قیمت به لګول کیږي .

پام لرنه که ددې په قیمت باندي حیوان واخستئ نو هغه به د حرم په حُدُود کې حلالوي، ځکه چې په آیت کې د هَديًا بَالِغَ الكَعبَةِ قید لګېدلئ دئ، نو ځکه که د حرم څخه دباندي حیوان ذبح(حلال)کړئ نو دا کفایت نه کوي .

لغت : بَرِيَّةٌ : صَحرَآء، وَچه، ذَوَاعَدلٍ : انصاف کونکي دوه خلګ،ماهران او تجربه کار خلګ .

[۷۵۲](۳۹) بیا و ښکار کونکي ته په قیمت کې اختیار دئ که خُوښَه سي په هغه دي هَدِي واخلي او هغه دي حلال کړي که د هغه قیمت د هَدِي تر حَد پوري رسېدئ، او که خُوښَه سي نو د هغه په قیمت دي ډوډئ واخلي او و هر مسکین ته دي نیمئ صاع غَنَم یا یوه صَاع خُورمَا یا یوه صَاع وُربُوشِي صَدَقَه کړي، او که خُوښَه سي نو د هري

نِيمَئ صَاع غَنَمُو په بدله کي دي يوه ورځ روژه ونيسي او د هري يوې صَاع وَرښُوشُو په بدله کي دي يوه ورځ روژه ونيسي .

تشريح د بنکار د قيمت لګېدو وروسته و بنکار کونکي ته دري اختيار دي، چې تفصيل يې لوړ تير سو .

وجه د درو اختياراتو وجه آيت دئ، چې لوړ تېر سوئ دئ، او د هغه تفصيل د حضرت ابن عبّاس څخه دارنګه راغلئ دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ فِي قَولِهِ آيت فَجَزَآءٌ مِّثلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ، قَالَ اِذَا اَصَابَ المحرِمُ الصَّيدَ يُحكُمُ عَلَيهِ جَزَآءُهُ فَاِن كَانَ عِندَهُ جَزَآءُهُ ذَبَحَهُ وَتَصَدَّقَ بِلَحمِهِ فَاِن لَم يَكُن عِندَهُ جَزَآءُهُ قُوِّمَ جَزَآءُهُ دَرَاهِمَ ثُمَّ قُوِّمَتِ الدَّرَاهِمُ طَعَامًا فَصَامَ مَكَانَ كُلِّ نِصفِ صَاعٍ يَومًا وَاِنَّمَا اُرِيدَ بِالطَّعَامِ الصِّيَامُ اَنَّهُ اِذَا وَجَدَ الطَّعَامَ وَجَدَ جَزَآءَهُ (الف) (سنن للبيهقي،باب من عدل صيام يوم بمدين ج٥ص٣٠٤نمبر٩٨٩٨)ددې اثر څخه معلوم سو چې د قيمت لګولو وروسته دي يا هَدِي واخلي يا دي دودئ واخلي نيمئ نيمئ صاع غَنَم دي پر مسکينانو باندي تقسيم کړي يا دي د هري نيمئ صاع غَنَمُو يا يوې صَاع وَرښُوشُو په بدله کي يوه ورځ روژه ونيسي .

[٧٥٣](٤٠) بيا که د غَنَمُو څخه د نيمئ صَاع څخه لږ پاته سو نو و جنايت کونکي ته اختيار دئ که خُوښَه سي نو هغه دي صَدَقَه کړي او که خُوښَه سي نو د هغه په بدله کي دي يوه پوره ورځ روژه ونيسي .

حاشيه : (الف) د حضرت ابن عباس څخه روايت دئ د فَجَزَآءٌ مِثلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ په باب کي که مِثل نه سي پيدا نو دهغه قيمت يې مثل دئ، څومره چې ددې قيمت دئ د هغه د قيمت په بدله کي دي دودئ مُتعيّن کړي، بيا د هري نيمئ صَاع په بدله کي يوه ورځ روژه ده يا د مسکين د دودئ څخه کفاره يا د هغه په بدله کي روژه، بيا دودئ د روژې په بدله کي ده، نو چې دودئ موجود سوه نو د هغه بدله موجود سوه .

تَصَدَّقَ بِهِ وَاِن شَآءَ صَامَ عَنهُ يَومًا كَامِلاً [٧٥٤](٤١) وَقَالَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ يَجِبُ فِي الصَّيدِ اَالنَّظِيرُ فِيمَا لَهُ نَظِيرٌ فَفِي الظَّبِي شَاةٌ وَفِي الضَّبُعِ شَاةٌ وَفِي الاَرنَبِ عَنَاقٌ وَفِي النُّعَامَةِ بُدنَةٌ وَفِي اليَربُوعِ جَفرَةٌ [٧٥٥](٤٢) وَمَن جَرَحَ صَيدًا اَو نَتَفَ شَعرَهُ اَو قَطَعَ عُضواً مِنهُ

تشريح د نيمئ صَاع څخه کم(لږ)غَنَم پاته سو نو دا خو دي يا خيرات کي او که روژه نيول وغواړي نو د يوې ورځې څخه کَم روژه نه نيول کيږي نو لهٰذا د پوره يوې ورځې روژه به نيسي .

[٧٥٤](٤١) اما مُحمد وفرمائل په بنکار کي جسماني مِثل واجب دئ د کوم شي چې مِثل وي، نو ځکه د وَسَئ په بدله کي وُزه(بُوزه)،او په لږه کي وُزَه، او په سُوئي کي د وُزې مرغُونئ، او په شُتَرمُرغ کي وُښ او په خَنګلي مَږَه کي د وُزې کشنئ مرغُونئ .

تشريح د امام مُحمداوامام شافعي په نږدبنکارجسماني مِثل مُعتبردئ،يعنې کوم پالتو(پالونکئ) حيوان د کوم بنکار برابر وي هغه پالتو(پالونکئ)حيوان به لازميږي، مثلاً د وَسَئ برابر وُزَه(بُوزَه)ده لهٰذا که وَسَئ بنکار کړه نو د هغې په بدله کي به وُزَه لازم سي، د سُوئي برابر د وُزې مرغُونئ دئ نو ځکه که سُوئي بنکار کړئ نو د وُزې مَرغُونئ به لازم سي .

وجه (١) د دوئي دليل دا آيت دئ چې په آيت کې فَجَزَآءٌ مِّثلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ ويلئ دئ، نو ځکه د نَعَم لفظ و دې ته اشاره ده چې د حيوان څخه به د مِثل اعتبار کيږي (٢) په حديث کې دئ عَن جَابِرٍقَالَ قَضيٰ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي الظَّبِي شَاةٌ وَفِي الضَّبُعِ كَبشًا وَفِي الاَرنَبِ عِنَاقًا وَفِي اليَربُوعِ جَفرَةٌ فَقُلتُ لِابنِ الزُّبَيرِ وَمَا الجَفرَةُ قَالَ اَلَّتِي فَطِمَت وَرَعَت (الف) (سنن دارقُطني،كتاب الحج ج٢ص٢١٧نمبر١٢٥٢٧\سنن للبيهقي،باب فدية الضبع ج٥ص٢٩٩ نمبر٩٨٧٩)په دې حديث کې حضور په وَسَئ کي وُزَه لازم کړې ده ددې څخه دا معلوم سو چې په بنکار کي جسماني(بدني)برابري مُعتبره ده، دغه رنګه د نورو بنکاري حيوانانو بدني مثل يې مُعتبر ګڼلئ په دې حديث کې فيصله کړې ده، دا هم معلوم سو چې په کوم بنکار کي به کوم پالتو (پالونکئ) حيوان لازميږي .

لغت : اَلظَّبِيُ : وَسَئ، اَلضَّبُعُ : سَمسَارَه، اَلاَرنَبُ : سُوئي، عِنَاقٌ : د وُزې غټ مَرغُونَئ، اَلنُّعَامَةُ : شُتَرمُرغ، بُدنَةٌ : وُښ، اَليَربُوعُ : د مُوږك په رکم کِشنَئ حيوان، جَفرَةٌ : د وُزې کشنئ مرغُونئ .

[۷۵۵](۴۲) یو چا ښکار زخمي کړئ یا یې دهغه ښښته وَکښَئ یا یې دهغه یو اَندَام پرې کړئ نو دهغه په قیمت کې چې څومره کمي راغلي وي د هغونه به ضَامِن وي .

وجه (۱) ښکار قتل کول ناجائز و نو ځکه که هغه قتل نه کئ بلکه ښښتئ یې ځني وَکښَئ یا یې زَخمي کئ نقصان یې وررساوئ نو چې څومره نقصان ورسېدلئ دئ د هغه قیمت به لازمیږي، مثلاً د ښکار قیمت پنځوس پَونډ(د برطانیې کرنسئ یعني نوټ او سِکّه ده)و او د زخمي کېدو وروسته ځلوښت پَونډ پاته سو نو ګواکه قیمت یې لس پَونډ کم سو نو ځکه پر کمي واقع کونکي(راوستونکي)باندي به لَس(۱۰)پَونډ لازم سي (۲) ددې دلیل دا حدیث دئ

عَن عَائِشَةَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ قَالَ فِي بِيضِ نُعَامٍ كَسَرَهُ رَجُلٌ مُحرِمٌ صِيَامُ يَومٍ

حاشیه : (الف) حضور په وَسَئ (په وَزَلُو) کې د وُزې فیصله وکړه، او په سَمسَاره کې د مَرَه، او په سُوئې کې د وُزې د غَټ مرغُونې او د مُورَك په بدله کې د وُزې د کشني مرغوني فیصله، ما و اِبنِ زُبَیر ته وویل جَفرَة چش دئ ؟ وفرمائل د وُزې کوم بَچې چې شیدې پرې ایښي وي او ځړانده وي .

ضَمِنَ مَانَقَّصَ مِن قِيمَتِهِ [۷۵۶](۴۳) وَاِن نَتَفَ رِيشَ طَائِرٍ اَو قَطَعَ قَوَائِمَ صَيدٍ فَخَرَجَ بِهِ مِن حِيَزِ الاِمتِنَاعِ فَعَلَيهِ قِيمَتُهُ كَامِلَةٌ [۷۵۷](۴۴) وَمَن كَسَرَ بِيضَ صَيدٍ فَعَلَيهِ قِيمَتُهُ [۷۵۸](۴۵) فَاِن خَرَجَ مِنَ البِيضَةِ فَرخٌ مَيِّتٌ فَعَلَيهِ قِيمَتُهُ حَيًّا .

فِي كُلِّ بِيضَةٍ (الف) (دارقطني،کتاب الحج ج۲ص۲۱۹نمبر۲۵۳۷) په دې حدیث کې د شُتَرمُرغ په اَګئ ماتولو کې یوه روژه(روزه)لازم کړې ده، معلوم سو چې و یو ښکار ته نقصان ورورسوي نو د نقصان تاوان(بدله)پر لازمیږي .

[۷۵۶](۴۳) که د یوه مُرغه وَزَر وکښئ یا یې دهغه پښه پرې کړه چې د هغه لکبله دئ د حفاظت د دائرې ځخه وواتئ نو پر داسي کونکي سړي باندي د حیوان پوره قیمت لازمیږي .

تشریح مُحرم د ښکار وَزَر دومره وکښئ چې هغه د انسانانو او حیوانانو ځخه والوزئ دخپل ځان حفاظت نه سي کولائي یا یې د حیوان پَښَه ور ماته کړه چې د هغه لکبله دئ د خپل ځان حفاظت نه سي کولائي نو پر دارنګه کونکي سړي باندي د پوره(جوړ)مَرغَه او پوره(جوړ)حیوان قیمت لازم دئ .

وجه (۱) د وَزَر په کَښَلُو یا د پښې په ماتولو سره ګواکه دئ یې و هلاکت ته ورساوئ نو ګواکه مُحرم دا ښکار هلاك کړئ یا د هغه سبب دئ جوړ سو نو ځکه پوره قیمت به ورکوي (۲) عَن طَارِقٍ اَنَّ اَربَدَ اَوطَاَ ضَبيًا فَفَزَرَ ظَهرَهُ فَاَتَىٰ عُمَرَ فَسَاَلَهُ فَقَالَ عُمَرُ مَا تَرىٰ فَقَالَ جَديًا قَد جَمَعَ المَآءَ وَالشَّجَرَ فَقَالَ عُمَرُ فَذَالِكَ فِيهِ (ب) (سنن للبیهقي، باب فدیة الضَبِّ ج۵ص۳۰۱نمبر۹۸۹۰)په دې اثر کې دئ چې د سَمسَارې شا(ملا)یې ور ماته کړه نو د وُزې مرغُونئ یې پر لازم کړئ ددې مطلب دا سو چې که دا رنګه نقصان وسو چې دئ اُوس د خلګو ځخه ځان نه سي محفوظ کولائي نو پوره قیمت به لازم سي .

لغت : نَتَفَ : وَزَر کَښَل، رِيشٌ : وَزَر، حِيَزِالاِمتِنَاعِ : د حفاظت د ځائ ځخه راوواتئ، یعني په خپله نه سو محفوظ .

[۷۵۷](۴۴) یو چا د ښکار اَګئ ماته کړه نو پر ده باندي د هغه قیمت لازم دئ .

وجه (۱) د ښکار اَګئ د ښکار په درجه کې ده، نو لکه څه رنګه چې د ښکار په هلاکت سره د هغه قیمت لازمیږي نو د هغه د اَګئ په ماتولو کې به هم قیمت لازم سي (۲) عَن كَعبِ بنِ عُجرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَضىٰ فِي بِيضِ نُعَامٍ اَصَابَهُ مُحرِمٌ بِقَدرِ ثَمَنِهِ (ج) (دارقطني،کتاب الحج ج۲ص۲۱۸نمبر۲۵۲۸\ سنن للبیهقي،باب بیض النعامة یصیبها المحرم ج۵ص۳۴۰نمبر۱۰۰۲۱)ددې اثر ځخه معلوم سو چې د اَګئ په ماتولو سره د هغه قیمت لازمیږي .

[۷۵۸](۴۵) بیا که د اَګئ ځخه مړ بچئ(چیچئ)راوواتئ نو پر ده باندي د ژوندي بچي قیمت لازم دئ.

وجه د اَګئ ځخه مَړ بچئ(چیچئ)راوواتئ نو ګمان دغه دئ چې د اَګئ ماتونکي په حرکت ورکولو سره دا بچئ(چیچئ)مَړ دئ، ځکه چې په اَګئ کې عمومًا بچئ(چیچئ)ژوندئ وي، نو ځکه پر اَګئ ماتونکي باندي د ژوندي بچي(چیچي)قیمت لازم دئ .

حاشیه : (الف) حضور د شُتَرمُرغ د اَګئ په باب وفرمائل چې یوه مُحرم سړي ماته کړې وي د هرې اَګئ په بدله کې د یوې ورځې روژه ده (ب) حضرت اَربَد سَمسَاره چَختَار(ترپښو لاندي)کړه او دهغې شا(ملا)یې ورماته کړه بیا حضرت عُمر ته راغلئ او د هغه

څخه پوښتنه وکړه نو حضرت عُمر وفرمائل ستا څه رائ ده ؟ وویل چې د وُزی مرغُونئ چې اُوبَه او وَابنَه خوري، حضرت عُمر وفرمائل ټیك(درست)دئ (ج) حضور د شُتَرمُرغ د اَګئ په باب فیصله وکړه چې مُحرم ماته کړي وه د هغه د قیمت په مقدار .

[۷۵۹](۴۶) وَلَيسَ فِي قَتلِ الغُرَابِ وَالحَدَاَةِ وَالذِّئبِ وَالحَيَّةِ وَالعَقرَبِ وَالفَارَةِ وَالكَلبِ العَقُورِ جَزَآءٌ [۷۶۰](۴۷) وَلَيسَ فِي قَتلِ البَعُوضِ وَالبَرَاغِيثِ وَالقِرَادِ شَيئٌ [۷۶۱](۴۸) وَمَن قَتَلَ قُملَةً تَصَدَّقَ بِمَاشَآءَ .

---

[۷۵۹](۴۶) د کارګه په قتل کولو او د ټپوس او د لېوه او د مَار او د لړم او د مُوږَك او لېونې سپي په قتل کولو کې بدله لازم نه ده .

وجه (۱) دا حیوانان فطرةً پر نورو باندې حمله کونکي دي او تکلیف ورکونکي دي، نو دا خو فِطرةً مُؤذي حیوانان دي لهٰذا د دوئي په قتل کولو کې بدله نه لازمیږي (۲) په حدیث کې دئ عَن عَائِشَةَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ قَالَ خَمسٌ مِنَ الدَّوَابِّ كُلُّهُنَّ فَاسِقٌ يُقتَلنَ فِي الحَرَمِ اَلغُرَابُ وَالحَدَاَةُ وَالعَقرَبُ وَالفَارَةُ وَالكَلبُ العَقُورُ (الف) (بخاري شريف،باب مايقتّ المحرم من الدواب ص۲۴۶نمبر۱۸۲۹\مُسلم شريف،باب ماينبدب للمحرم وغيره قتله من الدواب فِي الحِلِّ والحرم ص۳۸۱نمبر۱۱۹۸)ددې حدیث څخه معلوم سو چې دا حیوانان مُحرم قتل کولائي سي، ځکه چې دا فِطرةً مُؤذي دي .

پام لرنه د اَلكَلبُ العَقُورُ څخه ځنګلي سپئ مُراد دئ، ځکه چې پالتو(پالونکئ)سپئ خو بنکار نه دئ نو ځکه د هغه دقتل کولو څخه بدله نه لازمیږي، په سپي کې ټوله دَرندګان شامل دي ځکه چې هغه هم فِطرةً مُؤذي دي نو ځکه ددې په قتل کولو سره هم بدله نه لازمیږي، قَالَ مَالِكٌ اَلكَلبُ العَقُورُ الَّذِي اُمِرَ المحرِمُ بِقَتلِهِ اَنَّ كُلُّ مَا عَقَرَ النَّاسَ وَ عَدَا عَلَيهِم وَاَخَافَهُم مِثلَ الاَسَدِ وَالنَّمِرِ وَالفَهدِ وَالذِّئبِ فَهُوَالكَلبُ العَقُورُ (سنن للبيهقي، باب ما للمحرم قتله من دَوَابِّ البَرِّ فِي الحِلِّ والحرم ج۶ص۳۴۶نمبر۱۰۰۵۱)

[۷۶۰](۴۷) د مَچّر، او کَیکِي، او د بریځي په قتل کولو(وژلو)کې هیڅ شیئ نه دئ لازم .

وجه (۱) دا ټوله د بنکار شیان نه دي (۲) دا ټوله عادتًا او فطرةً مُؤذي شیان دي نو ځکه ددې په قتل کولو او وژلو سره هیڅ شیئ نه لازمیږي، په اثر کې دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت يَقتُلُ المحرِمُ الهَوَامَ كُلَّهَا اِلاَّ القُملَةَ فَاِنَّهَا مِنهُ (مصنف عبدالرزاق،باب القمل ج۴ص۴۱۳نمبر۸۲۵۹\ص۳۵۰نمبر۱۰۰۶۷)په دې اثر کې دئ چې د سَپَرې څخه علاوه مَچَر بریځي مړي کې نو هیڅ شیئ نه لازمیږي .

لغت : اَلبَعُوضُ : مَچَر، اَلبَرَاغِيثُ : کَیکَه، اَلقَرَادُ : بربځه، دا د کَتِمَل په شان(رکم)خسمان دئ او د حیوانانو پر بدن باندې مُوښَلِي .

[۷۶۱](۴۸) یو چا سَپَرَه مَرَه کړه نو صَدَقَه دي ورکړي چې څومره یې خُوښَه سي .

وجه (۱) سَپَرَه د بَدَن د خِړې څخه پیدا کیږي، او د احرام په حالت کې خِړې صفا کول جواز نه لري نو ځکه ددې څخه پیدا سوي سَپَرې وَژل هم جواز نه لري، او که مړې کړې نو دهغه په بدله کې به صَدَقَه ورکوي، ځکه چې دا دېر کشنئ حیوان دئ (۲) په اثر کې راغلي دي قَالَ مَالِكٌ ... وَلاَ يَقتُلُ قُملَةً وَلاَ يَطرَحُهَا مِن رَاسِهِ اِلىٰ الاَرضِ وَلاَ مِن جِلدِهِ وَلاَ مِن ثَوبِهِ فَاِن طَرَحَهَا المحرِمُ مِن جِلدِهِ اَو مِن ثَوبِهِ فَلیُطعِم حَفنَةً

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل پنځه حیوانان ټوله(پوره پوره)فاسقان دي په حرم کې به هم هغه قتل کیږي، ګارګه، ټپوس، لړم، مُوږك، او لېونئ سپئ .

[۷۶۲](۴۹) وَمَن قَتَلَ جَرَادَةً تَصَدَّقَ بِمَا شَآءَ وَتَمرَةٌ خَيرٌ مِن جَرَادَةٍ (۷۶۳)(۵۰)وَمَن قَتَلَ مَا لاَيُؤكَلُ لَحمُهُ مِنَ السِّبَاعِ وَنَحوِهَا فَعَلَيهِ الجَزَآءُ وَلاَ يَتَجَاوَزُ بِقِيمَتِهَا شَاةً .

مِنَ الطَّعَامِ (الف) (موطا امام مالك باب فدية من حلق قبل ان ينحرص۴۵۰سنن للبيهقي،باب قتل القمل ج۵ص۳۵۰نمبر ۱۰۰۶۷ في قول عبدالله بن عمر)، ددې اثر څخه معلوم سو چې سَپِرَه مړه کې نو څه خُوَراکِي شَيئ دي صَدَقَه کړي، يَو يَو مُټ ډوډئ دي صَدَقَه کړي .

[۷۶۲](۴۹) يو چا مَلَخ مَړ کئ نو چې څومره يې خُوَښَه سي هغونه دي صَدَقَه کړي او يوه خُورمَا تر مَلَخ بهتره ده .

وجه په اثر کې راغلي دي عَن زَيدِ بنِ اَسلَمَ اَنَّ رَجُلاً جَآءَ اِلىٰ عُمَرَبنِ خَطَّابٍ فَقَالَ يَا اَمِيرَ المؤمِنِينَ اِنِّي اَصَبتُ جَرَادَاتٍ بِسَوطِي وَاَنَا مُحرِمٌ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ اَطعِم قَبضَةً مِن طَعَامٍ او په يو بل اثر کې راغلي دي فَقَالَ عُمَرُ اِنَّكَ لَتَجِدُ دَرَاهِمَ لَتَمرَةٌ خَيرٌ مِن جَرَادَةٍ (ب) (موطا امام مالك باب فدية من اصاب شيئا من الجراد وهو محرم ص۴۴۸\سنن للبيهقي،باب ماوردفي جزاء ما دون الحَمَام ج۵ص۳۳۸نمبر۱۰۰۱۲)ددې اثر څخه معلوم سو چې څه ډوډئ د ي خيرات کړي، او يوه خُورمَا د مَلَخ په بدله کې بهتره ده، نو ځکه د مَلَخ په بدله کې که يوه خُورمَا ورکړي نو هم کفايت کوي .

[۷۶۳](۵۰) يو چا داسي حيوان قتل کئ چې دهغه غُوَښَه نه خُورل کيږي يا د څيرونکي حيوان په رکم بل حيوان يې قتل کړئ نو پر قتل کونکي مُحرم باندي بدله لازم ده،لېکن د هغه قيمت دي د وُزې څخه زيات نه سي .

تشريح څيرونکئ حيوان يې قتل کئ چې غُوَښَه نه خورل کيږي يا څيرونکئ حيوان خو نه دئ لېکن غُوَښَه نه ده حلال داسي حيوان يې قتل کئ نو دا خو د بنکار حيوان دئ ځکه ددې بدله به لازميږي، البته ددې خو غُوَښَه نه خورل کيږي ځکه ددې قيمت دي تر وُزَه(بُوزَه)زيات نه لګوي .

وجه په حديث کې دئ چې د غَيرِمَاكُولُ اللَّحم بنکار قيمت يې د وُزې څخه کم ولګاوئ، عَن جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الضَّبُعِ اِذَا اَصَابَهُ المحرِمُ كَبشٌ وَفِي الظَّبِي شَاةٌ وَفِي الاَرنَبِ عِنَاقٌ وَفِي اليَربُوعِ جَفرَةٌ (ج) (دارقطني،كتاب الحج ج۲ص۲۱۷نمبر۲۵۲۴)په دې حديث کې يَربُوع چې د مُورك د نوع څخه يو حيوان دئ او دهغه غُوَښَه نه خورل کيږي د هغه قيمت(بدله)يې دوُزې(بُوزې)مرغُونئ لګولئ دئ، دغه رنګه د سَمسَارې غُوَښَه نه خورل کيږي او دهغه بدله يې مَړ لګولئ دئ، ددې څخه دا معلوم سوه چې د غَيرِمَاكُولُ اللَّحم بنکار بدله لازميږي، او دهغه قيمت دي تر وُزې زيات نه وي .

حاشيه : (الف) حضرت امام مالك وفرمائل ... سَپِرې دي نه قتلوي، او نه دي هغه د سَر څخه پر مځکه باندي يَلَه کوي او نه د خپله بدن څخه، او نه د کپرو څخه، بيا که مُحرم د خپله بدن څخه يا د کپرې څخه يَلَه کړه نو يوه لَپَه ډوډئ بايد ورکړي (ب) زيد بن اسلم فرمائي چې يو سړي عُمربن خطاب ته راغلئ او وويل ائ اميرالمؤمنين ما د احرام په حالت کې په خپله کوړه(غمچينه،لـ بنته)باندي څه مَلَخان وژلي دي، نو حضرت عُمر وفرمائل يو مُټ ډوډئ په يو چا وَخُوَرَوَه، په يو بل اثر کې دئ حضرت عُمر وفرمائل تاسو ډبر درهم لرئ، يوه خُورمَا تر مَلَخ بهتر(بنَه)ده (ج) حضور د سَمسَارې په باب کې وفرمائل چې کله مُحرم دا مړه کړي نو مَړ لازم دئ، او په وَسَئ کې وُزَه(بُوزَه)او په سُوئي کې د بُوزې مرغُونئ او په مُورَك کې د وُزې کشنئ مرغُونئ .

[۷۶۴](۵۱) وَإن صَالَ السَّبُعُ عَلىٰ مُحرِمٍ فَقَتَلَهُ فَلاَ شَيئَ عَلَيهِ [۷۶۵](۵۲) وَإن اِضطَرَّ المحرِمُ اِلىٰ اَكلِ لَحمِ الصَّيدِ فَقَتَلَهُ فَعَلَيهِ الجَزَآءُ [۷۶۶](۵۳) وَلاَ بَاسَ بِاَن يَّذبَحَ المحرِمُ اَلشَّاةَ وَالبَعِيرَ وَالدُّجَاجَ وَالبَطَّ الكَسكَرِيِّ

---

[۷۶۴](۵۱) که څيرونکي حيوان پر مُحرم باندي حمله وکړه او مُحرم هغه قتل کړئ نو پر مُحرم باندي هيڅ شيئ نه دئ لازم .

وجه (۱) لوړ د بخاري شريف حديث تير سو عَن عَائِشَةَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَمسٌ مِّنَ الدَّوَابِّ كُلُّهُنَّ فَاسِقٌ يُقتَلنَ فِي الحَرَمِ (الف) (بخاري شريف،باب يقتل المحرم من الدواب ص۲۴۶نمبر۱۸۲۹مُسلم شريف،نمبر۱۱۹۸)په دې حديث کې دئ چې دا پنځه حيوانان فطرةً مُؤذي دي،نو ځکه دا قتل کولائي سي،نو چې صرف د حملې کولودتَوَهُم په وخت کې قتل جائزدئ نوچې کوم حيوان باقعده پر مُحرم باندي حمله آور سوئ وي نوهغه خوپه طريقة اولې قتل کولائي سي،اوپرقتل کونکي باندي هيڅ شيئ نه لازميږي (۲) په اثرکي راغلي دي عَن عَطَآءٍقَالَ كُلُّ عَدُوٍّعَدَاعَلَيكَ فَاقتُلهُ وَاَنتَ مُحرِمٌ

(ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۳۳۹مايقتل المحرم ج۳ص ۳۳۳نمبر۱۴۸۲۵)په دې اثرکې دئ چې که حيوان پر تا باندې حمله وکې نو ته هغه قتل کولائې سې .

لـغـت : صَالَ : حمله يې وکړه .

[۷۶۵](۵۲) که مُحرم د بنکار غُوښَه خُوړَلُو ته مجبور سو ددې لپاره بنکار قتل کړئ نو پر مُحرم باندې دهغه بدلـه لازم ده .

تـشريـح يو مُحرم د بنکار و غُوښُو خُوړَلُو ته مجبور سو، په دغه وجه ده بنکار قتل کړئ، خو بيـا هـم بنـکار يـې قتل کړئ دئ نو ځکه د هغه بدله به پر ده باندې لازم وي .

وجـه (۱) لوړ تير سو چې په هېره سره وکئ يا يې په قصد سره وکې خو بيـا هـم د جِنَايـت بدلـه لازم ده (۲) فَمَن كَانَ مِنكُم مَرِيضًا اَو بِهِ اَذًي مِّن رَّاسِهِ فَفِديَةٌ مِن صِيَامٍ اَو صَدَقَةٍ اَو نُسُكٍ (ج) (آيت ۱۹۶سورة البقرة۲)په دې آيت کـې دئ چـې کـه د مرض يا د سَر د تکليف په وجه سَر وخروئ نو هم فديه پر لازميږي، ددې څخه دا معلوم سو چـې کـه د مجبـورئ په وجه بنکار قتل کئ بيا هم دهغه بدله پر لازم ده .

[۷۶۶](۵۳) هيڅ د حرج خبره نه ده چې مُحرم وُزَه،غُوا،وُښ،چَرګه،او کَسکَرِي اِيلَئ حلال کړي .

وجـه ځکه چې بنکارقتل کول د آيت په وجه ممنوع دئ او دا حيوانان بنکارنه دي بلکه پالتو (پالونکي)دي نـو ځکـه د احرام په حالت کي ددې په حلالولو کي هيڅ حرج نسته، په اثر کي راغلي دي وَلَمْ يَرَ اِبنُ عَبَّاسٍ وَاَنَسٌ بِالذَّبحِ بَاسًا وَهُوَ غَيرُالصَّيدِ نَحوَ الاِبِلِ وَالغَنَمِ وَالبَقَرِ وَالدُّجَاجِ وَالخَيلِ (د) (بخاري شريف،باب اذا صادالحلال فاهدي للمحرم الصيد ص۲۴۵نمبر۱۸۲۱)

لـغـت : اَلکَسکَرِي : کَسکَر د يوه کلي نوم دئ د بغداد په اطرافو کي دا يَلئ ودغـه تـه منسـوب ده او کَسکَر يَلـئ يـې ورته وويل .

پـا م لـرنـه ځنګلي يَلئ بنکار دئ نو ځکه ددې په حلالېدو سره دَم لازميږي .

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل پنځه حيوانان پوره پوره فاسقان دي دا په حرم کي هم قتـل کـئ (ب) عطـآء وفرمائـل هر دُښمن چـې پـر تاسو باندې حمله وکې هغه قتل کئ که څه هم تاسو مُحرم ياست (ج) د تاسو څخه چې څوك ناجوړه وي يا د هغـه پـه سَر کـې تکليف وي نو د روژې فديه ورکول دئ، يا صَدَقَه ورکول ده يا قُرباني ورکول ده (د) حضرت ابن عباس او حضرت انس په ذبـح کولو(حلالولـو)کې هيڅ حرج نه ګانئ کله چې هغه حيوان د بنکار څخه علاوه وي لکه وُښ،بُوزَه،غُوا،چَرګه او آس .

[۷۶۷](۵۴) وَاِن قَتَـلَ حَمَامًـا مُسَـرَوَلاً اَو ظَبيًـا مُستَانِسًـا فَعَلَيـهِ الجَـزَآءُ [۷۶۸](۵۵) وَاِن ذَبَـحَ المحـرِمُ صَـيدًا فَذَبِيحَتُـهُ مَيتَـةٌ لاَيَحِـلُّ اَكلُهَـا [۷۶۹](۵۶) وَلاَبَاسَ بِاَن يَاكُلَ المحرِمُ لَحمَ صَيدٍاِصطَادَهُ حَلاَلٌ وَذَبَحَهُ

---

[۷۶۷](۵۴) که قتل کړه مُوزَه دار کَوتَرَه،يا خانګي وَسَئ نو پر ده باندې بدله ده .

تـشريـح هغه کَوتَرَه چې پر پښَه يې وَزَر(بنوکي)راختلي وي او په اُلوتلُو کي سُستَه وي هغه مُحرم قتل کـړه نـو د هغه بدله لازميږي، دغه رنګه وَسَئ بنکار دئ لېکن که آموخته کړه او په کور کي ګرزېده بيا هـم مُحـرم هغـه قتـل کړه نو بدله لازميږي .

وجـه دا دواړه حيوانان په اصل خَلقَت کي مُتَوَحّش دي او بنکار دي، لېکن دا کوتره د سُست اُلوتلُو (رفتار)په وجـه خانګي معلوميږي دغه رنګه وَسَئ د آموخته کولو په وجه خانګي معلوميږي، لېکن په اصل خِلقت کي بنکار ده نـو ځکه ددې د وژلو په وجه بدله لازميږي، په اثر کي راغلي دي عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ فِي الحَمَامَةِ شَاةٌ (مصنف عبدالرزاق،باب في الحمام وغيره ج۴ص۴۱۵نمبر۸۲۷۰)او د وَسَئ په باب کي دا اثر دئ عَن عِكرَمَةَ اَنَّ رَجُلاً اَصَابَ ظَبيًا وَهُوَ مُحرِمٌ فَاَتيٰ عَلِيًّا فَسَاَلَهُ فَقَالَ اِهدِ كَبشًا مِنَ الغَنَمِ (مصنف عبدالرزاق، باب الوبر والظبي ج۴ص۴۰۶\۸۲۳۸)په دې اثر کـي دئ چـي د وَسَـئ پـه بدلـه کـي دي وُزَه(بُوزَه)ورکړي .

لـغـــت : حَمَامٌ مُسَرَوَلٌ : سَـرَوَلٌ د سَـرَاوِيلٌ څخـه مُشـتق دئ،پرتـوګ اَغُوسـتَي يعنـي هغـه کـوتره چـې پـر پښـو يـې وَزَر(بنوکي)راختلي(راشني سوي)وي، دا کوتره په اُلوتلُو کي سُست وي او دېر وخت په کور کـي وسـيږي، لـېکن مُتَوَحِش ده او بنکار ده، ظَبيٌ : وَسَئ .

[۷۶۸](۵۵) که مُحرم بښکار حلال کئ نو دهغه ذَبِيحَه مړه(مُرداره)ده، د هغه خوړل و هيڅ چا ته جواز نه لري .
تـشريـح د احرام په وجه مُحرم د بښکار د حلالولو قابل نه دئ نو ځکه که ده ذبـح وکـړه نـو ګواکـه مجوسـي ذبـح کړې ده نو ځکه دده د ذبيحي خوړل نه د مُحرم لپاره جواز لري نه د حلال لپاره .
وجـه په اثـر کـي دئ عَن عَطَآءٍ اَنَّهُ قَالَ لاَ يَحِلُّ اَكلُهُ لاَحَدٍ (مصنف عبدالرزاق،باب الصيد وذبحه ج۴ص۴۳۹ نمبر۸۳۶۱) ددې اثـر ځخه معلوم سو چې که مُحرم بښکار حلال(ذبح)کړي نو د هيڅ چا لپاره جواز نه لري .
فـا ئـد ه امام شافعي فرمائي چې مُحرم بښکار ذبح کړي نو د يو مُحرم لپاره خو حلال نه دئ لـيکن د حـلال لپـاره جائز دئ .
وجـه مُحرم مُسلمان دئ نو ځکه بښکار ذبح کولائي سي نو ځکه دده ذبيحه د غَيرِ مُحـرم پـه رکـم حـلال ده، البتـه د آيت په وجه د يو مُحرم لپاره د هغه خوړل جواز نه لري، نو ځکه د غَيرِمُحرم لپاره جائز دئ .
[۷۶۹](۵۶) هيڅ د حرج خبره نه ده چې مُحرم د هغه بښکار غُوَښَـه وخـوري چـي حـلال بښکار کـړئ وي او هغـه خاص حلال ذبح کړئ وي، په دې شرط چې مُحرم نه وي ذبح کړئ او نه يې د هغه د بښکار کولـو حُکـم ورکـړئ وي .
تـشريـح مُحرم د هغه بښکار غُوَښَه خوړلائي سي چې يو حلال يې بښکار کړئ وي او حلال ذبح کړئ وي پـه دې شرط چې مُحرم نه ذبح کړئ وي او نه مُحرم د هغه د بښکار کولـو حکـم ورکـړئ وي او نـه يـې وبښکار کولـو تـه اشاره کړې وي .
وجـه (۱) بښکار د حلالېدو وروسته بښکار نه سو پاته بلکه غُوَښَه سو، او د مُحرم لپاره غُوَښَه خوړل
اِذَا لَم يَدُلَّ عَلَيهِ المحرِمُ وَلاَ اَمَرَهُ بِصَيدِهِ [۷۷۰](۵۷) وَفِي صَيدِ الحَرَمِ اِذَا ذَبَحَهُ الحَلاَلُ الجَزَآءُ [۷۷۱](۵۸) وَاِن قَطَعَ حَشِيشَ الحَرَمِ اَو شَجَرَةَ الَّتِي لَيسَ بِمَملُوكٍ وَلاَ هُوَ مِمَّا

جائز ده نو ځکه د بښکار غُوَښَه خُوړلائي سي (۲) د ابوقتاده په حديث کي راغلي دي چې هغو ذبح کړئ او غُوَښَـه د حضور په خدمت کي پيش کړه او حضور او اصحابانو هغه وَخُوَرَل، په حـديث کـي دئ عَن عَبدِاللهِ بِنِ اَبِي قَتَادَةَ قَالَ اِنطَلَقَ اَبِي عَامَ الحُدَيبِيَّةَ ... قُلتُ يا رَسُولَ اللهِ اَصَبتُ حِمَارَ وَحشٍ وَعِندِي مِنهُ فَاضِلَةٌ فَقَالَ لِلقَومِ كُلُوا وَهُم مُحرِمُونَ (الف) (بخاري شريف،باب واذا اصادالحلال فاهدي للمحرم الصيد اكله ص۲۴۵نمبر۱۸۲۱\مُسلم شريف،باب تحريم الصيد الماكول البري الخ نمبر۱۱۹۶\۲۸۵۴)پـه دې حديث کي حلال بښکار کړئ و او هغه ذبح کړئ و او غُوَښَه و مُحرم ته ورکړې وه او حضور د هغه خوړل حلال کړئ .
[۷۷۰](۵۷) د حرم په بښکار کي چې کله هغه حلال سړي ذبح کړئ وي نو بدله ده .
تـشريـح په حرم کي دَنَنَه بښکار محفوظ ګرزي په هغه بيا نه مُحرم کار درلودلائي سي نه حـلال سـړئ، نـو ځکـه که حلال سړي د حرم په بښکار کار ودرلودئ نو د هغه بدله پر لازميږي .
وجـه (۱) پـه حـديث کـي دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ يَعضُدُ عَضَاهَا وَلاَ يَنفِرُ صَيدَهَا وَلاَ تَحِلُّ لُقطَتُهَا اِلاَّ لِمُنشِدٍ وَلاَ يَختَلِي خَلاَهَا فَقَالَ عَبَّاسٌ يَا رَسُولَ اللهِ اِلاَّ الاِذخَرَ فَقَالَ اِلاَّ الاِذخَرَ (ب) (بخاري شريف،كيف تعرف لُقطة اهل مكّة ص۳۲۸كتاب اللقطة نمبر۲۴۳۳\مُسلم شريف،باب تحريم مكة وتحريم صيدها ص۴۳۷نمبر۱۳۵۳)په دې حديث کي دئ چې د مَکّي مُکرّمـي بښکار دي نه پسي اخلي(نه اُلوزوي)،نو ځکه که دمکّي بښکار ذبح کړي نو دهغـه بدلـه لازميږي (۲) عَن عَطَآءٍ اَنَّ رَجُلاً اَغلَقَ بَابَهُ عَلَيْ حَمَامَةٍ وَفَرخَيهَا ثُمَّ اِنطَلَقَ اِلَيْ عَرَفَاتٍ وَمِنيْ فَرَجَعَ وَقَد مُوتَت فَاَتَيْ اِبنَ عُمَرَ فَذَكَرَ لَهُ ذَالِكَ فَجَعَلَ عَلَيهِ ثَلاَثًا مِنَ الغَنَمِ وَحَكَمَ مَعَهُ رَجُلٌ (ج) (سنن للبيهقي،باب ماجآء في جزآء الحمام ومافي معناه ج۵ص۳۳۷نمبر۱۰۰۰۷)ددې اثر ځخه معلوم سو چې د مکّـي مُکرّمـي د بښکار کولو ځخه بدله لازميږي .
[۷۷۱](۵۸) که د حرم وَاښَه پرې کړه يا يې د هغه درختـه پرې کړه چې مملوك نه ده او نه داسي دئ چې خلګ يې رَاشَنَه کوي نو پرده باندي د هغه قيمت لازم دئ
وجـه (۱) په مسئله نمبر۵۷کي حديث تيرسو(بخاري شريف،نمبر۲۴۳۳\مُسلم شريف،نمبر۱۳۵۳)په هغه کي دا و وَلاَ يَختَلِي خَلاَهَا يعني د حرم وَاښَه دي نه کَاږَي، ځکه چې ددې درختي او وَاښَه هم د احترام وړ دي، نو ځکه که ددې

درخته يا وَابنَه پري كړه نو د هغه قيمت به لازميږي (۲) په يو بل حديث کي دئ فَلاَ يَحِلُّ لِامرِءٍ يُؤمِنُ بِاللهِ وَاليَومِ الآخِرِ اَن يَّسفِكَ بِهَا دَمًا وَلاَ يَعضُدُ بِهَا

حاشيه : (الف) ما وويل ائ د خدائ رسول ! ما وَحشِي خَر بنكار كړئ دئ او زوما سره څه پاته دئ، حضور وقوم تـه وفرمائـل وَخُورَئ حالانكه دوئي مُحرِمَان و (ب) حضور وفرمائل د حرم اَغزِي دي نه پري كوي، د هغه بنكار دي نه پسي اَخلِي، د هغه لُقطه دي نـه پورتـه كوي مگر د اعلان كولو لپاره، نه دي د هغه وَابنَه كَارِي، حضرت ابن عباس وفرمائل ائ د خدائ رسول ! مگر اِذخَر وَابنَـه نـو حضـور وفرمائل اِذخَر وَابنَه كَبنَلائي سي (ج) حضرت عطآء وفرمائل يوه سړي پـر كَـوتَرَه او د هغـي پـر دوو بَجَـانُو باندي دروازه بنـد كـړه بيـا عرفات او مِنيٰ ته ولاړئ بيا واپس راغلئ نو كَوتَرِي مړي وي، نو عبدالله بن عُمر ته راغلئ او د هغه تـذكره يـي وكـړه نـو حضـرت ابـن عمر پر ده باندي دري وُزي(بُوزى)لازمي كړي او دده سره يوه سړي بل هم دا فيصله وكړه .

يُنبِئُهُ النَّاسُ فَعَلَيهِ قِيمَتُهُ [۷۷۲](۵۹) وَكُلُّ شَيءٍ فَعَلَهُ القَارِنُ مِمَّا ذَكَرنَا اَنَّ فِيهِ عَلَيْ المفرِدِ دَمًا فَعَلَيهِ دَمَانِ دَمٌ لِحَجَّتِهِ وَدَمٌ لِعُمرَتِهِ [۷۷۳](۶۰) اِلاَّ اَن يَّتَجَاوَزَ الميقَاتَ مِن غَيرِ اِحرَامٍ ثُمَّ يُحرِمُ بِالعُمرَةِ وَالحَجِّ فَيَلزِمُهُ دَمٌ وَاحِدٌ

شَجَرَةً (الف) (مُسلم شريف،باب تحريم مكة وتحريم صيدها وخلاهاوشجرهاص۴۳۸نمبر۱۳۵۴)ددي څخـه هـم ددي تائيـدكيږي چـي د مَكّي درختي او وَابنَه دي نه پري كوي (۳) قَالَ الشَّافَعِيُّ مَن قَطَعَ مِن شَجَرِ الحَرَمِ شَيئًا جَزَاهُ حَلالاً كَانَ اَو مُحرِمًا فِي الشَّجَرَةِ الصَّغِيرَةِ شَاةٌ وَفِي الكَبِيرَةِ بَقَرَةٌ ، وَعَن عَطَآءٍ فِي الرَّجُلِ يَقطَعُ مِن شَجَرِ الحَرَمِ قَالَ فِي القَضِيبِ دِرهَمٌ وَفِي الدَّوحَةِ بَقَرَةٌ . يروي هذا عن ابن الزبير وعطآء (ب) (سنن للبيهقي،باب لاينفرصيدالحرم ولايعضدشجرة ولايختلي خلاهاالاالاذخرج۵ص ۳۲۰نمبر۹۹۵۰) ددي اثر څخه معلوم سو چـي كه د حرم لويه(غټه)درخته پري كړه نو غُوَا پر لازميږي او كه غَنَه مَنَه(لَكَرَه)پري كړه نو يو درهم لازميږي .

پـام لـرنـه دا رنگه درخته يا كَښت چي د يو چا په ملكيّت كي وي نو د هغه په پري كولو سره هيڅ شيئ نـه لازميږي، ځكـه چـي دا د بنـده ملكيّت سو، دغـه رنگـه د امـام ابويوسـف رايـه ده چـي د حـرم وَابنَـه(په حيوانـانو باندي)پُووَلائي(خُوَرلائي)سي، دده دليـل دا حـديث دئ عَن عَلِيٍّ فِي قِصَّةِ حَرَمِ المدِينَةِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ... وَلاَ يُصلِحُ لِرَجُلٍ اَن يَّقطَعَ مِنهَا شَجَرَةً اِلاَّ اَن يَّعلَفَ رَجُلٌ بَعِيرَهُ (ج) (سنن للبيهقي،باب جواز الرعي في الحرم ج۵ص۳۳۰نمبر۹۹۸۳)په دي حديث كي دئ چي و حيوان ته د مُټي(خوراك)وركولو لپاره وَابنَه مَابنَه ور كولائي سي .

[۷۷۲](۵۹) هر هغه كار چي قَارِن يي وكي چي موږ ذكر كړو په هغو كي پر مُفرد باندي يـو دَم دئ نـو پـر قَـارَن باندي دوه دَم دي، يو دَم دده د حج لپاره او يو دَم دده د عُمري لپاره .

تـشريـح په كومو كارو كي چي پر مُفرِد بِالحَج باندي يو دَم لازميږي په هغو جِنَايَتو كي به قَارِن دوه دَم وركوي .

وجـه (۱) قَارِن په يوه وخت كي دوه احرام ترلي دي، يو د حج او يو د عُمري، نو ځكه دئ گواكه په يوه وخت كي د دو احرامو بي خُرمتي كوي نو ځكه پر ده باندي دوه دَم لازميږي، يو د حج د احرام لپاره او بل دعُمري د احرام لپاره (۲) په اثركي راغلي دي قَالَ مَالِكٌ وَمَن قَرَنَ الحَجَّ وَالعُمرَةَ ثُمَّ فَاتَهُ الحَجَّ فَعَلَيهِ اَن يَّحُجَّ قَابِلاً وَيَقرِنُ بَينَ الحَجِّ وَالعُمرَةِ وَيَهدِي هَديَينِ هَديًا لِقِرَانِهِ الحَجَّ مَعَ العُمرَةِ وَهَديًا لِمَافَاتَهُ مِنَ الحَجِّ (مؤطاامالك هدي من فاته الحج ص۴۰۶) او پـه مُصنّف ابن ابي شيبة كـي راغلـي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ هَديَانِ (مُصنف ابن ابي شيبة،۱۸مايجب عليه من الهدي اذا جمع بينهما فاحصرج۳ص۱۳۳نمبر۱۲۷۹۶)ددي اثرځخـه معلوم سوچي پرقَارِن باندي دوې هَدِي دي .

[۷۷۳](۶۰) مگر دا چي د ميقات څخه بغير د احرام تير سي بيا د عُمري او حج احرام وتړي نو پر ده باندي يـو دَم لازم دئ .

وجـه په دي صورت كي يو دَم په دي وجه لازم دئ چي دمِيقَات څخه دتېرېدو پر وخت دئ قَارِن نه و، قَارِن خـو وروسته جوړسوئ دئ او وروسته د حج او عُمري احرام ترلئ دئ نو ځكه د مِيقَات څخه بغيـر د احـرام د تېرېـدو به يو دَم لازم سي .

حاشيه : (الف) څوك چي پر الله او پر آخرت باندي ايمان لري د هغه لپاره حلال نه دي چي په حرم كي وِينَه تُوئي كړي او نـه دي د هغـه ځائ درختي پري كوي (ب) امام شافعي وفرمائل كوم چا چي د حرم درخته پري كړه پر هغه باندي د هغه بدله لازم ده كه حـلال وي كـه مُحرم، په كِشنئ درخته كي وُزَه(بُوزَه)او په لويه درخته كي غُوَا، او د حضرت عطآء څخـه روايـت دئ څوك چـي د حـرم درختـه پـري

کړي نو په لَکَرَه(غَنَه مَنَه)کي يو دِرهَم دئ، او په لُويه درخته کي غُوَا ده (ج) د مديني د حرم په سلسله کي د حضرت علي څخه روايت دئ چې د حضور څخه نقل سوئ دئ ... د يو چا لپاره جواز نه لري چې ددې درخته پرې کړي مګر دا چې سړئ خپل وُښ په پُووَلائي(پکښې کتلائي)سي .

[۷۷۴](۶۱) وَإذَا اِشتَرَکَ مُحرِمَانِ فِي قَتلِ صَيدِ الحَرَمِ فَعَلَيْ کُلِّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا اَلجَزَآءُ کَامِلاً [۷۷۵](۶۲) وَإذَا اِشتَرَکَ حَلاَلاَنِ فِي قَتلِ صَيدِ الحَرَمِ فَعَلَيهِمَا جَزَآءٌ وَاحِدٌ [۷۷۶](۶۳) وَإذَا بَاعَ المحرِمُ صَيدًا اَو اِبتَاعَهُ فَالبَيعُ بَاطِلٌ .

---

[۷۷۴](۶۱) که دوه مُحرمان د يوه ښکار په قتل کولو کي شريکان سي نو ددې دواړو څخه پر هر يوه باندې پوره پوره بدله لازم ده .

وجه (۱) دلته خو د احرام د احترام په وجه د ښکار بدله لازميږي او د دواړو احرام دئ او دواړو د خپل خپل احرام بې احترامي کړې ده نو ځکه پر دواړو به جلا جلا پوره پوره دَم لازم سي، که څه هم ښکار يو وي (۲) په مسئله نمبر۳۷ کي حديث تير سو چې که د ښکار و خوا ته اشاره هم وکړه او بل حلال سړي هغه قتل کړئ نو پر مُحرم باندې بدله لازم ده، دلته خو تر اشارې زيات کار يې کړئ دئ د ښکار په قتل کي شريك سوئ دئ نو ځکه په طريقهٔ اَولیٰ به د ښکار بدله لازميږي (۳) په اثر کي راغلي دي قَالَ مَالِكٌ فِي القَومِ يُصِيبُونَ الصَّيدَ جَمِيعًا وَهُم مُحرِمُونَ اَو فِي الحَرَمِ قَالَ اَرَي اَنَّ کُلَّ اِنسَانٍ مِنهُم جَزَآءٌ اِن حُکِمَ عَلَيهِم بِالهَدَيِ فَعَلَيْ کُلِّ اِنسَانٍ مِنهُم هَدَيٌ (الف) (موطا امام مالك باب جامع الفدية ص۲۵۲)ددې اثر څخه معلوم سو چې پر هر مُحرم باندې جلا جلا د ښکار بدله لازميږي .

[۷۷۵](۶۲) که دوه حلال د حرم د ښکار په قتل کي شريکان سو نو پر دواړو باندې يوه بدله ده .

وجه دلته دواړه حلال دي نو ځکه د احرام په وجه بدله نسته بلکه د حرم د احترام په وجه د ښکار بدله لازم ده، ځکه چې مَحل يو دئ نو ځکه پر دواړو حلال باندې به د يوه ښکار بدله لازم سي او پر دواړو به نيمئ نيمئ بدله لازم سي .

اصول چې مَحَل يو وي نو يوه بدله لازميږي .

[۷۷۶](۶۳) که مُحرم ښکار خرڅ کړئ يا يې واخستئ نو بيع باطل ده .

وجه (۱) د احرام په وجه مُحرم د ښکار مالك نه دئ جوړ سوئ او نه جوړېدائي سي نو ځکه دده اَخَستَل يا خَرخَوَل باطل دي (۲) په حديث کي ودې ته اشاره سوې ده عَنِ الصَّعبِ بنِ جُثَامَةَ اللَّيثِيِّ اَنَّهُ اَهدیٰ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ حِمَارًا وَحشِيًّا وَهُوَ بِالاَبوَآءِ اَو بِوَدَّانَ فَرَدَّهُ عَلَيهِ فَلَمَّا رَايٰ مَا فِي وَجهِهِ قَالَ اَنَا لَم نَرُدُّهُ عَلَيكَ اِلاَّ اَنَا حَرَمٌ (ب) (بخاري شريف،باب اذا اهدي للمحرم حمرا وحشياحيًّا لم يقبل ص۲۴۶نمبر۱۸۲۵)په دې حديث کي دئ چې و حضور ته زُوَندَئ وَحشِي خَر په هديه کي ورکول سو نو حضور صرف په دې وجه نه کئ قبول چې حضور مُحرم و، ددې څخه اِشَارةً دا معلوميږي چې مُحرم د ښکار مالك نه سي جوړېدلائي، نو ځکه دئ نه خَرخَوَلائي سي نه اَخَستلائي سي (۳) چې په هَديَه کي واخلي هم يې مالك جوړيږي او په اَخَستلُو سره هم مالك جوړيږي چې کله په هديه کي قبول کړئ مالك يې نه سو جوړ نو قيمتًا په اَخَستلُو سره هم مالك نه سي جوړېدلائي .

حاشيه : (الف) حضرت امام مالك وفرمائل ټول قوم پر ښکار باندې حمله وکړه او هغه مُحرمان و يا ښکار په حرم کي و نو وفرمائل زوما دا خيال دئ چې پر هر يوه باندې بدله لازم ده، که پر دوئي باندې د هَدِي فيصله وسئ نو پر هر يوه باندې وُزَه(بُوزَه)لازميږي (ب) د صعب بن جُثامه څخه روايت دئ چې هغو و حضور ته وَحشِي خَر په مقام ابوآء يا مقام وَدَان کي هَديَةً ورکړئ نو حضور هغه بېرته ورکړئ، بيا چې دده پر مَخ باندې د غمګينئ آثار وليدل نو حضور وفرمائل چې دا مو پر تا نه دئ واپس کړئ مګر دا چې زه مُحرم يم .

(بَابُ الإحصَارِ)

[۷۷۷](۱) إذَا أُحصِرَ المحرِمُ بِعَدُوٍّ اَو اَصَابَهُ مَرَضٌ يَمنَعُهُ مِنَ المَضِي جَازَ لَهُ اَلتَّحَلُّلَ

(بَابُ الإحصَارِ)

ضرورې پام لرنه اِحصَارٌ د حج يا د عُمرې څخه و منع کېدو ته ويل کيږي، ددې دليل دا آيت دئ (۱) وَاَتِمُّوا اَلحَجَّ وَالعُمرَةَ للهِ فَاِن اُحصِرتُم فَمَا اِستَيسَرَ مِنَ الهَدیِ وَلاَ تَحلِقُوا رُؤُسَكُم حَتّيٰ يَبلُغَ الهَدیُ مَحِلَّهُ (الف) (آيت ۱۹۶ سورة البقرة۲)ددې آيت څخه

معلوم سو چي اِحصَار وسي نو هَدِي دي بَيتُ الله ته واستوي او ځان دي حلال کړي (۲) د اِحصَار د واقعي دليل دا حديث دئ فَقَالَ اِبنُ عَبَّاسٍ قَد اُحصِرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَحَلَقَ رَاسَهُ وَجَامَعَ نِسَائَهُ وَنَحَرَ هَديَهُ حَتّيٰ اِعتَمَرَ عَامًا قَابِلاً (ب) (بخاري شريف،باب اذا احصرالمعتمر ص۲۴۳ نمبر ۱۸۰۹) ددي حديث څخه ثابت سو چي په عُمره کي احصار کېدلائي سي، ځکه چي حضور د صُلحِ حُدَيبيّه پر موقع باندي کُفّارقُريش منع کړئ و او د عُمري څخه احصار راغلئ و .

[۷۷۷](۱) چي مُحرم د دُښمن په وجه مُحصِر سي يا يوه ناجوړي(ناروغي)ورته راسي چي دئ د مختـه تَلُو څخه منع کړي نو جائز دئ دده لپاره حلالېدل، او ده ته به ويل کيږي چي وُژَه(بُوژَه)واستوه چي په حرم کي حلال سي .

تشريح اِحصَار د دُښمن په وجه هم کېدلائي سي او د ناجوړئ په وجه هم کېدلائي سي، بهرحال چي په هر وجه د حج اعمال يا د عُمري اعمال نه کړي ادآء نو دا اِحصَار دئ، نو اُوس ددي لپاره دادئ چي بُوژَه دي حرم شريف ته واستوي چي هلته حلال سي،يا و يو ټُلونکي ته دي وُژَه(بُوژَه)ورکړي او په يو مُتعيّن ورځ دي د حلالېدو وعده ځني واخلي او په هغه ورځ د ي مُحصِر ځان حلال کړي .

وجه لکه څه رنګه چي د دُښمن څخه اِحصَار کيږي دغه رنګه د ناجوړئ(ناروغئ)په وجه هم اِحصَار کېدلائي سي، ددي دليل دا حديث دئ سَمِعتُ الحَجَّاجَ بِنِ عَمرٍو الاَنصَارِيَّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن كُسِرَ اَو عُرِجَ فَقَد حَلَّ وَعَلَيهِ الحَجُّ مِن قَابِلٍ قَالَ عِكرَمَةُ فَسَاَلتُ اِبنَ عَبَّاسٍ وَاَبَاهُرَيرَةَ عَن ذَالِكَ فَقَالاَ صَدَقَ وَفِي رِوَايَةٍ آخَرَ اَو مَرِضَ (ج) (ابوداؤدشريف،باب الاحصارص۲۶۴نمبر۱۸۶۲\ترمذي شريف،باب ماجآء في الذي يهل بالحج فيكسر او يعرج ص۱۸۷نمبر۹۴۰)ددي حديث څخه معلوم سو چي صرف د دُښمن په وجه نه بلکه د ناروغئ او د پښي د ماتېدو په وجه هم اِحصَار کېدلائي سي .

فائده د امام شافعي په نېز صرف د دُښمن په وجه اِحصَار کېدلائي سي، دده دليل د عُمري او صُلحِ حُدَيبِيي واقعه ده چي په هغه کي صرف د دُښمن کُفار مَکّي په وجه اِحصَار راغلئ و (۲) عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ لاَ حَصرَ اِلاَّ حَصرَ العَدُوِّ (د) (سنن للبيهقي،باب من لم ير الاحلال بالاحصار بالمرض ج۵ص۲۱۹)ددي اثر څخه معلوم سو چي

حاشيه : (الف) حج او عُمره پوره کئ، بيا که تاسو منع کړئ شوئ نو چي کوم هَدِي اسان وي، او د سَر حلق مه کوئ تر هغو چي هَدِي تر خپله ځائ پوري ورسيږي (ب) ابن عباس وفرمائل حضور پي اِحصَار کړئ نو حضور خپل سَر وَخَرَوَئ،او د خپلي بي بي سره نزديکت وکئ او د هَدِي نَحَر يي وکئ تردي چي راروان کال کي عُمره وکړه (ج) حضور وفرمائل د کوم چا چي څه مات سو يا کُوَدِ سو نو حلال دي سي او پر ده باندي راروان کال کي حج لازم دئ، حضرت عکرمه وفرمائل ما د ابن عباس او حضرت ابوهريره څخه پوښتنه وکړه نو وفرمائل چي رِشتِيَا(صحيح)يي فرمائل دي (د) ابن عباس وفرمائل حَصَر نه دئ مګر د دُښمن لخوا حَصَر کېدلائي سي . وَقِيلَ لَهُ اِبعَث شَاةً تُذبَحُ فِي الحَرَمِ .

صرف د دُښمن لخوا اِحصَار کېدلائي سي، چي وُژَه(بُوژَه)په حرم کي حلال سي بيا دي احرام خلاص کړي ددي دليل دا آيت دئ فَاِن اُحصِرتُم فَمَا اِستَيسَرَ مِنَ الهَدي وَلاَ تَحلِقُوا رُؤُسَكُم حَتّيٰ يَبلُغَ الهَديُ مَحِلَّهُ (آيت۱۹۶سورة البقرة۲)په دي آيت کي ويل سوئ دي چي تر څو پوري چي هَدِي تر خپل ځائ يعني حرم پوري نه ورسيږي خپل سَر مه خَرَوَئ، د هَدِي ځائ حرم دئ ددي دليل دا آيت دئ (۱) وَمَن قَتَلَهُ مِنكُم مُتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحكُمُ بِهِ ذَوَا عَدلٍ مِّنكُم هَديًا بَالِغَ الكَعبَةِ (الف) (آيت ۹۵سورة المائدة۵)ددي آيت څخه معلوم سو چي هَدِي دي تر حَرَم ورسيږي او هلته دي ذَبح(حلال)سي، نو ځکه د اِحصَار هَدِي دي هم تر حَرَم ورسيږي او هلته دي حلال سي (۲) په حديث کي دئ يُحَدِّثُ اَبِي مَيمُونَ بِنِ مَهرَانَ قَالَ حَرَجتُ مُعتَمِرًا ... فَاَتَيتُ اِبنَ عَبَّاسٍ فَسَاَلتُهُ فَقَالَ اَبدِلِ الهَديَ فَاِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ اَصحَابَهُ اَن يُبَدِّلِ الهَديَ الَّذِي نَحَرُوا عَامَ الحُدَيبِيَّةِ فِي عُمرَةِ القَضَآءِ (ب) (ابوداؤدشريف،باب الاحصارص۲۶۴نمبر۱۸۶۴)په دي حديث کي دئ چي اصحابانو چي په صُلحِ حُديبيّه کي کومي قُربانئ حلال کړي وي و هغو ته دوباره د قُربانئ حکم ورکړئ، ځکه چي هغه قُربانئ نه وي ادآء سوي، نو ځکه د احنافو په نېز به د اِحصَار هَدِي خاص په حرم کي ذبح کوي (۳) عَن اِبنِ مَسعُودٍ فِي الَّذِي لَدَغَ وَهُوَ مُحرِمٌ بالعُمرَةِ فَاُحصِرَ فَقَالَ عَبدُاللهِ اِبعَثُوا بِالهَدي وَاِجعَلُوا بَينَكُم وَبَينَهُ يَومَ اَمَارٌ فَاِذَا ذُبِحَ الهَديُ بِمَكَّةَ حَلَّ هٰذَا قَالَ اَبُوعُبَيدُ قَالَ الكَسَائِيُّ اَلاَمَارُ اَلعَلاَمَةُ (ج) (سنن للبيهقي،باب من راي الاحلال بالاحصاربالمرض ج۵ص۳۶۱نمبر۱۰۱۰۱)ددي اثر څخه

معلوم سو چي و مَکّه ته تلُونکي سړي ته دي هَدِي ورکړي او د يوخاص ورځي وعده دي ورسره وکړي او په هغه ورځ دي حلال سي .

فـائـده د امام شافعي په نېز دادئ چي په کوم ځائ کي چي مُحصِر سوئ دئ په هغه ځائ کي دي هَدِي ذَبح(حلال)کړي، و حرم ته د استولو ضرورت نسته، دده دليل دا حديث دئ وَقَالَ مَالِكٌ وَغَيْرُهُ يَنحَرُ هَديَهُ وَيَحلِقُ فِي اَيّ مَوضِعٍ كَانَ وَلاَقَضآءَ عَلَيهِ لاَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَاَصحَابَهُ بِالحُدَيبِيَّةِ نَحَرُوا وَحَلَقُوا مِن كُلِّ شَيءٍ قَبلَ الطَّوَافِ وَقَبلَ اَن يَّصِلَ الهَديُ اِلىٰ البَيتِ ثُمَّ لَم يَذكُر اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ اَحَدًا اَن يَّقضِيَ شَيئًا وَلاَ يَعُودُوا لَهُ وَالحُدَيبِيَّةُ خَارِجٌ مِنَ الحَرَمِ (د) (بخاري شريف،باب من قال ليس علي المحصربدل ص۲۴۴نمبر۱۸۱۳)ددي اثر څخه معلوم سو چي په کوم ځائ کي چي مُحصِر سوئ دئ په هغه ځائ کي به هَدِي ذَبَح کوي، ځکه چي صحابه او حضور په حُديبيّه کي هَدِي ذبح کړي وې او حُديبيّه په حرم کي نه ده، ددي څخه معلوم سو چي د اِحصَار هَدِي د حرم څخه علاوه بل ځائ هم ذَبح کولائي سي .

حاشيه : (الف) او څوك چې ستاسو څخه په قصد سره بنكار وكړي نو د هغه بدله دهغه مثل ده چې قتل كړئ وي د حيوان څخه ددي فيصله دي وكي دوه انصاف داره كسان هَدِي چې كعبه ته رسېدونكي وي (ب) ابي ميمون بن مهران بيان كوي چې زه د عُمري لپاره راووتم ... نو ابن عباس ته راغلم او د هغه څخه مو پوښتنه وكړه، هغو وفرمائل هَدِي بَدَلَه كړه ځكه چې حضور وخپلو صحابه و ته حكم وركړئ و چې هغه دي هَدِي بَدَلَه كړي كوم چې نَحَر يې كړئ و د حُديبيّې په كال په عُمرةُ القضآء كي، يعني دوباره يې هَدِي ذَبح كړي (ج) عبدالرحمٰن بن يزيد و فرمائل زمونږ سره يوه سړي د عُمري احرام وتاړئ، بيا هغه لَږم وخُوارَئ، نو څه شې سَوَارَان بنكاره سو په هغو كي عبدالله بن مسعود و د هغه څخه خلكو پوښتنه وكړه نو هغو وفرمائل، هَدِي واستوئ او ستاسو او د دوئي په منځ كي يوه ورځ مُتعيّن كړئ، بيا چې كله هغه ورځ تېر سي نو حلال سئ (د) امام مالك او د هغه څخه علاوه(نورو)وفرمائل هَدِي د ي نَحر كړي او كوم ځائ چې خُوښَه سي حَلق دي وكي او پر دغه مُحصِر باندي قضآء نسته، ځكه چې حضور او دهغه اصحابانو په حُدَيبيّه كي نَحر وكئ او د هر شي څخه حلال سو د طواف څخه مخكي، او و بَيتُ الله ته د هَدِي تر رسېدو مخكي، بيا چا ذِكر نه دئ كړئ چې حضور دي و يو چا ته د څه قضآء كولو حُكم وركړئ وي، او نه د هغه د قضآء كولو لپاره واپس سوي وي، او حُديبيّه د حرم څخه دباندي ده .

[۷۷۸](۲) وَوَاعَدَ مَن يَّحمِلُهَا يَومًا بِعَينِهِ يَذبَحُهَا فِيهِ ثُمَّ تَحَلَّلَ [۷۷۹](۳) فَاِن كَانَ قَارِنًا بَعَثَ دَمَينِ [۷۸۰](۴) وَلاَ يَجُوزُ ذَبحُ دَمِ الاِحصَارِ اِلاَّ فِي الحَرَمِ [۷۸۱](۵) وَيَجُوزُ ذَبحُهُ قَبلَ يَومِ النَّحرِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَقَالاَ لاَ يَجُوزُ الذَّبحُ لِلمُحصِرِ اِلاَّ فِي يَومِ النَّحرِ

[۷۷۸](۲) او وعده دي په وكي په هغه سړي چي وُزَه بُوزي د يوې معلوم ورځي چي په هغه كي بُوزَه حلال كړي بيا دي مُحصِر حلال سي .

تـشريـح مُحصِر دي د بل چا سره بُوزَه حرم ته واستوي او په هغه دي وعده وكي چي په كوم ورځ دا بُوزَه په حرم كي حلالو ي په هغه ورځ دي دئ حلال سي، ځكه چي د بُوزې د حلالېدو څخه مخكي خپل ځان حلالول د احنافو په نېز جواز نه لري .

وجـه (۱) ځكه چي په آيت كي راغلي دي وَلاَ تَحلِقُوا رُؤُسَكُم حَتّٰي يَبلُغَ الهَديُ مَحِلَّهُ (آيت ۱۹۶سورة البقرة۲)په دې آيت كي دئ چي تر څو چي بُوزَه حلال سوې نه وي سَر مه خَرَوئ (۲) په حديث كي دئ چي حضور اوّل د هَدِي نَحَر وكئ بيا يي حَلق وكئ عَنِ المِسوَرِ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ نَحَرَ قَبلَ اَن يَّحلِقَ وَاَمَرَ اَصحَابَهُ بِذَالِكَ (الف) (بخاري شريف،باب النحر قبل الحلق في الحصرص۲۴۳نمبر۱۸۱۱)په دې حديث كي حضور وفرمائل چي اوّل د هَدِي نَحَر وكئ بيا سَر وَخَرَوئ، نو ځكه د احنافو په نېز دي اوّل نَحَر وكي بيا د ي حلق وكي (۳) لور د عبدالله بن مسعود اَثَر تېرسوئ دئ په هغه كي دا و چي د كوم چا سره چي هَدِي واستوي د هغه څخه دي ديوې معلوم ورځي وعده واخلي، او په هغه ورځ دي مُحصِر حلال سي (سنن للبيهقي،نمبر۱۰۱۰۱)

[۷۷۹](۳) بيا كه مُحصِر قَارِن وي نو دُوَه دَم دي واستوي .

وجـه قَارِن دوه احرام تړلي وي، يو احرام د حج او يو احرام د عُمرې نو ځكه د دوو احرامو څخه د حلالېدو لپاره به دُوَه دَم استوي، قَالَ مَالِكٌ وَمَن قَرَنَ الحَجَّ وَالعُمرَةَ ثُمَّ فَاتَهُ الحَجَّ فَعَلَيهِ اَن يَّحُجَّ قَابِلاً وَيَقرِنُ بَينَ الحَجِّ وَالعُمرَةِ وَيَهدِي هَديَينِ هَديًا لِقِرَانِهِ الحَجَّ مَعَ العُمرَةِ وَهَديًا لِمَا فَاتَهُ مِنَ الحَجِّ (مؤطاامام مالك،باب هدي من فاته ص۴۰۶) په يو بل اَثَر كي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ هَديَانِ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۸مايجب عليه من الهدي اذاجمع بينهما فاحصر،باب الاحصار ص۵۹ ج۳ ص۱۱۳نمبر۱۲۷۹۶) په دې اثر كي دئ چي قَارِن مُحصر سي نو دوه دَم پر لازم دي .

[۷۸۰](۴) او نه دئ جائز د اِحصَار دَم حلالول مگر په حرم كي .

تـشريـح د اِحصَار دَم دي په حرم کي ذبح کړي، که ددې څخه علاوه په بل ځائ کي ذبح کړي نو نه حلاليږي .
وجـه لوړ آيت او حديث دواړه تير سو، وَلاَ تَحلِقُوا رُؤُسَكُم حَتّيٰ يَبلُغَ الهَديُ مَحِلَّهُ (آيت ١٩٦سورة البقرة٢)
[٧٨١](٥) او جائز دئ د اِحصَار هَدِي حلالول د يَومُ النَّحر څخه مخکي د ابوحنيفه په نيز او صاحبينو وفرمائل د حج د مُحصِر هَدِي ذبح کول جواز نه لري مګر په لسمه د ذي الحجي .

حاشيه : (الف) حضور د حلق څخه مخکي نَحر وکئ او اصحابانو ته هم ددې حُکم وکئ (ب) حضرت ابراهيم وفرمائل پر قَارن باندې دوي هَدِي لازم دي .

[٧٨٢](٦) وَيَجُوزُ لِلمُحصِرِ بِالعُمرَةِ اَن يَّذبَحَ مَتيٰ شَآءَ [٧٨٣](٧) وَالمحصِرُ بِالحَجِّ

تـشريـح د حج په احرام کي مُحصر سو نـو د لسمي ذي الحجي څخه مخکي هم هَدِي حلالـولائي سي د امام ابوحنيفه په نيز او صاحبين فرمائي چي که د حج په احرام کي مُحصر سو نو د لسمي ذي الحجي څه مخکي هَدِي نه سي حلالولائي .
وجـه د ابوحنيفه دليل دادئ چي دا يو قسم د کفاري دَم دئ، پـه دغـه وجـه ددي غُوَښَـه خُـوَرَل(دده لپـاره)جواز نـه لري، او د کفاري دَم د حرم سره خو خاص دئ لېکن د يو خاص ورځي سره نه دئ خـاص، نـو ځکـه د لسمي ذي الحجي سره به نه وي خاص، او د صاحبينو دليل دادئ چي لکه څه رنګه چي دَم د قِرَان او دَم د تَمَتُّع د لسمي ذي الحجي سره خاص دئ چي ددې څخه مخکي ددې حلالول جواز نه لري دغه رنګه د حج دَمِ اِحصَار به هم د لسمي ذي الحجي سره خاص وي چي ددې څخه مخکي د ددې ذبح کول جواز نه لري .
[٧٨٢](٦) او د عُمرې د مُحصِر لپاره جائز دئ چي هَدِي ذبح کړي چي کله غُوَښَه سي .
وجـه (١) عُمره په هر وخت کي کېدلائي سي نو ځکه که د عُمـرې احصـار وسـي نـو د هغـه هَـدِي چـي هـر کلـه غُوَښَه سي حلالولائي سي، د لسمي ذي الحجي سره نه ده خاص (٢) حضور او اصحابان د صُلح حُديبِيّي پر موقع باندي مُحصِر سول نو پـه هغـه وخـت يـې هَدِي ذبـح کـړي او دا اِحصَـار پـه ذي قعـده کـي و (بُخَارِي شريف،بَابٌ كَم اِعتَمَرَالنَّبِيُّ،نمبر١٧٧٨)
[٧٨٣](٧) د حج مُحصِر که حلال سو نو پر ده باندي حج دئ او عُمره ده .
تـشريـح د حج احرام يې ترلئ و او اِحصَار سو نو د حج د اِحصَار وروسته دي عُمره وکي او که عُمره ونه کړه نو آئينده دي عُمره وکي او د حج په بدله کي دي د حج قضآء وکي، نو ګواکه د حـج مُحصِـر بـه حـج هـم کـوي او عُمره به هم کوي .
وجـه (١) قَالَ مَالِكٌ وَقَد اَمَرَ بِنُ الخَطَّابِ اَبَا اَيُّوبَ الاَنصَارِيِّ وَهَبَارَ بِنِ الاَسوَدِ حِينَ فَاتَهُمَا الحَجَّ وَاَتَيَا يَومُ النَّحرِ اَن يُحِلاَّ بِعُمرَةٍ ثُمَّ يَرجِعَانِ حَـلاَلاً ثُمَّ يَحُجَّـانِ عَامًـا قَـابِلاً وَيَهـدِيَانِ فَمَـن لَمَ يَجِـد فَصِـيَامُ ثَلٰثَـةِ اَيَّامٍ فِي الحَـجِّ وَسَبعَةٍ اِذَا رَجَـعَ اِلَيٰ اَهلِـهِ (مؤطاامـام مالـك،باب ماجـآء فـيمن احصربغيرعدوٍّ ص٧٣٩)ددې اثر څخه معلوم سو چي حج فوت سي او مُحصر په مکه مکرمه کي وي او عُمـره کـولائي سي نو عُمره دي وکي ځان دي حلال کي او آئينـده کـال دي د حـج قضـآء وکـي، د عُمـرې د قضـآء کولـو دليـل دا حديث دئ (٢) عَن عَائِشَةَ قَالَت خَرَجنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ... اَرسَلَنِي النَّبِيُّ مَعَ عَبدِالرَّحمٰنِ بنِ اَبِي بَكرٍ اِلَيٰ التَّنعِيمِ فَاعتَمَرتُ فَقَالَ هٰذِهِ مَكَانُ عُمرَتِكِ (الف) (بخاري شريف،باب كيف تفعل الحائض والنفسآء ص٢١١نمبر١٥٥٦)ددې حديث څخه معلوم سـو چـي کـه عُمره پاته سي نو قضآء به کوي (٣) پـه حـديث کـي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن وَقَفَ بِعَرَفَاتَ بِلَيلٍ فَقَد اَدرَكَ الحَجَّ وَمَن فَاتَهُ عَرَفَاتَ بِلَيلٍ فَقَد فَاتَهُ الحَجَّ فَليُحِل بِعُمرَةٍ وَعَلَيهِ الحَجُّ مِن قَابِلٍ (ب) (دارقُطني،كتاب الحج ج٢ص٢١٢ نمبر ٢٤٩٦\ سنن للبيهقي،باب مايفعل

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمائي چي زه د حضور سره راووتم ... زَه حضور د عبدالرحمٰن سره تنعيم تـه واستولم، نـو مـا عُمـره وکړه، بيا حضور وفرمائل دغه سنا د عُمرې ځائ دئ (ب) حضور وفرمائل څوک چي په عرفات کي په شپه کي درېدلئ وي نـو حـج يـې

وموندئ، او د کوم چا څخه چې تر شپې پوري عرفات فوت سي نو د هغه څخه حج فوت سو، نو حکه عُمره دي وکي حلال دي سي او پر ده باندي په راروان کال کي حج لازم دئ .

اِذَا تَحَلَّلَ عَلَيهِ حَجَّةٌ وَعُمرَةٌ [۷۸۴](۸) وَعَلَيْ المحصِرِ بِالعُمرَةِ اَلقَضَآءُ .

من فاته الحج ج۵ص۲۸۴نمبر۹۸۲۰)ددي حديث څخه معلوم سو چې که حج څُني فوت سي نو عُمره دي وکي څان د ي حلال کي او په راروان کال کي دي حج وکي .

فـائـده د امام مالك په نېز که حج فرض و نو دهغه قضآء سته که نه نو قضآء يې نسته، دده دليل دا اثر دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اِنَّمَا اَلبَدَلُ عَلَيْ مَن نَقَصَ حَجَّهُ بِالتَّلَذُّذِ فَاَمَّا مَن حَبَسَهُ عُذرٌ اَو غَيرُ ذَالِكَ فَاِنَّهُ يَحِلُّ وَلاَ يَرجِعُ وَاِذَا كَانَ مَعَهُ هَديٌ وَهُوَ مُحَصَّرٌ نَحَرَهُ اِن كَانَ لاَ يَستَطِيعُ اَن يَّبعَثَ بِهِ، وَاِن اِستَطَاعَ اَن يَّبعَثَ بِهِ لَم يُحِلَّ حَتّيْ يَبلُغَ الهَديُ مَحِلَّهُ، وَقَالَ مَالِكٌ وَغَيرُهُ يَنحَرُهُ هَديَهُ وَيَحلِقُ فِي اَيّ مَوضِعٍ كَانَ وَلاَ قَضَآءَ عَلَيهِ لاَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَاَصحَابَهُ بِالحُدَيبِيَّةِ نَحَرُوا وَحَلَقُوا وَحَلُّوا مِن شَيءٍ قَبلَ الطَّوَافِ وَقَبلَ اَن يَّصِلَ الهَديُ اِليْ البَيتِ ثُمَّ لَم يَذكُر اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ اَحَدًا اَن يَّقضُوا شَيئًا وَلاَ يَعُودُوا لَهُ وَالحُدَيبِيَّةُ خَارِجٌ مِّنَ الحَرَمِ (الف) (بخاري شريف،باب من قال ليس علي المحصربدل ص۲۴۳ نمبر ۱۸۱۳) په دي اثر کي دئ چې حضور د صُلحِ حُديبِيّي پر موقع باندي عُمره پرې ښُوه او وروسته د قضآء کولو حُکم نه کړئ ور، او دِپر اصحابان دارنګه و چې په راروان کال کي عُمرې ته نه راغلو، ددي مطلب داسو چې د عُمرې قضآء واجب نه وه، نو حُکه خوهغو يي قضآء ونه کړه .

پـام لـرنـه په فرض حج کي چې اِحصَار وسي نو بالاتفاق دهغه قضآء لازم ده .

[۷۸۴](۸) او د عُمرې پر مُحصِر باندي قضآء لازم ده .

وجـه په مسئله نمبر۷ کي د حضرت عائشي حديث تير سو په هغه کي دا و عَن عَائِشَةَ زَوجِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَت خَرَجنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ ... اَرسَلَنِي النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَعَ عَبدِالرَّحمٰنِ بنِ اَبِي بَكرٍ اِليْ التَّنعِيمِ فَاعتَمَرتُ فَقَالَ هٰذِهِ مَكَانُ عُمرَتِكِ (ب) (بخاري شريف،باب كيف تفعل الحائض والنفسآء ص۲۱۱نمبر ۱۵۵۶)ددي حديث څخه معلوم سو چې عُمره پاته سي نو عُمره که څه هم نفل وي لېکن د احرام تړلو وروسته واجب ګرزي، نو حُکه د هغه قضآء به کوي، حُکه چې حضرت عائشي عُمره پرې اېښې وه نو حضور عُمره په وکړه او وفرمائل دا دهغه عُمرې په بدله کي ده .

فـائـده د امامِ مالك مسلك او دهغه دلائل لوړ په مسئله نمبر۷ کي تير سو چې د فرض حج څخه علاوه دبل حج قضآء نسته. (بخاري شريف،نمبر۱۸۱۳)

حاشيه : (الف) حضرت ابن عباس وفرمائل بَدَل پر هغه باندي سته چا چې د لَذّت(خُوَند)اخستلو لپاره حج مات کړئ وي بهر حال کوم سړئ چې عُذر منع کړئ يا ددي څخه علاوه وي او حلال سي او واپس را نه سي، او که دده سره هَدِي وي او مُحصِر سي نو هغه دي نَحَر کړي که هغه تر حرم پوري نه سي استولائي، او که استولائي سي نو نه دي حلاليږي تر دي چې هَدِي تر خپل ځائ پوري ورسيږي، او حضرت امامِ مالك او د هغه څخه علاوه(نورو)وفرمائل هَدِي دي نَحَر کړي او چيرې چې خُوَښَه سي حَلق دي وکي او پر ده باندي قضآء نسته، حُکه چې حضور او دده اصحابانو په حُديبيه کي نَحَر وکئ او حلق يې وکئ او د طواف څخه مخکي د هر شي څخه حلال سول، او و بَيتُ الله ته د هَدِي تر رسېدو مخکي حلال سول، بيا چا ذکر نه دئ کړئ چې حضور دي ويو چا ته د څه قضآء کولو حُکم ورکړئ وي او نه د قضآء لپاره واپس راغلئ دئ، او حُديبيه د حرم څخه دباندي ده (ب) زه حضور د عبدالرحمٰن سره در تنعيم پوري واستولم، نو ما عُمره وکړه، نو حضور وفرمائل دغه ستا د عُمرې ځائ دئ .

[۷۸۵](۹) وَعَلَيْ القَارِنِ حَجَّةٌ وَعُمرَتَانِ [۷۸۶](۱۰) وَاِذَا بَعَثَ المحصِرُ هَديًا وَوَاعَدَهُم اَن يَّذبَحُوهُ فِي يَومٍ بِعَينِهِ ثُمَّ زَالَ الاِحصَارُ فَاِن قَدَرَ عَلَيْ اِدرَاكِ الهَديِ وَالحَجِّ لَم يَجُز لَهُ التَّحَلُّلُ وَلَزِمَهُ المضيُ [۷۸۷](۱۱) وَاِن قَدَرَ عَلَيْ اِدرَاكِ الهَديِ دُونَ الحَجِّ تَحَلَّلَ [۷۸۸](۱۲) وَاِن قَدَرَ عَلَيْ اِدرَاكِ الحَجِّ دُونَ الهَديِ جَازَ لَهُ التَّحَلُّلُ اِستِحسَانًا .

---

[۷۸۵](۹) او پر قَارن باندي حج او دوي عُمري دي .

تـشريـح قَارِن د حج او عُمري احرام پر يوه ځائ ترلئ دئ نو ځکه چي دئ مُحصِرسي نو يوه عُمره د اِحصَار په وجه لازميږي او يو حج او يوه عُمره د قِرَان په وجه لازم سوي و، نو ځکه يو حج او دوي عُمري به لازم وي .
پـام لـرنـه چي حج فوت سي نو عُمره دي وکي ځان دي حلال کي ددي دليل په مسئله نمبر۷ کـي تېر سـوئ دئ (دارقطني نمبر۲۴۹۶\بيهقي،ج۵ص۲۸۴نمبر۹۸۲۰) عَن حَمَّادٍ فِي رَجُلٍ اَهَلَّ بِعُمرةٍ وَحَجَّةٍ فَاُحصِرَ قَالَ يُبعَثُ بِالهَدي فَاِذَا بَلَغَ الهَديُ مَحِلَّهُ اَحَلَّ وَعَلَيهِ حَجَّةٌ وَعُمرَتَانِ وَقَالَ اَلحَكَمُ عَلَيهِ حَجَّةٌ وَثَلْثُ عُمَرٍ (مصنف ابن ابي شيبة ۱۷في الرجل يجمع بين الحج والعمرة فيحصرماعليه في قابل ج۳ص۱۳۳نمبر۱۲۷۹۵)
[۷۸۶](۱۰) که مُحصِر هَدِي واستوله او په خلګو يـې وعـده وکـړه چـي دا بـه پـه مُتعيّن ورځ بانـدي حلالـوي بيا اِحصَار زائل(ختم)سو، نو که د هَدِي پر مُوندلو او د حج پر موندلو باندي قُدرت وي نو دده لپاره حلالېدل جواز نـه لري، او پر ده باندي مخته تَلَل لازم دئ .
تـشريـح مُحصِرهَدِي واستوله لېکن په دغه دوران کي اِحصَار زائل(ختم)سو، او دحج او هَـدِي دواړو پـر مونـدلو باندي قُدرت پيدا کئ نو ځان دي نه حلالوي بلکه مخته د ي ولاړ سي او حج دي وکي او هَدِي دي وروسته په خپله ذبح کړي .
وجـه پر اصل باندي قُدرت پيدا کئ نو ځکه پر فَرع باندي عمل نه سي کولائي .
اصـول چي پر اصل باندي قَادِر وي نو پر فَرع باندي عمل کول جواز نه لري .
[۷۸۷](۱۱) او که پر هَدِي موندلو باندي قُدرت وي لېکن پر حج موندلو باندي قدرت نه وي نو حلال دي سي .
وجـه حج اصل دئ او چي پر اصل باندي قُدرت نه سو پيدا نـو چـي ولاړ سـي څـه بـه وکـي، نـو ځکـه دده لپـاره حلالېدل جائز دئ .
[۷۸۸](۱۲) او که د حج پر موندلو باندي قُدرت وي نه د هَـدِي پـر مونـدلو بانـدي نـو دده لپـاره حلالېـدل جـائز دئ استحسانًا .
تـشريـح د مُحصِر اِحصَار زائل سو او حج موندلائي سي لېکن هَدِي نه سي موندلائي نو دده لپاره حلالېـدل جـائز دئ، که څه هم د قياس تقاضآء داده چي دئ بايد حلال نه سي او بايد ولاړ سي حج وکي .
وجـه ځکه چي پر اصل باندي قُدرت پيدا کئ او هَدِي يو فروعي شيئ دئ چي دئ قُـدرت نـه پـر لـري نـو ځکـه د قياس تقاضآء دا ده چي نه سي حلال بلکه ولاړ دي سي حج دې وکي، لېکن د هَدِي يعني مال هم يو حيثيّت سته نـو ځکه هغه دي هم نه ضائع کوي نو په دغه وجه دده د حلالېدو ګُنجائش سته، خو بيا هم که حلال نه سي

[۷۸۹](۱۳) وَمَن اُحصِرَ بِمَكَّةَ وَهُوَ مَمنُوعٌ عَنِ الحَجِّ وَالوُقُوفِ وَالطَّوَافِ كَانَ مُحصِرًا [۷۹۰](۱۴) وَاِن قَدَرَ عَلىٰ اِدرَاكِ اَحَدِهِمَا فَلَيسَ بِمُحصِرٍ .
او ولاړسي حج وکي نو بنَه خبره ده ځکه چي د کوم کار عهد يې کړئ و احرام دي وتـړي او هغـه کـار دي پـوره کړي، په دغه وجه مصنف وفرمائل چي استحسانًا دارنګه کول جائز دئ، د قياس تقاضآء دا نه ده .
[۷۸۹](۱۳) څوك چي په مَکّه مُکرّمه کي محصور سو او د حج کولو څخه او د وُقُوفِ عرفه کولو څخه او د طواف کولو څخه منع کړئ نو دئ مُحصِر دئ .
تـشريـح وُقُوفِ عَرَفَات کول او طوافِ زِيَارَت کـول دا دواړه د حـج اصـل ارکـان دي او د دې دواړو څخـه منـع کړئ دئ نو چي په مکه مکرمه کي وسيږي هم محصور دئ .
وجـه (۱) ځکه چي وقوف عرفات يې نه وکړئ نو حج يې نه وسو او چي طواف يې نه وکئ نو چي عُمـره وکـي هم نه سي حلالېدلائي نو ګواکه هغه خلګ چي په حِل کي محصور سوئ دئ د هغو په رکـم سـو (۲) سُئِلَ مَالِكٌ عَن مَن اَهَلَّ مِن اَهلِ مَكَّةَ بِالحَجِّ ثُمَّ اَصَابَهُ كَسرٌ اَو بَطنٌ مُتَخَرِّقٌ اَو اِمرَاَةٌ تُطَلَّقُ قَالَ مَن اَصَابَهُ هٰذَا مِنهُم فَهُوَ مُحصِرٌ يَكُونُ عَلَيهِ مِثلُ مَايَكُونُ عَلىٰ اَهلِ الآفَاقِ اِذَا هُم اُحصِرُوا (الف) (مُؤطا امام مالك باب ما جآء فيمن احصر بغير عَدُوٍّ ص۳۸۰) ددي اثر څخه معلوم سو چـي اهـلِ مکه د حج کولو او طواف کولو څخه منع کړل سي نو دوئي به هم د آفاقي په رکم مُحصِر سي .
[۷۹۰](۱۴) او که د وُقُوف عرفات يا د طَوَافِ بَيتُ الله پر موندلو باندي قُدرت وي نو مُحصِر نه دئ .

تشريح چي وقوف عرفات کولائي سي نو حج خو ادآء سو، اُوس طواف زيارت پاته دئ هغه خو هر وخت کولائي سي، نو ځکه ګواکه دئ مُحصِر نه دئ، او که د بَيتُ الله طواف کولائي سي او وُقُوفِ عَرَفَات نه سي کولائي نو حج خو به فوت سي لېکن د عُمري طواف او سعي چي وکي ځان حلالولائي سي، نو ځکه پر ده باندي اُوس د اِحصَار هَدِي نه لازميږي نو ګواکه مُحصِر نه سو، دغه مطلب دئ د فَلَيسَ بِمُحصِرٍ چي پر ده باندي د اِحصَار هَدِي نه لازميږي، دا مطلب نه دئ چي دده حج ادآء سو او دئ واقعي مُحصِر نه دئ .

فائده د امام شافعي په نېز د وُقُوفِ عَرَفَات، يا د طواف د دوارو ځخه که د يوه ځخه منع کړئ نو مُحصِر ګرزي، دده دليل په مسئله نمبر ۱۳ کي د امام مالك اَثَر دئ .

حاشيه : (الف) د حضرت مالك ځخه پوښتنه وکړه کوم چا چي په اهل مکه کي د حج احرام وتاړئ بيا د هغه پَښَه مات سوه يا يې پېچس(اَمَلُونَه)شروع سو يا وښخه ته طلاق ورکئ ؟ په دي کي و کوم چا ته چي دا عوارض لاحق دي هغه مُحصِر دي، پر هغو باندي دغه رنګه دئ لکه څه رنګه چي پر آفاقي باندي دئ کله چي آفاقي مُحصِر سي .

(بَابُ الفَوَاتِ)

[۷۹۱](۱) وَمَن اَحرَمَ بِالحَجِّ فَفَاتَهُ الوُقُوفَ بِعَرَفَةَ حَتّٰى طَلَعَ الفَجرُ مِن يَّومِ النَّحرِ فَقَد فَاتَهُ الحَجَّ [۷۹۲](۲) وَعَلَيهِ اَن يَّطُوفَ وَيَسعىٰ وَيَتَحَلَّلُ وَيَقضِي الحَجَّ مِن قَابِلٍ وَلاَ دَمَ عَلَيهِ .

(بَابُ الفَوَاتِ)

ضروري پام لرنه د حج و فوتېدو ته فوات ويل کيږي .

[۷۹۱](۱) کوم چا چي د حج احرام وتاړئ او دده وُقُوفِ عَرَفَات فوت سو تر دې چي د لسمي ذِي الحَجّي سهار طلوع سو نو دده حج فوت سو .

تشريح د لسمي ذِي الحَجّي د سهار د راختوځخه مخکي مخکي وقوف عرفات کول په کاردئ په دا به حج ادآء سي،اُوس دا(وُقُوف)د طلوع فجرځخه مخکي مخکي فوت سو نو حج يې فوت سو،د وقوف عرفات د فرضيّت دليل دا آيت دئ ثُمَّ اَفِيضُوا مِن حَيثُ اَفَاضَ النَّاسُ (آيت۱۹۹سورة البقرة۲) په حديث کي دئ عَن عُروَةَ بنِ مُضرِسٍ ... فَقَالَ رَسُولُ اللهِ مَن شَهِدَصَلٰوتَنَاهٰذِهِ وَوَقَفَ مَعَنَاحَتّٰى يَدفَعَ وَقَدوَقَفَ بِعَرَفَةَ قَبلَ ذَالِكَ لَيلاًاَونَهَارًافَقَدتَمَّ حَجُّهُ (ترمذي شريف،باب ماجآء في من ادرك الامام بجمع فقدادرك الحج ص۱۷۸نمبر۸۹۱\ابوداؤدشريف باب من لم يدرك عرفة ص۲۷۶نمبر۱۹۴۹)

[۷۹۲](۲) او پر ده باندي لازم دئ چي طواف وکي او سعي وکي او حلال سي او په راروان کال کي حج وکي او پر ده باندي د حج د پرېښولو دَم نسته .

تشريح قاعده داده چي د کوم چا ځخه چي حج فوت سي نو که چيري هغه د عُمري اعمال يعني طواف او سعي کولائي سوې نو هغه دي وکي ځان دي حلال کي او په راتلونکي کال کي دي حج وکي، او ده خو عُمره کړي ده نو اُوس پر ده باندي هَدِي ذبح کول لازم نه دي، البته که عُمره نه وائي کړي نو هَدِي به لازم وائي .

وجه (۱) ددې دواړو مسئلو دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن وَقَفَ بِعَرَفَاتَ بِلَيلٍ فَقَد اَدرَكَ الحَجَّ وَمَن فَاتَهُ عَرَفَاتَ بِلَيلٍ فَقَد فَاتَهُ الحَجَّ فَليُحِل بِعُمرَةٍ وَعَلَيهِ الحَجُّ مِن قَابِلٍ (الف) (دارقُطني،کتاب الحج ج۲ص۲۱۲نمبر۲۴۹۶)او په يو بل حديث کي دا عبارت دئ مَن اَدرَكَ عَرَفَةَ قَبلَ طُلُوعِ الفَجرِ فِي يَومِ النَّحرِ فَقَد تَمَّ حَجُّهُ (ب) (دارقُطني،کتاب الحج ج۲ص۲۱۲نمبر۲۴۹۴\سنن للبيهقي،باب ادرك الحج بادراك عرفة قبل طلوع الفجرمن يوم النحر ج۵ص۲۸۲نمبر۹۸۱۲)ددې حديث ځخه معلوم سو چي د يو چا وقوف عرفات پاته سي نو حج يې فوت سو اُوس به دئ د عُمري اعمال کوي او ځان به

حلالوي، په دې صورت کې پر ده باندې هَدِي نه لازميږي، او په عُمره کولو باندې هَدِي نه لازميږي ځکه چې په مذکوره حدیث کې د عُمرې تذکره نسته (۲) د عُمربن خطاب په فیصله کې دا الفاظ راغلي دي اَنَّ هَبَّارَ بِنِ الاَسوَدَ جَآءَ يَومَ النَّحرِ وَعُمَرُ يَنحَرُ ... ثُمَّ اِنحَر هَديًا اِن كَانَ مَعَكَ ثُمَّ اَحلِقُوا اَو قَصِّرُوا وَارجِعُوا (ج) (سنن للبيهقي،باب مايفعل من فاته الحج،ج۵ ص۲۸۴نمبر۹۸۲۲)په دې اثر کې دئ چې که هَدِي وي نو حلال کړه او که نه وي نو مه حلالوه، ددې مطلب دادئ چې د عُمرې اعمال وکړي نو د حج پر پرېښونکي باندې هَدِي لازم نه ده .

حاشیه : (الف) حضور وفرمائل څوك چې په عرفات کې په شپه کې قیام وکړي نو هغو حج وموندئ، او د کوم چا څخه چې په شپه کې عرفات فوت سو نو د هغه څخه حج فوت سو، نو باید عُمره وکړي خان حلال کړي، او پر ده باندې په راروان کال کې حج لازم دئ (ب) کوم چا چې د لسم تاریخ د طُلُوعِ فَجرڅخه مخکې عَرَفَات وموندئ نو د هغه حج پوره سو (ج) هَبّاربن اسود په لسمه د ذي الحجې حضرت عمر ته راغلئ په داسې حال کې چې ده وُښ نَحَر کاوئ ... بیا هَدِي نَحَر که، که ستا سره وي، بیا حلق وکه یا قَصر وکه او واپس ولاړ سه .

[۷۹۳](۳) وَالعُمرَةُ لاَتَفُوتُ [۷۹۴](۴) وَهِيَ جَائِزَةٌ فِي جَمِيعِ السَّنَةِ اِلاَّ خَمسَةَ اَيَّامٍ يُكرَهُ فِعلُهَا فِيهَا يَومَ عَرَفَةَ وَيَومَ النَّحرِ وَاَيَّامَ التَّشرِيقِ [۷۹۵](۵) وَالعُمرَةُ سُنَّةٌ .

---

[۷۹۳](۳) عُمره نه فوت کیږي .

تشریح د حج معامله داده چې د ذي الحجې په نهم(۹)تاریخ د عرفات وُقُوف وکړي نو حج به ادآء سي او که په دغه وخت د عرفات وُقُوف ونه کړئ نو اُوس حج نه سي ادآء کولائي، اُوس به په راروان کال د حج احرام تړي بیا به د ذي الحجې په نهم(۹)تاریخ وُقُوفِ عَرَفَات کوي نو حج به صحیح سي، لېکن د عُمرې معامله د یو معلومي ورځې سره خاص نه ده، هغه هره ورځ کېدلائي سي، نو ځکه په عُمره کې اِحصَار خو کېدلائي سي لېکن فوتېدلائي نه سي، دا چې هر وخت ادآء کې دا ادآء ده .

[۷۹۴](۴) عُمره جائز ده په ټول کال کې مګر په پنځه ورځو کې چې په دې کې ددې ادآء کول مکروه دي،د عرفات ورځ، په لسمه ذي الحجه او د ایّام تشریق دري ورځې .

تشریح عُمره ټول کال جائز ده لېکن په نهم ذي الحجه،لسمه ذي الحجه،یوولسمه ذي الحجه، دولسمه ذي الحجه او دیارلسمه ذي الحجه، ګواکه پنځه ورځې عُمره کول مکروه ده .

وجه (۱) په اثر کې راغلي دي عَن عَائِشَةَ قَالَت حَلَّتِ العُمرَةُ الدَّهرَ اِلاَّ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ يَومَ النَّحرِ وَيَومَينِ مِن اَيَّامِ التَّشرِيقِ (۲) او په یو بل اثر کې راغلي دي عَنِ العُمرَةِ قَالَ اِذَا مَضَت اَيَّامُ التَّشرِيقِ فَاعتَمِر مَتٰى شِئتَ اِلٰى قَابِلٍ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۸ في العمرة من قال في كل شهر ومن قال متى ما شئت ج۳ص۱۲۶نمبر۱۲۷۲۱\۱۲۷۲۲)ددې اثر څخه معلوم سو چې په ایام تشریق کې عمره کول مکروه ده، او ددېوروسته ټول کال چې کله زړه وغواړي عمره کولائي سي .

[۷۹۵](۵) عُمره سُنّت ده .

وجه د عُمرې د سُنتیّت دلیل دا حدیث دئ عَن جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ العُمرَةِ اَوَاجِبَةٌ هِيَ ؟ قَالَ لاَ وَاِن يَّعتَمِرُوا هُوَ اَفضَلُ (ب) (ترمذي شريف،باب ماجآء في العمرة اواجبة هي ام لا ص۱۸۶نمبر۹۳۱\دارقُطني،كتاب الحج ج۲ص۲۵۱نمبر۲۷۰۱)ددې حدیث څخه معلوم سو چې عُمره سُنّت ده واجب نه ده .

فائده بعض اصحابِ ظواهر دې ته واجب وائي د دوئي دلیل دا حدیث دئ عَن زَيدِ بنِ ثَابِتٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الحَجَّ وَالعُمرَةَ فَرِيضَتَانِ لاَ يَضُرُّكَ بِاَيِّهِمَا بَدَاتَ (ج) (دارقُطني،كتاب الحج ج۲ص۲۵۰نمبر۲۶۹۲) (۲) اَنَّ اِبنَ عَبَّاسٍ قَالَ

حاشیه : (الف) حضرت عائشه فرمائي په ټول زمانه کې عُمره حلال(جائز)ده مګر په درو ورځو کې، په لسمه ذی الحجه او د ایام تشریق په دوو ورځو کې، په یو بل اثر کې راغلي دي حضرت فرمائي چې ایام تشریق تیري سي نو تر راروان کال پورې چې هر

وخت يې وَغُوارِي عُمره دي کوي (ب) دحضور څخه د عُمري په باب کي پوښتنه وکړه، آيا دا واجب ده ؟ وفرمائل نه، او که عُمره وکي نو دِير افضل خبره ده (ج) حضور وفرمائل حج او عُمره دواړه فرض دي، هيڅ د حرج خبره نه ده چي کوم يو مخته کي حج يا عُمره .

[۷۹۶](۶) وَهِيَ الإِحرَامُ وَالطَّوَافُ والسَّعيُ .

اَلعُمرةُ وَاجِبَةٌ كَوُجُوبِ الحَجِّ مَن اِستَطَاعَ اِلَيهِ سَبِيلاً (الف) (دارقُطني،كتاب الحج ج۲ص۲۵۰نمبر۲۶۹۴)ددي حديث او اثر څخه معلوم سو چي عُمره واجب ده .

پام لرنه لپکن د نورو احاديثو څخه معلوميږي چي عُمره سُنّت ده او په ټول کال کي جائز ده .

[۷۹۶](۶) د عُمري احرام ترِل، طواف کول او سعي کول .

تشريح د درو ارکانو د مجموعي نوم عُمره ده (۱) احرام دي وتړي (۲) د بَيتُ الله طواف دي اُوَه شوطه وکي (۳) د صفا او مروه په مابين کي دي اُوَه واره سعي وکي، ددغه درو شيانو د مجموعي نوم عُمره ده .

وجه په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ زَوجِ النَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَت خَرَجنَا مَعَ النَّبِيِّ فِي حَجَّةِ الوَدَاعِ ... قَالَت فَطَافَ الَّذِينَ كَانُوا اَهَلُّوا بِالعُمرَةِ بِالبَيتِ وَبَينَ الصَّفَاوَالمروَةَ ثُمَّ حَلُّوا (ب) (بخاري شريف،باب كيف تهل الحائض والنفسآء ص۲۱۱نمبر۱۵۵۶)ددي حديث څخه معلوم سو چي په عُمره کي دي احرام وترِي او د بَيتُ الله طواف دي وکي او د صفا مروه سعي دي وکي، په يو بل حديث کي راغلي دي حَدَّثَنَا اَبُونُعَيمٍ حَدَّثَنَا اَبُوشِهَابٍ ... فَقَالَ لَهُم اَحِلُّوا مِن اِحرَامِكُم بِطَوَافِ البَيتِ وَبَينَ الصَّفَا وَالمروَةَ وَقَصِّرُوا ثُمَّ اَقِيمُوا حَلاَلاً (ج) (بخاري شريف،باب التمتع والاقران والافراد بالحج ص۲۱۳نمبر۱۵۶۸)په دي حديث کي هم دئ چي په عُمره کي دي طواف او سعي وکي ځان دي حلال کي دغه د عُمري اعمال د ي.

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عباس فرمائي عُمره د حج په شان واجب ده ځوک چي ددي طاقت لري (ب) حضرت عائشه فرمائي چي مورِ د حضور سره په حَجَّةُ الوَدَاع کي راووتو ... وفرمائل دي خلګو د بَيتُ الله طواف وکئ کومو چي د عُمري احرام ترِلئ و، او د صفا او مروه سعي يې وکي، بيا حلال سو (ج) ابوشهاب حديث بيان کړئ دئ ... و خلګو ته وويل تاسو د خپلي عُمري د احرام څخه حلال سئ، د بَيتُ الله په طواف کولو سره او د صفا مروه په مابين کي په سعي کولو سره او د سَر قصر وکئ بيا حلال سئ قيام وکئ .

(بَابُ الهَدي)

[۷۹۷](۱) اَهَديُ اَدناهُ شَاةٌ وَهُوَ مِن ثَلٰثَةِ اَنوَاعٍ مِنَ الاِبِلِ وَالبَقَرِ وَالغَنَمِ [۷۹۸](۲) وَيَجزِئُ فِي ذَالِكَ كُلِّهِ اَلثَّنِيُّ فَصَاعِدًا اِلاَّ مِنَ الضَّانِ فَاِنَّ الجَذَعَ مِنهُ يَجزِئُ فِيهِ .

(بَابُ الهَدي)

ضروري پـام لـرنـه هَدِي ، کوم حيوان چي حرم ته د حلالېدو لپاره واستول سي هغـه تـه هَدِي وائـي، ددې ثبوت په دې آيت کي دئ فَإِذَا اَمِنتُم فَمَن تَمَتَّعَ بِالعُمرَةِ إِلىٰ الحَجِّ فَمَا اِستَيسَرَ مِنَ الهَدي (الف) (آيت ۱۹۶ سورة البقرة۲)ددې آيت څخـه د هَدِي ثبوت وسو .

[۷۹۷](۱) د هَدِي اَدنٰي وُزَه(بُوزَه)ده او هغه پر دري قسم ده، وُښ، غُوَا او بُوزَه .

وجـه (۱) په يوه حديث کي هم د وُزې څخه کم هَدِي ورکولو ثبوت نسته نو ځکه بُوزَه يې اَدنٰي ده (۲) اَخبَرَنَا اَبُوجَمرَةَ قَالَ سَاَلتُ اِبنَ عَبَّاسٍ عَنِ المتعَةِ فَاَمَرَنِي بِهَا وَسَاَلتُهُ عَنِ الهَدي فَقَالَ فِيهَا جُزُورٌ اَو بَقَرَةٌ اَو شَاةٌ اَو شِركٌ فِي دَمٍ (ب) (بخاري شريف،باب فمن تمتع بالعمرة الي الحج فما استيسرمن الهدي ص۲۲۸نمبر۱۶۸۸)ددې اثر څخه معلوم سو چي وُښ، غُوَا او بُوزَه هَدِي دي، يـا د ي د وُښ او غُوَا اُوَمَه حِصّه وي .

[۷۹۸](۲) په دې ټولو کي ثَنِي يا ددې څخه د زيات عُمر حيوان کفايت کوي مګر په مېږ کي چي د هغې جَذَع هم په هَدِي کي کفايت کوي .

تـشريـح د حيوان د ځوانئ دوه غَابنونه چي راسي نو و هغه ته ثَنِي وائي، او مېږ چي دشپږو مياشتو سي وهغه ته جَذَع وائي، په هَدِي او قُرباني کي به دټولو حيوانانو ثَنِي حلاليږي لېکن په مېږ کي ددې ګُنجائش سته چي بنَـه چَـاغَ وي نو جَذَع يعني د غَابنُو څخه مخکي حيوان هم کفايت کوي، ځکه چي په حديث کي ددې خصوصيّت راغلئ دئ .

وجـــــه پــه حــديث کــي دئ عَن جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ لاَ تَذبَحُوا اِلاَّ مُسِنَّةً اِلاَّ اَن يَّعسِرَ عَلَيكُم فَتَذبَحُوا جَذعَةً مِنَ الضَّانِ (ج) (ابوداؤدشريف،باب مايجوزفي الضحايا مِنَ السِّنّ ج۲ص۳۰کتاب الضحايا نمبر۲۷۹۷\ترمذي شريف،باب في الجذع من الضان في الاضاحي ص۲۷۶ ابواب الاضاحي نمبر۱۴۹۹\مُسلم شريف،باب سِنُّ الاضحية نمبر۵۰۸۲)ددې حـديث څخـه معلـوم سـو چـي پـه نـورو حيوانانو کي ثَنِي ضروري ده، او په مېږ کي د شپږو مياشتو وُرَئ چي جَذَع ورته ويل کيږي هغه هم کفايت کوي په دې شرط چي بنَه تَيّار او چَاغ وي .

لـغـت : اَلثَّنِيُّ : نوي غَابن يې راغلئ و، بُوزَه چي په دوم کال کي شروع سي ثَنِي ورته وائي، غُوَا او ګامېښه چي په دريم کال کي شروع سي ثَنِي ورته وائي، وُښ چي څلور کال پوره سي په پنځم کال کي شروع سي نـو نـوئ غـابن يې راسي ودې ته ثَنِي وائي .

حاشيه : (الف) بيا چي تاسو په اَمَن سئ نو کوم چا چي عُمره د حج سره يو ځائ کړه فائده يې واخسته، نـو د هَـدِي څخـه چـي کـوم آسـان وي هغه ورکئ (ب) ما د ابن عباس څخه د تمتع په اړه پوښتنه وکړه نـو هغـو و ماتـه ددې حکم راکـئ، او دده څخـه مـو د هَـدِي پـه اړه پوښتنه وکړه نو وفرمائل په دي کي وُښ دئ يا غُوَا ده يا بُوزَه(وُزَه)ده يا په حيوان کي شراکت دئ (ج) حضـور وفرمائـل مَـه ذبـح کـوئ مګر مُسِنّه لېکن که پر تاسو باندي تنګ دستي راغلي وي نو د مېږي جَذَع حلال کئ .

[۷۹۹](۳) وَلاَ يَجُوزُ فِي الهَدي مَقطُوعُ الاُذُنِ وَلاَ اَكثَرُهَا وَلاَ مَقطُوعُ الذَّنَبِ وَلاَ مَقطُوعُ اليَدِ وَلاَ الرِّجلِ وَلاَ ذَاهِبَةُ العَينِ وَلاَ العَجفَآءُ وَلاَ العَرجَآءُ اَلَّتِي لاَ تَمشِي اِلىٰ المنسَكِ .

---

[۷۹۹](۳) نه دئ جائز په هَدِي کي چي پوره غُوږ يې پري وي او نه چي زياتَ برخه پري وي او نه چي لکـئ يـې پري وي او نه چي لاس يې پري وي او نه چي پَښَه يې پري وي او نه چي سَتَرګَه تللي وي او نه (دېره)کمـزوري او نه ګُوَدَه چي تر مَذبَح پوري نه سي تلائي .

وجـه (۱) هَدِي د الله په دربار کي پېشيږي نو ځکه بايـد بنَـه حيـوان دي وي، عيـب دارحيـوان خـو انسـان هـم نـه خُوښَوي نو د الله په دربار کي به څه رنګه پيشوي (۲) په حديث کي دئ سَاَلتُ بَرَآءَ بنِ عَازِبٍ مَا لاَ يَجُوزُ فِي الاَضَاحِيّ فَقَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ ... فَقَالَ اَربَعٌ لاَ تَجُوزُ فِي الاَضَاحِيّ اَلعَورَآءُ بَيِّنٌ عَورُهَا وَالمرِيضَةُ بَيِّنٌ مَرَضُهَا وَالعَرجَآءُ بَيِّنٌ ظِلعُهَا وَالكَبِيرَةُ اَلَّتِي لاَ تَنقيٰ (الف)

(ابوداؤدشريف،باب مايكره من الضحايا ج٢ص٣١ كتاب الضحايا نمبر٢٨٠٢\ترمذي شريف،باب مالايجوز من الاضاحي ص٣٦٤نمبر١٤٩٧) (٣) په يو بل حديث کي دئ قَالَ اَتَيتُ عُتبَةَ بنِ عَبدِالسُّلَمِيِّ ... اِنَّمَا نَهيٰ رَسُولُ اللهِ عَنِ المصفِرَةِ وَالمستَاصِلَةِ وَالبَخقَآءِ وَالمشِيعَةِ وَالكَسرَآءِ، فَالمصفِرَةُ اَلَّتِي تَستَاصِلُ اُذُنَهَا حَتّٰي يَبدُوَ سَمَاخُهَا، وَالمستَاصِلَةُ اَلَّتِي اِستَوصَلَ قَرنُهَا مِن اَصلِهِ، وَالبَخقَآءُ اَلَّتِي تَبخَقُ عَينُهَا، وَالمشِيعَةُ اَلَّتِي لاَ تَتَّبِعُ الغَنَمَ عَجفًا وَضُعفًا وَالكَسرَآءُ اَلكَسِيرَةُ (ب) (نمبر٢٨٠٣) (٤) يو بل حديث دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ اَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ اَن نَستَشرِفَ العَينَ وَالاُذُنَ وَلاَ نُضَحِّي بِعَورَآءَ وَلاَ مُقَابِلَةً وَلاَ مُدَابِرَةً وَلاَ خَرقَاءَ وَلاَ شَرقَآءَ قَالَ زُهَيرٌ فَقُلتُ لاَبِي اِسحَاقَ اَذَكَرَ عَضبَآءَ ؟ وَقَالَ لاَ قُلتُ فَمَا المقَابِلَةُ ؟ قَالَ يَقطَعُ طَرَفَ الاُذُنِ فَقُلتُ فَمَا المدَابِرَةُ ؟ قَالَ يَقطَعُ مِن مُؤَخَّرِ الاُذُنِ قُلتُ فَمَا الشَّرقَآءُ ؟ قَالَ تَشُقُّ الاُذُنَ قُلتُ فَمَا الخَرقَآءُ ؟ قَالَ تَخرِقُ اُذُنَهَا لِلسِّمَةِ (ج) (ابوداؤدشريف،باب مايكره من الضحايا ج٢ص٣١\٣٢ كتاب الضحايا نمبر ٢٨٠٤)ددي حديث څخه معلوم سو چي غُوږ يې پري وي،لکۍ يې پري وي،لاس يې پري وي،پښې يې پري وي،رنده،ګوَډه،او يو اندام يې پري وي يا خراب وي نو په قُرباني او هَدِي کي نه سي چلېدائي، او که د دريمي حصّې څخه کم وي نو هغه چلېدائي سي .

پام لرنه د حديث په ترجمه کي د عيب ترجمه هم راغلي ده .

حاشيه : (الف) زمور په منځ کي حضور ودرېدئ ... و فرمائل څلور حيوانان په قُرباني کي جواز نه لري (١) رڼوند چې رڼوند والئ يې ښکاره وي (٢) ناجوړه چې ناجوړي يې ښکاره وي (٣) ګوَډ چې ګوَډوالئ يې ښکاره وي (٤) او دومره زور چې هَډوکی ښکاره کيږي (ب) (١) حضور بالکل د غُوږ پرې کړي حيوان قُرباني څخه منع وکړه (٢) او چې د بيخه څخه ښکَر ختلئ وي (٣) رڼوند (٤) ډېر کمزورئ (٥) د يو عضو پرې کړي حيوان دقُربانئ څخه منع وکړه، مُصفَر هغه دئ چې غُوږ يې د بيخه څخه ختلئ وي تردي چې دماغ يې ښکاره کيږي، او مُستاصِلَه هغه دئ چې ښکَر يې د بيخه څخه ختلئ وي، او بَخقَآء هغه دي چې سترګه رَندَه وي، او مِشِيعَه هغه دئ چې دنګروالي په وجه په بُوزُو پسې نه سي تلائي، او کسرآء هغه دئ چې يو عُضو(اندام)يې پري وي (ج) حضور مورِ ته حکم وکئ چې سترګي او او غُوږُونه ښه وګورو او په يوه سترګه رڼوند حيوان نه کړو ذبح، او نه چې پر ښائيد(کناره)باندې غُوږ پرې سوئ وي،او نه چې د شا پر خوا باندې غُوږ پرې سوئ وي، او نه چې غُوږ يې ځيري سوئ وي، او نه چې د علامت لپاره غُوږ سُرَئ سوئ وي، زُهير د ابواسحاق څخه پوښتنه وکړه آيا د عَضبَآء تذکره يې وکړه ؟ وفرمائل نه، ما وويل مُقَابِلة چِش دئ ؟ وفرمائل چې د غُوږ کناره يې پري وي، ما وويل مُدَابِرَه چِش دئ ؟ وفرمائل چې د غُوږ د شا حِصّه يې پري وي، ما پوښتنه وکړه چې شَرقَآء چِش دئ ؟ وفرمائل چې غُوږ يې ځيري سوئ وي، ما وويل چې خَرقَآء چِش دئ ؟ وفرمائل چې د علامت لپاره غُوږ ځيري سوئ وي .

[٨٠٠](٤) وَالشَّاةُ جَائِزَةٌ فِي كُلِّ شَيءٍ اِلاَّ فِي مَوضِعَينِ مَن طَافَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ جُنُبًا وَمَن جَامَعَ بَعدَ الوُقُوفِ بِعَرَفَةَ فَاِنَّهُ لاَ يَجُوزُ فِيهِمَا اِلاَّ بُدنَةٌ .

لغت : اَلعَجفَآءُ : چې ډېر کمزوري او ډنګر حيوان وي، اَلعَرجَآءُ : ګُوَډ، اَلنِسَكُ : د نُسُكٌ څخه مُشتق دئ هغه ځائ چې حيوان په کي حلالوي .

[٨٠٠](٤) بُوزَه په هر شي چې جائز ده مګر په دوه ځائ کي (١) کوم چا چې طواف زيارت د جنابت په حالت کي وکئ (٢) او کوم چا چې د وُقُوفِ عَرَفَات وروسته جماع(نزدېکت)وکئ، نو په دي دواړو ځايو کي د وُښ څخه علاوه بل شيئ نه دئ جائز .

تشريح دا دواړي مسئلي لوړي تيري سوي دي، ددي تفصيل دادئ چې په طواف کي اَودَس او طهارت شرط دئ لېکن ددي بر خلاف طوافِ زيارت چې فرض دئ هغه يې د جنابت په حالت کي وکي نو ځکه طواف خو به ادآء سي لېکن اَغلَظ جنايت دئ نو ځکه د بُوزي پر ځائ به وُښ لازم سي، او ښَه خبره داده چې دا طواف دي دوباره بيا راوګرزوي نو هيڅ شيئ به نه سي لازم .

وجه (١) د طهارت بغېره طواف زيارت وکئ نو ګواکه طواف يې نه دئ کړئ نو ځکه طواف زيارت چې اَهَم دئ په هغه کي به اَهَم حيوان چې وُښ دئ لازم سي، د طهارت وجه دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلطَّوَافُ حَولَ البَيتِ مِثلُ الصَّلٰوةِ اِلاَّ اَنَّكُم تَتَكَلَّمُونَ فِيهِ فَمَن تَكَلَّمَ فِيهِ فَلاَ يَتَكَلَّمُ اِلاَّ بِخَيرٍ (الف) (ترمذي شريف،باب ماجآء في الكلام في الطواف ص١٩٠نمبر٩٦٠\نسائي شريف،باب اباحة الكلام في الطواف ج٢ ص٢٨نمبر٢٩٢٦)ددي حديث څخه معلوم سو چي طواف د لمانځه په شان دئ، او لمونځ بغير دطهارت نه صحيح کيږي نو ځکه طواف هم بغير دطهارت نه

صحيح كيږي، او كه وكئ نو دَم به وركوي (۲) په يو بل حديث كي دئ عَن عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَت قَدِمتُ مَكَّةَ وَاَنَا حَائِضٌ وَلَمْ اَطُف بِالبَيتِ وَلاَ بَينَ الصَّفَا وَالمروَةَ قَالَت فَشَكَوتُ ذَالِكَ اِلىٰ رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِفعَلِي كَمَا يَفعَلُ الحَاجُّ غَيرَ اَن لاَّ تَطُوفِي بِالبَيتِ حَتّٰي تَطهُرِي (ب) (بخاري شريف،باب تقضي الحائض المناسك كلها الا الطواف بالبيت ص۲۲۳نمبر۱۶۵۰)ددې حديث څخه هم معلوم سو چې بغير د طهارت دي طواف نه كوي او كه وكئ نو دَم يا صَدَقَه به لازم سي، خو بيا هم د طواف درجه د لمانځه څخه كم ده نو ځكه طواف به ادآء سي، خو كه چيرې په مكه مكرمه كي و نو طواف دي دوباره راوګرزوي بيا دَم يا صَدَقَه نه لازميږي، او د وُقُوفِ عرفات وروسته او د طواف زيارت څخه مخكې پر جماع(نزدېكت)كولو باندې وُښ لازميږي، ددې دليل دا اثر دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ وَطِئتُ اِمرَاَتِي قَبلَ اَن اَطُوفَ بِالبَيتِ قَالَ عِندَكَ شَيئٌ ؟ قَالَ نَعَم اِنِّي مُوسِرٌ قَالَ فَانحَر نَاقَةً سَمِينَةً فَاَطعِمهَا المَسَاكِينَ (ج) (سنن للبيهقي،باب الرجل يصيب اِمرَاَتَهُ بعدالتحلل الاول وقبل الثاني ج۵ص ۲۹۷نمبر۹۷۹۹)ددې اثر څخه معلوم سو چې كه د طواف زيارت څخه مخكې نزدېكت وكئ نو يو وُښ به وركوي، دغه رنګه په يو بل اثر كي راغلي دي عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ سُئِلَ عَن رَجُلٍ

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل د بَيتُ الله شا وخوا طواف لمانځه په ركم دئ، مګر په دي تاسو خبري كوئ، نو ځكه څوك چې خبري كوي نو د خير خبري دي كوي (ب) حضرت عائشه فرمائي چې زه مكي مكرمي ته راغلم او حائضه وم، او د بَيتُ الله طواف مي نه و كړئ او نه د صَفَا مَروَه په مابين كي، وفرمائل ما د حضور څخه ددې شكايت وكئ نو وفرمائل لكه څه رنګه چې حاجي كوي دغه رنګه كوه مګر دا چې د بَيتُ الله طواف مه كوه تر څو چې پاك سوې نه يې (ج) حضرت ابن عباس لره يو سړئ راغلئ، وويل چې ما د خپلې بي بي سره د بَيتُ الله د طواف څخه مخكې وَطي وكړې، ابن عباس پوښتنه وكړه چې ستا سره څه سته ؟ وويل و ! زه مالداره يم، وويل چاغه وُښه حلال كړه او په مسكين يې وخوره .

[۸۰۱](۵) وَالبُدنَةُ وَالبَقَرَةُ يَجزِئُ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا عَن سَبعَةِ اَنفُسٍ اِذَا كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الشُّرَكَآءِ يُرِيدُ القُربَةَ فَاِذَا اَرَادَ اَحَدُهُم بِنَصِيبِهِ اَللَّحمَ لَم يَجزِ لِلبَاقِينَ عَنِ القُربَةِ [۸۰۲](۶) وَ يَجُوزُ الاَكلُ مِن هَدِيِ التَّطَوُّعِ وَالمتعَةِ وَالقِرَانِ .

وَقَعَ عَلَيْ اَهلِهِ وَهُوَ مُحرِمٌ وَهُوَ بِمِنيٰ قَبلَ اَن يَّفِيضَ فَاَمَرَهُ اَن يَّنحَرَ بُدنَةً قَالَ الشَّافَعِيُّ وَهٰذَا نَاخُذُ قَالَ مَالِكٌ عَلَيهِ عُمرَةٌ وَبُدنَةٌ وَحَجَّةٌ تَامَّةٌ (الف) (سنن للبيهقي،باب الرجل يُصيبُ اِمرَاَتَهُ بعدالتحلل الاول وقبل الثاني ج۵ص۲۸۰نمبر۹۸۰۳\موطاامام مالك،باب هدي من اصاب اهله قبل ان يفيض ص۴۰۶)ددې اثر څخه معلوم سو چې كه د طواف زيارت څخه مخكې جماع(نزدېكت)وكئ نو وُښ پر لازميږي .

[۸۰۱](۵) وُښ او غُوَا ددې دواړو څخه هر يو كفايت كوي د اُوو كسانو لخوا په دې شرط چې هر شريك د قُربت(ثواب)اراده لري، بيا كه د دوئي څخه يوه د خپلې حِصّې(برخې)د غُوَښې اراده كړي وي نو د دانورو څخه هم د قُربَت كفايت نه كوي .

تشريح وُښ او غُوَا د اُوو اُوو كسانو لخوا كفايت كوي، ددې څخه د زياتو لخوا نه، لېكن شرط دادئ چې ټولُو شريكانو د قُربَت(ثواب)نيت كړئ وي، مثلاً هَدِي يا قُرباني يا عقيقه ادآء كول غُواړي، كه د دوئي څخه يوه هم د غُوَښُو د خُوړلُو نيت وكړئ نو د يوه د فَسَاد په وجه به د نورو شريكانو فَسَاد هم راسي او د يوه قُربَت يعنې هَدِي يا قُرباني يا عقيقه به نه سي ادآء .

وجه حيوان يَو دئ نو ځكه د يوه حِصّه دار د خامئ په وجه به په ټوله حيوان كي خامي راسي او د يوې حِصّې د قُربَت د ادائيګئ د نه صحيح كېدو په وجه ديوه قُربَت لا هم نه صحيح كيږي، لكه څه رنګه چې د لمانځه د يو رُكن د كمئ په وجه ټول لمونځ فاسد ګرزي، په يوه وُښ كي د اُوو كسانو او په يوه غُوَا كي د اُوَو كسانو د شركت دليل دا حديث دئ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ نَحَرنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَامَ الحُدَيبِيَّةِ اَلبُدنَةَ عَن سَبعَةٍ وَالبَقَرَةَ عَن سَبعَةٍ (ب) (مُسلم شريف،باب جوازالاشتراك في الهدي واجزآء البدنة والبقرة كل واحدمنها عن سبعة،كتاب الحج ص۴۲۴نمبر۱۳۱۸\ابوداؤدشريف،باب البقروالجزورعن كم تجزي ج۲ص۳۲نمبر۲۸۰۸)ددې حديث څخه معلوم سو چې وُښ او غُوَا او ګامېښه د اُوو حِصّه دارانو لخوا كفايت كوي، ددې څخه د زياتو نه .

لغت : نَصِيبٌ : حِصّه،برخه .

[۸۰۲](۶) جائز دئ خوړل د نفلي هَدِي څخه او د تمتع د هَدِي څخه او د قِرَان د هَدِي څخه .

تشريح نفلي هَدِي، د تمتع هَدِي او د قِرَان هَدِي د جُرماني په توګه نه دي بلکه د انعام او خوشحالئ په توګه سره دي نو ځکه ددي غُوَښَه په خپله هَدِي ورکونکئ هم خوړلائي سي، په غريبانو او مسکينانو باندي هم خوړلائي سي .

حاشيه : (الف) د ابن عباس څخه ديوه سړي په باب(په اړه)پوښتنه وسوه چې د خپلې ښځې سره جماع کړي وې په داسي حال کي چې دئ مُحرم و او دئ په مِنٰي کي و د طواف زيارت څخه مخکي نو و ده ته حکم وکړئ چې وُښ نَحَر کړه، امام شافعي وفرمائل موړ د غه اَخلُو(اختيار و)، او امام مالك وفرمائل پر ده باندي عُمره ده او وُښ دئ او حج مُکمّل سو (ب) جابر بن عبدالله فرمائي چې موږ د حضور سره د حُديبيي په کال وُښ د اُوُو کسانو لخوا او غُوا د اُوُو کسانو لخوا حلال کړه .

[۸۰۳](۷) وَلاَ يَجُوزُ الاَكلُ مِن بَقِيَّةِ الهَدَايَا .

وجه (۱) لکه څه رنګه چې د قُربانئ غُوَښَه د انعام په توګه ده، نو ځکه دا په خپله هم خوړلائي سي په مسکينانو او غريبانو يي هم خوړلائي سي (۲) په حديث کي دئ چې حضو رد هَدِي د غُوَښِي څخه خُوَرَاك وکئ قَالَ دَخَلنَا عَلىٰ جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ فَسَاَلَ عَنِ القَومِ ... ثُمَّ اِنصَرَفَ اِلىٰ المنحَرِ فَنَحَرَ ثَلٰثاً وَّسِتِّينَ بِيَدِهِ ثُمَّ اَعطىٰ عَلِيًّا فَنَحَرَ مَا غَبَرَ وَاَشرَكَهُ فِي هَديِهِ ثُمَّ اَمَرَ مِن كُلِّ بَدَنَةٍ بِبُضعَةٍ فَجُعِلَت فِي قِدرٍ فَطُبِخَت فَاَكَلاَ مِن لَحمِهَا وَشَرِبَا مِن مَرَقِهَا (الف) (مُسلم شريف،باب حجة النبي ص۳۹۹نمبر۱۲۱۸\ابوداؤدشريف،باب صفة حجة النبي ص۲۷۱نمبر۱۹۰۵)ددي حديث څخه معلوم سو چې حضور د هَدِي غُوَښَه وخوړل، نو ځکه د نفلي هَدِي،د قِرَان او تَمتُع هَدِي غُوَښَه خوړل جائز دئ، او د جنايات او د ښکار د بدلي غُوَښَه په خپله جنايت کونکي ته خوړل جواز نه لري، ددي لپاره دا اثر دئ عَن اِبنِ عُمَرَ لاَ يُوَكَلُ مِن جَزَآءِ الصَّيدِ وَالنَّذرِ وَيُوَكَلُ مِمَّا سِوىٰ ذَالِكَ وَقَالَ عَطَآءٌ يَاكُلُ وَيُطعِمُ مِنَ المتعَةِ (ب) (بخاري شريف،باب اذا بوانا لابراهيم مكان البيت ان لا تشرك بي شيئا ص۲۳۲نمبر۱۷۱۹) (۳) عَن اِبنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ قَالَ فِي الحَمَامَةِ شَاةٌ لاَ يُوَكَلُ مِنهَا يَتَصَدَّقُ بِهَا، رَوَينَا عَنهُ فِي الَّذِي يَطَاُ اِمرَاَتَهُ قَبلَ الطَّوَافِ اِنحَرَ نَاقَةً سَمِينَةً فَاَطعَمَهَا المسَاكِينَ، رَوَينَا عَن طَاؤُسٍ وَسَعِيدِ بنِ جُبَيرٍ اَنَّهُمَاقَالاَ لاَ يَاكُلُ مِن جَزَآءِ الصَّيدِ وَلاَ مِنَ الفِديَةِ (ج) (سنن للبيهقي،باب لاياكل من كل هدي كان اصله واجبًا عليه الخ ج۵ص۳۹۶نمبر۱۰۲۴۵)ددي اثر څخه معلوم سو چې د جنايت د بدلي غُوَښَه دي په خپله نه خوري بلکه و مسکينانو ته دي ورکي .

[۸۳۰](۷) دا پاته(نورو)هَدِي خُوَرَل جواز نه لري .

تشريح د جنايت بدله، د ښکار بدله د دغه رنګه هَدِي غُوَښَه خوړل جواز نه لري .

وجه (۱) دا خو جُرم دئ د انعام دَم نه دئ نوځکه په خپله دي نه خوري حلال دي کي د غريبانو مسکينانو د خوراك لپاره دي پريږدي،دليل يي په مسئله نمبر۶کي تېرسوئ دئ (بخاري شريف،نمبر ۱۷۱۹) (۲) دا حديث هم ددي دليل دئ حَدَّثَنِي مُوسىٰ بنِ سَلمَةَ الهُذَلِيّ ... فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَيفَ اَصنَعُ بِمَا اَبدَعَ عَلَيَّ مِنهَا قَالَ اِنحَرهَا ثُمَّ اِصبَغ نَعلَيهَا فِي دَمِهَا ثُمَّ اِجعَلهَا عَلىٰ صَفحَتِهَا فَلاَ تَاكُل مِنهَا اَنتَ وَلاَ اَحَدٌ مِن اَهلِ رُفقَتِكَ (د) (ابوداؤدشريف،باب في الهدي اذا عطب قبل ان يبلغ ص۲۵۲نمبر۱۷۶۳\ترمذي شريف،باب ماجآء اذاعطب الهدي مايصنع به ص۱۸۱نمبر۹۱۰\مؤطا امام مالك،باب في الهدي اذاعطب او ضل ص۴۰۱)ددي حديث څخه معلوم سو چې د جِنَايَت هَدِي دي حلال کړي بيا دي پريږدي او په خپله دي نه خوري او نه دي دده ملګري خوري بلکه د غريبانو لپاره دي پريږدي، ځکه چې د ځيرونکو حيوانانو لپاره پرېښول ښَه کار نه دئ

حاشيه : (الف) بيا حضور د نَحَر و ځائ ته ښرته راغلئ او دروشېښته(۶۳)وُښان يي په خپل لاس حلال کړل، بيا يي حضرت علي ته ورکړه نو هغو پاته وُښان حلال کړل، او په هَدِي کي هغه شريك کړئ، بيا يي حُکم وکړئ چې د هر وُښ د غُوَښُو ټوتي(ټُکړي)دي په دېګ کي واچوي بيا يي ټولي پخي کړي بيا دواړو دهغه غُوَښَه وخوړل او د هغه ښُوروَا(شُوربَا)يي وچيښَل (ب) د ابن عُمر څخه نقل سوئ دئ چې نه دي خُوړي د ښکار د بدلي غُوَښَه او د نَذَر د هَدِي غُوَښَه او ددي څخه علاوه دي وخوري، او حضرت عطاء وفرمائل د

تمتُع غُوښتَه د ي وخوري او په نورو دي وخوري (ج) حضرت ابن عباس وفرمائل د کوتري په بدله کي يوه بُوزَه ده، هغه دي نه خوري، هغه دي صَدَقَه کړي، دده څخه روايت دئ دهغه سړي په باب کي چي د طواف څخه مخکي وَطِي وکړي نَحَر دي وکي چَاغ وُښ او هغه دي په مسکين وخوري، د طاؤس او سعيد بن جُبيرڅخه روايت دئ چي د ښکار بدله دي نه خوري او نه دي د فديي بدله خوري (د) پوښتنه وکړه يارسول الله ! څه رنګه وکم که د هَدِي څخه څه عيب داره سي ؟ حضور وفرمائل دغه نَحَر که بيا ددي نُوکان ددي په وِينَهٔ ورنګوه، بيا نُوك ددي پر يوه سائيډ باندي کښيږده، بيا ته او ستا د ملګرو څخه دي هيڅ څوك دا نه خوري .(اَقُولُ مَاوَجَدتُّ حَدِيثَ مُوسيٰ بنِ سَلمَةَ الهُذَلِيّ بِهٰذَا اللَّفظِ بَعدَ تَصَفُّحِ الاَورَاقِ فِي اَبِي داوٗدَ وَلاَفِي التِّرمِذِيّ وَلاَ فِي المؤطا ... ابوالحسين عبدالمتين قُطب ...)

[٨٠٤](٨) وَلاَ يَجُوزُ ذَبحُ هَدي التَّطَوُّعِ وَالمُتعَةِ وَالقِرَانِ اِلاَّ فِي يومِ النَّحرِ [٨٠٥](٩) وَيَجُوزُ ذَبحُ بَقِيَّةِ الهَدَايَا فِي اَيِّ وَقتٍ شَآءَ [٨٠٦](١٠) وَلاَ يَجُوزُ ذَبحُ الهَدَايَا اِلاَّ فِي الحَرَمِ .

---

[٨٠٤](٨) نه دئ جائز نفلي، تمتُع او د قِرَان هَدِي ذبح کول مګر په لسمه ذي الحجه .

وجه (١) د رَمِي جَمَرَات وروسته به نفلي هَدِي،د تمتُع هَدِي او د قِرَان هَدِي حلالوي او هغه په لسمه د ذي الحجي حلالیږي نو ځکه دغه هَدَايَا به هم په لسمه د ذي الحجي حلالوي (٢) په آيت کي ددي اشاره سته فَكُلُوا مِنهَا وَاَطعِمُوا البَائِسَ الفَقِيرَ ثُمَّ لِيَقضُوا تَفَثَهُم وَلِيُوفُوا نُذُورَهُم وَلِيَطَّوَّفُوا بِالبَيتِ العَتِيقِ (الف) (آيت٢٩سورة الحج٢٢)په دي آيت کي دئ چي د هَدِي غُوَښتَه په غريبانو وخورئ بيا سَر وَخَرَوَئ او د بَيتُ الله طواف وکئ، نو سَر خَرَوَل خو په لسمه د ذي الحجي وي نو ځکه هَدِي حلالول به هم په لسمه د ذي الحجي وي .

[٨٠٥](٩) او دا نوري هَدَايَا چي کله مو زړه وغواړي حلالي کړئ .

تشريح نفلي هَدي،د تمتُع هَدِي او د قِرَان د هَدِي څخه علاوه چي کومي هَدِي وي هغه به د جِنَايَاتُ هَدِي،د اِحصَار هَدِي او د ښکار د بدلي هَدِي وي، دغه هَدَايَاوي خو د يو خاص ورځي سره نه دي خاص نو ځکه هر وخت دا حلالېدائي سي، د لسمي ذي الحجي سره خاص نه دي .

وجه حضور د صُلحِ حُديبيّي پر موقع باندي مُحصِر سو او هَدِي يي حلال کړه حالانکه هغه د ذي الحجي لسمه نه وه بلکه د ذي القعدي مياشته وه نو ځکه دا معلوم سو چي دا نوري هَدِي هسي يوه ورځ حلالېدائي سي .

[٨٠٦](١٠) نه دئ جائز يوه هَدِي حلالول مګر په حرم کي .

تشريح نفلي هَدِي، د تمتُع هَدِي، د قِرَان هَدِي، د ښکار د بدلي هَدِي، د جنايت هَدِي، او د اِحصَار هَدِي دغه تولي د احنافو په نېز په حرم کي حلالول ضروري دي .

وجه (١) په آيت کي دئ وَلاَ تَحلِقُوا رُؤُسَكُم حَتّيٰ يَبلُغَ الهَديُ مَحِلَّهُ (ب) (آيت١٩٦سورة البقرة٢) (٢) په يو بل آيت کي دئ يَحكُمُ بِهِ ذَوَا عَدلٍ مِّنكُم هَديًا بَالِغَ الكَعبَةِ (ج) (آيت١٩٥سورة المائدة٥)ددي آيت څخه معلوم سو چي هَدِي دي وحرم ته ورسيږي او هلته دي حلال سي (٣) په اثر کي دئ قَالَ مَالِكٌ وَالَّذِي يَحكُمُ عَلَيهِ بِالهَدي فِي قَتلِ الصَّيدِ اَو يَجِبُ عَلَيهِ الهَديُ فِي غَيرِ ذَالِكَ فَاِنَّ هَديَهُ لاَ يَكُونُ اِلاَّ بِمَكَّةَ كَمَا قَالَ اللهُ تَعَالىٰ هَديًا بَالِغَ الكَعبَةِ (د) (موطا امام مالك،باب جامع الهدي ص٤٠٩)په دي اثر کي دئ چي د ښکار بدله يا بله يو هَدِي چي واجب وي په مکه مکرمه کي دي ذبح کړي (٤) د حيوان حلالول به هغه وخت قُربت(ثواب)وي چي کله د وخت سره خاص وي لکه د قُربانئ حيوان يا د مکان(ځائ)سره خاص وي، دلته د زمانې(وخت)سره نه دئ خاص نو د مکان يعني حرم سره بايد خاص سي .

فائده د امام مالك مسلك مخكي تير سو چي د اِحصَار هَدِي چي په کوم ځائ کي چي اِحصَار سوئ

حاشيه : (الف) د هَدِي څخه وخورئ او په فقيرانو يي وخورئ او کندکي(خيري)حتم کئ او خپل نَذر پوره کئ او د زاړه کُور طواف وکئ (ب) سَر مه خَرَوَئ تر څو چي هَدِي مقام ته نه وي رسېدلي يعني حرم ته نه وي رسېدلي (ج) د ښکار د بدلي فيصله به کوي دوه انصاف داره خلګ د هَدِي چي کعبي ته رسېدونکي وي (د) حضرت امام مالك وفرمائل کوم چي د هَدِي فيصله وکړي د ښکار په قتل کي يا پر ده باندي هَدِي واجب وي دهغه څخه په علاوه کي نو د هغه هَدِي دي نه حلاليږي مګر په مکه مکرمه کي، لکه څه رنګه چي الله تعالىٰ وفرمائل هَدِي چي مکه مکرمه ته رسېونکي وي .

[٨٠٧](١١) وَيَجُوزُ اَن يَّتَصَدَّقَ بِهَا عَلىٰ مَسَاكِينِ الحَرَمِ وَغَيرِهِم [٨٠٨](١٢) وَلاَ يَجِبُ التَّعرِيفُ بِالهَدَايَا [٨٠٩](١٣) وَالاَفضَلُ فِي البُدُنِ اَلنَّحرُ وَفِي البَقَرَةِ وَالغَنَمِ اَلذَّبحُ .

وي هلته دي حلال کړي .

وجه ځکه چې د صُلحِ حُديبيې پر موقع باندي حضور او اصحابانو په حُديبيه کې هَدِي ذبح کړې او حُديبيه د حرم ځخه دباندي ده، ددې مطلب دا سو چې د اِحصَار هَدِي د حرم ځخه دباندي هم حلالولائي سي، تفصيل يې په مسئله نمبر ۱ بَابُ الاِحصَار کې تېر سوئ دئ .

[۸۰۷](۱۱) او جائز دئ چې د حرم پر مسکينانو باندي غُوَښَه صَدَقَه کړي او دهغه ځخه علاوه پر نورو مسکينانو باندي هم .

تشريح د هر رنګه هَدِي غُوَښَه د حرم پر مسکينانو باندي هم صَدَقَه کولائي سي او د حرم ځخه علاوه پر نورو مسکينانو باندي هم صَدَقَه کولائي سي .

وجه (۱) په آيت کې د هَدِي د غُوَښې خوړل عام کړئ دي صرف د حرم د مسکينانو تخصيص يې نه دئ کړئ نو ځکه دواړه رنګه مسکينان ددې غُوَښَه خوړلائي سي، آيت دادئ فَكُلُوا مِنهَا وَاَطعِمُوا اَلبَائِسَ الفَقِيرَ (الف) (آيت۲۹ سورة الحج۲۲)په دې آيت کې دئ چې د هَدِي غُوَښَه په اَلبَائِس او فقير باندي وخورئ که ځه هم د هر ځائ وي (۲) په فقير باندي خوړل باعثِ ثواب دئ نو ځکه مُطلق فقير به په دي کې داخل وي .

پام لرنه که د حرم فقير پېر محتاج وي نو په هغو باندې خورول زيات افضل دئ .

فائده د امام شافعي په نېز به د حرم په مسکينانو باندي خوري .

[۸۰۸](۱۲) هَدِي عَرَفَات له بېول واجب نه ده .

وجه دجِنَايَات،اِحصَار اودښکاردبدلې هَدِي خوهسي يوه ورځ حلالېدلائي سي نو ځکه دا د عرفات په ورځ عرفات لره ځه رنګه بُوزي ؟ البته نفلي هَدِي،دتمتُع هَدِي اودقِرَان هَدِي به په لسمه ذي الحجه حلالوي نو ځکه دا عرفات لره بېول مُمکن دئ،بلکه د نعمت شيئ دئ نوځکه ددې تَشهِير کېدلائي سي،لېکن عرفات لره دځان سره بېول واجب نه ده،ځکه چې دځان سره په بېولوکي د مُشکلاتو سره مخامخ کېدائي سي، خو که چيري د سنبَالېدو ځوک نه وي نو د ځان سره دې بُوزي .

لغت : اَلتَّعرِيفُ : عرفات لره بېول .

[۸۰۹](۱۳) په وُښ کي افضل نحر کول دئ او په غُوَا او بُوزَه کي افضل حلالول دئ .

تشريح (۱) په آيت کي دئ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانحَر (ب) (آيت۲ سورة الكوثر۱۰۸)په دي کې حُکم دئ چې د وُښ نَحَر وکئ (۲) په حديث کي دئ عَن اَنَسٍ قَالَ صَلَّي النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَلظُّهرَ بِالمَدِينَةِ اَربَعًا ... وَنَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ سَبعَةَ بُدُنٍ قِيَامًا وَضَحّيٰ بِالمَدِينَةِ كَبشَينِ اَملَحَينِ اَقرَنَينِ (ج) (بخاري شريف،باب نحرالبدن قائمة ص۲۳۱نمبر۱۷۱۴\ابوداؤدشريف،باب كيف تنحرالبدن ص۲۵۳نمبر۱۷۶۷)ددې حديث ځخه معلوم سو چې

حاشيه : (الف) ددې هَدِي ځخه وخورئ او په مسکينانو يې وخورئ (ب) د خپل رب لپاره لمونځ وکئ او نحر وکئ (ج) حضور د ماپښين لمونځ په مدينه کي ځلور رکعت ادآء کړه ... حضور په خپل لاس اُوَه وُښان حلال کړه په ولاړي ولاړي، او په مدينه کې دوه کَمَرِيَان مُورِوُنَه، د ښکرانو مُورَه يې حلال کړه .

[۸۱۰](۱۴) وَالأُولِيٰ اَن يَّتَوَلّيٰ الإِنسَانُ ذَبحَهَا بِنَفسِهِ اِذَا كَانَ يُحسِنُ ذَالِكَ [۸۱۱](۱۵) وَيَتَصَدَّقُ بِجُلاَلِهَا وَخِطَامِهَا وَلاَ يُعطِي اُجرَةَ الجَزَّارِ مِنهَا .

وُښ په ولاړي ولاړي نَحَر کول افضل دئ، او که حلال کړئ نو هم کفايت کوي (۳) ددې حديث ځخه هم معلوم سو چې بُوزَه دي حلال کړي (۴) غُوَا دي حلال کړي په دې سلسله کي دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ذَبَحَ عَمَّن اِعتَمَرَ مِن نِسَائِهِ بَقَرَةً بَينَهُنَّ (الف) (ابوداؤدشريف،باب في هدي البقرص۲۵۱نمبر۱۷۵۱)ددې حديث ځخه معلوم سو چې غُوَا دي حلال کړي نَحَر دې نه کوي .

لغت : اَلنَّحرُ : د وُښ پښې دي چپه وروتړي او دئ دي په ولاړي ودروي او په غَارَه کي دې په چَارَه وَوَهِي د خوراك نَالَئ دې ورځيري کي ودې ته نَحَر وائي .

[۸۱۰](۱۴) ښَه خبره داده چې انسان په خپله هَدِي ذبح کړي که چيري ده ښَه کولائي سوه نو .

تـشريـح كه په ښَه توګه سره ذبح کولائي سوه نو ښَه خبره داده چي انسان خپله هَدِي او قُرباني په خپله ذبح کړي .

وجـه (١) په دي کي عبادت په ښَه توګه سره ادآء سو (٢) حضور په خپله ذبح کړي ده عَن اَنَسٍ قَالَ ضَحَّي النَّبِيُّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بِكَبشَينِ اَملَحَينِ فَرَاَيتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهُ عَليٰ صَفَاحِهِمَا يُسَمِّي وَيُكَبِّرُ فَذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ (ب) (بخاري شريف،باب من ذبح الاضاحي بيده ص٨٣٤ كتاب الاضاحي نمبر٥٥٥٨\مُسلم شريف،باب استحسان الاضحية وذبحها مُباشرةً بلاتوكيلٍ ج٢ص١٥٥ كتاب الاضاحي نمبر١٩٦٦)ددي حديث څخه معلوم سو چي که په خپله په ښَه توګه سره حلالولائي سوه نو په خپله دي حيوان حلال کي، او که يو مجبوري وي نو بل يو د ذبح کولو وکيل جوړولائي سي، د حضرت جابر پـه وُړده حديث کـي ددي تذکره سـته دَخَلنَا عَليٰ جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ ... فَنَحَرَ ثَلٰثًا وَّ سِتِّينَ بِيَدِهِ ثُمَّ اَعطيٰ عَلِيًّا فَنَحَرَ مَا غَبَرَ وَاَشرَكَهُ فِي هَديِهِ (ج) (مُسلم شريف،باب حجة النبي ص٣٩٩نمبر ١٢١٨\ابوداؤدشريف،باب صفة حجة النبي ج٢ص٢٧١نمبر١٩٠٥)پـه دي حـديث کـي دئ چـي دري شپيته(٦٣)وُښان يي حلال کړه دا نور يي و حضرت علي ته د نحر کولو لپاره حواله کړل او هغه يي د نحر کولو وکيل جوړ کئ .

[٨١١](١٥) او د هَدِي خَل او د هغه مَهَار دي صَدَقَه کړي او د قَصّاب مزدوري دي د هَدِي څخه نه ورکوي .

تـشريـح د قَصّاب اُجرت(مزدوري)دي د هَدِي د غُوَښُو يا د هغه د پوست څخه نه ورکوي .

وجـه (١) د هَدِي حيوان صَدَقَه سو نو حُکه د هغه څخه دي يو شيئ په اُجرت(مزدوري)کي نه ورکوي بلکه صَدَقَه دي کړي (٢) په حديث کي دئ اَنَّ عَلِيًّا اَخبَرَهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَمَرَهُ اَن يَّقُومَ عَليٰ بُدَنِهِ وَاَن يُّقَسِّمَ بُدَنَهُ كُلَّهَا لُحُومَهَا وَجُلُودَهَا وَجِلاَلَهَا وَلاَ يُعطِي

حاشيه : (الف) حضور د عُمره کونکو بي بي ګانو لخوا غُوا حلال کړه (ب) حضور دوه ګَمَرِي مُوږَه حلال کړل نـو مـا وليدل چـي خپل قدمونه(پښي يي)پر اَرَخ ور اِيښي وي، نـو بِسمِ الله يـي ووېل او تکبير يـي ووايئ، او دواړه پـه خپل لاس حـلال کـړل (ج) حضـور دري شپيته(٦٣)وُښَان په خپل لاس حلال کړه بيا يي حضرت علي ته ورکړل او دا پاته هغو حلال کړل، او هغه يي په هَدِي کي حضور شريك کړئ .

[٨١٢](١٦) وَمِن سَاقَ بُدنَةً فَاضطَرَّ اِلَيٰ رُكُوبِهَا رَكِبَهَا وَاِن اِستَغنيٰ عَن ذَالِكَ لَم يَركَبهَا [٨١٣](١٧) وَاِن كَانَ لَهَا لَبَنٌ لَم يَحلِبهَا وَلٰكِن يُنضَحُ ضَرعُهَا بِالمَآءِ البَارِدِ حَتّٰي يَنقَطِعَ اللَّبَنُ .

فِي جَزَارَتِهَا شَيئًا (الف) (بخاري شريف،باب يتصدق بجلود الهدي ص٢٣٢نمبر١٧١٧\مُسلم شريف،باب الصدقة بلحوم الهدايا و جلودها و جُلالها ص٤٢٣نمبر١٣١٧)ددي حديث څخه معلوم سو چي د هَدِي غُوَښَه دي تقسيم کي او د هغه پوست، خَل دي صـدقه کړي او و قَصّاب ته دي په اُجرت کي د هَدِي څخه څه شيئ نه ورکوي .

لـغت : جُلالٌ : خَل، کَتَه، خِطَامٌ : مَهَار،جِلَو، اَلجَزَارُ : قَصّاب .

[٨١٢](١٦) يو چا وُښ وَشَارَئ بيا پر هغه باندي وسپرېدو ته مجبور سو نو پر هغه دي سپور سي، او که د سپرېدو څخه بي نياز وي نو نه دي پر سپريږي .

تـشريـح نو که چيري پر هغه باندي د سپرېدو ضرورت نه لري، مجبوره نه وي نو بيا دي نه پر سپريږي او کـه مجبوري وي نو سپرېدلائي سي .

وجـه په حديث کي دئ سَمِعتُ جَابِرَبنِ عَبدِاللهِ سُئِلَ عَن رُكُوبِ الهَدي ؟ فَقَالَ سَمِعتُ النَّبِيَّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اِركَبهَا بِالمَعرُوفِ اِذَا اَلجِئتَ اِلَيهَا حَتّٰي تَجِدُ ظَهرًا (ب) (مُسلم شريف،باب جوازركوب البدنة المهدَّاةُلِمَن احتاج اليها ص٤٢٦ نمبر١٣٢٤\ابوداؤدشريف،باب في ركوب البُدن ص٢٥٢نمبر١٧٦١)ددي حديث څخه معلوم سو چي که مجبوري وي نو د بلي سوارلئ تر ملاوُېدو پوري پـه مناسب انداز سره پر سپرېدائي سي، البته که د سپرېدو ضرورت نه وي نو دا خو د صدقې شيئ دئ نو حُکـه حَتّـي الوَسع دي ددي څخه فائده نه اخلي .

[٨١٣](١٧) او كه هَدِي شُودې لري نو هغه دي نه لُويِشي، لېكن ددې پر غُوَلاَنخَه دي د يخو اُوبُو څاڅكي وَيَاشِي تر هغو چې شُودې(شِيدې)يې ختم سي(ودريږي) .

تشريح كه هَدِي شِيدُوګئ وي او د حلالېدو ورځې يې نژدې وي نو ددې و غُوَلاَنخَه ته دي يخي اُوبَه ورتسي كړي په دا رنګه به شُودې(شِيدې)په غُوَلاَنخَه كي ودريږي، او سوكه سوكه به شُودې(شِيدې)ختم سي، او كه وحلالېدو ته ډيرې شپې پاتې وي نو شُودې(شِيدې)دي ځني وَلوېشِي صَدَقَه دي كړي، ځكه چې دا د صَدَقې حيوان دئ نو ځكه دده هر شيئ بايد په صَدَقَه كي ولاړ سي، او كه دغه شُودې(شِيدې)په خپله استعمال كړي نو بيا دي دهغه قيمت صَدَقَه(خيرات)كړي .

وجه (١) په مسئله نمبر١٥كي حديث تېرسوئ دئ(بخاري شريف،نمبر١٧١٧\مُسلم شريف،نمبر١٣١٧)چې د هَدِي خَل،مَهَاراو دا رنګه نورشيان صدقه كيږي،چې د هَدِي څخه خارج شيئ صدقه كوي نو د هَدِي جُزء به په طريقهٔ اولېٰ باندي صَدَقَه كوي او شُودې دهَدِي جُزء دئ نوځكه هغه دي هم صدقه كړي (٢) ددې په تائيدكي يواثرهم دئ سَمِعَ رَجُلاً مِن هَمَدَانَ سَاَلَ عَلِيًّا عَن رَجُلٍ اِشتَرَيٰ بَقَرَةً لِيُضَحِّي بِهَافَنَتِجَت فَقَالَ لاَ تَشرِب لَبَنَهَااِلاَّفَضلاً(ج)(سنن للبيهقي،باب لبن البدن لايشرب ج٥ص٣٨٨نمبر١٠٢١٠)ددې اثرڅخه معلوميږي چې شُودې صَدَقَه كړي څه پاته سي نو هغه دي وچيښي، خو بيا هم دا دي نه استعمالوي خيرات دې كي .

حاشيه : (الف) حضرت علي خبر وركړئ دئ چې حضور و ده ته حُكم وركړئ و چې د وُښ نِګراني كوه او ټوله وُښ تقسيم كه، د هغه غُوَښَه، دهغه پُوست او دهغه خَل دي تقسيم كي، او د هغه د غُوَښو څخه دي په بَنَائي كي څه نه وركوي(يعني قصاب ته دې نه وركوي) (ب) د جابر بن عبدالله څخه پر هَدِي باندي د سپرېدو په باب پوښتنه وكړه نو وفرمائل ما د حضور څخه اورېدلي دي هغه فرمائل په مناسبه طريقه دي پر هغه باندي سپور سي كه چيري ته مجبوره وي نو تر څو چې سوارلئ دي نه وي پيدا كړي (ج) د هَمَدَان يوه سړي د حضرت علي څخه پوښتنه وكړه، يوه سړي د قُرباني كولو لپاره غُوا واخسته بيا هغي سُخُوَندر وزېږاوئ ؟ حضرت علي وفرمائل د هغه شُودې(شِيدې)مه چيښَه مګر هغه چې پاته سي .

[٨١٤](١٨) وَمِن سَاقَ هَديًا فَعَطَبَ فَاِن كَانَ تَطَوُّعًا فَلَيسَ عَلَيهِ غَيرُهُ [٨١٥](١٩) وَاِن كَانَ عَن وَاجِبٍ فَعَلَيهِ اَن يُقِيمَ غَيرَهُ مَقَامَهُ [٨١٦](٢٠) وَاِن اَصَابَهُ عَيبٌ كَثِيرٌ اَقَامَ غَيرَهُ مَقَامَهُ وَصَنَعَ بِالمَعِيبِ مَاشَآءَ [٨١٧](٢١) وَاِذَا عَطَبَتِ البُدنَةُ فِي الطَّرِيقِ فَاِن كَانَ تَطَوُّعًا نَحَرَهَا وَصَبَغَ نَعلَهَا بِدَمِهَا وَضَرَبَ بِهَا صَفحَتَهَا وَلَم يَاكُل مِنهَا هُوَ وَلاَ غَيرُهُ مِنَ الاَغنِيَآءِ .

---

[٨١٤](١٨) يو چا هَدِي وَشَرَل او هغه هلاك سوه، نو كه چيري نفلي هَدِي وي نو پر ده باندي ددې څخه علاوه بله نسته .

تشريح كه نفلي هَدِي وي نو د هغې د هلاكت په صورت كي دهغې په بدله كي بله نه لازميږي .

وجه (١) نفلي هَدِي مخكي هم نه وه واجب نوځكه دهلاكت وروسته هم نه لازميږي (٢) په حديث كي دئ عَن اِبنِ عُمَرَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ مَن اَهدىٰ بُدنَةً تَطَوُّعًافَعَطَبَت فَلَيسَ عَلَيهِ بَدَلٌ وَاِن كَانَ نَذَرًافَعَلَيهِ البَدَلُ(الف)(سنن للبيهقي باب مايكون عليه البدل من الهدايا اذا عطب او ضل ج٥ص٣٩٩نمبر١٠٢٥٧\مؤطاامام مالك،باب في الهدي اذا عطب او ضل ص٤٠١)ددې حديث څخه معلوم سو چې نفلي هَدِي وي نو د هلاكت په صورت كي بله نه پر واجبيږي او كه د نَذَر او بَدَل هَدِي وي يا واجب هَدِي وي نو د هغه په بدله كي بله وركول واجب ده.

[٨١٥](١٩) او كه واجب هَدِي وي نو پر ده باندي لازم دئ چې بله هَدِي ددې په ځائ كي لازم كړي .

تشريح كه واجب هَدِي وي او هلاكه سي نو د هغې په ځائ كي بله هَدِي وركول لازمه ده .

وجه (١) هَدِي دده پر ذمه واجب ده او ادائيګي يې نه ده سوې نو ځكه اداء كوي به (٢) په مسئله نمبر ١٨ كي حديث تېر سوئ دئ، وَاِن كَانَ نَذَرًا فَعَلَيهِ البَدَلُ (سنن للبيهقي،ج٥ص٣٩٩نمبر١٠٢٥٧)

[٨١٦](٢٠) او كه په هَدِي كي عيب راغلئ وي نو د هغه په ځائ كي دي بله هَدِي قائم كړي(ودروي) او عيب دار چې څه په كوي هغه دي په وكي .

وجه په هَدِي كي دومره عيب راغلئ وي چې د هغه عيب په وجه هَدِي نه سي قُرباني كېدلائي او هَدِي واجب وي نو د هغه په ځائ كي بله هَدِي وركول ضروري ده، او عيب داره هَدِي دده سوه نو ځكه هغه چې څه په كوي هغه دي په وكي .

[٨١٧](٢١) كه وُښ په لاره کي ستړئ سي نوکه نفلي وي هغه دي نَحَرکي اودهغه نُوکان(بنُونګړي) دي دده په وِينَه سره ورنګوي او دده پر وَرِيَه دي وَوَهِي او هغه دي په خپله نه خوري او نه دي دده څخه علاوه د مالداره خلګو څخه څوك خوري .

تشريح د هَدِي وُښ په لاره کي هلاکت ته نژدي سي، نو که هغه وُښ د نفلي هَدِي و نو هغه دي په هغه ځاىٔ کي ذبح کړي او د نښانئ لپاره چي دا وُښ د نفلي هَدِي وُښ دئ او صرف د غُرَبآءُ لپاره حلال دئ دا کار دي وکي چي ددي هَدِي نُوکان(بنُونګړي)دي ددي په وِينَه سره ورنګوي، يا دا مطلب چي ددي په غاړه کي کومه قَلاَدَه(غاړګئ)ده هغه د ي په وِينَه سَرَه کړي او هغه دي د هَدِي پر يو سائيډ واچوي دا دي لپاره چي خلګ په پُوه سي چي دا نفلي هَدِي ده چي په لاره کي وهلاکت ته نژدي سوى وه، دهغه په وجه دا ذبح کړي ده او اُوس صرف د غريبانو لپاره حلال ده .

وجه (١) دا نفلي هَدِي وه نو که دا حرم ته رسېدلي وائي نو په خپله حلالونکي خُوَرَلائي سوه لېکن وحرم ته درسېدو څخه مخکي دا حلال سوه نو دا يو قسم جنايت دئ چي وسو، نو ځکه دا به صرف غريبان خوري (٢) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فُلاَ نًا اَلاَسلَمِيَّ وَبَعَثَ مَعَهُ

حاشيه : (الف) حضور وفرمائل يو چا نفلي وُښ هَدِي واستاوئ، هغه ستړئ سو نو پر ده باندي بَدَل نسته، او که د نَذَر وي نو پر ده باندي بَدَل سته .

[٨١٨](٢٢) وَإِن كَانَت وَاجِبَةً اَقَامَ غَيرَهَا مَقَامَهَا وَصَنَعَ بِهَا مَاشَآءَ [٨١٩](٢٣) وَيُقَلِّدُ هَديَ التَّطَوُّعِ وَالمتعَةِ وَالقِرَانِ

بِثَمَانِ عَشَرَةَ بُدنَةً فَقَالَ اَرَايتَ اِن اَزحَفَ عَلَيَّ مِنهَاشَيئٌ قَالَ تَنحَرُهَاثُمَّ تَصبَغُ نَعلَهَافِي دمِهَاثُمَّ اِضرِبهَاعَلَيٰ صَفحَتِهَاوَلاَتَاكُل مِنهَا اَنتَ وَلاَ اَحَدٌ مِن اَصحَابِكَ اَوقَالَ مِن اَهلِ رُفقَتِكَ(الف)(ابوداؤدشريف،باب في الهدي اذاعطب قبل ان يبلغ ص٢٥٢ نمبر ١٧٦٣\ترمذي شريف،باب ماجآء اذا عطب الهدي مايصنع به ص١٨١نمبر٩١٠)ددي حديث څخه معلوم سوچي په خپله او دده ملګري دي نه خوري بلکه بنُونګري دي په وينوورنګوي اودغريبانولپاره دي پريږدي .

پام لرنه ځکه چي دا نفلي هَدِي ده نو ځکه ددي په بدله کي د بلي هَدِي ورکولو ضرورت نسته .

لغت : عَطَبَ : د حيوان ستړئ کېدل او و هلاکت ته نژدي کېدل، نَعَلَ : نُوك،بنُونګړي، قَلاَدَةٌ : د چَوَتُو غاړګئ، صَفحَةٌ : يو سائيډ،يوه کناره .

[٨١٨](٢٢) او که هَدِي واجب وي نو د هغې په ځاىٔ کي دي بله هَدِي قائم کړي(وَدَرَوِي) او اوّل هَدِي چي څه په کوي هغه دي په وکي .

تشريح که واجب هَدِي وي نو هغه بايد په حرم کي ذبح کړي او که هلته نه کړي حلال، هلاك سوه ياو هلاکت ته قريب(نژدي)سوه نو دده پر ذِمّه باندي واجب پاته دي نو ځکه ددي په بدله کي دي بَلَه هَدِي ورکي او دا خرابَ هَدِي دده مال سو نو ځکه دا چي څه په کوي هغه دي په وکي .

وجه حديث تېر سوئ دئ، عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن اَهدىٰ بُدنَةً تَطَوُّعًا فَعَطَبَت فَلَيسَ عَلَيهِ بَدَلٌ وَإِن كَانَ نَذرًا فَعَلَيهِ البَدَلُ (سنن للبيهقي،باب مايكون عليه البدل من الهدايا اذا عطب او ضل ج٥ص٣٩٩ نمبر١٠٢٥٧)ددي حديث څخه معلوم سو چي که واجب هَدِي وي نو د هغې بَدَل ورکول ضروري دئ .

[٨١٩](٢٣) و نفلي،تمتُع او د قِرَان وهدِي ته دي قَلاَدَه ور په غاړه کي او دِاحصَار وهَدِي ته دي قَلاَدَه نه ور په غاړه کوي او نه ده جناياتو وهَدِي ته .

وجه (١) نفلي هَدِي، د تمتُع هدي او د قران هَدِي نعت دئ نو ځکه د هغو اظهار کولائي سي، او د قَلاَدې په اچولو سره ددي اظهار کيږي چي دا د نعمت هَدِي ده، او د احصَار هَدِي او د جنايت هَدِي د جُرم هَدايا وي دي، ددي اظهار کول معيوب کار دئ، او د قَلاَدې په اچولو سره ددي شي اظهار کيږي نو ځکه ددي هَدَايَاوُ په غاړه کي دي قَلاَدَه نه ور اچوي (٢) په حديث کي دئ فَقَالَ عَائِشَةُ لَيسَ كَمَا

حاشيه : (الف) حضرت ابن عباس فرمائي چي حضور نَاجِيَه اَسلَمِي واستاوئ او دده سره اَتلس(۱۸)وُښتَان واستول، هغو وويل چي كه وُښ هلاك سي نو څه په وكم ؟ حضور وفرمائل هغه نَحَر كه بيا د هغه نُوكان(بشُونگَړي)په وِينَه ورنگوه، بيا هغه ددي پر كناره(سائيډ)باندي وَوَهَه، او د هغه څخه ته ا و ستا ملگري مَه خورئ يا يي وفرمائل ستا دوستان دي نه خوري .

وَلاَ يُقَلِّدُ دَمُ الإحصَارِ وَلاَ دَمُ الجِنَايَاتِ .

قَالَ اِبنُ عَبَّاسٍ اَنَا فَتَلْتُ قَلاَئِدَ هَدي رَسُولِ اللهِ بِيَدِي ثُمَّ قَلَّدَهَا رَسُولُ اللهِ بِيَدِهِ ثُمَّ بَعَثَ بِهَا مَعَ اَبِي (الف) (بخاري شريف،باب من قلدالقلائدبيده ص۲۳۰نمبر۱۷۰۰\مُسلم شريف،باب استحباب بعث الهدي الي الحرم لمن لايريدالذهاب بنفسه واستحباب تقليده ص۴۲۵نمبر۱۳۲۱\۳۲۰۵)ددي حديث څخه معلوم سو چي د نفلي هدي په غاړه كي دي د چَوَتُو غاړگئ واچوي چي ډاكوگان يا عام خلگ ددي هَدِي احترام وكي او و دي ته نقصان نه وروركوي .

لغت : يُقَلِّدُ : د چَوَتُو يا د چَمړي هار(غاړگئ)جوړول او د هَدِي په غاړه كي اچول .

پام لرنه د بُوزي(وُزي)په غاړه كي قَلاَدَه اچول بنه كار نه دئ، حُكه چي د بُوزي تلل به ورسره گران سي، خو و بُوزَه ته د قَلاَدي د اچولو ثبوت سته (بخاري شريف،نمبر۱۷۰۲) عَن عَائِشَةَ قَالَت كُنتُ اَفتِلُ القَلاَئِدَ لِلنَّبِيِّ صَلَّي اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَيُقَلِّدُ الغَنَمَ وَيُقِيمُ فِي اَهلِهِ حَلاَلاً (بخاري شريف،باب تقليدالغنم ص۲۳۰نمبر۱۷۰۲)

حاشيه : (الف) حضرت عائشي وفرمائل دا رنگه خبره نه ده لكه څه رنگه چي ابن عباس وفرمائل، ما د حضور(دهَدِي)قلاده وَودَلَه په خپل لاس سره بيا حضور په خپل لاس وهَدِي ته قَلاَدَه ور واچوله، بيا يي دا زوما د پلار ابوبكر سره روانه كړه .

..... (د مُترجم نور کتابونه) .....

(۱) د سلام شرعي حیثیّت (اردو) مطبوعه
(۲) د تبرکاتُ شرعي حیثیّت (اردو) مطبوعه
(۳) دګناه ګارانو ژړا (پښتو) مطبوعه
(۴) تزئین قواعدالصرف (پښتو) مطبوعه
(۵) الحُسنیٰ شرح کندیا (پښتو) مطبوعه
(۶) رابطې او تعلقات (پښتو) مطبوعه
(۷) دموبائل فون غلط استعمال (پښتو) مطبوعه
(۸) عصري تقریرونه (پښتو) مطبوعه
(۹) دلمونځ کتاب (پښتو) مطبوعه
(۱۰) الشرح الثمیري (پښتو) مطبوعه
(۱۱) بیضآءالانظار علیٰ نورالانوار(عربي) مطبوعه
(۱۲) حاشیة المتنبي (عربي غیر مطبوعه)
(13) تعلیم الاسلام (پښتو) مطبوعه

خادمانِ حديث نبوي
نه مشهور محدثين عظام ته يوه كتنه
د زوكړي ځاىٔ په قديم جُغرافيه كي زاړه بشارونه
ځلورمشهور تاريخي دريابونه

صحاح سته
(دحديث شپږمشهور كتابونه)
١- بخاري ٢- مُسلم
٣- ابوداؤد ٤- ترمذي
٥- نسائي ٦- ابن ماجه

فَقِيهٌ وَاحِدٌ اَشَدُّ عَلىٰ الشَّيطَانِ مِن اَلفِ عَابِدٍ

اَلشّرحُ الثُمَيري

علىٰ المختصر للقدوري

د احاديثو عظيم ذخيره

شارح

حضرت مولانا ثميرالدين قاسمي صاحب دامت بركاتهم

(ازكتاب الطهارة تا كتاب الحج)

مُـتـرجم

ابـو الـحسيـن مـولانـا عـبـد الـمـتـيـن قُـطب

ناشر

مكتبه رشيديه سركي رودِ

كوئيټه

(كتاب ټوله حقوق د مُترجم سره خوندي دي)

دكتاب پېژندنه

موضوع : ..... علم فقه

دكتاب نوم : ..... الشرح الثميري

شارح : ..... مولانا ثميرالدين قاسمي صاحب

مترجم : ..... مولانا عبدالمتين قُطب

پېشكش : ..... مكتبه اسحاقيه احمد شاه ابدالي رودِمحمودآباد كوئيټه

كمپوز : ..... قُطب كمپوزر اداره

اهتمام : ..... مولانا خالد محمود

ناشر : ..... مكتبه رشيديه سركي رودِكوئيټه

تعـــــــــــداد : .....

زر(١٠٠٠)ټوكه

ضـــــخامت : .....٤٧٠ صفحه

تاريخ اشاعت : ..... ربيع الثاني ١٤٣٠هجري‌امطابق اپريل ٢٠٠٩عيسوي

قيمت او بيه : ١٨٠كلداري

... د پيدا كېدو پتي ...

مكتبه رشيديه سركي رودِ كوئيټه

مكتبه اسحاقيه محمود آباد كوئيټه

مكتبه طيبه كانسي رودِ كوئيټه

مكتبه قاسميه كانسي رودِ كوئيټه

مكتبه عُمريه كانسي رودِ كوئيټه

تاج كتب خانه پښين بازار

مكتبه اسلاميه ميزان ماركيټ كوئيټه

مكتبه علوم دينيه كانسي رودِ كوئيټه

مكتبه حبيبيه كانسي رودِ كوئيټه

مكتبه حقانيه كانسي رودِ كوئيټه

مکتبه اسلامیه کانسي رودِ کوئیټه

مکتبه رحمانیه کانسي رودِ کوئیټه

مکتبه حقانیه ملانعمت الله اخُوندکوئیټه

مکتبه نُعمانیه حزب الله اخوندکوئیټه

مکتبه حاجي ملا فیدامحمدځنګل بازار

مکتبه وَلِیّه کوځه نمبر۱۳ پښتون آباد کوئیټه

بِسمِ اللهِ الـرَّحمٰنِ الـرَّحِیمِ

تشریح : وجه : (۱)فائده :عَلَیهِ السّلاَمُ حاشیه : (الف)لغت : ×××

اصول :پام لرنه :ضروري پام لرنه : (ﷺ) (ﷺ) ❗ فائده : ❨❩ ❨❩

YO

M>

YO

M>

YO

M>

مُدّعِي او مُدّعْي عَلَیهِ [redacted] (🕌)(۱)(🕌) ﷺ حاشیه:(الف) حاشیه:(الف) (ﷺ) (🕌)ﷺ

ﷺ (🕌) ﴿...دمَولْي مُوَالاَت بیان... ﴾ ﴿... کِتَابُ الظِّهَارِ ...﴾

(۞)(۞)اَبُوالحُسَین قُطب عفي عنه وعن والدیه

YYY

YO Y

M>Y O

>M>MMMM>

ʊo


μ.


YO


M>

YO


M>







θε



υο



θε μ .

ζχ



θωεερρττψψυυιιοοο

οππ[[]].∴ .∴ ээ;;λλκκφφηηγγγφφφδδδδσσσααααζζ.∴

.∴ ζζζζχχϖϖββββϖϖϖννννμμμμ,,,,.../////??>><<<M

MMNNNBBBϛϛϛГГГНННYYYOOПП::∀∀∀∀KK
K϶϶϶϶HHHHГГГГФФФФФΣΣΣZZZΞΞΞXXXXX
ϛϛϛBBBNNNNMMMM ⚳ <<
<<<<<>>>> B

Г

Г